تفسیر

حکمۃ القرآن

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب: ابو زهیر سیف اللہ

المکتبۃ المحمدیۃ

مینگل مارکیٹ گنج - پشاور

Mob: 0301-8828402





حکمۃ القرآن

تالیف

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

جمع وترتیب : ابوزهیر سیف الله

المکتبۃ المحمدیۃ

محلہ جنگی مارکیٹ گنج - پشاور Mob: 0301-8828402

د کتاب نوم ــــــــــ تفسیر حکمة القرآن
د مؤلف نوم ــــــــــ الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله
جمعه وترتیب ــــــــــ ابوزهیر سیف الله (غفر له)
سنهٔ طباعت اول ایډیشن ــــــــــ (۱٤۳۰) هجری ذی قعده موافق (۲۰۰۹)
نوې ایډیشن ــــــــــ (۱٤٤۰) رجب ۱۰) موافق (۲۰۱۹/۳/۱۵)
د نسخو تعداد ــــــــــ ۱۱۰۰
فن ــــــــــ تفسیر
ناشر ــــــــــ مکتبه محمدیه گنج پیښور

د ملاویدو پته

۱- **مکتبه محمدیه** بیرون گنج گیټ پهندو روډ منگل مارکیټ پیښور پاکستان
ولی الله : 03018828402 ابوسلمان : 03025953513 ابوزهیر : 03075924001 03070
۲- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور۔
۳- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنگی پیښور۔
٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان۔
۵- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی : 03002615402
٦- مسلم کتاب پلورنځی، جلال آباد اسحاق زئی مارکیټ۔
۷- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد ترځنگ دکان نمبر ۲

خبردارے

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين اما بعد :

محترمو لوستونکو ته خبردارے ورکولے شي چه په دے ایډیشن کښے مونږ په دے تفسیر کښے دا راتلونکی تحسینات وکړل :

۱ - مخکښے په دے تفسیر کښے چه په کوم ځائے کښے حدیث نقل شوے وو نو د هغے صرف ترجمه لیکل شوے وه، اوس په دے ایډیشن کښے د هغے سره عربی متن هم ولیکل شو۔

۲ - د بعضو غلطیانو اصلاح وشوه۔

مونږ حتی الوسع کوشش کوو چه زمونږ په دے تفسیر او نورو کتابونو کښے هیڅ قسمه غلطی پاتے نشی، مگر بیا هم د انسان محنت او کوشش کښے نقصان او کوتاهی راتلے شی، نو محترمو لوستونکو ته عاجزانه درخواست دے چه که دوی ته په دے تفسیر کښے څه قسمه غلطی یا کوتاهی په نظر راشی نو مونږ ته دے خبر راکړی، مونږ به د هغوی شکریه ادا کړو او په آینده ایډیشن کښے به د هغے اصلاح وکړو۔ ان شاء الله تعالی۔

بله خبره داده : چه محترمو لوستونکو ته دا خبردارے ورکړے کیږی چه د مکتبه محمدیه هر قِسم کتاب پی، ډی، ایف (P.D.F) له ورکول ناجائز دی او دا په پردی کتاب کښے بے اجازته تصرف کول دی، او دا شرعًا، عقلًا او عرفًا جُرم دے۔

از طرفه : اداره مکتبه محمدیه

٦/ رجب المرجب ١٤٤٠هـ

الموافق : ١٣/ ٣/ ٢٠١٩ء

بسم الله الرحمن الرحيم



د تفسیر نوم

دے تفسیرله ابتداء کښې (تفسیرفهم القرآن) نوم منتخب کړے شوے وو، ځکه چه پدے کښې په ډیر ښائسته انداز سره د الله تعالیٰ د کتاب پوهه او علم بیان شویدے۔ ان شاء الله تعالیٰ۔ لیکن شیخ صاحب ته خوب کښې اُوخودلے شو چه د الله تعالیٰ د کتاب یو تفسیر اُولیکه چه په هغے کښې حکمتونه او رازونه وی او د ((الحکمة)) نوم ورله کیده نو پدے کښې یو قسم بشارت او تائید پروت دے او غالب گمان دا دے چه دا خوب به د الله تعالیٰ د طرفه وی ځکه چه په نیکئ باندے پکښے امر شویدے۔ نو ځکه دے له همغه د ((حکمة القرآن)) نوم منتخب کړے شو او ددے وجه نه پدے کښې به ضروری فوائد او د حکمة په عنوان باندے د الله تعالیٰ د کتاب رازونه او حکمتونه بیانیږی۔ خوبونو سره په شریعت کښې څه احکام نهٔ ثابتیږی لیکن دمؤمن دپاره پکښے یو نوع زیرے پروت وی ځکه چه حدیث کښې دی:

[اَلرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَّاَرْبَعِيْنَ جُزْءً مِنَ النُّبُوَّةِ]

[بخاری: ۶۹۸۷ومسلم: ۶۰۴۹]

(نیك خوب د نبوت نه شپږ څلویښتمه برخه ده)۔ لهذا مسلمانانو له پدے باندے خوشحالی پکار ده۔ والله اعلم۔

بنده حقیر ابوزهیرسیف الله البشاوری عفی الله عنه۔

شوال المکرم ۱۰/۳۰/۱۴۳۰ه) الموافق: ۲۰۰۹/ستمبر/۳۰ء)

بسم الله الرحمن الرحیم

د تفسیر متعلق د شیخ صاحب (حفظه الله) کلمات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَامُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط

يٰٓاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوااتَّقُوااللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَاتَمُوْتُنَّ اِلَّاوَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ، O يٰٓاَيُّهَاالنَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ط وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ، اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا، O يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا O يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْلَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًاO اَمَّا بَعْد :

دا تفسیر کوم چه ستاسو مخکښ پروت دے (تفسیر الحکمة دے) په قرآن کریم باندے ډیر تفسیرونه علماء کرامو لیکلی دی او پوره خدمت ئے کړیدے، الله تعالیٰ دِے هغوی ته پوره اجر او بدلـه ورکړی او پـه میزان د حسـناتو کښ دِے ئے الله تعالیٰ ورلره واچوی (آمین)۔

لیکن علماء کرامو لیکلی دی: چه [كَمْ تَرَكَ الْاَوَّلُ لِلْآخِرِ] **ډیرے خبرے پخوانو علماؤ روستنو خلقو تـه پریخوستی دی چه هغوی تحقیق اُوکړی نو ځکه هره زمانه کښ لیکلو تـه ضرورت شتـه۔ خصوصاً په پښتو ژبه کښ تفسیرونه ډیر کم دی او کوم چه دی نو ناقص دی، په أخیره کښ زمونږ شیخ ابوزکریا عبد السلام حفظه الله – یو مکمل او ښکلے تفسیر په نوم د (احسن الکلام) اُولیکلو چه موافقینو او مخالفینو ټولو ترے فائده واخستله او ډیر مقبول شو، دا د مصنف په زیات اخلاص او تبحر علمی دلیل دے نو ځکه دا درجه الله تعالیٰ ورکړه۔**

د دغه تفسیر نه روستو بل تفسیر لیکلو ته حاجت نشته، صرف تکرار به کیږی لیکن د قرآن کـریـم د ډیر مـحبت پـه وجـه مونږ اراده اُوکړه چه مختصراً څه لیکل اُوکړو چه

همیشه مو د قرآن سره تعلق وی قراءةً و تدبراً ودرساً وکتابةً ودعوةً. او شاید چه الله تعالیٰ داسے دقائق او باریکات رانصیب کړی چه ډیرو کتابونو کښ نهٔ وی ځکه [فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ اِلٰی مَنْ هُوَ اَفْقَهُ مِنْهُ] حدیث هم دے ته اشاره کوی او علوم شرعیه ؤ کښ تقسیم د الله تعالیٰ دے، چا ته ډیر او چا ته کم ورکوی.

بله وجه او باعث په تفسیر لیکلو باندے د بعض دوستانو اصرار وو چه څه نا څه لیکل په تفسیر کښ اُوکړے شی. دارنګه کیدے شی امید دے چه الله تعالیٰ مونږ د قیامت په ورځ د خپل کتاب په خادمانو کښ راپاڅوی او دا عظیم کتاب زمونږ شفاعت اُوکړی. وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللهِ بِعَزِيْزٍ.

بله وجه دا ده چه خپل علم او عمل کښ اضافه پیدا کولو دپاره مو دے کار ته ځان پیش کړو اګرکه دا ډیر ګران کار دے که الله تعالیٰ ئے آسان نکړی. او مقصود پکښ دعوت الی الله تعالیٰ هم دے.

او نبی علیه الصلاة والسلام فرمائی: [خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهٗ] رواه مسلم) چه ددے حدیث مصداق جوړ شو. بمشیئة الله تعالیٰ وفضلهٖ وکرمهٖ.

او شاید چه څوك به فائده واخلی او مونږ به په خپلو مستجابو دعاګانو کښ یاد کړی او د صدقه جاریه سره زمونږ محبت ډیر دے، نو شاید چه الله تعالیٰ دا په خپل فضل صدقه جاریه اُوګرزوی (اَوْ عِلْمٌ يُنْتَفَعُ بِهٖ) کښ داخل شی.

بل باعث دا هم وو چه یو ځل دوه درے کاله مخکښ ما خوب لیدلے وو چه زه تفسیر لیکم او نوم ئے الحکمة دے. بیا دا خوب پدے کال هم ما اُولیدلو نو شاید چه الله تعالیٰ دا خوب صادق کړی او دا تفسیر وجود ته راشی او حکمت ددے په وجه په ډیرو انسانانو کښ راشی.

بل تدبر القرآن یو لوئی عبادت دے پدے کښ شغل بهترین شغل دے او بالفعل مقصود سره تعلق دے. او الله تعالیٰ په خپل خصوصی فضل سره قرآن کښ مونږ ته بعض نکتے او دقائق او اسرار خودلی دی چه عامو تفاسیرو کښ نشته. وَذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ. ددے خبرے اندازه به ته هله اُوکړے چه دا تفسیر اُوګورے او بیا نور تفاسیر. نو ما اُووئیل چه دغه اسرارو ته به اشاره په لیکلو د یو تفسیر اُوکړو چه نفع ئے عامه شی.

د تفسیر "حکمة القرآن" خصوصیات او میزات

هر مصنف لـه پکار دی چه داسے یو کتاب اُولیکی چه څه جدیده فائده پکښ وی که صرف نقل وی بیا خو ډیر تکلیف ته حاجت نشته چه انسان ئے په لیکلو کښ برداشت کړی ځکه پخوانی کتابونه کافی دی لیکن که جدیده فائده وی او ډیره وی بیا لیکل کول پکار دی کما قال القاسمی رحمه الله فی قواعد التحدیث۔

نو زمونږ ددے تفسیر الحمد لله ډیر خصوصیات دی چه په مختصر انداز کښ ورته زه اشاره کوم:

(۱) پدے کښ تفسیر القرآن بالقرآن دے۔

(۲) تفسیر القرآن بالاحادیث النبویه دے۔

(۳) تفسیر القرآن بآثار الصحابه رضی الله عنهم دے۔

(٤) تفسیر القرآن بآثار السلف ؒ دے۔

(۵) دارنگه تفسیر القرآن بتحقیق اللغات دے چه دا یوه مهمه طریقه ده د فهم قرآن۔

(٦) د محاوراتو عربیه او محاورات عادیه ؤ بیان پکښ دے چه د هغے په وجه تفسیر کښ ډیر کمال پیدا شویدے، قرآن کریم د عربو او د عقلاؤ د محاورے موافق نازل دے نو د هغے پیژندل ضروری دی د فهم قرآن دپاره۔

(۷) تاریخ د اهل جاهلیت پیژندل هم ضروری دی او هغه دے تفسیر کښ بیان شویدے۔ ولله الحمد۔

(۸) توضیح د بعض آیتونو په امثالو سره چه ذهن کښ بالکل کینی۔

(۹) بیان د صحت او ضعف د احادیثو کوم چه دلته راوړے شویدی۔

(۱۰) حواله او مرجع د هغے بیانول چه عند الضرورة رجوع هغے ته آسانه شی۔

(۱۱) د اصولو د شریعت پابندی کول او د هغے نه د قرآن تفسیر راویستل او د هغے مخالفت نهٔ کول۔ دا ددے تفسیر مهم خصوصیت دے۔

(۱۲) د هر سورت مقصد کوم چه زمونږ مشائخ بیانوی سره د خپل تدبر نه چه کوم مقصد راویستلے شویدے د هغے بیان۔ سره د دلیل نه۔ نو مقاصد السور په دے تفسیر کښ ډیر مهم او ضروری دی او بهترین دی چه ټول سورت ورسره لګیږی او د هغے د راویستلو طریقه هم خودلے شویده۔

(۱۳) مناسبات د آيتونو خپل مينځ کښې دارنګه مناسبات د آيتونو د موضوع د سورت سره هم بيان شويدی چه ټول سورت يوه خطبه او مربوط بيان جوړ شوے دے۔

(١٤) د آيتونو عناوين په طرز جديد سره بيان شويدی۔

(١٥) حاصل او خلاصه د يو يو درس بيانه شويده چه ذهن کښې پريوځي۔

(١٦) د سورت مناسبات د مخکښې سورت سره۔

(١٧) او د امتيازاتو بيان هم شويدے۔

(١٨) فقهي مسائل هم راوړل شويدی۔

(١٩) او ناشنا ناشنا حکمتونه راوړل شويدی او فوائد هم بيان شوی دی۔

(٢٠) يو مهم خصوصيت دا دے چه دے کتاب کښې فقه التفسير بيان شويده چه ددے نه عام تفاسير خالي دی۔ اِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ۔ د فقه التفسير مطلب دا دے چه يو آيت کښې ډير احتمالات وی نو په هغے کښې راجح بيانول په دليل سره ددے خصوصي اهتمام کړے شويدے۔ که يو مفسر ډير توجيهات يو آيت کښې جمع کړی او راجح بيان نکړی نو دا کمال نهٔ دے۔

(٢١) بعض د حکمت نه ډك شعرونه هم راوړل شويدی۔

(٢٢) کوم فوائد چه د بل تفسير نه نقل دی نو د هغے حواله هم ذکر ده۔

(٢٣) دا تفسير د غلط اسرائيلياتو نه خالي دے که ذکر شوی دی نو بيرته پرے رد هم ذکر دے۔

(٢٤) دارنګه د تعصب مذهبي او ډله بازی نه خالي دے، صرف او صرف کتاب او سنت طرف ته پکښې دعوت دے۔

(٢٥) د صحابه کرامو او د ائمه کرامو د طرف نه پکښې دفاع شويده که چا چرته د هغوی پسے طعن وئيلے وی۔

(٢٦) يو عجيب خصوصيت دا دے چه قرآن اولًا د نبي عليه السلام د زمانے سره لګول شويدے بيا د خپلے زمانے موافق مصداق هم خودل شويدے چه په لوستونکي باندے آيت پوره واضح شي او هغه ترے پوره فائده واخلي باذن الله تعالیٰ۔

(٢٧) د تحريف او غلط تاويلاتو نه خالي دے او الحمد لله د اسماء او صفاتو په باب کښې د سلف صالحينوؒ مذهب اختيار کړے شويدے کوم چه حق مذهب دے۔

(۲۸) د یوې جملې او یو آیت ډیر مصداقات پکښ بیان شویدی۔

(۲۹) اصولو کښ مونږ لیکلی دی چه قرآن به په ظاهر بناء وی نو دا تفسیر په ظاهری کلماتو روان دے یعنی بے ځایه تاویلات پکښ نشته بلکه د قرآن ظاهری الفاظ او کلمات کافی ګنړل شویدی۔ (الا عند الضرورة)۔

(۳۰) د اهل السنة والجماعة د مذهب خلاف پکښ نشته یعنی سلفی تفسیر دے۔

(۳۱) د غلطو عقائدو او نظریاتو او بدعاتو او خرافاتو نه پاك دے بلکه په هغے تفصیلی رد دے۔

(۳۲) تذکیری تفسیر هم دے، نصائح (نصیحتونه) رقت قلب (د زړه نرمی) تعلق بالله، د الله تعالیٰ محبت او د رسول الله ﷺ محبت ته پکښ ډیر دعوت دے۔

(۳۳) نحوی ترکیبونه هم پکښ شته کوم ځائے کښ چه ضرورت وی۔

(۳٤) په ډیرو ځایونو کښ د پخوانو کتابونو نه نقل هم شته لکه تورات، انجیل او زبور (بائیبل) دپاره د زیادت وضاحت۔ او حجت په یهود او نصاراؤ۔

(۳۵) کومو تفاسیرو کښ چه غلطے خبرے لیکل شویدی او مشهورے شویدی د هغے رد هم شویدے بالدلیل۔

(۳٦) د الله رب العالمین او د رسول الله ﷺ او د نورو انبیاء علیهم السلام او د ملائکو علیهم السلام او د صحابه کرامو رضی الله عنهم ادب او احترام بقدر استطاعة پکښ شویدے۔ دارنګه د قرآن کریم او احادیث نبویهٔ او د حق پرستو علماء کرام او ائمه عظامو هم۔ داسے ندے لکه بعض تفاسیرو کښ په قرآن باندے اعتراض اُوکړی په بے ادبه الفاظو بیا ضعیف جواب ذکر کړی لکه تفسیر د رازی صاحب شو۔

(۳۷) کومه خبره چه ظاهر القرآن او احادیثو کښ وی او سلفو پرے قول کړے وی، مونږ د هغے خلاف نهٔ دے کړے یعنی دا صرف خپل عقلیات بیانول ندی لکه بعض تفاسیرو کښ صرف خپل عقل جنګول شویدے۔

(۳۸) لیکل او ژبه هم آسانه او سلیسه ده۔

(۳۹) متشابه آیتونو کښ وجوه د فرق هم بیان شویدی چه دا د علوم د قرآن نه یو علم دے۔

(٤۰) دلالة الاقتران هم پکښ ډیر استعمال دے چه دا هم د قرآن د باریکاتو نه یو باریك

علم دے او فائده مند ډیر دے۔

(٤١) دارنګه حکمة د تقدیم او تاخیر هم بیان شویدے چه دا هم بهترین علم دے۔

(٤٢) فوائد خارجیه پکښې هم بیان شویدی۔

(٤٣) د رسول الله ﷺ د سیرت نه پکښې هم مکمل فائده اخستل شویده یعنی د هغې بیان د آیتونو د حل دپاره شویدے۔

(٤٤) شان نزول د آیت هم بیان شویدے۔

(٤٥) بیان د ناسخ او منسوخ هم پکښې شته۔

(٤٦) د آیتونو په تتمه کښې چه د الله تعالیٰ کوم نومونه او صفتونه راځی د هغې مناسبات هم بیان شویدی۔

(٤٧) فضائل السور والآیات۔

(٤٨) دارنګه اسماء السور (د سورتونو نومونه) هم بیان شویدی۔

(٤٩) په ټولو فِرق باطله ؤ باندے علمی رد دے لکه خوارج، معتزله، جهمیه، مرجئه، روافض، مبتدعین، جاهلان تکفیریان، قادیانی ډلے والا مرزایان او پرویزیان، دهریه، کمیونسټ، مشرکین قبر پرست او نورے غلطے ډلے، او دا رد صرف د الله تعالیٰ د رضا او د دین د حفاظت په خاطر دے، ورنه زمونږ ذاتی دشمنی د هیڅچا سره نشته۔

(٥٠) بیان الفروق اللغویه چه دا هم یو فائده مند علم دے۔

مختصر دا وایو چه دا تفسیر د چا سره وی (فَإِنَّهُ يُغْنِيهِ عَنْ كَثِيرٍ مِنَ الْكُتُبِ وَالتَّفَاسِيرِ وَيَنْفَعُهُ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ إِنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰى) (نو ډیرو کتابونو او تفاسیرو نه ئے بے پرواه کوی او ان شاء الله تعالیٰ په دنیا او آخرت کښې فائده ورکوی)۔

زهٔ د ټولو اهل علمو او مسلمانانو رونړو او خویندو نه درخواست کوم چه انسان کمزورے دے که بیا هم زمونږ د کوشش سره څه خطائی په تفسیر کښې اُووینی نو مونږ ته دِے خبر راکړی ان شاء الله تعالیٰ مونږ خپله خطائی منو او واپس ئے اخلو، ضد او عناد نهٔ کوو ان شاء الله۔ دارنګه که یوه خبره ستا په نظر بده اُولګیږی نو دا درخواست کوم چه سمدستی ئے مهٔ رد کوه، ښه علمی تحقیق اُوکړه، آخرت او حساب ځان ته مستحضر کړه که بیا هم غلطه وه نو رد کول ئے جائز دی ځکه [كُلُّ اَحَدٍ يُؤْخَذُ مِنْ قَوْلِهٖ وَيُرَدُّ عَلَيْهِ اِلَّا صَاحِبَ هٰذَا الْقَبْرِ] لکه امام مالك رحمه الله وئیلی دی۔ (د هر چا بعض خبرے اخستے

کیږی او بعض رد کیږی سوئ ددے قبر والا نه۔ او اشاره ئے د رسول الله ﷺ قبر طرفته وکړه)۔

او که چرته څه فائده ډیے واخستلے نو ضرور مونږ دپاره (او راجمع کونکی) دپاره د استغفار دعا اُوکړه څکه مونږ د الله تعالیٰ مغفرت ته زیات ضرورت لرو۔

بیا په دے تفسیر کښ شیخ ابوزهیر سیف الله (حفظه الله تعالیٰ) ډیر کومك کړے دے (بعد توفیق الله تعالیٰ) چه دهٔ زمونږ د کیستهو نه هم نقل کړے او ورسره نوره اضافه ئے هم کړیده او بیا ما تصحیح کړیده او نور فوائد چه ذهن کښ راغلی دی یا په کتابونو کښ مو لیدلی دی هغه مو زیات کړیدی او مولوی صاحب پکښ ډیر محنت کړیدے۔ الله تعالیٰ ډیے د هغه او زمونږ دپاره ذریعه د نجات اُوګرځوی او په میزان د حسناتو کښ ډیے الله تعالیٰ راولی۔ دارنګه ټول لوستونکی او اوریدونکی ډیے ترے الله تعالیٰ مستفید کړی۔ وما ذلك علی الله بعزیز۔

حرره ابو محمد امین اللّٰه

یوم الثلثاء ذی القعدة (۱) (۱۴۳۰هـ) مسجد حمزة بشاور باکستان۔

بسم الله الرحمن الرحيم

مُقَدّمَة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَامُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَاتَمُوْتُنَّ اِلَّاوَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ، يٰٓاَيُّهَاالنَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ا ط وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ط اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا، ط يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا، يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْلَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ط اَمَّا بَعْدُ :

قرآن کريم د رب العالمين يقيني او رشتيني کتاب دے، د الله عزوجل او د رسول الله ﷺ تابعداري انسان پوره طريقے سره نشي کولے بلکه بالکل ئے نشي کولے، مگر په يادولو د قرآن او د حديث، چه قرآن کريم باندے بنده پوهه شي نو د الله تعالیٰ تابعداري به اُوکړي، او د رسول الله ﷺ په احاديثو چه پوهه شي نو د الله عز وجل او د هغهٔ د رسول الله ﷺ تابعداري به اُوکړي، دے وجه نه هر سړي او ښځے له د قرآن کريم او د احاديثو علم زدهٔ کول ډير ضروري دي، نبي عليه السلام فرمائيلي دي :

[طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ]

[صحيح ابن ماجه (١٨٣) وصحيح الترغيب : (٧٢) بسند صحيح)

(د علم طلب کول په هر مسلمان فرض دي) د علم طلب کول دا دي چه بنده په قرآن کريم او د نبي ﷺ په احاديثِ مبارکهٔ باندے ځان پوهه کړي، څو مره ئے چه وسعه رسيږي، که مُتبحر (ژور) عالم نهٔ شي، خو چه څه نا څه د خپل عمل په نيت باندے ځان په قرآن کريم پوهه کړي۔

او قرآن کريم چه مونږه او تاسو لولو، نو صرف د تعليم او بل ته د خودلو په نيت به نهٔ وي بلکه اول به د خپل ځان اِصلاح مقصد وي، چه زهٔ الله جل جلاله اُوپيژنم۔ او دارنګه

د هغه حکم اُوپيژنم، ځکه د الله تعالیٰ پيژندګلی په غير د قرآن نه نۀ کيږی، او د الله تعالیٰ حکمونه بغير د قرآن او د حديث نه نۀ پيژندلے کيږی، او الله تعالیٰ ته د رسيدلو همدا يوه عظيمه وسيله ده۔ د يو حديث نه معلوميږی [فَإِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ سَبَبٌ طَرَفُهٗ بِيَدِ اللّٰهِ وَطَرَفُهٗ بِاَيْدِيْكُمْ فَتَمَسَّكُوْا بِهٖ فَاِنَّكُمْ لَنْ تَضِلُّوْا وَلَنْ تَهْلِكُوْا بَعْدَهٗ اَبَدًا]

(صحيح الجامع (٣٤) الصحيحة (٧١٣)

(دا قرآن کريم د الله تعالیٰ رسئ (پړے) دے، (زمکے ته ئے راکوز کړے دے)، يو طرف ئے د الله تعالیٰ لاس کښ دے، بل طرف ئے ستاسو (بندګانو) په لاس کښ دے، نو پدے پورے اُونخلئ ځکه چه تاسو به ددے پورے د انختلو نه پس هيڅکله ګمراه او هلاك نۀ شئ)۔

نو بس دے قرآن کريم پورے چه څوك اُونخلی، الله تعالیٰ ته به ورسيږی، او قرآن پورے چه څوك نۀ انخلی نو هغه به ښکته کوهی کښ پروت وی، او هغه رب العالمين ته نۀ شی رسيدلے،

نبی ﷺ فرمائی : [مَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَبْتَغِىْ بِهٖ (وَفِیْ رِوَايَةٍ : يَلْتَمِسُ فِيْهِ) عِلْمًا سَهَّلَ اللّٰهُ لَهٗ بِهٖ طَرِيْقًا اِلَى الْجَنَّةِ] [مسلم : ٧٠٢٨، والترمذی : ٢٦٤٦، وابوداود : ٣٦٤٣]۔

(څوك چه روان شو په يوه لاره چه په هغے کښ علم طلب کوی، الله رب العزت به دۀ ته د جنت لارے آسانی کړی)، نو د علم لاره دا ده چه انسان د قرآن کريم يا د اَحاديثو درس ته کينی، او ددے نه استفاده اُوکړی، الله رب العزت په دے خپل کتاب کښ دے کتاب ته ډير دعوت ورکړيدے، تقريباً دريمه حصه د قرآن کريم به داسے وی چه په هغے کښ به قرآن کريم طرف ته ترغيب وی چه د الله تعالیٰ دا عظيم کتاب دے، ددے عظمتِ شان د بندګانو زړه کښ کينوی، الله تعالیٰ د هغه کسانو بدی بيانوی څوك چه د قرآن کريم نه اِعراض کوی : ﴿وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِیْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا﴾ (طه : ١٢٤)

(د قرآن کريم نه چه چا اعراض اُوکړو، الله به ورله ژوند تنګ کړی) ايمان ئے پرے رانۀ وړو، عمل ئے پرے اُونۀ کړو، توجه ئے ورته اُونکړه نو د داسے انسان زندګی تنګيږی، او دے کتاب کښ الله تعالیٰ فرمائيلی دی : چه نبی ﷺ به د قيامت په ورځ شکايت کوی په هغه چا چه قرآن مجيد ئے پريخوستے دے :

﴿وَقَالَ الرَّسُوْلُ يَا رَبِّ اِنَّ قَوْمِيْ اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْآنَ مَهْجُوْرًا﴾ (الفرقان : آية ٣٠)

(رسول الله ﷺ به وائی اے الله تعالیٰ ! زما دے قوم قرآن کريم پريخوستے وو)۔

علماء کرامو (رحمهم الله) لیکلی دی : د (مهجوراً) معنیٰ دا ده چه قرآن باندے ایمان نۀ راوړی، او عمل پرے نۀ کوی، نو دا د قرآن کریم غټ هجران او پریخودل دی، دارنګه د قرآن کریم نه شفاء او علاج نۀ حاصلول، قرآن کریم په دلیل کښې نۀ پیش کول، شعرونو، نعتونو له په قرآن کریم باندے غلبه ورکول، چه قرآن سرے پریدی او شعرونه وائی، اَخبارونه ګوری، او د فضائلو کتابونه ګوری او قرآن ئے شاته کړے وی، نو دا ډیر د نقصان خبره ده، لکه په دے وخت کښې زمونږ په عامو مدارسو او عوامو کښې دا مرض دے چه د قرآن کریم (عظیم کتاب) درسونه پکښې نۀ وی، او هغے ته دومره نۀ کینی، الغرض ! د قرآن کریم د لوستلو ډیر فضائل او ډیرے فائدے دی، او د حدیثو کتابونو کښې هم ذکر شوی دی۔

او څومره لویه خبره ده چه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَاءُ وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا﴾ (بقره : ۲٦۹)

(الله تعالیٰ ورکوی علم د قرآن چا ته چه اُوغواړی او کوم انسان ته چه د الله تعالیٰ د کتاب علم ورکړے شو یقیناً دۀ له ډیر خیر ورکړے شو) ۔ الله تعالیٰ دے ته خیر کثیر وئیلے دے، ډیر خیر والا انسان هغه نۀ دے چه مال ورسره ډیر وی، ډیر خیر والا هغه دے چه د الله تعالیٰ په کتاب پو هه شی او عمل پرے اُوکړی۔ الله تعالیٰ سورة یونس (۵۸) کښې فرمائیلی دی : ﴿هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ﴾ (قرآن کریم غوره دے د دنیا د لوئی مالونو نه چه دا خلق ئے راجمع کوی)، ځکه مال دنیا کښې پاتے کیږی او دا کتاب قبر او آخرت ته هم ځی، خو هله چه سړے پرے عمل اُوکړی، ددے کتاب عظمت او محبت ئے په زړه کښې راشی او بیا ئے اتباع اُوکړی، نو ددے فضائلو د وجه او باعث نه د قرآن کریم لفظی ترجمه او تفسیر او فوائد لیکلے کیږی دے دپاره چه عوام مسلمانان، زنانه او طالبان د دین او علماء کرام د الله تعالیٰ په کتاب باندے په صحیح معنو کښې پو هه شی۔

مونږ دا تفسیر درمیانه انداز کښې لیکو، نۀ طویل او نۀ قصیر، لیکن ډیرو فوائد ته په لنډو الفاظو کښې اشاره شوے ده ان شاء الله تعالیٰ۔ او فقه فی التفسیر په کښې بیان شوے ده۔ وَاللّٰهُ وَلِيُّ التَّوْفِيْقِ۔

د تفسیر د شروع کولو نه مخکښې بطور مقدمه درے مباحث بیانیږی، د باقی اصول القرآن دپاره مستقل کتاب لیکلے شی ان شاء الله تعالیٰ۔ (هغه هم لیکلے شوے باذن الله)

د قرآن کریم آداب

د قرآنِ کریم د لوستلو نه مخکښ څه آداب لوستونکی له پکار دی، دے دپاره چه په لوستلو کښ برکت راشی او مقام د قبولیت ته اُورسیږی :

١ - [اَنْ یَّجْلِسَ بِوُضُوْءٍ] په اوداسه کښ کیناستل : صحیح خبره دا ده چه قرآن کریم له په بے اَودسۍ ګوتے وروړل نۀ دی پکار۔ لکه ﴿ لَایَمَسُّهٗٓ اِلَّاالْمُطَهَّرُوْنَ﴾ کښ ورته اشاره ده۔

٢ - [اَنْ یَّکُوْنَ نَظِیْفَ الثِّیَابِ] (جامے به ئے پاکے وی) ځکه قرآن د الله تعالیٰ کلام دے، دے دپاره به صفائی کولے شی۔

٣ - [اَنْ یَّجْلِسَ بِخُشُوْعٍ] (قرآن کریم ته به په خشوع او عاجزئ کینی، مَرور او په حالت د تکیه کښ به نۀ کینی)۔

٤ - [اَنْ لَّایَتَکَلَّمَ اَثْنَاءَ الْقِرَاءَةِ]۔ (د قرآن د لوستلو په مینځ کښ به خبرے نۀ کوی)۔ که چرته یوه ضروری خبره مینځ ته راشی نو د هغے نه پس به دوباره اعوذ بالله وئیلے شی۔

٤ - [اَنْ یَّتَعَوَّذَ بِاللّٰهِ] په اوله کښ اعوذ بالله وئیل ضروری دی که ابتداء د سورة وی نو بسم الله به هم ورسره یو ځائے کوی او که مینځ د سورة وی نو بیا صرف اعوذ بالله وئیل کافی دی۔ بسم الله وئیل ورسره په سنت کښ نۀ دی نقل۔

٥ - [اَنْ یَّقْرَأَهٗ نَظْرَةً] (قرآن ته په کتلو سره ئے لوستل) دا ډیر بهتر دی اګرکه په یاده لوستل هم جوازلری)۔ حدیث کښ دی : [مَنْ سَرَّهٗ اَنْ یُّحِبَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَلْیَقْرَأْ فِی الْمُصْحَفِ] [حسن : شعب الایمان ٢/٤٠٨- الصحیحة : ٢٣٤٢] (ځوك چه دا خوښوی چه د الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول سره مینه اُوکړی نو په قرآن کښ دے لوستل کوی)۔

٦ - [اَنْ یَّأْخُذَهٗ بِیَمِیْنِهٖ] په ښی لاس کښ به ئے اخلی، په ګس لاس کښ قرآن کریم او دینی کتاب نیول بے ادبی ده۔ ٧- [اَنْ لَّا یَتَخَطَّ عَلَیْهِ] ۔ (په قرآن کریم باندے دپاسه قدمونه پورته کول او په هغے باندے اَوړیدل) بے ادبی ده، بلکه سلفو به ددے نه هم منع کوله چه په تپائی او تخته او رحیل باندے انسان خپه واړوی۔

﴿ ذٰلِكَ وَمَنْ یُّعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَی الْقُلُوْبِ﴾ (الحج :٣٢)

٨- [اَنْ لَّایَتَوَسَّدَ عِنْدَ قِرَاءَتِهٖ] ۔قرآن کریم ته به تکیه نۀ وهی۔ البته که په یاده ئے لولی نو په ملاسته هم رسول الله ﷺ لوستلے دے۔ امام بیهقیؒ یو روایت راوړیدے :

[یَا اَهْلَ الْقُرْآنِ لَا تَتَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ] [شعب الایمان : ١٨٥٢]

(ددې يوه معنیٰ دا ده چه قرآن كريم ته تكيه مه وهئ)،

دويم دا چه د قرآن كريم نه بالخت هم مهٔ جوړوئ چه انسان پرې دپاسه ډډه اُووهي۔

اودريم دا چه ددې د حقوقو او تلاوت نه غفلت هم مهٔ کوئ۔ (وفي سنده مقال)۔

۹- په قرآن کښې به دننه ليکل نهٔ کوي۔ دا وجه ده سلفو پکښې آمين هم نهٔ دې ليکلې۔ البته که د تفسير په طور په حاشيه باندې ورته په ښائسته خط ليکل اُوکړې نو جواز لري۔ دا خو ظاهري آداب وو۔ نور هم شته ۔

او باطني آدابو کښې دا دي :

۱- [تَدَبُّرُ الْقُرْآنِ الْكَرِيْمِ]۔ (قرآن كريم او ددې په رازونو کښې سوچ او فكر كول)۔

فَتَدَبَّرِ الْقُرْآنَ اِنْ رُمْتَ الْهُدٰى	❁	فَالْعِلْمُ تَحْتَ تَدَبُّرِ الْقُرْآنِ

(که د هدايت اراده لرې نو قرآن كريم کښې تدبر کوه ځکه چه ټول علم د قرآن كريم په تدبر کښې دې)

۲- [عَظَمَةُ الْقُرْآنِ فِي الْقَلْبِ] (په زړه کښې به د قرآن كريم عظمت او تعظيم ساتی) چه دا د عظيم ذات کلام او کتاب دې۔ عکرمه بن ابی جهل ﷺ په باره کښې نقل دي چه هغهٔ به کله د قرآن کريم تلاوت کولو نو قرآن به ئې د خپل تندی سره ولګولو او داسې به ئې وئيل : [كَلَامُ رَبِّيْ، كَلَامُ رَبِّيْ] ۔(دا زما د رب کلام دې، زما د رب کلام دې) پدې سره به ئې د قرآن کريم عظمت په زړهٔ کښې راغلو۔ [الحاكم (٥٠٦٢) والطبراني (١٠١٨) مرسلاً ورجاله رجال الصحيح : مجمع الزوائد : ١٦٠٥٩] •

۳- [اَلدُّعَاءُ عِنْدَ الآيَاتِ] (په بعض آيتونو کښې دعا غوختل) لکه دا د نبی ﷺ طريقه هم وه۔ لکه داسې راشي ﴿اِنَّ رَحْمَتَ اللهِ قَرِيْبٌ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ نو انسان داسې اُووائي : [اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ رَحْمَتَكَ] د جنت بحث راشي داسې اُووائي : [اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ الْجَنَّةَ] او داسې نور۔ او دا هله کيږي چه انسان د قرآن کريم په معنیٰ پو هه شي۔

٤- حقيقي ادب ئې دا دې : [اَلْعَمَلُ بِالْقُرْآنِ] ..... (قرآن كريم باندې عمل کول)

کله چه انسان قرآن كريم لولي او د هغه عملي زندګی نهٔ جوړيږي نو دا د قرآن كريم احترام نهٔ دې۔ددې مثال دا جوړيږي چه يو انسان چا ته اُووائي : زهٔ تا منم او ستا احترام زما په زړه کښې موجود دې خو خدمت ته دې تيارنهٔ يم، نو داسې انسان د چا خوښ وي ؟

!۔ وبالله التوفيق۔ والله اعلم وعلمه اتم واحكم۔

د قرآن كريم نه د فائدے اخستو اسباب

د قرآن كريم نه د فائدے اخستو ډير اسباب او ذرائع دی، دلته مختصراً يو څو ذكر كولے شی :

(۱) اول سبب : [طَلَبُ مَرْضَاةِ اللّٰهِ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی] ۔(د الله تعالیٰ د رضا طلب كول) چه د بنده دا نيت وی چه ما نه الله تعالیٰ راضی شی۔ سورة المائده (۱٦) آيت كښې دی :

﴿يَهْدِىْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ﴾ (الله تعالیٰ پدے قرآن هدايت كوی هغه چا ته چه د الله تعالیٰ د رضا پسے روان شی) نو معلومه شوه چه څوك د الله تعالیٰ رضا لټوی نو قرآن كريم هغه ته هدايت كوی او هغه د قرآن كريم نه فائده اخستے شی۔

(۲) اَلتَّقْوٰی : (تقویٰ، د الله تعالیٰ يره چه چا كښې راشی نو هغه د قرآن كريم نه فائده اخستے شی) قرآن كريم خو ډير قسمه خلق لولی، انګريزان، شيعه ګان، هندوان، مبتدعين بريليان وغيره ليكن دهغوی پرے عقيده نۀ جوړيږی، اعمال ئے نۀ برابريږی، وجه دا ده چه تقویٰ پكښې نشته۔ الله تعالیٰ فرمائی : ﴿هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ﴾۔

(۳) دريم سبب : [خَشْيَةُ اللّٰهِ وَالْإِشْفَاقُ مِنَ السَّاعَةِ] ۔(د الله نه يره او د قيامت نه سخت يريدل) تقویٰ دے ته وائی چه انسان د الله تعالیٰ د حكمونو تابعداری كوی او خشيت دے ته وائی چه د الله تعالیٰ د ذات نه يره كوی۔ د الله تعالیٰ او د قيامت نه يره مجموعه د ټولو خيرونو ده۔ او دا قسم خلق د قرآن كريم نه فائده اخستے شی، لكه الله تعالیٰ فرمائی :

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوْسٰی وَهَارُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَاءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُوْنَ﴾ (الانبياء : ٤٨، ٤٩)۔

(مونږ موسی او هارون (عليهما السلام) ته فرقان او رڼا (تورات) وركړے وه او ياداشت دپاره د متقينو كوم چه د الله تعالیٰ نه يريدل او د قيامت نه ئے خوف لرلو)۔

(٤) – [اَلْاِسْتِمَاعُ وَالْإِنْصَاتُ] (قرآن كريم ته غوږ كيخودل او متوجه كيدل او مشاغل پريخودل)۔ لكه فرمائی : ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَأَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ (الاعراف : ۲۰٤) (كله چه قرآن كريم لوستلے شی نو غوږ ورته كيدئ او چپ شئ دے دپاره چه په تاسو رحم اُوكړے شی) د ليث بن سعد رحمه الله نه نقل دی :

[لَيْسَ شَيْءٌ اَسْرَعَ اِلَيْهِ الرَّحْمَةُ مِنْ مُسْتَمِعِ الْقُرْآنِ] ۔ (داسے يو شے نشته چه رحمت هغے

ته په جلتئ روان وی لکه څنګه چه د قرآن کریم آوریدونکی ته په جلتئ راځی)۔
دارنګه فرمائی : ﴿ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِیْدٌ ﴾
(ق :۳۷)۔
(پدے قرآن کښې یاداشت دے د هغه چا دپاره چه زړه لری اوغوږ کیدی او زړه ئے حاضر وی) نو فائده به د قرآن کریم نه واخلی۔ که د انسان زړه بل طرف ته متوجه وی نو پوره فائده نشی اخستے۔
(٥) [خَوْفُ وَعِیْدِ اللّٰهِ] (الله تعالیٰ چه په قرآن کریم کښې کوم وعیدونه او عذابونه او سزاګانے د مجرمانو دپاره بیانے کړیدی د هغے نه یره کولو سره بنده د قرآن کریم نه فائده اخستے شی) ۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَنْ یَّخَافُ وَعِیْدِ ﴾ (ق :٤٥)
(قرآن بیان کړه هغه چا ته چه زما د عذابونو نه یره کوی)
﴿ سَیَذَّكَّرُ مَنْ یَّخْشٰى ﴾ (الاعلی :١٠)
(زردے چه نصیحت به واخلی هغه څوك چه د الله تعالیٰ نه یره کوی)
(٦) – [عَدَمُ الرُّكُوْنِ اِلَى الدُّنْیَا وَاتِّبَاعِ الْهَوٰى]
(دنیا ته نهٔ مائله کیدل او دخپلو خواهشاتو پسے نهٔ روانیدل) په قرآن کریم باندے دنیا پرست خلق او هغه څوك چه د خپلو خواهشاتو تابع وی نشی پوهیدلے۔ لکه بلعام بن باعورا په اوله کښې د تورات عالم وو بیا پکښې دوه مرضونه پیدا شو :
١ – حُبُّ الدُّنْیَا (د نیا سره ئے مینه پیدا شوه) ٢ – دویم اتباع الهوی۔ د خپلو خواهشاتو تابعداری۔ نو بس ګمراه شو۔ لکه سورة الاعراف (١٧٦)کښې به راشی :
﴿ وَلٰكِنَّهٗۤ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ﴾ ۔(دے زمکے (دنیا) ته مائل شو او د خپل خواهش تابعداری ئے اُوکړه) نو دغه علم ورته فائده ورنکړه۔
سفیان ثوریؒ نه نقل دی :
[لَا یَجْتَمِعُ فَهْمُ الْقُرْآنِ وَالْاِشْتِغَالُ بِحُطَامِ الدُّنْیَا فِیْ قَلْبِ مُؤْمِنٍ اَبَدًا]
(د قرآن کریم پوهه او د دنیا په سامانو مشغوله کیدل، دواړه د مؤمن په زړه کښې هیڅکله نهٔ شی راجمع کیدے)
(٧) – [اَلْاِیْمَانُ الْكَامِلُ بِاللّٰهِ وَبِوَعْدِهٖ وَوَعِیْدِهٖ]۔
(قوی او کامل ایمان لرل په الله تعالیٰ او د هغه په وعدو او د هغه په عذابونو) که داسے

نهٔ وی او ایمان ئے ضعیف وی نو دا پوره طریقے سره د قرآن نه فائده نشی اخستے، هسے الفاظ به وائی او قرآن به ختم کړی، درس نه به فارغ شی مګر ډیره فائده به اُونکړی.
لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا هُدًى وَّشِفَاءٌ ﴾ (فصلت :٤٤)
(اُووایه دا قرآن د ایمان والو دپاره هدایت او شفاء ده).
دارنګه فرمائی : ﴿ اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّا اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴾ (عنکبوت :٥١) (آیا دوی له دا کافی نهٔ دے چه مونږ دوی ته کتاب نازل کړیدے او په دوی باندے لوستلے شی، یقیناً پدے کښې ضرور رحمت دے او یاداشت دے د ایمان والودپاره) ﴿ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ (یونس:٥٧)
(دا کتاب هدایت او رحمة دے د ایمان والو دپاره)
(۸) [طَهَارَةُ الْقَلْبِ] (د زړهٔ صفائی) د حسد، کینه، ضد او بغض او ګنده اخلاقو نه یعنی د چا تزکیه دنفس چه شوی وی نو هغه د قرآن کریم نه حقیقی فائده اخستے شی.
لکه فرمائی :﴿ لَا يَمَسُّهٗ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴾ ددے یوه معنیٰ مفسرینو داسے کړیده :
[لَا يَنَالُ فَهْمَ مَعَانِيْهِ اِلَّا الْقُلُوْبُ الطَّاهِرَةُ]
(صرف پاکو زړونو والا په معانی او مقاصدو د قرآن کریم پوهیږی) چه زړه ته اُورسیږی.
(۹) [اَلْعَزْمُ الْجَازِمُ] (کلکه اراده کول چه زهٔ به د قرآن کریم نه فائده اخلم) علماً، عملًا او عقیدةً. لکه د سورة التکویر آیت (۲۸) کښې دی : ﴿ لِمَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّسْتَقِيْمَ ﴾
(د قرآن کریم نه فائده هغه څوك اخستے شی چه د هغه اراده د استقامت وی) د ځان د برابرولو اراده ئے کړے وی.
(۱۰) - (اَلْيَقِيْنُ) (دا یقین کول چه قرآن کریم به ما ته ضرور فائده راکوی).
(۱۱) (اَلصَّبْرُ) (دا ټولے خبرے انسان ته هله حاصلیږی چه صبر پکښې راشی، بنده نهٔ علم کولے شی او نهٔ عمل کولے شی او نهٔ د نفس کومه تزکیه کولے شی او نهٔ د کوم بد اخلاقو نه بچ کیدے شی مګر هله چه صبراختیارکړی. پدے وجه په قرآن کریم کښې د صبر بیان ډیر راغلے دے. الله تعالیٰ فرمائی :
﴿وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يُوْقِنُوْنَ﴾ (الم السجده :٢٤)
(ما د بنی اسرائیلو نه امامان د دین جوړ کړی وو چه خلقو ته به ئے د الله تعالیٰ دین

بیانولو کله چه هغوی کښې صبر راغلو او زما په آیتونو ئے یقین لرلو)۔

د قرآن کریم د پوهے نه منع کونکی خیزونه

علامه زرکشیؒ په "البرهان" کښې لیکلی دی چه چا کښې نهه صفات راشی نو هغه د قرآن کریم پوهه نشی حاصلولے او فائده نشی ورکولے۔ د فائدے په طور مختصراً بیانیږی:

۱ – [اَلْبِدْعَةُ] (بدعتی دقرآن کریم نه فائده نشی اخستے)۔

(۲) [اَلْاِصْرَارُ عَلَى الذَّنْبِ] (په گناه باندے یو انسان همیش والے کوی او توبه ترے نهٔ اُوباسی نو دا هم د قرآن نه فائده نشی اخستے)۔

(۳) [اَلْكِبْرُ] (د چا په زړه کښې چه تکبر وی چه حق له دیکه ورکوی او خلق ورته سپك ښکاری) لکه آیت کښې دی:

﴿سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِيْنَ يَتَكَبَّرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ﴾ (الاعراف:۱٤٦)

(یعنی زه د خپلو آیتونو نه هغه خوك اَړوم چه په زړه کښې ئے تکبر دے)

(٤) [اَلْهَوٰى] (د خواهشاتو تابعداری)۔

(۵) [حُبُّ الدُّنْيَا] (د دنیا سره محبت) لکه ددے تشریح به روستو قرآن کریم کښې راځی چه د دنیا محبت څه شے دے؟ هغه دا چه د الله تعالیٰ حکم پرے مات کړے شی۔

(٦) [اَنْ يَّكُوْنَ غَيْرَمُتَحَقِّقِ الْاِيْمَانِ]۔ (چه ایمان ئے قوی نهٔ وی)۔

(۷) [اَنْ يَّكُوْنَ ضَعِيْفَ التَّحْقِيْقِ]۔

(چه د خبرے تحقیق پوره نهٔ کوی) یعنی بغیر د تحقیق نه د خبرے تابعداری کوی او خپل تدبر او سوچ او کتب التفاسیر ته رجوع نهٔ کوی)۔

(۸) ...... [اَنْ يَّكُوْنَ مُعْتَمِدًا عَلٰى قَوْلِ مُفَسِّرٍ فَقَطُ]۔

(صرف د یو مفسر په قول اعتماد کوی) د خپل شیخ نه ئے څه اَوریدلی وی بس همیشه دپاره همغه ترجمه او تفسیر کوی او نور تفاسیر نهٔ گوری او خپل تدبر نکوی)۔

(۹) ...... [اَنْ يَّكُوْنَ رَاجِعًا اِلٰى مَعْقُوْلِهٖ]

(په خپل عقل اعتماد کوی چه بس زهٔ پو هیږم) د استاذانو نه فائدے نهٔ اخلی نو داسے انسان هم په قرآن کریم پوره نشی پو هیدلے بلکه اُلټه به د قرآن کریم تحریف کوی۔

وبالله التوفيق۔

مقدمه د سورة الفاتحة :

د سورة الفاتحې د وضاحت نه مخکښې يو څو خبرې يادول پکار دی :

اول بحث : د مکی او مدنی سورتونو معلومات او پيژندنه :

وحي په دوه ځايونو کښې نازله شويده يو په مکه معظمه کښې او بل په مدينه منوره کښې۔ د مکي او مدنی سورتونو جدا جدا پيژندلو فائده دا ده چه د مکی سورة يو قسم مضمون وی او د مدنی بيل قسم۔ په مکه کښې جهاد نهٔ وو، هلته صرف دعوت کيدو او تکليف او پريشانی وه، په مسلمانانو باندې د کفارو د طرف نه عذابونه وو نو د هغې مطابق آيتونه به نازليدل، د صبر خبرې به کيدې او د جنت او آخرت خبرې به کيدې۔ د آخرت استحضار او د دنيا فناء او يې محبتی به بيانيدله۔

او مدينه کښې خو بادشاهی او خلافت وو۔ نو احکام به بيانيدل د خلافت مسئلې، د مسلمانانو د اجتماع او د هغوی جماعت جوړول او د مسلمانانو اتفاق او اتحاد او جهاد او انفاق او حج وغيره به بيانيدل۔ نو څوك چه مکی او مدنی جدا جدا اُوپيژنی نو د سورت په مضمون او مقصد به ښه او زر پو هيږی چه دا مکی سورت دې، مکی موضوعات پکښې دی او دا مدنی سورة دې، مدنی موضوعات پکښې دی، ناسخ او منسوخ هم ددې سره معلوميږی چه ناسخ مؤخر (روستو) وی او منسوخ مقدم (مخکښې) وی او مکی مقدم وی په مدنی۔

نو که څوك وائی چه دا آيت منسوخ دې او دائې ناسخ دې نو تقديم تاخير ته به کتلې شی۔ دارنګه يو لفظ چه مکی سورة کښې استعمال شو او هغه عمل په مکه کښې نهٔ وی لکه د جهاد، يا د زکوٰة لفظ شو نو پدې مقام کښې به معنیٰ د آيت ته ګورې چه ددې نه څه مراد دې؟ ۔

تفسير فتح البيان کښې علامه نواب صديق حسن خانؒ ليکی :

[مَعْرِفَةُ الْمَكِّيِّ وَالْمَدَنِيِّ لَازِمٌ فِيْ فَهْمِ الْقُرْآنِ]۔

(د مکی او مدنی سورتونو پيژندل په فهم د قرآن کښې لازم دی) او دا احسان مفسرينو کړيدې چه هغوی دا معلوم کړيدیؔ او هر آيت ئې جدا کړيدې چه دا مکی دې او دا

مدني. او چه کوم کښې اختلاف دے هغه ئې هم معلوم کړېدے او غالباً د قرآن کريم د هر سورة په اول کښې ئې ليکلي هم دي چه دا سورة مکي دے او دا مدني دے. بيا د مکي او مدني دپاره د هريو خصائص او تعريف پيژندل ضروري دي.

تعريف المکي :۱- مکي هغه سورتونه دي چه په مکه او د هغے په ماحول کښې نازل شوي وي او مدني ددے برعکس دي.

۲- **تعريف** : مکي سورتونو کښې اکثر تزهيد في الدنيا والرغبة في الآخرة ذکر وي او غالباً د عقيدے او اعمالو مسئلے وي، د دنيا نه رغبتي او د آخرت سره محبت پيدا کيدل. صبر او استقامت او قصص او واقعات پکښې د عبرت دپاره بيانيږي. او مکي سورتونه ډير هم دي. او په مدني سورتونو کښې ترغيب وي د مسلمانانو اتفاق ته، د خلافت مسئلے وي لکه سورة البقرة او آل عمران کښې به دا مسئلے راځي. د جماعت او خلافت جوړولو او د هغه متعلقات لکه د تدبير المنزل احکام، د طلاقو او نکاحونو، رضاعت، جهاد او قتال وغيره هغه ټول مسائل چه د تدبير المنزل يا سياستِ مدنيه سره تعلق لري دا په مدني سورتونو کښې بيانيږي. او دا دعوت ورکوي چه اے خلقو ! نفس پاك کړئ او اخلاق برابر کړئ.

۳- **دريم تعريف** : مکي هغے ته وئيلے شي چه د نبي ﷺ د هجرت نه مخکښې نازل وي که په هر ځائے کښې نازل وي، طائف کښې نازل وي او که په مکه کښې، يا په بل ځائے کښې. او مدني : چه د هجرت نه روستو نازل وي که په تبوك کښې نازل وي چه د مدينے نه ډير لرے ځائے دے. يا په عرفات کښې نازل شوي وي چه دا په مکه کښې دے نو دے ټولو ته مدني وائي لکه (اليوم اکملت لکم دينکم) آيت په مکه کښې په عرفات کښې نازل دے او مدني ورته خلك وائي، نبي ﷺ په اُوښه باندے سور وو، الله پاك دا آيت نازل کړو چه دين پوره شو. نو آيت مکه کښې نازل دے او مدني ورته وئيل کيږي ځکه چه د هجرت نه روستو نازل دے. نو ددے دپاره د نبي ﷺ سيرت زده کولو ته هم ضرورت دے.

دويم بحث :--د تعوذ (اعوذ بالله) وئيلو :

د تعوذ معنیٰ ده (اعوذ بالله) وئيل يعني الله پورے پناهي طلب کول د شيطان نه چه هغۀ د انسان ازلي دشمن دے. ددے حکم او فائده او الفاظ څۀ دي ؟ نو هغۀ بيانيږي :

حكم د تعوذ : د قراء ت د شروع كولو نه مخكښ د (اعوذ بالله) وئيل فرض دي په راجح قول د علماؤ كښ ځكه چه الله تعالىٰ پدے باندے امر كړيدے ﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴾ (النحل ٩٨) (كله چه قرآن كريم لولے نو اعوذ بالله وايه)، او امر د وجوب دپاره وى كله چه د وجوب او د فرضيت نه دليل صارف نهٔ وى راغلے۔

دويم دليل : پدے باندے رسول الله ﷺ دوام او هميش والے كړيدے په مانځه او بهر د مانځه نه نوكومو علماءِ كرامو چه مستحبه ګرځولے ده نو دا مرجوح قول دے۔ امام مالك رحمه الله وائى چه اعوذ بالله وئيل په مانځه كښ نشته۔

(امام مالك زمونږ د امت د امامانو نه يو لوئى امام دے ليكن دا مسئله ئے د دليل په لحاظ سره كمزورے ده، ځكه چه نبى عليه السلام به دا لوستله)۔ دا د واجباتو نه ده، ضرور ددے لوستل پكار دى۔ او په ابتداء د قراء ت كښ به ئے وائى، ځكه دا د رسول الله ﷺ طريقه وه۔

فائدة الاستعاذة : (د اعوذ بالله وئيلو فائدے)

١ - [اِمْتِثَالُ اَمْرِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ] اعوذ بالله وئيلو سره د الله تعالىٰ او د هغه د رسول ﷺ حكم عملى كيږى۔ چه پدے كښ د دنيا او د آخرت سعادت دے۔

٢ - [اَلْاِلْتِجَاءُ اِلَى اللّٰهِ] الله تعالىٰ ته التجاء ده ددے ظالم دشمن نه۔ دشمنان دوه قسمه دى يو ښكاره دى نو د هغه دپاره وسائل دى، اسلحه وغيره سره هغهٔ وهلے شى لكه يهود ونصارىٰ او نور كفار او اهل بدع شول۔

دويم باطنى دشمنان دى چه په سترګو نهٔ ښكارى نو د هغے دپاره شريعت اذكار او دعاګانے خودلى دى، هغه په ظاهرى اسبابو نهٔ دفع كيږى۔ نو په اعوذ بالله وئيلو سره شيطان دفع كيږى۔ (الله تعالىٰ ته تضرع او عاجزى او هغه ته منډه وهل او هغه پورے پناهى نيول د هر شر نه دا الله تعالىٰ ته ډير خوښ دى، هم ددے وجه نه ئے شيطان په انسان مسلط كړيدے چه بنده الله تعالىٰ ته تضرع اُوكړى لكه روستو بقره (٣٨) كښ به راشى ان شاء الله تعالىٰ۔

نو د تلاوت په سر كښ تعوذ ددے دپاره وئيل كيږى چه د شيطان د شر نه محفوظ شى۔ بعض علماءِ كرامو وئيلى دى چه تعوذ به د قراء ت نه روستو وائى، ليكن د رسول الله ﷺ او د صحابه كرامو (رضى الله عنهم) نه ددے نقل نشته۔بلكه هغوى به ابتداء

کښې لوستله.

۳- بله فائده دا ده چه قرآن کریم لوئی عمل صالح دے، شیطان ددے نه د اړولو او د فکر بدلولو ډیر کوشش کوی نو په تعوذ بالله سره د شیطان دا کوشش رد کول دی.

٤- فائده: تعوذ کښې اشاره ده یکسوئی ته یعنی چه صرف توجه الی الله تعالیٰ اُوکړی نو هله به د قرآن کریم په مزه پوهه شی.

د تعوذ الفاظ:

(اعوذ بالله) به په کومو الفاظو سره وائی؟: نو په احادیثو کښې څلور قسمه الفاظ راغلی دی:

۱- [اَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ مِنْ هَمْزِهٖ وَنَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ]

[ابو داود رقم الحديث: ۷۷۵، الترمذى: ۲٤۲، بسند صحيح]

(پناه غواړم په الله تعالیٰ پورے چه اوریدونکے او پوهه ذات دے د شیطان رټلی شوی نه، د هغه د پوکی نه او د هغه چُپ نه (مراد ترے سحر او جادو دے) او د هغه د وسوسو نه)

۲- دویم [اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ مِنْ نَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ وَهَمْزِهٖ] [ابو داود رقم: ٧٦٤ صحيح]

۳- [اَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ] [الترمذى: ۲۹۲۲، والسنن الكبرى للبيهقى: ۲٤۷۷] دا درے واړه بهتر تعوذات دی.

٤- څلورم: صرف [اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ] دا د غصے په وخت ثابت دی لکه بخاری (۳۲۸۲- ٦١١٥) او مسلم (٦٨١٢) کښے دی.

او د تلاوت په وخت د نبی ﷺ نه ندی نقل، البته د سیدنا عمر فاروق او ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل دی چه هغوی به دغه شان تعوذ کولو. (مصنف عبد الرزاق (۸٤/۲) ابن ابى شيبة (۱۹۲/۱) رقم الحديث: ۲٤۷۲]

دارنګه یو مرفوع مرسل روایت ابو داود کښې شته او بل روایت عبد الرزاق (۸٦/۲) رقم (۲۵۸۹) کښې شته.

نو د تلاوت په وخت یا په مانځه کښې دا تعوذ لوستل هم جائز دی اګرکه اولنی درے واړه بهتر دی.

او د فقه حنفی په کتابونو کښې داسے اختلاف راغلے دے چه اعوذ به وائی او که اَسْتَعِيْذُ؟: نو پدے کښې فقهاؤ اختلاف کړیدے مګر دغه اجتهادی اختلاف دے او په احادیثو کښې اَسْتَعِيْذُ نشته صرف (اَعُوْذُ بِاللهِ) راغلے دے، همدا وئیل پکار دی، قطع نظر د هغه

اختلاف نه. ځکه د رسول الله ﷺ په کلماتو کښې برکت او خير دے. وبالله التوفيق.
او په مانځه کښې اَعُوْذُ بالله صرف په اول رکعت کښې وئيل پکار دي ځکه چه حديث د مسلم کښې راځي [كَانَ اِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اِسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِـ (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ) وَلَمْ يَسْكُتْ] [مسلم :١٣٨٤]
(نبي ﷺ به چه کله دويم رکعت ته راپورته شو نو قرائت به ئے د الحمد لله رب العالمين نه شروع کړو او نهٔ به غلے کيدو). (يعني د اعوذ بالله وئيلو دپاره– او هرچه بسم الله ده نو هغه خو د هر سورت نه مخکښے ضروري ده)
○ بله دا چه په هر رکعت کښې د تعوذ وئيلو نقل نشته، او کوم علماء کرام چه د عموم ددے آيت (فَاِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ) نه استدلال کوی، نو هغه قول مرجوح دے (غَفَرَ اللّٰهُ لَنَا وَلَهُمْ).

۳-دريم بحث : د بسم الله متعلق :

او بسم الله به په ابتداء د سورت کښې وائي. د قراءت په مينځ کښې بسم الله وئيل د رسول الله ﷺ نه ثابت نهٔ دي. نو سنت دا ده چه بسم الله په ابتداء د سورة کښې اُووئيلے شي.

آيا بسم الله د قرآن نه جزء ده؟

صحابه کرامؓ د عثمان ﷺ په زمانه کښې چه کوم مصحف تيار کړے وو، چه ټولو صحابه کرامؓ د هغے تائيد او توثيق کړے وو، په هغه مصحف کښې د سورة براء ت نه علاوه د ټولو سورتونو په ابتداء کښې بسم الله ليکلے شوے وه، په هغهٔ مصحف کښې داسے څيز نهٔ وو ليکلے شوے چه هغهٔ د قرآن کريم حصه نهٔ وه، نهٔ د سورتونو نومونه ليکلي شوي وو، نهٔ د آيتونو تعداد او نهٔ کلمه د آمين وه، دے دپاره چه څوك غير قرآن د قرآن نه اُونهٔ ګنړي. ددے ډير احتياط باوجود (بِسْمِ الله) صرف د يو سورت نه علاوه د تمامو سورتونو په ابتداء کښې اُوليکلے شوه چه د هغے تعداد يو سل ديارلس دے.
ددے نه معلومه شوه چه دا د قرآن کريم نه جزء دے. او پدے کښې اتفاق دے چه د سورة نمل نه خو جزء دے، او پدے هم چه د سورهٔ براء ت په ابتداء کښې به نشي لوستلے کيدے. خو اختلاف دے چه آيا دا د سورت فاتحے يا د هر سورت نه جزء دے او کهٔ نهٔ ؟.
پدے کښې راجح دا ده چه بسم الله يو مستقل آيت دے، هرځائے چه قرآن کريم کښې

لیکلے شوی وی، نهٔ جزء د فاتحے دے او نهٔ جزء د هر سورت نه دے، او دا نازله شویده دپاره ددے چه پدے باندے افتتاح د قراء ت اُوشی او ددے دپاره چه د دوه سورتونو ترمینځ فصل راشی لکه عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دے [كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَعْرِفُ فَصْلَ السُّوْرَةِ حَتّٰى تَنْزِلَ عَلَيْهِ (بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ] [ابوداود رقم الحديث : ۷۸۸ اسناد صحيح]

چه رسول الله ﷺ د یو سورت انتهاء او د بل سورت ابتداء نهٔ پیژندله تردے چه بسم الله الرحمن الرحیم نازله شوه۔

ددے وجه نه دا په بیله کرخه کښې مستقل لیکلے شی۔ او دا قول د عبد الله بن المبارك رحمه الله دے چه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ ورته اعدل الاقوال وئیلے دے۔ (القواعد النورانية ص (٤٧) او دلائل ددے په الحق الصريح (٣٠/٤) کښې تفصیلًا اُوګوره۔

او کله نا کله په جهری مانځه کښې پدے باندے جهر کول جائز دی بعض احادیثو کښې راغلی دی۔ اګرکه اکثر اوقاتو کښې پټ وئیل سنت دی۔ خصوصاً د څلورو صحابه کرامو عمل وو کما فی الترمذی او هغوی دا کار تعلیماً کړیدے نو د هغوی د اتباع په نیت کله نا کله جهر کول پکار دی۔ والله اعلم۔

٤- بحث : د سورت فاتحے فضائل

د عام قرآن فضائل په احادیثو کښې ډیر راغلی دی او د هر سورت بیل بیل فضیلت باره کښې روایات ضعیف او موضوع دی، البته د بعض سورتونو فضائل په صحیح احادیثو کښې ثابت دی۔ چه خپل خپل مقام کښې به راځی ان شاء الله۔ دلته د سورة فاتحے بعض فضائل اُوګوره!

۱- حدیث د بخاری وغیره کښې دی : ابوسعید بن المُعلیٰ رضی الله عنه ته رسول الله ﷺ اُوفرمایل : زهٔ تا ته د مسجد د وتلو نه مخکښې د قرآن کریم یو عظیم ترین سورت ښایم۔ بیا کله چه مسجد نه وتلو نو ابوسعید فرمائی : ما ورته خبره یاده کړه نو نبی ﷺ راته اُوفرمایل : الحمد لله رب العالمین (یعنی سورة فاتحه) دهٔ۔ چه دا سبع مثانی دے او هغه قرآن عظیم دے چه ما ته راکړے شویدے۔ [بخاری : ٤٤٧٤]۔

۲- دغه شان موطأ مالك او مستدرك د حاكم کښې روایت دے چه ابوسعید مولیٰ عامر بن کُریز فرمائی : رسول الله ﷺ اُبی بن کعب رضی الله عنه ته اُوفرمایل :

[اَلَا اُعَلِّمُكَ سُوْرَةً مَا اُنْزِلَتْ فِي التَّوْرَاةِ وَلَا فِي الْاِنْجِيْلِ وَلَا فِي الْفُرْقَانِ مِثْلُهَا]

[الموطأ لمالك رقم الحديث : ١٨٦، الترمذی : ٢٨٧٥، النسائی : ٩١٤، احمد : ٨٦٦٧، صحيح]

آيا زهٔ تا تـه د مسـجد نـه د وتـلـو نـه مخكښې يو داسـے سورت نهٔ ښايم چه په تورات او انجيل كښې نهٔ دے نازل شوے او نهٔ په قرآن كريم كښې داسے بل كوم سورت شته، بيا نبی ﷺ تپوس اُوكړو، تـهٔ چه كـلـه مـونـځ شروع كـوے نو څهٔ لولے ؟ هغهٔ : الحمد لله رب العالمين اُووئيله نو نبی ﷺ اُوفرمايل : دا هغهٔ سورت دے۔

٣- ابوسعيد خدری ﷺ د خپلو ملګرو سره په سفر كښې وو، د يو كلی نه ئے ميلمستيا طلب كـړه، هـغـوی ورنـكـړه نو د كلی سردار مار يا لړم اُوچيچلو، د دم دپاره ئے د دوی نه مطالبه اُوكړه نو دوی ورته اُووئيل : مونږ له به عوض راكوئ نو ابوسعيد خدری ﷺ ورپاخيدو او هغهٔ ئے په سورة فاتحه باندے دم كړو چه اُووه كرته ئے پرے اُووئيله نو هغهٔ بالـكـل صـحـيـح شو۔ او ديرش ګډے ئے ترے واخستے۔ دا روايت امام بخاری (٢٢٧٦) او مسلم (٥٨٦٣) او ابوداود (٣٤٢٠) ابن ماجه : ٢١٥٦ راوړيدے) مختلف الفاظ دی۔

٤- امـام مسلمؒ او نسائیؒ د ابن عباس ﷺ روايت نقل كړيدے چه رسول الله ﷺ زمونږ په درميان كښې ناست وو او جبرئيل ﷺ د هغـه سره مـو جـود وو چـه د بره نه يو آواز واوريدے شو، جبرئيل ﷺ آسمان ته نظر پورته كړو او وے فرمايل : دا د آسمان دروازه د نـن نه مخكښې اُوسه پورے نهٔ وه كولاوه شوے، ددے نه يو ملائك راكوز شو او رسول الله ﷺ تـه راغـلـو او وے فرمايل : [اَبْشِرْ بِنُوْرَيْنِ قَدْ اُوْتِيْتَهُمَا لَمْ يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ : فَاتِحَةُ الْكِتَابِ وَخَوَاتِيْمُ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ، وَلَنْ تَقْرَأَ حَرْفًا مِنْهُمَا اِلَّا اُوْتِيْتَهٗ] [مسلم : ١٩١٣، نسائی: ٩١٢]

زهٔ تـا تـه د دوه نُـور (رڼاګانو) زيرے دركوم، چه تا نه مخكښې هيڅ نبی ته نهٔ دی وركړے شوی : چـه سورهٔ فاتحه او د سورهٔ بقرے آخری (دوه) آيتونه دی۔ ددے يو حرف هم تهٔ نهٔ لولے مګر د هغے بدل به تا ته (ضرور) دركړے كيږی))۔

سبحان الله ! څومره عظيم احسان د رب العالمين دے كه څوك ئے قدر پيژنی !۔

٥- فـضيلت دا دے نبی عليه السلام فرمائی: [اُمُّ الْقُرْآنِ عِوَضٌ مِنْ غَيْرِهَا وَلَيْسَ غَيْرُهَا مِنْهَا عِوَضًا] چه سورت فاتحه د قرآن كريم په ځائے كار وركوی او باقی قرآن ددے په ځائے كار نهٔ وركوی۔ [كما فی مستدرك الحاكم (٨٦٧) والدارقطنی رقم : ١٢٢٨]۔

كه چا په مانځه كښې ټول قرآن اولوستو او فاتحه ئے اُونهٔ وئيله نو مونځ ئے نهٔ كيږی په اتـفـاق د علماءِ كرامو سره، پدے كښې څه اختلاف نشته، خو احناف وائی چه واجب ترے

پاتې دی او جمهور علماء وائی چه فرض ترېے پاتې دی. که نهٔ وی د احنافو په نزد هم فاتحه لوستل واجب دی او که چا اُونه وئیلهٔ، مونځ ئې واجب الاعاده دے. او جمهور علماء وائی : دا فرض ده، ددے په نهٔ وئیلو مونځ فاسدیږی.

٦- د سورتِ فاتحې بل فضیلت دا دے چه دا د الله تعالیٰ او د بنده په مابین کښې خبری دی، صحیح مسلم کښې راځی : [قُسِمَتِ الصَّلَاةُ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي] الله تعالیٰ فرمائی : (زما او د بنده په مینځ کښې فاتحه ویشلے شویده، نیمه زما ده او نیمه د بنده ده، بنده چه (الحمد لله رب العالمین) اُووائی، الله تعالیٰ فرمائی : [حَمِدَنِي عَبْدِي] بنده زما صفت اُوکړو. کله چه بنده الرحمن الرحیم اُووائی: الله تعالیٰ جواب ورکوی [أَثْنٰى عَلَيَّ عَبْدِي] .(بنده زما ثناء اُووئیله). کله چه (مالك یوم الدین) اُووائی، الله تعالیٰ فرمائی : [مَجَّدَنِي عَبْدِي] (بنده زما شرافت او عزت بیان کړو). کله چه (ایاك نعبد وایاك نستعین) اُووائی.

الله تعالیٰ فرمائی : [هٰذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ] .دا زما او د بنده په مابین کښې شے دے، چه ما په بنده لازم کړے دے، چه زما عبادت به کوی، مدد به زما نه غواړی، او بنده چه ما نه څه غواړی، زه به ئې ورکوم، (الله تعالیٰ وعده کړے ده). او چه اهدنا الصراط آخره پورے اُووائی : نو الله تعالیٰ فرمائی : دا زما د بنده شو. (دا دعا به ورله قبلوم). [صحیح مسلم : ٩٠٤، ابوداود : ٨٢١، ترمذی : ٢٩٥٣].

(دلته ئې فاتحې ته مونځ اُووئیلو، ځکه دا په مانځه کښې وئیلے کیږی او د تقسیم معنیٰ دا ده چه نیمائی حصه کښې د الله تعالیٰ حمد وثنا او د هغه د رحمت، ربوبیت او عدل او بادشاهت بیان دے او په نیمائی حصه کښې دعاء او مناجات دے چه بنده ئې د الله تعالیٰ په دربار کښې کوی).

ددے حدیث نه دا فائده هم معلومه شوه چه په هر آیت باندے وقف پکار دے. په یو ساه باندے وئیل ئې جائز دی لیکن افضله طریقه نهٔ ده. لکه دا د بعض قاریانو طریقه ده. او پدے سورة کښې د هدایت وعده ده. چه الله رب العالمین ددے سورت په لوستلو سړی ته هدایت کوی، خصوصاً چه مانځه کښې ئې لولی، نو الله رب العزت سړی ته پرے هدایت کوی، هدایت د الله تعالیٰ په خزانو کښې غټه خزانه ده. کما سیأتی.

ددے وجه نه په هر رکعت کښې شریعت مطهره دا سورت لازم کړے دے، چه هر رکعت

کښې به ئې تاسو لولئ !۔
۷- حديث کښې دی : [لَاصَلَاةَ لِمَنْ لَّمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ] [بخاری: ۷۵٦، مسلم : ۹۰۰]
(د فاتحې نه بغير مونځ صحيح نهٔ دے)۔

مسئله : په مانځه کښې فاتحه لوستل په امام او مقتدی ټولو باندې واجب دی

فاتحه لوستل په مانځه کښې په هر مقتدی یا امام او منفرد ټولو باندې لازم دی او ددې په باره کښې ډير دلائل صحيح احاديث دی چه بعض دا دی :
۱- حديث دے : [لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَّمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ] [بخاری: ۷۵٦، مسلم : ۹۰۰ کتاب الصلاة باب وجوب القراءة الخ] (د هغه چا مونځ نشته چه سورة فاتحه اُونهٔ لولی)
پدې حديث کښې (مَنْ) لفظ عام دے، هر مونځ کونکی ته شامل دے، سړے وی که ښځه، منفرد وی، که امام او که مقتدی، سری مونځ وی او که جهری، فرض مونځ وی او که نفل وی، د هر مونځ کونکی دپاره سورهٔ فاتحه لوستل ضروری دی۔
۲- يو ځل د سهر په مانځه کښې صحابه کرامو د رسول الله ﷺ سره قراءت لوستلو چه د هغې په وجه په نبی ﷺ باندې قراءت درون شو، د مانځه د ختميدو نه روستو ئې تپوس اُوکړو آیا تاسو ما سره قراءت لوستلو؟ هغوی جواب ورکړو، آؤ۔ نو نبی ﷺ اُوفرمايل : [فَلَا تَفْعَلُوْا اِلَّا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَإِنَّهٗ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَّمْ يَقْرَأْ بِهَا]
[ابو داود رقم : ۸۲۳، ترمذی: ۳۱۱، احمد : ۲۲۷٤٦، بسند صحيح]
(قراءت مهٔ کوئ مگر صرف فاتحه لولئ ځکه چه د هغه چا مونځ نهٔ کيږی چه سوره فاتحه اُونهٔ وائی)۔
دې حديث نه معلومه شوه چه جهری مونځ کښې به هم مقتدی سورهٔ فاتحه وائی او د باقی قراءت نه ئې منع اُوفرمايله۔ لهذا په جهری مونځ کښې به د فاتحې نه علاوه مقتدی غلې ولاړ وی۔ نو په حديث کښې دوه خبرې راغلې يو دا چه د فاتحې لوستل لازمی دی۔ او دويم دا چه د امام د قرائت په وخت به د فاتحې نه علاوه قراءت مقتدی نهٔ کوی۔ او دا يو حديث هم د مسئلې د حل کولو دپاره کافی دے۔
۳- د ابو هريره ؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمايل :
[مَنْ صَلّٰى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيْهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ ثَلَاثًا- غَيْرُ تَمَامٍ] ۔
(چا چه مونځ اُوکړو چه فاتحه ئې پکښې اُونهٔ لوستله نو د هغهٔ مونځ ناقص يعنی

ناتمام دے۔ درے ځل ئے دا خبره اُوکړه۔

ابو هريره ﷺ ته اُووئيل شو : [إِنَّا نَكُوْنُ وَرَآءَ الْإِمَامِ]

(د امام نه روستو هم مونږ مونځ کوو، نو هغۀ وخت څۀ اُوکړو؟) ابو هريره ﷺ اُوفرمايل : [اِقْرَأْ بِهَا فِيْ نَفْسِكَ]۔(د امام نه روستو سورۀ فاتحه ځان سره (په آرام) وايه)

[صحيح مسلم كتاب الصلاة باب نمبر ١١ رقم الحديث : ٩٠٤ ابن ماجه :٨٣٨ ، احمد : ١٠٣٢٤]

ددے احاديثو نه دا واضحه شوه چه آيت ﴿وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا﴾ الاعراف (٢٠٤) ۔ او حديث [وَاِذَا قَرَأَ فَاَنْصِتُوْا] يا [مَنْ كَانَ لَهٗ اِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الْاِمَامِ لَهٗ قِرَاءَةٌ] ۔ (بفرض صحت) (يعنى كله چه امام قراء ت كوى نو خاموش شئ) ددے مطلب دا دے چه په جهري مونځونو كښ به مقتدى د سورۀ فاتحې نه علاوه باقى قراء ت كښ خاموش وى او د امام قراء ت به اَورى او هرچه فاتحه ده نو هغۀ به د امام سره د آيتونو په وقفو كښ وائى۔ پدے طريقه سره په آيت د قرآن كريم او احاديثو كښ هيڅ قسم تعارض نۀ پاتے كيږى، په دواړو باندے عمل كيږى۔ او كله چه سورۀ فاتحې نه منع اُوشى نو بيا د قرآن كريم او د صحيح احاديثو ترمينځ ټكراؤ پيدا كيږى، او بيا په دواړو په يو وقت كښ عمل ممكن نۀ پاتے كيږى۔ او حال دا چه قرآن او حديث خپل مينځ كښ هيڅكله ټكراؤ نۀ لرى۔ كه چا په عدل او انصاف او پاك زړه سره اُوكتل۔ والله المستعان۔ او مزيد تفصيل دپاره الحق الصريح (١٨٨/٤) ته رجوع اُوكړه۔

٦- شپږم بحث : ددے سورت نومونه

كوم سورتونه چه ګڼ نومونه لرى دا دليل دے په شرافت ددغه سورت ځكه ګڼړوالے د نومونو دلالت كوى په شرافت د (شى) مُسَمّٰى باندے۔ لكه د قرآن كريم (٧٥) نومونه دى، (احسن الكلام) د نبىﷺ (٢٠٠) نومونه دى (زاد المعاد)۔

امام قرطبىؒ ددے سورت (١٢) نومونه او سيوطىؒ په "الاتقان فى علوم القرآن" (١٥١/١) كښے پنځه ويشت (٢٥) ذكر كړيدى۔ چه هغه دا دى :

١- اَلْفَاتِحَة او فَاتِحَةُ الْكِتَاب : معنىٰ ئے ده شروع كول دا هغه سورة دے چه په مانځه كښ پدے شروع كيږى، خطبه او مصحف (قرآن) هم پدے شروع كيږى۔ اګرچه په اعتبار د نزول سره پنځم سورة دے۔ ددے نه مخكښ د (اِقْرَأْ) بعضے آيتونه راغلى دى، بيا سورة ن والقلم بيا مزمل بيا مدثر او بيا فاتحه۔ بعض وائى ددے نزول دوه ځل شوے دے، په

مکه کښې هم، په مدينه کښې هم، ځکه الله تعالیٰ پدې باندې حواله ورکړې په سورة حجر آيت (۸۷) کښې ﴿ وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْآنَ الْعَظِيْمَ ﴾ نو دا سورت په مکه کښې نازل وو او په مدينه کښې دوباره نازل شوې دې۔

۲- اَعْظَمُ السُّوْرَة : لکه مخکښې د بخاري حديث تير شو، سعيد بن المعلی ﷺ ته ئې فرمايلي وو:

[اَلَا اُعَلِّمُكَ اَعْظَمَ سُوْرَةٍ فِي الْقُرْآنِ قَبْلَ اَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ] [بخاری : ٥٠٠٦]۔

آيا زۀ تا په قرآن کريم کښې دتولو نه لوی شان والا سورت ونۀ ښايم۔

۳- اَلصَّلَاة : ځکه چه دا په مانځه کښې وئيلې کيږی مخکښې حديث قدسی تير شو۔

٤- سُوْرَةُ الْحَمْد: (ځکه پدې سورت کښې حمد ذکر دې)۔

٥- اَسَاسُ الْقُرْآن : عبد الله بن عباس ﷺ نه نقل دی چه د قرآن اَساس (بنياد) سورت فاتحه دې۔ ځکه چه دا په ابتداء د قرآن کريم کښې راغلې دې، دويم د قرآن کريم چه څه مضامين دی ټول پدې سورت کښې راجمع دی۔ (تفسير قرطبی) کما سيأتی۔ (الدر المنثور ايضاً)

٦- اَلسَّبْعُ الْمَثَانِی : ځکه دا سورت په اُووه آيتونو مشتمل دې او د مانځه په هر رکعت کښې (بار بار) لوستلې کيږی۔

۷- اَلْقُرْآنُ الْعَظِيْم : (غټ قرآن) ۔ ځکه پدې کښې تمام قرآنی علوم ذکر شويدی۔ [وَلَقَدْ آتَيْنَاكَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْآنَ الْعَظِيْمَ] کښې يو تفسير دا دې چه ددې نه فاتحه مراد ده۔

۸- سُوْرَةُ تَعْلِيْمِ الْمَسْئَلَة : (کما فی الدر المنثور ۱/٦) دا هغه سورت دې چه د سوال او دعاء ناشنا طريقه ئې خودلې ده چه اول به حمد او ثناء اُووائې (او حديث نه ثابته ده چه درود به په نبی عليه السلام اُووائې)۔ الله تعالیٰ ته به خپله عاجزی پيش کړې (اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ) او بيا به په آخره کښې آمين اُووائې۔ او پدې طريقه دعاء کول د الله تعالیٰ ادب دې۔ بعض خلق آمين مخکښې وائی دا سنت ندی۔

۹- سُوْرَةُ الشِّفَاء (ظاهری او باطنی شفاء پکښې ده) حديث کښې دی :

[فِیْ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ] [سنن الدارمی رقم : ۳۳۷۰، قال المحقق حسين سليم اسد : اِسْنَادُهٗ صَحِيْحٌ غَيْرَ اَنَّهٗ مُرْسَلٌ]

(یعنی په سورة فاتحه کښې الله تعالیٰ د هرے بیمارئ دپاره شفاء ایخودے ده)

۱۰- **سُوْرَةُ الشُّكْر** : دا د شکر سورت دے الحمد لله چه دِے اُووئیله نو دا رأس الشکر دے۔ [عبد الرزاق رقم: ۱۹۵۷٤، بیهقی فی شعب الایمان: ٤٠٨٥، شرح السنة رقم: ۱۲۷۱ الدر المنثور]

۱۱- **سُوْرَةُ التَّفْوِيْض** : دا هغه سورة دے چه الله تعالیٰ ته پکښې ځان سپارل دی په ایاك نعبد وایاك نستعین سره۔

۱۲- **سُوْرَةُ الرُّقْيَة** : نبی ﷺ ابوسعید خدری رضی الله عنه ته اُوفرمایل: [وَمَا اَدْرَاكَ اَنَّهَا رُقْيَةٌ] (ته څه پو هیږے چه دا سورت دم دے)۔ مخکښې حدیث تیر شو۔ (رواه البخاری: ۲۲۷٦)

۱۳- **سُوْرَةُ الْكَافِيَة** : یحیی بن ابی کثیرؒ وائی: کافیه ورته ځکه وائی چه دا کافی دے د ټول قرآن نه او نور قرآن ددے په ځائے کار نۀ ورکوی په مانځه کښې۔ (تیسیر الرحمن)

۱٤- **سُوْرَةُ الْوَافِيَة** : سفیان بن عیینهؒ وائی: وافیه ورته ځکه وائی چه دا به په مانځه کښې پوره وائی، که بل سورت نیم په یو رکعت کښې اُووائی او نیم په بل رکعت کښې نو مونځ دُرست دے خو سورت فاتحة نشی نیمولے۔ که ددے سورة په آیتونو کښې تقدیم تاخیر راغے یا کوم آیت پاتے شو نو مونځ نۀ صحیح کیږی، په خلاف د نور قراء ت چه هغه ددے برعکس دے۔ چه په هغے کښې سهواً تقدیم تاخیر مانځه ته ضرر نۀ ورکوی۔ یا د قرآن کریم کښې معانی او مضامین ئے اجمالی طور سره پوره راګیر کړیدی۔ (الاتقان فی علوم القرآن رقم: ٦٥٧)

۱۵- **سُوْرَةُ الْمُنَاجَاة** : یعنی د الله تعالیٰ سره د جرګے او خبرے کولو سورت۔ او پکار دا ده چه دا سورت مونږه داسے اُولولو لکه د الله تعالیٰ سره چه خبرے کوو او دا هله کیږی چه سړے لږه مجاهده اُوکړی۔

۱٦- **سُوْرَةُ الْوَاقِيَة** : (حفاظت کونکے سورت)۔

۱۷- **اُمُّ الْقُرْآن** : امام ترمذیؒ د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل: سورة الحمد لله اُمّ القرآن دے، ام الکتاب دے او سبع مثانی دے۔ [ترمذی: ۳۱۲٤، صحیح]

سورة الفاتحے ته د ام الکتاب نوم ورکولو وجوهات

۱۸- **ام الکتاب** : اُم مَرجع او اصل ته وائی۔ او پدے سورت کښې هم د قرآن کریم د تمام

معانیو، احکامو او مضامینو ذکر په اجمالي طریقه شویدے۔ (بخاری کتاب التفسیر)
حسن بصری رحمه الله نه نقل دی فرمائی : الله تعالیٰ یو سل څلور (۱۰٤) کتابونه نازل کړیدی او د هغه ټولو علم ئے په څلورو کښې ایخے دے چه تورات، انجیل، زبور او قرآن کریم دے۔ او بیا ئے ددے څلورو کتابونو علم په قرآن کریم کښې ایخے دے او د قرآن کریم علمونه ئے په مفصل کښې راجمع کړیدی (مفصلات د سورة الحجرات نه د آخر د قرآن پورے دی)۔ او د مفصلاتو علم ئے په فاتحه کښې ایخے دے نو سورة فاتحه د ټول قرآن کریم او د پخوانو کتابونو خلاصه ده۔

[فَمَنْ عَلِمَ تَفْسِيْرَهَا كَانَ كَمَنْ عَلِمَ تَفْسِيْرَ جَمِيْعِ الْكُتُبِ الْمُنَزَّلَةِ]

[الدر المنثور ۱/۱٦) الاتقان فی علوم القرآن (۵۲۱۷) الكشف والبيان للثعلبى، اضواء البيان سورة النحل- وشعب الايمان للبيهقى]۔

(څوك چه ددے په تفسیر پوهه شو نو دا داسے دے لکه چه په ټول منزل کتابونو باندے پوهه شوے وی)۔

همدا وجه ده چه حافظ عماد الدین ابن کثیر رحمه الله هم وئیلی دی چه دے سورة کښې یو دوه کلمې دی د ټولو علمونو رجعه هغې ته کیږی۔

[هَاتَانِ الْكَلِمَتَانِ تَرْجِعُ الْاَدْيَانُ كُلُّهَا اِلَيْهِمَا]

(دا دوه کلمې (ایاك نعبد وایاك نستعین) چه د ټولو اَدیانو رجع دے دوارو ته کیږی)،
ځکه چه ټول ادیان الله تعالیٰ د همدے خبرے دپاره رالیږلی وو چه د الله تعالیٰ عبادت اُوکړے شی او د هغه نه مدد اُوغوختلے شی۔

○ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله لیکلی دی : زه اُوگرځیدم چه غوره دعا پیدا کړم نو ددے دوه کلماتو نه غوره دعا مے پیدا نکړه۔ پدے کښې کمال دا دے چه اَلْإِسْتِعَانَةُ بِاللّٰهِ تَعَالٰى عَلٰى عِبَادَةِ اللّٰهِ تَعَالٰى۔ (د الله تعالیٰ نه د هغه په عبادت باندے مدد غوختل) ذکر شویدی۔ ځکه د الله تعالیٰ په بندگئ کښې شر نشته نور سوالونه د مال اولاد، جائیداد وغیره چه بنده اُوکړی۔ نو په هغې کښې د شر امکان شته، چه بنده دپاره نقصان او ضرر اُوگرځی۔ لهذا دا په ټولو دعاگانو کښې غوره دعاء ده۔ (مدارج السالکین ۱/۱۱۷)

دارنگه ابن عباس ﷺ فرمائی : دیته سورة فاتحه ته ام الکتاب ځکه وائی چه [لِكُلِّ شَيْئٍ لُبَابٌ] د هر شی دپاره یو خلاصه او مَغز وی [وَلُبَابُ الْقُرْآنِ الْحَوَامِيْمُ] او د قرآن

لباب، مغز او خلاصه حوامیم دی او د حوامیمو مغز سورة فاتحه ده)۔
[رواه ابو عبید فی فضائل القرآن، الاتقان، وبصائر ذوی التمییز فی لطائف الکتاب العزیز للفیروز آبادی ۱/۲۸۸]

○ امام قرطبیؒ فرمائی : ټول قرآن په سورة فاتحه کښې دے او دا پنځه ویشت (۲۵) کلمے دی، د قرآن کریم د ټولو علمونو ضامنے دی۔ (یعنی د اسماء او صفاتو مسائل، اعمال، اخلاق، تاریخ د ډلو وغیره د هر څه علمونه پکښې دی)۔

○ تفسیر قاسمیؒ لیکی : فاتحه د ټول قرآن راز دے، او د فاتحے راز پدے کلماتو کښې دے (اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ) ځکه چه پدے اوله کلمه کښې د شرك نه جدا والے دے او په دویمه کښې خپله عاجزی ده۔ او دا دواړه مهمے خبرے دی چه د الله عز و جل سره شریك نهٔ جوړول او ځان عاجز ګنړل، ځنے خلق د الله تعالیٰ سره نور شیان شریکوی او ځنے ورسره خپل ځان شریکوی، ډیر موحدین خلق داسے وائی چه که زه نه وے نو دا علاقه به فاسده شوے وے او زه دعوت کوم او دا دے او هغه دے۔ تهٔ څوك ئې، چه الله توفیق درنکړی، ته به څه اوکړے نو پدے کښې تفویض الی الله دے۔

او دا معنیٰ په یو بل آیت کښې هم راغلے ده ﴿فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ﴾ [هود : ۱۲۳] (فَاعْبُدْ) کښې د اِيَّاكَ نَعْبُدُ معنیٰ پرته ده او (وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ) کښې د ایاك نستعین معنیٰ پرته ده۔ د توکل معنیٰ ده، الله تعالیٰ ته ځان سپارل او په هغه باندے اعتماد کول او په (لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا) کښې هم دا معنیٰ پرته ده (لا اله الا هو) کښې دی چه بندګی صرف د الله پکار ده او فاتخذه وکیلا) کښې دی چه هغه باندے ځان اوسپاره۔

○ حسن بصریؒ نه تفسیر "فتح البیان" نقل کړیدی چه هغه فرمائی (مرسل حدیث دے) [مَنْ قَرَأَ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ فَكَأَنَّمَا قَرَأَ التَّوْرَاةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَالزَّبُوْرَ وَالْفُرْقَانَ] «چا چه سورت فاتحه اولوستله لکه چه دهٔ تورات، انجیل، زبور او قرآن څلور واړه اولوستل» ۔[فضائل القرآن لابی عبید، الدر المنثور : ۱/۲۱]

ددے سورت شرافت دا هم دے چه الله تعالیٰ د بنده سره نیمائی کړیده [وَلَا تَصِحُّ الْقُرْبَةُ اِلَّا بِهَا وَلَا يُلْحَقُ عَمَلٌ بِثَوَابِهَا] او قربت (نزدیکت) نهٔ صحیح کیږی مګر پدے سره۔ یعنی مونځ نه صحیح کیږی مګر په فاتحه) او یو عمل ددے ثواب ته نهٔ رسیږی۔ نو قرطبیؒ وائی : [وَبِهٰذَا الْمَعْنٰى صَارَتْ اُمَّ الْقُرْاٰنِ] ددے وجے نه دا ام القرآن اوګرځیده۔

(تفسیر قرطبی :۱/ ۱۱۰)

○ - **زمونږ مشائخ** ددې يوه بله وجه هم بيانوي چه هغې کښې هم څه فائده شته دې، او قرآن کريم کښې ئې د تدبر نه پس اجتهاد غوندې کړيدې، فرمائي : قرآن کريم کښې څلور حصې دي او هره حصه کښې بيله بيله موضوع پرته ده او هره حصه په الحمد باندې شروع ده لکه اوله حصه د سورة فاتحې نه تر انعام پورې ده، پدې حصه کښې د خالقية مسئله ډيره بيانيږي. دويمه حصه د انعام نه تر کهف پورې ده، پدې کښې د ربوبية مسئله ده او دريمه حصه د کهف نه سبا پورې ده (۱٦) سورتونه پکښې دي او غالباً پدې کښې دوه مسئلې بيانيږي د الله عز وجل رحمانية او بل دا چه برکت ورکونکے الله تعالىٰ دے. څلورمه حصه د سبا نه تر والناس پورې پدې کښې (۸۱) سورتونه دي هغه هم په الحمد باندې شروع ده، په هغې کښې اثبات الآخرة او د الله تعالىٰ مالکيت او رد د شفاعت قهري بيانيږي. نو وائي چه دې څلورو حصو کښې چه کومې مسئلې دي هغه په سورة الفاتحه کښې دي.

په الحمد کښې د اُلوهية بيان دے ورسره د خالقية بيان دے او رب العالمين کښې ربوبية دے او په الرحمن الرحيم کښې د الله د رحمانية رحيمية مسئله ده او په مالك يوم الدين کښې هغه روستنۍ خبره ده، اثبات د قيامت، نفي د شفاعت قهري، اثبات د مالکية د الله تعالىٰ. نو په دې آيتونو کښې د ټول قرآن کريم مقصد راګير دے.

او بعضو په کښې لا دا مبالغه هم کړيده چه ټول قرآن کريم په (ب) د بسم الله کښې راګير دے او د بسم الله مقصد په (ب) کښې پروت دے ځکه باء د استعانة دپاره ده او استعانت (د الله نه مدد طلب کول) مقصد د ټول قرآن کريم دے. دا خبره امام رازي منطقي فلسفي په تفسير کبير کښې کړيده. او عام مفسرين د هغه دا قول ښه نۀ ګڼړي ځکه دا د قرآن کريم تحسين او کمال ختموي ځکه دومره لوئي قرآن په يوه باء کښې راګيروي او ددې خبرې نقل هم نشته.

زما د ناچيز رأيه دا ده چه ام القرآن سورت فاتحې ته ځکه وائي چه مقصد د ټولو کتب اِلهيهٔ اصلاح الانسان دے ظاهراً وباطناً او ددې اصلاح بنياد لس صفات دي او نور صفتونه د دغه صفاتو نه پيدا کيږي او دغه لس صفات دې سورت کښې شته چه د هغې بيان به لږ روستو په فوائد السورة کښې راځي ان شاء الله تعالىٰ.

۷- اُوم بحث : د هر سورة په ابتداء کښې څلور خبرې

دا زمونږ د مشائخو طریقه ده چه د هر سورة په ابتداء کښې څلور خبرې بیانوي.

۱- **ربط یا مناسبت** ددې سورت د مخکښې سورت سره نو په سورة فاتحه کښې دا نشته ځکه مخکښې ددې نه بل سورة نشته چه ددۀ مناسبت ورسره بیا ن کړې شي. بعض مفسرینو د سورة ن او مدثر او مزمل سره ورله مناسبت بیان کړیدې خو هغه تکلف دې. هغوي وائي په ترتیب نزولي کښې ئې مناسبت شته.

۲- **دعوی السورة** :دویمه خبره دعوئ او مقصد د سورت پیژندل دي یعني موضوع د سورت معلومول دي، هر سورت موضوع او مقصد لري ځکه هر سورت په شان د یو تقریر دې د الله تعالیٰ د طرف نه چه خپلو بندګانو ته ئې کړې دې، او قانون دا دې چه هر تقریر او خطبه یو موضوع لري چه هغه په کښې مقصود وي او باقي نورې خبرې د هغې متعلقات وي او وضاحت وي، بیا کله په یو تقریر کښې موضوع یوه وي، کله ډیرې وي، دغسې د قرآن کریم د سورتونو حال هم دې لیکن د انسان په تقریر او خطبه کښې موضوع معلومول آسان وي او د قرآن کریم په سورتونو کښې موضوع معلومول لږ تدبر غواړي. وجه دا ده چه د انسان یوه خبره مقصودي وي او باقي خبرې صرف د هغې وضاحت وي، نو مقصد او غیر مقصد بیل ښکاري، په خلاف د قرآن کریم نه چه د هغه د هر سورت موضوع هم مقصودي وي او کوم مثال او دلیل او قصه چه د هغې د وضاحت دپاره راوړي هغه هم مُثمر (میوه دار) وي او د نورو مهمو مقاصدو نه ډك وي، نو انسان حیران شي چه کومه خبره دلته اُوس موضوع د سورت جوړیږي ؟.

دا وجه ده چه مفسرین په معرفت د موضوع کښې اختلاف کوي، څوك ئې یوه بیانوي او څوك بله. د بعض مفسرینو طریقه دا ده چه موضوع ګانې بیانوي لکه نظم الدرر د بقاعي، في ظلال القرآن د سید قطب شو او زمونږ د مشائخو طریقه هم دغه ده چه هغوي پدې باب کښې خلاصې لیکلې دي.

زما د حقیر په تدبر سره د موضوع د معلومولو طریقه دا ده چه د سورت اول او آخر ته نظر واچول شي، نو ددې سره موضوع راښکاره کیږي (بفضله وتوفیقه سبحانه)

ځکه چه قرآن کریم کښې الله تعالیٰ اکثر په ابتداء د سورة کښې موضوع راوړي وي او

کله خو آیتونه روسته موضوع یا مقصد راوړي او اول کښې مقدمه راوړي خو غالباً موضوع د اولني آیتونو نه معلومیږي پدې طریقه چه اول د سورة کښې یوه موضوع راوړي همغه موضوع په همغه لفظ یا لړه بدله په مرادف لفظ سره په آخره کښې بیا راوړي وي نو اول او آخرئې یو شان شي.

لکه ددې سورت موضوع دکلمه د (الحمد لله) نه او د [اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ] نه معلومیږي، چه انعمت علیهم علت دې او الحمد لله معلول دې (یعني الله لره حمدونه ولې ثابت دي ځکه چه بندګانو سره ئې انعام او احسان کړیدې) دارنګه د سورت بقرې موضوع هم د اول يُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡغَيۡبِ او د آخر نه چه آمن الرسول دې معلومیږي. لکه چه رابه شي ان شاء الله تعالیٰ.

د سورتونو د موضوعاتو پیژندلو فوائد

بیا موضوع او مقصد د سورت پیژندلو کښې ډیر فوائد دي: ۱- پدې کښې تدبر القرآن دې. ۲- اهتمام د دغه خبرې کومه چه موضوع ګرزول شویده.

۳- مناسبت د آیتونو خپل مینځ کښې او د مقصود د سورت سره معلومول بالکل آسان شي او قرآن ټول یو مربوط او ښکلې مرتب کلام جوړ شي، او که مقصد اُونهٔ پیژندل شي نو بیا د ډیرو آیتونو مناسبت نهٔ ښکاري، ته به تعجب کوې چه دا آیت دلته ولې راوړل شویدې؟ تفصیل به ئې راشي ان شاء الله تعالیٰ.

بیا مقصد د سورت معلومول څه نوې خبره نهٔ ده بلکه دا فهم د قرآن کریم دې چه الله تعالیٰ ئې چا ته ورکړي، او د جناب امامنا الاعظم سید العالمین نبی کریم ﷺ نه نقل دي چه هغه د اُبي بن کعب رضی الله عنه نه تپوس اُوکړو:

[اَیُّ آيَةٍ مِنۡ كِتَابِ اللّٰهِ مَعَكَ اَعۡظَمُ؟ قَالَ : آيَةُ الۡكُرۡسِيِّ، فَقَالَ لِيَهۡنِكَ الۡعِلۡمُ اَبَا الۡمُنۡذِرِ]

[رواه مسلم: ۱۹۲۱]

نو اُوګوره د آیت د مقصد په باره کښې نبی کریم ﷺ تپوس کړې دې.

دارنګه د بخاري شریف مشهور حدیث د سیدنا عمر بن الخطاب رضی الله عنه دې چه هغه د صحابه کرامو نه امتحان واخستلو چه د سورة النصر مقصد بیان کړئ؟ نو سیدنا ابن عباس رضی الله عنه اُوفرمایل: [هُوَ اَجَلُ رَسُوۡلِ اللّٰهِ ﷺ، فَقَالَ مَا اَعۡلَمُ مِنۡهَا اِلَّا مَا تَعۡلَمُ]

[بخاری : ٣٦٢٧]

(پدے سورت کښې د رسول الله ﷺ اجل (نیټه د وفات) ده۔ نو عمر فاروق ﷛ اُوفرمایل : ما ته هم ددے همدا مقصد معلوم دے کوم چه تا ته معلوم دے)۔

دارنګه نور دلائل ددے خبرے په فضائلو د آیة الکرسی کښې راځی انْ شاء الله تعالیٰ۔

٣- خلاصه : دریمه خبره خلاصه او حاصل د سورة دے، پدے کښې زمونږ د بعضے مشائخو طریقه دا ده چه حصو او بابونو ته سورتونه تقسیموی۔ پدے کښې ماته غوره طریقه دا ښکاری چه په قرآن کریم کښې که د بابونو او فصلونو ډیروالے اُوکړے شی نو کیدے شی چه د سړی نه مقصد ورك کړی نو د یویو درس حاصل او خلاصه بیانول پکار دی، یا د ټول سورت تجزیه مطالب مختصراً بیانول پکار دی، پدے کښې آسانی ده۔ او د مشائخو په طریقه کښې هم کوم نقصان نشته، هغوی به په هغه طریقه پوهه کول کولے شی نو ښه ئے کړی دی چه هغه طریقه ئے اختیار کړیده هغوی له به الله تعالیٰ په هغے کښې اجر ورکوی۔

٤- امتیازات د سورت :

د امتیازات معنیٰ دا ده چه دا سورت د نورو سورتونو نه په کومو فوائدو او خصوصیاتو جدا دے۔ او ددے فائده دا ده چه د هر سورت خپل خپل ذاتی خصوصیات جدا جدا معلوم شی ځکه چه د هر سورت په مقاصدو کښې ضرور فرق موجود وی۔

د سورة الفاتحة موضوع، مقصد او حاصل

١- زمونږ بعضِ استاذان وائی چه په دے سورت کښې مقصد دا دے [اَلْعِبَادَةُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالْاِسْتِعَانَةُ بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ] (عبادت به یواځے د الله تعالیٰ کیږی او مدد به یواځے د الله سبحانه نه غوختلے کیږی)، ګورے اے خلقو ! عبادت به یواځے د الله عزوجل کوئ او مدد به یواځے د الله تعالیٰ نه غواړئ، ولے؟ ځکه الله تعالیٰ رب دے، رحمٰن دے، رحیم دے، مالك دے، عبادت به په کومه طریقه کوئ [اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ]۔ (الله تعالیٰ نه به ئے غواړئ، هغه به درته طریقے دربنائی، په واسطه د انبیاء کرام علیهم السلام۔

٢- او ډیره صحیح دا ده چه په سورة فاتحه کښې مقصد [اِثْبَاتُ الْحَمْدِ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ] دے (یعنی دکمال صفتونه الله تعالیٰ لره ثابت دی، بل څوك د ټولو صفتونو قابل نشته او د رب العالمین شکر ګذاری ده پدے لوئی لوئی نعمتونو باندے) نو دا ئے مقصد او

دعوىٰ كړه او قانون دا وى چه په هره دعوىٰ باندې دليل پيش كول پكار وى چه دليل نهٔ وى، دعوىٰ باطله وى، ځكه دليل د قرآن، حديث او ټولو عقلاؤ طريقه ده، بې دليله خبرې له اعتبار نهٔ وركوى نو الله تعالىٰ په دې باندې دلائل بيانوى چه رب العالمين دې ځكه چه ځوك ستا تربيت كوى نو د هغه به صفت كوې. بل دليل (الرحمن الرحيم) دا الله بې حده مهربان ذات دې نو مدح ئې پكار ده. بل دليل : رحيم دې چه د دائمى رحمتونو والا دې نو حمد ئې پكار دې. د دائمى نعمتونو مثال لكه سترګې، غوږونه، لاسونه وغيره. بل دليل : مالك يوم الدين) بادشاه د ورځې د جزاء دې، نو پكار ده چه صفتونه ئې اُوشى. اُوس هركله چه دعوىٰ او دلائل بيان شو نو نتيجه دا ده چه مونږ له پكار دى چه عبادت ئې اُوكړو، د هغه دپاره مونځ اُوكړو، د هغه دپاره روژې اُونيسو، وينه تويه كړو، د هغه دپاره جهاد اُوكړو. بيا د نتيجې نه روسته الله تعالى بندګانو ته تعليم د دعا وركوى چه اې بنده ګانو ! هر كله چه تاسو زما عبادت كوئ او مانه مدد غواړئ نو د دعا غوختو طريقه درښايم نو بيا د درې ډلو تذكره چه (اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡن) دى، ددې درې ډلو تذكره ولې شويده ؟ وجه دا ده چه دا انعمت عليهم په منزله د لاره خودونكى دى، رهنما دى، په لاره كښې رهنما پكار دې ځكه چه الله تعالىٰ خو پخپله بنده ته بيان نهٔ كوى، نو د هغې دپاره رهنما پكار دې نو انبياء عليهم الصلاة والسلام رهنما دى او كله چه سړې الله تعالىٰ والا جوړيږى نو د شمنان او راهزن ډير پيدا كيږى، د الله تعالىٰ نه اَړوونكى مخلوقات ډير دى، نو د هغوى نه په الله تعالىٰ پورې پناهي غوختل. چه بعض خلق دى مونږ به ستا د بندګى او توحيد نه اړوى نو اې الله ! د هغوى نه مونږ اُوساته چه د هغوى پشان ګډوډ نشو.

دا د سورة حاصل او خلاصه شوه او امتيازات به ورسته بيان شى. ان شاء الله تعالىٰ.

لنډه خلاصه د سورت :

نو سورت كښې موضوع : الحمد لله ده او پدې دلائل راوړى او بيا نتيجه بيانوى او بيا طلب د هدايت چه بندګانو ته الله تعالىٰ وائى چه ما نه طلب د هدايت اُوكړئ. او درې ډلې ئې بيان كړيدى، چه يو ١ – [أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ] نيكان بندګان دى،

٢ – او دويم مَغۡضُوبُ عَلَيۡهِمۡ، (غضب كړې شوى بندګان).

٣ – او دريمه ډله ضالين ده، نو دا مختصر سورت دې، ډير عجيبه فائدې پكښې دى.

۲- داسے هم وئیلے شی : چه مضمون السورة دا دے (چه پدے سورت کښې
[تَوْلِيْدُ جَذْبَةِ الشُّكْرِ فِي الْإِنْسَانِ السَّلِيْمِ الْفِطْرَةِ ثُمَّ جَذْبَةُ الْإِسْتِعَانَةِ عَلَى الشُّكْرِ ثُمَّ طَلَبُ الزِّيَادَةِ مِنْهُ]
(په سلیم الفطرت انسان کښې د شکر جذبه راپیدا کوی بیا په شکر گذاریٔ باندے جذبه د استعانت راپیدا کوی بیا د شکر د زیاتوالی د طلب جذبه راپیدا کوی).

۸-اتم بحث : تشريح الكلمات وفوائدها :

په سَر ددے سورۃ کښې بسم الله راغلے ده، د بسم الله متعلق ډیر مسائل دی، بعض د هغې نه چه ددے ځائے سره مناسب دی- بیانیږی :

د بسم الله تاریخی حال :

اوله مسئله : بسم الله، الله تعالیٰ عامو انبیاء علیهم السلام ته ورکړے وه لکه سلیمان علیه السلام هم په خط کښې لیکلے وه او نورو انبیاؤ به هم دا استعمالوله، نبی کریم علیه السلام به د نبوت نه مخکښې (باسمه تعالیٰ) لفظ استعمالولو، بیا ورته روسته الله تعالیٰ حکم اُوکړو چه (بسم الله الرحمن الرحيم) استعمالوه ۔ددے وجه نه (باسمهٖ تعالیٰ) لفظ په خطونو کښې لیکل د مشرکانو رواج وو۔او په صلح حدیبیه کښې پرے مشرکانو مجبوراً (باسمهٖ تعالیٰ) اُولیکلو۔ دارنګه (۷۸٦) اُوه سوه شپږ اتیا) حساب په ابتداء د خطونو کښې (د بسم الله په ځائے) لیکل هم بدعت دے۔

د بسم الله فضیلت او اهمیت :

د بسم الله فضیلت دا دے چه په ډیرو مقاماتو کښې شریعت دا لازمه کړیده لکه اودس، خوراك، څکاك، ذبح، بیت الخلاء ته داخلیدو وخت کښې، مسجد ته داخلیدو وخت کښې، کور والی وخت کښې، یا کله چه انسان اُوخویږی یا ئے ترے څه پریوځی نو بسم الله وئیل پکار دی۔ پدے سره شیطان ورو کے او ذلیله کیږی لکه د مچ په شان شی لکه چه په حدیث کښې راغلی دی۔ [ابو داود رقم : ٤٩٨٤، مسند احمد : ٢٠٦١١، حدیث صحیح قوی - ابن کثیر) وعمل اليوم والليلة للنسائی]۔

لنډه دا چه په احادیثو کښې د هر اهم کار د شروع کولو نه مخکښې د بسم الله وئیلو تاکید شوے دے۔ او (كُلُّ اَمْرٍ ذِیْ بَالٍ) روایت هم پدے دلیل دے او هغه د بعض علماؤ په

نیز حسن حدیث دے۔ (انظر الاذکار للنووی وابن کثیر)

په بسم الله کښې فوائد :

۱-اوله فائده : بسم الله الرحمن الرحیم جمله دعائیه ده په ترتیب د جمله خبریه ده، اشاره ده دے ته چه د هر سلیم الفطرة انسان په خوله او زړه دا کلمه جاری کیږی، کله چه یو مهم کار شروع کوی، ځکه پرے الله تعالیٰ حکم اُونه کړو چه [قُولُوا بِسْمِ اللّٰهِ] (بسم الله اُووایئ) وجه دا ده چه دا کلمه فطری ده۔

۲- فائده : د بسم الله په وئیلو کښې د اول نه اشاره ده چه زه کوم کار شروع کوم، نو هغه د الله رب العالمین نافرمانی نۀ ده، بلکه د الله سبحانه وتعالیٰ د مرضی او پسند موافق کار دے۔

۳- فائده : د بسم الله په وئیلو کښې انسان د الله تعالیٰ د عظیم نومونو نه چه (الله، رحمن، رحیم) دی، برکت او مدد اخلی او دا نومونه ددے ضمانت اخلی، چه دے کار کښې به برکت اچوی، او که بالفرض څه خطائی یا غلطی ترے اُوشی، نو دغه بابرکت ذات به ئے معاف کوی۔ او دارنګه ددے په لوستلو کښې اشاره ده چه انسان ته به الله تعالیٰ ددے کار د تکمیل قوت او همت ورکوی، او د شیطان د فریبونو نه به ئے بچ کوی، او په دنیا او آخرت کښې به دا کار د نجات ذریعه جوړه وی۔ نو څوك چه بسم الله نۀ وائی، ددے تولو برکتونو نه محروم دے۔

حکمة : په هر کار کښې د بسم الله وئیلو مذکوره فائدے دی لیکن د قرآن کریم په ابتداء کښې د بسم الله وئیلو نورعجیب اسرار دا دی : ۱- اولاً : پدے کښې تعمیل دے د اولنۍ وحی چه ﴿ اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ﴾ قراء ت د الله تعالیٰ په نوم شروع کړه۔

۲- ثانیاً : دے خبرے ته اشاره ده چه د الله تعالیٰ لوئی نعمت په انسان باندے نطق او بیان دے چه د هغے د وجه نه انسان مستحق د قرآن کریم ګرزیدلے دے، نو اُوس دۀ له پکار دی چه ابتداءً د دغه مهربان ذات نوم واخلی، ددے نعمتِ عظیمه په مقابل کښې۔ او دے ته اشاره ده په دے قول د الله تعالیٰ کښې ﴿ اَلرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْآنَ، خَلَقَ الْاِنْسَانَ عَلَّمَهُ الْبَیَانَ﴾ (سورة الرحمن : ۱)۔

۳- ثالثاً : په بسم الله وئیلو کښې د پخوانو کتابونو تصدیق دے ځکه تورات (کتاب (۵) باب (۱۸) کښې ئے لیکلی دی چه محمد رسول الله (ﷺ) کله خلقو ته تعلیم

ورکوی نو د الله تعالیٰ د نوم نه به شروع کوی۔

٤- رابعاً: لکه قرآن کریم د الله تعالی د رحمانیت د صفت مَظهر دے نو دغه شان د قرآن کریم چابی او فتح د باب، صفت د رحمانیة د الله تعالیٰ دے، د هغه په رحمت به د قرآن کریم مشکلات او اسرار په قاری د قرآن او تدبر کونکی د قرآن باندے راکولاویږی۔

٥- خامساً: په بسم الله کښې د الله تعالی درے خواږه نومونه یو ځائے شوی دی، په دے کښې سر بدیع (ناشنا راز) دے، دے ته اشاره ده چه د قرآن کریم سره تعلق عبادت هم دے او د دنیا او د آخرت رحمت هم دے۔ نو گویا کښې ته لوئی عبادت کښې شروع شوے او په سمندر د رحمت کښې ورداخل شوے او دا عبادت تکلیف او مشقت نهٔ دے بلکه رحمت دے۔ ﴿ طٰهٰ مَا اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لِتَشۡقٰۤى ﴾ کښې هم دا اشاره شته۔

قرآن کریم ته بار بار رحمة وئیلے شویدے لکه پدے قول د الله تعالیٰ کښې:

﴿ قُلۡ بِفَضۡلِ اللّٰهِ وَبِرَحۡمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُوۡا هُوَ خَيۡرٌ مِّمَّا يَجۡمَعُوۡنَ ﴾ [یونس:٥٧]

وَقَالَ ﴿ اِنَّ فِیۡ ذٰلِكَ لَرَحۡمَةً وَّذِكۡرٰى لِقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴾ (العنکبوت:٥١)

٦-سادساً: په دے اسماءِ حسنیٰ کښې یوه لطیفه اشاره ده چه د قرآن کریم نه فائده اخستلو والا خلق هغه دی چه اصحاب القلوب اللینة (نرم زړونو والا) واصحاب الابدان الْعَابِدَة (او عبادت گذار بدنونو والا) وی، هر لوستونکے ترے پوره فائده نشی اخستلے۔ ددے تفصیل به روستو راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

د بسم الله معنیٰ: خاص په مدد د نوم د الله تعالیٰ سره شروع کوم۔

تحقیق: د بسم الله نه مخکښې یا روستو (اَقۡرَأُ) یا (اَبۡدَأُ) یا (اَتۡلُوۡ) محذوف دے۔ یعنی زهٔ د الله په نوم سره لولم، یا شروع کوم، یا تلاوت کوم۔ ظاهر دا ده چه ددے تقدیر روستو راویستل پکار دی او مخکښے راویستل جائز قدرے دی ځکه چه ابتداء په نوم د الله تعالیٰ پکار ده، نهٔ په لفظ د اَبۡتَدِأُ وغیره سره۔

(ب) په بسم الله کښې دا باء یا د استعانت (مدد طلب کولو) یا د اِلۡصاق (پیوسته کولو) یا د تبرك (برکت حاصلولو) دپاره ده۔ او د مدد معنیٰ ئے غوره ده۔ معنیٰ به دا وی: زهٔ په امداد د نوم د الله سره شروع کوم۔ یا قراء ت کوم یا تلاوت کوم۔

(اَبۡتَدِأُ) به روسته راویاسے جارمجرور په هغے پورے متعلق دے۔ ځکه چه تقدیم ما حَقُّهُ التاخیر مفید د حصر او تخصیص وی نو پدے تخصیص سره به رد د شرك اُوشی ځکه

چه مشرکانو به په کارونو کښې د لات او منات او عزیٰ په نوم سره شروع کوله نو موحد په هغوی تعریض کوی چه زهٔ خو خاص د الله تعالیٰ په نوم سره شروع کوم۔
او چه باء د الصاق دپاره شی نو معنیٰ به دا وی چه په نوم د الله تعالیٰ پورې ځان پیوسته کوم چه رحمن رحیم ذات دے او بیا شروع کوم۔
او چه باء د تبرك دپاره شی نو معنیٰ به دا وی : زهٔ شروع کوم، برکت حاصلونکے یم په نوم د الله تعالیٰ سره۔
قاعده : د قرآن کریم په کلماتو کښې چه دوه یا زیات تفسیرونه راځی نو دا په دوه قسمه وی یو هغه وی چه متضاد وی نو پدے کښې قاعده دا ده چه یو به اخلے، دواړه نشے اخستے ځکه د الله تعالیٰ مراد کښې تضاد نهٔ وی، هغه معنیٰ به اخلے چه ظاهری لغت یا احادیث او یا اصول د شریعتِ مطهره ئے تقاضا کوی۔ بعض مفسرین ترجمه والا ټول تفسیرونه او توجیهات راوړی او راجح معلوم نهٔ کړی نو دا کمال ندے بلکه د عوام الناس شك پیدا کوی۔
دویم هغه تفسیر دے چه یوه کلمے ډیرے معانی لری او متضادے نهٔ وی نو ټولے معانی ترے په یو ځائے اخستے شی او د اد قرآن جامعیت او کمال دے چه داسے الفاظ راوړی چه ګنړ مطالب پکښې وی نو دلته دا درے واړه معانی صحیح دی څه تضاد پکښې نشته۔
او دا قاعده مونږ بار بار استعمالوو او محققینو علماؤ هم استعمال کړیده ځکه پدے سره ډیر فهم په کتاب الله کښې حاصلیږی۔ ځکه مفسرین کله د لفظ معنیٰ مطابقی لیکی او کله تضمنی او کله التزامی او کله اشاره د آیت وی۔
(اسم) : لفظ د اسم ئے راوړو د الله د تعظیم دپاره ځکه هرکله چه د الله تعالیٰ په نوم کښې برکت دے نو په ذات کښې ئے خو خامخا شته۔ ددے وجه نه ئے بالله اُونهٔ وئیل۔
بیا اسم کله په معنیٰ د علَم (نوم) سره وی او کله په معنیٰ د صفت سره وی او کله دواړو ته عام وی او دلته هم عامه معنیٰ مراد ده۔ ځکه د الله تعالیٰ په هر نوم او صفت کښې برکت او خیر دے۔ او په هغے سره استعانت (مدد طلب کول) پکار دی۔
﴿اَللّٰهُ﴾ : اسم ذاتی د الله تعالیٰ دے، بل چا ته ئے نسبت نهٔ کیږی او وضاحت ئے روسته کوو۔ د رحمن او رحیم معنیٰ هم روسته راروانه ده الرحمن معنیٰ ده :
بے حده مهربان۔ د الرحیم معنی ده : همیشه مهربان۔

بعض تفسیرونو کښې ئې معنی لیکلې ده بخونکې۔ د رحمن معنی په بخونکی سره صحیح نۀ ده، بلکه ددې معنیٰ ده بې حده مهربان۔ او الرحیم همیشه مهربان۔

حکمة : په بسم الله ذکر کولو کښې حکمة دا دې چه پدې کښې خپلې کمزورئ ته اشاره ده چه زه ددې عمل نه عاجز یم مګر که الله تعالیٰ راسره مدد اُوکړی۔

○○○○○○

سُوْرَةُ الْفَاتِحَةِ مَكِّيَّةٌ	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ (۱)	آيَاتُهَا : ۷ رُكُوْعَاتُهَا : ۱

خاص په امداد د نوم د الله تعالیٰ شروع کوم چه زیات رحم کونکې، همیشه مهربان دې۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱﴾ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾

ټول کامل صفتونه خاص الله تعالیٰ لره دی چه پالونکې د ټول عالم دې، عام مهربان، خاص رحم کونکې دې۔

مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۳﴾ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴿٤﴾

اختیار مند د ورځې د جزاء دې، خاص تا لره بندګی کوو مونږ او خاص ستا نه مدد غواړو (په هر کار کښې

اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿٥﴾ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ

اُوښایه مونږ ته لاره نیغه، لار د هغه کسانو چه نعمت کړیدې تا په هغوی،

غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ﴿۷﴾

نۀ دی هغه کسان چه غضب کړې شویدې په هغوی او نۀ ګمراهان دی۔

تفسیر و تشریح الکلمات:

بسم الله او اعوذ بالله نه مخکښې (قُوْلُوْا) (داسې اُووایئ) پټ دې، ځکه پدې سورت کښې الله تعالیٰ بندګانو ته د سوال تعلیم ورکوی۔

حکمة : بیا پدې کښې الله تعالیٰ ولې قولوا اُونۀ وئیلو ؟ وجه دا ده چه الله تعالیٰ پخپله د

خپل خان دپاره هم حمد وائی او مونږ ئے هم وایو نو مونږ ته پکښې امر دے چه تاسو الحمد لله اُووایئ. ۲- دویم **حکمة** : د سورت فاتحے اسلوب، دعائی دے لیکن ظاهراً مخاطبینو ته الله تعالیٰ حکم اُونکړو بلکه د جمله خبریه په شان ئے دا سورت زمونږ په ژبه جاری کړو، اشاره ده یو عظیم حقیقت ته، هغه دا چه د هر سلیم الفطرت انسان د زړه او د ژبے آواز به دا وی چه د الله تعالیٰ په حمد به گویا وی. الله تعالیٰ د انسان فطرت داسے جوړ کړیدے نو هغه دا ښکلے تعبیر اُوکړو چه ددے نه د بهتر تعبیر تصور نشی کیدلے. او دا آواز به د هغه چا نۀ وی چه هغوی خپل فطرت برباد کړے دے، نو (الحمد لله) فطری آواز دے ځکه ئے پکښې (قُوۡلُوۡا) (اُووایئ) رانۀ وړو.

(**الحمد**) : حمد په قرآن کښې (۴۳) کرته استعمال دے. لغت کښې (ستائش، ستودن) صفت کولو ته وئیلے شی.

او په اصطلاح کښې امام جرجانیؒ فرمائی :

حمد [هُوَ الثَّنَاءُ عَلَى الْجَمِيْلِ مِنْ جِهَةِ التَّعْظِيْمِ مِنْ نِعْمَةٍ وَغَيْرِهَا]

(عبارت دے د ثناء کولونه په ښائسته صفاتو، په طریقه د تعظیم سره، برابره ده که په مقابله د نعمت کښې وی او که نۀ وی)

[التعريفات للجرجانی ص (۹۳)]

نو د الحمد لله مقصد دا دے چه مونږ د الله تعالیٰ د کمال صفتونه بیانوو کوم چه د الله تعالیٰ ښکلے صفات دی.

۲- حافظ ابن قیمؒ لیکی : [اَلْحَمْدُ : إِخْبَارٌ عَنْ مَحَاسِنِ الْمَحْمُوْدِ مَعَ حُبِّهٖ وَاِجْلَالِهٖ وَتَعْظِيْمِهٖ وَلِهٰذَا كَانَ خبرًا يَتَضَمَّنُ الْإِنْشَاءَ بِخِلَافِ الْمَدْحِ فَإِنَّهٗ خَبَرٌ مُجَرَّدٌ- اِلٰى آخِرِهٖ] .

(یعنی حمدُ خبر ورکول دی د ښائسته صفاتو د محمود نه، سره د محبت او اکرام او تعظیم د هغه نه، ددے وجه نه دا خبر دے متضمن دے انشاء لره په خلاف د مدح نه چه هغه خالص خبر دے نو کله چه یو ویونکی داسے اُووائی : الحمد لله یا داسے اُووائی : رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ) نو ددۀ کلام متضمن شو خبر ورکولو ته د ټولو هغه صفاتو نه چه د الله تعالیٰ دپاره وئیلے شی په یو جامع راگیرونکے اسم سره چه ټول افراد د حمد راگیروی، که هغه محقق وی او که مقدر، او دا مستلزم دے اثبات د هر کمال لره چه د رب حمد پرے وئیلے شی، ددے وجه نه ددے لفظ استعمال صرف د حمید مجید ذات پورے خاص دے،

بل چا دپاره ئے استعمال جائز نهٔ دے۔ [بدائع الفوائد ۲/۹۳]

۳- [اَلْحَمْدُ : هُوَ الْإِعْتِرَافُ لِلْمَحْمُوْدِ بِصِفَاتِ الْكَمَالِ، مَعَ مَحَبَّتِهٖ وَتَعْظِيْمِهٖ]

[دليل السالك الى الفية ابن مالك- لعبد الله بن صالح الفوزان]

(حمد : اقرار کول دی محمود دپاره په صفاتو د کمال، سره د محبت او تعظیم د هغه نه)

او حمد د شریعت په اصطلاح کښې د الله تعالیٰ ثناء او صفت کول دی په هغه اسماء او صفاتو سره چه الله تعالیٰ خپل ځان له په قرآن کریم کښې ثابت کړی وی یا د هغه رسول ﷺ په احادیثو کښې د هغه دپاره ثابت کړی وی۔ او دا صفت کول به عقیدةً او قولًا او عملًا وی۔ نو په قرآن کریم کښې او په احادیثو کښې د الله تعالیٰ صفات او اسماء اُوګوره او هغې باندې عقیده اُوساته او بیا ئے د الله تعالیٰ دپاره ثابته وه او هغې سره دعاګانې غواړه او د هغې په مقتضیٰ باندې عمل کوه۔

امام راغبؒ فرمائی : د الحمد لله معنیٰ ده : اَلثَّنَاءُ عَلَيْهِ بِالْفَضِيْلَةِ (د الله تعالیٰ صفت کول دی په فضیلت د هغه) (المفردات) یعنی د الله تعالیٰ ډیر فضائل او فواضل دی چه ته هغه په ژبه ذکر کوے نو دا ستا حمد شو د هغه دپاره۔

فائده : الحمد لله ئے اُووئیل، الشکر لله ئے ونهٔ وئیلو ؟ حکمة دا دے چه (۱) شکر د نعمت مقابله کښې وی او حمد که نعمت وی او که نهٔ وی نو وئیل کیږی۔ نو پدے کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ د حمد لائق دے اګر که حامد او بنده ته ئے هیڅ نهٔ وی ورکړی، ځکه چه الله تعالیٰ د حمد لائق دے د وجه د کمال د ذات او د اسماء او صفاتو د هغه نه۔

(۲) دویم دا چه حمد الله رب العالمین ته محبوب دے لکه حدیث کښې دی :

[اَمَا اِنَّ رَبَّكَ يُحِبُّ الْحَمْدَ] . [احمد : ۱۵٦۲٤، والحاکم : ٥٦٧٥ واسناده صحیح او حسن]۔ (ستا رب صفتونه د کمال خوښوی) چه هغه دپاره اُووئیلے شی۔

د حمد فضائل

○ - عمر رضی الله عنه یوه ورځ اُووئیل : [قَدْ عَلِمْنَا سُبْحَانَ اللّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ فَمَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ؟] یعنی مونږ خو سبحان الله او لا اله الا الله والله اکبر پیژنو لیکن د الحمد لله څه مطلب دے ؟ نو علی رضی الله عنه جواب ورکړو چه ۔

[كَلِمَةٌ رَضِيَهَا اللّٰهُ لِنَفْسِهٖ] (ابن ابی حاتم- ابن کثیر ۱/۱۲۹)

(دا یوه کلمه ده چه الله عزوجل د خپل نفس دپاره غوره کړیده) یعنی الله تعالیٰ ددے په

وئيلو رضا كيږي۔
O -عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي : [هِيَ كَلِمَةُ كُلِّ شَاكِرٍ] (دا د هر شكر گذار كلمه ده)۔ [رواه ابن ابی حاتم- ابن كثير ١/١٢٩]
O -آدم ﷵ كښ چه كله الله تعالىٰ روح واچولو او روح ئے سر ته راورسيدو نو پرنجے ئے اُوكړو او الحمد لله رب العالمين ئے اُووئيل نو الله تبارك وتعالىٰ ورته اُوفرمايل : [يَرْحَمُكَ اللّٰهُ] (الله دِے په تا رحم اُوكړي) (ابن حبان رقم (٢٠٨١، الحاكم (٤/٢٦٣) الصحيحة رقم : ٢١٥٩ صحيح على شرط مسلم] ۔
او دغسے نور انبياء كرام عليهم السلام هم دا كلمه وئيلے ده۔
تفسير ابن عباس ﷺ كښ دي چه د حمد درے مصداقه دي [اَلْأُلُوهِيَّةُ- وَالْوَحْدَانِيَّةُ - وَالشُّكْرُ لَهٗ سُبْحَانَهٗ] (اُلو هيت (عبادت) يواځے والے او شكر خاص الله لره ثابت دي۔
فائده : بيا حمد ډير غوره دے د سبحان الله نه پدے وجه ئے په حمد شروع اُوكړه۔ ځكه د سبحان الله معنىٰ ده پاكوالے د عيوبونه، او دا سلبي صفت دے او الحمد لله كښ صفات ثبوتيه دي، نو الحمد لله كښ د سبحان الله معنىٰ هم شته۔ ددے وجے نه حديث كښ دي چه سبحان الله نيم ميزان ډكوي او الحمد لله مكمل ميزان ډكوي۔ او دا قانون دے چه صفات ثبوتيه كښ كمال زيات وي په صفات سلبيه ؤ باندے لكه يو انسان چاله ورشي او ورته وائي چه تا كښ دا عيب نشته، ته بخيل نه ئے او دا دا۔ نو ديكښ دومره كمال نشته لكه ته چه ورته اُووائي چه ته سخي ئے، ښائسته ئے او دا صفات درېكښ دي۔ (د صفات ثبوتي او سلبي تشريح آية الكرسي كښے ان شاء الله تعالىٰ راروانه ده)۔
امام ابن القيمؒ په (طريق الهجرتين) كښے ليكي : چه هر اعلىٰ صفت، هر ښه كار، هر عمده تعريف، او هر حمد او مدح، هر تسبيح او تقديس او د هر جلال او عزت چه كوم كامل ترين او دائمي او اَبدي شكل كيدے شي هغهٔ ټول الله تعالىٰ دپاره ثابت دے۔ د الله چه كوم صفتونه بيانيږي او په كومو نومونو چه هغهٔ ياديږي او هرڅه چه د الله په برائي او لوئي والي كښ وئيلے شي دا ټول د الله تعريفونه دي او د هغه حمد او تقديس دے، مخلوق هيڅ فرد د هغهٔ د تعريفاتو نشي شمارلے۔ (تيسير الرحمن)
په مخلوق كښ چه كوم حُسن يا كمال دے نو هغهٔ هم الله تعالىٰ پيدا كړيدے پدے وجه د حمد (صفتونو) مستحق هم هغهٔ دے۔ حمد د الله تعالىٰ ډير خوښ دے ځكه ئے پرے

قرآن کریم شروع کړو او د حمد فضائل قرآن او احادیثو کښې اُوګوره خصوصاً کتاب (نضرة النعیم) مطالعه کړه. هغه پدے باره کښې (۵۷) احادیث راوړیدی. او دغه شان آیتونه او د سلفو اقوال ئے ذکر کړیدی.

○ یو صحابی (اسود بن سَریع رضی الله عنه) عرض اُوکړو یا رسول الله ! ما اشعار وئیلی دی او په هغے کښې مے د الله تعالیٰ حمد کړیدے. رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل :

[اَمَا اِنَّ رَبَّكَ يُحِبُّ الْحَمْدَ] . [احمد : ۱۵۶۲۴، والحاکم : ۵۶۷۵ واسناده صحیح او حسن]. (خبر شه، ستا رب صفتونه د کمال خوښوی) چه هغه دپاره اُووئیلے شی.

په حدیث د صحیحینو کښې دی : [وَلَا اَحَدَ اَحَبُّ اِلَيْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللّٰهِ] (هیڅوك داسے نشته چه د الله تعالیٰ په شان د حمد سره محبت لری) [وَمِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ وَعَدَ اللّٰهُ الْجَنَّةَ] (او ددے وجه نه الله تعالیٰ د جنت وعده کړیده) [بخاری : ۷٤۱٦، مسلم : ۳۸۳۷]

مطلب دا دے چه الله تعالی د جنت وعده کړیده چه خلق ډیر حمدونه اُووائی.

○ بل حدیث کښې دی : [اَوَّلُ مَنْ يُّدْعٰى اِلَى الْجَنَّةِ الَّذِيْنَ يَحْمَدُوْنَ اللّٰهَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ] اول چه جنت ته دعوت کولے شی په آخرت کښې هغه خلق دی چه د الله تعالیٰ حمدونه وائی په خوشحالئ او خفګان کښې.

[حاکم رقم : ۱۸۵۱، شعب الایمان، شرح السنة، اسناد حسن]

○ په یو حدیث د ابن ماجه کښې راغلی دی :

[مَا اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلٰى عَبْدٍ نِعْمَةً فَقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، اِلَّا كَانَ الَّذِیْ اَعْطَاهُ اَفْضَلَ مِمَّا أَخَذَ]

[حدیث حسن : صحیح ابن ماجة (۳۸۰۵)].

(یعنی دا کوم نعمت چه الله تعالیٰ تا له درکړیدے ددے نه دا توفیق د شکر او الحمد لله وئیل غټ نعمت دے)، د ټولے دنیا د نعمتونو نه یو الحمد لله غوره ده.

او حدیث د ترمذی کښې دی : [اَفْضَلُ الدُّعَاءِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ] (غوره دعاء الحمد لله ده).

[الترمذی : ۳۳۸۳، حاکم : ۱۸۵۲، شرح السنة رقم : ۱۲٦۹ بسند حسن- ابن حجر، البانی]،

○ بل حدیث کښې دی : (بهترین ذکر لا اله الا الله دے او افضل شکر الحمد لله دے)

[ابن حبان رقم : (۲۳۲٦) فضیلة الشکر للخرائطی ۲/۲، والبغوی فی شرح السنة (۱/۱٤٤/۲) حسن- الصحیحة رقم : ۱٤۹۷]

○ د مؤمن صفت دا دے چه د هغه نه روح اُوځی هم الحمد لله به وائی، (كما فی الصحيحة) كه مصيبت وی هم الحمد لله به وائی، د نبی ﷺ عادت مبارك دا وو چه كله به خفه وو نو هم (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ) به ئے وئيل او كه خوشحاله به وو نو هم الحمد لله رب العالمين به ئے وئيل۔

○ مفسرينو د سعيد بن مسعود الثقفی رضی الله عنه نه روايت راوړيدے [اِنَّمَا سُمِّیَ نُوْحٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَبْدًا شَكُوْرًا لِاَنَّهٗ كَانَ اِذَا اَكَلَ اَوْ شَرِبَ اَوْ لَبِسَ حَمِدَ اللّٰهَ] چه نوح علیه السلام ته الله تعالىٰ شكر گذار پدے وجه وئيلے دے چه هغۀ به خوراك كولو يا به ئے څكاك كولو يا به ئے جامے كپړے اغوستے نو الحمد لله به ئے وئيله۔ [تفسير ابن ابی حاتم ١٣٥٥٩]

○ حديث كښے دی : [وَاحْمَدِیْ اللّٰهَ مِائَةَ تَحْمِيْدَةٍ تَعْدِلُ لَكِ مِائَةَ فَرَسٍ مُسْرَجَةٍ مُلْجَمَةٍ تَحْمِلِيْنَ عَلَيْهَا فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ] د ورځے سل كرت الحمد لله اُووايه دومره اجر به درته ملاؤ شی لكه سل اسونه بار كړی د الله په نوم باندے خيرات كړی)

[حديث حسن : عن ام هانئ- مسند احمد : ٦/٣٤٤، رقم : ٢٦٩٥٦، الطبرانی الكبير : رقم : ٢٠٤٤٥]

○ حديث كښ دی چه الحمد لله رب العالمين د نعمت په مقابله كښ اُووئيل شی نو شل نيكئ دی او كه بغير د نعمت نه اُووئيل شی نو (٣٠) ديرش نيكئ دی۔ (احمد، حاكم، بزارو ابن ابی شيبة بسند صحيح)

نو ددے وجه نه قرآن كريم په الحمد لله باندے شروع اُوكړه۔

○ دارنگه مسلمان چه سحر د خوب نه رابيدار شی نو اول وائی :

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ] [بخاری : ٦٣١٢، مسلم : ٧٠٦٢]

بيا بيت الخلاء نه بعد (الحمد لله) بيا مانځه كښ ډير كرت وائی (الحمد لله رب العالمين، سمع الله لمن حمده، ربنا لك الحمد) د طعام نه بعد الحمد لله او د جامے اغوستلو نه بعد الحمد لله، مختصراً دا چه هر حالت د مؤمن به د حمد وی نو مؤمن له حمد وئيل پكار دی او داسے عادت به نۀ جوړوی چه كله ورته څوك اُووائی څنگه ئے ؟ هغه وائی : ښه يم۔ نۀ بلكه الحمد لله كلمه وايه۔

○ قتاده رحمه الله – وئيلی دی چه حمد هغه شے دے چه پدے باندے الله سبحانه مخلوق شروع كړيدے او پدے باندے ئے ختم كړيدے۔ څكه چه د سورة انعام په اوله

کښې(اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ) او د زمر آخری آیت کښې (وَقِیْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ) دے۔

○ ابن زید رحمه الله – فرمائی : په یو مجلس کښې یو سړے وی چه د الله تعالیٰ حمدونه وائی نو د دغه ټول مجلس والو حاجتونه ددهٔ د حمد په وئیلو سره پوره کولے شی۔ (نضرة النعیم)

○ فُضیل بن عیاض رحمه الله –فرمائی :

[مَنْ عَرَفَ نِعْمَةَ اللّٰهِ بِقَلْبِهٖ وَحَمِدَهٗ بِلِسَانِهٖ لَمْ یَسْتَتِمَّ ذٰلِكَ حَتّٰی یَرَی الزِّیَادَةَ، لِقَوْلِهٖ : (لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِیْدَنَّكُمْ) [ابراهیم : ۷]

(چا چه د الله تعالیٰ نعمت په زړه سره اُوپیژندلو او په ژبه ئے د هغه حمد اُووئیلو نو دا به ئے لا پوره کړے نهٔ وی چه زیادت به وینی۔ دلیل پرے دا قول د الله تعالیٰ دے (که تاسو شکر اُوکړو نو زهٔ به زیادت اُوکړم (ستاسو په نعمتونو کښې)

[عدة الصابرین ص (۱۲۳) ونضرة النعیم]

د حمد اقسام

۱ – اَلْحَمْدُ الْقَوْلِی : [هُوَ حَمْدُ اللِّسَانِ وَثَنَاؤُهٗ عَلَی الْحَقِّ بِمَا اَثْنٰی بِهٖ عَلٰی نَفْسِهٖ عَلٰی لِسَانِ اَنْبِیَائِهٖ]

(په ژبه سره د الله تعالیٰ هغه صفات او ثناء کول دی کوم چه الله تعالیٰ خپل ځان له د انبیاء علیهم السلام په ژبه بیان کړیدی)۔

۲ – اَلْحَمْدُ الْفِعْلِی : [هُوَ الْاِتْیَانُ بِالْاَعْمَالِ الْبَدَنِیَّةِ ابْتِغَآءً لِوَجْهِ اللّٰهِ تَعَالٰی]

(بدنی اعمال د الله تعالیٰ د رضا دپاره کول)۔

۳ – اَلْحَمْدُ الْحَالِی : [هُوَ الَّذِیْ یَکُوْنُ بِحَسَبِ الرُّوْحِ وَالْقَلْبِ کَالْاِتِّصَافِ بِالْکَمَالَاتِ الْعِلْمِیَّةِ وَالْعَمَلِیَّةِ وَالتَّخَلُّقِ بِالْاَخْلَاقِ الْاِلٰهِیَّةِ] ...... (دا په روح او زړه سره وی لکه علمی او عملی کمالاتو باندے متصف کیدل او د اِلٰهی اخلاقو په شان اخلاق حاصلول)۔

٤ – اَلْحَمْدُ اللُّغَوِی : [هُوَ الْوَصْفُ بِالْجَمِیْلِ عَلٰی جِهَةِ التَّعْظِیْمِ وَالتَّبْجِیْلِ بِاللِّسَانِ وَحْدَهٗ]۔

(صرف په ژبه سره د چا ښائسته صفات وئیل په طریقه د تعظیم)

٥ – اَلْحَمْدُ الْعُرْفِی : [فِعْلٌ یُشْعِرُ بِتَعْظِیْمِ الْمُنْعِمِ بِسَبَبِ کَوْنِهٖ مُنْعِمًا وَهُوَ اَعَمُّ مِنْ اَنْ یَّکُوْنَ فِعْلَ اللِّسَانِ اَوِ الْاَرْکَانِ] ...... (داسے کار کول چه په هغے کښې تعظیم د انعام کونکی وی

پدے وجه چه هغه مُنعم دے۔ او دا کار عام دے که په ژبه سره وی او که په بدن سره)۔

(کتاب التعریفات للجرجانی (۹۳) و نضرة النعیم (۱۷۵٤))

د حمد فوائد

۱ - [اِنَّهٗ مِنْ اَعْلٰی مَقَامَاتِ الْاِیْمَان] (دا د ایمان د اعلیٰ مقاماتو نه دے)

۲ - [مَحَبَّةُ اللّٰهِ - عَزَّوَجَلَّ - وَنُصْرَتُهٗ] ۔(پدے سره د الله تعالیٰ محبت او مدد حاصلیږی)

۳ - [جَلْبُ النِّعَمِ الْمَفْقُوْدَةِ وَالْمُحَافَظَةُ عَلَی الْمَوْجُوْدَةِ]۔

(ورك شوی نعمتونه راکاږی او د موجود نعمتونو حفاظت کوی)

٤ - [مُجَاوَرَةُ الْعَبْدِ رَبَّهٗ فِیْ اَعْلٰی مَقَامَاتِ الْجَنَّةِ] ۔

(په حمد سره بنده د خپل رب سره د جنت په اعلیٰ مقاماتو کښ گاونډی کیږی)

۵ - [غُفْرَانُ الذُّنُوْبِ وَسَتْرُ الْعُیُوْبِ]

(په حمد سره گناهونه بخلے شی او عیبونه پټولے شی)

٦ - [مُجَاوَرَةُ الْحَمَّادِیْنَ سَعَادَةٌ لِمَنْ جَاوَرَهُمْ وَجَالَسَهُمْ] ۔ (پدے سره د حمد ویونکو خلقو سره گاونډیتوب او مجالست حاصلیږی چه دا سعادت او نیکبختی ده)

۷ - [اِنْشِغَالُ الْاِنْسَانِ بِذِکْرِ رَبِّهٖ عَنِ الْغِیْبَةِ وَالنَّمِیْمَةِ وَعَنْ کُلِّ مَا یُسْخِطُ اللّٰهَ - عَزَّوَجَلَّ]

(انسان په حمد سره د خپل رب په یادولو د غیبت او چغلیٔ او هرے گناه نه مشغول کیږی)

۸ - [قُوَّةُ الْبَدَن وَعَافِیَتُهٗ] ۔(پدے سره د بدن قوت او عافیت (روغوالے) راځی)

۹ - [اَفْضَلُ مِنْ عِتْقِ الرِّقَابِ وَالصَّدَقَةِ بِحُرِّ الْمَالِ]۔

(حمد وئیل د غلامانو د آزادولو او د شریف (حلال) مال د صدقه کولو نه غوره دی)۔

۱۰ - [یَجْعَلُ الْعَبْدَ دَائِمًا مُطْمَئِنًّا لِقَضَاءِ اللّٰهِ وَیُوْصِلُهٗ لِمَقَامِ الرِّضَا] ۔

(بنده همیشه د الله تعالیٰ په فیصله مطمئن کوی او مقام د رضا ته ئے رسوی)

۱۱ - [یَنْفِیْ عَنِ الْعَبْدِ صِفَةَ الْمُعْتَرِضِ عَلٰی قَضَائِهِ الْمُهْمِلِ لِشُکْرِ نَعْمَائِهٖ] ۔

(په تقدیر باندے د اعتراض کولو او د نعمتونو د ناشکری کولو صفت د بنده نه ختموی)

۱۲ - [اَلْحَمْدُ مِنْ اَجْمَلِ الصِّفَاتِ الَّتِیْ تَحَلّٰی بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَاَوْصٰی بِهَا اُمَّتَهٗ] ۔

(حمد د هغه ښائسته صفاتو نه دے چه رسول الله ﷺ پرے ځان ښائسته کړے وو او

امت ته ئے پدے باندے وصیت کړیدے). ینظر : نضرة النعیم : ۱۷۵۷).

د حمد شرائط

د حمد درے شرائط دی : ۱- [إِذَا أَعْطَاكَ اللّٰهُ نِعْمَةً تَعْرِفُ مَنْ أَعْطَاكَ]
(کله چه تا له الله تعالیٰ نعمت درکړی نو خپل نعمت درکونکے به پیژنے).
۲- [أَنْ تَرْضٰى بِمَا أَعْطَاكَ] (کوم شے ئے چه درکړو په هغے به راضے کیږے).
۳- [مَا دَامَ قُوَّتُهُ فِيْ جَسَدِكَ فَلَا تَعْصِهِ] (ترڅو چه ستا په بدن کښ د هغه نعمت طاقت موجود وی نو د هغه خلاف به نهٔ کوے) (قاله شقیق بن ابراهیم- القرطبی ۱/ ۱۳٤)
او ددے وضاحت به په کلمه د شکر کښ په سورة البقره کښ رازی ان شاء الله تعالیٰ.

۲- **فائده** : د حمد او د شکر فرق شته او که نه ؟ ۱- بعض اهل علم وائی : دواړه یو شے دے.

۲- لیکن صحیح دا ده چه فرق شته [اَلْحَمْدُ عَلٰى أَسْمَائِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَالشُّكْرُ عَلٰى نِعَمِهٖ وَأَيَادِيْهِ] (کما فی ابن کثیر) (حمد د الله تعالیٰ په ښکلے صفاتو او نومو باندے وی او شکر په مقابله د نعمتونو کښ وی.

۳- بعض علماء وائی : حمد خاص دے د ژبے سره او شکر په زړه او ژبه او بدن ټولو باندے کیږی، حمد یو جزء او عظیمه برخه ده د شکر. پدے وجه که ته د نجات اراده لرے نو حمدونه انتهائی ډیر کړه.

۳- **فائده** : قرآن کریم کښ الله تعالیٰ د ایمان والو دا صفت ډیر بیان کړیدے (الحامدون) (ایمان والا به همیشه حمد ویونکی وی) او په حمد وئیلو باندے ئے امر هم کړیدے :﴿ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ الاسراء (۱۱۱) (د الله تعالیٰ حمدونه وایه) او د جنتیانو مدح ئے پدے قول سره کړیده : ﴿ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾ (یونس:۱۰) (او آخری وینا د جنتیانو به دا وی چه حمدونه د کمال صرف الله رب العالمین لره خاص دی)
او لس آیتونو کښ ئے داسے امر کړیدے . ﴿ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ﴾ (ق:۳۹) (صبا او بیګاه د الله تعالیٰ تسبیحات او حمدونه وایه).
د کفارو په هلاکت هم حمد وئیلے شویدے:
﴿ فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾ (انعام :٤٥).
د قبر نه چه انسانان راپاڅیږی نو هم حمد به وائی ﴿ يَوْمَ يَدْعُوْكُمْ فَتَسْتَجِيْبُوْنَ بِحَمْدِهٖ

وَتَظُنُّوْنَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا﴾ (الاسراء:٥٢)۔

که قرآن کریم ته رجوع اُوکړے شي نو د حمدونو کمال به اُولیدل شي۔

اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كُلُّهٗ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَة۔

حکمة : لا الـه الا الله ئے اُونـهٔ وئیلـه ځکه هغې کښې فقط توحید دے او الحمد لله کښې توحید هم شته او د الله صفات هم پکښې دی، خلاصه دا ده چه بس پدے مقام کښې لفظ د الحمد لله ډیر مناسب دے۔

فائده : لِلّٰهِ الْحَمْدُ ئے اُونـهٔ وئیلو حکمة دا دے چه دلته حمد مقصود دے نو ځکه ئے مقدم کړو۔ یعنی د اهمیة مقامی د وجه نه حمد مقدم شو او همدا بلاغت دے۔

په الحمد کښې الف لام یا د استغراق دپاره یا د اختصاص دپاره دی یعنی د کمال ټول صفتونه خاص الله تعالیٰ لره دی۔

لله : د الله معنیٰ ده المعبود بالحق (حقدار او لائق د بندګئ) دا وجه ده چه څوك بندګی نهٔ کوی نو هغه به ټول کیږی ځکه د الله تعالیٰ حق ئے ضائع کړیدے ﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ﴾ ﴿وَلَا يُوْثِقُ وَثَاقَهٗ اَحَدٌ﴾ مثال لکه د یو سړی بل پورے قرض وی او هغه ئے نهٔ ورکوی نو ټول ئے پکار دی۔

او دا معنیٰ په کلمه د توحید کښې مراد ده۔ او کله عامه معنیٰ مراد وی یعنی اختیار مند د ټول عالم، حاجات پوره کونکے او مشکلات لرے کونکے او تدبیر چلونکے د ټولو کائناتو) پدے وجه حافظ ابن قیمؒ لیکی : د الله نوم په اجمالی (مختصره) طریقه سره په ټول اسماءِ حسنیٰ ؤ باندے دلالت کوی۔ (بدائع التفسیر ١/١٣٩) او دا معنیٰ په سورة نمل (٦٠تر ٦٤) او سورت قصص (٧١،٧٢) او سورة انعام (٤٦) کښې هم راغلے ده۔

۔پدے معنیٰ باندے شیخ عبد القادر جیلانیؒ فرمائی :

[كُلُّ مَنْ خِفْتَهٗ وَرَجَوْتَهٗ وَتَعْتَمِدُ عَلَيْهِ فَهُوَ اِلٰـهُكَ]

(هر هغه څوك چه ته ترے یریږے او امید ترے لرے او ته پرے اعتماد کوے او هغه اختیار مند د نفع او ضرر ګنړے نو هغه ستا اِلٰه دے) (الفتح الربانی ص (٥٢) او (٥٧) للجیلانی۔

یعنی څوك چه اختیار د نفع او ضرر ګنړے۔ او بغیر د ظاهری اسبابونه د هغه نه امید اویره کوے۔نو دا عبادت دے د غیر الله او دا شرك دے۔ پدے معنیٰ سره ډیر کم خلق توحید والا دی۔

لفظ د (الله) په قرآن کریم کښې (۲٦۹۷) کرته استعمال شویدے۔
بعض علماؤ دعویٰ کړیده چه دا د الله اسم اعظم دے د وجه د کثرت استعمال نه او بل د الله تعالیٰ د خصوصیاتو نه دے، بل چا ته دا نوم وئیل جائز نهٔ دی۔
(الله) اسم دے د هغه ذات دپاره چه واجب الوجود دے او مستحق د ټولو محامدو دے۔
(التنویر لابن عاشور) دا د الله تعالیٰ اسم ذاتی دے چه په مخلوق ددے اطلاق نهٔ کیږی۔
حکمة : د علماؤ اختلاف دے چه لفظِ (الله) مشتقی دے او که نهٔ؟ راجح دا ده چه دا مشتق دے د اَلَـه نه (د لام په زبر سره) په معنیٰ د عَبَدَ۔ ۲- یا مشتق دے د (اَلِه) نه (د لام په زیر سره) په معنیٰ د تَحَیَّرَ (حیران شو) یا سَکَنَ (په آرام شو) یا فَزِعَ (پناهی ئے حاصله کړه) یا وَلَعَ (مینه ئے پیدا شوه) سره دے، او هر هغه الفاظ چه داسے معنیٰ ته ئے رجوع کیږی چه هغه ملزوم د خضوع او تعظیم وی۔ نو دا به د اله معنیٰ وی۔ (التنویر)
عارف رومی وائی :

معنی الله گفت آن سیبویه	❁	یُوْلِهُوْنَ فِی الْحَوَائِجِ هُمْ لَدَیْه
گفت آتَیْنَا فِیْ حَوَائِجِنَا اِلَیْكَ	❁	فَالْتَمَسْنَاهَا وَجَدْنَاهَا لَدَیْكَ

یعنی د حاجتونو په وخت کښې الله تعالیٰ طرف ته متوجه کیدل او هغهٔ ته پناهی راوړل۔ او تفسیر د اِلٰه په قرآن کریم کښې اُوګوره سورة الانعام (٤٦) والنمل (٦٠) والقصص (٧١)۔
فائده : په الحمد لله کښې حصر دے ځکه چه مبتدا او خبر دواړه معرفے دی نو ټول حمدونه د الوهیت الله تعالیٰ پورے خاص دی۔
نو پدے کښې رد دے په ټولو اقسامو د شرك او مشرکانو باندے ځکه مشرکان د غیر الله بندګی کوی، د هغهٔ نه حاجتونه غواړی، د هغهٔ په نوم نذر او منختے کوی په هغهٔ باندے توکل کوی، د هغهٔ نه امید د نفع او د ضرر ساتی نو ضرور هغه لره عام قدرت او تصرف ثابتوی او هغه عالم الغیب ګڼړی او د هغه معبود ستائینے کوی چه دا مختار کل دے، غوث اعظم دے، حاضر ناظر دے، نو د دوی په رد کښې اُووئیلے شو چه صفتونه د اُلوهیت خو صرف الله سبحانه پورے خاص دی، مشرکان د الله تعالیٰ صفات مخلوق له ورکوی دا سو چه په ګمراهئ روان دی۔

فائده : الحمد لله قضیه فطریه ده، په دے کښې دلیل او مدعیٰ دواړه شته، الله دپاره حمدونه خاص دی ځکه چه هغه اله دے، واجب الوجود دے، راجمع کونکے د ټولو ښائسته صفاتو دے او هر هغه ذات چه دغه شان وی نو هغه مستحق د حمد وی نو الله تعالیٰ هم مستحق د حمد دے. او دے ته "قَضِيَه قِيَاسُهَا مَعَهَا" هم وائی.

﴿ **رَبِّ الْعَالَمِينَ** ﴾ (رَب) : دا صیغه د مصدر ده، یا د اسم فاعل ده یا صفت مشبه ده. ماخوذ دے د تربیت نه او د تربیت معنیٰ ده : [تَبْلِيغُ الشَّيْئِ اِلٰى كَمَالِهٖ شَيْئًا فَشَيْئًا] (بیضاوی) (یو شے خپل مناسب کمال ته په آرام آرام سره رسَول). نو رب دیته وائی چه دهر شی پیدا کونکے او د هغهٔ ضروریات پوره کونکے او هغهٔ تکمیل ته رسونکے وی).

د الله تعالیٰ د تربیت طریقه دا ده چه دنیاوی اعتبار سره هم انسانان او مخلوقات په تدریجی طرز سره کمال ته رسوی لکه ماشوم د پیدائش سره سمدست بلوغ ته نهٔ رسوی، عقل ورله پوره نهٔ ورکوی. بلکه د بدن د ترقی سره سره عقل ئے هم زیاتیږی. ولے که عقل ئے پوره وی نو یو شی ته به حاجت محسوسوی او ورته رسیدے به نشی نو خراب به شی. دارنګه د مور په خیټه کښې اول نطفه وی، بیا عَلَقه بیا مُضْغه ترے جوړه شی چه بیا روح پکښې واچوی نو یوه لاره ورله معدے ته کولاوه کړی، د هغے په ذریعه د مور د خیټے نه رزق ورځی، بیا ئے سمدست دنیا ته نهٔ راوباسی ځکه چه د دنیا هوا سخته ده، دا نشی برداشت کولے نو د نهه میاشتو نه بعد ئے دنیا ته رابهرکړی، نو رزق ته ئے ضرورت وی نو الله تعالیٰ ورته سمدست د مور په تیونو کښې دوه لارے راکولاوے کړی او کله چه د مور تیونه بند شی نو بیا ورله الله تعالیٰ نورے لارے کولاوے کړی، د وچو او لمدو میوونه، د جوارو او غنمو وغیره نه. نو الله تعالیٰ ئے ترمرګه همداسے تربیت کوی.

دارنګه د الله تعالیٰ دینی تربیت هم په تدریجی شکل وی، انسان داسے نشی کیدے چه ټول دین په بدن کښې په یوه ورځ راولی بلکه وخت په وخت د اعمالو موقعے پرے راولی، نو ددے په ذریعه انسان مجاهده کوی او کوشش کوی چه نن د تقویٰ یو کار اُوکړی، صبا دوه او بله ورځ درے ،آخر دا چه الله تعالیٰ به ئے د ایمان او د تقویٰ او د احسان اعلیٰ درجے ته اُورسوی نو دا د الله تعالیٰ تربیت دے.

بیا په تربیت کښې دوه څیزونه ضروری وی : ۱ – د پالنے څیزونه پیدا کول لکه بارانونه نازلول، د زمکے نه خوراکونه او څکاکونه راویستل بیا انسان له د خوراك څکاك اسباب

پیدا کول لکه خوله، شونډې، غابنونه او مرئ او معده وغیره۔
۲- دویم په دغه څیزونو کښې اثر پیدا کول۔ یعنی د خوراك او څکاك څیزونو سره مرېدل او بدن ته ترقي او صحت ورکول۔ او دا معنیٰ د رب په سورة الشعراء (۷۸-۸۲) کښې په تفصیل سره ذکر ده۔ دارنګه سورة الواقعه (۵۸/ ۷۳) سورة عبس (۱۸/ ۳۲) او بقره (۲۲) کښې مواد د تربیت ذکر دي۔ (احسن الکلام)۔
رب د اسماءِ حسنیٰ نه دې، ددې استعمال بغیر د اضافت نه مخلوق دپاره جائز نهٔ دې۔ البته د اضافت سره جائز دې۔ لکه رب الدار، رب المنزل (د کور مالك) خو چه عالَم ته ئې اضافت اُوشي بیا هم د الله تعالیٰ پورې خاص دې۔
لفظ د رب قرآن کریم کښې (۹۶۹) کرته استعمال دې۔
د ابو الدرداء او عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل دي [اِنَّ اسْمَ اللّٰهِ الْاَكْبَرَ : رَبِّ رَبِّ] چه رب رب لفظ اسم اعظم د الله تعالیٰ دې چه ددې په ذریعه دعاګانې قبلیږي۔
(مستدرك رقم: ۱۸٦۰، ابن ابی شیبة: ۲۹۹۷۸، و الترغیب و الترهیب رقم: ۲۵٤٦ موقوف حسن)
دلیل دا دې چه په قرآن کښې د ټولو دعاګانو په اول کښې رب لفظ راغلے دې (رَبَّنَا ظَلَمْنَا) (رَبَّنَا اِنَّنَا آمَنَّا) (رَبَّنَا اغْفِرْلَنَا) (رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا) (رَبِّ هَبْ لِيْ) (رَبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا) (رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ)۔
حکمة : د ربوبیت عقیده هم ډېره ضروری ده، داسې به سړے نهٔ جوړیږي لکه د دهریو په شان چه خپل رب او پالونکے نهٔ پیژني۔ حال دا چه رزق درله څوك درکوي، صحت درله څوك درکوي، پالنه دې څوك کوي؟۔ په هر آن کښې مونږ الله ته محتاج یو، او دا ډېره غټه بې وفائي ده او ظلم او جهالت دې چه سړے د الله تعالیٰ نه غافله شي او مخ ترې واړوي تر مرګه پورې۔ حال دا چه الله تعالیٰ ورله وجود، عقل، صحت ورکړو بیا رزق ورکوي، لنډه دا چه د باران د څاڅکو نه زیات نعمتونه په تا کیږي۔ نو په تا باندې د دغه رب معرفت او بندګي واجب ده۔ دا وجه ده په قبر کښې به تپوس د ربوبیت کیږي (مَنْ رَبُّكَ) (ستا رب څوك وو؟) او په عباداتو کښې الله تعالیٰ مونږ خپل ربوبیت طرفته متوجه کوي په رکوع او سجده کښې ئې مونږ ته داسې تعلیم راکړیدې چه داسې وایئ (سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْم، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلیٰ)۔
دا (الحمد لله) دعویٰ ده او دا روسته ورله دلیلونه دي۔ یو دلیل دا دې چه الله لره حمدونه

ځکه دی چه الله رب العالمین دے۔

د تربیت اقسام

د الله تعالیٰ تربیت په څو څو طریقو سره وی (۱) بِالْإِيْجَادِ وَالْهِدَايَةِ وَالنِّعَمِ وَالرِّزْقِ وَالْحِفْظِ وَالْاَجْرِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَتَسْخِيْرِ الْاَشْيَاءِ لَهٗ وَغَيْرِ ذٰلِكَ ......

(یعنی الله تعالیٰ بنده لره پیدا کړو، بیا ئے ورته هدایت اُوکړو، نعمتونه او رزقونه ورکوی، حفاظت ئے کوی، په دنیا او آخرت کښ اجرونه ورکوی، د دنیا څیزونه ئے دده په خدمت کښ لګولی دی وغیره)۔

د الله تعالیٰ دا تربیت مخلوقاتو لره دوه قسمه دے (۱) یو ظاهری جسمانی او عام تربیت دے لکه هغهٔ ټول مخلوقات پیدا کړل، هغوی له رزق ورکوی او هغهٔ څیزونو طرفته د هغوی رهنمائی کوی کوم چه هغوی له په دنیاوی زندګئ کښ فائده مند وی۔

(۲) او بل خاص (روحانی) تربیت دے۔ ددے هم مختلفے طریقے دی یو بِاِنْزَالِ الْوَحْيِ وَبِالْقَاءِ الْإِيْمَانِ (چه الله وحی نازله کړیده او زړونو کښ ئے ایمان اچولے دے) او په زړه کښ د تقویٰ او خشیت صفت اچوی لکه د اولیاء الله د ایمان په ذریعه تربیت کوی، هغوی ته د ایمان توفیق ورکوی او کمال ته ئے رسوی، او هغهٔ رکاوټونه ترے لرے کوی کوم چه د الله او د هغهٔ د اولیاؤ ترمینځ واقع کیږی یعنی هغوی له د هر خیر توفیق ورکوی او د هر شر نه ئے محفوظ ساتی او غالباً همدا راز دے چه د انبیاء کرامو ټولے دعاګانے د رب لفظ نه شروع کیږی۔ ځکه چه د هغوی ټول مطالب د خاص ربوبیت په ضمن کښ راځی۔

او د حدیث نه معلومیږی چه د بعض بندګانو تربیت په صحت سره کوی، که بدن روغ ورنکړی نو بیا خرابیږی، بعضو له په مرضونو تربیت کوی، ولے که روغ وی نو بیا متکبر او مستیږی۔ د بعضو په مالدارئ او د بعضو په فقیرئ تربیت کوی۔ لکه چه دا خبره مفسرینو ددے قول د الله تعالیٰ ﴿ وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا فِي الْاَرْضِ ﴾ (الشوریٰ :۲۷) د لاندے لیکلے ده۔

فائده : رب ته د متوجه کیدو فائده دا ده چه کله انسان د الله تعالیٰ دے قسم ربوبیت ته متوجه شی نو په دهٔ کښ د توکل او تعظیم د الله تعالیٰ او د رغبت الی الله ماده پیدا کیږی۔

حکمة : رب العالمین لفظ ئے د (الله) نه روستو ذکر کړو اشاره ده چه الله تعالیٰ دا مخلوقات مهمل ندی پریخی بلکه پیدا ئے کړه او بیا ئے پالنه هم کوی هغه کل یو م هو

فی شأن دے۔ لکه ارسطو فلسفی وئیلی دی۔ [اَلْعَظِیْمُ لَا یُفَکِّرُ اِلَّا فِیْ ذَاتِهٖ] ۔(عظیم ذات صرف په خپل ذات کښې فکر کوی) او هدایة الحکمة کښې دی : [اَلْوَاحِدُ لَا یَصْدُرُ عَنْهُ اِلَّا الْوَاحِدُ] (الله تعالیٰ یو ذات دے صرف یو کار کولے شی) نو بیا وائی : عقل اول ئے پیدا کړو بیا عقل اول را ولګیدو عقل ثانی ئے پیدا کړو او هغه عقل ثالث۔ پدے طریقه تر عقل عاشر پورے چه دیته جبرئیل علیه السلام وائی، نو نظام ئے بیا هغهٔ ته اُوسپارلو، پدے وجه هغهٔ ته عقل فعّال وائی۔ نو داکفری عقیده ده او د تمامو انبیاؤ علیهم السلام او د قرآن کریم او د عقل خلاف ده۔ اسلامی عقیده دا ده چه الله تعالیٰ ددے تولو کارونو کونکے دے او ملائك د الله تعالیٰ د خادمانو، مزدورانو او پولیسو په منزله دی، الله تعالیٰ پدے کارونو مقرر کړیدی۔ او پدے ترتیب سره د مخلوقاتو تربیت کوی۔

د رب لفظ اطلاقات او معانی

د رب لفظ په قرآن کریم کښې ډیر معانی استعمال دی او بعض په لغت عربی کښې۔ ددے معلوموول پکار دی ځکه هر ځائے کښې په یوه معنی نهٔ وی نو ۱- رب کله په معنی د مُصْلِح (اصلاح کونکی) او ناصح سره راځی۔ (هود : ۳۴) ۲- په معنیٰ د مالك (سورة النمل ۹۰آیت) : (رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ). (فَلْیَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَیْتِ) (سورة قریش :۳)۔

۳- په معنیٰ د مَوْلیٰ (سَیّد) لکه سورة یوسف (۴۲ آیت) (اِرْجِعْ اِلٰی رَبِّكَ) (خپل مولا ته واپس شه)۔ ۴- په معنیٰ د حاکم یعنی قانون ساز، شارع سره۔ لکه ﴿ اِتَّخَذُوْا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِنْ دُوْنِ اللهِ﴾ (التوبة : ۳۱) ۵- پالنه کونکے لکه په سورة البقره (۲۱) کښې۔

۶- او رب کله په معنیٰ د جامع (جمع کونکی) سره راځی۔ عرب وائی : فُلَانٌ یَرُبُّ النَّاسَ اَیْ یَجْمَعُهُمْ۔ (فلانے خلکو لره راجمع کوی)

۷- او په معنیٰ د معبود په قرآن کریم کښې زیات استعمال دے لکه په آل عمران (۸۰/۵۱) آیتونو کښې۔ او مفسرینو دلته یو شعر راوړے دے چه یو اعرابی (غاوی بن عبد العزی السُّلَمِی) په لاره روان وو (او د هغوی طریقه دا وه چه بتان به ئے د ځان سره ګرځول دپاره ددے چه عبادت ئے اُوکړی، پدے مصیبت اخته وو)، (سنن دارمی (۱/۱۴) کښې راځی ابو رجاء عمران بن ملحانؒ وائی : چه مونږه د اسلام نه مخکښې (ځو مره عجیبه کار کولو) چه په سفر به لاړو او په یو ځائے کښې به معبود نهٔ وو نو شګے به مو راجمع کړے او اُوبنه به مو پرے را اُولوشله او بیا به مو د هغه شګو عبادت کولو چه دا

زمونږ اِلٰه دے۔ نو دوی بتان ځان سره ګرځول) نو دغه اعرابی دا خپل بت په لاره کښې کیخودو او دے اَودس ماتی ته ستون شو نو سورلنډے راغے او په سرئے ورته متیازے اُوکړے، دے چه راغے دا حالت ئے اُولیدو نو داسے ئے اُووئیل :

اَرَبٌّ يَبُوْلُ الثُّعْلُبَانُ بِرَأْسِهٖ	لَقَدْ ذَلَّ مَنْ بَالَتْ عَلَيْهِ الثَّعَالِبُ

(آیا هغه څه معبود دے چه سور لنډی (ګیدړان) ئے په سر متیازے کوی، یقیناً ذلیله دے هغه معبود چه ګیدړان ئے په سر متیازے کوی) او د ځان نه ئے نشی دفع کولے۔ نو هغه ئے ګوزار کړو او بندګی ئے ورله پریخوده او بیا راغے ایمان ئے راوړو او نبی علیه السلام ورله راشد بن عَبْدِ رَبِّهٖ نوم کیخودلو۔ (الفوائد ٢/٤٤٢) وحياة الحيوان (١/٢٤٨) ۔

ثُعْلُبان مذکر ګیدړ دے، او ثُعْلُبَة ئے مؤنث دے۔ (جوهری) یا ثعلبان په زبر د ثاء او لام سره تثنیه د ثَعْلَبٌ ده لکه چه فیروز آبادی په "قاموس" کښے وئیلی دی۔

او ډیر کسان پدے طریقه موحدین شوی دی۔

○ یو صحابی وائی زه پدے موحد شوم چه ما د یو بت عبادت کولو او د یو کوهی په غاړه باندے پروت وو نو بله ورځ هغه بت کوهی ته غورځیدلے وو، سرئے خکته او خپے ئے اُوچتے وے۔ نو ما اُووئیل دا څنګه اِلٰه دے چه ځان هم نشی بچ کولے نو ما ایمان راوړو۔

او دلته د رب څو معانی دی معبود، مدبر، او تربیت کونکے د مخلوقاتو۔

(**عالمین**): جمع د عالَم ده د الله نه ماسویٰ ټول مخلوقاتو ته وائی۔

٢- دارنګه هر هغه شے چه موجود دے په خارج کښې برابره ده که بالقوه وی او که بالفعل۔

٣- زجاجؒ فرمائی : [اَلْعَالَمُ : كُلُّ مَا خَلَقَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ]۔

(هر هغه شے چه الله تعالیٰ په دنیا ا وآخرت کښې پیدا کړیدے دیته عالم وائی)

٤- حسین بن مفضلؒ وائی : [اَهْلُ كُلِّ زَمَانٍ عَالَمٌ] ۔

(د هرے زمانے خلقو ته عالم وائی) ...... (فتح البيان للصديق حسن خان ١/٤٥)

عالَم ماخوذ دے د علامے نه عالَم ورته ځکه وائی (لدلالته علی الله) ځکه دا کائنات علامه ده د الله تعالیٰ په وجود، د هغه په قدرت :

وَفِــی کُــلِّ شَـیْءٍ لَـــهٗ آیَةٌ	❁	تَـدُلُّ عَـلَـی اَنَّـهٗ وَاحِـدٗ

(په هر شی کښې د الله د وحدانیت نښه ده) چه چا کښې لږ شان عقل وی۔

﴿ قُلِ انْظُرُوْا مَاذَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا تُغْنِی الْاٰیٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا یُؤْمِنُوْنَ ﴾

(یونس: ۱۰۱)

الله تعالیٰ فرمائی: دے آسمانونو او زمکو کښې اُوګورئ د الله تعالیٰ د پیژندلو څومره خیزونه دی۔ لیکن څوك چه ایمان نهٔ راوړی نو هغوی له فائده نهٔ ورکوی)۔

حکمة: هرکله چه عالَم (مفرد) ټول ماسوی الله ته وائی، جمع راوړلو ته ضرورت نهٔ وو، لیکن چونکه دلته د الله تعالیٰ د ربوبیتِ کامله اظهار مقصد وو، نو ددے وجه نه د عالَم جمع راوړے شوه چه شامل شی ټولو اجناسو دعالَم ته، مثلًا عالَم د جناتو، عالَم د انسانانو، عالَم د ملائکو او عالَم د وحوش او طیورو (حیواناتو)، عالَم د جماداتو، عالَم د مائعاتو، عالَم البر والبحر، عالَم الافلاك، عالَم خاکی، عالَم ناری، عالَم الجواهر، عالَم النور وَالظُّلَمَة وغیره۔ ددے ټولو ضرورتونه د یو بل نه مختلف دی لیکن الله تعالیٰ د ټولو ضروریات، د هغوی د احوالو او ظروفو او طبائع او اجسامو مطابق مهیا کوی۔ پدے جمله کښې یوه فائده دا ده چه الله عظیم ذات دے۔

۲- دویم دا چه په هغه توکل، په هغه اعتماد اُوکړے شی چه الله تعالیٰ د زمکے آسمان، ملائکو او پیریانو او ددے ټولو مخلوقاتو تربیت کوی نو زما ددے وړوکی بدن تربیت به نکوی څه؟ ولے نه!۔ په دنیا کښې ډیر زیات عالمونه دی چه اُوس سائنسدانانو د آلاتو په ذریعه کشف کړیدی چه هغه د انسانانو په دماغو کښې هم نهٔ راځی۔ د دریابونو اندازه چا نهٔ ده معلومه کړے۔ د ملائکو تربیت کوی۔ حدیث کښې راغلی دی په آسمانونو کښې د څلورو ګوتو په مقدار ځائے نشته مګر ملائك څوك په قیام او څوك په رکوع او څوك په سجده کښې مشغول دی۔

حکمة: الله تعالیٰ د عالَم نه مُستغنی دے لیکن دا مخلوقات ئے علامه ګرځولے ده په خپل ذات او په خپل وجود باندے، پدے کښې زمونږ دپاره فائده ده چه مونږ دے ته اُوګورو او خپل خالق او مُربی معلوم کړو۔ او دا د الله تعالیٰ عظیم احسان دے بندګانو سره۔ ددے وجه نه الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې د کائناتو تذکره بندګانو ته ډیره کوی چه ددے نه فائده واخلئ او د خپل رب معرفت پرے حاصل کړئ۔

فائده : رب العالمین راوړو کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ مستحق د حمد دے ذاتاً نو دارنګه وصفاً۔

په قرآن کریم کښې د عالمین لفظ اطلاقات او استعمالات

عالمین لفظ په قرآن کریم کښې دوه قسمه استعمالیږی۔ یو په ټولو موجوداتو ماسوی الله باندے اطلاق کیږی لکه دلته ئے همدا معنیٰ ده۔

۲- دویم عالمین کله صرف انسانان او پیرانو (مکلفینو) دپاره استعمالیږی۔ لکه سورة فرقان (۱) آیت ﴿تَبَارَكَ الَّذِىْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعَالَمِيْنَ نَذِيْرًا﴾ اګرکه دلته عمومی معنیٰ مراد کول هم بعید نهٔ دی ځکه چه ملائك، حیوانات، جمادات او زمکے او اسمانو نه هم د الله نه یریږی اګرکه مکلف صرف انسانان او پیریان دی۔

(الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم) اُوس بل دلیل راوړی چه الله تعالیٰ د صفتونو لائق دے ځکه چه رحمن او رحیم دے۔

د رحمن او رحیم ترمینځ فرقونه

دا دواړه د مبالغے صیغے دی چه پدے کښې د کثرت (ډیر والی) او دوام (همیش والی) معنیٰ پرته ده۔ ۱- ضحاك رحمه الله - نه نقل دی چه [اَلرَّحْمٰنُ بِالنِّسْبَةِ اِلَى السَّمَآءِ] دے یعنی هغه ذات چه آسمان والو باندے مهربان دے او [اَلرَّحِيْمُ بِالنِّسْبَةِ اِلَى الْأَرْضِ] دے، هغه ذات دے چه زمکے والو باندے مهربان دے۔

ضحاكؒ پدے کښې یوے نکتے ته اشاره کړیده هغه دا ده چه د آسمان والا بے ګناه دی نو د الله تعالیٰ رحم پرے ډیر دے او د زمکے والو ګناهونه شته نو ددے وجه نه رحم سره عذابونه هم وی۔ په آسمان کښې صرف رحمت دے، عذاب نشته نو په آسمان کښې مبالغه ده نو ځکه رحمن هغه پورے خاص کړو۔

۲- دویم فرق : [اَلرَّحْمٰنُ الَّذِىْ يُعْطِىْ اِذَا سُئِلَ] رحمٰن هغهٔ دے چه د سوال نه پس ئے ورکوی۔او [اَلرَّحِيْمُ :الَّذِىْ يَقْضِى الْحَاجَاتِ مِنْ غَيْرِ سُؤَالٍ] او رحیم هغهٔ دے چه بغیر د غوختلو نه حاجات پوره کوی ځکه زمونږ ډیر حاجتونه داسے دی چه زمونږ ورته فکر هم نهٔ وی او الله تعالیٰ پوره کړی دی، زمونږ په بدن کښې دننه دومره اندامونه دی او دومره رګونه او مشینریانے دی چه مونږ له ئے نوم هم نهٔ راځی او هغه لګیا دی کار کوی

زمونږ حاجت پوره کوی۔

۳- دریم فرق: ابوحیان په البحر المحیط کښ کړیدے [اَلرَّحْمٰنُ الَّذِیْ تَکْثُرُ رَحْمَتُهٗ وَالرَّحِیْمُ الَّذِیْ تَتَکَرَّرُ رَحْمَتُهٗ] رحمٰن کثیر الرحمة (ډیر رحمت والا) ته وائی او رحیم مکرر رحمت والا ته وائی چه بار بار رحمت کوی۔

۴- فرق: فراء بغویؒ وئیلی ډی [اَلرَّحْمٰنُ بِالنِّسْبَةِ اِلَی الدُّنْیَا والرَّحِیْمُ بِالنِّسْبَةِ اِلَی الآخِرَةِ] دے لکه دا مشهوره معنیٰ ده۔ لیکن دا قول غوره نهٔ دے روستو راځی۔

۵- پنځم فرق: [اَلرَّحْمٰنُ بِالنِّعَمِ الْجَلِیْلَةِ] رحمٰن هغه چا ته وائی چه غټ نعمتونه ورکوی او [رَحِیْم بِالنِّعَمِ الصَّغِیْرَة] دے۔ (بیضاوی) (چه واړه واړه نعمتونه ورکوی)۔

پدے کښ اشاره ده رد د مشرکانو ته چه الله تعالیٰ لکه څنګه چه غټ نعمتونه ورکوی نو واړه واړه نعمتونه هم ورکوی او دائے مخلوق او باباګانو او اُولیاؤ ته نهٔ دی سپارلی۔

۶- شپږم فرق: رحمٰن هغه ذات ته وائی چه استعمالیږی (لِجَلْبِ الْمَنْفَعَة) (د بندګانو د فائدے ورکولو دپاره یعنی بندګانو ته فائدے ورکوی او رحیم استعمالیږی (لِدَفْعِ الْمَضَرَّة) (یعنی چه خلقو نه ضرر دفع کوی)۔ نو الله رحمٰن هم دے خلقو ته فائدے ورکوی او رحیم هم دے ضررونه دفع کوی۔

۷- مشهوره دا ده چه رحمٰن هغهٔ دے چه عام مخلوق له نعمتونه ورکوی، کافر وی که مسلمان، او رحیم خاص په مؤمنانو دے په آخرت کښ۔

۸- راجح او غوره دا ده چه رحمٰن کښ معنیٰ د مبالغے ده یعنی ډیر احساناتو کولو والا په یو ځل۔ یعنی رحمٰن بے حده مهربان ته وائی، دا وجه ده چه مخلوق ته رحمٰن وئیل جائز نهٔ دی۔ او رحیم د فعیل وزن دے او دا غالباً د صفت مشبه وزن وی چه په معنیٰ کښ ئے دوام دے۔ یعنی همیشه دپاره رحم کونکے، همیشه انعامات کولو والا۔

علامه قاسمیؒ رحمه الله فرمائی:

[وَالْأَصَحُّ اَنَّ الرَّحْمٰنَ وَصْفٌ فَعْلِیٌّ فِیْهِ مَعْنَی الْمُبَالَغَةِ وَیُسْتَعْمَلُ فِی الصِّفَاتِ الْعَارِضَةِ کَعَطْشَان وَغَرْثَان وَاَمَّا الرَّحِیْمُ فَیَدُلُّ عَلَی الْمَعَانِی الثَّابِتَةِ کَالْاَخْلَاقِ فَاِنَّهٗ عَلٰی وَزْنِ حَکِیْمٍ وَکَرِیْمٍ وَهُوَ یَدُلُّ عَلَی الثُّبُوْتِ فَجَاءَ بِالرَّحِیْمِ بَعْدَهٗ دَفْعًا لِتَوَهُّمِ انْقِطَاعِ الرَّحْمَةِ]

او دا تفسیر ځکه غوره دے چه د ټولو نه ډیره صحیح طریقه د تفسیر د قرآن تفسیر کول دی خپله په قرآن سره او دا تفسیر د قرآن کریم د دوه آیتونو نه معلومیږی۔ ﴾

وَرَحۡمَتِيۡ وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٍ﴾ سورة الاعراف (۱۵۶) (رحمت د الله تعالیٰ هر شی ته پراخه دے)۔ ﴿رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٍ رَّحۡمَةً وَعِلۡمًا﴾ سورة مومن (۷)

نو دا د رحمٰن معنیٰ ده چه رحمت ئے زیات او عام دے، بے حده مهربان دے۔

﴿كَتَبَ عَلٰى نَفۡسِهِ الرَّحۡمَةَ﴾ سورة الانعام (۱۲) (۵٤)

(الله تعالیٰ په ځان رحمت لیکلے دے) همیشه رحم والا دے۔ او دا معنیٰ د رحیم ده۔

ددے خبرے وضاحت پدے طریقه کیږی چه رحمان د فعلان وزن دے دا وزن اکثر د مبالغے او د صفات عارضه ؤ دپاره استعمالیږی لکه عطشان معنیٰ تږے او غرثان او جوعان وزن چه معنیٰ ئے د وږی ده۔ نو سړے همیشه تږے او وږے نهٔ وی لږ ساعت تږے او وږے شی نو په رحمٰن کښ مبالغه ده، خو صفت عارضی دے، لفظ د رحیم د مبالغے سره سره صیغه د صفتِ مشبه ده پدے کښ د ثبوت او د دوام معنیٰ پرته وی [تَدَلُّ عَلَى الۡمَعَانِي الثَّابِتَةِ] په هغه معنیٰ باندے دلالت کوی چه په هغے کښ همیشه والے وی لکه اخلاق، کریم، حکیم، نو ددے دا معنیٰ نهٔ ده چه لږ ساعت عزتمند شو او حکمت والا شو او بیا ختم شو۔ نو اُوس معنی دا شوه چه رحمان هغه ذات دے چه په یو ځل باندے ډیر بے حده رحم اُوکړی خو بیا منقطع شی بیا ئے اُوکړی بیا منقطع شی، نو د رحمٰن معنی: بے حده مهربان او رحیم هغه ذات دے چه د هغهٔ رحمت همیشه دپاره دے، هیڅکله ئے نهٔ منقطع کوی نو د الله تعالیٰ رحمتونه دوه قسمه دی یو هغه دی چه عارضی وی، په مونږ باندے یو ځل اُوشی بیا منقطع شی، لکه الله تعالیٰ درله علم درکړو، د حج ویزه دِے راوختله، فتح او غلبه اُوشوه نو دا عارضی نعمتونه دی، الله تعالیٰ ئے کوی خو بے حده او ډیر دی او د رحیم معنیٰ دا چه د الله تعالیٰ په مونږ باندے همیشه او دائمی رحمتونه هم شته۔ لکه زمونږ د بدن هر اندام، آسمان، زمکه، ورځ او شپه لکه قرآن کښ دی ﴿وَمِنۡ رَّحۡمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ﴾ [القصص:۷۳] اُوبه، خوراك، ونے او بوټی دی۔ نو دا غوره فرق دے، او پدے بنیاد باندے معنیٰ کول غوره دی۔

او د فراء رحمه الله دا تفسیر چه رحمٰن د دنیا سره تعلق لری او رحیم د آخرت سره– صحیح نهٔ دے ځکه حدیث کښ راځی [رَحۡمٰنَ الدُّنۡيَا وَالۡآخِرَةِ وَرَحِيۡمَهُمَا]

(طبرانی صغیر ۱/۳۳٦) باسناد جید والحاکم (۱/٦۹٦) و صححه۔ مجمع الزوائد ۱۰/۱۸٦)

(الله تعالیٰ د دنیا او د آخرت رحمان هم دے او رحیم هم دے)

۹- بل فرق دا هم دے چه رحمان عام دے او رحیم کامل دے۔
یعنی د الله تعالیٰ رحمت ډیر او عام دے او کامل هم دے، او دا اعلیٰ درجه د رحمت ده چه عام هم وی او کامل هم وی۔

فائده : رحمت د الله تعالیٰ حقیقی صفت دے څنګه چه د هغهٔ د شان مناسب او لائق وی او معنیٰ ئے ده فضل او احسان او انعام کول۔ او په دے کښ تاویل کول د الله تعالیٰ د صفت نه انکار دے۔ نو هغه متکلمین څومره محروم دی چه د الله تعالیٰ د رحمت نه انکار کوی او وائی مراد د رحمتِ نه صرف انعام دے !۔

حکمة : د رب العالمین نه بعد د رحمن رحیم راوړو حکمت دا دے :

۱-[اِشَارَةٌ اِلٰی اَنَّ تَعَلُّقَ الرَّبِّ بِعِبَادِهٖ تَعَلُّقَ الْاَبِ الرَّحِیْمِ لَا الْمُنْتَقِمِ الظَّلِیْمِ] (فی ظلال القرآن)
(اشاره ده چه تعلق د رب د خپلو بندګانو سره داسے دے لکه د رحم کونکی پلار تعلق د خپلو بچو سره، او داسے نهٔ دے لکه د ظالم او انتقام اخستونکی) یعنی الله تعالیٰ په بندګانو ظلم هم نهٔ کوی او بغیر د څه جرم نه تربے انتقام هم نهٔ اخلی۔ بلکه د الله تعالیٰ رحمت غالب دے۔

۲- [اِشَارَةٌ اِلٰی اَنَّ تَرْبِیَتَهٗ لِعِبَادِهٖ لَیْسَ لِضَغْطِ اَحَدٍ وَلَا لِجَلْبِ مَنْفَعَةٍ اِلٰی نَفْسِهٖ وَاِنَّمَا ذٰلِكَ لِرَحْمَتِهٖ] (اشاره ده دے ته چه د الله تعالیٰ تربیت د بندګانو دپاره د چا د زور په وجه نهٔ دے او نهٔ د فائدے راخکلو دے ځان ته، بلکه دا تربیت د هغه د رحمت د وجه نه دے)۔

۳- د قرآن کریم اسلوب (طریقه) دا دے چه ترهیب د ترغیب سره ملګرے کوی نو په رب العالمین کښ ترهیب وو او په الرحمن الرحیم کښ ترغیب دے۔

فائده : د الله رب العالمین د رحمت انتهاء مخلوق ته نهٔ ده معلومه، په دے وجه د رحمٰن اطلاق په بل چا جائز نهٔ دے۔ (قرطبیؒ) د الله تعالیٰ د رحمت اندازه د دے حدیث نه لرہ اُوکړه ! [اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ مِائَةَ رَحْمَةٍ اَنْزَلَ مِنْهَا وَاحِدَةً وَبِهَا یَتَرَاحَمُ الْخَلْقُ وَبِهَا تَتَعَاطَفُ الْوُحُوْشُ عَلٰی وَلَدِهَا- الحدیث]

(مسند احمد : ۱۱۵٤۷، ورواه البخاری : ٦۰۰۰ ومسلم ۷۱۵۱: نحوه)۔

(الله تعالیٰ سل رحمتونه پیدا کړیدی یو ئے د هغے نه (دنیا ته) نازل کړیدے او د دے (یو رحمت) په وجه ټول مخلوقات په یو بل رحمت کوی او د دے په وجه حیوانات په خپلو بچو مهربانی کوی او کله چه د قیامت ورځ راشی نو الله تعالیٰ به سل واړه رحمتونه

پوره کړی او په هغې سره به په بندګانو رحم کوی)۔

د الله تعالیٰ رحمت په هر انسان باندې شوې دې، هر قسم، لږ استحضار خو اُوکړه۔ پیدائش، ایمان، رزق، صحت، علم، دنیا او آخرت، قرآن او حدیث، صحیح عقیده، اتباع د سنت، د ګناه پټول او د نیکی ښکاره کیدل، چه هغه بې حسابه او بې شماره دی نو کله چه ته ددې تدبر اُوکړې نو ته به د رحمٰن په معنیٰ پوهه شې او د هغه سره به دې محبت پیدا شی او همدا استحضار د قرآن کریم د لوستلو مطلب دې۔

سوال : هر کله چه په لفظ د رحمٰن کښې ډیره مبالغه ده نو دې نه روسته ئې رحیم ولې راوړو؟ **جواب** : ۱- پدې سره دا ګمان دفع کوی چه ګنې د الله تعالیٰ رحمت به منقطع کیږی نو په رحیم کښې ئې اشاره اُوکړه دوام ته۔ ۲-دویم دا چه د رحمت دوه نوعې شوې یو عارضی او بل مستمر او دائمی نو دواړو ته اشاره شوه۔

سوال : بسم الله کښې د رحمن او رحیم راوړو نه روسته بیا د رحمن او رحیم د ذکر څه فائده ده؟ نو ددې یو څو وجې دی ۱- اوله وجه دا ده [لِيَدُلَّ عَلٰى اَنَّ التَّسْمِيَةَ لَيْسَتْ مِنَ الْفَاتِحَةِ] (چه دلالت اُوکړی چه بسم الله د فاتحې نه جزء نۀ دې)۔

دا وجه بعض مفسرینو لیکلې ده لیکن دومره قوی نۀ ده۔

۲- وجه : [لِلدَّلِيْلِ عَلَى الدَّعْوٰى] په بسم الله کښې ذکر شو دپاره د طلب د استعانت او دلته ذکر شو دپاره د دلیل چه الله تعالیٰ دپاره حمدونه څکه ثابت دی چه هغۀ رحمتونو والا دې۔

۳- وجه : [لِدَفْعِ الْهَيْبَةِ الْحَاصِلَةِ] په بسم الله کښې چه د الله تعالیٰ نوم ذکر شو نو وجل او هیبت پیدا شو نو د هغې د زائل کولو دپاره ئې په رحمٰن رحیم سره بشارت ورکړو او دلته رب العالمین ذکر شو نو امید د انعاماتو پیدا شو نو د امید د تائید دپاره ئې دوباره راوړل۔

٤- وجه : [فِيْهِ اِشَارَةٌ اِلٰى غَلَبَةِ الرَّحْمَةِ] پدې کښې اشاره ده غلبې او فراخوالی د رحمت د الله تعالیٰ ته۔ څکه حدیث کښې دی : [سَبَقَتْ رَحْمَتِىْ غَضَبِىْ]

[بخاری: ۷۵۵۳ ومسلم: ۷۱٤٦، ٤/۲۱۰۷-عن ابی هریرة]

(زما رحمت زما په غضب باندې غالب او مقدم دې) او الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَرَحْمَتِىْ وَسِعَتْ كُلَّ شَىْءٍ﴾ (اعراف :۱۵٦) (زما رحمت هر شی ته فراخه دې)۔

[احسن الکلام لشیخنا القمقام السید عبد السلام -رحمه الله]

د الله د رحمت د حاصلیدو اسباب

هرکله چه د الله تعالیٰ رحمت ډیر زیات او فراخه دے، نو اُوس هر انسان- اگرکه کافر دے هغه هم- ددے طمع لری نو دا به چا ته حاصلیږی؟ ددے اهل به څوك وی؟ نو ددے د حاصلولو دپاره یو څو اسباب او اعمال دی چه څوك هغه اختیار کړی نو الله تعالیٰ ئے په خپل رحمت کښ داخلوی:

۱- اَلْإِحْسَان : (د الله تعالیٰ داسے بندگی کول گویا کښ ته الله تعالیٰ وینے، یا داسے یقین سره چه الله تعالیٰ تا ته گوری) ﴿إِنَّ رَحْمَةَ اللهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ﴾ (اعراف:۵۷)۔

۲- اَلتَّقْوٰى (۳) اَلزَّكٰوة (٤) اَلْإِيْمَانُ بِالآيَات ۔ (د الله تعالیٰ په آیتونو باندے ایمان راوړل)

۵- اِتِّبَاعُ الرَّسُوْل ۔(د رسول الله ﷺ په هر کار کښ تابعداری کول) دا تول په یو آیت کښ ذکر دی ﴿فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بآيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ......الآية﴾ (اعراف:۱۵٦/۱۵۷)۔

٦ - [اَلشَّهَادَةُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ] ۔(څوك چه د الله تعالیٰ په لار کښ شهید شی) ﴿وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُوْنَ﴾ (آل عمران:۱۵۷)۔

۷- [اِطَاعَةُ اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ]

(د الله تعالیٰ او د هغه د رسول اطاعت کول) ﴿وَاَطِيْعُوا اللهَ وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ [آل عمران:۱۳۲]

۸ - [اَلْإِنْصَاتُ وَاسْتِمَاعُ الْقُرْآن] ۔(قرآن کریم اَوریدل او هغے ته په توجه سره غوږ کیخودل) ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهُ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ (اعراف:۲۰٤)۔

۹- [اَلْإِسْتِغْفَارُ] (استغفار طلب کول) ﴿لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ (النمل:٤٦)

۱۰- [خَوْفُ عَذَابِ اللّٰهِ الدُّنْيَوِيِّ وَالْأُخْرَوِيِّ] ۔

(د الله تعالیٰ د دنیا او د آخرت د عذاب نه یریدل)

﴿وَلِيُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ (اعراف:٦٣)

۱۱- اَلْإِصْلَاحُ بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ] (د مؤمنانو ترمینځ اتفاق او جوړ جاړے راوستل)

﴿فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ﴾ (الحجرات:۱۰)۔

۱۲- [اَلصَّبْرُ عَلَى الْمَصَائِبِ] (په مصیبتونو باندے صبر کول) ﴿أُولٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ﴾ (البقرة:۱۵۷)۔

۱۳ - [اَلْإِيْمَانُ بِاللّٰهِ وَالْإِعْتِصَامُ بِهٖ] (په الله تعالیٰ ایمان راوړل او په هغه باندے منګولے لګول) ﴿فَاَمَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ﴾ (النساء:۱۷۵)

۱۴ - [اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ].(د الله تعالیٰ په لار کښې جهاد کول) ﴿يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ﴾ (التوبة:۲۱)

۱۵ - [اَلْإِيْمَانُ بِالرَّسُوْلِ وَتَقْوَى اللّٰهِ] (د الله په رسول باندے صحیح ایمان راوړل او بیا تقویٰ اختیارول) ﴿يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَآمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ﴾ (الحديد:۲۸).

دا ټول د قرآن کریم نه ماخوذ صفات دي. الله تعالیٰ دِے مونږ ددے صفاتو اهل اُوګرځوی چه د الله تعالیٰ په رحمت کښې داخل شو. وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ.

په «الفوائد» (۱) کښې یوه فائده لیکلے شویده چه په هغے کښې د رحمت د حاصلیدو (۶۷) اسباب خودلے شویدی مفصلاً.

(مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ) :. اُوس بل دلیل ذکر کوی دغه الله تعالیٰ ځکه د صفتونو لائق دے چه مالك دے د ورځے د جزاء. مالك معنیٰ ده: اختیار مند، واکدار دے د ورځے د جزاء.

تعریف د مالک : مالك وئیلے کیږی [اَلْمُتَصَرِّفُ فِي الْاَعْيَانِ الْمَمْلُوْكَةِ بِاخْتِيَارِهٖ كَيْفَ يَشَآءُ] (بیضاوی) (یعنی هغه ذات چه په خپلو مملوکاتو کښې په خپله طبع او اختیار تصرف کوی) یعنی په څیزونو باندے ئے داسے قبضه کړی وی چه په هغے کښې د تصرف کولو په خپله خوښه قدرت لری.

۲ - دویم تعریف : [اَلْقَادِرُ عَلَى اسْتِخْرَاجِ الْاَعْيَانِ مِنَ الْعَدَمِ اِلَى الْوُجُوْدِ]

(الله ته مالك پدے معنیٰ وائی چه قادر دے په راویستو د اعیانو (ذواتو) د عدم نه وجود ته) (معالم التنزیل د امام بغویؒ)

دا د مالك خپله معنیٰ نهٔ ده بلکه التزامی معنیٰ ده.

مناسبت : ۱- نو مخکښې سره ددے آیت یو مناسبت دا دے چه دا دلیل شو د الحمد لله دپاره.

۲- دویم: ددے مناسبت د رب العالمین سره دے چه الله تاسو ته رحمتونه درکړل نو سوال دا پیدا شو چه ددے نعمتونو کښې به دا بندګان پابند وی که آزاد ؟

نو جواب ئے دا دے چه ددے نعمتونو حساب شته، پابندی پکښې ده، ځکه الله مالك

يوم الدين دے او د جزاء ورځ شته دے۔

۳- يو بـنـه مـنـاسـبـت دا هـم دے چـه اثبات د معاد (آخرت) رحمت دے، ځکه په آخرت کښې به د الله تعالىٰ كامل رحمت او عدل رابنکاره کیږی او عدل د الله تعالىٰ عین رحمت دے لکه پدے باندے دلیل قول د الله تعالىٰ دے ﴿كَتَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَارَيْبَ فِيْهِ﴾ (انعام: ۱۲)

سوال : الله تعالىٰ خو لکه څنګه چه د قيامت د ورځے مالك دے نو دغه شان د ټولو ورځو مالك دے؟ نو تخصيص ئے ولے اُوکړو؟۔ **جواب** : پـه دنيا کښې عارضى طور سره ماتحت الاسباب نـورو تـه هـم مـجـازاً اختيار شته امتحاناً، او په آخرت کښې هيچا ته مجازاً اختيار هم نشته۔ قيامت کښې به داسے زمکه وی چه د هيچا نښے به پرے نهٔ وی۔

۲- دارنګه تخصيص د يو شي په ذکر سره نفی د ما عدا نهٔ کوی۔

۳- يا عمومی ملکيت د الله تعالىٰ په رب العالمين کښې ذکر شو ځکه د رب يو معنىٰ مالك ده نـو مالك العالمين کښې عموم دے او دلته تخصيص د ملکيت اُوشو په قيامت پورے۔ نو دا تخصيص بعد التعميم دے چه الله د دنيا او آخرت دواړو مالك دے خو د يوم الدين خصوصی مالك دے نو پدے کښې استحضار الآخرة هم غرض دے۔

٤- يوم الدين ئے خاص کړه د وجه د هيبت د دغه ورځے نه۔

٥- تفسير سراج المنير (۱/۱۸) ليکی : هرکله چه الله تعالىٰ ډير رحمت خپل ذکر کړو نو په مالك يوم الدين کښې ئے تخويف ورکړو ګويا کښې داسے ئے اُووئيل : [لَا تَغْتَرُّوْا بِذٰلِكَ فَـاِنِّيْ مَالِكُ يَوْمِ الدِّيْنِ] د الله پـه ډيـر رحـمـت دوهوکه نشئ چه د هغه خلاف شروع کړئ ځـکـه چـه الله تـعالىٰ مالك د ورځے د جزاء دے سزاء به درکړی۔ آه۔ نو ګويا کښې خوف او رجاء ئے راجمع کړل۔ ليکن دا وجه غوره نهٔ ده۔

فائده : دلته بل قراء ت کښې مَلِكِ يوم الدين دے، هغه هم متواتر قراء ت دے۔

بيا **فـرق د مالک او ملک** (بـادشـاه) پـه ډيـرو طـريـقـو سره دے (۱) مالك عام دے او مِلك خاص دے۔ (۲) غلامان مالك لره نشی معزول کولے په خلاف د مَلِك نه۔

۳- پـه غـلامـانـو بـانـدے خـدمـت د مـالك واجب دے، پـه خلاف د مَلِك نه چه د هغه خدمت په رعيت واجب نهٔ وی۔ اګرکه اطاعت فی المعروف ئے شته۔

٤- غـلام بـلا اجـازت د مـالك نـه کار نشی کولے او رعيت د مَلِك د اجازت نه بغير هم

کار کولے شی۔
پدے وجه لفظ د مالك غوره دے په مَلِك۔ لیکن دا فرقونه د انسان په باره کښې دی، الله تعالیٰ مِلِك هم دے او مالك د بندګانو هم دے۔
فائده : کلمه د مَلِك په قرآن کریم کښې (۱۳) کرته راغلے ده او مالك (۳) کرته او (مَالِکُوْنَ) یو کرت (۱) سورة یس (۳۲) آیت کښې۔
او مَلِك هغه ذات دے [اَلَّذِیْ یَتَصَرَّفُ فِیْ خَلْقِهٖ بِالْاَمْرِ وَالنَّهْیِ] (چه په امر او نهی سره په انسانانو کښې تصرف کوی) او دا خاص دے په سیاست د ناطقینو پورے ددے وجه نه ملك الناس وئیلے شی او مَلِك الاشیاء نشی وئیلے۔ او ملك یوم الدین چه راغلے دے نو د هغے معنیٰ ده (مَلِك فی یوم الدین) یعنی بادشاه دے په ورځ د قیامت کښې۔ (مفردات راغب)
فائده : په لفظ د مالك کښې د انسانانو مملوکیت او ذلت او عجز ته اشاره ده او په کلمه د مَلِك کښې د الله تعالیٰ هیبت او عظمت ته اشاره ده نو د قیامت په ورځ به په انسانانو دوه قسمه هیبتونه طاری او جاری وی (۱) یو هیبت د خپلے کمزورئ او مملوکیت۔
او (۲) دویم د الله سبحانه وتعالیٰ د عظمت او ملوکیت۔ دارنګه دنیا کښې که چا د الله رب العالمین دغه مذکوره دواړه خبرے استحضار کړے نو د عبادت په لذت او حلاوت به پوهه شی۔ لکه روستو په لفظ د عبادت کښې رازی۔
یوم : لفظ د یوم په قرآن کریم کښې (۳۴۹) کرته استعمال شویدے۔

د یوم لفظ معانی

د یوم مختلفے معانی دی :۱- : کله د یوم نه د قیامت ورځ مراد وی یعنی د دنیا آخر سر او د آخرت اول سر او دا ورځ پنځوس زره کاله ده۔ دیته یوم القیامة هم وائی او یوم الدین هم۔ بیا روسته له دے نه یوم الخلود دے (بیا یا په جنت کښې همیش والے دے او یا په جهنم کښې همیش والے دے– اَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْهَا) دا هم قیامت دے۔ لیکن د پنځوس زره کالو نه روسته بیا بل قسم فیصله ده او د پنځوس زره کاله اُودریدل او حسابونه، عذابونه او غمونه او دردونه دی د هغے نه روستو په جنت یا جهنم کښې همیشوالے دے چه هغه هم د قیامت حصه ده خو د هغے انتهاء نشته دے اول ئے شته او آخرئے نشته۔او

دا شروع کیږی د دویمے شپیلئ نه په کوم سره چه به خلق د زمکے نه راوځی۔
۲- یوم کله وقتِ مقرره ته وائی چه د سهار نه تر ماښام پورے وی چه مونږ ورته ورځ وایو۔ په عربئ کښې ورته نهار وائی۔ (دا په عرف کښې د طلوع الشمس نه تر غروب الشمس پورے وی او په شریعت مطهره کښې د طلوع الفجر الثانی نه تر غروب الشمس پورے ده) (فتح البیان)
۳- دریم ددے اطلاق په لږ ساعت او مطلق زمانه او وقت ممتد باندے هم کیږی لکه ﴿وَمَنْ يُّوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ﴾ (انفال: ۱٦) ﴿اَلَا يَوْمَ يَاْتِيْهِمْ لَيْسَ مَصْرُوْفًا عَنْهُمْ﴾ سورة هود (۸)
دا معنیٰ قرآن کریم کښې هم استعمال ده او په لغت عربی کښې هم۔

د قیامت د ورځے نومونه

قرآن کریم کښې د قیامت د ورځے ډیر نومونه راغلی دی، تقریباً (۳۲) ته رسیږی، دا ډیر نومونه ورته د هیبت، عظمت او ثقل د وجه نه ایخودل شویدی۔ بعض د هغینه دا دی: (۱) یوم الدین (۲) یوم القیامة (۳) الساعة (٤) الواقعة (۵) الحاقة (٦) القارعة (۷) الطامة الکبریٰ (۸) الصاخة (۹) یوم الحسرة (۱۰) یوم التناد (۱۱) یوم التلاق (۱۲) یوماً ثقیلًا (۱۳) یوم الاشهاد (۱٤) یوم مشهود (۱۵) یوم الموعود (۱٦) یوم العرض الاکبر۔
او داسے نور نومونه هم شته چه دوه دیرش فقط په قرآن کښې راغلی دی او حدیثونو کښې هم شته۔
الدین: دین په معنیٰ د جزاء او حساب سره دے که خیر وی او که شر۔ (فتح البیان)۔

د دین لفظ معانی

لفظ د دین قرآن کښې (٦۷) کرته راغلے دے په ډیرو معنو سره:
۱- دان یدین په معنیٰ د حساب او جزاء سره راځی لکه (کَمَا تَدِيْنُ تُدَانُ) او ﴿اِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ﴾ [الذاریات: ٦] يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ (ماعون: ۱) ﴿وَمَا اَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الدِّيْنِ﴾ (انفطار: ۱٦)
۲- دین بمعنی العقیدة لکه۔ ﴿لَا اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ﴾۔ سورة البقره (۲۵٦)
۳- اَلدِّيْنُ بِمَعْنَى الشَّرِيْعَةِ: کوم چه الله تعالیٰ رالیږلے دے یعنی اوامر او نواهی (احکام) او دیته دین ځکه وائی چه په دے بدلے ملاویږی۔
﴿اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ﴾ سورة آلعمران (۱۹)

٤- دين په معنىٰ د الغلبة (په دشمن باندے غلبه)

﴿ فَلَوْلَا إِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ ﴾ سورة الواقعة (٨٦) - يعنى غَيْرَ مَغْلُوبِينَ۔

٥- دين په معنىٰ د طاعت :

﴿ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ ﴾ سورة التوبة (٢٩) يعنى [لَا يُطِيعُوْنَ دِيْنَ الْحَقِّ] او

﴿ وَلَهُ الدِّيْنُ وَاصِبًا﴾ سورة نحل (٤٢)

٦- الدين په معنى د القانون الملكى: (بادشاهى قانون) ﴿ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِيْنِ الْمَلِكِ﴾ سورة يوسف (٧٦)

٧- دين په معنى د الحد الشرعى : (حدود شرعيه ۇ ته هم دين وائى) ديته تسمية الجزء باسم الكل وائي، د دين يوه حصه ده او د دين نوم ورته كيخودل شويدے۔

﴿ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِيْنِ اللهِ﴾ سورة نور (٢) [اَىْ فِىْ إِجْرَاءِ حَدِّ اللهِ]

٨- دين په معنىٰ د عبادت سره: لكه ﴿ فَاعْبُدِ اللهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّيْنَ أَلَا لِلهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ﴾ سورة زمر (٢) [أَيِ الْعِبَادَةُ الْخَالِصَةُ]۔

٩- دين په معنىٰ د دعاء سره : لكه ﴿ فَادْعُوا اللهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ﴾ مؤمن (١٧) آية۔

دلته ظاهر معنىٰ دا ده : مالك د ورځ د جزاء دے۔ مطلب دا دے چه سزاء او جزاء به په دغه ورځ صرف د الله تعالىٰ وى د بل هيچا به هيڅ اختيار نهٔ وى لكه ﴿ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِلهِ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ﴾ (الحج: ٥٦)

دارنګه فرمائى : ﴿ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ (المؤمن : ١٦)

نو ځكه مؤمن له د الله تعالىٰ رضا كول او د هغه حمدونه وئيل ډير ضرورى شو۔

٢- ديكښ بعيده معنىٰ دا هم ده چه دين دلته په معنىٰ شريعت شى او عبارت به بناء شى په حذف د فعل باندے۔ اصل كښ داسے دے : [مَالِكُ يَوْمٍ يُجَازَى بِالدِّيْنِ] (اختيار مند د هغه ورځے دے چه خلقو ته به په دين او شريعت باندے جزاء او سزاء وركولے شى)

دا معنىٰ جائز ده ليكن تقديرات پكښ زيات دى، لهذا بعيده ده۔ او ددے او د مخكنۍ معنے حاصل مطلب يو راوځى۔

فائده: تردے ځائے پورے د الله تعالىٰ ښكاره پنځه نومونه ذكر شو۔

حكمة : د پنځه نومونو د خاص كولو : ١- يو حكمت دا دے : حافظ ابن القيمؒ په (مدارج السالكين) كښ فرمائى : دا پنځه صفتونه ئے ځكه خاص كړيدى چه دا د الله

تعالیٰ د ټولو صفاتو مرجع او خلاصه ده۔ د الله تعالیٰ بعضے صفات د اُلوهیت دی نو دا داخل دی په لفظ د (الله) کښ۔ او صفات د تربیت، تدبیر، تصرف او قدرت داخل دی په کلمه د (رب) کښ۔

او صفات جمالیه (د احسان، سخاوت، رحمت او شفقت) راجع دی (رحمن او رحیم) ته۔ او صفات جلالیه لکه (القهار، الجبار، ذوالجلال، العظیم، الجلیل، الکبیر، المتعالی، المنتقم، الضار، الهادی المعز المذل) دیته په مالك یوم الدین کښ اشاره ده، او دا د قرآن کریم کمال او جامعیت دے۔ چه په لږو کلماتو کښ ډیرو فائده مندو علومو ته اشاره کوی۔

۲- خطیب شربینیؒ لیکلی دی چه د پنځه نومونو د تخصیص سبب دا دے چه ګویا کښ الله تعالیٰ اُوفرمایل : اے بنده ! ما ته اول کښ پیدا کړے نو زهٔ ستا الله یم، بیا مے د نعمتونو په موجودولو ستا تربیت اُوکړو، نو زهٔ رب یم، بیا ته عصیان (ګناه) کوے او ما دربانده پرده اچولے ده، نو زهٔ رحمٰن یم، بیا مے تا له د توبے توفیق درکړو نو زه رحیم یم، بیا تا ته جزاء رسول هم ضروری دی نو زهٔ مالك یوم الدین یم۔ (تفسیر السراج المنیر ۱/ ۱۷)

﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ﴾

پدے آیت کښ نتیجه د دعوے ده، چه دعویٰ سره د دلیلونو نه ثابته شوه یعنی حمدونه او د کمال ښکلے صفتونه الله تعالیٰ لره ثابت دی په دغه دلائلو سره نو نتیجه دا شوه چه د هغهٔ عبادت به کولے شی او د هغهٔ نه به مدد طلب کولے شی۔ او په نتیجه کښ ئے عبادت ذکر کړو ځکه چه دا د مؤمن اُوچته مرتبه ده۔ قال الشاعر :

لَا تَدْعُنِيْ اِلَّا بِيَا عَبْدَهَا	فَاِنَّهُ اَشْرَفُ اَسْمَائِنَا

دعبادت لغوی معنیٰ : د عبادت لغوی معنیٰ ده ذلت او خشوع او خضوع۔ لکه طریق معبد۔ یعنی هغه لاره چه مذلل ده۔

د عبادت تعریف : په شریعت اسلامیه کښ عبادت :

۱- [اَلطَّاعَةُ مَعَ غَايَةِ الْخُضُوْعِ وَالتَّذَلُّلِ عَلٰى وَفْقِ مَا كُلِّفَ بِهٖ مَعَ اعْتِقَادِ اُلُوْهِيَّةِ الْمَعْبُوْدِ]

(طاعت کول دی سره د ډیرے عاجزئ نه، موافق د تکلیف شرعی سره، سره د عقیدے د اُلوهیت د معبود نه) نو کوم اطاعت چه بغیر د خضوع او تذلل نه وی نو هغه عبادت نهٔ

دے لکه طاعت د رسول یا د امیر یا د امام بغیر د معصیت نه۔
دارنگه خضوع او تذلل بغیر د طاعت نه عبادت نهٔ دے لکه اصحاب الباطن او متصوفه چه خضوع الی الله خو پکښې شته لیکن طاعت د هغه نهٔ کوی، دارنگه طاعت بغیر د موافقت د قرآن او سنت نه عبادت نهٔ دے، دارنگه طاعت او خضوع بغیر د عقیدے د الوهیت نه هم عبادت نهٔ دے۔ (احسن الکلام)
(۲) هِيَ بَذْلُ الْوُسْعِ فِيْ طَاعَةِ اللّٰهِ تَعَالٰى مَعَ مُرَاقَبَةِ عَظَمَتِهٖ وَخَوْفِهٖ۔ [روح البیان]
(د الله په طاعت کښې خپل کوشش لګول سره د لحاظ د عظمت او خوف د هغه نه)
۳- دارنگه عبادت هر هغهٔ عمل ته وائی چه په هغے کښې د کمالِ محبت سره انتهائی درجه خشوع او خضوع او خوف وی۔ (ابن کثیر ۱/۱۳٤)
یعنی د کوم ذات سره چه محبت هم وی او د هغهٔ مافوق الاسباب طاقت مخے ته د خپلے عاجزئ او کمزورئ اظهار هم وی او د اسباب او مافوق الاسباب ذرائعو سره د هغه د رانیولو نه یره هم وی دیته عبادت وائی۔
او دا په اصل کښې هغه ذلت دے چه انسان عزتمند کوی۔ ذلتونه په دوه قسمه دی: الله تعالیٰ ته چه ډېر ځان ذلیله کړو، عزتمند به شے، او چه الله تعالیٰ باندے ډېر ځان عزتمند اُوګنړلو، او عبادت ډېر ورله پریخودو، نو الله سبحانه به ډېر ذلیله کړی، لکه دا دواړه خبرے قرآن کریم کښې راغلی دی﴿ وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَالَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ﴾ (الحج: ۱۸)
﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا﴾ (مریم:۹٦)
٤- دارنگه د عبادت معنیٰ ده د چا د رضا دپاره د انتهائی تذلل او عاجزئ او د کمالِ خشوع اظهار۔ (احسن البیان)
۵- د خوف، رجاء او محبت جمع کولو ته عبادت وائی۔ چه ته د الله تعالیٰ د محبت د وجے نه، د هغه د ویرے د وجه نه، د هغه نه د امید د وجه نه عمل کوے نو دا عبادت دے، نو کله چه ته عمل کوے د رواج، عادت یا د مخ ملازے د وجه نه، د الله تعالیٰ محبت پکښې غرض نهٔ وی نو دا عبادت نهٔ دے لکه ډېر داسے سپین ګیری وی چه مسجدونو ته ډېر ځی راځی، تهجد هم کوی، ذکرونه هم کوی، لیکن د هغه په عبادت کښې د ذرے هومره اثر نهٔ وی، نهٔ ئے په مخ کښې اثر وی، نهٔ ئے په عمل کښې اثر وی، ځکه هغه عمل د عادت په بناء کوی او دا درے مادے د عبادت پکښې نهٔ وی۔

حافظ ابن قيمؒ په (مدارج السالكين) كښې فرمائي : عبادت په دوه مادو مشتمل دے، كه هغه د الله تعالىٰ دپاره چا كښې راغلے نو د الله تعالىٰ عبادت دے، او كه د غير دپاره راغلے نو د غير عبادت دے، چه هغه ډيره مينه او ډير محبت سَره د ډير ذلت نه. نو كه يو سړے په ډيره عاجزئ عبادت كوى ليكن محبت د الله تعالىٰ ئے په زړه كښې نۀ وى نو دا عبادت نۀ دے او كه ډير محبت وى او عاجزى او ذلت نۀ وى، چه كله غوړونو كښې ګوتے وهى او كله ګيره كښې او يا داسے ولاړ وى لكه يو بدمعاش. نو دا عبادت نۀ دے، بعض خلق په بدمعاشئ مونځ كوى.

بيا فرمائي : ددے سره دوه نور اصول دى چه هغه د سر په شان مثال لرى : اول د الله تعالىٰ دپاره اخلاص دے چه شرك او رياء پكښې نۀ وى. او دويم په اتباع د سنت د رسول الله ﷺ كښې وى.

نو انسانان څلور قسمه شو: ۱- يو هغه چه نۀ پكښې اخلاص شته او نۀ پكښې د رسول الله ﷺ تابعدارى. نو دا خو ناكاره مخلوق دے. ۲- دويم : ددے برعكس دى چه هغوى مخلصين هم دى او متبعين هم. دا په ټول عالَم كښې بهترين خلق دى.

۳- دريم جماعت د انسانانو هغه دے چه اخلاص پكښې شته خو د نبى عليه السلام تابعدارى پكښې نشته، دا مبتدعين دى. د دوى اعمال برباد دى.

٤- څلورم : متبعين د سنت دى خو اخلاص پكښې نشته، عملونه د پيسو او د دنيا دپاره كوى، دا عملونه ئے برباد دى.

فائده : د عبادت حقيقت، ذلت او محبت دے نو څكه د الله تعالىٰ محبت لوئى عبادت دے او الله تعالىٰ ته ځان ذليل كول لويه بندګى ده، دا وجه ده چه د الله تعالىٰ دپاره قربانى د جهاد وركول، او بيت الله ته تلل، قرآن كريم سره تعلق ساتل، د الله تعالىٰ د نومونو او صفتونو سره مينه كول، دا لوئى عملونه شريعت كښې حسابيږى.

دارنګه سجده، ركوع، خشوع، تواضع وغيره الله تعالىٰ ته ډير محبوب دى څكه ذلت په كښې ډير وى، ددے برعكس شريعت كښې د هغه څيزونو نه منع كيږى چه د الله تعالىٰ محبت كموى لكه حب الجاه، حب الدنيا، محبة النساء والاولاد والأموال، زړۀ په لغوياتو، مُلهياتو مشغوله كول. دارنګه كوم كارونه چه د تذلل خلاف دى د هغے نه منع راغلے ده لكه (۱) اِسۡبَالُ الۡاِزَارِ وَالۡقَمِيۡصِ وَالۡعِمَامَةِ (قميص، پرتوګ پټكے د ګيټو نه ښكته كول) (۲) د سرو او سپينو په لوخو كښې خوراك څكاك كول، (۳) اللباس الفاخر

(د فخر والا لباس اچول)

حدیث کښې دی: [مَنْ تَرَكَ لُبْسَ ثَوْبِ جَمَالٍ تَوَاضُعًا لِلّٰهِ تَعَالٰی دَعَاهُ اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی رُؤُوْسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حَتّٰی يُخَيِّرَهٗ فِيْ اَيِّ حُلَلِ الْاِيْمَانِ شَآءَ]

[ابوداود: ٤٧٨٠ وصحيح الترغيب [٢٠٧٢]، بسند حسن].

(څوك چه ښائسته جامه اغوستل الله تعالیٰ ته د عاجزئ په طور پریدی، الله تعالیٰ به ئے د قیامت په ورځ د ټولو خلقو مخامخ راویلي او اختیار به ورکړی چه د ایمان کومے جامے ئے خوښے وی وادِے غوندی. (٤) [اَلْاَكْلُ مُتَّكِأً] (په تکیه سره خوراك كول.

حدیث کښې دی: [اَجْلِسُ كَمَا يَجْلِسُ الْعَبْدُ وَآكُلُ كَمَا يَأْكُلُ الْعَبْدُ فَاِنَّمَا اَنَا عَبْدٌ]. رَوَاهُ البغوی فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ، الصحيحة: ٤٤١]

(زه د غلام په شان کینم او د غلام په شان خوراك كوم ځکه چه زۀ د الله تعالیٰ بنده او غلام یم).

(٥) اَلْمُطَيْطَاءُ (په ناز او نخرو باندے کوږ مزل کول).

(٦) د (اَنَا) (لِيْ) (عِنْدِيْ) کلمات وئیلو نه منع راغلے ده.

(٧) د درنده ګانو په څرمنو باندے ناسته پاسته کول.

(٨) اَلرُّكُوْبُ عَلٰی مِيْثَرَةِ الْاُرْجُوَانِ (په سره وریښمنی ګدئ باندے سوریدل).

(٩) د سرو دپاره وریښم او سره زر استعمالول.

(١٠) طُوْلُ الْجُمَّه (اوږده ویښته پریخودل).

(١١) - اَنْ لَّا يَطَأَ عَقِبَهٗ رَجُلَانِ (د یو چا پسے دوه سړی (یا ډیر) روستو روانیدل).

دارنګه نور ډیر کارونه شته نو ددے نه منع ځکه راغلے ده چه دا رب العالمین ته د عبودیة او تذلل خلاف دی. دا مهمه فائده ده، پدے سره په انسان ډیر باریکات راکولاویږی، دا وجه ده چه رسول الله ﷺ سید الخاشعین وو، او سید المحبین وو نو ځکه سید العابدین شو. (صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم)

فائده: ذلت د بنده خپل رب ته په یو څو قسمه دے:

(١) ذِلَّةُ الْمَخْلُوْقِ لِلْخَالِقِ (د مخلوق ذلت خالق ته)

(٢) [ذِلَّةُ الْعَبْدِ لِسَيِّدِهٖ وَمَوْلَاهُ] (د غلام ذلت خپل مالك او مولیٰ ته)

(٣) ذِلَّةُ مَنْ هُوَ اَحْوَجُ شَيْءٍ اِلَى اللّٰهِ تَعَالٰی.

(ذلت د هغه چا چه هغه ډیر محتاج وی الله تعالیٰ ته)

(٤) ذِلَّةُ الْمُحِبِّ لِمَحْبُوْبِهٖ وَهُوَ اَعْلَاهَا۔

(د محب ذلت خپل محبوب ته او دا په کښې اعلیٰ ترین ذلت دے۔

دا ټول ذلتونه الله تعالیٰ ته کول پکار دی او احساس پکار دے چه صحیح عابد شی لیکن انسانان ددے نه غافله دی الا من شاء الله تعالیٰ۔

د عبادت فائده:

١- بعض خلق وائی : چه عبادت محض د الله تعالیٰ امر دے او مونږ ئے په ځائے کوو، ددے وجه نه دے ته تکالیف شرعیه وائی لکه دا د جبریه ؤ عقیده ده۔ او دا خلق د الله تعالیٰ د عبادت په مزه نهٔ پو هیږی بلکه دا یو بوج ګنړی چه د خپلو اُوګو نه ئے ګوزاری۔

٢- بعض خلق ئے د ریاضت دپاره کوی فقط او وائی چه پدے سره نفس د بهیمیت او سَبُعِیت نه اُوځی او د عقول مجرده او نفوس قدسیه ؤ سره مشابه کیږی۔ او په عبادت سره مستعد کیږی دپاره د نازلیدلو د علومو او معارفو په دهٔ باندے۔که داسے نهٔ وی نو نفس به د سباع (درنده ګانو) او بهائمو (چارپیانو) په شان وی۔

٣- بعض (قدریه) خلق وائی : عبادت ثمن او قیمت او عوض دے د اجر او ثواب نو بنده چه عبادت کوی نو په الله تعالیٰ باندے واجب ده چه اجر به ورکوی، او جنت بدله د عمل او عبادت ده۔ نو بندګان عبادت د ثواب او جنت دپاره کوی۔یعنی د الله تعالیٰ مشیئت پکښې نهٔ منی بلکه وائی چه بنده عبادت په خپل واك کوی۔

٤- او د مسلمانانو غرض به په عبادت کښې دا وی چه یو دا حکم د الله تعالیٰ دے او د بندګانو تخلیق صرف د عبادت دپاره شویدے، **دویم** : پدے الله تعالیٰ رضا کول دی۔

دریم : د الله تعالیٰ تعظیم دے او د هغه حق دے په بندګانو نو ددے ادا کول فریضه ده په بندګانو۔ څلورم دا شکر دے د هغه د نعمتونو۔ نو په الله تعالیٰ باندے دا لازم نهٔ ده چه ضرور به بنده ته بدله ورکوی ځکه چه دا د بنده ذمه واری ده او د الله تعالیٰ حق دے په بنده باندے نو الله تعالیٰ اختیار مند دے که اجر ورکوی او که نهٔ ئے ورکوی، لیکن که الله تعالیٰ اجر ورکوی نو دا به محض د هغه احسان او تَفَضُّل وی ځکه چه بنده کما حقهٔ د الله تعالیٰ حق نشی ادا کولے او د هغه د نعمتونو پوره شکر نشی ادا کولے۔ (مدارج السالکین باختصار یسیر ۱/۹۱)

(ایاک): پدے آیت کښې عبادت او استعانت دواړه د الله تعالیٰ دپاره خاص کړے شویدی او د الله تعالیٰ نه علاوه د تمام مخلوقاتو نه نفی شویده، په عربی ژبه کښې که مفعول په فعل باندے مقدم کړے شی نو د حصر او تخصیص معنیٰ ورکوی. یعنی خاص ستا عبادت کوو، نهٔ د بل چا. بل په لفظ د ایاك کښې هم معنیٰ د خاص والی شته،
دا وجه ده سیدنا ابن عباس رضی الله عنه ددے معنیٰ کوی: [نَعْبُدُكَ وَلَا نَعْبُدُ غَيْرَكَ] (خاص ستا عبادت کوو، ستا نه علاوه د بل چا عبادت نهٔ کوو).

فائده: ۱- لفظ د ایاك مقدم شو دپاره د تعظیم د الله تعالیٰ. ۲- یا د تخصیص دپاره.
۳- یا د تَنَاسُق دپاره. ځکه که ایاك مؤخر شی او نَعْبُدُكَ وَنَسْتَعِيْنُكَ اُووئیل شی نو د کلماتو ترتیب خرابیږی.
٤- وجه: دا تقدیم د هغه شی دے چه هغه په وجود کښې مقدم دے.
٥- یا پدے وجه چه د مؤمن شوق وی د مخاطبے او خبرو کولو د هغه ذات سره چه د هغه دغه صفات دی په اول وهلت کښې لکه څنګه چه د محبینو دا عادت دے چه دوی خپلو محبوبینو ته په اول د ملاقات کښې متوجه کیږی بلکه هغوی طرف ته جلتی کوی.
٦- دارنګه پدے کښې تنبیه ده چه عابد له پکار دی چه د هغه نظر اولاً په معبود بالذات لګی بیا په عبادت. پدے وجه چه دا یو شریف نسبت دے دهٔ ته او ددهٔ او د الله تعالیٰ ترمینځ یو تعلق دے. (السراج المنیر ۱/٥)

(بلاغة) ۱- په لفظ د ایاك کښې ترقی ده د بُرهان نه عَیَان ته (یعنی د دلیل نه مشاهدے ته) یا د غیبت نه شهود ته او د معقول نه محسوس ته.
۲- دارنګه د عربو عادت دے چه په خطاب کښې تفنن (قساقسم طریقو سره عبارت راوړل) کوی دے دپاره چه کلام کښې تحسین پیدا کړی او سامع ته نشاط (تازګی) حاصل شی.

(قاعده) دلته د غائب (مالك) نه مخاطب (ایاك) ته التفات وشو، او د غائب نه مخاطب طرف ته التفات دلیل د محبت دے، او التفات د مخاطب نه غائب ته دلیل د مَقت وی لکه پدے قول د الله تعالیٰ کښې ﴿بِئْسَ لِلظَّالِمِيْنَ بَدَلًا﴾ الکهف: ٥٠].

فائده: د عبادت معانی :

کلمه د عبادت په قرآن کریم کښې (۲۷۵) کرته راغلې ده او مختلفې معانی ئې دی :

(۱) اَلْمَمْلُوْکِيَّة ۔ سورت مومنون (٤٧) کښې دی، د فرعون نه حکایت کوی ﴿ وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُوْنَ ﴾ (آیا مونږ به په موسی او هارون (علیهما السلام) ایمان راوړو او قوم ئې زمونږ غلامان دی) نو عابدون معنیٰ دلته د مملوك ده۔

۲- اَلْخُشُوْعُ وَالذِّلَّةُ ۔ ﴿ اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ ﴾ سورة الشعراء (۲۲) یعنی (تا بنی اسرائیل ذلیله کړی دی)۔ او ددے نه دے (طَرِیْقٌ مُعَبَّدٌ اَیْ مُذَلَّلٌ)۔

۳- په معنی د طاعت : ﴿ وَاَنِ اعْبُدُوْنِیْ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴾ سورة یس (٦١)
﴿ اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَیْکُمْ یَا بَنِیْ آدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّیْطَانَ) سورة یس (٦٠) (اَیْ لَا تُطِیْعُوا الشَّیْطَانَ)۔

٤- په معنیٰ د نفرت او غضب سره راځی۔ (عَبَدَ اَیْ غَضِبَ وَنَفَرَ)۔ (غصه شو او نفرت ئې اُوکړو) سورة زخرف (۸۱) آیت کښې دا معنی راغلې ده بنا په یو تفسیر ﴿ قُلْ اِنْ کَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ فَاَنَا اَوَّلُ الْعَابِدِیْنَ ﴾ .

٥- عبادت په معنی د حَبْس : حبس بندولو ته وائی، عبادت ته هم عبادت ځکه وائی چه دا سړے بندوی د ګناهونو نه۔ یو عبادت کښې چه مصروف شوے بل کار نشے کولے لکه عرب وائی (مَاعَبَدَكَ) یعنی مَا حَبَسَكَ (څه شی بند کړے وے)۔

٦- العبادة التکوینیه۔ (تخلیقی طور سره د الله تعالیٰ تابع او ذلیله کیدل) لکه ﴿ اِلَّا آتِی الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴾ سورة مریم (۹۳) (ټول الله تعالیٰ ته راتلونکی دی غلامان تکویناً)۔

۷- په معنیٰ د اطاعة الله۔ د الله طاعت دا اصلی عبادت دے لکه ﴿ وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ ﴾ سورة فرقان (٦٣) : (مطیع بندګان)۔

۸- عبادت په معنیٰ د عبادة الدنیا سره چه سړے د دنیا داسے خبره اُومنی چه د روپۍ سره اوړی راوړی۔ حدیث کښې راځی : [تَعِسَ عَبْدُ الدِّیْنَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الْخَمِیْصَةِ، اِنْ اُعْطِیَ رَضِیَ وَاِنْ لَّمْ یُعْطَ سَخِطَ] (هلاك دِے شی د روپۍ او اشرفۍ بنده او د شړۍ بنده، که خوك ئې ورکوی خوشحالیږی او که نه ئې ورکوی نو خفه وی نو دا دین پسے روان نه دے دولت پسے روان دے [تَعِسَ وَانْتَکِسَ وَاِذَا شِیْكَ فَلَا انْتُقِشَ] [رواه البخاری : ۲۸۸۷]

(هلاك دِے شی او سرکوزے دِے شی او چه خپه کښې ئې ازغی لاړ شی نو الله دِے ئې

ترے اُونۂ باسی) ۔
نبی ﷺ ورتـه بنیـرے اُوکړے او دا خوشے مرض دے چه سړے دنیا پرست شی، ډیر کرته سړے دین پریږدی د پیسو دپاره یهودی، نصرانی او قادیانی شی۔ نو دا د عبادت مختلفے معانی دی۔
فائده : بیا عبـودیت دوه قسـمه دے : ۱- عبـودیت تکـوینیه۔ پدے معنیٰ باندے ټول مخلوق د الله تعالیٰ عباد دی لکه سورة مریم (۹۳) کښې دی۔ مخکښې تیر شو۔
۲- دویـم عبادت شرعیه کوم عبادت باندے چه حکم شویدے، هغے ته عبودیت شرعیه وائی او دا مقصودی عبادت دے ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴾ (ذاریات:۵٦)
وَقَالَ تَعَالٰی ﴿ وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا﴾ (فرقان :٦٣) الآية۔
دلته کومه معنی مراد ده ؟ : دلته ئے یوه معنیٰ ده ذلت لکه عرب وائی : (طَرِيْقٌ مُعَبَّدٌ) اَیْ مُذَلَّلٌ۔ نو عبد ته عبد ولے وائی ؟ ځکه چه دا به الله تعالیٰ ته ذلیله وی۔
دویـم د لـغت پـه اعتبـار سره تـرے د الله تـعالـیٰ طاعت هم اخستل کیږی۔ لیکن دلته شرعی معنیٰ مراد ده چه د الله تعالیٰ ټولے بندګیانے په ذلت او محبت سره کول دی۔
حکمة : نـعبـد او نستـعیـن ئے د جـمـع صیغه راوړه۔ ددے حکمتونه دا دی (۱) اول : ځـکـه سورت فاتحه کښې د ټول اُمت د فطرت تعبیر دے او د هغوی د زړونو او خولے آواز دے۔ او خـطـاب دے د الله تعالیٰ ټولو بندګانو ته نو جمعیت کښې اشاره ده چه ټول دا آواز اُوکړئ۔
۲- دویـم حـکـمـة دا دے چه قـاری د ځان سره ملائك او حاضرین د مانځه هم ملګری کړیدی۔ اشاره ده چه ټول مخلوق الله سبحانه وتعالیٰ ته محتاج دے۔
۳- یا صـیـغـه د جـمـع ئے ځکه راوړه چه ځان او ټول مؤمنان موحدین ئے د ځان سره په دعاء کښې ملګری کړل شاید ددۀ دعاء د هغوی د برکت نه قبوله شی۔
٤ - بـه محاوره کښې کله صیغه د جمع د تواضع دپاره وی او په مفرد کښې أنانیت وی۔
۵- وجـه : د جـمـع صـیـغـه چـه مـونږ استعمالوو نو اتباعاً لِلْوَحْی (د وجه د تابعدارئ د وحـی نه)،کوم لفظ چه څنګه نازل شویدے هغه شان به ئے وائی لکه دا خبره په (قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَق) کـښې یـو روایت کښې راغلے ده چه مونږ چه (قل) ورسره وایو نو وجه دا ده چه په وحی کښې همداسے راغلے ده او که دا پکښې نۀ وایو نو په وحی کښې تغییر راځی۔

بیا دا جمله لفظاً جمله خبریه ده او معنیً انشائیه ده ۔دلته (قُوْلُوْا) پټ دے یعنی تاسو وواییٔ چه خاص ستا عبادت کوو۔ لیکن دا ئے راښکاره نکړو ځکه چه دا آواز فطری دے، امر ته پکښې حاجت نشته

فائده : دلته ئے د عبادة لفظ په نتیجه کښې ولے راوړو ؟ بل شے ئے ولے رانهٔ وړو؟ ددے حکمت دا دے چه [اَلْعِبَادَةُ اَشْرَفُ مَرَاتِبِ الْاِنْسَانِ] اُوچته مرتبه دا ده چه سړے عابد جوړ شی ځکه چه ددے نسبت الله تعالیٰ ته دے لکه دا په قرآن کریم کښې هم دی او په امثال العرب کښې هم دی لکه یو شاعر د خپلے محبوبے په باره کښې وائی [لَا تَدْعُنِیْ اِلَّا بِیَا عَبْدَهَا – فَاِنَّهٗ اَشْرَفُ اَسْمَائِنَا] (ما ته آواز مهٔ کوه مگر د فلانئ د غلام په نامه ځکه زما په نومونو کښې دا غوره نوم دے)۔ بعض شاعران لیونی وی نو دے ځائے کښې ئے خپل لیونتوب راښکاره کړیدے۔ په قرآن کریم کښې هم چه الله تعالیٰ کله د خپل نبی عزتمند مقام ذکر کوی نو هلته عبد لفظ راوړی لکه سورة بقره (۲۳) آیت کښې راځی ﴿وَاِنْ كُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰی عَبْدِنَا﴾ سورة اسراء (۱) کښې وائی : ﴿سُبْحَانَ الَّذِیْ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ﴾ او ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْكِتَابَ﴾ سورة کهف (۱) او ﴿وَاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ یَدْعُوْهُ﴾ سورة الجن (۱۹) ځکه چه دا اشرف نوم دے۔

نبی ﷺ هم فرمائی : [قُوْلُوْا عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ] (تاسو زما په باره کښې داسے وایئ چه دا د الله بنده او رسول دے) [اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ] هر ځائے کښې د عزت په مقام کښې لفظ د عبد راوړی۔ نو دا اُوچته مرتبه ده۔

د عبادت مراتب او اقسام

د عبادت ډیر اقسام دی چا چه هغه پوره کړل نو د الله تعالیٰ صحیح بنده به جوړ شی :

اول عبادة دوه قسمه دے ۱– عبادتِ عامه۔ ۲– عبادتِ خاصه۔

عبادتِ عامه څه ته وائی؟ [عُبُوْدِیَّةُ اَهْلِ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ بَرِّهِمْ وفَاجِرِهِمْ، مُؤْمِنِهِمْ وَكَافِرِهِمْ وَهِیَ عُبُوْدِیَّةُ الْقَهْرِ وَالْمِلْكِ]

د الله تعالیٰ عبادت چه د زمکے او آسمان والا، عام خلق ئے کوی، که نیکان دی، که بدان، که مؤمنان دی، که کافر او دا عبادة د زور او اختیار دے یعنی ټول د الله د زور لاندے دی چرته ترے تختیدے نشی او د هغه په اختیار کښې دی)۔ لکه دا سورة مریم (۸۸) آیت کښې دی : ﴿اِنْ كُلُّ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اِلَّا آتِی الرَّحْمٰنِ عَبْدًا﴾ (ټول د زمکو او

آسمانونو والا الله تعالىٰ ته عاجز دی، ذليله او تابع دی په تکوينی امورو کښ)۔
دلته عبادت نه مونځ روژه نۀ ده مراد بلکه د الله تعالىٰ لازمی کيدونکی فيصلو ته غاړه ايخودل مراد دی۔ دے عبادة کښ فائده نشته ځکه دا عبادت مجبوراً دے او مجبوراً عبادت کمال نۀ دے۔
۲- دويم العبودية الخاصة : [وَهِيَ عُبُوْدِيَّةُ الطَّاعَةِ وَالْمَحَبَّةِ وَاتِّبَاعِ الْاَوَامِرِ]
دا د الله تعالىٰ د طاعت بندګی ده، د هغه خبره منل، هغه سره محبت ساتل او د هغه د حکمونو تابع کيدل۔ او دا کمال دے لکه سورة زخرف (٦٨) آيت کښ دی : ﴿يَا عِبَادِ لَاخَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ﴾ (اے زما بندګانو (چه تاسو زما اطاعت کړيدے ما سره مو مينه کړيده او زما امر مو منلے دے) په تاسو به نن ويره نۀ وی او نۀ به غمجن شئ)۔دارنګه سورة حجر (۳۹) آيت کښ دا معنیٰ ده ﴿اِنَّ عِبَادِیْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ﴾ (زما په هغه بندګانو چه ما سره مينه لری زما بندګی کوی په هغوی د شيطان زور نشته)۔ دا اصلی عبادت دے، پدے سړے عزتمند کيږی او دا د شرف سبب دے۔
اُوس دے عبادت کښ انواع او اقسام دی، پدے باندے هم ځان پوهه کول پکار دی چه پدے سره مونږ ځان مقصد ته اُورسوو۔

اقسام العبادة الخاصة :

دعبادت خاصه بيا دوه مرتبے دی يو علميه او دويم عمليه، هر عبادت کښ دوه مرتبے دی يو علمی مرتبه او بله عملی۔ بيا مرتبه علميه دوه نوعے او درجے لری۔
(۱) اول اَلْعِلْمُ بِاللهِ (په الله تعالىٰ باندے علم راوستل)۔
۲- دويم اَلْعِلْمُ بِدِيْنِهٖ (د هغه په دين باندے علم راوستل)۔
بيا د علم بالله پنځه اقسام دی : ۱- اول اَلْعِلْمُ بِذَاتِهٖ تَعَالىٰ ۔ (د الله تعالىٰ ذات پيژندل د قرآن حديث مطابق) ۔ ۲- اَلْعِلْمُ بِصِفَاتِهٖ (د الله تعالىٰ په صفاتو علم، چه هغه بے شماره دی، قرآن او حديث کښ ذکر دی، علم، قدرت، شفقت، رحم وغيره وغيره)۔
۳- اَلْعِلْمُ بِاَفْعَالِهٖ (د الله تعالىٰ افعال پيژندل)۔
٤- اَلْعِلْمُ بِاَسْمَائِهٖ (د الله تعالىٰ نومونه پيژندل)۔
٥- تَنْزِيْهُهٗ عَمَّا لَا يَلِيْقُ بِهٖ] (الله تعالىٰ د هغه څه نه پاك ګنړل چه د الله تعالىٰ سره مناسب نۀ وی، لکه شريك نه، عيب نه، مددګارملګری نه، غفلت نه، خوب نه، عاجزیٔ نه،

سترې والې نه وغيره وغيره۔

علم بدين الله دا دوه قسمه دي: ۱- علم بِالدِّيْنِ الشَّرْعِيِّ وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيْمُ (دا قرآن او حديث طاعات، عبادات مونځونه روژې زكاتونه پيژندل ديته علم شرعي وائي او ددې پيژندل ځانله پكار دي چه هر حكم د الله تعالىٰ اُوپيژنې۔ د مانځه، روژو او زكاتونو او حجونو او جهادونو او امر بالمعروف، ذكر اذكار او قرآن او حديث علم دا ټول دين شرعي دې۔

۲- دويم (دِيْنُهُ الْجَزَائِيُّ الْمُتَضَمِّنُ لِثَوَابِهٖ وَعِقَابِهٖ) (دين جزائي د الله تعالىٰ پيژندل چه ددې نه مراد د آخرت ورځ ده په هغې كښې به ثواب او عقاب وي۔ ددې وجه نه تاسو به په قرآن او حديث كښې د قيامت احوال ډير اَورئ، ددې پيژندل هم د الله تعالىٰ بندګي ده۔

او عملي مرتبه كښې بيا دوه مرتبې دي: ۱- اصحاب اليمين۔ ۲- دويم سابقين۔

۱- مرتبه د اصحاب اليمين: دا هغه خلق دي چه فرائض په پابندئ سره كوي او د محرماتو نه ځان ساتي، مباحاتو كښې واقع وي، او كله كله مكروهاتو كښې هم واقع كيږي او بعض مستحبات هم ترې پاتې كيږي۔ دا به الله تعالىٰ جنت ته بوځي خو مرتبه ئې كمه ده، دا هغه خلق دي چه سهار پاڅي مونځ اُوكړي، بيا خپل كار ته حاضريږي، ټول فرائض په پابندئ سره كوي۔ د ډيرو مستحباتو پابند وي لكه ددې تفصيل په (الفوائد في تزكية النفوس ۱/ ۳۱۲) كښې اُوګوره۔

۲- دويمه مرتبه د سابقينو ده: چه د ټولو فرائضو او واجباتو پابندي كوي او حرام او مكروه شيان پريدي او كوم شې چه آخرت كښې فائده نۀ وركوي، هغې كښې بې رغبتي كوي نو د ډيرو مباحاتو نه هم ځان ساتي او د هغه څه نه چه د ضرر يَره ئې وي۔ د هغې نه هم ځان ساتي، ورسره دوي كښې باطني اعمال ټول موجود وي، توكل، صبر، يقين، محبت، رضا، شكر وغيره۔ دارنګه زړونه ئې د الله تعالىٰ د محبت نه ډير ډك دي، د الله تعالىٰ نه علاوه د دوي بل هيڅ همت نۀ وي۔ دا ډيره اُوچته مرتبه ده۔ دې ته د ځان رسولو كوشش پكار دې۔ دا اقسام او مراتب په بدائع التفسير (۱/ ۲۲۳) كښې تفصيلًا ذكر دي، هغې ته رجوع اُوكړئ۔

قواعد العبادة : --- د عبادة پنځلس قاعدے :

شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ فرمائی : [رَحَی الْعُبُوْدِیَّةِ تَدُوْرُ عَلٰی خَمْسَ عَشْرَةَ قَاعِدَةً]
(یعنی د عبادت پنځلس قاعدے دی چه په هغې باندے عبادتونه گرځی راګرځی) .
[فَاِنَّ الْعِبَادَةَ اِمَّا اَنْ تَکُوْنَ بِالْقَلْبِ وَاللِّسَانِ وَالْیَدَیْنِ وَالرِّجْلَیْنِ وَالْاَنْفِ وَاللَّمْسِ وَالسَّمْعِ وَالْبَصَرِ وَالْفَرْجِ وَالرُّکُوْبِ]
(ځکه عبادت به یا په زړه وی یا په ژبه یا په لاسونو یا په خپو یا په پوزه یا په مسح کولو یا په غوږونو یا په سترګو یا په عورت او یا د سوریدو) یعنی یو موټر وغیره ته چه خیژے نو دے کښې هم عبادت شته).
بیا احکام پنځه قسمه دی یا به واجب وی یا به مستحب وی یا به حرام وی یا به مکروه وی یا به مباح وی نو پدے هر یو کښې بیا خپل خپل عبادت دے په زړه کښې هم دا پنځه انواع د عبادت شته لاسونو او خپو او دارنګه په هر اندام کښې چه بعضے د هغې نه دا دی :
[فَعُبُوْدِیَّةُ الْقَلْبِ الْاِخْلَاصُ وَالتَّوَکُّلُ، وَالْمَحَبَّةُ، الصَّبْرُ وَالْاِنَابَةُ وَالْخَوْفُ وَالتَّصْدِیْقُ، وَالنِّیَّةُ، وَتَرْکُ الْکِبْرِ وَالرِّیَاءِ وَالْعُجْبِ وَالْحَسَدِ وَالْغَفْلَةِ وَالنِّفَاقِ وَشَهْوَةِ الْمُحَرَّمَاتِ وَتَمَنِّیْهَا، وَاِرَادَةِ الْمَعْصِیَةِ]
(نو د زړه عبادتونه دا دی : اخلاص، توکل، محبت، صبر، انابت (الله ته رجوع کول)، خوف (یره)، تصدیق، صحیح نیت، تکبر او ریاء او خود پسندی او حسد (کینه) او غفلت او منافقت او د حرامو ځیزونو شوق او تمنی او اراده د ګناه پریخودل) ددے ټولو وضاحت به په قرآن کریم کښې دننه ځائے په ځائے راځی ان شاء الله تعالیٰ.
[وَعُبُوْدِیَّةُ اللِّسَانِ النُّطْقُ بِالشَّهَادَتَیْنِ وَتِلَاوَةُ الْقُرْآنِ وَالذِّکْرُ، وَرَدُّ السَّلَامِ وَالدَّعْوَةُ وَتَعْلِیْمُ الْجَاهِلِ وَاِرْشَادُ الْجَاهِلِ وَاَدَاءُ الشَّهَادَةِ وَالصِّدْقُ وَتِلَاوَةُ الْقُرْآنِ وَالْاَذْکَارُ الْمُسْتَحَبَّةُ وَتَرْکُ النُّطْقِ بِمَا یُبْغِضُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ کَالْبِدْعَةِ وَالدَّعْوَةِ اِلَیْهَا وَالْقَذْفِ وَالسَّبِّ وَالْکَذِبِ وَشَهَادَةِ الزُّوْرِ وَالْقَوْلِ عَلَی اللّٰهِ بِلَا عِلْمٍ وَتَرْکُ الْکَلَامِ الْمُبَاحِ وَالصَّمْتُ]
(د ژبے عبادتونه دا دی : کلمۂ توحید او رسالت وئیل، د قرآن ضروری تلاوت کول، او ذکر، او د سلام جواب ورکول او دعوت کول او جاهل ته تعلیم ورکول او ناپوهه ته لاره خودل، او د حق ګواهی کول او رشتیا وئیل او د قرآن تلاوت کول او مستحب اذکار وئیل، (مخکښې اذکار واجبه او دا مستحب تلاوت او ذکر دے) او تکرار د علم کول. او

هغه خبرے پریخودل چه الله او رسول ئے بد گنړی لکه بدعت او هغے ته دعوت او پریخودل د تهمت لګولو او کنځلے او دروغ او د دروغو ګواهی او په الله تعالیٰ باندے بغیر د علم نه تقول او دروغ وئیل، او بے فائدے خبرے پریخودل، او چپ والے کول)۔

[وَعُبُوْدِيَّةُ السَّمْعِ : وُجُوْبُ الْاِنْصَاتِ وَالْاِسْتِمَاعِ لِمَا اَوْجَبَهُ مِنَ الْاِيْمَانِ وَالْاِسْلَامِ وَالْقِرَاءَةِ الْجَهْرِيَّةِ فِي الصَّلَوَاتِ وَاسْتِمَاعِ الْخُطْبَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيُكْرَهُ اسْتِمَاعُ الْكُفْرِ وَالْبِدَعِ اِلَّا اِذَا تَرَتَّبَتْ عَلَيْهِ الْفَائِدَةُ]

(او هر چه د غوږونو عبادت دے نو کوم ایمان او اسلام چه الله تعالیٰ فرض کړیدے هغه به اَوری، غوږ به ورته ایږدی، (یعنی د ایمان خبرے به ضرور اَوری)۔ په جهری مانځه کښ قرائت کیږی هغه ته به غوږ اږدی او اَوریدل د خطبے په ورځ د جمُعه او د کفر او د بدعت خبرے اوریدل حرام دی، مګر که د څه فائدے دپاره ئے اَوری) بیا خیر دے مثلًا چه عقیده ئے معلومه وی، د مقابلے دپاره ئے اَوری۔ او که فائده پکښ نۀ وی او هغه واوری نو قرآن کریم کښ راځی چه الله تعالیٰ فرمائی : تاسو به د هغوی په شان شئ !۔

[وَيُحَرَّمُ اسْتِمَاعُ نِسَاءِ الْاَجَانِبِ وَاسْتِمَاعُ الْمَعَازِفِ وَيُسْتَحَبُّ اسْتِمَاعُ الْعِلْمِ وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَالذِّكْرِ وَكُلِّ مَا يُحِبُّهُ اللّٰهُ]

(د شهوت دپاره د پردئ زنانو خبرے اوریدل، او تهنګ تهکور او ګانے اَوریدل حرام دی او د علم خبرے، او د قرآن کریم قرائت او ذکر او هر هغه څه چه الله تعالیٰ ئے خوښوی اَوریدل مستحب دی)۔

وَاَمَّا عُبُوْدِيَّةُ الْبَصَرِ فَالنَّظَرُ فِي الْمُصْحَفِ وَكُتُبِ الْعِلْمِ وَتَمْيِيْزِ الْحَلَالِ مِنَ الْحَرَامِ وَالْاَمَانَةِ عِنْدَ اَدَائِهَا اِلٰی اَرْبَابِهَا وَيُحَرَّمُ النَّظَرُ اِلَی النِّسَاءِ الْاَجْنَبِيَّاتِ وَيُسْتَحَبُّ النَّظَرُ اِلَی الْعُلَمَآءِ وَالنَّظَرُ اِلَی الْوَالِدَيْنِ]۔

(هر چه د سترګو عبادت دے نو قرآن ته کتل او د علم په کتابونو کښ مطالعه کول او حلال حرام د یو بل نه جدا کول او امانت ته کتل په وخت د اداء کولو کښ خپلو مالکانو ته او پردو زنانو ته کتل حرام دی او د علماؤ او د مور او پلار مخ ته کتل عبادت دے)۔

[وَالنَّظَرُ فِيْ آيَاتِ اللّٰهِ الْمَشْهُوْدَةِ وَيُكْرَهُ فُضُوْلُ النَّظَرِ كَفُضُوْلِ الْكَلَامِ]

(او کائناتو ته کتل، آسمان، زمکے، غرونو ته او بے ځایه نظر کول (یو شی بل شی ته) مکروه دی، د بے ځایه خبرو په شان)۔

[وَعُبُودِيَّةُ الْيَدَيْنِ الْكَسْبُ لِلنَّفَقَةِ وَإِعَانَةُ الْمُضْطَرِّ وَرَمْيُ الْجِمَارِ وَمُبَاشَرَةُ الْوُضُوْءِ وَالتَّيَمُّمِ وَيُحَرَّمُ قَتْلُ النَّفْسِ وَنَهْبُ الْمَالِ وَضَرْبُ الْمَظْلُوْمِيْنَ وَاللَّعِبُ الْحَرَامُ وَكِتَابَةُ مَا لَا فَائِدَةَ فِيْهِ وَيُسْتَحَبُّ مَا فِيْهِ فَائِدَةٌ، وَيُحَرَّمُ الْكِتَابُ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ. وَمِنَ الْعِبَادَةِ لَمْسُ الْحَجَرِ الْاَسْوَدِ وَالرُّكْنِ الْيَمَانِيِّ].

(د لاسونو عبادت دا دے چه د نفقے دپاره کار کسب کول، او د مضطر انسان سره مدد كول او شيطانان ويشتل په حج كښ او پخپله اَودس كول او تيمم وهل، خلق نهٔ وژل او پردے مال نهٔ لوټ كول او مظلوم نهٔ وهل، حرامے لوبے (لكه زمرى او كريم بورډ او قطعے تاش) ځكه دا ټول حرام دى، هغه څه ليكل چه فائده پكښ نهٔ وى او كومه خبره كښ چه فائده وى د هغے ليكل مستحب دى، او حرام دى ليكل د هغه كتاب چه د دين په خلاف وى يا د مسلمان په خلاف وى لكه مبتدعين په اهل حقو پسے كتابونه ليكى دا ظلم دے او حجر اسود او ركن يمانى ته لاس وروړل عبادت دے).

[وَعِبَادَةُ الرِّجْلِ : الْمَشْيُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَالْجَمَاعَاتِ وَزِيَارَةِ الْإِخْوَانِ وَالْاَصْدِقَاءِ وَبِرِّ الْوَالِدَيْنِ وَالْمَشْيُ إِلَى مَجَالِسِ الْعِلْمِ وَالْحَجِّ وَيُحَرَّمُ الْمَشْيُ إِلَى مَعْصِيَةِ اللّٰهِ].

(او د خپو عبادت دا دے چه د جُمعے او جَمعے مانځه ته حاضريدل او د ورونو او دوستانو ملاقات له تلل او د مور او پلار سره نيكى كولو دپاره تلل او د كور نه د علم مجلس ته تلل، او حج ته تلل عبادت دے او گناه ته تلل حرام دى)

(او د ركوب عبادت دا دے چه د جهاد دپاره سورلئ باندے تلل او حج له تلل، د مسلمان ملاقات له تلل، د مريض پوښتنے له تلل).

(د فرج عبادت دا دے چه د حرامو نه ئے اُوساته او حلالو كښ ئے استعمال كړه، د خپلے ښځے حق اداء كړه)، داسے مهٔ كوه چه خارج ته لاړ شے او هلته لس او شل كاله تيروے، لكه ډير داسے ظالمان شته چه هغوى د خپل كور نه لاړ شى او هلته د پيسو په خوند كښ ور شى او بے حياء كارونه كوى نو خپلے ښځے ته ئے توجه نهٔ وى. نو په فرج كښ هم عبادت شته. لهذا د مسلمان دپاره پكار دى چه د خپلو احوالو تفقد اُوكړى او د خپلو عملونو اصلاح اُوكړى، الله تعالىٰ دِے مونږ ته د عمل توفيق راكړى. وبالله التوفيق.

(**نَسْتَعِيْنُ**) مدد به صرف او صرف د الله تعالى نه طلب كولے شى، البته د اسبابو په درجه كښ دمخلوق نه مدد غوختل مونږ ته الله تعالىٰ جائز كړيدى يعنى مدد په دوه قسمه دے :

۱- یو د اسبابو نه لاندے دے چه یو سړی سره اسباب شته دے او ته ترے کومك او مدد اُوغواړے دا جائز ده، خو افضل نهٔ ده لکه تهٔ یو ژوندی سړی نه اُوبه اُوغواړے وغیره وغیره۔ ذو القرنین وئیلی وو ﴿ اَعِيْنُوْنِىْ بِقُوَّةٍ ﴾ (تاسو ما سره مدد اُوکړئ)۔ موسی علیه السلام نه یو سړی مدد اُوغوختو ﴿ فَاِذَا الَّذِىْ اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ يَسْتَصْرِخُهٗ ﴾ ﴿فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِىْ﴾ لفظ راغلے دے۔﴿وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى﴾۔

(په نیکئ کښ یو بل سره مدد اُوکړئ) دا قسم مددونه جائز دی۔

۲- دویم داسے مدد غوختل دی چه د یو چا سره اسباب نهٔ وی، هغه شخص غائب وی یا مړے وی، هغه ته پته نشته او ته ورته ددے ځائے نه آواز کوے چه راورسیږه نو غائب یا مړو نه مدد غوختل، یا پیره بابا راورسیږے، یا غوثه مدد اُوکړے، یا شیخ عبد القادر جیلانی شَيْئًا لِلّٰهِ وئیل یا رسول الله مدد۔ دا ټول شرك دے۔ انسان پدے سره مشرك کیږی بلکه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس د هغه نه مدد غوښتل هم شرك دے۔

عبد الله بن عباس رضی الله عنه ته نبی علیه الصلاة والسلام داسے نصیحت کړے وو :

[اِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللّٰهَ وَاِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ – الحديث]

[احمد : ۲۷۶۳، والترمذی: ۲۵۱۶، بسند صحيح]۔

(کله چه سوال کوے نو صرف د الله تعالیٰ نه ئے کوه او کله چه مدد غواړے نو صرف د الله تعالیٰ نه ئے غواړه، اوپدے خبره پوهه شه ! که دا انسانان پیران ټول راجمع شی پدے چه تا ته فائده درکړی د یو شی نو تا له فائده نشی درکولے مگر هغه چه الله تعالیٰ درله لیکلی وی او که ټول امت راجمع شی چه تا له تکلیف او ضرر درکړی نو دوی تا له ضرر نشی درکولے مگر په هغه څه چه الله تعالیٰ درله لیکلے دے)۔آه۔

دا حدیث چه د سړی زړه کښ کینی نو بیا د مخلوق نه طمع او ویره ختمیږی ځکه د مخلوق په لاس کښ څه نشته۔ دا معنیٰ قرآن کښ هم ده۔ ﴿ مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴾سورة فاطر آیت (۲،۳)

(الله تعالیٰ چه درته یوه لاره راکولاؤ کړه څوك ئے نشی بندولے او چه بنده ئے کړه څوك ئے نشی کولاوولے)

بس دا قانون یاد ساته۔ نو دا قسم مدد د الله تعالیٰ پورے خاص دے، غیر ته آواز کول پدے طریقه کفر دے او ډیر مُلایان پدے کښ اخته دی۔

د بریلی عقیدے والا وائی دا شرك نهٔ دے، دا د محبت د وجه نه دے۔ مونږ وایو : دغه محبت هم شرك دے، بلکه د مخلوق نه دا ظاهری سوال کولو کښې هم درے نقصانه دی اګرکه عند الضرورة جائز دی خپل ځائے کښې به راشی ان شاء الله تعالیٰ۔ مختصراً دا چه (۱) پدے کښې شائبه د شرك خفی ده۔ (۲) پدے کښې ذلت د نفس دے۔ (۳) مسئول باندے ظلم او هغهٔ ته ضرر ورکول دی۔ دا وجه ده چه رسول الله ﷺ خپل صحابه کرام رضی الله عنهم پدے عادت کړی وو چه

[مَنْ يَّتَكَفَّلُ لِیْ اَنْ لَّا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا فَاَتَكَفَّلُ لَهٗ بِالْجَنَّةِ]

[رواه ابوداود : ١٦٤٥، الحاكم : ١٥٠٠، صحيح]

(څوك ما دپاره ذمه واری اخلی چه د خلقو نه به د هیڅ شی سوال نکوی نو زه به ورله د جنت ذمه واری ورکړم)۔ لهذا پدے سوال کښې هم مخلوق ته خپل یو نوع احتیاج ښکاره کول دی۔ نو استعانة د الله تعالیٰ پورے خاص شو۔ اهل زیغ خلق د غیر الله نه مدد غواړی او هغه مخکنی قسم والا دلائل پیش کوی، د متشابهاتو پسے روان دی۔

فائده : بنده د استعانة په وخت کښې الله تعالیٰ ته ډیر نزدے وی ځکه علماؤ وئیلی دی چه [اَقْرَبُ الطُّرُقِ اِلَی اللّٰهِ الْفَقْرُ وَالْاِحْتِيَاجُ] الله ته ډیره نزدے لاره د فقر او احتیاج ده، چه ته ځان فقیر او محتاج اُوګڼړے بیا د الله مدد نقد راځی۔ او ډیر غلیظ ترین حجاب او پرده د الله او د بنده په مینځ کښې دعویٰ ده چه سړے دعویٰ اُوکړی چه زهٔ دا کولے شم۔نو استعانة ډیر ښه عمل مونږ ته الله تعالیٰ خودلے دے۔ حدیث کښې هم دا معنیٰ پرته ده :

[لَيْسَ شَيْئٌ اَكْرَمَ عَلَی اللّٰهِ مِنَ الدُّعَآءِ] - [الادب المفرد: ٧١٢ ومسند احمد ٨٧٣٣ بسند حسن]

الله تعالیٰ ته د دعاء نه بل عمل ډیر عزتمند نشته) د مسلمان طریقه به دا وی چه د شپے او د ورځے به د الله تعالیٰ نه دعاګانے او مددونه غواړی، دے له ورخت ورکول پکار دی، زړه ورسره نرمیږی، حاجات ورسره پوره کیږی، دعاء د مؤمن هغه وسیله ده چه ددے سره مؤمن نهٔ هلاك کیږی۔ یو حدیث کښې دی :

[لَا يَهْلِكُ مَعَ الدُّعَآءِ اَحَدٌ] [حاکم، اسناده ضعيف]

(دعاء سره هیڅوك نهٔ هلاك کیږی) دعاء سره هر قسم مصائب الله تعالیٰ لرے کوی، الله تعالیٰ مونږ ته د هغه د خزانونه د حاصلولو دپاره وسیلے او اسباب راکړیدی۔

نو دا استعانة الله ته ډیر خوښ دے د همدے وجه نه ئے دے سورة کښې خاص کړے هم

دے۔

حافظ ابن قیمؒ فرمائی : اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ غوره دعاء ده۔ او دا خبره په حدیث کښې هم راغلے ده چه نبی ﷺ فرمائی : څوك چه دا خوښوی چه په دعاء کښې ښه کوشش اُوکړی نو داسے دِے اُووائی، او دارنګه معاذ بن جبل ته ئے هم داسے وئیلی وو چه دا دعاء د هر فرض مانځه نه روستو وایه : [اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِکْرِكَ وَشُکْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ]

[احمد : ۲۲۱۷۲، ابوداود : ۱۵۲٤ نسائی : ۱۳۰۳، ، بسند صحیح]

(اے الله ! ما سره ستا په ذکر، شکر او ښائسته عبادت کولو کښې مدد اُوکړه)۔

نو په عبادت کښې د الله تعالیٰ نه مدد او دعاء غوختل بهترین عمل دے۔ لهذا کله چه انسان په مانځه کښې ولاړ وی نو پکار دا ده چه هغه خپل ذهن دے طرفته متوجه کړی چه اے الله ! زه ستا نه په عبادت کښې مدد غواړم۔

فائده : بیائے استعانت د عبادت نه روستو ذکر کړو ددے څو فائدے دی : ۱- فائده : عبادت ئے څکه مخکښې کړیدے چه دا ضروری او مهم دے او أهم مقدم وی، او استعانة دومره اَهم نۀ وو، څکه چه د عبادت تعلق د الله تعالیٰ سره او د استعانت د بنده سره دے، نو هغه ئے روستو کړو۔

۲- وجه : څکه چه عبادت وسیله د استعانت ده۔ چه اے الله ! مونږ ستا بندګان یو او ستا عبادت کوو نو مونږ سره به مدد کوے، او اشاره ده چه عبادت بهترینه وسیله ده، ددے په وجه د بنده سره ناشنا مددونه راځی۔

۳- دریمه وجه : [لِإِزَالَةِ الْكِبْرِ وَالْعُجْبِ عَنِ النَّفْسِ] د نفس نه د کبر او خود پسندی دفع کولو دپاره۔ څکه د (نَعْبُدُ) لفظ نه وهم د عجب او کبر پیدا کیږی نو نَسْتَعِيْنُ ئے وریسے روستو راوړو چه اے الله ! مونږ ستا عبادت ستا د مدد نه بغیر نشو کولے۔

٤- وجه : استعانت عام دے او عبادت خاص دے نو دا تعمیم بعد التخصیص دے دپاره د اهتمام شان۔ څکه نستعین معنیٰ ده د الله تعالیٰ نه مدد غوختل که په عباداتو کښې وی او که په غیر د عبادت نه لکه مباح اُمور دنیویه کښې مدد غوختل شول۔ او اشاره ده چه بهترین عبادت د الله تعالیٰ نه دعاء او مدد غوختل دی۔

٥- وجه : پدے طریقه کښې تنسیق او ترتیب د کلماتو دے۔ څکه که ایاك نعبد ئے روستو کړے وے نو فاصله د آیت کښې ترتیب خرابیدو۔

فائده : په نعبد کښې د جبر باطلول دی او په نستعین کښې د قدریه ؤ رد کول دی۔ (فتح البیان)

﴿اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ﴾۔ (اُوښایه مونږ ته لاره سمه)

پدے کښې هم لفظ د (قولوا) مقدر دے۔ اے بندګانو! تاسو مانه داسے اُوغواړئ۔

پدے آیتونو کښې تعلیم د دعاء دے۔ **مناسبت** دا دے چه مخکښې تعظیم د الله تعالیٰ بیان شو۔ بنده الله تعالیٰ ته ډیر ورقریب شو نو کله چه سړے د بادشاه خواله ورشی نو هغه نه څه حاصلول پکار دی ؟ نو بنده له الله سبحانه وتعالیٰ اختیار ورنه کړو چه څۀ ته په خپله طبع یو شے اُوغواړه ځکه بنده ظاهر بین دے، دنیا پرست دے، دا به پدے اعلیٰ مقام کښې د عظیم بادشاه نه دنیا غواړی او هغه ددۀ دپاره دومره مهم نۀ ده۔ نو الله تعالیٰ اُوفرمایل چه زۀ به درته دعاء در اُوښایم، هغه دا چه ما نه هدایت اُوغواړه ځکه د الله تعالیٰ د خزانو نه غوره خزانه هدایت دے۔

۲- دویم تعلق ئے د (ایاك نعبد) سره دے۔ اے الله ! مونږ ستا بندګی کوو، ستا نه په بندګئ کښې مدد غواړو، خو د عبادت چل مونږ له نۀ راځی نو اهدنا (اے الله ما ته دا را وښایه) [اِهۡدِنَا طَرِيۡقَ الۡعُبُوۡدِيَّةِ] (د بندګئ چل راوښایه)۔

۳- په حدیث کښې ئے مناسبت راغلے دے چه فاتحه نیمه د الله تعالیٰ ده، او نیمه د بنده ده نو مخکښې حقوق الله بیان شو او دلته حقوق العباد دی۔

٤- مناسبت : ګویا کښې دا جواب د سوال دے [كَيۡفَ اُعِيۡنُكُمۡ فَقَالُوۡا اِهۡدِنَا]

(اے بندګانو ستاسو مدد څنګه اُوکړم نو دوی اُووئیل : اے الله ! مونږ ته هدایت اُوکړه) نو دا بیان دے د معونةِ مطلوبه۔

بیا علماء فرمائی چه هدایت ئے ولے خاص ذکر کړیدے؟ ځکه چه بنده دے ته ډیر حاجت لری۔

د هدایة تشریح:

لفظ د هدایة قرآن کریم کښې (۲۹۸) کرته استعمال شویدے، امرئے (۲) ځل راغلے دے او لفظ د صراط (٤٠)کرته راغلے دے او مستقیم لفظ (۳۷) کرته راغلے دے۔

هدایت په لغت کښې [دَلَالَةُ الۡخَيۡرِ بِاللُّطۡفِ] ته وائی (چاته د خیر لاره په نرمئ سره ورخودل) که په بدو او سختو الفاظو وی نو دا هدایة نۀ دے، او که د شر لاره ډِے اُوخودله

نو دا هم هدایت نهٔ دے۔ هدایت کله کله د شر په ځائے کښ هم استعمال شویدے هلته تهکم او استهزاء غرض وی لکه ﴿ فَاهْدُوْهُمْ اِلٰی صِرَاطِ الْجَحِیْمِ ﴾ [الصافات : ۲۳] (یعنی د جهنم لاره ورته اُوخایئ) ﴿ وَیَهْدِیْهِ اِلٰی عَذَابِ السَّعِیْرِ﴾ (الحج: ٤)۔

د هدایة معانی :

بیا د هدایة درے معانی دی : ۱-کله په اِلٰی سره متعدی وی دویم مفعول ته لکه سورة نحل (۱۲۱) ﴿ اِجْتَبَاهُ وَهَدَاهُ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴾ او سورة شوریٰ (۵۲) ﴿وَاِنَّكَ لَتَهْدِیْ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ﴾ او سورة انعام (۸۷) ﴿ وَهَدَیْنٰهُمْ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ﴾ او سورة نازعات (۱۹) ﴿ وَاَهْدِیَكَ اِلٰی رَبِّكَ﴾ او سورة البقرة (۲۱۳) ﴿ وَاللهُ یَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴾ کښ، نو پدے کښ به معنیٰ د حقے لارے خودل وی بل چا ته، برابره ده چه هغه شخص په هغه لار روان شی او که نهٔ، او مقصد ته اُورسی یا نهٔ۔ او دیته اِرْشَادُ الصراط او اِرَاءَ ةُ الطریق (لار خودل) وائی۔ ۲- دویم متعدی کیدل په لام سره لکه سورة اسراء (۹) ﴿ اِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ یَهْدِیْ لِلَّتِیْ هِیَ اَقْوَمُ ﴾ او سورة حجرات (۱۷) ﴿ اَنْ هَدٰكُمْ لِلْاِیْمَانِ ﴾

نو پدے کښ معنیٰ ده : ښودل د حقے لارے سره د رسولو نه دغه لارے ته، برابره خبره ده چه هغه شخص مقصد ته اُورسی او که نهٔ۔ ددے نه تعبیر کیږی په ایصال الی الطریق (لارے ته رسولو) سره۔

حافظ ابن قیمؒ ددے نه تعبیر کوی په (التَّخْصِیْصُ بِالشَّیْءِ) سره (یعنی یو شے د بل پورے خاص کول لکه د (یَهْدِیْ لِلَّتِیْ هِیَ اَقْوَمُ) معنیٰ ده چه د قرآن کریم هدایت مختص دے په نیغه لاره پورے۔

۳- دریم : بغیر د واسطے نه متعدی کیدل دی لکه پدے آیت کښ یا سورة نساء (۱۷۵) ﴿ وَیَهْدِیْهِمْ اِلَیْهِ صِرَاطًا مُّسْتَقِیْمًا﴾ او سورة قصص (۲۲) ﴿ عَسٰی رَبِّیْ اَنْ یَّهْدِیَنِیْ سَوَاءَ السَّبِیْلِ﴾ او سورة فتح (۲) ﴿ وَیَهْدِیَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِیْمًا﴾ او سورة صافات (۱۱۸) ﴿ وَهَدَیْنَاهُمَ الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ ﴾ کښ نو پدے کښ به معنیٰ وی : ښودل د حقے لارے او په هغے باندے روانول او مقصد ته رسول۔

او ددے نه تعبیر کیږی په (اِیْصَال اِلَی الْمُنْتَهٰی) سره (یعنی آخری مقصد ته رسول) او دا آخری طریقه په الله تعالیٰ پورے خاص ده او د مخکنو معنو نسبت کله رسول الله ﷺ ته او کله قرآن کریم ته کیږی۔

د هدایة اقسام

بیا هدایت دوه قسمه دے: ۱- یو عام دے هغه [اِرَاءَ ةُ الطَّرِیْقِ وَالدَّلَالَةُ] دے (یعنی لاره خودل، رهنمائی کول) او دا بنده هم کولے شی لکه الله تعالیٰ نبی علیه السلام ته فرمائی: ﴿ وَاِنَّكَ لَتَهْدِیْٓ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴾ (شوریٰ ۵۲)۔ (تهٔ هدایت کوے نیغے لارے ته) او﴿ وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ ﴾ (رعد: ۷) (د هر قوم دپاره یو هادی (لاره خودونکے) دے)۔

۲- دویم هدایتِ خاصه دے، دا په معنی د (اِلْقَاءُ الْاِیْمَانِ وَالتَّوْفِیْقِ) دے، یعنی د ایمان او عمل توفیق ورکول او ایمان په زړه کښې اَچول۔ دا هدایت د الله تعالیٰ پورے خاص دے، پیغمبرئے هم نشی کولے لکه نبی علیه السلام ته الله تعالیٰ فرمائی:

﴿ اِنَّكَ لَا تَهْدِیْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ یَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ ﴾، سورة القصص (۵۶)۔

(اے زما نبی! ته هدایت نشی کولے چا له چه ته غواړے)

نو دلته د هدایت نه توفیق مراد دے۔

او دا معنیٰ په قرآن کریم کښې زیاته استعمال ده لکه ﴿ وَاللّٰهُ یَدْعُوْٓا اِلٰی دَارِ السَّلٰمِ وَیَهْدِیْ مَنْ یَّشَآءُ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ ﴾، سوره یونس (۲۵) ددے معنیٰ دا ده چه توفیق ورکول د الله تعالیٰ په لاس کښې دی، بل چا سره نشته۔ نو دا بیل بیل مراتب دی دا چه اُوپیژنے، بیا به دریاندے قرآن کریم کښې اشکال نهٔ راځی، ان شاء الله تعالیٰ۔

دلته د هدایت په باره کښې **درے مباحث** دی ـ اول:

د هدایت مرتبے

د هدایت یو څو مرتبے دی قرآن کریم کښې ذکر کیږی:

۱- اوله مرتبه: **اَلْاِلْهَامُ وَالْفِطْرَةُ** (په زړه کښې خبره اچول او فطری طور سره هدایت څکه الله تعالیٰ بندګان په خپل معرفت او توحید باندے پیدا کړیدی یعنی په دوی کښې ئے د حق د قبلولو استعداد اچولے دے) لکه:

﴿ قَالَ رَبُّنَا الَّذِیْٓ اَعْطٰی كُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی ﴾ (طه: ۵۰) (یعنی الله تعالیٰ هر شے پیدا کړیدے، بیا ئے ورته هدایة کړے)

یعنی الهام او فطرت کښې ئے ورله توحید اچولے دے)

او دا هدایة هر مخلوق ته شویدے۔ او دا ډیر ناشنا هدایت دے هر یو حیوان ته الله تعالیٰ خپل الهام کړیدے، چرګے ته د هګۍ په کیناستو الهام، او د چرګی بچی ته د هګۍ په

ماتولو الهام، او د راوتلو نه سمدست روسته د کرځیدو ـ دارنګه چرګے ته د هیلۍ انډے کیده چه بچے تر ے پیدا شي نو الهام ورته کیږي چه هغه اُوبو ته دانګی د اُوبو نه نۀ ویریږي، دا الهامونه عامو حیواناتو ته شویدي ـ د شهدو مچو ته الهام ـ

٢ – مرتبه : **اَلْهِدَايَةُ بِالْحَوَاسِّ الظَّاهِرَةِ** : د سترګو، غوږونو وغیره په ذریعه یو شے معلومول ـ او پدے هدایت کښې انسان او حیوان دواړه شریك دي ـ لکه ﴿ وَالَّذِیْ قَدَّرَ فَهَدٰی﴾ (سورة اعلیٰ : ٣)

(الله تعالیٰ هغه ذات دے چه ټول اندامونه ئے د انسان اندازه کړی او بیا ئے ورته په حواسو سره هدایت کړیدے)ـ ﴿ اَعْطٰی کُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی﴾ [طه (٥٠)]

٣ – **اَلْهِدَايَةُ بِالْعَقْلِ**: الله تعالیٰ بندګانو ته هدایت په عقل هم کړیدے، یعنی قوت عاقله ئے ورکړیده ـ چه پدے سره منافع او مضرات او حق او باطل پیژني، لیکن دا یواځے کافي نۀ دے ترڅو چه ورسره نور مراتب یوځائے شوی نۀ وي ـ لکه سورة اعراف (١٠٠) ﴿ اَوَلَمْ یَهْدِ لِلَّذِیْنَ یَرِثُوْنَ الْاَرْضَ﴾ او (١٢٨) ﴿ اَفَلَمْ یَهْدِ لَهُمْ کَمْ اَهْلَکْنَا﴾ (طه:١٢٨) ﴿ وَهَدَیْنَاهُ النَّجْدَیْنِ﴾ (البلد:١٠)ـ

ډیرو مفسرینو دلته هدایت فطري او عقلي مراد کړیدےـ (فتح البیان، ایسر التفاسیر)

٤ – **اَلْهِدَايَةُ بِنَصْبِ الدَّلَائِلِ الْفَارِقَةِ بَیْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ** :

په عالَم کښې عقلي دلیلونه پیدا کول، چه په هغے سره حق او باطل جدا جدا معلومیږي، او انسان پدے سره الله تعالیٰ او د هغه معرفت او عظمت او کمال ته لاره موندلے شيـ

دا معنیٰ سورة بلد (١٠) ﴿ وَهَدَیْنَاهُ النَّجْدَیْنِ﴾ (الله بنده ته دوه لارے خودلے دي) یعنی دلائل ئے پرے اُودرولي دي ـ او سورة اللیل (١٢) ﴿ اِنَّ عَلَیْنَا لَلْهُدٰی﴾ او ﴿ وَبِالنَّجْمِ هُمْ یَهْتَدُوْنَ﴾ [النحل: ١٦]

او دے ته هدایت عقلیه او هدایت بصریه هم وائيـ

٥ – **بِاِرْسَالِ الرُّسُلِ وَاِنْزَالِ الْکُتُبِ** : د پیغمبرانو او کتابونو د رالیږلو په واسطه بندګانو ته هدایت ـ لکه سورة الرعد (٧) ﴿وَلِکُلِّ قَوْمٍ هَادٍ﴾ او سورة الم السجده (٢٤) ﴿وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً یَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا﴾ او ﴿ هُدًی لِّلنَّاسِ﴾ (البقرة) ﴿ اِنَّا هَدَیْنَاهُ السَّبِیْلَ اِمَّا شَاکِرًا وَّاِمَّا کَفُوْرًا ﴾ (الانسان :٣) ﴿اِنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ یَهْدِیْ لِلَّتِیْ هِیَ اَقْوَمُ﴾ (الاسراء : ٧) ـ او په سورة البقره (٢٨) آیت کښې ﴿ فَاِمَّا یَاْتِیَنَّکُمْ مِّنِّیْ هُدًی﴾ (که زما د طرفه تاسو ته هدایت راغے) نو

دلته ترې الکتب والرسل مراد دی۔ او په ټولو انواعو د هدایت کښې ټول دے هدایت ته محتاج دی، حقیقی هدایت ته رسیدل ممکن نهٔ دی مګر په لاره د رسولانو او کتابونو د الله تعالیٰ سره۔

٦- **اَلتَّثْبِیْتُ وَالتَّوْفِیْقُ** : یو سرے مضبوط ول او توفیق او دوام ورکول په حقه لار باندے لکه سورة عنکبوت (٦٩) ﴿لَنَهْدِیَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾ او سورة الفتح (٢) ﴿وَیَهْدِیَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِیْمًا﴾ اوسورة القصص (٥٦) ﴿اِنَّكَ لَاتَهْدِیْ مَنْ اَحْبَبْتَ﴾ او ﴿وَالَّذِیْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًی﴾ (محمد: ١٧) ﴿وَمَنْ یُّؤْمِنْ بِاللهِ یَهْدِ قَلْبَهٗ﴾ (التغابن: ١١) او ﴿وَیَهْدِیَكُمْ سُنَنَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ [النساء: ٢٦] نو هلته توفیق مراد دے) او دا هدایت خاص دے د مؤمنانو پورے، کافرانو او مجرمانو دپاره نشته او دا هدایتِ خاصه دے۔

٧- **اَلْوُصُوْلُ اِلَی الْجَنَّةِ**: دا اُوچته مرتبه ده چه جنت ته ئے اُورسوی او دا اصل کښې ثمره د ایمان ده۔ دا په سورة اعراف (٤٣) آیت کښې ذکر ده :

﴿وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ هَدَانَا لِهٰذَا﴾ او ﴿سَیَهْدِیْهِمْ وَیُصْلِحُ بَالَهُمْ﴾ (محمد : ٧)

(مؤمنان به وائی الله تعالیٰ لره شکر دے چه مونږ ته ئے هدایت اُوکړو ددے جنت)۔

(یعنی د ایمان او صحیح عقیدے په وجه ئے جنت ته راورسولو)۔

٨- **هدایة: لِیْنُ الْقُلُوْبِ وَاقْشِعْرَارُ الْجُلُوْدِ مِنْ خَشْیَةِ اللهِ تَعَالٰی** : (زړه نرمیدل او د الله تعالیٰ د یرے نه غونے او څرمن زیګ کیدل) او دا هم د خواصو بندګانو هدایت دے لکه

﴿اَللهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِیْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِیَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِیْنَ یَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِیْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰی ذِكْرِ اللهِ ذٰلِكَ هُدَی اللهِ یَهْدِیْ بِهٖ مَنْ یَّشَآءُ﴾ (الزمر: ٢٣)۔

﴿وَمَنْ یُّضْلِلِ اللهُ فَما لَهٗ مِنْ هَادٍ﴾ (الزمر: ٣٦)

او د قسوة القلوب والو په باره کښې وائی :

﴿فَوَیْلٌ لِّلْقَاسِیَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللهِ اُولٰٓئِكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ﴾ (الزمر : ٢٢)

٩- **هدایة** بَعْدَ الْإِیْمَانِ الْکَامِلِ عِنْدَ نُزُوْلِ الْمَصَائِبِ وَالْحَوَادِثِ :

(د کامل ایمان نه روستو د مصیبتونو او حوادثو د نازلیدو په وخت هدایت کول)

او دیته هدایت د رضا بالقضاء او شکر په نعمتونو وائی۔

﴿مَا اَصَابَ مِنْ مُّصِیْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللهِ وَمَنْ یُّؤْمِنْ بِاللهِ یَهْدِ قَلْبَهٗ﴾ (التغابن : ١١)۔

(څوك چه په الله ايمان راوړوي نو الله به ئے زړۀ ته هدايت وكړي)
مفسرينو ددے ډيرے معاني كړيدي ليكن د قرآن كريم د سياق نه معلوميږي چه ددے هدايت نه مراد هدايت د طاعت د الله تعالىٰ او د هغه د رسول دے په دغه تنګ وخت كښې، او هدايت د توكل دے په هغه باندے او اعتماد كول په هغه باندے پداسے طريقه چه جزع فزع او فرياد مخلوق ته نۀ كوي. او دا عظيم هدايت دے او دا د كامل ايمان جزاء ده چه بنده په ټول اقوالو، افعالو او حالاتو كښې د مصيبتونو په وخت مهتدي وي۔
(ناصر السعدى : تيسير الكريم الرحمن والسراج المنير)

١٠- هِدَايَةٌ اِكْتَسَبَهَا الْعَبْدُ بِمُجَاهَدَتِهٖ : (هغه هدايت چه بنده په خپله مجاهده سره حاصل كړے وي) ۔ لكه ﴿وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾ (العنكبوت :٦٩)
نو الله تعالىٰ بندګانو ته پدے مختلفو طريقو او مرتبو هدايت كوي، همداسے جاهل ئے نۀ پريږدي او بيا تربے تپوس كوي چه الله تاله عقل دركړے وو، كتابونه ئے راليږلي وو، پيغمبران ئے راليږلي وو، لار ئے درته خودلے وه، نو تا ولے هدايت نۀ وو حاصل كړے۔
اُوس هر كله چه هدايت بهترين شے دے او حاصلول ئے ضروري دي نو ددے د حصول دپاره۔ دويم بحث :

د هدايت د حاصليدو اسباب

په څه وجه الله تعالىٰ انسان ته هدايت كوي ؟ هدايت د الله تعالىٰ په خزانو كښې غوره او عظيمه خزانه ده او په نعمتونو كښې غوره نعمت دے ؟ وجه دا ده چه هدايت درته اُوشو نو لاره درته برابره شوه، ايمان به هم راوړے او نيك عمل به هم كولے شے، هر د خير كار به درنه كيږي نو ايمان يو جزء دے د هدايت، نو ددے د حاصلولو اسباب حاصلول پكار دي :
١- سبب : مونځ لكه ددے سورت په فضائلو كښې حديث تير شو۔ [وَلِعَبْدِيْ مَا سَأَلَ]
٢- **الكعبة** : سورت آل العمران (٩٦) آيت كښې دي : ﴿اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾ (دا د ټول مخلوقاتو دپاره ځائے د هدايت دے)۔ او دا تجربه ده چه څوك حج له په صحيح نيت لاړ شي نو ضرور ورته هدايت كيږي۔
٣- **القرآن** : دا قرآن خو ډير غټ سبب دے، ﴿هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ﴾ (بقرة: ١) ﴿هٰذَا هُدًى﴾ (الجاثية: ١١) ﴿هُدًى لِّلنَّاسِ﴾ (البقرة :١٨٥) ﴿اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَهْدِيْ لِلَّتِيْ هِيَ اَقْوَمُ﴾ (الاسراء :٩) ﴿وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ﴾ (يونس: ٥٧)

٤- **الجهاد في سبيل الله:** او هر قسم مجاهده.
﴿وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾ عنكبوت : ٦٩)
٥- **الدعاء** : (دعاء غوختل سبب د هداية دے). حديث قدسي كښ دي. الله تعالىٰ فرمائى: [كُلُّكُمْ ضَالٌّ اِلَّا مَنْ هَدَيْتُهٗ فَاسْتَهْدُوْنِيْ اَهْدِكُمْ] [رواه مسلم : ٦٧٣٧]
(اے زما بندګانو ! تاسو ټول ګمراهان يئ مګر هغه څوك چه زۀ ورته هدايت اُوكړم نو بس ما نه هدايت اُوغواړئ، زه به درته هدايت اُوكړم)
او دا سبب پدے آيت كښ هم راغلے دے. (اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ).
٦- **اِتِّبَاعُ الرَّسُوْلِ ﷺ** : ﴿وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا﴾ (النور:٥٤) ﴿وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾ (الشورىٰ : ٥٢)
٧- **اَلْاِنَابَةُ** : ﴿وَيَهْدِيْ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ﴾ (الشورىٰ :١٣) ﴿قُلْ اِنَّ اللهَ يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْ اِلَيْهِ مَنْ اَنَابَ﴾ (رعد :٢٧)
٨- **اَلْاِيْمَانُ** : ﴿يَهْدِيْهِمْ رَبُّهُمْ بِاِيْمَانِهِمْ﴾ (يونس:٩) ﴿وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ﴾ (التغابن :١١)
٩- **اِتِّبَاعُ رِضْوَانِ اللهِ** . (د الله تعالىٰ د رضا پسے روانيدل) ﴿يَهْدِيْ بِهِ اللهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلَامِ﴾ (المائدة : ١٦)
١٠- **رَحْمَةُ اللهِ وَفَضْلُهٗ وَكَرَمُهٗ** : د الله تعالىٰ رحمت او احسان سره هدايت حاصليږى. ﴿وَاللهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾ (البقرة: ٢١٤)
سوال : اِهْدِنَا سوال بندګان ولے كوى؟ حال دا چه قرآن ته كيناستل دا پخپله هدايت دے، مانځه ته اُودريدل هدايت دے، بيا سوال ولے كوى؟
١- **جواب** : چا دا جواب كړيدے چه مراد زيادت د هدايت دے. لكه سورة محمد (١٧) آيت كښ دى : ﴿وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّآتَاهُمْ تَقْوَاهُمْ﴾.
٢- چا وئيلى دى : تثبت او استقامت په هدايت مراد دے. د على ؓ نه نقل دى:
[ثَبِّتْنَا عَلَيْهِ] (مونږ پدے لاره مضبوط كړے).
كلبیؒ وائى : [اَمِتْنَا عَلٰى دِيْنِ الْاِسْلَامِ]
(په دين اسلام باندے مونږ وفات كړے) (بحر العلوم١/٤ للسمرقندى)
٣- يا هدايت په دوه قسمه دے يو حالى دے او بل استقبالى، نو فى الحال خو هدايت

شویدے خو راتلونکی زمانه کښ پته نهٔ لګی نو معنیٰ دا ده : [اِهۡدِنَا فِي الۡاِسۡتِقۡبَالِ كَمَا هَدَيۡتَنَا فِي الۡحَالِ] ۔ (په آینده کښ هم راته هدایت اُوکړه لکه څنګه چه دِے فی الحال راته کړیدے) حاصل ددے معنیٰ او مخکښ یو دے۔ دا جوابونه تفسیر قرطبیؒ وغیره نقل کړیدی۔ دا جوابونه هَم بد نهٔ دی ۔

٤- **لیکن** ددے تحقیقی جواب دا دے چه دا سوال هغه څوك کوی چه چا د هدایت په معنیٰ ځان نهٔ وی پوهه کړے۔ دوی هدایت دیته وائی چه یو سړے ایمان راوړی نو بس هغه ته هدایت اُوشو۔ یا په مانځه اُودریدو نو هغه ته هدایت اُوشو، دا د هدایت نیمګړے تصور دے۔ بلکه د هدایت معنیٰ ده، د الله تعالیٰ حکم معلومول، د هغے موقع پیژندل او د دغه حکم مرتبه پیژندل او په خپل وخت کښ رایادیدل او بیا د دغه حکم د عمل توفیق ملاویدل۔ او بیا پدے عمل باندے همیش والے کول او د الله په رضا کښ همیشه دیره کوشش کول، دیته هدایت وئیلے شی، او دے هدایت ته هر سړے محتاج دے، نبی علیه السلام هم ورته محتاج وو، صحابه کرام او علماءِ کرام او عوام مسلمانان او نور انسانان ټول ورته محتاج دی، ددے مثال داسے دے، مثلاً ته مسجد ته راغلے دلته ډیر حکمونه شته، نفل کول، تلاوت کول، ذکر کول، جمعه کول نو یو سړے جماعت ته راغے دلته جَمع ولاړه ده او دے تلاوت ته کیناستو چه دا خو ډیر فضیلت لری په یو ټکی الله تعالیٰ لس نیکئ ورکوی نو پدے وجه ئے جَمع پریخوده نو دهٔ ته هدایت اُونهٔ شو۔ د عمل مرتبه ئے اُونهٔ پیژندله، د الله تعالیٰ حکم ئے صحیح اُونهٔ پیژندو، یو سړے راغے جَمعه ولاړه ده او دا په نفلو یا سنتو اُودریږی نو دا نفل او سنت ښه عمل دے، سړے پرے الله سبحانه وتعالیٰ ته نزدے کیږی، لیکن دهٔ ورله موقع اُونهٔ پیژندله نو دا هدایت نشو، کله چه ته راشے او د الله تعالیٰ حکم درته راياد شی او مرتبه ئے اُوپیژنے او توفیق د عمل درکړے شی نو دا هدایت دے۔ او دا ډیره مهمه معنیٰ ده، سوچ پرے اُوکړه۔

نو د کوم کسانو فکر چه نیك عمل ته اُونهٔ شی نو دا هم هدایت نهٔ دے۔ او که خبره او عمل ورته یاد شو لیکن بے ځایه ئے استعمال کړو نو دا هم هدایت نهٔ دے، او که عمل ورته یاد شو لیکن توفیق ورنکړے شو نو دا هم هدایت نهٔ دے۔

ډیر کرته خلقو ته موقع د اعمالو معلومه وی چه پدے وخت کښ داسے نیك عمل پکار دے لیکن توفیق ورته نهٔ ورکړے کیږی نو دا هم د هدایت نه خالی شو۔

نو (اِهْدِنَا) دعاء مونږ پدې وجه کوو چه اې الله ! ستا حکم مونږ ته راوخايه، بيا موقع ئې راته اُوخايه، او په خپله موقع د هغه حکم د عملي کولو توفيق راکړه نو دا هدايت مونږه غواړو که په مانځه اُودريږو، هم هدايت ته مونږ محتاج يو۔ او بهر د مانځه نه هم۔ که د هدايت په دې مفهوم پوهه شوې نو دا سوال هم ختميږي او د هدايت د غوختلو شوق هم پيدا کيږي، او که تا ته څوك په يوه مسئله کښې اُووائي چه د الله تعالىٰ نه هدايت اُوغواړه نو تا له به غصه هم نۀ درځي۔

د نبي ﷺ نه د هدايت د غوختلو په باره کښې ډيرې دعاګانې نقل دي، او هدايت به هر بنده د الله تعالىٰ نه هميشه دپاره بار بار غواړي۔

فائده : الصراط المستقيم کښې تشبيه د معقول ده د محسوس سره، مقصود ته په رسيدلو کښې دوه شيان ضروري وي : ۱- الطريق۔ (لاره وي) ۲- كَوْنُه مُسْتَقِيْمًا (او د هغې برابروالې وي) که لاره نۀ وي نو مقصود ته رسيدل نشي کيدې او که کږه وي نو نشي کيدې يا په مشکل سره کيږي نو دغه رنګ الله تعالىٰ د مؤمن مقصود دې، او لاره د قرآن او حديث ده، او دا سيده هم ده، په خلاف د بدعت نه چه هغه مقصود ته نۀ ده رسيدلې نو څومره چه مبتدع تيزي کوي دومره د الله نه جدا کيږي لکه ايوب سختيانيؒ او حسن بصريؒ فرمائي : [مَا ازْدَادَ الْمُبْتَدِعُ اجْتِهَادًا اِلَّا ازْدَادَ مِنَ اللّٰهِ بُعْدًا]

(البدع والنهي عنها لابن وضاح والوجيز في عقيدة السلف) مختصر كتاب الاعتصام (۲۸/۱)

(مبتدع چه څومره کوشش کوي نو هغومره د الله تعالىٰ نه لرې کيږي)۔

الصراط المستقيم : د الصراط المستقيم ددې لفظي معنىٰ خو واضحه ده خو پدې کښې استعاره شويده، داسې چه ددې معنوي لارې دپاره د ظاهري لارې دا لفظ الله تعالىٰ استعمال کړيدې استعارةً نو دلته ظاهري لاره ذکر ده مراد ترينه معنوي لاره ده نو ددې مصداق څه دې ؟ يعني په څه شي مونږ روان شو هغه نيغه لاره څه شې دې ؟ :

د صراط مستقيم مصداقات:

ددې ډير مصداقات علماؤ بيان کړيدي چه د ټولو حاصل تقريباً يو راوځي۔

حافظ ابن کثيرؒ او ابن جريرؒ فرمائي: [هُوَ الطَّرِيْقُ الَّذِىْ لَا اِعْوِجَاجَ فِيْهِ]

(د اُمت اتفاق دې پدې چه صراط مستقيم هغه روښانه لارې ته وائي چه په هغې کښې هيڅ کوږ والې نۀ وي)۔ مصداقات ئې دا دي :

١-اول قول :مراد ددے نه دین الاسلام دے، الله تعالیٰ ته د رسیدو نیغه لاره فقط اسلام دے بل دین نهٔ دے۔

٢- حافظ ابن کثیرؒ وائی : [اِتِّبَاعُ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ]۔ د قرآن او حدیث تابعداری ده)

٣- تفسیر مدارك کښې دی : (اَلدِّيْنُ الْحَقّ)۔ او دا د ابن عباسؓ نه تفسیر فتح البیان نقل کړیدی [اَللّٰهُمَّ دِيْنَكَ الْحَقَّ] (اے الله ! ستا د حق دین الهام او خودنه مونږ ته اُوکړه) او حق دین صرف اسلام دے۔نو څوك چه د اسلام نه بهر شو هغه په نیغه لار ندے، یهود نصاریٰ هندوان او شیعه ګان وغیره په نیغه لار ندی۔

٤- عبد الله بن عباس ﷺ نه نقل دی چه دینه مراد کتاب الله دے یعنی قرآن مجید۔

٥- تفسیر قاسمیؒ کښې لیکلی دی : [طَرِيْقَ الْعُبُوْدِيَّةِ] د الله د بندګیٔ لارے ته وائی۔
(معلومه شوه چه بندګی به د ځان نه نهٔ جوړوی) ۔

٦- بعض مفسرینو لیکلی دی چه صراط مستقیم دیته وائی :
[اَلَّذِیْ لَا اِفْرَاطَ فِیْهِ وَلَا تَفْرِیْطَ] ۔ هغه لارے ته وائیٔ چه زیادت او نقصان پکښې نهٔ وی او دا نهٔ دے مګر اسلام دے چه پاك دے د زیادت او نقصان نه نو زمونږ په دین کښې افراط او تفریط نشته، په خلاف د یهودیت او نصرانیت نه او قدریة او جبریة نه۔

٧- بله معنیٰ په عُمدة التفسیر کښې د عبد الله بن مسعود ﷺ نه نقل ده هغه فرمائی :
[اَلصِّرَاطُ الْمُسْتَقِیْمُ هُوَ مَا تَرَکَنَا عَلَیْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ]
(دا هغه لار ده چه رسول الله ﷺ پرے مونږ (صحابه کرامؓ) پریخی یو)۔

٨- بعض خلق وائی ددینه مراد (السنة و الجماعة) دے، (فتح البیان)
سنت د رسول الله ﷺ طریقے ته وائی او الجماعة د صحابه کرامؓ طرزِ زندګی ته وائی۔
اُوس اهل السنة والجماعة تهکے اغواء شویدے، بریلوی ډله ئے هم ځانته وائی سره ددینه چه مینځ کښې مشرکانه عقائد لری۔ نو بریلوی جماعت او د احمد رضاخان فاسدو طریقو ته اهلُ السنة والجماعة نهٔ وائی بلکه د رسول الله ﷺ سنت او د صحابه کرامو طرز زندګی ته وئیل کیږی، نو د سنت او جماعت طرز زندګی اختیارونکی ته اهل السنة والجماعة وائی، او دا په صحیح حدیث کښې هم راغلی دی ۔ هغه جماعت چه ناجیه (نجات موندونکے) دے هغه نبی علیه السلام خودلے دے چه [مَا اَنَا عَلَیْهِ

وَاَصْحَابِيُ] (يعنى په هغه لاره چه څوك روان وي په كومه چه زه او زما صحابه روان وي) بس دا نجات والا دے۔ [الترمذى : ٢٦٤١ باسناد حسن]

د صحابه كرامو په زمانه كښے داسے د ضد نه ډكے پارټيانے وغيره نهٔ وے او نهٔ دا تقليدونه وو، ټولو صحابه كرامو به آيت او حديث اَوريدو او په هغے به ئے عمل كولو ، د حق تلاش به ئے كولو او د چا نه كه به گناه صادره شوه نو تلقين د توبے به ئے ورته كولو او نورے قيصے نهٔ وے، امر بالمعروف او نهى عن المنكر به كيدلو، جهادونه به كيدل، په حق كښ به د خليفه تابعدارى به كيدله۔ نو مراد د صراط مستقيم نه دغه د صحابه كرامو لاره ده۔ او د رسول الله ﷺ سنت دى۔

٨- امام مجاهدؒ وائى : ددے نه مراد د حق لاره ده۔

٩- ابوالعاليهؒ نه روايت دے چه ددے نه نبى عليه السلام او د هغه نه بعد ابوبكر او عمر رضى الله عنهما مراد دى۔

١٠- بهترين مصداق هغه دے چه امام ابن قيمؒ په بدائع التفسير (١/٢٥٥) كښ ذكر كړيدے :

هُوَ طَرِيقُ اللّٰهِ الَّذِىْ نَصَبَهٗ لِعِبَادِهٖ عَلٰى اَلْسُنِ رُسُلِهٖ مُوْصِلًا لِلْعِبَادِ اِلَيْهِ لَا طَرِيْقَ لَهُمْ سِوَاهُ بَلِ الطُّرُقُ كُلُّهَا مَسْدُوْدَةٌ اِلَّا هٰذَا وَهُوَ اِفْرَادُهٗ بِالْعُبُوْدِيَّةِ وَاِفْرَادُ رَسُوْلِهٖ بِالطَّاعَةِ فَلَا يُشْرِكُ بِهٖ اَحَدًا فِىْ عُبُوْدِيَّتِهٖ وَلَا يُشْرِكُ بِرَسُوْلِهٖ اَحَدًا فِىْ طَاعَتِهٖ فَيُجَرِّدُ التَّوْحِيْدَ وَيُجَرِّدُ مُتَابَعَةَ الرَّسُوْلِ ﷺ۔

(يعنى دا د الله تعالىٰ هغه لاره ده چه بندگانو دپاره ئے په ژبه د رسولانو مقرر كړيده چه پدے سره بندگان الله تعالىٰ ته اُورسوى، د بندگانو دپاره ددے لارے نه سوىٰ بله لاره نشته، بلكه ټولے لارے بندے دى سوىٰ ددے لارے نه، او هغه لاره : د الله تعالىٰ يواځے بندگى كول دى او د رسول الله ﷺ يواځے اطاعت كول دى، نو د الله تعالىٰ سره به هيڅوك په عبادت كښ نهٔ شريكوى او د رسول الله ﷺ سره به په طاعت كښ څوك نهٔ شريكوى، نو توحيد به هم خالص كړى او د رسول الله ﷺ متابعت (تابعدارى) به هم خالص كړى)۔ انتهىٰ يعنى د الله تعالىٰ به بلا واسطه بندگى كوى او د نبى ﷺ به بلا واسطه تابعدارى كوى نو هله به په صراط مستقيم روان شى۔ او كه د نبى ﷺ او د هغه د احاديثو تابعدارى ئے د چا د وجه نه كوله چه مثلًا دا زما د امام د قول مطابق دے څكه ئے منم نو دا بے دينى ده او د شرك خطره ده۔ بلكه په هر عمل كښ به د الله تعالىٰ او

د هغه د رسول نه متأثره کیږي۔

د اهل حقو او اکثرو مقلدینو طریقه کښې فرق :

د اهل حقو طریقه دا ده چه د یو عالم نه د مسئلے تپوس کوی او هغه ورته د قرآن او حدیث نه جواب ورکړی نو مقصود ئے نبی ﷺ وی او هغه عالِم ئے مقصود نهٔ وی بلکه د هغه نه ئے رنړا واخسته او هغهٔ ئے صرف رهنمائی اُوکړه او ځان ئے پرے مقصد ته اُورسولو، او هغه ته دعاء کوی چه الله تعالیٰ دِے درله اجر درکړی چه ما ته دِے زما مقصد اُوخودلو۔ او د اکثرو مقلدینو طریقه دا ده چه دوی عمل کوی، مقصود ئے امام او عالِم وی، عمل د امام د وجه نه کوی د الله تعالیٰ او د رسول نه پکښې تأثر نهٔ اخلی۔

لکه د عامو مقلدینو حالاتو باندے نظر واچوه چه د فقه عبارت ورته د قرآن او حدیث په شان ښکاری اګرکه په هغے هیڅ قسم صحیح دلیل نهٔ وی بلکه په فتاوو کښے قرآن او حدیث لیکل عیب ګڼړی۔ او دا وهمی خبره نهٔ ده، په خارج کښې وجود لری۔

نو هر مسلمان له پکار دی چه په هر عمل کښې به د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ نه متأثر کیږی چه دا د الله تعالیٰ امر دے، د محمد رسول الله ﷺ طریقه ده نو دغه عمل الله رب العالمین ته قبول دے، که یو سړے پدے نیت عمل اُوکړی چه دا د الله تعالیٰ او رسول ﷺ حکم دے نو الله تعالیٰ ورته اجر ورکوی۔ ځکه په دهٔ کښې اخلاص دے۔

او که پدے نیت عمل کوی چه د امام صاحب د مذهب سره سمون خوری ځکه پرے عمل پکار دے نو دده که دا هر څو مره ښه عمل وی او په حدیث کښې هم راغلے وی نو هم اجر ئے نشته ځکه دا په کښې د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ نه متأثر نهٔ دے۔نو مسلمانانو د خپلو عملونو تفقد پکار دے۔!!

خلاصه : حقیقت دا دے چه دا ټول اقوال صحیح دی، او د ټولو یو مطلب راوځی ځکه چا چه د نبی اکرم ﷺ اتباع اُوکړه او د هغه نه روستو د هغهٔ د صاحبینو اقتداء ئے اُوکړه نو هغهٔ د حق اتباع اُوکړه او چا چه د حق اتباع اُوکړه نو هغه د اسلام اتباع اُوکړه او چا چه د اسلام اتباع اُوکړه نو هغهٔ د قرآن اتباع اُوکړه او همدا قرآن د الله تعالیٰ کتاب دے، د هغهٔ مضبوطه رسۍ ده او د هغهٔ نیغه لاره ده۔ او دا لاره د اهل السنة والجماعة ده او دا لاره د مسلمینو ده او دا لاره د اهل حدیث ده۔ والله المستعان۔

په قرآن کریم کښې د صراط مستقیم مصداقات

اوس دا واوره چه **قرآن** پخپله صراط مستقیم څه ته وئیلے دے ؟ :

۱ - اَلْعِبَادَةُ لِلّٰهِ وَحْدَه : (یواځې د الله بندګی کول) لکه ﴿ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبُّکُمْ فَاعْبُدُوْهُ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ﴾ (آلعمران : ۵۱) (ومریم : ۳٦) ﴿ وَاَنِ اعْبُدُوْنِیْ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ﴾ سورة یس (٦۱) آیة.

۲- دویم کتاب الله. لکه سورة انعام (۱۲٦) او (۱۵۳) کښې ذکر دے.

۳- د رسولانو لار. لکه سورة یس (٤) آیت کښې : ﴿ اِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِیْنَ عَلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ﴾ . محمد رسول الله ﷺ په نیغه لار روان وو. احادیث د رسول الله ﷺ نیغه لار ده. او سورة زخرف (٤۳) او سورة صافات (۱۱۸) او سورة فتح (۲) کښې ذکر دے.

٤- د رسول الله ﷺ تابعداری کول لکه سورة زخرف (٦۱) کښې ذکر دے.

﴿ صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ ﴾

دا عبارت په ترکیب کښې بدل واقع شویدے د صراط المستقیم نه. او ددے جملے په ذکر کولو کښې **یوه فائده** دا ده چه هدایت د انبیاء کرامو علیهم السلام په لاره کښې دے، او دا تنبیه ده اُمت ته چه ډیر خلق به تاسو ته دعوت درکوی خو ستاسو مطلوب به د انبیاء علیهم الصلاة والسلام لار وی، ددے وجه نه که د انبیاء علیهم السلام د لارے نه د هر جماعت خبره جدا وه نو دا به ورانه لار وی لکه په تصوف کښې څلور پنځه ډلے جوړے شویدی او خلقو د هغے تقلید هم واجب کړیدے چه (قادریه، سهروردیه، نقشبندیه او چشتیه) دی، او بعض خلق وائی چه دے څلورو کښې به خامخا ورداخلیږے که نهٔ وی نو ګمراه به ئے.

مونږ وایو چه دا خو یو بدعت دے، اتمه صدئ کښې پیدا شویدے، بل پدے کښې غلطے عقیدے او غلط اعمال او غلطے طریقے دی لکه دوی کښې بعض وائی : په پوزه به ذکر کوے، سره ددے چه په پوزه ذکر کول نهٔ په سنت کښې شته او نهٔ په کښې څه اجر شته، او رسول الله ﷺ فرمائی : په ژبه ذکر کوئ. [لَا یَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ]

[ترمذی۲٦۸۷، ابن ماجه۳۷۹۳، وسنده صحیح]

او په پوزه ذکر چرته په دین کښې ندے راغلے. او ډیر قسمه ذکرونه دوی نور هم د ځانه جوړ کړیدی، ذکر انثی، او ذکر دو ضربه او سه ضربه. دا په دین کښې نشته، هسے په

زوره خلق په عذاب کښې اچول دی. پدې ډلو کښې ورداخلیدل هم بدعت دے او د یو حدیث خلاف هم ده. او نور نقصانات هم پکښې دی. پیری او مریدی د صحابه کرامو په نقشه کښې نهٔ وه، بلکه په طریقه د تعلیم او تعلم او وعظ او نصیحت سره به ئې په دین عمل کولو، نبی ﷺ به په یو مجلس یا منبر باندے یوه خبره د دین اُوکړه نو صحابه کرامو به پرے عمل کولو دغه طریقه د مسلمانانو د عمل راروانه ده.

څوك چه وائی د پیرئ سلسله علی ﷺ ته یا خالد بن ولید ﷺ ته رسیدلی ده، دا دروغ وائی، هیڅ حقیقت نهٔ لری.

۲- **دویمه فائده** : یو د الله تعالیٰ کتاب دے، دویم رجال الله دی، انسان پدے دوه شیانو هدایت ته رسیږی، اصل هدایت به د کتاب الله نه اخلے، او رجال الله نه به پکښې فائده اخلے، ډائرك د قرآن نه هدایت اخستل گران دی، بلکه محال دی، ضرور به پدے کښې د علماؤ نه استفاده کوے، چا چه بے استاذه په قرآن کریم کښې خبرے شروع کړیدی، هغه ضرور گمراه کیږی، دا د تجربے نه ثابته ده، اکثر ډاکټران چه مطالعه ئې جاری نهٔ وی، د عربی په اصولو او اسالیبو او گرامر باندے خبر نهٔ وی او قرآن کریم مطالعه کوی. یا په خپله طبع او خواهش د اُردو، او پښتو تفاسیر گوری ، هغه بیا بے دینه کیږی، پدے کښې د علماؤ نه استفاده پکار ده ځکه د قرآن کریم تفسیر د رسول الله ﷺ نه رانقل دے.

بیا د (اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ) مصداق اول نبی ﷺ او بیا د هغهٔ صحابه کرام او بیا عام علماء کرام (رحمهم الله) دی.

۳- **فائده** : په یو لاره چه څوك روانیږی نو اول گوری چه آیا پدے لاره مخکښې چا تگ کړیدے او که نهٔ ؟ نو پدے جمله کښې اهل ددے لارے بیانوی. نو د صراط مستقیم انتخاب ستا په گمان نهٔ کیږی بلکه دا به د الله تعالیٰ د انبیاء کرامو علیهم السلام، د صحابه کرامؓ او نیکانو سلفو په ذریعه معلومیږی.

٤- **فائده** : پدے کښې بشارت او تسلی ده مؤمن ته چه تهٔ په دے لاره باندے یواځے نهٔ ئے، ځکه پدے لاره نور خلق هم تلی دی چه رسول الله ﷺ او صحابه کرام (رضی الله عنهم) او تابعین او تبع تابعین، او امامان د دین دی، اهل الحدیث، اهل السنة والجماعة (رحمهم الله) دی.

۵- **فائده** : د هرے لارے علامات وی، د صراطِ مستقیم علامات دغه انبیاء علیهم السلام او صالحین دی.

﴿ اَنعَمتَ عَلَيهِم﴾ لفظ د اَنعَمتَ د انعام نه ماخوذ دے، انعام د نُعومت نه دے، په لغت کښ خوش عيشئ (ښه او نرم ژوند) ته وائی۔

اصطلاحاً نعمت دوه قسمه دے : ۱- النعم الدنيويه۔ ۲- او بل : النعم الاخرويه ۔ بيا دنيوی نعمتونه په دوه قسمه دی ۱- اول وهبی ، ۲- او بل كسبی۔ وهبی نعمتونه ډير دی، زمونږ دا ټول اندامونه، زمكه آسمان، اُوبه، هواء دا وهبی نعمتونه دی۔ كسبی دا دی چه د سړی كسب په هغے كښ واسطه وی يعنی انسان د هغے په كسب باندے مكلف وی، الله تعالیٰ دا نعمتونه بے كسبه هم وركولے شی خو چه مخلوق ئے پرے مكلف كړيدے نو دے كښ حكمت به مختصراً اُوس بيان كړو تفصيل ئے روستو راځی۔

حكمة دا دے چه ددے په ذريعه الله تعالیٰ د فساد نه خلق مصروف كړيدی، كه چرته خلق ټول وزګار وی نو فتنه او فسادونه به وے :

﴿ وَلَوۡ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزۡقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوۡا فِی الۡاَرۡضِ ﴾ (شوریٰ :۲۷)

(كه الله تعالیٰ د ټولو بندګانو دپاره رزق فراخه كړی نو په زمكه كښ به فسادونه اُوكړی)۔

او دا نعمتونه ټول بيا دوه قسمه دی يو جسمانی دی، بل روحانی دی۔ جسمانی نه مراد خوړل، څكل، اغوستل وغيره دی او روحانی نعمتونه لكه خوشبويانے او خوشحاليانے وغيره او دا نعمتونه الله تعالیٰ هر چا له وركوی، كافر، مسلمان، نيك او بد ټولو ته او هغه د نيك بختئ او بد بختئ علامه نهٔ ده، بلكه الله تعالیٰ كله دنيوی نعمتونه خپلو دوستانو ته هم وركوی كله ئے ترے بيرته اخلی او كله ئے دشمنانو ته وركوی پدے كښ بيا ډير حكمتونه دی۔

د ډيرو خلقو دا عقيده ده چه يو سړی له الله تعالیٰ مال وركړو نو دا د الله تعالیٰ دوست دے او كه نهٔ وی نو نه ؟ دا غلطه عقيده ده۔

نو دلته نعمتونه دينيه يا اُخرويه مراد دی۔

دا هم دوه قسمه دی :۱- وهبی، لكه بعض سړی كښ د وړوكوالی نه ښه صفات وی نو دا وهبی دينی نعمت دے۔ ۲- بل نِعَمِ اُخرَوِی كَسۡبِی دی لكه تا كښ نشته، ته به ئے حاصلوے، كسب كوے به ئے لكه صبر، خشوع، حق پرستی دا درپكښ نشته، ته ئے حاصل كړے نو مونږ پدے مكلف يو چه دا به حاصلوو، دا دينی نعمتونه په ميراث

کښ نهٔ پاتے کیږی۔ بلکه ددیے د حاصلولو کوشش به کوی۔

دا ټول دینی نعمتونه بیا روحانی دی، او د جسم سره ئے هم تعلق وی خو ضمناً او اصل کښ دینی نعمتونه روحانی دی۔

دینی نعمتونو باندے سړیے عظیم ګرځی، عزتمند کیږی، خلق به درسره محبت کوی، د الله تعالیٰ دیدار او جنت ته داخلیدل پدیے باندیے بناء دی نو دلته همدا دینی نعمتونه مراد دی۔

د اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ مصداق

ددیے مصداق څوك دی : ۱- یو مصداق ئے انبیاء علیهم السلام، الصدیقین، والشهداء الصالحین، دا څلور طبقات دی چه په سورة النساء (٦٩) آیت کښ راغلی دی۔ ﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ﴾ څوك چه د الله او د رسول اطاعت اُوکړی دا به د انبیاء، صدیقین، شهداء او صالحینو سره وی او ﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ﴾ سورة مریم (٥٨) آیت۔

۲- او په حدیث کښ [مَا اَنَا عَلَيْهِ وَاَصْحَابِىْ] ته وئیلے شویدیے (یعنی زهٔ او زما صحابه کرام چه په کوم دین روان دی نو دا نجات والا خلق دی)۔ (الترمذی)

۳- معالم التنزیل کښ امام بغویؒ لیکلی دی چه ددیے نه مراد هغه څوك دی ؟

[اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ بِالْهِدَايَةِ وَالتَّوْفِيْقِ]

یعنی (چه تا پرے انعام کړیدیے په هدایت او توفیق د هدایت سره)۔

٤- تفسیر قرطبیؒ دا تعبیر هم کړیدیے [اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ بِالْمَحَبَّةِ وَالْاُنْسِ]

(اے الله ! د هغه چا لاره مونږ ته راوښایه چه تا ورته خپل محبت او اُنس ورنصیب کړیدیے)۔

اُنس یوه خاصه مرتبه ده چه د انسان د الله تعالیٰ سره تعلق وی، په الله تعالیٰ ئے زړه خوشحاله وی، د هغه خبرے، د هغه سره یو اځے والے ورله خوند ورکوی۔

٥- دارنګه د سهل بن عبد الله (رحمه الله) نه نقل دی چه دلته

[اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ بِنِعْمَةِ الْاِسْلَامِ وَالسُّنَّةِ]۔

مراد دی، یعنی چه د اسلام او سنت نعمت پرے شویدیے۔ دا ټول تعبیرونه پدیے کښ صحیح دی، حاصل ئے یو دیے۔

راجح : پدے کښې غوره دا ده چه په أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ کښې عموم دے پدیکښې د دین هر ښکلے صفت او نعمت داخل دے، لکه ایمان، اعمال، اخلاق حسنه، صفات جمیله شو، یعنی د هر نیك عمل توفیق ډیرے ورکړیدے، بعض خلق ډیرے مجاهدین کړیدی، څوك الله تعالیٰ ته دعوت والا دی، خشوع والا دی، انابت والا دی، د الله تعالیٰ د محبت والا دی، ایمان والا دی، اے الله دا انعامات زمونږه سره هم اُوکړه۔ لکه پدے باندے دلیل دا دے چه الله تعالیٰ مطلق انعام ذکر کړیدے او مفعول او متعلق ئے ورله نۀ دے ذکر کړے۔ روستو په لطائفو کښې ددے تفصیل راروان دے۔

﴿ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ ﴾

ددے جملے په ترکیب کښې دوه احتماله دی : ۱- دا صفت دے د الذین نو معنیٰ دا ده چه لاره د هغه کسانو چه تا پرے انعام کړیدے۔ دا څوك دی؟ هغه کسان دی چه غضب پرے نۀ دے کړے شوے۔ دا تفسیر ظاهر دے، ابوحیانؒ په بحر المحیط کښې دیته ترجیح ورکړیده۔ او فائده ئے دا ده چه دے خلقو دواړه صفتونه راجمع کړل مطلق نعمت چه ایمان دے او سلامتیا د غضب او ضلال نه هم ورته ملاؤ شوه۔

۲- یا دا غیر المغضوب علیهم د صراط د لاندے دے لکه ابن کثیرؒ وائی چه دلته مضاف الیه قائم دے په مقام د مضاف، او مضاف دلته حذف دے، اصل کښې داسے دے [غَيْرِ صِرَاطِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ]۔ نو معنی دا ده : نۀ لار د هغه کسانو چه غضب کړے شویدے په هغوی۔ دا ترکیب جائز دے لیکن افضل نۀ دے ځکه تقدیر پکښې دے او په هغه مخکښې ترکیب کښې نحوی لحاظ سره بلاغت ډیر دے۔ په اول ترکیب باندے **اعتراض** دا دے چه غیر خو مبهم دے نو دا څنګه صفت واقع شویدے د الذین دپاره، هغه خو معرفه ده ؟

جواب دا دے چه غیر هله نکره او مبهم وی چه مضاف الیه ئے عام وی او دلته ئے مضاف الیه خاص دے چه مغضوب دی لهذا دا مضاف شو خاص ته نو معرفه شوه نو صفت واقع کیدے شی او پدے کښې هیڅ اشکال نشته دے۔ یا دا سے اُووایه چه کلمه د غیر چه کله د دوه متضاد څیزونو په مینځ کښې واقع شی نو بیا په اضافت سره معرفه کیدے شی۔

اُوس پدے مقام کښې یو څو بحثه دی وضاحت د لفظ د غضب او اسباب د غضب او بل

د مغضوب علیهم مصداق او بل پدے لفظ کښې فوائد بیانیږی ان شاء الله۔

اول بحث : د لفظ غضب وضاحت :

مغضوب د غضب نه ماخوذ دے، ماده د غضب په قرآن کریم کښې (۲۴) کرته ذکر ده۔
غضب (غصه) د انسان صفت هم دے او د الله تعالیٰ غضب هم شته۔
د بنده د غضب تعریف دا دے : [ثَوَرَانُ الدَّمِ عِنْدَ اِرَادَةِ الْاِنْتِقَامِ]
(د انتقام د اخستو د ارادے په وخت د وینے جوش وهلو ته غضب وائی)۔ (راغبؒ)
۲- [تَغَيُّرُ الطَّبْعِ لِمَكْرُوْهٍ] :
(د طبیعت خلاف کار لیدو سره د طبیعت بدلیدو ته غضب وائی)
او کله اعراض ته هم وائی ځکه چه اعراض ثمره د غضب ده۔ (البحر المحیط :۱/ ۲۱)
متکلمین وائی چه د غضب خو دغه تعریف دے او دا تعریف په الله تعالیٰ نهٔ صادقیږی لهٰذا د الله تعالیٰ د غضب نه ئے انکار اُوکړو او وے وئیل چه د الله تعالیٰ دپاره غضب نشته دے او قرآن کریم کښې چه نسبت د غضب ورته کیږی نو مراد ترینه اِيْقَاعُ الْعُقُوْبَة (سزا ورکول) وی، د غضب معنیٰ به ئے نهٔ کوے۔

جواب دا دے چه غضب د الله تعالیٰ دپاره شته، د هغهٔ حقیقی صفت دے، ځکه الله تعالیٰ خپل ځان له او د هغه رسول ﷺ د هغه دپاره ثابت کړیدے، خو د الله تعالیٰ غضب دغسے غضب نهٔ دے څنګه چه د بنده غضب دے، د الله تعالیٰ غضب داسے دے څنګه چه د هغه د شان سره مناسب وی، په قرآن کریم کښې هم د الله تعالیٰ د غضب صفت شته او حدیثو کښې هم شته۔ ﴿وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ﴾ (الفتح : ٦) او ﴿فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِىْ وَمَنْ يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِىْ فَقَدْ هَوٰى﴾ (طه : ٨١)
او حدیث د شفاعت کښې راځی انبیاء علیهم السلام ته به خلق ورشی، د سفارش مطالبه به کوی، هریو به وائی [اِنَّ رَبِّىْ قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهٗ مِثْلَهٗ وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهٗ مِثْلَهٗ] [بخاری : ٤٧١٢ ومسلم : ٥٠١] (یعنی الله تعالیٰ نن ورځ داسے غصه دے چه نهٔ مخکښې داسے غصه شویدے او نهٔ به روستو داسے غصه شی ، زه د هغه مخے له نشم ورتلے) نو قیامت کښې هم دا د الله تعالیٰ صفت دے، او دا د اهل السنة والجماعة په نیز د الله تعالیٰ اختیاری صفت دے۔ کله چه ئے خوښه وی، غضب کوی او که خوښه ئے شی نو نهٔ ئے کوی۔ نو غضب د الله تعالیٰ حقیقی صفت دے، او حقیقت ئے الله رب

العالمین ته معلوم دے۔ صرف آثار ئے بندګانو ته ښکاری لکه اِنْزَالُ العذاب (عذاب نازلول) شول، یا د دین نه محروموول شو یا نور عذابونه شو۔

د الله تعالیٰ په رحمت او غضب کښ تاویلات کول د مبتدعینو طریقه ده،

د **اهل السنة** والجماعة طریقه دا ده چه دا صفات منل او هیڅ قسم تاویل پکښ نهٔ کول۔ او غټ غټ خلق پدے تاویلاتو کښ اخته دی لکه امام قرطبیؒ وغیره۔ ځکه د هغوی دے خبرے ته توجه نهٔ وه پیدا شوے چه د دوارو غضبونو ترمینځ فرق دے۔ والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله۔

بیا ددے نه مراد تمام هغهٔ خلق دی چه د هغوی نیتونه فاسد شویدی، چه هغوی حق اُوپیژندلو او بیا ئے ترے اعراض اُوکړو، پداسے خلقو کښ یهودیان همیشه پیش پیش وو۔ چه هغوی په تورات کښ د موجود دلائلو په رڼړا کښ د رسول الله ﷺ او د اسلام رشتین والے یقینی اُوپیژندلو لیکن په عداوت او دشمنیٔ او ضد کښ راغلل او اسلام ئے قبول نهٔ کړو او رسول الله ﷺ باندے ئے ایمان رانهٔ وړو۔

فائده : د غیر المغضوب لفظ ئے روستو د انعمت علیهم نه راوړو دے دپاره چه د نعمت د مُدعِی او د حقیقی نعمت والا په مابین کښ تمییز او فرق اُوشی۔ ځکه چه هر مُجرم دعویٰ د هدایت او صراط مستقیم کوی۔نو الله تعالیٰ اشاره کوی چه اصل منعم علیهم هغه خلق دی چه د انبیاء او صدیقین په شان عمل اختیاروی او د مغضوب علیهم او ضالین صفات پکښ نهٔ وی۔

د غضب اسباب :

غضب په څه وجه په انسان راځي ؟ ددے دپاره اسباب دی، ددے معلومول ضروری دی :

۱- یو خو پدے وجه چه مونږ ترے ځان اُوساتو۔

۲- او دویم دا چه په قرآن کریم کښې مهارت حاصل شي۔

۱- **اول سبب : تَبْدِيلُ النِّعْمَةِ** :(د الله نعمت بدلول) الله درسره احسان کړیدے، دین ئے درکړیدے، نبي ئے رالیږلے دے، قرآن او حدیث ئے درکړیدی او ته دا بدل کړے په نورو لارو پسے روان شے یا سنت پریږدے، بدعاتو پسے روان شے۔ دا په سورة بقره (٦١) آیت کښې دی چه یهودیانو اُووئیل :

﴿لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ﴾ نو موسی علیه السلام ورته اُوفرمایل : دا سوالونه مه کوئ د الله نعمت مه بدلوئ نو هلته الله فرمائي : ﴿وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَآءُوْا بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ﴾ نو د نعمت په بدلولو د الله تعالیٰ په غضب اخته شو۔

۲- **اَلْكُفْرُ بَغْيًا** : د عناد د وجه نه د حق خبرے نه انکار کول۔ سورة بقره (۹۰) آیت کښې دی : ﴿بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ﴾نو د عناد کولو د وجه نه د الله تعالیٰ غضب نازلیږی۔

۳- **قَتْلُ نَفْسِ الْمُؤْمِنِ عَمْدًا** :(د مؤمن قصداً وژل) : د مؤمن وژل لویه ګناه ده۔ حدیث کښې راځي چه د مؤمن په دین کښې وخت په وخت ترقي راځي لیکن چه کله قتل اُوکړی نو تنزل پکښې راځي (سنن ابی داود : ٤٢٧٠) دا په سورة النساء (۹۳) آیت کښې راغلی دی۔

﴿وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ﴾

٤- **اَلنَّفْرَةُ عَنِ الْاِسْلَامِ وَالطَّعْنُ فِيْهِ** :(د اسلام نه نفرت او په هغے کښې طعن کول) یعنی د دین په مسئلو کښې طعن کول او د هغے نه خلق منع کول چه دے قرآن له مۀ ورځئ، د اَهل حقو مۀ ملګری کیږئ، په داسے دعوت سره الله تعالیٰ په بنده غضب کوی لکه سورة مائده (٦٠) آیت کښې دی : ﴿قُلْ اَؤُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ﴾ هلته غضب پدے وجه شوے وو چه یهودو دین پسے توقے کولے او اسلام ته ئے ناکاره دین وئیلو، قرآن او حدیث ته ئے ناکاره لاره وئیله۔

٥-اَلۡاِفۡتِرَاءُ عَلَى اللّٰهِ تَعَالٰی : (په الله تعالیٰ دروغ وئیل) بنده داسے مسئله بیانوی چه الله تعالیٰ وئیلے نۀ وی او هغه ته ئے نسبت کوی۔ سورة اعراف (٧٠) آیت کښ دی ﴿ قَالَ قَدۡ وَقَعَ عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ رِجۡسٌ وَّغَضَبٌ ﴾۔

٦- اَلۡمُجَادَلَةُ فِي الۡاَسۡمَآءِ الشِّرۡكِيَّةِ : (اسماء شرکیه ؤ کښ جګړه کول) لکه همدغه آیت د اعراف (٧٠) کښ دی : ﴿ اَتُجَادِلُوۡنَنِيۡ فِيۡۤ اَسۡمَآءٍ سَمَّيۡتُمُوۡهَا ﴾۔

مطلب دا دے چه سړے د نورو مخلوقاتو عظمتونه بیانوی چه دے ولی دا کار کړیدے او دائے کړیدی۔

٧- اَلۡاِرۡتِدَادُ عَنۡ دِيۡنِ اللّٰهِ : (د الله تعالیٰ د دین نه اَوړیدل او د یهود نصاریٰ، پرویزیان او قادیانیانو ملګر تیا) نو الله تعالیٰ پدے خلقو غضب کوی۔ سورة النحل (١٠٦) آیت کښ دی :﴿ مَنۡ كَفَرَ بِاللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ اِيۡمَانِهٖۤ ...... وَلٰكِنۡ مَّنۡ شَرَحَ بِالۡكُفۡرِ صَدۡرًا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٌ ﴾۔

(څوك چه منکر شی، د دین نه مرتد شی نو په ده غضب دے او دا رشتیا مغضوب دے چه ددے خوږ دین (قرآن او حدیث) نه په بل طرف اَوړی۔

٨- د جهاد نه اوړيدل : چه د کفارو سره جنګ وی او انسان لاړ شی او په کور کښ کینی۔ سورة الانفال (١٦) آیت کښ دی : ﴿ وَمَنۡ يُّوَلِّهِمۡ يَوۡمَئِذٍ دُبُرَهٗۤ ...... فَقَدۡ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ﴾ څوك چه میدان د جنګ نه اُوتختیدو په دهٔ غضب دے۔

(ددے مطلب به هلته راشی چه انسان کور ته لاړ شی او جهاد پریدی او دا مطلب نۀ دے چه میدان کښ روسته شی لکه دا د بعض خلقو نظر دے۔ په میدان کښ تختیدل راتختیدل جائز دی، د جنګی تکتیك او د ځان د حفاظت په خاطر)۔

٩- مُخَالَفَةُ وَعۡدِ الرَّسُوۡلِ : (نبی عليه السلام د امت نه وعده واخلی او امت د هغے خلاف کوی)۔ لکه دا سورة طه (٨٦) آیت کښ دی : ﴿ غَضَبٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ فَاَخۡلَفۡتُمۡ مَّوۡعِدِيۡ ﴾

(اے بنی اسرائیلو تاسو د الله غضب غواړئ چه زما د وعدے مخالفت مو اُوکړو)۔

١٠- اَلطُّغۡيَانُ فِى الرِّزۡقِ : (الله تعالیٰ انسان له رزق ورکړی او هغه په ناشکرئ شروع اُوکړی، د حلال او حرام تمییز نۀ کوی، زکوٰة، صدقه تر یے نۀ ورکوی، الله تعالیٰ پرے غضب کوی۔ لکه دا قسم ناشکریانے پدے زمانه کښ ډیرے شویدی، یو سړی ته الله تعالیٰ مال ورکړی هغه هوټل جوړ کړی په هغے کښ هر قسم رزقونه هم وی خو د الله تعالیٰ نافرمانی هم پکښ ډیره زیاته کیږی) لکه ﴿ وَلَا تَطۡغَوۡا فِيۡهِ فَيَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبِيۡ ﴾

سورة طه (۸۱) آیت۔

۱۱ - اَلْمَحَاجَّةُ فِي اللهِ : د الله تعالىٰ په باره کښې محاجه او جګړه کول د الله تعالىٰ ذات او صفاتو، نومونو او حقوقو باره کښې جګړې)۔ لکه ﴿وَالَّذِيْنَ يُحَاجُّوْنَ فِي اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِيْبَ لَهٗ، حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ﴾ (سورة شورىٰ :۱٦آیت)

(څوك چه د الله تعالىٰ په آیتونو کښې جګړې کوي، دلیل ئې باطل دے په نزد د رب او په هغوی به د الله تعالىٰ غضب کیږي)۔

۱۲ - مُوَالَاةُ الْكُفَّارِ: (د کفارو سره دوستانه، مینه محبت او تعلق ساتل، د هغوی په ډله کښې ورداخلیدل)۔ دا په سورة الممتحنه (۱۲،۱٤) آیت کښې راغلی دی۔ ﴿يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللهُ عَلَيْهِمْ﴾

وَلَا الضَّآلِّيْنَ :

ماده د د ضلال قرآن کریم کښې (۹۰) کرته راغلے ده په لغت کښې په معنی د ورك کیدو ده لکه عرب وائی : (ضَلَّ الْمَآءُ فِي اللَّبَنِ) ۔(اوبه په پیوو کښې ورکے شوے)۔ په فارسئ کښې ئې معنىٰ ده (ګمراهي) یعنی بے لارے توب ۔ ګم ورك کیدو ته او راه لارے ته وائی نو ضلالة دیته وائی چه د دین صحیح لاره د سړی نه ورکه شی۔

امام قرطبیؒ وائی : ضلال : [اَلذَّهَابُ عَنْ سَنَنِ الْقَصْدِ وَطَرِيْقِ الْحَقِّ] ......

(د درمیانه او د حق د لارے نه اَوړیدلو ته وائي)۔

۲ - [اَلْعُدُوْلُ عَنِ الطَّرِيْقِ السَّوِيِّ عَمْدًا اَوْ خَطَأً] [بیضاوی - البحر المدید]

(د نیغے لارے نه قصداً یا خطأً اوړیدو ته وائی)۔

○ او ددے نه مراد هغه خلق دی چه هغوی د اسلام او د رسول الله ﷺ د صدق علم حاصل نهٔ کړو او په خپله ګمراهئ کښې پاتے شو او پداسے خلقو کښې پیش پیش نصارىٰ (عیسائیان) وو۔ او هر هغه څوك چه په حق عمل نهٔ کوی او د حق نه جاهل وی۔ لکه روستو ئې تفصیل راځي۔ نو د ضلالت هم یو څو اسباب دی او بیا د مغضوب علیهم او ضالین مصداقات او ددے اسبابو سره به معنىٰ شرعی د ضلال هم معلومه شی۔

د ضلالت اسباب

۱- اول سبب : تَبْدِيْلُ الْكُفْرِ بِالْاِيْمَان : (د ایمان په بدل کښې کفر اخستل) دا لوئی ضلال دے۔ لکه : ﴿ وَمَنْ يَّتَبَدَّلِ الْكُفْرَ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيْلِ ﴾ (البقره : ۱۰۸)۔

۲- عَدَمُ الْعَمَلِ بِالْعِلْم : (یو سړے یو مسئله زده کړی او بیا په هغے عمل نۀ کوی) نو دا هم گمراهی ده، خو پدے کښې به بیا مراتب وی، اعلیٰ، ادنیٰ او متوسطه چه عمل د ایمان درجه کښې وی او بنده پرے عمل نۀ کوی نو دا اعلیٰ گمراه دے، او که د گناه کبیره درجه کښې وی نو دا متوسط گمراه دے او که صغیره گناه کوی، دا ادنیٰ درجه گمراه دے۔ لکه

﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِنَ الْكِتَابِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلَالَةَ ﴾ (النساء : ٤٤)

دا هغه مُلیان دی چه په خپل علم عمل نۀ کوی او گمراهی اخلی۔

۳- اَلتَّوَلِّیْ عَنِ اتِّبَاعِ الرَّسُوْل : (د رسول الله ﷺ د تابعدارئ نه اوړیدل) دا په سورة النساء (۱۱۳) آیت کښې ذکر ده چه د رسول الله ﷺ لاره چا پریخوده دا گمراه دے۔

﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّائِفَةٌ مِنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ، وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّا اَنْفُسَهُمْ ﴾

٤- اَلصَّدُّ عَنْ سَبِيْلِ الله : (د الله تعالیٰ د لارے نه خلق اړول) لکه ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلَالًا بَعِيْدًا ﴾ (النساء : ١٦٧)

٥- اَلْكُفْرُ : (د الله تعالیٰ د ذات نه انکار کول لویه گمراهی ده۔ کافران گمراهان دی۔ لکه همدغه سورة النساء (١٦٧) آیت کښې شو۔

٦- اَلْغُلُوُّ فِى الدِّيْن :(په دین کښې غلو کول چه ددے وضاحت به روستو راشی۔ لکه ﴿ قُلْ يَا اَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ ﴾ (المائده : ۷۷) ۔ غلو فی الدین گمراهی ده۔

۷- اِتِّبَاعُ الْهَوٰى : (د خواهش تابعداری) لکه﴿ لَيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَائِهِمْ ﴾ (الانعام : ٥٦)۔(گمراه کیږی په خپلو خواهشاتو)۔

۸- اَلْاِعْتِرَاضُ عَلَى الرَّسُوْل : (په رسول باندے اعتراض کول) لکه ﴿ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ﴾ (الاسراء : ٤٨)۔

(اے نبی ! دا خلق په تا اعتراضونه کوی نو دوی گمراه دی)۔

۹- اَلْاِعْرَاضُ وَالْعِصْيَانُ عَنْ اَمْرِ الرَّسُوْل : د رسول الله ﷺ د امر نافرمانی گمراهی

ده کله په درجه د کفر کښې او کله په درجه د گناه کبیره کښې لکه ﴿ وَمَنْ يَّعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴾ (الاحزاب : ٣٦)۔

(څوك چه د الله تعالیٰ او د رسول خلاف کوی دا بنکاره گمراه دے)۔

١٠- اَلْمَوَدَّةُ مَعَ الْكُفَّارِ :(د کفارو سره محبت گمراهی ده) لکه﴿ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيْلِ ﴾ (سورة الممتحنة : ١)۔(چا چه داکار اُوکړو د نیغی لارے نه گمراه دے)۔

١١- اِتِّبَاعُ الْاَكْثَرِيَّةِ :د اکثریت تابعداری۔ لکه ﴿ وَاِنْ تُطِعْ اَكْثَرَ مَنْ فِى الْاَرْضِ يُضِلُّوْكَ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ ﴾ (الانعام : ١١٦) (که د اکثریت تابعداری اُوکړے، گمراه به شے) دا مسئله قرآن کریم کښې ډیره ذکر ده۔او دا سبب دے د ډیرو خلقو د گمراه کیدو۔

١٢- اِسْتِحْبَابُ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ : (دنیا په آخرت غوره کول)۔ لکه ﴿ اَلَّذِيْنَ يَسْتَحِبُّوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا عَلَى الْاٰخِرَةِ ...... اُولٰٓئِكَ فِىْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ﴾ (ابراهیم : ٣)۔

او پدے سبب ډیر خلق بے دینه کیږی۔

١٣- اَلْقُنُوْطُ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ : (د الله تعالیٰ د رحمت نه نا اُمیده کیدل) لکه :﴿ وَمَنْ يَّقْنَطُ مِنْ رَّحْمَةِ رَبِّهٖ اِلَّا الضَّآلُّوْنَ ﴾ (سورة الحجر: ٥٦) ۔(صرف گمراه خلق د الله تعالیٰ د رحمت نه نا اُمیده کیږی)۔

١٤- قَسْوَةُ الْقَلْبِ : (د زړه سختوالے) لکه ﴿ فَوَيْلٌ لِّلْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللهِ اُولٰٓئِكَ فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴾ (سورة الزمر : ٢٢) (د چا چه زړه سخت دے دا بنکاره گمراه دے) پدے معنیٰ گمراهی په دنیا کښې ډیره زیاته شویده۔ لږ خپل ځان سره فکر اُوکړه !۔

١٥- اَلْمُمَارَاةُ وَالْمُجَادَلَةُ فِى السَّاعَةِ ۔(د قیامت په باره کښې جګړے کول) لکه :

﴿ اَلَا اِنَّ الَّذِيْنَ يُمَارُوْنَ فِى السَّاعَةِ لَفِىْ ضَلٰلٍ بَعِيْدٍ ﴾ [الشوریٰ : ١٨]

(هغه کسان چه د قیامت په باره کښې جګړے کوی دا ډیر لرے گمراهان دی)

١٦- دُعَاءٌ عَنْ غَيْرِ اللهِ : (د غیر الله نه دعاء غوختل) سورة احقاف (٥) آیت کښې راغلی دی : ﴿ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْ مِنْ دُوْنِ اللهِ ﴾ [احقاف : ٥] ۔(څوك ډیر گمراه دے د هغه چا نه چه د الله تعالیٰ نه سویٰ بل چا ته آواز کوی) دارنګه ﴿ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴾ (سورة الحج : ١٢)

غیر الله ته آواز کول ډیره لرے گمراهی ده۔

په قرآن کریم کښې د ضلال معانی :

ضلال چه په قرآن کریم کښې په نورو معانیو استعمال دے، هغه دا دی :

۱- اَلضَّلَالُ فِیْ مُقَابَلَةِ الْهُدٰی : (ضلال مقابل د هدایت راځی) یعنی غلطه لاره. لکه

﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰی ﴾ (بقره : ۱٦) (گمراهی ئے واخسته په هدایت) او دے آیت کښې هم دا معنیٰ مراد ده.

۲- ضلال بمعنی النِّسْیَان : (ضلال نسیان ته وائی) لکه : ﴿ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰهُمَا الْاُخْرٰی ﴾ (البقره : ۲۸۲) (نو دے کښې ضلال د ذکر مقابل دے یعنی د خبرے هیرول. او دا شرعی گمراهی نهٔ ده).

۳- عَدَمُ الْعِلْمِ بِمَصَالِحِ الدُّنْیَا : (سادگی، د دنیا په شیانو نهٔ پو هیدل) لکه ﴿ اِنَّ اَبَانَا لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴾ (یوسف : ۸) یعنی پلار مو ساده دے.

٤- ضلال بِمَعْنَی الْمَحَبَّة : (انتهائی محبت) لکه ﴿ اِنَّكَ لَفِیْ ضَلٰلِكَ الْقَدِیْمِ ﴾ (یوسف : ۹۵)

(نهٔ په پخوانئ مینه کښې پروت ئے) مجاهدؒ وائی ستا محبت نهٔ زړیږی). او دلته د گمراهئ معنیٰ نهٔ ده.

٥- حَبْطُ الْاَعْمَال: (د عمل بربادولو ته) لکه ﴿ اَلَّذِیْنَ ضَلَّ سَعْیُهُمْ ﴾ [کهف : ۱۰٤].

(یعنی برباده ده سعی او کوشش د دوی).

٦- اَلْغَفْلَةُ : لکه دا د الله په صفاتِ سلبیه ؤ کښې راغلے دے، لکه ﴿ لَا یَضِلُّ رَبِّیْ وَلَا یَنْسٰی ﴾ (طه : ۵۲) . (یَعْنِیْ لَا یَغْفُلُ) . دلته د گمراهئ معنی غلطه ده. دلته ئے معنی د غفلت ده، یعنی زما رب نهٔ غافله کیږی.

۷- بِمَعْنَی الْاِعْرَاض : ضل په معنی د الصرف (اړولو) سره راځی لکه : ﴿ اِنْ كَادَ لَیُضِلُّنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا ﴾ (الفرقان :٤۳) یعنی لَیَصْرِفُنَا (نزدے ده چه دا محمد رسول الله ﷺ مونږ واړوی د خپلو معبودانو نه).

۸- عَدَمُ الْعِلْمِ بِعَاقِبَةِ الشَّیْئِ : (د یو شی په عاقبة نهٔ پو هیدل). لکه ﴿ قَالَ فَعَلْتُهَآ اِذًا وَّاَنَا مِنَ الضَّآلِّیْنَ ﴾ (الشعراء : ۲۰).(زه نهٔ پو هیدم چه دا به په سوك مړ شی).

۹- **بِمَعْنَى الْغَيْبُوْبَة**: غیبوبة (غائبیدل) دا ئے لغوی معنیٰ ده۔ لکه﴿ وَقَالُوْا ءَ اِذَا ضَلَلْنَا فِي الْأَرْضِ ﴾ [الم السجده : ۱۰] (کله چه مونږه زمکه کښې ورك شو، غائب شو)۔

۱۰- **بِمَعْنَى التَّحَيُّر** : (حیرانتیا)، گمراه انسان هم حیران وی، لکه﴿ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدٰى﴾ (الضحی : ۷) (په هغې کښې ډیرے معانی دی یوه پکښې دا ده چه ته الله تعالیٰ موندلے وے حیران) چه دا خلق به څنګه سمے لارے ته راشي، الله ورته لاره اُوخودله۔

دا مختلفې معانی د ضلال دی دلته ضلالة په مقابله د هدایت کښې مراد دے۔

د مَغْضُوْب عَلَيْهِمْ او ضَالِّيْن مصداقات

ددے ډیر مصداقات دی : ۱- د عدی بن حاتم ﷺ په یو اُوږد حدیث کښې دی چه په هغې کښې د هغهٔ د اسلام راوړو واقعه بیان شویده چه نبی ﷺ اُوفرمایل : (اَلْمَغْضُوْبُ عَلَيْهِمْ) نه مراد یهود او د (ضالین) نه مراد نصاریٰ دی۔ دا ئے صرف یو مصداق دے او د تخصیص په طور نهٔ دے وئیل شوے۔ په هغه زمانه کښې همدا دواړه ډلے مثال وو۔ پدے وجه مفسرینونور مصداقات هم بیان کړیدی۔

۲- لکه بعض وائی : مغضوب علیهم نه مراد هر معاند (عنادگر) کافر دے چه د ضد د وجه نه حق نهٔ منی او ضالین جهلاء (جاهلان، ناپوهه) دی۔ (تفسیر کبیر)

۳- بعض وائی : مغضوب علیهم نه کفار مجاهرون (ښکاره کافر) مرا د دی او د الضالین نه منافقان مراد دی چه ظاهری کفار نهٔ دی ځکه منافقان گمراه دی لاره ترے خطاء ده۔ (تفسیر سراج المنیر)

٤- سهل بن عبد الله وائی : مغضوب علیهم بدعتیان دی چه په دین کښې نوے خبرے پیدا کوی، او ضالین هغهٔ دی چه د سنتو خلاف کوی، بدعت هم نهٔ کوی خو په سنتو هم نهٔ وی روان۔ (معالم التنزیل) قرطبیؒ وائی : دا غوره قول دے۔

۵- مغضوب علیهم فُسّاق (فاسقان) دی او ضالین کفار دی ۔ (تفسیر کبیر للرازیؒ)

٦- لنډه قاعده دا ده چه چا کښې د یهودو صفات پیدا شو، دا مغضوب علیهم کښې داخل دے او چا کښې چه د نصاراؤ صفات وی دا به د ضالینو نه وی، صفاتو له اعتبار دے۔

دے وجه نه سفیان بن عُیَیْنَه رحمه الله وئیلی دی : [قَالَ عُلَمَاؤُنَا : مَنْ فَسَدَ مِنْ عُلَمَآئِنَا

فَفِيهِ شَبَهٌ مِنَ الْيَهُوْدِ وَمَنْ فَسَدَ مِنْ عُبَّادِنَا فَفِيهِ شَبَهٌ مِنَ النَّصَارٰى]

[مجموع الفتاوى (۱/۱۹۷) وابن كثير (۴/۱۳۸) سورة التوبة].

(یعنی ددې اُمت علماؤ وئیلی دی چه څوك زمونږ د علماؤ نه فاسد شو نو په هغه کښې به د یهودو مشابهت وی (او دا حقیقت دې چه زمونږ پدې علماؤ کښې څوك خراب شی د یهودو صفات به پکښې وی، د دنیا محبت، تکبر، عناد، د حق نه اړول به پکښې وی) او څوك چه زمونږ د عابدانو نه خراب شی نو د نصاراؤ مشابهت به پکښې وی) (لکه نن صبا پیران او د هغوی مریدان چه د خپلو پیرانو په باره کښې د اُلوهیت تصور کوی او هغوی ته سجدې جائز ګڼړی).

○ او شیخ الاسلامؒ فرمائی : د اکثرو سلفو نه نقل دی چه فرمائی :

[اِحْذَرُوْا فِتْنَةَ الْعَالِمِ الْفَاجِرِ وَالْعَابِدِ الْجَاهِلِ، فَاِنَّ فِتْنَتَهُمَا فِتْنَةٌ لِكُلِّ مَفْتُوْنٍ، فَمَنْ عَرَفَ الْحَقَّ وَلَمْ يَعْمَلْ بِهِ اَشْبَهَ الْيَهُوْدَ الَّذِيْنَ قَالَ اللّٰهُ فِيْهِمْ ﴿ اَتَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ ﴾ وَمَنْ عَبَدَ اللّٰهَ بِغَيْرِ عِلْمٍ بَلْ بِالْغُلُوِّ وَالشِّرْكِ اَشْبَهَ النَّصَارٰى الَّذِيْنَ قَالَ اللّٰهُ فِيْهِمْ ﴿ يَا اَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ ﴾ فَالْاَوَّلُ مِنَ الْغَاوِيْنَ وَالثَّانِيْ مِنَ الضَّآلِّيْنَ، فَاِنَّ الْغَيَّ اتِّبَاعُ الْهَوٰى وَالضَّلَالُ عَدَمُ الْهُدٰى وَمَنْ جَمَعَ الضَّلَالَ وَالْغَيَّ فَفِيهِ شَبَهٌ مِنْ هٰؤُلَاءِ وَهٰؤُلَاءِ]

[مجموع الفتاوى (۱/۱۹۷) ودقائق التفسير (۲/۱۴۵) لابن تيمية]

(یعنی د بدکاره عالم او جاهل عابد د فتنې نه اُوویرېږئ (ځان بچ کړئ) ځکه د دوی فتنه د هرې فتنې والا دپاره فتنه ده، نو چا چه حق اُوپیژندلو او عمل ئې پرې اُونکړو نو دا د هغه یهودو مشابه شو د کومو په باره کښې چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی (آیا تاسو خلقو ته په نیکئ حکم کوئ او هیروئ خپل ځانونه) او چا چه د الله تعالیٰ عبادت اُوکړو په غیر د علم نه بلکه په غلو (زیاتی) او شرك سره نودا د نصاراؤ مشابه شو د کومو په باره کښې چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی : (اې اهل کتابو ! زیاتې په خپل دین کښې مه کوئ) نو اول د غاوین (سرکشانو) نه شو او دویم د ضالین (ګمراهانو) نه شو۔ ځکه چه د خواهشاتو تابعداری سرکشی ده او د هدایت او علم نشتوالې ګمراهی ده۔ او چا چه ګمراهی او سرکشی دواړه راجمع کړل نو په هغه کښې د دواړو ډلو مشابهت دې۔ انتهیٰ۔ (او پدې قول سره د یهود او نصاراؤ بیل بیل صفت واضح شو)۔

○ شاه ولی الله الدهلوی رحمه الله په الفوز الکبیر کښې لیکلی دی :

[اِنْ شِئْتَ اَنْ تَرٰی اُنْمُوْذَجًا مِنَ الْیَهُوْدِ فَانْظُرْ اِلٰی عُلَمَآءِ سُوْءِ زَمَانِكَ، وَاِنْ شِئْتَ اَنْ تَرٰی اُنْمُوْذَجًا مِنَ النَّصَارٰی فَانْظُرْ اِلٰی رُهْبَانِ سُوْءِ زَمَانِكَ وَاِنْ شِئْتَ اَنْ تَرٰی اُنْمُوْذَجًا مِنَ الْمُنَافِقِیْنَ فَانْظُرْ اِلٰی حُکَّامِ زَمَانِكَ]

(که ته غواړے چه نمونه د یهودیانو اُووینے نو د خپلے زمانے بد کاره علماؤ ته اُوګوره۔ او که ته غواړے چه نمونه د نصاراؤ اُووینے، نو د خپلے زمانے ناکاره پیرانو ته اُوګوره۔ او که غواړے چه د منافقانو نمونه اُووینے نو د خپلے زمانے حاکمانو ته اُوګوره)۔ غرض دا دے چه هر چا کښې چه دا صفات وی نو پدے ډلو کښې به داخل وی۔

○ مفسرین لیکی : چه دلته الله تعالیٰ د دوه جدا جدا پوره فسادګرو خلقو لارے بیان کړے، یو د یهودو لاره او بل د نصاراؤ، دے دپاره چه ایمان والا ددے دواړو لارو نه بچ شی، یهودو د حق پیژندلو نه روستو د هغے اتباع اُونکړه پدے وجه د غضب مستحق شو او نصاراؤ حق اُونهٔ پیژندلو نو ځکه ئے د حق لاره اُونهٔ موندله نو بس ګمراه شو۔ او حقیقت دا دے چه یهود او نصاریٰ ټول ګمراه او په ټولو باندے د الله تعالیٰ غضب دے، لیکن یهود د الله تعالیٰ په غضب سره او نصاریٰ په ضلالت او ګمراهئ سره مشهور شو۔

[تیسیر الرحمن للشیخ لقمان السلفی]

فوائد الآیة :

۱ - **فائده** : دا درے ډلے ئے ولے خاص کړے په ذکر کولو سره ؟ نو حکمت دا دے : ځکه انسان به یا حق پیژنی عمل به پرے کوی او یا به داسے نهٔ وی :

[فَالْاَوَّلُ مِنْهُمْ مُنْعَمٌ عَلَیْهِمْ وَالثَّانِیْ لَا یَخْلُوْ اِمَّا لَا یَعْرِفُ الْحَقَّ اَصْلًا فَهُوَ الضَّالُّ وَاِمَّا اَنْ یَّعْرِفَ الْحَقَّ وَلٰکِنْ لَّا یَعْمَلُ بِهٖ فَهُوَ الْمَغْضُوْبُ عَلَیْهِ]

(نو اول د دوی نه منعم علیهم دی او دویم به هم خالی نهٔ وی یا به حق د سره (بالکل) نهٔ پیژنی نو دا (ضالین) ګمراه دی او یا به حق پیژنی لیکن عمل به پرے نهٔ کوی نو دا مغضوب علیهم دی۔ نو پدے صفاتو اول ځان تله او بیا نور۔

۲ - **فائده** : د اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ نسبت الله تعالیٰ ته اُوشو او مغضوب ئے په صیغه د اسم مفعول سره راوړو، فاعل ئے ذکر نهٔ شو دا ولے ؟

جواب : انعام خو د الله تعالیٰ محض تفضل دے، او صرف د الله تعالیٰ د طرفنه کیږی

﴿ وَمَا بِكُمْ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللهِ ﴾ (النحل : ۵۳) په خلاف د غضب او ضلال نه چه دا د بنده د ورانئ د وجه نه وی نو مغضوب (چه غضب پرے کړے شویدے)، دا د هغه د عمل د وجه نه دے، الله تعالیٰ پرے څه ظلم نهٔ دے کړے او فاعل ئے ذکر نکړو ځکه چه دوی باندے غضب د الله او د ملائکو او د اولیاء الله چه رسولان دی او د هغوی د اتباعو ټولو د طرف نه دے۔ او چونکه دوی اسباب د ګمراهئ ځانله اختیار کړی وو نو ځکه ئے فاعل د ضلال ذکر کړو۔ او دا د قرآن نه بل ځائے کښې هم ثابته ده۔ ﴿ مَا اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللهِ وَمَا اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ ﴾ (النساء) (تاته چه څه خیر رسیږی دا د الله تعالیٰ فضل دے او چه شر رسیږی نو دا ستا د عمل وجه ده)۔

[تفسیر القرآن للعثیمین رحمه الله]

۲- دویم حکمة : پدے کښې ادب غرض دے او دا د قرآن کریم طرز او طریقه ده، چه غالباً د شر نسبت الله تعالیٰ ته نهٔ کوی اګرکه خالق ئے دے او د خیر نسبت الله تعالیٰ ته براهِ راست کیږی لکه آیت دے ﴿ اَشَرٌّ اُرِيْدَ بِمَنْ فِي الْاَرْضِ اَمْ اَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴾ (الجن) اُرِيْدَ مجهوله او (اَرَادَ) ئے معلومه صیغه راوړه پدے کښې ادب دے۔

حدیث کښې دی : [وَالشَّرُّ لَيْسَ اِلَيْكَ] [مسلم : ۱۸۴۸] (اَیْ لَا يُنْسَبُ الشَّرُّ اِلَيْكَ]

۳- **فائده** : یهود او نصاریٰ دواړه ګمراه هم دی او مغضوب علیهم هم دی نو بیا دلته تخصیص الغضب بالیهود والضلال بالنصاریٰ ولے اُوشو، دارنګه په حدیث کښې ولے اُوشو او مفسرین ئے ولے کوی ؟ جواب دا دے چه دواړه صفات په دواړو کښې شته لیکن [ذَكَرَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ بِاَشْهَرِ وَصْفَيْهِ] (هر یو ئے په ډیر مشهور صفت سره ذکر کړیدے) (یهودو کښې دواړه صفات شته خو غضب کښې مشهور دی او نصاراؤ کښې دواړه صفات دی لیکن په ضلال کښې مشهور دی)۔

۴-**فائده** : وجه د تقدیم د مغضوب علیهم څه ده ؟ پدے کښې حکمتونه او رازونه دی۔

۱- اول [لِتَقَدُّمِهِمْ فِي الزَّمَانِ] یهود په زمانه کښې مخکښې وو۔

۲- دویم : یهود مدینه کښې اُوسیدل نبی علیه السلام ته نزدے وو او نصاریٰ لرے وو، نجران او حبشو او یمن کښې وو۔ ۳- دریمه وجه : د یهودو کفر اَغلظ وو نو ځکه ئے مقدم کړو۔ او دارنګه یهود د حق سخت مخالفت کونکی وو د نصاراؤ په نسبت، ځکه دوی

علماء وو او د علم والا حق ته راواپس کول ډیر مشکل وی په خلاف د جاهل نه۔

۵- **فائده** : مغضوب ئے صیغه د اسم مفعول ذکر کړه او ضالین اسم فاعل پدے کښ څه حکمت دے ؟ وجه دا ده چه غضب ورته د الله د طرفه رسیدلے دے د دوی د جرمونو د وجه نه او ضلال دوی پخپله پیدا کړیدے۔ نو دوی پخپله فاعل دی د هغے دپاره۔

٦- **فائده** : د انعمت پسے ئے د مغضوب ذکر ددے دپاره اُوکړو چه مدعی د نعمت او حقیقی نعمت والو ترمینځ فرق راشی، مطلب دا شو چه هغه نعمت والا چه غضب پرے ندے شوے او صرف مدعیان نهٔ دی۔

(۲) دویمه فائده : غیر المغضوب ئے ځکه راوړو چه مؤمن ته کله کله بعض غضب او ضلال رسیږی لکه گنهکار مؤمن شو نو گویا دلته دعا اُوشوله چه اے الله ! د هغه منعم علیهم لاره راوښایه چه هیڅ قسم غضب او ضلال پرے ندے شوے یعنی د اعلیٰ درجه منعم علیهم لاره راوښایه۔

(۳) مغضوب صیغه د اسم مفعول ده او ضالین صیغه د اسم فاعل ده او دا دواړه د حال او استقبال دپاره استعمالیږی نو دے کښ اشاره ده دے ته چه منعم علیهم حقیقی هغه کسان دی چه غضب او ضلال ورته نهٔ فی الحال رسیدلے دے او نهٔ به په راتلونکی زمانه کښ ور ورسیږی بلکه خاتمه ئے ښه کیدو والا ده نو دوی د هغه منعم علیهم لاره اُوغوختله چه استقامت والا دی په ایمان او هدایت ترمرگه پورے۔

۷- **فائده** : څه حکمة دے چه مقبولین ئے یوه ډله اُوگرځوله او مردودین ئے دوه ډلے ؟ نو حکمت دا دے چه په کومو خلقو د الله تعالیٰ نعمت کامل شویدے نو دا هغه خلق دی چه دوی راجمع کړیدے معرفة د حق لذاته او خیر لره د وجه د عمل کولو نه په دے باندے نو دا په (انعمت علیهم) کښ مراد شو۔ نو که د عمل په قید کښ خلل راشی نو دا فاسقان دی او دا په مغضوب علیهم) کښ مراد دی۔ لکه آیت دے ﴿وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ﴾ (النساء:۹۳) او که د علم په قید کښ خلل راشی نو دا ضالین او گمراهان دی، ځکه چه فرمائی :

﴿فَمَا ذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلَالُ﴾ (یونس : ۳۲) (اللباب لابن عادل الدمشقی ۱/۳٤)

د آمين متعلق مسائل

په آخر د سورهٔ فاتحه کښې آمين وئيل سنت طريقه ده ليکن مقتديانو باندې دا واجبه ده او امام دپاره سنت ده ځکه مقتديانو ته امر راغلې دې [إِذَا اَمَّنَ الْإِمَامُ فَأَمِّنُوا] (کله چه امام آمين وائي نو تاسو هم آمين وايئ) نو په امام باندې واجب نهٔ ده ځکه امر ورته نشته، هغه له سنت دې. امام مالك رحمه الله وائي چه د امام دپاره آمين نشته. خو هغه ته دا حديث نهٔ وو رسيدلې، ځکه که دا حديث ورته رسيدلې وې نو داسې قول ئې نهٔ کولو. هغه ته بل حديث رسيدلې دې چه [إِذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّآلِّيْنَ فَقُوْلُوْا آمِيْنَ].

(امام چه ولا الضالين اُووائي نو تاسو آمين وايئ) نو وائي: چه امام به آمين نهٔ وائي، خو دا بل حديث هغه ته ندې رسيدلې او ائمه کرامو سره کله داسې کيږي چه يو حديث ورته اُونهٔ رسيږي. د جمهورو مذهب دا دې چه آمين وئيل د هر چا دپاره سنت دی او واجب نهٔ دی.

مسئله : **بيا** د آمين وئيل لکه څنګه چه په مانځه کښې سنت دی همدارنګه بهر د مانځه نه هم سنت دی بلکه آمين د متعلقاتو د فاتحې نه دې، هر کله چه فاتحه اُووئيلې شي آمين به ورسره وئيلې شي. جبرئيل عليه السلام چه راغې فاتحه ئې رسول الله ﷺ ته اُوخودله نو آمين ئې ورسره اُوخودلو چه دا وايه نو فائده دا ده چه څوك فاتحه وائي نو هغه به آمين وائي که فاتحه ډېره مکرره اُووئيله نو آمين به هم مکرر وائې. (فتاوى الدين الخالص ٤/، والحق الصريح ٤/٢١٨/٢٥٣)

د آمين معنیٰ ده : [اَللّٰهُمَّ اسْتَجِبْ] (اې الله ! دا دعاء قبوله کړې).

آمين به په جهري مانځه کښې په جهر وائي

وائل بن حُجر ﷺ فرمائي : [سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ قَرَأَ (غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ) فَقَالَ : آمِيْنَ وَمَدَّ بِهَا صَوْتَهُ] رسول الله ﷺ غير المغضوب عليهم ولا الضالين اُووئيلو او آواز ئې په آمين وئيلو باندې راخکلو . [وسنده صحيح- ترمذی : حديث نمبر : ٢٤٨]

د ابوداود په روايت کښې دی : [إِذَا قَرَأَ (وَلَا الضَّآلِّيْنَ) قَالَ : آمِيْنَ : وَرَفَعَ بِهَا صَوْتَهُ]

سنن ابی داود : رقم: ٩٣٣/٩٣٤، سنن الدارقطنی ١/٣٣٤)

رسول الله ﷺ چه کله ولا الضالين ولوستو نو آمين ئې ووئيلو او په آمين باندې ئې

آواز پورته کړو.

○ د ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل :

[إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ فَأَمِّنُوا، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ]

((کله چه امام (آمین) اُووائی نو تاسو هم وایئ ځکه چه د چا آمین د ملائکو د آمین سره یوځائے شي، دِ هغهٔ ټول مخکنی ګناهونه معاف کیږی)). (بخاری : ۷۸۰ومسلم: ۹۴۲) نور دلائل فتاوی الدین الخالص او الحق الصریح (٤) کښ اُوګوره.

د آمین لفظ وئیل عبادت دے، دعاء ده نو ددے وجه نه دا به د عبادت په شکل وائی، په جهری مونځونو کښ به ئے په زوره (اُوچت آواز) سره وائی لیکن په تضرع او عاجزیٔ سره به وی. کریهه چغه به نهٔ کوی.

آمین په مصحف کښ ولے نهٔ دے لیکلے شوے ؟

په مصحف کښ آمین ولے نهٔ دے لیکلے شوے؟ ځکه دا ورسره نازل نهٔ وو، او صحابه کرامو (رضی الله عنهم) به په قرآن کریم کښ دننه هغه څه نهٔ پریخودل چه د قرآن مجید حصه به نهٔ وه، اګر چه ضروری به وو، نو آمین په سنت ثابت دے، وئیل ئے شته او د فاتحے سره نازل نهٔ دے. لیکن قرآن کریم کښ دننه نهٔ دے لیکلے شوے. دے دپاره چه اشتباه د غیر قرآن د قرآن کریم سره رانشی.

فائده : د فاتحے نه روستو آمین راوړو کښ د مذکوره دعاء تاکید دے چه اے الله ! دا دعا چه مونږ اُوکړه، ضرور قبوله کړه ځکه مهمه ده.

لطائف السورة واسرارها وامتیازاتها :

(د سورة فاتحې باریکې او عجیبه فائدې او رازونه او ددې خصوصیات)

امتیازات دیته وائي چه دا سورت ممتاز او جدا وي د نورو سورتونو نه په بعض اسرارو (رازونو) او لطائفو سره. مفسرینو د خپل علم مطابق د هر سورت فائده لیکلې ده، او بعض الله تعالیٰ زمونږ ذهن کښې اچولې دي (ولله الحمد) چه بعضې د هغې نه دا دي (پدې سره به د سورت فاتحې کمالِ عظمت او امتیاز راشي)

١ - اوله فائده - یا - اول حکمة :

په فاتحه کښې د الله تعالیٰ پنځه ښکاره صفتونه دي، او پنځه صفتونه پکښې د بنده دي، د الله تعالیٰ صفتونه دا دي : الله، رب، رحمن، رحیم او مالك. د بنده صفتونه دا دي : العبادة (بندګي)، الاستعانة (مدد طلب کول)، طلب الهدایة (اهدنا) کښې، طلب النعمة (په انعمت علیهم کښې)، او پنځم : (پناهي طلب کول د غضب او ضلال نه) او ددې صفاتو د الله تعالیٰ او د بنده د یو بل سره مناسبت دا دې چه دا هر صفت د بنده د صفت د الله تعالیٰ سره تعلق لري عَلٰی تَرْتِیْبِ اللَّفِّ وَالنَّشْرِ الْمُرَتَّب ـ او هغه دا چه ایاك نعبد کښې عبادت تعلق لري د لفظ د (الله) سره نو د الله تعالیٰ د نوم سره چه ډېر تعلق ډیر شو او یا عبادت درپکښې ښائسته پیدا شو نو ته به الله تعالیٰ اُوپیژنې او چه تعلق ډېر د الله د نوم سره وو نو عبادت کښې به ډېر کمال پیدا کیږي. دویم استعانت : ددې تعلق د رب سره دې ځکه استعانت مدد طلب کولو ته وائي او مدد کول د رب کار دې. نو د رب په معنیٰ چه پوهه شوې نو د استعانت په حقیقت به هم پوهه شې. بل طلب الهدایة ددې تعلق د رحمن سره دې ځکه د هغه یې حده مهربان نه هدایت طلب کول پکار دي. او (انعمت علیهم) کښې طلب النعمة دې او همیشه دپاره نعمتونه د الله تعالیٰ د طرفه کیږي نو ددې تعلق د رحیم سره دې ځکه د رحیم معنیٰ ده همیشه مهربان. او مغضوب علیهم او ضالین کښې استعاذه وه نو ددې تعلق د مالك سره دې ځکه هغه به مونږ ددې شرونو نه ساتي.

٢ - فائده : پدې سورت کښې پنځه صفات د الله تعالی ذکر شو او د انسان په بدن کښې پنځه قُویٰ (قوتونه) دي : ١ - اَلْقُوَّةُ الْمَلَکِیَّة : (د ملائکو قوت او هغه بل ته فائده ورکول

او چا له ضرر نهٔ ورکول دی) ٢- قُوَّةُ النَّفْسِ الْأَمَّارَةِ بِالسُّوْءِ : (هغه نفس چه سړی ته په بدئ امر کوی، امتحاناً الله تعالیٰ مونږ ته داسے نفسونه راکړیدی)۔
٣- اَلْقُوَّةُ السَّبُعِيَّة : (د درنده ګانو صفت قتل وقتال وژل او شوکول دا ورله مزه ورکوی)
٤- اَلْقُوَّةُ الْبَهِيْمِيَّة : (د حیواناتو صفت او هغه دا دے چه خپله خوړل د بل پرواه نهٔ کول) دا صفت هم انسانانو کښې شته دے۔ ٥- البدن : د سر نه د خپو پورے۔

نو اُوس الله تعالیٰ مونږ په امتحان کښې اچولی یو، ددے صفاتو اصلاح به کوو، نو القوة الملکية به قَوِی کوو نو بیا به مونږ د ملائکو نه غوره یو۔ ملائك د بندګانو نه زیات عبادت کوی خو د هغوی د عبادت په نسبت الله تعالیٰ ته د بنده عبادت ډیر خوښ دے، پدے کښې دوه رازونه دی (الله سبحانه وتعالیٰ ښه پو هیږی)۔

یو راز دا دے چه د هغوی خواهشات نشته او د انسان خواهشات شته نو د بنده په عبادت کښې د خواهشاتو خلاف وی نو ځکه الله تعالیٰ ته قیمت لری، دا وجه ده چه هر عمل کښې چه مشقت ډیر وی د هغے قیمت ډیر وی۔

٢- دویمه وجه دا ده چه الله تعالیٰ انسان لره په خپل لاس پیدا کړیدے نو د الله تعالیٰ محبت ورسره ډیر دے۔ نو القوة الملکیه ځان کښې پیدا کول ضروری شو۔

دویم : د نفس اماره بالسوء اصلاح کیږی په رب باندے نو د رب په ذکر به دِے نفس جوړیږی۔او د قوت سَبُعيه په صفت د رحمن باندے اصلاح کیږی، ددے سره تعلق ساته او د الرحیم سره د تعلق په وجه د قوة بهیمیه اصلاح کیږی او د مالك سره د تعلق په وجه به اصلاح د ټول بدن کیږی۔

٣- فائده : د عاقل دپاره مناسب دا ده چه اصلاح ئے اُوشی چه رجوع اُوکړی خپل مقصد ته۔ چه هغه عبادت او استعانة دے خو د ځان اصلاح مقدمه ده نو پدے سورت کښے دا یو سرّ (راز) او حکمت دے، اوددے نه روستو هدایت د الله تعالیٰ نه اُوغواړه او صحبة العقلاء (د عاقلانو ملګرتوب) اُوکړه۔ نو حاصل د سورة دا را اُوتو :

[اَوَّلًا اِصْلَاحُ النَّفْسِ، ثَانِيًا اَلرُّجُوْعُ اِلَى الْمَقْصَدِ۔ ثَالِثًا: طَلَبُ الْهِدَايَةِ، رَابِعًا: صُحْبَةُ الْعُقَلَاءِ]

نو دے سورت کښې الله تعالیٰ مونږ ته د ژوند تیرولو طریقه راوخودله ۔

٤- فائده : پدے سورت کښې د سیر الی الله (الله تعالیٰ ته د ورتللو) طریقه خودلے شویده، الله تعالیٰ زمونږ مقصد دے، هغه طرفته به ورځو مزل به کوو، هغه ته به فِرار

(تیخته) کوو نو د ورتلودپاره په سفر کښې څو خبرې ضروري وي :
اول : الزاد (توښه) به ځان سره واخلې۔ دویم : ...... دِلِّیل (لارخود، رهنما) به درسره وي چه لاره درته اُوخائي۔ دریم : موانع به لرې کوي کله چه دا ټول څیزونه درسره نهٔ وي نو نشي رسیدلې۔ نو چه الله تعالیٰ ته روان ئې نو د عبادت توخه درسره واخله۔ بیا سفر لرې دې نو مدد به اُوغوارې د الله تعالیٰ نه او بیا د لارې معلومات اُوکړه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول محمد رسول الله ﷺ نه، او د صحیح لارې والو سره ملګرې شه، او موانع او مشکلات د ځان نه لرې کړه په استعاذه بالمولیٰ (د الله تعالیٰ نه په پناهي طلب کولو سره)۔

۵- فائده: پدې سورة کښې د الله تعالیٰ تقریباً (۱۲) نومونه ذکر دي خو څه صراحةً او څه ضمناً۔ دا هر یو نوم یو صحیح عقیده ثابتوي، او غلطې عقیدې رد کوي، دا د قرآن کریم ناشنا کمال دې چه د بدعت د پیدا کیدو نه مخکښې په بدعت رد کوي۔ الله تعالیٰ قرآن کریم کښې داسې خبره کړیده چه د مخکښې نه په هغه غلطو عقیدو رد دې، د الله تعالیٰ هغه (۱۲) نومونه دا دي : د الحمد نه محمود معلومیږي، دویم لله ، دریم رب، څلورم رحمان، پنځم رحیم، شپږم مالك، اُووم الدین کښې (اَلدَّیَّان) پروت دې یعنی جزاء ورکونکې ذات۔ په ایاك نعبد کښې معبود صفت دې دا اتم او په نستعین کښې مستعان پروت دې او اهدنا کښې هادي دې او انعمت کښې مُنْعِم او مغضوب کښې د الله تعالیٰ د غضب صفت دې او په ضالین کښې د اِضلال (ګمراه کولو) صفت دې لکه (يُضِلُّ مَنْ يَّشَآءُ) نو دیکښې یو د الله تعالیٰ د ډیرو صفتونو ذکر، او بل پکښې د غلطو عقیدو رد دې۔
په الحمد کښې په مشرکانو رد دې چه د بل چا دپاره صفات د کمال وائي، او هغه لائق د ټولو حمدونو مني، نو اُوویل شو چه صرف الله تعالیٰ معبود دې، نو په لله کښې دا صحیح عقیده ثابته شوه چه بل معبود نشته۔ نو دیکښې هم په شرك فی العبادة رد شو۔
او په رب العالمین کښې په دهریت رددې چه هغوی د عالم دپاره رب نهٔ مني۔
په الرحمن الرحیم کښې په جهمیه ؤ رد دې چه د الله تعالیٰ د صفاتو نه منکر دي، اشاعره او ماتریدیه ؤ باندې هم رد دې۔ چه پدې صفاتو کښې تاویلات کوي۔
په اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ کښې په قدریه او جبریه ؤ رد دې، په مالك یوم الدین کښې په

منکرینو د آخرت رد دے په اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِیۡمَ کښې په هغه ډلو رد دے چه هغه وائی چه انسان د خپل هدایت خپله ذمه وار دے۔
اَنۡعَمۡتَ عَلَیۡهِمۡ کښې په شیعه ګانو رد دے چه صحابه کرامؓ ته بد ګوری او بعض یهود انبیاء علیهم السلام ته بد ګوری انبیاء علیهم السلام ئے قتل کړی هم دی۔ ورسره په خوارجو هم رد دے چه هغوی سلفو ته کافر وائی۔
او په غیر المغضوب علیهم کښې په یهودو رد دے او په الضالین کښې په نصاراؤ رد دے او په دے کښې هم په خوارجو رد دے ځکه چه په هر ضلال سره ټول خلق نۀ کافر کیږی، نو په هغوی باندے رد شو نو پدے سورة کښې چه ته سوچ اُوکړے نو دا قسم علوم به درته معلوم شی، او دا د قرآن کریم ناشنا کمال دے۔
٦- فائده : بعض مفسرینو لیکلی دی چه دا سورت په څلورو علمونو مشتمل دے۔ اول علم الاصول۔ (د عقائدو علم) دیته اشاره ده په الحمد لله کښې ۔ دویم معرفة النبوة دا په (اَنۡعَمۡتَ عَلَیۡهِمۡ) کښې دے ځکه هلته اول انبیاء مراد دی او دا په علم اصول کښې داخل دے۔ دریم مَعۡرِفَةُ الۡمَعَاد (د آخرت پیژندل) دا هم په علم الاصول کښې داخل دے۔ دا په مالك یوم الدین کښې دے، او د قرآن درے موضوع ګانے دی ۔ ۱- د الله پیژندل۔ ۲- د رسول پیژندل۔ ۳- او د قیامت پیژندل۔ دا دریواړه پدے کښې راغلل نو دا یو علم شو۔
۲- دویم : علم الاحکام دے، متأخرین ورته علم الفروع وائی۔ دا په (ایاك نعبد وایاك نستعین) کښې دے۔ ۳- دریم : علم الاخلاق دے، دا په ایاك نستعین کښې دے ځکه چه دا د اخلاقو تقاضا ده چه الله ته به ځان محتاج ګڼړے ځکه چه کبر او عجب په سړی کښې بد اخلاق دی۔ ٤- څلورم علم : عِلۡمُ قِصَصِ الۡاَوَّلِیۡنَ (الصُّلَحَاءِ السُّعَدَاءِ وَالۡاَشۡقِیَاءِ)
دیته علم التاریخ هم وائی چه په اُمتونو کښې نیکان او بدان دواړه تیر شویدی۔ نو دا په انعمت علیهم او غیر المغضوب علیهم او الضالین کښې دی نو ټول علوم په فاتحه کښې اجمالًا راجمع شو۔
۷- فائده: پدے سورت کښې دوه علاجونه دی، یو شفاء الابدان او بل شفاء القلوب۔ د زړونو شفاء دا ده چه په زړه کښې څومره مرضونه دی، د ټولو دارومدار په دوو خبرو دے :
۱- یو فساد العلم (چه علم او تصور خراب شی) ۲- دویم فَسَادُ الۡقَصۡدِ وَالۡاِرَادَة (چه عمل په ورانه اراده کوی) نو په اهدنا الصراط المستقیم کښې اشاره ده چه دا متضمن

دے دپاره د شفاء د فساد العلم يعنى اے الله ! كه زمونږه علم خرابيږى نو ته ئے مهٔ خرابوے، ته مونږ ته هدايت اُوكړه، زمونږ نظريه مهٔ خرابوه ـ فساد العلم ته ضلال هم وائى۔
او په اياك نعبد واياك نستعين كښې شفاء ده د مرض د فساد القصد چه اے الله ! زمونږ اراده سمه كړے، چه هر عمل ستا دپاره كوو۔ او فساد القصد والو ته مغضوب عليهم وائى۔ نو دوه قسمه شفاء ګانے پكښې موجود دى۔ په غير المغضوب كښې مرض د فساد القصد پروت دے ځكه د يهودو مقصد خراب او فاسد وو۔
○ همدارنګه نفس كښې دوه مرضونه نور دى (اَلْكِبْرُ وَالرِّيَاءُ) د هغے علاج هم پكښې دے، تكبر لوئى مرض دے او ددے معنىٰ ده [بَطَرُ الحق وغَمْطُ النَّاسِ] (حق له ديكه وركول، نهٔ منل او خلق سپك ګنړل) دويم مرض رياء ده دا هم غټ مرض دے بل چا ته ځان خودل۔ ددے دواړو دپاره شفاء په يو آيت كښې ده اياك نعبد پدے كښې رياء دفع شوه او اياك نستعين كښې دفع د كبر ده چه مونږ ستا د عبادت صلاحيت نهٔ لرو، تهٔ راته توفيق راكړه۔
۸- **فائده** : اول ددے سورت كښے د الله تعالىٰ حمد دے، او آخر كښې د ايمان نه د مُعرضينو (اِعراض كونكو) ذم دے۔ او دا دلالت كوى پدے چه د ټولو خيرونو مطلع او سر، الله تعالىٰ ته اقبال او متوجه كيدل دى او سر د ټولو آفاتو د الله تعالىٰ نه اعراض كول دى، نو كوم سړے چه الله تعالىٰ ته نزدے شو نو ټول خيرونه ئے د سر نه راونيول او اعراض د الله تعالىٰ نه، بُعد او جداوالے دے د الله تعالىٰ د اطاعت نه، او نتيجه ئے غضب او ضلالة دے۔ او دا د ټولو آفاتو بنياد دے۔ نو دا سورة مونږ ته دا وائى چه يو سړے غواړى چه نيكبخته شى نو الله تعالىٰ ته دے توجه اُوكړى او كه بد بختى غواړى نو د الله تعالىٰ نه دے اعراض اُوكړى۔
۹- **فائده** : پدے سورة كښې د الله تعالىٰ پنځه قسمه معرفتونه دى۔ (۱) مَعْرِفَةُ الذَّاتِ (د الله د ذات پيژندل دا په الحمد لله كښې دى۔ (۲) مَعْرِفَةُ الصِّفَاتِ (دا په رب العالمين الرحمن الرحيم مالك يوم الدين كښې دى) (۳) مَعْرِفَةُ حُقُوْقِ اللّٰهِ (دا په اياك نعبد كښې ذكر دى)۔
(٤) مَعْرِفَةُ الطَّرِيْقِ الْمُوْصِلِ اِلَى اللّٰهِ (الله تعالىٰ ته د رسيدونكى لارے پيژندل) دا په اهدنا كښې دے۔

(۵) مَعْرِفَةُ اَهْلِ الْمَعْرِفَة (د الله پيژندونكي خلق پيژندل) هغه په انعمت عليهم كښې دي.

۱۰- فائده : په دې سورة كښې پنځه قسمه توحيد ذكر دي (۱) توحيد الذات.
د دې معنیٰ دا ده چه د الله تعالیٰ ذات يواځې اُوګڼړلے شي. او په ذات كښې ورسره شريك اُونه ګڼړلے شي. (۲) تَوْحِيْدُ الرُّبُوْبِيَّةِ (ديته وائي چه دا عقيده اُوساتي چه د كائناتو خالق، مالك، رازق او مدبر صرف الله تعالیٰ دے، دا توحيد د ملاحده او زنادقهؤ نه علاوه ټول خلق مني. تر دې چه مشركين هم د دې قائل وو. لكه قرآن كريم كښې به ځائے په ځائے راشي چه مشركانو به خالق او مالك او رازق الله تعالیٰ ګڼړلو).
(۳) توحيد الاسماء والصفات (د دې مطلب دا دے چه د الله تعالیٰ كوم صفات په قرآن او حديث كښې بيان شويدي، هغه بغير د تاويل او تحريف نه منل، او هغه صفات په مخلوق كښې د خالق په شان نۀ منل).
(٤) توحيد الالوهية (چه د عبادت د تمام اقسامو مستحق صرف الله تعالیٰ دے، او د قبرپرستئ په مرض كښې مبتلا عوام او خواص په دې توحيد اُلوهيت كښې شرك كوي، خپل نذر او منختې او طوافونه، خوف او التجاء غير الله د پاره كوي) دا په (لله) او اياك نعبد كښې ذكر دي.
(۵) توحيد الحاكمية والتشريع. (قانون ساز او شارع صرف او صرف الله تعالیٰ ګڼړل او د الله تعالیٰ د قانون سره بل قانون يو شان نۀ ګڼړل) دا په اِهْدِنَا او اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ كښې راغلي دي نو په سورتِ فاتحه چه څوك صحيح ځان پوهه كړي نو صحيح موحد به ترې جوړ شي.

۱۱- فائده : په دې سورة كښې پنځه عبادات ذكر دي صراحةً :
(۱) اَلتَّسْمِيَه (بسم الله وئيل) هم عبادت دے. په ډيرو ځايونو كښې مونږ ته د بسم الله وئيلو امر راغلے دے.
(۲) اَلتَّحْمِيْدُ (د الله حمد وئيل دا هم عبادت دے لكه د دې فضائل مخكښې ذكر شو).
(۳) اَلْعِبَادَةُ : اياك نعبد كښې د الله عبادتونه دي.
(٤) اياك نستعين كښې (استعانة) د الله نه مدد طلب كول.
(۵) الدعاء : اهدنا كښې ذكر ده.

۱۲- فائده : په دې سورت كښې نور هم ډير فوائد دي لكه په "فتح البيان" كښې

صدیق حسن خان صاحبؒ لیکلی دیٰ چه پدے سورت کښ الله تعالیٰ توحید ذکر کړیدے د دیرشو وجو نه بیا ئے تفصیل سره دیرش وجوه ذکر کړیدی۔

۱۳ - **فائده:** پدے سورت کښ د کامل ایمان بیان دے او هغه په څلورو شیانو حاصلیږی (اَلْخَوْف، اَلرَّجَآء، اَلْمَحَبَّة، اَلْوَلَاءُ وَالْبَرَاءُ)۔ نو خوف په مالك یوم الدین او رب العالمین کښ دے۔ او رجاء په الرحمن الرحیم کښ ده۔ او محبت په ایاك نعبد کښ دے او دوستی او دشمنی په انعمت او مغضوب کښ ده۔ نو اُوګوره دا صفات چه کله چا کښ راشی نو څومره کامل مؤمن به شی او دے عظیمے فائدے ته دے سورت ښه په وضاحت سره اشاره کړے ده۔ نو اُوګوره کمال ددے سورت۔

۱٤ - **فائده** : دارنګه افضل الاعمال او احسن احوال العبد (د بنده بهترین اعمال او ښائسته حالت) پدے سورت کښ ذکر دی : (۱) اول دا چه بنده شاکر او حامد وی د خپل رب۔ (۲) دویم چه ذاکر وی او غافل نهٔ وی د خپل رب نه (ایاك نعبد کښ) (۳) دریم چه متضرع او فقیر وی خپل الله تعالیٰ ته (ایاك نستعین) (٤) څلورم دا چه عالم بالحق وی او عامل وی په حق۔ (اهدنا) (۵) پنځم چه خائف (یریدونکے) وی د زوال د ایمان او د سوءِ الخاتمے نه، متکبر او فخر کونکے نهٔ وی په خپلو اعمالو باندے۔ غیر المغضوب علیهم کښ دے ته اشاره ده۔ نو اُوګوره کمال د سورت ته چه څومره بهترین اعمال او احوال د بنده ئے راوړی دی او ترغیب ئے ورکړیدے نو پکار ده چه هر بنده مؤمن همدارنګه جوړ شی۔

۱۵ - **فائده** : پدے سورت کښ د الله تعالیٰ اعظم الاسماء دی (۱) لفظ الجلالة (الله) (۲) دویم رب العالمین (۳) الرحمن (٤) الرحیم (۵) مالك۔ او علماؤ دے نومونو ته اسم اعظم وئیلی دی چه ددے په واسطه دعاګانے ښے قبلیږی او الله تعالیٰ ته انسان ډیر ورقریب کیږی۔نو ددے اسماؤ ورد او پدے سره ذکرکول ډیر پکار دی۔

۱٦- **فائده** : مؤمن کښ اعلیٰ صفت احسان دے۔ نو دے سورت کښ احسان ته د رسیدلو چل او طریقه خودلے شویده او هغه دا چه (۱) اولاً د رب العالمین په کمال کښ سوچ اُوکړه بیا د هغه په انعاماتو کښ سوچ بیا په تفرد د ملوکیت کښ سوچ۔ نو ددے نه به یو کیفیت په زړه کښ پیدا شی نو بیا به توجه اُوکړی دے لوئی رب ته په تضرع او خشوع او ذلت او دعاء سره۔ نو بس ددے نه بعد یقیناً احسان ته رسیدل دی، ته خپله لر

دا کار اختیار کړه چه ته د احسان په خوند پو هه شې۔ والله المستعان۔

١٧- فائده : سورت ئې په الحمد شروع کړو اشاره ده چه ددې کتاب نازلول يو لوئی نعمت دې چه دغه الله پاك په دې سره مستحق د حمد دې چه اُوكړې شي هغه لره لكه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْكِتَابَ﴾ كښې دې ته اشاره ده۔

١٨- فائده : د قرآن كريم موضوع ده معرفة الرب۔ (٢) معرفة الرسالة۔ (٣) اثبات المعاد۔ لكه اصولو كښې مونږ ددې تفصيل مخكښې ليكلې دې، ددې بل نوم توحيد، رسالت او معاد دې۔ نو سورت فاتحه كښې دا درې واړه مضامين ښه په بهتر انداز بيان شويدي نو ځكه دا سورت مستحق دې چه ام القرآن ورته اُووئيلې شي۔

١٩- فائده : سورت فاتحه په سعادت او عزت او كمال د بنده مشتمل ده۔ تفصيل دا دې چه انسان كښې دوه قوتونه دي (١) علمي (٢) دويم عملي۔ دوه سعادتونه هله راځي چه دا دواړه قوتونه د بنده كامل شي، نو قوت علمي بيا كامليږي :

(١) [بِمَعْرِفَةِ فَاطِرِهٖ وَخَالِقِهٖ] (د خپل خالق او د هغه د اسماء او صفاتو په پيژندلو سره)۔

(٢) او هغه لاره پيژندل چه الله تعالىٰ ته رسيدلې ده۔

(٣) – پدې لاره باندې مضبوطيدل او استقامت كول۔ (٤) دارنگه د لارې آفات پيژندل،

(٥) دارنگه د خپل نفس عيوب او خپل نفس پيژندل نو دا پنځه معرفتونه قوت علمي كمال ته رسوی۔

٢ – او قوت عملي كمال ته رسيږي (١)– په معرفت د حقوق الله په بنده باندې۔

(٢) بيا هغه اخلاص او صدق او خير خواهي سره ادا كول۔ (٣) دارنگه په طريقه د احسان (٤) او متابعة الرسول ﷺ۔ (د رسول الله ﷺ تابعداری)۔ (٥) او د الله تعالىٰ احسان په ځان منل او خپلې كوتاهي ته كتل، د هغې په ادا كولو كښې نو هر وقت دا مؤمن حياء كوی د خپل رب نه چه زه خو ستا د حق مطابق عبادت نشم كولې۔

دارنگه دا مؤمن وائي چه زما دواړه قوتونه كمال ته نشي رسيدلې چه ترڅو خپل مولا راسره مدد نهٔ وی كړې نو ځكه خپل ځان هر وقت د الله تعالىٰ هدايت ته محتاج گنړی او خپل ځان محتاج گنړی چه چرته ددې نيغې لارې نه وانهٔ وړم (بِفَسَادِ الْقَصْدِ) چه قصد مې خراب نشي۔ او په ضلال كښې واقع نشم په فساد العلم (د علم په خرابيدو) سره۔ نو

اُوس اُوګوره د الحمد نه تر مالك پورې معرفة الرب دې او په اياك نعبد کښې معرفت د لارې دې کومه لاره چه الله تعالیٰ ته رسيدو والا ده۔
او په (اهدنا) کښې استقامت دې په دغه لاره او په (غير المغضوب او ضالين) کښې د افراط او تفريط نه بچ کيدل دي نو اول د سورت رحمت دې او مينځ ئې هدايت دې او آخر ئې نعمت دې۔ نو انسان ته به دومره نعمت ملاويږي څومره چه ورسره هدايت وو (فَحَظُّ الْعَبْدِ مِنَ النِّعْمَةِ عَلٰى قَدْرِ حَظِّهٖ مِنَ الْهِدَايَةِ)
بيا هدايت موقوف دې په رحمت او رحمت د لوازماتو د ربوبيت نه دې او ربوبيت نه د الله تعالیٰ اُلوهيت لازميږي نو الله تعالیٰ اِلٰه حق دې۔ نو اُوګوره سورت فاتحه کښې څومره عزيز او بارك علم دې۔ پدې فائده ځان پوهه کړه۔
[الفوائد لابن القيمؒ مفصلاً ص : ۳۱و۳۳]
۲۰- فائده - دې سورت کښې د جذبهٔ شکر تعليم دې، چه بنده به د شکر جذبه څرنګه زړه کښې پيدا کوي نو د هغې طريقه دا ده چه اولًا د الله تعالیٰ په ربوبيت او تربيت د مخلوقاتو کښې سوچ اُوکړي بيا دِې د الله تعالیٰ رحمت پدې مخلوقاتو کښې سوچ اُوکړي بيا دِې د الله تعالیٰ د عدل او احسان فيصله په ورځ د قيامت کښې سوچ اُوکړي نو ددې جذبه قلبي او سوچ نه به د الله تعالیٰ د عبادت شوق پيدا شي۔ او بيا به دا مؤمن د الله تعالیٰ نه مدد غواړي په کولو د دغه بندګۍ کښې او د الله تعالیٰ نه به هدايت غواړي په دغه بندګۍ کښې نو د دين بنياد بندګي ده او د بندګۍ بنياد جذبه د شکر ده۔
بعض خلق صرف (خوف) بنياد د بندګي جوړه وي ليکن صحيح دا ده چه شکر او خوف دواړه په بندګۍ او ديندارۍ باندې باعث دي۔
۲۱- فائده : ما يو ځل په سورت فاتحه کښې تدبر کولو نو دا سوچ راغې چه ايمان او صبر او تقویٰ او خشوع او علو الهمة خو قرآن کريم کښې بار بار بيانيږي او دا اَساسي اعمال دي، نو ولې سورت فاتحه چه جامع ترين سورت دې، ددې بنيادي اعمالو نه خالي ده۔ نو بيرته الله سبحانه وتعالیٰ په زړه کښې راواچول چه دې سورت کښې درې کلمات استعمال دي (۱) العبادة (۲) الهداية (۳) انعمت عليهم۔ چه دا مشتمل دي په ټولو ايمانياتو، اعمال صالحهٔ او مقامات الاحسان او مقامات العارفين باندې۔ د دين هر ظاهري او باطني عمل پدې کلماتو کښې داخل دې ـ [فَمَا اَعْظَمَ هٰذِهِ السُّوْرَةَ ؟]

۲۲- فائده: د ټولو انبياء عليهم السلام او د الله تعالیٰ د ټولو کتابونو دعوت، اصلاح الانسان ته دے، چه د انسان پوره اصلاح اُوشی، بيا د اصلاح بنياد په یو څو خصلتونو دے چه لس بلکه د هغے نه زياتيږی او هغه ټول ښائسته خصلتونه په سورت فاتحه کښې په ښکلی انداز راوړل شويدی چه دا کتاب د ډير حکيم او عليم کتاب دے چه عجائبات ئے نهٔ ختميږی۔

او هغه خصلتونه دا دی (۱) اَلتَّوحِيدُ بِجَمِيعِ اَنوَاعِهٖ (د توحيد ټول اقسام) (۲) الشکر والحمد (۳) الايمان واليقين (دا په رب العالمين کښې دے)

(٤) اَلرَّحمَةُ وَالشَّفَقَةُ عَلٰى خَلقِ اللّٰهِ (د الله تعالیٰ په مخلوق رحمت او شفقت کول) دا په الرحمن الرحيم کښې شته، د (تَخَلَّقُوا بِاَخلَاقِ اللّٰهِ) په طريقه استدلال اُوکړه۔ دارنګه په انعمت کښې هم شته۔ (۵) العبادة۔

(٦) [اَلخُشُوعُ وَالفَقرُ اِلَى اللّٰهِ تَعَالٰى] (الله تعالیٰ ته خشوع او فقر کول) (په اياك نستعين کښې) (۷) [اَلهِدَايَةُ وَمَعرِفَةُ الحَقِّ وَالعَمَلُ بِهٖ]

(هداية او حق پيژندل او په هغے عمل کول) په (اهدنا) کښې۔

(۸) اَلاِستِقَامَةُ عَلَى الحَقِّ (په حق مضبوطيدل) (۹) اَلمَحَبَّةُ وَالاُنسُ۔ دا په انعمت عليهم کښې شته۔

(۱۰) اَلخَوفُ عَن زَوَالِ الاِيمَانِ، اَوِ الحَيدَةُ عَنِ الحَقِّ

(يعنی د حق نه د اوړيدلو يا د ايمان زائله کيدو نه يره کول) دا په غير المغضوب عليهم ولا الضالين کښې شته۔ نو ګوره سورت فاتحه د ټولو آسمانی دينونو خلاصه ده۔ نو ځکه ورته د مؤمن په هر وقت کښې ضرورت دے۔

۲۳- فائده : سورت فاتحه کښې د ټولو ناکاره خصلتونو علاج او شفاء هم ده که چا اراده اُوکړه او د خپل رب نه ئے مدد اُوغوختلو۔ په انسان کښې ډير ناکاره خصلتونه او خويونه دا دی :

(۱) ..... ناشکری ﴿اِنَّ الاِنسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُودٌ﴾ (العاديات) ﴿اِنَّ الاِنسَانَ لَكَفُورٌ مُّبِينٌ﴾ (الزخرف)

(۲) ..... [اَلشِّركُ بِاللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي حُقُوقِهٖ وَعِبَادَاتِهٖ]

(د الله تعالیٰ سره شرك كول د هغه په حقوق او عبادتونو کښې)

(۳) ..... اَلكِبرُ وَالعُلُوُّ (تکبر او ځان لوئی ګڼړل) (٤) اَلبِدعَةُ وَمُخَالَفَةُ السُّنَّةِ (اهدنا)

(٥) اَلشُّذُوْذُ وَالتَّفَرُّدُ عَنْ جَمَاعَةِ الْمُسْلِمِيْنَ (د مسلمانانو د جماعت نه جدا كيدل) (انعمت عليهم)

(٦) اَلْكُفْرُ عَمْدًا (قصداً كفر كول) (مغضوب)۔ (٧) اَلْجَهْلُ بِالْحَقِّ (د حق نه ناخبرى) (الضالين) (٨) [تَقْلِيْدُ الرِّجَالِ وَكَوْنُهٗ إِمَّعَةً] (د آراء الرجال پسے تلل بلا تحقيق او بلا دليله)۔ په اهدنا كښې او په انعمت عليهم كښې دے مرض ته اشاره ده۔

ځكه مُنْعَمُ عَلَيْهِمْ د حق پيژندونكى او په هغې عمل كونكى وو او تقليد خو جهل ته وائى په اجماع د علماء او عقلاؤ سره لكه روستو به راشى ان شاء الله تعالىٰ۔

نو اُوګوره دے سورت ټول ناكاره مرضونو له معالجه كړے ده۔ وبالله التوفيق۔

٢٤- فائده : د قيامت ډير نومونه دى، نو يوم الدين ئے دلته ولے اختيار كړو نو ددے يو څو فائدے دى : (١) اوله دا ده چه مخكښې د رب العالمين تذكره اُوشوه، الله تعالىٰ د مخلوقاتو تربيت كونكے دے، رزق وركوى، ژوند او نعمتونه وركوى، نو دلته ئے دا جمله وريسے راوړه چه دا تربيت د يو عظيم مقصد دپاره دے او هغه دا چه انسان به عمل كونكے وى د الله تعالىٰ د رضا، او كه نۀ وى نو بيا به دۀ ته سزا ملاويږى۔ نو په دے جمله كښې ددۀ د عملونو سزاء او جزاء ته اشاره ده او اهتمام الشرع باعمال العباد (د شريعت د بندګانو د عملونو اهتمام) ته اشاره ده لكه الله تعالىٰ فرمائى :

﴿وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ذٰلِكَ ظَنُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ أَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِى الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِيْنَ كَالْفُجَّارِ﴾ (ص: ٢٧،٢٨)

نو دا آيتونه ددے يوم الدين او رب العالمين تفسير دے۔

(٢) دويمه فائده پدے لفظ كښې دا ده چه د الله تعالىٰ تربيت صرف د دنيا پورے ندے خاص بلكه د هغه تربيت او فاعليت به هميشه وى۔

(٣) دريمه فائده دا ده چه په دے (يوم الدين جمله) باندے اياك نعبد مرتب كول مقصود دے، اشاره ده چه څوك د الله تعالىٰ خالص عبادت كوى نو هغه دِے د مخكښې نه ايمان اُولرى، چه ددے ښكلے او مزيداره بدله شته۔

انسان ته تنبيه ده چه ستا عبادت ضائع كيږى نۀ، بلكه الله تعالىٰ به ضرور بدله دركوى۔

٢٥- فائده : د صراط مستقیم ډیر صفات دی، دلته سورت فاتحه کښې یو راوړل شویدے او هغه دا دے : صراط الذین انعمت علیهم غیر المغضوب علیهم الآیة۔
او پدے کښې حکمة دا دے (والله اعلم) چه د الله تعالیٰ رحمت جوش کښې راوستل دی، پدے شان چه اے الله ربه ! تا خو نورو خلقو سره احسان کړیدے نو مونږه سره هم اُوکړه !۔ لکه یو سړے بل سخی سړی ته وائی (أَكْرِمْنِيْ كَمَا اَكْرَمْتَ فُلَانًا) نو پدے سره د هغه جود او سخا جوش کښې راځی۔
○ بل حکمة دا دے چه تواضع طرف ته اشاره ده چه اے الله ! مونږ د دغه نیکانو خلقو اقتداء کوو او د هغوی د نقش قدم پسے روان یو نو د هغوی په شان انعام مونږ سره اُوکړه۔
○ تفسیر التنویر کښې ابن عاشوړ لیکی : پدے کښې تفاول او تعوذ دواړه شته، فأل نیول دی چه مونږ به هم الله تعالیٰ منعم علیهم وګرزوی او تعوذ دے د حال د مغضوب علیهم نه۔
٢٦- فائده: پدے سورت کښې د النفس الامارة بالسوء تهذیب دے او دا په دوه څیزونو دے (١) بالخوف (د الله نه په یره او دا په مالك یوم الدین، او غیر المغضوب علیهم) کښې دے۔
(٢) دویم په عبادت سره دے، ځکه عبادت سره انسان ښائسته کیږی او عبادت د الله تعالیٰ رنګ دے ﴿وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللهِ صِبْغَةً وَّنَحْنُ لَهٗ عَابِدُوْنَ﴾۔
٢٧- فائده : پدے سورت کښې د بنده کمال بیان شویدے او دا په دوه څیزونو دے (١) بِالتَّخْلِيَه (٢) وَبِالتَّحْلِيَه۔ تخلیه (یعنی د بدو صفاتو او اخلاقو نه صفائی راوستل په غیر المغضوب علیهم ولا الضالین کښې دی او تحلیه (یعنی ځان ښائسته کول په ښائسته صفاتو او اخلاقو) په ایاك نعبد وایاك نستعین کښې دی ځکه د عبادت نه ښائسته ګانړه بله نشته۔
٢٨- فائده : پدے سورت کښې د دوه امرینو بیان دے په کوم باندے چه الله تعالیٰ د جنت وعده کړیده۔ (١) تَرْكُ اِرَادَةِ الْعُلُوِّ (د علو او تکبر اراده نهٔ کول)
(٢) او تَرْكُ اِرَادَةِ الْفَسَادِ (د فساد اراده نهٔ کول) لکه آیت کښې دی : ﴿تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَايُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا﴾ (القصص : ٨٣) او دا دواړه په ایاك نعبد او

په غیر المغضوب علیهم کښې دی ځکه په عبادت سره علو ختمیږی او په مغضوب علیهم کښې اهل فساد دی۔

۲۹- فائده : پدې سورت کښې دفع د دوه مشهور مرضونو ده (۱) الشبهات (۲) والشهوات۔

اول په اِهْدِنَا او غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْن کښې ده او دویم په ایاك نعبد کښې ده ځکه عبادات او شهوات دواړه نۀ راجمع کیږی۔

﴿فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ﴾ (مریم :۵۹)

۳۰- فائده : د ایمان شعب (۷۷) دی او خصال حمیده (ښکلې خصلتونه) (۳۶۰) دی لکه ابن ابی الدنیا په مکارم الاخلاق کښې د ابوبکر صدیق نه مرفوعاً نقل کړیدی۔ او د رسول الله ﷺ اخلاق د (۲۰۰) نه زیات دی او د هغه نه منفی شوی اخلاق (۱۶۱) دی کما فی نضرة النعیم۔ او د عبادت او استعانت منازل د (۱۰۰) نه زیات دی کما فی المدارج۔ او دا ټول امور په ایاك نعبد او په انعمت علیهم کښې داخل دی۔نو که یو عالِم د سورت فاتحه مکمل تفسیر په یو کال کښې کوی هم پوره به ئې نکړی۔

۳۱- فائده : سورة الفاتحه مقدمه د قرآن کریم ده او قاعده په مقدمه کښې دا وی چه (۱) مقدمه مختصره وی، دې دپاره چه سامعین په اُوږد انتظار ستړی نۀ شی، او دا خبره په فاتحه کښې ښکاره ده۔ (۲) دویم دا چه په مقدمه کښې اشاره وی غرض او مقصود ته او دیته براعة الاستهلال هم وائی دې دپاره چه د سامعینو شوق پیدا شی او د هغې زده کولو ته تیار شی۔

(۳) دریم دا چه مقدمه پکار ده چه د جوامع الکلم نه وی لکه دا خبره علماء البیان ذکر کړیده کله چه هغوی هغه مواضع ذکر کوی چه په هغې کښې د متکلم دپاره مناسب وی چه عجیب او فصیح کلام راوړی۔

(٤) دارنګه مقدمه کښې افتتاح وی په الحمد لله سره۔ (التنویر ۱/۱۵۰)

۳۲- فائده : دې سورت د رب سبحانه وتعالیٰ سره د ادب طریقه خودلې ده او هغه دا چه د حاجت نه مخکښې د الله تعالیٰ حمد اُووئیلې شی او د هغه تعظیم اُوکړې شی (ایاك) او هغه ته تذلل او عاجزی اُوکړې شی او بنده د الله تعالیٰ مخې ته خپل نفس جاهل اُوګنړی، چه دۀ ته هدایت به صرف الله تعالیٰ کوی، او الله تعالیٰ ته به د خیر نسبت کوی

په صیغه د معلوم (انعمت علیهم) او د شر نسبت به کوی په صیغه د مجهول (غیر المغضوب) او ادب په شرع او عقل کښې عظیم شے دے۔ پدے سره ډیر څه حاصلیږی۔

۳۳- فائده : پدے سورت کښې تشخیص د انسان دے هغه دا چه (۱) ددهٔ مرض او بیماری ئے بیان کړیده (۲) دارنګه سبب د مرض (۳) او علاج د مرض۔ نو بیماری او مرض ئے د الله تعالیٰ نه قصداً اعراضُ کول دی (المغضوب علیهم) او سبب د مرض ئے د انبیاء علیهم السلام، او د صالحینو اقتداء پریخودل دی۔ (صراط الذین انعمت علیهم) او علاج د مرض دا دے چه الله تعالیٰ ته په عبادت او استعانت او طلب د هدایت سره رجوع اُوکړی۔ څه عجیب ښائسته راز دے !۔

۳٤- فائده: درے څیزونه نجات ورکونکی، آسانی راوستونکی دی :

(۱) اِعْطَاء ...... (ورکړه) (۲) التقویٰ۔ (۳) د الله تعالیٰ په وعدو باندے تصدیق کول۔ او درے څیزونه هلاکونکی، سختی راوستونکی دی۔ (۱) په ورکړے شوی نعمتونو بخل کول۔ (۲) د الله تعالیٰ عظیم ذات نه استغناء (بے پرواهی) کول۔ (۳) د الله تعالیٰ د وعدو تکذیب کول۔ اول ته اشاره ده په انعمت علیهم کښې ځکه چه دا اعمال د صالحینو په هغوی نعمت دے ځکه چه دا اعمال باعث دی نورو اعمالو ښه په فراخوالی او آسانتیا سره۔ او دویم ته اشاره ده په غیر المغضوب علیهم ولا الضالین کښې ځکه دغه درے څیزونه په انسان باندے د خیر لارے تنګوی او کله چه د خیر لارے په انسان بندے شی نو غضب پرے نازل شی۔

۳۵- فائده : انسانان دوه قسمه دی (۱) اَهْلُ التَّزْكِيَة) (د نفس پاکونکی) او دا اصحاب الفلاح (کامیاب خلق) دی۔ (۲) او دویم قسم اَهْلُ التَّدْسِيَة (د نفس خرابونکی) دی، او دا د حِرْمَان او خُسران والا دی او دے دواړو ته اشاره ده په (انعمت علیهم او غیر المغضوب علیهم) سره۔

۳٦- فائده : د بنده کمال په دوه امرینو کښې دے او د دواړو راجمع کول ضروری دی، لیکن ډیر کم کرت راجمع کیږی۔ (۱) اَلْبَصِيْرَةُ وَمَعْرِفَةُ الْحَقِّ ۔ یعنی بصیرت او د حق پیژندل او دیته قوت نظری یا علم نافع یا الایمان الصحیح وئیلے شی یا ددے نه تعبیر کیږی په کیدلو د سرِی د اُولِي الْاَبْصَار نه۔ (۲) دویم : الصبر۔ (صبر کول) او دیته قوت عملیه، یا عمل صالح، یا کیدل د سری د اُولِي الْاَيْدِیْ نه وئیلے شی۔

او دے سورت پہ دواړو خبرو تیزی ورکړیده، او دا پہ (اهدنا) او پہ انعمت علیهم او پہ الحمد او پہ مالك یوم الدین کښې ده۔ او دویم پہ نعبد کښې دے ځکه چه عبادت بغیر د صبر نه ممکن نهٔ دے۔ (وَاصۡطَبِرۡ لِعِبَادَتِهٖ) او پہ انعمت علیهم کښې دے۔ او مغضوب علیهم والا خلقو سره نهٔ قوت نظریه شته او نهٔ قوت عملیه۔

۳۷- فائده : ما فکر اُوکړو چه د اُور نه نجات پہ دوه څیزونو ممکن دے (۱) د الله تعالیٰ پہ کلام اَوریدو سره۔ (۲) او پہ تعقل یعنی د حق پہ معرفت او پیژندلو سره۔ او دے دواړو ته اشاره ده پدے قول د الله تعالیٰ کښې ﴿وَقَالُوۡا لَوۡ كُنَّا نَسۡمَعُ اَوۡ نَعۡقِلُ مَا كُنَّا فِیۡۤ اَصۡحٰبِ السَّعِیۡرِ﴾ (سورة الملك)

او دا سورت ددے نه ساکت دے، سره ددے نه چه دا سورت خو ام القرآن دے، نو الله تعالیٰ راته دا الهام اُوکړو چه دا دوه امرین پدے سورت کښې بار بار ذکر دی ځکه چه پہ اهدنا کښې د الله تعالیٰ د کلام اَوریدل دی، ځکه چه د هدایتِ شرعیه حاصلیدل ممکن نهٔ دی مگر پہ قرآن کریم باندے، او الصراط المستقیم کښې دے ته ښکاره اشاره ده ځکه چه مونږ د صراط المستقیم تفسیر اُوکړو چه ددے نه مرادِ کتاب الله دے ﴿وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِیۡ مُسۡتَقِیۡمًا﴾ ۔لکه دا تفسیر ابن عباس رضی الله عنهما کړیدے۔ او دغه شان پہ انعمت علیهم کښې دے ته اشاره ده ځکه چه د منعم علیهم اَهم عمل د الله تعالیٰ کلام اَوریدل دی۔ او پہ الضالین کښې هم دے ته اشاره شته ځکه چه دا خلق د قرآن کریم نه گمراه شوی وو (اَوریدلی وو) ﴿فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَایَ فَلَا یَضِلُّ وَلَا یَشۡقٰی﴾

هرچه تعقل او معرفة د حق دے نو هغه پہ هدایة کښې او پہ (انعمت علیهم) کښې داخل دے او دا د تدبر کونکی دپاره ښه واضحه خبره ده۔

۳۸- فائده : کعب الاحبار رحمه الله – ددے آیت متعلق وائی : ﴿فَمَنۡ یَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَیۡرًا یَّرَهٗ وَمَنۡ یَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا یَّرَهٗ﴾ چه دے آیت ټول هغه څه راګیر کړیدی کوم چه پہ تورات، انجیل، زبور او قرآن کریم کښې دی۔ او علماء کرام ددے پہ باره کښې فرمائی : (دا آیت د خیر او شر دپاره پوره راجمع کونکے دے) او د صحیح بخاری پہ مرفوع حدیث کښې دیته [الآيَةُ الۡجَامِعَةُ الۡفَاذَّةُ] وئیلے شویدے۔ او سورت فاتحے پہ یوه جمله کښې ددغه آیت معنیٰ راګیره کړیده۔ چه هغه (یوم الدین) دے ځکه دین، د خیر او د شر پہ اعمالو باندے حساب او ثواب او عقاب ورکولو ته وائی نو څومره عجیب جامع سورت دے؟۔

۳۹- فائده : دے سورت کښې (اَلۡحَیٰوةُ الطَّیِّبَةُ) (مزیدار ژوند) د هغے اسباب، او د هغے د

مصداق بيان دے، ځکه سبب د حيوة طيبه دوه ځيزونه دی (١) اَلْإِيْمَانُ الصَّحِيْحُ (٢) اَلْعَمَلُ الصَّالِحُ۔ او مصداق ئے درے ځيزونه دی (١) د بنده مؤمن د قرآن كريم سره تعلق۔
(٢) په رحمن ذات باندے په ټولو كارونو د دنيا او آخرت كښې توكل كول۔ (٣) او د رحمان ذات سره قلبی تعلق پيدا كول۔ او دا حيوة طيبه لذيذه (خوندور ژوند) دے، چه الله تعالىٰ ئے چا ته نصيب كړی، او الله تعالىٰ دا په دے قول خپل كښې ذكر كړيدے ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً﴾ (النحل)
بيا ئے ددے مصداق ذكر كړيدے پدے قول سره ﴿فَاِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ﴾ او پدے قول سره ﴿اِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ﴾ ددے سره دوه امرونو نور دی۔
(١) يو دا چه د شيطان سره به دوستی نهٔ كوی (٢) او د رحمٰن سره به شرك نهٔ كوی۔
او دا ټنه په وضاحت سره په سورة الفاتحه كښې ذكر دی ځكه ايمان په رب العالمين كښې او په انعمت عليهم كښې ذكر دے او عمل صالح په نعبد او نستعين كښې دے او قرآن په الصراط المستقيم كښې او توكل او تعلق په انعمت عليهم كښې او د شيطان دوستی او شرك په غير المغضوب عليهم كښې ذكر دے۔
٤٠- فائده : انسانان دوه قسمه دی (١) اَهْلُ السَّعْيِ السَّيِّءِ وَالْعَمَلِ غَيْرِ الصَّالِحِ (بد كوشش والا او بد عمله) (٢) دويم : نيك سعی او عمل مشكور (قبول شوی عمل) والا۔
اول قسم خلق په سعی سیء كښې د دوه كارونو په وجه واقع شويدی۔
(١) دوی دا ګمان كړيدے چه د دوی دپاسه څوك نشته چه په دوی قادر شی۔
(٢) دارنګه دوی ګمان كړيدے چه كوم ذات نشته چه دوی لره وينی او د دوی سره به په عملونو حساب كوی، نو دوی د رب جليل د قدرت او د نظر جميل خيال اُونكړو۔ نو عملونه ئے برباد كړل او مالونه ئے خراب كړل او د ذی الجلال ذات د رضا په خلاف كښې ئے خرچ كړل۔ او په بندګانو ئے رحمت او شفقت اُونكړو او يتيمانان او مسكينان د ښرو او خاورو والو باندے ئے طعامونه اُونهٔ خوړل۔
او سعی صالح (نيك كوشش) والا د رب قدرت ته اُوكتل او د هغه نظر ته ئے خيال اُوكړو نو دوی په افضل اعمالو كښې كوشش اُوكړو۔ ١- هغه دا چه مالونه ئے د الله تعالىٰ په رضا كښې خرچ كړل او (٢) دارنګه ايمان ئے حاصل كړو۔ (٣) او صبر (٤) او رحمت په بندګانو، نو دوی ددے په وجه د كمال انتهاء ته اُورسيدل، نو دوی د اهل اليمين نه شو

لکه څنګه چه اولنی خلق د اهل الجحیم (جهنم والا) نه شو۔ او دا کارونه په سورة البلد کښ ذکر دی او فاتحے هم دے ته ښائسته اشاره کړیده۔ څکه چه بدے سعی والا په غیر المغضوب علیهم او الضالین کښ داخل دی۔

(۲) او اَهۡلُ الۡعَمَلِ الصَّالِحِ وَالسَّعۡیِ الصَّالِحِ په اَنۡعَمۡتَ عَلَیۡهِمۡ او په اِهۡدِنَا او په اِیَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِیَّاكَ نَسۡتَعِیۡنُ کښ داخل دی۔

۴۱- فائده : د انسان کمال دا دے چه په خصال حمیده (ښکلے صفاتو) سره متصف شی، ددے نه بغیر کمال ته رسیدل ممکن نهٔ دی۔ او ددے د حاصلولو (۱) یوه طریقه علم شرعی دے (۲) دویم مجاهده د نفس ده۔ (۳) دریم صُحۡبَةُ الصالحین (د نیکانو ملګرتیا) یا د هغوی د ذات سره یا د هغوی د سیرت په مطالعهٔ کولو سره۔

(٤) او د اهل الشر والمعاصی (مجرمانو) نه ځان ساتل دی۔ او دا طریقه د ټول هغه خلقو ده چه کمال ته رسیدلی دی۔

او دے اصولو ته سورة الفاتحے اشاره کړیده نو ټول خصال حمیده په انعمت علیهم کښ دی او علم شرعی په اهدنا کښ دے او مجاهده په (اِهۡدِنَا) کښ ده او څکه د هدایت په مراتبو کښ یو هغه هدایت وو چه په مجاهده سره حاصلیدو لکه ﴿ وَالَّذِیۡنَ جَاهَدُوۡا فِیۡنَا لَنَهۡدِیَنَّهُمۡ سُبُلَنَا﴾

(٤) او صحبة الصالحین په انعمت علیهم کښ دے۔ او (٤) او د اهل الشر والمعاصی نه جدائی په غیر المغضوب علیهم ولا الضالین کښ دے۔

۴۲- فائده : اسباب د علم درے دی (۱) القلب (زړه) (۲) السمع (غوږ) (۳) البصر (سترګے) نو اهل سعادت (نیکبخت) دا د الله تعالیٰ په کائناتو او الهی (قرآنی) آیتونو کښ استعمالوی۔ (۲) او اهل شقاوت (بدبختان) ئے د خپلو شهواتو او د حاجتونو د پوره کولو دپاره استعمالوی او پدے سره د الله تعالیٰ په آیتونو کښ تدبر نهٔ کوی نو ددے وجه نه رب العالمین دوی ته په غضب شو نو ختم او مهرئے پرے اُووهلو۔ او اولنی قسم خلقو ته ئے پدے کښ رڼړا پیدا کړه۔ نو په نستعین او اهدنا او انعمت علیهم کښ اولنو ته واضح اشارات دی (۲) او په غیر المغضوب علیهم او ولا الضالین کښ په دویم فرق باندے تصریح ده۔

۴۳- فائده : د کافرانو بد خصلتونه زیات دی ښکاره صفات ئے (۱) انکار دے (۲)

فساد دے (۳) عدم تعقل (سوچ نۀ کول) دے (٤) او د الله تعالیٰ نه نۀ یریږی۔
او د منافقانو خصلتونه د (۱۵۷) نه زیات دی کما فی الفوائد) ډیر ښکاره پکښې (۱) نِسْيَانُ ذِكْرِ الله (د الله تعالیٰ ذکر هیرول) (۲) د مخلوق جانب لره په خالق باندے ترجیح ورکول۔ او دے ټولو ته اشاره ده په غیر المغضوب علیهم ولا الضالین کښې۔ نو الله تعالیٰ پدے دوه کلمو کښې هغه څه راجمع کړل چه په لس جلدونو کتاب کښې نۀ راجمع کیږی۔ فتدبر۔

٤٤- فائده : او په رد د فرقِ ضاله ؤ کښې ښکاره اشاره ده چه سیر الی الله د هغه چا دپاره د سره ممکن نۀ دے چه د هغه بصیرت ړوند شوے وی او نظریه ئے فاسده شوی وی، او دا واقعی او حقیقی خبره ده چه هیڅ خفاء پکښې نشته۔

٤٥- فائده : پدے سورت کښې حروف ثاء، جیم، خاء، زاء، شین، ظاء، او فاء نشته څکه په ثاء کښې اشاره ده ثبور (هلاکت) ته او په جیم کښې جحیم (جهنم) ته او په خاء کښې خزی (شرمندګئ) ته او په زاء کښې زفیر (هنړارے) او په شین کښې شهیق (رمباړے) ته او په ظاء کښې لَظٰی (لمبو) ته او په فاء کښې فِراق د الله تعالیٰ د محبوبانو نه ۔ نو څوك چه ددے سورت په مقتضیٰ عقیده اُوساتی او عمل اُوکړی نو ددے اُووه سزاګانو نه به ئے الله تعالیٰ په خپل رحمت سره بچ اُوساتی۔

٤٦- فائده : پدے سورت کښې د بندګانو خپل رب ته په دوه څیزونو کښې احتیاج ذکر دے (۱) دوی مفتقر او محتاج دی هغه ته په دے کښې چه د دوی زړونه د خپل محبت او معرفت نه ډك کړی (۲) او پدے کښې هم محتاج دی چه الله تعالیٰ د دوی د مصالح او منافعو تدبیر اُوکړی او دوی ته توفیق ورکړی چه د هغه په خدمت کښې مصروف شی۔

انظر تیسیر اللطیف المنان فی تفسیر خلاصة آیات الاحکام (۱/۱۷) لعبد الرحمن السعدی)

٤٧- فائده : انسان چه د الله تعالیٰ د نظر نه حیاء اُوکړی او د ملائکو د نظره او د زمکے نه او د خپلو اندامونو نه نو یقیناً به دا مؤمن شی او پاك به شی د ګناهونو نه۔ دا په ﴿مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ﴾ ﴿وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ﴾ ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾ ﴿وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ﴾ کښې ذکر دی او دا ټولے خبرے په انعمت کښې شته څکه چه منعم علیهم هغه خلق دی چه اُوچته حیاء لری۔

۴۸- فائده : قرآن کریم کښې د کامیابۍ راز دوه څیزونه خودلے شویدی :
۱- یو اسلام الوجه لله (الله تعالیٰ ته خپل مخ تابع کول)۔
۲- دویم الاحسان فی العمل (په عمل کښې احسان درجه پیدا کول) لکه دا دواړه پدے آیت کښې راغلی دی : ﴿ بَلٰی مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ ﴾ [البقره: ۱۱۲]
او دا دواړه خبرے په انعمت علیهم او اهدنا کښې راغلی دی۔ او احسان په نعبد کښې هم شته۔

۴۹- فائده : یو انسان تقویٰ ته هله رسی چه (۱) اعتراف او اقرار د صدق اُوکړی (۲) او بیا پرے پوره تصدیق اُوکړی نو ددے نه به ضرور (۳) ښۀ صفات په نفس کښې پیدا کیږی او هر داعی له پکار ده چه (۱) حق بیانول او بیا (۲) په هغې یقین کول (۳) او ځان کښې ښه صفات راوستل اختیار کړی کما فی قوله تعالیٰ : ﴿ وَالَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴾ (الزمر:۳۳)
دا درے واړه خبرے په (نعبد) او (اهدنا) او (انعمت) کښې شته۔ لنډه دا ده چه سورت فاتحه کښې د شل زره فوائدو نه زیاتے فائدے دی او که مونږ کوشش اُوکړو باذن الله تعالیٰ نو پنځه جلده کتاب به پرے اُولیکو او دا کمال د قرآن دے زمونږ ندے۔ والله الموفق۔
باقی نورے فائدے چه تقریباً (۱۱۰) لس ته رسیږی، مینځ مینځ کښې بیان شویدی۔
دیته اسرار القرآن وائی۔ او دا د الله تعالیٰ د طرفنه ورکول کیږی او دا په لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ کښې داخل دی۔ د قرآن کریم اسرار نۀ ختمیږی لیکن د هدایت دپاره دغه یو څو حکمتونه او فائدے کافی دی۔ لمن اراد ان یتذکر او یستقیم ۔ والله اعلم۔ پدغه مذکوره اسرارو فاتحه د نورو سورتونو نه ممتازه ده۔ او شاید چه د الفوائد جلد ثالث فوائد به تول د سورت فاتحے نه ماخوذ وی هغه اُوګوره او بیا ئے دلته اُولګوه، فترٰی عجباً۔
الحمد لله د سورة الفاتحه تفسیر اختتام ته اُورسیدو۔ والله الموفق۔

OOOOOOO

بسم الله الرحمن الرحيم

تفسير سورة البقرة :

سورة البقره کښې يو څو بحثونه ذکر کيږي : (١) ددې سورت فضائل۔ (٢) ددې سورت نومونه۔ (٣) المقدمة : (٤) الامور الاربعة (څلور خبرې) ١- ربط۔ ٢- مقصد۔ ٣-خلاصه يا حاصل د سورت۔ ٤- امتيازات السورة۔ (٥)- د کلماتو تحقيق او فوائد۔

د سورة البقره فضائل : ددې سورت ډير فضائل راغلي دي۔

١- ترمذي کښې حديث دې چه نبي ﷺ په يوه ډله يو کشر سړې امير کړو، پدې وجه چه هغۀ ته سورة البقره ياده وه [فَاذْهَبْ فَأَنْتَ أَمِيرُهُمْ]

(في اسناده مقال، وحسّنه الترمذي رقم (٢٨٧٦) وضعفه الالباني لاجل ارسال عطاء مولى ابي احمد)

٢- دويم : ابو امامه رضي الله عنه وائي چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې :

[اِقْرَأُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ، اِقْرَؤُوا الزَّهْرَاوَيْنِ :الْبَقَرَةَ وَآلَ عِمْرَانَ فَإِنَّهُمَا تَأْتِيَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُمَا غُمَامَتَانِ اَوْ كَأَنَّهُمَا غَيَايَتَانِ اَوْ كَأَنَّهُمَا فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ، تُحَاجَّانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا، اِقْرَأُوا سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ فَإِنَّ اَخْذَهَا بَرَكَةٌ وَتَرْكَهَا حَسْرَةٌ وَلَا يَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ]

رواه مسلم في الصحيح :١٩٧/٢، رقم الحديث : ١٩١٠]

(قرآن اُولولئ ځکه دا به د قيامت په ورځ خپلو لوستونکو له سفارش کونکې راځي، د رڼړا او چمك والا دوه سورتونه اُولولئ يعني سورة البقره او آل عمران، ځکه دا دواړه به د قيامت په ورځ داسې راځي لکه دوه وريځې يا د مارغانو ډله، چه صف تړونکي وي، د خپل ويونکي د طرف نه به دفاع کوي، سورة البقره لولئ ځکه ددې حاصلول برکت دې

او ددے پریخودل باعث د حسرت (افسوس) دے او جادوګر ددے په لوستونکی اثر نشی کولے۔

۳- د ابو هریره ﷺ نه مرفوع روایت دے :

[لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ مَقَابِرَ، اِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِىْ تُقْرَأُ فِيْهِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ۔ وَفِىْ رِوَايَةِ التِّرْمِذِىْ : لَايَدْخُلُهُ الشَّيْطَانُ]

[صحیح مسلم رقم : ۱۸٦۰، الترمذی رقم : ۲۸۷۷، مسند احمد : ۷۸۰۸ الکبری للنسائی : ۷۹٦۱]

(تاسو خپلو کورونو نه مقبرے مۀ جوړوئ ځکه هغه کور چه سوره بقره پکښ لوستل کیږی هغے نه شیطان تیختـه کوی۔ او په یو روایت کښ دی : هغه کور ته شیطان نۀ داخلیږی۔ او عبد الله بن مسعود ﷺ نه موقوفاً او مرفوعاً روایت دے : چه شیطان د هغه کور نه تختی چه په هغے کښ سورة البقره لوستلے کیږی۔

(مستدرك حاکم، نسائی فی الیوم و اللیلة)۔

٤- د ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی :

[لِكُلِّ شَىْءٍ سَنَامٌ وَسَنَامُ الْقُرْآنِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ]

(د هر شی دپاره قوب (اُوچتوالے) وی د قرآن دپاره قوب (اُوچتوالے) سورة بقره ده۔

[مستدرك الحاکم : ۲۰٦۰، والترمذی : ۲۸۷۸، بسند حسن و وافقه الذهبی و حسنه الالبانی لغیره فی صحیح الترغیب : ۱٤٦۱ وضعفه فی الضعیفة (۲۸۰۳) وروی الدارمی (۳۳۷۷) موقوفاً علی ابن مسعود بسند حسن)۔

۵- سهـل بن سعد ﷺ نـه مـرفوعاً نقل دی: [مَنْ قَرَأَهَا فِىْ بَيْتِهِ لَيْلًا لَمْ يَدْخُلْهُ الشَّيْطَانُ ثَلَاثَ لَيَالٍ وَمَنْ قَرَأَهَا فِىْ بَيْتِهِ نَهَارًا لَمْ يَدْخُلْهُ الشَّيْطَانُ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ]

چا چه دا سورت د شپے اُولوستو درے شپے به د هغۀ کور ته شیطان نۀ راځی او چا چه د ورځے اُولوستو نو درے ورځے به شیطان د هغه کور ته نۀ راځی۔

[صحیح ابن حبان وصحیح الترغیب والترهیب رقم (۱٤٦۲) وسنده حسن لغیره]۔

ابن حبانؒ وئیلی دی چه د شیطان نه مراد دلته مَرَدَة الجن (سرکشه شیطانان) دی۔

۷- لبید بن ربیعة ﷺ یـو شـاعـر صـحـابی دے، په سبعه معلقه کتاب کښ د هغه یوه قـصـیـده هم شته، تول عمرئے (۱۵٤) کاله وو، جاهلیت او اسلام دواړه ئے لاندے کړیدی، کـلـه چـه مسلمان شو نو اشعارئے پریخودل او دابه ئے وئیل چه قرآن کریم موجود وی نو

شعر ته څه ضرورت دے !، یوه ورځ ترے سیدنا عمر فاروق ﷜ مطالبه اُوکړه چه څه اَشعار اُووایه هغه ورته سورت بقره شروع کړه، نو هغه ورته اُووئیل چه زه درنه سورة بقره نه غواړم، اشعار درنه غواړم نو هغه اُووئیل [مَا كُنْتُ لِاَقُوْلَ شِعْرًا بَعْدَ اَنْ عَلَّمَنِيَ اللّٰهُ الْبَقَرَةَ وَآلَ عِمْرَانَ، وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَدْ اَبْدَلَنِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى بِهِ الْبَقَرَةَ، وَفِيْ رِوَايَةٍ : الْقُرْآنَ]

کله نه چه سورت بقره او آل عمران نازل شویدی نو زهٔ اشعار نهٔ وایم نو عمر فاروق ﷜ ورته په تنخواه کښے (۵۰۰) روپۍ اضافه ورکړے۔ [تهذیب الاسماء ۱/۵۹۲) حرف اللام، الاستیعاب فی معرفة الاصحاب (۱/۴۱۴)لابن عبد البر النمری]۔

صحابه کرامو ته ددے سورت اهمیت او فضیلت معلوم وو۔

۸- ددے سورت د فضائلو نه دا هم ده چه حافظ عماد الدین ابن کثیرؒ لیکلی دی: پدے کښں زر اَوَامِر دی او زر نواهی دی او زر جملے خبرئیے دی۔ او قرطبیؒ ورسره دا ملګری کړیدی چه پدے کښں زر حُکمونه دی۔ او ابن کثیرؒ د بعض شمارونکو نه نقل کړیدی چه: پدے کښں (۶۱۲۱) کلمات دی او (۲۵۵۰۰) حروف دی۔ (ابن کثیر ۱/۱۵۵)

۹- شاه عبد العزیزؒ په تفسیر "فتح العزیز" کښں لیکلی دی چه پدے کښں پنځه سوه بنکاره احکام ذکر دی، ددے سورة په یو آیة الدین کښے (۲۵) احکام دی، دومره کامل او جامع سورت دے۔

۱۰- او حافظ ابن قیمؒ په کتاب الروح کښں لیکلی دی چه دے سورة کښں (۱۵) مثالونه دی۔

۱۱- عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ددے په تفسیر او تعلم باندے اته کاله تیر کړی وو۔ [الموطأ لمالك : (۱/۱۰۵) رقم (۴۷۹) وفضائل القرآن لابن ضریس ص (۱۴۹) والاتقان فی علوم القرآن ۲/۴۲۱) النوع الثالث والسبعون)

ابن عمر ﷜ فرمائی : [تَعَلَّمَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ﷜ الْبَقَرَةَ فِي اثْنَتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً، فَلَمَّا خَتَمَهَا نَحَرَ جَزُوْرًا] عمر فاروق ﷜ سورتِ بقره په دولس کاله کښے لوستلے وه، هرکله ئے چه ختمه کړه نو یو اُوښ ئے حلال کړو۔ (د شکریه په طور)۔

[شعب الایمان رقم: ۱۸۰۵- والقرطبی وتاریخ الاسلام للذهبی : ۲/۱۳۲]

۱۲- شقیق بن سلمه رحمه الله فرمائی : عبد الله بن عباس ﷜ سورة البقره لوستله او د هغے عجیبه تفسیر او تشریح ئے کوله نو یو سړی اُووئیل : [لَوْ سَمِعَتْ هٰذَا، الدَّيْلَمُ

لَأُسْلَمَتُ] (که دا تشریح دیلم والا (کفار) واوری نو اسلام به راوړی) (الطبری : ۱/۸۱)

۲- دویم بحث : ددے سورت نومونه

ددے سورت هم ډیر نومونه دی۔ درے په مرفوع احادیثو کښ راغلی دی۔

۱ – سورة البقره : هغه سورت چه د بقرے واقعه پکښ ذکرده۔ جمهور علماء وائی چه دے سورت ته سورت بقره وئیل جائز دی ځکه حدیثو کښ نقل دی لکه مخکښ (اِقْرَأُوا سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ) (صحیح مسلم) تیر شو۔

د بعض سلفوؒ نه دا نقل دی لکه (حجاج بن یوسف) او پدے باره کښ ابن مردویہؒ یو ضعیف روایت هم ذکر کړیدے چه داسے مۀ وایئ سورة البقرة بلکه داسے وایئ [اَلسُّوْرَةُ الَّتِيْ تُذْكَرُ فِيْهَا الْبَقَرَةُ] (هغه سورت چه د بقرے تذکره پکښ کیږی)۔ (ابن کثیر ۱/۱۵۶)

دا ولے وائی؟ ځکه که سورة بقره اُووائی نو دیکښے بے ادبی ده۔ لیکن دا قول خطاء دے وجه دا ده چه ادب به مونږ د محمد رسول الله ﷺ نه زده کوو، هغۀ ورته دا نوم وئیلے دے لهذا پدے کښ هیڅ کراهت نشته۔

۲– دویم دا چه د هر سورت چه کوم نوم وی په هغے کښ حکمت وی کله پکښے موضوع د سورت ته اشاره وی او کله پکښ کومه مهمه ناشنا مسئله وی، نو دهغه ناشنا والی د وجه نه ورته نوم ایخودل شوے وی نو سورة البقرے ته بقره ولے وائی ځکه چه پدے کښ د بقرے واقعه ده، چه بنی اسرائیلو د غوا عبادت کړے وو، الله تعالیٰ ورته امر کړے وو چه ذبح ئے کړئ، هغه ذبح شویده او مړے پرے راژوندے شویدے، پدے واقعه کښ ډیر ناشنا ایمانیات او د توحید او د اثبات د آخرت مسئلے دی او رد د شرك او د یهودو عیب راښکاره کول دی۔

۲– دویم نوم : **سُوْرَةُ فُسْطَاطُ الْقُرْآن** : (د قرآن لویه خیمه)

ځکه چه دا سورت هم مشتمل دے په ډیرو لویو مضامینو د قرآن یعنی، عقائد، اعمال، معاملات، احکام، سیاسیات، جهاد، امثال، تاریخ د بنی اسرائیلو او آداب وغیره۔ او دا نوم د خالد بن معدان (تابعی) رحمه الله – نه نقل دے۔

۳– **سُوْرَةُ سَنَامُ الْقُرْآن** : (سنام : قوب، کوهانِ شتر، په اُوښ کښ اُو چت ځائے ته وائی) نو دا سورت هم په اعلیٰ مضامینو مشتمل دے۔ لکه مخکښ فضائلو کښ دا

نوم ذکر شو۔

٤- سُورَةُ الزَّهْرَاء : ځکه چه دا سورت او آل عمران دواړه به د قيامت په ورځ چمك او پړق کوی لکه مخکښ حدیث ذکر شو [اِقْرَأُوا الزَّهْرَاوَيْنِ]۔

(٥) سورة الم۔ د زمخشری وغيره په نيز۔

دریم بحث : شان نزول

سورت بقره مدنی سورت دے نازل شويدے پس د سورة مطففين نه، په مدينه کښ د تهولو رومبنے سورة دے په اعتبار د نزول سره۔ سوئ ددے آيتونو نه [وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللهِ] ۔(او آية الربا) نه چه دا د نبی ﷺ د وفات نه (۹) ورځے مخکښے نازل شوی وو۔ نور دا سورت د هجرت نه پس نزدے نازل شويدے، ددے وجه نه د هغه زمانے احوال به پکښ ډير بيانيږی۔

نبی ﷺ چه مدينے ته هجرت اُوکړو او دار الخلافة جوړه شوه نو درے ډلے په مدينه کښ دننه پيدا شوے، او يوه ډله بهر د مدينے نه، نو څلور ډلے شوے، يوه ډله خالص مؤمنان چه دا د مهاجرين او انصارو ډله وه، دويم جماعت د يهودو وو چه هغوی سره نبی ﷺ وعده کړے وه چه تاسو مونږ ته څه مه وايئ مونږ به تاسو ته څه نۀ وايو۔ او دا د نبی ﷺ هوښيارتيا وه۔ د يهودو درے غټے ډلے وے : ۱- بنو قينقاع۔ ۲- بنو نضير۔ ۳- او بنو قريظه۔ په مدينه کښے په ګير چاپير علاقو کښ اُوسيدل او دلته د پخوا نه آباد شوی وو نو يهودو به خپل کار کولو، ليکن کله چه اسلام له الله تعالىٰ ترقی ورکوله، نو دوی ورانے شروع کړو، تهمتونه به ئے وئيل۔ نبی ﷺ او صحابه کرامو به صبر کولو، الله تعالىٰ به ځائے په ځائے آيتونه راليږل چه دوی کښ دا عيب دے، او دا دے، نو د هغوی عيبونه به ښکاره کيدل، نو دے سورة کښ د هغوی په باره کښ ډير بحث راغلے دے، تقريباً پنځوس عيبونه ئے ذکر دی۔

۳-دريم جماعت د منافقانو پيدا شو۔ منافقان په مکه کښ نۀ وو ځکه هلته مسلمانان کمزوری وو، او په مدينه کښ هم اوله کښ نۀ وو، هلته هم اوله کښ کمزوری وه، ځکه منافقان هغه وخت پيدا کيږی چه اسلام زور واخلی۔

نو د منافقانو ضرر هم مسلمانانو ته زيات وو، ځکه چه اختلاف به ئے پيدا کولو، جاسوسی به ئے کوله، صحيح فيصله به اُوشوه، دوی به غلطه بيانوله، نو الله تعالىٰ

پدے سورت کښې خصوصاً او په ټول قرآن کریم کښې عموماً په دوی باندے سخته حمله کړیده، او قبائح ئے ورله ذکر کړیدي چه د دوی دا مرضونه ښکاره شي۔ نو منافقان په دغه زمانه کښې شروع شو۔

٤- څلورم جماعت مشرکان وو چه ښکاره په ضد ولاړ وو، د مسلمانانو په مقابل کښې توره ئے راخستے وه، دا یو د قریشو مشرکان وو، دویم د غطفان قبیله وه۔ بل د بار عالَم مشرکان وو، نو نبی ﷺ به د خپلو ملګرو اصلاح کوله او د دوی مقابله ئے کوله۔ ددے وجه نه رسول الله ﷺ درویشت کاله ژوند ډیر په پریشانئ تیر کړو او د غټو غټو قوتونو مقابله ئے د الله تعالیٰ په مدد اُوکړه تردے چه الله تعالیٰ غلبه ورکړه۔

نو دا یو اجمالی تاریخ وو او سورة البقره به د دغه نه بحث کوی۔ بیا قرآن کریم به د دغه دَور پورے خاص نهٔ وی بلکه دا به زمونږ دپاره هم قانون وی۔ چه اے خلقو ! تاسو کله دین عام کړئ نو څنګه ژوند به تیروئ، نو دا سورت به غالباً د مسلمانانو تربیت او د اسلام د دشمنانو د مقابلے طرز او طریقه ښائی۔ او دا خبره به پکښې ډیره زیاته بیانیږی۔ د کور اصلاح، او د ښار او کلی اصلاح به پکښې ذکر کیږی او د مسلمانانو د جماعت ذکر به پکښې وی او څوك چه دا جماعت ورانول غواړی د هغوی مقابله به پکښې وی، نو سورة بقره په داسے نازك وخت کښې نازله وه۔

٤- بحث : مباحث اربعه :

۱- ربط او مناسبت : نو ربط او مناسبت د قرآن کریم د علومو نه دی او مقصود پدے سره اظهار حکمة الترتیب دے چه دا ترتیب ولے اختیار کړے شو، ددے حکمت څه دے؟

بیا مناسبت درے قسمه دے (۱) د یو سورت مناسبت د بل سورت سره۔ دا هم مشتمل دے په فوائدو۔ (۲) لیکن ددے نه زیات ضروری هغه مناسبت د آیتونو دے د بعضو د بعضو سره۔ د قرآن کریم په آیتونو کښې ډیر ژور مناسبتونه شته، لږ خلق په هغے پوهیږی او په دغه مناسبتونو کښې ډیرے ایمانی او علمی فائدے وی لکه روستو به راځی ان شاء الله تعالیٰ۔ قرآن کریم بے ربط او بے مناسبته کتاب نهٔ دے۔

(۳) دریم (مُنَاسَبَةُ الآیَاتِ بِمَوْضُوْعِ السُّوْرَةِ) دے (چه د آیتونو تعلق د موضوع سره وی،) په دے تعلق کښې هم ډیر باریك باریك اسرار وی چه د قرآن کریم طالب العلم ته

ډيره فائده ورکوی او دا مناسبتونه ددے تفسير خصوصيت دے ان شاء الله تعالىٰ۔ او پدے سره به مواقع الآيات هم معلوميږی يعنی دا فلانے آيت پدے سورت کښې ولے ذکر شوے د فلانی حکمة په وجه ذکر شويدے۔

نکته : دا مناسبات بيانول څه بدعت نۀ دے بلکه دا فهم دے [أُوتِيَهُ رَجُلٌ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ تَعَالىٰ] (چه بنده ته د الله تعالىٰ په کتاب کښې ورکولے شی) بلکه د احاديثِ نبويه نه معلوميږی۔ لکه حديث کښې دی، نبیﷺ يوه ورځ اُوفرمايل :

[عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّوْرِ بِالْإِشْرَاكِ بِاللّٰهِ ثُمَّ قَرَأَ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ]

[ابوداود رقم : ٣٦٠١]

(د دروغو گواهی د شرك سره برابره ده، دليل ئے پرے دا ورکړو چه قرآن کريم کښې الله تعالىٰ قول الزور د الاوثان (شرك) سره يوځائے ذکر کړيدے او دے ته استدلال وائی په دلالة الاقتران سره، او دا هم اَهم شے دے۔ دارنګه بل حديث دے [نَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهٖ] (ابوداود رقم : ١٩٠٧، مسلم : ٣٠٠٩) صفا غونډئ ته چه راغلو نو وے فرمايل : مونږ به د صفا نه شروع کوو ځکه چه الله تعالىٰ په قرآن کريم کښې صفا د مروه نه مخکښې ذکر کړيده۔ او ددے زياته تشريح زمونږ "اصول القرآن" کښې اُوګورئ۔

د سورتِ بقرے مناسبتونه د فاتحے سره

نو د سورة بقرے د فاتحے سره ربط او تړون څه دے ؟ ولے په ترتيب مصحفی کښې د يو بل پسے راوړلے شو ؟ ١- وجه : سورة الفاتحه په منزله د اجمال ده او بقره په منزله د تفصيل ده او دا د بلاغت قاعده ده چه مخکښې اجمال ذکر شی بيا تشريح او تفصيل نو دا اَوقع فی الذهن وی، يعنی په ذهن کښې ښۀ واقع کيږی۔

٢- دويم هلته د الله تعالىٰ د اُلوهيت تذکره وه نو دلته د هغے تفصيل دے۔

٣- دارنګه هلته لفظ د رب راغلے نو دلته د الله تعالىٰ د تربيت بيان دے په (يَا اَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا) سره، ددے امت۔ او په (يابنی اسرائيل) سره د بنی اسرائيلو تربيت۔

٤- دارنګه فاتحه کښې رحمن رحيم وو نو دلته دوه قسمه رحمتونه او نعمتونه ذکر کوی [اَلرَّحْمَةُ عَلٰى بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ وَالرَّحْمَةُ عَلٰى بَنِيْ اِسْمَاعِيْلَ]۔ (په بنی اسرائيلو څومره نعمتونه شوی وو او په بنی اسماعيلو څومره ؟) هغه به اُوشماری۔

٥- دارنګه په فاتحه کښې مالك یوم الدین وو نو بقره کښې د شفاعتونو مسئله بیانوی چه ﴿ وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ﴾ ﴿ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ﴾ نو دلته همدا وائی چه هرکله الله تعالیٰ مالك دے، نو د قیامت په ورځ بغیر د اذن د الله تعالیٰ نه د هیچا شفاعت کار نۀ ورکوی. دارنګه دغه ورځ باندے ایمان ته دعوت دے.

٦- بیا هلته ایاك نعبد ذکر وو نو دلته په ډیر تفصیل سره ټول اقسام د عبادت ذکر کوی.

٧- هلته د هدایت سوال اُوشو نو دلته ئے اِجابت اُوشو، الله تعالیٰ اُوفرمایل : چه دا کتاب هدایت دے. ٨- بیا هلته درے ډلے وے، نو دلته د هغه درے ډلو تفصیلی صفات ذکر کوی د اول سر نه متقین منافقین او کفار.

٢- دویمه خبره د سورت مقصد اودعویٰ

١- زمونږ مشائخ ددے سورت موضوع څلور خبرے بیانوی : ١- التوحید
٢- الرسالة (دا دواړه د عقائدو نه دی) ٣- الجهاد ٤- الانفاق. (دا دواړه د اعمالو نه دی) دا څلور دعوے شوے. او دا څلور واړه مهمے خبرے دی، او زمونږ مشائخ ئے د دعوی او مقصد په شکل بیانوی، ددے وجه نه هغوی سورة تقسیموی څلورو حصو ته، وائی چه : د (٩٦) آیت (قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيْلَ) پورے د توحید خبره بیانیږی. د هغه ځائے نه تر (١٧٦) (لَيْسَ الْبِرَّ) آیت پورے د رسالت مسئله بیانیږی او د لَيْسَ الْبِرَّ نه تر (٢٥٣) پورے د جهاد او قتال فی سبیل الله او د هغه ځائے نه تر آخره پورے انفاق بیانیږی. نو ګویا کښې د هرے مسئلے دپاره جدا حصه مقرره ده. (ددے بیا دا مقصد نۀ دے چه بله خبره به پکښې نۀ وی، نورے هم شته لیکن دا پکښې ښکاره ده)

٢- **دویم قول** : مقصد ددے سورة دے [عَرْضُ الْإِسْلَامِ بِاَجْمَعِهٖ] (ټول اسلام خلقو ته پیش کول) ددے وجه نه د اسلام هره خبره تقریباً دے سورة کښې شته، ځکه اسلام مرکب دے د شپږو خبرو نه : ١- اول : ایمانیات (عقائد هم ورته وائی).

٢- دویم : عبادات (اعمال هم ورته وائی)

٣- دریم : اخلاق- دے درو خبرو ته انفرادی او شخصی اُمور وائی. ددے نه د هیچا، په هیڅ وخت کښې خلاصے نشته. که د مسلمانانو حکومت وی او که نه.

٤- څلورم معاشرات : (شریك ژوند تیرول)۔

٥- پنځم : معاملات (د خلقو سره بیع وشراء (اخستل خرڅول) ودونه وغیره)۔

٦- شپږم : خلافة او نظام : دے درے وارو ته اجتماعی ژوند وائی۔ کله چه خلافت قائم شی، د الله تعالیٰ حدود به نافذیږی، او په دے احکامو چه څوك عمل کوی، د هغه تائید به کیږی، څوك چه پرے عمل نهٔ کوی، هغوی له به سزا ورکولے شی، حکومت فقط چوکئ یا ځان مړولو ته نهٔ وائی،

د **خلافت** معنیٰ ده : د فسادونو ختمول یا کمول او د مصالحو ډیرول او پیدا کول۔ دا د مسلمانانو د خلافت معنیٰ ده، د خلافت سره اَمن راځی، گناهونه ظاهراً نهٔ وی۔ نو پدے سورة کښ ددے شپږو خبرو تفصیل دے، او دا پوره دین دے نو پدے سورت کښ ټول دین پیش کول دی۔ نو ځکه ورته فسطاط القرآن هم وائی۔

٣- دریم قول : ظاهر دا ښکاره کیږی (او دا زمونږ رأیه ده) چه سورة کښ موضوع د ایمان ده۔یعنی [اَلْاِیْمَانُ بِاللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ وَبِکِتَابِهٖ وَالْاِیْمَانُ بِالْیَوْمِ الْآخِرِ وَالتَّرْغِیْبُ اِلَیْهِ وَفَوَائِدُ ذٰلِكَ وَنُقْصَانُ تَرْكِ ذٰلِكَ] (الله تعالیٰ او رسول الله ﷺ او کتابونو او آخرت باندے ایمان ته ترغیب دے او ددے فوائد او د عدم ایمان نقصانات) او د ایمان متعلقات بیانوی۔

د ایمان د موضوع دپاره قرآن کریم کښ بعض سورتونه خاص کړے شویدی لکه سورة بقره، سورة یونس، سورة الم سجده، سورة الحدید، سورة الجاثیه او سورة الشعراء۔

دا وجه دهٔ چه پدے سورتونو کښ د قرآن کریم په باره کښ لفظ د (لَارَیْبَ) راغلے دے، ځکه چه دے کښ موضوع د ایمان ده، نو دیکښ به د ایمان فوائد او د عدم ایمان نقصانات بیانوی۔ یعنی چه چا ایمان رانهٔ وړو، غرق او هلاك دے، یهودی دے، که نصرانی، صابئ دے او که هرڅوك دے، ددے وجه نه په دے سورت کښ لفظ د ایمان د نوی (۹۰) کرتونه زیات ذکر شوے دے، او کله به د ایمان مرادف لفظ استعمالوی لکه په اوله کښ وائی :

(یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ)، (وَالَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِمَا اُنْزِلَ اِلَیْكَ) (یُوْقِنُوْنَ) (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ یَّقُوْلُ آمَنَّا بِاللّٰهِ) (اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ)، (یُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِیْنَ آمَنُوْا) [وَاِذَا قِیْلَ لَهُمْ آمِنُوْا، کَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوْا أَنُؤْمِنُ)، (وَاِذَا لَقُوا الَّذِیْنَ آمَنُوْا). (وَبَشِّرِ الَّذِیْنَ آمَنُوْا) ، (فَأَمَّا الَّذِیْنَ آمَنُوْا فَیَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ) او (وَآمِنُوْا بِمَا اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَکُمْ) (اِنَّ الَّذِیْنَ آمَنُوْا وَالَّذِیْنَ هَادُوْا) (مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ

وَالْيَوْمِ الآخِرِ) (يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا)۔
دے وجه نه د سورت په آخر کښ به تاسو دا ټکے ګورئ [آمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا أُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ] محمد رسول الله ﷺ دا قرآن کریم منی، او دارنګه مؤمنان ئے هم منی)، [كُلٌّ آمَنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ] ـ په الله هم ایمان راوړی په ملائکو او کتابونه هم منی او رسولان هم منی او د یهودو په شان نهٔ دی چه بعض پیغمبران منی او بعض نهٔ منی)، دا لفظونه پکښ بار بار ذکر شوی دی۔
دارنګه ددے په مقابله کښ د کفر لفظ به پکښ ډیر راځی نو پدے سورت کښ به د ایمان او د کفر مقابله وی۔ او څلور ایمانیات به پکښ ذکر کیږی (ایمان بالله والرسول والکتب والیوم الآخر) ـ او دا بحث به د شرعی ایمان په حق کښ وی چه دا متضمن دے توحید لره هسے د خولے ایمان نه بحث نهٔ دے۔ او د متکلمینو د ایمان نه هم بحث نهٔ دے۔

دریم بحث : حاصل السورة :

نو حاصل د یوے رکوع دا دے : اوله کښ الله تعالیٰ په (الم ذلك الكتاب) کښ عظمة القرآن بیانوی۔ په ذکر د درے صفاتو :۱- یو دا کامل کتاب دے۔ ۲- بے شکه کتاب دے۔ ۳- د هدایت نه ډك دے۔ بیا بیان د اهل القرآن۔ چه د قرآن نه فائده اخستونکی څوك دی نو هغه متقین دی، شپږ صفات به ورله بیان کړی۔ ۱- التقویٰ ۲-الایمان بالغیب۔ ۳- اقامة الصلاة ـ ٤- الانفاق۔ ٥-الایمان بالکتاب والسنة۔ والکتب المنزلة ـ ٦- الیقین بالآخرة۔ ددے تولو باعث په آخرت یقین دے۔نو په آخر کښ ئے نتیجه ذکر کړیده په ذکر د فوائدو چه یو ۱- : پدے صفاتو به صحیح هدایت ورته حاصل شی۔
۲- دویم : همیشه کامیابی به ورته حاصله شی۔
بیا ددے اهل الایمان ضد خلق وروستو ذکر کوی، او د هغوی درے صفات :
۱- اَلْكُفْرُ عِنَادًا (کفر کول، خبره نهٔ منل او قصداً نهٔ منل)
۲- اَلْاِنْذَارُ وَعَدَمُ الْاِنْذَارِ فِيْ حَقِّهِمْ سَوَاءٌ (دعوت فائده نهٔ ورکوی)
۳- لَا يُؤْمِنُوْنَ (د ایمان اِراده هم نهٔ لری) ددے درے صفتونو دوه نتیجے دی :
۱- دنیاوی سزا چه هغه د هدایت نه محرومیدل دی په ختم سره۔

۲- بله اخروی سزاء ده چه هغهٔ عذاب عظیم دے۔
نو ددے رکوع حاصل دا را اُووتو : ۱- درے صفات د قرآن کریم د عظمت، د اهل قرآن شپږ صفتونه، او دوه نتیجے، هدایت او فلاح، نو دا یولس خبرے شوے۔ او درے د کافرانو صفات او دوه عذابونه نو جمله شپاړس غټے خبرے دی۔



سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ مَدَنِيَّةٌ	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	آیاتها : ۲۸٦ ورکوعاتها : ٤٠

الٓمّٓ ﴿۱﴾ ذٰلِكَ الْكِتَابُ لَارَيْبَ

الله تعالیٰ خبردار دے په مراد ددے حروفو، دا کامل کتاب دے، هیڅ شك نشته

فِيْهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۲﴾

پدے کښے، لاره خودونکے دے متقیانو لره۔

توضیح الکلمات والتفسیر

الم: دیته حروف مقطعات (هغهٔ حروف چه په تلفظ کښ د یو بل نه جدا جدا لوستلے کیږی) وئیلے شی۔ دیته حروف وائی په اصطلاح د متقدمینو کښ ځکه هغوی د اسم، فعل او حرف فرق نهٔ کوی، تولو ته حروف وائی، ورنه په اصل کښ دا اسماء دی۔ ځکه الف اسم دے د مُسَمّٰی (ا) او لام اسم دے د (ل) او میم اسم دے د (م) نو پدے بناء دیته اسماءِ مقطعات وئیلے شی۔ دا حروف د (۲۹) سورتونو په ابتداء کښ راغلی دی چه تول (۷۸) حرفه دی او بغیر د تکرار نه تول (۱٤) دی چه مجموعه ئے دا ده :

[طُرِقَ سَمْعَكَ النَّصِيْحَةَ] (خپل غوږ نصیحت ته خکته کړه)

یا [صَحِّ طَرِيْقَكَ مَعَ السُّنَّةِ] ۔ (د سنت سره ډِے خپله لاره برابره کړه)۔

یا [نَصٌّ حَكِيْمٍ قَاطِعٌ لَهٗ سِرٌّ] .... (دا د حکیم ذات یقینی الفاظ دی چه راز لری)

شيعه گان ئې داسې مجموعه جوړوي : [صِرَاطُ عَلِيٍّ حَقٌّ نُمْسِكُهُ]۔
(د علي لاره حقه ده مونږه ئې رانيسو)
ددې د معنیٰ او مفهوم په باره کښې ډ مفسرينو اختلاف راروان دې۔
۱ - اول مشهور قول دا دې (دا قول د خلفاءِ اربعه او ابن مسعود -رضي الله عنهم- او اکثرو تابعينو رحمهم الله دې) [سِرٌّ، اَللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمُرَادِهٖ بِذٰلِكَ]
(چه دا د الله تعالیٰ يو راز دې، چه هغه ددې په معنیٰ او مطلب ښۀ پوهه دې) ددې معنیٰ هيچا ته نۀ ده معلومه، پدې وجه دوي ددې تفسير نۀ دې بيان کړې۔
د ابوبکر صديق ﷺ نه نقل دي : [لِكُلِّ كِتَابٍ سِرٌّ وَسِرُّ اللّٰهِ فِي الۡقُرۡآنِ فَوَاتِحُ السُّوَرِ]
(د هر کتاب يو راز وي او د الله تعالیٰ راز په قرآن کريم کښې ابتدائي حروف د سورتونو دي) [تفسير الدر المنثور، الطبري، روح المعاني، نظم الدرر للبقاعي]
او دا معنیٰ محققين مفسرينو غوره کړيده۔ علامه صديق حسن خانؒ په تفسير فتح البيان کښې ليکي : چه د صحابه کرامو (ابن عباس، او علي بن ابي طالب رضي الله عنهم) نه چه کوم تفسير د حروف مقطعاتو نقل دې (۱) نو هغه يا ثابت نۀ دې۔
(۲) او کوم چه صحيح ثابت دي نو هغه محمول دي د هغوي په اجتهاد باندې۔ او د نبي کريم ﷺ نه په دې باب کښې تفسير نقل نۀ دې۔ مقصد ئې دا دې چه اول قول غوره دې۔ انتهیٰ۔ او دغه معاني هم په درجه د ظن او تخمين کښې دي، ددې وجه نه د هغوي اختلاف هم پکښې راغلې دې۔
بيا پدې باندې **سوال** دې چه هرکله خلق په دې نۀ پوهيږي نو بيا ددې د نازلولو فائده څه ده ؟ نو ددې بعض فوائد او حکمتونه دا دي :
۱ - [كَبۡحُ عِنَانِ الۡعَالِمِ عَنِ التَّعَرُّضِ لَهَا] امتحان دې په علماؤ چه دوي هر شې معلوموي، نو ورته وئيلې شي چه تاسو به پدې کښې گوتې نۀ وهئ۔ خپل علم پدې کښې نشئ چلولې۔ لکه په جاهل دا ابتلاء وي چه علم زدۀ کړه۔
۲ - تذکيري فائده ئې دا ده چه قرآن کريم د اول نه په لا علمئ شروع شي يعني بنده د اول نه اقرار د خپل عجز او ضعف او ناپوهئ اُوکړي چه زۀ په هيڅ نۀ پوهيږم مگر ستا په توفيق سره۔ نو الله تعالیٰ به ورته علم ورکړي، او که انسان دعوه د علم اُوکړي نو الله تعالیٰ به ئې د علم نه محروم کړي۔

۳- لِتَحَدِّي الْكُفَّار وَاِعْجَازِ الْقُرْآن) يعنى پدے كښې حكمت تحدى (مقابله) ده د كفارو سره چه قرآن كريم ددے حروفو نه جوړ شويدے او تاسو هم خپل كلام ددے (نهه ويشت) حروفو نه جوړوئ نو څئ ددے مقابله اُوكړئ او بشر خو ددے د مقابلے نه عاجز دى نو معلومه شوه چه دا د الله تعالىٰ حق كلام دے۔

٤- حكمة : كه د قرآن كريم په معنىٰ پوهيږے نه، هم اجر دے، او كه پوهيږے هم اجر دے۔ حديث كښې دى : [لَا اَقُوْلُ: آلٓمٓ حَرْفٌ، بَلْ اَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيْمٌ حَرْفٌ] [التاريخ الكبير للبخارى (۲/۲۱٦) والترمذى (۵/۱۷۵) رقم: (۲۹۱۰) وقال حسن صحيح غريب، وشعب الايمان (۲/۳٤۲) (يعنى الم يو حرف نۀ دے بلكه درے حروف دى) نو پدے حديث كښې الم په مثال كښې راوړل دے نكتے ته اشاره ده۔

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ او حافظ ابن قيمؒ (په قصيده نونيه) كښې دا وئيلى دى چه ددے حروفو ضرور د قرآن كريم سره مناسبت او تعلق شته، ددے وجه نه ددے حروفو نه روستو غالباً د قرآن كريم او د وحى تذكره كيږى۔ لكه تدبر پكښے اُوكړه۔ نو دلته د دلالة الاقتران په بناء باندے د قرآن كريم عظمتِ شان ته په كښے اشاره ضرور ده۔ او دارنګه تحدى پكښې غرض ده۔ او دارنګه د هر سورت په ابتداء كښې چه راغلى دى نو د هغه سورت سره ئے مناسبت دے۔ كما قال السيوطىؒ۔

حافظ ابن كثيرؒ ليكى : همدا وجه ده چه د كومو سورتونو په ابتداء كښې دا حروف راغلى وى نو په هغے كښې د قرآن كريم عظمت او د هغے په اعجاز باندے زور وركړے شويدے۔ لكه (الٓمّٓ ذٰلِكَ الْكِتَابُ) (الٓمّٓصٓ كِتَابٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِيْ صَدْرِكَ) (اعراف) (الٓمّٓ تَنْزِيْلُ الْكِتَابِ لَارَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ) (الم السجدة) (حٰمٓ تَنْزِيْلٌ مِنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) (فصلت)۔

په تفسير التنوير كښې ابن عاشور رحمه الله (۲۱) اقوال نقل كړيدى او بيا ئے فرمائيلى دى :

[خَلَصَ اَنَّ الْاَرْجَحَ مِنْ تِلْكَ الْاَقْوَالِ ثَلٰثَةٌ (۱) وَهِيَ كَوْنُ تِلْكَ الْحُرُوْفِ لِتَبْكِيْتِ الْمُعَانِدِيْنَ وَتَسْجِيْلًا لِعَجْزِهِمْ عَنِ الْمُعَارَضَةِ (۲) اَوْ كَوْنُهَا اَسْمَاءً لِلسُّوَرِ الْوَاقِعَةِ هِيَ فِيْهَا (۳) اَوْ كَوْنُهَا اَقْسَامًا اَقْسَمَ اللّٰهُ بِهَا لِتَشْرِيْفِ قَدْرِ الْكِتَابَةِ وَتَنْبِيْهِ الْعَرَبِ الْاُمِّيِّيْنَ اِلٰى فَوَائِدِ الْكِتَابَةِ لِاِخْرَاجِهِمْ مِنْ حَالَةِ الْاُمِّيَّةِ، وَالْاَرْجَحُ مِنْ هٰذِهِ الْاَقْوَالِ الثَّلَاثَةِ اَوَّلُهَا] [التحرير والتنوير ۱/۱۲۵]

(یعنی خلاصه ددې اقوالو دا ده چه راجح پدې اقوالو کښې درې اقوال دي (۱) یا دا حروف د معاندینو (مشرکانو) د چپ کولو او هغوی د مقابلې نه د عاجز کولو دپاره نازل شویدي. (۲) یا دا نومونه دي د هغه سورتونو چه دا پکښې واقع شویدي. (۳) یا دا قَسَمونه دي چه الله تعالیٰ پرې قسمونه کړیدي، دې دپاره چه د کتابة (لیکلو) شرافت او قدر عربو ته بیان کړي او امیان عربو ته د کتابت په فوائدو باندې تنبیه ورکړي دې دپاره چه د حالت د اُمِیة (امي توب) نه ئې رابهر کړي. او راجح پدې درې اقوالو کښې اولنے قول دې.

۵- **حکمة** : بعضو وئیلي دي : دا حروف د متوجه کولو د کفارو دپاره وو چه ناشنا کلام واوري چه متوجه شي.

٦- حکمة : بعض وائي : پدې کښې تعلیم د حروف تهجي دې.

بیا ددې علماؤ په نیز باندې دا متشابهات دي، معنیٰ مراده ئې نۀ ده معلومه. اګرکه حکمتونه او فائدې ئې شته. او ددې او د صفات الٰهیه ؤ په مینځ کښې فرق دا دې چه د الله تعالیٰ صفات متشابه دي په اعتبار د کیفیت سره اګرکه معنیٰ لغوی به ئې کولې شي. او دا متشابه دي په اعتبار د معنیٰ سره، معنیٰ لغوی او معنیٰ مراده ئې مخلوق ته یقیني نۀ ده معلومه.

۲- **دویم قول** : دا کتاب په عربي مبین ژبه کښې دې، نو که پدې کښې داسې الفاظ راشي چه د هغې په معنیٰ انسانان پو هه نشي نو بیا به لازم شي خطاب بِمَا لَا يُفْهَمُ) (خبرې په هغه څه سره چه مخاطب پرې نۀ پو هیږي) او دا خو ضائع وي. نو ددې ضرور معاني شته. نو بیا دې علماؤ ددې د تفسیر بیانولو کوشش کړیدې،

۱- په دوی کښې د اکثرو رایه دا ده چه دا (حروف) د سورتونو نومونه دي. (خلیل رحمه الله). دا قول دومره قوی نۀ دې ځکه چه اسم کېخودل روستو د تمامیت د شي نه وي. او دلیل پرې هم نۀ شته.

۲- بعض وائي : دا د قرآن کریم نومونه دي. (سعید بن جبیرؒ، او مجاهدؒ).

۳- بعض وائي : دا نومونه د الله تعالیٰ دي. (علي بن ابي طالب ﷺ وسالمؒ بن عبد الله).

ابن ابي حاتمؒ وئیلي دي چه ممکن ده چه دا ټولې معاني په یوځل مراد وي ځکه پدې کښې څه منافات او تناقض نشته. ځکه کله چه ډیرې معاني راشي او تضاد پکښې نۀ وي

او احتمال وی نو تولے معانی مراد اخستل کیږی لِعُمُوْمِ عِلْمِ اللّٰهِ تَعَالیٰ بِهَا ۔ (د الله تعالیٰ علم فراخه دے)۔

بیا بعض علماؤ پدے کښ د بیل بیل حرف معنیٰ کړیده اګرکه دا یقینی معنیٰ نۀ ده بلکه د احتمال او تخمین په درجه کښ ده : ۱- بعض وائی : الف اشاره ده الله ته او لام اشاره ده جبرئیل ته او میم اشاره ده محمد (ﷺ) ته یعنی دا کتاب الله تعالیٰ، په محمد ﷺ باندے د جبرئیل په واسطه نازل کړیدے۔ دا قول ابن عباسؓ ته منسوب دے۔ لکه په اشعارو کښ ددے مثال داسے دے (فَقُلْتُ لَهَا قِفِيْ فَقَالَتْ قٓ۔(یعنی وَقَفْتُ) (ما ورته اُووئیل : اُودریږه نو هغے اُووئیل: زۀ ولاړه یم) نو یو (ق) قائم دے په مقام د وَقَفْتُ باندے۔

۲- بعض وائی : د الله تعالیٰ نومونو ته اشاره ده، الف اشاره ده الله ته، او لام اشاره ده (لَطِيْفٌ بِعِبَادِهٖ) ته او میم اشاره ده مجید یا مالك ته۔ او پدے کښ تنبیه ده چه ددے سورت مضامین ددے صفاتو نه راوتی دی۔ (تفسیر احسن الکلام)۔

۳- بعض وائی : الف (اصل) ته او لام (لازم) ته او میم (محکم) ته اشاره ده یعنی دا کتاب اصل او لازم الاتباع او محکم کتاب دے۔ (تبصیر الرحمن للمُهائمی)۔

٤- د عبد الله بن عباس ؓ نه دا هم نقل دی : الف کښ (اَنَا) او لام کښ (الله) او میم کښ (اَعْلَمُ) ته اشاره ده یعنی [اَنَا اللّٰهُ اَعْلَمُ] (یعنی زۀ الله ښۀ پو هه یم) (ابن کثیرؒ)

٥- یا پدے کښ درے قسمه مخارج د حروفو ته اشاره ده، الف متحرك اصل کښ همزه دے او دا د ابتداء د مخارجو نه دے چه حلق دے او لام د مینځ نه او میم د آخر د مخارجو نه دے (چه شونډے دی) نو پدے کښ هم د انسان درے واړه قسمه حالات موجود دی، ابتداء او وسط او انتهاء۔ حافظ ابن قیمؒ فرمائی : پدے کښ اشاره ده چه دا سورت مشتمل دے په ابتداء د خلق او په مینځ چه هغۀ دنیاوی احکام شرعیه دی او په آخر د خلق چه آخرت او قیامت دے۔ لیکن دا وجه هم بعیده ښکاره کیږی۔

٦- بعض وائی : د حروف ابجد په حساب سره پدے کښ د دین تکمیل ته اشاره ده چه دا دین اسلام به په یو اَویا (۷۱) کالو کښ مکمل کیږی۔ او ګوډ ګوډ ته به رسیږی۔ ځکه الف یو کال ته اشاره ده او لام دیرش دی او میم څلویښت دی۔

(ابن کثیر ۱/۱۵۸) والنکت والعیون للماوردی (۱/۸)

لیکن ظاهر او راجح اول قول دے چه پدے باندے الله تعالیٰ پو هیږی لیکن د کفارو

تذليل او عجز په كښې مقصود دے او د قرآن كريم عظمتِ شان په كښې مقصود دے۔
زمونږ تجربه دا ده چه كوم سورت كښې دا حروف راغلي وي، په هغه سورت كښې اسرار او باريكات ډير وي، ناشنا اشارات وي، عجيب حكمتونوته اشارات وي، گويا كښې د اول نه براعة الاستهلال وي چه دا حروف عجيب نو باقي سورت كښې هم عجائبات شته۔ والله اعلم۔

سوال : هر كله چه دا راجح شوه چه ددے حروفو په معنىٰ الله تعالىٰ پو هيږي نو دا خو خطاب شو په هغه خبرو چه بنده پرے نهٔ پو هيږي او دا خو تيك نهٔ وي، نو دلته ولے شويدے۔؟ **جواب** : عام قرآن معلوم المعنىٰ دے، كه يو څو حروف پكښې مجهول المعنىٰ راشي، هيڅ ضرر نشته، يا كه دا حروف معلوم المعنىٰ نهٔ دي خو معلوم الحكمة خو ضرور دي او دا د خطاب دپاره كافي ده۔

تركيب : بيا دلته دوه تركيبونه جوړيږي (۱) كله چه دا حروف مقطعات د الله تعالىٰ راز شي نو بيا لَا مَحَلَّ لَهَا مِنَ الْإِعْرَاب دي۔ (۲) او كه نوم د قرآن يا د سورت شي لكه دا صاحب الكشاف او سيبويه په (الكتاب) كښې غوره كړيدے۔ نو بيا (الم) كلمه خبر دے او (هٰذِه) مبتداء پټه ده۔ او ذلك الم ته اشاره ده۔ او عرب كله بلا مناسبته هم د يو شي نوم اږدي۔ (كما في تدبر القرآن)

(ذلك) : ذلك اشاره ده [مَا نَزَلَ او مَا سَيَنْزِلُ] ته يعني هغه آيتونو او سورتونو ته چه مخكښې نازل شوي وو او دارنگه هغه چه روستو نازليدونكي دي۔
او لفظ د ذلك اشاره بعيد (وړاندے) ته ده۔ اوٌدلته خو دا كتاب نزدے دے، ليكن بعيد دوه قسمه دے يو هغهٔ چه مكان يا زمانه ئے لرے وي، دويم هغه چه مرتبه ئے داسے لويه وي چه د انسانانو د مقابلے نه لرے وي، ديته بُعْدِ رتبي وائي، او دلته دا قسم مراد دے يعني دا لوئي مرتبے والا كتاب دے۔ ۲- كله ذلك په معنىٰ د هذا هم راځي، د اسماء اشاراتو د يو بل په معنىٰ استعماليدل كثير دي۔
۳- بعض وائي : اشاره ده تورات او انجيل ته چه په هغے كښې ددے كتاب الله تذكره وه۔ يعني دغه كتاب چه په پخوانو كتابونو كښې ئے تذكره شويده، كامل كتاب دے۔
٤- يا اشاره ده هغه څه ته چه الله تعالىٰ د هغے وعده كړيده پدے قول سره ﴿إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا﴾ (المزمل) (يعني دغه قول ثقيل دا كتاب دے) (زاد المسير)۔

لیکن دا اقوال بعید دی۔

ظاهر دا ده چه دا اشاره ده (مَانَزَلَ او مَا سَيَنْزِلُ) ته یعنی نازل شوی او نازلیدونکی سورتونو) ته او مقصود پکښې بُعد رتبی دے۔

(الکتاب) : ددے نه مراد قرآن کریم دے الف لام پکښې د کمال دپاره دی یعنی هغه عظیم او کامل کتاب چه په حقیقی معنو کښې کتاب دے ځکه په دے کښې د علم او حکمت داسے خزانے او واضحه حق بیان شوے دے چه په مخکښو کتابونو کښې نۀ وو موجود۔ نو ځکه دا کامل کتاب دے۔ او د دین په ټولو مهماتو مشتمل دے۔

د کتاب لفظ معانی

لفظ د کتاب په قرآن کریم کښې (۳۱۹) او ماده ئے (۲۱۹) کرته راغلے ده۔ په ډیرو معانیو مستعمل دے لکه :

۱- کتاب په معنیٰ د فرض لکه (اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتَابًا مَّوْقُوْتًا) (النساء: ۱۰۳) (كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ) (البقرة: ۱۸۰)

۲- بمعنی الحجة (دلیل) (فَأْتُوْا بِكِتَابِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ) (الصافات : ۱۵۷)

۳- بمعنیٰ الاجل (مقرره نیټه) لکه (كِتَابًا مُّؤَجَّلًا) (آل عمران : ۱۴۵) (لِكُلِّ اَجَلٍ كِتَابٌ) (حجر :۴)

۴- المکاتبة مع العبد (د غلامانو سره لیکل کول چه دومره مال راوړه تۀ آزاد ئے) (وَالَّذِيْنَ يَبْتَغُوْنَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ) (النور : ۳۲)

۵- المجموع (راجمع شوے کتاب) لکه (كِتٰبٌ اَنْزَلْنَاهُ اِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوْا آيٰتِهٖ) (ص : ۲۹)

۶- په معنیٰ د کتابت (لیکلو) سره۔ لکه سورة نبأ (۲۹) (وَكُلَّ شَيْءٍ اَحْصَيْنٰهُ كِتَابًا)

۷- کتاب الاعمال (علمنامه) لکه سورة الاسراء (۱۳) (وَنُخْرِجُ لَهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ كِتٰبًا يَلْقَاهُ مَنْشُوْرًا)

۸- کتاب په معنیٰ د لوح محفوظ سره لکه سورة الواقعة (۷۸) (فی کتاب مکنون)

۹- الحکمی الشرعی۔ (وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِىْ كِتَابِ اللّٰهِ) (الاحزاب :۶)

۱۰- بمعنی الرسالة (لیږلے شوے خط) (اِنِّىْ اُلْقِىَ اِلَىَّ كِتَابٌ كَرِيْمٌ) (النمل : ۲۹)

۱۱- په معنیٰ د مقرر رزق او عمر لکه (اُولٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيْبُهُمْ مِنَ الْكِتَابِ) (اعراف :

۳۷)

۱۲- بمعنی العدة (د زنانه عدت) لکه (حَتّٰی یَبْلُغَ الْکِتَابُ اَجَلَهٗ) (البقرة : ۲۳۵)

فائده : د قرآن مجید څه دپاسه شپیته نومونه دی، دلالت کوی په عظمت او کمال د قرآن کریم باندې. دلته ئې لفظ د (الکتاب) اختیار کړو او نور نومونه ئې رانهٔ وړل پدې کښې حکمتونه ډیر دی، بعض دا دی : (۱) د قرآن کریم اصلی نوم (الکتاب) دې، نور ئې صفات دی، نو په ابتداء د قرآن کښې اصلی نوم واخستل شو نو باقی صفات به ورسره ذکر کولې شی.

(۲) اشاره ده چه دا کتاب لیکل شوې دې، د مخکښې نه په لوح محفوظ کښې او بیت العزة کښې، او لیکل ئې پکار دی په مصاحفو کښې نو عزت د قرآن کریم ته اشاره شوه.

(۳) دریم حکمت دا دې چه الکتاب کښې اشاره ده چه دا کتاب کمال والا دې نور کتابونه دده په نسبت سره کالعدم دی نو ځکه ئې جنس راوړو چه الکتاب دې، که بل نوم ئې راوړې وې نو بیا به دا فائده نهٔ حاصلیدلې. (منه)

(**لَارَیْبَ فِیْهِ**) : (ریب) لفظ په قرآن کریم کښې (۳۵) کرته او ماده ئې (۳۸) کرته راغلې ده ریب په لغت کښې (اَلْمُبَالَغَةُ فِی الشَّكِّ) (په شك کښې مبالغې او زیاتوالی) ته وائی.

۲- اَلشَّكُّ مَعَ التُّهْمَةِ (روح المعانی واللباب ۵۱/۱) (یعنی داسې شك چه تهمت هم ورسره وی).

۳- [اَلشَّكُّ مَعَ اضْطِرَابِ النَّفْسِ وَقَلَقِهَا] (ایسر التفاسیر ۱۵/۱)

(شك سره د نفس د پریشانتیا او حیرانتیا نه) دا وجه ده د ریب لفظ اکثر د تحدی او مقابلې په مقام کښې استعمالیږی ځکه د منکرینو شك وی سره د تهمت نه په رسول الله ﷺ باندې او پریشانه او حیران وو لکه دې سورة (۲۳) آیت کښې دی : (وَاِنْ کُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ). دارنګه هود (۱۳) او یونس (۳۸) کښې هم دی.

فائده : لَارَیْبَ فِیْهِ لفظ په دې سورت او یونس (۳۸) او الم السجده (۲) کښې راغلې دې او دې درې واړو سورتونو کښې موضوع او بحث د ایمان دې. اشاره ده چه د الله تعالی په کتاب باندې صحیح ایمان راوړل پکار دی او شکونه ندی پکار.

اشکال : بیا دلته الله تعالیٰ د قرآن کریم په مدح او صفت کښې فرمائیلی دی چه هیڅ قسم شك پکښې نشته اوحال دا دې چه اکثر انسانان خو پکښې شك کوی او ډیرو نهٔ دې منلې

(وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَايُؤْمِنُوْنَ) (الرعد : ۲)

نو دلته مفسرینو ددې اشکال په جواب کښې داسې وئیلي دي :

اول جواب : ۱-دې کښې امام رازیؒ داسې معنیٰ کوي چه دلته نفي په معنیٰ د نهي ده یعنی خبر بمعنی الانشاء دې یعنی (لَاتَرْتَابُوْا فِيْهِ) (مسائل الرازی) و تفسیر الرازی (۱۸۳/۳) البقرة :۱۹۷آیة) (شك پکښې مۀ کوئ) لیکن دې تاویل ته ضرورت نشته، او د ظاهر د قرآن نه بعید دې۔ او اصول دا دي چه د ظاهر خلاف تفسیر کول بلا ضرورته د قرآن کریم د بلاغت خلاف دي۔ او په دې نفي کښې کمال دې۔

۲- لاریب کښې معنیٰ ادعائي ده، یعنی (لَيْسَ رَيْبُهُمْ بِرَيْبٍ) (تلخیص المفتاح) (یعنی خلق به شك کوي لیکن د هغوی شك داسې دې لکه لاشك، ځکه د قرآن په صدق او حقانیت داسې دلائل موجود دي که انسان په هغې کښې سوچ اُوکړي نو شك ئې زائله کیږي، او شك په هغه شي کښې وي چه هغه د خپل ځان دفاع نشي کولې او شبهات وارده نشي زائله کولې۔ او قرآن کریم خو د خلقو شبهات زائله کړیدي۔

۳- تفسیر : زاد المسیر داسې معنیٰ کوي : (لَا رَيْبَ فِيْهِ بِأَنَّهُ هُدًى) (یعني ددې په هدایت کیدو کښې هیڅ شك نشته)

٤- راجح تفسیر دا دې چه معنیٰ داسې ده (لَا رَيْبَ فِيْهِ (مِنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ) اَىْ فِىْ كَوْنِهٖ مُنَزَّلًا مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى (یعنی شك نشته پدې کتاب کښې چه د الله تعالیٰ د طرفه راغلې دې، (یعنی د الله تعالیٰ د طرفه په راتلو کښې ئې شك نشته)۔ اګرکه خلق به شك کوي، دا د هغوی کمعقلي او تقصیر دې۔

او ددې تفسیر د غوره والي یو څو وجوهات دي او یو مثال دې۔

۱- اوله وجه دا ده چه بل آیت کښې راغلي دي (وَاِنْ كُنْتُمْ فِىْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا) البقرة : ۲۲) دارنګه الم السجده کښې دي (۱) (الٓمّٓ تَنْزِيْلُ الْكِتَابِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرَاهُ بَلْ هُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ) الآية .

○ دارنګه سورة یونس (۳۷) کښې دي : (وَتَفْصِيْلَ الْكِتَابِ لَارَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ)

نو دا آیتونه دلالت کوي چه دلته هم دا معنیٰ ده چه شك په کښې د جانب د الله تعالیٰ نه نشته۔ ۲- دویمه وجه دا ده چه شك او ریب د صفاتو د کتاب نه نۀ دي بلکه دا د صفاتو د اذهانو او زړونو نه دې۔ شك د قرآن صفت نۀ دې بلکه د کفارو د زړه صفت دې

او هغوی د قرآن په نزول کښې شك کولو۔ خو ددے په کمال او بلاغة کښې ئے شك نۀ وو۔
۳- دریمه وجه دا ده چه نفي د شك خو د دعویٰ نه کیږی او دلته دعویٰ دا ده چه (کَوْنُ هٰذَا الْكِتَابِ مِنَ اللّٰهِ تَعَالىٰ) (کیدل ددے کتاب د الله تعالیٰ د طرف نه)
٤- څلورمه وجه دا ده چه په نفی د شك کښې د کتاب نه ډیره فائده نشته ځکه دا دعویٰ خو سړے په بل کتاب کښې هم کولے شی، زیاته فائده دے کښې ده چه شك د نزول د قرآنِ کریم په باره کښې رد کړے شی۔ ٥- پنځمه وجه دا ده چه منکرین خو د قرآن کریم په باره کښې شکیان نۀ وو چه دا غوره کتاب نۀ دے، هغوی خو اقرار کولو چه دے کښې ډیرے ښے خبرے دی (اِنَّ مُحَمَّدًا يَأْمُرُ بِمَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ) (سیرة ابن کثیر، ونور الیقین) (محمد ﷺ خو په ښائسته اخلاقو حکم کوی) ابوجهل او د ابوذر ؓ ورور وئیلی وو) لیکن د هغوی شك په دے کښې وو چه آیا الله تعالیٰ به دا قرآن رالیږلے وی او که نۀ ؟۔
نو دا روستنے تفسیر راجح او صحیح شو۔
بیا ددے د پوهے دپاره **مثال** دا دے : یو بادشاه یوه بله علاقه کښې یو سړی ته خپل خط وراُولیږی چه دلته عوام الناس ته داسے حکم اُوکړه د بادشاه د طرفه، نو کله چه هغه اُووائی بادشاه ما ته داسے حکم رالیږلے دے او تاسو ته ئے بیانوم نو د خلقو شك پیدا شی چه تا ته گوره او بادشاه ته گوره، دا نشی کیدے چه بادشاه دِے تا ته خط راولیږی، او ددے کلی او علاقے مشرانو ته دِے نۀ رالیږی، ستا خبره مونږ نۀ منو۔ په دے کښې بادشاه خبر شی او د دغه سړی د تصدیق دپاره بیا خط راولیږی چه دا زما د طرفه یقینی خط دے، نښه ئے دا ده چه زما مهر پرے لگیدلے دے او ددے خط په شان څوك لیکل نشی کولے (وَاِنْ كُنْتُمْ فِىْ رَيْبٍ) دا خط د بادشاه د نورو خطونو په شان دے (وَآمِنُوْا بِمَا اَنْزَلْتُ مُصَدِّقاً لِمَا مَعَكُمْ) تاسو خو اُوسه پورے زما د خط په انتظار وئ نو چه درغے نو ولے انکار کوئ ؟ (وَلَمَّا جَاءَ هُمْ كِتَابٌ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِمَا مَعَهُمْ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا) او په دغه خط باندے چه څوك څه اعتراض لری نو دغه بادشاه ئے جواب کوی (اِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيِىْ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا) (قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيْلَ) (مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ)
نو دا بادشاه وائی : خط کښې هیڅ شك نشته زما د طرفه دے، هسے بهانے مۀ لټوئ په انکار کښې، زۀ به سزا درکړم، لږه زمانه بعد (سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَا الثَّقَلَانِ) او دغه بادشاه بار بار د دغه سړی د تائید دپاره فوج رالیږی، قوت ورکوی او جانب مقابل ورلره کمزورے

کوی نو بس شکونه ختم شو او که بیا هم څوك شك کوی نو په (۲۳) آیت کښ ورته چیلنج ورکوی چه ددے کتاب مقابله اُوکړئ۔ نشئ کولے نو بیا راشئ پدے کتاب او پدے نبی ایمان راوړئ۔ او دے ته تسلیم شئ۔ او که بیا هم شك کوی نو بے عقله دی، بے سو چه دی، د ځان دشمنان دی، د بادشاه نه نهٔ یریږی۔ (تَذْكِرَةً لِمَنْ يَّخْشٰى) (طه : ۲) (فَذَكِّرْ بِالْقُرْآنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ) (سورة ق) دا مثال یاد کړه نو دا آیت به دریاندے راکولاؤ شی ان شاء الله تعالیٰ۔

فائده : (لاَ فِيْهِ رَيْبٌ) ئے ولے اُونه وئیلو ؟ ځکه چه احتراز د نورو کتابونو د الله تعالیٰ نه رانشی لکه تورات، انجیل وغیره شو ځکه هغه هم بے شکه د الله تعالیٰ کتابونه وو۔ ځکه معنیٰ د تخصیص به وے۔ چه صرف دے کتاب کښ شك نشته نو بیا گمان پیدا کیدو چه نور کتابونه د الله تعالیٰ مشکوك وی څهٔ ؟۔

فائده : لَا شَكَّ فِيْهِ ئے اُونهٔ وئیلو ؟ (۱) حکمة دا دے چه په نفی د ریب کښ کمال زیات دے د نفی د شك نه ځکه چه ریب متضمن دے ډیرو اشیاؤ لره لکه (۱) شك، (۲) شبهه (۳) اختلاف (٤) تناقض (٥) اعوجاج، دا څیزونه د لوازماتو د ریب نه دی نو ځکه بعض مفسرین تفسیر باللازم کوی [لَا رَيْبَ فِيْهِ، لَاشَكَّ، وَلَا شُبْهَةَ وَلَا اِخْتِلَافَ وَلَا تَنَاقُضَ وَلَا اِعْوِجَاجَ فِيْهِ] (شك، شبهه او اختلافات او تناقض یو بل سره پکښ نشته، چه یو ځائے کښ یوه خبره او بل ځائے کښ د هغے مخالفه خبره وی او کوږوالے پکښ نشته چه د حق نه اَوړیدلے خبره وی) نو پدے کلمه کښ ډیر کمال دے۔ نو ددے په نفی سره نفی د ډیرو څیزونو راځی۔ په خلاف د شك نه۔

○ په بل تعبیر سره داسے هم وئیلے شی چه دلته ئے ریب نفی کړو پدے کښ تنبیه ده د اعلیٰ نه په ادنیٰ باندے ځکه ریب سخت دے د شك نه نو مطلب دا شو چه ریب پکښ نشته نو شك خو به په طریق اولیٰ پکښ نهٔ وی۔ په نفی د اشد سره نفی د اخف رازی فتفکر۔

(۲) دویم حکمة دا دے چه دلته نفی د ریب د مخاطبینو د عقیدے او حال مطابق شویدے ځکه چه مخاطبینو ریب (یعنی مضبوط شك) لرلو او نفس شك ئے نهٔ کولو۔ نو د هغوی د عقیدے مطابق ریب نفی شو، نو ددے نه دا نهٔ لازمیږی چه ریب نفی شو نو شك به نهٔ وی نفی۔

فائده : د لاريب په ځائے ئے داسے اُونهٔ وئيل چه (ذٰلِكَ الْكِتَابُ حَقٌّ وَهُدًى لِلْمُتَّقِيْنَ) (١) يا خو تفنن مطلوب دے (٢) يا په نفی کولو د ريب کښ ډيره مبالغه ده يعنی حق خو دے، ورسره شك هم پکښ نشته، او که صرف لفظ د حق وئيلی وے نو دا نهٔ معلوميده چه شکونه به دے کتاب زائله کړی وی او که نهٔ ؟۔

فائده : دلته ذلك الكتاب جدا جمله ده او لاريب فيه جدا جمله ده نو معنیٰ دا شوه : دا کتاب کامل دے او شك پکښ نشته۔ اکثر خلق داسے معنیٰ کوی، دے کتاب کښ شك نشته نو دوه جملو نه يوه جمله جوړه وی اګرکه هغه ترکيب هم جائز دے ليکن غوره ندے ځکه دوو جملو کښ ډير کمال وی۔ او هغه دويم ترکيب داسے دے : ذٰلك اسم اشاره او کتاب مشار اليه مبتدا شوه او لاريب فيه جمله خبر شو۔ فتفکر۔

(**هُدًى لِلْمُتَّقِيْنَ**) هدی : ددے حمل په الکتاب باندے په طريقه د مبالغے دے۔ لکه د "زَيْدٌ عَدْلٌ" په شان۔ اشاره ده چه دا کتاب سراسر هدايت دے۔ او (هدی) ئے نکره راوړه ځکه تنوين تنکير دپاره د تعظيم دے لکه (لَهٗ حَاجِبٌ عَنْ كُلِّ اَمْرٍ يَشِيْنُهٗ) (تلخيص) کښ راغلے دے۔ يا حديث کښ دی : (مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ) [مسلم : ٦٧٤٣-٧٠٢٨] نو په دويم کربة کښ تنوين د تعظيم دپاره دے۔ يعنی دا کتاب عظيم هدايت دے، هره مسئله او هره قصه او واقعه ئے هدايت دے، د هدايت هيڅ کمے پکښ نشته۔

٢- بعض علماؤ پدے کښ لازمی معانی د هدی کړيدی چه دا په معنیٰ د نور (رڼړا) سره دے۔ (٣) چه اسم فاعل ته ئے بوتلے دے يعنی مصدر په معنیٰ د اسم فاعل سره دے يعنی هَادٍ (هدايت کونکے دے)۔ اول ترکيب د وجه د ظاهر د قرآن نه راجح دے۔

(**لِلْمُتَّقِيْنَ**) دلته يو څو بحثونه دی اول :

حکمة : تخصيص ئے د متقينو ولے اُوکړو ؟ وجه دا ده چه قرآن کريم هر څوك لولی تردے چه کفار هم پکښ (پی، ايچ، ډی) کوی ليکن هغوی ترے د هدايت فائده وانخسته ځکه چه تقویٰ (د الله يره) پکښ نشته۔ نو د اول نه اشاره شوه چه تقویٰ ځان کښ پيدا کړه چه دا کتاب درله فائده درکړی، لکه بعض خلقو له ښه شے هم بديړی ځکه چه د هغه په بدن کښ اهليت نهٔ وی، نو دغه شان قرآن کريم بهترين کتاب دے ليکن د ظالمانو خسران پرے زياتيږی ﴿ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴾ ۔ نو مراد د

متقینو نه دلته هغه خوك دی چه د الله تعالیٰ یره ئے په زړه کښ شته د مخکښ نه لکه لاندینی آیتونه پرے دلیل دے۔

سوال : متقینو ته خو هدایت شویدے نو بیا هدایت کول تحصیل د حاصل دے ؟ نو مفسرینو ددے نه مختلف جوابونه ورکړیدی۔ اول **جواب** : ۱- لِاخْتِصَاصِ النَّفْعِ بِهِمْ : یعنی تخصیص ئے د متقینو پدے وجه اُوکړو چه فائده ترے متقین اخلی اګرکه دا کتاب هدایت د ټول عالَم دپاره دے۔ لکه فرمائی : (هُدًى لِلنَّاسِ) (بقره:۱۸۵)۔ (ټولو خلقو دپاره هدایت دے)۔ مثال داسے دے لکه یو انسان دوه کسانو ته یوه لاره اُوښائی خو یو پرے روان شی او بل پرے روان نشی نو روانیدونکی فائده واخسته، مقصد ته اُورسیدو او بل ته هم خودنه اُوشوه لیکن فائده ئے ترے وانخسته۔ او پدے کښ اشاره ده چه د قرآن کریم نه فائدے اخستو دپاره تقویٰ، خشیت او انابت الی الله پیدا کول ضروری دی۔ او دارنګه چا کښ چه اجمالی توحید او هدایت راغلے وی نو قرآن کریم هغهٔ ته تفصیلی ایمان او یقین ورکوی۔ او هغهٔ په خپل یقین او توحید او هدایت کښ مضبوطوی۔

۲- **دویم جواب** : دلته دویم جانب پټ مراد دے یعنی (هُدًى لِلْمُتَّقِيْنَ وَغَيْرِ الْمُتَّقِيْنَ) لکه سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ کښ بل جانب (وَالْقَرَّ) پټ دے۔ دا جواب ضعیف دے۔

۳- **جواب** : فی الحال متقین نهٔ دی مراد بلکه (اَلرَّاجِعِيْنَ اِلَى التَّقْوٰى) مراد دی یعنی هغه خلقو ته هدایت کوی چه اراده د تقویٰ لری، او تقویٰ ته رجوع کوی۔

٤- متقین نه مراد منیبین دی، یعنی انابت والو دپاره هدایت دے او ضدیانو دپاره وبال دے۔ (وَيَهْدِيْ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ) (الشوریٰ:۱۳)

۵- **جواب** : تقویٰ کښ مراتب دی نو ادنیٰ مرتبو والا بره مرتبو ته خیژوی۔ لکه هغه مراتب روستو راروان دی۔

٦- قاسمیؒ وئیلی دی چه دلته عموم مشترك دے (یعنی دوه شیان وی د یو شی دپاره یو شان حکم اُوشی او بل دپاره بل شان) معنیٰ دا ده (اِنَّهٗ يَهْدِيْ لِعَامَّةِ النَّاسِ وَيُوْصِلُ الْاَبْرَارَ اِلَى الْاِهْتِدَاءِ) (یعنی عامو خلقو ته هدایت کوی او کامل کسان کامل هدایت ته رسوی)۔

۷- **راجح** : دے کښ صحیح او راجح دا ده چه دلته د متقین نه مراد د الله تعالیٰ نه خشیت والا دی، چا کښ چه خشیت وی، فطرةً او عقلًا او دارنګه د کائناتو په لیدو سره،

نو هغه د قرآن کریم نه فائده اخلی، لکه الله تعالیٰ فرمائی : (اِلَّا تَذۡکِرَةً لِّمَنۡ یَّخۡشٰی) (طه :۲) (فَذَکِّرۡ اِنۡ نَّفَعَتِ الذِّکۡرٰی، سَیَذَّکَّرُ مَنۡ یَّخۡشٰی) (الاعلی : ۹) .
دارنگه فرمائی : (فَذَکِّرۡ بِالۡقُرۡآنِ مَنۡ یَّخَافُ وَعِیۡدِ) (ق: ٤٥) دارنگه فرمائی : (وَذِکۡرًا لِلۡمُتَّقِیۡنَ الَّذِیۡنَ یَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَیۡبِ وَهُمۡ مِنَ السَّاعَةِ مُشۡفِقُوۡنَ) (الانبیاء :٤٩)
نو هیڅ اشکال نهٔ پیدا کیږی۔

د تقویٰ معنی او تعریفات

(متقین) جمع د متقی ده، او متقی د تقویٰ نه دے او تقویٰ د وقایة نه دے په معنیٰ د حفاظت او بچ ساتلو سره۔ امام قرطبیؒ د ابن فارسؒ نه نقل کړیدی چه د تقویٰ اصل معنیٰ ده [قِلَّةُ الۡکَلَام] (خبرے کمے کول) نو لغوی معنیٰ په شرعی معنیٰ کښ مراده وی، لهذا متقی به دیته وائی چه د هغه خبرے کمے وی۔ او فضول کلام نه ځان ساتی۔ [قرطبی ۱/۱٦۱]

۱- ابن عباسؓ نه نقل دی : [اَلَّذِیۡ یَتَّقِی الشِّرۡکَ وَالۡکَبَائِرَ وَالۡفَوَاحِشَ] [البغوی]
(چه د شرك او کبیره ګناهونو او بے حیائیانو نه ځان ساتی) دا تعریف ناقص دے ځکه د عمل کولو جانب پکښ نهٔ دے ذکر۔

۲- بعض وائی : [اَنۡ لَّا یَرَاكَ مَوۡلَاكَ حَیۡثُ نَهَاكَ] (الخازن) (یعنی چه تا خپل مولا په هغه ځائے کښ اُونهٔ وینی کوم ځائے کښ ئے چه ته منع کړے ئے)۔ دے سره روح المعانی داسے الفاظ زیات نقل کړیدی : [ولا یَفۡقِدَكَ حَیۡثُ اَمَرَكَ] (په هغه ځائے کښ دے ورك نهٔ کړی کوم ځائے کښ ئے چه تا ته د حاضریدو امر کړیدے)

۳- علی ؓ فرمائی : [اَلتَّقۡوٰی : تَرۡكُ الۡاِصۡرَارِ عَلَی الۡمَعۡصِیَةِ وَتَرۡكُ الۡاِغۡتِرَارِ بِالطَّاعَةِ] [خازن، تفسیر النیسابوری] (په ګناه باندے همیشوالے نهٔ کول او په طاعت باندے غرور نهٔ کول)۔

٤- عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائی : تقویٰ دا ده :
[اَنۡ لَّا تَرٰی نَفۡسَكَ خَیۡرًا مِنۡ اَحَدٍ] - [السراج المنیر ۱/۳۳ واللباب لابن عادل ۱/ ٥۷) ومعالم التنزیل للبغوی (۱/ ٦۰) والخازن والکشف والبیان للثعلبی ۱/٦٥]
(چه ته خپل ځان د هیچا نه غوره اُونهٔ ګنړے)

٥- د ابن عباس رضی الله عنهما نه دا هم نقل دی : متقی هغهٔ چا ته وائی چه د

هدایت په لاره باندے د تلو په صورت کښ د الله تعالیٰ د عقاب نه ویریږی او د دین اسلام د تصدیق او په هغے باندے د تلو په صورت کښ د الله تعالیٰ د رحمت امید لری۔ (تفسیر الرازی)۔

٦- حافظ ابن قیمؒ د طلق بن حبیب رحمه الله نه نقل کوی فرمائی : کامل تعریف ئے دا دے : [اَلتَّقْویٰ : اَنْ تَعْمَلَ بِطَاعَةِ اللّٰهِ عَلٰی نُوْرٍ مِنَ اللّٰهِ، تَرْجُوْ ثَوَابَ اللّٰهِ]، (چه ته د الله تعالیٰ په طاعت (عبادت) عمل اُوکړے، په رڼړا د الله تعالیٰ (یعنی چه تاسره پرے دلیل وی چه دا د الله تعالیٰ عبادت او حکم دے) [وَاَنْ تَتْرُكَ مَعْصِيَةَ اللّٰهِ عَلٰی نُوْرٍ مِنَ اللّٰهِ، تَخَافُ عِقَابَ اللّٰهِ]
[مدارج السالکین وانظر جامع العلوم والحکم ١٥٩/١) والکشف والبیان للثعلبی]
(ته ګناه پریدے په رڼړا (دلیل) د الله تعالیٰ سره (نه په طریقه د عادت سره) او ته د الله عذاب نه یریږی)۔

٧- او قتادهؒ نه نقل دی چه د متقین تعریف دا روستو راروان دے (اَلَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ وَیُقِیْمُوْنَ الصَّلَاةَ الی آخرها) یعنی چه دا مذکوره اعمال پکښ وی نو بس دا متقی دے۔ او دغه خبره علامه قاسمیؒ هم کړیده۔

٨- [اِمْتِثَالُ الْاَوَامِرِ وَاجْتِنَابُ النَّوَاهِيْ مَعَ الْخَوْفِ] (یعنی د الله تعالیٰ په اوامرو عمل کول او د هغه د منهیاتو (حرام کرده) کارونو نه ځان ساتل، سره د خوف او یرے د الله تعالیٰ نه) ددے وجه نه په تقویٰ کښ د طاعت کولو او ګناه نه ځان ساتلو او یره کولو معنیٰ پرته ده۔ که ګناه ترے اُوشی نو زر به توبه اُوباسی۔ نو په تقویٰ کښ دا درے مادے دی۔

٩- یو بنه تعریف ئے حدیث د ترمذي کښ راغلے دے۔ [لَایَبْلُغُ الْعَبْدُ اَنْ یَّکُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِیْنَ حَتّٰی یَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَأْسٌ] [ترمذی : ٢٤٥١، بِسَنَدٍ حَسَنٍ وَصَحَّحَهُ الْحَاکِمُ (٧٨٩٩) وَوَافَقَهُ الذهبی وَلَهٗ شَاهِدٌ فِيْ جَامِعِ الْعُلُوْمِ وَالْحِکَمِ مِنْ قَوْلِ اَبِی الدَّرْدَاءِ ﷺ]
(یعنی بنده د متقیانو نه نشی کیدے تردے پورے چه مباح کارونه پدے یره پریدی چه هسے نه په حرامو کښ واقع نهٔ شم) یعنی د صغیره ګناهونو نه هم ځان ساتی۔ او دغه شان خبره د ابو الدرداء ﷺ نه هم نقل ده)

علامه صدیق حسن خانؒ په فتح البیان (٧٥/١) کښ وائی : (فَالْمَصِیْرُ اِلٰی مَا اَفَادَهٗ هٰذَا الْحَدِیْثُ وَاجِبٌ) ۔(دے حدیث کښ چه کومه معنیٰ د تقویٰ ده نو دے ته رجوع کول

واجب دی او دا د تقویٰ شرعی معنیٰ ده) انتهیٰ۔

۱۰ – عیسیٰ علیه الصلاة والسلام ته یو تن راغلو عرض ئې وکړو چه بنده به د الله تعالیٰ رشتینی او حق متقی بنده څنګه جوړیږی؟ نو هغهٔ ورته وفرمایل :

[تُحِبُّ اللّٰهَ حُبًّا صَادِقًا مِنْ قَلْبِكَ وتُعْمِلُ جَسَدَكَ مَا اسْتَطَعْتَ فِيْ طَاعَةِ اللّٰهِ وَتَرْحَمُ بَنِيْ جِنْسِكَ وَمَا لَا تُحِبُّ اَنْ يُؤْتٰى اِلَيْكَ فَلَا تَأْتِهِ اِلٰى غَيْرِكَ فَاِذًا اَنْتَ تَقِيُّ اللّٰهِ تَعَالٰى حَقًّا]

(رواه احمد فی الزهد ص : ۵۹)

(یعنی کله چه ته د الله تعالیٰ سره رشتینی محبت په زړه سره اُوکړې او خپل بدن څومره چه وسع وی د الله په طاعت کښې استعمال کړې او په خپل همجنس بندګانو رحم اُوکړې او په کوم کار چه تا ته راتګ نهٔ وی خوښ نو ته خلقو ته هم په هغې مه راځه نو پدې وخت کښې به ته د الله تعالیٰ حق او رشتینې متقی بنده جوړ شې)۔

۱۱ – عمر بن عبد العزیز رحمه الله فرمائی : [لَيْسَ تَقْوَى اللّٰهِ بِصِيَامِ النَّهَارِ وَلَا بِقِيَامِ اللَّيْلِ وَالتَّخْلِيْطِ فِيْمَا بَيْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ تَقْوَى اللّٰهِ تَرْكُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَأَدَاءُ مَا افْتَرَضَ اللّٰهُ فَمَنْ رُزِقَ بَعْدَ ذٰلِكَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ اِلٰى خَيْرٍ] جامع العلوم والحكم (۱/۱۵۹) الكشف والبيان ۱/۶۵)

(یعنی تقویٰ صرف په روژو نیولو او په تهجدو کولو نهٔ ده بلکه تقویٰ د الله تعالیٰ محارم پریخودل او فرائض اداکولو ته وائی او که ددې نه بعد څوك د خیر عمل کوی نو هغه زیاتی فائده ده) او دا تعریف د حسن بصریؒ نه هم نقل دې۔

۱۲ – معاذ بن جبل ﷺ ته اُووئیل شو (مَنِ الْمُتَّقُوْنَ ؟) (متقیان چاته وائی؟) هغه اُوفرمایل : [قَوْمٌ اِتَّقَوُا الشِّرْكَ وَعِبَادَةَ الْاَوْثَانِ وَاَخْلَصُوْا لِلّٰهِ الْعِبَادَةَ] (فتح البیان ۱/۷۵)۔

(دا هغه خلق دی چه شرك او عبادت د بتانو ئې پریخې وی او صرف الله تعالیٰ دپاره ئې عبادت خالص کړې وی)۔

۱۳ – حدیث د ابن حبان کښې دی : موسی علیه السلام اُوفرمایل : [رَبِّ ! اَیُّ عِبَادِكَ اَتْقٰی؟ قَالَ الَّذِیْ یَذْكُرُنِیْ وَلَایَنْسَانِیْ] ابن حبان : ۶۲۱۷) الصحیحة : ۳۳۵۰) (کوم بنده ستا ډیر متقی دې ؟ الله تعالیٰ اُوفرمایل : هغه څوك چه ما همیشه یادوی او ما نهٔ هیروی)

۱۴ – جُمَّاعُ التَّقْوٰی فِیْ قَوْلِهٖ تَعَالٰی : اِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ الخ) (کامله تقویٰ د سورة النحل پدې آیت (۹۰) اِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ) کښې ذکر ده چه پدې کښې درې اوامر او درې منهیات ذکر دی)۔

۱۵- علماء فرمائي:

[اَلْمُتَّقِیْ : مَنْ سَلَكَ سَبِيْلَ الْمُصْطَفىٰ وَنَبَذَ الدُّنْيَا وَرَاءَ الْقَفَا وَكَلَّفَ نَفْسَهُ الْإِخْلَاصَ وَالْوَفَا وَاجْتَنَبَ الْحَرَامَ وَالْجَفَا] تفسير الرازى (۱/۲۸۷)

(متقى هغه څوك دے چه په لاره د رسول الله ﷺ روان شى او دنيا د خپل شا ته گوزار كړى او خپل نفس باندے د اخلاص او د وفادارئ زور واچوى او د حرامو او بے وفائى نه ځان جدا كړى)

۱۶- عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمائى : [لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ حَقِيْقَةَ التَّقْوٰى حَتّٰى يَدَعَ مَا حَاكَ فِي الصَّدْرِ] [بخارى اول باب ۱ كتاب الايمان]

(بنده د تقوىٰ حقيقت ته نشى رسيدے تردے چه هغه شے پريدى چه په سينه كښے شك پيدا كوى)۔ (يعنى شكى څيزونو نه ځان ساتل تقوىٰ ده)

د تقوىٰ مثال :

۱- سيدنا عمر الفاروق رضی الله عنه د كعب الاحبار رحمه الله نه تپوس اُوكړو (دارنگه د سيدنا ابو هريره رضی الله عنه نه هم چا ته تپوس اُوكړو) چه متقى چا ته وائى؟ هغۀ ورته جواب وركړو : [هَلْ اَخَذْتَ طَرِيْقًا ذَاتَ شَوْكٍ ؟] آيا ته په ازغى داره زمكه تير شوے ئے ؟ هغۀ اُووئيل : آؤ۔ دۀ ورته اُوفرمايل : [فَمَا عَمِلْتَ فِيْهِ ؟] څه دِےٚ كړى دى ؟ هغه اُووئيل : [حَذِرْتُ وَشَمَّرْتُ] (احتياط مے كړيدے او پينڅے مے بډے كړيدى) چه ازغى راپورے وُنۀ انخلى۔ كعبّ اُوفرمايل : همدغه تقوىٰ ده۔ انتهىٰ۔

[معالم التنزيل، وابن كثير والكشف والبيان ۱/ ٦٥ واللباب ۱/ ٥٧]

دغه د تقوىٰ تعريف دے، چه په دنيا كښې دغه شان پرهيز سره ژوند تير كړے۔ دا سوچ كوے چه دا شے چرته حرام نه وى؟ دلته گرځيدل گناه نۀ وى؟ دے خبره كښې گناه نۀ وى؟ دا شے زه كومه دے كښې به نقصان چرته نه وى؟ نو دے ته تقوىٰ وائى۔

۲- دويم مثال : كَالطَّائِرِ الْحَذِرِ (متقى به داسے ژوند تيروى لكه هغه مارغه چه ويريږى) احتياط كوى چه څوك مے ښكار نكړى۔ او حديث كښې هم راځى چه [يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ اَفْئِدَةِ الطَّيْرِ] [مسند احمد : ۸۳٦٤ ومسلم : ۷۳٤۱]

جنت ته به هغه خلك ځى چه زړونه ئے داسے وى لكه د مارغانو۔

د مارغه طریقه دا ده چه چرته بهر لاړ شی، شرڅنګل وی چه اُوبه څکی نو اخوا هم ګوری دیخوا هم ګوری چه څوك خو نشته بیا سربښکته کړی، اُوبه وڅکی نو بیا سر اُوچت کړی. خوراك او څښاك ئے ټول په ویره باندے وی، که په ونه کښې ناست وی هم ویریږی په زړه کښې ئے خوف پروت وی نو دا د متقینو طریقه ده چه متقی یو بے پرواه انسان ته نهٔ وائی چه د خولی نه ئے څه راوختل او کوم ځائے ته چه ئے وکتل او څه ئے چه وخوړل، نهٔ ! بلکه خوراك کښې د هغه احتیاط وی چه دا څه شے زه خورم؟ حلال دے که حرام ؟ دا دکوم ځائے نه دی، جامے چه اغوندی په احتیاط، کار کسب چه شروع کوی په احتیاط، چا سره چه ملاویږی په احتیاط، په لاره ځی نو په احتیاط، او دارنګه که یو نیك عمل شروع کوی نو په هغے کښې احتیاط کوی چه نیت مے خراب نهٔ وی، دے ټولو خبرو کښې احتیاط کول دیته تقویٰ وائی.

پدے مقام کښې تفسیر ابن کثیر او روح المعانی او ثعلبیؒ او عام مفسرینو د ابن المعتز اشعار نقل کړیدی: چه تقویٰ د ګناهونو پریښودلو ته وائی.

خَـلِّ الـذُّنُـوبَ صَـغِيْـرَهَـا	❁	وَكَبِيْـرَهَـا ذَاكَ التُّـقَـىٰ
وَاصْـنَـعْ كَـمَـاشٍ فَـوْقَ اَرْ	❁	ضِ الشَّوْكِ يَحْـذَرُ مَـا يَـرَىٰ
لَا تَـحْـقِـرَنَّ صَـغِيْـرَةً، اِنَّ	❁	الْـجِبَـالَ مِـنَ الْـحَـصَـىٰ

۱- یعنی ګناهونه پریږده واړه او غټ، دغے ته تقویٰ وئیلے کیږی.
۲- او داسے کار اُوکړه لکه سړے په اَزغی داره زمکه ځی او یریږی د هغه څه نه چه دا ئے وینی.
۳- ګناه وړه مهٔ ګڼړه، یقیناً غرونه د وړو کاڼړو نه جوړ شویدی).

داسے معنیٰ یو حدیث کښې هم راغلے ده. نبی ﷺ فرمائی :

[اِيَّاكُمْ وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ ...... وَفِيهِ - وَاِنَّ مُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ مَتٰى يُؤْخَذْ بِهَا صَاحِبُهَا تُهْلِكْهُ] [مسند احمد : ۲۲۸۶۰ والصحیحة (۳۱۰۲) باسناد صحیح]

(د واړه ګنړلے شوی ګناهونو نه ځان اُوساتئ، ددے مثال د یو قوم دے چه یو کنډه کښې ئے پړاؤ اچولے وی نو د دوډئ پخولو دپاره یو تن یو ډکے راوړی او بل تن بل ډکے راوړی،

تـردے چـه ډوډئ پرے پخه کړی۔ او یقیناً واړه ګنړلے شوی ګناهونو باندے چه کله مجرم اُونیولے شی نو هلاك به ئے کړی) انتـهیٰ۔

نـو دغه شان که یو ځائے کښ یوه ګناه، بل ځائے کښ بله ګناه راجمع شی نو سړے اُوړ ته رسوی۔ نـو ګـنـا هـونـه واړه مـهٔ ګـنـړئ لـکه دے زمانه کښ دا مرض ډیر دے، دصغائر او کبائـرو فـرق نـهٔ کـول، او دا عقیده لرل چه مونږ موحدین یو، او توحید چه چا کښ وی، هسے هـم جـنـت تـه ځـی، نـو دا د مـرجئه و مذهب دے چه خلکو کښے په غیر شعوری طـریـقـے سره راغلے دے، نو د تپولو ګناهونو نه الله تعالی ته توبه ویستـل پکار دی، ځکه د ګناهونو ډیر بد آثار او ډیر بد نحوستونه او سپیرهٔ والے دے۔

غـزالیؒ وائـی : صـغیـره ګـنا هونه بعضے بعضو ته رابنکل کوی تردے چه د بنده اصل سعادت فوت شی پدے طریقه چه د خاتمے په وخت ترے اصل ایمان واخستے شی۔

فائده : د تـقـویٰ ماده په قرآن کریم کښ (۲۳۷) کرته ذکر ده او امر په تقویٰ سره (۷۸) کـرتـه راغـلے دے۔ او پدے سورت کښ تقویٰ (۳۵) کرت ذکر ده۔ ددے نه اهمیت د تقویٰ معلو میږی۔

په قرآن کریم کښ د تقویٰ معانی

۱– په معنیٰ د توحید یعنی کلمه د لا اله الا الله سره لکه (وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوىٰ) (سورة الفتح : ٢٦)

۲– التوبة۔ ﴿ وَلَـوْاَنَّ اَهْـلَ الْـقُـرىٰ آمَنُوْا وَاتَّقَوْا ﴾ (اَیْ تَابُوْا) (اعراف :٩٦) بـنـاء په یو تفسیر)

۳– پـه مـعـنیٰ د طاعت د احکامو سره لکه (وَاتَّـقُوْنِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ) البقرة (١٩٧) (اَنْ اَنْذِرُوْا اَنَّهٗ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اَنَا فَاتَّقُوْنِ) (النحل :٢)

٤– تَرْكُ الْمَنْهِيَّات۔ (ګناهونه پریخودل) لکه

﴿ يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَابْتَغُوْا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ ﴾ (المائدة : ٣٥)

۵– په معنیٰ د اخلاص سره لکه (وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوىٰ مِنْكُمْ) (الحج : ٣٢)

٦– په معنیٰ د خوف او خشیت سره لکه (وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَا تَجْزِىْ) (بقره : ٤٨)۔

۷– مـعـنـیٰ : پـه اوامـرو عـمـل کول او د منهیاتو نه ځان ساتل او دلته همدا معنیٰ مراد ده۔

(مراتب التقویٰ)

تقویٰ کښې ډیرے مرتبے دي، انسان به د اعلیٰ مرتبے کوشش کوي. که بره ته ونه رسیدو، نو دویمه کښې خو به پاتې شي اوکه د ادنیٰ اراده ئې اُوکړه کیدے شي ښکته راپریوزي.

١-اوله درجه : [اَنْ يَّتَّقِيَ الْكُفْرَ وَالشِّرْكَ] (د کفر او شرك نه بچ کیدل). دیته مقام د اسلام وائي هر مسلمان متقي دے پدے معنیٰ خو دا ادنیٰ درجه ده. او ددے نه خلاصے نشته. که انسان هر څومره بزرګي او نوافل کوي، زر تسبيح ورسره وي ليکن که عقيده ئې د شرك وي نو هغه متقي نشي كيدے.

٢- دويمه درجه : [اَنْ يَّتَّقِيَ الْمَعَاصِيَ] د حرامونه ځان بچ کړي. ديته مقام التوبه وئيلے کيږي. يعنی الله تعالیٰ ته د ټولو ګناهونو نه توبه ويستل. دا دويمه درجه تقویٰ هم لازمي او فرض ده، الله تعالى فرمائي: ﴿ وَتُوْبُوا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ ﴾ (النور:٣١) ﴿ يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا تُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَصُوْحًا ﴾ (التحريم :٨) الآية.

٣-دريمه مرتبه : [اَنْ يَّتَّقِيَ الشُّبُهَاتِ] (د مشتبه شيانو نه ځان بچ کول)، شبهات او مشتبهات هغے ته وائي چه د هغے پته نهٔ لګي چه هغه حرام دي او كه حلال، شك پکښې وي، يا د مختلف دلائلو، يا د وجود او عدم وجود د دليل د وجه نه. ديته مقام الورع وائي.

مشتبه شيان پدے زمانه کښې ډير دي هغه شيان مه استعمالوه، بعض حيوانات دي، چرګان دي، بعض مشروبات (بوتلے) دي پدے کښې اشتباهات دي او بعض نور خوراکونه دي، بعضے کپړے دي چه په هغے کښې د وريښمو ډير استعمال شوے وي.

زمونږ ډير مسلمانان ددے خبرې پرواه نهٔ لري، خو بس په سرباندے شے راړوي چه وئے خوري او استعمال ئې کړي، دارنګه ډير خيراتونه داسے دي چه هغه د شبهے نه ډك دي، په غلط نيتونو شوي وي، د هغے نه به ځان ساتي، دا ستا مقام دے اګرچه ظاهره کښې به هغه حرام نهٔ وي. سيدنا عمر او سيدنا عثمان رضی الله عنهما دواړه يو دعوت ته لاړل. واپس چه راغلل عمر ﷺ ووئيل ارمان چه نهٔ وے تلي نو ښه به وو ځکه چه ما ته زړهٔ کښې الهام اُوشو چه دا طعام دے سرې د فخر دپاره تيار کړے دے.

٤- څلورمه درجه : [اَنْ يَّتَّقِيَ الْاِنْسَانُ الْمُبَاحَاتِ] (د ډيرو مباحاتو نه ځان ساتل) :

مباحات استعمالول جائز دی لیکن سړے د ډیر کار نه وُباسي، ډیرو پخلو او خوراکونو زنانه او سړی د عبادت او د الله تعالیٰ د اطاعت نه ویستلی وی۔ او دیته مقام الزهد وائی۔

۵- **پنځمه درجه** : [اَنْ يَّتَّقِيَ حُضُوْرَ غَيْرِ اللّٰهِ عَلٰى قَلْبِهٖ] (په خپل زړه کښې د غیر الله د عظمت نه ځان ساتل) : د الله تعالیٰ نه سویٰ بل چا ته توجه، د ښځے محبت، د مال محبت ددۀ په زړۀ کښې پروت وی چه په هغے سره د الله تعالیٰ نه مشغول نشي۔ دیته مقام المشاهده او مقام الاحسان وائی۔ [ذکره فی التسهیل]

د تقویٰ فوائد

د قرآن کریم په ظاهری الفاظو کښې تقریباً (۵۰) فائدے مونږ پیدا کړیدی چه په «الفوائد فی تزکیة النفوس» کتاب کښې ئے تفصیل اُوکوره) چه د هغے نه بعض دا دی:

(۱) **اَلْهِدَايَةُ** : الله تعالیٰ د تقویٰ په وجه بنده ته هدایت کوی۔ ﴿هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ﴾ قرآن کریم هدایت دے متقینو ته چا کښې چه تقویٰ وی الله ورته لاره ښائی۔

۲- **اَلْمَحَبَّةُ**:(الله د متقیانو سره مینه کوی) لکه ﴿اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ﴾ سورة آل عمران (۷۶) د سورتِ توبه په آخره کښې هم راغې۔

۳- **اَلنُّصْرَةُ** : په تقویٰ سره د الله تعالیٰ مدد حاصلیږی) لکه ﴿اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا﴾ (النحل: ۱۲۸)

٤- **حُصُوْلُ الْوِلَايَةِ** :(د تقویٰ په وجه ولایت حاصلیږی) لکه ﴿اِنْ اَوْلِيَاؤُهٗۤ اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ﴾ (انفال: ٤۳) ﴿وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ﴾ (الجاثیة: ۱۹)

۵- **اَلْمَغْفِرَةُ** : (تقویٰ سره گناهونه معاف کیږی) لکه ﴿اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا وَّيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ﴾ (انفال : ۲۹) الله پدے وجه گناهونه رژوی۔

٦- **اَلْمَخْرَجُ مِنَ الْغَمِّ وَسَعَةُ الرِّزْقِ** : (الله تعالی به ډیے دغمونو نه خلاص کړی او رزق به درله پراخه کړی که دینی غمونه وی او که دنیوی، الله تعالیٰ بنده د هغے نه خلاصوی چه کله پکښې تقویٰ راشي سوره طلاق کښې دا ماده ډیره راغلے ده۔ ﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ سوره طلاق (۲) آیت۔

۷- **تَيْسِيْرُ الْاُمُوْرِ** : (کارونه انسان ته آسانیږی) علم ورته آسانیږی یو کار پسے روان شولے او تقویٰ درپکښې وه هغه درته الله تعالیٰ آسانوی، حج ته روان شوے الله تعالیٰ

درسره مدد کوی دا هم سوره طلاق (٤) آیت کښې ذکر دی :
﴿ وَمَنْ يَتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ﴾
۸- غُفْرَانُ الذُّنُوْبِ وَاِعْظَامُ الْاُجُوْر : (ګناهونه معاف کیږي او اجرونه ډیریږي) لکه ﴿وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗ اَجْرًا ﴾ (الطلاق:٥)۔
۹- قَبُوْلُ الْاَعْمَال : (د تقویٰ په وجه الله عمل قبلوی) دا ډیره غټه فائده ده چه د تقویٰ نه بغیر عمل نۀ قبلیږی، کوشش او محنت به هم وکړی او عمل به ورله الله تعالیٰ نۀ قبلوی۔
لکه ﴿ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴾ سورة المائده (۲۷) آیت
۱۰-: اَلْفَلَاحُ : (دانجام په لحاظ کامیابی) لکه ﴿ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ او ﴿ وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ سورة البقره (۱۸۹) آیت
۱۱- اَلْبُشْرٰی : (زیری په دنیا او آخرت کښې متقیانو ته ملاویږی) لکه ﴿ اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَاهُمْ يَحْزَنُوْنَ، اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ لَهُمُ الْبُشْرٰی﴾ (یونس: ٦٣)
۱۲- دُخُوْلُ الْجَنَّة : غټه فائده دا ده چه الله تعالیٰ متقیان خلق جنت ته داخلوی۔ لکه :﴿ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِىْ نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا﴾ (مریم :٦١) او سورة قمر او سورة نبأ (۳۰) او دا قسم آیتونه قرآن کریم کښې زیات دی۔
۱۳- اَلنَّجَاةُ مِنَ النَّار : (د اور د جهنم نه بچ کیدل صرف په تقویٰ دی)۔ لکه :﴿ ثُمَّ نُنَجِّى الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ﴾ سوره مریم (۸۲) آیت
نورے هم بې شماره فائدې دی، خو لنډه دا ده چه د دنیا او د آخرت چه څومره فائدې دی، دا ټولې تقویٰ پورے تړلې دی، د دنیا او آخرت هره فائده او هر عزت، شرافت، هر کمال پدے تقویٰ پورے تړلې شوې دی، هغه څوك چه کمزوری نسب والا وی، هغه څوك چه بے ماله وی، هغه څوك چه ګمنامے وی، تقویٰ د اختیار کړی، الله تعالیٰ به ورله د نسب نه زیات عزت ورکړی، د مال نه به زیات طاقت ورکړی، د باچاهی نه به ډیر طاقت ورکړی، د متقیانو سره چه د تقویٰ کوم طاقت دے دا د هیچا سره نشته دے۔
علی ﷺ دا فرمائیلی دی : [مَنْ اَحَبَّ عِزًّا بِلَا مَالٍ وَمَهَابَةً بِغَيْرِ سُلْطَانٍ وَقُوَّةً بِلَا عَشِيْرَةٍ فَلْيَعْمَلْ بِطَاعَةِ اللّٰهِ تَعَالٰى] ۔ [ذکره ابن مفلح فی الآداب الشرعیة (۱/۱۵۳) ونضرة النعیم]
څوك چه پدے خبره خوشحالیږی چه عزت حاصل کړی بغیر د مال نه او هیبت بغیر د

سلطان نه او قوت بغیر د خپلوانو نه نو تقویٰ دِے اختیار کړی، د الله په طاعت دِے عمل اُوکړی دا تهول ځیزونه ده ته ملاویږی سلطان هیبت، عزت، قوت۔ جعفر بن محمد ورسره دا زیاتی کړیدی۔ [وَآنَسَهُ بِلَا أُنسٍ] (چه بغیر د ملګری نه ئے وحشت ختم کړی او یو محبت ورته ورکړی۔

محمود الوراقؒ فرمائی : [مَنْ أَرَادَ غِنًى يَدُوْمُ بِغَيْرِ مَالٍ وَأَرَادَ عِزًّا لَمْ تُوَطِّدْهُ الْعَشَائِرُ بِالْقِتَالِ وَمَهَابَةً مِنْ غَيْرِ سُلْطَانٍ وَجَاهًا فِي الرِّجَالِ فَلْيَعْتَصِمْ بِدُخُوْلِهِ فِيْ طَاعَةِ ذِي الْجَلَالِ وَخُرُوْجِهِ مِنْ ذِلَّةِ الْمَعَاصِيْ لَهُ فِيْ كُلِّ حَالٍ] (الآداب الشرعية لابن مفلح ص : ۱۹۷)

(ځوك چه بغير د مال نه هميشه مالداری غواړی او بغير د قتال او جنګونو نه عزت غواړی او بغير د طاقت نه رعب او هيبت غواړی او په خلقو کښ مرتبه او مخوريزی غواړی نو هغه دِے د ذی الجلال په طاعت کښ داخل شی او په هر حال کښ دِے د ګناهونو د ذلت نه اُوځی)۔

د دنيا او آخرت ټولے فائدے په تقویٰ پورے تړلی دی ددے وجے نه قرآن کريم کښ دا لفظ ډير مستعمل دے ۔

بواعث علی التقویٰ ...... (تقوی پیدا کونکی اسباب)

يعنی هغه اسباب چه په هغے سره په بنده کښ تقویٰ پيدا کيږی، تقویٰ ګران کار دے، ددے د حصول دپاره بعض اسباب دی :

۱ – سبب : خَوْفُ الْعِقَابِ الْأُخْرَوِيّ : (د آخرت د عذاب نه يره کول) د آخرت د عذابونو نه ويره چه زړه کښ پيدا شوه دا د تقویٰ يو ښه سبب دے۔

۲ – خَوْفُ الْعَذَابِ الدُّنْيَوِيّ : (د دنيا د عذاب نه يَره کول) ځکه چه کله سړے ګناهونه کوی، دنيا کښ هم الله تعالیٰ عذابونه ورکوی، کله ئے صحت خراب شی، کله وشرميږی، کله ئے مال کښ نقصان پيدا شی، کله نور نور تکاليف ورته رسيږی ځکه چه د ګناهونو سره الله تعالیٰ تکليفونه ليکلی دی۔ غلا دِے اُوکړه کله به درنه لاس پريکړے شی، زنا دِے اُوکړه دُرّے به درباندے واچولے شی، ددے دنياوی عذابونو نه هم ويره شته نو دا ويره هم سبب د تقویٰ دے۔

۳ – رَجَاءُ الثَّوَابِ الْأُخْرَوِيّ : (د آخرت د ثواب اميد ساتل) چه جنت دے، نعمتونه دی، او هميشه ژوند دے، هلته به زمونږ خواهشات الله تعالیٰ پوره کوی۔

٤- رَجَاءُ الثَّوَابِ الدُّنُيَوِیّ : (د دنیا د ثواب امید ساتل) په تقویٰ کښې د دنیا بدلے هم شته، ځانله آخرت کښې فائدے نهٔ دی، لکه :

﴿ وَمَنُ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجُعَلُ لَّهٗ مَخُرَجًا وَّيَرُزُقُهُ مِنُ حَيُثُ لَا يَحُتَسِب ﴾ (طلاق : ٥)

٥- خَوُفُ الُحِسَابِ : (د الله تعالیٰ د حساب نه يَره کول) چه ما سره به حساب کيږی په خبرو اترو، کيناستلو، پاڅيدلو، خوراك او څکاك۔ لکه ﴿ وَيَخَافُوُنَ سُوُءَ الُحِسَابِ﴾ (رعد : ٢١) ﴿ اِنِّیُ ظَنَنُتُ اَنِّیُ مُلَاقٍ حِسَابِيَهُ﴾ (الحاقة : ٢٠) ﴿ اِنَّهُمُ كَانُوُا لَا يَرُجُوُنَ حِسَابًا ﴾ (النبأ:٢٧) ﴿ بِمَا نَسُوُا يَوُمَ الُحِسَابِ ﴾ (ص:٢٦) دا د مؤمنانو صفت دے چه د حساب ورځ رايادوی او نهٔ ئے هيروی۔ ﴿ هٰذَا مَا تُوُعَدُوُنَ لِيَوُمِ الُحِسَابِ﴾ (ص:٥٣) نو د الله تعالیٰ د حساب نه يَرے سره تقویٰ پيدا کيږی، ته به دا فکر کوے چه زه يو بنده يم، ما سره به حساب کتاب کيږی۔

٦- [اَلُحَيَاءُ مِنُ نَظَرِ اللّٰهِ] د الله د تعالی د نظر نه حياء کول) چه الله تعالیٰ ما ته ګوری، زه د هغه د نظر نه غائب نهٔ يم، کله چه يو ماشوم تا ته ګوری نو ته د ګناه معمولی عمل هم نهٔ شے کولے، کله چه ستا په هغه يقين وی چه هغه ما ته ګوری نو نافرمانی به ئے څنګه اُوکړے ؟۔ دا ډير اُوچت ايمان دے (مرتبه د احسان او مراقبے ده) دے مرتبے ته سړے زر نشی رسيدلے، په آرام به رسيږی۔ حديث کښې هم راځی :

[أَفُضَلُ الُإِيُمَانِ: أَنُ تَعُلَمَ اَنَّ اللّٰهَ مَعَكَ حَيُثُمَا كُنُتَ]

[الطبرانی المعجم الاوسط : ٨٧٩٦، مسند الشاميين : ٥٣٥، ومجمع الزوائد : حديث حسن]

(بهترين ايمان دا دے چه ته يقين اُوکړے چه ته چرته ئے الله تعالیٰ تا سره دے) تا ته ګوری او په تا پوهه دے۔

٧- [اَلشُّكُرُ عَلٰی نِعَمِهٖ بِطَاعَتِهٖ] (د الله تعالیٰ د نعمتونو شکر د الله په اطاعت سره کول) چه الله تعالیٰ په ما ډير نعمتونه کړيدی، دين ئے راکړے دے، قرآن دے، ښځه ده، بچی دی، مور پلار دی او داسے نور نور۔ د الله تعالیٰ نعمتونه چه انسان په ځان رايادوی نو بيا ئے طاعت کوی او همدغے ته تقویٰ وائی او پدے تقویٰ هم پدے کيږی۔

٨- اَلُعِلُمُ : (د علم په وجه تقویٰ پيدا کيږی) وجه دا ده چه په يو شی باندے بنده پوهه شی او د هغے حقيقت اُوپيژنی نو د هغے طلب پکښې پيدا شی نو په بے علمئ سره پوره تقویٰ نهٔ

راځي، احکام، ایمانیات، قرآن او حدیث او د الله تعالیٰ د صفاتو نه چه بنده خبر شي نو تقویٰ به پدے سره حاصله کړي، علم بنده تقویٰ ته راکاږي۔ ﴿اِنَّمَا یَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَآءُ﴾ (فاطر: ۲۸) څومره چه علم کښې اضافه کیږي هغومره د انسان په تقویٰ کښې زیادت کیږي۔

۹- [تَعْظِیْمُ جَلَالِ اللّٰهِ تَعَالٰی] د الله تعالی د جلال تعظیم او د هغه د ذات تعظیم کول) چه الله خو ډیر لوئی دے، د هغه نافرمانی زه ولے اُوکړم،

د بعضے سلفو (بِشر رحمه الله) نه نقل دی :

[لَوْ فَکَّرَ النَّاسُ فِیْ عَظَمَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ مَا عَصَوْهُ]

[لطائف المعارف، ومفتاح دار السعادة (۱/ ۱۸۰) وموسوعة البحوث والمقالات)

(که انسانان د الله تعالیٰ په عظمت کښې فکر اُوکړي نو نافرمانی به ئے اُونکړي)، خو د الله تعالیٰ لوئی والے د سړي د ذهن نه واوړي، د زړهٔ نه اُوځی نو سړے غافله شي څکه گناه کښې اخته شي که د هغه هیبت او جلال ستا په زړه کښې وي نو گناه به ستا نه ضرور نهٔ کیږي که ته ئے کوے هم نهٔ به کیږي۔

۱۰- [صِدْقُ الْمَحَبَّةِ] (د الله تعالی سره رشتینی محبت)، رشتینی محبت چه کله پیدا شي نو بیا گناهونه نهٔ کیږي او که اُوشي نو بنده زر توبه اُوباسی څکه قانون دا دے چه سړے د چا سره مینه لري نو د هغه په طاعت او خبره منلو کښې منډه وهي، او د هغه د نافرمانئ نه ځان ساتي۔

۱۱- [اَلْعِلْمُ بِفَوَائِدِ التَّقْوٰی] (د تقویٰ د فائدو نه چه خبر شي نو شوق به ډیرے پیدا شي نو تقویٰ به حاصله کړے)۔

لِلْمُتَّقِیْنَ: (لام) پدے مقام کښې د انتفاع دپاره دے یعنی ددے کتاب نه فائده اخلي هغه څوك چه چا کښے تقویٰ وي، فائده ئے دا ده چه دا کتاب ورته لاره ورښائی چه هغه فلانے مقصودی شے دے، هغه ځائے کښې فائده مند شے دے، پسے ورشه نو متقیان روان شي هغه شے حاصل کړي او هغه لاره وپیژني، نو مقصود ته ورسیږي، هغه لاره ښودونکے هم ترے رضا شي چه زما خبره ئے اُومنله او دے هم هغه لذت او خوشحالئ ته اُورسیږي۔ خو لړه غوندے سخته مشقت به برداشت کوی نو ددے وجے نه ددے د اسبابو اختیارول پکار دی کوم چه مخکښې تیر شو۔

اُوس ددے ځائے نه روسته الله تعالیٰ ددے متقیانو نور صفات راوړي :

اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ
هغه کسان دی چه ایمان لری په پټو څیزونو او پابندی کوی د مانځه
وَمِمَّا رَزَقْنٰـهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳﴾
او د هغه څه نه چه ورکړی مونږ دوی ته خرچ کوی.

تفسیر : ﴿ اَلَّـذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ ﴾ پدے کښې دوه ترکیبه دی : (۱) الذین بدل دے د متقین نه نو بناء په دے دا مجرور دے، (یعنی متقیان هغه کسان دی الخ) لکه دا د تقویٰ تعریف هم دے چه چا کښې دا راتلونکی وغیره صفات موجود وی بس دغه متقی دے. نو بیا (اولـئك) مستقله جمله ده، (اولـئك) مبتداء ده او (علی هدی من ربهم) ورله خبر دے.

(۲) دویـم تـرکیـب : دے کـښې دا هـم جائز دی چه مخکښې ته به ئے حاصل راوځی : چه الـذین یؤمنون تولـه مستقله جمله ده او (اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى) ئے خبر دے. معنی ئے دا شوه (هغه

کسان چه ایمان په غیبو لری الی آخره نو (اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى) دا کسان په هدایت دی) اول ترکیب مشهور دے. چه دا تشریح او وضاحت د متقین دے.

او ددے (هدی للمتقین) نه روستو د اهل القرآن شپږ صفات بیانوی، او دلته الله تعالیٰ د متـقیـنـو درے قسمه صفات بیانوی : (۱) العقائد (۲) والاعمال (۳) الاخلاق ـ چه ددے خلـکـو عـقیـده هـم جـوړه ده او اعمال ئے هم برابر دی او اخلاق ئے هم درست دی. یا اول صفت د عقیدے دویم د عمل بدنی او دریم عمل مالی.

مـګـر پدے ټـولـو کښې اول او اَهم شے ایمان دے. چه یو سړی کښې عمل او اخلاق موجود وی، او ایـمـان پـه کـښې نـهٔ وی، نـو دا عـمـل او اخـلاق تـرے قبـول ندی، او په یو سړی کښې تـصـدیـق شتـه، مـګـر عمل پکښې نشته نو دا هسے ونه ده، بغیر د څانګو، بغیر د میوے، بغیر د پاڼړو نه هسے تنه ده نو دا هم دومره فائده منده نه ده. نو ځکه ئے ایمان مخکښې بیان کړو.

عقيده ئے دا ده چه (يُؤْمِنُوْنَ او يُوْقِنُوْنَ)۔ او عمل ئے دا دے : (يُقِيْمُوْنَ الصَّلَاةَ) مونځ په اعمالو کښې يو غټ عمل دے۔ او اخلاق ئے دا دی : (وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُوْنَ) انفاق د اخلاقو د باب نه دی لکه دا خبره به روسته راشي چه د مونځ سره انفاق ولے جمع کوی ځکه په انفاق کښې د مخلوق سره احسان دے او په مانځه کښې د الله تعالى سره احسان دے، نو انفاق د خلقو سره اخلاق، احسان او نيکی ده، په خلکو شفقت دے۔

(يؤمنون) ماخوذ دے د ايمان نه۔ نودلته د ايمان لغوی او اصطلاحی معنى او دارنګه فوائد د ايمان ذکر کيږی۔ ايمان په قرآن کريم کښې (٨٧٨) کرته ذکر شويدے۔

د ايمان لغوی معنىٰ

١- معنى : التصديق : لکه (وَمَا أَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَنَا) (يوسف :٩) .

٢- معنى : الوثوق : اعتماد کول (وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ) (التوبة : ٦١) يعنى اعتماد کوی په قول د مومنانو)۔ ٣- او کله په معنىٰ د امن هم راځی : لکه (اَلْمُؤْمِنُ) د الله په صفاتو کښې راځی : يعنی امن ورکونکے) نو ايمان ته هم ايمان ځکه وائی چه مومن سړی امن ورکړيدے مؤمن به ته - چه الله تعالىٰ او د هغه رسول دی- چه زۀ ستا تکذيب نکوم زه ستا خبره منم۔

د ايمان اصطلاحی تعريفات

په اصطلاح د مسلمانانو کښې د ايمان يو څو تعريفونه دی : (١) متکلمين ئے داسے تعريف کوی چه دا ناقص تعريف دے او د عقائدو کتابونو کښې هغه ذکر کيږی : [اَلتَّصْدِيْقُ بِمَا جَاءَ بِهِ النَّبِيُّ ﷺ وَعُلِمَ بالضَّرُوْرَةِ]۔ (تصديق کول دی په ټولو هغه خبرو چه نبی ﷺ راوړی دی او هغه ثابت شوی دی په بداهت سره) ۔د عُلِمَ بالضرورة معنىٰ دا ده چه په دين کښې يقينی ثابت وی، شکی خبری نۀ وی، موضوعی يا ضعيف حديثونه نۀ وی۔نو په هغے به تصديق کوی لکه الله او رسول، قيامت، ملائك دا په دين کښې معلومے مسئلے دی پدے به تصديق کوی، دا تعريف د متکلمينو دے دا د احنافو علماؤ تعريف هم دے۔

دا تعريف ناقص دے وجه دا ده چه دلته ايمان صرف تصديق ته وئيلے شويدے او حال دا چه د قرآن او د حديث په اصطلاح کښې ايمان صرف تصديق ته نۀ وائی اګرچه کله نا کله

په تصدیق ئے هم اطلاق کیږی۔

۲- دویم تعریف : هُوَ التَّصْدِيْقُ بِالْجَنَانِ وَالْإِقْرَارُ بِاللِّسَانِ وَالْعَمَلُ بِالْأَرْكَانِ۔

(په زړهٔ باندے تصدیق (یقین) کول او په بدن باندے اعمال کول او په خوله باندے اقرار کولو ته ایمان وائی)۔ تصدیق پکښې اَهم جزء دے، که دا نهٔ وی، نو انسان مؤمن نهٔ دے او که ټول اعمال نهٔ وی نو په نزد د محققین اهل سنتو هم مؤمن نهٔ دے، لکه ددے تفصیل به په سورة انعام (۱۵۸) آیت کښې راشی۔ البته که بعض اعمال نهٔ وی، نو بیا ناقص ایمان والا دے۔ او که سره د اختیار نه او په وخت د طلب د اقرار کښې کلمه یو سړے نهٔ وائی نو بیا هم مسلمان ندے،کلمه به خامخا وائی، ددے وئیل لازم دی۔

نو د اعمالو په نقصان سره په ایمان کښې نقصان راځی او د ټولو اعمالو په ختمیدو سره ایمان ختمیږی، او دا هغه خبره وه چه د خوارجو ذهن پرے نهٔ کولاویدو، هغوی به وئیل چه چا کبیره گناه اُوکړه نو بس کافر دے او معتزلهٔ به وئیل نهٔ کافر دے او نهٔ مؤمن دے لیکن د دواړو عقیده دا وه چه همیشه جهنمی دے۔ (لکه ددے تفصیل په الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح (۷۹/۱)کتاب الایمان کښې اُوگوره)۔

۳- دریم تعریف: (دا تعریف مخکښې ته نزدے دے صرف د تعبیر فرق دے)

[اَلتَّصْدِيْقُ التَّامُّ الْمُتَضَمِّنُ لِانْقِيَادِ الْجَوَارِحِ]

[تیسیر الکریم الرحمن د عبد الرحمن ناصر السعدی]

(ایمان هغه پوره تصدیق ته وائی چه متضمن وی انقیاد او تابعداری د جوارحو لره) یعنی د زړه د تصدیق سره به اندامونه هم د الله تعالیٰ تابعدار وی، که یو سړے وائی چه زما ایمان په الله تعالیٰ شته، خو مونځ ورله نکوم، روژه نهٔ نیسم، نو دا سړے مسلمان نهٔ شی جوړیدے، دا هسے د خولې دعویٰ ده، وَهُم دے، ایمان چه بنده کښې راشی نو ضرور به ئے نیکئ ته راکاږی، ځکه ایمان یو مغناطیس دے چه بنده نیکو ته راکاږی، څومره چه ایمان دننه قوی کیږی ،هغومره اعمال ښائسته کیږی څومره چه ایمان کمزورے کیږی، هغومره به اعمال کمزوری کیږی، دا ظاهری اعمال او دننه ایمان د یو بل سره کنکشن او تعلق لری، څومره چه تصدیق مضبوطیږی نو عملونه به ښائسته کیږی او زیاتیږی۔ لکه روستو به راشی (تارك الصلاة) (څوك چه همیشه مونځ نهٔ کوی) هغه کافر دے، ځکه ددهٔ زړه کښې تصدیق نشته، که تصدیق وے، دهٔ به مونځ نهٔ پرېښودلے۔

٤- **تعریف** : او د ایمان بنه تعریف هغه دے چه قرآن ذکر کړیدے چه ایمان دیته وائی چه تا کښې ښائسته صفات پیدا شی پس د تصدیق نه لکه سوره الم سجده (۱۵) کښې الله تعالیٰ داسے فرمائی : ﴿ اِنَّمَا يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا .... ﴾ (زما په آیتونو مؤمن دا دے، چه کله ورته بیان شی نو سجدے لګوی او د الله تعالیٰ ذکر کوی او تکبر نهٔ کوی، د بسترو نه پاڅیږی، (مونځونه کوی) دعاګانے غواړی په ویره او په طمع، او مالونه لګوی د الله تعالیٰ په لاره کښې) دا مؤمن دے۔

○ د سورت حجرات (۱٤) آیت آخرنئ رکوع کښې دی : ﴿ قَالَتِ الْأَعْرَابُ ﴾ اعراب وائی: مونږ مؤمنان یو، ته ورته اُووایه چه تاسو ایمان نه لرئ، تاسو ځان ته مؤمنان وایئ او حال دا چه ایمان لا ستاسو زړه کښې ندے راغلے)۔ ایمان دیته وائی چه بنده د الله او د رسول متابعت اُوکړی، دا د آیت حاصل دے، بیا روسته فرمائی :

﴿ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا وَجَاهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﴾ چه په الله او رسول باندے ئے تصدیق کړے وی، چه الله تعالیٰ حق دے او د هغه رسول، او بیا ئے شك نهٔ وی کړے او ځان او مال ئے د الله تعالیٰ د دین دپاره لګولی وی، نو دا رشتینی مؤمن دے)۔

که د الله تعالیٰ په دین باندے د یو سړی مال نهٔ لګیږی، بدن نهٔ لګوی، نو دا مؤمن نهٔ دے، تصدیق ئے نشته او یا شك ئے په زړه کښې دے۔

○ د سورت انفال په (۳،۲) آیت کښې راځی : (اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ الخ) (مؤمنان هغه کسان دی چه کله ورته الله رایاد شی د هغوی زړونه ویریږی، دا اُوچت مؤمنان دی او د قرآن په وجه ئے ایمان ډیریږی، او توکل پکښې دے، د مانځه پابندی کوی او مالونه لګوی) نو دا قرآنی تعریف دے۔ ددے حاصل دا راوځی : چه ایمان دیته وائی : [يَعْنِي التَّصْدِيْق بِلَا اِرْتِيَابٍ، مَعَ مُجَاهَدَةٍ بِالنَّفْسِ وَالْمَالِ (په الله تعالیٰ تصدیق بلا شکه به کوی او ورسره به د نفس او د مال مجاهده کوی) نو قرآن ته چه ګورے هم ایمان د درے شیانو نه مرکب شویدے : (۱) تصدیق (۲) اقرار (۳) عمل۔

هغه ایمان چه عملونه ورسره ملګری نهٔ وی نو دا څه ایمان نهٔ دے۔

بیا پدے هر یو کښې زیادت هم راځی، نقصان هم راځی، ایمان د یو کیفیت نوم دے چه په زړه کښې دننه وی، او هغه کیفیت کله ښکته کیږی، کله اُوچتیږی، زیادت کموالے په

کښې راغلي. ډیر نصوص قرآني او حدیثي پدې ګواه دي.

د ایمان نور مهم تعریفونه دا دي :

۵- حسن بصری رحمه الله فرمائي :

[لَيْسَ الْإِيْمَانُ بِالتَّحَلِّيْ وَلَا بِالتَّمَنِّيْ وَلٰكِنْ مَا وَقَرَ فِي الْقَلْبِ وَصَدَّقَهُ الْعَمَلُ]

(ابن ابی شیبة) (فی ظلال القرآن ۱/۳۲۵) (تفسیر ابی السعود، والدر المنثور (۲/۶۹۵)

(یعنې ایمان په ځان ښائسته کولو او تمنی کولو سره نۀ حاصلیږي بلکه ایمان هغه څیز ته وائي چه په زړه کښې ځائې اُونیسي او عمل د هغې تصدیق اُوکړي).

٦- تعریف : دارنګه حافظ ابن قیم په الفوائد ص (۱۸۳) کښې او دارنګه په الفوائد فی تزکیة النفوس (۱/۴۸) کښې دي : [وَهُوَ حَقِيْقَةٌ مُرَكَّبَةٌ مِنْ مَعْرِفَةِ مَا جَاءَ بِهِ الرَّسُوْلُ ﷺ عِلْمًا وَالتَّصْدِيْقُ بِهِ عَقْدًا وَالْإِقْرَارُ بِهِ نُطْقًا وَالْإِنْقِيَادُ لَهٗ مَحَبَّةً وَخُضُوْعًا وَالْعَمَلُ بِهٖ بَاطِنًا وَظَاهِرًا وَتَنْفِيْذُهٗ وَالدَّعْوَةُ إِلَيْهِ بِحَسَبِ الْإِمْكَانِ وَكَمَالُهٗ فِي الْحُبِّ فِي اللّٰهِ وَالْبُغْضِ فِي اللّٰهِ وَالْعَطَاءُ لِلّٰهِ وَالْمَنْعُ لِلّٰهِ وَاَنْ يَّكُوْنَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ اِلٰهَهٗ ومعبُوْدَهٗ وَالطَّرِيْقُ اِلَيْهِ تَجْرِيْدُ مُتَابَعَةِ الرَّسُوْلِ ﷺ ظَاهِرًا وَبَاطِنًا وَتَغْمِيْضُ عَيْنِ الْقَلْبِ عَنِ الْاِلْتِفَاتِ عَمَّا سِوَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ] .

(ایمان یو حقیقت دے چه مرکب دے د معرفت د هغه څه نه چه رسول الله ﷺ راوړے وی په علم سره او تصدیق کول په هغې په عقیده (زړۀ) سره، او اقرار کول په هغې په ژبه سره، اودے ته غاړه ایخودل په محبت او عاجزئ سره او پدے باندے عمل کول په ظاهر او باطن سره او ددے نافذ کول او دے ته دعوت ورکول څومره چه ممکن وی او ددے کمال دا دے چه د الله تعالیٰ دپاره محبت او بغض او ورکړه او منع اُوکړے شي او چه صرف یواځې الله تعالیٰ دده معبود شي. او ددے طریقه دا ده چه ظاهراً او باطناً خالص تابعداری د رسول الله ﷺ شروع کړي او د الله او د رسول ﷺ نه علاوه څیزونو ته د کتلو نه د زړه سترګے پټے کړے).

۷- تعریف : مونږ داسے تعریف لیکلے دے (۱/۴٦) :

[عِبَارَةٌ عَنْ كَيْفِيَّةٍ قَلْبِيَّةٍ مِنَ التَّصْدِيْقِ بِاللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالتَّسْلِيْمُ لَهٗ وَالرِّضَا عَنْهُ وَالتَّوَكُّلُ عَلَيْهِ وَالْإِنَابَةُ إِلَيْهِ وَالْخُشُوْعُ لَهٗ وَالْخَشْيَةُ مِنْهُ وَالْإِخْبَاتُ إِلَيْهِ وَعُكُوْفُ الْقَلْبِ عَلٰى عَتَبَةِ بَابِهٖ وَالسُّرُوْرُ بِهٖ وَالْفَرَحُ بِهٖ تَعَالٰى وَالْإِبْتِهَاجُ بِهٖ وَالْفِرَارُ إِلَيْهِ وَالصَّبْرُ لَهٗ وَمَحَبَّتُهٗ حُبًّا شَدِيْدًا وَالْمَحَبَّةُ لَهٗ وَفِيْهِ وَالْمُعَادَاةُ فِيْهِ وَذِكْرُهٗ وَتَسْبِيْحُهٗ، وَتَكُوْنُ هٰذِهِ الْكَيْفِيَّةُ مُثْمِرَةً لِأَعْمَالِ الْجَوَارِحِ وَاللِّسَانِ

وَالْأَخلَاقِ الْفَاضِلَةِ وَهٰذِهِ الْكَيْفِيَّةُ تَزِيدُ وَتَنْقُصُ دَائِمًا]

(ایمان عبارت دے د هغه قلبی کیفیت نه چه هغه په الله تعالیٰ باندے تصدیق کول دی او هغه ته تسلیمیدل دی او د هغه نه همیشه رضا کیدل او په هغه باندے توکل او هغه ته انابت کول او هغه ته خشوع او عاجزی کول او د هغه نه یریدل او هغه ته پوره محتاجی ظاهرول او د هغه په درشل باندے زړۀ رابندول او په هغه باندے سرور او خوشحالی کول او په هغه باندے تازګی ښکاره کول او هغه طرف تیختـه کول او د هغه دپاره هر قسم صبر کول او هغه سره بے حده مینه او محبت کول او د هغه دپاره د مخلوق سره دوستی او دشمنی کول او د هغه په ذکر او تسبیحاتو کښ مشغوله کیدلو ته ایمان وائی او دا کیفیت د اندامونو او د زړۀ د اعمالو او د بهترین اخلاقو د پیدا کولو سبب دے۔ او دے کیفیت کښ همیشه دپاره زیادت او نقصان راځی)۔ نو انسان به د زیادت کوشش کوی او د نقصان نه به ئے محفوظ ساتی۔

د ایمان نور اطلاقات :

ایمان کلمه کله د موقع او د محل د وجه نه په نورو معانیو هم اطلاق کیدے شی ۱- لکه ایمان کله صرف تصدیق ته (چه عمل ورسره نۀ وی) هم وئیلے شویدے، ذکر د کل وی مراد ترینه جزء وی لکه ابراهیم علیه السلام فرمایلی وو : اے الله ! ته مړی څنګه راژوندی کوے؟ [قَالَ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ !] الله اُوفرمائیل : آیا ستا تصدیق نشته ؟ د ایمان نۀ مراد دلته صرف تصدیق دے۔ ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا﴾ سوره حجرات) (یعنی ستاسو پوره تصدیق نشته صرف ظاهری انقیاد مو کړیدے)

۲- کله ایمان صرف عمل ته هم وئیلے شی ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ اِيْمَانَكُمْ﴾ (البقرة :۱٤۳) يَعْنِيْ صَلَاتَكُمْ ۔ په مانځه باندے د ایمان اطلاق شویدے۔ او تصدیق او عمل ئے مهم اجزاء دی څکه پرے د ایمان اطلاق کیږی۔

۳- کله صرف اقرار د ژبے ته وائی لکه : (ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ آمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا) (المنافقون) (اَیْ اَقَرُّوْا بِاللِّسَانِ وَكَفَرُوْا بِالْجَنَانِ) (بصائر ذوی التمییز (۲/۱۰۵)

۳- فیروز آبادیؒ لیکی : [يُسْتَعْمَلُ تَارَةً اِسْمًا لِلشَّرِيْعَةِ الَّتِيْ جَاءَ بِهَا مُحَمَّدٌ ﷺ (اِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا)] (یعنی ایمان کله هغه شریعت ته وائی چه محمد ﷺ راوړیدے لکه آیت کښ دی (هغه کسان چه د محمد رسول الله ﷺ دا شریعت ئے منلے دے)

٤ - [وَتَارَةً يُسْتَعْمَلُ عَلٰى سَبِيْلِ الْمَدْحِ وَيُرَادُ بِهٖ اِذْعَانُ النَّفْسِ لِلْحَقِّ عَلٰى سَبِيْلِ التَّصْدِيْقِ وَذٰلِكَ بِاجْتِمَاعِ ثَلَاثَةِ اَشْيَاءَ (١) تَحْقِيْقٍ بِالْقَلْبِ (٢) وَاِقْرَارٍ بِاللِّسَانِ(٣) وَعَمَلٍ بِالْجَوَارِحِ وَيُطْلَقُ عَلٰى كُلِّ وَاحِدٍ الْاِيْمَانُ، اِلَّا اَنَّ الْاِيْمَانَ هُوَ التَّصْدِيْقُ الَّذِيْ مَعَهُ الْاَمْنُ].

(اوكله كله د مدح په طريقه ذكر كيږي او مراد ترينه دا وي چه خپل نفس د حق تابع كړي سره د تصديق نه او دا په دريے څيزونو راجمع كيدو سره كيږي (١) د زړه په تحقيق او تصديق سره (٢) او د ژبے په اقرار سره (٣) او د اندامونو په عمل سره او هر يو ته ايمان وائي، مگر ايمان هغه تصديق دے چه د هغے سره امن وي)

بصائر ذوى التمّيز (٢/١٥١)

فوائد الايمان :

د ايمان بے شماره فائدے دي بعضے د هغينه دا دي :

١ -: اَلْهِدَايَةُ : هدايت دے لكه (هدى للمتقين) .

٢ - (اَلْاَمْنُ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ) (د الله سبحانه وتعالىٰ د عذابونو نه امن ملاويږي) لكه :

﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ ﴾ (الانعام:٨٢)

٣ - اَلتَّثَبُّتُ : (مضبوطوالے په دنيا او آخرت كښ) لكه : ﴿ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ﴾ سوره ابراهيم آيت (٢٧) .

٤ - : (اَلدِّفَاعُ) (الله تعالىٰ د مؤمنانو دفاع او مدافعت كوي) د د شمنانو د مكرونو نه ئے حفاظت كوي لكه : ﴿ اِنَّ اللّٰهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ الحج (٣٩).

٥ - اَلْفَلَاحُ : (هميشه كاميابي) : ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴾ (١) آية ،

٦ - (اَلْوُدُّ) (مؤمن سره به د الله تعالىٰ، د رسول الله ﷺ، او د ټولو مؤمنانو زړه كښ مينه اچولے كيږي) : ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴾ (سورة مريم آيت (٨٧) (الله به ورسره مينه وكړي) .

٧ - (اَلنُّصْرَةُ) (مدد د الله تعالىٰ صرف د مؤمنانو سره كيږي) لكه: ﴿ اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ﴾ سوره مومن (٥٠)

٨ - (اَلْخِلَافَةُ) (الله تعالىٰ صحيح ايمان او عمل صالح والو ته خلافت نصيب كوي) او د دين

کار تر ے اخلی۔ ﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى الْأَرْضِ﴾ (النور: ٥٥)

۹- (خَيْرُ الْبَرِيَّة) (انسان په مخلوقاتو کښې غوره مخلوق ګرځی)۔ ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ اُولٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّة﴾ سوره البينة:۷)۔

۱۰- (اَلنَّجَاةُ مِنَ الْخُسْرَان) (د تاوان نه هیڅوك بچ نۀ دی بغیر د مؤمنانو نه) لکه : ﴿وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِىْ خُسْرٍ اِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ﴾ (سورة العصر)

۱۱- لَاسُلْطَانَ لِلشَّيْطَانِ عَلَيْهِمْ۔ (د شیطان زور په ایمان والو نشته) (اِنَّهٗ لَيْسَ لَهٗ سُلْطَانٌ عَلَى الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ) (النحل : ۱۰۰)

۱۲- (اِصْلَاحُ الْبَالِ) (د ایمان والو زړۀ الله تعالیٰ برابروی) (وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَآمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ) (محمد : ۲)

۱۳- (اَلتَّأْيِيْدُ مِنَ اللّٰهِ) (د الله تعالیٰ د طرفه تائید او مضبوطوالے صرف ایمان والو دپاره دے) (فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ) (الصف : ١٤)

۱۵- (اَلْحَيٰوةُ الطَّيِّبَةُ) دایمان په وجه مزیدار ژوند حاصلیږی) (مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهٗ حَيٰوةً طَيِّبَةً) (النحل : ۹۷)

داسے نورے فائدے هم قرآن کریم کښې ځائے په ځائے راځی، لنډه دا چه د دنیا او آخرت ټولے فائدے ایمان سره تړلی دی۔ او د ایمان پوره سل فوائد مونږ په رساله (الفوائد ۱/۱۷۹-۱۸۷) کښې راجمع کړی۔ی، مهم بحث دے مطالعه ئے کړه نفع پکښې ډیره ده۔

(بالغيب)

د غیب لفظ وضاحت

۱- د غیب نه هره هغۀ خبره مراد ده چه د هغې ادراك د انسان په حواسِ خمسهٔ سره نۀ کیږی، بلکه د هغې علم د وحی او د انبیاء علیهم السلام د تعلیماتو په ذریعه کیږی، قرآن کریم کښې د غیب نه مراد هره هغۀ خبره ده چه هغې ته یواځې د عقل رسیدل نشی کیدے ترڅو چه ورسره د رسول الله ﷺ خبر ملګرے شوے نۀ وی او چه د هغې خبر رسول الله ﷺ ورکړیدے لکه ذات او صفات د باری تعالیٰ، د فرشتو وجود، د عرش او

کرسي، لوح او قلم، علامات د قيامت، عذاب قبر، نشر وحشر، پُلِ صراط، ميزان، جنت او جهنم او دغه شان تمام غيبي اُمور۔ مؤمن په هره هغهٔ خبره ايمان راوړي چه د هغې خبر الله تعالیٰ يا د هغهٔ رسول ﷺ ورکړے وي، برابره ده چه انسان د هغې مشاهده کړې وي او که نهٔ، يا هغهٔ پيژندلي وي او که نهٔ، ليکن مُلحدين او د غيبي اُمورو تکذيب کونکي ددے نعمت (ايمان او تصديق) نه محروم کيږي۔

(تيسير الرحمن للشيخ لقمان السلفى)۔

۲- عامو مفسرينو ليکلي دي لکه ابن کثير، قرطبيؒ وغيره چه د غيب نه مراد دلته هغه څه دي چه د جبريل په حديث کښې راغلي دي۔ جبريل عليه السلام راغے تپوس ئے اُوکړو د ايمان او د اسلام او د احسان، نبي عليه السلام د ټولو جواب ورکړو، وے وئيل : چه ايمان ديته وائي : [أَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَنْ تُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ] ديته غيب وائي : الله تعالیٰ، رسولان، کتابونه، ملائك، او د آخرت ورځ او د الله تعالیٰ تقدير منل) او په قيامت کښې بيا صراط او ميزان منل چه صراط حق دے، ميزان حق دے، حساب حق دے، حوض کوثر حق دے، دا يو شے هم مونږ ندے ليدلے، او نهٔ عامو انسانانو ليدلي دي، خو دا به مني، دا زمونږ د سترګو نه غائب دي خو الله تعالیٰ او د هغه رسول (ﷺ) ئے وعده کړے ده او د هغوی په وعده باندے تصديق دے، نو دا به مني۔

بالغيب هغه شيان چه ستا د سترګو نه غائب دي او ته ئے منے۔ او د وحي په ذريعه معلوم شويدي، او ورسره بيا پرے دلائل عقليه هم شته۔

۳- زر بن حبيش (رحمه الله) فرمائي : [يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ اَیْ بِالْقَلْبِ] د غيب نه مراد زړهٔ دے يعني ايمان لري په زړهٔ سره، صرف د خُلے ايمان ئے نهٔ وي لکه د منافقانو په شان۔ يا دا چه په زړهٔ سره ايمان لري اګرکه څه ئے په سترګو ليدلي نهٔ وي۔

٤- څلورم تفسير د ابو مسلم اصفهاني نه نقل دي هغه وائي : [بِالْغَيْبِ يَعْنِيْ حَالَ كَوْنِهِمْ غَائِبِيْنَ عَنِ النَّاسِ]۔ (ايمان لري په حالت د غائبوالي کښې د خلکو نه) يعني په ځانله ځائے کښې ايمان لري، ديکښې هم رد دے په منافقانو باندے۔ دے کښې د ټولو نه اوله معنیٰ غوره او ظاهر او راجحه ده۔ او په اَلَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ (انبياء : ۲٦) کښې دا څلورمه معنیٰ غوره ده ځکه د ايمان بالغيب او خشيت فرق دے چا چه يو شان کړيدي لکه

صاحب د تدبر القرآن نو هغه حق ته نۀ دے رسيدلے ځکه د ايمان تعلق د زړه سره دے او د خشيت تعلق د ظاهر سره ډير دے۔ فتدبر۔

فائده - په قرآن كريم كښې د غيب معاني :

د غيب لفظ نورے معانی قرآن کريم کښې شته چه هغه ددے آيت سره تعلق نۀ لري۔

(۱) لکه اَلْأَشْيَاءُ الْغَائِبَةُ الْمَعْلُوْمَةِ بِالْوَحْيِ ۔ (هغه څيزونه چه غائب وی او په وحی سره معلوميږی) لکه (ذٰلك من انباء الغيب) (آلعمران : ٤٣)

(۲) (اَلْأَشْيَاءُ الْغَائِبَةُ الَّتِيْ لَا يَعْلَمُهَا اَحَدٌ غَيْرَ اللّٰهِ) لکه (قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ) (النمل:٦٥)۔

(۳) الغيب : بے دليله او په توك سره خبره كول۔ لکه (رَجْمًا بِالْغَيْبِ) (الكهف :٢٤)۔ يا (وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَكَانٍ بَعِيْدٍ) (سبا :٥٣)۔

د ايمان بالغيب فضيلت :

ايمان بالغيب ډير قيمتی شے دے۔ عبد الله بن مسعود ﷛ فرمائی : د الله تعالیٰ په دربار كښې غوره عمل ايمان بالغيب دے [مَا آمَنَ مُؤْمِنٌ أَفْضَلَ مِنْ اِيْمَانٍ بِغَيْبٍ]

[مستدرك الحاكم (۲/۲۸۵) صحيح على شرط الشيخين) والقرطبى]

(يعنی د ايمان بالغيب نه افضل ايمان نشته)۔

نو دا د الله تعالیٰ ډير خوښ دے، ددے وجے نه د مرگ په وخت كښې هر سړے مؤمن دے، ليكن دغه ايمان له اعتبار نشته، د قيامت په ورځ به ټول مخلوق يقين والا وی، هلته به په الله تعالیٰ باندے ايمان هم راوړی، د الله تعالیٰ حكم به هم منی، الله تعالیٰ ته به ذليله هم وی خو الله تعالیٰ دا يو هم نۀ قبلوی۔ د الله تعالیٰ طريقه دا ده چه په غيبو به د هغه خبره منی۔ دا د ايمان بالغيب حاصل دے۔

ايمان بالغيب ديته وائی چه يو شے به تا ليدلے نۀ وی، خو الله سبحانه وتعالیٰ او د هغه رسول ﷺ به خبر وركړے وی، نو تۀ به ئے منے، مثلاً يوه خبره ده چه هغے ته به ستا ذهن نه وررسيږی، عقل او دماغ به دِے پرے كار نۀ كوی او الله تعالیٰ او د هغه رسول ﷺ به وئيلی وی نو داسے به نۀ وائے، چه زه پدے نۀ پوهيږم نو دا زه نشم منلے، او دا څوك منی !، نۀ ! خپل عقل او علم به كم گڼړے، دا به وائے چه رسول الله ﷺ ما نه ښه

پو هيږي او د رسول الله ﷺ نه الله تعالىٰ ښه پو هيږي چه هغوی وئيلي دي، نو همداسے به وي۔ لکه انسان چه ډاکټر ته تسليميږي، مثلًا ډاکټر له چه ته لاړ شے، تا ته اُووائي چه ستا په کُلمو کښ زيږے دے، ته به دا رشتينے گڼږے او دا به وائے چه ډاکټر راته وئيلي دي۔ ظاهره کښ تا ته به هيڅ اسباب نهٔ ښکاره کيږي، خو د هغه خبره منے، تسليم ئے، دډاکټر خبره دروغ هم کيدے شي، خطاء هم کيدے شي، سَره د هغے نه ډاکټر وائي تا ته دا فلانے مرض لگيدلے دے، مثانه، يا گرده کښ دِے بيماري ده، هغه تهٔ منے ځکه چه د هغه علم ته تهٔ تسليم ئے، نو د الله تعالىٰ اود هغه د رسول ﷺ علم ته به هم تسليميږے، ډيرے خبري داسے دي چه هغے ته به زمونږ علم نهٔ رسيږي او هغه ډيرے ژورے خبرى وي، او خلك اكثر د هغے نه انکار کوی ۔نهٔ ئے منی، ځکه عقل پرست دی، عقل ئے مقدم کړے دے لکه مثلًا وائي : قبر کښ عذاب څنگه کيدے شي؟ دا خو تنگ ځائے دے، ملائك به څنگه ورننوزي، گورز به څنگه راخطا کوی او دے کښ کړکئ کلاوېږي، دا کړکئ خو مونږه اُونهٔ ليدلے، څنگه به کولاوېږي، او پدے کښ ماران لړمانان دي، چرته خو ښکاره نشو؟۔

حديث کښ راځي چه پدے قبر کښ جنت، جهنم راښکاره کيږي، دا خو مونږ کله اُونهٔ ليدل، نو بعض خلك انکار شروع کړي چه قبر کښ عذابونه نشته دے، نهٔ ! بلکه الله تعالىٰ او د هغه رسول ﷺ ددے خبر ورکړے دے، هغوی وائي چه پدے کښ کړکئ هم شته، او اُور هم شته، پدے کښ مار لړم هم شته، پدے کښ تِيَرهٔ او رڼرا هم شته، پدے ټولو باندے مونږ تصديق کوو، ځکه چه د هغه رسول ﷺ ښه پو هيږي او الله تعالىٰ د هغه نه ښه پو هيږي۔ دارنگه قيامت باره کښ مونږ ته وئيلے شويدی چه د قيامت په ورځ به پُل صراط وهل کيږي، او دا به داسے نرے وي (كَحَدِّ مُوْسٰى) لکه د تيره والي د چړے او بل روايت کښ دي : [كَالشَّعْرَةِ] د ويښته پشان به نرے وي) او دا انسانان به په هغے ورتيريږي، نو دا خبره اُوس د عقل خلاف معلوميږي چه په دومره نري شي به بنده څنگه تير شي؟ کوم شخص دے چه پدے به تير شي ؟ ليکن د الله تعالىٰ نبی جناب محمد رسول الله ﷺ فرمائي چه پدے به مؤمنان ورتيريږي او بيا ئے دا فرمائيلي دي چه دا ځمکه کله الله تعالى بدلوی ﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْاَرْضُ غَيْرَ الْاَرْضِ ﴾ او دا ټول انسانان به د پُل صراط په سر باندے سواره وي، ټول عالَم به په پل صراط روان وي، نو دومره نرے دے، او

حال دا چه تول انسانان پرے خائیږی، پدے دواړو خبرو الله تعالیٰ قادر دے، دا د ایمان بالغیب سره تعلق لری، دا به منے، دا عملونه چه مونږ کوو، دا به قیامت کښې راوړل کیدے شی، او په میزان کښې به اچولے کیږی، او تللے کیږی به، په دے زمانه کښې د سائنسی تجرباتو په ذریعه داسے خبرے ډیر په آسانئ سره منلے شی، خلك ګرمی او یخنی تلی، هواګانے تلی، نو دا اعمال الله تعالیٰ تللے شی، پدے قادر دے، انسانانو داسے څیزونه ایجاد کړیدی چه په هغے کښې ډیر ناشنا کارنامے وی لکه د کمپوټر دنیا شوه۔ لهذا دا خبره یعنی ایمان بالغیب اُوس دے زمانه کښې دومره مشکله نهٔ ده۔

دارنګه اُور کښې سړے مری، پنځه منټه هم ژوندے نشی پاتی کیدے، ضرور به مری، لیکن جهنم کښې به سړے نهٔ مری، خبرے اترے به هم کوی، ګرځی راګرځی به هم، ملاقاتونه به هم پکښې کیږی، او سزاء به هم ملاویږی، نو دا اُوس د عقل نه خلاف خبری دی، زمونږ عقل ورته نهٔ رسیږی، ځکه کمزوری دی، لیکن شارع وئیلی دی چه دا شته، نو مونږ وایو، شته، که ته وائے چه دے خبرے ته زما ذهن نهٔ رسیږی، دا به نشی کیدے نو دا ایمان بالغیب ندے، بلکه دا کفر دے۔

الله تعالیٰ او د هغه رسول ﷺ یوه خبره اُوکړه او د ډاکټر د مزاج خلاف وه، د ډاکټر خبره به پریږدے، مثلًا د الله رسول ﷺ فرمائی : (لَاعَدْوٰی) (بخاری : ۲۰۹۹)

(د چا بیماری بل ته نهٔ نقل کیږی) ډاکټران وائی اُووه مرضونه داسے دی چه نقل کیږی، نو مونږ وایو : د ډاکټرانو خبره دروغ ده، او د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ خبره رشتیا ده، دیته وائی ایمان، او که تا په هغے تصدیق اُوکړو او د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ په خبره دِ یے شك اُوکړو نو دا ایمان نهٔ دے، داسے نور مثالونه واخله، چه روستو به ځائے په ځائے راځی۔ ان شاء الله تعالیٰ۔ نبی علیه السلام فرمائی : عیسیٰ علیه السلام به راکوزیږی، دجال به راځی، دیکښې څه فائدے دی؟ که پدے فائدو بلندے مونږ نهٔ پوهیږو، او په بعضو پوهیږو، بیا به هم ورته تسلیمیږو ځکه الله تعالیٰ او د هغه رسول ﷺ وئیلی دی، نو بس صحیح ده، دیکښې به ډیر حکمتونه وی، مونږ به پرے نهٔ پوهیږو، نو د الله او د رسول ﷺ علم مخے ته به خپل علم نهٔ مخکښې کوے۔ نو معتبر ایمان هغه دے چه په غیب سره وی، ایمان بالشهاده څه ایمان نهٔ دے، چه ته د یوے خبرے په فلسفه او حقیقت باندے پوهه شے او بیا ئے منے، د حکمت دوجے نه یا په سترګو دِ یے یو شے ولیده او

بیا ئے منے، دا خو څه ایمان نهٔ دے۔
یو روایت کښ راغلی دی : نبی ﷺ ملګروته اُوفرمایل [أَیُّ الْخَلْقِ اَعْجَبُ اِلَیْکُمْ اِیْمَانًا ؟] چه د چا ایمان تاسو ته ډیر تعجبی ښکاری ؟
نو بعضو اُووئیل ؟ د ملائکو، وے فرمایل : [وَمَا لَهُمْ لَایُؤْمِنُوْنَ وَهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؟]
ملائك به څنګه ایمان نهٔ راوړی، ملائك خو بره آسمانونو کښ د الله تعالیٰ سره دی (ضرور به ایمان راوړی) د هغوی څه عذر دے چه ایمان به نهٔ راوړی ۔
بعضو اُووئیل : د انبیاؤ ایمان ډیر غوره دے، وے فرمایل : [وَمَا لَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ وَالْوَحْیُ یَنْزِلُ عَلَیْهِمْ ؟] انبیاء (علیهم السلام) به ولے ایمان نهٔ راوړی، هغوی باندے خو وحی نازلیږی د بره نه، [قَالُوْا: فَنَحْنُ] نو بیا صحابه کرامو اُووئیل چه زمونږه ایمان اعجب (غوره) دے۔ نبی ﷺ اُوفرمایل : [وَمَالَکُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ وَاَنَا بَیْنَ اَظْهُرِکُمْ ؟!] تاسو به څنګه ایمان نهٔ راوړئ تاسو خو زه لیدلی یم، معجزے ما نه ګورئ، ستاسو خو ایمان بالغیب دومره پوره نهٔ دے تاسو خو ما وینئ زه خو غټه معجزه یم) ۔
بیا نبی ﷺ اُوفرمایل : [وَلٰکِنْ اَعْجَبُ الْخَلْقِ اِلَیَّ اِیْمَانًا قَوْمٌ یَجِیْئُوْنَ بَعْدَکُمْ]
ما ته ډیر خوښ ایمان والا هغه خلك ښکاره کیږی چه ستاسو نه روستو زمانه کښ به راځی [یَجِدُوْنَ صُحُفًا یُؤْمِنُوْنَ بِمَا فِیْهَا] (په کتابونو به ایمان لری یعنی پاڼے به وی په هغه پاڼو کښ به د دین خبرے لیکلی وی هغه به منی)،
(نهٔ به ئے الله تعالیٰ لیدلے وی، نهٔ به ئے رسول لیدلے وی، او نهٔ به ئے کومه معجزه لیدلی وی، او صرف کاغذ به منی ۔ ددے خلکو ایمان ډیر ناشنا دے)
[رواه البزار وابویعلی والحاکم بسند حسن لغیره وبمعناه روی احمد والدازمی من حدیث ابی جمعة، وحسنه الحافظ) (تخریج احادیث وآثار کتاب فی ظلال القرآن رقم : ۸۲۳) وقال فی مجمع الزوائد ۱۰ /۵۱: واحد اسنادی البزار المرفوع حسن) وصححه الالبانی فی الصحیحة (۳۲۱۵)]
بل حدیث کښ داسے دی : [طُوْبیٰ لِمَنْ رَآنِیُ وَآمَنَ بِیُ وَطُوْبیٰ سَبْعَ مَرَّاتٍ لِمَنْ لَمْ یَرَنِیُ وَآمَنَ بِیُ] [احمد، طبرانی، الطیالسی، عبد بن حمید۔ الصحیحة ۳/۲۴۴) رقم (۱۲۴۱)]
(هغه چا دپاره خوشحالی ده چه زه ئے لیدلے یم او په ما ئے ایمان راوړیدے او اُوه ځله خوشحالی دے وی هغه چا دپاره چه زه ئے نهٔ یم لیدلے او په ما ئے ایمان راوړیدے) یعنی اُوه ځله اجر به د روستو امت زیات وی د صحابه کرامو نه او دا فضیلت دوی ته د ایمان

بالغيب د وجه نه دے، ورنه د صحابه كرام (رضوان الله عليهم اجمعين) ايمان ته څوك چرته رسيدلے شي ؟! صحابه كرام رضى الله عنهم خو ډير اُوچت ايمان لرى، خو ايمان بالغيب زمونږ ډير دے د صحابه كرامو په نسبت څكه هغوى نبى ﷺ ليدلے دے، په خپلو سترګو به ئے د هغه معجزات ليدل، قرآن به نازليدو، ناشنا ناشنا احوال به ئے ليدل، بنى اسرائيلو به ليدل او مونږ هيڅ هم نهٔ دى ليدلى، ډير شاذ او نادر شانته خبرى چرته اُووينو نو ايمان بالغيب د الله تعالىٰ په نزد باندے ډير قيمتى دے۔

فائده : يو علم الغيب دے او بل علم بالغيب دے، علم الغيب خاص صفت د الله تعالىٰ دے او دا ديته وائى چه ټول غائب څيزونه ورته داسے ښكاريږى لكه چه حاضر وى او د هغه د سترګو نه هيڅ څيز پټ نهٔ وى۔ لكه د الله تعالىٰ په صفت كښې دى ﴿وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ﴾ (يونس: ٦١) او (قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللّٰهُ) (النمل : ٦٥) او (عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖ أَحَدًا) (الجن: ٢٦)

او ددے نفى د رسول الله ﷺ نه صراحةً راغلے ده (وَلَآ أَعْلَمُ الْغَيْبَ) (الانعام : ٥٠)

او بل علم بالغيب دے، او دا ديته وائى چه په غائب څيزونو (لكه الله تعالىٰ، ملائك، قيامت وغيره) څيزونو باندے عالِم شى، د هغے حكم او صفات ورته د قرآن او حديث په ذريعه معلوم شى، او پدے آيت كښې همدا ذكر دے او دا مستلزم دے لره نهٔ دے چه بعض بندګان به په ټولو غيب څيزونو پو هيږى او هغه به ورته داسے ښكارى لكه په سترګو ئے چه وينى څكه زمونږ علم د الله تعالىٰ په وجود او د قيامت او ملائكو په ثبوت شته ليكن هغه خو مونږ ته په سترګو نهٔ ښكارى۔ نو د ګمراهانو دليل نيول ددے آيت نه په اثبات د علم الغيب د غير الله دپاره يا د رسول الله ﷺ او اولياء كرامو دپاره، دا سوچه ګمراهى او بربادى ده۔ أَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْ ذٰلِكَ) وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ۔ (انظر احسن الكلام)

فائده : تقوىٰ او ايمان ئے دواړه دلته جمع كړل وجه دا ده (لِتَلَازُمِهِمَا) دواړه د يو بل سره لازم ملزوم دى، ايمان د زړه صفائى او تقوىٰ د ظاهر سمول دى او پدے سره د انسان كمال حاصليږى او دا دواړه به قرآن كريم كښې ډير جمع كيږى۔

﴿وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ﴾: الله سبحانه وتعالىٰ په ايمان پسے روستو مونځ او زكوٰة ذكر كړو، دا ولے؟ څكه دا نښه د ايمان ده، يو سړے د ايمان بالغيب دعوىٰ كوى نو ايمان خو

اکثـر د زړه سره تعلق لري، نو الله ئے نبنه بیانوی چه مونځ به کوی او مال به لګوی، که د مـانـځـه پـابندی پکښ نۀ وه، تۀ پو هه شه چه دا یا منافق دے یا کافر دے او یا ایمان ئے ډیر کمزورے دے۔

فائده : بیا دوه څیزونه ئے جمع کړی دی (۱) اقامة الصلاة (۲) انفاق فی سبیل الله۔ او د قـرآن پـه ډیـرو آیتـونـو کښ صلاة او زکوٰة یو ځائے ذکر کیږی، وجه دا ده چه د مانځه په ذریـعـه د الله تعالیٰ دپاره د اخلاص اظهار کیږی او د زکوٰة او انفاق په ذریعه د بندګانو سره د احسـان او د نیـکـئ د جـذبے اظهار کیږی، او د انسان نیکبختی او سعادت په دے کښ دے چه د خپـل مـعبـود حـقیقی دپاره مُخلص وی او ترڅو چه ژوندے وی نو د الله تعالیٰ مخلوق ته د نفع ورکولو کوشش کوی۔

۲- دویـم دا چه اِقامة الصلاة اعـمـال دی او انـفـاق اخـلاق دی او د ایمان د متعلقانو نه دا دواړه خبرے دی چه اعمال به هم جوړ وی، او اخلاق به هم جوړوی، ایمان تصدیق شو، او صلاة اعـمـال شو، او انـفـاق اخـلاق شو، مثـال ئے ونه ده، د ونی یوه جرړه ده، یو د هغے څـانـګـے دی، او یو د هغے میوه ده، ایمان ئے جرړه ده، او اعمال ئے څانګی دی، او اخلاق ئے میوے دی، میوه داره ونه دغه ده چه بنده کښ د اخلاقو ماده موجوده وی۔

﴿ أَلَمۡ تَـرَ كَيۡفَ ضَـرَبَ اللّٰهُ مَثَلاً كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ ﴾ (ابراهیم : ٢٤) ددۀ نـه شجره طیبه جوړیږی۔

۳- **وجه**: عبادتونه دوه قسمه دی یو مَا يَتَعَلَّقُ بِالۡبَدَن دی او بل مَا يَتَعَلَّقُ بِالۡمَال دی (الصلاة) کـښ عبادات بـدنیـه تـه اشاره ده، او په انفاق کښ عبادت مالی دے، زکوٰة، صدقه عشر، انـفاق په حیل اهل باندے دا ټول پکښ داخل دی۔ نو د مؤمن صفت به دا وی چه دواړو کښ به کوشش کوی۔ او دا دواړه لوئی اعمال دی۔

(**الصلوٰة**) :

د صلوٰة لفظ وضاحت

لفظ د صلاة قـرآن کـریم کښ (۸۹) کرته راغلے دے، ماده ئے (۹۵) کرته راغلے ده، صلاة په لغت کښ ډیرو معنو باندے استعمال دے۔ لکه ۱- دعاء ته وائی۔ لکه ﴿ وَصَلِّ عَلَيۡهِمۡ ﴾ (التوبة) ۲- مغفرت ته هم وائی۔ ۳- اَلدُّعَاءُ لِلنَّبِيِّ (ﷺ) (خاص نبی ﷺ دپاره دعاء ته هم وائی لکه ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيۡهِ وَسَلِّمُوا تَسۡلِيمًا ﴾ (سوره احزاب (٥٦)

(صَلُّوا معنی دعا ورله اُوکړئ) درود ورته په فارسئ کښ وائی۔
٤- جنازے ته هم صلاة وئیلے شی لکه ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا﴾ التوبة (٨٤)
٥- صلاة په معنیٰ د تسبیح هم راځی یعنی ذکر اذکار) لکه : ﴿كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُ﴾ سورة النور (٤١) آية۔
٦-صلاة په معنی د ارکان مخصوصه ؤ سره چه مونځ دے۔او دلته همدا معنیٰ مراد ده۔

د اقامة الصلاة معنیٰ

بیا اقامت څه ته وائی؟ : نو د اقامت معنیٰ ده اُودرول، دا مونځ خو جسم نهٔ لری نو څنګه اُودریږی؟ نو بیضاویؒ معنیٰ کوی : [يُرَوِّجُوْنَ الصَّلَاةَ] مونځ رائج کوی، لکه عرب وائی : قَامَتِ السُّوْقُ ـ بازار اُودریدو یعنی رائج شو، یعنی څیزونه پکښے مشهور شو او خرڅیږی لګیا دے، او كَسَدَتِ السُّوْقُ ـ بازار کوتـه شو۔ نو معنی دا ده چه دوی په خپل ملك کښ مونځ رائج کوی یعنی په ملك کښ به دا قانون اړدی چه که د مانځه پابندی چا نهٔ کوله، دکان او کور کښ ناست وو، نو سزا به ورکولے شی۔ دلته دا معنیٰ هم صحیح ده او مونځ د هر مؤمن شخصی عبادت هم دے۔ ٢- دویم د اقامت معنیٰ ده اُودرول، مراد ترینه مداومت دے، یعنی همیشه دپاره ئے کوی۔
٣- بنه معنیٰ ئے دا ده [يُدِيْمُوْنَهَا وَيُؤَدُّوْنَهَا بِحُقُوْقِهَا وَيَحْفَظُوْنَهَا عَنِ الْمُفْسِدَاتِ وَالْمَكْرُوْهَاتِ وَاَدَائُهَا مَعَ الْفَرَائِضِ وَالسُّنَنِ وَالْمَنْدُوْبَاتِ مَعَ الْخُشُوْعِ وَالْخُضُوْعِ]
(چه دوی همیشه مونځ کوی، د تمام ارکان، واجبات او فرائضو او شروطو پوره پوره خیال ساتی، د مفسداتو او مکروهاتو نه ئے ساتی، او په مکمل خشوع او خضوع او حضور قلبی سره ئے اداء کوی، او هغهٔ سنتونه هم اداء کوی چه د فرض مونځونو نه مخکښ او روستو د نبی ﷺ نه ثابت دی۔
او ورسره د صف اهتمام هم کوی څکه د صف برابرول د مانځه برابرول دی۔ لکه چه نبی ﷺ فرمایلی دی۔ دا هغه مونځ دے چه الله تعالیٰ ددے د پابندی کونکو مدح او صفت کړیدے : (وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلَاةَ) (النساء :١٦٢) (الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلَاةَ) (المائدة : ٥٥) او د منافقانو په باره کښ ئے فرمایلی دی (فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ) (الماعون)

نو ددې نه معلومیږي چه مونځ کونکي خو ډير دي، ليکن د اقامتِ صلاة صفت والا ډير کم دي. (تيسير) ليکن افسوس چه اُوس نفس مونځ کونکي هم خال خال په نظر راځي. مساجد خالي شويدي. فتدبر. والله المستعان.

لنډه دا چه د سنت نبوي مطابق مونځ کولو ته اقامت صلاة وائي چه رکوع او سجده پکښې په آرام او اعتدال سره وي او اذکار پکښې پوره وئيلے شي يعنې الله تعالىٰ چه کوم مونځ فرض کړيدے او کوم ئې چه نبي ﷺ ته خودلے دے او بيا نبي ﷺ خپل امت ته خودلے دے [صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي] [بخاري : ٦٣١]

(زما په شان مونځ کوئ) او د نبي ﷺ په مانځه خو کښې ټولے سنت طريقے موجودے وے، په هغے کښې رفع اليدين هم وو. ځکه الف لام په الصلاة کښې عهدي دي مراد ترينه پيغمبري مونځ دے او د پيغمبر په مانځه کښې خو رفع اليدين هم وو لهذا د قرآن نه رفع اليدين وغيره هم ثابت شو.

د اقامة الصلاة شرائط

بيا اقامت د مانځه په يو څو شرطونو سره حاصليږي يو وقت پيژندل.

۱ - **مَعْرِفَةُ الْوَقْت** : وخت به پيژني، د منافقانو په شان به نه وي چه ناوخته مونځونه کوي خاصکر د مازيگر مونځ. (تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ) ډير خلق د سهار مونځ نمر خاته وخت کوي، ډير ځوانان او سړي او زنانه اُوګوره چه ناوخته اُوده کيږي نو سهر جمعه ترے قضاء وي او نمر خاته مونځونه کوي. زنانه په جامو وينځلو او پخلو او د بچو په وجه يا د قهوے سکلو په وجه مونځونه د خپل وخت نه اُوباسي. دا ظلم دے.

احاديثو کښې د وخت ډير سخت اهميت راغلے دے تردے چه که يو امام ناوخته مونځ کوي نو بنده له پکار دي چه خپل وخت کښې ځانله مونځ اُوکړي او که بيا ورته موقعه ملاؤ شي نو د اما م سره دِے هم شريك شي.

۲ - دويم : **مَعْرِفَةُ الْمَكَان** : (ځائے پيژندل) په داسے ځائے کښې به مونځ نه کوي چه شريعت هغه ځائے کښې د مانځه نه منع کړي وي لکه د غصب په زمکه کښې وي، په هغه درځ به نه اُودريږي چه حرامه وي، سود خور سړي جماعت ته راوړي وي، يا پرے د صليب نخے وي، هغه جماعت کښې به مونځ نه کوي چه په حرامو پيسو جوړ شوے وي، چه ښکاره حرام وي.

د قبر په خوا کښې جوړ شوی مساجدو کښې مونځونه حرام دی

دارنګه هغه مساجد چه په قبرونو او د قبرونو په خوا کښې جوړ شوی وی، چار دیوالۍ کښې دننه قبر وی او مسجد هم وی- نبی ﷺ د دینه منع کړیده- او فرمائیلی ئې دی :

[لَعَنَ اللّٰهُ الْیَهُوْدَ وَالنَّصَارٰی اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِیَائِهِمْ مَسَاجِدَ]

[صحیح بخاری باب مرض النبی ﷺ ۱۳۲٤، والترمذی والنسائی]

(الله تعالیٰ لعنت کړیدے په یهود او نصاراؤ چه د خپلو انبیاء د قبرونو نه ئې مساجد جوړ کړیدی) او په یو روایت کښې دی :

[لَعَنَ اللّٰهُ زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ وَالْمُتَّخِذِیْنَ عَلَیْهَا الْمَسَاجِدَ والسُّرُجَ]

[ابو داود : ۳۲۳۸، ترمذی : ۳۲۰ نسائی : ۲۰٤۲، واحمد: ۲۰۳۰، واسناده حسن]

الله تعالیٰ لعنت کړیدے په هغه زنانو چه د قبرونو ملاقات ته (ډیرے) ځی- او په هغه خلقو چه په قبرونو باندے مساجد جوړوی او ډیوے (شمعے) پرے لګوی)-

کوم جمات چه په قبر دپاسه جوړ شی هغے کښې مونځ نهٔ کیږی دا د ائمه اربعهٔ مذهب دے او پدے مونږ یوه اُوږده فتویٰ لیکلے ده، شیخ البانیؒ پدے رساله لیکلے ده [تَحْذِیْرُ السَّاجِدِ عَنِ اِتِّخَاذِ الْقُبُوْرِ مَسَاجِد] احنافو ورته مکروه تحریمی وئیلی دی-

مالکیانو دیته حرام وئیلی دی لکه تفسیر قرطبی سوره کهف کښې لیکلی دی او شوافعو دیته ګناه کبیره وئیلے ده، په الزواجر کښې ئے لیکلی دی، حنابله وائی پداسے مسجد کښې مونځ کول فاسد او باطل دی-

حافظ ابن قیمؒ په زاد المعاد (۲/۲۱) کښې لیکی :

[فَلَا یَجْتَمِعُ مَسْجِدٌ وَقَبْرٌ فِیْ دِیْنِ الْاِسْلَامِ بَلْ اَیُّهُمَا طَرَأَ عَلَی الْآخَرِ مُنِعَ مِنْهُ ...... فَیُهْدَمُ الْمَسْجِدُ اِذَا بُنِیَ عَلٰی قَبْرٍ کَمَا یُنْبَشُ الْمَیِّتُ اِذَا دُفِنَ فِی الْمَسْجِدِ نَصَّ عَلٰی ذٰلِكَ الْاِمَامُ اَحْمَدُ وَغَیْرُهٗ]

(یعنی په دین اسلام کښې د مسجد او قبر جمع کیدل ندی جائز بلکه هر یو چه په بل باندے راځی نو د هغے نه به منع کولے شی، نو مسجد به ورانولے شی کله چه په قبر باندے جوړ وی لکه څنګه چه مړے به ویستلے شی کله چه په مسجد کښې خخ کړے شوے وی، لکه دا خبره امام احمد وغیره علماؤ کړیده) انتهیٰ-

ددے نه شرك پیدا کیږی او نقصانونه پکښې زیات دی، خلق په دغه مسجد کښې د بابا

او د ولي د خاطره مونځ كوي چه هغه ددهٔ په مال او جان او اولادو كښ بركت اچوي، خصوصاً سهر مونځ هلته ضرور كوي دے دپاره چه تول ورځ ئے بركتي وي.

افسوس چه ددے سره بعض مُلیانو لیکلي دي چه د قبر په خوا كښ مونځ افضل دے، د مشكوة المصابيح په حاشيه باندے ئے ليكلي دي : (لِحُصُوْلِ مَدَدٍ مِنْهُ) (كه د ولي د روح نه د مدد غوښتلو دپاره ئے كوي نو خير دے) دے ظلم ته فكر اُوكړه ! دا خير تاسو د كوم ځائے نه راوېستو، دا په كوم آيت او حديث كښ راغلي دي؟!.

شرك چه پيدا كيږي، د همدے خير خير وئيلو نه پيدا كيږي. شريعت د نمر خاته او نمر پريوتو په وخت كښ د نفل مانځه نه منع ولے كړيده ؟ ددے حكمت دا دے چه ديكښ تشبيه ده د عابدانو د نمر سره اگركه د عبادت كونكي مخ قبلے ته وي او نمر ئے شاته وي، او مونځ الله دپاره كوي، ليكن بيا هم شريعت منع كړيده. نو انسان اگركه د الله تعالیٰ عبادت كوي خو دے كښ مشابهت دے د مشركانو سره. دے كښ فكر اُوكړه، اشكالات به دِے ختم شي. والله اعلم.

۳- شرط اِتِّبَاعُ السُّنَّة : (د نبي ﷺ د طريقے تابعداري) كه څوك په ډيره خشوع او عاجزئ سره مونځ كوي ليكن د نبي ﷺ د طريقے تابعداري پكښ نهٔ وي نو دا الله تعالیٰ قبول نهٔ دے لهذا معلومه شوه چه څوك بِدَعِي مونځونه كوي لكه بعض بدعتيانو به صلاة رَجَبِيه (د رجب په مياشت كښ سل ركعاته مونځ كولو) اُوس هم د پنجاب په بعض علاقو كښ كيږي د هر لس ركعاتو نه پس دمه كوي او په هغے كښ تقريرونه كوي.

۲- دارنگه پخوا به بعض خلقو صَلَاةُ الْأَلْفِيَّة كولو (زر ركعاته مونځ وو) اُوس دا بدعت ورك شويدے. ۳- دارنگه بعض خلقو به صلاة الرغائب كولو. ٤- بعض خلك صلاة احتياطي كوي لكه احسن الفتاوی كښ مفتي رشيد احمد صاحبؒ وئيلي دي چه تهٔ د جمعے د مانځه نه روستو د ماسپښين مونځ كوه، كيدے شي د جُمعے مونځ نهٔ وي قبول شوے نو د ماسپښين مونځ به قبول شي. وجه ئے دا بيان كړيده چه د جُمعے مونځ ډير شرائط لري نو كيدے شي چه په دغه علاقه كښ به د جُمعے مونځ نهٔ كيږي او تا به كړے وي نو احتياطاً څلور ركعاته ورپسے روستو كوه الخ. دا هسے گپ شپ دے. د جُمعے مونځ هر ځائے كښ كيږي لكه چه د احاديثو نه واضحه ده.

٤- بعض مبتدعین د رمضان په آخری عشره کښ په ماسپښین کښ پنځه مونځونه په یو ځائے اُوکړی او دا وائی چه په ټول عمر کښ تا نه کوم مونځونه قضاء شوی وی نو پدے سره مجرئ کیږی. دیته قضاءِ عمری مونځ وائی. دا هم بے دینی ده او خلقو ته دا خودل دی چه خیر دے مونځونه قضاء کوئ او په روژه کښ به د هغے بدله خلاصه شی. اُوګوره موضوعات کبیر (مَنْ صَلَّى فِيْ آخِرِ رَمَضَانَ) الخ او په قضاءِ عمری باندے ئے رد کړیدے.

٥- بعض خلقو نور مونځونه ایجاد کړیدی او دا وائی چه دومره رکعاته اُوکړه، هر رکعت کښ سورة التغابن یا آیة الکرسی یا تبارك الذی وغیره وائی. او دغه شان نور مونځونه واخله نو دا ټول بدعات دی او په دین کښ هیڅ ثبوت نۀ لری.

قاعده : ددے عامو مونځونه چه هر مونځ خلاف وی هغه به صحیح نۀ وی، سوئ د دوه مونځونو نه چه شکل ئے بدل دے او شریعت کښ راغلی دی، یو صلاة الکسوف دے دیکښ دوه رکوع او درے او څلور هم راغلی دی، او دویم صلاة التسبیح دے دا هم صحیح حدیث کښ شته اګرچه د علماؤ اختلاف پکښ شته خو راجحه دا ده چه ددے په باره کښ حدیث صحیح ثابت دے.

٤- شرط : اَلْخُشُوْع :

خشوع به په مانځه کښ پیدا کوے، ځکه خشوع د مانځه روح دے دا نورے خبرے چه مونږ ذکر کړے دا ئے جسم دے، که یو سړے په صحیح ټائم کښ په پاك مکان کښ، بنه د سنت مطابق اُودریدو لیکن فکر ئے په دکان کښ دے او په پوزه، په سر کښ، په ګیره کښ ګوتے وهی خشوع ئے نۀ وی، بل ځائے ته ئے فکر وی نو دا مونځ د الله تعالیٰ دربار کښ نۀ قبلیږی. ابن عباس ﷺ فرمائی : [لَيْسَ لَكَ مِنْ صَلَاتِكَ اِلَّا مَا عَقَلْتَ مِنْهَا]

(مجموع الفتاوی٣١/٧) و(٢٢/٦) و(٢٣٦/١٥) ومنهاج السنة النبوية (١٣٢/٥) ارشاد اولی البصائر (٣٨/١)

(ستا صرف هغه مونځ قبلیږی کوم کښ چه ستا فکر برابر وی). او د مانځه په بعض حصه کښ به ضرور خشوع وی، ورنه بیا به مونځ قبول نۀ وی. اګرکه ظاهری ذمه به فارغه وی. مګر اجر به نۀ ملاویږی. او داسے انسان ته اګرکه د دوباره اعادے کولو حکم به نۀ وی لیکن هغه ته ضرور دا حکم شته چه نوافل او مستحبات زیات اُوکړی، دے

دپاره چه ددې نقصان جبیره ئې اوشي. او دا د جمهورو علماؤ رایه ده.

(۲) او بعض علماء لکه امام غزالي وغیره ؤ وئیلي دي چه د اول نه تر آخره پورې په مانځه کښې خشوع فرض ده. که خشوع پکښې نۀ وي، دا مونځ فاسد دې او دوباره به ئې کوي. پدې معنیٰ به د ډیرو انسانانو مونځ فاسد وي، ځان ته هم فکر اُوکړه. ددې نه معلومیږي چه په مانځه باندې ډیره خواري پکار ده ځکه که په فرض مونځ کښې خشوع نۀ وه نو بیا به په نوافلو باندې پوره کولې شي او که ټول مونځونه خراب وو نو ټول عملونه به خراب وي. ددې وجه نه د مانځه ظاهري احکام زده کول بیا د خشوع پیدا کولو کوشش کول، د هغې اسباب اختیارول، د خشوع د پیدا کیدو (۱۳) اسباب دي (الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح او الفوائد فی تزکیة النفوس ته رجوع اُوکړه)

﴿ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ﴾

انفاق د نَفِقَ نه ماخوذ دې وتلو ته وائي، انفاق ته انفاق ځکه وائي چه دیکښې هم ستا د لاس نه مال وځي. او په عرف کښې د خپل لاس نه د مال ویستل دي که په خیر کښې وي او که په شر کښې. او په اصطلاح د شریعت کښې د الله د تعالیٰ د رضا او د رسول الله ﷺ د حکم مطابق په شرعي مصارفو کښې مال خرچ کولو ته وائي برابره ده که فرض او واجب وي او که مستحب وي او دلته هم دا شرعي معنیٰ مراد ده، او دا د زکوٰة پورې خاص نۀ دې، اګرکه زکوٰة هم پکښې داخل دې.

په (ومما رزقناهم) جمله کښې فوائد :

د اسراف او انفاق فرق

۱ - کوم مال چه د بنده د لاس نه اُوځي که په خیر کښې استعمال شي دیته انفاق وائي او که په شر کښې استعمال شي دیته اسراف وائي، او کله په شر کښې استعمال شده مال ته هم انفاق وائي لکه سورة الانفال (۳٦) کښې اُوګوره. ۲ - انفاق دیته وائي : [مَا كَانَ لِلّٰهِ] چه د الله تعالیٰ دپاره وي او دین دپاره استعمال شي، او اسراف دیته وائي [مَا كَانَ لِغَيْرِ اللّٰهِ - يَا مَاكَانَ عَلٰى خِلَافِ دِيْنِ اللّٰهِ] (چه د غیر الله دپاره اُولګیږي یا د الله تعالی د دین په خلاف اُولګیږي) اګرکه لږې پیسې وي، لکه سیګرټ، نسوار واخلي، د ګیرې په خرئیلو پیسې ورکړي، ټي وي، وي سي آر، کیبل باندې پیسې ورکړي.

د انفاق شکلونه او صورتونه

دلته د مال خرچ کولو چه څومره واجب او مستحب صورتونه کیدے شی تهول مراد دی۔ او دا تهول انفاق دے۔ چه هغه شپږ صورتونه دی: ۱- زکوٰة۔ ۲- عشر۔ ۳- په خپل اهل وعیال او کور والو خرچ کول، نبی ﷺ فرمائی:

[أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ مَا تَرَكَ غِنًى وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ]

[بخاری: ٥٣٥٥ ومسلم: ٢٤٣٣]

بهترین انفاق دغه دے چه په ښځه او بچو ئے اُوکړی چه کله هغه وږی وی، ددے دا مطلب نهٔ دے چه څومره مال راوړے نو فقط هغوی له به ئے ورکوے۔ مطلب ئے دا دے چه اول د هغوی حق دے په کور والو باندے په نفقه کښې بخل نهٔ وی پکار، ځینی خلق په کور کښې پیسے ورکوی بیا په هغے خفه وی او دے ته تاوان وائی۔نهٔ! دے کښې هم اجر دے،

نبی ﷺ فرمائی:

[حَتّٰى مَا تَجْعَلُ فِيْ فِي امْرَأَتِكَ] [بخاری: ٥٦] (کوم رزق چه ته د ښځے په خوله کښې اچوے هغه هم ستا دپاره صدقه ده او ستا دپاره پرے اجر لیکلے شی)۔

٤- څلورم مصداق: میلمه له میلمستوب ورکول دی، د هغه د اکرام دپاره څه شے ذبح کړے او یا ښه ترکاری پخه کړے، نو دا ستا انفاق شو۔ ٥- پنځم: سائل ته ورکول۔

٦- دا هم دے چه یو سړے سوال نهٔ کوی خو تا ته د هغه احتیاج معلوم دے او ستا په ګاونډ کښې یا خپلوانو او نزدے خلکو کښې دے او تا سره مال شته نو هغوی له به ئے ورکوے لکه رسول الله ﷺ فرمائی: [لَيْسَ الْمُؤْمِنُ الَّذِيْ يَشْبَعُ وَجَارُهٗ جَائِعٌ اِلٰى جَنْبِهٖ]

[شعب الایمان، وابو یعلی بسند حسن- الصحیحة: ٤٩٩١]

(هغه سړے مؤمن نهٔ دے چه ځان مړوی او ګاونډی ئے خوا کښې وږے دے)۔

دا غوره انفاقونه دی، روستو سوره آل عمران (١٨٠) آیت کښې به راشی چه دا شپږ انفاقونه لازم انفاقونه دی که څوك دا نهٔ کوی نو بخیلانو کښې به حسابیږی۔ او ددے نه ماسویٰ نور انفاقونه استحباب درجه کښې دی لکه مال مصرفول په دوستانو، مسکینانو او یتیمانو باندے، او په هر طاعت کښې لګول۔ دا بیا نفلی انفاقونه دی چه په هغے کښې ډیر زیات اجر او ثواب دے۔

○ – د بنده نه به الله تعالیٰ د مال په باره کښې تپوس اُوکړی : [اَرِنِي مَا قَدَّمْتَ] (ترمذی:٢٤٢٧) راوښایه چه تا مخکښې څه لیږلی دی ؟ ددے وجے نه اصحاب الاموال نه به الله تعالیٰ د قیامت په ورځ تپوس کوی او دوی سره به پدے مالونو حساب کوی چه کوم ځائے نه دِے ګټلی وو او کوم ځائے کښې دِے لګولی وو، دا خو څه توقے نهٔ دی۔ بیا انفاق یواځے د مالدارو صفت نهٔ دے بلکه هر مؤمن به انفاق کوی ځکه دا یوه شعبه ده د شعب الایمان نه۔

او زکاتونه الله تعالیٰ په بخیلانو فرض کړیدی، هغه معمولی شے دے، اصل کښې د مؤمن صفت انفاق او مال لګول دی۔ رسول الله ﷺ به دومره انفاق کولو چه عربو به داسے انفاق لیدلے نهٔ وو۔ یو اعرابی راغے نبی ﷺ نه ئے څه شے اُوغوښتو، رسول الله ﷺ ورته اُووئیل : ددے دوه غرونو په مابین کښې چه څومره ګډے دی، دا تولے ستا شوے، هغه تعجب اُوکړو، او ګډے ئے واخستے او خپل قوم ته ئے دعوت ورکړو :

[يَا قَوْمِ اَسْلِمُوْا ! فَاِنَّ مُحَمَّدًا يُعْطِيْ عَطَاءً لَا يَخْشَى الْفَاقَةَ] [مسلم : ٦١٦٠]

اے قومه ! ایمان راوړئ ځکه محمد (ﷺ) دومره مالونه ورکوی چه د فقر او فاقے نه نهٔ ویریږی۔

○ – بلال رضی الله عنه ته ئے فرمایلی وو : [اَنْفِقْ بِلَالُ ! وَلَا تَخْشَ مِنْ ذِی الْعَرْشِ اِقْلَالًا]

[مسند ابی یعلی : ٦٠٤٠، والبزار : ٩٨٩٣، وشعب الایمان : ١٢٨٣، باسناد جید۔ الصحیحة : ٢٦٦١]

اے بلاله ! مال لګوه او د هغه الله نه چه مالك د عرش دے د کموالی نه مه ویریږه)۔

او انفاق د خلکو سره احسان دے، دا دلیل دے د انسان د زړه د نرمئ او د شفقت۔ نو په آیت کښې اشاره ده چه دا مال د الله تعالیٰ یو انعام دے، څوك دِے دا ګمان اُونکړی چه دا ما په خپل مټ سره حاصل کړیدے، ځکه د انعام تقاضا دا ده چه خپل رشته دار او ورونه به نهٔ هیروی کوم چه الله تعالیٰ ددے مال نه محروم کړیدی۔ (تیسیر)

فوائد او حکمتونه:

پدے آیت کښې فوائد : ١ – کلمه د (من) تبعیضیه کښې اشاره ده چه تول مال به نهٔ ورکوی چه بیا پخپله سوال ته کینی، ابولبابه بن المنذر رضی الله عنه او کعب بن مالك رضی الله عنه تول مال ورکاوه نبی ﷺ منع کړل چه تول مال مهٔ خرج کوئ صرف د سیدنا ابوبکر صدیق

ﷺ په شان انسان تول مال لګولے شي لکه چه امام بخاريؒ په خپل صحيح کښې وئيلي دي۔

.دارنګه الله تعالیٰ فرمائي : (لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ) (البقرة : ۲۱۹)

د دنيا او آخرت دواړو فکر به کوے۔

۲- **فائده** : کلمه د (ما) عامه ده، شامله ده مال، قوت بدني، علم، غلامان اولاد، دا تول به په دين باندے خرچ کوي۔ (معالم التنزيل)

۳-(رَزَقْنَا) کښې الله تعالیٰ خپل ځان ته نسبت کولو نه معلومه شوه چه اے بنده ! دا مال اصل کښې د الله تعالیٰ دے، تاله ئے درکړے دے د امتحان دپاره او بيا بيرته ئے درنه غواړي او د هغے په مقابله کښې درله اجر درکوي لکه يو پلار چه خپل بچي له مالته يا کيله ورکړي او بيرته ورته وائي بچيه ! بيرته ئے ماله راکړه نو که بچے هوښيار وي، محبت والا وي، نو بيرته ئے پلار له ورکړي مګر پلار ئے بيرته ورکړي مقصد ئے صرف محبت د هغه ځان له راطلب کول وي، بيا پرے دپاسه انعام هم ورکړي۔او کله چه هغه نا اهله او حرصناك وي، د پلار نه ئے منع کړي نو د پلار د نظر نه پريوځي چه دا خو ظاهر بين دے۔

نو الله سبحانه وتعالیٰ مونږ له مال راکړيدے، بدن او علم ئے راکړے دے، دا په اصل کښې د الله تعالیٰ د طرف نه بنده ته ورکړے شويدے د امتحان دپاره، الله تعالیٰ ستا محبت ګوري چه ته د الله تعالیٰ د حکم څومره تابعدار ئے، د الله تعالیٰ دپاره د څومره لګولو والا ئے، که نۀ وي نو الله تعالیٰ ستا دے مال ته هيڅ حاجت نۀ لري، الله تعالیٰ ئے هغه فقير له خپله ورکولے شي ستا نه ورله ډيره ورکولے شي، ليکن الله تعالیٰ ستا سره د احسان اراده ده اے بنده ! چه دا کار اُوکړه نو الله تعالیٰ به تا له ددے نه غټ او بهترين عوض درله درکړي۔

قتاده رحمه الله فرمائي : [فَأَنْفِقُوا مِمَّا أَعْطَاكُمُ اللّٰهُ، هٰذِهِ الْأَمْوَالُ عَوَارِيُ وَوَدَائِعُ عِنْدَكَ، يَا ابْنَ آدَمَ، يُوْشِكُ أَنْ تُفَارِقَهَا] [ابن كثير، النكت والعيون]

(نو بس خرچ کړئ د هغه مالونو نه چه تاسو له الله تعالیٰ درکړيدي، اے د آدم ځويه ! دا مالونه ستا سره سوالي شے او امانتونه دي، نزدے ده چه ته به ترے جدا شے) او بيا به فائده نشي درکولے نو په ژوند کښې ترے فائده واخله او په طاعت کښې ئے اُولګوه۔

٤- يُنْفِقُونَ نه معلومه شوه چه انفاق د ايمان شعبه (څانګه) ده، دا د هرچا دپاره ضروري دے، د ډيرو خلقو ذهن داسے دے چه دا انفاق صرف د مالدارو او کروړ پتيانو کار

دي، يا چا لـه چه الله تـعالىٰ ډيرې پيسې، مال دولت ورکړې وي. يا د اميانو کار دې، يا د دوکـانـدارانـو کار دې، او د ملايانو کار نهٔ دې، يا دا د سړي کار دې او د زنانه او طالبانو کار نهٔ دې۔ نهٔ! بلکه دا د هر مؤمن صفت دې۔ چه د خپل وسع مطابق انفاق به کوي.

نبی ﷺ نـه تپوس اُوشو کومه صدقه افضله ده؟ هغه اُوفرمايل : [قَالَ : جُهُدُ الْمُقِلِّ] [ابوداود ۲/۱۲۹) والنسائي : ۲۰۲٦، بسند صحيح] «بهترينه صدقه د غريب سړي د کوشش مطابق صدقه ده» يوه روپۍ د غريب د سلو روپو د مالدار نه مخکښې ده۔

○ اسماء بنت ابي بکر او عائشې صديقې (رضی الله عنهما) ته نبی ﷺ فرمايلي وو چه [إِرْضِخِيْ مَا اسْتَطَعْتِ وَلَا تُوْعِيْ فَيُوْعِي اللّٰهُ عَلَيْكِ] (لږ لږ ورکوه څومره چه دِې وسع کيږي، په لوښی کښې ئې مهٔ جمع کوه نو الله تعالیٰ به درله لږ لږ درکوي) ۔

(بخاري : ۲۵۹۱ ومسلم : ۲٤۲۵)

○ صحابه کرامو ته به چه د انفاق امر اُوشو نو هغوی به په قرآن عمل کولو، يوه روپۍ بـه ورسره نـهٔ وه، اصحاب الصفه ؤ سره يوه روپۍ هم نهٔ وه، نو هغوی به د ورځې د غرهٔ نه لـرګـي راوړل، او پـه بازار کښې به ئې خرڅ کړل نو لږه خرچه به ئې په ځان اُوکړه او څه به ئې صدقه کړه، دې دپاره چه په قرآن کريم عمل راشي۔

. ○ کـلـه کـلـه مزدوري، تـجارت په دې نيت کول پکار دی چه زه مال د الله تعالیٰ په لار کـښې اُولـګـوم، ايـمـان مې جـوړ شي، څومره چه سړې انفاق کوي دومره به ئې ايمان کښې کـمـال راځـي۔ او مـؤمن سړې چه هرڅه د لاس نه اُوباسي نو دهٔ ته په کښې اجر ملاويږي مګر صرف هغهٔ مال چه په ختهٔ او آبادو کښې ئې (بې ضرورته) اُولګوي۔

او د انفاق ډيرې فائدې دي خپل ځائې کښې به راشي، ان شاء الله تعالیٰ۔

د رزق معنې

رزق لـفظ قرآن کريم کښې دوه درې معانو باندې استعمال شوې دې (۱) اول خوراك ته وائي لکه ﴿ فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ ﴾ (البقرة : ۲۲) رزق دلته په معنیٰ د مرزوق دې يـعـنـي خـوړلې شوې طعام۔ ۲- دويم : رزق برخې ته وائي۔ لکه ﴿ وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴾ سورة الواقعة (۸۲) رِزْقَكُمْ اَیْ نَصِيْبَكُمْ (حصه او برخه) ۔

۳- رزق بـاران تـه هـم وئيلې شويدې۔ لکه﴿ وَمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ رِزْقٍ ﴾ سورة

الجاثية (۴،۳) او ﴿ وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ ﴾ سورة الذاريات:۲۲)

۴- څلورمه معنیٰ ئې ده : اعطاء (ورکول) لکه دلته ئې دا معنیٰ ده : رَزَقْنَا بمعنی اُعْطِیْنَا۔ د خوراك معنیٰ ئې نهٔ ده ځکه چه یو شے تا لره درکړے شو او تا اُوخوړلو نو چا له به څه ورکړے ؟۔

فائده: مما رزقنا هم ئې په ینفقون باندے مقدم کړو د وجه د اهتمام ددے نه چه دا رزق د الله تعالیٰ د طرف نه دے۔ (۲) دویم پدے وجه چه د آیت فاصله برابره شي۔

(۲) بیا رزقنا کښې حلال مال ته اشاره ده۔

(۳) د رزق اطلاق په علم هم کیږی۔ لکه حدیث کښې دی : [مَثَلُ الَّذِی یَتَعَلَّمُ الْعِلْمَ ثُمَّ لَا یُحَدِّثُ بِهِ کَمَثَلِ کَنْزٍ لَا یُنْفَقُ مِنْهُ] رواه الطبرانی فی الاوسط (۲۱۲/۱) وفیه ابن لهیعة ومثله حدیث ابی هریرة مرفوعا اخرجه احمد (۱۰۴۸۱) بلفظ : "مَثَلُ عِلْمٍ لَا یَنْفَعُ کَمَثَلِ کَنْزٍ لَا یُنْفَقُ فِي سَبِیْلِ اللّٰهِ" وهو حدیث حسن۔ مثال د هغه سړی چه علم زده کوی بیا ئې چا ته نهٔ بیانوی په شان د یوے خزانے دے چه د هغے نه خرچه نهٔ کیږی۔

نور صفتونه الله تعالی ددے مومنانو راوړی :

وَالَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِمَا اُنْزِلَ اِلَیْكَ
او (دا متقیان) هغه خلك دی چه ایمان لری په هغه څه چه نازل کړے شویدی تا ته

وَمَا اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ یُوْقِنُوْنَ ﴿۴﴾
او په هغه څه چه نازل کړے شویدی مخکښے ستا نه او په آخرت باندے دوئ یقین کوی۔

تفسیر :

(وَالَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ) دیکښې د مفسرینو دوه ترکیبه دی : (۱) والذین بدل دے د مخکنی والذین نه او دا عطف الصفة علی الصفة هم دے او واو د جمع دپاره دے یعنی [یَجْمَعُوْنَ الْاِیْمَانَ بِالْکُتُبِ مَعَ الْاِیْمَانِ بِالْغَیْبِ] (یعنی دا متقیان هغه کسان دی چه ایمان په کتب منزله ؤ راوړی سره د ایمان بالغیب نه) او دا ظاهر تفسیر دے چه دا ټول صفات د متقیانو دی۔ ځکه دا د سیاق تقاضا ده او بل دا چه د ایمانیات جمع کول شرعاً لازم دی۔

(۲) قول : دا دے چه تردے ځائے پورے ددے اُمت د مؤمنانو صفات وو، او وَالَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ

بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ) نه مراد يهود دي، يعنې يهوديانو كښې چه كوم مؤمنان دي هغه مراد دي او هغه بيا پدې امت كښې روسته داخل شوي دي۔

نو والذين دا جدا مبتدا ده، دهغوی کار دا دے چه دا قرآن کریم به مني او پخواني كتابونه به مني، څکه دغه يهوديانو مخکښې دا قرآن كريم نهٔ منلو، خو ظاهر دا ده چه مخکنئ معنى واضحه ده او دا صورت په هغے کښې ورداخليږي چه د اهل كتابونه يو كس ايمان راوړو نو هغه به هم تقوىٰ اختياروي، ايمان بالغيب به اختياروي، مونځ به كوي انفاق به كوي قرآن او حديث به مني پخواني كتابونه به مني، هله به مؤمن كيږي، او زمونږ ددے اُمت نه كه يو سړے مؤمن كيږي، هم دا كارونه به كوي نو ددے جدا كولو ته حاجت نشته۔

يُؤْمِنُوْنَ : ايمان ئے دوباره ذكر كړو او داسے ئے اُونه وئيل (وَبِمَا اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ) يعنې عطف ئے نهٔ كړو او د مخكنى يؤمنون لاندے ئے داخل نكړو، دا ئے تاكيداً راوړو، او اشاره ده چه ايمان بالقرآن دا مستقل ضروري شے دے لكه په الله تعالىٰ باندے ايمان راوړل ځانله ضروري دي نو د الله تعالىٰ كتاب (قرآن كريم) منل ځانله ضروري دي ځكه اهل كتابو الله تعالىٰ، قيامت او بعض انبياء عليهم السلام منل، خو قرآن حكيم ئے نهٔ منو نو الله تعالىٰ فرمائي چه په قرآن حكيم به خصوصاً ايمان راوړي۔ بله وجه دا ده چه دے سورت كښې موضوع د ايمان بالقرآن ده نو ځكه د موضوع موافق الفاظ استعماليږي۔

شان نزول : او قرطبيؒ وغيره ذكر كړيدي چه كله دا مخكښې آيت نازل شو نو يهود او نصاراؤ اُووئيل چه مونږ هم غيب منو او د مونځ پابندي كوو او انفاق كوو نو دے صفتونو كښې مونږ داخل يو نو دا آيت وروسته نازل شو د هغوی د رد كولو دپاره ځكه چه هغوی ټول نازل شوي كتابونه او ټولو انبياء عليهم السلام باندے ايمان نهٔ لري لكه په دے سورت (۹۱) آيت كښې دي۔

او د آخرت په باره كښې د هغوی شرعي ايمان نشته لكه په دے سورت (۸۰) او (۱۱۱) كښې دي او ددے وجه نه ئے دا آيت مستقل ذكر كړو۔ نو پدے كښې تعريض اُوشو په يهوديانو چه آخري نبي ﷺ به خصوصي منئ نو هله به ايمان كښې داخليږئ ځكه چه دا اولنے سورت دے چه په مدينه كښې نازل شويدے، نو د يهوديانو د اصلاح دپاره ئے په آخري نبي باندے ايمان خصوصي ذكر كړو۔

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ کی فوائد :

۱- په ما انزل کښې عموم دے، قرآن او سنت دواړو ته اشاره ده، لکه آيت دے (وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ) (النساء : ۱۱۳)

(يعنی الله تعالىٰ په تا قرآن او سنت نازل کړيدی)۔

دواړه نازل شُده وحی ده۔ او کوم احاديث چه نبی ﷺ پخپله وئيلی دی نو هغه هم داسے دی لکه د الله تعالىٰ د طرفه چه راغلی وی ځکه د الله تعالىٰ د حکم مطابق دی۔

او د عامو مسلمانانو دا عقيده ده چه څوك قرآن او حديث نهٔ منی هغه کافر دے، منکرين حديث اولنئ پوړئ د دهريت او کميونستئ ده، کله به يو حديث نهٔ منی اوکله بل، اول ټولو حديثونو کښې شك پيدا کړی او انکار ترے اُوکړی نو بيا قرآن کښې د ځان نه تفسيرونه کوی، د ټول اُمت خلاف کوی۔

مونږ وايو چه څوك حديث نهٔ منی او په هغے کښې شکونه کوی نو مونځ به په کومه طريقه کوی، د رکعاتو تعداد او د اوقاتو تفصيلی بيان به د کوم ځائے نه راوړی، خپله طبع به استعمالوی، لکه ددے خلقو همدا طريقه ده۔ او ددے نه روستو بيا د قرآن کريم نه هم منکر شی۔

۲- د (اُنزل) نه معلومه شوه چه قرآن کريم مُنزَل دے د بَره نه، نو دا دليل شو د الله تعالىٰ په فوقيت باندے چه الله سبحانه وتعالى په اعتبار د ذات سره د ټولو کائناتو نه بَره دے۔

او حافظ ابن قيمؒ په (قصيده نونيه) کښې فرمائی: دا دليل دے چه دا قرآن د الله تعالىٰ کلام دے۔ او پدے باندے الله تعالىٰ تِلفظ کړيدے، باطل پرست خلق وائی : قرآن کريم الله تعالىٰ پيدا کړيدے (مخلوق دے) لکه چه معتزله وائی۔ او بعض وائی : الله تعالىٰ پرے تلفظ نهٔ دے کړے، لکه چه ماتريديه او اشاعره وائی۔ دا ټولے غلطے عقيدی دی۔ د ديوبندی او حنفی د عقائدو په کتابونو کښې دی، چه قرآن کريم جبريل ﷺ جوړ کړيدے يا نبی ﷺ جوړ کړيدے يا په لوح محفوظ کښې الله تعالىٰ پيدا کړيدے، يا په يو کاڼړی کښې الله تعالىٰ پيدا کړيدے، او بيا جبرئيل ﷺ له الله تعالىٰ طاقت ورکړو نو هغهٔ د کاڼړی نه را اُويستو او نبی ﷺ ته ئے راوړو۔ دا ټول وهميات او خيالات دی۔ ﴿اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَخْرُصُوْنَ﴾ اُوګوره حاشيه د اصول الشاشی، دارنګه شرح العقائد او

شرح المواقف.

د وحدة الوجود د عقیدے متعلق

۳- دارنګه پدے کښ رد دے په وحدة الوجود والو باندے۔ وحدة الوجود د صوفیانو یوه عقیده ده چه دا په اصل کښ اول ابن عربي صوفي جوړه کړے وه۔ وحدة الوجود معنیٰ دا چه الله تعالیٰ او مخلوق یو شے دے (والعیاذ بالله)

او دا د رب العالمین ډیره سخته بی ادبی ده، دا غر او آسمان، زمکه، انسان دا ټول الله تعالیٰ دی، دا د الله حصه او اجزاء دی۔ (عیاذاً بالله)

امداد الله مکی صاحب په (کلیات امدادیه) کښ لیکلی دی چه دا وحدت الوجود زما عقیده ده او شیخ ابن عربی اول پدے کلام کړیدے او دا صحیح عقیده ده۔

قارئین کرام! هغه کتاب تاسو پخپله کتلے شئ، بازار کښ خرڅیږی او په هغے کښ ئے دا لیکلی دی چه د الله تعالیٰ داسے مثال دے لکه د دریاب او مونږه د هغے څاڅکی یو، لکه د دریاب نه څاڅکی راواخله نو ته یو څاڅکے ئے او باقی دریاب الله تعالیٰ دے (عیاذاً بالله)۔ او دا عقیده د بلے غلطے عقیدے نه پیدا شویده چه دے خلقو الله تعالیٰ په هر ځائے کښ ګنړلو۔ خو ددے اصلی وجه دا ښکاره کیږی چه ددے خلکو کتاب او سنت طرفته رجوع نهٔ وه، د ابن عربی نه متأثره وو، د تصوف د کتابونو (فتوحات مکیه، فصوص الحکم) نه متاثره وو، او قرآن او سنت ته ئے نهٔ کتل، او قرآن او سنت نه چه څوك اعراض اُوکړی او د قرآن او حدیث نه غیر په بل ځائے کښ هدایت ګوری، نو ضرور ګمراه کیږی، هغوی په فصوص الحکم او فتوحات مکیه کښ هدایت کتلو پدئ وجه ګمراه شول۔

د (اُنزل) نه په وحدة الوجود رد پدے طریقه دے چه یو مُنَزِّل دے یو مُنَزَّل دے او یو مُنزَل الیه دے، مُنزِل، الله تعالیٰ دے، مُنزَّل قرآن دے، او منزل الیه نبی ﷺ دے، دا هریو به جدا جدا ګنړے، یو شے به ئے نهٔ ګنړے۔

(**الیک**) : دا دلیل دے په ختمِ نبوت، ځکه هغه څه به منے چه رسول الله ﷺ ته نازل شوی دی، د هغهٔ نه روستو بل نبی هم نشته، بل آسمانی کتاب هم نشته، که د هغهٔ نه روسته بل نبی (د نبوت په صفت) راتلے الله تعالیٰ به داسے هم وئیلی وے چه [وَمَا أُنزِلَ مِنْ بَعْدِكَ] ۔نو دا دلیل دے په ختمِ نبوت۔ او هرچه د عیسیٰ ﷺ راتلل دی نو هغه د نبوت په صفت نهٔ راځی بلکه د دین محمدی د مُبلِغ په صفت به راځی۔

(مِنۡ قَبۡلِكَ) : ۱- په مخکنو کتابونو باندے د ایمان مطلب دا دے چه اجمالًا ایمان به راوړی او داسے به وائے چه دا کتابونه د الله تعالیٰ د طرف نه نازل شوی وو، او که چا پرے خپل وخت کښې ایمان راوړے وو، او عمل ئے پرے کړے وو نو هغهٔ کامیاب دی۔

۲- یا ایمان نه مراد په هغه حکمونو ایمان راوړل دی چه هغه په قرآن کریم یا احادیثو سره نهٔ دی منسوخ شوی۔ لیکن کوم چه منسوخ دی نو په هغے اجمالی ایمان دے او پدے عملی ایمان دے۔

او ددے نه معلومه شوه چه د اهل السنة والجماعة (مسلمانانو) عدل او انصاف دا دے چه د هرے ډلے سره چه حق وی، هغه منی او باطل ئے نهٔ منی، د باطل پرستو طریقه دا ده چه دومره ضدیان وی چه د حق پرستو د حق نه هم انکار شروع کړی۔

فائده : منزل کتابونه یو سل څلور (۱۰٤) دی په شیث علیه السلام باندے شپیته صحیفے نازل شویدی، او په ابراهیم علیه السلام دیرش او په موسیٰ علیه السلام د تورات نه مخکښې لس صحیفے نازل شویدی نو دا ټول سل شوے او تورات، انجیل، زبور او قرآن څلور ورسره جمع کړه۔ [السراج المنیر، وشعب الایمان]

﴿ وَبِالۡاٰخِرَةِ هُمۡ يُوۡقِنُوۡنَ ﴾ ددے ځائے نه د مؤمنانو بل صفت بیانوی چه دوی په آخرت باندے یقین لری او دا صفت ئے روستو ذکر کړو ځکه چه دا عقیده باعث ده پدے اعمالو۔ یعنی دوی په آخرت باندے یقین لری، د آخرت د عذابونو نه ویریږی ځکه په ځان کښې تقویٰ پیدا کوی، د ایمان کوشش کوی، د مانځه او انفاق او د خپلے نظریئے او عقیدے اصلاح کوی، نو دا هغه خلك دی چه ددوی تصور هم برابر دے او عمل ئے هم برابر دے، تصورئے جوړ دے (یؤمنون بالغیب) او عمل ئے هم ټیك دے چه دغه عملونه کوی، او قرآن کریم هم پدے دوه خبرو ډیر زور ورکوی چه د مؤمن بنده علم، تصور، عقیده او نظریه برابره شی او عقیده او نظریه ئے غلطه جوړه نهٔ شی او ذهن ئے غلط جوړ نهٔ شی لکه د بعضے خلکو غلط ذهنونه جوړ شوی وی۔

او د تصحیح الاعمال (د عملونو د جوړوالی) کوشش هم کوی نو همداسے کسان د قرآن اهل دی، چه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول په باره کښې ئے عقیده هم سَمه وی او د هغوی د بدن نه ښائسته عملونه راوځی۔ بس دا کامیاب خلك دی نو ددے شپږو صفتونو نتیجه الله بیانوی اولئك علی هدی۔

توضیح الکلمات وفوائدها :

الآخرة : دا د قیامت د نومونو نه یو نوم دے، قرآن کښ د قیامت (۳۳) نومونه دي، یو پکښ دا نوم دے (الآخرة او الآخر) ـ دا صفت د ورځے دے نو اصل کښ (وبالیوم الآخرة) دے، پدے کښ تاء د تانیث دپاره نۀ ده نو ځکه صفت د یوم هم جوړیدے شي ـ دارنګه صفت د (اَلدَّارُ الآخِرَة) هم کیدلے شي ـ

په آخرت باندے مونږ ولے یقین لرو ؟

دوه قسمه دلائل دي یو دلائل سمعیه (چه الله وئیلی دی، دارنګه انبیاء علیهم السلام او پخوانو عقلاؤ، صالحینو خلکو دا وئیلی دی چه آخرت به راځي نو مونږ ئے منو)ـ
د ډیرو خلکو عقیده دا ده چه ورځ د قیامت صرف په نقلي دلیلونو ثابته ده چه قرآن کریم وئیلی دی، انبیاء علیهم السلام وئیلی دی نو ځکه ئے مونږ منو او د انبیاء علیهم السلام او الله تعالیٰ صدق مونږ ته په دلائلو معلوم دےـ او عقلاً څه دلیل نشته د قیامت په راتلوـ
لیکن د آخرت د ثبوت دپاره دلائل عقلیه هم شته دے، د عقل تقاضا هم دا ده چه قیامت به راځي لکه قرآن کریم کښ به الله تعالیٰ د اثبات د آخرت دپاره ډیر دلائل عقلیه پیش کوی، لکه بعضے د هغے نه به سوره ق کښ راشي چه اثبات د آخرت په عقلي امورو سره هم کیږی، د عقل تقاضا هم دا ده چه ورځ د آخرت دِے راشي، د فطرت تقاضا هم دا ده چه دنیا کښ نیکان بندګان او بدان دواړه لګیا دی، کار کوی، ددے دواړو دپاره یوه ورځ پکار ده، چه په هغے کښ د دوی فرق او تفرقه اُوشيـ

﴿ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِي الْاَرْضِ ﴾ (ص: ۲۸)

﴿ اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَآءَ مَايَحْكُمُوْنَ ﴾ (الجاثية : ۲۱)

﴿ اَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ مَالَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴾ (القلم: ۳۵)

او د الله تعالیٰ د قانون تقاضا هم دا ده چه الله تعالیٰ به ضرور فرق کوی په مابین د متناقضینو کښ لکه ځرنګه چه الله تعالیٰ فرق نۀ کوی په مابین د متماثلینو کښـ

د قیامت په ثبوت قرآنی عقلی دلائل

دارنگه د اثبات د آخرت دپاره به پدے سورت کښې نور ډیر دلائل ذکر کیږی (۱) لکه د مړو په راژوندی کولو باندے قیاس کول، (۲) د رَحِمُ نه راوتل، (۳) او د بوټو په زمکه کښې رازغونیدل۔ (٤) او آسمانونه او زمکے پیدا کول۔ (۵) د شنے ونے نه اُور راویستل۔

(۵) د الله تعالیٰ قدرت کامله او علم تام هم دلیل دے۔

(٦) دارنگه د هر شی جوړه شته (وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ) (الذاريات : ٤٩)۔ نو د دنیا جوړه هم پکار ده چه هغه آخرت دے۔

(۷) دارنگه که آخرت ځوک نهٔ منی نو بیا فرق نهٔ رازی د ایمان او د کفر، نیکی بدی، زنا نکاح، او ښه اخلاق او بد اخلاقو ترمینځ۔

(۸) دارنگه د قیامت راتګ د الله تعالیٰ د اسماءِ حُسنیٰ تقاضا ده (وَهُوَ اَحْكَمُ الْحَاكِمِيْنَ) وَهُوَ الْمُعْطِىْ وَالشَّكُوْرُ وَذُو انْتِقَام دے۔ او ددے پوره اثر به په قیامت کښے رابنکاره کیږی۔

(۹) دارنگه قیامت چه ځوك نهٔ منی نو بیا الله تعالیٰ ته نسبت د عبث راځی۔

(وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ) (الانبياء :١٦) ۔

(۱۰) دارنگه د الله تعالیٰ رحمت ډیر فراخه دے او دنیا وړه ده نو آخرت به ضرور رازی دے دپاره چه د الله تعالیٰ د فراخه رحمت نه بندګان پوره فائده واخلی لکه پدے آیت کښې راغلی دی۔ (وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِآيَاتِ اللّٰهِ وَلِقَائِهٖ أُولٰٓئِكَ يَئِسُوْا مِنْ رَّحْمَتِىْ) (العنكبوت :۲۳)۔

(۱۱) دارنگه الله تعالیٰ د ډیر حمد او ابدی حمد مستحق دے او دا په دنیا کښې ممکن نهٔ دے۔ نو ضرور به آخرت راولی چه د الله تعالیٰ پوره حمدونه اُووئیلے شی۔

(۱۲) دارنګه ابتداء د پیدائش د قیامت نښه ده۔

(وَهُوَ الَّذِىْ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ) (الروم :۲۷)

(اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ) (الروم : ۱۱) ۔

(۱۳) دارنګه د اقوام مکذبو هلاکت دلیل د حقانیت د قیامت دے۔

(اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّمَنْ خَافَ عَذَابَ الْاٰخِرَةِ) (هود :۱۰۳)

(اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ) (ق :۳۷)

او د سورة الحاقه په ابتداء کښې دغه خبره شته۔ نور دلائل هم شته۔

د قرامطو مذهب :

د بعضِ قرامطهؤ، باطنیهؤ مذهب دا دے چه د دنیا خوشحالئ او خفگان ته جنت جهنم وائی او یا د فلاسفهؤ او علم هیئت والو مذهب دا دے چه په آسمان کښې تغیر نۀ پیدا کیږی [لَایَقْبَلُ الْخَرْقَ وَالْاِلْتِیَامَ] (هدایة الحکمة) (آسمان خرق او التئام (ماتیدل او جوړیدل) نۀ قبلوی) ځکه چه دا حرکت مستقیم نۀ قبلوی بلکه دا حرکت مستدیر کوی (گرد تاویږی) لکه د ژرندے په شان نو داسو چه دروغ دی، خالق وائی زه به ئے ماتوم ﴿اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ﴾ (انفطار) (اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ) (انشقاق) (یَوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا) (الطور) (یَوْمَ تَکُوْنُ السَّمَآءُ کَالْمُهْلِ﴾ (معارج) (فَاِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَکَانَتْ وَرْدَةً کَالدِّهَانِ) (الرحمن)

الله تعالیٰ فرمائی : چه هر قسم حرکت به ورله ورکړم او دوی وائی چه نۀ ئے قبلوی، (کوم الله تعالیٰ چه ورله حرکت مستدیر ورکړیدے نو هغه ذات به ورله حرکت مستقیم ورکړی نو قیامت به راشی،خو دوی د الله تعالیٰ قدرت نۀ منی)۔

نو دا عقیده باطله ده او زمونږ د دیوبندی او حنفی او بریلوی ډلوپه مدارسو کښې دا عقیدے وئیلے کیږی، استاذ دا کتاب وائی او رد هم پرے نۀ کوی، بلکه تائید ئے کوی، که پدے متن اعتراض اُوشی نو میبذی والا ترے جوابونه شروع کړی چه دا متن صحیح دے او اعتراض د معترض غلط دے، نو ځان پدے خبره کافر کړی او په ځان نۀ پو هیږی، هدایت الحکمت چه د میبذی متن دے په هغے کښې (۱۸) عقیدے د کفر دی، او استاذان ئے وائی او رد پرے نۀ کوی، په غیر شعوری طور سره ځان کندے ته گوزار کړی۔

الآخره : د اهل زیغو طریقه دا ده چه یوه غلطه عقیده جوړه کړی او بیا د قرآن کریم نه د هغے دپاره دلیل نیسی او غلط تحریف کوی، لکه قادیانیان وائی، (الآخرة) صفت د نبوت او رسالت دے، یعنی په آخری نبوت به یقین لری چه هغه میرزا غلام احمد قادیانی دے چه د انگریزانو پیغمبر وو، هغوی رالیږلے وو، نو داسے قسمه تفسیرونه کول بدعت دے، هیڅ عالم په اُمت کښې ندے کړے، اوبله دا چه دا د نورو آیتونو او احادیثو سره ټکراؤ شو۔ او داسے تفسیر کول چه د آیت او حدیث سره ئے ټکراؤ پیدا شی، جائز نۀ دے۔ الله تعالیٰ فرمائی : (وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَ) (الاحزاب:۳۹) رسول ﷺ فرمائی :

[وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ] [ابو داود : ٤٣٥٤، المشكاة كتاب الفتن بسند صحيح]
(زۀ آخرى نبى يم، ما نه روستو هيڅ نبى نشته) او دا د ټولو مسلمانانو عقيده ده۔

فائده: يقين ډيره قوى مرتبه ده، پدے وجه ئے دا د آخرت دپاره بيان كړه، د ډير تاكيد د وجه نه ځكه څومره چه د آخرت استحضار او ويره وى نو دومره به د بنده د عقيدے او د عمل اصلاح كيږى او څومره چه په آخرت باندے ايمان او يقين كمزورے وى او د هغے استحضار كمزورے وى هغومره به عمل كمزورے كيږى۔

لكه دا خبره د لقمان حكيمؒ نه نقل ده۔ فرمائى :

[اَلْعَمَلُ لَايُسْتَطَاعُ اِلَّا بِالْيَقِيْنِ وَمَنْ يَّضْعُفُ يَقِيْنُهٗ يَضْعُفُ عَمَلُهٗ] فتح البارى لابن رجب (۱/٦)

(د عمل طاقت په يقين بناء دے د چا چه يقين ضعيف وى نو عمل ئے هم ضعيف وى)

ددے وجه نه د قرآن كريم د اصلاح طريقه دا ده چه هغه يوه مسئله بيانوى نو اول د آخرت نه بنده اُويروى چه داسے ورځ درباندے راځى چه اے بندګانو تاسو به په هغے كښ الله تعالىٰ ته پيش كيږئ ﴿ وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللّٰهِ ﴾ (البقره : ۲۸۱) نو كله چه د آخرت د ورځے نه خلق اُوويره وى نو بيا مسئله بيان كړى نو په بندګانو باندے اثر كيږى او دغه بيان ضائع نۀ ځى۔ او څوك چه د آخرت د عذاب نه اُويريدو نو كه هر ځائے كښ وى د هغه به اصلاح شوى وى۔ د يقين په وجه انسان ته عملونه آسانيږى۔

د عامو انسانانو اصلاح چه كيږى دا په ويره د آخرت باندے كيږى كه يوه علاقه او ملك كښ ايمان بالآخرت نۀ وى او خلك كوشش كوى چه ددے انسانانو اصلاح ډِے اُوشى نو بالكل ممكن نۀ ده، هسے هر څومره چه قانون مضبوط مقرر كړے شى او توره هر چا له لاس كښ وركړے شى نو بيا هم پوره اصلاح نۀ كيږى او كله چه په يو ملك كښ د آخرت ويره پيدا شى نو په كور كښ به بنده ناست وى او اصلاح به ئے شوى وى، شر به نۀ كوى، د ګناه نه به ځان ساتى،

نو الله رب العالمين چه دے عالَم له دا ترتيب وركړيدے، دا بالكل د حكمت مطابق دے، كه نۀ وى، الله تعالىٰ داسے هم كولے شو چه سړى ګناه كولے، او دنيا كښ ئے ورله عذاب وركولے، دنيا كښ ئے ورسره حساب كولے، خو كمال پدے ترتيب كښ دے نو يقين ډيره اُوچته درجه ده پدے وجه ئے د آخرت سره دا ذكر كړو۔

دا وجه ده عبد الله بن مسعود ﷺ به فرمايل : [اَلصَّبْرُ نِصْفُ الْاِيْمَانِ وَالْيَقِيْنُ الْاِيْمَانُ كُلُّهٗ]

[بخاری : ۱/۵ - فتح الباری] (صبر نیمائی ایمان دے او یقین ټول ایمان دے)

د لفظِ یقین وضاحت :

یقین په لغت کښې سکون ته وئیلے شی. عرب وائی : (یَقَنَ الْمَآءُ) اَیْ اِذَا سَکَنَ (یعنی اوبه په آرام اودریدلے) نو یقین ته هم یقین ځکه وائی چه په ځائے ولاړ وی.تذبذب پکښې نهٔ وی. ۲- سید سندٓ وائی : [اَلْعِلْمُ الَّذِیْ لَاشَكَّ فِیْهِ] (هغه علم ته وائی چه هیڅ شك پکښې نهٔ وی). [روح المعانی]

او په اصطلاح کښې : [سُکُوْنُ الْفَهْمِ مَعَ ثَبَاتِ الْحُکْمِ وَزَوَالِ الشَّكِّ]

(دا هغه علم ته وائی چه پوهه په هغے کښې په آرام وی او ورسره حکم او عقیده مضبوطه وی او شك پکښې نهٔ وی (حاصل معنیٰ د یقین دا ده چه د یو سړی په یو شی باندے علم راشی او بیا دا علم ئے په ځائے اودریږی، شك پکښې نهٔ وی، متذبذب نهٔ وی چه دا خبره به داسے وی او که نهٔ ؟ بلکه عقیده ئے په ځائے ولاړه وی). او یقین صفت د علم دے، د معرفة او درایة نه بره دے، او یقین د شك نه روستو حاصلیږی په دلائلو سره، ددے وجه نه دا د الله تعالیٰ دپاره نهٔ استعمالیږی او نهٔ په هغه علومو کښې استعمالیږی چه د هغے معلومیدل بدیهی او ضروری وی. او د اول نه پکښې شك نهٔ وی.

[الخازن، السراج المنیر، مفردات القرآن للراغب]

۲- [اَلْیَقِیْنُ مَا حَصَلَتْ بِهِ الثِّقَةُ وَثَلَجَ بِهِ الصَّدْرُ] (زاد المسیر ۱/۲۷)

(یقین هغه علم ته وائی چه په هغے سره اعتماد حاصل شی او سینه پرے یخه شی)

۳- منطقیان ئے داسے تعریف کوی : [اِعْتِقَادٌ جَازِمٌ مُطَابِقٌ لِلْوَاقِعِ بِحَیْثُ لَایَزُوْلُ بِتَشْکِیْكِ الْمُشَکِّكِ] (اعتقاد جازم (پوخ) مطابق د واقع سره (یعنی په حق او په رشتیا سره) چه نهٔ زائل کیږی په شك اچولو د شك اچونکو سره).

د یقین درجات :

۱- **عِلْمُ الْیُقِیْن** : چه په یو شی باندے یقین راشی په واسطه د علم سره. الله فرمائی : ﴿ کَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ الْیَقِیْنِ﴾ . **۲- عینُ الْیقیْن** : عین الیقین دیته وائی چه په سترګوئے اووینی. (دے ته یقینِ عَیَان هم وائی). **۳- درجه** : او حق الیقین دیته وائی چه دواړه راجمع شی لکه اول دے په کعبه علم راغے بیا ډے اُولیده بیا نزدے ورغلے نو اول

علم الیقین دے دویم عین الیقین دے او دریم حق الیقین دے۔ او دا دریے واړه قرآن کریم کښې ذکر دي، د چا یقین په یوه درجه کښې وي د چا په بله درجه کښې وي، د بره درجے کوشش پکار دے۔

ددے وجه نه د انبیاء علیهم السلام طریقه دا ده چه د خپل یقین د زیاتوالي کوشش کوي لکه ابراهیم ﷺ او عزیر ﷺ د الله تعالیٰ نه طلب کړیدے۔ لکه دے سورت کښې به روستو راشي (وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ) (۲٦۰) (اَوْ كَالَّذِيْ مَرَّ عَلٰى قَرْيَةٍ) (۲۵۹)

عبد الله بن مسعود ﷺ به داسے وئیل : [اَللّٰهُمَّ زِدْنَا اِيْمَانًا وَيَقِيْنًا وَفِقْهًا] وَفِيْ رِوَايَةٍ [وَفَهْمًا] فتح الباری لابن حجر (۱/٤٨) وعمدة القاری ۱/۸۰۳ وسنده صحیح]

(اے الله ! زما ایمان او یقین او فهم او فقاهت په دین باندے زیات کړه)۔

د یقین د زده کولو طریقے

بیا انسان چه یقین زده کوي نو ددے ډیرے طریقے دي ۱- [اَلتَّفَكُّرُ فِي الْكَائِنَاتِ] یو دا چه بنده دلائل عقلیه او د الله تعالیٰ په هر شي کښې حکمتونو ته سوچ اُوکړي۔

۲- بِمُجَالَسَةِ أَهْلِ الْيَقِيْنِ : خالد بن معدان-رحمه الله- نه نقل دي او دا په یو مرفوع حدیث کښې هم راغلي دي لیکن اسناد ئے معضل دے۔

[تَعَلَّمُوا الْيَقِيْنَ بِمُجَالَسَةِ أَهْلِ الْيَقِيْنِ]

(تاسو یقین زده کړئ د یقین والو سره په کیناستو سره) ۔

[البحر المدید فی تفسیر القرآن المجید لاحمد بن محمد بن عجیبة الحَسَنی]

۳- بِمُوَاظَبَةِ الْعَمَلِ وَالْمُجَاهَدَةِ : (یقین په عملونو باندے همیش والے کول او په هغے کښې مجاهده کولو سره حاصلیږي)

او مرفوع حدیث کښې راغلي دي : [مَا أَخَافُ عَلٰى أُمَّتِيْ اِلَّا ضُعْفَ الْيَقِيْنِ]

(زۀ په امت باندے صرف د یقین د کمزورتیا نه ډیر ویریږم)

(الیقین لابن ابی الدنیا رقم الحدیث : ۹، الطبرانی الاوسط : ۸۸٦۹، شعب الایمان : ۳۰)

یو حدیث کښې راغلي دي : اګر چه سنداً ضعیف دے لیکن معنیٰ ئے د نورو روایاتو نه صحیح ثابته ده [تَعَلَّمُوا الْيَقِيْنَ فَاِنِّيْ لَا أَزَالُ أَتَعَلَّمُهٗ] [ابونعیم فی الحلیة ٦/۹۵) بسند منکر] یقین تاسو زده کړئ ځکه زه همیشه د یقین په زده کولو کښې لګیا یم) ۔ او

حدیث کښې دي : ابوبکر صدیق ﷺ د نبي ﷺ نه نقل کوي :

[وَسَلُوا اللّٰهَ الْيَقِيْنَ وَالْمُعَافَاةَ فَإِنَّهُ لَمْ يُؤْتَ اَحَدٌ بَعْدَ الْيَقِيْنِ خَيْرًا مِنَ الْمُعَافَاةِ]

[صحيح الجامع : ٤٠٧٢، ابن ماجه : ٣٨٤٩،- مسند ابي يعلى : ١٢٤، السنن الكبرى للنسائي : ١٠٧١٨، وكذا في مجموع الفتاوى (٣/٣٠٣)]

(اے خلقو ! د الله تعالیٰ نه یقین او عافیت اُوغواړئ ځکه چه د یقین نه روستو غوره شے د عافیت نه بل نشته)

او دے یقین ته چه بنده اُورسیږی نو بیا د یقین سره لګ عمل کول ډیره فائده ورکوی. او د ایمان د کمزورئ یا د بے یقینئ او د شك سره که ډیر عمل اُوکړی نو فائده نۀ ورکوی، د انسانانو په مراتبو کښې فرق راوستونکے شے یقین دے، یو عمل به ډیر قسم خلق کوی لیکن د بعضو به پرے مرتبه اُوچتیږی او د بعضو دپاره به هیڅ اثر نۀ محسوس کیږی، ددے وجه د یقین ضعف او قوت دے. دابة الارض چه راشی نو هغه به هم دا خبره کوی چه انسانان د الله تعالیٰ په آیتونو یقین نۀ کوی، او قرآن او حدیث هم په یقین پیدا کولو باندے ډیر زور ورکوی.

نو د الله تعالیٰ په ذات او د هغه په دوه قسمه ملاقاتونو چه مرګ دے او بل قیامت کښې (العرض الاکبر) الله تعالیٰ ته پیشی ده، پدے باندے یقین کول فرض دی. نو ځکه ئے دلته ذکر کړو. مرګ خو ډیر نزدے راځی او العرض الاکبر هم نزدے دے خو دا خبره د سړی د ذهن نه زر زر اُوځی نو بنده له پکار دی چه دا بار بار رایادوی.

○ یو مصیبت داسے وی چه سړے ترے په انکار خلاصیږی، بعض مصیبتونو نه انسان په تیښته خلاصیږی نو په انکار یا په تیښته یا په سستوالی سره د الله تعالیٰ د ملاقات نه یا د آخرت نه نشی خلاصیدے، نو هوښیارتیا دا وی چه داسے یو مصیبت راځی او یقیناً راځی نو د هغه دپاره تیارے اُوکړے شی او ددے دپاره فکر کول د عقلاؤ طریقه ده.

فائده : د قرآن کریم طریقه ده چه ډیرو مقاماتو کښې د قرآن او د آخرت جمع کوی لکه (وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ) (انعام : ٩٢) دارنګه (وَاِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَسْتُوْرًا) (الاسراء : ٤٥). سورة الواقعه، الحاقه، التکویر، القیامة کښې هم جمع بین القیامة والقرآن شویده، پدے کښې حکمة دا دے چه دا دواړه مُتَلَازِمَان (د یو بل سره لازم ملزوم) دی او هر یو بل ته فائده ورکوی. فتدبر. او

دا نادره فائده ده رب تعالیٰ په خپل کتاب کښې پدے سره بار بار استدلال کوی لکه چه روستو راځی۔

فائده : پدے آیت کښې تعریض دے چه د دوی ایمان بالآخرة غلط دے۔

اُولٰئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٥﴾
دغه کسان په هدایت دی د طرفه د رب د دوی نه او همدغه کسان هم دوی کامیاب دی۔

تفسیر : دا اُوس نتیجه ده د مخکنو صفاتو۔

(اولئك) دا جمله مستأنفه ده او جواب د سوال دے گویا کښې اُووئیلے شو : [مَاذَا يَحْصُلُ لَهُمْ ؟] (دوی ته به څه حاصلیږی ؟) (بدائع التفسير) یعنی دا صفتونه چه چا کښې راغلل نو څه فائده به ورکړی ؟ نو الله تعالیٰ جواب کوی چه دلته دوه فائدے به اُوکړی :

۱- یو به هغه ته هدایت حاصل شی او دویم فلاح او کامیابی ده ۔ دا یو یو نعمت د دنیا او مافیها نه غوره دے، چه یو هدایت او بل فلاح او کامیابی درله الله درکړی، انجام او عاقبت درله ښه کړی نو ته به د الله تعالیٰ په مخلوقاتو کښې غوره مخلوق شے او د دنیا او آخرت فائدے دِے اُوګټلے او دا حاصلیږی په دغه مذکوره صفاتو باندے دا وو حاصل ددے آیتونو۔

(اُولئك) دا اشاره ده [اَلْمَوْصُوْفِيْنَ بِتِلْكَ الصِّفَاتِ السِّتِّ] ته (یعنی دغه شپږو صفاتو والا خلق)

(علیٰ) کلمه د علیٰ په عربی ژبه کښې د علو (اُوچت والی) دپاره استعمالیږی، که معنوی وی او که ظاهری۔ او علیٰ لفظ ئے راوړو اشاره ده چه دوی د هدایت دپاسه روان دی، ښکاره په هدایت دی، او دا اُوچته درجه ده، دا وجه ده چه (فی هدی) (په هدایت کښې دننه دی) ئے اُونهٔ وئیل۔ ځکه د (فِیْ) په معنیٰ کښې انغماس (ننوتل، جوړوالے) وی نو دا وَهُم کیدو چه کیدے شی چه دوی نه به په طرفونو کښې هدایت پاتے وی، او دوی به په یوه حصه د هدایت کښې وی۔ فتدبر !۔

(هُدًی) : دا لفظ ئے دوباره راوړو حال دا چه په هُدًى لِلْمُتَّقِيْنَ کښې مذکور وو۔ ۱- دپاره د اهتمام د شان د هدایة۔ ۲- یا پدے سره رد دے په مدعی د هدایت باندے چه دغه کسان

حقیقي هدایت والا دي او هسې مدعیان نهٔ دي۔ نو صاحب د تدبرِ قرآن چه دا وئیلي دي چه دلته د هدی نه مراد (نورِ بصیرت او صراط مستقیم دے، نو دا بعید شو۔

﴿مِنْ رَّبِّهِمْ﴾ پدے کلمه کښ فائده دا ده چه یو دعویٰ د هدایت ده او یو حقیقي هدایت دے، هر څوک د هدایت دعویٰ کوي، یهود او نصاریٰ وائي مونږ په هدایت یو۔ (كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصَارىٰ تَهْتَدُوْا) ددے اُمت اهل البدع وائي : مونږ په هدایت یو، نو د (مِنْ رَّبِّهِمْ) فائده دا ده چه دا په حقیقي هدایت باندے روان دي هسې دعویٰ ئے نهٔ ده کړے بلکه د الله تعالیٰ د طرفه چه کوم هدایت راغلے دے او هغه په کوم هدایت راضي دے، دوی په هغه هدایت روان دي۔

او پدے مخکنو صفاتو کښ د چا په یو کښ نقصان دے او د چا په بل کښ نقصان دے، نو دا پوره هدایت والا نهٔ دي، څوك ایمان بالغیب نهٔ لري، چا کښ تقویٰ نشته، څوك د مانځه پابند نهٔ دي، څوك مال لګولو والا نهٔ دي، زکوٰة نهٔ ورکوي، د چا په قرآن باندے سم ایمان نشته، د چا په احادیثو ایمان نشته، د چا په آخرت یقین نشته، پدے یو یو څیز کښ ئے نقصان دے لکه د مشرکانو په ایمان کښ نقصان دے، د فاسقانو په تقویٰ کښ نقصان دے، په مانځه کښ ئے نقصان دے، څوك زکوٰة نهٔ ورکوي او د چا د قرآن کریم په باره کښ غلطي عقیدې دي، ډیرے غلطي نظریے د قرآن په باره کښ شته چه څه ناڅه به وروسته بیانیږي۔ د نبي ﷺ په باره کښ غلطي نظریئے او عقیدې شته، نو دارنګه د یهودو او نصاراؤ د آخرت په باره کښ هم عقیده غلطه ده، د ډیرو یهودو د آخرت په باره کښ عقیده دا ده چه آخرت به راځي خو ارواح به راپورته کیږي بدن به نهٔ راپورته کیږي۔ او د چا دا عقیده وه چه روح او جسد به دواړه راپاځي خو صرف جنت زمونږه دے او دا مونږ ته الله تعالیٰ وقف کړیدے، بل چا له ئے نهٔ ورکوي، جنت صرف او صرف زمونږ ځائے دے۔ دا ټولے عقیدے غلطي دي۔ او صرف دلته مذکور ایمان والا د الله تعالیٰ په نیز صحیح هدایت والا دي۔ کما في تفسیر القاسميؒ۔

فائده : تخصیص د لفظ رب : داسے ئے ونه وئیل چه علی هدی من الله ځکه رب کښ معنیٰ د تربیت پرته ده نو دا هغه خلك دي چه الله تعالیٰ د دوی تربیت کړیدے پدے صفاتو ۔ نو دلته د رب لفظ مناسب دے ځکه چه دا تقویٰ ایمان بالغیب وغیره د تربیت صفات دي، پدے سره د بنده تربیت کیږي نو ځکه الله تعالیٰ د خپل نو مونونه د رب لفظ راوړو۔

﴿ وَاُولٰٓئِكَ ﴾ **فائده** : لفظ د اُولٰئك ئے دوباره راوړو وضع د اسم ظاهر ئے اُوكړه په ځائے د ضمیر، (۱) دپاره د تاكید او اهتمام د شان ددیے ایمان والو۔ (۲) دارنګه اسم اشاره ئے مكرر كړه پدیے كښ اشاره ده چه ددیے خلقو اتصاف پدیے صفاتو سره هر یو ددیے دواړو خصوصیتونو تقاضا كوی او هر یو كافي دی په تمییز راوستو كښ د غیر نه او پدیے تمییز راوستو كښ مجموعه د دواړو ذكر كولو ته محتاج نۀ دی۔ [السراج المنیر]

(هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ) كښ دوه تركیبه دی : ۱- یو دا چه اولئك مبتدا ده او (هم) ضمیر دویمه مبتدا ده، او المفلحون ئے خبر دیے، مبتدا سره د خبر نه خبر واقع شویدیے د اولے مبتداء (اولئك) دپاره۔

۲- دویم تركیب : (هم) ضمیر فصل دیے او كوفین دیے ضمیر ته عِماد (تكیه) وائی۔ د بصرینو په اصطلاح كښ ورته ضمیر فصل وائی دا د مبتدا او خبر په مینځ كښ راځی د تخصیص دپاره (لكه تلخیص المفتاح ص (۱۳) كښ دی [وَاَمَّا فَصْلُهٗ فَلِتَخْصِیْصِهٖ بِالْمُسْنَدِ] یعنی مسند او خبر خاص كول د مبتدا پوریے۔او محل د اعراب نۀ لری۔ لكه ابن حاجبؒ په كافیه كښ وائی : [وَلَا مَوْضِعَ لَهٗ (اَیْ مِنَ الْاِعْرَابِ) عِنْدَ الْخَلِیْلِ] نو دلته معنیٰ دا ده چه همدغه كسان همدوی كامیاب دی۔[یَعْنِیْ لَامُفْلِحِیْنَ سِوَاهُمْ]

(دارنګه دلته مبتدا او خبر دواړه معرفے دی ددیے نه هم حصر معلومیږی) (یعنی دا كامیابی ګویا كښ همدوی پوریے خاص ده، نۀ بل چا پوریے)۔

كه یو بادشاه، یا یو مالدار د كامیابئ دعویٰ كوی، نو دا دعویٰ به ئے غلطه وی بلكه كامیاب صرف او صرف د همدیے صفاتو والا دی، كه عرب دی، كه عجم، كه په یهودو او نصاراؤ كښ دی او كه په مسلمانانو كښ۔

او دا صفات چه چا كښ نۀ وی كه هغه هره یوه ډله ده، دا ناكام دی، ځكه د الله تعالیٰ كار همیشه د صفاتو سره دیے، كه صفات در پكښ وو نو ته مؤمن هم ئے مسلمان هم ئے او اهل السنة والجماعة هم ئے او اهل حدیث هم ئے او دا ټول نومونه ستا دی۔ او كه صفات درپكښ نۀ وی، كه ته شپاړس كرتے ځانته مؤمن مسلمان اهل السنة والجماعة، اهل الحدیث او اهل الحق نومونه كیږدیے نو یو اځے دیے نوم له اعتبار نشته دیے۔

فائده : پدیے كښ تعریض دیے په یهودو چه هغوی كامیابی ځان پوریے خاص كوله نو الله تعالیٰ اُوفرمایل : چه صفاتو له اعتبار دیے، دعویٰ له اعتبار نشته۔

د اَلْمُفْلِحُوْنَ لفظ وضاحت

اَلْمُفْلِحُوْنَ صیغه د اسم فاعل ده او ماخوذ دے د فلاح نه او فلاح په لغت کښ :
۱- (البقاء) ته وئیلے شي یعني باقي پاتے کیدل۔ (قرطبیؒ)
۲- فلح کله په معنیٰ د چاودلو راځي یعني چه د انسان نه مصیبتونه وچوی او لری شي نو دیته فلاح وائي۔او فلاح په عرف کښ مقصد حاصلول او د مصیبت نه بچ کیدلو ته وئیلے شي، او په اصطلاح د قرآن کریم کښ فلاح جنت ته د ابتداء نه داخلیدل او د اُور نه بالکل بچ کیدلو ته وئیلے شي۔ او د فلاح اطلاق په دنیوی نعمتونو باندے صرف دنیا پرست خلق کوی لکه فرعونیانو وئیلی وو۔ (وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ اسْتَعْلٰى) (سورة طه: ٦٤) (احسن الکلام)۔
(فلاح) ابن قُتیبه رحمه الله پدے مقام کښ لیکی : [اَلْفَلَاحُ : اَلْفَوْزُ بِبَقَاءِ الْاَبَدِ] (فلاح هغه کامیابی ده چه سړے همیشه دپاره کامیاب شي۔ انجام د سړی ښهٔ شي۔
۲- دویم ابن ابی اسحاق رحمه الله فرمائي :
[اَلْمُفْلِحُوْنَ هُمُ الَّذِيْنَ اَدْرَكُوْا مَا طَلَبُوْا وَنَجَوْا مِنْ شَرِّ مَا مِنْهُ هَرَبُوْا]
[قرطبی، ابن کثیر، وَقَالَ فِي النکت والعیون وتفسیر ابن ابی حاتم اِنَّهٗ قَوْلُ ابْنِ عَبَّاسٍ]
(هغه کسان دی چه مقصد ته اُورسیدل او د کوم شي د شر نه چه تښتیدل د هغے نه ئے نجات حاصل کړو)۔
یعني فلاح کښ دا دواړه خبرے پرتے دی : د مصیبت نه بچ کیدل او مقصد ته رسیدل نو مفلح هغه بنده ته وائي چه د مصیبت نه بچ شي او د انجام په لحاظ سره کامیاب شي، نو مفلحون دلته هغه کسان دي چه د جهنم نه بچ شول او جنت ته لاړل۔
﴿فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ﴾ [آلعمران : ۱۸۵]
نو دے صفاتو والا به الله تعالیٰ د اُور او د آخرت د عذابونو نه خلاصوی او جنت ته به ئے رسوی او دنیا کښ به هم ورته د انجام په لحاظ سره خوشحالیانے ملاویږی، او فلاح نه ظاهری کامیابی نهٔ ده مراد یعني د دنیا کامیابئ ته یوائے نهٔ وائي ځکه قرآن کریم کښ الله تعالیٰ د مجرمانو نه د فلاح نفی کړیده (اِنَّهٗ لَايُفْلِحُ الْكَافِرُوْنَ) (المؤمنون : ۱۱۷) (اِنَّهٗ لَايُفْلِحُ الظَّالِمُوْنَ) (یوسف : ۲۳) القصص :۳۷) (وَلَايُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ اَتٰى) (طه : ٦٩)
او حال دا چه ډیره دنیا دوی ته ورکړے شویده۔ نو معنیٰ دا ده چه دوی ناکام دی په انجام

کښې۔ آخرت ئې تباه دے۔ د فلاح ظاهری معنیٰ نۀ ده مراد چه نفس کامیابی، چه مثلًا انسان پیسے اُوګټی یا په چا باندے په یو بحث کښې غالبه شی یا په یو ځائے کښې څوك دوکه کړی دا هسے غلطه معنیٰ ده۔

[لَنْ يُّفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً] کښې هم دغه معنیٰ پرته ده۔ [بخاری : ٤٤٢٥]

قرآن کښې د فلاح لفظ (٤٠) کرته ذکر شویدے۔

د فلاح اسباب

فلاح او کامیابئ ته د رسیدو دپاره الله تعالیٰ ډیر اسباب ذکر کړیدی چه بعض دا دی :

١ – اول سبب : اَلتَّوْبَه : لکه ﴿وَتُوْبُوْا إِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ (النور:٣١)

٢ – اَلتَّقْوىٰ : لکه ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾ (البقرة :١٨٩)۔

٣ – اَلتَّزْكِيَة : (د هر قسم ګناهونو نه ځان پاکول) لکه ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا﴾ (الشمس) او ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى﴾ (اعلیٰ) .

٤ – اَلْإِيْمَانُ الصَّحِيْحُ : دے آیت نه هم معلومیږی او سورة المومنون (١) کښې هم راځی ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾

٥ – اِتِّبَاعُ الرَّسُوْلِ ﷺ : (د محمد رسول الله ﷺ تابعداری کول) لکه ﴿فَالَّذِيْنَ آمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِىْ أُنْزِلَ مَعَهٗ أُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾ (الاعراف :١٥٧)

د فلاح نه د محرومیدو اسباب :

اسباب د نفی د فلاح هم شته یعنی هغه اسباب چه الله تعالیٰ په هغے باندے د فلاح نفی کړیده، شپږ اسباب دی په یو لس ځایونو کښې :

١ – اول سبب : ظلم : (ظلم چه چا کښې راشی هغه انسان ناکام شو، اګرکه ډیر مال جائیداد ورسره وی) لکه ﴿إِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُوْنَ﴾ (الانعام : ٢١)

٢ – جرم : یعنی نافرمانی، او مجرم کیدل لکه ﴿إِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُوْنَ﴾ (یونس : ١٧)

٣ – السحر :(جادو کر خلك ناکام دی) لکه ﴿وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُوْنَ﴾ (یونس : ٧٧)

٤ – سبب : اَلْإِفْتِرَاءُ عَلَى اللّٰهِ : (په الله تعالیٰ باندے چه څوك دروغ جوړوی هغه

ناکام دی) لکه ﴿ اِنَّ الَّذِیۡنَ یَفۡتَرُوۡنَ عَلَی اللّٰہِ الۡکَذِبَ لَا یُفۡلِحُوۡنَ ﴾ (یونس :٦٩)

٥- پنځم : اَلْاِرْتِدَادُ : (کله چه سړے مرتد شی، د الله تعالیٰ د دین نه واوړی) اوکوم حق ئے چه زده کړے وی او بیا ئے د مصیبت د وجه نه پریږدی. لکه اصحاب الکهف خپل مابین کښ یو بل ته وائی ﴿ وَلَا یُشۡعِرَنَّ بِکُمۡ اَحَدًا، اِنَّهُمۡ اِنۡ یَّظۡهَرُوۡا عَلَیۡکُمۡ یَرۡجُمُوۡکُمۡ اَوۡ یُعِیۡدُوۡکُمۡ فِیۡ مِلَّتِهِمۡ وَلَنۡ تُفۡلِحُوۡۤا اِذًا اَبَدًا ﴾ (کهف : ٢٠)

٦- الکفر :(کافر انسان ناکام دے). لکه ﴿ اِنَّهٗ لَا یُفۡلِحُ الۡکٰفِرُوۡنَ ﴾ (المؤمنون : ١١٧)

د مومنانو صفات

د مؤمنانو تردے ځائے پورے دا صفات بیان شو او قرآن کریم کښ نور صفات هم ذکر دی چه هغه تهول راجمع کړی او احادیث هم ورسره ملګری کړی نو دا (٧٧) اُوه اویا صفات جوړیږی. چه دیته شعب الایمان وائی. او په قرآن کریم کښ اُوګوره سورة البقره آیت (١٧٦) ﴿ لَیۡسَ الۡبِرَّ ﴾ کښ ئے لس صفات راوړی دی، پنځه د عقیدے او پنځه د اعمالو. سوره آل عمران (١٧) آیت کښ د مؤمنانو نور صفات ذکر دی.

او په آخری رکوع کښ دی :﴿ اِنَّ فِیۡ خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ – الآیة ﴾

او سوره انفال (٢،٣) آیت کښ او په آخره کښ بیا راوړی ﴿اِنَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا وَالَّذِیۡنَ هَاجَرُوۡا وَجَاهَدُوۡا فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰہِ وَالَّذِیۡنَ اٰوَوۡا وَّنَصَرُوۡا ﴾ او سورة توبه آیت (١١١) کښ ئے لس صفات راوړی دی. دارنګه سوره یونس (٦٢) آیت. او سوره رعد (١٩) کښ او سوره حج (٣٤) او د سورة المؤمنون په اول کښ (١٤) صفتونه دی، اُوه صفتونه اول کښ دی او (٧) اُوه په مینځ (آیت ٥٧) کښ راوړی دی.

او د سورة الفرقان آخرنئ رکوع کښ بیا (١٤) صفات ذکر کړی دی. سورة الذاریات (١٥) او سورة الطور(٣٥) کښ درے صفات دی. سورة المعارج آیت (٣٢) کښ.

بعض مفسرینو دا دعویٰ کړیده چه قرآن کریم کښ چه څومره صفتونه ذکر دی، ته کولے شی چه پدے (٦) شپږو صفاتو کښ ئے راګیر کړے ځکه سورة البقره فُسۡطَاطُ الۡقُرۡاٰن (د قرآن خیمه) ده. یعنی دا شپږ صفات اصولی دی.

فائده : دلته شپږ صفات ولے خاص کړے شو؟ (١) پدے کښ یو تعریض دے په یهودو باندے چه هغوی کښ دا صفات نهٔ وو او دعویٰ ئے کوله.

(٢) د اهتمام د وجه نه ځکه چه دا صفات کمال ډیر لری، ځکه تقویٰ ملاك الحسنات

ده او ایمان اساس (بنیاد) د اعمالو دے او مونځ تنهی عن الفحشاء والمنكر دے (یعنی خلق د بے حیائی او بدو نه منع کول کوی) او انفاق د دنیا محبت زائل کوی کوم چه سر د هر بے گناه ده۔ او ایمان په ټولو کتابونو تعصب او حسد زائله کوی کوم چه د هر بے بیماریٔ جرړه ده او یقین په آخرت باندے باعث دے په هر خیر او منع کونکے دے د هر شر نه۔ (ابو محمد امین)

فائده : عظمة القرآن بیان شو دپاره د تشویق (یعنی خلقو ته شوق ورکولو) او صفات د اهلِ قرآن بیان شو دپاره د براعة الاستهلال۔

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ
یقیناً هغه کسان چه کفر ئے کړیدے (په ضد او عناد سره) برابره ده په دوی باندے
ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٦﴾
که یره ورکوے دوی لره یا یره نۀ ورکوے دوی لره، ایمان نۀ راوړی۔

تفسیر : دلته اُوس هغه دویم فریق بیانوی، کوم چه مغضوب علیهم دی۔

دلته څو خبری بیانیږی (۱) مناسبت ددے آیت د مخکښ سره (۲) بحث : ددے آیت کریمه عنوان او حاصل چه څه خبره پکښ ذکر ده۔ (۳) دریم وضاحت د الفاظو د آیت۔

البحث الاول : مناسبت : ۱-مخکښ د مؤمن حال بیان شو نو دلته د کافر حال بیانوی او دیته مناسبت بالتضاد وائی۔ مخکښ د قرآن نه فائده اخستونکی ذکر شو، اُوس نه اخستونکی ذکر کیږی د عناد او ضد او بد بختیٔ د وجه نه۔

۲- دارنگه سورت کښ موضوع د ایمان بیانیدله نو اُوس د ایمان مقابل شے ذکر کوی چه کفر دے یعنی مخکښ د ایمان فائده بیان شوه اُوس د ترك ایمان نقصان بیانیږی چه دنیا او آخرت ئے بربادیږی۔ ځکه قرآن پوره علاج کوی انسان ته تخلیه او تحلیه دواړه ورښائی چه ایمان باندے ځان ښائسته کړه او د کفر نه ځان خالی کړه نو مخکښ تحلیه وه دلته تخلیه ده، (د گندونه د ځان نه صفا کول)۔ او د قرآن کریم طریقه دا ده چه د مؤمن حال سره د کافر حال، د قیامت سره د دنیا حالت او د خالق سره د مخلوق او د جنت سره د

جهنم حالت بيانوي ځکه چه قرآن کريم مثاني کتاب دے چه اضداد بيانوي او دا قانون هم دے چه [اَلْاَشْيَاءُ تَتَبَيَّنُ بِاَضْدَادِهَا] يو شے د ضد په وجه ښه واضحه کيږي)- ددے وجه نه عمر فاروق ﷺ به فرمائيل :

[اِنَّمَا يَنْقُضُ الْاِسْلَامَ عُرْوَةً عُرْوَةً مَنْ لَّمْ يَذُقْ مَرَارَةَ الْجَاهِلِيَّةِ]

[مجموع الفتاوى (٣/٢٦٣) (التفسير والمفسرون، منهاج التأسيس والتقديس، مختصر منهاج السنة (١/٢٧١)]

(چا چه د جاهليت تريخوالے ندے څکلے نو د هغه نه به د اسلام يو يو حکم ماتيږي) ځکه چه دے د اسلام په خوند نهٔ دے پوهه شوے او د اسلام په خوند هغه څوك پوهيږي چه د شرك او کفر تريخوالے او نحوست ئے معلوم کړے وي-

٣- دارنګه د الله تعالیٰ دوه قسمه صفات دي، د رحم او د غضب نو مخکښ د رحم صفت مَظْهَر بيان شو چه ايمان والا دي او دلته د غضب د صفت مظهر بيانوي چه کفار دي- نو د الله تعالیٰ دواړه صفتونه دلته جمع شو-

يا داسے تعبير اُوکړه : د الله تعالیٰ دوه قسمه صفات دي (١) انعام (٢) او انتقام- نو پدے آيتونو کښ ئے د هر يو دپاره مظهر ذکر کړو-

٤- د قرآن کريم اسلوب دا دے چه ترغيب او ترهيب جمع کوي نو مخکښ ترغيب وو، اُوس ترهيب بيانوي- ٥- مخکښ رجاء اُوس خوف دے، نو پدے دواړو کښ خوف او رجاء پيدا کول مقصود دے- ٦- يا مخکښ د ايمان والو حال بيان شو نو سوال پيدا شو چه ددے نورو خلقو حال به څه وي ؟ نو جواب اُوشو چه ان الذين کفروا الخ-

دويم بحث : عنوان او حاصل د آيت : پدے آيت کريمه کښ الله رب العزت د دويمے ډلے مغضوب عليهم (کافرانو) درے قبيح (بد) صفتونه راوړي، سره د توبيخ (رټنے) او عيب ورکولو نه- ١- اول قبيح صفت : کفر کول- ٢- دويم: عَدَمُ تَأْثِيرِ الدَّعْوَةِ (په دوي دعوت تاثير نهٔ کوي) خپله هم نهٔ پوهيږي او د بل هم نهٔ اَوري-

٣-دريم : (لا يؤمنون) د ايمان اراده ئے هم نشته دے- په راتلونکي زمانه کښ هم دا اراده نهٔ لري چه روسته به ځان جوړ کړو- بيا په روستو آيت کښ د هغوي دوه عذابونه بيانوي، يو ديني دنياوي عذاب چه هغه اصل کښ په دنيا کښ د دين عذاب دے چه هغه د دوي په اسبابو د هدايت باندے ختم او مهر وهل دي- او دويم اُخروي عذاب دے چه

هغه عذاب عظیم دے۔

دریم بحث : توضیح الکلمات والفوائد :

(اِنَّ الَّذِيْنَ) : کلمه د ان د تحقیق او تاکید دپاره راځی۔ (د تحقیق معنی دا ده چه دا خبره ثابته او یقینی ده) نو ددے لفظی معنی داسے کیږی : په تحقیق سره او حاصل معنیٰ ئے یقیناً سره کیږی۔

بیا دلته مشهور **سوال** دے۔ چه دلته وائی : کافران ایمان نۀ راوړی، او حال دا چه ډیرو کافرانو ایمان راوړے دے؟۔ ۱- **جواب** : دا دے چه [هٰذَا فِیْ قَوْمٍ مَخْصُوْصِیْنَ، عَلِمَ اللّٰهُ كُفْرَهُمْ] [بدائع التفسیر] (ددے آیت الفاظ عام دی مگر مصداق ئے خاص کفار دی چه هغه الله تعالیٰ ته معلوم وو، چه دوی به په کفر مری) لکه ابوجهل، ابولهب، عتبه، شیبه، ولید، کعب بن الاشرف او ابن ابی الحُقَیق او حُیَیٌ بن اَخْطَب وغیره۔ چه دوی ازلی بدبخته دی، دا تفسیر دومره تشفی نۀ کوی، ځکه فائده ئے ډیره نۀ ښکاره کیږی۔

۲- بل **جواب** دا دے چه ابن جریرؒ او ابن کثیرؒ وغیره مفسرینو وئیلی دی چه دلته هغۀ خلق مراد دی [اَنْكَرُوا الْحَقَّ عِنَادًا] یعنی چه د ضد او عناد په وجه کفر کوی او قرینه پرے روستو سواء لفظ دے چه دوی باندے بیان تاثیر نۀ کوی ځکه ضد کښ راغلی دی۔

۲- دویمه قرینه د سورة لقمان (٦) آیت دے (وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ آيٰتُنَا وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا) (کله چه پرے آیتونه لوستلے شی نو د تکبر د وجه نه اَوړی)

۳- دارنګه (اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ آيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ) (یونس : ٩٦،٩٧)

٤- د عنادګرا اهل کتابو په باره کښ فرمائی : (وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ آيَةٍ مَا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ) (البقرة : ١٤٥) نو ګویا کښ کافر دوه قسمه شو یو عنادی کافر او بل جهلی کافر، عنادی کافر که په حق ښه پوهه هم شی نو ایمان نۀ راوړی او جاهل کافر ته چه کله صحیح دعوت اُوشی او په هغه کښ انابت وی نو هغه ته الله تعالیٰ هدایت کوی۔

او ضدیان همغه شان په کفر باندے مړۀ کیږی۔ ځکه انابت والو ته الله تعالیٰ هدایت کوی، نۀ متعصبینو ته۔ نو کوم صحابه کرامو چه ایمان راوړو نو دوی کښ انابت وو، او عناد نۀ وو۔

عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ به غوختل چه ټول خلق په

اسلام کښې داخل شي نو الله تعالیٰ هغهٔ ته خبر ورکړو چه ایمان به هغه خلق راوړي چه د چا دپاره نیك بختي لیکلې شویده، او چا دپاره چه بد بختي لیکلې شویده، هغوی به همدغه شان ګمراهان وي. (ضد به کوي) [ابن کثیر ۱/۱۷۲) وتیسیر الرحمن]

د کفرلفظ وضاحت :

د کفر ماده قرآن کریم کښې (۵۲۵) کرته راغلې ده. د ایمان په مقابله کښې راځي.

د کفر لغوی معنی : کفر په لغت کښې ستر(پټوالی) ته وائي لکه کفار کله زمیندار ته هم وائي، پدې وجه چه هغه تخمونه په زمکه کښې پټوي [أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ] [الحدید: ۲۱] (بناء په یو تفسیر) او کافر ته هم کافر ځکه وائي چه دهٔ د خپل معبود حقیقت پټ کړے دے.

د کفر اصطلاحي معنیٰ : **تعریف الکفر** :

۱- بعض متکلمین ئې داسې تعریف کوي : [هُوَ الْإِنْكَارُ عَمَّا جَاءَ بِهِ النَّبِيُّ ﷺ وَعُلِمَ بِالضَّرُوْرَةِ] (انکار کول دي د هغه خبرے نه چه رسول الله ﷺ راوړے ده، او هغه خبره بالبداهت معلومه وي). ددے نه دا معلومه شوه چه صرف انکار کفر دے، په نور څه سره کفر نه راځي. او حال دا چه د اقسامو د کفر نه معلومیږي چه دا تعریف د یو قسم کفر دے. کفرونه ډیر قسمه دي، بعضو کښې بغیر د انکار نه بنده کافر وي.

۲- راجح دا ده : [إِنَّ الْكُفْرَ يَقَعُ بِثَلَاثَةِ أُمُوْرٍ: بِالْإِنْكَارِ بِاللِّسَانِ وَبِالْعَمَلِ أَحْيَانًا كَالسُّجُوْدِ لِغَيْرِ اللّٰهِ وَالْإِسْتِهْزَاءِ بِالشَّرِيْعَةِ وَبِالْقَلْبِ جُحُوْدًا وَعِنَادًا وَنِفَاقًا]

(کفر په درے څیزونو سره واقع کیږي، (۱) انکار په ژبه سره (۲) او کله په عمل کولو سره لکه غیر الله ته سجده کول، او شریعت پورے استهزاء کول، او شریعت ته ظالمانه قانون وئیل. (۳) او کله کفر په زړهٔ سره وي.

اقسام الکفر :

بیا کفر په دوه قسمه دے (۱) کفر اصغر (وړوکے کفر) دا مخرج عن الملة نهٔ دے، انسان پرے د اسلام نه بالکلیه نهٔ وځي. لکه حدیث کښې دي : [وَقِتَالُهُ كُفْرٌ] (د مسلمان سره جنګ کولو ته ئې کفر وئیلے دے) دارنګه [أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيْهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا] [صحیح بخاری : ۶۱۰۴، مسلم : ۲۲۵] (چا چه خپل رور مسلمان ته اُووئیل:

اے کافره ! نو پدے به یو ددے دواړو اخته کیږی)۔ دارنګه حدیث دے :
[وَمَنْ أَتَى امْرَأَةً فِيْ دُبُرِهَا فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ ﷺ] [ترمذی: ۱۳۵، صحیح]
(چا چه خپلے ښځے سره په شا طرف کښے راتلل وکړو نو دهٔ کفر وکړو په هغه دین باندے چه په محمد ﷺ باندے نازل کړے شویدے)۔
او دا کلمه د احسان ناشکرئ دپاره هم استعمال شویدے لکه حدیث دے [وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ] [بخاری: ۳۰٤] (زنانه د خاوند د نعمتونو کفر یعنی ناشکری کوی او احسان فراموشی کوی) او دیته کفر حکمی او کفر دون کفر وائی۔
۲- دویم کفر اکبر دے او دا مُخْرِجُ عَنِ الْمِلَّة دے، د انسان ذبیحه ناجائز کوی، او ددهٔ پسے مونځ کول ناجائز وی۔ او ددے بیا ډیر انواع دی۔

اقسام الکفر الاکبر

(۱) اول کفر : كُفْرُ الْإِنْكَار دے لکه د دهریه ؤ کفر دے چه د الله تعالیٰ او د آخرت هرڅه نه منکر دی۔ ۲- دویم قسم : كُفْرِ جُحُوْد دے چه یو سړے یو شے ښه پیژنی، په خبره ښه پو هیږی خو منلو ته ئے تیار نهٔ دے لکه کفر د ابلیس او ابو طالب اوفرعون او د یهودیانو۔
ابو طالب به وئیل :

وَلَقَدْ عَلِمْتُ بِأَنَّ دِيْنَ مُحَمَّدٍ	❁	مِنْ خَيْرِ أَدْيَانِ الْبَرِيَّةِ دِيْنَا
لَوْلَا الْمَلَامَةُ أَوْ حَذَارِيَ سُبَّةً	❁	لَوَجَدْتَنِيْ سَمْحًا بِذَاكَ مُبِيْنًا

(۱- یقیناً ماته ښه پته ده چه د محمد (ﷺ) دین حق او غوره دین دے۔ ۲- کچرته د ملامتیا نه نه ویریدے یا د کنځلو ویره نه وے خلك به راپسے خبرے کوی نو ما به ددے دین ښکاره تابعداری کړے وے) ۔ اکثر خلك د لَوْ مَةَ لَائِم نه ویریږی چه خلك به راته وهابی او غیر مقلد اوے دینه وائی ځکه حق منلو ته تیار نهٔ وی۔ والله المستعان۔
فرعون باره کښ راځی : ﴿ وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ﴾ [النمل : ۱٤]
۳- كُفْرُ النِّفَاق : چه په ژبه اقرار کوی خو زړه کښ منکر وی۔ یقین ئے نهٔ وی۔
٤- كُفْرُ الشِّرْك : چه الله او رسول او ټول ایمانیات منی لیکن د الله تعالیٰ سره شرك کوی، برخه داران ورسره جوړوی۔ لهذا هر مشرك کافر دے او هر کافر مشرك نهٔ دے۔ او دا

په سورة آلعمران آیت (۸۰) کښې استعمال دے (أَيَأْمُرُكُم بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ)

۵- پنځم : كُفْرُ الْإِنْكَار مِنْ آيَاتِ اللّٰهِ تَعَالىٰ :

د الله تعالىٰ د آیاتونو نه انکار کول لکه الله تعالیٰ، بعض ملائك او بعض رسولان خو منی لیکن د الله تعالیٰ بعضے نبیے نهٔ منی۔ لکه د نن زمانے یهود او نصاریٰ چه د قرآن او د محمد رسول الله ﷺ د نبوت نه منکر دی۔

بیا کفر په دوه قسمه دے (۱) کفر جهالة۔ ددے حکم دا دے چه په آخرت کښې به ورله عذاب نهٔ وی مګر هله چه حجت پرے قائم کړی۔

(۲) دویم کفر عنادی او کفر عَنْ عِلْمٍ ۔ (یعنی په ضد او بنه په پوهه سره کفر کول) او ددے حکم دا دے چه په دے سره به د دنیا او د آخرت عذاب وی۔

په قرآن کریم کښې د کفر معانی :

قرآن کریم کښې کفر په مختلفو معنو سره استعمال دے :

۱- اوله معنی : اَلْجُحُوْدُ (اَلْإِنْكَارُ) جَهْلاً : (انکار کول د جهالت د وجه نه) لکه ﴿ وَكَانُوا يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ (البقرة : ۸۹)

۲- الشرك۔ لکه ﴿ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللّٰهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتًا ﴾ (البقرة : ۲۸)

۳- کتمان الحق، (حق پټول) لکه ﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ ﴾(البقرة : ۱۶۱)

٤- کفر په معنی د ناشکری سره لکه ﴿ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ ﴾ البقرة: ۱۵۳)

او سوره ابراهیم (۷) آیت ﴿ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِن كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ ﴾

۵- اَلنِّفَاق : لکه ﴿ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ (آلعمران : ۱۵۶)

۶- تَرْكُ الْعَمَلِ بِالدِّيْنِ : (په دین باندے عمل نهٔ کول) دا هم یو نوع کفر دے بلکه د کفر یو خصوصی جزء دے۔ لکه : ﴿ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللّٰهِ ﴾(آلعمران : ۷۰) ددے معنی ده لِمَ تَتْرُكُوْنَ الْعَمَلَ بِآيَاتِ اللّٰهِ۔(تاسو د الله په آیتونو عمل ولے پریدئ)

۷- اَلْاِرْتِدَادُ : (د دین نه اوړیدل) لکه: ﴿ كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ﴾ (آلعمران : ۸۶) اَیْ اِرْتَدُّوْا ۔

۸- اَلتَّوَلِّیْ عَنِ اتِّبَاعِ الرَّسُوْلِ : (د رسول الله ﷺ د تابعداریٔ نه اَوړیدل) او دا اَوړیدل دوه قسمه دی، یو دا چه منی ئے لیکن عمل پرے نهٔ کوی، دا صرف ګناهګار دے، یو د هغے نه انکار، نفرت او خوند نهٔ ورکول او د هغے پورے توقے کول دی۔ دا کفر دے ۔

لکه ﴿قُلْ أَطِيعُوا اللّٰهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ﴾ (آلعمران : ۳۱)۔
۹- سحر : لکه ﴿وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ﴾ (البقرة : ۱۰۲، ۱۰۳)
۱۰- نفس انکار د حق نه لکه دے آیت کښې شو ﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ﴾
۱۱- اَلسَّتْر : (پټول) لکه (أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ) (الحديد : ۲۱)۔

د سواء لفظ وضاحت :

لفظ د سواء قرآن کریم کښې (۲۷) کرته راغلے دے او په دوه معنو استعمال دے۔
۱- اکثر ځایونو کښې په معنیٰ د برابر والی دے۔ نو د سواء معنیٰ ده [اِسْتَوَتْ حَالُهُمْ]۔ (د دوی حال برابر دے که دعوت ورته اُوشي او که اُونهٔ شي په همدغه یو حال وی) او دا د کافرو صفت دے چه د بیان نه مخکښې او روستو یو شان وی، هیڅ اثر پرے نهٔ کوی بلکه لا ضد او فساد او ورانے ئے زیاتیږی۔ او هر چه مؤمن دے نو هغهٔ ته وعظ او نصیحت ضرور فائده رسوی۔ (وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِينَ) (الذاريات :۵۵)
مؤمن کله غافل وی نو په بیان سره متوجه شي او سمدست عمل شروع کړی او که فکرئے وی نو اراده ئے مضبوطه شي۔
۲- سواء په معنیٰ د وسط (مینځ) سره لکه ﴿فَاطَّلَعَ فَرَآهُ فِي سَوَاءِ الْجَحِيمِ﴾ (الصّٰفّٰت : ۵۵) اَیْ وَسْطَ الْجَحِيمِ ۔ او ﴿فَاعْتِلُوهُ إِلٰى سَوَاءِ الْجَحِيمِ﴾ (الدخان :۴۷)
فائده : سواء علیك ئے اُونهٔ وئیل ځکه چه رسول الله ﷺ به ضرور دعوت کوی، په هغهٔ باندے دعوت فرض دے، برابره ده، خلق ایمان راوړی او که نهٔ، او هغهٔ ته الله تعالیٰ په دعوت باندے اجر ورکوی، اگرکه ځوك ایمان رانهٔ وړی۔ یعنی مؤمن به هر قسم کفارو ته دعوت جاری ساتی اگرکه عنادی وی۔ ځکه دعوة خو د اقامة الحجة دپاره کیږی۔ او د بنده ذمه واری سر ته رسیږی۔

د انذار لفظ وضاحت :

لفظ د انذار قرآن کریم کښې (۱۲۶) کرته راغلے دے۔ انذار وئیلے کیږی [اَلْإِعْلَامُ مَعَ التَّخْوِيفِ عَلٰى مَهَلٍ] ته یعنی خبر ورکول سره د یرے نه خو مهلت به پکښې وی، یعنی داسے به وئیلے شي چه چا توحید اُونهٔ منلو نو اُور ته به ځی خو سمدست نه بلکه لږ وخت پکښې وی، یعنی پس د مرگ نه۔
او که اعلام ورسره نهٔ وی نو هغه صِرف تخویف دے۔

حکمة : انذار ئے راوړو او بشارت ئے رانۀ وړو، داسے ئے اُونۀ وئیل : [أَبَشَّرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُبَشِّرْهُمْ] (یعنی که زیرے ورکړے او که ورئے نکړے). ددے ډیرے فائدی دی : ۱- یوه فائده دا ده چه دلته بحث د کافرو شروع دے، او د هغوی د حال سره بشارت مناسب نۀ دے. ځکه د نافرمانو ته څوك زیری نۀ ورکوی. بلکه یره ورکول پکار دی چه منع شی.
۲- فائده : [اَلْإِنْذَارُ اَشَدُّ تَاثِيْرًا فِي الدَّعْوَةِ مِنَ الْبِشَارَةِ]
(په دعوت کښ د انذار تاثیر ډیر وی)

﴿لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ د مضارع صیغه ئے راوړه، پدے کښ اشاره ده چه فی الحال هم ایمان ته تیار نۀ دی او آینده کښ ئے اراده هم نشته. نو ځکه دا بیل صفت دے، او کفرئے بیل صفت دے، کفر پکښ فی الحال پروت دے او لا یؤمنون د ایمان اراده ئے هم نشته، نو دا ډیر ناکاره دی، یو انسان فی الحال کافر دے، خو داسے وائی چه که ما ته ددے دین حقانیت معلوم شو نو زۀ ئے منم نو دا نسبةً د الله تعالیٰ خوښ وی او دۀ ته غالباً هدایت هم کیږی.

دارنګه کله مخکښ یو انسان شکی وی روستو بیا فکر اُوکړی نو جوړ شی او دوی په یو ضد ولاړ دی. ۲- او په لایؤمنون کښ د دوی عقوبت او سزا ته هم اشاره ده چه هرکله دوی د حق نه انکار اُوکړو نو الله تعالیٰ ورله د ایمان توفیق ورنکړو. نو په آیت کښ بندګانو ته یره پرته ده چه د حق د خلاف او د عناد او انکار په وجه چرته د ایمان نه محروم نۀ شئ.

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ط وَعَلٰى اَبْصَارِهِمْ
مهر وهلے دے الله تعالیٰ په زړونو د دوی او په غوږونو د دوی، او په سترګو د دوی باندے
غِشَاوَةٌ وَّلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۷﴾
ناشنا پردے دی، او دوی دپاره عذاب لوی دے.

تفسیر : په مخکنی آیت کښ د کافرو باره کښ چه کوم حکم بیان شو چه دوی ایمان نۀ راوړی نو پدے آیت کریمه کښ د هغے علت بیانوی او هغۀ امور ذکر کوی چه د

هغوی دپاره د ایمان نه مانع وو۔ نو معنیٰ دا ده : (اِذْ خَتَمَ اللّٰهُ) ایمان ځکه نهٔ رواړی چه الله تعالیٰ پرے مهر وهلے دے۔ دا توجیه د بعض علماؤ ده لیکن دا صحیح نده ځکه د ختم علت کفر عناداً کول دی او ختم خو سزاد کفر ده، علت د کفر ندے بیا خو اعتراض راځی چه الله تعالیٰ اوّلا مهر وهلے دے بیا خلقو کفر کړیدے او حال دا چه خلق اوّلا کفر کوی بیا عقوبةً ختم او مهر پرے الله تعالیٰ لګوی فتدبر۔

(۲) دویم وجه (اِذْ) لفظ راوخکل خلاف الظاهر دی نو صحیح دا ده چه دلته اُوس سزا بیانوی د کفر عنادی ځکه الله تعالیٰ په ګناهونو عقوبات مقرر کړیدی، کله مالی، کله بدنی کله بچو وغیره کښې نو کله دینی عقوبات وی نو د دین او هدایت اسباب د انسان نه اخستل ډیر سخت عقوبت او سزاده۔ والعیاذ بالله۔

یو شاعر ابو الفتح البستی المتوفیّٰ (۴۰۰ هـ) وائی :

وَكُلُّ كَسْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَجْبُرُهٗ	❁	وَمَا لِكَسْرِ قَنَاةِ الدِّيْنِ جَبْرَانُ

د هر ماتیدلو جبیره شته او د دین د ماتیدلو جبیره نشته۔

نو پدے آیت کښې الله تعالیٰ دوه قسمه سزاګانے د دوی ذکر کوی یو د دوی په زړونو مهر وهل او بل عذاب عظیم ورکول۔ یوشی باندے چه مهر اُولګی نو ددے مطلب دا وی چه دے نه به نهٔ څه اُوځی او نهٔ به د بهر نه څه ورداخلیږی نو د کافرانو همدغه حال دے چه په کفر او ضلالت او ګناهونو باندے د اصرار او د پلار نیکه په تقلید باندے د انهماك، او د غور او فکر د صحیح لارو نه د اعراض په وجه الله تعالیٰ د هغوی د زړونو داسے حالت جوړ کړو چه اُوس وعظ او نصیحت په دوی باندے هیڅ اثر نهٔ کوی او حقه خبره د هغوی په زړونو کښې نهٔ داخلیږی او کفر د هغوی د زړونو نه نهٔ اُوځی۔ د هغوی د زړونو نه د حق د قبلولو استعداد ختم شو۔ په سترګو باندے ئے پردے راغلے چه د هر فائده مند شی د لیدلو نه مانع دی، کائناتو کښې د الله تعالیٰ د ربوبیت نښے نښانو لیدلو نه محروم شو، د هغوی غوږونه د حق خبرے اوریدلو ته تیار نهٔ دی۔

سوال : هر کله چه الله تعالیٰ په دوی باندے مهر اُووهلو نو بیا سزا ولے ورکوی ؟ لکه ډیر دهریه او منکرین تقدیر، د الله تعالیٰ په تقدیر داسے سوال کوی چه دا خو ظلم دے؟۔

جواب : ۱- جَزَاءً لِكُفْرِهِمُ السَّابِقِ : یعنی دا ختم د هغوی د مخکنی کفر سزاده) بنده

لـه الله تعالیٰ د ګناه نه مخکښې سزانهٔ ورکوی بلکه د ګناه په وجه سزا ورکوی، دوی کښې دا بـد عـملیانے او ضدونه پیدا شو، کفرئے اختیار کړو نو الله تعالیٰ پرېے فیصله اُوکړه چه ځـه ! تـه د هدایت نه محرومه شوے، ځان دِے پخپله کندے ته ګوزار کړو، نو پدے کښې هیڅ قسم ظلم نشته۔ لکه بل آیت کښې دی : (بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ) (النساء :۱۵۵) (الله تعالیٰ د دوی د کفر په وجه په دوی باندے مهر اُووهلو)۔

دوی تـه چـه کـوم صـلاحیتـونـه ورکړے شوی وو نو هغه ئے په صحیح ځائے استعمال نکړل او د خپل رب معرفت ئے حاصل نکړو بلکه د خواهشاتو دپاره ئے استعمال کړل نو الله تعالیٰ ورله سزا ورکړه او د هدایت نه ئے همیشه دپاره محرومه کړل۔

حـدیث کښې راځي : [إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا اَخْطَأَ خَطِيئَةً نُكِتَتْ فِي قَلْبِهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فَإِذَا هُوَ نَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ وَتَابَ صُقِلَ قَلْبُهُ وَإِنْ عَادَ زِيدَ فِيهَا حَتّٰى تَعْلُوَ قَلْبَهُ وَهُوَ الرَّانُ الَّذِي ذَكَرَ اللّٰهُ]

کله چه مؤمن ګناه اُوکړی نو د هغهٔ په زړه باندے تور داغ راشي، که هغه ګناه پریدی او توبه اُویاسی او استغفار وغواړی نو د هغهٔ زړه (د مخکښې په شان) صفا شی او که د توبے په ځائے په ګناهونو کښې اخته شی نو هغهٔ داغ خور شی تردے چه د هغهٔ ټول زړه راګیر کړی نبی علیه السلام فرمائی : دا هغه زنګ دے چه الله تعالیٰ بیان کړیدے (كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ) [المطففين /۱٤] یعنی د دوی د اعمالو په وجه د دوی په زړونو زنګ راغلو۔ [ترمذی رقم : ۳۳۳٤، بسند صحيح]

او الله تـعـالیٰ د هرے ورانـئ سره سزا لیـکـلے ده، هر څوك چه دغه ورانے اُوکړی نو الله تـعـالیٰ سـزا ورکـوی خـو اولًا مهلت ورکوی او الله تعالیٰ ورته صبر کوی، لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ مَنْ يَعْمَلْ سُوْءً يُجْزَ بِهِ ﴾ [النساء :۱۲۳]

او د الله تـعـالیٰ سـزا ګانے په مختلفو طریقو دی ۱ –کله دنیاوی وی۔ دا کله مالی وی او کـلـه بـدنـی وی، مـال کښې بے برکتی پیدا کړی، قرضدار شی، مال ئے هلاك شی، بدن او صحت د ګناهونو په وجه خراب شی، او کله ئے اولاد مریضان شی۔

۲ – او کـلـه دینـی سزاوی چـه مثلًا د خیـر کـار نـه ئے محروم کړی، د تهجدو توفیق نهٔ ورکـوی، کله ترے مونځ قضاء شی، د دینی ماحول نه ئے دنیوی ماحول ته نقل کړی، کله چه بیا هم بنده د ګناهونو نه منع نهٔ شی نو آخر کښې ترے الله تعالیٰ هدایت هم واخلی او مهر پرے اُووهی۔ نو لکه څنګه چه الله تعالیٰ په کفر باندے د جهنم سزا ورکوی نو کله نا

کله په دنیا کښې دا سزا ورکوی چه د هدایت نه ئې محروم کړی او دا ظلم نۀ دے۔ بلکه د کفر بدله ده۔ أَعَاذَنَا اللّٰهُ مِنْ هٰذِهِ الْحَالَةِ۔ او دا کمال او عدل د رب العالمین دے۔

شیخ الاسلام ابن قیمؒ فرمائی:

[فَعَلَ ذٰلِكَ عُقُوْبَةً لَهُمْ، كَمَا عَاقَبَ بَعْضَهُمْ بِالْمَسْخِ وَبِالطَّمْسِ فَهُوَ سُبْحَانَهٗ يُعَاقِبُ بِالطَّمْسِ عَلَى الْعُيُوْنِ وَالطَّمْسِ عَلَى الْقُلُوْبِ]

(دا کار الله تعالیٰ ځکه اُوکړو چه دوی له ئې سزا ورکوله لکه بعضو له الله تعالیٰ سزا ورکړے ده په مسخ سره، (شکل ئې ورله بدل کړیدے) او د بعضو سترګے ئې خرابی کړی دی، کله د سړی زړه خرابوی او کله ئې سترګے خرابوی)، لکه د قوم لوط سترګے ئې ړندے کړی، د بعض بنی اسرائیلو شکلونه ئې بدل کړی وو او خنزیران او شادوګان ئې ترے جوړ کړی وو۔ [وانظر شفاء العلیل ص (۸۶)]

او دا معنیٰ به د سورة الانعام آیت (۱۱۰) کښې هم راشي۔

(وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهٖ أَوَّلَ مَرَّةٍ)

۴- **علمی جواب** دا دے چه د الله تعالیٰ درے قسمه صفات دی، ۱- عدم ظلم، ۲- احسان۔ ۳- او عدل۔

عدم ظلم معنیٰ دا چه الله تعالیٰ هیڅ قسم ظلم نۀ کوی او نۀ ئې اراده لری اګرکه قادر پرے دے لیکن هغه وئیلی دی چه زۀ د ظلم هیڅ قسم اراده نۀ کوم نو د الله تعالیٰ د ظلم کولو نه خو بنده له بالکل خاطر جمعی پکار ده ځکه الله تعالیٰ د خپلے وعدے نه خلاف نۀ کوی۔

او احسان ئې دا دے چه الله تعالیٰ یو نعمت پیدا کړی، بنده د هغې مستحق کړی او د هغې صفات او استعداد پکښې پیدا کړی او طریقه هم ورته اُوښائی او توفیق هم ورکړی۔ نو دا د هغه اختیار دے چه چا له ئې ورکوی او چا له نۀ۔

او عدل ئې دا دے چه الله تعالیٰ یو شے بنده ته اُوښائی لیکن هغه ورته آسان نۀ کړی، مدد ورسره اُونۀ کړی بلکه ځان ته ئې اُوسپاری لکه کافر ته ایمان او اسلام اُوښائی چه په دے لاره روان شه! لیکن توفیق ورنکړی نو دا ئې عدل دے، نو په دے کښې په الله تعالیٰ هیڅ قسم اعتراض نشته، ځکه که احسان درسره نکوی نو په الله تعالیٰ څه زور نشته او دا ئې عدل دے او که احسان ئې درسره اُوکړو نو دا ئې مهربانی ده۔

مثال ئې داسې دې لکه دوه کسان ستا نه د لارې تپوس اُوکړي، ته دواړو ته لاره اُوښائې چه دا لاره ده خو د يو سره احسان اُوکړې د لاس نه ئې اُونيسې، او ځائې ته ئې اُورسوې۔ نو دا تا ظلم د يو سره هم اُونکړو، عدل دِې اُوکړو خو ددې يو سره دِې احسان هم اُوکړو۔

نو دغه شان الله تعالیٰ لاره ټولو انسانانو ته خودلې ده خو احسان د توفيق چا له ورکوي او چا له ئې نۀ ورکوي، الله حکيم او عليم دې۔ نو دې کافرانو سره الله پاك عدل کړې دې، احسان ئې ورسره ندې کړې او مؤمنانو سره ئې احسان اُوکړو نو په الله تعالیٰ باندې هيڅ اعتراض نۀ واردېږي، او په چا ئې دا ظلم ندې کړې چه زړه، سترګې او غوږونه ئې نۀ وي ورکړي او بيا ورته وائي چه ايمان راوړه او د ليدلو امر ورته کوي يا ئې قرآن ورته نۀ وي رالېږلې او د عبادت امر ورته کوي يا پيغمبر ئې ندې رالېږلې، الله تعالیٰ فرمائي :

(وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا) (اسراء :۱۵) (وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرىٰ بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا مُصْلِحُوْنَ) (هود:۱۱۷) (وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرىٰ اِلَّا وَاَهْلُهَا ظَالِمُوْنَ) (القصص:۵۹)

دا آيتونه پرې واضح دليل دې۔ بلکه الله تعالیٰ خپل بندګان ښه پوهه کړي دي عقل او دماغ، سترګې او غوږونه او زړه ئې ورکړيدې او بيا ئې قرآن کريم هم رالېږلې دې او د دلائلو نه خبر شوي دي، خو الله تعالیٰ ورله توفيق ندې ورکړې او پدې کښې د الله تعالیٰ اختيار دې۔ او آيت کښې ډيره يره پرته ده چه ګناهونو سره په انسان باندې ډيرې عجيبه او لوئې فيصلې کيږي۔

فائده : اسباب الهداية :

دلته ئې دا درې څيزونه ولې ذکر کړل ؟ نو وجه دا ده چه دا درې واړه اسباب د علم او د هدايت دي۔ انسان چه هدايت او علم ته رسيږي نو د هغې درې اسباب دي :

۱- اَلْفِكْرُ بِالْقَلْبِ : (په زړه باندې فکر کولو سره)۔

۲- بِالسَّمْعِ وَالْاِسْتِمَاعِ : (بل نه اَوريدل او بل ته غوږ ايخودل)۔

۳- هِدَايَةٌ بِالْبَصَرِ : (په سترګو يو شې مطالعه کول)

نو الله تعالیٰ فرمائي : چه ددې کافرانو درې واړه اسباب ما بند کړي دي، عقل ئې هم د حق نه بند دې اګرکه په دنياوي کارونو کښې ښه ماهر دې او غوږونه ئې د حق د خبرو اَوريدو نه بند، حق پکښې نۀ کيني اګرکه ظاهره کښې د شيطانئ خبرې ښې اَوري او په سترګو ئې ناشنا قسم پردې دي چه هغه د الله تعالیٰ د آيتونو نه ړوند والې دې۔

د آیت د الفاظو وضاحت :

ختم : ختم لفظ قرآن کښې (۳) درې ځله راغلې دے، ماده د ختم (۸) اته کرته راغلې ده۔

د ختم تعریف : ختم په لغت کښې مهر (ټاپې) ته وئیلې شي، مهر د فارسي او اردو لفظ دے، عربي کښې ئې داسې معنیٰ ده : [بُلُوْغُ الشَّيْءِ اِلَى الآخِرِ] (يو شي آخر ته رسيدل) او ختم القرآن ته هم ځکه ختم وائي چه آخر ته اُورسيږي۔ او مهر هم خلق د خط په آخر کښې وهي۔

اصطلاحاً : [ختم : اِنْسِدَادُ الشَّيْئِ مِنْ جَمِيْعِ جَوَانِبِهِ بِحَيْثُ لَايَدْخُلُهٗ شَيْئٌ وَلَا يَخْرُجُ عَنْهُ شَيْئٌ] (يو شې بندول د ټولو طرفونو نه، چه څه شې پکښې داخليږي نه او څه شې ترې وځي نه) لکه مثلاً خط په لفافه کښې اچولو او مهر وهلو نه پس نور ليکل بند شي۔ نو دلته هم د کفارو په زړهٔ کښې حق نهٔ داخليږي او باطل ترې نهٔ بهر کيږي۔ ﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ﴾ (المائده : ٤١) زړونه ورله الله تعالیٰ نهٔ پاکوی) او دلته د ختم همدا معنیٰ ده۔

عنوانات الختم :

د ختم يو څو مرادف الفاظ دی چه هغه هم د ختم معنیٰ ورکوی، هغې ته عنوانات الختم وائي۔ ۱ – عَدَمُ الْفِقْهِ قَصْدًا۔ (قصداً ځان نهٔ پوهه کول)
لکه ﴿ لَهُمْ قُلُوْبٌ لَايَفْقَهُوْنَ بِهَا ﴾ (الاعراف : ۱۷۹)
۲ – اَلْاَكِنَّه : (پردې راوستل) لکه ﴿ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ ﴾ (حم السجدة : ٥)
۳ – رين او ران : (د اعمال خبيثه ؤ زنګ) لکه : ﴿ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴾ (التطفيف : ١٤) حديث کښې دی : [اِنَّ الْمُؤْمِنَ اِذَا اَذْنَبَ ذَنْبًا كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِيْ قَلْبِهٖ] [ترمذی سورة المطففين : ٣٣٣٤، والحاكم : ٣٩٠٨، والبيهقی] (د ګناه په وجه چه کوم زنګ او خيرې او داغ په زړهٔ راشي دغې ته رين وائي)
او ددې نسبت کله الله تعالیٰ ته کيږي لکه دلته ختم الله علی قلوبهم۔ الله تعالیٰ مهر وهي، او په مهر وهلو سره سزا د ګناهونو ورکوی۔
اُوس دلته د ختم (مهر) نه مخکښې يو څو اسباب او مرتبې دی، د هغې پيژندل ضروری دی چه د هغې په وجه په انسان باندې مهر وهلې کيږي۔

د ختم مراتب او اسباب

۱- اَلرَّیْنُ : (د گناه په وجه په زړه باندے داغ راتلل او توریدل) (التطفیف : ۱٤)
۲- اَلْغَفْلَةُ : (انسان د الله تعالیٰ نه او د خپلے کامیابئ نه غافله کیدل) لکه ﴿ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴾ (الاعراف : ۱۷۹)
۳- : اِتِّبَاعُ الْهَوٰی : (د خواهشاتو پسے روانیدل) لکه ﴿ اَفَرَاَیْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰی عِلْمٍ وَّخَتَمَ عَلٰی سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰی بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ﴾ (الجاثیة : ۱۰/۱۱)
٤- الجدال : (د اهل حقو سره په حق کښې جګړه کول سبب د مهر دے۔ لکه : ﴿ اَلَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ فِیْ آیَاتِ اللّٰهِ ﴾ (المؤمن : ٤) روستو وائی : ﴿ كَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ ﴾ (الله تعالیٰ په داسے خلکو باندے تاپه لګوی)
۵- پنځمه مرتبه یا سبب : طبع ده، (ددے ګناهونو نه بعد طبع راځی) لکه ﴿ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَیْهَا بِكُفْرِهِمْ ﴾ (النساء :۱۵۵) د طبع نه روستو ختم دے۔
٦- ختم : لکه دے آیت کښې ذکر دے او د ختم نه روسته بیا :
۷- قُفُل (جرنده او تاله وراچول)، او دا قفل د اسباب النفاق په وجه لګیږی لکه ﴿ اَمْ عَلٰی قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴾ (محمد : ۲٤) او سورة النساء نه معلومیږی۔

نو اول د ګناه په وجه رین راشی بیا په زړه کښې غفلت پیدا شی، بیا د خواهشاتو تابعداری شروع شی بیا د اهل حقو سره په حق کښې جګړے شروع کړی بیا پرے طبع راشی بیا پرے ختم او بیا پرے قفل راشی چه د ایمان راوړو هیڅ امکان ئے پاتے نهٔ شی۔ لیکن دا ترتیب لازم ندے کله یو مخکښې شی کله بل۔

دا مرضونه چه چا کښې راغلل نو هغه د ایمان د خوند نه نهٔ خبریږی۔

د قلب لفظ وضاحت :

قلوب جمع د قلب ده، قلب زړه ته وئیلے شی او زړه ته قلب پدے وجه وائی: (لتقلبه) : (ځکه اوړی راوړی)، شاعر وائی :

وَمَا سُمِّیَ الْاِنْسَانُ اِلَّا لِاُنْسِهٖ	وَمَا الْقَلْبُ اِلَّا اَنَّهٗ یَتَقَلَّبُ

(انسان ته انسان د اُنس او محبت د وجه نه وئیلے شی او زړه ته قلب پدے وجه وئیلے شی چه دا اَوړی راوړی)

مَـا سُـمِّـيَ الْـقَـلْـبُ اِلَّا مِـنْ تَـقَـلُّبِـهٖ	❁	فَاحْذرُ عَلَى الْقَلْبِ مِنْ قَلْبٍ وَمِنْ تَحْوِيْلِ

(القرطبی ١/١٨٧)

(زړهٔ ته د اوړیدو د وجے نه قلب وائی نو زړهٔ باندے د اوړیدو او بدلیدو نه اُویریږه)

د زړونو د بدلیدو حکمة

د زړونـو په اوړیدو راوړیدو کښ ډیر حکمتونه دی (١) حکمة : [لِيَدُوْمَ تَضَرُّعُ الْعَبْدِ اِلَيْهِ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى] چه بنده په هر وخت کښ الله تعالیٰ ته محتاج وی، ځکه که زړه په یو ځائے ولاړ وے نو بس یو ځل چه ورته هدایت شوے وے نو بیا به هیڅ کله نهٔ خرابیدلے. نـو بیا به بنده د الله تعالیٰ نه د هدایت دومره سوال نهٔ کولے، او احتیاج به ئے نهٔ محسوس کولے. او اُوس بنده همیشه الله تعالیٰ ته زاری کوی چه زمونږ د زړهٔ حفاظت اُوکړه لکه نبی ﷺ به داسے فرمایل : [يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ، يَا مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ] او دا آوازونه د الله تعالیٰ خوښ دی، ځکه دا زړونه الله خپلو ګوتو کښ اینبی دی، د الله تعالیٰ نبی به دا دعا کوله نو صحابه ؤ تپوس اُوکړو یا رسول الله ته په مونږه ویریږے هغه اُوفرمایل :

[اِنَّ قُلُوْبَ بَنِيْ آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ اِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمٰنِ كَقَلْبٍ وَاحِدٍ يَصْرِفُهٗ كَيْفَ يَشَآءُ]

[مسلم : ٦٩٢١، ابن ماجه : ٣٨٣٥، وابن حبان والنسائی]

(د بندګانو زړونه الله تعالیٰ د دوه ګوتو په مینځ کښ نیولی دی، لکه د یو زړهٔ په شان، هغه ئے اړوی راوړی څنګه چه وغواړی). چا سره چه د خپل زړه د جوړوالی غم وی، د الله تعالیٰ نه به هر وخت کښ دعا غواړی او چا سره چه دا غم نهٔ وی هغه خاسر او تاوانی انسان دے، د مؤمنانو زړه کښ چه لږ غوندے تبدیل او خړوالے او بی نوری پیدا شی، نو ځان ورته منافق ښکاری، زر زر د زړه د اصلاح کوشش کوی، لکه روسته آیتونو کښ به راشی مؤمنان به د دینه یره کوی چه منافقت کښ واقع نهٔ شی.

د ابو الدرداء ﷺ نه نقل دی : [اِنَّ الْقَلْبَ أَشَدُّ تَقَلُّبًا يا : اَسْرَعُ تَقَلُّبًا مِنَ الْقِدْرِ اِذَا اشْتَدَّ غِلْيَانًا]

(ابن عساکر) (والطبرانی فی الکبیر ٢٠/٥٩٩ مرفوعاً)

(زړهٔ د هغه کټوئ نه هم زر زر اَوړی چه هغه خوټ کیږی)۔

او د عبد الله بن رواحه ﷺ نه هم داسې نقل دی۔ او حدیث د احمد کښې دی :

[مَثَلُ الْقَلْبِ كَرِيْشَةٍ بِأَرْضٍ فَلَاةٍ يُقَلِّبُهَا الرِّيَاحُ ظَهْرًا لِبَطْنٍ]

[صحيح : احمد : ۱۹۷۷۲، شعب الايمان : ۷۳۸وابن ماجه : ۸۸]

(مثال د زړهٔ پښان د یوې بڼرکې دې چه په دښته کښې وی هواګانې ئې په مخ او شا اړوی)

حدیث کښې دی : [مَا مِنَ الْقُلُوْبِ قَلْبٌ اِلَّا وَلَهٗ سَحَابَةٌ كَسَحَابَةِ الْقَمَرِ، بَيْنَا الْقَمَرُ مُضِيْءٌ اِذْ عَلَتْهُ سَحَابَةٌ فَأَظْلَمَ، اِذْ تَجَلَّتْ عَنْهُ فَأَضَاءَ]

[ابو نعیم فی الحلیة، الدیلمی: ٤/٨-٩ کما فی الصحیحة ٢٦٧/٥رقم : ٢٢٦٨ بسند حسن]

د زړهٔ مثال داسې دې لکه سپوږمۍ رڼرا وی چه وریځ ورله راشی تیاره شی، چه بیرته ترې لرې شی نو رڼرا شی۔ یعنی زړهٔ باندې زر زر تبدیلی راځی۔

۲- [اَلتَّرَقِّيْ فِي الْاِيْمَانِ] زړه ځکه بدلیږی چه بنده په ایمان کښې وخت په وخت ترقی پیدا کړی، که زړه په یو حالت وې، نو ټول بندګان به په ایمان کښې یو شان وې۔نو د مراتبو تفاوت به نهٔ راتلې۔

۲- **تعریف للقلب** : اَلْقَلْبُ فِي اللُّغَةِ : لَحْمٌ صُنُوْبَرِيٌّ مَرْكُوْزٌ فِي الْجَانِبِ الْأَيْسَرِ مِنَ الْحَيْوَانِ : (یوه غوښه ده د صنوبر (صبرې) ونې پښان ده، یعنی تیره غوندې ده او زوړنده ده په چپ طرف د حیوان کښې) ۔دا خوئې خپله لفظی معنیٰ ده۔

اصطلاح د قرآن

د قرآن په اصطلاح کښې د قلب اطلاق په زړهٔ باندې هم کیږی۔

(۲) - او په عقل باندې هم کیږی لکه سورة ق (۳۷) (لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ)۔

(۳) [اَلْقُوَّةُ الْوَاعِيَةُ فِيْ ذٰلِكَ الْعُضْوِ]۔(په دغه اندام کښې چه کوم د یادولو قوت دې هغې ته هم قلب وئیلې شی)۔ (التبیان لابن القیم)۔

(٤)- او د قلب دپاره لفظ د صدر هم استعمالیږی

(٥) - او لفظ د فُؤَاد هم استعمالیږی، لکه (مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ) (هود : ۱۲۰)

(٦) - او د صدور لفظ هم استعمالیږی۔

صدر اصل کښې محل د فؤاد دے او فؤاد محل د قلب دے او قلب محل د عقل دے (قرطبي) ځکه فؤاد پرده د زړه ده او قلب محل د عقل دے۔

فائده : عقل كوم ځائے وى ؟

عقل په زړهٔ کښې دے او بیا تعلق او کنکشن ئے د دماغو سره دے، د دے وجے نه د بعض خلقو دا خبره چه دا ټول څیزونه په دماغو کښې وی، مناسب نهٔ ده، بلکه صحیح خبره دا ده چه دماغ په اصل کښې بدن له حرکت ورکوی، نو دا مُحرك دے او زړه اصل کښې رئیس دے، پمپ دے، وینه پاس کوی، او پدے باندے قرآن او سنت گواه دی او دارنګه مشاهده هم ده ځکه کله چه یره راشي یا انسان د خوشحالئ یو خبر واوری یا هیبتناك شے اُووینی نو سمدست زړهٔ حرکت کښې راشي هان د عقل تعلق د ماغو سره هم وی مثال ئے د بټن او بلب دے۔ او د زړهٔ او د دماغو د ټول بدن سره تعلق دے، نو دا عقل په دے زړه کښې پروت دے، خو دماغ ئے چلوی را چلوی، ددے وجے نه زړهٔ او دماغ اعضاء رئیسه دی، نو قرآن کریم کښې د عقل نسبت زړهٔ ته کیږی او قلب ته عرش الله الادنیٰ وائی۔ د الله دوه عرشه دی یو بره او یو وړوکے عرش چه هغه دا زړه دے چه عظمت د الله تعالیٰ پکښې راځي۔

دا وجه ده اهل علم فرمائی : یو بنده چه یو ځائے کښې استواء کوی نو هغه مخکښې صفا کړی نو د الله سبحانه وتعالیٰ عظمت هم په هغه زړه کښې نهٔ راځي چه ګنده وی او شرك، نفاق او حسد پکښې وی، او د دنیا په څیزونو ګنده شوے وی، بلکه دا به اول په توبه سره صفا کړے بیا به د الله تعالیٰ په عظمت سره آباد شي او جمال او جلال به پکښې راشي۔

فائده : د ختم او طبع ترمینځ فرق دا دے چه ختم خاص دے او طبع عامه ده کما فی المفردات للراغب۔ [وَقَالَ : وَفِيْ قَوْلِهِ : خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ، اِشَارَةٌ اِلٰى مَا اَجْرَى اللّٰهُ بِهِ الْعَادَةَ اَنَّ الْاِنْسَانَ اِذَا تَنَاهٰى فِي اعْتِقَادٍ بَاطِلٍ اَوِ ارْتِكَابِ مَحْظُوْرٍ -وَلَا يَكُوْنُ مِنْهُ تَلَفُّتٌ بِوَجْهٍ اِلَى الْحَقِّ- يُوْرِثُهُ ذٰلِكَ هَيْئَةً تُمَرِّنُهُ عَلَى اسْتِحْسَانِ الْمَعَاصِيْ وَكَاَنَّهُ يُخْتَمُ بِذٰلِكَ عَلٰى قَلْبِهٖ، وَعَلٰى ذٰلِكَ قَوْلُهُ : اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ وَعَلٰى هٰذَا النَّحْوِ اِسْتِعَارَةُ الْاِغْفَالِ فِيْ قَوْلِهٖ وَلَا تُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاِسْتِعَارَةُ الْكِنِّ فِيْ قَوْلِهٖ وَجَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَاِسْتِعَارَةُ الْقَسَاوَةِ فِيْ قَوْلِهٖ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قَاسِيَةً الخ]

پـدے قـول د الله تـعـالیٰ (ختم الله علی قلوبهم) کښې اشاره ده د الله تعالیٰ جاري عادت ته هغـه دا چـه انسـان کـلـه پـه بـاطـل اعتقاد او د حرامو او گناهونو په کولو کښې انتهاء ته اُورسیږي او پـه هیـڅ طریـقـے سـره حق طرف ته نۀ متوجه کیږي نو پدے سره ددۀ داسے حالت جوړ شي چه بیا دۀ ته گناهونه ښائسته ښکاره کیږي او پدے طریقه سره الله تعالیٰ ددۀ پـه زړۀ بـانـدے مهر اُووهي (او دا د مهر وهلو معنیٰ ده) او په همدے طریقه دا آیت هم دے (اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ) یعنی طبع پرے اُووهي او په همدے طریقه دے (وَلَا تُـطِـعْ مَـنْ اَغْـفَـلْنَا قَلْبَه) یعنی زړه ئے الله تعالیٰ د خپل ذکر نه غافل کړي۔ او دغه شان په زړونـو بـانـدے د قـرآن کـریم او د حق د پوهے نه پردے راولي او زړه کښې ورله قسوت پیدا کړي۔ لکه په دغه آیتونو کښې راغلي دي۔

د زړونو اقسام :

زړونـه درے قسـمـه دي۔ ۱- قـلـبِ سلیم (روغ زړه) : دا انبیاء علیهم السلام او صحابه کرامو او مؤمنانو زړه وي۔

۲- قـلـب میّت : (مړ زړۀ) دا د کافر زړه دے۔ (فَـاِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى) (الروم : ۵۲) (اَیْ مَوْتَى الْقُلُوْبِ)۔ یعنی مړو زړونو والا۔

۳- قـلـب مـریض : (دا د مـنـافـقـانـو او ضعیف ایمان والو زړونه دي، اگرکه د دواړو په مرض کښې فرق شته، ځکه د منافق مرض ډیر سخت دے۔

نور اقسام :

زړونه دوه قسمه دي : (۱) قلوب الکفار (۲) قلوب المؤمنین۔

د دواړو زړونـو ترمینځ دومره فرق او تفاوت دے لکه د آسمان او د زمکے، انسانان خو یو شـان دي لیـکـن د زړونو د صفاتو په لحاظ سره پکښې فرق دے، دا وجه ده الله تعالیٰ ایمان والا جـنـت ته بوزي ځکه چه د زړه کیفیت ئے برابر دے او کافر جهنم ته بوځي ځکه د زړه کـیـفـیـت ئے خـراب دے۔ کـلـه چـه د انسـان تـصـور، عـقـیده صحیح شي او د الله تعالیٰ د مـحـبـت نـه ډك شي نو دا کامیاب زړه دے او د زړونو صفات زده کول او اَوریدل پکار دي دے دپاره چـه د قـرآن کـریـم فهم او پـوهـه حـاصـلـه شي۔ او تفاوت د قلوب المؤمنین والکافرین هم معلوم شي۔

د کافرانو د زړونو صفات:

د کافرانو د زړونو ډیر صفات دی چه الله تعالیٰ بیان کړی دی :

۱ – اول صفت : الانکار : د هغوی په زړونو کښې انکار پروت دے) لکه ﴿ فَالَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ قُلُوۡبُهُمۡ مُّنۡكِرَةٌ ﴾ (النحل : ۲۲)

۲ – **اَلۡحَمِیَّةُ** : (د جاهلیت غیرت)، غیرت کښې راشی چه مونږه ښنگه خپله لاره پریږدو، ولے مونږه څه نۀ پو هیږو) لکه : ﴿ اِذۡ جَعَلَ الَّذِیۡنَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمُ الۡحَمِیَّةَ حَمِیَّةَ الۡجَاهِلِیَّةِ ﴾ (الفتح : ۲٦)

۳ – **اَلۡاِنۡصِرَافُ** :(د حق نه اوړیدل) لکه : ﴿ ثُمَّ انۡصَرَفُوۡا صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوۡبَهُمۡ ﴾ (التوبة : ۱۲۷)

٤ – **اَلۡقَسۡوَةُ** : (زړه کښې سختوالے) (که ستا زړه کښې دا صفت راشی نو د کافرانو یو صفت تا کښې راغلے دے) لکه : ﴿ ثُمَّ قَسَتۡ قُلُوۡبُكُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ ﴾ (البقرة : ۷٤) او ﴿ فَوَیۡلٌ لِّلۡقَاسِیَةِ قُلُوۡبُهُمۡ مِّنۡ ذِكۡرِ اللّٰهِ ﴾ (سورة الزمر : ۲۲) .

٥ – **اَلۡمَرَضُ** : ﴿ فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ ﴾ (البقرة : ۱۰) .

٦ – **اَلضِّیۡقُ** : (تنگوالے) ځوك چه ضدی شی نو د هغه زړه به تنگ وی) لکه ﴿ یَجۡعَلۡ صَدۡرَهٗ ضَیِّقًا حَرَجًا ﴾ (الانعام : ۱۲٥)

۷ – **اَلطَّبۡعُ** : مهر وهل) لکه ﴿ فَطُبِعَ عَلٰی قُلُوۡبِهِمۡ ﴾ (المنافقون : ۳) .

۸ – **اَلۡخَتۡمُ** :لکه دے آیت کښې دی.

۹ – **اَلزَّیۡغُ** :(کوږوالے) لکه ﴿ فَاَمَّا الَّذِیۡنَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ زَیۡغٌ ﴾ (آلعمران : ۷)

۱۰ – **اَلۡاِرۡتِیَابُ** : (شك) لکه ﴿ وَارۡتَابَتۡ قُلُوۡبُهُمۡ فَهُمۡ فِیۡ رَیۡبِهِمۡ یَتَرَدَّدُوۡنَ ﴾ (توبة : ٤٥)

۱۱ – **اَلۡاِبَاءُ** : (انکار کول د حق نه) لکه ﴿ وَتَاۡبٰی قُلُوۡبُهُمۡ ﴾ (التوبة : ۸)

۱۲ – **اَلۡاَكِنَّةُ** : (په زړونو پردے راتلل) لکه : ﴿ اِنَّا جَعَلۡنَا عَلٰی قُلُوۡبِهِمۡ اَكِنَّةً اَنۡ یَّفۡقَهُوۡهُ ﴾ (کهف : ٥۷)

۱۳ – **اَلشَّدَّةُ** : (سختوالے) لکه : ﴿ وَاشۡدُدۡ عَلٰی قُلُوۡبِهِمۡ ﴾ (یونس : ۸۸)

۱٤ – **اَلۡاِشۡمِئۡزَازُ** : (نفرت کول د توحید او د الله تعالیٰ د یو والی نه) لکه ﴿ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحۡدَهُ اشۡمَاَزَّتۡ قُلُوۡبُ الَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ ﴾ (الزمر: ٤٥)

۱٥ – **عَدَمُ فِقۡهِ الۡقَلۡبِ** : (په زړه کښې ئے پو هه نشته) لکه ﴿ لَهُمۡ قُلُوۡبٌ لَّا یَفۡقَهُوۡنَ بِهَا ﴾ (الاعراف : ۱۷۹)

۱۶- **اَلْاِغْفَالُ یا اَلْغُفْلَةُ** : (په زړه باندے غفلت راوستل) لکه ﴿ وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا ﴾ (کهف : ۲۸)

۱۷- **اَلْقُفْلُ** : (ژرنده) قلف لکه ﴿ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴾ (محمد : ۲٤) ۔

۱۸- **اَلْعَمٰى** : (د کافرانو زړونه ړانده وی) لکه : ﴿ فَاِنَّهَا لَا تَعْمَى الْاَبْصَارُ وَلٰكِنْ تَعْمَى الْقُلُوْبُ الَّتِيْ فِي الصُّدُوْرِ ﴾ (الحج: ٤٦)

۱۹- **اَلْغِلَافُ** : (پرده کښې ننوتل) لکه (وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ) (البقره : ۸۸)

۲۰- **اَلْهَوٰى** (د خواهش تابعداری)

۲۱- **اَلْمَوْتُ** : (مړ زړۀ والا) لکه (اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنَاهُ) (الانعام : ۱۲۲)

دارنګه نور صفتونه ئے هم شته چه قرآن او حدیث کښې ذکر دی۔ انظر تفسیر القرطبی (۱۸۵/۱)

د مؤمنانو د زړونو صفات :

د مؤمنانو د زړونو هم ډیر صفات قرآن او سنت بیان کړیدی :

۱- **اَلتَّقْوٰى** : لکه ﴿ ذٰلِكَ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَائِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴾ (الحج :۳۲)

۲- **السکینة** : (د زړه آرام او اطمینان) لکه ﴿ هُوَ الَّذِيْ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ (الفتح : ٤)

۳- **الرَّأْفَةُ** : (په مخلوقاتو شفقت) لکه ﴿ وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَأْفَةً وَّرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةَ نِ ابْتَدَعُوْهَا ﴾ الحدید : ۲۷)

٤- **اَلتَّمْحِيْصُ** : (په مصیبتونو او غمونو سره زړه صفا کول) لکه : ﴿ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ ﴾ (آل عمران : ۱٥٤)

٥- **اَلرَّبْطُ** : (په حق باندے کلك والے چه د مصیبت د وجه نه اخوا دیخوا نۀ اوړی) لکه ﴿ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ ﴾ (الانفال : ۱۱) او ﴿ لَوْلَا اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا ﴾ (القصص :٤)او لکه ﴿ وَرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ ﴾ (کهف :١٤)

٦- **زِيْنَةُ الْاِيْمَانِ فِي الْقَلْبِ** : (مؤمن بنده ته په زړه کښې ایمان ډیر خوږ او ښائسته ښکاره کیږی) لکه ﴿ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ وَزَيَّنَهٗ فِيْ قُلُوْبِكُمْ ﴾ (الحجرات : ۷)

۷- **اَلْاِطْمِيْنَانُ**: (د الله تعالٰی د ذکر او عبادت په وجه د مؤمن په زړه کښې اطمینان راځی) لکه ﴿ وَتَطْمَئِنُّ قُلُوْبُهُمْ بِذِكْرِ اللّٰهِ اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ﴾ (الرعد : ۲۸)

۸- **اَلْخَبْتُ وَالْاِخْبَاتُ** : (د مؤمن په زړه کښې ډېر میلان او ډېره خشوع او عاجزی الله تعالیٰ ته پیدا شی) لکه : ﴿ فَتُخْبِتَ لَهٗ قُلُوْبُهُمْ ﴾ (الحج : ٥٤)

۹- **اَلْوَجَلُ** : (د الله تعالیٰ د هیبت او تعظیم نه د زړه ویریدل) لکه ﴿ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَا آتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رَاجِعُوْنَ ﴾ (المؤمنون : ٦٠)

۱۰- **اَللِّيْنُ** : (نرموالے) ﴿ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ ﴾ (الزمر : ۳۲)

۱۱- **اَلْاِمْتِحَانُ** : (د مؤمن په زړهٔ امتحان راځی او زړهٔ ورله صفا کوی) لکه ﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى ﴾ (الحجرات : ۳)

۱۲- **كِتَابَةُ الْاِيْمَانِ فِى الْقَلْبِ** : (د مؤمن په زړه کښې الله تعالیٰ ایمان لیکی، کلک ئے پکښې راجمع کوی)۔ لکه ﴿ اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ ﴾ (المجادلة : ۲۲)۔

۱۳- **اَلسَّلَامَةُ** : (د مؤمن سړی په زړهٔ کښې به سلامتیا وی) لکه ﴿ اِلَّا مَنْ اَتَى اللّٰهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ ﴾ (الشعراء : ۸۹)

۱٤- **اَلْاِنَابَةُ** : (په زړهٔ کښې به ئے الله تعالیٰ ته رجوع وی) لکه : ﴿ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبٍ ﴾ (سورة ق : ۳۳)

د لفظِ سمع وضاحت :

لفظ د سمع قرآن کریم کښې (۳۲) کرته ذکر شویدے، ماده ئے (۱۸۳) کرته ذکر شویده او په قرآن کریم کښې په څلورو معنو استعمال دے۔

۱- اَلْقُوَّةُ السَّامِعَةُ : (د اوریدلو قوت په غوږ کښې دننه اچولے دے) لکه دا په دے آیت کښې مراد دے۔ یعنی الله تعالیٰ د دوی د اَوریدو په قوت باندے مهر وهلے دے۔

۲- اَلْاُذُنُ (غوږ ته هم وائی) لکه ﴿ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ ﴾ (النحل : ٤٨)

۳- سمع په معنیٰ د مَسْمُوْع (اَوریدلے شوے خبرے) سره یعنی مصدر مبنی للمفعول دے لکه ﴿ اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُوْلُوْنَ ﴾ (الشعراء : ۲۱۲) او ﴿ يُلْقُوْنَ السَّمْعَ ﴾ (الشعراء : ۲۲۳)

٤- په معنیٰ مصدری سره، یعنی اَوریدل لکه

﴿ مَا كَانُوْا يَسْتَطِيْعُوْنَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوْا يُبْصِرُوْنَ ﴾ (هود : ۲۰) او ﴿ وَكَانُوْا لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ﴾ (كهف : ۱۰۱)

د ابصار لفظ وضاحت :

ماده د لفظ د ابصار قرآن کریم کښې (۱٤۸) کرته راغلې ده.

د بصر معانی :

۱- اَلْقُوَّةُ الْبَاصِرَةُ : (هغه قوت چه ليدل پرې کيږی). لکه ﴿ لَاتُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴾ (الانعام : ۱۰۳)

۲- اَلْبَصِيرَةُ الْقَلْبِيَّةُ . (د زړه بصيرت) لکه ﴿ إِنَّ فِى ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ ﴾ (آل عمران :۱۳) او ﴿ فَإِنَّهَا لَاتَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلٰكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِى فِى الصُّدُورِ ﴾ (الحج :٤٦).

چه الابصار په معنیٰ د بصائر سره واخلې نو بيا جمع د بصيرة ده او که ابصار په معنیٰ د سترګو شی نو بيا جمع د بصر ده. او ﴿ أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ ﴾ (ص :٤٥)

۳- ظاهری سترګې لکه: ﴿ قُلْ مَنْ يَرْزُقُكُمْ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَمَّنْ يَمْلِكُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ ﴾ (يونس: ۳۰) (وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ) (الملك : ۲۳) والم السجدة (۹) (وَهُوَ الَّذِیٓ أَنْشَأَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ) (المؤمنون : ۷۸)

او ددې په باره کښې به په قيامت کښې تپوس هم کيږی لکه (إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا) (بنی اسرائيل :۳٦)

دلته د ابصار نه قوت باصره مراد ده چه قوت بصری ترې الله تعالیٰ اخستې دې، ظاهری څيزونو ته خو ګوری، ليکن حق ترې نۀ معلوموی، مُسَبِّب الاسباب ته نۀ ګوری او اسبابو ته ګوری.

فوائد الاية :

په زړونو باندې د ختم وهلو معنیٰ :

په زړونو باندې دختم معنیٰ دا ده : [عَدَمُ الْوَعْيِ عَنِ اللّٰهِ سُبْحَانَهُ مَفْهُومَ مُخَاطَبَاتِهِ وَالْفِكْرِ فِیْ آيَاتِهِ] (القرطبی) يعنی د الله تعالیٰ په خطاباتو باندې ځان نۀ پوهه کول او دهغه په آيتونو کښې فکر نۀ کول) ديته ختم وائی.

په غوږ باندې د مهر وهلو څه معنی ده ؟

ددې معنی دا ده چه عَدَمُ الْإِسْتِمَاعِ إِلَى كِتَابِ اللّٰهِ ۔ (د الله تعالیٰ کتاب ته غوږ نه کیخودل اوکه وائې ورې نو زړۀ ته نۀ کوزول) دارنګه امام قرطبیؒ داسې تعبیر کړیدې :

[عَدَمُ فَهْمِهِمُ الْقُرْآنَ إِذَا تُلِيَ عَلَيْهِمْ أَوْ دُعُوا إِلَى وَحْدَانِيَّتِهِ] (القرطبی : ۱/۱۸٦)

(یعنی په قرآن کریم باندې نۀ پو هیدل کله چه په هغوی باندې لوستلې شي یا د الله تعالیٰ وحدانیت ته را دعوت کړې شي)

په سترګو باندې د مهر وهلو معنیٰ :

أو په سترګو باندې د پردې راتلو مطلب دا دې : عَدَمُ النَّظَرِ فِي عَجَائِبِ خَلْقِ اللّٰهِ تَعَالٰى ۔ (د الله تعالیٰ په ناشنا مخلوقاتو کښې نۀ کتل فقط خپلو خواهشاتو کښې فکر کول) امام قرطبیؒ داسې تعبیر کوی : [عَدَمُ هِدَايَتِهَا لِلنَّظَرِ فِي مَخْلُوقَاتِهِ وَعَجَائِبِ مَصْنُوعَاتِهِ]

(یعنی مخلوقات او عجیبه مصنوعاتو د الله تعالیٰ ته د نظر کولو هدایت ورته نۀ کیږی)

امام رازیؒ په تفسیر الرازی (تفسیر کبیر) کښې لیکی : د کافرانو په زړونو باندې د ختم وهلو معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ ګواهی ورکوی چه دوی ایمان نۀ راوړی، او زړونه ئې ذکر او نصیحت نۀ یادوی او حق نۀ قبلوی، او په غوږونو باندې د ختم معنیٰ دا چه حق ته غوږ نۀ اړدی۔ لیکن دا معنیٰ د رازی صاحبؒ ناقصه ده ځکه صرف ګواهی دلته نۀ ده مراد بلکه ګواهی قولی شته او ختم عملی شته۔

فائده : ختم د قلوب ئې مقدم کړو په سمع او بصر باندې، وجه دا ده چه آیت کښې بیان د عدم ایمان د کفارو دې نو مناسب ده چه زړه مخکښې شي ځکه زړه محل د ایمان دې او سمع او بصر ئې آلات او طرق دی۔

فائده : په سورة الجاثیة (وَخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ) کښې ئې خو سمع مقدم کړیدې په قلب باندې۔ (۱) ددې حکمة دا دې چه هلته بیان ددې خبرې دې چه دوی په مواعظو او نصیحتونو هیڅ باك نۀ کوی ځکه ئې په آخر د آیت کښې (اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ) راوړیدې او مواعظ اَوریدل اول تعلق لری د سمع سره۔ نو هلته مناسب وو چه سمع مقدم کړی په قلب باندې۔ [تفسیر الآلوسی ۱/۱۳۳]

(۲) بله وجه دا ده چه هلته رد په هغه کفارو دے چه قرآن ئے نۀ اَوریدلو او دلته په هغه کافرانو رد دے چه ایمان نۀ راوړی۔ فتدبر۔

فائده : دا ترتیب ولے اختیار کړے شو؟ نو ددے یو څو حکمتونه دی (۱) په ختم علی القلوب کښې اشاره ده چه دوی استدلال د حق د آیتونونه پخپله نشی کولے او فکر هم نۀ کوی او ختم علی السمع دا دے چه څوك ورته استدلال پیش کوی نو دوی ورته غوږ نۀ ږدی، او غشاوة د سترګو دا ده چه څوك ورته حق بیانوی نو د هغه شکل ته هم نۀ ګوری نو په څه به هدایت ته اُورسی؟۔

(۲) دارنګه اول د عنادی انسان په زړه کښې د حق منلو نه نفرت پیدا شی، نو بیا د هغے اَوریدل هم نشی برداشت کولے، نو بیا د هغے د لیدلو نه هم ځان بچ ساتی۔

(۳) دارنګه اول انسان پخپله فکر او سوچ کولو سره حق ته اُورسی، خو چه پو هه نشی نو بیا د بل چا نه ئے واوری، هغه ئے متوجه کړی، او کله د بل په خبره هم پوره پو هه نشی نو بیا دلیلونو او کائناتو او نخو نخانو ته نظر اُوکړی او کله چه عناد ګر انسان دا درے واړه حالات اختیار نکړی نو د حق نه به همیشه دپاره محروم وی۔

فائده : عَلىٰ لفظ ئے د سَمْعِهِمْ او اَبْصَارِهِمْ سره دوباره راوړو۔ حکمة دا دے چه پدے کښې اشاره ده چه په دواړو ځایونو کښې ختم ډیر سخت دے۔او هر یو ختم جدا جدا دے [تفسیر کبیر ۱/۳۲۳، واللباب لابن عادل ۱/۸۳]

فائده : د سمع لفظ ئے مفرد وئیلے دے او قلوب او ابصار ئے جمع راوړے ده۔(۱) اوله وجه دا ده چه غوږ هر طرفته اوریدل کوی، که مخامخ وی، او که شاته وی، یعنی مدرکات د غوږ صرف آوازونه دی، یو شے دے۔ او سترګے یو طرف نه لیدل کوی هر طرف ته به جدا جدا کتل کوی، دارنګه مُبصرات د سترګو ډیر قسمونه دی، او د زړه مدرکات (معلومات) هم ډیر قسمونه دی، نو څکه ئے د سمع لفظ مفرد راوړے دے او د ابصار او قلوب لفظ ئے جمع راوړے ده۔

۲- دویمه وجه دا ده چه دا د لغت عربی بلاغة دے او قرآن کریم کښې دا بلاغة ډیر بیانیږی چه په یو ځائے باندے درے جمع نۀ ذکر کوی چه عَلىٰ قُلُوْبِهِمْ وَاَسْمَاعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ، یو لفظ پکښې کله مفرد ذکر کوی، دیکښې بلاغة زیات وی لکه ﴿ اِنْ تَتُوْبَا اِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ﴾ دلته د قَلْبَاكُمَا (تثنیه) په ځائے قلوب جمع راوړه څکه بلاغة پدے کښې دے۔

فائده : ظاهر دا ده چه دلته عَلىٰ سَمُعِهِمُ باندے وقف دے نو سمع او قلب ئے شريك كړو په ختم كښ حكمة دا دے چه يو تن هغه خبره آورى چه په كوم باندے پو هه شي۔ نو د دواړو د يو بل سره تعلق دے۔ دارنګه قلب او سمع دواړه د هر جانب نه معلومات كوي۔ [نظم الدرر للبقاعى ١/١٣) (التفسير الحقى ١/٥١]

فائده : سمع ئے مقدم كړه په بصر باندے، حكمة دا دے چه غوږ اشرف دے په نسبت د بصر ځكه چه په غوږ سره د هر طرف نه خبرے آوريدل كيدے شي او هغه بيا زړه ته كوزيږي، او زړه پرے فكر كوي نو مناسب ده چه دا د زړه سره نزدے ذكر كړے شي۔

فائده : كوم يو غوره دے ؟، سمع كه بصر ؟

ديكښے د متكلمينو اختلاف دے چه غوږونه غوره دي كه سترګے؟ (١) نو بعض وائي غوږونه غوره دي، ځكه ئے مخكښ كړي هم دي چه غوږونه نهٔ وو نو يوه ژبه به هم درته ياده نهٔ وي ، د الله نوم به هم درته ياد نهٔ وي، كلمه به نشے وئيلے، هيڅ نه به خبر نه ئے او سترګے چه درسره نهٔ وي نو ډير شيان زده كولے شي۔ (٢)- او دا تقديم هم دلالت كوي په فضيلت د غوږ باندے۔(٣)- غوږ شرط د نبوت دے او سترګے شرط نهٔ دے، ددے وجه نه الله تعالىٰ هيڅ نبى كونړ نهٔ دے راليږلے او په انبياء عليهم السلام كښ بعض هغه هم تير شويدي چه په سترګو ړاندهٔ شوي وو۔ (٤) - په غوږ سره د زړه نتيجے د يو انسان نه بل انسان ته نقل كولے شي او په سترګو سره نهٔ نقل كيږي۔نو سمع سبب دے د استكمال العقل بالمعارف۔ يعنى عقل په علومو كښ د كامل كيدو دپاره سمع ته محتاج دے۔

(٢) **دويم قول** دا دے چه سترګے غوره دي، ځكه دے باندے د الله تعالىٰ كائنات ليدلے كيږي، قرآن پرے ليدلے كيږي، د مؤمنانو مخونه هم پرے ليدلے كيږي، پدے باندے عبرت ډير اخستلے كيږي۔ ٢- دويم دا چه متعلق د سترګو نوُر دے او متعلق د غوږ هواګانے دي او نور غوره دے د هواګانو نه۔ (تفسير الرازى ١/٣٢٣)

ظاهره دا ده چه سمع افضل دے ځكه چه بنياد د علومو په سمع دے كه ابتداءً دا نهٔ وي نو انسان به په هيڅ خبر نهٔ وے۔ ليكن دواړو له الله تعالىٰ خپله خپله فائده وركړے ده چه سو د بل په ځائے نهٔ قائميږي، غوږ د سترګے په ځائے كار نهٔ وركوي او سترګه د غوږ په ځائے بلكه هر يو كښ ډيره ډيره فائده ده۔

فائده : دا درے واړه اندامونه ډير مهم دي ددے وجے نه الله سبحانه وتعالىٰ د غوږ او سترګے

اوزړه د هر يو تذکره په يو ځائے په ډيرو سورتونو کښې کړيده سوره نحل (۷۸) کښې ئے کړيده امتناناً بالعباد۔ چه اے خلکو ! تاسو له الله تعالىٰ دا درے نعمتونه درکړی دی۔

﴿ وَاللّٰهُ اَخْرَجَكُمْ مِنْ بُطُوْنِ اُمَّهَاتِكُمْ لَاتَعْلَمُوْنَ شَيْئًا وَّجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْئِدَةَ ﴾

دا امتنان ئے په سورة المؤمنون (۷۸) او سورة الم السجده (۸) او په سورة الملك (۲۳) آيت کښې کړيدے نو دا غټ نعمتونه دی۔ او په سورة الاسراء (۲٦) کښے ددے په بابت کښې سوال او حساب ذکر شويدے۔

فائده : بيا ددے ازاله (زوال) په دوه قسمه دے،

(۱) يو ظاهری دے چه ظاهراً بند شی، کار پريږدی، نو ظاهری بنديدل دا ابتلاء ده په مؤمنانو هم راځی، الله تعالىٰ ورته جنت ورکوی، ډير صحابه کرام په سترګو ړانده شوی دی، لکه عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر، جابر بن عبد الله، زيد بن ارقم، عتبان بن مالك، عبد الله بن ام مکتوم، کعب بن مالك رضی الله عنهم اجمعين) او داسے نور۔ او په کافرو هم راځی د هغوی دپاره سزا وی۔ او دلته دا قسم بوتلل ندی مراد۔

(۲) – دويم قسم باطنی بوتلل دی چه حق پرے نه اوريدل کيږی او نهٔ ليدل کيږی، غوږونه سترګے او زړه لری ليکن حق پر نهٔ معلوموی، د الله سبحانه وتعالىٰ د قدرت نښے پرے نهٔ وينی نو دا بيا غټ عذاب دے او دا الله تعالىٰ صرف خپلو دشمنانو له ورکوی او مومنانو له ئے نهٔ ورکوی، هغوی نه سترګے او غوږونه پداسے طريقه نهٔ اخلی چه د الله تعالىٰ د دلائلو او قرآن کريم نه فائده وانهٔ خلی۔

غشاوة : (هُوَ الْغِطَاءُ الشَّامِلُ) (هغه پرده ده چه پوره په سترګو راغلی وی) (تفسير عز الدين ابن عبد السلام) تنوين په کښې د تنکير دپاره دے او تنکير دپاره د تعجب دے يعنی [غِشَاوَةٌ عَجِيْبَةٌ] (ناشنا پردے دی) چه ډاکټران ئے په دوربين هم نشی معلومولے۔ او هغه د څه پردی دی ؟ (۱) – غِشَاوَةُ التَّعَامِيْ عَنْ آيَاتِ اللّٰهِ۔ (خازن) (د الله تعالىٰ د آيتونو نه د ځان ړوندولو پردے دی) يعنی قصداً ئے ځان ړوند او غافل ساتلے دے، هيڅ عبرت او نصيحت نهٔ اخلی۔ بيا دا پردے د چا زياتے وی او د چا کمے، څوك په هيڅ خبره نهٔ پوهيږی او څوك په يوه خبره نيمه پوهه شی او څوك په زياتو خبرو پوهيږی۔

(۲) غِشَاوَةٌ عَنْ اَنْ يُّبْصِرُوْا سَبِيْلَ الْهُدٰى فَيَعْلَمُوْا قُبْحَ مَا هُمْ عَلَيْهِ مِنَ الضَّلَالَةِ وَالرَّدٰى] (طبری) پردی دی چه د هدايت لاره نهٔ وينی چه د خپلے ګمراهئ او هلاکت بد والے

وپیژنی۔

فائده : د قلب او سمع سره د ختم او د بصر سره د غشاوة ذکر کولو حکمة دا دے چه د قلب او د سمع معلومات د هر طرف نه کیدے شی او د بصر معلومات صرف د مخامخ طرف نه وی، نو ختم چه د هر طرف نه بندولو ته وئیلے شی، د قلب او د سمع سره مناسب دے او غشاوة (پرده) چه صِرف د مخامخ نه پټول کوی د سترګو سره مناسب ده۔

فائده : په جانب د قلب او سمع کښې ئے جمله فعلیه راوړه چه دلالت کوی په تجدد او حدوث او په جانب د بصر کښې ئے جمله اسمیه راوړه چه دلالت کوی په دوام او استمرار۔ حکمة دا دے چه دوی د رسول الله ﷺ د نبوت نه مخکښې د هیڅ نذیر آواز نهٔ وو اَوریدلے او هیڅ حُجت پرے نهٔ وو قائم شوے، او دلائل او حجت قائمیدل او د نذیر آواز اَوریدل د رسول الله ﷺ د نبوت نه بعد شروع شو، نو هغه د مخکښې نه همیشه نهٔ وو، او کوم شے چه په سترګو لیدلے کیږی چه هغه د الله تعالیٰ د وجود او د قدرت دلائل دی نو هغه د رسول الله ﷺ نه مخکښې هم موجود وو، په آسمانونو او زمکو او د دوی په نفسونو کښې نو دوی هغه لیدلے شو او د هغې په وجه ئے خپل رب پیژندلے شو۔ نو ځکه ئے د بصر سره جمله اسمیه راوړه۔ [الوسیط للسید طنطاوی ۱/ ۲۲]

﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾

[اَیْ فِی الآخِرَةِ ۲ - وَقِیْلَ اَلْاَسْرُ وَالْقَتْلُ فِی الدُّنْیَا وَالْعَذَابُ الدَّائِمُ فِی الْعُقْبٰی] (خازن ۱/ ۱۲)

دا اُخروی عذاب دے۔ کافرانو دپاره لوئی عذاب ځکه دے چه د دوی کفر لوئی دے او کفر ئے ښکاره دے، د الله تعالیٰ د حقوقو او بندګئ نه انکار دے، روستو راځی منافقانو دپاره عذاب الیم دے ځکه هغوی مؤمنانو ته درد ورکوی، د هغوی ضرر پټ دے او ددے کافرانو ضرر ښکاره دے نو جزا من جنس العمل وی۔

۲- یا ددے نه مراد دنیاوی عذاب هم کیدے شی په قید کولو او قتل کولو سره، سره د عذاب دائم نه په عقبیٰ کښې۔ (پوره عذاب په آخرت کښې دے)۔

معنیٰ د عذاب :

(**عذاب**) په لغت کښې د عذاب دوه معنے دی (۱) د عُذُوبة نه ماخوذ دے، او عذوبة خوند او مزے ته وئیلے شی، نو عذاب ته عذاب ځکه وائی چه په دے کښې سلب العذوبة دے، خوند د یو شی نه زائله کوی، نو په دے کښې معنیٰ د سلب پرته ده۔ یو شے چه یے

خوندہ شی نو دیته عذاب وائی لکه وهل، زهر، اُور وغیره یے خونده شے دے، مزه پکښې نشته بلکه تکلیف پکښې دے، نو بیا عذاب د هر تکلیف او هر مصیبت دپاره استعمالیږی۔ لکه سفر ته هم عذاب وئیلے شویدے [اَلسَّفَرُ قِطۡعَةٌ مِنَ الۡعَذَابِ- الحديث، بخارى : ١٨٠٤] ځکه په سفر کښې هم تکلیف وی۔

(۲) دویم : عذاب د عَذۡبٌ نه ماخوذ دے، په اصل کښې منع او بندش ته وئیلے شی، لکه علی ﷺ فرمائی : [أَعۡذِبُوا نِسَاءَ كُمۡ] وَفِي لَفۡظٍ [اَعۡذِبُوا عَنۡ ذِكۡرِ النِّسَاءِ] (القرطبی)

(یعنی منع کړئ خپلے زنانه د وتلو نه، یا په جهاد کښې د زنانو تذکره مه کوئ) (لازم او متعدی دواړه استعمالیږی) نوعذاب ورته ځکه وائی چه د صاحب د عذاب نه هر هغه خیر او راحت چه بدن سره مناسب وی، منع کولے شی۔

او عذاب په اصطلاح د شریعت کښې هر تکلیف او مصیبت ته وائی، که د بدن سره تعلق لری او که د مال سره او که د هر شی سره خو چه تا ته تکلیف درکوی نو دغه ته عذاب وائی۔ ابو هریره ﷺ په یو ماشوم جنازه کوله او داسے اُوفرمایل : [اَللّٰهُمَّ اَعِذۡهُ مِنۡ عَذَابِ الۡقَبۡرِ] (یعنی د قبر د پریشانی او تنګوالی او وحشت نه ئے بچ کړه)

فائده :د عذاب لفظ ماده په قرآن کریم کښې (۳۷۵) کرته ذکر ده، او الله تعالیٰ د عذاب مختلف صفتونه ذکر کړی دیَ لکه ۱- کله عذاب عظیم، ۲- عذاب اَلِیۡم،

۳- سُوۡءُ الۡعَذَاب دا به په دے سورت کښې روستو راشی۔ ٤- او دارنګه اَشَدُّ الۡعَذَاب،

٥-عذاب مُهِيۡن (سپکونکے او ذلیله کونکے عذاب) ٦- عذاب شدید،

۷- اَلۡحَرِيۡقُ (سوزونکے عذاب) ۸- اَلۡمُقِيۡمُ، (الدَّائِمُ) ۹- اَلۡخِزۡیُ (د شرم عذاب په دنیا کښې)

۱۰- دارنګه لفظ د اَشَقّ استعمال دے (مشقت ورکونکے) ﴿ وَلَعَذَابُ الآخِرَةِ أَشَقُّ ﴾

۱۱- عذاب وَاصِبٌ، ۱۲- عَذَابُ الۡخُلۡد۔ ۱۳- عذاب النار۔ ١٤- عذاب جهنم۔ وغیره۔

فائده : د کافرو دپاره عذاب عظیم، اشق، مهین، الحریق، اشد العذاب وغیره مخکښې ذکر شوی عذابونه استعمالیږی او کافر ددے تولو مستحق دے او منافقانو دپاره غالباً الیم ذکر کیږی او ګناهګارو مؤمنانو دپاره هم عذاب ذکر کیږی لیکن هغۀ تادیبی عذاب وی، مُهِین نۀ وی۔ (قاله شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله رحمة واسعة)

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ

او بعض د خلقو نه هغه ځوك دي چه وائي، مونږ ایمان راوړیدے په الله تعالیٰ

وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸﴾

او په ورځ روستنۍ (حال دا چه) نۀ دي دوی ایمان والا (په زړونو کښې).

تفسير: دلته اُوس دريمه ډله بيانيږي.

دلتـه هم يو څو خبرے بيانولے شي : ۱- مناسبت د آيتونو مخکښې سره. ۲- حاصل د آيتونو د ركوع پورے. ۳- د مِنَ النَّاسِ نه دلته څوك مراد دي؟.

٤- څلورم به د منافقت متعلق څو بحثونه بيانيږي.

(۱)- اقسام د منافقينو (۲) - منافقينو سره نبي عليه السلام جنگ ولے نۀ كولو.

(۳) - د منافقانو صفات ئے ولے دومره ډير راوړي دي.

٤- بحث د الفاظو د وضاحت.

۱- **البحث الاول :** مناسبت د آيتونو :

مخكښې د مؤمنانو حالات، بيا د كافر حالت بيان شو، اُوس بين بين خلك بيانوي چه ظاهره كښې خو مسلمانانو وو، ليكن په حقيقت كښې كافر وو، د دنياوي مصالحو د خاطره ئے اسلام ښكاره كړيے وو. (۲) دويم مناسبت د موضوع د سورت سره دا دے چه ايمان بالغيب مفيد دے او كفر هلاكت دے او لفظي ايمان آخرت كښې كار آمد ندے اگركه څه نا څه دنياوي فائدے به په هغے حاصلے شي.

(۳) دا تشريح د ولا الضالين ده نو دا دريمه ډله ده.

(٤) كفارو سره ئے قريب منافقان ذكر كړل د وجه د مناسبت د منافقانو د كافرانو سره.

۲- **حاصل الايات :** دے آيتونو كښې الله تعالى د دريمے طائفے تذكره كوی چه ضالين دي په (۱٦) بدو صفاتو، او دوه عذابونو بيانولو سره، په مينځ كښې او دوه مثالونه په آخر كښې. تفصيل ئے دا دے : اول آيت كښې الله تعالىٰ د منافقانو دا خصلت بيان كړيدے چه وما هم بمؤمنين (مؤمنان ندی) بيا دويم يُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ (الله تعالىٰ سره دوكه كوی)

دریـم وما یشعرون (شعور پکښې نشته) څلورم فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَرَضٌ (په زړونو کښې ئې مرض دے) پنځم بما کانوا یکذبون (دروغجن دی)۔ شپږم اِنَّمَا نَحۡنُ مُصۡلِحُوۡنَ (فساد ته اصلاح وائی) اوم خپله مفسدان دی۔

اتـم تَسۡفِیۡـهُ الۡعُقَلَاء (په دین کښې چه څوك مشران دی هغوی ته بد ګوری) نهم : خپله بے وقوف دی، لسم : لَا یَعۡلَمُوۡنَ (نهٔ پو هیږی)

یولسم : اِذَا لَقُوا الَّذِیۡنَ آمَنُوۡا (ذو الوجهین (دوه مخی) دی، مؤمنانو سره چه یو ځائے شی یـوه خبـره کـوی او کـافرو سره بله) ۔۱۲– اِسۡتِهۡـزَاء بِـالۡمُؤۡمِنِیۡنَ (پـه مـؤمـنـانو پورے توقے کوی)۔ ۱۳– فی طغیانهم (الله ئے سرکشی ډیروی)۔

۱٤– یَعۡمَهُوۡنَ (زړونه ئے راندهٔ دی)۔

۱۵– اُولٰٓئِكَ الَّذِیۡنَ اشۡتَرَوُا الضَّلَالَة (ګمراهی اخلی) (۱٦) وَمَا کَانُوۡا مُهۡتَدِیۡنَ (په هدایت نهٔ دی روان)

نـو روستـو ورلـه دوه مثـالونه راوړی۔ (مَثَلُهُمۡ) اول مثـال ناری (اُور والا) (اَوۡ کَصَیِّبٍ) سره مثـال مـائـی (اُوبو والا)۔پدے سره منافقان ښهٔ پیژندل کیږی، دوه عذابونه ئې پدے مینځ کښې ذکر کړی دی، یو عـذاب الیـم، دا د آخرت عذاب دے، الله تعالیٰ به دوی له دردناك عـذاب ورکـوی آخرت کښې، او دنیا کښې ورله هم عذابو نه ورکوی، یو په دنیا کښې د دین عذاب، (فَزَادَهُمُ اللهُ مَرَضًا) ۔ الله تـعالیٰ به ورله مرض زیات کړی۔ (وَیَمُدُّهُمۡ فِیۡ طُغۡیَانِهِمۡ) دا ئے بل عذاب دے چه سرکشی به ورله ډیره کړی، دا دواړه د دین متعلق عذاب دے۔

(**وَمِنَ النَّاسِ**) عـام مفسرین وائی : دا د منافقانو بحث دے، دلتـه الله تعالیٰ د منافقینو خـصلتـونه ذکر کوی۔ او همدا ظاهر قول دے او بعض اُوسنو تفسیرونو کښې لیکی چه دا د یهودو صفات دی لیکن دا خبره صحیح نهٔ ده ځکه د یهودو بحث روستو راځی۔

دویـم دا چـه یهـود تـول مـنافـقان نهٔ وو، بلکه ښکاره کافر وو لږ لږ پکښې منافقان وو نو هغوی به هم پدے آیتونو کښې داخل وی۔

د منافقانو تاریخ پیدائش

د دوی پس منظر دا دے چه رسول الله ﷺ چه کله د مکے معظمے نه مدینے طیبے ته هـجـرت اُوکړو نو هلته درے قسمه خلق اُوسیدل، (۱) د اَوس او خزرج انصار مسلمانان۔ (۲) او د اوس او خزرج هغهٔ خلق چه اسلام ئے لا قبول کړے نهٔ وو۔ (۳) او د یهودیانو درے

قبیلے۔ ۱- بنو قینقاع (د خزرج حلفاء) او بنو نضیر ۳- او بنو قریظه۔ (د اوس حلفاء)۔
د رسول الله ﷺ مدینے ته راتلو نه پس د اَوس او خزرج ډیر عرب اسلام کښې داخل شو او ډیر کم یهودیانو اسلام قبول کړو، په ابتدائی ورځو کښې په مدینه کښې منافقان نهٔ وو موجود ځکه په هغهٔ وخت کښې د مسلمانانو رعب او دبدبه نهٔ وه، بلکه د حالاتو د تقاضے مطابق رسول الله ﷺ د یهودیانو او د عربو ډیرو قبیلو سره مصالحت اُوکړو، د واقعے د بدر نه بعد د مسلمانانو هیبت په کافرانو باندے طاری شو،
نو عبد الله بن اُبی ابن سلول (رئیس المنافقین) چه د خزرج قبیلے وو او د رسول الله ﷺ د راتلو نه مخکښې مدینے والو دهٔ لره خپل بادشاه مقررولو او تاج ئے ورته په سر کولو۔ هغهٔ اُولیدل چه اُوس خو اسلام غالبیږی او د مسلمانانو قدمونه مضبوطیږی نو هغهٔ او د هغهٔ ملګرو (د دنیا د لالچ او د یرے په وجه) د زړه په ناخوښئ سره په اسلام کښې د داخلیدو اعلان اُوکړو، څه یهودیانو هم دغه شان اُوکړل نو پدے طریقه منافقان په وجود کښې راغلل، ددے نه روستو خواؤ شا بانډیچیانو هم دغه شان اُوکړل او د مؤمنانو په صفونو کښې داخل شول۔
او دے منافقانو به شرک نهٔ ښکاره کولو بلکه دوی به پنځه مونځونه بلکه اووه او اته مونځونه کول حدیث کښې راغلی دی چه منافقینو به تهجد هم کول، د ضحیٰ مونځ به ئے هم کولو، د جُمعے مانځه له به هم راتلل، جهادونو ته به تلل او د مسلمانانو په عامو مشورو کښې به هم شاملیدل لیکن بیا هم کافر وو، ځکه خبره ئے زړه ته نهٔ وه پریوتے، چه موقعه به ورته ملاؤ شوه نو ورانے به ئے کولو نو پدے آیتونو کښې قبیح صفات د منافقانو بیانیږی۔ دا منافقت بیا په هره زمانه کښې شته لکه روستو راځی۔

د منافقت وضاحت :

منافقت او نِفَاق څه ته وائی ؟ نَفَقَ اصل کښې سوری کولو ته وائی، د نَفَقَ الیَرْبُوْعُ نه ماخوذ دے، منافق ته منافق ځکه وائی چه دا دوه لارے لری لکه یربوع (صحرائی مږه) چه دوه سوړی لری، چه ښکاری وریسے ورشی، نو هغه ترے په بله لاره وځی، چلباز حیوان دے، نو د منافق هم دوه لارے وی، د خولے یوه لاره، او د زړه بله، د مسلمانانو سره یو شان وی، د کافرو سره بل شان۔

د نفاق اصطلاحی معنی :

نفاق په اصطلاح د شریعت کښ درے قسمه دے. (۱) منافق شکی. (۲) دویم: اعتقادی (عقیدوی). (۳) دریم عملی.

منافق شکی دیته وائی چه په زړه کښ ئے شك وی چه دا نبی او دا قرآن کریم به حق وی او که نهٔ ؟، دا منافقان شکیان په مکه کښ لږ لږ موجود وو، عام منافقان نهٔ وو ځکه چه د مؤمنانو زور نهٔ وو، لکه په سورة العنکبوت (۱۱) کښ فرمائی: (وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنَافِقِينَ) منافق هغه ځائے کښے پیدا کیږی، کوم ځائے کښ چه د مسلمانانو زور پیدا شی). او هلته زور نهٔ وو نو منافقان نهٔ وو خو صرف شکیان وو چه دا شك به ئے کولو چه بعض خبرے د نبی (ﷺ) ښے لګی او بعض داسے خبرے کوی چه دماغ ئے نهٔ اخلی، نو شك ئے پیدا شوے وو، دا وجه وه چه کله د معراج واقعه راغله نو بعض کسان واوریدل چه دا نبی (ﷺ) ځنګه خبرے کوی چه زه په هوا والوتم، او بیت المقدس ته اُورسیدم، او بیا بره آسمانونو ته وُختلم، دا خو زمونږ عقل نهٔ منی، نو ایمان ئے پریخودو، الله تعالیٰ کله کله داسے امتحان راولی.

۲- **دویم اعتقادی منافق** دے [هُوَ اَنْ يُّبْطِنَ الْكُفْرَ وَيُظْهِرَ الْإِيْمَانَ] (چه زړه کښ قصداً کفر ساتی او په ظاهره کښ ایمان ښکاره کوی) نبی، قرآن او حدیث منی، لکه دا د منافقانو طریقه وه، رسول الله ﷺ ته به ئے کنځل هم کول او دا کوشش به ئے هم کولو چه څه طریقے سره ئے قتل کړی، ختم شی، دا به ئے خوښوله هم چه بل څوك پرے غالبه شی، څوك راشی او پدے مدینه باندے حمله اُوکړی او دا مسلمانان ختم کړی. دا منافق اعتقادی دے، دا فی الدرك الاسفل من النار دے او دا د کافر نه هم ډیر غټ کافر دے.

۳- **دریم منافق عملی** دے، دا دیته وائی : [هُوَ اَنْ يَّكُوْنَ اَعْمَالُهٗ اَعْمَالَ النِّفَاقِ] (چه عملونه ئے د منافقت وی)، زړهٔ کښے ئے کفر نهٔ وی، الله تعالیٰ، رسول (ﷺ) او قیامت، ټول منی، او اقرار کوی چه دا حقے خبرے دی، خو عملونه ئے خراب وی. لکه د منافقت هغهٔ اعمال قرآن او احادیثو کښ تفصیلاً بیان شویدی. لکه دروغ وئیل، وعده خلافی کول، خیانت کول، کنځل کول، تهنګ تهکور اَوریدل، د منافقت نه نهٔ یریدل.

۴- ابن کثیر رحمه الله لیکی : منافقت دے ته وائی : [اِظْهَارُ الْخَيْرِ وَاِسْرَارُ الشَّرِّ] (خیر راښکاره کول او زړهٔ کښے شر پټ ساتل)

د صحابه کرامو ﷺ د نفاق نه یره

صحابه کرامو به د زړهٔ کیفیت بدلیدو ته او غفلت راتلو ته هم منافقت وئیلو۔ لکه د [نَافَقَ حَنْظَلَةُ] واقعه مشهوره ده۔ حنظله ﷺ د سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ سره ملاؤ شو، وے وئیل : [نَافَقَ حَنْظَلَةُ] (حنظله خو منافق شو) تپوس ئے اُوکړو : دا څنګه ؟ وے وئیل : مونږ چه د رسول الله ﷺ سره ناست یو، یو شان یو، او چه د هغه د مجلس نه راپاڅیږو [عَافَسْنَا الْأَوْلَادَ وَالْأَزْوَاجَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِيْنَا كَثِيْرًا مَّا يُحَدِّثُنَا بِهٖ] (بچو، ښځو او زمکو سره مو اختلاط راشي نو د هغه ډیرے خبرے زمونږ نه هیرے شي)، نو دا کار ورته منافقت ښکاره کیدو) بیا نبی ﷺ له ورغلل او هغه ورته علاج اُوخودلو۔ چه که تاسو په هغه حالت شئ کوم بانديے چه زما په مجلس کښ يئ نو ملائك به تاسو سره ستاسو په مجالسو او ستاسو په لارو او بسترو دپاسه مصافحه شروع کړی۔ (صحيح مسلم : ۷۱٤۲)

۲- دارنګه هغوی به دا سوچ کولو چه زمونږ زړونو کښ کله نا کله غفلت او خړ والے او بے محبتی پیدا شي، استحضار د الله تعالیٰ همیشه نهٔ وی، نو دا به هم منافقت وی، دے نه به یریدل۔ سیدنا عمر فاروق ﷺ جناب حذیفة بن الیمان ﷺ ته اُوفرمایل : تاته رسول الله ﷺ د منافقانو نومونه خودلی دی : آیا زهٔ ئے په هغوی کښ درخودلے یم که نه ؟ نو اُوګوره سیدنا عمر فاروق ﷺ ته خپل ځان معلوم دے چه زهٔ مسلمان مؤمن یم، الله تعالیٰ او د هغه رسول منم خود دغه منافقت نه به یریدل چه کیدے شي مونږه هسے منلی وی، او ډیر اثر ئے نهٔ وی کړے۔

۳- ابن ابی مُلَیکه رحمه الله فرمائی : [أَدْرَكْتُ ثَلَاثِيْنَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ كُلُّهُمْ يَخَافُ النِّفَاقَ عَلٰى نَفْسِهٖ، مَا مِنْهُمْ مَنْ يَّقُوْلُ :إِنَّهٗ عَلٰى إِيْمَانِ جِبْرَئِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ]

[صحيح البخاری ۱/ ۲٦ رقم : ۳۷]

(ما دیرش صحابه کرام موندلی دی چه ټول به د منافقت نه په خپل ځان ویریدل، یو په هغوی کښ هم داسے نهٔ وو چه وئیل ئے : زما ایمان د جبرئیل او میکائیل په شان دے)۔

۵- حسن بصریؒ فرمائی : [مَا خَافَهٗ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا أَمِنَهٗ إِلَّا مُنَافِقٌ]

[بخاری ۱/ ۲٦، بَابُ خَوْفِ الْمُؤْمِنِ مِنْ أَنْ يَّحْبَطَ عَمَلُهٗ وَهُوَ لَا يَشْعُرُ، باب رقم : ۳۷]

(د منافقت نه صرف او صرف مؤمن ویریږی او د منافقت نه منافق بے غمه وی) نو دا نښه ده چه که ته د منافقت نه یریدلے معلومه شوه چه تا کښ به منافقت نهٔ وی۔

٦- ابراهیم التیمی رحمه الله فرمائی :
[مَا عَرَضْتُ قَوْلِيْ عَلٰى عَمَلِيْ اِلَّا خَشِيْتُ اَنْ اَكُوْنَ مُكَذَّباً] [صحيح البخاری باب : ٣٧]
(ما خپل قول په خپل عمل نهٔ دے پیش کړے مگر یریدلے یم چه زهٔ به دروغجن یم) ځکه چه ډیر کرته د انسان قول د هغه د عمل خلاف وی، په خپلو خبرو عمل نهٔ کوی، نو دا هم منافقت دے۔

٧- جامع العلوم والحکم ص (٤٣٤) کښے علامه ابن رجب رحمه الله فرمائی : (د منافقت عملی لوئی خصلت دا هم دے چه یو انسان عمل کوی د بد غرض حاصلولو دپاره او خلقو ته دا ښکاره کړی چه زما مقصد ښه دے، او بیا پدے کار خوشحاله هم وی او پدے سره د خلقو مدح ځان ته راکاږی لکه منافقانو مسجد ضرار جوړ کړو غرض ئے غلط وو لیکن خلقو ته ئے دا ښکاره کړه چه زمونږ نیت او غرض پکښ ښه دے۔ روسته خداع لفظ کښ هم راځی۔

٨- حسن بصریؒ فرمائی : [مِنَ النِّفَاقِ اِخْتِلَافُ الْقَلْبِ وَاللِّسَانِ وَاخْتِلَافُ السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ وَاخْتِلَافُ الدُّخُوْلِ وَالْخُرُوْجِ] [جامع العلوم]
(دا هم منافقت دے چه د زړه او د ژبے ترمینځ مخالفت وی، او د ظاهر او د باطن ترمینځ مخالفت وی او د وتلو او ننوتو ترمینځ مخالفت وی) ۔او دغه شان قول د ابن جریجؒ هم دے، ابن کثیرؒ نقل کړیدے۔

(**تنبیه**) د سلف صالحینو طریقه دا وه چه دا قسم آیتونه به ئے د ځان سره لګول، او په نورو مسلمانانو به ئے نهٔ چسپانول، لکه نن صبا دا مرض عام دے چه یو آیت یا حدیث راشی نو خلق نورو ته ګوتے اُونیسی او حال دا چه دغه مرض به په دهٔ کښ په اعلیٰ درجه موجود وی۔ والله المستعان۔

محمد بن سیرینؒ فرمائی : [اَخْوَفُ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ] دا آیت په قرآن کریم کښ ډیر د ویرے آیت دے) ځکه یو انسان به په ظاهره کښ مسلمان وی او د الله تعالیٰ په نزد به منافق وی، نو صحابه کرام او سلف صالحین به ددے آیتونو نه ډیر ویریدل۔

بعض خلق دا آیتونه د اهل حقو پسے لګوی او هغوی ته د منافقت نسبتونه کوی دا ډیر لوئی تاوان دے، مؤمنانو ته د نفاق نسبت ښه نهٔ وی پخپله ویریدل پکار دی، ځکه ایمان د یو کیفیت نوم دے، د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ د محبت نوم دے، الله تعالیٰ ته

د خشـوع نـوم دے، ایمـان د زړه د تـازه ګـئ نـوم دے او هغـه به تاسره نهٔ وی نو تاکښ به منافقت وی۔

نبی ﷺ د منافقانو سره جنګ ولے نهٔ کولو ؟

هر کله چه نبی ﷺ تـه مـنـافقان په نومونو سره معلوم وو، نو جنګ ئے ورسره ولے نهٔ کولو؟ نو ددے یو څو وجوهات او حکمتونه دی۔

(۱) – یو دا چه حدیث د بخاری (۳۵۱۸) وغیره کښ دی چه نبی ﷺ فرمائی :

[اَكْرَهُ اَنْ يَّتَحَدَّثَ الْعَرَبُ اَنَّ مُحَمَّدًا (ﷺ) يَقْتُلُ اَصْحَابَهٗ]

(زهٔ دا بده ګنړم چه عرب به وائی محمد (ﷺ) خپل ملګری وژنی)۔

نو ددے بدګمانی پیدا کیدو خطره وه۔

(۲) – دویم : د الله تعالیٰ حکم نبی ﷺ ته نهٔ وو شوے۔

امام مالك رحمه الله فرمائی :

[فِيْهِ دَلِيْلٌ عَلٰی اَنَّ الْحَاكِمَ لَايَحْكُمُ بِرَأْيِهٖ]

(دا دلالت کـوی چه حاکم به په خپله رایه فیصله نهٔ کوی)۔ بلکه د حکم شرعی لحاظ به ساتی۔

(۳) – دریم دا چـه امـام شـافعیؒ فرمائی : ظاهراً ئے کلمه وئیلے وه، او اسلامی اعمال ئے کول او شرع ظاهر کوری [اُمِرْتُ اَنْ اُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَشْهَدُوْا اَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰه]۔

د منافقانو حکم

بیـا د رسـول الله ﷺ پـه زمـانـه کـښ د منافق حکم دا وو چه څه به ورته نهٔ وئیـل کیـدل ځکه علت موجود وو چه بدګمانی پیدا کیدله :

[اِنَّمَا كَانَ النِّفَاقُ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاَمَّا الْيَوْمَ فَاِمَّا الْكُفْرُ اَوِ الْاِيْمَانُ]

[رواه البخاری (رقم : ۷۱۱٤) ، جامع الاصول رقم : ۹۱۹۰، مشکوة باب علامات النفاق]

(حـکـم د منافقت چه عدم قتال دے– د رسول الله ﷺ په زمانه کښ وو، نن یا کفر دے یا اسـلام) یـعـنـی اُوس زمانه کښ د منافقانو حکم دا دے چه وژلے به شی یعنی کله چه یو تـن مـنـافـقت کوی او د مسلمانانو خپے وهی، د هغوی جاسوسی کوی، نو وژلے به شی، لیکن حاکمِ وقت به ئے وژنی، نهٔ عوام۔

فائده : د منافقانو صفتونه ولې زيات ذکر کيږي ؟

په قرآن کريم او احاديثو کښې د سلو نه زيات بد صفات د منافقانو بيان شويدی، ددې حکمتونه دا دی : (۱) [تَحۡذِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ مِنۡ صِفَاتِهِمۡ] (مؤمنانو ته تحذير دې چه د دوی د صفاتو نه ځان بچ کړئ).

(۲) – دويم : [اِصۡلَاحُ الۡمُنَافِقِيۡنَ] (اصلاح د منافقانو غرض ده). (فَاِنۡ يَّتُوۡبُوۡا يَكُ خَيۡرًا لَّهُمۡ) (التوبة)

(۳) – [لِئَلَّا يَغۡتَرَّ بِهِمُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ فَيَقَعُ فَسَادٌ عَرِيۡضٌ]

(دې دپاره چه مؤمنان خپل دشمنان اُوپيژني او دوکه پرې نشي، ورنه بيا به ددې په وجه لوئی فساد پيدا شي). لکه سوره توبه (٤٧) کښې راځي ﴿لَوۡ خَرَجُوۡا فِيۡكُمۡ مَا زَادُوۡكُمۡ اِلَّا خَبَالًا﴾ (که دا منافقان تاسو سره تبوك ته تلی وې نو فسادونه ئې ډيرول)، ﴿وَفِيۡكُمۡ سَمّٰعُوۡنَ لَهُمۡ﴾ (توبه : ٤٨) (کافرانو دپاره جاسوسي کوی)

(٤) قاسميّ ليکی : [لِئَلَّا يُظَنَّ بِاَهۡلِ الۡفُجُوۡرِ خَيۡرًا] (او دې دپاره چه په بدکارو باندې د نيکو کارو گمان اُونۀ شي). (ابن کثير ۱/۱۷۷) ايضاً

(٥) [تَمۡيِيۡزُ الۡخَبِيۡثِ مِنَ الطَّيِّبِ] (پاك د ناپاکو نه جدا کول)

توضيح الكلمات والفوائد

(ومن الناس) : دا کلمه په قرآن کريم او عربي لغت کښې (۱)– کله د تذليل او سپکولو دپاره استعماليږی، لکه دلته، او په آية (۲۰۰) کښې راځي. يعنی دا سپك او ذليل خلق دی.

(۲) او کله د مدح او تعظيم دپاره لکه دې سورة (۲۰۷) کښې (وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يَّشۡرِىۡ نَفۡسَهُ) يعنی کامل انسان دې.

الناس : لفظ د الناس قرآن کريم کښې (۲٤۱) کرته راغلی دې. ۱– او دا اسم جمع ده، مفرد ئې نشته. ۲– او بعض علماء وائی : دا جمع د انسان او انسانة ده، انسان ئې مفرد دې او الناس د هغې جمع ده.

۳– کسائيّ وائی : دا اسم تام دې.

(۱) بيا بعض وائی دا ماخوذ دې د نَوس نه په معنیٰ د حرکت او خوزيدلو سره، لکه

حدیث د ام زرع کښې هم دا ماده استعمال ده : [اَنَاسَ مِنْ حُلِيٍّ عَضُدَيَّ] [بخاری : ۵۱۸۹]
(۲) او بعض وائي : د نسیان نه دے، په معنیٰ د هیریدلو سره، د انسان نه هم هیره کیږی۔
(۳) یا د اَنَسَ نه دے په معنیٰ د لیدلو سره لکه (آنَسَ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ نَارًا) (القصص: ۲۹) نو انسان هم لیدلے شي، د جناتو په شان پټ نۀ دے۔
(٤) یا د اُنس نه دے په معنیٰ د مینے او محبت سره۔ لکه مخکښې شعر تیر شویدے (وَمَا سُمِّيَ الْاِنْسَانُ اِلَّا لِاُنْسِهٖ) (القرطبی)
نو انسان به هله انسان وی چه یو بل سره محبت اُولری۔ او همدا راجح قول دے۔
دلته د ناس نه مراد انسانان دی۔
قاعده : دا واوره چه په پیرانو کښې هم منافقان، مؤمنان او کافران شته، لیکن قرآن کریم کښې غالباً بحث د انسانانو سره کیږی او پیریان تابع د انسانانو دی او زنانه تابع د سړو دی، سړی ئے اصل دی او زنانه او پیریان ئے تابع دی، هغه دومره اشرف مخلوق نۀ دے، لهذا دا بحث انسانان او پیریانو دواړو ته شامل دے۔
﴿مَنْ يَّقُوْلُ﴾ ماده د لفظ د قول په قرآن کښې (۱۷۲۳) کرته راغلے ده، په مختلفو معنو استعمال ده،
(۱) – قَالَ يَقُوْلُ کله په معنیٰ د گفتن (خبرو) سره راځی۔
۲– په معنیٰ د عقیدے، لکه ﴿قَالُوْا اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ﴾ (البقرة :۱۵٦)
۳– دریم قَالَ يَقِيْلُ : (قَيْلُوْلَه) (د غرمے خوب ته هم وائي) لکه ﴿اَوْ هُمْ قَائِلُوْنَ﴾ (اعراف:٤)
٤– په معنیٰ د افتراء او دروغ جوړولو سره لکه ﴿اَمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ (البقرة : ۸۰) دغه شان د باب تفعل نه چه راشي (تَقَوُّل) لکه
﴿وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْاَقَاوِيْلِ﴾ (الحاقة:٤٤)
په احادیثو کښې هم ددے لفظ ډیرے معانی استعمال دی، لکه اشاره کول، [فَقَالَ بِيَدِهٖ هٰكَذَا، اَیْ اَشَارَ] کله په معنیٰ د کیخودلو او کله راخستلو سره وی۔

(وباليوم الآخر)

په الله او په آخرت باندے د ایمان د تخصیص وجه

ددے د تخصیص دوه وجے دی (۱) یوه وجه ئے دا ده چه دوی په نورو شیانو باندے هم دعوی د ایمان لری۔ خو هغه په نورو ځایونو کښ ذکر دی۔ سوره النساء (۶۰) آیت کښ دعوىٰ د ایمان بالقرآن ذکر ده ﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ آمَنُوْا بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ ﴾ الآية۔ دعوىٰ کوی د ایمان بالرسول سورة النور (۳۷) کښے راځی : ﴿ وَيَقُوْلُوْنَ آمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ ﴾ لهذا ټولے خبرے په یو آیت کښے نهٔ راجمع کوی، دا د قرآن او د حدیث طریقه ده چه په یو ځائے کښ ټولے خبرے نهٔ وی جمع بلکه په مختلفو ځایونو کښ وی، ته به ئے راجمع کوے۔ او هر ځائے ئے د سورت مناسب لفظ ذکر کړیدے لکه روستو نساء کښے تحاکم الی القرآن ذکر دے او سورة نور کښے د رسول الله ﷺ اتباع ده، او دلته ایمان بالله والیوم الآخر دے۔

(۲) دویمه وجه دا ده چه ایمان بالله مبدأ د ایمانیاتو ده او ایمان بالیوم الآخر منتهیٰ د ایمانیاتو ده، نو ابتداء او انتهاء ذکر شوه، مینځنی شیان پکښ تبعاً داخل دی، ملائك، رسولان، د الله تعالیٰ شرائع، دا ټول مونږ منو، او بنده چه الله تعالیٰ او قیامت اُومنی، نو باقی ایمانیات به په طریقه اولیٰ منی، او دوی ته هم دا پته وه چه قرآن کریم کښ ایمان بالله وبالیوم الآخر ډیر ذکر دے نو ځکه ئے دا تخصیص کړے دے۔

آمَنَّا بالله : د ایمان نه د هغوی ایمان شرعی مراد دے چه الله تعالیٰ منو، او صفات ئے منو او شریکان ورسره نهٔ جوړوو، شرع ئے منو، حقوق ئے منو، خبرے ئے منو، قرآن کښ چه کله ایمان مطلق ذکر شی همدا ترے مراد وی، پوره ایمان په الله ...... باندے۔

﴿ وَبِالْيَوْمِ الآخِرِ ﴾ : په ورځ د آخرت باندے ایمان دا دے چه دا ورځ به واقع کیږی په هغے کښ حساب کتاب دا ټول حق دی، دا د هغوی خبره شوه خو د الله تعالیٰ د طرفه پرے رد اُوشو: ﴿ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴾

(وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ) : [۱- اَیْ وَمَا هُمْ بِمُصَدِّقِيْنَ بِالْقَلْبِ ۲- یا وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ] (۱- یعنی دوی په زړه کښ تصدیق نهٔ لری ۲- یا د الله تعالیٰ په نیز ایمان والا نهٔ دی) نو پدے جمله کښ الله تعالیٰ د دوی تکذیب اُوکړو چه دا خلق په خپله دعوىٰ کښ دروغژن دی ځکه حقیقی ایمان خو دا دے چه په ژبه سره څه وائی نو زړه د هغے تصدیق

اُوکړی او د دوی په زړه کښې تصدیق نشته۔ یواځې په خوله باندے اقرار کولو سره ایمان نۀ پوره کیږی۔ دا خو د ونے ځانګے پیدا کول دی بغیر د ستے نه۔ چه ناممکن کار دے۔

۲- یا معنیٰ دا ده چه دوی د الله تعالیٰ په نزد مؤمنان نۀ دی۔ اګرکه ځان ته به ایمان والا وائی۔ او دنیاوی فائدے به ورته د کلمے د وئیلو په وجه حاصلیږی۔ او دا د یرے خبره ده کله به انسان ځان ته مؤمن وائی او د الله تعالیٰ په نزد به مؤمن نۀ وی او دینه به سلف یریدل۔

فائده : پدے آیت کښې رد دے په کرامیه ډله باندے چه هغوی وائی ایمان صرف د خولے اقرار ته وائی۔ اګرکه زړه کښې تصدیق نۀ وی۔ دلیل نیسی په آیت : (فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا) (المائده : ۸۵) چه دغه نصاراؤ په قول د ایمان سره جنت والا شو۔ جواب دا دے : مونږ وایو، دا بعینهٖ منافقت دے۔ چه په خوله اقرار کوی او زړه کښې ئے تصدیق نۀ وی او هرچه دغه آیت نه استدلال او دغه شان نور احادیثو نه چه په هغے کښې صرف قول ذکر وی- دا دے چه په شریعت کښې ایمان قول او عمل او تصدیق درے واړو ته وئیل شویدے، نو هغه نصوص پریخودل او یو مجمله خبره باندے دلیل نیول صحیح نۀ دی، دارنګه دلته قول لفظ عام دے قول باللسان والقلب تولو ته۔ جمعاً بین الادلة۔ (وانظر القرطبی)

دارنګه دلته نفس اقرار د منافقانو شته او حال دا چه تصدیق ئے نۀ وو نو ځکه ترے الله تعالیٰ نفی د ایمان اُوکړه۔ فتدبر۔

فائده ۲: په ابتداء د آیت کښې ئے (یقول) مفرد ذکر کړو او آخر کښې ئے (مؤمنین) جمع راوړه پدے کښې تنبیه ده په عموم کفر د دوی لکه د مخکنو کافرانو په شان، او بعض کسان دا قول کوی نو پدے کښې اشاره ده چه د دوی کفر ډیر سخت دے۔ [نظم الدرر ۱/ ۱٤]

فائده ۳ : مخکښې ئے متعلق د ایمان ذکر کړو چه (بِاللهِ وَبِالْيَوْمِ الآخِرِ) دے او روستو (وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ) سره ئے متعلق د ایمان ذکر نۀ کړو، حکمة دا دے چه پدے کښې مقصود د هغوی د دعوے نه انکار او نفی ده نو دا ئے پداسے طریقه اُوکړه چه غرض مطلوبه هم ورسره حاصل شو او تاکید او مبالغه هم پکښې راغله چه داسے په بل تعبیر کښې نۀ راتله پدے طریقه چه د دوی ذوات او نفسونه ئے د ایمان والو د طائفے نه بهر کړل۔ ځکه چه الله تعالیٰ ته د دوی حالت معلوم وو چه د دوی حالت د ایمان والو د حالت منافی دے۔

۲- دویم دا چه مخکښې ئې ایمان مقید ذکر کړو او دلته ئې مطلق ذکر کړو دے دپاره چه شامل شي هر قسم ایمانیاتو ته چه دوی نۀ په الله او نۀ په آخرت او نۀ په نبی او نۀ په قرآن ایمان راوړی بلکه د ایمان صفت د دوی نه منفی دے۔ (الکشاف : ۱/۳۳)

يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَمَايَخْدَعُوْنَ
دوکه کوی دوی د الله سره او د هغه کسانو سره چه ایمان ئې راوړے او دوکه نۀ کوی دوئ
اِلَّا اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۹﴾
مګر د ځانونو خپلو سره او نۀ پو هیږی۔

تفسیر : اُوس په منافقانو کښې علامات د عدم الایمان موجود دی هغۀ بیانوی۔

پدے آیتِ کریمه کښې د منافقانو دوه صفتونه دی (۱) یو د الله او د رسول او مؤمنانو سره دوکه کول او دویم عَدَمُ الشُّعُوْر (ناپو هی)۔یعنی منافق به چاته وائی چه دوکے والا وی او شعور او علم ورسره نۀ وی۔

مطلب د آیت دا دے چه دوی د آمنا لفظ وئیلو سره په حقیقت کښې د الله تعالیٰ او د هغه د رسول او د مؤمنانو سره دوکه کوی، د هغوی د دوکه کولو دپاره صرف په ژبه د اسلام اظهار کوی، او حال دا چه دا ځان له دوکه ورکوی، او دا عجیبه خبره ده، ځکه چه پکار خو دا ده چه دوکه ورکونکے شخص یا خو په خپل کوشش کښې کامیابیږی او د هغۀ مقصد پوره کیږی، یا کم از کم د یو نقصان نه بچ کیږی، لیکن دلته معامله برعکس ده ځکه هغوی د خپل مکر او فریب په وجه ځان هلاکوی ځکه الله تعالیٰ ته خو د هغوی مکر معلوم دے او هغۀ چا ته دوکه ورکول چه هغۀ دوکه نۀ خوری، نو دا د ځان سره دوکه او ځان هلاکول دی او مسلمانانو ته هم څه نقصان نشی ورکولے، ځکه الله تعالیٰ وخت په وخت د وحی په ذریعه دوی لره د منافقانو د چلونو او دوهوکونه خبروی او حفاظت ئې هم کوی او دفاع ترے کوی، نو دوی ځان ته نقصان ورسولو، عاقبت ئې برباد شو او دنیا کښې هم رسوا شو۔

(يُخَادِعُوْنَ) : خداع په لغت کښې پټولو ته وئیلے شی۔ او بعض اهل لغت وائی : فساد

ته وئیلے شي۔ او منافق هم خپل کفر پټ ساتي او فساد کوي۔ او په شریعت کښ دیته وائي: [اَنْ تَعْمَلَ بِمَا اَمَرَكَ اللّٰهُ بِهٖ وَتَطْلُبَ بِهٖ غَيْرَهٗ] [قرطبی] (چه ته عمل اُوکړے په هغه څه چه الله تعالیٰ درته پرے امر کړے وی او د الله تعالیٰ نه ماسوا بل څوك دِ پرے مراد وی) او دا ناشنا خبره ده، یو سړے جهاد کوی خو صرف دنیائے مقصد ده، یو سړے دعوت کوی، نوم او شهرت او پیسے ئے مقصد دے۔ نو دا د الله تعالیٰ سره دوهوکه کوی۔

۲- دویم خداع [اِظْهَارُ الْخَيْرِ وَاِسْرَارُ الشَّرِّ] ته وئیلے شي (قاسمیؒ)

(یعني خیر راښکاره کول او د شر په زړه کښ پټ ساتل)، چه بنده خلقو ته خپله نیکی، تقویٰ، راښکاره کړی او پټ دننه شری وی، منافقانو کښ هم دا صفت دے چه خیر ئے راښکاره کړیدے چه ایمان دے چه مونږ مسلمانان یو، دین والا یو، دا نبی (ﷺ) مونږ منلے دے، عبد الله بن اُبی ابن سلول به منبر خواکښ ولاړ وو، نبیﷺ به لا راوتے نهٔ وو چه کله به راوتو نو هغه وخت کښ به ئے دا سے وئیل : [هٰذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ حَقًّا فَاسْتَمْسِكُوْا بِغَرْزِهٖ]۔ اے خلقو ! دا د الله تعالیٰ حق رسول دے، ددهٔ رکاب اُونیسئ، کامیاب به شئ) او په مینځ کښ ورانے به ئے کولو، آخر پدے منافقت کښے مړ هم شو او د دنیا نه کافر لاړو او دا چغے به ئے هم وهلے چه دا د الله تعالیٰ حق رسول دے۔ پدے سره به ئے په خلقو خپله مشری او عزت ښکاره کولو چه زه داسے نیك عمل یم۔

او نبی ﷺ فرمائی : [وَالْمُنَافِقُ خَبٌّ لَئِيْمٌ] (منافق دهوکه باز او رذیل وی)

[ابو داود : ۴۷۹۲، الترمذی : ۱۹۶٤ واسناده حسن]

۳- [هُوَ اَنْ يُوْهِمَ صَاحِبَهٗ خِلَافَ مَا يُرِيْدُ بِهٖ مِنَ الْمَكْرُوْهِ، لِيُوْقِعَهٗ فِيْهِ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ اَوْ يُوْهِمَهُ الْمُسَاعَدَةَ عَلٰى مَا يُرِيْدُ هُوَ بِهٖ لِيَغْتَرَّ بِذٰلِكَ فَيَنْجُوْ مِنْهُ بِسُهُوْلَةٍ]

[تفسیر ابی السعود ۱/ ۴۰) وروح المعانی، والبحر المحیط ۱/ ۵۱]

(خپل ملګری باندے د بدئ اراده لرل او بیا هغه ته دا په ګمان کښ اچول چه زهٔ د خیر اراده لرم، دے دپاره چه هغه په کښ پداسے طریقه واقع کړی چه هغه پرے پوهه نشي، یا هغهٔ ته په ګمان کښ واچوی چه زهٔ ستا سره تعاون کوم او مقصود ئے پدے کښ هغهٔ ته دوهوکه ورکول وی چه د هغهٔ نه په آسانئ سره ځان خلاص کړی)

بیا دلته **مشهور سوال** دے : چه دوهوکه د هغه چا سره کیږی چه هغهٔ نهٔ پوهیږی او الله تعالیٰ ته خو د دوی حالت معلوم دے ؟ **۱- جواب** دا دے [يُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ بِزَعْمِهِمْ]

یعنی دلته خداع د دوی په گمان کښې مراد ده یعنی دوی په خپل گمان کښې دا وائي چه مونږ گنې الله تعالیٰ سره دوهوکه اُوکړه او الله تعالیٰ راباندے خبر نۀ دے۔ او ظاهر کښې به د ایمان دعوه اُوکړو او مونږ ته به فائده ملاوه شي۔ (ابن کثیر، تفسیر رازی)

۲- یا ذکر د خداع دے مراد ترینه مخالفت دے۔ [اَیْ یُخَالِفُوْنَ اللّٰهَ]

(د الله تعالیٰ د حکمونو مخالفت کوی) (معالم التنزیل)

۳- **جواب** : دلته عبارت بنا دے په حذف د مضاف سره۔ [اَیْ یُخَادِعُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰه]

(یعنی دوی د الله تعالیٰ د رسول سره دوکه کوی او د رسول الله سره دوکه داسے ده لکه د الله تعالیٰ سره دوکه، نو الله تعالیٰ ئے ځکه ځان ته نسبت اُوکړو، او نبی ﷺ خو په غیبو نه پو هیدو نو د هغه سره به ئے دوکه کوله۔

٤- بکر بن جریج فرمائی : [یُظْهِرُوْنَ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰه، یُرِیْدُوْنَ اَنْ یَّحْرُزُوْا بِذٰلِكَ دِمَائَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ وَاَنْفُسَهُمْ] (بحر العلوم للسمرقندی : ۱/۱٤)

(یعنی د الله تعالیٰ سره د دوهکے مطلب دا هم دے چه کلمه د توحید راښکاره کوی او زړه کښې ئے دشمنی او کفروی، مقصد ئے دا وی چه پدے سره د دوی مالونه وینے، او نفسونه محفوظ شی) ددے وجه نه حدیث د بزار کښې راغلی دی انس ﷛ فرمائی : صحابه کرامو عرض اُوکړو یا رسول الله ! مونږ تا سره په یو حال یو او کله چه جدا شو نو په بل حال یو ؟ رسول الله ﷺ اُوفرمایل : [کَیْفَ اَنْتُمْ وَرَبُّکُمْ ؟] (ستاسو د رب سره څه حالت وی ؟)۔ [قَالُوْا : اَللّٰهُ رَبُّنَا فِی السِّرِّ وَالْعَلَانِیَةِ، قَالَ : لَیْسَ ذٰلِکُمُ النِّفَاقَ] (هغوی اُووئیل : الله زمونږ رب دے په پټه او په ښکاره) یعنی په ټولو حالتونو کښې د الله تعالیٰ لحاظ کوو او هغه رب گنړو۔ رسول الله ﷺ اُوفرمایل : دا منافقت نۀ دے۔

[مسند البزار وابونعیم فی الحلیة ۲/۳۳۲) وابو یعلی) وفی اسناده مقال]

٥- بعض وائی : [یَفْعَلُوْنَ فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ مَا هُوَ خِدَاعٌ فِیْ دِیْنِهِمْ] [بغوی]

(د الله تعالیٰ په دین کښې داسے کارونه کوی چه هغه د دوی په دین کښې دوکه ده)۔

٦- **جواب** : ظاهر جواب دا دے چه [یُعَامِلُوْنَهٗ مُعَامَلَةَ الْخِدَاعِ] (یعنی د دوی د منافقت معامله مشابه ده د دوهوکے کولو سره) د الله تعالیٰ سره داسے معامله کوی لکه دوهوکه ورکونکے، منافقان اراده د دوکے او چل ول لری، کوی ئے اگرکه د الله تعالیٰ سره ئے نشی کولے، او سرته ئے نشی رسولے، لیکن دوی خو خپل وسع اُوکړو۔ او د ناپوهه خلقو

طریقه دا وی چه په خپل گمان کار کوی۔ دا جواب صحیح دے د ډیرو وجوهاتو نه (۱) ځکه دا ظاهر القرآن دے۔ (۲) الله تعالیٰ یخادعون لفظ وئیلے دے او دائے ندی وئیلی دی چه دوکه په الله تعالیٰ چلیږی۔
(۳) د خداع د تعریف [اَنْ تَعْمَلَ بِمَا اَمَرَكَ اللّٰهُ بِهٖ وَتَطْلُبَ بِهٖ غَيْرَهٗ يا اِظْهَارُ الْخَيْرِ وَ اِبْطَانُ الشَّرِّ] نه معلومیږی چه دا تعریف واخستے شی نو بیا پکښ هیڅ اشکال نشته۔

د خداع مقصد :

منافقانو خداع او دوهوکه ولے کوله؟ پدے کښ ئے څه مقصد وو؟ نو (۱) یو مقصد ئے دا وو چه د دوی گمان دا وو چه نبی ﷺ او مؤمنان به دوی سره داسے معامله اُوکړی لکه څنګه چه د عامو مؤمنانو سره کوی یعنی لکه څنګه چه د هغوی تعظیم او اکرام کیږی نو د دوی به هم دغه شان اکرام او تعظیم اُوکړے شی۔ نو ځکه ئے ایمان ښکاره کړو او کفر ئے پټ کړو۔ (۲) دویم دا چه کیدے شی نبی ﷺ او ایمان والا دوی ته خپل رازونه ښکاره کړی نو دوی ئے خپلو دوستانو کفارو ته نقل کړی۔ (۳) دریم : دوی پدے کار سره د خپل ځان نه د کفارو احکام دفع کول چه هغه قتل وغیره وو۔ (٤) دوی به د غنیمت په مالونو کښ طمع لرله۔ [تفسير اللباب لابن عادل ۱/۹۷) وتفسير الرازى]

بیا الله ورسره څنګه دوکه کوی؟

په سورة سوره نساء (۱٤۲) کښ ﴿وَهُوَ خَادِعُهُمْ﴾ راغلے دے (چه الله هم د دوی سره دهوکه کوی) او دغه شان د یخادعون لفظ نه هم معلومیږی ځکه دا باب مفاعله ده او پدے باب کښ فعل د جانبینو نه صادریږی، اشتراك پکښ وی۔ نو الله تعالیٰ د دوی سره دوکه کوی، د الله تعالیٰ دوکه د دوی سره په څو طریقو سره ده :
(۱) اوله طریقه : [اِجْرَاءُ اَحْكَامِ الدُّنْيَا بِغَيْرِ اَجْرٍ] (یعنی الله تعالیٰ په دوی باندے په دنیا کښ د اسلام احکام جاری کوی، حدود به پرے قائمیږی، مونځونه به کوی، روژے به نیسی، جهاد له به ځی، میراث به ترے مسلمانان اخلی، دا ټول احکام به پرے جاری وی بغیر د اجر ورکولو نه، اجر به ورله نۀ ورکوی۔ نو دا لویه دوکه شوه چه یو سړی باندے کار اُوکړی او مزدوری ورنکړی او دا د دوی خپل نقصان دے ځکه دوی د الله تعالیٰ سره د دوکے اراده لرله نو الله تعالیٰ پرے دا چل اُوکړو چه څه کارونه کوه او اجر درله نشته دے۔

۲- بله دا چه [سمَّاهُمْ مُسْلِمِيْنَ ظَاهِرًا وَفِي الْحَقِيْقَةِ أُعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا]
(دوی ته ظاهراً مسلمانان وائی، په مسلمينو كښې ئې داخلوی او په مينځ كښې ئې ورله عذاب دردناك تيار كړيدے)، نو دوی د الله تعالىٰ سره چل كوی نو الله تعالىٰ هم ورسره چل كوی، د الله تعالى سره څوك دوكه نشی كولے او هغه چه په دوكه راغے د بنده سره، نو بنده هلاك شو۔ او دا دوهوكه د الله تعالىٰ صفت دے ځنګه چه د هغۀ د شان سره مناسبت وی۔ او ظاهری آثارئے دا دی چه دوی به ذليله كوی، دوكه به ئے خلقو ته راښكاره كوی او په نيك عمل به اجر نۀ وركوی۔
۳- دريم : د ابن عباسؓ او حسن بصريؒ نه نقل دی چه دا خداع په آخرت كښ ده۔ چه الله تعالىٰ به مؤمنان او منافقانو ټولو ته نور (رڼا) وركړی او د صراط په طرف به ئے روان كړی، نو د منافقانونه به رڼا واپس واخلی او په تياره كښ به پاتے شی او ايمان والو ته به آوازونه شروع كړی ﴿ أُنْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَائَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا﴾ (الحديد : ١٣)
(مونږ ته انتظار اُوكړئ چه مونږ ستاسو د رڼا نه حصه واخلو، ورته اُوبه وئيلے شی دنيا ته واپس لاړ شئ هلته نه ځان له نور راوړئ) نو دا هغه خداع شوه۔ چه ظاهر كښ ئے ايمان والو سره كړل خو په واقع كښ د كافرانو سره پاتے شو۔
﴿ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا ﴾ د ايمان والو سره دوكه خو ظاهره ده چه هغوی ته به ئے ځان مؤمنان ښكاره كولو، دوستان به ئے ښكاره كول او په زړونو كښ به ئے ورته شكوك، شبهات او رعب اچولو۔
﴿ وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّا أَنْفُسَهُمْ ﴾ (١) [لِأَنَّهُمْ خَادَعُوْا مَنْ لَا يُخْدَعُ]۔
(يعنی دوی ځان سره دوكه كوی ځكه دوی د هغه چا سره د دوكے عمل اُوكړو چه هغه دوكه نۀ خوری او د داسے ذات سره دوهوكه كول چه هغه باندے دهوكه اثر نۀ كوی نو دا د ځان سره دوكه ده، يو پوهه سړی ته دوكه وركوے نو داسے ده لكه ځان له دوكه وركول ځكه هغه ستا په دوكه پوهيږی۔
(۲) بله وجه [لِأَنَّ وَبَالَ ذٰلِكَ رَاجِعٌ اِلَيْهِمْ فِي الدُّنْيَا] (دوی د ځان سره ځكه دوهوكه كوی چه ددے دوهوكے وبال او ګناه به دوی ته په دنيا كښ راواپس كيږی ځكه چه الله تعالىٰ د دوی د دوهوكے ضرر د مؤمنانو نه دفع كوی او دوی ته ئے اړوی۔ (اللباب)

دارنګه الله تعالیٰ به خپل نبی ﷺ له د دوی دوهوکے خبر ورکړی نو په دنیا کښې به اُوشرمیږی او په آخرت کښې به د عذاب مستحق شی۔ (خازن)

(۳) دریمه وجه دا ده چه الله تعالیٰ خو د منافقانو په دوکه باندے پو هیږی نو هغوی د ځان نقصان اُوکړو، د ځان خیر خواهی ئے اُونکړه، ځکه ددے دوکے تاوان دوی ته رسیږی لکه سړے داسے کار اُوکړی چه ظاهره کښې هغه ته فائده ښکاری او مینځ کښې هغه د دوی دپاره تاوان وی نو دا ځان سره دوکه ده، لکه یو سړی د حق پرستو خلاف اُوکړو، مناظره ئے اُوکړه او چالاکی ئے پکښې اُوکړه او دا اهل حق ئے غلے کړو نو دے به خوشحاله شی چه زهٔ کامیاب شوم او مقابل مے پرکړو او مینځ کښې ئے دا د ځان سره دوکه اُوکړه ځکه په باطل او کفر او په مخالفة الرسول به باقی پاتے شی۔ منافقانو هم چالاکی اُوکړه او دیته به ئے هوښیارتیا وئیله او مینځ کښې ئے پدے اعمالو ځان جهنم ته رسولو۔ دارنګه ایمان والو ته به کله د دوی د دوهوکے ضرر رسی او کله نهٔ خو دوی پرے ځان تباه کړو او که ایمان والو ته د دوی ضرر اُورسیدو نو هم د آخرت ثواب او اجر به حاصل کړی۔ خو تول تاوان د منافقانو اُوشو۔

(٤) وجه : خازن داسے معنیٰ کوی : [وَمَا يَخۡدَعُوۡنَ اِلَّآ اَنۡفُسَهُمۡ اَیْ اِنَّ اللّٰهَ یُجَازِیۡهِمۡ عَلٰی ذٰلِكَ وَیُعَاقِبُهُمۡ عَلَیۡهِ فَلَا یَکُوۡنُوۡنَ فِی الۡحَقِیۡقَةِ اِلَّا خَادِعِیۡنَ اَنۡفُسَهُمۡ]

(یعنی الله تعالیٰ به دوی ته په دے دوهوکے باندے سزا او عذاب ورکړی نو په حقیقت کښې دوی د خپل ځان سره دوهوکه کونکی شو)

(**أَنۡفُسَهُمۡ**) : جمع د نفس ده ۱ – په معنیٰ د ذات الشیء او حقیقة الشیء سره۔

۲ –[اَلۡجِسۡمُ اللَّطِیۡفُ الَّذِیۡ بِهِ الۡحِسُّ وَالۡحَرَکَةُ وَالۡاِدۡرَاكُ]

(هغه باریك جسم چه په هغے سره حس او حرکت او ادراك حاصلیږی)۔

۳– د نفس اطلاق کله صرف په روح کله صرف په بدن او جسم او کله په دواړو یعنی په روح مع الجسد باندے کیږی۔ او د الله تعالیٰ نفس جدا حقیقت لری۔

﴿ **وَمَا یَشۡعُرُوۡنَ** ﴾ یعنی د منافقانو بل عیب دا دے چه دوی کښې شعور هم نشته۔ د وَمَا یَشۡعُرُوۡنَ مفعول پټ دے یعنی [وَمَا یَشۡعُرُوۡنَ اَنَّ عَاقِبَةَ الۡخِدَاعِ تَرۡجِعُ اِلَیۡهِمۡ]

(نهٔ پو هیږی پدے چه انجام د دوهوکے به دوی ته راواپس کیږی)۔

(۲) یائے مفعول حذف کړو دپاره د تعمیم یعنی په هیڅ نهٔ پو هیږی۔

د شعور معنی

۱ - [اَلشُّعُوْرُ عِلْمُ الشَّیْءِ اِذَا حَصَلَ بِالْحِسِّ]

(۲) اِدْرَاكُ الشَّیْءِ بِالْمَشَاعِرِ اَیِ الْحَوَاسِّ الْخَمْسِ الظَّاهِرَةِ]

(شعور هغهٔ علم ته وائی چه په ظاهری حواسو معلومیږی لکه په غوږونو، سترګو، لاسونو، خوله، او پوزه. او دا د عقل یوه نوع ده، عقل اُوچته درجه ده او شعور ئے ادنیٰ درجه ده او دا شعور د حیواناتو صفت دے. اول شعور وی بیا معرفت، بیا درایة بیا علم او بیا فقه وی.

امام رازیؒ وائی : وَالْمَعْنٰی اِنَّ لُحُوْقَ ضَرَرِ ذٰلِكَ بِهِمْ كَالْمَحْسُوْسِ، لٰكِنَّهُمْ لِتَمَادِیْهِمْ فِی الْغَفْلَةِ كَالَّذِیْ لَایَحِسُّ (تفسیر الرازی (۱/۳۳٤)

(یعنی ددے دوهوکے ضرر دوی پورے داسے پیوسته دے لکه محسوس (چه په سترګو ښکاری) لیکن هرکله چه دوی په غفلت کښ اُوده پراته دی نو داسے اُوګرځیدل لکه چه هیڅ حس ئے نهٔ وی) نو ځکه ئے ترے شعور چه د حیواناتو علم دے هم نفی کړو.

دارنګه د دوی مشاعر (اندامونه) اګرکه روغ دی لیکن دوی ددے نعمت نه هیڅ فائده وانخسته او څه له چه دا پیدا شوی وو نو هغے کښ ئے استعمال نکړل نو ګویا کښ داسے اُوګرځیدل چه ګنے دا اندامونه ورسره نشته. (الوسیط لسید طنطاوی ۱/۲٦)

نو ځکه ئے ترے شعور هم نفی کړو. او دوی ئے د حیواناتو نه هم بد تر کړل. ځکه حیوانات خو خپله فائده او نقصان پیژنی، کندے، اُور، او اُوبو نه ځان بچ کوی.

ابن سیرین رحمه الله فرمائی :

[لَمْ یَكُنْ عِنْدَهُمْ شَیْءٌ اَخْوَفَ مِنْ هٰذِهِ الْآیَةِ]

(سلفو ته دا آیت د ډیر یرے والا ښکاره کیدو) وجه دا ده چه الله تعالیٰ د منافقانو متعلق دا وئیلی دی چه دوی دوهوکے او غلط کارونه کوی او په خپل ځان نهٔ پوهیږی لهذا په خپل مرض نهٔ پوهیږی نو هغوی به یریدل چه هسے نه مونږ به یو عمل کوو په ځان به ښه ګمان کوو او د الله په نیز به مجرمان یو ځکه په خپل مرض نهٔ پوهیدل غټ تاوان دے. ځکه چه علاج ئے ګران وی، او کله چه انسان په خپل مرض پوهه شی نو بیا ئے زر علاج کوی.

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ
په زړونو د دوی کښې مرض دے، پس زیات ډیے کړی الله تعالیٰ دوی لره مرض۔
وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ . بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿۱۰﴾
او دوی دپاره عذاب دردناك دے په دے وجه چه دوی همیشه دروغ وائی۔

تفسیر: (فِيْ قُلُوْبِهِمْ) دا څلورم صفت دے او بما كانوا يكذبون ئے پنځم صفت دے، د منافقانو په زړه کښې بیماری ده او بل : دروغ وائی، د دین په خبرو کښې هم دروغ وائی او د دنیا په خبرو کښې هم دروغ وائی او په خپلو صفتونو کښې هم دروغ وائی۔

د مرض لفظ وضاحت :

مرض لفظ په قرآن کریم کښې (۱۳) کرته استعمال دے، ماده ئے (۲٤) ځله راغلے ده، دا مرض په دوه قسمه دے (۱) ظاهری مرض (بیماری) دا په انبیاء علیهم السلام او نیکان صالحینو او بدانو ټولو باندے راځی، البته په انبیاء علیهم السلام او نیکانو باندے چه راشی نو رفع الدرجات پکښې مقصود وی، او ګناهګارو مؤمنانو باندے چه راشی نو سبب د مغفرت وی د تیر شوو ګناهونو او په راتلونکی زمانه کښې تنبیه او نصیحت وی۔ لکه دا په حدیث کښې راغلی دی :

[إِنَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَصَابَهُ سَقَمٌ ثُمَّ عَافَاهُ اللّٰهُ كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضٰى مِنْ ذُنُوْبِهٖ وَمَوْعِظَةً لَّهٗ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُ مِنْ عُمُرِهٖ] [ابن ابی الدنیا والبیهقی - الدر المنثور ۲/۷۰۲، وفی سنده مقال وَوَرَدَتْ اَحَادِيْثُ كَثِيْرَةٌ شَوَاهِدَ لَهٗ فَالْحَدِيْثُ صَحِيْحٌ]

او په کافرو چه مرض راشی نو مقصود پکښې تنبیه او تعذیب وی۔ چه سم شئ ورنه ددیے په شان عذابونه به نور هم درکولے شی۔ او ددے مرض تعریف داسے دے۔

مرض : [ضُعْفٌ يَعْتَرِى الْبَدَنَ يُخْرِجُهٗ عَنِ الْاِعْتِدَالِ الْمُنَاسِبِ]

(دا هغه ضُعف دے چه بدن ته اُولګیږی نو د مناسب اعتدال نه ئے اُویاسی) لکه وینه کښې ئے ډیروالے راشی دیته بلډ پریشر وائی، وینه کښې ئے ډیروالے او تیزی پیدا شی، یا صفراء ئے ډیره شی نو بدن ته ئے ګرمی یا یخنی اُورسی پدے وجه بیمار شی۔ او دا مرض

په نیکانو خلقو ډیر راځي، لکه نبي کریم ﷺ یوه ورځ د بیماریانو تذکره اُوکړه نو یو ناست سړي پکښ اُووئیل : [مَا الْأَسْقَامُ؟] بیماریانې څه ته وائي ؟) نبي ﷺ اُوفرمایل : آیا ته هیڅ کله نهٔ ئې بیمار شوې؟) هغه اُووئیل : نهٔ۔ نو نبي ﷺ اُوفرمایل : [قُمْ عَنَّا فَلَسْتَ مِنَّا] [شرح السنة ۳/ ۳۱، شعب الایمان (۹۹۱٦)

(پاڅه تهٔ زمونږ نه نهٔ ئې) یعنی په مؤمن باندې خو ظاهري بیماري خامخا راځي او څومره چه بنده الله تعالیٰ ته ډیر نزدې وي نو هغه باندې دنیاوي مرضونه زیات وي۔

(۲) [اَلْمَرَضُ الْبَاطِنِيُّ الشَّرْعِيُّ : مَا يَعْرِضُ لِلْمَرْءِ مِمَّا يُخِلُّ بِكَمَالِهِ مِنْ نِفَاقٍ وَحُبِّ الدُّنْيَا]

(په شریعت کښې باطني مرض هغه شې دې چه انسان باندې راځي او ددهٔ کمال خرابوي لکه نفاق، او د دنیا محبت وغیره شو) لکه د هغې انواع روستو راځي، هر چا کښې بیا څه نا څه درجه کښې دا مرض موجود وي، په گناهگارو مؤمنانو کښې هم دا مرض وي، دلته کوم مرض مراد دې ؟

دلته کوم مرض مراد دے ؟

د مرض نه مراد دلته مرض د نفاق (منافقت) دې چه په خوله مؤمن او په زړه کښ کافر۔

(۲) شکوك او شبهات او شهوات نفسانیه او محبت د دنیا او زنانو طرفته میلان دې۔

شبهات دیته وائي چه د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ په باره کښ شکي وي، شبهو کښ پروت وي، د قرآن کریم او د احادیثو په باره کښ شکونه کوي یا په غلطو عقائدو کښ پروت وي او شهوات دا دي چه د حرامو خواهشاتو پسې روان وي، پردې مال ورته پردې نهٔ ښکاري، پردئ ښځه ورته پردئ نهٔ ښکاري، حرام خواهشات مراد دي، حلال خواهشات جائز دي، هغه الله تعالیٰ د هر چا په نفس کښ اچولي دي۔

فائده : شیخ الاسلام ابن قیم رحمه الله هم دلته یوه فائده لیکلې ده : [مَرَضُ الْقَلْبِ خُرُوْجُهٗ عَنِ اعْتِدَالِهٖ وَصِحَّتِهٖ، فَإِنَّ صِحَّتَهٗ أَنْ يَّكُوْنَ عَارِفًا بِالْحَقِّ مُحِبًّا لَهٗ مُؤْثِرًا لَهٗ عَلٰى غَيْرِهٖ]۔

(مرض د زړهٔ : وتل د زړهٔ دی د اعتدال او صحت نه ځکه صحت ئې دا دې چه حق به پیژني، حق سره به محبت لري او په نورو شیانو به ئې غوره کوي) نو درې خبرې د زړه صحت دې (۱) حق پیژندل، (۲) حق سره مینه کول (۳) او حق غوره کول په بل شي باندې۔ [فَمَرَضُهٗ إِمَّا بِالشَّكِّ أَوْ بِإِيْثَارِهٖ غَيْرَهٗ عَلَيْهِ] (نو مرض ئې دا دې چه یا خو شکي شي،

حق اُونۀ پیژنی، یا بل شے په حق غوره کړی)، د الله تعالیٰ په محبت باندے غیر الله غوره کړی، د دین په محبت باندے دنیا غوره کړی، په حلالو باندے حرام غوره کړی۔

د مرض اقسام :

مرضونه دوه قسمه دی : ۱- مرض المنافقین۔ ۲- مَرَضُ الْعُصَاة۔ مخکښے مونږ اُووئیل چه دا مرضونه گناهگارو مؤمنانو کښے هم وی چه هغے ته مرض العصاة وائی، مرض المنافقین دا دے چه په دین او په قرآن او حدیث کښې شکونه کوی۔ شبهات باطله لری، نو کفر نفاق، شکوك او شبهات ددے قسم نه دی۔

او مَرَضُ الْعُصَاة [مَرَضُ غَيٍّ وَشَهْوَةٍ] (د گناهگارو مرض د خواهشاتو تابعداری ده) نو زنا او فواحش او معاصی ؤ سره محبت د دویم قسم نه دی، چه بنده په حق پو هیږی، منی ئے هم، خو په خواهشاتو پسے روان وی، لکه زنا کولو سره بنده منافق کیږی نۀ خو گناهگاریږی، د پردو ښځو سره تعلق ساتل، حرامو خواهشاتو پسے گرځیدل، دا هم د زړه بیماری ده، اگرکه کافر او منافق به نۀ وی، ځکه دواړو ته الله تعالیٰ مرض وئیلے دے ﴿فَيَطْمَعَ الَّذِيْ فِيْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ﴾ (الاحزاب: ۳۲) (په طمع به شی هغه سړے چه په زړه کښې ئے بیماری ده) یعنی د پردو زنانو سره ئے عشق او محبت دے، د ښځے سره محبت، الله تعالیٰ د هر سړی په زړه کښې اچولے دے، لیکن د پردو ښځو سره تعلق ساتل او د هغے نه نفرت نۀ کول دا په اصل کښې بیماری ده۔

او حقیقی عافیة دا دے چه انسان د دواړو قسم مرضونو نه بچ شی نو بیا به هغۀ ته یقین او ایمان حاصلیږی۔

فائده عجیبه: انسان چه اُوچتو مراتبو ته رسی نو هغه به ډیره خواری کوی اول به په دۀ باندے (۱) شبهات کیږی نو د هغے جوابات به کوی او خپله عقیده به برابروی (۲) دویم د کمائن النفس تصفیه به کوی یعنی زړه کښې دننه پټ ډیر بد صفات موجود دی، هغه به صفا کوی لکه حسد، ضد، تعصب، خیانت، ریاء او تکبر وغیره۔

(۳) تَصْفِيَةُ الْعِبَادَاتِ عَنِ الْآفَاتِ : (عبادتونه به د آفتونو نه محفوظ ساتی لکه ریاء، تکبر، عجب او غفلت شو او په غلطو طریقو به بندگی نۀ کوی۔

(٤) اَلتَّرَقِّيْ فِيْ مَقَامَاتِ الْإِيْمَانِ۔ (د ایمان په مقاماتو کښې به د ترقئ کوشش کوی) چه دا مقام د احسان دے، یعنی احسان درجے ته به ځان رسوی۔

فائده : دلته ئے د منافقانو زړونو ته قلب مریض اُووئیلو او د مؤمنانو زړونو ته ئے په سورة الشعراء (۸۹) کښې قلب سلیم وئیلے دے۔ (اِلَّا مَنۡ اَتَی اللّٰهَ بِقَلۡبٍ سَلِیۡمٍ)

نو د منافقانو په زړونو کښې عقیده هم خرابه ده او ورسره اعمال ئے هم خراب دی۔ غلط خواهشات لری۔ او دا دویم مرض گناهگار مؤمنانو کښې هم راتلے شي خو شك نشي راتلے۔ لیکن مؤمن به ډیر احتیاط کوی۔

په قرآن کریم کښې د مرض مصداقات

په قرآن کریم کښې مرض په ډیرو معنو استعمال دے :

۱– اَلۡمَرَضُ الۡجِسۡمَانِي: دا په سوره شعراء (۸۰) آیت کښې ذکر دے﴿ وَاِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ یَشۡفِیۡنِ﴾

۲– دویم مرض : اَلنِّفَاقُ : لکه دے (۱۰) آیت د بقره کښې ذکر دے۔

۳– دریم : وِلَایَةُ الۡکُفَّار : (د کافرانو (یهود او نصاراؤ) سره دوستی او مینه کول دا غټ مرض دے) د هغوی دپاره جاسوسی کول۔

﴿ فَتَرَی الَّذِیۡنَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ یُّسَارِعُوۡنَ فِیۡهِمۡ ﴾ سورة المائده (۵۲) آیة۔

٤– مرض : [اَلۡمَیۡلُ اِلَی النِّسَاءِ] پردو زنانو ته میلان، د هغوی سره گپ شپ ویشتل، د هغوی د خبرو سره مینه ساتل دا یوه بیماری ده) ﴿ فَیَطۡمَعَ الَّذِیۡ فِیۡ قَلۡبِهٖ مَرَضٌ﴾ احزاب (۳۲)

٥– پنځم مرض : اَلتَّوَلِّیۡ عَنۡ حُکۡمِ الرَّسُوۡلِ ﷺ (د پیغمبر د فیصلے نه چه څوك اوړي دا منافق هم دے او غټ بیمار دے)۔ ﴿ أَفِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ اَمِ ارۡتَابُوۡۤا اَمۡ یَخَافُوۡنَ اَنۡ یَّحِیۡفَ اللّٰهُ عَلَیۡهِمۡ وَرَسُوۡلُهٗ ﴾ (النور : ٥٠)۔ مرض نه پدے آیت کښې التولی عن اتباع الرسول مراد ده۔

٦– مرض : اَلۡجُبۡن : د بزدلئ مرض، بزدلی ته هم مرض وئیلے شویدے کله په مسلمانانو کښې هم راځی د زړه د کمزورتیا د وجه نه خو غالباً منافقان د الله سبحانه وتعالیٰ د حکم لحاظ نهٔ کوی نو هغوی کښې دا مرض ډیر وی۔ ﴿ رَاَیۡتَ الَّذِیۡنَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ یَّنۡظُرُوۡنَ اِلَیۡكَ نَظَرَ الۡمَغۡشِیِّ عَلَیۡهِ مِنَ الۡمَوۡتِ فَاَوۡلٰی لَهُمۡ ﴾ (سورة محمد : ۲۰)

۷– اووم مرض : (ضِغۡنُ الۡمُؤۡمِنِ) ضغن حسد ته وائی یعنی د مؤمنانو سره حسد لرل او کینه کول۔ ﴿ اَمۡ حَسِبَ الَّذِیۡنَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ اَنۡ لَّنۡ یُّخۡرِجَ اللّٰهُ اَضۡغَانَهُمۡ ﴾ محمد (۲۹)۔

۸- او مرض په معنی د شك سره په سورۂ احزاب (۳۲) آيت کښې ذکر دے۔

﴿ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ﴾ دا جمله یا اخبار دے، جمله خبریه ده۔ یعنی الله تعالیٰ زیاتی کړیده د دوی بیماری۔

(۲) او دویم ظاهر تفسیر پکښې دا دے چه دا جمله انشائیه دعائیه ده۔ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ (پس زیات دِے کړی الله تعالیٰ د دوی بیماریٔ لره)۔ زاد د ماضی صیغه ده خو په معنیٰ د مضارع ده ځکه په مقام د دعاء کښې ماضی په معنیٰ د مضارع راځی۔ الله تعالیٰ ورته ښیرے کړیدی او الله ﷻ چه چا ته ښیرے اُوکړی نو دا ضرور قبولے وی ځکه الله تعالیٰ ئے پخپله قبلوی، دا د وعید په درجه کښې ده۔ لکه (قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ) الله تعالیٰ دِے دوی مړهٔ کړی، لعنت دِے پرے اُوکړی) نو دا همدغه شان دی چه د دوی په زړونو کښې بیماری ده او علاج ئے نهٔ کوی نو الله ﷻ دِے دا بیماری ورله نوره هم ډیره کړی۔

او دا دلیل دے چه دا قسم صفات والو ته ښیرے جائز دی۔ (قرطبیؒ)

او پدے کښې دے ته اشاره ده چه انسان د مخکنو ګناهونو په وجه د الله تعالیٰ د طرف نه د سزا په طور په نورو ګناهونو کښې اخته کیږی، لکه الله تعالیٰ فرمائی : (وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ) (التوبة : ۱۲۵) (یعنی د چا په زړونو کښې چه د ګناه ګندګی وی نو الله تعالیٰ د هغوی ګناه نوره هم زیاتوی نو د ګناه سزا د هغے نه بعد بله ګناه وی لکه د نیکی ثواب بله نیکی وی۔ الله تعالیٰ فرمائی : (وَيَزِيْدُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اهْتَدَوْا هُدًى) (مریم/۷٦) یعنی هدایت والو ته الله تعالیٰ زیات هدایت ورکوی۔

د مرض د زیاتوالی اسباب :

بیا د منافقانو بیماری چه زیاتیږی نو ددے څه اسباب دی نو هغه ډیر زیات دی بعض دا دی : (۱) [نُزُوْلُ الْقُرْآنِ الْكَرِيْمِ] د الله قرآن شفاء ده خو د بعضو خلقو دپاره د مرض سبب ګرځی۔ ﴿ وَاِذَا مَا اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ هٰذِهٖ اِيْمَانًا فَاَمَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا ﴾۔ سورة التوبة (۱۲۵) آية۔

﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴾ سورة بنی اسرائیل (۸۲) ﴿ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّا اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ﴾ (المائدة: ٦٨)

(دا قرآن به ددے خلقو طغیان او کفر ډیر کړی)۔

۲- دویم سبب : تَجَدُّدُ النِّعَمِ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَاَصْحَابِهٖ : دوی د مسلمانانو مسلسل

دنیوی او دینی کامیابیانے او نعمتونه او احسانات وینی نو د دوی حسد، حقد او کینه او نفاق او کفر نور هم زیاتیږی او د هغوی په حسرتونو او افسوسونو کښې نوره اضافه کیږی۔ چه ولے الله په ایمان والو احسانات کوی، فتحے او ترقی ورکوی۔ وخت په وخت زیاتیږی۔

د مرض د زیاتوالی مصداق :

یا د زیادت د مرض نه مراد (۱) [اَلطَّبْعُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ] دے یعنی د دوی په زړونو باندے مهر وهلے کیږی۔ (۲) او [اَلْحَسَدُ وَالْغِشُّ بِاِعْلَاءِ کَلِمَةِ الدِّیْنِ]
(کله چه د دین ترقی کیږی نو دوی له حسد او کینه ورځی چه دا ولے کیږی۔ یعنی دا مرض د دوی زیات شی، ایمان والو او دین ته هیڅ نقصان نشی رسولے۔
(۳) قاسمیؒ وائی : [وَالرَّذَائِلُ کُلُّهَا اَمْرَاضُ الْقُلُوْبِ] (ټول رذیل صفات لکه حسد کینه، خواهش پرستی، ضد او تعصب ټول د زړه مرضونه دی) دا بد صفات پکښې زیاتوی۔
﴿ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴾ مینځ کښې الله تعالیٰ د دوی دپاره عذاب بیانوی۔
اَلِیْم وزنِ فعیل دے په معنیٰ د اسم فاعل دے (مُؤْلِمٌ)، د ایلام نه ماخوذ دے، درد ورکولو ته وائی، یعنی هغه عذاب چه دوی ته درد ورکونکے دے، الیم هغه عذاب ته وائی چه ظاهره کښې پوستکے نۀ جدا کوی خو دننه هډوکی ماتوی او هغه ډیر سخت وی، ظاهری لاس چه مات شی او بالکل جدا شی، دا دومره سخت نۀ وی لکه څنګه چه هډوکے مات شی او ظاهری پوستکے پرے جوړوی، دا ډیر درد کوی، سم علاج ئے هم نۀ کیږی، نو عذاب الیم دیته وائی چه الله تعالیٰ به پټ عذاب ورکوی، زړونه به ئے دردَوی، هډوکی به ورله ماتوی،

په دنیا کی د عذاب الیم مصداق

دا عذاب الیم دوی دپاره دنیا کښې هم دے او آخرت کښې هم دے، دنیا کښې هم الله تعالیٰ به سخت دردونه پرے راولی لکه سورتِ توبه کښې الله تعالیٰ دا وعده کړیده : ﴿ فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَلَا اَوْلَادُهُمْ اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ لِیُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ﴾ (التوبة :۵۵/۸۵)
په مال او اولادو ورله الله تعالیٰ دنیا کښې هم عذاب ورکوی،
او په دنیا کښې عذاب دا هم دے (۱) [بِاِجْرَاءِ الْحُدُوْدِ عَلَیْهِمْ] (حدود به پرے نافذ کوی)

(۲) اِقَامَةُ الْجِهَادِ (جهادونو ته به بوتلے شی) (۳) [اَخْذُ الْعُشْرِ وَالزَّكوٰة] (عشر او زكاتونه به ترے اخستے شی او هیڅ اجر به ورته نهٔ ملاویږی)
(٤) [اَلْفِرَاقُ عَنِ اللّٰهِ] (د الله تعالىٰ نه به جدا وی) او دا غټه تباهی ده چه د انسان زړه د الله تعالىٰ نه جدا شی۔
او په آخرت کښې خو دا وعده خامخا ده، ځکه د منافقانو ضرر اسلام او اهل اسلام دواړو ته رسیدلے دے۔ ځکه مؤمنان په عذابوی پریشانه کوی ئے۔
﴿بِمَا كَانُوا يَكْذِبُونَ﴾ بِمَا کښې باء سببیه ده، په سبب ددے عمل۔ یا باء د مقابلے دپاره ده۔ یعنی په مقابله د دروغو د دوی کښې۔
کان چه په مضارع داخل شی نو ماضی استمراری جوړیږی یعنی په سبب د همیشه دروغو وئیلو د دوی، چه د پخوانه ئے وائی تر اُوسه پورے۔
په باء کښې اشاره ده دیته چه الله تعالیٰ چه سزا ورکوی نو ددے دپاره سبب بندګانو پیدا کړے وی، الله تعالیٰ چا له چتې عذابونه نهٔ ورکوی، خو سبب ئے د دوی سره وی۔
فائده : په قرآن کریم کښې د منافقت (۱۵۷) خصلتونه دی بغیر د تکرار نه او سره د تکرار نه (۲۰۰) دی۔ او په هغے کښې څلور اَبرز الصفات دی (یعنی ډیر ښکاره) :
(۱) اول الکذب۔ دا اَساس النفاق دے او ددے بدی په قرآن او احادیثو کښې ډیره زیاته راغلے ده لکه لاندے راروانه ده۔ (۲) دویم نسیان ذکر الله تعالیٰ۔ (د الله تعالیٰ د ذکر نه غافل کیدل او هغه هیرول)۔ نو دا دواړه د منافقت تاداوونه دی، هغه زړونه په منافقت باندے مبتلا کیږی چه د الله نه غافله وی او دروغجن وی او هغه زړه په منافقت الله تعالیٰ نهٔ مبتلا کوی چه د کوم په خوله کښې رشتیا وی او زړه کښې ئے د الله تعالیٰ ذکر وی۔ (۳) [تَرْجِيْحُ جَانِبِ الْمَخْلُوْقِ عَلٰى جَانِبِ الْخَالِقِ] ۔(د مخلوق جانب ته د خالق په جانب باندے ترجیح ورکول او مخلوق دپاره او د مخلوق د وجه نه عمل کول) (يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَايَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ) (النساء:۱۰۸)۔
(٤) الخداع : (دهوکه کول) نو مؤمن له ددے څلورو واړو صفاتونه ځان خلاصول پکار دی۔
فائده : د کان فائده دا ده چه یو سړی یوه ورځ دروغ اُووئیل او زړئے توبه اُوویستله نو دے آیت کښې هغه ندے داخل، وجه دا ده چه مؤمن نه هم کله دروغ وئیلے کیږی خو زر

تـوبـه اُوبـاسـی، استـغـفار وائی، او د منافقانو دا خوئی دے چه همیشه دپاره ئے دروغ یوه هـوښـیـارتیـا او چـالاکـی گـرځـولـے ده، لـکه بعض عوام وائی چه دروغ د چا د پلار دی، د دروغو مالك څوك نشته، بس وایه ئے، مونږ وایو چه ولے الله تعالیٰ نشته څه، آیا هغه نهٔ دی حرام کړی، او آیا دا علامه د منافقت نهٔ ده څه ؟ ولا حول ولا قوة الا بالله۔

فائده : نور گناهونه هم شته خو الله تعالیٰ دلته دروغ خاص کړل ؟ وجه دا ده، مفسرین وائی چه [اَلْكَذِبُ أَسَاسُ النِّفَاقِ وَالصِّدْقُ أَسَاسُ الْإِيمَانِ] دروغ د مـنافقت بنیاد دے او صـدق د ایمان بنیاد دے)۔ حـدیث کښې هم راغلی دی : [وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِيْ إِلَى الْفُجُوْرِ وَإِنَّ الْفُجُوْرَ يَهْدِيْ إِلَى النَّارِ] [مسلم : ٦٨٠٥، احمد، ترمذی]

(د دروغـو نـه ځان بـچ کړئ ځکه چه دا بدکاریٔ ته رَسوَل کوی او بد کاری اُور ته رسوَل کوی۔ نو کذب سبب د اُور دے۔

او حدیث کښې دی : [آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ]

((د مـنافـق عـلامـه دا ده چـه کـلـه خبـره کوی نو دروغ وائی))۔ یعنی د دروغو نه هیڅ احتیاط نهٔ کوی۔ (بخاری : ۳۳) مسلم : (۲۲۰)

د دروغو اقسام :

د دروغـو ډیر اقسام او صورتونه دی (۱) یو په دین کښې دروغ وئیل دی نو دا ډیر عظیم جرم دے۔ او دیته تقول علی الله وائی۔ د شرك سره ددے گناه برابره ده۔

(۲) دویم دنیاوی څیزونو کښې دروغ وئیل۔ دا بیا ډیر انواع لری : (۱) خلاف الواقع خبره کـول مثلًا یـو کـار نـهٔ دے شـوے او تهٔ وائے چه شویدے، یا یو کار شویدے او تهٔ ترے انکار کـوے چـه نـهٔ دے شـوے۔دا دوه نـوعے شوے۔ (۳) دریم دا چه مبالغه او زیاتے کول په خبره کښې لـکه یو تن مړ وی او بنده اُووائی چه لس کسان مړهٔ شول۔ دیته بعض خلق مبالغه وائـی، دا هـم دروغ دی لیـکن د چالاکو خلقو۔ (٤) دارنگه د یوے خبرے او د یو څیز مرتبه راخـکتـه کـول یـا پـورتـه کـول مثلًا یـو شے ضروری دے او انسـان اُووائی چـه دا دومره ضروری نهٔ دے، یا ضروری نهٔ وی او انسان وائی چه دا ډیر ضروری دے۔ دا هم دروغ دی۔

(۵) او هـره خبـره بیانول هم دروغ دی۔ حدیث د مسلم کښې دی : [كَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُّحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ] [مسلم ۱/ ۱۰ رقم : ٥] (د بـنـده دپاره دا هـم کافی دروغ دی چه څه خبره اَوری هـغـه بیـانـوی) یـعنی تحقیق نهٔ کوی چه دا خبره حقیقت لری او که نهٔ ؟ خو

صرف د خولے نه ئے راویاسی لکه نن صبا پدے مرض کښې عامه دنیا اخته ده، والله المستعان. تهٔ هم ځان ته فکر اُوکړه، آیا تهٔ خو چرے پدے مرض کښې مبتلا نهٔ ئے؟۔

فائده : کذب وئیل هر وخت ناجائز او حرام دی او د منافقت علامه ده مگر په بعض ځایونو کښې شریعت ددے اجازه ورکړیده هغه دا دی : (۱) [اَلْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ] (په جنگ کښې دروغ وئیل جائز دی)

حدیث کښې دی : [اَلْحَرْبُ خُدْعَةٌ] (جنگ د دهوکے نوم دے) [مسلم : ٤٦٣٧]

(۲) [اَلْكَذِبُ لِاِصْلَاحِ النَّاسِ] (د خلقو د اصلاح او جوړ جاړی پیدا کولو دپاره دروغ وئیل) حدیث کښې دی :

[لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِىْ يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَقُوْلُ خَيْرًا اَوْ يَنْمِىْ خَيْرًا]

[بخاری : ۲٦۹۲ومسلم: ٦٧٩٩]

(هغه انسان دروغجن نهٔ دے چه د خلقو ترمینځ اصلاح کوی نو په دروغو سره د خیر خبرے کوی) په دغه روایت د مسلم کښې ورسره دا زیادت راغلے دے۔

ام کلثوم بنت عقبه رضی الله عنها فرمائی :

[وَلَمْ اَسْمَعْهُ يُرَخِّصُ فِىْ شَيْئٍ مِمَّا يَقُوْلُ النَّاسُ اِلَّا فِىْ ثَلَاثٍ يَعْنِى الْحَرْبَ وَالْاِصْلَاحَ بَيْنَ النَّاسِ وَحَدِيْثَ الرَّجُلِ زَوْجَتَهٗ وَحَدِيْثَ الْمَرْاَةِ زَوْجَهَا] [مسلم : ٦٧٩٩]

(۳) د خاوند خبرے ښځے ته او د ښځے خبرے خاوند ته په هغے کښې دروغ وئیل د هغے د محبت پیدا کولو دپاره جائز دی۔

(٤) توریه کول چه دیته معاریض هم وائی۔ لکه سیدنا عمران بن الحصین ﷺ فرمائی : [اِنَّ فِى الْمَعَارِيْضِ لَمَنْدُوْحَةً عَنِ الْكَذِبِ] [الادب المفرد رقم : ۸۸۵، وَصَحَّحَهُ الْاَلْبَانِىُّ]

(په توریه او تعریضاتو کښې د دروغو نه بچ کیدل دی) او توریه دیته وائی چه انسان یوه داسے خبره اُوکړی چه مخاطب ترے یو مطلب واخلی او د متکلم ترے بل مطلب مراد وی او ظاهره کښې هغه رشتیا وی۔ لکه انسان جهاد ته ځی، ددهٔ اراده گس طرفته وی او تپوس د ښی طرف کوی۔ بل مثال : نبی ﷺ او ابوبکر صدیق ﷺ سره په سفر د هجرت کښې یو شیخ په لاره کښې ملاؤ شو، تپوس ئے ترے اُوکړو چه تاسو څوك یئ ؟ نو نبی ﷺ ورته اُوفرمایل : اول حال تهٔ اُووایه بیا به زه خبر درکړم۔ نو هغه سړی اول خبر ورکړو نو د نبی ﷺ نمبر چه راغلو نو وے فرمایل : [نَحْنُ مِنْ مَاءٍ] (مونږ د اُوبو نه یو)

نو هغه مشرك دا فهم كړه چه دا به د (مَاء) علاقې اُوسيدونكے وى، يعنى د عراق وغيره۔
او د نبى ﷺ مراد دا وو چه مونږ د اُوبو نه پيدا يو۔ (عيون الاثر ۱/۳۲۹)
او دا توريه به هم انسان هر وخت نۀ كوى بلكه چه سخت مجبورتيا راشى نو بيا جائز ده۔

فائده : كذب كله صفت د قول وى، كله د فعل وى، او منافقانو كښې دا دواړه قسمه كذب راجمع دى، خبره ئې هم دروغ ده او فعل او عمل ئې هم دروغجن دے۔ ○ صدق كله د مكان صفت وى، (مُبَوَّأ صِدْقٍ)○ كله د حملے صفت وى (حَمْلَةُ صِدْقٍ)، ○ كله د عقيدے صفت وى (لكه اَلْعَقِيْدَةُ الصَّادِقَة)۔ يواځې د قول پورے خاص نۀ دے۔

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ
او كله چه اُووئيلے شى دوى ته، فساد مۀ كوئ په زمكه كښې،
قَالُوْا اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ ﴿۱۱﴾
وائى دوئ : يقيناً مونږ اصلاح كونكى يو۔

تفسير : پدے مقام كښې د منافقانو بل بد صفت دا دے (تَسْمِيَةُ الْفَسَادِ اِصْلَاحًا) (فساد ته اصلاح وائى)۔او دا وائى چه صلح خو څه بد كار نۀ دے۔ پدے وخت كښې ددے مثال دا دے چه د وحدة الاديان او په تقارب الاديان باندے كوشش روان دے، او دا وائى چه عالمى برادرى راوستل پكار دى، ټول دينونه يهوديت، نصرانيت او مجوسيت او اسلام يو كوى، او دا وائى چه فراخ بنسټ حكومت جوړول پكار دى۔ دا فسادونه كوى او ديته اصلاح او كمال وائى۔ ددے مثال دا هم دے : بدعت او خرافاتو ته دعوت كوى څوك چه ئې منع كړى، وائى : مونږ د اصلاح د اُمت كوشش كوو، مونږ وايو : اصلاح په بدعت او خرافاتو او موضوعاتو نۀ راځى، اصلاح په كتاب او صحيح سنت سره راځى۔

د فساد مصداق :

ددے فساد او افساد ډير مصداقونه دى (۱) يو دا چه [تَعْوِيْقُ النَّاسِ عَنِ الْاِيْمَانِ] (خلق د ايمان نه اړول)، د هغوى په زړونو كښې شكونه اچول، د جهادونو نه خلق منع

کول، د رسول الله ﷺ د تابعدارئ نه منع کول، د قرآن او د حدیث نه منع کول. او دا معنیٰ د فساد په قرآن کریم کښې زیاته استعمالیږی.

علامه قاسمیؒ وائی : (۲) [تَهۡيِيۡجُ الۡحُرُوۡبِ وَالۡفِتَنِ] (فتنے او جنګونه راپورته کول).

(۳) اِفۡشَاءُ سِرِّ الۡمُسۡلِمِيۡنَ)

(د مسلمانانو رازونه کافرانو ته ښکاره کول، جاسوسی کول).

(٤) (اِغۡرَاؤُهُمۡ عَلَيۡهِمۡ) (کافران په مسلمانانو باندے تیزول، چه کم دی او وسله ورسره نشته) (٥) (اِلۡقَاءُ الشُّبَهِ) (د خلقو زړونو کښې شکونه او شبهات اچول) (قاسمی)

(٦) (اَلۡكُفۡرُ وَالۡعَمَلُ بِالۡمَعَاصِيۡ) (کفر کول او ګناهونه کول) (ابن کثیر وابن جریر)

ابو العالیهؒ نه نقل دی : [مَنۡ عَصَى اللّٰهَ فِى الۡاَرۡضِ اَوۡ اَمَرَ بِمَعۡصِيَةِ اللّٰهِ فَقَدۡ اَفۡسَدَ فِى الۡاَرۡضِ، لِاَنَّ صَلَاحَ الۡاَرۡضِ وَالسَّمَآءِ بِالطَّاعَةِ]

(ځوك چه په زمکه کښې د الله تعالیٰ نافرمانی کوی یا په نافرمانئ باندے خلقو ته حکم کوی نو دا په زمکه کښې فساد کونکے دے ځکه چه د زمکے او آسمان روغوالے په طاعت بناء دے) [ابن کثیر وابن جریر عن ابی العالیة وقتادة]

(۷) [مُظَاهَرَةُ اَعۡدَاءِ اللّٰهِ عَلٰى اَوۡلِيَاءِ اللّٰهِ، اِذَا وَجَدُوۡا اِلٰى ذٰلِكَ سَبِيۡلًا] (ابن کثیر)

(د الله ﷻ د دشمنانو، کافرانو سره مدد کول په مقابله د اولیاء الله کښې کله چه ورته موقعه ملاؤ شی)

(۸) (اِتِّخَاذُ الۡكَافِرِيۡنَ اَوۡلِيَاءَ) (کافرانو سره د زړهٔ دوستی کول).

(۹) [فِعۡلُ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنۡهُ وَتَضۡيِيۡعُ مَا اَمَرَ بِحِفۡظِهٖ] (النکت والعیون). (د هر حرام کار کول او د کوم ځیز د حفاظت امر چه شویدے د هغے ضائع کولو ته فساد وئیلے شی)

(۱۰) خطیب شربینیؒ لیکی : هر ضرری ځیز ته فساد شامل دے لکه چه هر نافع ځیز ته صلاح شامل ده. (وکذا فی تفسیر ابن عرفه)

او بعض خلق داکارونه نیك عمل ګنړی او داکار ورته ښه عمل ښکاری نو که ته ترے تپوس اُوکړے چه دا کار ولے کوئ، په زمکه کښې کفر او ګناهونه مهٔ کوئ، د کافرانو سره دوستی مهٔ کوئ، د مسلمانانو راز د هغوی دشمنانو ته مهٔ ورکوئ، او کافران د مسلمانانو په جنګ باندے مهٔ تیزوئ نو دوی وائی : دا خو مونږ اصلاح کوو چه د مسلمانانو او کافرانو سره د مُدارات نه کار اخلو او د هغوی ترمینځ اتفاق راولو،

مسلمانان به څه اصلاح اُوکړي هغوی خو شدت پسند دي، او اصلاح خو منحصر ده په مونږ کښې نو پدے طریقه ئے حقیقت اُلټه کړو، په زمکه کښې فسادونه دوی کوی او بیا وائی مونږ اصلاح والا یو۔ شر ورته خیر ښکاری او خیر ورته شر ښکاری دا د منافق علامه شوه۔

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ :

فائده : الله تعالیٰ نهی عن المنکر مقدم کړو چه لا تفسدوا دے او امر بالمعروف (آمنوا) ئے روستو کړو، (۱) وجه دا ده چه کله به امر بالمعروف مقدم وی او کله به نهی عن المنکر، مقام ته به کتلے شی، او په جمع کولو کښې اشاره ده چه دواړه ضروری دی۔ نو دا خبره د بعض خلقو غلطه ده چه وائی : امر بالمعروف داسے مثال لری لکه د شمعے، چه هرکله رنړا بَلـه شی نو تیاره خپله ختمیږی، دا خبره بعینهٖ هغه قیاس دے چه په مقابله د نص کښې استعمالیږی، دا مثال د شریعت خلاف دے، ددے مطلب خو دا جوړیږی چه الله تعالیٰ نهی عن المنکر لغو کار ذکر کړیدے۔ پدے کښې د الله تعالیٰ او د هغه د رسول نه مخکښې کیدل دی۔ بلکه ددے په مقابل کښې صحیح مثال داسے دے چه منکرات په شان د تیزے هواء او سیلئ دی، کله چه تیزه سیلئ راوالوزی نو رنړا به درله مرۀ کړی او په تیاره کښې به پاتے شے۔ بلکه کله امر بالمعروف متضمن وی نهی عن المنکر لره او کله نۀ وی۔

نو دواړه مهم اعمال دی او ددے وجه نه الله تعالیٰ په هر ځائے کښې د امر بالمعروف سره نهی عن المنکر یوځائے کړیدے۔

(۲) دویمه وجه دا ده چه نهی عن المنکر ځکه مقدم دے چه دا په منزله د تَخْلِيَه (صفائی) دے او امر بالمعروف په منزله د تَحْلِيَه (ښائسته کولو) دے، او د یو شی تخلیه (صفائی) مقدم وی په تحلیه (ښائسته کولو) باندے، اول به د نفس او زړۀ نه بد مرضونه لرے کړی بیا به ورته ښائسته صفات راننوزی۔ او د منافقانو د حال سره اول نهی عن المنکر مناسب دے ځکه چه هغوی کښې فساد غالب دے۔

(**قِيلَ لَهُمْ**) : **فائده** : قیل دپاره ئے فاعل نۀ دے ذکر کړے، مجهول صیغه ئے راوړه، اشاره ده عموم ته چه هرڅوك دوی ته دعوت ورکوی او د بدئ نه ئے منع کوی نو دوی د هغے نه انکار کوی۔ که او هغه عظیم شخصیت وی او که حقیر وی خو دوی د هغه د

خبرے قبلولو ته تيار نهٔ دی۔ او پدے کښې تلميح (اشاره) ده دے خبرے ته چه بنده ته كه هرخوك د دين خبره كوى نو هغه دپاره ئے منل ضرورى دى، او قائل ته به نشى كتلے بلكه د هغه خبرے ته به كتلے شى۔ لكه دا خبره د عام دين نه معلومه ده۔ او د اهل السنة اصولو كښې هم ده۔

د علی ﷺ نه نقل دی : [اُنْظُرْ اِلٰى مَا قَالَ وَلَا تَنْظُرْ اِلٰى مَنْ قَالَ]

(تاريخ ابن السمعانی، کنز العمال : ٤٤٢١٨)

(يعنى د خلقو خبرے ته گوره او ويونكى ته مهٔ گوره)

فائده : اذا لفظ ئے د عموم الاوقات دپاره راوړو، اشاره ده د دوى سخت ضد ته چه دوى داسے ضديان دى چه هر وخت دوى د فساد نه منع كولے شى نو دوى په هيڅ وخت كښې د هغه خبرے منلو ته تيار نهٔ دى، او د حق په مقابله كښې ضرور څه خبره كوى او ځان بزرگان گڼړى۔

(**لَا تُفْسِدُوْا**) لفظ د فساد په قرآن كريم كښې (٥٠) كرته راغلے دے، لغت كښې [تَخْرِيْبُ الْعِمَارَاتِ] (آباديانے خرابولو) ته وائى۔ دا په سورة النمل (٣٤) كښې راغلے دے (اِنَّ الْمُلُوْكَ اِذَا دَخَلُوْا قَرْيَةً اَفْسَدُوْهَا) دا به كله شرعى فساد وى او كله به نهٔ وى، لكه د كافرانو كورونه ورانول بعينهٖ عبادت دے۔ او فساد نهٔ دے۔ (٢) قرطبیؒ ليكى : حقيقت د فساد : وتل د څيز دى د استقامت خپل نه اوبے فائده كيدل دى او صلاح د دے ضد دے۔

په قرآن كريم كښې د فساد معانى

په قرآن كريم كښې فساد په ډيرو معنو استعمال دے او دا ټول اسباب د فساد دى او اسباب د عذاب دى او منافقان دے ټولو كارونو ته اصلاح وائى :

(١) (هَدْمُ الْمَعَابِدِ) (عبادت خانے، لكه مساجد، مدرسے ورانول، نړول) لكه سورة البقره (٢٥٢) (وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْاَرْضُ) او د دے تشريح په سورة الحج (٤٠) كښې اُوگوره۔ (لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ) (الحج : ٤٠) لكه دے وخت كښې د كفارو همدا كوشش دے۔

(٢) (خُرُوْجُ الْعَالَمِ عَنِ النِّظَامِ) (د دے عالَم نظام به داسے نهٔ چليدلے) لكه (لَوْ كَانَ فِيْهِمَا آلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا) (الانبياء : ٢١)

(٣) (مُخَالَفَةُ الشَّرِيْعَةِ) ۔(د شريعت خلاف كول) لكه (لَتُفْسِدُنَّ فِى الْاَرْضِ مَرَّتَيْنِ)

(الاسراء : ٤)
(٤) اَلشِّرْكُ بِاللّٰهِ (د الله تعالیٰ سره شریکان جوړول) لکه (وَلَا تُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا) (الاعراف : ٥٦) ـ
(٥) (اَلتَّفْرِقَةُ وَالْاِخْتِلَافُ) (خلقو کښې ځایه تفرقې او اختلافات پیدا کول) لکه (اَتَذَرُ مُوْسٰی وَقَوْمَهٗ لِیُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ) (الاعراف : ١٢٧)ـ
(٦) (اَكْلُ مَالِ الْيَتِيْمِ) ـ(د یتیمانانو مال خوړول) لکه (وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ مِنَ الْمُصْلِحِ) (البقرة : ٢٢٠) ـ
(٧) (اِهْلَاكُ مَالِ الْغَيْرِ) (پردی مالونه هلاکول) لکه (وَاِذَا تَوَلّٰى سَعٰى فِی الْاَرْضِ لِیُفْسِدَ فِيْهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ) (البقرة : ٢٠٥) ـ
(٨) اَلصَّدُّ عَنْ اِتِّبَاعِ الرَّسُوْلِ ﷺ (د رسول الله ﷺ د تابعدارئ نه خلق منع کول) لکه (وَكَانَ فِی الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُوْنَ فِی الْاَرْضِ) (النمل : ٤٨) ـ
(٩) (اَلزِّنَا وَقَطْعُ الطَّرِيْقِ وَالْاِرْتِدَادُ) (زناګانې، لارې شوکول او مرتد کیدل) لکه (مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِیْ اِسْرَائِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِی الْاَرْضِ) (المائدة : ٣٢)
(١٠) اَلْكُفْرُ : لکه (اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِيْنَ فِی الْاَرْضِ) (ص : ٢٨)
(١١) اَلْقَحْطُ وَالْوَبَاءُ : لکه (ظَهَرَ الْفَسَادُ فِی الْبَرِّ وَالْبَحْرِ) (روم : ٤١) ـ
دا د فساد اقسام شو دا ټول دلته مراد کولې شي۔
فِی الْاَرْضِ : ددې جار مجرور ذکر کولو فائده دا ده چه پدې کښې تنبیه ده چه د دوی فساد عام دې شامل دې فساد دینی اعتقادی ته او دغه شان فساد دنیوی ته۔ یعنی دینی فساد هم مهٔ کوئ، ایمان راوړئ، عقیده مه خرابوئ او دغه شان دنیا کښې هم فسادونه مهٔ کوئ نورو خلقوته د فساد دعوت مهٔ ورکوئ۔ (تفسیر ابن عرفة)۔
قَالُوْا اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ :
دوی د نهی عن المنکر په مقابله کښې غصه شو۔ نو د حق د منلو په ځائې ئې غلطې دعوې شروع کړې۔ ځکه د منافق خوئی دا دې چه د حق په وئیلو او منلو غصه کیږی۔
ددې وجه نه علماء کرامؒ فرمائی : [اَلْحَقُّ مُرٌّ اِلَّا عَلٰى اَهْلِ الْحَقِّ]
(حق تریخ دې مګر اهل حقو باندې خوږ لګی) ځکه هغوی کښې مرض نشته، او

منافقانو باندے خوږ شے هم بد لګی ځکه چه دوی کښې خپل مرض پروت دے۔
ددے وجه نه سیدنا عمر فاروق ﷺ به فرمایل : [رَحِمَ اللّٰهُ مَنْ اَهْدٰى اِلَیَّ عُیُوْبِیْ]
[ابن سعد، والدارمی : ١/١٦٦، ٦٤٩]
(الله تعالیٰ دِے په هغه چا رحم اُوکړی چه ما ته زما عیبونه راوښائی)
او سیدنا عمر فاروق ﷺ به وخت په وخت د سلمان فارسی ﷺ نه د خپلو عیبونو تپوس کولو۔ (احیاء علوم الدین ٤/٩١)
(مُصْلِحُوْنَ)
حکمة : فساد ته ئے اصلاح اُووئیله ؟ نو ددے څو حکمتونه دی (۱) یو دا چه (لِمَرَضِهِمْ) ځکه مرضیان وو، او مریض ته خوږ شے هم تریخ ښکاری، معده ئے چه خرابه وی نو خاوره او سکارهٔ خوړل ورته ښهٔ ښکاری۔ په مریض باندے د چرګ غوښه هم بد لګی۔
(۲) دویم : (لِتَحْصِیْلِ الْمَعَاشِ وَتَیْسِیْرِ اَسْبَابِهٖ)
(یعنی دوی دعویٰ د اصلاح ځکه کوی، دے دپاره چه ژوند ئے حاصل شی او د هغے اسباب ورته آسان شی)، ولے که یو طرف ته اُودریږی نو د دنیا ژوند ئے خرابیږی۔
(۳) [تَنْظِیْمُ اُمُوْرِ الدُّنْیَا لِاَنْفُسِهِمْ] (د دنیا کارونه ورته برابر شی)، که دلته فائده وی چه هغه حاصله کړی او هلته فائده وی نو هغه ورته حاصل شی۔
(٤) [اِحْتِجَاجُهُمْ بِالْمَنَافِعِ الْجُزْئِیَّةِ عَنِ الْمَصَالِحِ الْعَامَّةِ] (تفسیر القاسمیؒ)
(منافقت کښې ورته یو جزئی فائده حاصله شی نو بیا هغے ته ګوری او د الله تعالیٰ د دین عام مصلحتونو ته نهٔ ګوری) او دے ته نهٔ ګوری چه د کفر د راتلو په وجه څومره نقصان پیدا کیږی۔ تا ته خو به ضمنی جزئی فائده حاصله شی، لیکن د الله تعالیٰ دین او عام مسلمانانو ته به څومره نقصانات اُورسی۔ دا ډیر جامع تعبیر دے پدے باندے ډیر مثالونه تطبیق کیږی۔
نو الله تعالیٰ پرے رد کوی :

اَلَآ اِنَّھُمْ ھُمُ الْمُفْسِدُوْنَ وَلٰكِنْ لَّا یَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲﴾

خبر شئ ! یقیناً دوی خاص هم دوی فساد کونکی دی، لیکن دوی نهٔ پو هیږی۔

تفسیر : پدے آیت کښی د منافقانو بل بد صفت فساد او عدم شعور دے۔

الله تعالیٰ د دوی ددے باطل زعم تردید اُوکړو چه د دوی نه بل غټ فسادیان څوك کیدے شی ؟ او ددے نه غټ فساد بل کوم کیدے شی چه د الله تعالیٰ د آیتونو نه انکار اُوکړی او خلق د دین نه منع کړی او الله تعالیٰ او د هغهٔ اولیاؤ ته دوهوکه ورکوی او د هغهٔ د دشمنانو سره دوستی کوی۔ او خپله فساد کوی او وائی مونږ اصلاح والا یو، د الله تعالیٰ او د دین خلاف چه چا اُوکړو نو هغه مُفسد دے، اگرکه ځان ته مُصلح وائی، لکه ددے زمانے مشران وائی، مونږ په ملك کښی اصلاح راولو، ملك کښی بے دینی او غټ فساد اوبے حیائی راولی، او بیا هم ځان ورته ښه ښکاری۔

بعض ډلے هم دا کار کوی چه د قرآن او حدیث نه خلق منع کوی او بیا د اصلاح دعوے کوی، په اهل حقو رد کوی او بیا ورته دا د حق د طرفنه دفاع او د دین خدمت ښکاری، حال دا چه ځان ئے کندے ته گوزار کړو نو ځان ته کتل پکار دی چه آیا زه دا ښه کوم که بد کوم؟۔

(**وَلٰكِنْ لَّا یَشْعُرُوْنَ**) دا دفع د سوال ده چه هرکله دوی کارونه د فساد کوی، نو بیا ولے د هغے نه ځان نهٔ ساتی ؟ نو جواب اُوشو چه دوی کښے شعور نشته، د فساد کار ورته د اصلاح ښکاری، د نفاق داسے بیماری ورته لگیدلے ده، چه د حق او باطل او د فساد او اصلاح د تمییز احساس ئے ورله ختم کړیدے، پدے وجه په زمکه کښی فساد خورولو باندے د اصلاح گمان کوی، او حال دا چه زمکه کښی اصلاح خو دا ده چه په الله تعالیٰ باندے صحیح ایمان راوړے شی، د هغهٔ بندگی اُوکړے شی، او د هغهٔ خلاف کول په زمکه کښی فساد خورول او تباهی او بربادی راوستل دی۔

بیا د دوی دا ناپوهی عذر نهٔ دے ځکه چه دوی سره اسباب د علم حاصلولو او تحقیق د حق کولو موجود دی، نو په دوی باندے فرض دی چه د حق تحقیق به کوی، دغسے خو هر مشرك او مبتدع ته خپل عمل ښه ښکاری او د هغے په بدئ باندے نهٔ پو هیږی نو

آیا هغهٔ به هم څه عذر وی ؟۔

فائده : پدے جملہ کښې ډیر تاکید سره الله تعالیٰ د منافقانو تردید کړیدے۔ اَلَا حرف تنبیه ده (خبردارے ورکوی او پدے سره مخاطب رابیداروله شی) اوروستو جمله اسمیه ده او ان حرف مشبه بالفعل د تاکید دپاره دے او هُمْ ضمیر فصل او اسم او خبر معرفے دی په حصر باندے دلالت کوی چه دوی په فساد کښې منحصر دی، متجاوز نهٔ دی اصلاح ته۔

فائده : مخکښې دفع د وهم مقصود نهٔ وه نو ځکه ئے نفس شعور نفی کړو او لکن ئے رانهٔ وړو۔ او دلته خو دفع د وهم ده نو ځکه ئے لفظ د لکن راوړو۔

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَا اٰمَنَ النَّاسُ

او کله چه اُووئیلے شی دوی ته ایمان راوړئ لکه څنګه چه ایمان راوړیدے خلقو (صحابه ؤ)

قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ كَمَآ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ۭ اَلَآ

وائی دوئ آیا ایمان راوړو مونږ لکه څنګه چه ایمان راوړیدے کم عقلانو، خبر شئ !

اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳﴾

یقیناً دوی خاص هم دوی کم عقلان دی، لیکن دوی نهٔ پو هیږی۔ (په کم عقلتیا خپله)

تفسیر: پدے آیت کښې د منافقانو نور درے قبائح ذکر دی : ۱- عقلمندو (صحابه کرامو) ته سفهاء (بے وقوف) وئیل۔ ۲- او خپله سفاهت والا۔ ۳- دریم : په خپل جهالت باندے نهٔ پو هیدل۔ یعنی جهل مرکب والا کیدل۔

مناسبت : مخکښې د نهی عن المنکر یعنی د فساد فی الارض نه د منع کولو نه بعد، الله تعالیٰ د منافقانو سره د امر بالمعروف اُسلوب اختیار کړو دے دپاره چه د هغوی ارشاد او راهنمائی پوره طریقے سره اُوشی۔ او پدے کښې اشاره ده چه منافقانو ته به نهی عن المنکر مخکښې کولے شی د امر بالمعروف نه۔ او دوی خو اګرکه د ایمان دعوه کوله لیکن دلته ورته اُووئیل شو چه صحیح د خلوص والا ایمان راوړئ۔

(۲) : مخکښ نهي د فساد في الارض وه۔ اُوس دلته امر په ایمان دے نو دا دلالت کوی چه کمال د انسان په مجموعه د دواړو کارونو حاصلیږی۔ یو دا چه نا مناسب کار نه به ځان ساتی او مناسب کار باندے به راتلل کوی۔ (اللباب)

آمنوا : دا قاعده ده چه کله ایمان مطلق ذکر شی، مراد ترینه ایمان شرعی وی چه هغه په الله او په رسول او په ملائکو او کتابونو او رسولانو او په ورځ د آخرت باندے ایمان لرل دی او بیا الله او د رسول اطاعت کول او د هغوی د نواهي نه ځان ساتل۔

د الناس نه مراد په هغه زمانه کښ صحابه کرام رضی الله عنهم وو، لکه ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : [هُمْ جَمِيعُ الصَّحَابَةِ] (ټول صحابه کرام ترے مراد دی)

(ابن کثیر، قرطبی، ابن جریر)

ځکه د انسانانو بهترین صفات او اعلیٰ اخلاق په هغوی کښ د موندلو په وجه په حقیقت کښ هم هغوی "خلق" دی۔ یعنی دلته ئے د صحابه کرامو نه په (الناس) سره تعبیر اُوکړو [لِأَنَّهُمْ فِي الْحَقِيقَةِ نَاسٌ لِجَمْعِهِمْ فَضَائِلَ الْإِنْسَانِيَّةِ]

(ځکه دوی د ټول انسانیت فضائل راجمع کړی وو) بهادری په دوی کښ وه، د الله او د رسول تابعداری او په دین باندے قربانی او صحیح نظریه او عقیده او د الله تعالیٰ سره محبت او یره په همدوی کښ وه۔ لکه د یو شاعر شعر هم په دوی تطبیق کیږی۔

كَأَنَّ رَبَّكَ لَمْ يَخْلُقْ لِخَشْيَتِهِ	❁	سِوَاهُمْ مِنْ جَمِيعِ النَّاسِ إِنْسَاناً

(ګویا کښے ستا رب د خپلے یرے دپاره د دوی نه سویٰ نور انسانان پیدا کړی نهٔ دی)

أُولَٰئِكَ آبَائِي فَجِئْنِي بِمِثْلِهِمْ	❁	إِذَا جَمَعَتْنَا يَا جَرِيرُ الْمَجَامِعُ

دا زمونږ مشران دی د دوئ په شان خلك دِے مونږ ته ثوك وښائی۔

حکمة : منافقانو خو د ایمان دعوے کولے نو څنګه ورته د ایمان دعوت ورکړے شو ؟ نو وجه دا ده چه د نفس ایمان دعوه اګرکه هغوی کوله لیکن دلته مقصود دا قید دے (كَمَا آمَنَ النَّاسُ) یعنی د صحابه کرامو په شان خالص ایمان راوړئ او دهوکه او فسادونه ورسره مهٔ ملګرے کوئ لکه څنګه چه د صحابه کرامو د ایمان سره داسے قبائح نهٔ وو ملګری۔ نو په هدایت به روان شئ ! لکه د سیپارے په آخر کښ به اُووائی : ﴿ فَإِنْ آمَنُوا

بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾ ((که دے خلقو داسے ایمان راوړو ځنګه چه تاسو راوړے دے اے صحابه کرامو! نو یقیناً دوی به په هدایت شی))۔

نو د صحابه کرامو ایمان د باقی امت د ایمان دپاره معیار دے۔ نو هرکله چه دوی ته د صحیح او اخلاص والا ایمان دعوت ورکړے شو نو دوی د دغه دعوت تردید اُوکړو او د دین عقلاؤ ته ئے د بے وقوفئ نسبتونه شروع کړل۔

دے نه معلومه شوه چه منافقان هغه خلق دی چه نیکانو خلقو ته بے وقوفه وائی۔

مسئله : آیا صحابه کرام -رضی الله عنهم اجمعین- معیار د حق دی ؟

نو دلته دوه خبرے دی یو حق دے او بل اعمال د صحابه کرامو دی۔ نو حق راګیر دے په اعمالو د صحابه کرامو کښ، دین کښ داسے عملونه نشته چه صحابه کرامو ډِے پرے عمل نۀ وی کړے بعضو یا ټولو۔ نو حق د هغوی د اقوالو، اعمالو او کارونو او نظریاتو او عقائدو نه بهر نۀ دے، نو په دے معنیٰ باندے صحابه کرام معیار د حق دی۔

(۲) دویم اعمال د صحابه کرامو دی نو دا ټول معیار د حق نۀ دے، ځکه چه هغوی انسانان وو، د بشریت په تقاضا د هغوی نه بعض لغزشات شویدی، ګناهونه ترے صادر شویدی، نو هغه خو حق نشی کیدے، لکه مثلاً ماعز اسلمی ﷺ نه زنا واقع شوے وه، او مرأه مخزومیه نه سرقه واقع شوے وه۔ مګر د صحابه کرامو نیکئ زیاتے وے، او اسلام ته ئے سبقیت (مخکښوالے) ئے کړے وو نو په دے وجه د هغوی د نیکیو په مقابله کښ د هغوی ګناهونه هیڅ نۀ دی، او هغه ټول الله تعالیٰ بخښلی او معاف کړی دی۔

دارنګه بعض اعمال د صحابه کرامو اجتهاد دے چه په هغے کښ هغوی ته نص نۀ دے رسیدلے، یا رسیدلے دے لیکن هغوی په کښ اجتهاد کړے دے، او هغه د ظاهری نص مخالف راوتے دے، نو دا به هم معیار د حق نۀ وی۔ لکه سیدنا عمر فاروق ﷺ به د جنب دپاره تیمم جائز نۀ ګنړلو، او حج تمتع نه ئے انکار کولو، وغیره نور مسائل شو۔ چه دوی ته الله تعالیٰ د هغے پوره پوره اجر ورکړیدے لیکن امت باندے د هغوی تابعداری پدغه مسائلو کښ لازم نۀ ده۔

لهذا پدے کښے د صحابه کرامو هیڅ ګستاخی نشته بلکه دا بعینهٖ د هغوی ادب دے او دا درمیانه قول دے، نو بعض خلق وائی چه د صحابه کرامو هر عمل معیار د حق دے

او بعض زیاتے کوی چه د صحابه کرامو هیڅ عمل معیار د حق نهٔ گنړی، او صحیح دا ده چه د صحابه کرامو بعض اعمال معیار د حق دے او بعض نهٔ او حق د هغوی د عقائدو او ایمان او نظریاتو او اعمالو نه بهر نهٔ دے۔

ددے وجه نه الله تعالیٰ ته د هغوی ایمان او عقیده او اعمال دومره بهتر ښکاره کیږی چه نور اُمت ته د هغوی پشان د ایمان راوړو دعوت ورکوی نو دا دلیل دے په عظمتِ شان د صحابه کرامو، نو ددے وجه نه کوم خلق چه د صحابه کرام رضی الله عنهم پسے خبرے کوی، د هغوی تنقیصِ شانِ او تحقیر بیانوی، نو دا خلق د دین نړونکی او بربادونکی دی، وجه دا ده چه د دین ناقلین اول صحابه کرام دی، هرکله چه هغوی غلط خلق شی نو ټول دین تباه شو او د دین اکثر تعبیرونه د هغوی د علم مطابق شویدی، چه نبی ﷺ داسے کار اُوکړو او دا خبره ئے اُوکړه، او دا خبره ئے په خوشحالیٔ کښ اُوکړه او دا ئے په خفگان کښے اُوکړه۔ دا ټول د صحابه کرامؓ په تعبیر نقل کړے شویدی، نو که د هغوی خبرو له اعتبار ورنکړے شی نو دین تباه کیږی۔ او دا د یهودو مرض وو چه په سند به ئے اعتراض کولو لکه په جبریل علیه السلام ئے اعتراض کړے وو۔

نو دے امت کښے د شیعه گانو مرض دا دے چه په صحابه کرامو اعتراض کوی چه اصلی دین ختم شی او د دوی خود ساخته دین خلقو کښ رائج شی، شیطان ورته دا خبره ښائسته کړیده، دے امت کښ چه صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین مؤمنان، متقیان، نیکان نشی نو بیا د الله تعالیٰ هیڅ ولیٔ، مؤمن او مسلمان نشته۔

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په "العقیدة الواسطیة" کښ ذکر کړیدی چه د صحابه کرامو لغزشات ذکر کول ندی جائز ځکه چه الله تعالیٰ هغوی ته معاف کړیدی۔

۲ – دویم دا چه د هغوی نیکیانے زیاتے دی او لغزش ئے کم دے او د هغه نیکیانو په مقابله کښ دغه معمولی لغزش هیڅ شے نهٔ دے۔ ۳ – دارنگه هغوی اسلام ته سبقیت کړیدے۔ چه د هغے په مقابله کښ ورته الله تعالیٰ دا ټول معاف کړیدی۔

٤ – دارنگه په ابتداء کښ ئے د دین معاونت او نُصرت کړیدے، نو د هغوی مرتبے داسے اُوچتے شویدی، چه د هغے په مقابله کښ دغه معمولی نقصان هغوی ته هیڅ ضرر نهٔ ورکوی۔ اگرکه صحابه کرام معصوم نهٔ دی خو الله تعالیٰ ورته معافی کوی۔ (وَلَقَدْ عَفَا

اللّٰهُ عَنۡهُمۡ)

حافظ ابن القیمؒ لیکی : [مَثَلُ اَصۡحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ مَثَلُ الۡعَیۡنِ وَدَوَاءُ الۡعَیۡنِ تَرۡكُ مَسِّهَا]
[زاد المعاد : ٤/ ٩٤]

(د صحابه کرامو مثال د سترګې په شان دے، او د سترګې دوائی دا ده چه ګوتے مۀ وروړه، (مړه ئے مۀ) پخپله به ښه شي۔ نو د صحابه کرامو عیبونه به نۀ ذکر کوے۔ الله تعالیٰ ته به ئے سپارے۔

د امام شافعی رحمه الله نه چا تپوس اُوکړو چه د علی او معاویه رضی الله عنهما جګړو باره کښې تۀ څه وائے ؟ نو هغه ورته عجیب جواب ورکړو چه الله تعالیٰ زما توره او نیزه د هغوی د وینو نه محفوظ کړیده نو ما باندے لازم دی چه زۀ د هغوی د ګناهونو نه خپله ژبه هم محفوظه اُوساتم۔ لهذا کومو کتابونو کښې چه د صحابه کرامو متعلق ګستاخانه انداز اختیار شویدے لکه کتاب الاغانی (٢٤ جلدونه)، او نور غلط تاریخونه نو د هغے د کتلو نه ځان ساتل پکار دی، معتمد تاریخونه (١) تاریخ الطبری د ابن جریرؒ (٢) منهاج السنة النبویة د حافظ ابن تیمیهؒ (٣) العواصم من القواصم د ابوبکر ابن العربیؒ (٤) او البدایة والنهایة د حافظ ابن کثیر رحمه الله دی۔

(قَالُوٓا اَنُؤۡمِنُ) **سوال** : دوی چه صحابه کرامو ته سفهاء (کم عقل) وئیل نو نبی ﷺ او صحابه کرامو سزا ولے نۀ ورکوله ځکه چه په مدینه کښې خو د صحابه کرامو غلبه وه ؟

جواب : دا وینا به ئے خپل مینځ کښې په خپلو مجلسونو کښې کوله او د صحابه کرامو نه په غائب والی کښې به ئے وئیل، ورنه د صحابه کرامو مخامخ ئے نشو وئیلے ځکه دوی مغلوب وو۔ کله چه به موقع راغله نو بیا به ئے انکار کولو نو الله تعالیٰ خپل نبی ﷺ ته د هغے خبر ورکړو۔ لکه یو اثر کښې راځی چه ابوبکر صدیق ؓ او د هغه ملګری په یوه لاره روان وو، عبد الله بن اُبی ابن سلول د خپلو ملګرو سره مخے ته راغلو نو ملګرو ته ئے اُووئیل : تاسو ګورئ زۀ درله څنګه دا کسان دوهوکه کوم، نو د ابوبکر صدیق ؓ خواله راغلو او د هغه صفتونه ئے شروع کړل چه ته اول مسلمان ئے او د رسول الله ﷺ د غار ملګرے ئے۔ او داسے نور صفات، نو دوی ورته هیڅ التفات اُونکړو او هیڅ ئے ورته اُونۀ وئیل : نو دے منافق اُووئیل : څنګه مے درله دوهوکه کړل، که مونږ ورته دا خبرے نۀ وے کړے نو مونږ ته ئے دعوت راکولو نو د هغوی دعوت مے درله خراب

کړو۔[کما فی السراج المنیر]۔
(۲) دویم مثال : د غزوه د بنی المصطلق په لاره کښې دغه عبد الله بن اُبی اُووئیل : که مونږ مدینې ته واپس شو (لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ) مونږ به دغه ذلیله انسان د مدینې نه اُوباسو، نو دا خبره زید بن ارقم ﷺ رسول الله ﷺ ته اُورسوله نو هغه راوغوختلو نو دوی قسمونه شروع کړل چه زید دروغ وائی او مونږ دا خبرې نهٔ دی کړی بلکه مونږ خو ایمان راوړې دې نو نبی ﷺ د زید تکذیب اُوکړو نو الله تعالیٰ سورة المنافقون نازل کړو او د زید تصدیق ئې اُوکړو۔ نو دوی به دغه شان خبرې پټې کولې۔
(اَلسُّفَهَاء) جمع د سفیه ده د سفاهة نه ماخوذ دې :
(۱) [هُوَ الْجَاهِلُ الضَّعِيفُ الرَّأْيِ الْقَلِيلُ الْمَعْرِفَةِ بِمَوَاضِعِ الْمَصَالِحِ وَالْمَضَارِّ]
خفیف العقل (سپك عقل والا) او جاهل او کمزوری رائې والا او د ضرر او فائدې په ځایونو باندې نهٔ پوهیدونکې ته وائی۔ (ابن کثیر)۔
(۲) (خِفَّةُ الْعَقْلِ وَالْجَهْلُ بِالْأُمُورِ) (اللباب)
(د عقل سپك کیدل او د دنیا په کارونو نهٔ پوهیدلو ته سفاهة وائی)
دا ماده په قرآن کریم کښې (۱۱) کرته راغلې ده، او په اصل کښې خفت او حرکت ته وئیلې شی۔او جهل ته هم وئیلې شی۔ لکه روستو ئې معانی راځی۔
حکمة : منافقانو ولې صحابه کرامؓ ته سفهاء (بې وقوف) وئیل ؟ (۱) لِعَدَمِ اِنْصَافِهِمْ (ځکه چه بې انصافه وو) خپله کم عقل وو نو هغوی ته ئې کم عقل وئیل شروع کړل۔ لکه علماؤ ته بعض خلق جاهلان وائی او مجاهدینو ته دهشتګرد وائی۔دا بې انصافی ده۔
(۲) [لِجَهْلِهِمْ بِقَدْرِ الصَّحَابَةِ] (د صحابه کرامو د قدر او مرتبې نه جاهلان وو، او جاهل انسان اُوچتې مرتبې والا ته سفیه وائی۔
(۳) (لِفَقْرِ الصَّحَابَةِ)(صحابه کرام غریبانان، فقیران وو او منافقان اصحاب ریاست او ثروت والا وو، پدې وجه ئې صحابه کرامو ته په حقیر نظر کتل۔ او دغه شان خبره د نوح ؑ قوم هم د هغه د تابعدارو په باره کښې کړې وه چه دا بادی الرأی خلق ستا ملګری دی۔ (اعراف/٦٦) وسورة هود (۲۷) ۔
(٤) لِعَدَمِ الْعِلْمِ بِمَا يُصْلِحُ مَعَاشًا) (د دوی په نیز سفاهت دې ته وئیلو شو چه د دنیا

اسبابو تـه بـه ئـے نۀ کتل او دا هر څه به ئـے په دین قربانول۔ نو دا دوی ته بے وقوفی ښکاره کیدله۔ لکـه نـن صبا هـم چـه څـوك دیـن تـه تـهول وخت ورکړی، او په دین باندے ځان قربانوی نو خلق ورپسے خبرے کوی چه دوی له د کوم ځائے نه راځی ؟ لکه سورة الانفال کښې راغلی دی [اِذْ يَقُوْلُ الْمُنَافِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ] (۴۹) آیة

(۵) دارنـګـه صحابه کرامو کښې دهوکے نه وے، چل ول پکښې نۀ وو، منافقانو به وئیل دا ساده ګـان دی، میـنـځ کښې غټ عاقلان د دوی نه بل هیڅوك نه وو۔ نیك سړے سیده ساده مسلمان وی د منافقانو په شان چل ول دهوکه د هغوی په مزاج کښې نۀ وی۔

(۶) وجـه دا وه چـه دوی بـه دا وئیـل چـه دوی د خپـل پـلار نیـکه دین پریخودلو او ددے نبی ﷺ ملګرتیا کښې ئے خپل وطن پریخودلو۔ نو پدے کارئے دوی کم عقل ګنړل ځکه منافق ظاهر بین وی۔

(۷) – د منافقانو دا عقیده وه چه د محمد (ﷺ) دین باطل دے او باطل نۀ قبلوی مګر سفیه۔ نو ځکه ئے صحابه کرامو ته کم عقل وئیل۔ (اللباب لابن عادل)

(**اَلَا اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاۤءُ**) نو الله ﷻ پـه هـغـوی بـانـدے سخت مؤکد رد کوی او دا د الله تـعـالیٰ غیـرت دے پـه خپلو دوستانو، ځکه څوك چه د الله تعالیٰ د دوستانو پسے خبرے کوی، نو الله ﷻ خپله د هغوی د طرفنه مقابله کوی،

حدیث قدسی دے : [مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ] [بخاری : ۶۵۰۲]

څوك چه زما دوستانو سره دشمنی کوی، نو هغۀ ته ما د جګړے اعلان وکړو۔

او په روایت د ابن حبان کښے دی : [مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَانِيْ] [ابن حبان : ۳۴۷]

چا چه زما د دوستانو سره دشمنی وکړه نو هغۀ ما ته ضرر راکړو۔

بیا منافقانو ته ئے ولے کم عقل اُووئیل ؟ : (۱) وجه دا ده چه څوك آخرت په دنیا باندے خرڅ کړی نو دا غټ سفیه وی۔

(۲) دارنـګـه څـوك چـه د الله تـعـالـیٰ دشـمـنـی شروع کړی نو همدغه کامل سفیه وی۔ (اللباب) دارنګه څوك چه د الله تعالیٰ د دوستانو سره دشمنی شروع کړی۔ دارنګه څوك چه بده عقیده او عمل اختیار کړی نو دا سفاهة دے۔

سوال : قـرآن کـریـم خـو د جـاهـلانو نه په اعراض باندے حکم کوی نو دلته ځنګه په هغوی باندے رد کوی او د هغوی بد رد بیانوی ؟

جواب : حکمة دا دے چه دے خلقو، د دين بے عزتي اُوکړه او د دين د نړولو کوشش ئے اُوکړو ځکه چه صحابه کرامو ته ئے کم عقلان اُووئيل نو الله تعالىٰ د هغوى د طرف نه مدافعت اُوکړو۔ چه دين محفوظ شي۔

(۲) دويم دا چه دا مقام د بيان الحق من الباطل دے، که الله تعالىٰ په هغوى باندے ددے خبرو ترديد اُونکړى نو د منافقانو خبره به په ځائے پاتے شي۔ نو په صحابه کرامو باندے به تهمت د سفاهتَ پاتے شي۔

(۳) بله دا چه د قرآن کريم طريقه دا ده چه د چا تصور او نظريه خرابه شي نو په هغے باندے صراحةً رد کوى نو ددے خلقو په باب د ايمان او اهل التوحيد کښ عقيده خرابه شوے وه۔ نو الله تعالىٰ د هغوى حقيقت راښکاره کړو۔

د سفاهة معانى او اسباب

سفاهة په ډيرو معنو استعمال دے چه دے ټولو ته سفاهة وئيلے شي او دا اسباب د سفاهة دی۔ پدے څيزونو سره انسان بے وقوف کيږى۔

۱ – اَلۡاِعۡرَاضُ عَنِ الۡمِلَّةِ الۡاِبۡرَاهِيۡمِيَّةِ لکه (وَمَنۡ يَّرۡغَبُ عَنۡ مِلَّةِ اِبۡرَاهِيۡمَ) (البقرة : ۱۳۰) ځکه چه ابراهيم عليه السلام په توحيد روان وو او د الله تعالىٰ بندګى به ئے کوله او چا چه توحيد او د الله تعالىٰ بندګى پريخوده نو غټ سفيه دے۔

۲ – (عَدَمُ الۡعِلۡمِ) (بے علمه کيدل) لکه (قَدۡ خَسِرَ الَّذِيۡنَ قَتَلُوۡا اَوۡلَادَهُمۡ سَفَهًا بِغَيۡرِ عِلۡمٍ) (الانعام : ۱٤۱)

۳ – نُقۡصَانُ الۡعَقۡلِ : (د انسان عقل کمزورے کيدل) لکه دا ئے خپله لغوى معنىٰ هم ده۔ لکه : (سَفِيۡهًا اَوۡ ضَعِيۡفًا) آية المداينة) البقرة : ۲۸۲) (وَلَا تُؤۡتُوا السُّفَهَآءَ اَمۡوَالَکُمۡ) النساء : ۵)۔

٤ – اَلۡاِفۡتِرَاءُ عَلَى اللّٰهِ۔ (په الله باندے دروغ تړل) لکه (وَاَنَّهٗ کَانَ يَقُوۡلُ سَفِيۡهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا) (الجن : ٤)۔

۵ – اَلۡاِعۡتِرَاضُ عَلٰى عَمَلِ الرَّسُوۡلِ ﷺ وَالصَّحَابَةِ)۔(د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو په عمل باندے اعتراض کول) لکه (سَيَقُوۡلُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ) البقرة : ۱٤۲)۔

٦ – تَسۡفِيۡهُ عُقَلَاءِ الدِّيۡنِ)۔(په دين کښ عاقلانو ته کم عقل وئيل) انسان خپله کم عقل کيږى چه کله علماء او عقلاؤ پسے خبرے شروع کړى۔ لکه دے آيت کښ شو او سورة الاعراف (٦٦)۔(اِنَّا لَنَرَاكَ فِىۡ سَفَاهَةٍ)۔ تفتازانى په شرح عقائد کښ په يزيدؔ باندے لعنت

وئیلے دے او په مختصر المعانی کښ ئے په باب د مسند الیه کښ د (رَكِبَ عَلِيٌّ وَ هَرَبَ مُعَاوِيَةُ) مثال راوړیدے او د صحابه کرامو متعلق ئے وئیلی دی چه دوی په دقائقو د ریاضی باندے نهٔ پوهیدل۔ ددے نه ددهٔ شیعه توب معلومیږی چه د صحابه کرامو گستاخی کوی۔ دا طریقه په متأخرینو کښ بعض مقلدینو هم اختیار کړیده لکه اُوگوره زمونږ رساله (تحفة المناظر) اُوس هم خلق اهل حقو ته ظاهربین او اهل ظواهر وائی چه دا خلق سرسری روان دی او مونږ ژور روان یو۔

د منافقانو په نیز باندے کم عقلتیا دا وه چه دا صحابه کم عقل او کمزوری رائے والا دی، د مشرانو دین ئے پریخودے دے او ددے نبی (ﷺ) په ملگرتیا کښ ئے وطن پریخودلو او مال او جان ئے قربان کړو۔

(**وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ**) (۱) د لَايَعْلَمُوْنَ مفعول پټ دے (اَیْ لَايَعْلَمُوْنَ سَفَاهَتَهُمْ وَجَهْلَهُمْ) یعنی دوی په خپل سفاهة (کم عقلتیا) نهٔ پوهیږی) نو دوی جاهل مرکب دی چه په خپل جهالت باندے ئے هم علم نشته چه هغهٔ زائل کړی او علم حاصل کړی لهذا د دوی نه د حق منلو اُمید نشی کیدلے۔

(۲) یا معنیٰ دا ده (لَايَعْلَمُوْنَ الْعَاقِلَ مِنَ الْجَاهِلِ) (دوی نهٔ پوهیږی چه عقلمند څوك دی او بے عقله څوك دی)، دین والا پوره عقلمند او دنیا پرست جاهل دے، د مؤحد نظر په الله تعالیٰ او په آخرت لگی، او د دنیا پرست نظر په دنیا او ظاهری مال متاع او خواهشاتو لگی نو دوی غټ بے عقله دی۔

(۳) یا مفعول عام دے۔ (اَیْ لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْئًا) ۔په هیڅ شی نهٔ پوهیږی۔ د علم صفت ترے بالکلیه منفی دے۔ او دا عموم اولیٰ دے۔

فائده : د مخکښ آیت په تتمه کښ لا یشعرون او دلته ئے لا یعلمون اُووئیل، ددے دوه حکمتونه دی (۱) اول دا چه هلته ذکر د اِفْسَاد وو او هغه په اَدنیٰ فکر سره حاصلیدو نو د هغے سره د شعور ذکر مناسب دے چه هغه هم په ظاهری حواسو سره حاصلیږی۔ او دلته په ایمان باندے امر ذکر شو او ایمان خو ژور فکر او تدبر ته محتاج دے ځکه دا امر قلبی دے او دوی هغه اُونکړو نو ددے وجه نه ئے ترے علم نفی کړو۔ او اشاره ده چه (لَايَتِمُّ الْإِيْمَانُ اِلَّا بِالْعِلْمِ الْيَقِيْنِيِّ)(چه ایمان بغیر د علم یقینی نه نهٔ حاصلیږی) او دوی کښے دغه علم یقینی نهٔ وو نو ځکه ئے ایمان رانهٔ وړو۔ (فتح)

(۲) دویم دا چه سفاهة خفة العقل (د عقل سپکوالے) او جهالت ته وائی : (اَیٔ عَدَمُ الْعِلْمِ بِمَا یُصْلِحُ مَعَاشَہٗ وَمَعَادَہٗ) (ابن القیم) ۔(یعنی په هغه څه نۀ پو هیدل چه د دنیا او آخرت ژوند ورله ښه کوی) او علم نقیض د جهل دے نو دلته نفی د علم د سفاهة سره زیاته مناسب ده۔ نو پدے کښ صنعة الطباق دے۔ (اللباب لابن عادل الدمشقی)

(۳) دا ترقی ده د ادنیٰ نه اعلیٰ ته یعنی شعور ادنیٰ او علم اعلیٰ دے۔ یعنی شعور ورسره نشته نو دغه شان علم هم ورسره نشته چه په هغے سره باطنی امور او فوائد معلومیږی۔

(٤) (اَلْعِلْمُ لَایُنَاسِبُ السَّفِیْہَ) (د کم عقل سره علم مناسب نۀ دے نو نفی ترے پکار ده)۔

د لَا یَعْلَمُوْنَ نه معلومه شوه چه دوی کښ شعور هم نشته او علم هم په کښ نشته نو د حیواناتو نه هم دوی اخوا دی، ځکه حیواناتو کښ خو شعور شته ضرر او نقصان پیژنی، ادنی او اعلیٰ دواړه درجے د دوی نه منفی شوے۔

وَاِذَا لَقُوا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا، قَالُوْا
او کله چه یو ځائے شی دوی د هغه کسانو سره چه ایمان ئے راوړے (نو) وائی دوی :
اٰمَنَّا وَاِذَا خَلَوْا اِلٰی شَیٰطِیْنِهِمْ قَالُوْا
مونږه هم ایمان راوړے دے او کله چه جدا شی خپلو شیطانانو ملګرو سره، وائی دوئ
اِنَّا مَعَکُمْ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۱٤﴾
یقیناً مونږ تاسو سره یو، یقیناً مونږه توقے کونکی یو (د مومنانو پسے)

تفسیر : پدے آیت کښ الله تعالیٰ د دوئ راز افشا کړو چه دوی د مسلمانانو مخکښ خو د اسلام اظهار کوی لیکن په خپلو مجلسونو کښ د صحابه کرامو او مؤمنانو په باره کښ د ګنده خیالاتو اظهار کوی۔

سوال : مخکښے په (۸) آیت کښ (آمنا بالله) تیر شو نو دلته ئے بیا ولے راوړو ؟۔

جواب : هلته ئے د دوی عقیده او مذهب بیان کړو چه دعوه د ایمان لری او دلته د

هغوی په کردار او گفتار کښې تناقض او تباین د هغوی په ژبه بیانوی. چه کله د مسلمانانو سره وی نو وائی چه مونږ مسلمانان یو، دے دپاره چه د مسلمانانو د اجتماعیت د منافعو او مصالحو نه فائدے اُوچتے کړی او کله چه دخپلو سردارانو مجلس ته لاړ شی نو هغوی ته یقین ورکوی چه مونږ خو ستاسو سره یو. او مسلمانانو پورے توقے کوو.

نو پدے آیت کښې د منافقانو یولسم خصلت دا ذکر شو چه ذو الوجهین دے
[يَأْتِي هٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ وَهٰؤُلَاءِ بِوَجْهٍ، يَتَلَوَّنُ]
(ایمان والو ته په یو مخ راځی او کافرانو ته په بل مخ، بدلیږی رابدلیږی)

نو هغوی ترے تپوس کوی چه دا چرته تلی وئ؟ تاسو خو ددے خلق سره کینئ پاځئ؟ نو دوی ورته وائی چه مونږ خو تاسو سره یو یعنی عَلَى النَّصْرِ وَالدِّيْنِ (یعنی ستاسو مدد کوو او ستاسو په دین باندے یو). او هلته چه ورځو نو هغوی پسے توقے کوو، په عذابو ئے، ملګرتوب ورسره غرض نهٔ دے.

فائده : دے نه معلومه شوه چه توقے د مسلمان پورے د منافقانو طریقه ده، یو مزاح دے یعنی خوش طبیعتی هغه جائز کار دے هغه به هم ډیره نهٔ کوی، او یو استهزاء ده، بل مسلمان سپکوی، تحقیر ئے کوی، نو دا ناروا ده.

توضیح الکلمات :

(خَلَوْا) د خلوت نه دے دوه معنے لری (۱) خلا په معنی د (مضیٰ) تیریدلو لکه (قد خلت) او کله په معنیٰ د یواځی والی وی لکه دلته ئے معنیٰ ده (اِنْفَرَدُوْا، وَذَهَبُوْا) (یعنی د هغوی سره یواځی شی، او لاړ شی) دواړه معنے صحیح دی.

شیاطین نه مراد (اَلسَّادَةُ وَالْكُبَرَاءُ) د دوی سرداران او مشران دی)، او یهود هم ترے مراد دی ځکه چه د دوی تعلقات د یهودو سره هم وو، شیطانان ئے ورته ځکه اُووئیل چه د شیطان کار دا دے : (تَحْسِيْنُ الْقَبِيْحِ وَتَقْبِيْحُ الْحَسَنِ) (بد کار ښائسته کول او ښهٔ کار بد ښکاره کول) او فساد او ورانے کول، خلقو ته غلطه خبره کول، او د دوئ مشرانو به هم غلطه لارخودله، جهاد، مال لګول او د پیغمبر تابعداری به ئے ورته بده ښکاره کوله، نو هر هغه لیډر، پیر، ملا او مشر چه تا ته ئے غلطه لار خودله بس دغه شیطانان دی.

شیطان (۱) یا د شَطَنَ نه دے، په معنیٰ د بُعد (وړاندے والی) سره، او دا هم د الله تعالیٰ

او د هغه د رحمت نه بعید دے۔

(۲) یا د شَاطَ یَشِیطُ نه دے نون په کښې زائد دے په معنیٰ د (اِحْتَرَقَ وَتَلَظّٰی) (یعنی سوزیدل او لمبه وهل) (مفردات راغب) (وَمُسْتَشِیطٍ تَتَلَظّٰی جَمْرَتُهٗ) (مقامات الحریری) او شیطان هم د لمبو نه پیدا دے او پدے به سوزی۔ لفظ د شیطان په قرآن کریم کښې (۸۸) کرته راغلے دے۔

د شیطان لفظ اطلاقات او استعمالات

د شیطان په ډیرو خلقو اطلاق کیږی :

۱- ابلیس لکه (فَأَزَلَّهُمَا الشَّیْطَانُ) (البقرة : ۳٦)

۲- (اَلْوَسْوَاسُ، سَوَاءٌ کَانَ جِنِّیًّا اَوْ اِنْسِیًّا) (وسوسه اچونکے، که انسان وی او که پیرے وی) لکه (لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوَاتِ الشَّیْطَانِ) البقرة : ۱٦۸)

۳- اَلْجِنُّ الشِّرِّیْرُ (شری پیرے چه په انسان کښې داخلیږی) لکه (کَالَّذِیْ یَتَخَبَّطُهُ الشَّیْطَانُ مِنَ الْمَسِّ) (البقرة : ۲۷۵)۔

٤- اَلْجَاسُوْسُ۔ (کافرو ته د مسلمانانو شیطانت کونکے) دا واجب القتل دے کله ئے چه همیشه کوی۔ لکه (اَلَّذِیْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَکُمْ) (آلعمرن : ۱۷۳)۔ که یو کرت ترے اُوشی نو معاف کولے به شی بدلیل واقعة حاطب ﷺ۔

۵- اَلْحَیَاتُ۔ (ماران) لکه (طَلْعُهَا کَاَنَّهٗ رُؤُوْسُ الشَّیَاطِیْنِ) الصافات : ٦۵)۔

٦- (اَلسَّادَةُ وَالْکُبَرَاءُ)۔ (د گمراهۍ سرداران او مشران) لکه پدے آیت کښې شو۔

د شیاطین نور اطلاقات دا دی :

۱- بادشاهان۔ ۲- د کلی او علاقے مشران۔ لکه سورة الانعام کښې دی (وَکَذٰلِکَ جَعَلْنَا فِیْ کُلِّ قَرْیَةٍ اَکَابِرَ مُجْرِمِیْهَا لِیَمْکُرُوْا فِیْهَا) (انعام : ۱۲۳)

۳- اَلْاَحْبَارُ السُّوْءُ۔ (ناکاره ملیان)۔

(٤) اَلرُّهْبَانُ (غلط پیران) لکه عبد الله بن المبارک رحمه الله نه نقل دی :

وَهَلْ اَفْسَدَ الدِّیْنَ اِلَّا الْمُلُوْکُ	❁	وَاَحْبَارُ سُوْءٍ وَرُهْبَانُهَا

حکمة : (۱) (آمَنَّا) ئے جمله فعلیه راوړه او (اِنَّا مَعَکُمْ) ئے جمله اسمیه راوړه، اشاره ده چه

زمونږ د ایمان دعوه یو وخت کښې ده، همیشه نهٔ ده، او ایمان دوی ته محبوب نهٔ دے۔ او معیت د کافرو سره د دوئ محبوب دے او همیشه دے، یعنی مونږ تاسو سره همیشه یو۔ نو هغه ئې ځکه په جمله اسمیه سره راوړو۔

(۲) بله وجه دا ده چه مؤمنانو سره په خطاب کښې د هغوی رغبت نهٔ وو او د خپلو ملګرو سره د ډیر محبت په وجه ئې جمله اسمیه استعمال کړه۔

اِنَّا مَعَكُمْ : لفظ د مع قرآن کریم کښې (۱۶۵) کرته راغلے دے۔ معیت دوه قسمه دے (۱) یو د مخلوقاتو دے (۲) او بل د خالق دے۔

د مخلوق سره د معیت معانی

د مخلوقاتو د یو بل سره معیة په ډیرو معنو استعمال دے۔

۱ – اِشْتِرَاكٌ فِی الزَّمَانِ وَالْمَكَانِ ۔ لکه سورة البقره (۴۳) آیت کښې دی : (وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ) او (فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ مَعَكَ) (النساء : ۱۰۲)

۲ – اَلْاِشْتِرَاكُ الْوَصْفِيُّ وَالْعَمَلِيُّ ۔ (صفت او عمل کښې ملګرے کیدل) لکه (وَكَاَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّوْنَ) آلعمران (۴۳)

۳ – رَفَاقَةٌ فِی السَّيْرِ (په مزل او سیر او سیاحت کښې ملګرے کیدل) لکه (قَالَ : لَنْ اُرْسِلَهُ مَعَكُمْ) (یوسف : ۶۶)

٤ – اَلْاِشْتِرَاكُ فِی الْاُلُوْهِيَّةِ (د الله سره شریك کیدل) او دا نشی کیدے۔ لکه (ءَاِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ آلِهَةً اُخْرٰی) (الانعام :۱۹)

۵ – اَلْاِشْتِرَاكُ فِیْ دَرَجَاتِ الْجَنَّةِ ۔ (د جنت په درجو کښې یو ځائے کیدل) لکه : (وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّيْنَ الخ) (النساء :۷۰)

۶ – اَلْمَعِيَّةُ فِی النَّجَاةِ مِنَ الْعَذَابِ (د عذاب نه په خلاصیدو کښې ملګرتیا) لکه (فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ) (النساء :۱۴۶)

۷ – اَلْمَعِيَّةُ فِی الْجُلُوْسِ (په یو ځائے کیناستل) لکه (فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰی مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ) (الانعام : ۶۸) او (فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ) (النساء : ۱۴۰)

۸ – اَلْمَعِيَّةُ فِی الْعَذَابِ ۔ (په عذاب کښې شریك کیدل) لکه (وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ تِلْقَاءَ اَصْحَابِ النَّارِ قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ) (اعراف : ۴۷ – ۵۰)

۹ – اَلْمُتَابَعَةُ (تابعداری) لکه (لَنُخْرِجَنَّكَ يَا شُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا مَعَكَ) (الاعراف : ۸۸)

او (مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ اَشِدَّآءُ) (سورة الفتح : ۲۹)

۱۰- په معنىٰ د بَعْدُ (روستو والى) سره لكه سورة الانشراح : ۵) (اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا) (اَىْ بَعْدَ الْعُسْرِ)

۱۱- په معنىٰ د لزوم او اتصال سره لكه سورة يس : ۱۹) كښ. (قَالُوْا طَائِرُكُمْ مَعَكُمْ)

۱۲- په معنىٰ د علىٰ لكه (وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِىْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗ) (اعراف : ۱۵۷) او (وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيْزَانَ) (الحديد: ۲۵).

بل معية د الله تعالىٰ په صفت كښ دے.

دا په دوه قسمه دے (۱) معيّتِ عامه (۲) او معيتِ خاصه.

معيت عامه د الله تعالىٰ د ټولو مخلوقاتو سره دے او دا په علم او قدرت سره دے، يعنى الله تعالىٰ د بندګانو سره دے په اعتبار د علم او قدرت سره. لكه دا په سورة الحديد (٤) آيت كښ ذكر دے (وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَمَا كُنْتُمْ) او (وَلَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ) (المجادلة :۷)

او پدے كښے د سلف صالحينو عقيده دا ده چه الله تعالىٰ په اعتبار د ذات سره فوق العرش دے او علم او قدرت ئے هر ځائے جارى كيږى. او ددے مثال داسے دے لكه يو سړے خپل ملګرى ته چه ددهٔ نه جدا ځائے كښ وى جواب وليږى چه (اَنَا مَعَكَ) (يعنى زهٔ ستا ملګرے يم) او ستا مدد به كوم. او دا مطلب نهٔ دے چه دا د هغه سره په اعتبار د ذات سره موجود دے.

(۲) او دويم معيتِ خاصه چه دا د الله تعالىٰ خصوصى ملګرتيا ده چه هغے ته معيتِ بالنصر والمحبة وائى . يعنى د مدد ملګرتيا او د محبت ملګرتياء الله تعالىٰ ورسره خصوصى مددونه كوى او محبت اومينه ورسره لرى. او دا د خواصو مؤمنانو سره وى. او ددے د حاصلولو يو څو اسباب دى چه انسان هغه اختيار كړى نو د الله معية ورته حاصليږى.

د معية خاصه د حاصليدو اسباب

۱- صبر : لكه بقره (۱۰۳) (اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ)

۲- التقوىٰ. لكه (وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ) (البقرة : ۱۹٤)

۳- الصلوة (مونځ) ٤- زکوٰة. ٥- قرض حسن ورکول. ٦- اِیْمَان بِالرَّسُوْل (رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړل) لکه دا په سورة المائده (۱۲) آیت کښې راغلی دی: (لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَآمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا...... الآية)

۷- اَلْاِحْسَانُ وَالتَّقْوىٰ. لکه (اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَالَّذِيْنَ هُمْ مُحْسِنُوْنَ) (النحل: ۱۲۸) یعنی د مخلوق سره هم احسان کول او د الله تعالیٰ بندګی په توجه سره کول)

دلته د معیة نه مراد دینی معیة دے. یعنی مونږ ستاسو په دین کښې ملګری یواو ستاسو مدد به کوو.

مُسْتَهْزِءُوْنَ : ماده د استهزاء په قرآن کریم کښے (۳٤) کرته راغلے ده. په لغت کښې ماخوذ دے د الهُزْء نه او هُزْء په معنیٰ د الخفة (سپکاوی) سره دے، او په استهزاء کښې هم د یو انسان شرمول او سپکول مقصود وی.

دلته قرطبیؒ داسے معنیٰ کوی: [مُكَذِّبُوْنَ بِمَا نُدْعٰى اِلَيْهِ] (مونږ ته چه د کوم ایمان دعوت راکولے شی نو د هغے تکذیب کوو) او دا هم د مخاطب سپکاوے دے چه هسے سر ورته خوزوے چه منم او په زړه کښې ئے نهٔ منی. دا تفسیر ببعض اللوازم دے.

(۲) [اَلسَّاخِرُوْنَ مِنْهُمْ] (یعنی هغوی پورے مسخرے کوو.)

فائدة رائعة : پدے مقام کښې درے څیزونه دی (۱) سخریه (مسخرے) (۲) استهزاء (۳) مزاح.

سخریه مسخرے او خندنئ کول دا په اشخاصو کښې استعمالیږی چه یو انسان بل لره د ځان نه ادنیٰ او ذلیل او تابع اُوګنړی او استهزاء عامه ده، اقوالو، احوالو، او اشخاصو ته شاملـه ده، او دا دواړه شریعت حرام کړیدی، زنانه به ئے هم خپل مینځ کښې نهٔ کوی. دارنګے مسخرے د مؤمنانو په مینځ کښې هم کیدے شی اګرچه دا کبیره ګناه ده او استهزاء په شریعت کښې صفت د کافر او منافق دے. (احسن الکلام)

او په استهزاء او سخریه کښې ډیر ګناهونه راجمع کیږی لکه د مسلمان سپکاوے کول او د ځان تکبر دے او کله متضمن وی غیبت، بهتان لره او پردی عیبونه رابنکاره کول او د خپل عیبونو نه ځان ړندول.

(۳) او مزاح خوش طبیعتیٔ ته وائی. پدے کښے د ملګرو او خپل طبیعت خوشحالول وی، دا کار جائز دے لیکن زیادت پکښې صحیح نهٔ دے ځکه چه دا کله استهزاء او

سخريه ته رسيږي او انسان ددې د وجه نه په حرامو کښې واقع کيږي. او مزاح د رسول الله ﷺ نه هم نقل ده په ټول عمر کښې ئې (۲۲) کرته مزاح کړيده. او هغه به هم حقه خبره وه، دروغ به پکښې نۀ وو، لکه يو سړي ته ئې ذو اليدين (اوږدو لاسونو والا) ۲- يو ته ئې ذو الاذنين) (دوه غوږې) وئيلې دې.

۳- يوې بوډئ ته ئې وئيلي وو: بوډئ گانې به جنت ته نۀ ځي. يعنې په صفت د بوډئ والي. ٤- يو اعرابي ته ئې اُووئيل : زۀ به دې د اُوښې په بچي سور کړم، هغه اُووئيل : زۀ درنه اُوښ غواړم او ته بچې راکوې، نو ورته ئې اُوفرمايل : دا ټول اُوښان د اُوښې بچي دي.

٥- يَا اَبَا عُمَيْرٍ ! مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ ؟. (ابوعميره ! بُلبل دِې څه اُوکړل؟)

○ صحابه کرامو اُوفرمايل : يا رسول الله ﷺ ته هم مونږ سره ټوقې کوې. نو هغه اُوفرمايل : (مَا اَقُوْلُ اِلَّا حَقًّا) زۀ چه څه وايم نو دا حق دي يعنې زۀ په ټوقو کښې هم دروغ نۀ وايم.

او په کثرت مزاح سره زړۀ سختيږي، او دې باکو خلقو کار دې. په انسان کښې بې غمي پيدا کيږي او د انسان وقار، د مخ تازگي او رونق ختميږي.

○ سيدنا عمر فاروق ؓ به فرمايل : [مَنْ مَزَحَ اُسْتُخِفَّ بِهٖ] (څوك چه ډير مزاح کوي نو هغه به سپك گڼرلې شي) ○ او فرمائيلي ئې دي : چه مزاح د انسان مروءۃ (سړيتوب) ختموي او سينه کښې تنگي پيدا کوي.

○ او دا خبره ئې خپلو عاملانو ته ليکلې وه : [اِمْنَعُوا النَّاسَ عَنِ الْمِزَاحِ]. (خلق د گپ شپ نه منع کړئ).

○ او دا ئې هم فرمايلي دي :

[مَنْ كَثُرَ ضِحْكُهٗ قَلَّتْ هَيْبَتُهٗ، وَمَنْ مَزَحَ اُسْتُخِفَّ بِهٖ، وَمَنْ اَكْثَرَ مِنْ شَيْءٍ عُرِفَ بِهٖ، وَمَنْ كَثُرَ كَلَامُهٗ كَثُرَ سَقَطُهٗ، وَمَنْ كَثُرَ سَقَطُهٗ قَلَّ حَيَاءُهٗ، وَمَنْ قَلَّ حَيَاءُهٗ قَلَّ وَرَعُهٗ، وَمَنْ قَلَّ وَرَعُهٗ مَاتَ قَلْبُهٗ، وَمَنْ مَاتَ قَلْبُهٗ فَالنَّارُ اَوْلىٰ بِهٖ] [قوت القلوب ص (٤٦) تنبيه الغافلين (۱/۲۱۷)].

(څوك چه ډيره خندا کوي، هيبت به ئې کميږي او څوك چه مزاح کوي سپك به گڼرلې شي او څوك چه د يو شي تذکره زياته کوي، په هغې به پيژندلې شي او څوك چه خبرې زياتې کوي، غلطي به ئې زياتيږي او د چا چه غلطي زياته شي، حياء به ئې کمه شي او د چا چه حياء کمه شي نو ورع او پرهيزگاري به ئې کمه شي او د چا پرهيزگاري او احتياط

چه کم شو نو زړه به ئے مړ شي او د چا زړه چه مړ شي نو اُور د هغه په سیزلو ډیر لائق دے)۔

O- سیدنا سعید بن العاص ﷺ فرمائی :

[لَاتُمَازِحِ الشَّرِيفَ فَيَحْقِدَ عَلَيْكَ وَلَا الدَّنِيءَ فَيَجْتَرِئَ عَلَيْكَ]

[احیاء علوم الدین ٤/٢١٣]

(شریف انسان سره مزاح مه کوه د هغه د سترګو نه به پریوزے او د خکته انسان سره مزاح مهٔ کوه هغه به دریاندے زړهٔ ور شي)۔

O- محمد بن المُنکدر رحمه الله فرمائی : ما ته مور اُووئیل: د ماشومانو سره مزاح (ګپ شپ) مهٔ کوه، څکه تهٔ به په هغوی باندے سپك شے)

(احیاء) [شعب الایمان ومسند ابن الجعد ١/٢٥٥]

O - میمون بن مِهران رحمه الله فرمائی : [إِذَا كَانَ الْمِزَاحُ أَمَامَ الْكَلَامِ فَآخِرُهُ الشَّتْمُ واللِّطَامُ]۔ (کله چه د خبرے شروع د مزاح نه اُوشوه نو پوهه شه چه آخر کښ به ئے کنځلے او څپیړے وهل وی)۔

O محمد بن هبة الله فرمائی : [وَمَنْ تَرَكَ الْمِزَاحَ وُفِّقَ لِلْبَهَاءِ]۔

(څوك چه مزاح پریدی نو هغه ته به توفیق د تازګئ او د ښائست او عظمت ورکړے شي)۔ (انظر الفوائد)

O بعض علماء فرمائی : [لِكُلِّ شَيْءٍ بَذْرٌ وَبَذْرُ الْعَدَاوَةِ الْمِزَاحُ] (قوت القلوب)۔

(د هر شی تخم وی او د دشمنئ تخم مزاح او ګپ شپ دے)۔

O ابن عبد البر رحمه الله فرمائی : د علماؤ حکماؤ نه نقل دی : څوك چه اراده لری چه د هغه د خپل ورور (دوست) سره دوستی او ورور ولی همیشه پاتے شی نو هغه سره ډیر مزاح نهٔ کوی او کومه وعده چه اُوکړی په هغے کښ دِے خلاف نهٔ کوی۔

وقال ابو هَفَّانَ :

مَازِحْ صَدِيقَكَ مَا أَحَبَّ مِزَاحَا	❁	وَتَوَقَّ مِنْهُ فِي الْمِزَاحِ مِزَاحَا
فَلَرُبَّمَا مَزَحَ الصَّدِيقُ بِمَزْحَةٍ	❁	كَانَتْ لِبَابِ عَدَاوَةٍ مِفْتَاحَا

(الآداب الشرعية ٢/٣٢٢)

(دوست سره تر هغه وخت پورې ګپ شپ لګوه څوپورې چه هغه خوښوی او چه هغه مزاح بد ګنړی نو بيا ترې څان ساته، څکه ډير کرته يو دوست بل دوست سره داسې مزاح اُوکړی چه د دشمنئ دروازه راکولاوه کړی)۔

الله تعالیٰ ددې صحابه کرامو او د مومنانو د طرفه خپله مدافعت کوی فرمائی :

اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۱۵﴾

الله تعالیٰ توقے کوی دوی پورې او زياتوی دوی لره په سرکشئ د دوی کښې چه پريشانه به وی۔

تفسير : په دې آيت کښې دوه سزا ګانې ذکر دی (۱) دنيوی سزاء، دوی پورې توقے کول، او مهلت ورکول۔ (۲) او دينی سزا چه عَمَهَ (د زړهٔ ړوندوالے) دے۔

(يَسْتَهْزِئُ) الله تعالیٰ ته د استهزاء نسبت کيږی (۱) د ډيرو متکلمينو دا عقيده ده چه د الله تعالیٰ صفت د استهزاء نشته او دلته چه کومه استهزاء ذکر ده نو ديته مُشَاکَلَةً استهزاء وئيلے شويده يعنی دا بدله او سزا د استهزاء ده او استهزاء الله تعالیٰ نهٔ کوی، او مثال ئے دا بيانوی لکه (وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا) د بدئ بدله بدی نهٔ وی خو مشاکلةً ورته بدی وائی نو معنیٰ داسې کوی : (اَللّٰهُ يُجَازِيُهِمْ بِالْاِسْتِهْزَاءِ) يا (يَفْعَلُ بِهِمْ فِعْلَ الْمُسْتَهْزِئِ) (الله به سزا د استهزاء ورکړی يا داسې کار به ورسره اُوکړی لکه د توقے کونکی)

په دې باره کښې امام راغب اصبهانیؒ داسې وائی :

[وَالْاِسْتِهْزَاءُ مِنَ اللّٰهِ تَعَالیٰ فِي الْحَقِيْقَةِ لَا يَصِحُّ كَمَا لَا يَصِحُّ مِنَ اللّٰهِ اللَّهْوُ وَاللَّعِبُ، تَعَالَى اللّٰهُ عَنْهُ، وَقَوْلُهٗ اللّٰهُ يَسْتَهْزِءُ بِهِمْ اَیْ يُجَازِيْهِمْ جَزَاءَ الْهُزُوْ وَمَعْنَاهُ : اَمْهَلَهُمْ مُدَّةً ثُمَّ اَخَذَهُمْ مُغَافَصَةً فَسَمّٰى اِمْهَالَهٗ اِيَّاهُمْ اِسْتِهْزَاءً حَيْثُ اغْتَرُّوْا بِهٖ اِغْتِرَارَهُمْ بِالْهُزُوْ فَيَكُوْنُ ذٰلِكَ كَالْاِسْتِدْرَاجِ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ اَوْ لِاَنَّهُمْ اِسْتَهْزَأُوْا فَعَرَفَ ذٰلِكَ مِنْهُمْ فَصَارَ كَاَنَّهٗ يَهْزَأُ بِهِمْ كَمَا قِيْلَ مَنْ خَدَعَكَ وَفَطِنْتَ لَهٗ وَلَمْ تُعَرِّفْهُ فَاحْتَرَزْتَ مِنْهُ فَقَدْ خَدَعْتَهٗ وَقَدْ رُوِیَ اَنَّ الْمُسْتَهْزِئِيْنَ يُفْتَحُ لَهُمْ بَابٌ مِنَ الْجَنَّةِ فَيُسْرِعُوْنَ نَحْوَهٗ فَاِذَا انْتَهَوْا اِلَيْهِ سُدَّ عَلَيْهِمْ فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ : فَالْيَوْمَ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُوْنَ وَعَلٰى هٰذِهِ الْوُجُوْهِ قَوْلُهٗ : سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ] (مفردات راغب ص (۵۴۳)۔

(يعنی په حقيقت کښې د الله تعالیٰ نه استهزاء صحيح نهٔ ده لکه څنګه چه لهو او لعب

د الله نه صحیح نهٔ دی، الله تعالیٰ ددے نه بالاتر دے۔ او دا قول د الله تعالیٰ چه الله یَسْتَهْزِءُ بِهِمْ یعنی بدله د توقو به ورکړی (۱) او ددے معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ به دوی ته څه موده مهلت ورکړی بیا به ئے پدے بدو کارونو ناڅاپي راونیسی نو دوی ته مهلت ورکولو ته ئے استهزاء اُووئیله ځکه چه پدے (مهلت) سره دوی داسے دوکه شو لکه څنګه چه په توقو کولو سره دوکه شویدی۔ نو دا د دوی دپاره داسے شو لکه استدراج (په درجه درجه رانیول) د هغه ځائے نه چه دوی ته پته نشته (۲) یا پدے وجه چه دوی استهزاء اُوکړه نو دا د دوی نه خلقو اُوپیژندله نو داسے شوه لکه چه دوی پورے توقے اُوشوے ځکه چه وئیلے شویدی چه څوك تاسره دوکه کوی او ته پرے پو هه شے او ځان ترے ورته اُونخودلو او احتراز دِے ترے اُوکړو نو ګویا کښ تا د هغهٔ سره دوکه اُوکړه۔

(۳) او نقل شویدی چه مستهزئینو دپاره به د جنت نه یوه دروازه کولاوه شی، دوی به هغے طرف ته په منډه ورشي خو کله چه هغے ته اُورسی نو بنده به شی په دوی باندے نو دا مصداق ددے آیت دے چه (نن ورځ به ایمان والا د کافرانو پورے خندا کوی) او پدے ترتیب سره دا آیت هم واخله (سَخِرَ اللهُ مِنْهُمْ) (الله به دوی پورے مسخرے اُوکړی) د مسخرے نسبت الله تعالیٰ ته هم پدے وجو هو بنا دے۔

ابن عاشورؒ په التنویر کښ داسے تاویلات کوی :

[لِأَنَّ الْمُرَادَ هُنَا أَنَّهُ يَفْعَلُ بِهِمْ فِي الدُّنْيَا مَا يُسَمّٰى بِالْاِسْتِهْزَاءِ أَوْ جَزَاءَ اِسْتِهْزَائِهِمْ فَيَكُوْنُ مَجَازًا وَمُشَاكَلَةً، أَوْ مَآلُ الْاِسْتِهْزَاءِ مِنْ رُجُوْعِ الْوَبَالِ عَلَيْهِمْ]۔

(۱) – یعنی مراد د استهزاء نه پدے مقام کښ دا دے چه په دنیا کښ به دوی سره داسے کار اُوکړی چه هغے ته د توقو نوم ورکولے شی۔

(۲) یا جزاء او بدله د استهزاء مراد ده نو دا مجاز دے او مشاکلةً ورته استهزاء وئیلے شویده۔

(۳) یا دا چه عاقبت د استهزاء به دوی ته راواپس کیږی چه هغه وبال دے۔ بیا وائی چه دا جمهورو علماؤ مفسرینو قول دے ځکه چه د استهزاء نسبت الله تعالیٰ ته حقیقةً لائق ندے ځکه استهزاء خو قبیح فعل دے۔ او دغه شان تاویلات کشاف، بیضاوی، تفسیر کبیر او روح المعانی وغیره کړیدی۔

دوئ ته دا اشکال راپیښ شویدے چه استهزاء خو بد صفت دے نو الله تعالیٰ ئے څنګه

اُوکړی ، دغه شان خداع، مکر وغیره واخله۔

(۲) پدے کښې دویم قول د اهل السنة والجماعة المحضه د سلف صالحینو دے چه قرآن او حدیث کښې کله یو صفت د الله تعالیٰ دپاره ذکر شی نو هغه به منلے شی او په هغے کښې به تاویل نشی کیدے لیکن په بعض ځایونو کښې به د هغه صفت نه فعل مشتق کولے شی او په بعضے ځایونو کښې به فعل نهٔ مشتق کوے لکه الله تعالیٰ دپاره حیٰوة، او الحی استعمالیږی لیکن د ماضی صیغه (حَیِیَ) (ژوندے شویدے) او مضارع (یَحْیٰی) (ژوندے به شی) نهٔ استعمالیږی۔ نو دغه شان دلته فعل (یَسْتَهْزِءُ) استعمال دے او اسم فاعل (مُسْتَهْزِءِ) به الله تعالیٰ دپاره نهٔ استعمالیږی۔ دغه شان، خَادِع او مُخَادِع به نهٔ استعمالیږی۔ دارنګه (سَخِرَ الله منهم) استعمال دے او ساخر به نهٔ استعمالیږی۔

او دلته استهزاء د متشابهاتو نه ده، خو د الله تعالیٰ صفت دے، الله تعالیٰ توقے کوی څنګه چه د هغه د شان سره مناسب وی، او د الله تعالیٰ توقے کول د هغه کمال دے، دے کښې هیڅ نقصان نشته، ځکه که الله تعالیٰ په توقو قادر نهٔ شی نو دا خو یو کمزوری ده۔ نو بس الله تعالیٰ په توقو قادر دے او که دا بد صفت وے نو الله تعالیٰ به ئے ځان ته نسبت نهٔ کولے۔ ځکه الله تعالیٰ خو داسے هم وئیلے شو [اَللّٰهُ یُجَازِیْهِمْ بِالْاِسْتِهْزَاءِ] (الله تعالیٰ به بدله د توقو ورکړی) لیکن هغه ئے ونهٔ وئیل، معلومه شوه چه توقے کول د الله تعالیٰ صفت دے۔ چه د داسے قسم مجرمانو پورے ئے کوی۔ او ددے ظاهر نه خلاف تفسیر کول حرام دی۔ او الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې ځان ته نهٔ منسوب کوی مګر هغه شے چه هغه ادب او کمال وی۔ (فَلَا یُتْرَكُ ظَاهِرُ الْقُرْآنِ لِشَغَبِ الشَّاغِبِیْنَ)۔

بیا د الله تعالیٰ د توقو مثال او مصداق به څه وی ؟ نو ددے حقیقت خو الله تعالیٰ ته معلوم دے، لیکن ظاهری آثار ئے دا دی، په دنیا کښې توقے دا دی چه د مسلمانانو په ډله کښې به اُوسیږی او احکام د اسلام به پرے جاری کیږی او اجر به ورته نهٔ ملاویږی، سترې کیږی به او اجر به ورته نهٔ وی۔

او عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمائی : په آخرت کښې استهزاء دا ده : [یَسْلُكُ بِهِمْ طَرِیْقَ الْجَنَّةِ ثُمَّ یُدْخِلُهُمْ اِلٰی طَرِیْقِ النَّارِ] (اول به ئے د جنت په لار روان کړی او بیا به ئے راواپس کړی او د جهنم په لار به ئے روان کړی) دا غټ شرم دے۔

دارنګه په ظاهره کښې به ئې د مؤمنانو سره حساب کړي، او مينځ کښې د مسلمانانو په شان اجر بـه نهٔ ورکوي، دارنګه آخرت کښې به ټول مشرکان جهنم ته لاړ شي منافقان به پاتے وي، د مؤمنانوپه صف کښې به ولاړ وي، په دے مابين کښې به د سجدے امر اُوشي، دوي به محرومه شي د سجدے نه، سجده به نهٔ شي لګولے، ملا به ئې يو طَبَق شي، نو دا استهزاء شوله، دارنګه مؤمنان او منافقان ټول به روان شي ټولو سره به رڼړا وي، د منافقانو نه به ناڅاپي رڼړا مړهٔ شي او تياره کښې به پاتے شي، ددے نه غټه استهزاء بله کومه کيدے شي؟ الله تعالىٰ فرمائي : (ينادونهم الخ) يعني مؤمنان چه کله خپله رڼړا سره مخکښې روان شي او منافقان تياره کښې پاتے شي تِندکونه به خوري نو ايمان والو ته به آواز اُوکړي چه آيا مونږ تاسو سره دنيا کښې ملګري نهٔ وو ؟ هغوي به جواب ورکړي چه آؤ تاسو وئ ليکن تاسو ځان په نفاق کښې مبتلا کړے وو او تاسو زمونږ د هلاکت او تباهئ انتظار کولو، د زړهٔ نه زمونږ خيرخواه نهٔ وئ او تاسو شکيان وئ (الحديد / ١٤)

نو دا ډيرے زياتے استهزاګانے دي چه دوي پسے به په آخرت کښې کيږي او الله تعالىٰ سره قسماقسم استهزاء ګانے شته چه هغه به ورپسے کولے شي چه د هغے حقيقت به د قيامت په ورځ ښکاره کيږي۔ او په دے خبره چه بنده سوچ اُوکړي چه يو مشر انسان د چا پورے ټوقے اُوکړي نو بنده ډير شرميږي، وائي دومره عزت مند سړے وو او زهٔ ئے د خلقو په مخکښې اُوشرمولم، تباه ئے کړم، يو ماشوم چا پورے ټوقے اُوکړي، دومره خبره نهٔ وي، خو چه يو عالم بنده پورے ټوقے اُوکړي نو بنده ډير شرميږي نو چه بيا الله تعالىٰ د عرصات په ميدان کښې د چا پورے ټوقے اُوکړي نو ددے انسان په تباهي کښې بيا څه شك دے؟ ددهٔ به څه حال وي ؟۔

فائده عجيبه : د الله تعالىٰ د اسماء او صفاتو متعلق څلور اقسام دي (۱) بعض هغه دي چه صفت د کمال وي ليکن کله ترے نقصان هم پيدا کيږي۔ نو الله تعالىٰ ته به هغه نوم نشي کيخودلے اګرچه د الله تعالىٰ صفت پرے په بعض اوقاتو کښې کولے شي۔ لکه (متکلم، او مريد) دا دواړه د الله تعالىٰ اسماء نهٔ دي، ځکه کلام او اراده کله د خير وي او کله د شر وي، کله د ظلم وي او کله د عدل وي، نو مطلقاً به الله تعالىٰ ته دا نوم نشي کيخودلے۔ ليکن دا صحيح ده چه الله تعالىٰ دپاره په طريقه د صفت مطلقاً استعمال شي چه الله تعالىٰ متکلم (خبرے کونکے) دے او مريد (اراده کونکے) دے۔ يعني په

صورت د اخبار کښې ئې استعمال جائز دے۔

۲- دویم قسم : هغه چه سراسر کمال وی لکه الرحمن الرحیم الغفور السمیع البصیر، نو دا نومونه الله تعالیٰ دپاره مطلقاً استعمالولے شی۔ که صورت د اخبار وی او که انشاء وی۔ یعنی دعاء او اخبار دواړو کښې ئې استعمال جائز دے۔ ۳- دریم قسم : هغه چه مطلقاً کمال نۀ وی لیکن که مقید ذکر شی نو بیا کمال وی نو دا به مقید ذکر کولے شی۔ لکه خِداع، مکر، استهزاء، کَید۔ نو پدے کښې به داسے وئیل صحیح نۀ وی چه الله تعالیٰ ماکر دے، مُخَادِع، یا مُسْتَهْزِء او کَائِد دے، بلکه داسے به وئیلے شی چه (اَللّٰهُ تَعَالٰی مَاكِرٌ بِمَنْ يَّمْكُرُ بِهٖ وَبِرُسُلِهٖ) یعنی الله تعالیٰ مکر کونکے دے د هغه چا سره چه د الله تعالیٰ سره چل کوی یا د هغه د رسولانو سره۔ ٤- څلورم قسم : هغه چه مطلقاً نقصان او عیب وی لکه، الضعیف، الاعور، العاجز وغیره نو دا به د الله تعالیٰ دپاره هیڅکله نشی استعمالولے۔ نۀ اسماً او نۀ صفةً۔ [انظر تفسیر العثیمین]

فائده : یستهزء ئې جمله فعلیه راوړه اشاره ده دوام تجددی ته یعنی دوی پورے به وخت په وخت نوے نوے توقے کوی، ځکه چه یوه توقه اُوګده شی نو دومره اثر نۀ کوی او کله چه بار بار راواپس کیږی نو بنده دے سره په شرم کښې ډیر مبتلا کیږی۔

(وَيَمُدُّهُمْ)

مَد لفظ په قرآن کریم کښې په دوه معنو استعمال دے (۱) بمعنی الزیادة۔ لکه د مجاهدؒ نه ابن کثیرؒ نقل کړیدی (اَیْ يَزِيْدُهُمْ) (زیاتوی الله تعالیٰ دوی لره) یعنی په سرکشئ کښې ورله زیاتوالے پیدا کوی، پدے طریقه دوی ته مهلت ورکوی چه دیته املاء او استدراج وئیلے شی۔ (۲) دویم : په معنیٰ د امهال (مهلت) دے۔ یعنی زمانه د ګمراهی زیاتول۔

او دا ماده په قرآن کریم کښې درے (۳) کرته راغلے ده۔ اصل معنیٰ ئې زیادة ده، او مَدٌّ (مجرّد) غالباً په شر کښې استعمالیږی، او مزید (اِمداد) په خیر کښې استعمالیږی۔

دلته ئې د زیادت معنیٰ غوره ده۔ او په سورة مریم (۷۹) کښې همدا معنیٰ ده (وَنَمُدُّ لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا) او معتزله دویمه معنیٰ غوره کوی، ځکه وائی چه نسبة د قبائحو الله تعالیٰ ته جائز نۀ دے، او سرکشی زیاتول خو قبیح کار دے، لیکن مخکښې تیر شو، چه یو خَلق د قبائحو دے، دا کمال دے، او بل فعل (کول) او کسب د قبائحو دے، نو دا قبیح

دی۔ نو الله تعالیٰ خالق د شر دے، خو فاعل د شر نهٔ دے۔

فِیْ طُغْیَانِهِمْ : طغیان ماده په قرآن کریم کښې (٤٩) کرته راغلے ده۔

طغیان دوه قسمه دے (۱) لغوی معنیٰ : (اَلزِّیَادَةُ فِی الْقَدْرِ وَالْمَرْتَبَةِ) دا لغوی معنیٰ په دوه مقاماتو کښې راغلے ده

۱- سورة الحاقة (اِنَّا لَمَّا طَغَا الْمَآءُ) (آية:۱۱)

۲- او سورة النجم (۱۷) (مَازَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى)۔

باقی (٤٧) مقاماتو کښې شرعی معنیٰ مراد ده، چه هغے ته سرکشی وائی یعنی د حدودو شرعیه ؤ نه په عقیده یا په عمل کښې او په مقدار یا کیفیت یا وخت کښې تجاوز کول دی۔ او دا معنیٰ کفر، شرك، نفاق، بدعت او فسق وفجور ټولو ته شامل ده۔

او دے معنیٰ ته علامه آلوسیؒ اشاره کړیده۔ [وَمَنْ اَخَلَّ بِمَا عُیِّنَ مِنَ الْمَوَاقِفِ الشَّرْعِیَّةِ وَالْمَعَارِفِ الْعَقْلِیَّةِ فَلَمْ یَرْعَهَا فَقَدْ طَغٰى] [روح المعانی ۱/۱٦۹] یعنی څوك چه د شرعی حدودو او د عقلی معلوماتو لحاظ اُونهٔ ساتی نو ده تجاوز اُوکړو)

د طغیان بعض مصداقات دا دی : ۱- [اَلْاِعْرَاضُ عَنْ طَاعَةِ اللّٰهِ یا اَلزِّیَادَةُ فِی الْمَعْصِیَةِ]۔

(د الله تعالیٰ د طاعت نه اعراض کول) ۲- او په گناه کښې زیاتوالے پیدا کول۔

نیشاپوریؒ وائی : [اَلطُّغْیَانُ : اَلْغُلُوُّ فِی الْکُفْرِ، وَمُجَاوَزَةُ الْحَدِّ فِی الْعُتُوِّ]

(تفسیر النیسابوری ۱/۱۰۷)

(کفر کښې غلو او زیادت کول او په سرکشئ کښې د حد نه تیروتل) او طغیان دا دے چه د انسان د بد بختئ او بد عملئ د وجه نه هغه ته د شر اسباب برابر او آسان شی۔

بعض معنیٰ کوی :[فَیَدَعُهُمْ یَخْبِطُوْنَ عَلٰى غَیْرِ هُدًى فِیْ طَرِیْقٍ لَایَعْرِفُوْنَ غَایَتَهٗ] (فی ظلال القرآن ۱/۱٦) (یعنی دوی به پریدی چه بغیر د هدایت نه به په لاره کښې گډوډ روان وی چه ددے لارے آخر سر به نهٔ پیژنی) چه کوم خوا لاړ شی۔

فائده : په یَمُدُّهُمْ، طُغْیَانِهِمْ کښې ضمیرونه ئے دوی ته راجع کړل، پدے کښې اشاره ده چه ددے سرکشئ ډیرولو اسباب دوی اختیار کړی دی۔

(**یَعْمَهُوْنَ**) عَمَهٔ د زړه پهړندوالی او د رائے په خطاء والی کښې استعمالیږی او عمی د سترګو په ړندوالی کښې استعمالیږی خو کله کله استعارةً د زړه په ړندوالی کښې هم استعمالیږی لکه آیت دے :

﴿ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ ﴾ (الحج:٤٦)۔
عَـمَـهَ لـفـظ په قرآن کریم کښې (۷) کرته راغلے دے۔ او قوت د لفظ عمه دلالت کوی په قوت د معنیٰ باندے ۔ ځکه هاء د حروف حلقي نه ده، ژور والے پکښې دے۔
د يَعْمَهُونَ معنیٰ ده : [يَتَرَدَّدُونَ فِي الضَّلَالَةِ مُتَحَيِّرِينَ] (خازن)
(په ګمراهئ کښې به پریشانه او حیران وی) چل به نۀ ورځی چه مونږ کوم خوا لاړ شو، او ددے کفر نه څنګه اُوځو۔ او دا هم د منافقانو سره د الله تعالیٰ استهزاء ده چه هغوی ته ډهیل ورکوی او په کفر او فجور کښې ئے مخ په ترقئ بوزی، په داسے حال کښې پریشان به وی۔ د الله تـعالیٰ په صحیح دین کښې راحت او اطمینان دے او په منافقت او کفر او غلطو عملونو کښې پریشانی ده۔
۲- ابن قُتَيبَة وائی : [يُكِبُّونَ عَلَى رُؤُوسِهِمْ فَلَا يُبْصِرُونَ]۔ (سرکوزی به وی، هيڅ حق بـه نۀ وينی)۔ ۳- (يَتَمَادَوْنَ فِي كُفْرِهِمْ- ابن جرير) ، (په خپـل كفر كښې به هميشه پاتے وی) الله به دوی ته هدایت نۀ کوی او د خپلے ګمراهئ نه به ئے نۀ راړوی۔ ځکه چه دوی د حق او اهل حقو پورے توقے کړیدی۔
٤- [يَتَرَدَّدُونَ وَيَتَحَيَّرُونَ بَيْنَ الْإِظْهَارِ وَالْإِخْفَاءِ أَوْ بَيْنَ الْبَقَاءِ عَلَى الْكُفْرِ وَتَرْكِهِ إِلَى الْإِيْمَانِ] (الوسيط ١ /٣٠) (يعنی دوی به شکيان او حيران وی چه منافقت ښکاره کړو او که پټ، يا په کفر باقی پاتے شو او که ايمان ته راشو)۔
٥- بعض علماء داسے معنیٰ کوی : [اَللّٰهُ يَسْتَهْزِءُ بِهِمْ بِمَا يُظْهِرُ لَهُمْ مِنْ صُوَرِ الْكَرَامَاتِ وَالْإِسْتِدْرَاجَاتِ وَيَمُدُّهُمْ فِي تَعَاطِي الْعَوَائِدِ وَالشَّهَوَاتِ وَطَلَبِ الْعُلُوِّ وَالرِّئَاسَاتِ، مُتَحَيِّرِينَ فِي مَهَامِهِ الْخَوَاطِرِ وَالْغَفَلَاتِ] (البحر المديد١ /٢٤)
(يعنی الله تعالیٰ به دوی پورے داسے توقی کوی چه دوی ته به د کرامتونو (عزتونو) او استدراجاتو شکلونه ښکاره کوی او د فائدو او شهواتو حاصلول، او اُوچتے مرتبے او رياستونه طلب کول به ورله زياتوی، چه د فکرونو او غفلتونو په بيابانو کښې به حيران وی) الله تعالیٰ او خپلے کامیابئ ته به ئے نۀ فکر کيږی۔ او په خپلو خواهشاتو او دنياوی مرتبو او فائدو حاصلولو به خوشحاله وی او دا به مانع وی د هغوی د حق قبلولو او صحیح ايمان راوړو نه۔
فائده : قرآن کریم کښې غالباً الله تعالیٰ عقوباتِ دينيه ډير بيانوی ځکه دا سخت

عذاب دے لکه (اَنۡ تَحۡبَطَ اَعۡمَالُکُمۡ) (حجرات) (وَنَطۡبَعُ عَلٰی قُلُوۡبِهِمۡ) (اعراف) (وَنُقَلِّبُ اَفۡـِٕدَتَهُمۡ وَاَبۡصَارَهُمۡ) (انعام) (کَذٰلِكَ یَطۡبَعُ اللّٰهُ عَلٰی کُلِّ قَلۡبِ مُتَکَبِّرٍ جَبَّارٍ) (المؤمن) (قُلۡ اِنَّ اللّٰهَ یُضِلُّ مَنۡ یَّشَآءُ) (فاطر) (کَذٰلِكَ حَقَّتۡ کَلِمَةُ رَبِّكَ عَلَی الَّذِیۡنَ فَسَقُوۡۤا اَنَّهُمۡ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ) (یونس) ۔او ددے په شان نور امثال ډیر دی۔

اُولٰٓئِكَ الَّذِیۡنَ اشۡتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالۡهُدٰی
دغه صفتونو والا هغه کسان دی چه اغستی ئے ده گمراهی په مقابله د هدایت کښے
فَمَا رَبِحَتۡ تِّجَارَتُهُمۡ وَمَا کَانُوۡا مُهۡتَدِیۡنَ ﴿۱۶﴾
پس گټه ونکړه تجارت د دوی او نهٔ دی دوی په سمه لار۔

تفسیر : پدے آیت کښې دوه صفات نور بیانوی چه هغهٔ نتیجه د مخکنو صفاتو ده چه اِشۡتِرَاءُ الضلالة (گمراهی اخستل) او عدم اهتداء (په سمه لار نهٔ روانیدل)۔ یعنی [اَلۡمُنَافِقُ ضَالٌّ غَیۡرُ مُهۡتَدٍ] (منافق گمراه دے او هدایت والا نهٔ دے)۔

او پدے کښې د هغوی د بد عقیدګئ او بد کردار مزید وضاحت کوی چه د دوی په گمراهئ کښې د پاتے کیدو مینه دومره زیاته شویده لکه څوك چه د یو نفیس (قیمتی) سامان حاصلولو دپاره خپل قیمتی مال خرچ کوی نو دوی هم د الله تعالیٰ د طرف نه رالیږلے شوے هدایت ورکړو او گمراهی ئے پرے قبوله کړه، ډیر خراب تجارت ئے اُوکړو او ډیر بد شے ئے واخستو او ډیر قیمتی څیز ئے ضائع کړو !!۔ په تجارت کښې د گټے په ځائے ئے تاوان اُوکړو۔

اشتراء وئیلے شی [بَذۡلُ الثَّمَنِ وَاَخۡذُ الۡمَبِیۡعِ] (پیسے ورکول او سامان اخستل)

(۲) کله په معنیٰ د بیع (خرڅولو) هم استعمالیږی۔لکه بقره (۹۰) آیت کښې راځی۔ (بِئۡسَمَا اشۡتَرَوۡا بِهٖۤ اَنۡفُسَهُمۡ)۔

دلته خو دا لغوی معنیٰ نشی مراد کیدے بلکه ددے سره لازم شے مراد دے او هغه دا چه څوك یو شے اخلی نو هغه ورته غوره او ښه ښکاری۔ نو دوی ته هم کفر ښهٔ ښکاری او پدے وجه ترے تعبیر په اشتراء هم اُوشو۔ نو دلته ئے معنیٰ د [اِخۡتَارُوۡا وَاسۡتَحَبُّوۡا

وَاسْتَبْدَلُوا] ده۔ (يعنى دوى غوره کړو او بنه ئې اُوګنړو او بدل ئې کړو)
دلته د هدى او ضلالة نه ظاهرى معنىٰ د هدايت او ګمراهى ده يعنى دوى په معنوى نيغه لاره نۀ دى روان بلکه ددې لارې نه ګمراه شويدى۔

د ګمراهئ اخستلو مطلبونه

مفسرين ددې نور مصداقات داسې ذکر کوى۔
قتاده رحمه الله فرمائى : (۱) [اِنْتَقَلُوْا مِنَ الْهُدٰى اِلَى الضَّلَالَةِ (۲) وَمِنَ الطَّاعَةِ اِلَى الْمَعْصِيَةِ (۳) وَمِنَ الْجَمَاعَةِ اِلَى الْفُرْقَةِ (٤) وَمِنَ الْاَمْنِ اِلَى الْخَوْفِ (٥) وَمِنَ السُّنَّةِ اِلَى الْبِدْعَةِ]

[فتح القدير ۱/۷۲) وابن كثير وابن جرير، واللباب وتفسير الرازى۱/٣٤٤]

يعنى دوى د هدايت نه ګمراهئ ته نقل شو او د طاعت نه معصيت (ګناه او مخالفت) ته او د جماعة د مسلمانانو نه فرقة او جداوالى ته او د امن نه خوف ته او د سنة نه بدعت ته نقل شو) دا ټول مصداقات صحيح کيدې شى۔
سوال : منافقانو سره خو د مخکښ نه ايمان او هداية نۀ وو نو څنګه ئې هغه ورکړو او ګمراهى ئې واخسته۔ دا خو به هله صحيح وې چه دوى سره اول هدايت موجود وې بيا ئې پرې ګمراهى اخستې وې ؟
جواب : (۱) دوى سره هدايتِ فطرى موجود وو، څکه حديث دې [كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ] (متفق عليه) (هر بچې په فطرت اسلامى پيدا کيږى) نو کله چه رسول الله ﷺ مدينې ته راغلو نو دوى هغه فطرت پريخودو او کفر ئې اختيار کړو۔
(۲) جواب : دلته هدايت ورکول او ضلالة اخستل کنايه ده د تمکن الهُدىٰ نه
[يعنى كَانُوْا مُتَمَكِّنِيْنَ مِنَ الْهُدٰى فَلَمَّا تَرَكُوْهُ فَكَاَنَّهُمُ اسْتَبْدَلُوا الضَّلَالَةَ بِالْهُدٰى]
يعنى دا خلك قادر وو په هدايت حاصلولو باندې څکه چه نبى ﷺ دوى نه مزدورى نۀ اخسته، د هغه په زړه هم پوهيدل، عقل هم ورسره وو۔ نو دوى سره هدايت موجود وو نو دوى هغه پريخودلو نو ګويا کښې داسې شو لکه چه دوى ګمراهى د هدايت په مقابل کښې واخسته۔
(۳) دريمه وجه ظاهره دا هم ده چه منافقان اول نه کافر نۀ دى بلکه اول نه دوى ايمان راوړې وو، لږ شان رڼا ئې حاصله کړې وه لکه (مَثَلُهُمْ) کښې به راشى۔ نو ددې رڼا لحاظ

ئے اُونکړو نو هغه ترے مړه شوه نو دوی دغه زوړ هدایت پریخودو او ګمراهی ئے واخسته۔

فَمَا رَبِحَتْ : دوی وائی ګنے مونږ ډیر ښهٔ تاجران یو، هوښیار یو، دنیا هم اُوګټله او مؤمنانو سره هم ملګری شو، نهٔ! ګټه ئے اُونکړه، دنیا کښې به هم ذلیله شی۔ او دا بعینهٖ په دے زمانه کښې د مسلمانانو غلط حکمرانان دی چه د امریکے نه تاوېږی، هغوی ورله څه فائدے هم نهٔ ورکوی او آخرت ئے هم خراب شو، دا د منافقانو حال دے چه دنیا او آخرت دواړه ئے خرابیږی۔

فَمَا رَبِحَتْ : دیته بعض خلق اسناد مجازی وائی، ځکه ګټه خو تجارت نهٔ کوی بلکه تاجران ئے کوی۔ لیکن تاجران په تجارت ګټه کوی نو پدے وجه تجارت ته ئے نسبت هم حقیقةً دے۔

تجارت په قرآن کریم کښې درے قسمه دے (۱) تجارت دنیوی لکه سورة النساء (۲۹) اِلَّا أَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ)

(۲) تجارت اُخروی لکه (هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ) (الصف : ۱۰)

یا (يَرْجُوْنَ تِجَارَةً لَنْ تَبُوْرَ) (فاطر :۲۹)

۳- تجارت مجازی چه هغه هدایت خرڅول او ګمراهی پرے اخستل دی او هغه دے آیت کښې ذکر دی۔

(وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ) هر کله ئے چه د هغوی په تجارت کښې تاوان ذکر کړو نو دلته اُوس دے خبرے ته اشاره کوی چه دا بد نصیبه خلق د تجارت د اصولو نه هم واقف نهٔ وو، دوی ته دا پته نهٔ وه چه تجارت څنګه کیږی؟ یعنی د منافقانو نه دا صلاحیت سلب (اخستے) شویدے چه هغوی نفع او نقصان، خیر او شر، رڼا او تیاره، هدایت او ګمراهئ کښې تمییز اُوکړی۔

حکمة : هدایة ئے دوباره ذکر کړو سره ددے نه چه د ماقبل نه معلوم شو چه دوی هدایة خرڅ کړو۔ نو ددے (۱) یو حکمة دا دے چه دا مبالغه ده په عدم هدایة کښې، [یعنی وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ اِلٰى طُرُقِ التِّجَارَةِ فَضْلًا عَنِ الْهِدَايَةِ الْحَقِيْقِيَّةِ] (یعنی دوی لارے د تجارت نهٔ پیژنی نو حقیقی هدایت به څه اُوپیژنی او هغے ته به څنګه اُورسیږی)

(۲) دویم دا چه پدے کښې اشاره ده [لِزَوَالِ اسْتِعْدَادِهِمْ وَتَكْدِيْرِ قُلُوْبِهِمْ بِالرَّيْنِ] (چه د دوی

استعداد زائل شویدے او زړونه ئے په رین (د ګناهونو په زنګ) باندے خړ شویدی چه
اُوس هدایت ته نۀ راځی)
(۳) دارنګه دا ئے جدا ذکر کړو پدے کښ اشاره ده چه منافقانو ګټه هم اُونکړه او رأس
المال ئے هم روغ رانۀ وړو بلکه هغه ئے هم د لاس نه ورکړو۔ نو وَمَاكَانُوْا مُهْتَدِيْنَ کښ
رأس المال ضائع کیدو ته اشاره ده۔ ځکه د تاجر دوه مقصده وی یوه ګټه او بل سلامتیا
د رأس المال۔ او د دوی نه دواړه مقاصد فوت شو۔
دے ځائے پورے تقریباً شپاړس صفتونه د منافقانو بیان شو۔

مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِى اسْتَوْقَدَ نَارًا، فَلَمَّا
حال ددے (منافقانو) په شان د حال د هغه چا دے چه بَل کړے ئے وی اُور، پس هر کله
اَضَآءَتْ مَاحَوْلَهٗ ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ
چه رنړا کړی (دا اُور) هغه څه چه چاپیره وی ددۀ نه، نو بوځی الله تعالیٰ رنړا د دوئ
وَتَرَكَهُمْ فِىْ ظُلُمٰتٍ لَّا يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷﴾
او پریدی دوی لره په تیارو کښے چه هیڅ نۀ وینی۔

تفسير :
فوائد الآيات : ۱- الله تعالیٰ په قرآن کریم کښ او ددے نه مخکښ په آسمانی کتابونو کښ د مثالونو په ذریعه ډیر حقائق واضح کړیدی، رسول الله ﷺ او نور انبیاء علیهم السلام او د حکمائے عالَم په کلام کښ هم ډیر مثالونه موجود دی، ځکه چه د مثال په ذریعه پټے معانی ښکاره کیږی او مخے ته راځی، د ډیرو پټو حقائقو نه پرده پورته کیږی او د غائب نه حاضر جوړیږی او دشمن پرے انسان ته ښکاره کیږی۔
او مثال په کلام کښ د عجز د وجه نه نۀ راوړل کیږی بلکه دا د مخاطب د پوهے دپاره وی او دا زینت د کلام وی۔ په عربی ژبه او په هره ژبه کښ مثال بیانولے شی دا د عقلاؤ طریقه ده۔

الله تعالىٰ فرمائی : [وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ] (العنکبوت/٤٣) دا مثالونه مونږ د خلقو د پوهه کولو دپاره بیان کړیدي او پدے باندے علم والا پوهیږي)

٢- قرآن کریم کښې الله تعالىٰ (٤٥) امثله ذکر کړیدي، بلکه (٥٢) ته رسیږي لکه الموسوعة القرآنية لشيخنا الرستميؒ. او حافظ ابن القيم رحمه الله پدے باندے کتاب الامثال لیکلے دے. صرف په سورة البقره کښې (١٥) مثاله ذکر دي.

٣- ددے ځائے نه روستو دوه مثالونه راوړي، دے دپاره چه د منافقانو حال ښۀ واضحه شي. بیا دا یو مثال ناري (اُور والا) دے او د ویم مثال مائي (اُوبو والا) دے او دا په قرآن کریم کښې په ډیرو سورتونو کښې بیانیږي لکه سورة رعد (١٧) کښې هم مثال مائي (أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَسَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا) سره او مثال ناري (وَمِمَّا يُوقِدُونَ عَلَيْهَا فِي النَّارِ) سره بیان شویدے، دلته هم بیان شوے دے، نورو ځایونو کښې هم ورته الله تعالىٰ اشاره کړیده. لکه سورة النور کښې (اَللّٰهُ نُورُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ) . او (أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ) الخ . بیا دا دوه مثالونه د اُور او د اُوبو ولے بیانوي ؟ نو حکمة دا دے چه اُوبو سره حیات (ژوند) راځي او اُور سره رنړا راځي.او حیات او نور دواړه د کامیابئ او کمال اسباب دي، کله چه الله سړي له حیٰوة ورکړي او نُور ورله ورکړي نو زړه ئے ژوندے وي، او رنړا پکښې وي نو بس دا کامیاب شو لکه آیت : [اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا]. (انعام :١٢٢) کښې ورته اشاره ده نو اے مومنه! که ته ژوند غواړے نو پدے دوه مثالونو ځان ژوندے کړه، منافق خو مړ شوے دے، تلے دے، خو ته پرے ځان ژوندے کړه، ددے مثالونو ډیر اسرار او فوائد دي چه په اُوګدو تفسیرونو کښې ئے کتلے شئ.

لیکن بعض دلته بیانولے شي تبصرةً لاولي الالباب. ١- دلته ئے د حیاة او نور مثالونه راوړیدي. د حیات مطلب دا دے چه زړه کښې الله تعالىٰ ته د رسیدلو طلب پیدا شي او چه نور د وحي ورسره شي نو رسیدل آسان شي چه یو نۀ وي بیا رسیدل نشي کیدلے. مثال د حیاة او نور دا دے لکه موټر شو، یو د موټر سټارټ کول دي دویم د هغے بیټري بلول دي که سټارټ نشي نو ګاړے چلیږي نۀ، هسے به ولاړ وي، فائده به نکوي او که روان شي لیکن بیټري پکښې نۀ وي نو بیا د شپے د غورزیدلو او د اکسیډنټ غالب احتمال دے دارنګه د چا زړه کښې چه حیات نۀ وي نو هغه ولاړ ګاړے دے او چه د وحي

(قرآن او سنت) رنړا ورسره نهٔ وی نو که ګاړے روان هم شی، تباه کیدو والا دے۔ [مَا ازْدَادَ الْمُبْتَدِعُ اجْتِهَادًا اِلَّا ازْدَادَ مِنَ اللّٰهِ بُعْدًا]۔ (بدعتی چه څومره کوشش زیات کوی هغومره د الله تعالیٰ نه زیات وراندے کیږی)۔ ځکه چه نُور ورسره نشته۔

فوائد الامثلة : قرآن کریم کښې ددے فائده دا ذکر ده ۱ – اَلتَّذَكُّرُ : (عبرت اخستل) (وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ) (ابراهیم : ۲۵) (چه خلق ترے عبرت واخلی)

(۲) اَلتَّفَكُّرُ (فکر کول) لکه (وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ) (الحشر : ۲۱)

۳– (تَقْرِيْبُ الْمَعْقُوْلِ اِلَى الْمَحْسُوْسِ) (معقولات رانزدے کول محسوساتو ته)

٤– (اَلْعَالِمُ بِاَمْثَالِ الْقُرْاٰنِ هُوَ الْعَالِمُ) (په قرآنی امثالو چه څوك پوهه شی نو همدغه حقیقی عالِم دے) (وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ وَمَا يَعْقِلُهَا اِلَّا الْعَالِمُوْنَ) (العنکبوت : ٤۳)

د عمرو بن مره رحمه الله نه نقل دی چه زهٔ د قرآن کریم په مثال ورتیرشم او پرے پوهه نشم نو ډیر خفه یم۔ چه زهٔ د علماؤ د درجے نه خکته پریوتم۔ (ابن کثیر والقاسمی فی عنکبوت)

د مثال په مصداق کښې اختلاف

۱– بعض علماء فرمائی : دا اول مثال د منافقانو دے، او دویم د کافرو دے۔ ځکه مخکښې دوه ډلے تیرے شویدی، منافقان او کافران۔ لیکن دا قول غوره نهٔ دے، ځکه چه مثال د هغه چا بیانیږی چه د هغوی حالت واضح نهٔ وی او د کافرانو حالت واضح دے۔ او منافقان خو په ظاهره کښې د ایمان والو په شان دی نو مثال بیانولو ته محتاج دی۔

۲– قول ثانی : صحیح خبره دا ده (چه ابن کثیرؒ او ابن جریرؒ غوره کړیده) چه اول مثال هم د منافقانو دے، دا دویم هم د هغوی دے، نو روستو راغی اَوْ كَصَيِّبٍ کښې (اَوْ) د تخییر (اختیار) دپاره دے، ستا خوښه ده چه هریو مثال ورله بیانوے،

۳– دے کښې داسے هم وئیلے شی چه دواړه مثالونه د منافقانو دی خو اول مثال ئے د حیرانتیا دے او دویم مثال ئے د خوف دے یا آسان تعبیر داسے دے چه اول مثال د ضلالة د دوی دے او دویم مثال ئے دے امنئ او خوف دے، هروخت کښې خوف کښې دی۔ هدایة ئے ترے واخستو ګمراهی ئے ورکړه او امن ئے ترے واخستو خوف ئے ورکړو۔ په خلاف د ایمان والو :

(اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُهْتَدُوْنَ) (انعام : ۸۲)

(۳) – دریم قول : منافقان دوه قسمه دی یو مثال د یو قسم دے چه ایمان راوړی او بیرته کافر شی او بل مثال د بل قسم دے چه ایمان راوړی او اُوس هم د ایمان والو په ډله کښې اُوسیږی۔ د ایمان والو سره په یره یره اُوسیږی (کَصَيِّبٍ مِنَ السَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمَاتٌ وَرَعْدٌ)۔

ظاهره دا ده چه منافقان ټول یو قسم وو، څه پکښې اعلیٰ وو او څه پکښې ادنیٰ وو، الله تعالیٰ دوه مثالونه راوړیدی، دا ولے؟ د زیادت وضاحت دپاره چه که ښه ځان پوهه کوے نو مثال ئے اُوګوره۔ او منافقانو دوه صفتوه رابنکاره کړل یو بے نوری او دویم خوف من قراءة القرآن ونزوله۔ صاحب د تدبر قرآن وئیلی دی چه دا مثالونه د یهودو دی نو دا ډیره بعیده خبره ئے کړیده ځکه چه دا مثالونه د هغوی سره نۀ لګیږی۔

توضیح اللغات

مَثَلُهُمْ : مثل ماده په قرآن کریم کښې (۱٦۳) کرته استعمال ده په مختلفو معنو باندے لکه : ۱– په معنیٰ د وصف سره لکه سورة النحل (۶۰) آیت کښې دی : (وَلِلّٰهِ الْمَثَلُ الْأَعْلٰى)

۲– په معنیٰ د وعظ سره لکه (وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا) (کهف : ٥٤)

۳– په معنیٰ د حالت انسانی سره لکه پدے مقام کښې۔ او روستو بقره (۲۱٤) (وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ) (أَیْ حَالَتُهُمْ)۔

٤– قاسمیؒ هم لیکلی دی : مثل په معنیٰ د اَلْوَصْفُ وَالْحَالَةُ الْعَجِيْبَةُ وَ الْقِصَّه سره دے۔

٥– هر قسم بیان لکه (وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هٰذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ) (الزمر: ۲۷)۔

دلته په معنیٰ د حالت او وصف هم دے او خپله معنیٰ د مثال ئے هم کولے شی نو معنیٰ به دا وی : (مَثَلُهُمْ فِي نِفَاقِهِمْ) (یعنی د دوی مثال په منافقت کښې دا دے الخ) او یا حال د دوی په شان د حال د هغه سړی دے۔

كَمَثَلِ : ۱– مثل لفظ زائد دے۔ په معنیٰ د کالذی دے۔ ۲– صحیح دا ده چه کاف په معنیٰ د مثل دے او مثل په معنیٰ د حالت دے۔

الَّذِیْ : پدے کښې دوه قوله دی : (۱) الذی مفرد دے او همدا غوره دے۔ ځکه چه دلته د منافقانو مثال د یو سړی سره ورکوی۔ (۲) یا دا مفرد په معنیٰ د جمع دے لکه په سورة التوبة (٦۹) آیت کښې دا استعمال دے (وَخُضْتُمْ كَالَّذِیْ خَاضُوْا)۔

تطبیق المثال : ددے مثال په تطبیق کښې دوه طریقے دی :

(۱) زمونږ بعض مشائخ فرمائی : چه دا مثال د رسول الله ﷺ او د منافقانو دے او په آیت کښې اندماج دے۔ (یعنی بعض عبارت حذف دے او ظاهری الفاظ پرے دلیل وی) او اصل کښې داسے دے : [مَثَلُكَ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِينَ كَالَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا وَهُنَاكَ رِجَالٌ قَاعِدُونَ]
(یعنی ستا او د منافقانو مثال په شان د هغه سړی دے چه هغه اُور بل کړی او هلته څه کسان ناست وی، نو د هغه اُورنه ګیر چاپیره رڼړا شی بیا دا اُور مړ شی۔ نو دغه ناست خلق په ډیره تیاره کښې پاتے شی ځکه چه مخکښې نه تیاره وی نو انسان ته دومره تکلیف نهٔ وی او چه رڼړا راشی او بیا واخستے شی نو انسان ته ډیر تکلیف وی۔نو نبی ﷺ راغلو دین ئے بیان کړو، منافقان موجود وو، مخکښې نه کافر وو، د نبی ﷺ د رڼړا نه ئے فائده واخسته ظاهره کښې ئے ایمان راوړو او د اسلام نه ئے فائدے واخستے او د اسلام د خیر نه خبر شو، نو دا اُور مړ شو دوی د الله تعالیٰ د رسول نه نوره فائده وانخسته، او صحیح ایمان ئے پرے رانهٔ وړو نو نبی ﷺ ترے الله تعالیٰ بوتلو۔ نو په سختو تیارو کښې پاتے شو چه هیڅ نهٔ وینی۔ نو دوی له پکار وو چه ددے رڼړا غم ئے کړے وے او لرګی ئے ورته ایخی وے۔ نو د نبی ﷺ نه ئے پوره استفاده اُونکړه۔ دا طریقه د مثال لګولو ضعیفه ده (۱) ځکه ډیر حذفونه پکښے دی (۲) دویم دا چه د رسول الله ﷺ د مرګ نه بعد هم دین خو باقی دے د هغه په وفات سره د دین رڼړا ختمه نده۔
(۲) بنهٔ طریقه د تطبیق دا ده چه قرآن په ظاهر پریخودل پکار وی، تقدیر د عبارت ته حاجت نشته۔ نو دا بعینه د منافقانو مثال دے او منافقانو خپله اُور بل کړیدے۔ یعنی منافقانو اُور بل کړو (إِسْتَوْقَدَ نَارًا بِأَنْ آمَنُوا) (چه منافقانو ایمان راوړو) نو دے ایمان ورله لږه شان فائده ورکړه، (مَاحَوْلَه) کښې دے ته اشاره ده چه رڼړا ډیره نهٔ وه، نو دوی په ایمان راوړو کښې د دنیا معمولی فائدو ته کتلے، او هغه ئے واخستے، نو پکار دا وه چه ددے رڼړا اتمام ئے کړے وے او دا اُور ئے پرے زیات کړے وے خو دوی ددے اُور د مړ کیدو غم نهٔ کولو نو دا د الله تعالیٰ طریقه ده چه کله څوك اُور ته خشاك نهٔ اچوی نو هغه ترے مری، نو الله تعالیٰ د دوی نه د دغه اُور رڼړا واخسته، او په تیارو کښې پاتے شو۔ نو دغه شان د ایمان دپاره هم ماده پکار ده چه هغه (اَلْعِلْمُ النَّافِعُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحِ) دے یعنی (علم او صحیح عقیده او فائده منے خبرے زده کول او نیك عمل ورسره کول) نو هله به ډے ایمان محفوظ وی، نو څوك چه دا ماده نهٔ طلب کوی او هسے د خولے ایمان راوړی نو دا ایمان د

انسان نه ځي۔ نو دوی سستی اُوکړه، د ایمان غم ئې نهٔ کولو، د هغې د صفائی او زیاتوالی کوشش ئې نهٔ کولو نو ایمان ترې واخستې شو۔ او دا قانون دے چه د نعمت قدر څوك نهٔ کوی نو الله تعالیٰ ترې بیرته اخلی۔

او صم بکم عمی تتمه ددے مثال ده۔ دیته تشبیه بلیغ وائی۔ چه حرف تشبیه او مشبه ئې حذف کړیده یعنی [هُمْ كَالصُّمِّ هُمْ كَالْبُكْمِ ، هُمْ كَالْعُمْيِ]

(یعنی هرکله چه دوی په سختو تیارو د کفر کښې پاتې شو نو دوی بعینهٖ کاڼړه او ګونګیان او ړانده پاتې شو۔ چه ددے اندامونو نه ئې هیڅ فائده نشوه اخستې۔

ددے مثال **تفصیلی تطبیق** داسې دے۔ چه ددے منافقانو مثال داسې دے چه یو ځائې کښې یو ځنګل کښې تیاره ده او دهٔ ته د رڼړا سخت ضرورت دے، ددهٔ سره هیڅ ذریعه نشته چه اُور اُولګوی او د هغې نه رڼړا حاصله کړی نو پدے کښې دهٔ د بل چا نه شونټې واخستې او ځانله ئې اُور بل کړو، کله چه ددهٔ نه ګیر چاپیره ماحول او علاقه رڼړا شوه نو دهٔ پکښې څیزونه اُولیدل، هغهٔ ځائې هم اُولیدو چرته چه دے ولاړ وو، د هغهٔ ځائې خطرات او بیا د امن او امان اسباب ئې اُولیدل، د هغهٔ اُور نه ئې فائده واخسته، ددهٔ سترګې یخې شوې او ددهٔ دا خیال وو چه دا اُور او دا رڼړا به ددهٔ په اختیار کښې وی، نو ناڅاپه (اچانك) الله تعالیٰ د هغهٔ اُور مړ کړو، د هغهٔ رڼړا ئې واخسته، د هغهٔ خوشحالی ختمهٔ شوه او سختو تیارو کښې پاتې شو، د اُور سوزش پاتې شو او رڼړا ئې لاړه نو دا د هر طرف نه په تیارو کښې راګیر شو، د شپې تیارهٔ، د وریځې تیارهٔ ، د باران تیارهٔ او د رڼړا د تلو نه بعد تیارهٔ نو سوچ اُوکړه د داسې انسان به څه حال وی؟

دغه شان حال د منافقانو د مدینې هم وو چه هغوی په جهالت او کفر کښې پراته وو، دوی له ایمان راغې، نور ورله راغې، قرآن او سنت راغلل، نو دوی ظاهره کښې پکښې داخل شو نو څه نه څه رڼړا ئې واخسته، او د ایمان څه نا څه مزه ئې اُوڅکله او دا پته ورته اُولګیده چه مونږ اُوسه پورې جهالت کښې پراته وو، او دا خو صحیح خبرې دی، د فطرت سره برابرې خبرې دی نو د مسلمانانو د اُور نه ئې ځانله اُور بل کړو، د هغوی ځانونه محفوظ شو، د هغوی مالونه بچ شو، زکوٰة او غنیمت کښې حصې ورته حاصلې شوې او مؤمنانو سره ئې د نکاح وغیره تعلق قائم شو او په دنیا کښې یو قسم سکون ورته ملاؤ شو نو دوی پدے حال کښې وو چه د ایمان رڼړا ترې لاړه ځکه دوی د هغې غم نه کولو نو په تیارو د

کفر، نفاق او گناهونو کښې پاتے شو چه د هغے په نتیجه کښې بیا د قبر او جهنم تیارو ته لاړل۔ نو ددے نه به غټه بد نصیبي بله کومه وي ؟۔
اُوس سوال پیدا کیږي چه الله تعالیٰ تریے دا رنړا ولے واخسته ؟ نو ددے وجه دا ده چه اُور چه انسان بلوي نو د هغے دپاره ماده پکار ده، اُور ته به بار بار لرګی ایږدے، که نه ډِیے کیخودل اُور به مړ کیږي او دارنګه که ډیوه ډِیے بله کړه نو تیل به پکښې اچوے ګنے درنه مړه کیږي، نو روسته به وریسے ماده راروانه وي، که نۀ وي نو اُور به مړ شي نو منافقانو دا ورانے اُوکړو چه رنړا خوئے ځان له بله کړه لیکن روستو ئے بیا غم نۀ کولو نو ایسته تریے اُور مړ شو نو پدے کښې دیته هم اشاره ده چه کله تا ایمان راوړو نو بیا به بار بار دے ایمان ته تیل وراچوے، قرآن او حدیث به اَورے، د الله عبادت به کوے، ذکر به کوے، د ګناهونو نه به ځان ساتے، توبه به الله ته اُویاسے، نو دے سره به ستا ایمان ژوندے وي او که چرته دا کارونه ډِیے نۀ کول نو اُور به مړ شي، ایمان به ختم شي۔ دا ډیر ښکلے مثال دے د ایمان دپاره ماده پکار ده، د وحي، د قرآن او د سنت، د دین د اعمالو۔ لنډه دا چه دیني عملونه به کوے نو هله به ډِیے ایمان ژوندے وي، دا خو تجربةً ثابته خبره ده چه کوم کسان دین سره تعلق نه لري، زر ګمراه کیږي۔

فوائد الآیة

۱ – اُورئے په مثال کښې راوړو، ددے فائده دا ده چه [اَلنَّارُ تَقْتَضِيُ مَادَّةً] (اُور د بقاء دپاره ماده (لرګی) غواړي۔ [فَكَذٰلِكَ الْإِيْمَانُ يَقْتَضِيُ مَادَّةً مِنَ الْعِلْمِ النَّافِعِ وَالْعَمَلِ الصَّالِحِ]
(نو دغه شان ایمان هم ماده غواړي چه علم دین به زده کوے او اعمال به کوے)
(۲) دویم حکمة : چه اُور کښې دوه صفتونه دي، (احراق واشراق) یو رنړا ده، بل سیزل دي۔نو دا اُور خو سړي له فائده هم ورکوي مګر ضرر هم پکښې دے۔ نو دغه شان قرآن کریم به یا حجت وي ستا دپاره یا به ستا په خلاف حجت وي۔ یا داسے تعبیر اُوکړه چه څوك ایمان راوړي اُور بل کړي نو دا به ئے سر ته رسوي او د هغے حفاظت به کوي او که چرے حفاظت ئے نۀ کوي نو سوزش به ضرور ورته رسیږي۔ خلاصیدل نشته، ایمان نه ډِیے فائدے اخستی دي نو اُوس به ددے اُور سوزش ته هم تیننګ شے۔ یا به رنړا قبلوے یا به درله دغه سوزش وي۔ نو منافقانو رنړا پریخوده او سوزش ئے واخستو۔
۳ – مَاحَوْلَهٗ : کښې ضمیر الذی ته راجع دے نو پدے کښې فائده دا ده چه څوك ایمان

راوړی نو هر طرف ته ئے رنړا وی لکه حدیث کښې دی : (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِیْ قَلْبِیْ نُوْرًا وَبَصَرِیْ نُوْرًا الخ)[بخاری : ٦٣١٦] که د تکلیف حالت وی او که د راحت، ټولو حالتونو کښې ایمان رنړا کوی۔ او پدے کښې اشاره ده چه د منافقانو رنړا لرے نۀ ده رسیدلے۔ بلکه صرف خپل ماحول کښې ده۔ نو قیامت کښې به هم دغه شان لږه رنړا ورکوی، او بیرته به ترے دغه شان په سخت مقام کښې اخستے شی۔ لکه ددے متعلق حدیث مخکښې تیر شویدے۔

۳- بِنُوْرِهِمْ ئے اُووئیلو نۀ (بنارهم) ځکه که (بِنَارِهِمْ) ئے وئیلے وے نو بیا به دا معلومیدے چه رنړا هم تلے ده او اُور هم تلے دے نو دوی دپاره سزا نشته۔ او هرکله ئے چه (نور) بوتلو نو معلومه شوه چه (نار) اُور ورله باقی پاتے دے۔

٤- حافظ ابن القیّم په ((بدائع التفسیر)) کښې فرمائی : أَذْهَبَ ئے اُونۀ وئیلو بلکه ذهب ئے راوړو او متعدی کړے ئے دے په باء سره ځکه چه (اَذْهَبَ) کښې هغه بوتلل مراد وی چه سرسرئے بوځی او ټول لاړ نۀ شی۔ او ذهب چه متعدی شی په باء سره نو بیا اشاره وی استیصال ته یعنی د ستے نه ئے د زړه نه ورله رنړا ختمه کړه۔

٥- الله تعالیٰ نسبت د اذهاب ځان ته اُوکړو، اشاره ده چه دے خلقو د الله تعالیٰ د تعلق او د ایمان د رنړا لحاظ اُونکړو نو دوی له ئے عقوبت ورکړو۔

٦- بِنُوْرِهِمْ ئے اُووئیلو او (بِضَوْئِهِمْ) ئے اُونۀ وئیلو ځکه چه ضوء ډیرے رنړا ته وائی او نور لګے رنړا ته وئیلے شی، اشاره ده چه دوی سره معمولی شان رنړا وه، هغه هم ترے الله تعالیٰ اخستے ده، او که ضوء ئے وئیلی وے نو بیا به دا وهم کیدو چه ډیره رنړا به ئے اخستی وی او لږه به ورسره پاتے وی۔ ځکه چه ضوء خاص دے او په انتفاء د خاص سره انتفاء د عام نۀ راځی۔

٧- (نُوْرِهِمْ) کښې ئے ضمیر د جمع راوړو او مخکښې الذی مفرد ذکر دے ځکه چه دا مثال د ټولو منافقانو دے۔ او الذی په معنیٰ کښې جنس دے۔ او دا مثال د یو شخص نۀ دے۔ بلکه دا د هر دور او زمانے سره تعلق لری۔

٨- ظلمات ئے جمع راوړه چه ډیرو تِیَرو کښې ئے الله تعالیٰ پریدی، یوه تیاره نۀ ده، هغه تیاره د کفر، د منافقت، د سیء الاعمال (بد اعمالو) تیارے، یعنی عقیده به ئے غلطه، خبرے به ئے غلطے، کارونه به ئے غلط، اخلاق به ئے غلط وی، بیا د هدایت نه روستو چه

څوك ګمراه شي نو هغه ډېر خرابيږي، دا قانون دے چه اصلي کافر دومره ضرري نهٔ وي خو چه مسلمان وي او بيا مرتد کافر شي نو دا ډېر سخت ضرري وي، ځکه په ده باندے ډيرے زياتے تيرے راځي۔

اِسۡتَوۡقَدَ نَارًا : نار لفظ په قرآن کريم کښ (۱٤۰) کرته راغلے دے، ددے ډېر اطلاقات دي۔

د نار لفظ اطلاقات

۱- نار جهنم ته وئيلے شي چه د دنيا اُور د هغے نه راوتے دے او اَويا کرته مړ شويدے۔ لکه (فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيۡ وَقُوۡدُهَا النَّاسُ) (البقرة : ٢٤)

۲- الحَرَامُ : (مَا يَأۡكُلُوۡنَ فِيۡ بُطُوۡنِهِمۡ اِلَّا النَّارَ) (بقره : ۱۷٤)

۳- اَلۡمَعَاصِيۡ (ګناهونه) لکه (فَمَا اَصۡبَرَهُمۡ عَلَى النَّارِ) (البقرة : ۲۲۱)

٤- اَلۡحَرَارَةُ (ګرمائش) (فِيۡهِ نَارٌ فَاحۡتَرَقَتۡ) (البقرة : ۲٦٦)

٥- اَلنَّارُ السَّمَاوِيَّةُ (آسماني اُور چه پخوا به راتلو او قرباني به ئے خوړله) (بِقُرۡبَانٍ تَاۡكُلُهُ النَّارُ) (آل عمران : ۱۸۲)

٦- مَادَةُ الۡجِنِّ (د پيرانو ماده کوم نه چه پيدا دي) (خَلَقۡتَنِيۡ مِنۡ نَّارٍ وَّخَلَقۡتَهٗ مِنۡ طِيۡنٍ) (الاعراف : ۱۲)

۷- اَلنَّارُ الدُّنۡيَوِيَّةُ (دنيوي اُور) (وَمِمَّا يُوۡقِدُوۡنَ عَلَيۡهِ فِي النَّارِ ابۡتِغَاءَ حِلۡيَةٍ) (رعد : ۱۷)

۸- اَلۡعَذَابُ الۡبَرۡزَخِيُّ ۔ (برزخي اُور او عذاب مراد دے) (اَلنَّارُ يُعۡرَضُوۡنَ عَلَيۡهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا) (المؤمن : ٤٦)

۹- اَسۡبَابُ الۡحَرۡبِ (د جنګ اسباب راپيدا کول) (كُلَّمَا اَوۡقَدُوۡا نَارًا لِّلۡحَرۡبِ اَطۡفَاَهَا اللّٰهُ) (المائدة : ٦٤) (په دے آيت کښ اشاره ده چه د يهودو او نصاراؤ جنګي اسباب به الله تعالیٰ ختموي)

د نُور لفظ تحقيق

نور لفظ په قرآن کښ (٤٣) کرته راغلے دے۔ او د هغے ديارلس مصداقات دي۔

۱- نور په معنیٰ د توحيد سره لکه په سورة البقره (۲٥۷) (يُخۡرِجُوۡنَهُمۡ مِنَ النُّوۡرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ) ۲- صفت د الله تعالیٰ دے (اَللّٰهُ نُوۡرُ السَّمٰوٰتِ) (سورة النور : ۳٥) والزمر : ٦۹)

۳- د تورات صفت۔ (المائده : ٤٤) ٤- د انجیل صفت ۔ (المائده : ٤٦)
۵- د قرآن کریم صفت۔ (النساء : ۱۷۵ او تغابن : ۸)
٦- د الله تعالیٰ دین ته وئیلے شویدے۔لکه (لِيُطْفِئُوا نُوْرَ اللّٰهِ) (توبه :۳۲، الصف : ۸)
۷- د رسول الله صفت دے۔ (قَدْ جَاءَ كُمْ مِنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيْنٌ) (المائده : ۱۵)
۸- نور الزيت (د تیلو رنړا) ۹- نور الزجاجه (د شیشے رنړا) (النور:۳۵)
۱۰- نور مقابل د ظلمت (تیرے) (الانعام : ۱) (وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ)
۱۱- صفت د قمر (سپوږمۍ) (وَالْقَمَرَ نُوْرًا) (یونس: ۵)
۱۲- د قیامت د ورځے نور۔ (الحديد: : ۱۳)
۱۳- د اُور نور (رنړا) لکه پدے آیت کښ مراد دے۔
فِىْ ظُلُمٰتٍ : ظلمات لفظ په قرآن کریم کښ (۲۳) کرته راغلے دے۔

د ظلمات لفظ اطلاقات

ظلمات لفظ ډیرے معانی لری۔
۱- ظلمات د شرك او شبهاتو لکه (يُخْرِجُوْنَهُمْ مِنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمَاتِ) (البقره : ۲۵۷)
۲- ظاهری تیارے۔ (مقابل د نور) لکه (وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ) (الانعام : ۱)
۳- الجهل (ناپوهی) لکه (صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي الظُّلُمَاتِ) (انعام : ۳۹) او (كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمَاتِ) (انعام :۱۲۲)
٤- د زمکے تیارے (فِىْ ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ) (انعام : ۵۹)
۵- ظلمات د بر او بحر (یعنی مصائب) لکه (فِىْ ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ) (انعام : ٦۳)
٦- د بُطُوْنُ الْأُمَّهَات (د میندو د خیتو) تیارے۔ لکه (فِىْ ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ) (الزمر: ٤)
۷- ظُلُمَاتُ بَطْنِ الْحُوْت (د ماهی د خیتے تیاره) لکه (فَنَادٰى فِي الظُّلُمَاتِ) (الانبیاء : ۸۷)
۸- مَوْجُ الْبَحْر (د درياب چپے)۔ (اَوْ كَظُلُمَاتٍ فِىْ بَحْرٍ) (النور : ٤۰)
۹-ظُلُمَاتُ الْمَطَر (د باران) لکه (فِيْهِ ظُلُمَاتٌ وَرَعْدٌ) (البقرة : ۱۹)
۱۰- تمثیلی ظلمات۔ لکه پدے آیت کښ شو۔ یعنی ظُلُمَاتِ الْكُفْرِ وَالنِّفَاقِ، وَالْقَوْلِ وَالْعَمَلِ وَالْأَخْلَاقِ۔

وَتَرَكَهُمْ فِي ظُلُمَاتٍ لَّا يُبْصِرُونَ : د ظلمات نه مراد د کفر، نفاق او غفلت تیارې دي په دنیا کښې چه په هغې به د آخرت تیارې، د قبر تیارې، او د جهنم تیارې مرتب وي او لَا يُبْصِرُونَ معنیٰ دا چه دوی د هدایت سمه لاره نهٔ وینی۔

نو دغه شان په آخرت کښې به پدې باندې دا مرتب وي چه کله جهنم ته داخل شي نو بیا به د جهنم نه د وتلو دپاره هیڅ لار نهٔ وینی۔ ځکه دا قانون دے چه دنیا کښې د انسان کوم حال وي نو په آخرت کښې به ئې هم هغه حال وي که په دنیا کښې په تیارو کښې وي نو په آخرت کښې به هم په تیارو کښې وي، او که په دنیا کښې ئې سیر الی الله قوی وو نو په آخرت کښې به ئې هم سیر الی الله قوی وي۔

فائده : تَرَكَهُمْ کښې عدل د الله تعالیٰ دے دا وجه ده چه وَجَعَلَهُمْ لفظ ئې رانهٔ وړو۔ فتدبر۔

(۲) بله فائده په وَتَرَكَهُمْ کښې د دوی نجاست ته اشاره ده چه الله تعالیٰ ورته هیڅ التفات نکوی جَزَاءً وفاقاً ده ځکه چه دوی الله تعالیٰ ته التفات اُونکړو نو الله تعالیٰ دوی ته التفات اُونکړو۔

فائده : ظلمات ئې جمع راوړه او نور ئې مفرد راوړو اشاره ده چه حق یو وي او کفر ډیر انواع او اقسام لري۔

اُوس دا ځنګه خلق دي نو ددې مثال تتمه کښې وائي :

صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿۱۸﴾
دوی کانړهٔ دي، ګونګیان دي، ړاندهٔ دي، نو دوی نهٔ راګرځي۔ (د دغه تیرونه رڼړا طرفته)۔

تفسیر : (صُمٌّ) دیته تشبیه بلیغ وائي چه ادات د تشبیه او مشبه حذف شویدی یعنی هُمْ كَالصُّمِّ۔ نو کاف ئې حذف کړو ګویا کښې دوی ئې بعینهٖ کانړهٔ دي۔ او دلته مراد دا دے چه د حق نه کانړه، ګونګیان او ړانده دي، که نهٔ وي نو هسې لیدل، اَوریدل او خبرې خو کولے شي۔ لیکن هرکله چه دوی دا طاقتونه د حق دپاره نهٔ استعمالوی نو د الله تعالیٰ په نیز دا داسې دي لکه چه بالکل نیشت دي۔ نو معنیٰ دا شوه چه دا کافران چه

حق نۀ آوری په شان د هغه کنړو دی چه هیڅ نۀ آوری د وجه د مبالغے نه او دغه شان په بکم او عُمی کښے هم اُووایه۔ یعنی یو سړے هیڅ خبره نۀ آوری او بل انسان حق نۀ آوری، دواړه برابر دی، بلکه حق نه ځان کنړونکے غټ مجرم دے، او قدرتی کوڼ مجرم نۀ دے۔نو دلته وجه د شبه یو طرف نه مطلق ده او بل طرف نه مقید خو بیا هم تشبیه صحیح ده۔

او مطلب دا دے چه هرکله د دوی نه رڼرا د توحید او ایمان لاړه نو دوی داسے حیران شو چه ګویا کښ غوړونه، خوله او سترګے ئے بندے شوے چه هیڅ احساس نشی کولے چه کوم طرف ته لاړ شو، کاڼره شو، د داعی آواز نۀ اَوری، چاړا ګان شو چه طاقت نۀ لری چه د صحیح لارے تپوس اُوکړی او ړاندۀ شو، چه صحیح لاره اُووینی۔ [زبدة التفسیر]

لَايَرْجِعُوْنَ : [لَایَرْجِعُوْنَ مِنَ الْبَاطِلِ اِلَی الْحَقِّ] (یعنی د باطل نه حق طرفته نه راګرځی)

(۲) [لَایَرْجِعُوْنَ اِلَی الْهُدٰی بَعْدَ اَنْ بَاعُوْهُ وَعَنِ الضَّلَالَةِ بَعْدَ اَنِ اشْتَرَوْهَا وَاخْتَلَّتْ مَشَاعِرُهُمْ جَمِیْعًا فَهُمْ حَیَارٰی] (نۀ راواپس کیږی هدایت ته پس د هغے نه چه هغه ئے خرڅ کړو او د ګمراهئ نه نۀ راواپس کیږی پس د هغے نه چه هغه ئے واخسته، او د دوی ټول علمی قوتونه خراب شو نو بس اُوس حیران دی) (فتح البیان)

فائده : په دے لایرجعون کښ هم عجیبه اشاره ده، چه د اسلام نه یو سړے یو ځل واوړیدو، مرتد شو، په خپل اختیار او په خپله خوښه نو هغه بیا بیرته هدایت نۀ قبلوی، ډیر خلق چه هغه خلقیان، دهریان، کمیونسټ شوی دی نو که هغوی په ظاهره کښ ګیره هم پریدی، تسبیح هم اړوی، مونځ هم کوی خو زړۀ کښ ئے هم هغه شانته کفر پروت وی، غالباً هغه نۀ مسلمانیږی، ځکه کفرئے دننه زړه ته داخل شوے وی۔او کله چه د کفر غلبه راشی نو بیرته واپس کفر راښکاره کوی، لکه د خلق او پرچم او د دهریانو په وئیل چه زمونږ مثال داسے دے لکه د کبلو چه شنه وی، د ریبلو نه پس شل کاله به اُوچ پراته وی، خو چه بیرته ئے اُوکرے نو همغه شان به شنه شی۔

صُمٌّ : جمع د اَصَم ده، ماده د صم قرآن کریم کښ (۱۵) کرته راغلے ده۔ ټول علی جهة التمثیل دے، یعنی د مثال په طریقه دے، یعنی حقیقی کوڼ نۀ دے لکه دلته د منافقانو غوږونه د دنیا کارونو دپاره ښه کار کوی لیکن د حق نه ئے ځانونه کاڼۀ کړیدی۔ صرف په دوه مقاماتو کښ په حقیقی معنیٰ دے۔ لکه هغه په سورة بنی

اسرائیل (۹۷) کښې ذکر دے۔ (وَنَحۡشُرُهُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوۡهِهِمۡ عُمۡيًا وَّبُكۡمًا وَّصُمًّا)
(۲) (مَثَلُ الۡفَرِيۡقَيۡنِ كَالۡاَعۡمٰى وَالۡاَصَمِّ وَالۡبَصِيۡرِ وَالسَّمِيۡعِ) (هود:۲۸)

بکم : جمع د اَبکَم ده۔ گونگی او چاړا ته وئیلے شی۔ قرآن کریم کښې (٦) کرته راغلے دے، ټول علی جهة التمثیل دے صرف دوه مقاماتو کښې په حقیقی معنیٰ دے۔ (سورة النحل : ۷٦) آیت : (اَبۡكَمُ لَا يَقۡدِرُ عَلٰى شَيۡءٍ) او مخکښې آیت د بنی اسرائیل : (۹۷)

عمی : جمع د اَعمیٰ ده، په قرآن کریم کښې (۳۳) کرته استعمال دے۔ ټول په طریقه د تمثیل دے لیکن شپږ مقاماتو کښې حقیقی معنیٰ مراد ده هغه دا دی :

(۱) (عَبَسَ وَتَوَلّٰٓى اَنۡ جَآءَهُ الۡاَعۡمٰى) (عبس : ۱) (۲) (لَيۡسَ عَلَى الۡاَعۡمٰى حَرَجٌ) (النور:٦۱) (۳) (وَنَحۡشُرُهٗ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ اَعۡمٰى) (طه:۱۲٤) (٤) (مَثَلُ الۡفَرِيۡقَيۡنِ كَالۡاَعۡمٰى وَالۡاَصَمِّ وَالۡبَصِيۡرِ وَالسَّمِيۡعِ) (هود : ۲۸) (٥) (عُمۡيًا وَّبُكۡمًا وَّصُمًّا) (بنی اسرائیل : ۹۷) (٦) (لَيۡسَ عَلَى الۡاَعۡمٰى حَرَجٌ) (سورة الفتح : ۱۸)

اَوۡ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ فِيۡهِ ظُلُمٰتٌ وَّرَعۡدٌ

یا مثال د دوئ په شان د ډیر باران دے د بره نه، چه په دے کښې تیَرے وی، او ګړه زارے وی،

وَّبَرۡقٌ ۚ يَجۡعَلُوۡنَ اَصَابِعَهُمۡ فِيۡٓ اٰذَانِهِمۡ مِّنَ الصَّوَاعِقِ

او بریښنا وی، ږدی دوئ ګوتے خپلے په خپلو غوږونو کښے د وجه د تندرونو نه،

حَذَرَ الۡمَوۡتِ ؕ وَاللّٰهُ مُحِيۡطٌۢ بِالۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۱۹﴾

د وجه د یرے د مرګ نه او الله تعالیٰ راګیرونکے دے کافرانو لره۔

تفسیر : دا بل مثال د منافقانو دے دا (اَوۡ) د شك دپاره نهٔ دے، بلکه د تخییر (اختیار) دپاره دے چه ستا خوښه ده که هغه مثال بیانوے او که دا مثال۔ (۲) یا دا (او) د تنویع دپاره دے او د تنویع دوه معانی دی (۱) یو دا چه منافقان دوه قسمه وو نو دا په کښې د بل قسم منافقانو مثال دے۔ (۲) یا دا چه منافقان دوه قسمه صفتونه لری یو صفت ئے دا چه په ګمراهئ کښې ننوتی او هدایة ترے الله تعالیٰ اخستے دے۔ نو هغه مخکښے مثال شو او

دویم صفت ئې د خوف او حیرانتیا دے۔ په وخت د نزول د قرآن کښې ئې مثال داسې دے لکه یو سړے چه باران راخستے وی۔

بل قول دا دے چه (او) په معنیٰ د (واو) دے لکه (وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا اَوْ كَفُوْرًا) کښې (اَوْ) په معنیٰ د واو دے۔ مګر **راجح** دا ده چه (او) دلته د تخییر دپاره دے یعنی ستا اختیار دے چه دواړه مثالونه بیانوے او که هر یو بیانوے۔ او دویم مثال ډیر ابلغ دے ځکه چه دا دلالت کوی په فَرْطُ الْحَيْرَة (زیاته حیرانتیا د منافقانو) او په بد حالئ د دوی باندے۔ (السراج)

دلته اول توضیح الکلمات بیا تشبیه او تطبیق المثال اُوګوره۔

توضیح الکلمات

صَيِّب : (اَلْمَطَرُ الْكَثِيْرُ) (ډیر باران ته) وئیلے شی۔ د صَبٌّ نه ماخوذ دے، راتویدلو ته وائی چه ډیر راوریږی۔ دلته مضاف پټ دے۔ یعنی (كَذَوِيْ صَيِّبٍ) یا (اَصْحَابُ صَيِّبٍ) (خاوندان د باران چه باران رالاندے کړی وی) دا مضاف د روستو نه معلومیږی او دا د بلاغت تقاضا ده ځکه حذف کولے شی۔

مِنَ السَّمَآءِ : سماء لفظ (۱۲۰) کرته او لفظ د سموات (۱۹۰) کرته استعمال دے چه مجموعه (۳۱۰) کرته جوړیږی۔ دا دومره ډیر کرته ځکه ذکر شویدے چه آسمان د الله تعالیٰ د قدرت عظیمه نخه ده، الله تعالیٰ پرے معلومیږی۔

د سماء درے اطلاقات دی ۱ – الرقیع : (اووه آسمانونه) (سَبْعًا شِدَادًا) (سورة النبأ :۱۲)

۲ – وریځے ته هم وئیلے شی۔ لکه (وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَاءً) (بقره : ۲۲)

۳ – (كُلُّ مَا عَلَاكَ وَأَظَلَّكَ فَهُوَ سَمَاكَ) (هر هغه شے چه ستا نه پورته وی او په تا سورے کوی نو دا ستا آسمان شو) نو پدے معنیٰ باندے چت ته هم سماء وائی۔ لکه په سورة الحج (۱۵) (فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ) کښې۔

رعد : د رعد دوه مصداقه دی :

۱ – فلاسفه او هغه مفسرین چه د فلاسفو نه متأثره دی وائی : صَوْتٌ عِنْدَ اصْتِكَاكِ أَجْرَامِ السَّحَابِ (یعنی وریځے چه د یو بل سره اُوجنګیږی نو د هغے نه یو آواز پیدا شی هغے ته رعد وائی۔

۱ – د مسلمانانو رایه دا ده : چه دا (صَوْتُ الْمَلَكِ) د ملائك آواز دے۔ لکه حدیث د

ترمذی کښې دی: [مَلَكٌ مُوَكَّلٌ بِالسَّحَابِ۔ الحدیث] [احمد : ۲۴۸۳ ترمذی : ۳۱۱۷، صحیح] (هغه ملائك چه په وریځ مقرر دے) او دا آواز د هغه د خولے (تسبیح وئیلو) هم دے، او چه وریځ وهی او شړی نو د هغے نه هم راپیدا کیږی۔ بیا الله تعالیٰ ئے کله راپیدا کوی او کله نهٔ، پدے کښې د الله تعالیٰ حکمتونه دی۔

حدیث کښې دی: [اَلرَّعْدُ مَلَكٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُوَكَّلٌ بِالسَّحَابِ (بِيَدِهٖ اَوْ فِيْ يَدِهٖ مِخْرَاقٌ مِنْ نَارٍ يَزْجُرُ بِهِ السَّحَابَ) وَالصَّوْتُ الَّذِيْ يُسْمَعُ مِنْهُ زَجْرُهُ السَّحَابَ اِذَا زَجَرَهٗ حَتّٰى يَنْتَهِيَ اِلٰى حَيْثُ اُمِرَهٗ) [حسن : الصحیحة :۱۸۷۲ ترمذی (۳۱۱۷) عن ابن عباس ﷺ]۔

رعد د ملائکو نه یو ملائك دے چه په وریځ مقرر دے د هغه په لاس کښې د اُور ډبلئ (چابك) دے چه په هغے سره وریځ شړی او هغه آواز چه د هغے نه اَوریدلے شی نو هغه د وریځے د شړلو آواز دے کله ئے چه شړی هغه ځائے ته چه الله تعالیٰ ورته امر کړے وی)۔

دلته د رعد نه گړزارے، گړگوړ، غرارے، او شور مراد دے۔

برق : برق لفظ په قرآن کریم کښې (۵) کرته استعمال دے په معنیٰ د بریښنا (بجلی) پړق سره، صرف یو کرت په معنیٰ د حیرانتیا او د نیغ راوتلو راغلے دے۔ (فَاِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ) اَیْ تَحَيَّرَ وَشَخَصَ (القیمة :۵) (یعنی کله چه سترگے حیرانے شی او کروغی راوځی) د قیامت په ورځ)

يَجْعَلُوْنَ : جعل په معنیٰ د ایخودلو دے۔ اَیْ يَضَعُوْنَ۔ (ایږدی) او جعل خوزولو ته نهٔ وائی۔ لکه حدیث او د فقه په کتابونو کښې راځی (يَجْعَلُ اُصْبُعَيْهِ فِيْ اُذُنَيْهِ) د اذان په وخت به په غوږونو کښې گوتے اږدی نو بعض مُلیان د (يَجْعَلُ) د گرځولو معنیٰ کوی او د گرځولو نه ئے خوزول فهم کړیدی او دا سوءِ فهم دے۔ د خوزولو معنیٰ په هیڅ کتاب کښې نشته۔

اَصَابِع : لفظ د اصابع قرآن کښې (۲) کرته راغلے دے او مراد دلته انامل (د گوتو سرونه) دی ځکه ټوله گوته غوږ کښې نهٔ کیخودلے کیږی۔ او د اصابع دوه اطلاقه دی (۱) کله په معنیٰ د ټولے گوتے سره وی۔ (۲) او کله سرونه د گوتے مراد وی۔

آذَانِهِمْ : دا ماده په قرآن کریم کښې (۱۸) کرته راغلے ده۔ جمع د اُذُن ده۔ کله غوږ ته وائی او کله هغه شخص ته وائی چه د هر چا خبره اَوری۔ (قُلْ اُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ) (التوبة : ۶۱)

الصَّوَاعِق : قرآن کریم کښې (۸) کرته ذکر دے۔ (شِدَّةُ صَوْتِ الرَّعْدِ) (تیز آواز د رعد)

تـه وئیلے شي۔ (یعني تندرونه) چه دا تندر کله الله تعالیٰ د هواء نه جوړوي او کله ئے د اُوبو نه، چه د اُوبو نه اُور جوړ کړي او په بندګانو ئے نازلوي۔ (فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَاءُ)

٢- بعض وائي : صواعق جمع د صَاعِقَةٌ ده، هغه چغے ته وائي چه څوك ئے واوري نو وفات کیږي یا بے هوشه کیږي، ٣- بعض وائي : هر مُهلك (هلاکونکی) عذاب دے۔

٤- بعض وائي : دا یوه قطعه د عذاب ده چه الله تعالیٰ ئے په چا اُوغواړي رالیږي۔ (بغويؒ)

٥- **لیکن** تحقیق دا دے چه هر هغه شے چه د بل شي حقیقت بدلوي نو دیته صاعقه وئیلے شي ۔ (کما قاله ابن جریر) ۔ لکه ابن جریرؒ لیکي : «صاعقه په اصل کښې هر هغه یرونکی شي ته وئیلے شي چه انسان هغه اُووینی یا ورته اُورسیږي نو د هغے د هیبت او د لوئی شان په وجه هلاك شي یا ئے عقل لاړ شي یا بے هوشه شي یا بعض اندامونه د جسم ئے ختم شي- برابره ده که دغه شے آواز وي او که اُور وي، زلزله وي او که رجفه وي۔ دلیل پرے دا دے چه موسیٰ علیه السلام باندے صعق راغلے وو او حال دا چه هغه وفات شوے نهٔ وو۔ صرف بے هوشه شوے وو»۔ (تفسیر ابن جریرالطبري)

دارنګه دا معنیٰ په سورة حم السجده (١٣) آیت کښې اُوګوره : (فَقُلْ أَنْذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ) ۔

دلته د صاعقة نه مراد مطلق عذاب دے۔

حَذَرَ الْمَوْت : موت لفظ په قرآن کریم کښې (١٠٩) کرته راغلے دے۔ ددے په قرآن کریم کښې ډیرے معنے استعمال دي۔

١- اَلْعَدَمُ السَّابِقُ : (نشت) (وَكُنْتُمْ أَمْوَاتًا) (البقرة : ٢٨)

٢- اَلْمَوْتُ الْعِقَابِي۔ (د سزا په طور مرګ) (فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوتُوا) (البقره : ٢٤٣)

٣- اَلْمَوْتُ الْإِعْجَازِي۔ (معجزه طور سره وژل) لکه (فَأَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ) (البقره : ٢٥٩)

٤- مَوْتُ الشَّهَادَة۔ (د شهیدګئ مرګ) (وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ) (آلعمران : ١٤٣)

٥- اَسْبَابُ الْمَوْت۔ (د مرګ اسباب) لکه (وَيَأْتِيهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ) (ابراهیم : ١٧)۔

٦- اَلْجَهْلُ (جهالت او ناپوهي) لکه (أَوَ مَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ) (الانعام : ١٢٢)

٧- عَدَمُ اِنْبَاتِ الْاَرْضِ (چه زمکه ګیاه نهٔ راتوکوي) دا د زمکے مرګ دے۔ (فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا) (البقره : ١٦٣)

۸- اَلشِّرْكُ بِاللهِ. (وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ) (یونس : ۳۱)
۹- موت تمثیلي. (د مثال په طورئے ذکر کړیدے) (اِنَّكَ لَاتُسْمِعُ الْمَوْتٰى) (روم :۵۳)
مُحِيْطٌ : احاطه د الله تعالیٰ د مشابهاتو نه ده، حقیقت ئے الله تعالیٰ ته معلوم دے، او ظاهري معنیٰ ئے مفسرین داسے کوي : (مُحِيْطٌ بِالْعِلْمِ وَالْقُدْرَةِ وَالْإِهْلَاكِ) (الله تعالیٰ به دوي په علم او قدرت کښ راګیروي، په دوي عالِم او په دوي قادر دے او دوي به هلاکوي) یعني پدے احاطه کښ درے اقوال دي ۱- یو دا چه یو تن هم د الله تعالیٰ نه نشي خلاصیدلے الله تعالیٰ به ئے قیامت کښ راجمع کوي. (قاله مجاهد).
(۲) احاطه په معنیٰ د هلاکت ده لکه د (واحیط بثمره) کهف (۴۲) پشان.
(۳) دریم احاطه په اعتبار د علم سره مراد ده. یعني الله تعالیٰ باندے د دوي د کارونو نه هیڅ پټ ندي، بلکه الله تعالیٰ به ددے بد اعمالو سزا ورکوي. (زاد المسیر ۱/ ٤٤)
بِالْكٰفِرِيْنَ : اشاره ده دے ته چه دا منافقان کافر دي.

تطبيق المثال :

ددے مثال تطبیق په دوه طریقو سره کیږي . (۱) تشبیه المفرد بالمفرد. چه هر لفظ له خپله مشبه پیدا کړے لکه صیب (باران) سره څه شے مشابه دے او د رَعْد او برق او صواعق نه څه مراد دے. دا طریقه دومره غوره نۀ ده، ځکه پدے کښ تکلف زیات وي او معنیٰ زر فهم ته نۀ راځي. (۲) دویمه طریقه : تشبیه المرکب بالمرکب ده. چه مجموعي حالت د مجموعي حالت مشابه کړے شي. او دا طریقه په امثالو د قرآن کښ غوره ده. یو خو پدے کښ تکلف نشته او حافظ ابن القیمؒ په "بدائع التفسیر" کښے او زمخشري په "کشاف" کښ وئیلي دي چه دا طریقه د علماء البیان ده او دا طریقه د عربو اوائلو ده. او پدے کښ آساني زیاته وي. مثلاً دا یو سړے دے، باران راګیر کړے دے، او باران په دغه حالت دے نو هغه به څنګه پریشانه وي، نو دغه شان په وخت د نازلیدو د قرآن کښ دا منافقان هم پریشانه دي. دا د مثال لنډ حاصل دے.

نو **تشبیه المفرد بالمفرد** داسے ده : چه ذوي صیب (خاوندان د باران) نه مراد منافقان دي. صیب نه مراد قرآن دے. د قرآن مشابهت ئے د باران سره ورکړیدے. وجه د شبه :
۱- باران د بره نه راځي نو قرآن کریم هم د بره نه راغلے دے.

۲- د باران اُوبهٔ صفا وی نو قرآن کریم هم صفا کتاب دے۔ گډے وډے پکښې نشته۔
۳- باران سره حیات د زمکے راځي او په قرآن سره هم حیٰوة القُلوب (د زړونو ژوند) راځي۔
٤- دارنگه تشبیه په عموم النفع کښې ده۔ د باران فائده عامه وی (کافر، مسلمان، ښځه او سړی او حیواناتو او حشراتو ته) نو دغه شان د قرآن کریم فائده هم عامه ده۔
بیا صیب ډیر باران ته وائی، چه زمکه صفا کړی او حاجتونه پرے پوره شی، نو دغه شان په قرآن کریم کښې د بنده صفائی راځي او ټول حاجتونه پرے پوره کیږی، لکه حدیث کښې هم دا مثال راغلے دے۔ [کَمَثَلِ الْغَيْثِ الْكَثِيْرِ] [بخاری رقم : ۷۹]
نو قرآن او سنت ناقص نهٔ دی، هره ضروری مسئله پکښې ذکر ده۔ لکه بعض جاهلان ئے ناقص گنړی۔ وائی په قرآن او حدیث کښې پوره احکام نشته بلکه دا په قیاس کښې دی، غلط وائی۔
فِيْهِ ظُلُمَاتٌ : باران کښې تیارے وی ظاهراً، نو په قرآن کریم کښې هم تیارے د کفر، شرك، منافقت او د گناهونو او صفات المنافقین والکافرین الله تعالیٰ ذکر کړیدی۔
وَرَعْدٌ : په باران کښې گرزارے وی، نو په قرآن کریم کښې وعیدونه او زجرونه منافقان او کافرانو دپاره بیان شویدی۔ په باران کښې دوه څیزونه وی : ۱- یو تازگی او شینکی او فائدے پیداکول دا په کښې مؤمنانو دپاره وی چه د دوی ایمان پرے مضبوطیږی۔
۲- او بل پکښې رعب او خوف وی دا پکښې منافقانو دپاره وی څکه هغوی ته وعیدونه بیانیږی۔
وبرق : په باران کښې بریخنا وی نو په قرآن کریم کښې د ایمان او د توحید دلیلونه بیان شویدی لکه د بریخنا په شان چه د هغې په آوریدو سره مخالفین د قرآن حیرانیږی۔
يَجْعَلُوْنَ اَصَابِعَهُمْ : ضمیر ئے جمع راوړو څکه چه مراد د صیب نه ذوی صیب دی۔
یعنی څه کسان باران راخستی وی نو د تندر د وجه نه په غوږونو کښې گوتے ننباسی۔
نو د صواعق نه مراد سخت وعیدونه دی نو منافقان دغه شان د قرآن د بیان په وخت په غوږونو کښې گوتے ننباسی، چه هسے نه قرآن کریم راباندے تاثیر اُونکړی، او ایمان رانهٔ وړو۔ یا څه احکام راته بیان نکړی یا ئے طبعاً دا کتاب خوښ ندے لکه څنگه چه د نوح علیه السلام قوم به هم د نوح علیه السلام د بیان په وخت کښې دا کار کولو (سورة نوح/۷)۔

او د دوی برخه د قرآن کریم نه صرف دغه یره او هیبت دے ، او د باران نورو فوائدو باندے فکر نهٔ کوی۔
دوی دا گمان کوی چه پدے طریقه به زمونږ نه د مرگ خطره واوړی لیکن منافقانو ته چرته نجات ملاویدے شی، الله تعالیٰ دوی لره د هر طرف نه راگیر کړیدی او څوك د الله د احاطے او گیرے نه بچ کیدے شی، الله تعالیٰ به دوی ته د دوی د عملونو او کرتوتونو پوره پوره بدله ورکوی۔
حَذَرَ الْمَوْتِ : (الموت) نه مراد احکام شرعیه دی۔ ځکه منافقانو ته احکام شرعیه د مرگ پشان ښکاری چه اُوس به راته اُووائی چه جهاد ته لاړ شئ، زکوٰة ورکړئ، مونځ ته راشئ نو ځان پټوی۔ نو الله تعالیٰ فرمائی چه نه نشئ خلاصیدے۔
نو حاصل ددے تشبیه المفرد بالمفرد دا شو چه څه کسان باران راختی وی چه په دغه صفاتو سره وی، نو دغه شان قرآن کریم دا منافقان راختی دی، ددے نه تښتی راتښتی۔ نو قرآن کریم د هغوی دپاره د پریشانئ ذریعه ده۔ او مؤمنان پرے خوشحاله وی۔ (وَهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ)
(۲) **طریقه** : **تشبیه المرکب بالمرکب** : داسے تصور اُوکړه چه څه کسان په یو ه دشته کښ روان وی او باران پرے راشی، دومره سخت وی چه په هغے کښ تیارے هم وی او بریخنا او گرزارے هم وی او تندر هم پکښ وی، او ځائے د پټیدلو هم نهٔ وی نو په غوږونو کښ گوتے پدے وجه گدی چه دغوږونو پردے اُونشکیږی او مړهٔ نشو۔او سترگے مو خرابے نکړی۔ نو د دوی په پریشانئ تاسو سوچ اُوکړئ چه ددوی به څه حال وی؟
نو دغه شان منافقان دی چه پهٔ وخت د نزول د قرآن کریم کښ بے قرار اوبے امنه دی او په خوف کښ دی ځکه چه منافقان خلق د قرآن کریم ظاهری تکالیفو ته گوری، چه پدے کښ خو د جهاد، زکوٰة، مال لگولو، خپلولی کټ کولو، او دوستانو پریخودلو خبرے دی او دا خو گران کار دے او دارنگه قرآن کریم د هغوی بد صفتونه او حالونه راښکاره کوی لکه سورة توبه (٦٤) کښ راځی :
﴿ يَحْذَرُ الْمُنَافِقُوْنَ أَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُوْرَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا فِيْ قُلُوْبِهِمْ﴾
(منافقان د قرآن نه ډیر یریږی، چه دا ولے نازلیږی دا خوزمونږ عیبونه راښکاره کوی)
په خلاف د مؤمنانو چه هغوی ته به هم پدے باران کښ تکلیف وی لیکن هغه په

کښې خوشحاله وی. څکه چه په باران کښې دوه حیثیته دی. ظاهر کښې تکلیف وی، چقړې پیدا شی، د ډیر خلقو کورونه اُونړیږی، مسافرو ته تکلیف وی، سامانونه لامده شی. لیکن دا ضررونه ظاهری دی او کم دی. او بل طرف ته پکښې ډیرے فائدے وی، زمکه کښې شنکیانے بوټی راوخیژی، اُوبه جمع شی، کوهیان ډك شی، ځاروی خړوبه شی. د انسانانو ژوند پرے آباد شی. که دا باران نۀ نازلیدلے نو روحونه ضائع کیدل.

او د الله تعالیٰ دا قانون دے چه فائدے بغیر د تکلیف نه نۀ ورکوی، ضرور به تکلیف برداشت کوے، بیا به راحت ملاویږی. که څوك د باران تکلیف نۀ برداشت کوی، نو دا فائدے به دکوم ځائے نه حاصلوی. دغه شان جهاد کښې ظاهر کښې مرګ او تکلیف راځی لیکن خومره فوائد پکښې دی. نو مؤمنان ظاهر او باطن دواړو ته ګوری او منافقان صرف ظاهر ته ګوری. که کنار د شریعت د احکامو د فوائدو نه خبر شی چه پدے کښې څومره امن دے نو هغوی به هم شریعت نافذ کړے وے.

مُحِيطٌ بِالْكَافِرِينَ کښې اشاره ده چه د باران نه خو به خلاص شی، منډه به کړی یو ګوډ ته، خو دوی کافر دی، ما نه نشی خلاصیدلے.

حَذَرَ الْمَوْتِ : دا مفعول له علت دے دپاره د جعل الاصابع یعنی دا ګوتے په غوږونو کښې پدے وجه ورکوی چه مرګ نه یریږی. او دوی ته د پلار نیکه لار پریخودل او حق طرف ته راتلل د مرګ په شان ښکاری.

يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ كُلَّمَا اَضَآءَ لَهُمْ
نزدے ده بریښنا چه وتختوی نظرونه د دوی هرکله چه رڼا اُوکړی هغه (بریښنا) دوی ته
مَّشَوْا فِيْهِ وَإِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ
روان شی دوئ په هغے کښے او کله چه تیاره کړی په دوی باندے نو اُودریږی
لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ
او که چرے اراده کړے وے الله خامخا بوتلی به ئے وے غوږونه د دوی او سترګے د دوی،

اِنَّ اللّٰہَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۲۰﴾

یقیناً الله تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت لرونکے دے۔

تفسیر : دا ددے مخکنی مثال تتمه ده۔او همدا قول غوره دے۔ چا بیل مثال جوړ کړیدے خو هغه غوره قول ندے څکه مشبه نشته۔

کَادَ، یَکَادُ په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه یو شے واقع نهٔ وی خو واقع کیدوته نزدے وی۔

اَلْبَرْقُ : هغه بریخنا چه مخکښ مثال کښ ذکر شوه۔

یَخْطَفُ : خطف : یو شے په تیزئ سره تختولو ته وئیلے شی۔ لکه [خَطَفَتِ الدَّجَاجَةُ الْحَبَّةَ] (چرګے دانه اُوتختوله) اَلْبَرق الْخَاطِف : هغه بریخنا ته وئیلے شی چه نظر تختوی۔

یعنی کله چه دغه باران کیږی او پدے کښ بریښنا راشی نو خلق ترے یریږی چه نظرونه لاړ نشی نو دغه شان منافقان خلق د قرآن په وخت دومره پریشانه وی ګویا که سترګے ئے اُوځی، بره کتل نهٔ کوی۔

(اضاء) لازم او متعدی دواړه راځی، چه متعدی شی نو ضمیر به راجع وی برق ته یعنی کله چه دغه بریښنا رنړا کړی او چه لازم شی بیا معنیٰ ده : هرکله چه رنړا شی۔

فائده : اَضَاءَ ئے اُووئیلو او (اَنَارَ لَهُمْ مَشَوْا فِیْه) ئے اُونهٔ وئیلو څکه چه ضوء ډیرے رنړا ته وئیلے شی او نور لږے رنړا ته نو پدے کښ اشاره ده چه دوی په دومره سخته تیاره کښ دی چه په لږه رنړا کښ د دوی مزل نهٔ کیږی بلکه ډیرے رنړا ته ئے ضرورت دے۔ (ابن عرفه)

فیه : ددے کلمے نه بغیر هم معنیٰ پوره کیږی لیکن دائے ذکر کړه پدے کښ اشاره ده چه دوی صرف د رنړا په ځائے کښ تلل کولے شی او د هغه ځائے نه سوا په بل ځائے کښ تلل نشی کولے۔

(وَاِذَا اَظْلَمَ) دا هم لازم او متعدی دواړه استعمالیږی ، که متعدی شی نو ضمیر راجع دے برق ته یعنی کله چه بریخنا تیاره راولی په دوی باندے یعنی هغه ختمه شی۔ اوکه لازم شی نو معنیٰ کله چه تیاره شی بریخنا۔ یعنی بریخنا لاړه شی۔او دوی په تیاره

کښې پاتې شي۔

عَلَيُهِمُ : پـدې كلمه ذكركولو كښې فائده دا ده چه دغه تيارې سزا ده نو دا صرف په دوى باندې ده او د دوى د وجه نه ده، نۀ په بل چا۔

قاموا : قيام په معنىٰ د حصاريدلو دې، كه ولاړ وى او كه ناست وى۔

معنىٰ دا ده چـه كـلـه تياره وى نـو اُودريږى او چـه كلـه رنړا شى نو روان شى نو دا د منافقانو حال دې چه كله ورته په دين او په قرآن او حديث كښې فائده ملاويږى نو ورځى او چه دين كښې ورته ظاهرى دنياوى فائده نۀ ملاويږى نو بيا په ځائے ولاړ وى، مخكښې نۀ ځى۔ (وَاِنُ يَّكُنُ لَّهُمُ الْحَقُّ يَأْتُوا اِلَيْهِ مُذْعِنِيْنَ) (النور:۴۹)

دغه شان سورة الحج (۱۱) آيت كښې هم راغلى دى : (وَمِنَ النَّاسِ مَنُ يَّعُبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرُفٍ) بعض خلق دى چه په شك باندې عبادت كوى كه دنياوى فائده ورته رسيږى نو په شوق باندې دين ته راځى او كه فائده ورته نۀ رسى نو بيا بيرته اَوړى، او د مؤمن حال دا دې چه كه په دۀ تكليف دې، هم په دين روان دې او كه راحت دې، هم په دين روان دې۔ دواړو حالتونو كښې به روان وى۔ ځكه چه هغه ته پته ده چه د دې دين انجام او عاقبت ښه دې، لږ لږ تكليفونه به هم پكښې راځى، په قرآن كريم كښې به لږ تكليف هم وى خو خير ئې ډير زيات دې، هغه تكليف كښې هم خير دې، او دا دليل دې چه څوك په دين باندې د دنياوى مفاداتو دپاره عمل كوى نو دۀ كښې د نفاق صفت راغلے دې۔ لكه روستو ئې تفصيل راروان دې۔

(وَلَوُ شَاءَ اللّٰهُ) : **فائده** : يو د الله تعالىٰ رِضاء ده او بل مشيئت دې۔ مشيت مطلق ارادې ته وئيلے شى، اراده د الله تعالىٰ متعلق كيږى د نيكيو او بدو دواړو پورې، كه دنيا كښې هرڅه كيږى، كه مؤمن كافر لره قتلوى، كه كافر كفر كوى، او كه مؤمن ايمان راوړى نو دا ټول د الله تعالىٰ په اراده باندې كيږى۔ هر شے د الله تعالىٰ د ارادې د لاندې دې۔

(۲) دويم رضاء ده، نو هغه په نيكيانو پورې متعلق كيږى۔ په غلطو اعمالو او اقوالو باندې نۀ رضا كيږى (وَلَا يَرُضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفُرَ) (الزمر : ۷)

(الله تعالىٰ د بندګانو دپاره په كفر نۀ دې رضا) (لَا يَأْمُرُ بِالْفَحُشَآءِ) (اعراف :۲۸)

او دا فرق ډيرو باطل پرستو نۀ دې پيژندلے نو په ډيرو بدعاتو او غلطو عقيدو كښې واقع

شو۔ لکه جبریه شو۔ په بل تعبیر باندے داسے هم وئیلے شی چه اراده په دوه قسمه ده (۱) اراده دینی (۲) اراده کونی۔ اراده دینی دیته وائی چه الله تعالیٰ د بندګانو نه د یو کار غوختل کړیدی چه مونځ، حج، زکوٰة او عبادتونه اُوکړئ۔ دے سره د الله تعالیٰ رضا شامله وی۔

او اراده کونی (او دیته اراده تقدیری هم وائی) دیته وائی چه الله تعالیٰ د یو شی طلب د بندګانو نه نهٔ وی کړے چه اُوکړه بلکه الله تعالیٰ تقدیراً د یو شی اراده او فیصله کړی وی چه داسے به کیږی۔ او دا اراده کونی کله د نیکیو سره متعلق کیږی او کله د بدو سره۔ نو کله د اراده دینی سره اراده کونی ملګری شی مثلاً تا نه د مونځ کولو طلب اُوکړی نو که دے سره اراده کونی ملګری شی فیصله اُوکړی او توفیق درکړی نو تهٔ به ئے اُوکړے او که دا اراده کونی ورسره ملګرے نشوه، قوت او توفیق ئے درنکړو۔ او مطالبه درنه کوی نو اُوبه ئے نکړے۔ دارنګه الله تعالیٰ پدے رضا دے چه دکافر دِے نهٔ سترګی وی او نهٔ غوږونه او نهٔ د هغه بنهٔ حالت لیکن الله تعالیٰ کوناً دا اراده کړے ده چه دنیا د امتحان ځائے دے، پریده چه ځانله سرکشی زیاته کړی۔ نو دلته د مشیت نه د الله تعالیٰ کونی اراده مراد ده۔ نو داسے معنیٰ کول صحیح نهٔ دی چه که د الله تعالیٰ رضا شوے وے۔ بلکه د ارادے معنیٰ ده۔

لَذَهَبَ بِسَمۡعِهِمۡ : ځکه چه غوږونه او سترګے خو ددے دپاره دی چه دا به د الله تعالیٰ دپاره استعمالولے شی او دوی ترے د دنیا فائدے واخستے نو الله تعالیٰ د بندګانو پداسے اندامونو څه کوی نو لائق د ختمولو دی۔ لیکن الله تعالیٰ ورته صبر کړیدے۔

هرکله چه په منافقانو باندے د ایمان تولے لارے بندے شوے، معنوی طور سره کانړهٔ، ګونګیان او ړاندهٔ شو نو الله تعالیٰ هغوی ته اُوس نوره دهمکی بیانوی چه که الله تعالیٰ غوختلے نو د دوی دظاهری غوږونو او سترګو طاقت به ئے ترے اخستے وے۔ ځکه دا قوتونه خو دے دپاره وو چه الله تعالیٰ پرے اُوپیژنی او دوی هغه پدے کښ استعمال نهٔ کړل نو لائق دی چه دا سترګے او غوږونه ترے واخستے شی لیکن الله تعالیٰ فرمائی : ما دوی ته صبر کړے، ګنے زهٔ ئے اُوس هلاکوم، او پدے نهٔ هلاکولو کښ حکمة دے چه څه زمانے پورے ورته صبر کوی، پریده چه دوی د دنیا فائدے واخلی۔

او دارنګه پدے دهمکی ورکولو کښ دا حکمة دے چه شاید دوی د بعض شرارتونو او

منافقانه چالونو نه منع شی۔ ځکه الله تعالیٰ خو د بندګانو خیرخواهی هم کوی، سو چه ردونه نۀ کوی بلکه د الله تعالیٰ رد هم د اصلاح دپاره وی۔

فائده : دلته ئے مشیئت متعلق کړو د بوتللو د سمع او ابصار پورے نۀ د مرګ پورے۔ یعنی داسے ئے اُونۀ ویل چه دوی به مړه کړی بلکه داسے ئے اُووئیل چه غوږونه او سترګے به ترے واخلی۔ ددے حکمة دا دے چه مرګ یو عام شے دے، هر سړے یقین لری چه دا به په هر چا راځی نو دے کښ دومره یره نۀ ده پرته او بوتلل د غوږونو او سترګو کښ یره ډیره پرته ده۔ او د مرګ نه بچ کیدل د بندګانو په قدرت کښ نشته او هرچه د غوږونو او سترګو بچ کول دی نو انسان ددے حفاظت کولے شی چه اسباب د نجات اختیار کړی۔

(۲) دویم : دوی د مرګ نه ځان پدے طریقه ساتلو چه غوږونه او سترګے به ئے بندے کړے نو ځکه ئے نسبت د بوتلو دے ته اُوکړو۔ چه دغه څیزونه چه تاسو پرے ځان د مرګ نه ساتئ همدغه به درله ختم کړم۔ [تفسیر ابن عرفة]۔

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْر : دا دفع د وهم ده چه الله تعالیٰ به دا اندامونه ترے څنګه بوزی؟، نو جواب اُوشو چه الله تعالیٰ په هر شی قادر دے۔ هسے دهمکی نۀ ورکوی۔ لکه د ډیرو خلقو وسع نۀ کیږی او هسے دهمکیانے ورکوی۔ نو الله تعالیٰ داسے نۀ دے۔

(شیء) د شیء اطلاق په الله تعالیٰ او په مخلوق تولو باندے کیږی لکه الله تعالیٰ ته شیء وئیلے شویدے۔ (لَیْسَ شَیْءٌ اَغْیَرَ مِنَ اللّٰهِ) (لَیْسَ شَیْءٌ اَحَبَّ اِلَیْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللّٰهِ) [بخاری : ۴٦٣٧]

قرآن کریم کښ دی : (قُلْ اَیُّ شَیْءٍ اَکْبَرُ شَهَادَةً قُلِ اللّٰهُ) (انعام : ۱۹)

نو په جمله خبریه کښ د شے اطلاق په الله تعالیٰ کیږی، اګرکه دا ئے اسم (نوم) نۀ دے۔ او دغه شان د شخص اطلاق هم په الله تعالیٰ شویدے۔

شَیْء : د شَاءَ یَشَاءُ نه دے، هرهغه شے چه د هغے اراده کیدے شی۔

د اهل السنة والجماعة عقیده دا ده چه دلته د شیء نه مراد ماسویٰ د الله تعالیٰ نه دے۔ او الله تعالیٰ ددے نه مستثنیٰ دے په استثناء عقلی او استثناءِ شرعی سره، ځکه چه شریعت کښ داسے نۀ دی وئیل شوی چه (اَللّٰهُ قَادِرٌ عَلٰی نَفْسِه) ۔ځکه پدے کښ سوءِ ادب دے۔

فائده : د آیت نه عموم قدرت د الله تعالیٰ معلوم شو چه الله تعالیٰ په ایجاد د معدوم

شی او اعدام د موجود شی باندے قادر دے دارنګه نیك بد ته اړول او بد نیکی ته راړولو باندے الله تعالیٰ قادر دے نو معلومه شوه چه د شی اطلاق په موجود هم کیږی او په معدوم هم او الله تعالیٰ په دواړو قادر دے۔

قدیر: فعیل وزن دے په دے کښ مبالغه زیاته ده د قادر نه۔ انسان هم قادر دے لیکن د هغه قدرت معدود او محصور دے۔ یو اندازے پورے دے او په اسبابو دے۔ او د الله تعالیٰ د قدرت مقدار او حد نشته، بندګانو ته پوره نهٔ دے معلوم، اوبے اسبابو قادر دے۔ او پدے قرآنی صفاتو د الله تعالیٰ باندے یقین پکار دے او دا چه کله د انسان په زړه کښ راشی نو د انسان زړه جوړ شی۔ایمان ئے برابر شی۔ د توکل ماده پکښ پیدا شی۔

کله چه د بنده دا عقیده جوړه شی چه الله تعالیٰ په هر شی قادر دے، قدرت د هغه په لاس کښ دے۔ هیڅ شے د هغه د قدرت نه بهر نهٔ دے، نو یو به په الله تعالیٰ باندے توکل کوی، او بل به د مخلوق نه نهٔ پریشانه کیږی، د هغوی د لاپو او د همکیانو نه به نهٔ یریږی چه قدرت خو د الله تعالیٰ سره دے۔ او د اسباب د ختمیدو وخت کښ به نهٔ پریشانه کیږی، ځکه چه الله تعالیٰ قادر دے په بله طریقه به الله تعالیٰ دغه حاجت پوره کړی۔

حاصل المثال : بعض مفسرینو تشبیه المفرد بالمفرد طریقے سره لګولے دے۔ اَلْبَرْقُ نه مراد دلائل د قرآن دی، او خطف الابصار کنایه ده د ایمان راوړونه چه دلائل د قرآن په دوی غلبه اُوکړی او ایمان ته ئے جوړ کړی۔ لکه مخکښ موت کنایه وه د ایمان راوړلو نه۔دا تفسیر خازن وغیره وئیلی دی۔ [يَكَادُ دَلَائِلُ الْقُرْآنِ اَنْ تَجْعَلَهُمْ مُؤْمِنِيْنَ]

(نزدے دی دلائل د قرآن چه اُوګرځوی دوی لره مؤمنان) یعنی د قرآن دلائل دومره سخت او قوی دی چه نزدے ده چه دوی نه مؤمنان جوړ کړی او هغه ایمان د دوی په نیز داسے دے لکه نظر تختول لکه بعض خلقو ته ایمان راوړل داسے بد او سپك ښکاری ګویا کښ ته ترے غوږونه او سترګے اخلی او وژنے هغه لره۔

(۲) پدے کښ راجح دا ده چه دا د تشبیه المرکب بالمرکب سره لګی : یعنی دغه باران داسے سخت وی چه نزدے ده چه بریخنا د دغه باران د دوی نظرونه واړوی نو غوږونو ته ئے هم تکلیف او سترګو ته ئے هم تکلیف دے نو پدے کښ اشاره ده چه کله قرآن کریم او د هغے احکام نازلیږی نو د دوی سترګو ته هم تکلیف وی او غوږونو ته هم۔ لکه دا

روستــو سورة محمد (۱۹) کښې راغلي دي۔ (فَاِذَآ اُنۡزِلَتۡ سُوۡرَةٌ مُّحۡكَمَةٌ وَّذُكِرَ فِيۡهَا الۡقِتَالُ رَاَيۡتَ الَّذِيۡنَ فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ يَّنۡظُرُوۡنَ اِلَيۡكَ نَظَرَ الۡمَغۡشِىِّ عَلَيۡهِ مِنَ الۡمَوۡتِ)

(یعنی کله چه یو سورت کښې د قتال حکم راشي نو دوی به تاته داسې ګوری لکه د مرګ د وجه نه چه پریې بې هوشي راغلې وی) او په سورة الاحزاب (۱۹) کښې دی (تَدُوۡرُ اَعۡيُنُهُمۡ كَالَّذِىۡ يُغۡشٰى عَلَيۡهِ مِنَ الۡمَوۡتِ) (سترګې به ئې داسې اوړی راوړی لکه د هغه سړی په شان چه د مرګ د وجه نه پریې بې هوشي راغلې وی) نو د قرآن کریم احکامو ته ددې منافقانو سترګې هم تیارې نۀ دی او غوږونه ئې هم۔

د كُلَّمَا اَضَآءَ حاصل دا دې چه د اَضَاءَ نه مراد فائده ده یعنی که اسلام کښې ورته فائده ښکاری نو ورته تیار وی او اذا اظلم نه مراد نقصان او ضرر دې۔ چه حاصل ئې دا دې چه که دین کښې ورته فائده نۀ ملاویده او بل ځائې کښې ورته ملاویده نو اسلام پریدی او هغه طرف ته اوړی لکه ددې معنې تائید په آیت د سورة النساء (۷۰) کښې راغلې دې۔ (د قرآن کریم یو آیت د بل تفسیر کوی) (وَاِنَّ مِنۡكُمۡ لَمَنۡ لَّيُبَطِّئَنَّ، فَاِنۡ اَصَابَتۡكُمۡ مُّصِيۡبَةٌ قَالَ قَدۡ اَنۡعَمَ اللّٰهُ عَلَىَّ اِذۡ لَمۡ اَكُنۡ مَّعَهُمۡ شَهِيۡدًا وَلَئِنۡ اَصَابَكُمۡ فَضۡلٌ مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُوۡلَنَّ كَاَنۡ لَّمۡ تَكُنۡۢ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيۡتَنِىۡ كُنۡتُ مَعَهُمۡ فَاَفُوۡزَ فَوۡزًا عَظِيۡمًا) او که منافقانو ته یو جهاد کښې فائده ښکاری نو بیا وائی : (ذَرُوۡنَا نَتَّبِعۡكُمۡ) (الفتح :۱۵) (مونږه ځان سره پریدئ چه مونږ هم درسره لاړ شو) او که د تبوك په شان ګرانه غزا وی نو بیا وائی۔ (ائۡذَنۡ لِّىۡ وَلَا تَفۡتِنِّىۡ) (التوبة :۴۹) (ما ته اجازه اُوکړئ چه پاتې شم او فتنه کښې واقع نشم) او سورة الحج (۱۱) آیت کښې فرمائی : (وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يَّعۡبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرۡفٍ فَاِنۡ اَصَابَهٗ خَيۡرُ ۨاطۡمَاَنَّ بِهٖ وَاِنۡ اَصَابَتۡهُ فِتۡنَةُ ۨانۡقَلَبَ عَلٰى وَجۡهِهٖ)

(بعض خلق د الله تعالیٰ بندګی په شك او طرف باندې کوی که خیر ورته ورسیږی نو په دین کلك شی او که فتنه (امتحان) او مصیبت پرې راشي نو بیا په خپل مخ واوړی) نو دا غټ تاوانیان دی۔ دارنګه سورة النور (۴۹) کښې راغلي دی۔ (وَاِنۡ يَّكُنۡ لَّهُمُ الۡحَقُّ يَاۡتُوۡۤا اِلَيۡهِ مُذۡعِنِيۡنَ) (که په شریعت کښې د دوی دپاره حق ثابتیږی نو په منډه ورله راځی او که دوی ته نقصان وی نو بیا ترې اعراض کوی)۔

نو کوم انسان چه په وخت د نعمتونو او فائدو لیدو کښې په دین باندې عمل کوی او په وخت د مصیبتونو کښې ئې نۀ کوی نو دیته نفس پسندی او خود پسندی او اتباع الهوی

(د خواهش تابعداری) وائی۔ او دا بعینه منافقت دے۔ او مؤمن له که څوك څه ورکوی او که نهٔ ئے ورکوی نو په ټولو حالتونو کښې په دین کلك وی، که څوك څه ورکوی هم قرآن وائی او که نهٔ ئے ورکوی نو هم ئے وائی۔ نو دا حق پرست دے۔ ځکه چه دا خپله ذمه واری ګنړی، او که څوك دا وائی چه که د دین فلانی کار کښې مال ملاویږی نو کوم، او که نهٔ ملاویږی، نو نهٔ ئے کوم، نو دهٔ کښې به د منافقت نخه موجوده وی، جنازه کښې که اسقاط وی نو ځم، او که نهٔ وی نو نهٔ ځم، دا نفاق دے۔ دغه شان نور مثالونه واخله۔

او په حدیث کښې هم راغلی دی چه یو اعرابی راغلو بیعت ئے اُوکړو، څو ورځے پس راغلو د مدینے تبو وهلے وو، وے وئیل : [يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَقِلْنِيْ بَيْعَتِيْ] (زهٔ خپل بیعت اخلم) او لوظ ماتوم، نو رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل : زهٔ ستا بیعت نهٔ واپس کوم۔ دریے ځل راغلو لیکن کله چه رسول الله ﷺ ورله بیعت مات نکړو نو اُوتختیدو، نو پدے رسول الله ﷺ اُوفرمایل : [اَلْمَدِيْنَةُ كَالْكِيْرِ تَنْفِيْ خَبَثَهَا وَتَنْصَعُ طِيْبَهَا]

[بخاری : ۹۷۲ ومسلم : ۳٤۲۱]

(مدینه د بټۍ په شان ده چه خپله پلیتی او ګندګی ختموی او پاك خلق پریدی)۔

فائده : که عبادت خوند درکوی او که نهٔ خو کول ئے پکار دی، دا نښه د ایمان ده او که خوند نهٔ درکوی او تهٔ ئے پریدے نو دا نښه د نفاق ده۔ (۲) په زړه کښې منافقت په دوه اسبابو راځی ۱- غم د ایمان نکول۔ ۲- عبادات او اعمال نکول۔ (۳) ظاهری نعمتونه ددے دپاره دی چه بندګی پرے اُوشی چه هغه نهٔ وی نو بیا په نعمتونو څه ؟۔

يٰۤاَيُّهَاالنَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ
اے خلقو! بندګی اُوکړئ د رب خپل هغه ذات چه تاسو ئے پیدا کړی یئ
وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۲۱﴾
او هغه کسان چه ستاسو نه مخکښے وو۔ دے دپاره چه تاسو بچ شئ (د عذاب د الله نه)۔

تفسیر :

دلته یو څو ابحاث دی۔ حاصل الآیات تر یو رکوع پورے (۲) ربط او مناسبت د آیتونو

د ماقبل سره۔ (۳) او تفسیر او فوائد د آیتونو۔

(۱) حاصل د آیتونو دا دے چه پدے اول آیت کښې امر دے په عبادت د الله تعالیٰ او ورسره دوه قسمه توحیدونه ئے بیان کړیدی چه هغه توحید ربوبیت او توحید اُلوهیت دے چه دا د ایمان سره متعلق دے۔ چه الله تعالیٰ ستاسو رب او پالونکے دے، تاسو له رزقونه او ډوډئ ګانے درکوی نو راشئ بندګی هم د هغه اُوکړئ۔ (توحید الالوهیة او توحید العبادة یو شے دے۔ او توحید ربوبیت او توحید معرفة یو شے دے) یا داسے تعبیر هم کولے شی چه پدے کښې د الله تعالیٰ د معرفت بیان دے په دلائل عقلیو سره۔ چه متعلق دے د یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ سره۔ چه ایمان دِے په الله تعالیٰ راوړو نو د هغه بندګی به کوے، او هغه غیب ذات باندے دلائل شته۔ او بیا (فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا) کښې تفریع ده د رد الشرك چه په الله تعالیٰ باندے صحیح ایمان او توحید دا دے چه د هغه سره به شریکان نهٔ جوړوی۔ او په (۲۳) آیت کښې بیان دے د صدق القرآن والرسول چه دا هم د ایمان سره متعلق دے۔ چه هرکله دِے په الله تعالیٰ ایمان راوړو نو قرآن او رسول به هم منے۔ بیا په (فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا) کښې تخویف اُخروی (د آخرت یره) بیانوی چه چا کښې ایمان نشته نو د هغه دپاره اُور تیار دے۔

بیا ئے په (وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ) کښې بشارت (زیرے) ورکړیدے مؤمنانو ته په خلورو طریقو سره چه یُؤْمِنُوْنَ بَالْغَيْب والا دی۔ او د هغه کامیابئ بیان دے کومه چه ایمان والو دپاره ده۔ چه هغه جنت ته همیشه داخلیدل دی۔ ګویا که دلته ئے ټول ایمانیات جمع کړیدی چه الله، رسول، قرآن، جنت، جهنم باندے ایمان راوړئ۔

بیا په (۲۶) آیت کښې بیان حکمة الامثال راوړی۔ (قرآن کریم کښې مثالونه ولے بیانیږی؟) دا یو عنوان دے، دویم دا مقصد هم پکښې دے : جَوَابُ اِعْتِرَاضِ الْمُعْتَرِضِيْنَ عَلَى الْقُرْآنِ ۔ یعنی څوك چه په قرآن کریم اعتراض لری نو د هغوی جواب بیانوی، دے دپاره چه ددے اعتراضونو په وجه د مؤمنانو ایمان په قرآن کریم خراب نشی۔

او حکمة الامثال دا دے چه بعضو ته هدایت کوی او بعضے پرے ګمراه کوی) او کوم چه پرے ګمراه کیږی نو هغه فاسقان خلق دی، بیا د فاسقانو درے صفات بیانوی بیا (كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ) نه روستو ذکر د څلورو نعمتونو کوی ۱-اول نعمت چه اے بندګانو. تاسو نهٔ وئ نو دنیا ته ئے راوستئ۔

٢- د زمكے تول څيزونه ئے ستاسود فائدے دپاره پيدا كړل. ٣- آدم عليه السلام (چه ستاسو پلار دے) الله تعالىٰ د زمكے خليفه جوړ كړيدے. او مسجود له د ملائكو دے.
٤- (فَتَلَقّٰى آدَمُ) كښې دى چه الله تعالىٰ د آدم عليه السلام توبه قبوله كړے ده. دا تول متعلق دى ددے سره چه دا انعامات تاسو سره الله تعالىٰ پدے وجه كړيدى چه د الله تعالىٰ بندگى به يواځے كوئ. او دارنگه ددے تعلق د موضوع السورة (ايمان) سره دے چه كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ. ايمان به ضرور راوړے او د كفر هيڅ عذر نشته، ځكه دے انعاماتو ته اُوگورئ، ددے انعاماتو تقاضا دا ده چه ايمان به خامخا راوړئ او پدے كيف تكفرون كښې د الله تعالىٰ د معرفت تذكره هم ده او د انعاماتو هم. تفصيل ئے روستو رازى.
مناسبت : (١) [فِيهِ دَعْوَةُ الطَّوَائِفِ الثَّلَاثَةِ الْمَذْكُورَةِ اِلَى عِبَادَةِ اللّٰهِ تَعَالىٰ]
(پدے آيت كښې الله تعالىٰ درے واړو مخكنو ډلو ته د عبادت دعوت وركوى).
(٢)- دويم مناسبت د مخكښې اجمالى حاصل نه معلوميږى چه دا متعلق دے د يؤمنون بالغيب سره چه په دغه غيب دلائل شته راشئ واورئ.
(٣) دريم مناسبت دا دے چه دا متعلق دے د هدى للمتقين سره، قرآن هدايت دے، د هدايت لاره تقوىٰ ده او د تقوىٰ لاره عبادت دے. يا داسے اُووايه چه قرآن هدايت دے، د هدايت د حاصلولو سبب تقوىٰ ده او د تقوىٰ د حاصلولو سبب عبادت دے او د عبادت د حاصلولو سبب فكر كول دى په نعمتونو كښې. پدے مناسبت كښې عظيمه فائده پرته ده ځكه چه چل خودلے شويدے د تقوىٰ او د هدايت.
(٤) څلورم مناسبت د صفات المنافقين سره دا دے چه منافقان ولے بے نوره شو ځكه چه دوى بندگى پريخوستے ده. (٥) جزئى مناسبت د (قدير) سره هم دے چه دلته بيان د قدرت د الله تعالىٰ دے په هر څه باندے. ولله الحمد.
(٦) د موضوع د سورت سره ئے مناسبت دا دے چه دلته د ايمان بالغيب دلائل او مقوّيات بيانيږى او د ايمانياتو تفصيل دے.
دارنگه د ايمان شرعى مصداق بيانيږى چه بلا اِشراكه د الله تعالىٰ بندگى كول ايمان بالغيب دے كه څوك شرك كوى هغه په الله تعالىٰ مؤمن نهٔ دے.

فوائد الآيات

(يَا اَيُّهَا النَّاسُ) داسے خطاب قرآن كريم كښې اتلس (١٨) كرته راغلے دے.

پدے کښې "زاد المسیر" څلور اقوال نقل کړیدی : ۱- چه څوك وائی صرف یهودو ته خطاب دے. ۲- څوك وائی منافقان او یهودو ته خطاب دے.
۳-څوك وائی چه د عربو عامو مشرکانو ته خطاب دے.
٤- عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه یا اَیُّها النَّاسُ مکے والو ته خطاب وی. او یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ آمَنُوْا مدینے والو ته. ددے روایت سند ضعیف دے،
او دارنګه د قرآن کریم نه هم خلاف دے ځکه سورة النساء او سورة الحجرات بالاتفاق مدنی دی او په هغے کښې خطاب یا ایها الناس راغلے دے.
پدے کښې صحیح دا ده چه دا ټول بنی نوع انسانانو ته خطاب دے، که موجود وو په هغه زمانه کښې او که معدوم وو. [تَنْزِیْلًا لِلْمَعْدُوْمِ مَنْزِلَةَ الْمَوْجُوْدِ]
(معدوم خلق ئے په منزله د موجود فرض کړیدی) یعنی اے ټولو خلقو! مکے والا دی، که مدینی والا ، عرب دی که عجم، پیدا شوی دی، که لا نهٔ دی پیدا شوی. دے ټولو ته خطاب دے، بندګی اُوکړئ د رب خپل، هر قسم بندګیانے. او په دوهو که کښې مهٔ راځئ او د خپل پیدائش مقصد هیر نهٔ کړئ او په کبر او غرور کښې مهٔ راځئ او د الله تعالی بندګی ته تیار شئ نو دا د الله تعالی حکم دے مونږ ته چه بندګی اُوکړو او خاص هغه دپاره ئے اُوکړو، څوك چه عبادت نهٔ کوی نو دا چه کوم مقصد له پیدا دے هغه ئے مُهمل (بیکاره) کړو، او څوك چه بندګی کوی خو د الله تعالی نه ماسوا د بل دپاره ئے کوی نو دهٔ هم خپل مقصد اُونهٔ پیژندلو. او دریمه خبره روستو راځی چه د پیغمبر په طریقه به وی (وَاِنْ کُنْتُمْ فِیْ رَیْبٍ) سره اسره ده دے ته.
او دا خطاب ځکه عام دے چه د رسول الله ﷺ بعثت او دعوت ټولو بندګانو ته تر قیامته پورے عام او شامل دے. نو دا دلیل دے چه د رسول الله ﷺ نه روستو بل نبی نهٔ راځی ځکه داسے عام خطاب قرآن کریم کښې ذکر کیږی.
تنبیه : دا خطاب په ظاهر کښې انسانانو ته دے. لیکن پدے کښې جنات (پیریان) هم داخل او مراد دی، هغوی ته هم د الله تعالی د بندګئ دعوت دے. ځکه چه په قرآن او حدیث کښې خطاب انسانانو ته کیږی، دا اصل دی او پیریان د دوی تابع دی، لکه څنګه چه سړو ته خطاب کیږی او ښځے د هغوی تابع وی.
او دلیل پدے دا دے چه په بعض آیتونو کښې الله تعالی دواړو طرفته خطاب کوی لکه

(سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَا الثَّقَلَانِ، فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ)۔

دلته پیران او انسانان دواړه مراد دی۔

بیا پدے آیت کښ الله تعالیٰ تولو بندګانو ته دعوت د خپل عبادت ورکړیدے په دوه طریقو (۱) بِإِقَامَةِ الْبَرَاهِيْنِ : دلائل ئے قائم کړیدی۔ چه الله تعالیٰ مستحق د عبادت دے۔ (۲) مُلَاطَفَةً جَمِيْلَةً : ښائسته نرمے لهجے سره الله تعالیٰ بندګانو ته د خپلے بندګئ دعوت ورکړیدے او خپل حقونه ئے پرے شمارلی دی چه ولے زهٔ ستاسو او ستاسو د مشرانو رب نهٔ یم څه ؟۔

(**اُعْبُدُوْا**) د عبد الله بن عباس ﷺ نه نقل دی : [كُلُّ عِبَادَةٍ فِي الْقُرْآنِ فَهُوَ التَّوْحِيْدُ] (یعنی وَحِّدُوْا رَبَّكُمْ) (هر عبادت د الله تعالیٰ چه په قرآن کریم کښ ذکر دے نو د هغے نه مراد توحید دے) ددے معنیٰ دا نهٔ ده لکه د بعض خلقو په ذهن کښے ده چه د باباګانو او د قبرونو او بتانو عبادت یو انسان نهٔ کوی او هغوی ته سجده نهٔ لګوی، رامدد شه ورته نهٔ وائی نو بس دا به توحید وی، نهٔ بلکه ددے معنیٰ دا ده : (إِفْرَادُ اللّٰهِ بِالْعُبُوْدِيَّةِ) (یعنی بندګی یواځے الله تعالیٰ لره کول)۔

د قتاده رحمه الله نه نقل دی چه صحیح عبادت کونکے هغه دے چه درے شرطونه پکښ وی (۱) عبادت به کوی، د الله د بندګئ نه به اعراض او غفلت نکوی (۲) دویم یواځے الله تعالیٰ دپاره به کولے شی۔ د مخلوق، بابا، ولی، بت د عبادت حقدار او لائق نهٔ دے۔ اګرکه هرڅو مره بزرګ او نیك وی۔

(۳) دریم دا چه د الله تعالیٰ د رسول ﷺ په طریقه به وی۔

نو د ابن عباس ﷺ غرض هم دا دے چه عبادت یواځے الله تعالیٰ لره بندګی کولو ته وائی۔ نو پدے کښ اشاره دے ته وه چه مشرکانو به هم الله تعالیٰ لره عبادت کولو لیکن هغه عبادت نهٔ دے ځکه چه خپلو معبودانو او باباګانو له به ئے هم پکښ برخه ورکړے وه۔ نو دا په منزله د نشت دے۔

د عبادت معنیٰ او تحقیق مخکښ ذکر شویدے۔ چه محبت او ذلت ته وائی۔ او ددے ډیر افراد او انواع دی۔

د **شیخ الاسلام** ابن تیمیهٔ نه تپوس شویدے چه کوم کار عبادت دے چه انسان هغهٔ اُوکړی نو عابد بنده جوړ شی، نو هغه پدے باندے مفیده رساله (اَلْعُبُوْدِيَّةَ) اُولیکله چه د

دین هر نیك كار د الله تعالیٰ عبادت دے۔ لکه مونځ، زکوٰة، روژه، حج، امر بالمعروف، نهي عن المنکر، جهاد، دعوت، صله رحمي، صدقه، حسن الخلق، ذکر، تلاوت د قرآن کریم، احسان د ګاونډیانو سره، احسان اِلٰی خَلْقِ الله (د ټول مخلوق سره احسان تردے چه حیواناتو سره هم) (اِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ الْاِحْسَانَ عَلٰی كُلِّ شَيْءٍ)،

عَدَمُ الْاِيْذَاء (چا ته ضرر نۀ ورکول) لکه حدیث کښې دی چه څوك غلے کینی او چا ته ضرر نۀ ورکوی دا هم صدقه ده۔ دارنګه خدمت کول، دارنګه باطني صفات شو۔ لکه صبر، شکر، توکل، توبه، انابت، قنوت، محبة الله (د الله تعالیٰ سره محبت)،

مَحَبَّةُ الصَّالِحِيْن (د نیك عملو خلقو سره مینه ساتل) زِيَارَةُ الْاِخْوَان ۔ او زِيَارَةُ الْاَقَارِب (د مسلمانانو ورونو او خپلوانو ملاقات له د الله تعالیٰ د رضا دپاره تلل) دا هم عبادت دے چه ډیر خلق ددے نه غافل دی۔ عِيَادَةُ الْمَرِيْض ، (بیمار پرسی) اِتِّبَاعُ الْجَنَائِز (جنازه کول) اَلسَّلَامُ وَرَدُّهٗ۔ (سلام اچول او د هغے جواب ورکول) اِجَابَةُ الدَّعْوَة ۔ (د دعوت قبلول)، تَشْمِيْتُ الْعَاطِس۔ (پرنجي کونکی ته يَرْحَمُكَ الله وئيل)

په ابتداء کښې ئے وئیلي دی :

[فَالْعِبَادَةُ هِيَ اسْمٌ جَامِعٌ لِكُلِّ مَا يُحِبُّهُ اللّٰهُ وَيَرْضَاهُ مِنَ الْاَقْوَالِ وَالْاَعْمَالِ الظَّاهِرَةِ وَالْبَاطِنَةِ]

(عبادت یو جامع نوم دے د هر هغه شي چه الله تعالیٰ ئے خوښوی او هغه ته پسند وی که اقوال او اعمال ظاهري وی او که باطني۔

بیا ئے تفصیل کړیدے او آخر کښې ئے حاصل داسے راویستلے دے۔

(كُلُّ مَا يَرْضَى اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى بِهٖ وَالْاِجْتِنَابُ عَنْ كُلِّ مَا يُسْخِطُهُ اللّٰهُ)

(هر هغه شے چه الله تعالیٰ پرے رضا کیږی د هغے کول او د هر هغه شی نه ځان ساتل چه الله تعالیٰ پرے خفه کیږی)

دا ټول عبادتونه دی۔ تردے چه مباح کارونه په نیك نیت باندے کول هم عبادت جوړیږی۔ بیا په بنده باندے لازم دی چه ددے ټولو عبادتونو نه به حصه اخلی۔

ربکم : **فائده** : دلته ئے رب لفظ راوړو نۀ الله لفظ، ځکه چه پدے سره ارتباط راځی د اُعْبُدُوْا سره۔ یعنی عبادت ځکه اُوکړئ چه هغه ستاسو رب دے، ستاسو تربیت کوی۔ نو ګویا کښې دا دلیل شو د اُعْبُدُوْا دپاره۔ او که لفظ د (اُعْبُدُوا الله) ئے وئیلي وے، نو دلیل به نۀ جوړیدو۔

(**خَلَقَكُمْ**) **فائده** : خلق لفظ ئے راوړو [اِمۡتَنَّ بِالۡخَلۡقِ] الله تعالیٰ په بندګانو باندے د خلق (پیدائش) احسان اُوکړو ددے څهٔ حکمة دے ؟ نو ددے یو څو حکمتونه دی :

(۱) اول دا چه [اَلۡخَلۡقُ اَصۡلٌ لِجَمِيۡعِ النِّعَمِ] (پیدائش د ټولو نعمتونو سردار دے) ټول نعمتونه په پیدائش باندے مرتب دی، چه انسان پیدا نهٔ شی نو څه به اُوخوری او څه به استعمال کړی۔ ځکه ئے ددے نعمت تخصیص اُوکړو۔

(۲) مشرکان او کافران د الله په خالقیت اقرارکولو، چه الله تعالیٰ زمونږ خالق دے۔ (او پدے باندے تقریباً ټول عالَم اقرار کوی) نو پدے کښ احسان دے په هغهٔ نعمت سره چه کفارهم پرے اقرار کوی نو پدے سره به دلیل اُونیسی پدے چه هرکله الله تعالیٰ خالق ګنړئ نو د هغهٔ دپاره بندګی هم خاص کړئ۔

﴿ وَالَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ ﴾ : دا ئے پسے د دفع د وهم دپاره اُووئیلو چه الله تعالیٰ ستاسو خالق دے، نو د پخوانو هم خالق دے دا مه وایئ چه مونږ پلارانو او نیکونو پیدا کړی یو۔ ځکه ستاسو مشران چا پیدا کړیدی، هغه هم د الله تعالیٰ مخلوق وو۔ لکه ډیر خلق د اولیاؤ عبادتونه کوی چه دا مونږ له رزق، صحت او برکت راکوی۔ نو هغوی له رزق او صحت چا ورکړے وو؟۔

(**لَعَلَّكُمْ**) لعل : په معنیٰ د رجاء او شك سره استعمالیږی۔ نو د الله تعالیٰ دپاره رجاء او شك څنګه استعمال شی ؟

نو جواب دا دے چه دا شك او رجاء په نسبت د بندګانو سره دے۔ یعنی (عَلٰی رَجَاءٍ مِنۡكُمۡ) یا (رَاجِيۡنَ التَّقۡوٰی) یعنی تاسو د تقویٰ امید د الله تعالیٰ نه اُولرئ۔

(۲) قرطبؒ او طبریؒ او ابن منظورؒ وئیلی دی چه لعل د الله په کلام کښ په معنیٰ د ګیٔ سره دے معنیٰ ئے ده (دے دپاره)۔

(۳) دریم د ابو البقاءؒ نه نقل دی چه لعل په معنیٰ د تعرض سره هم راځی۔ (یعنی مُتَعَرِّضِيۡنَ لِلتَّقۡوٰی) یعنی د عبادت په وجه ځان پیش کړئ تقویٰ ته)۔

پدے کښ د قرطبؒ تفسیر غوره دے۔

بیا لعل : د چا سره متعلق دے۔ ۱- یو دا چه دا علت دے د (اعبدوا) دپاره۔ بندګی ولے اوکړئ ؟ علت دا دے چه تاسو کښې تقویٰ راشی۔ نو بیا پدے باندے سوال دا دے چه عبادت هم تقویٰ ده نو یو شے د ځان دپاره څنګه علت اُوکرځی؟۔ **جواب** دا دے چه تقویٰ

د عبادت اعلیٰ درجه ده او دا ئے غایه ده۔ او عبادت ئے لاندے درجه ده۔ یعني عبادتونه کوئ کوئ تردے چه د تقویٰ اعلیٰ درجے او آخر سر ته اُورسیږئ۔

(۲) یا د خلقکم سره متعلق دے یعني تاسو ئے د تقویٰ دپاره پیدا کړی یئ۔ دا ستاسو د پیدائش مقصد دے۔ (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ) (الذاريات :٥٦)

(۳) دریم دا چه د دواړو دپاره علت او غایه دے او پدے کښ هیڅ منافات نشته۔ وهو الظاهر۔

تَتَّقُوْنَ : د تقویٰ دوه معنے دی (۱) تقویٰ لغوی۔ دا په معنیٰ د بچاؤ دے نو معنیٰ به دا وی (دے دپاره چه بچ شئ د الله تعالیٰ د عذاب نه) ځکه چه د الله تعالیٰ د عذاب نه بچاؤ صرف د هغه په بندګئ راځي۔ نو دا به بیا علت وی دپاره د اعبدوا۔ نهٔ د خلقکم۔

(۲) دویم تقویٰ شرعی ده۔ چه د الله تعالیٰ د اَوامرو تابعداری او د نواهی نه ځان ساتل۔ او قرآن کریم کښ به غالباً همدا معنیٰ مراد وی۔ ځکه الفاظ شرعی به غالباً په شرعی معانیو حمل کولے شی۔ یعني د الله عبادت ځکه اُوکړئ چه تاسو کښ تقویٰ راشي۔ او صحابه کرامو د تقویٰ معنیٰ او فائدے پیژندلے وے، نو کله چه به ورته اُووئیلے شو چه پدے عمل سره تقویٰ پیدا کیږی نو هغوی به ورته منډه وهله، ځکه په عام احکامو کښ روستو لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ذکر کوی۔ روژے باره کښ فرمائی : (لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ)

معلومه شوه چه تقویٰ الله تعالیٰ ته ډیره محبوبه ده ځکه د هر شی غایه ئے ګرځولے ده نو هر مسلمان له ددے کوشش پکار دے۔

فائده : هر عبادت چه سړی کښ تقویٰ پیدا نکړی نو دا عبادت مدخول دے او څه فساد پکښ ضرور شته دے ځکه (اَلْعِبَادَةُ تُرَادُ لِلتَّقْوٰى) ۔عبادت خو د تقویٰ پیدا کولو دپاره کولے شی)۔دے باندے فکر اُوکړه نو عبادتونه به ډیر صحیح شی۔

پدے صورت کښ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ د اُعْبُدُوْا دپاره هم علت ګرځیدل صحیح دی او د خَلَقَكُمْ دپاره هم۔ لکه چه مخکښ ذکر شو۔

اَلَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً
هغه ذات دے چه گرځولے ئے ده ستاسو دپاره زمکه فرش (خوره) او آسمان چهت،
وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ
او رالیږی د بره نه اُوبۀ، پس راویاسی په دے باندے د میوو (او غلو) نه،
رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾
دپاره د خوراك ستاسو، پس مۀ گرځوئ د الله دپاره شریکان، او تاسو پو هیږئ۔

تفسیر:

فائده : دے تـه دلائـل عقلیه وائی دا د الله د معرفت دلائل دی، د عقل دلائل دی، او دے ته نعمتونه هم وائی، قرآن کریم کښ دا ډیر بیانیږی د مختلفو مقاصد او فائدو دپاره :

(۱) [بَیَانُ تَوْحِیْدِ الرُّبُوْبِیَّةِ] (کله پکښ مقصود بیان د توحید ربوبیت وی چه دا اوله نوع د تـوحیـد ده، یـعـنـی دا عـقیـده ساتل چه الله تعالیٰ زمونږ خالق، مالك، رازق دے۔ او دا عقیده چه چا کښ نۀ وی نو هغه د الله تعالیٰ بندگی نۀ کوی بلکه هغه دهری کیږی۔

(۲) [بَیَانُ مَعْرِفَةِ اللّٰهِ] (کـلـه پـکـښ مقصود د الله تعالیٰ معرفت او پیژندگلی وی چه الله تـعـالیٰ داسے کارونه کوی) او دا هم د قرآن کریم د مسائلو نه مهمه مسئله ده ځکه قرآن کریم ددے دپاره نازل دے چه د الله تعالیٰ تعارف بندگانو ته اُوشی۔

(۳) دریم بَیَانُ النِّعَمِ : (د نـعـمتونو بیان پکښ مقصود وی، بیا دا نعمتونه کله د نعمت په شـکـل بیانوی چه کله د شکر بحث کیږی او کله د دلیل په شکل بیانیږی او نعمت پـکـښ ضمناً پروت وی لکه په کوم سورت کښ چه د ایمان او د الله تعالیٰ د معرفت بیان وی لکه دے مقام کښ شو۔

(٤) (رَدُّ الشِّرْكِ) (کله په کښ رد الشرك مقصد وی) چه الله تعالیٰ خو داسے داسے کارونه کړی نـو آیا ستاسو معبودانو داسے کارونه کړیدی (هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِیْ مَاذَا خَلَقَ الَّذِیْنَ

مِنْ دُوْنِهٖ) (لقمان : ۱۱) او پدے مقام کښې هم روستو (فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا) وائي۔
(۵) اِثْبَاتُ الْمَعَاد (په بعض ځایونو کښې الله تعالیٰ پدے دلائلو د قیامت اثبات کوی چه الله تعالیٰ په دنیا کښې داسے کارونه کړیدی نو قیامت به هم راولی۔ لکه سورة النبأ کښې ددے تفصیل راغلے دے۔
(٦) حافظ ابن القیمؒ ډیر ښهٔ تعبیر کړیدے : کله پکښې مقصود (جَلْبُ قُلُوْبِ الْعِبَادِ اِلَى اللّٰهِ) وی (یعنی د بندګانو زړونه خپل ځان ته راجلب کوی) پدے طریقه چه کله الله تعالیٰ د خپلو نعمتونو تذکره کوی دے دپاره چه د بندګانو د الله تعالیٰ نه امید پیدا شی او د هغه سره ئے تعلق پیدا شی۔ (۷)۔ (خَوْفُ الْعِبَادِ) او کله په دے دلائلو کښې د خپل قهر او زوروروالی تذکره کوی دے دپاره چه د بنده په زړه کښې خوف پیدا شی۔ او هغه زړه آباد دے چه په هغے کښې د الله تعالیٰ یره پیدا شی۔
(۸)۔ (اِثْبَاتُ عَظَمَةِ اللّٰهِ وَقُدْرَتِهٖ لِيُنِيْبَ وَيَتَوَكَّلَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ) (الله تعالیٰ خپل قدرت او عظمت بیانوی دے دپاره چه بنده هغه ته انابت اُوکړی او په هغه باندے توکل اُوکړی)
(۹) کله نعمتونه دے دپاره بیانیږی چه بنده د هغے شکر اُوکړی۔
(۱۰) او دے دپاره چه بنده کښې د حیاء ماده پیدا شی۔او پدے سره احسان درجے ته اُورسیږی۔ نو دے دلائل عقلیه ؤ نه الله رب العالمین ډیره فائده په قرآن کښې بندګانو ته ورکوی۔ دارنګه کله د اثبات الرسالة وعظمة الموحی کله دے دپاره چه الله تعالیٰ مخلوق عبث ندے پیدا کړے، عبادت له ئے پیدا کړے، کله د خشوع د پیدا کولو دپاره ذکر کیږی لکه په سورة المؤمنون کښې او خپل ځائے کښې به ئے ان شاء الله تعالیٰ مونږ بیانوو چه دلته څه مقصد دے۔ او دا د علومو د قرآن نه یو مهم علم دے، دا وجه ده چه قرآن کښې دلائل عقلیه د یو هزار نه زیات بیان شویدی، شپږمه حصه د قرآن دے باره کښې ده۔
قرآن کښے همیشه د دوه کتابونو تذکره وی (۱) یو کتاب مکنون (پټ ساتلے شوے) چه دیته قرآن وائی۔ (۲) او بل کتاب مفتوح (کولاؤ کتاب) چه دے ته کون (کائنات) وائي۔
او د بنده په زړه کښې چه صفات پیدا کیږی نو هغه پدے طریقه چه دا دلائل په ډیر سوچ او فکر سره اُولولی۔ دلته دا دلائل د اثبات د توحید عبادت او رد الشرك اود صحیح ایمان راوړو دپاره بیان شویدی۔

فائده ۲:-- د الله تعالیٰ د وجود دلائل

ډیرو مفسرینو ددے آیت نه د الله تعالیٰ په وجود باندے استدلال کړیدے ځکه کوم شخص چه د سفلي او علوي موجوداتو او مخلوقاتو په شکلونو، رنګونو، مزاجونو او منافعو باندے سوچ او غور اُوکړي او پدے خبره غور اُوکړي چه الله تعالیٰ دا په کوم مناسب انداز او مناسب ځایونو باندے ایخودي دي نو هغهٔ به د خالق په وجود باندے ضرور ایمان راوړي، د هغه په قدرت، علم او حکمت او د هغه په عظیم بادشاهت باندے یقین به د هغه په زړه او دماغو کښې کیني۔

د الله تعالیٰ د وجود او د هغه د معرفت دپاره ډیر زیات دلائل دي۔ چه هغه ډیر انواع دي۔ لکه حافظ ابن کثیر رحمه الله پدے مقام کښې د ائمه اربعهٔ نه د الله تعالیٰ د معرفت واقعات او دلائل راوړي دي۔ او مونږ په دے باره کښې په (الفوائد في تزكية النفوس ۲) کښې راوړیدي:

بعض د هغې دلائلونه دا دي:

(۱) (فِطْرَةُ النَّاس) : (الله تعالیٰ ټول مخلوق په فطرت باندے پیدا کړیدے) او د فطرت معنیٰ ده [تَهَيُّؤُ الْقُلُوْبِ وَاسْتِعْدَادُهَا لِمَعْرِفَةِ اللّٰهِ]

(یعنی الله تعالیٰ زړونو کښې داسے قابلیت او استعداد پیدا کړیدے چه الله تعالیٰ پیژني۔ لکه مثلاً په شیشه کښې د تصویر ښکاره کیدو استعداد شته او په کاڼي کښې نشته۔

(۲) (عقل سَلِيم) (دچا چه څومره عقل زیات وي هغومره به الله تعالیٰ زیات مني۔ لکه انبیاء علیهم السلام، علماء کرام او اهل تقویٰ او صالحین او د ټولو مذاهبو عقلمند خلق د الله تعالیٰ په وجود اقرار کوي۔

(۳) [اَدِلَّةُ الْكَوْنِ] (کائناتو کښې بنده نظر واچوي نو دهٔ ته به ډیر عجیب څیزونه ښکاره شي چه هغه به دلیل وي د الله تعالیٰ په وجود باندے لکه د امام **ابوحنیفه** رحمه الله مناظره د دهریهٔ سره مشهوره ده۔ چه دهٔ هغوي ته اُووئیل : زهٔ ځکه ناوخته راغلم چه کشتۍ نهٔ وه، آخر کښې لرګي راغلل، خپله آره شو، او خپله پرے میخونه اُووهل شو او خپله روانه شوه او مونږ په کښې راکیناستو او دغه دے چه راورسیدو نو هغوي اُووئیل : دا څنګه کیدے شي ؟ نو امام صاحب ورته اُوفرمایل : د یوے کشتۍ دپاره دا حالت

ستاسو عقل نهٔ برداشت کوی او دا دومره عظیم کائنات دِے بغیر د صانع او موجد نه روان وی دا څنګه کیدے شی ؟ نو هغوی ایمان راوړو۔

هارون رشید د امام **مالک** رحمه الله نه تپوس اُوکړو چه الله تعالیٰ په څه سره معلومولے شی ؟ نو امام صاحب اُوفرمایل : حلق (مرئ) یو ده لیکن د خلقو خبرے او آوازونه او لهجے مختلف دی آیا ددے نه نهٔ ثابتیږی چه یو اُوچت ذات موجود دے چه ددے خبرو مُعلم او د لهجو خالق دے؟۔

امام **شافعی** رحمه الله فرمائی : د توت پاڼرے ته اُوګوره چه کله ئے د وریښمو چینجے اُوخوری نو نرم وریښم ترے پیدا شی او چه د شاتو مچئ ئے اُوخوری نو شهد ترے پیدا شی او چه غوا او چیلئ ئے اُوخوری نو سوتے او بچے ترے پیدا شی او چه صحرائی هوسئ ئے اُوخوری نو مشك ترے پیدا شی، نو د یو شی نه داسے مختلف څیزونه پیدا کونکے څوك دے ؟ (الله تعالیٰ دے)۔

امام **احمد** رحمه الله فرمائی : یوه مضبوطه قلعه ده چه هیڅ دروازه ئے نشته، چه ظاهر کښ سپینه چاندی ده او باطن ئے خالص د سرو زرو پشان دے، بیا ددے دیوالونه مات شی او د هغے نه لیدونکے، اوریدونکے ښائسته حیوان په ښائسته آواز کښ پیدا شی۔ (یعنی هګئ، انډه) بیا فکر اُوکړه۔ د چرګے بچے چه پیدا شی نو سمدست ګرځی او د انسان بچی تر کاله پورے نشی ګرځیدلے ؟۔ دے سره الله تعالیٰ پیژندلے شی۔

یو اعرابی نه نقل دی : [اَلْبَعْرَةُ تَدُلُّ عَلَى الْبَعِيْرِ وَآثَارُ الْأَقْدَامِ تَدُلُّ عَلَى الْمَسِيْرِ فَسَمَآءٌ ذَاتُ أَبْرَاجٍ وَالْأَرْضُ ذَاتُ فِجَاجٍ وَالْبِحَارُ ذَاتُ أَمْوَاجٍ كَيْفَ لَاتَدُلُّ عَلَى اللَّطِيْفِ الْخَبِيْرِ]

(په یوه لاره کښ یوه پچه دلالت کوی په اُوښ باندے او د قدمونو نخے دلالت کوی په مزل کولو، نو هغه اسمان چه برجونو والا دے او هغه زمکه چه غټو لارو والا ده او هغه دریابونه چه چپو والا دی دا به څنګه دلالت نهٔ کوی په هغه لطیف او خبیر ذات باندے؟)۔

(۳) اَلْمَعَاصِيْ وَالطَّاعَات : (دا د الله تعالیٰ د وجود نخه څکه ده چه په عصیان سره عذاب او تکلیف راځی او په طاعاتو کولو سره راحتونه او نعمتونه ملاویږی۔ نو په دنیا کښ چه انسان په تکلیف شی نو دهٔ ته پته اُولګیږی چه دا د معصیت په وجه نو دلیل دے چه الله تعالیٰ شته څکه په ګناه عذاب ورکوی او په طاعت نعمت ورکوی)۔

(٤) اِسْتِجَابَةُ الدَّعَوَات :

(د بندګانو دعاګانے په سخت وقت کښې قبلولے شی، دا څوك قبلوی معلومیږی چه ددے نه روستو یو طاقت دے چه هغه سمیع قریب مجیب الداعین دے۔

(٥) [اِهْلَاكُ الْاُمَمِ الْمُکَذِّبَةِ ذَوِی الْقُدْرَةِ وَاِنْجَاءُ الْمُؤْمِنِیْنَ الضُّعَفَآءِ]

(کمزوری، بے اسبابو خلقو چه کله د رسولانو خبره منلے ده هغوی له الله تعالیٰ نجات ورکړیدے او کومو قومونو چه تکذیب کړیدے، سره د سخت قوت او طاقت نه الله تعالیٰ هلاك کړیدی لکه فرعون، عاد او ثمود۔ دا چا هلاك کړل ؟ آیا د دوی سره وسائل او اسباب د نجات نه وو؟۔

(٦) [وُجُوْدُ الرُّوْح] : (په بدن کښې چه کله روح وی نو طاقت پکښې وی او کله چه ترے اُوځی نو بے حس او بے حرکته شی) دے له دا طاقت څوك ورکوی؟

(٧) اَلْقُرْآنُ الْکَرِیْم ۔ دا هم د (٢٥) وجونه د الله تعالیٰ د وجود او معرفت عظیم دلیل دے چه د هغے تفصیل په الفوائد فی تزکیة النفوس (٢) کښې اُوګورئ)

(٨) (وُجُوْدُ الْکَعْبَةِ) (د کعبے وجود هم د (١٢) وجونه د الله تعالیٰ د وجود دلیل دے)

(٩) (وُجُوْدُ الْجِنَّات)(د جناتو وجود هم د الله تعالیٰ د وجود دلیل دے چه دا هم یو موجود مخلوق دے او مونږ ته نهٔ ښکاری، نو دغه شان الله تعالیٰ هم موجود ذات دے اګرکه مونږ ته په سترګو نهٔ ښکاری۔

(١٠) (مُعْجِزَاتُ الرَّسُوْل ﷺ) (د رسول الله ﷺ معجزات په دوه خبرو دلالت کوی : ١- د الله تعالیٰ په عظمت، قدرت او علم باندے۔ ٢- او د رسول الله ﷺ په رسالت باندے۔ که دا معجزات د رسول الله ﷺ ذاتی کمال وے نو نورو خلقو به هم د هغے مقابله کړے وے او هغوی به خلقو ته خودلی وے۔

(١١) مَحَاسِنُ الدِّیْنِ الْاِسْلَامِیّ :(د دین اسلامی خوبیانے هم د الله تعالیٰ د وجود دلائل دی، که ته د دین اسلام په محاسنو، کمالاتو او جمال باندے غور اُوکړے نو تا ته به معلومه شی چه څنګه پدے دین کښې هر شی ته خپل مناسب ځائے ورکړے شویدے دا دلیل دے چه دا دین د الله تعالیٰ غالب او حکمتونو والا ذات د طرف نه دے۔

(١٢) [عَدَمُ اَکْلِ الْاَرْضِ اَجْسَادَ الْاَنْبِیَآءِ] (زمکه د انبیاء کرام علیهم السلام او د شهداء او د ډیرو صالحینو بدنونه نهٔ خوری حال دا چه د ټولو انسانانو بدنونه یو شان دی او د

زمکے طبیعت هم یو دے نو دا هم د الله تعالیٰ په عظیم قدرت باندے یو دلیل دے۔ باقی دلائل په "الفوائد فی تزکیة النفوس" کښ اُوګوره۔
که خارجی دلائلو ته اُونهٔ کتلے شی بلکه قرآنی دلائلو کښ سوچ اُوکړے شی نو دا هم کافی دلائل دی د الله تعالیٰ د معرفت او د هغه د وجود۔
جَعَلَ :۱- جَعَلَ کله په معنیٰ د صَيَّرَ (ګرځولو) سره وی لکه دے آیت کښ ځکه متعدی دے دوه مفعولو ته او کله په معنیٰ د سَمّٰی (نوم کیخودلو او ورکولو) سره وی لکه (اِنَّا جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا) (الزخرف :۳) (اَیْ سَمَّيْنَاهُ)
۲- او کله په معنیٰ د خَلَقَ (پیدائش) وی لکه (مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْ بَحِيْرَةٍ) (المائدة :۱۰۳) (وَجَعَلَ الظُّلُمَاتِ وَالنُّوْرَ) (الانعام:۱) ۔۳- کله په معنیٰ د اخذ راځی او کله زائده راځی لیکن هغه په قرآن کښ ندے استعمال۔ (القرطبی)
الارض : زمکه الله تعالیٰ ډیرو لاکهونو کاله مخکښ پیدا کړیده۔
(لَكُمْ) زمکه سره د نورو فوائدو نه الله تعالیٰ د انسان دپاره پیدا کړیده۔ ددهٔ نیك عمل الله تعالیٰ ته ډیرخوښ دے او ددهٔ بد عمل ورته ډیر بد ښکاری۔ د بنده اعمالو ته الله تعالیٰ اهتمام ورکړیدے۔ ځکه ټول عالَم د انسان دپاره پیدا دے او انسان د الله تعالیٰ بندګئ دپاره۔
فِرَاشًا : (بستره) فراش دیته وائی : (بَيْنَ اللُّيُوْنَةِ وَالصُّعُوْبَةِ) (په مابین د نرموالی او سخت والی کښ ده) یعنی داسے هموارہ ده چه نه نرمه ده،(چه خلق په کښ خخیږی، ډوبیږی) نهٔ داسے سخته ده چه څه کنستل پکښ ګران وی۔ ټول غرونه نهٔ دی، بلکه فائده ترے اخستلے کیږی۔ کورونه آبادیانے پکښ جوړیږی، کرونده پکښ کیږی، د یو ځائے نه بل ځائے ته پکښ انتقال کیږی۔
آسمان ئے درله چت ګرځولے دے په ډیر ښائسته انداز، څومره ښائسته رنګ ئے دے چه د انسان زړه پکښ نهٔ تنګیږی او بیا ددے آسمان نه څومره فائدے نازلوی۔
بِنَاء : اَیْ سَقْفًا (چهت)۔
دے ځائے پورے خو خیمه تیاره شوه چه آسمان چت او زمکه فرش۔ نو اُوس خوراك ته ضرورت دے هغه بیانوی۔ وانزل الخ۔
مَاءً : د اُوبو په وجه دنیا کښ مخلوقات ژوندی دی، او دے ته د مخلوق ډیر ضرورت

دي۔

فائده : اُوبـه ئـې مـقـدم ذکـرکـړې د ثمراتو نه ځکه چه اُوبه سبب دے د ثمراتو او سبب مقدم وي (۲) دارنګه اُوبو ته ضرورت زیات دے نو د هغې اهتمام زیات دے۔ که اُوبه کمے وې، نـو انسـانان به د بدبویانو نه مړهٔ شي، او فصلونه او میوه جات به کم شي، حیوانات به قتل شي۔ او کوم شي ته چه ضرورت زیات وي نو هغه الله تعالیٰ فراخه کړي وي لکه کـلـمـه د تـوحـیـد تـه ضـرورت زیات دے نو الله تعالیٰ آسانه کړیده۔ او هواء او اُوبه ئې هم فراخه کړیدي په آسانئ ملاویږي۔

فَاَخْرَجَ بِهٖ : الله تـعـالـیٰ بـغـیـر د اُوبو نه هم د زمکے نه فصلونه راویستے شي لیکن الله تعالیٰ د هر شي دپاره سبب مقرر کړیدے پدے کښ د الله تعالیٰ عجیب حکمتونه دي۔

مِنَ الثَّمَرَاتِ :

د ثمرات مصداقات

ثمرات ماده په قرآن کریم کښ (۲٦) کرته راغلے ده او په مختلفو معانیو استعمال دے۔

۱- فـواکـه (مـیـوه جات) لکه (وَمِنْ ثَمَرَاتِ النَّخِيْلِ وَالْأَعْنَابِ) (النحل : ٦٧) (واحيط بثمره) (الكهف :٤٢)

۲- اولاد : لکه (وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ) (البقره :١٥٥) على تفسير۔

دارنګه حدیث کښ دي : (قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهٖ) (الحديث- الترمذى : ١٠٢١)

(الله تعالیٰ ملائکو ته فرمائي : تاسو زما د بنده د زړه میوه واخسته- یعني بچے)۔

۳- کُـلُّ مَا خَرَجَ مِنَ الْأَرْضِ :(هـر شـے چـه د زمـکے نه راوځي یعني آمدنئ د زمکے ته وائي۔ (وَأُحِيْطَ بِثَمَرِهٖ) (كهف :٤٢)

او دلته د ثمرات نه همدا عامه معنیٰ مراد ده یعني آمدنئ د زمکے، غنم، جوار، وربشے او نور میوه جات ټول په کښ داخل دي۔ (قرطبی)

رِزْقًا : رزق په معنیٰ د مرزوق (ورکړے شوی شي) دے یعني خوراك۔

او عـلـمـاء کـرامؒ فـرمـائي په رزق کښ لباس هم داخل دے ځکه دا لباسونه هم ددے بوټو وغیره نه جوړیږي، او بوټي په اُوبو سره کیږي۔

د آیت مطلب : الله تـعـالیٰ فرمائي : ما د نشت نه شته کړئ، دنیا ته مے راوستئ او زمـا پـه زمـکه اُوسیږئ، زما د آسمان نه لاندے ورځے او شپے تیروئ، او زما اُوبه څکئ او

زما ډوډۍ خورئ، او لباسونه مې درکړيدي، د الله تعالیٰ خيمه کښې اُوسيږئ او عبادت د غير الله کوئ، او الله تعالیٰ د سره نۀ پيژنئ، خپل خالق هم اُونۀ پيژندلو دا ځومره بده خبره ده۔ او ځومره لويه ناشکري ده۔ هغه درله د ژوند اسباب برابر کړيدي او ژوندي مو هغه ساتي او عبادت د بل کوئ۔ کله يو دربار ته سر خکته کوئ اوکله د بل دربار ته۔ او کله يو بابا او بت ته سجده او کله بل ته۔ دا ځومره بے انصافي او ظلم او جهالت دے۔ او دا ټول شرکونه د جهالت نه پيدا شوي دي پدے وجه الله تعالیٰ مونږ ته په قرآن کريم کښې علم راکوي نو ځکه پرے اُوس تفريع د رد الشرك کوي :

(**فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰہِ**) دا تفريع ده په ماسبق باندے يعني (اِذَا كَانَ الْأَمْرُ كَذٰلِكَ اَیِ النِّعَمُ كُلُّهَا مِنَ اللّٰهِ) (يعني هركله چه دا ټول نعمتونه د الله تعالیٰ د طرف نه دي نوددے ټولو نعمتونو تقاضا دا ده چه تاسو د الله تعالیٰ سره نور شريکان مۀ جوړوئ چه هغه ستاسو په شان مخلوق دے او د آسمان او د زمکے ترمينځ د يو بے ذرّے هم مالك نۀ دي۔

(**جعل** دلته په معنیٰ د عقيدے دے نو د فلا تجعلوا معنیٰ ده : [فَلَا تَعْتَقِدُوْا لِلّٰهِ أَنْدَادًا] د الله تعالیٰ دپاره د شريکانو عقيده مۀ ساتئ، هغه سره هيڅوك شريك نشته۔

(**اَنْدَادًا**) دا لفظ قرآن کريم کښې (٦) کرته راغلے دے، جمع د ند ده (اَلْمِثْلُ الْمُنَاوِیُ) ته وئيلے شي (يعني د يو شي مشابه ته وائي چه د يو بل مقابله کوي لکه دوه مجاهدين او دوه فوجيان د يو بل نِد دي۔ يو بل سره مقابله کولے شي۔

نو پدے باندے **سوال** دا دے چه مشرکانو خو خپل معبودان د الله تعالیٰ سره مقابله کونکي شريکان نۀ جوړول بلکه د الله تعالیٰ نه ئے لاندے ګنړل. داسے انسانان خو ډير کم تير شويدي چه هغوي دوه خالقان ګنړي، عام مشرکانو خو معبودان خکته ګنړلي دي ؟

جواب : کوم انسان چه د الله تعالیٰ يو صفت مخلوق له ورکړو (فَقَدْ جَعَلَهٗ لِلّٰهِ نِدًّا) (نو دۀ دغه انسان د الله تعالیٰ دپاره مقابل او ند اُوګرځولو) لکه حافظ ابن قيم رحمه الله فرمايلي دي : چه دوي دا شريکان د الله تعالیٰ جوړ کړي وو په دوه ځيزونو کښې [فِي الْمَحَبَّةِ وَالتَّعْظِيْمِ] (يو په محبت کښې او بل په تعظيم کښې) چه د اُلوهيت محبت ئے غير الله ته ورکړے وو او د هغوي تعظيم ئے داسے کولو لکه څنګه چه د الله تعالیٰ کولے شي۔ هغوي ته به ئے سجدے لګولے او سرونه به ئے خکته کول نو دا صفت د الله تعالیٰ پورے خاص دے او دوي خپلو معبودانو ته ورکړے وو نو ځکه انداد شو۔ لکه پدے سورة

(۱٦۵) آیت کښې به راشي : (وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا)
(هلته به د محبت تشریح اُوشي چه کوم محبت شرك دے او کوم جائز او کوم لازم دے)۔
او په احادیثو کښې ددے ډیر مثالونه دي چه چا یو صفت غیر الله ته ورکړو نو هغے ته ند وئیلے شویدے۔ لکه (مَا شَاءَ اللّٰهُ وَشِئْتَ) ددے وینا نه رسول الله ﷺ یو سړے منع کړو او دائے ورته اُوفرمایل :
[اَجَعَلْتَنِيْ لِلّٰهِ نِدًّا، قُلْ : مَا شَاءَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ] [احمد : ۱۸۳۹، النسائی : ۱۰۸۲۵]
(آیا تا زۀ د الله تعالیٰ سره ند (شریك) اُوګرځولم ، داسے وایه ! څه چه الله تعالیٰ غواړی هغه به کیږی)۔ او بل روایت کښې دي داسے وایه : [مَا شَآءَ اللّٰهُ ثُمَّ شَاءَ فُلَانٌ]
(څه چه الله غواړی او بیا فلانے) یعنی (بیا) لفظ پکښې استعمالوه۔
او دا منع پدے وجه اُوشوه چه دلته د بنده د الله تعالیٰ سره په مشیئت کښې شرکت راځي۔
(۲) ابن ابی حاتمؒ د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه انداد دا هم دی چه ته داسے اُووائی : (وَاللّٰهِ وَحَيَاتِكَ يَا فُلَانُ وَحَيَاتِيْ) (قسم په الله تعالیٰ او ستا او زما په ژوند) دارنګه داسے اُووائے : (لَوْلَا كَلْبَةُ هٰذَا لَأَتَانَا اللُّصُوْصُ) (که ددۀ سپے نۀ وے نو مونږ ته به غلان راغلی وے) یا داسے اُووائے : لَوْلَا اللّٰهُ وَفُلَانٌ) (که الله تعالیٰ او فلانے نۀ وے) نو داسے کار به شوے وے۔ یا داسے اُووائی : چه دریاب چپو اخستے وی او بیا ئے الله تعالیٰ خلاص کړی او دا وائی (كَانَ الْمَلَّاحُ حَاذِقًا) (کشتیبان ډیر هوښیار وو) دارنګه (مَاشَاءَ اللّٰهُ وَشِئْتَ) کلمات شو دا ټول شرك دے۔ انتهیٰ۔ (تفسیر فتح القدیر ۱/۸۰)
(۳) دارنګه حدیث د بخاری او مسلم کښې دی چه کله باران اُوشي نو بعض بندګان کافران شي او بعض مؤمنان۔ که څوك اُووائی : [مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللّٰهِ وَرَحْمَتِهٖ] ۔ (مونږ باندے د الله تعالیٰ په فضل او رحمت سره باران اُوشو نو دا په ما مؤمن دے او په ستورو کافر دے۔ او که څوك اُووائی : (مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا) (مونږ باندے د فلانی ستوری د پریوتو په وجه باران اُوشو) نو دا په ما باندے کافر دے او په ستوری مؤمن دے۔
[بخاری: ۸٤٦، مسلم : ۲٤۰]
نو ګوره غیر الله ته د باران او د کارونو نسبت ته ئے هم شرك او کفر وئیلے دے۔

صحیحینو کښې د عبد الله بن مسعود ﷺ روایت دے چه ما اُووئیل یارسول الله!
[أَيُّ الذَّنْبِ أَكْبَرُ عِنْدَ اللّٰهِ؟ قَالَ :أَنْ تَدْعُوَ لِلّٰهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ]
بخاری [۷۵۳۲، مسلم : ۲٦۸]
د ټولو نه غټه ګناه کومه یوه ده ؟ نبی ﷺ اُوفرمایل : چه د الله تعالیٰ سره شریك جوړ کړے په داسے حال کښے چه ته ئے پیدا کړے ئے۔ الحدیث۔
(۲) خطیب شربینیؒ لیکی : دلته د انداد نه مراد مطلق شریکان دی، برابره ده چه د الله سره ئے برابر ګنړی او که د الله تعالیٰ نه ئے خکته ګنړی۔
بیا دا انداد عام دی یواځے بتانو ته نهٔ دی شامل، لکه بعض خلق وائی دا آیتونه د بتانو په باره کښې دی۔
ملاعلی القاریؒ په شرح فقه اکبر کښے لیکی : [سَوَاءٌ كَانَ مِنَ الْأَصْنَامِ اَوْمِنَ الْأَنَامِ]
که د بتانو نه وی او که د انسانانو نه وی، او که د ملائکو نه وی۔ دا ټول به د الله تعالیٰ سره نهٔ شریکوئ۔ که ژوندی مخلوق وی، او که مړی وی، بلکه قرآن کریم کښې الله تعالیٰ د پیغمبرانو شریکولو باندے هم په مشرکانو رد کړیدے۔ او دا اتفاقی مسئلے دی۔ د هیڅ مسلمان پدے کښې اختلاف نشته۔ سویٰ د بعض جهالو نه۔
دارنګه د مخکښې دلائلو نه هم معلومه شوه چه د ند اطلاق په انبیاء علیهم السلام هم کیږی۔
ددے وجه نه کامل توحید دا دے چه انسان په ظاهری اسبابو هم توکل اُونکړی اګرکه ظاهری اسباب به استعمالوی، لیکن اعتماد به په الله تعالیٰ کوی، پیسے دِے جیب کښې واچوی، ډاکټر له دِے لاړ شی، دوائی دِے استعمال کړی، وسله دِے ځانله تیاره کړی لیکن په هغے به یقین نهٔ کوی بلکه یقین به په الله تعالیٰ کوی۔ پدے وخت کښې د اسبابو نه ارباب جوړ شویدی، که دا سبب نهٔ وی نو بس ذهن ئے بالکل کار نهٔ ورکوی او دا وائی که دا سبب نهٔ وی نو څه به کوم ؟ څه به خورم، زه خوبه غرق یم، که دکان یا ډیوټی نهٔ وی نو ژوند به مے ختم وی دا ټول دے توکل او ناقص توحید والو خبرے دی، او پدے کښې هم شائبه د شرك ده۔
(**وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ**) ددے یوه معنیٰ ده : (۱) [وَاَنْتُمْ مِنْ اَهْلِ الْعِلْمِ] نو دلته مفعول متروك شویدے۔ (یعنی تاسو د علم والا یئ او ځان ته پو هه وایئ۔ او دا د علم تقاضا دهٔ چه

انسان بـه د الله تـعـالیٰ بندګی کوی او د هغه سره به شریکان نهٔ جوړوی. یعنی تاسو له خو الله تعالیٰ علم درکړیدے. د علم خاوندان ئے، نو پدے علم به تاسو څه کوئ، علم باندے بـه صـرف خوارکونه کوئ او که نه علم خو دے دپاره دے چه الله تعالیٰ پرے اُوپیژنئ، او د مخلوق اندازه او مرتبه اُوپیژنئ، کوم علم باندے چه الله تعالیٰ اُونهٔ پیژندے شی هغه علم نهٔ دے. هغه هسے کسب دے.

(۲) یا مفعول مقدر دے [وَأَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ بِأَنَّهٗ لَاندَّ لَهٗ] (یعنی تاسو پو هیږئ چه د الله تعالیٰ شریك او مثل نشته). د هغه پشان رازق او خالق او مالك نشته.

(۳) یا مفعول محذوف دے [وَأَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ التَّفَاوُتَ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْأَنْدَادِ]

یـعنی تاسو پدے پو هیږئ چه د الله تعالیٰ او ددے شریکانو په مابین کښې څو مره تفاوت او فـرق دے. الله څـو مـره لـوئـی دے او مـخلوق څو مره کمزورے دے. نو ولے تاسو کمزورو پسے لګیا شوی یئ.

(٤) - یا [وَأَنْتُـمْ تَعْلَمُوْنَ أَنَّ الْأَنْدَادَ لَمْ يَخْلُقُوْكُمْ، وَلَمْ يَجْعَلُوا الْأَرْضَ فِرَاشًا وَلَا السَّمَاءَ بِنَاءً وَلَا أَخْرَجُوْا لَكُمْ نَبَاتًا] (زبدة التفسیر)

(یعـنـی تـاسـو پدے پو هیږئ چه تاسو شریکانو نهٔ ئے پیدا کړی او نهٔ ئے زمکه فرش او آسمان چهت جوړ کړیدے او نهٔ ئے د زمکے نه څه ګیاه راویستلے ده).

فائده : امام قرطبیؒ او ابن عادل الدمشقیؒ لیکی : (وَفِيْ هٰذَا دَلِيْلٌ عَلَى الْأَمْرِ بِاسْتِعْمَالِ حُجَجِ الْعُقُوْلِ وَإِبْطَالِ التَّقْلِيْدِ) (القرطبی ۱/۲۳۱۱، واللباب وایسر التفاسیر).

دا آیت دلـیـل دے چـه دلائـل عـقـلـیـه اسـتـعـمـالـول ضروری دی او تقلید کول بـاطل دی. ځکه چه الله تعالیٰ حکم کړیدے په تدبر د قرآن.

سوال : مـخـکـښې اُوویـل شـو چـه دا مهـرزده ګـمـراه جاهلان دی او دلتـه ورته د علم نسبت کوی ؟ **جواب** : دلتـه خاص عـلـم مـراد دے چـه الله تـعـالیٰ خالقیة پیژندل دی او مخکښې علم د هدایت مراد دے.

مـخـکـښې د الله مـعـرفـت (تـوحـیـد ربوبیت) او رد د شرك اُوشو، (د غیر الله د عبادت نـه انکارچه د الله تعالیٰ سره به برخه داران نهٔ جوړو). او دا لله په عبادت حکم اُوشو. (توحید الـو هـیـت)، دا د قـرآن کـریم د بلاغت کمال دے چه یوه خبره شروع کړی مینځ کښې ډیرے مهمے فائده منے مسئلے راویاسی لکه ددے نظائر به ډیر راشی ان شاء الله تعالیٰ.

نو اُوس د رسول الله ﷺ او د قرآن حقانیت بیانوی :

وَاِنۡ كُنۡتُمۡ فِىۡ رَيۡبٍ مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلٰى عَبۡدِنَا
او که چرته تاسو په شك کښې یئ د هغه کتاب نه چه مونږ رالیږلے دے په بنده خپل،
فَاۡتُوۡا بِسُوۡرَةٍ مِّنۡ مِّثۡلِهٖ ۖ وَادۡعُوۡا شُهَدَآءَكُمۡ
نو راوړئ یو سورت په شان ددے (قرآن) او راوغواړئ مددګاران (معبودان) خپل
مِّنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿۲۳﴾
سوا د الله تعالیٰ نه که چرته یئ تاسو رشتینی۔

تفسیر :

عنوان الآیة : (۱) بَيَانُ صِدْقِ الْقُرْآنِ وَ الرَّسُوْلِ۔

(د قرآن کریم او د رسول الله ﷺ د رشتین والی بیان دے) ۔

(۲) دویم : (بَيَانُ تَحَدِّى الْكُفَّارِ بِالْقُرْآنِ) (د کافرانو تحدی او مقابله کوی په قرآن سره) چه پدے قرآن ایمان راوړئ ورنه که ایمان نۀ راوړئ نو مقابله ئے اُوکړئ۔

او پدے آیت کښې اعجاز القرآن هم دے۔

ربط : مخکښې د الله تعالیٰ معرفت ذکر شو په دلائلو سره، او د هغه د تعلق سبب ئے بیان کړو چه هغه عبادت دے نو اُوس پدے آیت کښې په قرآن کریم او رسول باندے د ایمان تذکره کوی چه په قرآن او رسول باندے ایمان راوړئ ځکه چه ددے مقابله څوك نشی کولے او دا رسول اُومنئ ځکه چه دا رسول همدغه الله تعالیٰ رالیږلے دے۔ او د توحید او رسالت د یو بل سره مناسبت دے۔ پوره مؤمن به هله جوړیږی چه توحید او رسالت او قرآن باندے یقین اُوکړی۔

۲- بَيَانُ الْعَقَائِدِ : مخکښې هم د عقیدے مسئله وه چه توحید وو، اُوس هم د عقیدے مسئله ده چه هغه ایمان بالقرآن والرسول دے۔

۳- مخکښې عبادات وو، اُوس صدق د مُعلم العبادات بیانوی چه هغه رسول الله ﷺ دے۔ ځکه د عبادتونو تشریحات هغه بیان کړیدی او عبادت د هغه د طریقے نه سوئ

قبول نهٔ دے۔

او د توحید سره ئے مناسبت دا دے چه ددے کتاب د مقابلے نه خلق ولے عاجز دی ؟ ځکه چه دا کتاب دغه عظیم ذات او عظیم صفاتو والا رالیږلے دے، او د لوئی ذات مقابله څوك نشی کولے نود هغه د کتاب مقابله هم څوك نشی کولے۔

٤- مناسبت : د موضوع د سورت سره دا دے چه دا کتاب (هُدًى لِلْمُتَّقِيْنَ وَمُزِيْلُ اِرْتِيَابِ الْمُرْتَابِيْنَ) دے (یعنی دا کتاب هدایت دے متقیانو لره او د شك کونکو شکونه ختموی)۔

او مقصد د آیت دا دے چه که تاسو ددے قرآن په باره کښې د الله تعالیٰ د طرفنه کیدو او ددے نبی د حق کیدو نه په شك کښې یئ نو راشئ ددے مقابله اُوکړئ دا خو ستاسو په شان انسان دے نو تاسو ددے په شان کتاب راوړئ په فصاحت، بلاغت، کمال، هدایت او رشتینوالی کښې او پدے کښې چه کوم علوم او اخبارِ صادقه پراته دی، او بیا ددے سره تاسو چه د چا عبادت کوئ هغه تولو ته آواز اُوکړئ، باباګانو نه مدد اُوغواړئ، دا به ستاسو کله پکار راځی، یا شهداء نه مراد علماء دی یعنی علماؤ نه هم مدد اوغواړئ۔ یا داسے خلق راوغواړئ چه هغهٔ تاسو دپاره ګواهی اُوکړی چه آؤ دا تاسو چه کوم څیز راوړو دا د قرآن کریم مثل دے۔ (زُبدة التفسير)

او که چرته تاسو ددے قرآن په شان کتاب یا یو سورت نشئ راوړئ (لکه تاریخ ګواه دے چه څوارلس سوه دیرش کاله اُوشو او هیچا دا چیلنج قبول نهٔ کړے شو) نو دا ښکاره نښه او واضحه دلیل دے ددے خبرے چه زما رسول رشتینی دے او هغه کتاب رشتینی دے کوم چه ما په دهٔ باندے نازل کړیدے او هرکله چه تاسو عاجز شوئ نو تاسو له پکار دی چه ددے اتباع اُوکړئ او ځان د اُور نه بچ کړئ۔

توضیح الکلمات :

اِنْ كُنْتُمْ : دے ته خطاب التعجیز (د خلقو عاجز کولو) وئیلے شی۔

دلته بیا **سوال** دے چه ان خو د شك دپاره راځی او مشرکان خو یقیناً په شك کښې وو ؟ نو څنګه ان لفظ استعمالوی ؟ **جواب** : ریبُ د دوی نازل شویدے په منزله د عدم ریب۔ ځکه دلائل موجود دی ددے په حقانیت باندے چه هغه د دوی ریب زائله کوی۔ او تفصیل ئے د سورت په اول سر کښې تیر شویدے۔

د ریب معنیٰ مخکښې تیره شویده امام راغبؒ فرمائی :
[وَالرَّيْبُ أَنْ تَتَوَهَّمَ بِالشَّيْءِ أَمْرًا مَّا فَيَنْكَشِفُ عَمَّا تَتَوَهَّمُهُ]۔
(ریب دیته وئیلے شی چه ته په یو شی باندے یو قسم گمان اُوکړے لیکن ستا د گمان نه علاوه خبره بل شان ښکاره شی)۔
مِمَّا : کښې د (ما) نه مراد قرآن کریم دے، نۀ احادیث ځکه چه احادیث مُعجز نۀ دی۔
نَزَّلْنَا : نزلنا د باب تفعیل نه دے، لږ لږ نازلولو ته وئیلے شی، او دے دپاره انزل (په یو ځل نازلول) هم استعمال شویدے، ځکه چه قرآن کریم اول لوح محفوظ نه آسمان د دنیا ته په یو ځل نازل دے او بیا زمکے ته د حالاتو مطابق لږ لږ نازل شویدے۔ په دے خبره دلیل به په دویمه پاره آیت (شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْ) کښې راشي ان شاء الله تعالیٰ۔
(**عَبْدِنَا**) په اتفاق د مسلمانانو سره ددے نه مراد رسول الله ﷺ دے۔ عبودیت اشرفه مرتبه ده ځکه ئے پدے مقام د تحدّی کښې ذکر کړو، او په رسول الله ﷺ کښې د ټولو نه رومبنے صفت همدا وو، ځکه چه هغه د الله تعالیٰ د عبودیت حق داسے طریقے سره ادا کړو چه د بل چا نه ئے تصور نشی کیدے۔
فائده : الله تعالیٰ رسول انسان رالیږلے دے ځکه که ملائك وے نو بیا به انسانان د هغه په خبره پوره نۀ پوهیدلے ځکه چه یو جنس خپل جنس ښه پوهه کولے شی۔
(۲) دے دپاره چه د هغوی په اتباع کښې د چا عذر پاتے نشی چه دا خو خوراك ځکاك نۀ کوی او مونږ خو ښځه او بچی او خیتهه او دکان لرو۔
بِسُوْرَةٍ : سورة : [قِطْعَةٌ مِنَ الْقُرْآنِ لَهَا أَوَّلٌ وَآخِرٌ وَأَقَلُّهَا ثَلَاثُ آيَاتٍ]
(یوه حصه د قرآن ده چه اول او آخر لری او کمه درجه ئے درے آیتونه دی)
ماخوذ دے د سور البلد نه دیوال ته وئیلے شی چه د ښار نه چاپیر وی، نو په سورة کښې آیتونو څه احکام راگیر کړی وی۔
(۲) بعض وائی: د سورة اُوچتوالي معنیٰ ده۔ لکه تَسَوَّرَ (یعنی دیوال باندے اُوختلو) نو سورة ته ځکه سورة وائی : (قِطْعَةٌ عَالِيَةُ الْمَضْمُوْنِ) ځکه چه دا یوه ټکړه ده چه اُوچت مضمون والا وی) ۔ (۳) یا په معنی د تمام او کمال سره راځی لکه عرب چاقے (څرے) اُوښے ته سورة وائی۔ (٤) یا په معنی د قِطْعَةٌ مِنَ الْقُرْآنِ عَلَيحِدَةٌ سره (قرطبی ۱/ ٦٥) د قرآن کریم نه یوه جدا حصه۔

(٥) - قِطعَةٌ مُفرَدَةٌ مِنْ جُملَةِ القُرآنِ) (مفردات راغب)
(د مجموعه قرآن نه یوه جدا حصه ده)
په سورت کښ آیتونه وی. **آية** (۱) په معنیٰ د (العلامة الظاهره) ظاهری نخے سره.
(۲) عبرت. (۳) برهان او دلیل. (٤) او معجزے ته وئیلے شی.
او آیة ته آیت ځکه وائی چه دا د پیغمبر د رسالت او د الله تعالیٰ د قدرت نخه وی.
(٥) او آية کله جماعت ته وئیلے شی او دا هم جماعة د حروفو وی.
(٦) آية کله اَلبِناء العَالِی (اُوچتے آبادئ) ته وئیلے شی. لکه (اَتَبنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً) (الشعراء : ۱۲۸).
او آية اصطلاحاً : ١ - [مَا لَهَا اَوَّلُ وَآخِرُ وَاَقَلُّهَا كَلِمَتَان]
(چه اول او آخر لری او اقل ئے دوه کلمے وی).
٢ - [كُلُّ جُملَةٍ مِنَ القُرآنِ دَالَّةٍ عَلىٰ حُكمٍ آيَةٌ]. (هره حصه د قرآن کریم چه په جدا حکم دلالت کوی دیته آیت وئیلے شی) [مفردات راغب کتاب الالف ص ٦١].
مثله : کښ ضمیر قرآن کریم ته راجع دے او د مثلیت معنیٰ ده :
[مِثلِهِ فِی الفَصَاحَةِ وَالبَلَاغَةِ وَالبَيَانِ، وَالصِّدقِ، وَاِخبَارِهِ بِالمَغِيبَاتِ وَالدَّلِيلِ]
(د قرآن په شان وی په فصاحت، بلاغت او وضاحت کولو کښ او په رشتینوالی کښ او د غیبو په خبرونو ورکولو کښ او په دلیل بیانولو کښ) چه یو موضوع راونیسی نو پوره دلائلو سره ئے ثابتوی.

د قرآن کریم د اعجاز وجوهات :

(۱) [اِنَّهُ خَارِجٌ عَن طَوقِ البَشَرِ، لِمَا فِيهِ مِنَ البَلَاغَةِ] (دا د انسانانو د طاقت نه بهر دے، ځکه پدے کښ بلاغت پروت دے (۲) [وَلِمَا فِيهِ مِنَ العُلُومِ] (او پدے کښ ناشنا علوم دی) چه انسانانو سائنس او ټیکنالوجی د قرآن کریم نه راویستلے ده.
(۳) [وَلِمَا فِيهِ مِنَ الاَخبَارَاتِ الصَّادِقَةِ]. (رشتینی خبرونه پکښ دی چه هغه تر اُوسه پورے چا غلط نهٔ دی ثابت کړی)
(٤) وَلِاَنَّهُ مِن رَجُلٍ اُمِّيٍّ) . (دا امی شخص راوړیدے، عالِم نهٔ دے راوړے چه د خلقو شك پکښ پیدا شی. او عربو ته معلومه وه چه رسول الله ﷺ بهر ملك ته ندے تلے نهٔ

مدرسه وه نۀ سکول او حروف هجاء ورته نۀ وو معلوم بیا ئے داسے کلام راوړو چه دوست او دوشمن د هغے د مقابلے نه عاجز شو نو دا دلیل دے چه دا د الله تعالیٰ کلام دے۔

(۵) [وَلِمَا أَنَّهٗ لَا يَمُجُّهُ السَّمْعُ مَعَ تَكْرَارِهٖ] (په غوږ باندے بد نۀ لګی سره ددے نه چه بار بار لوستے شی) بلکه که دا په صحیح لهجه اُووئیلے شی نو هر سلیم الطبع انسان له مزه ورکوی او زړه کښ روښانوالے پیدا کوی۔

(٦) [وَلِمَا أَنَّ كَلِمَاتِهٖ فِیْ مَوْضِعِهَا]

(هره کلمه ئے په خپل خپل ځائے کښ ده) او دا هله کیږی چه د شخص سره علم پوره وی۔ او دا د الله تعالیٰ نه ماسویٰ هیچا دپاره ممکن نۀ ده۔

ددے وجه نه په ټول عالم کښ هیچا د قرآن کریم مقابله نۀ ده کړے۔

یو واقعه کښ راځی چه یو انسان اراده کړے وه او کور ته ننوتے وو چه د قرآن کریم مقابله اُوکړی نو ډیرے ورځے ئے لیکل اُوکړل لیکن بیرته به ئے ورانول، هغه به ورته ښه نۀ ښکاره کیدل، نو قادر نشو۔ بلکه کال پس ئے یو عبارت تیار کړو په خپل ګمان د قرآن په شان چه بهر را اُووتلو نو دا آیت ئے واوریدو ﴿وَقِيْلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِیْ مَاءَكِ ......﴾ الخ (سورة هود: ٤٤)۔ نو خپل کاغذ ئے اُوشکولو او دا ئے اُووئیل چه د قرآن مقابله څوك نشی کولے۔ نوم ئے عبد الله بن المقفع وو۔ (انظر قضية الاعجاز القرآنی)۔

او چا چه خپله وسعه کړیده او د مقابلے کوشش ئے کړیدے نو هغوی داسے کلام راوړیدے چه هغے پورے خندا کیدے شی، ټول د خوراکونو او ښځو خبرو پکښ دی او بعض هسے مهمل کلام دے چه هیڅ معنویت نۀ لری۔ لکه مسیلمة الکذاب داسے وئیلی وو:

[وَالْعَاجِنَاتِ عَجْنًا وَالْخَابِزَاتِ خُبْزًا، وَاللَّاقِمَاتِ لُقْمًا، إِهَالَةً وَسَمْنًا، اِنَّ قُرَيْشًا قَوْمٌ يَعْتَدُوْنَ] دارنګه [اَلْفِيْلُ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْفِيْلُ لَهٗ زَلْقُوْمٌ (اَیْ خُرْطُوْمٌ) طَوِيْلٌ)] دارنګه: [يَا ضِفْدَعُ بِنْتَ الضِّفْدَعَيْنِ، نَقِّیْ كَمَا تُنَقِّيْنَ، لَا الْمَاءَ تُكَدِّرِيْنَ وَلَا الشَّارِبَ تَمْنَعِيْنَ] [ابن كثير/ سورة یونس]

دا د مُسیلمه قرآن وو چه ټول د ماشومانو د خندا لائق کلمات دی۔

په مکه کښ د بیت الله پورے (انا اعطیناك الكوثر) جمله لیکلے زوړنده شوے وه نو یو مشرك راغلو او د هغے سره ئے خوا کښ اُولیکل۔ [مَا هٰذَا قَوْلُ الْبَشَرِ] (دا د انسان خبرے نۀ دی)

خو مونږ ته ددې پته څکه نۀ لګی چه زمونږ د عربیت سَلیقه او مهارت نشته او د فصاحت او بلاغت مراتب نۀ دی معلوم۔ مونږ ته عامه عربی او قرآن یو شان ښکاری۔

(۲) پدې کښې دویم قول دا دې چه مثله ضمیر راجع دې (عَبۡدِنَا) ته خو دا غوره نۀ دې څکه چه ددې مطلب دا راوځی چه د نبی ﷺ په شان امی انسان ئې مقابله نشی کولے او عالم ئې کولے شی۔ او دا د روستو جملے نه خلاف دې۔

وَادۡعُوۡا شُهَدَآءَ کُمۡ : دعاء قرآن کریم کښې په دوه معنو استعمالیږی :

(۱) دعاء النداء (آواز کول) لکه (ثُمَّ ادۡعُهُنَّ) (البقرة: ۲۶۰) ۔ (۲) دعاء العبادة ۔ (آواز کول یو ذات ته په طریقه د عاجزئ او بندګئ) دا صرف د الله تعالیٰ دپاره استعمالیږی۔ دلته ئې دواړه معنے کولے شی۔ څکه مشرکانو سره بحث دې۔ لیکن دا دویمه معنیٰ ډیره واضحه ده او ددې سره به شهداء نه مراد معبودان وی۔

شهداء : لفظ د شهداء قرآن کښې (۲۰) کرته راغلے دې، جمع د شهید ده۔

د شهادت معانی

د شهادت ډیرے معانی دی۔

۱- ګواهی ورکول۔ لکه (فَإِنۡ شَهِدُوۡا فَأَمۡسِکُوۡهُنَّ) (النساء : ۱۵)

۲- په معنیٰ د بیانولو د توحید سره لکه (شَهِدَ اللّٰهُ أَنَّهٗ لَا إِلٰـهَ إِلَّا هُوَ) (آل عمران : ۱۸) (إِنَّا أَرۡسَلۡنَاكَ شَاهِدًا) (احزاب : ٤٥)

۳- په معنیٰ د حاضریدلو او لیدو سره لکه (أَمۡ کُنۡتُمۡ شُهَدَآءَ) (بقره: ۱۸۵) ٤- فیصله کول لکه ګواه ته شاهد څکه وائی چه ددې په وجه فیصله کیږی۔ (شَهِدَ اللّٰهُ) (آلعمران : ۱۸)

۵- حکم کول لکه (وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنۡ أَهۡلِهَا) (یوسف : ۲۶)

٦- په معنیٰ د علم سره۔ لکه (ثُمَّ أَقۡرَرۡتُمۡ وَأَنۡتُمۡ تَشۡهَدُوۡنَ) (البقره : ۸٤)

٦- خبر ورکول۔ لکه (وَاللّٰهُ یَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَکَاذِبُوۡنَ) (التوبة : ۱۰۷)۔

۷- قسم کول لکه (وَیُشۡهِدُ اللّٰهَ عَلٰی مَا فِیۡ قَلۡبِهٖ) (البقره : ۲۰٤)۔

۸- تائید کول لکه (وَیَتۡلُوۡهُ شَاهِدٌ مِنۡهُ) (سورة هود : ۱۷)۔

۸- توجه او حضور د زړهٔ (أَوۡ أَلۡقَی السَّمۡعَ وَهُوَ شَهِیۡدٌ) (سورة ق: ۳۷)

۹- وصیت کول۔ (وَلَا نَکۡتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ) (المائدة : ۱۰٦)

۱۰- د الله په لار کښې شهید کیدل۔ (وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ) (آلعمران : ۱٤۰)
۱۱- حاضر خیزونه (عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ) (انعام : ۷۳)
۱۲- کلمات د شهادت د توحید او رسالت لکه (وَالَّذِيْنَ هُمْ بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُوْنَ) (المعارج : ۳۳)
۱۳- مدد کول لکه پدے آیت کښې په یوه توجیه سره۔

د شهداء مصداقات

۱- گواهان۔ لکه بناء په یو تفسیر (لِتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ) (البقره :۱٤۳)
۲- معبودان۔ لکه (قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَ كُمْ) (انعام : ۱۵۱)
۳- علماء۔ لکه (وَأَنْتُمْ شُهَدَآءُ) (آل عمران :۹۹)۔

دلته گواهان هم مراد دی چه هغوی به دواړه عبارتونه گوری او گواهی به ورکوی۔ دارنگه معبودان هم مراد دی چه ستاسو نور معبودان سویٰ د الله نه راوغواړئ هغوی دِے هم ددے کتاب په شان جوړ کړی۔ او علماء هم مراد دی۔

(٤) د عربو میډیا شاعران وو، د مجلس او جرگو مشری به دوی کوله او د عربو گمان وو چه د شاعر سره جنی مقرروی چه هغه ورته القاء کوی۔ دا وجه ده چه په رسول الله ﷺ هم دوی دا گمان کولو۔ لکه په سورة الشعراء کښې راځی۔ نو دلته مراد د شهداء نه دغه شیطانان، پیریان چه دوی به ورله عبادت کولو هم مراد کیدے شی۔ کما فی تدبر القرآن۔

من دون الله : دون لفظ د خکته والی په معنیٰ هم راځی۔ لکه په حدیث د معراج کښې دی : (دَابَّةٌ دُوْنَ الْبَغَلِ وَفَوْقَ الْحِمَارِ)

(۲) دویم په معنیٰ د ماسوی الله هم راځی۔ دیته (غیر الله) هم وائی او (دون الله) هم۔ که هغه هر څوك وی، ملائك وی که پیران او که انسانان لکه الله تعالیٰ فرمائی :

(قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَّأْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ) (اسراء :۸۸)

(ان کنتم صادقین) : (۱) دا متعلق دے د فَأْتُوْا بِسُوْرَةٍ سره یعنی [فَأْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِنْ مِثْلِهٖ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ بِأَنَّ الرَّسُوْلَ افْتَرَاهُ] (یعنی که تاسو پدے خبره کښې رشتینی یئ چه دے رسول دا قرآن د ځان نه جوړ کړیدے نو ځئ ددے په شان یو سورت خو راوړئ) او مقابله

ئے اُوکړئ چه لانجه ختمه شی۔
(۲) یا د وَادْعُوْا شُهَدَاءَ كُمْ سره متعلق دے۔[وَادْعُوْا شُهَدَاءَ كُمْ اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ بِاَنَّهَا آلِهَةٌ مُدَبِّرَةٌ] (خپل معبودان راطلب کړئ (او مدد ترے اُوغواړئ) که تاسو رشتینی یئ چه دغه آلهه تدبیر کونکی دی) او ستاسو حاجتونه پوره کولے شی نو دا غټ حاجت دے، دا دِے درلـه پـوره کړی، دا څنګه معبود دے چه ځانونه مو سترې کړل او د سخت حاجت په وخت کښ ستاسو مدد نشی کولے۔
(۳) یا کـه تـاسو رشتینی یئ پدے قول کښ (لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَا) (انفال: ۳۱) (چه مونږ مقابله او معارضه کولے شو)
او **راجح** دا ده چه اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ د دواړو سره متعلق دے ځکه د مشرکینو دوه دعوے وے د خپـلو آلهه ؤ اُلوهیت ثابتول او د رسول الله ﷺ دروغژن والے ثابتول نو دلته ئے رد اُوشو۔
او د قـرآن کـمـال دا دے چه ټول تـفسیـرونـه چه متضاد نهٔ وی هغه به اخستے شی څه صراحةً وی او څـه ضـمـناً لکه دلته صراحةً د قرآن کریم رشتینوالے ثابتول دی او ضمناً پکښ دا هم ثابته شوه چه معبودان څه نشی کولے۔ ۲- او دا پیغمبر حق دے۔
۳- او دا هم ثابتـه شـوه چـه مشرکـان کاذبان او دروغجن دی پدے کښ چه دے نبی دا قرآن د ځان نه جوړ کړیدے۔
٤- دارنـګـه ثابتـه شـوه چـه قـرآن کـریـم معجزه خالده ده تر قیامته پورے، ددے څوك مـقـابـلـه نشی کولے۔ د رسول الله ﷺ معجزات د ټولو انبیاؤ نه زیاتے دی لکه نبی ﷺ فـرمـائی : هـر نبی تـه دومـره مـعـجـزات ورکړے شویدی څومره امتیانو چه پرے ایمان راوړے وو۔ او مـا تـه ډیره وحی شویده۔ بعض علماء وائی : زرمعجزات۔ بعض وائی : دوه زره وو۔
۳- سیـوطیؒ لیکی : درے زره معجزات وو۔ په دلائل النبوة کښ امام بیهقیؒ هم دے ته اشاره کړیده۔او شفاء د قاضی عیاضؒ کښ هم۔ د ټولو نه لویه معجزه قرآن کریم دے۔
فائده : الله رب الـعـزت کله د یو سورت د مقابلے مطالبه کړے ده لکه پدے مقام کښ شـو او کـلـه د ټول قرآن، لکه په سورة الاسراء (۸۸) کښ۔ او کله د لسو سورتونو، لکه په سورة هود (۱۳) کښ۔ دے ته اِرْخَاءُ الْعِنَانِ لِلْخَصْمِ وائی۔ (دشمن ته واګے سستول) دپاره د

غلبے کولو په هغهٔ باندے۔

فائده ۲ : د اهل السنة والجماعة عقیده دا ده چه د قرآن کریم هر آیت کښ اعجاز پروت دے چه خلق ئے د مقابلے نه عاجز دی۔

(۲) او متکلمین وائی : صرف یو آیت مُعجز دے لا علی التعیین۔ لکه دا خبره امام رازیؒ په خپل تفسیر کښ کړیده۔

(۳) بعض متکلمین وائی : انسانانو ته د قرآن کریم مقابله ممکن ده، لیکن الله تعالیٰ د هغوی صرف الهمة کړیدے، یعنی د بندگانو همت ئے ددے د مقابله نه اړولے دے۔ دا روستنئ دواړه عقیدے خطاء دی۔

فائده ۳ : بعض خلق وائی چه (فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِثْلِهِ) کښ د یوے جملے مطالبه شویده۔ لیکن دا مطلب غلط دے ځکه د حدیث نه مراد کتاب دے لکه سورة الطور کښ به راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَا تَّقُوا
پس که چرے دا کار مو اُونکړو، او هیچرے ئے کولے نهٔ شئ، نو اُویریږئ (د توحید په منلو
النَّارَ الَّتِي وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ
او د ایمان په راوړوسره) د هغه اُورنه چه خشاك د هغے خلق او کانړی دی،
أُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۲۴﴾
تیار کړے شویدے کافرانو لره۔

تفسیر :

اُوس ترهیب او ترغیب بیانیږی یا تخویف اخروی او بشارت یا تهدید کفارو ته او تفریح مؤمنانو ته بیانیږی او دا د قرآن کریم عادت دے چه ترغیب او ترهیب جمع کوی دے دپاره چه خلقو کښ خوف او امید پیدا شی او د کفر او انکار نه خلاص شی) پدے کښ نور هم ډیر فوائد دی۔

عنوان الآية : (۱) [اَلتَّخوِیفُ الْاُخرَوِیُّ لِمَنْ کَذَّبَ بِالْقُرآن]۔
(۲) [اَلتَّخوِیفُ الْاُخرَوِیُّ لِمَنْ اَنْکَرَ مِنَ الْقُرآن]۔
(څوك چه د قرآن کریم تکذیب کوی او د هغه نه انکار کوی او پدے باندے ایمان نهٔ راوړی نو هغه ته د آخرت یره ورکوی۔ او د آخرت عذاب ورله ذکر کوی)۔
فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا : یعنی که سورة مو رانهٔ وړو۔ نو ددے جزاء پټه ده۔ یعنی (فَآمِنُوْا) (پس ایمان راوړئ) او دا روستو فَاتَّقُوا النَّارَ ئے دلیل د جزاء دے۔ لیکن فَاتَّقُوا النَّارَ ئے دهغے په ځائے کیخودو ځکه چه یره ورکول مقصد دے۔ او د آخرت یره چه د چا په زړه کښې راغله نو هر خیر به پکښې راجمع کیږی۔ ایمان به هم راوړی۔
وَلَنْ تَفْعَلُوْا : دا اخبار بالغیب دے او صادق شویدے چه الله تعالیٰ فرمائی، دوی هیچرے دا مقابله نشی کولے، ترقیامته پورے ئے هم څوك نهٔ شی، او کومو کسانو چه د نبوت په زمانه کښې یا روستو دور کښې خپله خواری د مقابلے کړیده نو هغوی داسے څهٔ راوړی دی چه د عقلمندو دپاره مَضحکه او خندا گرځیدلے ده لکه مسیلمة الکذاب وغیره۔ نو قرآن کښې دومره کمالات موجود دی۔ چه خلق ئے د مقابلے نه عاجز شویدی۔ او بعض اعجازات القرآن دی۔
فَاتَّقُوا النَّارَ : یعنی اُویریږئ د اُور نه په ایمان راوړلو په الله تعالیٰ او کتابونو او رسولانو او د هغه د فرائضو په عملی کولو او د هغه د مناهیو نه په ځان ساتلو سره۔
دلته د تقویٰ نه لغوی معنیٰ مراد ده۔
النَّارَ : دلته ئے نار معرفه راوړه او سورة التحریم (٦) کښې ئے ناراً نکره راوړے وه ځکه چه دا سورة مدنی دے او تحریم مکی دے نو دلته ورته اشاره اُوکړه چه هغه اُور نه اُویریږئ چه تاسو ته مخکښې معلوم شویدے۔ او هغه داسے اُور دے چه د دنیا د اُور نه اوویا چنده زیات دے۔
وَقُوْدُهَا : (وَقُوْد) په زبرد واو سره) (مَا یُتَوَقَّدُ بِهِ النَّارُ مِنَ الْحَطَبِ وَغَیْرِهَا)
(هغه شی ته وائی چه په هغے باندے اُور بلیږی که خشاك وی او که بل څه وی) وَقَدَ په معنیٰ د بلولو سره دے۔ لکه اِسْتَوْقَدَ نَارًا۔
النَّاس : ددے نه مراد انسانان دی چه د توحید او رسالت نه منکر دی، لکه روستو (اُعِدَّتْ لِلْکَافِرِیْنَ) پرے دلیل دے۔ او دارنگه په سورة آل عمران (۱۰) کښې دی۔ اگرکه

پیریان هم جهنم ته ځی لیکن هغه د انسانانو تابع دی په مکلف کولو کښې۔

وَالْحِجَارَةُ : ددې درې مصداقات دی (۱) عبد الله بن عباس او ابن مسعود رضی الله عنهما نه نقل دی په صحیح سند سره چه ددې نه مراد حجارة الکبریت (د ګند هك (ګوګړو) کانړی) دی او دا ئې خاص ذکر کړل ځکه چه پدیکښې خصوصیات دی، ۱- سخته ګرمی ورکونکې۔ ۲- سختې لمبې وهونکې، ۳- زر بلیدونکې ٤- بدبوئی کونکې۔ ٥- ډیر لوګې کونکې۔ ٦- او سخت جوختیدونکې وی۔

(۲) - (حِجَارَةُ الْأَصْنَام) یا ددې بتانو او د قبرونو کانړی دی، دا پکښې سوزوی چه مشرکان ذلیله او خړ کړی چه مشرکانو ته پته اُولګی چه زمونږ معبودانو هیڅ هم نشو کولې۔ لکه آیت کښې دی : (اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ) (الانبیاء/ ۹۸)

(۳) یا عام کانړی مراد دی۔ بیا د جهنم اُور څومره سخت ګرم دې چه د سختې ګرمی په وجه پکښې د لرګو په ځائې کانړی سوزی۔ دا د الله تعالیٰ اِیتهم دې۔ او دلته درې واړه مراد کیدل صحیح دی۔

اُعِدَّتْ : پدې جمله کښې یو څو **فوائد** دی (۱) اُعِدَّتْ ئې صیغه د ماضی مجهول راوړه اشاره ده چه جهنم او جنت د پخوا نه تیارکړې شویدی، جهنم اُوس هم پیدا دې او دا د اهل السنت والجماعت عقیده ده او ډیر صحیح احادیث ددې تائید کوی۔ خلاف ثابت دې جهمیه ؤ لره۔ نو سوال دا دې چه دا الله تعالیٰ د مخکښې نه څه له پیدا کړیدی ؟ نو جواب دا دې چه ددې په پیدائش کښې مختلف فوائد دی :

۱- کله چه یو شې مخکښې نه موجود وی نو خلق د هغې طلب کوی او د هغې نه یره کوی۔

۲- د مؤمن او د کافر روح ورځی۔ [اِنَّ نَسَمَةَ الْمُؤْمِنِ طَائِرٌ یَعْلُقُ فِیْ شَجَرِ الْجَنَّةِ] (النسائی :۲۰۷۳صحیح) نو د هغوی د عملونو بدله اُوس نه شروع ده۔ په قبر کښې او په برزخ کښې او په جنت او جهنم کښې۔

۳- دنیا کښې د جنت او جهنم آثار شته۔ لکه اُوړې ژمې د جهنم براس دې۔ [اِنِّیْ اَجِدُ رِیْحَ الْجَنَّةِ مِنْ دُوْنِ اُحُدٍ] [بخاری : ٤٠٤٨]

(۲) **فائده** : اعدت کښې بشارت دې مؤمنانو له او تحذیر او سخته دهمکی ده کافرانو له چه ایمان والو دپاره تیار نهٔ دې بلکه کافرانو له تیار دې۔ نو سوال دا دې چه ایمان والا

بیا څنګه ورځی ؟ جواب دا دے چه ایمان والا تبعاً ورځی۔
مثال ئے داسے دے چه طعام میلمه له تیار وی لیکن خادم ئے هم خوری۔ او الله تعالیٰ ایمان والو ته ادب ورکوی چه تاسو کښ ولے ګنده صفات راغلی وو۔ او ایمان والو ته الله تعالیٰ فرمائی : چه د کافرانو ځائے ته ځان ولے راکاږئ۔ بیا ایمان والا چه جهنم ته لاړ شی نو یو وخت د اوقاتو کښ به ترے واپس راوځی خو الله تعالیٰ ته پته ده چه څومره موده به وی، د هر سړی د ګناه مطابق وخت تیرول به وی لکه دا خبره د نصوص شرعیه ؤ نه معلومه ده۔

وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ
او زیرے ورکړه هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے او نیك عملونه ئے کړی چه بیشکه دوی لره
جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ كُلَّمَا رُزِقُوْا مِنْهَا
جنتونه دی چه بهیږی به لاندے د هغے نه نهرونه، هر کله چه ورکړے شی دوی ته د هغے نه
مِنْ ثَمَرَةٍ رِّزْقًا قَالُوْا هٰذَا الَّذِىْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ
څه میوه، دپاره د خوراك، وائی به دوی دا هغه څیز دے چه راکړے شوے وو مونږ ته مخکښے
وَاُتُوْا بِهٖ مُتَشَابِهًا ؕ وَلَهُمْ
(په دنیا کښ)۔ او راوړے به شی دوی ته دا رزق چه مشابه به وی (د دنیا د میوو سره) او دوئ لره
فِيْهَاۤ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۙ وَّهُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۵﴾
به په دے (جنتونو) کښ بیبیانے وی پاکے کړے شوے او دوی به په هغے کښ همیشه وی۔

تفسیر :

ددے مقابله کښ اُوس زیرے ورکوی چه یو سړے الله تعالیٰ باندے ایمان راوړی هغه اُوپیژنی، او نبی ﷺ باندے ایمان راوړی نو څه به اُوشی؟ نو الله تعالیٰ فرمائی : ډیر غټ

انعام به ورته ملاؤ شي۔ **عنوان الآية :** (اَلْبِشَارَةُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ الصَّادِقِيْنَ بِبِشَارَاتٍ اَرْبَعٍ)
(رشتيني ايمان والو دپاره په څلورو طريقو زيرے بيانوي او دا كامل زيرے دے)۔
د قرآن كريم دا طريقه ده چه د هر ترهيب (يرے) بيانولو نه روستو ترغيب (رغبت وركول) او د هرے خوشحالئ نه روستو دهمكي ذكر كوي، ديته وعد او وعيد، تخويف او بشارة، ترغيب او ترهيب وائي۔ قرآن كريم كښ اضداد بيانيږي۔ پدے وجه هركله چه د كفار او د هغوی د اعمالو او د عقاب ذكر اُوشو نو مناسب وه چه د ايمان والو او د هغوی د بشارتونو ذكر اُوشي، نو پدے آيت كښ اول مخاطب رسول الله ﷺ دے او بيا په هر دور كښے د هغه قائم مقام دا عيان خلق دي۔ رسول الله ﷺ چه قرآن كريم بيان كړو نو بس دا د هغه زيرے شو، مستقل زيرى وركولو ته حاجت نشته ليكن بيا هم رسول الله ﷺ په ډيرو طريقو سره بشارتونه وركړيدي فرمايلي ئے دي :

[وَمَوْضِعُ سَوْطِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا] [بخاری : ۲۸۹۲]

(د چابك هومره ځائے د جنت، د دنيا او مَافِيهَا نه غوره دے)

او نبی ﷺ فرمائی : [لَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًا وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا] [بخاری : ۲۷۹۶]
(كه يوه جنتي زنانه زمكے ته راښكاره شي نو د زمكے او آسمان مابين به د خوشبوئی او رنړا نه ډك كړي، او د جنتي زنانه د سر لوپټه د دنيا او مافيها نه غوره ده) (احمد والبخاري)

(**وَبَشِّرْ**) بشارت : (د باء زير دے او پيش هم جائز دے او زبر وئيل خطاء دي) (اَلْخَبَرُ الْأَوَّلِيُّ السَّارُّ الَّذِيْ يَظْهَرُ أَثَرُهٗ عَلَى الْبِشْرَةِ) (هغه اول خبر ته وائی چه د هغے په آوريدو سره د انسان په مخ كښے خوشحالي پيدا كيږي)۔

فائده : ددے متعلق د صحابه كرامو واقعات واوره چه هغوی باندے به وعد او وعيد (بشارت او تخويف) څومره اثر كولو۔ (۱) رسول الله ﷺ يوه ورځ (د صلاة الكسوف نه روستو اُوفرمايل : (قَدْ أُوْحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُوْنَ فِيْ قُبُوْرِكُمْ مِثْلَ اَوْ قَرِيْبًا مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ) (ما ته وحي شويده چه په تاسو باندے به په قبرونو كښ امتحان راځي، د دجال د فتنے په شان يا د هغه زمانے ته قريب پورے) نو دا خبره مونږ ټول اُورو، دومره اثر راباندے نهٔ كوي ليكن صحابه كرامو باندے دومره اثر اُوكړو : [ضَجَّ الْمُسْلِمُوْنَ ضَجَّةً] [بخاری :۱۳۷۳ ،

نسائی : ۲۰٦۲] نو مسلمانانو یوه چغه اُووهله).

(۲) یوه ورځ رسول الله ﷺ راغلو او څه کسان اصحاب صفه قرآن کریم ته ناست وو د یو بل نه روستو، دے دپاره چه عورتونه ئے ښکاره نشی. نو رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل : [لِيُبَشِّرْ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِيْنَ بِمَا يَسُرُّ وُجُوْهَهُمْ فَإِنَّهُمْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ بِأَرْبَعِيْنَ عَامًا الخ) **(فقیران مهاجرین دِے خوشحاله شی په هغه شی چه د دوی مخونه به پرے خوشحاله وی ځکه دوی به د مالدارونه څلویښت کاله مخکښ جنت ته داخلیږی)**

نو عبد الله بن عمرو ﷺ فرمائی :

[فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَلْوَانَهُمْ اَسْفَرَتْ حَتّٰى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُوْنَ مِنْهُمْ]

(سنن النسائی الکبریٰ : ٥٨٤٥) والدارمي : ٢٨٤٤) وقال الحويني في الفتاوى الحديثية (١/١٥٥)

وسنده صحيح)

(ما د هغوی مخونه اُولیدل چه پړقیدل او تازګی پکښ راغله تردے چه ما ارمان اُوکړو چه زه د هغوی نه حساب شم).

(۳) دارنګه عبد الله بن عمر ﷺ د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ سره په مروه باندے ملاؤ شو نو دواړو خبرے وکړے بیا عبد الله بن عمرو ﷺ روان شو او عبد الله بن عمر ﷺ په مروه غوندئ کیناستو او ژړل ئے چا ورته اُوویل : یا ابا عبد الرحمن ولے ژاړے ؟ نو هغهٔ اُوفرمایل : [هٰذَا يَعْنِيْ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو زَعَمَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ، كَبَّهُ اللّٰهُ عَلٰى وَجْهِهٖ فِي النَّارِ] -

ما ته عبد الله بن عمرو وویل چه هغهٔ د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه هغهٔ وفرمایل : د چا په زړهٔ کښے چه د اُوری د دانے په مقدار تکبر او غرور وی نو الله تعالیٰ به ئے پرمخے اُورته ګوزار کړی). (احمد : ٦٥٢٦، ابوداود : ٤٠٩٦، مسند الشاميين رقم : ٦٢، ابی یعلی : ٥٣٣٠ - شعب الایمان: اسناده صحیح علی شرط البخاری).

کله چه په انسان کښ قوة الایمان وی نو بشارت او تخویف په هغه باندے دغه شان اثر کوی.

فائده : په بشارت کښ یو څو شیان وی. (۱) مُبَشِّرْ (بشارت ورکونکے) (۲) مُبَشَّرْ لَهُمْ (چا له چه زیرے ورکړے کیږی) (۳) مُبَشَّرْ بِهٖ (په څه سره چه زیرے ورکولے شی) (٤) مُبَشَّرْ عَلَيْهِ (په څه باندے چه زیرے ورکولے شی)

نو مُبَشِر محمد رسول الله ﷺ دے او مُبَشَّرُ لَهُمْ : مؤمنان دی او مُبَشَّرٌ بِهِ ايمان اوعمل صالح دے۔ او مُبَشَّرٌ عَلَيْهِ جنت دے۔

(آمَنُوا) يعنى كوم خلقو چه په زړه سره ايمان راوړو او بيا ددے ايمان تصديق ئے په نيك اعمالو سره اُوكړو۔ نو د ايمان نه مراد ايمان شرعى دے۔

(وَعَمِلُو الصَّالِحَاتِ) ورسره څكه وائى چه د منافقانو نه ئے تمييز راشى څكه چه منافقانو ايمان راوړے خو نيك عمل نكوى او ايمان والا ورسره نيك اعمال كوى۔

په ايمان كښ عمل صالح داخل دے او د ايمان يوه حصه ده۔ ليكن قرآن كريم كښ (عَمِلُوا الصَّالِحَاتِ) ورسره جدا ذكر كوى، ددے حكمة دا دے چه په ايمان كښ عمل صالح مُهم جزء دے۔ شيخ الاسلام ابن تيميهؒ ليكلى دى چه يواځے معرفة بلاعمل كافى نهٔ دے او الله تعالىٰ د انسان نه پدے نهٔ رضا كيږى۔(مجموع الفتاوى ٧/ ٣٧١)

داسے معرفت خو د يهوديانو هم وو چه دا نبى حق دے ليكن تابعدارى ئے نهٔ كوله نو هغوى ته كافر وئيلے كيږى۔

نو دلته تخصيص بعد التعميم اُوشود زيادتِ اهتمام او رفعتِ قدر د عمل صالح د وجه نه۔ او عطف هميشه دپاره تقاضا د مغايرت نهٔ كوى بلكه عطف څلور قسمه دے۔

(١) عطف كله د مترادفينو وى لكه اَسَدٌ وَغَضَنفَرٌ۔

(٢) كله د متباينينو وى لكه زَيْدٌ وَعَمْرٌو۔ پدے وخت كښ تقاضا د مغايرت كوى۔

(٣) كله عطف د خاص وى په عام باندے لكه [مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِلّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكَالَ] (البقره : ٩٨)

(٤) او كله عطف د جزء وى په كل باندے۔ لكه اَلْإِنْسَانُ وَرَأْسُهٗ۔

فائده : عمل صالح څه ته وائى ؟:

١- بيضاوىؒ فرمائى : (كُلُّ مَا سَوَّغَهُ الشَّرْعُ وَحَسَّنَهٗ)

(هر عمل چه شريعت ورته جائز وئيلى وى او بيا ئے ورته ښه وئيلى وى) كه صرف ئے جائز كړى نو دا مباح وى او چه ښه ورته اُووائى نو بس عمل صالح شو۔

(٢) (اِتِّبَاعُ الرَّسُوْل) (د رسول الله ﷺ تولے تابعدارئ ته عمل صالح وائى چه هغه څنگه اعمال كړى وى او كوم ئے كړى وى نو هغه عمل صالح دے)۔

(٣) شيخ الاسلام ابن تيميهؒ فرمائى : عمل به هله صالح كيږى چه دوه شرطونه پكښ

وی ۱ – کم ۲ – او کیف. کم مقدار ته وئیلے شی یعنی چه څومره عمل به وی لکه تعداد د رکعتونو شو او کیف طریقے ته وئیلے شی چه په کومه طریقه به وی. دا تعریف په رد د بدعت کښې ډیر مُهم دے.

(٤) هر عمل به هله صالح کیږی او د الله تعالیٰ په دربار کښې به قبلیږی چه یو څو شرطونه پکښې راشی. (۱) ایمان. چه ایمان نهٔ وی نو په دنیا کښې فائده کله ورکوی لیکن آخرت کښې فائده نهٔ ورکوی، پدے وجه ئے ایمان مخکښې ذکر کړو. (۲) دویم اخلاص به پکښې وی. د ریاء، عُجُب او د خود پسندئ دپاره به نهٔ وی.(۳) صدق. دیته وائی چه په طریقه د عادت به نهٔ وی.

د صدق او اخلاص فرق

د صدق او اخلاص فرق دا دے چه اِخْلَاص : اِفْرَادُ الْمَعْبُوْدِ بِالْعِبَادَةِ دے (عبادت یواځے د الله تعالیٰ دپاره کول) او صدق : اِفْرَادُ الْعِبَادَةِ عَنِ الْعَادَةِ. عبادت د عادت نه جدا کول. نو په طریقه د عادت به عبادت نهٔ کوی. پدے وجه شریعت وئیلی دی په مسجد کښې یو ځائے ځانله مهٔ مقرر وه ځکه بیا عادت جوړیږی.

(٤) اِتِّبَاعُ السُّنَّة. (د پیغمبر تابعداری سره به وی)

(٥) احتساب. د ثواب په نیت کول. او د عمل حساب لګول چه دے عمل کښې کوم اجر دے هغه ما ته ملاؤ شی.

(٦) اَلْاِحْسَان. (دِهان او توجه سره عمل کول) اَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ.

(۷) اَدَاءُ حُقُوْقِ الْعِبَادِ : د بندګانو حقونه به اداء کوی، که دا نهٔ وی نو نیك اعمال ئے بربادیږی لکه کنځلے کوی، ظلم کوی، قرض نهٔ ادا کوی.

(۸) اَلتَّأَثُّرُ مِنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ. د الله تعالیٰ او د رسول نه به پکښې متأثر وی یعنی د الله تعالیٰ د وجه نه او د الله تعالیٰ د رسول د وینا د وجه نه به ئے کوی. او که څوك په یوه مسئله عمل کوی او د امام او مذهب نه پکښې متأثر وی او د هغے د وجه نه ئے کوی نو دا عمل صالح نهٔ دے، بلکه برباد عمل دے. او دا شرط اخلاص ته نزدے دے.

(۹) اَلْاَدَبُ مَعَ اللّٰهِ. د الله تعالیٰ په ادب او احترام سره به وی. ځکه د بے ادبه انسان اعمال نهٔ قبلیږی. (۱۰) اَلْوَلَاءُ وَالْبَرَاءُ. (دوستی او دشمنی د الله تعالیٰ دپاره).

(۱۱) (مَحَبَّةُ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ) (د الله تعالیٰ سره به ئے انتهائی مینه وی)

(۱۳) اَلذِّلَّةُ (الله تعالیٰ ته به ځان انتهائی ذلیله کوی).
(۱٤) د کبائر الذنوب نه ځان ساتل ځکه پدے سره کله عمل برباد شي.
(۱۵) (اَکْلُ الْحَلَالِ). (حلال خوراك څکاك او لباس به استعمالوی)
(۱٦) (خَوْفُ الآخِرَةِ وَخَوْفُ لِقَاءِ اللّٰهِ سُبْحَانَهُ). (د آخرت او د الله تعالیٰ د ملاقات نه به په یره عمل کوی) (راجع الفوائد فی تزکیة النفوس)

اَنَّ لَهُمْ : لام د ملکیت دے. الله تعالیٰ به ئے مالکان جوړوی.

جنات : جنة په لغت کښې هغه باغ ته وائی چه په هغے کښې انګور ډیر وی او فردوس هغه ته وائی چه کجورے پکښې زیاتے وی. دلته ئے لغوی معنیٰ نۀ ده مراد بلکه مطلق باغونه مراد دی.

جنات ئے جمع راوړه ځکه چه جنتونه څلور دی. دوه جنتونه د سرو زرو او دوه جنتونه د سپینو زرو. (لکه دا خبره حدیث کښې ذکر ده)

[جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا] (بخاری : ٤٨٧٨)

یعنی دوه جنتونه د سپینو زرو دی ددے لوښی او پدے کښے چه څه دی دا ټول د سپینو نه دی. او دوه جنتونه د سرو زرو دی، ددے لوښی او پدے کښے چه څه دی. (ټول د سرو نه دی)

او بعض ځایونو کښې په یو دیوال کښې یوه خښته د سرو او یوه د سپینو لګیدلے ده.
او په حدیث کښے دی : [فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ مِائَةُ عَامٍ]
(صحیح : ترمذی : ۲۵۲۹)

په جنت کښے الله تعالیٰ سل (۱۰۰) درجے پیدا کړیدی، د هر درجے نه بلے درجے پورے سل کاله مسافت دے.

په یو بل روایت کښے دی : [إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللّٰهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِهِ مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ] په جنت کښے سل درجات دی، الله تعالیٰ د مجاهدین فی سبیل الله دپاره تیار کړیدی، یعنی خوك چه د الله د دین دپاره ځان کړه وی، د هرے درجے نه بلے پورے دومره فاصله ده لکه د آسمان نه تر زمکے پورے. (بخاری : ۲۷۹۰)

رسول الله ﷺ فرمائی :
[لَوْ اَنَّ الْعَالَمِينَ اجْتَمَعُوا فِي اِحْدَاهُنَّ لَوَسِعَتْهُمْ] (احمد : ۱۱۲۵٤ والترمذی : ۲۵۳۲ صحیح لغیره)

(که دا ټول مخلوقات په یو کښې راجمع شي نو هغه به ورته فراخه شي)

په یو حدیث کښې دي : [يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: اِقْرَأْ وَارْقَ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا]

[ابوداود : ١٤٦٦، احمد : ٦٧٩٩ الترمذی : ٢٩١٤، نسائی : ٨٠٥٦، بسند صحیح]

(قاري د قرآن ته به وائي، قرآن وایه او د جنت په درجو خیژه او داسې ئې وایه لکه څنګه چه دې په دنیا کښې لوستلو ستا درجه به هغه ځائې وي کوم ځائې چه آخري آیت راشي)

ددې حدیث نه معلومیږي چه د جنت درجات د سلو نه هم زیات دي او د قرآن کریم د آیتونو په مقدار دي۔ او یو حدیث کښې صراحةً راغلي دي چه درجات الجنة په مقدار د عدد دآیات القرآن دي۔ (ابن ماجه : ۳۷۸۰)

لیکن دا پدې سلو درجو کښې دننه وړې وړې درجې دي، لهذا هیڅ تعارض نشته۔

بیا په جنت کښې اته (۸) دروازې دي په هره دروازه باندې د یو عمل نوم کیخودلې شویدې۔ : ۱- باب الرَّيَّان، ۲-بابُ التَّوَّابِيْن۔ ۳- باب الصَّدَقَة، ٤- باب الصلوٰة، ٥- باب الجهاد، ٦- باب الرَّاضِيْنَ بِالْقَضَاءِ۔ (په تقدیر باندې رضا والا خلق)

۷- باب صَلٰوةِ الضُّحىٰ۔ ۸- باب الْاَيْمَن چه د هغې نه به اویا زره کسان بلا حسابه داخلیږي۔ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْهُمْ آمِيْن۔

(۲) دویمه وجه د جمع راوړو دا ده چه مجموعه جنات د مجموعه مؤمنانو دپاره دي۔

په جنت ایمان راوړل هم فرض او مینه ساتل هم ورسره فرض دي، حدیث کښې دي په جنت کښې داسې نعمتونه دي :

[أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيْنَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَاخَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ]

[بخاری کتاب التفسیر : ٣٢٤٤]

(چه سترګو نۀ دي لیدلي او غوږونو نۀ دي اَوریدلي، او د یو انسان په زړه نۀ دي تیر شوي) او دا جنتونه انسان ته په معمولي معمولي اعمالو حاصلیږي لکه حدیث کښې دي :

[اَلْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ] [بخاری: ٦٤٨٨]

(جنت یو تن ستاسو ته د څپلۍ د تسمې نه هم زیات نزدې دې)

حدیث کښې دي : چه ازغې د لارې نه لرې کړي، یا دوه رکعاته مونځ سره هم جنت

حاصلیږی۔ صرف په اوداسه سره او د هغې نه روستو اشهد ان لا اله الا الله الخ دعاء وئیلو سره هم د جنت اته واړه دروازے کولاویږی۔

مِنْ تَحْتِهَا : [اَیْ مِنْ تَحْتِ قُصُوْرِهَا وَأَشْجَارِهَا]

(د جنت د بلډنګونو او ونو لاندے به روانے وی)

په حدیث کښې دی : (فِیْ غَیْرِ اُخْدُوْدٍ) (ابن ابی شیبه) (وابونعیم فی صفة الجنة : ۳۳٦ عن انس بن مالك وابن عباس ومسروق) (ژورے کندے به نۀ وی بلکه د زمکے په سر به روان وی)

اَلْاَنْهَار : جمع د نهر ده، په جنت کښې څلور قسمه (٤) نهرونه دی۔ لکه سورة محمد (۱۵) کښې راغلی دی۔ د خالص اُوبو، پیوو، شهدو او شرابو نهرونه۔

او جنت کښې نور نهرونه هم شته لکه زنجبیل، سلسبیل، تسنیم، کافور وغیره۔ لیکن دغه څلور مشهور او غټ دی۔

(**رُزِقُوْا**) ئے مجهول صیغه اُووئیله څکه چه دوی به مخدوم وی او غلامان به ورته خوراکونه او میوه جات راوړی۔ نو دوی به د میلمنو پشان وی۔

هٰذَا الَّذِیْ رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ: ددے ډیر مطلبونه دی ۱- بعید تفسیر دا دے چه : [هٰذَا جَزَاءُ الْعَمَلِ الَّذِیْ وُفِّقْنَا مِنْ قَبْلُ اَیْ فِی الدُّنْیَا] (دا جنت او میوه جات بدله ده د هغه عمل چه مونږ ته ئے په دنیا کښے توفیق راکړے شوے وو) دا تفسیر راجح نۀ دے څکه چه تقدیر پکښې زیات دے۔ او د ظاهر خلاف دے۔ بله دا چه جنتیان به وائی : (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ) فاطر (۳٤) (اَلَّذِیْ أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهِ) (فاطر : ۳۵)۔ (د الله په فضل جنت ته راغلو)

۲- دویم تفسیر : دا هغه رزق دے چه مونږ ته راکړے شوے وو په دنیا کښې څکه د جنت میوے د دنیا د میوه جاتو سره مشابه دی۔ او روستو لفظ هم ددے تائید کوی۔

عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی : (لَیْسَ فِی الدُّنْیَا مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ اِلَّا الْأَسْمَاءُ) (په دنیا کښې د جنت د میوه جاتو نه صرف نومونه دی) لکه سیب، مالټا، کیله، اګرکه خوندونه او مزه به ئے جدا جدا وی۔ څکه چه ناشنا میوه چه چا لیدلی نۀ وی نو هغه انسان له مزه نۀ ورکوی۔ دا معنیٰ ابن جریرؒ غوره کړیده۔

[ابن ابی حاتم وابن جریر، القرطبی، ابن کثیر، المنار]

۳- دریم : دا به په جنت کښې وائی چه کله دویم ځل ورکړے شی، نو دویم ځل به وائی

چه دا خو مونږ ته مخکښې راکړے شو، پدے کښې اشاره ده چه د جنت د میوو رنګونه به یو شان وی لیکن هر یو کښې به خوند جدا جدا وی، دنیا کښې ئے مثال دا دے لکه یو سیب دے چه د سوات د سیب جدا خوند او د پنجاب جدا او د کابل جدا خوند وی۔ دا قول حافظ ابن القیمؒ غوره کړیدے ځکه چه په دنیا کښې د جنت د ټولو میوه جاتو نمونه نشته۔

وَأُتُوا بِهِ : ضمیر د (بِهِ) راجع دے رزق ته په معنیٰ د میوه جاتو سره۔

مُتَشَابِهًا : ۱- (مُتَشَابِهًا فِي اللَّوْنِ لَا فِي الطَّعْمِ) (مجاهد وابی العالیة، واختاره ابن جریر) (یعنی دا میوے به د یو بل سره مشابه وی په رنګ کښې نۀ په خوند کښې) ۲- مُتَشَابِهًا بِثِمَارِ الدُّنْيَا) (عکرمة) (یعنی د دنیا د میوو سره به مشابه وی په رنګونو او نومونو کښې مګر خوندونه به ئے مختلف وی)۔

(۳) -(مُتَشَابِهًا يَعْنِي يُشْبِهُ بَعْضُهَا بَعْضًا فِي الْجَوْدَةِ وَلَا يَكُونُ فِيهَا رَدِيْءٌ) (بحر العلوم للسمرقندی ۱/۳۰) (یو بل سره به مشابه وی په کره والی او مزیدار والی کښې چه ردی به پکښې هیڅ نۀ وی) ددے نه قتادهؒ او حسنؒ داسے تعبیر کوی : (خِيَارٌ كُلُّهُ لَا رَذْلَ فِيهِ) (ابن جریر، قرطبی، لباب) (د جنت میوے ټولے د یو بل مشابه دی په غوره والی کښې چه هیڅ خرابه میوه پکښے نشته) لکه دنیا کښې ګاړی ته چه اُودرېږے نو اکثر پکښے ګند پروت وی، هغه به داسے نۀ وی بلکه ټول به یو شان وی، د هغے مالټے، کیلے، سیوان ټول به ښه وی، خو دا ملاویږی په ایمان او عمل صالح۔

بیا (جنات) د هغوی کور شو (كُلَّمَا رُزِقُوا) ئے خوراك شو نو اُوس ملګری بیانوی :

(وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ) : ښځه چه د سړی نۀ وی نو که ډیر خوراکونه وی خو سړے خفه وی او چه ښځه هم د سړی ښه مزیداره وی او خوشحاله وی، لیکن بله ورځ مری، نو ډیر خفه وی، چه دا نعمتونه رانه پاتے کیږی۔ نو وائی چه دوی به په کښې همیشه وی۔ ددے نعمتونو دپاره دنیا کښې ډیره سخته تیرول هم معمولی دی۔

(ازواج) جمع د زوج ده، سړی او زنانه دواړو ته وئیلے شی او زوجه دیته وائی چه د انسان سره موافقت لری په محبت، ایمان او عقیده کښې۔ دا وجه ده د کافرانو بیبیانو ته ازواج نۀ وئیلے کیږی۔ او اِمْرَأَةٌ لفظ عام دے۔ او دا بیبیانے حوری د جنت دی او د دنیا مؤمنے زنانه دی چه دا به هم ورله الله تعالیٰ ورکړی او د جنت حوری هم۔ لکه سورة الطور (۲۰) او سورة الواقعه (۲۲) (۳۵) کښې راغلی دی۔

حدیث کښې راځي : [لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا يُرٰى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ لَحْمِهَا مِنَ الْحُسْنِ] [بخاری : ٣٢٤٦]

د هر جنتي به دوه بيبيانې وي، چه د هرې يوې به دومره ښائست وي چه د هغې د پنډۍ مغز به د هغې د غوښې نه اخوا ښکاره کيږي د وجه د حسن نه۔

په روايت د دارمي کښې دي : [مَا فِي الْجَنَّةِ إِلَّا لَهُ زَوْجَتَانِ إِنَّهُ لَيُرٰى مُخُّ سَاقِهِما مِنْ وَرَاءِ سَبْعِيْنَ حُلَّةً مَا فِيْهَا مِنْ عَزَبٍ] د هر جنتي به د حور العين نه دوه بيبيانې وي، چه هغوی به ايا جوړې اغوستې وي، چه د هغې نه اخوا به ئې د پنډۍ مغز ښکاره کيږي (د ډير صفاوالي په وجه) په هغوی کښې به هيڅوك بې وادۀ نۀ وي۔

(الدارمی : ٢٨٣٢، اسناده صحيح)

او په يو بل روايت کښې دي :

[إِنَّ فِي الْجَنَّةِ خَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ مُجَوَّفَةٍ عَرْضُهَا سِتُّوْنَ مِيْلًا فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ مَا يَرَوْنَ الْآخَرِيْنَ يَطُوْفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُ] [بخاری : ٤٨٧٩] (٧٣٣٧)

(په جنت کښې به د مؤمن دپاره د ملغلرې يوه خيمه وي چه ډډه به وي، پلنوالې به ئې شپيته ميله وي (او په روايت د مسلمؒ کښې دي : چه اُوږد والې به ئې شپيته ميله وي) د هغې په هر کوټ کښې به د مؤمن اهل وي، چه نور به نۀ ويني، مؤمن به په هغې باندې ګرځي)۔

ددې نه ثابتيږي چه د مؤمن دپاره د دوه بيبيانو نه علاوه هم شته۔ او مخکنی حديث کښې ادنیٰ درجه د بيبيانو ذکر ده چه دوه دي۔

(**مُطَهَّرَةٌ**) يعنی هر اعتبار سره به پاکې وي، د هغوی اخلاق، د هغوی خِلقت، د هغوی ژبه او نظرونه ټولو کښې به طهارت او پاکيزګي وي، مفسرينو ليکلی دي او د احاديثو نه معلوميږي چه د حيض، نفاس، متيازو، لاړې او د سپيګمو نه ګندونه راوتل، خيرو، او بد بوئيانو نه به پاکې وي لکه د دنيا زنانو کښې دا ځيزونه وي۔ او دارنګه اخلاق د اکثرو زنانو کاره وي، چلونه او جګړې کوي، د خاوندانو سره اختلافات کوي۔ او جنتي زنانه به داسې نۀ وي، دا انتهائي ډير لوئي سعادت دې۔

(خَالِدُوْنَ) د خلود معنیٰ ده هميش والې۔ او دا ډير لوئي سعادت دې چه ددې قسماقسم نعمتونو سره انسان ته د هميشه ژوند اعلان اُوکړې شي، چه نۀ به نعمتونه ختميږي او

نۀ به مرګ راځي لکه حدیث کښې راغلي دي :
مرګ به د ګډ په شکل راوستے شي او د جنتیانو او جهنمیانو دواړو ترمینځ به ذبح کړے شي او جنتیانو او جهنمیانو ته به اعلان اُوکړے شي۔ (خُلُوْدٌ لَا مَوْتَ) (اے جهنمیانو ! مرګ ختم شو او اے جنتیانو! مرګ ختم شو)۔ (صحيح بخاری كتاب الرقاق - بَابٌ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَبْعُوْنَ اَلْفًا رقم : ٤٧٣٠)
په بل روایت کښې دي (کومه ډله چه په کوم حالت وي په همغه حالت به همیشه دپاره وي)
او دا آیت دلیل دے چه جنت او د هغے نعمتونه او جنتیان به همیشه وي په دوی به فناء نۀ راځي لکه دا قول د ټولو اهل السنة والجماعة دے۔او معتزله او جهمیه ددے خلاف کوي او د هغوی سره هیڅ نقلي دلیل نشته۔

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيٖۤ أَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوْضَةً فَمَا فَوْقَهَا ؕ
یقیناً الله حیاء (شرم) نۀ کوي ددے نه چه بیان کړي یو مثال د ماشي یا د هغے نه بره
فَأَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ
پس هرچه هغه کسان دي چه ایمان ئے راوړے، نودوئ پو هیږي چه بیشکه دا مثال حق دے
مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَيَقُوْلُوْنَ مَاذَآ
د طرفه د رب د دوی نه، او هر چه هغه کسان دي چه کفرئے کړے نو وائي دوئ څه
اَرَادَ اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهٖ كَثِيْرًا
اراده کړے الله تعالیٰ په دے سره د مثال بیانولو۔ ګمراه کوي پدے سره ډیر خلق
وَّيَهْدِيْ بِهٖ كَثِيْرًا ؕ وَمَا يُضِلُّ بِهٖۤ اِلَّا الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾
او هدایت کوي پدے سره ډیرو خلقو ته او نۀ ګمراه کوي پدے سره مګر نافرمان خلق۔

تفسیر :
اُوس حکمة الامثال بیانوی۔ او ضمناً پکښې د قرآن کریم کمال ذکر دے۔او په قرآن کریم باندے ایمان راوړو ته ترغیب دے او رد په کفر دے۔ او دا بیانوی چه څوك په الله تعالیٰ باندے اعتراضونه کوی نو هغوی گمراه کیږی۔

مناسبة : د (وَاِنۡ كُنۡتُمۡ فِىۡ رَيۡبٍ) سره دے چه دوئ په قرآن کریم کښې شك کولو په بیانولو د مثالونو۔ نو دلته جواب اُوشو چه مثال کښې نقصان نشته۔ (۲) متعلق دے د مثلهم او کصیب سره۔ (۳) موضوع د سورت سره مناسبة په ایمان بالقرآن کښې دے۔
(٤) دارنگه متعلق دے د هُدًى لِلۡمُتَّقِيۡنَ سره یعنی [هُدًى لِلۡمُتَّقِيۡنَ وَضَلَالٌ لِلۡمُعۡتَرِضِيۡنَ الۡفَاسِقِيۡنَ]۔ (دا کتاب خو د متقیانو دپاره هدایت دے لیکن د اعتراض کونکو فاسقانو دپاره سبب د گمراهئ دے)

شان نزول : په دوه طریقو : (۱) مفسرین فرمائی : دا آیت نازل شویدے، دے باره کښې چه کله مخکښې دوه مثالونه بیان شو نو منافقانو له غصه ورغله او په شمول د یهودیانو او بعض مشرکانو ئے اعتراض اُوکړو چه قرآن کریم کښې مثالونه څنگه بیان شی، مثال بیانول خو د عاجز او کمزورو خلقو کار دے او د هغه چا کار دے چه فصاحت او بلاغت پکښې نۀ وی، مخاطب په خبره بغیر د مثال نه نشی پو هه کولے او الله تعالیٰ کامل ذات دے هغه څه له مثال بیان کړی او بیا هم تاسو دعوه کوئ چه دا قرآن کریم د الله تعالیٰ کتاب دے۔ نو الله تعالیٰ جواب کوی په ذکر کولو د حکمتونو د مثال سره یعنی فرمائی چه زۀ هم مثالونه بیانوم پدے کښې خو څه نقصان نشته۔ بلکه په مثالونو کښې انسانانو ته ډیر حکمتونه او پو هه حاصلیږی۔
(۲) او قرطبیؒ د حسنؒ او قتادهؒ نه نقل کړیدی چه دا اعتراض یهودیانو کړے وو کله چه پدے سورت کښې د کافرانو او منافقانو مثالونه ذکر شول او په هغوی کښې خو یهودیان هم داخل وو نو په هغوی باندے دا مثالونه بد اُولگیدل نو اعتراض ئے اُوکړو۔
(۳) بعض وائی : دا آیت په جواب ددے کښې وو چه الله تعالیٰ په سورة الحج او عنکبوت کښې د مچ او عنکبوت (جولاگی) مثال ورکړے وو دپاره د عجز د معبودانو، نو مشرکانو اُووئیل چه الله تعالیٰ خو غټ ذات دے څنگه وړے خبرے کوی؟
نو الله رب العزت ددے جواب کوی او حکمة د مثال راوړی۔ دا تول جائز دی اگر که اوله

خبره د سورت سره زیاته تعلق لري. (ابن کثیرؒ) غوره دا ده چه هر چا چه دا اعتراض کړے دے، یا ئے اُوس کوی نو دا جواب د هغوی دپاره دے.

توضیح الکلمات وفوائدها :

(**لَا یَسۡتَحۡیٖ**) **حَیَاء** : په لغت کښ [اَلۡاِنۡقِبَاضُ عَنِ الشَّیۡءِ وَالۡاِمۡتِنَاعُ مِنۡهُ]
(د یو شی نه راغونډیدل او منع کیدل)
او په اصطلاح کښ : [خُلُقٌ یَمۡنَعُ الۡاِنۡسَانَ عَنۡ مُوَاقَعَةِ الۡقَبِیۡحِ شَرۡعًا اَوۡ عَقۡلًا].
(دا یو خوئی دے چه انسان منع کوی د ځان واقع کولو نه په قبیح کښ، شرعاً یا عقلًا)
دا حیاء په صفت د بندګانو کښ ده.
بله عرفی حیاء ده : [خُلُقٌ اَوۡ ضُعۡفٌ یَمۡنَعُ الۡاِنۡسَانَ عَنِ الۡاَفۡعَالِ الۡحَسَنَةِ]
(یو خوئی دے یا ضعف دے چه انسان د ښائسته کارونو نه منع کوی) دیته شرمیدل او رُعب وائی لکه یو انسان تقریر، دعوت، اذان او امامت نشی کولے، شرمیږی، او رعب پرے راځی دا د زړه د کمزورتیا نه پیدا کیږی.
حدیث کښ د حیاء ډیر فضائل راغلی دی.
[اَلۡحَیَاءُ خَیۡرٌ کُلُّهٗ] (حیاء ټول سراسر خیر دے) [مسلم : ۱٦٦]
[اَلۡحَیَاءُ لَایَأۡتِیۡ اِلَّا بِخَیۡرٍ]. (حیاء صرف خیر راوړی) [مسلم : ۱٦٥]
[اِنَّ مِمَّا اَدۡرَکَ النَّاسُ مِنۡ کَلَامِ النُّبُوَّةِ الۡاُوۡلٰی : اِذَا لَمۡ تَسۡتَحۡیِ فَاصۡنَعۡ مَا شِئۡتَ]
[بخاری : ۳٤۸٤ و ٦۱۲۰]
(بعض هغه خبرے چه خلقو د پخوانو انبیاؤ نه موندلے دی یوه دا ده چه کله تهٔ حیاء نهٔ کوے نو کوه څه چه دے خوښه وی)
کله چه د انسان نه حیاء ختمه شی نو بیا هر شر په هغه کښ راجمع کیدے شی. د ټول یهود او نصاراؤ دا کوشش دے چه د بندګانو نه حیاء اُویاسی.
او حدیث کښ راغلی دی : [اِنَّ الۡاِیۡمَانَ وَالۡحَیَاءَ قُرِنَا جَمِیۡعًا فَاِذَا رُفِعَ اَحَدُهُمَا رُفِعَ الۡآخَرُ]
[الادب المفرد ۱/٤٤٥/۱۳۱۳، ابو نعیم، حاکم، بیهقی فی الشعب- بسند صحیح].
(ایمان او حیاء دواړه تړلی دی، کله چه یو پورته کیږی نو بل هم ورسره پورته کیږی).
فائده : د الله تعالیٰ په صفاتو کښ حیاء کول او نهٔ کول دواړه راغلی دی، لکه دلته او سورة الاحزاب (۵۳) کښ دی : [وَاللّٰهُ لَایَسۡتَحۡیٖ مِنَ الۡحَقِّ] (الله تعالیٰ د حق بیانولو نه

حیاء نکوی) ام سُلیم رضی الله عنها هم د رسول الله ﷺ نه د مسئلے تپوس کولو نه مخکښې داسې اُوفرمایل : [یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَسْتَحْیِيْ مِنَ الْحَقِّ فَهَلْ عَلَی الْمَرْأَةِ مِنْ غُسْلٍ اِذَا هِيَ احْتَلَمَتْ] [بخاری : ۱۳۰، مسلم : ۷۳۸]

او الله تعالیٰ حیاء د بعض څیزونو نه کوی هم لکه الله رب العالمین په فحشاء باندے امر نۀ کوی۔

دارنګه [اِنَّ اللّٰهَ حَیِيٌّ کَرِیْمٌ یَسْتَحْیِيْ مِنْ عَبْدِهٖ اَنْ یَّرْفَعَ اِلَیْهِ یَدَیْهِ فَیَرُدَّهُمَا صِفْرًا]

[ترمذی: ۳۵۵٦ ابوداود : ۱٤۹۰، ابن ماجه : ۳۸٦٥، صحیح]۔

(یو انسان ورته لاس اُوچت کړی، الله تعالیٰ له حیاء ورځی چه لاس ورله هسے واپس کړی)، سپین ګیری ته د عذاب ورکولو نه حیاء کوی۔

او حدیث کښې دی : [اِنَّ اللّٰهَ حَیِيٌّ سِتِّیْرٌ یُحِبُّ الْحَیَاءَ وَالسَّتْرَ] [ابوداود : ٤٠١٤ والنسائی : ٤٠٦ صحیح] (ډیر حیاناك او پرده کونکے ذات دے، حیاء او ستر خوښوی)

مګر د حق بیانولو نه حیاء نکوی، ځکه دا حیاء په درجه د رُعب کښې ده، او رعب خو د وجه د ضعف نه راځی او الله تعالیٰ باندے رُعب نۀ راځی، ځکه الله تعالیٰ کامل ذات دے او رُعب د انسان صفت دے نو الله تعالیٰ له دا حیاء نۀ ورځی چه یو مثال بیان کړی چه اُووائی دا مثال وړوکے دے، زه ئے نۀ بیانوم ځکه خلق به راپسے خاندی، الله تعالیٰ ددے خبرو نه نۀ یریږی۔

لهذا حیاء الله تعالیٰ لره ثابته ده لکه څنګه چه د هغۀ د شان مطابق وی او پدے کښې لازمی معنے کول انکار دے د الله تعالیٰ د صفت نه لکه چه اکثرو مفسرینو هغه تاویلات کړیدی چه دلته لَا یَسْتَحْیِيْ په معنیٰ د (لَایَتْرُكُ اَوْ لَا یَخْشٰی) سره دے (یعنی الله تعالیٰ بیان نۀ پریدی او نۀ یریږی د بیانولو د مثال نه) وائی چه څوك حیاء کوی نو هغه قبیح کار نۀ کوی او د هغے د کولو نه یریږی۔ لیکن دا تاویلات صحیح نۀ دی۔

ان یضرب : ضرب : ۱- په معنیٰ د وهلو۔(فَضَرْبَ الرِّقَابِ) (محمد:٤)

۲- په معنیٰ د سفر کولو وی کله ئے چه په صله کښې فی راشی لکه (وَآخَرُوْنَ یَضْرِبُوْنَ فِي الْأَرْضِ) (المزمل: ۲۰)

۳- که صله کښې ئے لام راشی نو په معنیٰ د بیانولو وی۔ لکه (وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ) (الزمر: ۲٦) (وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ) (العنکبوت :٤۳) دلته ئے د بیان

معنیٰ ده۔

مَثَلًا مَا: مثل په معنیٰ د مثال دے، او بعوضة د هغے نه بدل دے، یعنی هغه مثال څه شے دے ؟ هغه ماشے دے۔ مثل اصل کښې قصه عجیبه ته وائی ناشنا قصه چه یود بل سره مشابه کول وی۔ (ما) زائده د تاکید د مثل دپاره ذکر ده۔

بَعُوضَةً : (ماشی ته وائی) دیته بق هم وائی۔ بعض وائی: دواړه یو شے دے، لیکن راجح دا ده چه بق غټ ماشی ته وئیلے شی او بعوضه وړوکے ماشے دے۔ (تفسیر خازن، لسان العرب)

او بَعُوْضَةٌ مفرد او بَعُوْضٌ ئے جمع ده۔ د بعض نه ماخوذ دے، ځکه چه دا هم بعض او وړوکے شان وی۔ دلته ئے بعوضة راوړو، نهٔ بق، دپاره د تقلیل او تحقیر۔ په ابتداء د قرآن کریم کښې الله تعالیٰ وړوکے حیوان (بعوضه) ذکر کړیدے او په آخر کښې ئے فیل (هاتی) غټ حیوان ذکر کړیدے۔

(**لطیفه**) په حیٰوة الحیوان کښې علامه دَمیری لیکلی دی چه ماشے د هاتی په شکل دے لیکن د هاتی نه ئے اندامونه زیات دی، د هاتی څلور خپے یو خرټم او یوه لکۍ ده او د ماشی دوه خپے زیاتے دی، او څلور وزرے ئے دی، او خرټم د هاتی کوتلے دے او خرټم د ماشی ډډ وی، او خیټے ته وتلے دے، کله چه پدے سره انسان ووهی نو وینه ترے راخکاړی او سیده ئے خیټے ته ورسوی، نو دا ئے د مرۍ او حلق په ځائے کار ورکوی پدے وجه د ماشی چیچل ډیر سخت وی او سخته څرمن سورۍ کوی۔

پدے وجه خازنؒ لیکلی دی چه دا عجیب خلق د الله تعالیٰ دے چه ماشے سَره د وړوکوالی نه خپل خرټم د هاتی، د میخے او اُوښ په سخته څرمن کښې ننباسی تردے چه کله اُوښ ددهٔ د چیچلو په وجه مړ هم شی۔

دارنګه د ماشی دماغو کښې درے طبقات دی۔

ابن جریرؒ او سمرقندیؒ فرمائی : ماشے د دنیا په مثال کښې پیش کیدے شی ځکه چه ماشے کله اُوګے وی، نو ژوندے وی او چه موړ شی نو مړ شی، نو دغه شان انسان چه د دنیا د مال نه خالی وی نو د هغهٔ زړه کښې روحانی ژوند وی او چه د دنیا په مال سره موړشی نو زړهٔ ئے مړ او غافل شی۔ (طبری، بحر العلوم ۱ / ۳۱) یو شاعر فرمائی :

يَا مَنْ يَرٰى مَدَّ الْبَعُوضِ جَنَاحَهَا	❁	فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ الْبَهِيمِ الْأَلْيَلِ
وَيَرٰى عُرُوقَ نِيَاطِهَا فِي نَحْرِهَا	❁	وَالْمُخَّ فِي تِلْكَ الْعِظَامِ النُّحَّلِ
اِغْفِرْ لِعَبْدٍ تَابَ مِنْ فُرُطَاتِهِ	❁	مَا كَانَ مِنْهُ فِي الزَّمَانِ الْأَوَّلِ

(الکشاف ۱/۱۱٦) (اے هغه ذات! چه په تکه توره ابتدائی شپه کښې د ماشی د وزر د اُوګدولو لیدونکے دے. ۲- او د هغه د زړهٔ رګونه د هغه په سینه کښې وینی او د هغه په نرو هډوکو کښې مغز وینی، ۳- بخښنه اُوکړه هغه بنده ته چه توبه اُویاسی د خپلو هغه تجاوزونو نه چه ددهٔ نه په مخکښې زمانه کښې شویدی)

فائده : په قرآن کریم کښې (۳۱) حیوانات ذکر دی، که انسانان او پیران ورسره واخستے شی نو بیا (۳۳) جوړیږی. ماشے، سخے، غوا، خنزیر، خر، مارغه، اس، څاروی، درنده، کارغه، شادو، ګډ، بیزه، اُوښ، اُوښه، اژدها، مار، نرے مار، ملخ، سپګے، چندخ، مهیان، سپے، شرمخ، خچر، توره مچئ، مچ، میږے، ملا چرګك، جولاګے، وینهٔ، پتنګ، هاتی.

(**فَمَا فَوْقَهَا**) فوق اُوچت او زیات ته وئیلے شی که هغه اُوچتوالے په بدن کښې وی لکه نورغټ حیوانات شو او که په سپکوالی کښې وی لکه د ماشی وزر شو. او هغه په حدیث کښې ذکر دے. رسول الله ﷺ فرمائی :

[لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقٰى كَافِرًا مِنْهَا شُرْبَةَ مَاءٍ]

که دنیا الله تعالیٰ ته د ماشی د وزر هومره برابره وے نو کافر ته به ئے ددے نه یو ګوټ اُوبه هم نهٔ وے ورکړے)

[صحیح : سنن الترمذی : ۲۳۲۰، الحاکم : ۷۸٤۷- السلسلة الصحيحة/٦٨٦]

نو د ماشی د وزر نه ئے هم کمه کړیده او قرآن کښې ذره مثال ورکړے شوے دے.

فَاَمَّا الَّذِيْنَ : اُوس الله تعالیٰ فائده د مثال بیانولو ذکرکوی هغه دا چه مؤمنان ددے نه فائده اخلی، مؤمنانو ته د مثال حقانیت په دوه طریقو معلومیږی :

(۱) یو علی وجه التفصیل. په تفصیل ئے پوهه شی او د مثال په حقائق او نکتو او باریکاتو پوهه شی نو پدے سره ئے ایمان زیات شی.

(۲) علی سبیل الاجمال۔ لکه عام مؤمنان په اجمالی طریقه پو هیږي او د تفصیلات او باریکاتو معلومات ورته نهٔ کیږي خو اجمالًا مني چه دا مثال حق دے او دوی ورته تسلیم شي نو دا هم د هغه دپاره فائده شوه چه خپل عقل قاصر ګنړي او د الله تعالیٰ علم کامل ګنړي چه اے الله ! ته په هر څه عالم ئے او مونږ ته هیڅ علم نشته۔ لکه روستو به ملائك هم داسے اُووائی۔

پدے سورت کښ د ایمان موضوع شروع ده، پدے وجه ئے د ایمان لفظ راوړو چه ایمان والا د قرآن نه او د مثالونو د قرآن نه فائده اخلی۔

(اِنَّهُ الْحَقُّ) : حق لفظ په قرآن کریم کښ د (۲٤۰) کرته راغلے دے۔ په لغت کښ (الثابت) ثابت شي ته وئیلے شي۔ مختلفے معانی لری :

د حق لفظ معانی

۱- د الله تعالیٰ په نومونو کښ یو نوم دے (الحق)۔ (وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ) (النور:۲٥) اَيِ الثَّابِتُ۔

۲- کله په معنیٰ د صدق سره وی (یعنی یو شے او خبر د واقع سره موافق کیدل)۔ لکه (اِنَّا اَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ) (البقره :۱۱۹) لکه دلته ئے دا معنیٰ مراد ده چه دا مثال مطابق دے د واقع او ممثل سره۔

۳- حق کله اسلام ته وائی۔ لکه (وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ) (العصر:۳)

٤- کله حکمة ته وئیلے شی۔یعنی غایه محموده۔ (وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا اِلَّا بِالْحَقِّ) (الحجر:۸٥)

٥- حق کله په معنیٰ د ارادے او شهوت سره وی۔ لکه (مَا لَنَا فِيْ بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ) (هود :۷۹) ٦- حق کله په مقابله د باطل کښ وی۔

۷- کله په مقابله د ضلال کښ وی۔

۸- او کله په مقابله د کفر کښ وی۔

مِنْ رَّبِّهِمْ : ددے نه معلومیږي چه الله تعالیٰ د مثالونو په ذریعه د بندګانو تربیت کوی، او د ایمان تقاضا دا ده چه د خپل رب خبرو ته به تسلیمیږي، اګرکه بنده ئے په حکمة پو هه نشي۔

كَفَرُوْا : (يعنى د حق منكرين) او هر چه كافر عناديان دي نو هغوى په تردد كښ پريوځي او د هغوى په كفر كښ اضافه كيږي او اعتراض كوى چه الله تعالىٰ دا مثال څه له بيانولو او پدے كښ څه فائده ده ؟، نو كافران د الله تعالىٰ په شرع نهٔ پو هيږي نو پدے وجه اعتراض او انكار كوي۔

فَيَقُوْلُوْنَ : اَىُ اِعْتِرَاضًا۔ **مَاذَآ اَرَادَ اللّٰه** : دا وينا د دوى په طريقه د اعتراض ده، ورنه تپوس د حكمة جائز دے۔ كله ئے مؤمن هم كوى۔ او د ايمان د زيادت دپاره دا معلومات علماء هم كوى۔

بِهٰذَا مَثَلًا : بهذا كښ اشاره ده مذكور شي ته۔ او مثلًا يا حال دے يا تمييز دے۔ يعنى څه اراده كړے ده الله تعالىٰ پدے مذكور مثال سره په مثال بيانولو سره۔ يعنى دا مثال ولے بيانوى۔ يا مِثل په معنىٰ د بيان سره دے : يعنى څه اراده كړيده الله تعالىٰ پدے مثال سره د بيان۔ يعنى پدے مثال سره څه بيانول غواړى۔ بيا ددے دوه مطلبه جوړيږى :

(۱) يو دا چه اصل كلام د الله تعالىٰ نهٔ منى يعنى الله تعالىٰ څه اراده كړيده پدے مثال بيانولو يعنى دا د الله تعالىٰ د طرف نه نهٔ دے۔

(۲) دويم دا چه اصل كلام د الله تعالىٰ منى چه دا د الله تعالىٰ د طرف نه مثال دے ليكن په الله تعالىٰ باندے اعتراض كوى چه دا خنگه كلام دے چه مثالونه پكښ بيانوى پدے باندے الله تعالىٰ د څه اراده كوى، پدے كښے ئے څه غرض دے۔

او د دوى داسے اعتراض په سورة المدثر كښ هم ذكر دے چه الله تعالىٰ نورلس ملائك د جهنم ذكر كړل نو دوى اُووئيل : نورلس ئے ولے ذكر كړل پدے كښ څه حكمة دے؟ نو بعض مشركانو پكښ اُووئيل : چه د اتلسو مقابله به زه اُوكړم او د يو مقابله تاسو اُوكړئ۔ داسے ټوقے ئے كولے۔

(**يُضِلُّ بِهٖ**) : دے سره د مثال بيانولو دويمه فائده ذكر كوى چه گمراه او نا اهله خلق پدے سره گمراه كيږى كوم خلق چه پرے اعتراضونه كوى نو د هغوى دپاره سبب د گمراهئ اُوگرځى او ډيرو مؤمنانو ته- چه په هغوى كښ د هدايت د قبلولو صلاحيت وى- پكښے هدايت ملاويږى، هغوى په مثال كښے سوچ اُوكړى او ځان پرے هدايت ته اُورسوى۔

يُضِلُّ : كښے نسبت د گمراه كولو الله تعالىٰ ځان ته كړيدے او دا د اهل السنة والجماعة

عقيده ده چه د اضلال (گمراه کولو) نسبت الله تعالیٰ ته صحيح دے او اسباب د ضلالت بنده اختياروی۔ نو الله تعالیٰ پرے فيصله د گمراهئ کوی۔ معتزله وائی چه نسبت د اضلال الله تعالیٰ ته صحيح نهٔ دے، ځکه دا خو قبيح کار دے۔ نو دلته تاويلات کوی چه يضل نه مراد دا دے چه نوم گدی دوی ته د گمراهانو۔

ليکن جواب دا دے چه يو د گمراهئ پيدا کول دی په درجه د سزا کښې بندګانو ته نو دا الله تعالیٰ کوی او بل ابتداءً په درجه د ظلم کښې بنده لره گمراه کول دی نو الله تعالیٰ دا کار هيڅ کله نهٔ کوی۔ او د گمراه کولو نسبت چه کله شيطان وغيره ته اُوشی نو مراد ترے د دعوت ورکولو او د وسوسے اچولو په وجه گمراه کول وی۔

به : ضمير په درے واړو ځايونو کښې قرآن يا مثل ته راجع دے او د دواړو مطلب يو دے۔

كَثِيرًا : **سوال** : کثيراً ئے دواړو جانبينو ته وئيلے دے او حال دا چه هدايت والا خو کم دی د کافرانو نه؟ **جواب** : ١ - دا کثرت فی نفسه دے، خو که په نسبت د کافروئے واخلے نو بيا هدايت والا کم دی۔ او فی نفسه (خپل مينځ کښې) ايمان والا هم ډير دی۔

٢- جواب : پدے کښې تسلی ده ايمان والو ته چه تاسو هم ډيريئ۔ که داسے ئے وئيلی وے چه کمو ته پکښې هدايت کيږی نو مؤمنان به خفه شوی وے، او شك به ئے پيدا شوے وے۔

تفسير زبدة التفسير (د محمد سليمان الاشقر) کښې ئے ليکلی دی چه (يُضِلُّ بِهِ كَثِيرًا) دا جواب دے د سوال د کفارو چه (مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا) يعنی هغوی اُووئيل الله پدے مثال څهٔ اراده لری ؟ نو الله تعالیٰ اُوفرمايل : چه زما ارادہ دا ده چه ډير خلق پرے گمراه کړم او ډيرو ته هدايت اُوکړم يعنی الله تعالیٰ داسے مثالونه د امتحان دپاره راليږی چه څوك گمراه کيږی او څوك هدايت قبلوی ؟۔

(وَمَا يُضِلُّ بِهِ) : اُوس سوال پيدا شو چه آيا قرآن گنے د گمراهئ کتاب دے څه ؟ نو الله تعالیٰ جواب ورکوی چه پدے مثال او قرآن باندے نهٔ گمراه کوی مگر نافرمان خلق۔ ددے مثال داسے دے لکه چرگ، غوړی او شهد د صحت دپاره ډير ښه څيزونه دی، ليکن که سړے ناجوړه وی نو هغه دپاره دغه څيزونه ضرر شی۔ لکه بعضے بيماريانو دپاره دا ضرر لری۔ نو دا ددے سړی نقصان دے، ددے څيزونو نقصان نهٔ دے۔ نو دغه شان دے قرآن کريم کښې او مثالونو د قرآن کريم کښې هيڅ قسمه نقصان نشته، خو دے کسانو

کښې فسق (تَمَرُّدُ فِي الْكُفُر) (په کفر کښې سرکشي) موجود ده څکه ګمراه شو۔
اِلَّا الْفَاسِقِيْنَ : فسق په لغت کښې خروج (وتلو) ته وائي لکه میوې دپاره هم استعمالیږي (فَسَقَتِ الثَّمَرَةُ) اَیْ خَرَجَتْ۔ یعني میوه راووتله د خپلې کسورې نه۔
فاسق ته فاسق څکه وائي چه دا هم خارج وي د الله تعالیٰ د طاعت نه۔ فسق په شریعت کښې وتل دي د الله تعالیٰ د طاعت نه، دا کله په کفر او شرك سره وي او کله په عصیان (ګناهونو) سره وي۔ دلته اول مراد دې۔
ابن الاعرابیؒ وئیلي دي : [لَمْ يُسْمَعِ الْفَاسِقُ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ فِيْ وَصْفِ الْإِنْسَانِ] (د انسان په صفت کښې فاسق عربو نۀ وو اَوریدلې) هغوی به فاسق حیوان ته وئیلې وو چه کله به د طاعت نه اُووتلو۔ نو فاسق هم د الله تعالیٰ د طاعت نه وتلې دې، انسانیت نه بهر شویدې او حیوان ترې جوړ شویدې۔

د فسق اقسام :

فسق په دوه قسمه دې (۱) فسق في الكفر۔ دیته وائي چه کفر سره پکښې سرکشي او تمرد هم راغلي وي۔ دا اعلیٰ درجه فسق دې لکه دې آیت کښې مراد دې۔ او سورة المائده (٤٧) (وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ) او منافقانو ته هم الله تعالیٰ فاسقان وئیلي دي۔ لکه (إِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ) [توبه:٦٧]
(۲) دویم : فسق في الاسلام دې، چه یو سړې مسلمان دې لیکن په اسلام کښې کبیره ګناهونه او معاصي کوي لکه غلا، غیبت، بهتان، زنا وغیره کوي۔ د اولني فاسق حکم دا دې چه دا کافر دې او مُخَلَّد فِي النار دې۔ مګر هله چه په دنیا کښې توبه اُوباسي۔
او د دویم حکم دا دې چه دا په درجه د ګناهګار کښې دې۔ الله تعالیٰ ته سپارلې شویدې که معاف کوي ئې او که سزا ورکوي خو همیشه به اُور کښې نۀ پاتې کیږي۔
په احادیثو کښې دا قسم فسق زیات راځي، او په قرآن کریم کښې اعلیٰ درجه فسق زیات بیانیږي۔

په قرآن کریم کښې د فسق معاني:

بیا فسق په قرآن کریم کښې پنځوس کرته استعمال دې په څلورو معانیو سره :
۱– مطلق ګناه کبیره لکه (وَلَا فُسُوْقَ) (بقره : ۱۹۷)
۲– په معنیٰ د کفر او شرك سره لکه (ذٰلِكُمْ فِسْقٌ) (المائده : ۳)

۳- گناه کبیره خکته د کفر او شرك نه لکه (اِنْ جَاءَ كُمْ فَاسِقٌ) او (بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْإِيْمَان) (الحجرات : ۱۱) (وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ) (سورة النور:٤)

٤- صرف وتل د طاعت نه : لکه (فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ) (الکهف : ٥٠)

په قرآن کریم کښې د فسق اسباب

۱- تَوَلِّيْ (اَوړیدل) د ایمان او د اتباع د آخری رسول نه لکه (فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ) (آلعمران : ۸۲)

(۲) په مَا اَنْزَلَ الله باندے فیصله نهٔ کول ۔ (سورة المائده : ٤٧)

(۳) منافقت (سورة التوبه : ٦٧)

(٤) کفر کول (سورة النور: ٥٥)

(٥) مسلمان ته د زنا کنځل۔ (سورة النور : ٤)

(٦) ضرر ورکول کاتب او گواه ته (سورة البقره : ۲۸۲)

(۷) تبدیل د شرع (سورة البقره : ٥٩)

(۸) په احکام شرعیو کښې حیله کول (اعراف : ١٦٥)

(۹) ذبح په نصب او استقسام بالازلام (قسمت معلومول په غشو سره) (مائده : ۳)

(۱۰) په وخت د ذبح کښې نوم د الله تعالیٰ قصداً پریخودل (انعام : ۱۲۱) نو پدے اسبابو سره په انسان کښې فسق راځی بیا که هغه ته په قرآن کریم سره وعظ ورکړے شي نو د هغه گمراهی زیاتیږی (الا ما شاء الله) (احسن الکلام)

اَلَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ ۪ وَيَقْطَعُوْنَ
دا هغه خلق دي چه ماتوي لوظ د الله پس د مضبوط والي د هغې نه، او پريکوي
مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ
هغه شے چه حکم کړيدے الله تعالىٰ په هغې چه پيوسته دِے کړے شي او فسادونه کوي
فِي الْاَرْضِ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۲۷﴾
په زمکه کښې، همدا کسان هم دوي تاوانيان دي۔

تفسير:

اُوس ددے د پيژندلو صفات راوړي چه دا صفات په هر چا کښې وي نو الله تعالىٰ ئے په قرآن باندے گمراه کوي که اُوغواړي۔ چه دوي د خپل رب سره او د نورو انسانانو سره د کړي عهود او لوظونو پرواه نهٔ لري، د الله تعالىٰ اوامرئے شاته ارتولي دي او د الله تعالىٰ په نواهي باندے اخته دي۔ د هغې نه خان نهٔ ساتي۔

اَلَّذِيْنَ : (۱) دا بدل دے د مخکښې الفاسقين نه۔ نو گويا کښې دا تعريف د فاسقانو دے۔

(۲) يا الذين مبتداء ده او اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخَاسِرُوْنَ ئے خبر دے۔ اول قول غوره دے۔ ځکه تفسير د ماسبق دے او په کلام کښې ارتباط هم راځي۔

نقض : ماتولو او سپړدلو ته وئيلے شي۔ او د شريعت په اصطلاح کښې په مقابل د ايفاء (پوره والي) کښې استعماليږي۔ لکه نقض العهد او ايفاء بالعهد۔ يعني لوظ کښې مخالفت او خلاف کول۔

عَهْدَ اللّٰهِ : عهد مضبوطے وعدے ته وائي او کله الحكم المؤكد (مضبوط حکم) ته وئيلے شي۔ دلته ترے لوظ مراد دے۔ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ : دلته ضمير راجع دے (۱) الله تعالىٰ ته۔ يعني چه الله تعالىٰ مضبوط لوظ اخستے ددے بنده نه (اَیْ مِنْ بَعْدِ مِيْثَاقِ اللّٰهِ اِيَّاهُ)۔

(۲) يا دے فاسق ته راجع دے۔ (۳) يا عهد ته راجع دے۔ يعني پس د مضبوطوالي د وعدے نه۔ راجح دا ده چه الله تعالىٰ ته راجع دے ځکه چه هغه مرجع قريب ده او پدے

کښې تاکید زیات دے یعنی الله تعالیٰ دغه لوظ مضبوط او محکم کړیدے او سره ددے نه دا فاسق ئے ماتوی !۔

وعده ماتول د کافرانو او منافقانو صفت دے ۔

فائده : الله تعالیٰ پدے مقام کښې ددے څیزونو مرادات نۀ دی بیان کړی چه د عهد الله نه څه مراد او د قطع د ما امر الله نه څه مراد او د فساد نه څه مراد دے؟ ځکه دلته د فاسقانو تعریف کول مقصود دے او مسئلے بیانول ئے مقصود نۀ دے، چه فلانے حکم نۀ ماتوی او فلانے فساد نۀ کوی بلکه د فاسقانو طبع او مزاج بیانول ئے مقصود دے چه د دوی مزاج دا دے چه دوی د الله تعالیٰ لوظونه ماتوی او فسادونه کوی وغیره۔

نو د عهد الله څه مصداق دے ؟

۱- مفسرین وائی : دا لوظ دے په عالم الذر کښې (چه دیته عالم الارواح وائی) چه الله تعالیٰ تولو انسانانو ته وئیلی وو : (اَلَسۡتُ بِرَبِّکُمۡ قَالُوۡا : بَلٰی) (الله تعالیٰ ترے د توحید لوظ اخستے وو) او بندګانو اقرار کړے وو چه مونږ به تاسره شریکان نۀ جوړوو او یواځے ستا عبادت به کوو۔ او دا لوظ الله تعالیٰ په ژبو د رسولانو مضبوط کړیدے۔

(۲) دارنګه (اَلۡاِنۡکَارُ مِنَ الۡاَدِلَّةِ الدَّالَّةِ عَلٰی تَوۡحِیۡدِ اللّٰهِ تَعَالٰی) ۔ (یعنی انکار کول د هغه دلائلو نه چه الله تعالیٰ نصب کړیدی په توحید د الله تعالیٰ باندے) چه کائنات او عقل دے۔ دا ګویا کښې د بندګانو نه لوظونه اخستل شو۔ او دا کافران دے دلائلو ته نۀ ګوری۔

(۳) دارنګه عهد الله نه معجزات د رسولانو هم مراد دی، نو دوی ددے معجزاتو لحاظ نۀ ساتی او په انبیاء علیهم السلام باندے ایمان نۀ راوړی۔

(٤) یا د عهد الله نه مراد د بندګانو خپل مابین کښې لوظونه دی چه الله تعالیٰ په هغے باندے د وفادارئ حکم کړیدے۔ نو مطلب دا راووتو چه دوی د الله تعالیٰ او د بندګانو لوظونه تول مات کړیدی۔ (۵) که د فاسقانو نه منافقان او یهود مراد شی نو بیا هغوی وعده د ایمان هم کړیده په خوله او اقرار سره، هغه ئے هم ماته کړیده۔

مِنۡ بَعۡدِ مِیۡثَاقِهٖ : کښې اشاره ده چه دا لوظ ترے هیر شوے نۀ دے بلکه ښه مضبوط ورته یاد دے۔ خو بیا هم مخالفت کوی۔

مَا اَمَرَ اللهُ بِهٖ اَنۡ یُّوۡصَلَ : اَنۡ یُّوۡصَلَ په تاویل د مصدر (وصل) سره مفعول به دے د امر الله دپاره۔ (اَیۡ مَا اَمَرَ اللّٰهُ بِوَصۡلِهٖ) (چه الله تعالیٰ د هغے په یوځائے کولو حکم کړے وی)

د (**مَا اَمَرَ اللهُ**) ډیر مصداقات دی (۱) صلة الارحام (خپلولی پالل) چه الله تعالیٰ ددې حکم کړیدې او خلق ئې په معمولی بهانو باندې پریکوی۔ دارنګه دوی د رسول الله ﷺ رشته داری پریکړې وه په دشمنی کولو د هغه سره۔ (السراج)

(۲) شربینیؒ او قاسمیؒ لیکی : [وَيَحْتَمِلُ كُلَّ قَطِيْعَةٍ لَايَرْضَاهَا اللّٰهُ تَعَالٰى كَقَطْعِ الرَّحْمٰنِ وَالْإِعْرَاضِ عَنْ مُوَالَاةِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالتَّفْرِقَةِ بَيْنَ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ وَالْكُتُبِ فِي التَّصْدِيْقِ وَتَرْكِ الْجَمَاعَاتِ وَسَائِرِ مَا فِيْهِ رَفْضُ خَيْرٍ اَوْتَعَاطِي شَرٍّ فَاِنَّهٗ يَقْطَعُ الْوُصْلَةَ بَيْنَ اللّٰهِ وَبَيْنَ الْعَبْدِ الْمَقْصُوْدَةِ بِالذَّاتِ مِنْ كُلِّ وَصْلٍ وَفَصْلٍ] (السراج و نقله القاسمی)۔

(پدې کښې داخل دی پریکول د هر هغه شی چه الله تعالیٰ په هغې ناراضه وی لکه صله رحمی پریکول او د مؤمنانو د دوستانې نه اعراض کول، او د انبیاء علیهم السلام او د کتابونو منزله ؤ په تصدیق کښې تفرقه راوستل او جماعتونه پریخودل او ټول هغه څیزونه چه په هغې کښې د خیر پریخودل وی او د شر کول وی نو هغه د الله تعالیٰ او د بنده ترمینځ هغه تعلق پریکوی کوم چه مقصود بالذات دې د هر وصال او فراق نه)۔

(۳) بنۀ مصداق حافظ ابن القیمؒ ذکر کړیدې۔

[وَيَدْخُلُ فِيْ هٰذَا ظَاهِرُ الدِّيْنِ وَبَاطِنُهٗ وَحَقُّ اللّٰهِ وَحَقُّ خَلْقِهٖ فَيَصِلُوْنَ مَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ رَبِّهِمْ بِعُبُوْدِيَّتِهٖ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَالْقِيَامُ بِطَاعَتِهٖ وَالْإِنَابَةُ اِلَيْهِ وَالتَّوَكُّلُ عَلَيْهِ وَحُبُّهٗ وَخَوْفُهٗ وَرَجَاءُهٗ وَالتَّوْبَةُ اِلَيْهِ وَالْاِسْتِكَانَةُ لَهٗ وَالْخُضُوْعُ وَالذِّلَّةُ لَهٗ وَالْاِعْتِرَافُ لَهٗ بِنِعْمَتِهٖ وَشُكْرُهٗ عَلَيْهَا وَالْاِقْرَارُ بِالْخَطِيْئَةِ وَالْاِسْتِغْفَارُ مِنْهَا فَهٰذِهٖ هِيَ الْوُصْلَةُ بَيْنَ الرَّبِّ وَالْعَبْدِ]۔

(داخلیږی پدې کښې د دین ظاهری احکام او باطنی او د الله تعالیٰ حقوق او د بندګانو حقوق، نو دوی تعلق قائموی د خپل رب سره په یواځې بندګی کولو د هغه سره چه هیڅ شریکان ورسره نۀ جوړوی، او د هغه طاعت کوی او هغه ته په زړه سره انابت (رجوع) کوی، او په هغه باندې توکل کوی او د هغه سره محبت ساتی او د هغه نه یره کوی او امید ساتی او هغه ته توبه اُویاسی، او هغه ته عاجزی او خشوع کوی او ځان ورته ذلیله کوی او د هغه په نعمتونو اقرار او شکر کوی، او د خپلې ګناه اقرار کوی او د هغې نه بخنه غواړی نو دا هغه څیزونه دی چه د رب او د بنده ترمینځ د وُصلة او تعلق ذریعه ده)۔

[وَاَمَرَنَا اَنْ نُوْصِلَ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ رَسُوْلِهٖ بِالْاِيْمَانِ بِهٖ وَتَصْدِيْقِهٖ وَتَحْكِيْمِهٖ فِيْ كُلِّ شَيْءٍ وَالرِّضَا

لِحُكْمِهِ وَالتَّسْلِيمِ لَهُ وَتَقْدِيمِ مَحَبَّتِهِ عَلَى مَحَبَّةِ النَّفْسِ وَالْوَلَدِ وَالْوَالِدِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ فَدَخَلَ فِيْ ذَلِكَ الْقِيَامُ بِحَقِّهِ وَحَقِّ رَسُوْلِهِ وَأَمَرَ أَنْ نَصِلَ مَابَيْنَنَا وَبَيْنَ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِيْنَ بِالصِّلَةِ وَأَمَرَ أَنْ نَصِلَ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الزَّوْجَاتِ بِالْقِيَامِ بِحُقُوْقِهِنَّ وَمُعَاشَرَتِهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَأَمَرَ أَنْ نَصِلَ مَابَيْنَنَا وَبَيْنَ الرِّقَابِ بِأَنْ نُطْعِمَهُمْ مِمَّا نَأْكُلُ وَنَكْسُوْهُمْ مِمَّا نَكْتَسِيْ وَلَانُكَلِّفَهُمْ فَوْقَ طَاقَتِهِمْ وَأَنْ نَصِلَ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْجَارِ الْقَرِيْبِ وَالْبَعِيْدِ بِمُرَاعَاةِ حَقِّهِ وَحِفْظِهِ فِيْ نَفْسِهِ وَمَالِهِ وَأَهْلِهِ وَأَنْ نَصِلَ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الرَّفِيْقِ فِي السَّفَرِ وَالْحَضَرِ وَأَنْ نَصِلَ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ عُمُوْمِ النَّاسِ بِأَنْ نَأْتِيَ إِلَيْهِمْ بِمَا نُحِبُّ أَنْ يَأْتُوْا إِلَيْنَا وَأَنْ نَصِلَ مَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْحَفَظَةِ الْكِرَامِ الْكَاتِبِيْنَ بِأَنْ نُكْرِمَهُمْ وَنَسْتَحْيِيَ مِنْهُمْ كَمَا يَسْتَحْيِ الرَّجُلُ مِنْ جَلِيْسِهِ وَمَنْ هُوَ مَعَهُ مِمَّنْ يُجِلُّهُ وَيُكْرِمُهُ]

[عدة الصابرين :/۲۷]

(او الله تعالیٰ مونږ ته دا حکم کړیدے چه زمونږ او د رسول ترمینځ تعلق اُوساتو چه په هغه ایمان راوړو، د هغهٔ تصدیق اُوکړو، هغهٔ ته په هر شی کښ فیصله ورورو او بیا د هغه په فیصله رضا شو او هغے ته تسلیم شو، او دارنګه د هغه محبت په نفس او بچو او مور او پلار او ټولو خلقو باندے مقدم کړو، نو پدے کښ داخلیږی د الله تعالیٰ حقوق او د هغهٔ د رسول حقوق اداء کول۔ (۳) دارنګه د والدین او خپلوانو سره صله رحمی قائمول (٤) د بیبیانو سره تعلقات قائمول، د هغوی حقونه اداء کول (مثلًا هغوی ته دین خودل) او د هغوی سره د شریعت مطابق ښائسته ژوند تیرول۔ (٥) او د غلامانو سره تعلق ساتل پدے طریقه چه څه مونږ خورو او اَغوندو نو هغوی له به هم هغه شان ورکوو، او د طاقت نه بهر به په هغوی باندے تکلیف نۀ اچوو۔ (٦) او د نزدے او لرے ګاونډی سره تعلق ساتل دا دی چه د هغه د حقوقو لحاظ اُوشی او د هغه د نفس او مال او اهل حفاظت اُوکړے شی۔

(۷) او د سفر او حضر ملګری سره تعلق قائمول او احسان کول (۸) لنډه دا چه عامو انسانانو سره تعلق ساتل پدے طریقه چه هغوی ته په هغه حالت راتګ کول څنګه چه تۀ غواړے چه تا ته راتګ اُوکړی (هغه شان نرمه خبره کوه، احسان کوه، ادب او احترام ئے کوه څنګه چه ته دا څیزونه ځان دپاره غواړے) (۹) د کرام کاتبین ملائکو سره تعلق ساتل دا دی چه د هغوی اکرام اُوکړو او د هغوی نه حیاء اُوکړو۔ لکه څنګه چه د یو عزتمند انسان نه حیاء کیدے شی) دے ټولو کارونو باندے الله تعالیٰ امر کړیدے چه

مونږه ئې يو ځائې کړو۔

بيا په سورت رعد کښ ورسره دا راغلي دي چه دا کارونه به ولې کوي (وَيَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ وَيَخَافُوْنَ سُوْءَ الْحِسَابِ) (۲۱)

(د الله تعالیٰ نه په يره او د بد حساب نه په يره سره) دا به پرې باعث وي۔

حاصل دا چه ددې نه مراد تول هغهٔ څيزونه دي چه الله تعالیٰ پرې حکم کړيدې، الله تعالیٰ مونږ ته دا حکم کړيدې چه د ايمان او د عبوديت په ذريعه د هغه سره تعلق مضبوط کړو، او د رسول الله ﷺ تعلق مضبوط کړو، چه په هغه ايمان راوړو، د هغه سره محبت اُوکړو او د هغه اتباع اُوکړو، دغه شان صله رحمي مراد ده، تول پيغمبرانو، کتابونو باندې ايمان دې، د مور او پلار خدمت، د بچو او ښځې سره احسان دې او د انساني لوظونو پابندي ده او تول هغه نيك عملونه مراد دي چه الله تعالیٰ پرې د عمل کولو حکم کړيدې۔ مؤمنان ددې تولو حقوقو رعايت او حفاظت کوي او دا فاسقان هغه خلق دي چه صله رحمي کټ کوي، د ښځې او بچو سره تعلق کټ کوي، امانت کښ خيانت کوي، دا تول مرضونه پکښ دي، د خالق او د مخلوق د حقوقو لحاظ نهٔ کوي۔ نو څومره جامعيت دې په قرآن کريم کښ چه صرف يوې کلمې تول دين راګير کړيدې حقوق الله او حقوق العباد ئې ذکر کړيدي۔

وَيُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ : د فساد تشريح مخکښ تيره شويده۔ دلته ترې مراد (۱) شرك دې (۲) او اعتراض کول په قرآن کريم باندې او ددې په ذريعه خلق د قرآن نه اړول۔ مفسرين وائي : خلق د قرآن نه اړول او د هغې سپکوالې خلقو ته په زړه کښ کينول۔او د دين او دين والو پورې توقې کول۔لکه نن صبا کافران هم دا کوشش کوي چه په قرآن کريم اعتراضونه اُوکړي او خلق ترې واړوي۔ او فساد يو داسې عام لفظ دې چه ډيرو مصداقاتو ته شامل دې۔ مخکښ د دوي د عقيدې خرابوالې وو او په فساد کښ بل ته دعوت د ګمراهئ دې۔ بلکه غالباً قرآن کريم کښ فساد بمعنى الصَّدِ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ استعماليږي۔

(**الخاسرون**) سخت تاوان والا دغه کسان دي چه په قرآن ګمراه شو او د شفاء کتاب او د هدايت کتاب د دوي دپاره سبب د تاوان او هلاکت اُوګرځيدو۔ او دا تاوانيان دنيا او آخرت دواړو کښ دي۔

كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتاً
څرنګ کفر کوئ تاسو په الله تعالیٰ حال دا چه تاسو مړۀ (یعنی نیشت) وئ
فَاَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ
نو راژوندی ئے کړئ (په دنیا کښ) بیا به مو وژنی بیا به مو راژوندی کوی
ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۲۸﴾
بیا به خاص هغۀ ته ورګرځولے شئ تاسو۔

تفسیر:

مناسبت : [بَيَّنَ اللّٰهُ آثَارَ الْكُفْرِ وَهُنَا التَّوْبِيْخُ عَلَى الْكُفْرِ] (مخکښ الله تعالیٰ د کفر آثار بیان کړل چه د الله په کتاب اعتراضات کول او فساد کول او هر قسمه ګندونه په انسان کښ راجمع کیدل نو اُوس توبیخ او زجر ورکوی په کفر کولو باندے)

۲- دارنګه ربط د موضوع د سورة سره دا دے چه سورة کښ موضوع د ایمان ده نو دلته اُوس منع کوی د کفر نه چه په کفر تاسو سره هیڅ دلیل نشته۔

۳- ددے آیت تعلق دے د يَا اَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا سره یعنی اے خلقو ! د الله تعالیٰ بندګی اُوکړئ او په الله تعالیٰ باندے کفر مۀ کوئ۔ نعمتونه ئے درباندے کړیدی۔ د هدی للمتقین سره هم متعلق دے، دا قرآن هدایت چا ته کوی، متقیانو مؤمنانو خلقو ته ئے کوی نو اے خلقو! تاسو ولے ایمان نۀ راوړئ او په الله تعالیٰ باندے کفر کوئ۔ او ځان په زوره د هدایت نه محروم کوئ۔

نو اُوس په دے آیت کریمه کښ الله توبیخ ورکوی په کفر سره د وجود د نعمتونو نه یعنی الله رب العالمین زجر او رټنه ورکوی هغه چا ته چه په الله تعالیٰ کفر کوی، ایمان پرے نۀ راوړی او حال دا چه الله تعالیٰ پرے بے شماره نعمتونه کړیدی، دلته الله تعالیٰ یو څو نعمتونه شمارلی دی، چه اُوګوره ته مخکښ نۀ وے بیا الله وجود درکړو بیا به درباندے مرګ راولی، بیا به دے راژوندے کوی نو ستا په هغه باندے ورتیریدل دی نو ته

ولے په هغه کفر کوے ستا په کفر کولو کښې هیڅ عذر نشته. او بل غټ نعمت په (۲۹) آیت کښې ذکر کوی چه د زمکے ټول څیزونه ئے ستا د فائدے دپاره پیدا کړل، دا خوراکونه څکاکونه، ښځے او بچی او جائیدادونه ټول شیان ستاسو دپاره دی.

بیا فرمائی : چه الله درسره دا احسان اُوکړو چه انسانان ئے په ټولو مخلوقاتو کښې عزتمند پیدا کړل، الله تعالیٰ ملائکو ته اُوفرمایل چه تاسو به د آدم او د هغه د بچو خدمت کوئ، او خلافت د زمکے ئے درکړو نو اُوګوره بیا د آدم ﷺ نه نقصان اُوشو نو الله تعالیٰ ئے توبه قبوله کړه چه ستاسو دپاره هم الله تعالیٰ دغه لاره کولاوه کړیده چه کله درنه نقصان او ګناه اُوشی نو الله تعالیٰ درته د توبے دروازه کولاوه کړیده، دا څومره لوئی احسان دے. مینځ کښې وائی : اُوګوره آدم ﷺ ستاسو پلار دے، دا مسجود د ملائکو دے، ملائکو هغهٔ ته سجده کړے ده، هغه له الله تعالیٰ دومره عزت ورکړو چه یو ښائسته مخلوق (ملائك) الله تعالیٰ ددهٔ تابع کړل، اشاره ده دے ته چه ملائك به ستاسو خدمت کښې لګیا وی، ستاسو عمل نامے به لیکی، حفاظتونه به کوی، دعاګانے به کوی، ډیر کارونه ملائك کوی، د انسانانو د فائدے دپاره لګیا دی. نو دے ټولو دلائلو او نعمتونو ته اُوګورئ چه په الله تعالیٰ باندے اُوس ایمان راوړل پکار دی او که نه ؟ آؤ ! راوړل پکار دی، د هغه سره به شریکان نهٔ جوړوی، د هغه په ذات به یقین کوی، چه هغه ډیر ښکلے ذات دے،

بیا ددے ایمان د حفاظت دپاره به کوشش کوی، نیك عملونه به کوی، د هغه د رضا د حاصلولو په تالاش کښې به لګیا وی.

پدے روستنو آیتونو کښې دا فائده هم ده چه الله تعالیٰ دا زمکه پیدا کړه، ددے دپاره یو خلیفه پکار دے، خلیفه ئے انسان مقرر کړو، د زمکے خلافت الله تعالیٰ انسانانو مؤمنانو له ورکړو، اول آدم ﷺ ته، بیا نورو پیغمبرانو ته پاتے شو، بیا بنی اسرائیلو ته ورکړے شو، بیا د بنی اسرائیلو - چه ددے خلافت او مشرئ اهلیت پکښې نهٔ وو- یو پنځوس فسادونه به بیان کړی چه دا دا مرضونه پکښې راغلل، نو الله تعالیٰ د هغوی نه دا مشری واخسته، او د محمد رسول الله ﷺ دے اُمت ته ئے ورکړه، نو پدے کښې به مونږ ته اشاره وی چه که تاسو غواړئ چه تاسو نه الله تعالیٰ د دین کار واخلی او د زمکے مشری درله درکړی چه په هغے کښې ستاسو دین جاری کړی، نو د یهودو صفات به د ځان نه لرے

کـوئ، يهودو کښې دا مرضونه وو چه د الله تعالیٰ د وعدو پابنديانے به ئے نۀ کولے۔ روستو به راشى چه ايمان نۀ راوړى، د مانځه پابند نۀ وو، بل ته امر خپله عمل نۀ کول وغيره وغيره۔ نو دا ددے آيتونو مختصر فوائد دى۔

فائده : دا آيت متضمن دے نورو فوائدو له لکه پدے آيت کښې اثبات د صانع دے (۲) اثبات د افعـالـو د هغـه چـه مړه کول او ژوندى کول کوى، (۳) اثبات المعاد۔ الله تعالیٰ دلتـه څلور څيزونه ذکر کړيدى درے محسوس او يو معقول۔ زمونږ نشت والے بيا شته کيدل او بيا مـړه کيـدل مـحسـوس او مـعـلـوم دى۔ يـوه خبـره معلومه نۀ ده چه دوباره ژونـدى کيدل دى نو الله تعالیٰ فرمائى : چه پدے دريو اقرار کوئ نو په دے څلورمه خبره هم اقـرار اُوکـړئ چـه دوباره به مو راژوندى کوى۔ نو پدے آيت کښې استدلال کول دى د مـحسـوس نـه پـه مـعقول باندے او د مبدأ نه په معاد۔ لکه داسے استدلال په سورة الروم (۴۰) کښې هم شويدے۔

(**كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ**) پـدے تپوس کښې تعجب او توبيخ او زورنه غرض ده يعنى ستاسو څه عـذر دے چـه په الله تعالیٰ باندے کفر کوئ۔ او په الله تعالیٰ باندے کفر دا دے (۱) چه د الله تـعـالیٰ د ذات او صفـاتـو نـه انـکـار اُوکـړى۔ (۲) دويم دا چه د هغه سره د غير الله عبادت اُوکړى لکه ابن کثيرؒ دا معنى کوى : [كَيْفَ تَعْبُدُوْنَ مَعَهٗ غَيْرَهٗ] (د الله تعالیٰ سره د غير الله عبادت څـنـګـه کـوئ) يـعنى د غير الله عبادت بعينهٖ په الله تعالیٰ باندے کفر دے۔ لکه د مـکـے مشرکانو به دا کار کولو۔نو دلته عام خطاب دے که مشرکان وى او که دهريان وى او کـه کتـابيان وى۔ او ابن کثيرؒ ديته اشاره کوى چه د مکے مشرکانو خو الله تعالیٰ منلو ليکن د هغه سره ئے شرك کولو پدے وجه ورته کافران اُووئيل شو۔

اَمْوَاتًا : د مـوت نه مراد عدم سابق دے (يعنى نشتوالے) د اموات نه مراد غير موجودين دى يعنى انسان په ابتداء کښې نيشت وو، [فَأَحْيَاكُمْ) اَیْ فِی الدُّنْيَا] بيا ئے دنيا ته راوستو، (ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ) بِالْمَوْتِ الْمَعْرُوْفِ) بيا به مو وژنى په معلوم مرګ۔دا درے کارونه ټول خلق منى۔

ثُـمَّ يُحْيِيْكُمْ : اَیْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۔ (د قيـامـت په ورځ به مو راژوندى کوى) (يحييكم) ددے نه بـعـث بـعد الموت (د آخرت) زندګى مراد ده لکه دا په روايت د ابن عباس او ابن مسعود کښې راغلے دى (قـرطبـىؒ وغيره) او دغه شان سورة المؤمنون (۱۵) کښې دى : (ثُمَّ اِنَّكُمْ

يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ تُبۡعَثُوۡنَ) نو د موت پسے ئے د قیامت بعث ذکر کړیدے۔
ثُمَّ اِلَيۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ اَیۡ لِلۡحِسَابِ۔ (یعنی د الله تعالیٰ د حساب دپاره به واپس کولے شئ)
نو الله تعالیٰ فرمائی چه دا منے نو دا هم ورسره اُومنه چه بیرته به دِیے په آخرت کښِ راژوندے کوی او بیا به هغه ته اُوګرځولے شئ د حساب کتاب دپاره، چه تا له الله نعمتونه درکړیدی نو تا څه شکر کړیدے۔ د اعمالو بدله به درکوی۔ نو پکار خو دا وه چه تاسو ایمان راوړے وے او د تقویٰ لار مو اختیار کړے وے او د هغهٔ د عذابونو نه یریدلی وے او د هغه د ثوابونو امید مو ساتلے وے۔
(تُرۡجَعُوۡنَ) ئے مجهول صیغه ذکر کړه اشاره ده دیته چه که د انسان خوښه وی او که نه خو الله به ئے ځان ته راغواړی او خپلے مخے ته به ئے اُودروی۔ لکه حدیث کښِ راغلی دی : [مَا مِنۡكُمۡ مِنۡ اَحَدٍ اِلَّا سَيُكَلِّمُهٗ رَبُّهٗ عَزَّ وَجَلَّ لَيۡسَ بَيۡنَهٗ وَبَيۡنَهٗ تَرۡجَمَانٌ] چه په تاسو کښِ به هر یوتن د الله سره خبرے کوی چه مینځ کښِ به هیڅ ترجمان نه وی۔
[مسند احمد : ۱۸۲۷۲]
(۲) پدے کښِ بعض مفسرینو **دویم تفسیر** داسے ذکر کړیدے۔ چه ثُمَّ يُحۡيِيۡكُمۡ نه مراد په قبر کښِ ژوندی کول دی او ثم اليه ترجعون کښِ د قیامت ژوند دے۔ وائی څکه چه بیا خو پدے آیت کښِ د قبر ژوند نهٔ ثابتیږی۔ او حال دا چه په قبر کښِ ژوند هم حق دے۔
دا تفسیر ئے د معتزلو په رد کښِ کړیدے چه هغوی په قبر کښِ ژوند نهٔ منی۔ او وائی چه عذاب قبر په احادیثو ثابت دے او احادیث اخبار احاد تول ظنیات دی او په هغے باندے عقیده نهٔ ثابتیږی۔ لیکن دا قاعده غلطه ده بلکه صحیح احادیث یقینی دی، امت پرے اتفاق کړیدے، بله دا چه عذاب قبر د قرآن کریم نه هم ثابت دے۔
دا تفسیر جواز لری لیکن پدے مقام کښِ اکثرو مفسرینو ورته غریب او بعید وئیلے دے۔ لکه ابن کثیرؒ، آلوسیؒ په روح المعانی کښِ او شاه عبد العزیزؒ په تفسیر فتح العزیز او ابن الجوزیؒ په زاد المسیر کښِ۔
وجه د ضعف دا ده چه دا د آیت د سورة المؤمنون (۱۵) (ثُمَّ اِنَّكُمۡ بَعۡدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوۡنَ ثُمَّ اِنَّكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ تُبۡعَثُوۡنَ) او سورة زمر (۳۰) (اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمۡ مَّيِّتُوۡنَ ثُمَّ اِنَّكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ عِنۡدَ رَبِّكُمۡ تَخۡتَصِمُوۡنَ) نه خلاف دے۔
دویم دا چه د سورة المؤمن په (۱۱) آیت کښِ راځی : جهنمیان به الله تعالیٰ فرمائی :

(رَبَّنَـا اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ) دلتـه ئې دوه مـرګونه او دوه ژوندونه ذکر کړيدی۔ نو که دلتـه د قبـر ژونـد مـراد شي نو بيا مونږ تپوس کوو چه ثُـمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ سـره به بعث بعد الـموت مراد وی او که نهٔ ؟ که مراد وی نو په حيات فی القبر پسې به بل مرګ مراد وی او کـه نـهٔ ؟ کـه بل مرګ مراد وی نو اول د هغې دپاره صحيح دليل نشته، او دويم دا چه لازم شـول دريے مـرګونه او دريے ژوندونه او که حيات فی القبر پسې بل مرګ مراد نهٔ وی نو يو خو بـعـث بعد الموت سره احياء د ژوندی لازميږی او دا خو تحصيل د حاصل دے او بله دا چه دريے حياتونه لازم شول او دا ټول مخالف دی د دغه آيت (۱۱) د سورة المؤمن نه۔ (انظر تفسير احسن الکلام)

بيا **سوال** دا دے چـه که دا تفسير وانخلو نو بيا خو حيات د قبر ثابت نهٔ شو ؟ (۱) ددے **جواب** دا دے چـه د قبـر عـذاب ئې پدے مقام کښې څکه نهٔ دے ذکر کړے چه دا مقام دے د مـقـابلے د کافرانو اومشرکانو سره نو هغوی سره په غټو غټو معروفو خبرو مقابله کوی چـه ټـولـو خـلقو ته تسليم دی، او هر چه د قبر ژوند دے نو هغه باريك او عجيبه دے، نو هغے تـه د باريك زړونـو رسيـدل کيږی، عـام خلق هغه نشي فهمولے، او هغهٔ د آخرت پيـش خيـمـه او مـقـدمـه ده او د آخـرت د متـعـلـقـاتو نه دے او هغهٔ حکمی حيات دے، مستـقل حيات نهٔ دے، پدے وجه الله تعالیٰ دلته نهٔ دے بيان کړے۔ او هرکله چه مشرکان د حقيـقـی حيات نه انکار کوی نو د حکمی حيات نه خو په طريق اولیٰ انکار کوی۔ نو ددے وجـه نـه ئې هـم حيـات د قبـر ذکـر نـکړو او حقيقي حيات ئې ذکر کړو چه دا عقل ته قـريـب دے۔ او حيـات د قبـر څکه حقيقي حيات نهٔ دے چه حياتِ حقيقيه ديته وائی چه پـه هـغـے کـښې تـعلق د روح د بدن سره وی په تعلق د اتصال او ادخال سره او په قبر کښې د بدن نه د روح د جدا کيدو نه پس د شعور او د ادراك د بقاء نه تعبير په حيات سره کيږی او اصلًا تـعـلـق د روح د بدن سره نهٔ وی۔ په بل تعبير په بدن کښې روح نهٔ وی بلکه د روح او د بـدن خپـل مينځ کښې يو کنکشن شانته وی چه پدے سره د مړی نه نوم د مرګ نهٔ لرے کيږی۔ لـکـه دا خبره محمد بن عبد الهادیؒ متوفی (۷٤٤ھ) په کتاب الصارم المنکی ص (۱۸۵) کښې ذکر کړيده۔

فائده : په دنيا کښې اصل ژوند د بدن وی، او روح ئې تابع وی، او په قبر کښې اصل ژوند د روح وی او بـدن ئې تابع وی او په آخرت کښې اصل کښې ژوند د روح او بدن دواړو وی نو

هغه حقيقي ژوند دے۔ او د قبر ژوند دومره قوي نۀ دے۔ نو ځکه هغه پدے مقام کښې ذکر نشو۔ بلکه هغه بمنزلة النوم دے لکه ولکن لا تشعرون پرے دليل دے۔ نو ځکه هغه قرآن کريم کښې مستقل ژوند ندے شمار شوے۔

(۲) دويمه وجه دا ده چه په يو آيت يا حديث کښې تولے مسئلے نۀ وي، نو د قبر حيات به د بل ځائے نه طلب کړے شي، او د هغے دپاره ډير دلائل د آيت او د متواترو احاديثو نه شته، قرآن کريم کښې څوارلس آيتونه د عذاب قبر د اثبات دپاره دي۔

فائده : په قبر کښې کوم شي له عذاب ورکولے شي روح له که بدن له ؟ پدے باره کښې شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په ((الاعتقاد المفصل)) کښې څلور اقوال ذکر کړيدي :

(۱) **اول قول** دا دے چه صرف روح له عذاب دے او بدن هسے جماد دے، هيڅ عذاب او راحت ورله نشته۔ او بدن سره ئے هيڅ تعلق نشته۔ او دا قول د فلاسفهؤ دے او د اهل السنة نه ابن ميسرهؒ او ابن حزمؒ دے۔

او دا رايه علامه آلوسيؒ په روح المعاني کښې غوره کړيده وائي : ځکه چه د خلقو شکونه پيدا کيږي چه کله بدن حيوان خوړلے وي، او کله اُوبو وړے وي، او کله سوزيدلے، ذره شوے وي۔ نو بس داسے به اُووايو چه صرف روح له عذاب او نعمت دے چه اشکالات ختم شي۔ ليکن دا قول ضعيف دے۔ د احاديثو خلاف دے۔

(۲) دويم **قول** د اکثرو اهل السنة والجماعة دے چه : عذاب او نعمت روح له هم شته او بدن له هم شته، روح اصل او بدن ئے تابع دے۔ بيا بدن له څنګه عذاب ورکولے شي؟۔

(۱) -- نو بعض وائي چه بدن کښې بيل روح اچولے شي [بِقَدْرِ مَا يَحِسُّ بِالتَّعْذِيْبِ وَالتَّنْعِيْمِ وَالْأَلَمِ] (داسے روح وي چه صرف عذاب او نعمتونه او دردونه محسوس کولے شي)۔

(۲) -- بعض وائي : بدن له عذاب پدے طريقه دے چه د روح د بدن سره کنکشن او رابطه وي۔ لکه د بجلۍ او موبائل وغيره په شان۔ او کله روح بدن ته راواپس کيږي لکه حديث کښې دي : [فَتُعَادُ رُوْحُهُ فِيْ جَسَدِهٖ فَيَأْتِيْهِ مَلَكَانِ] [احمد : ۱۸۵۵۷]

(نو روح د هغۀ بدن ته راواپس شي نو دوه ملائك ورته راشي) او بل حديث دے :

[وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ (اَیْ عَلَى الْكَافِرِ) قَبْرُهٗ حَتّٰى تَخْتَلِفَ فِيْهِ أَضْلَاعُهٗ]

(صحيح : ابوداود : ٤٧٥٥ ترمذي : ١٠٧١)

کافر باندے د هغهٔ قبر راتنگ کړے شی تردے چه د هغهٔ پښتئ په یو بل کښے ننوزی۔
دا دلیل دے چه دے بدن له هم عذاب شته۔

(۳) دریم دا چه بدن له الله تعالیٰ عذاب ورکوی هرځنګه چه وی او په هره طریقه چه
وی۔ خو د الله نبی وئیلی دی، الله تعالیٰ قادر دے په عذاب او نعمت ورکولو او د هغه
ژوند پته بندګانو ته نشته۔ او نهٔ د دغه حالاتونه څوك خبر دی، او الله او رسول د هغے
خبر ورکړیدے چه قبر کښ عذاب شته په هر کیفیت چه وی او دا د ایمان بالغیب مسئلے
دی۔

(۳) او دریم **قول** دا دے چه په برزخ کښے نهٔ عذاب شته او نهٔ نعمتونه۔ ځکه چه روح
د دوئ په نیز باندے حیات دے، او روح د مرګ نه پس د دوئ په نیز باقی نهٔ پاتے کیږی نو
نعیم او عذاب د قیامت نه مخکښے نشته۔ بلکه دا به د قیامت په ورځ وی۔ او دا قول د
معتزله ؤ او د قاضی ابوبکر دے او دا باطل قول دے۔

(٤) او څلورم **قول** دا دے چه صرف بدن له عذاب او نعمت دے، او دا قول د بعض اهل
کلام دے، او د اهل الحدیثو نه د ابن الزغوانیؒ دے۔ خو دا قول هم د صحیح حدیثونو
خلاف دے۔ (مجموع فتاوی ابن تیمیه : ۲۸۲/٤/۲٦۲) القیامة الصغری لعمر بن
سلیمان الاشقر ص : ۱۰۷)

اُوس **دلیل د عذاب القبر** : ۱- نبی ﷺ د بنو نجار په شپږو یا پنځو یا څلورو
قبرونو تیر شو نو اُوښه پرے اُوخوزیدله، نزدے وه چه ګوزار کړے وے، نو تپوس ئے اُوکړو
[مَنۡ یَّعۡرِفُ اَصۡحَابَ هٰذِهِ الۡاَقۡبُرِ ؟] چه دا قبرونو والا څوك پیژنی؟ یو سړی عرض اُوکړو :
زهٔ ، وے فرمایل : [فَمَتٰی مَاتَ هٰؤُلَاءِ ؟] دا کله مړهٔ شویدی ؟ وے وئیل : [مَاتُوۡا فِی
الۡاِشۡرَاكِ] په شرك کښ مړهٔ شویدی۔ وے فرمایل :

[اِنَّ هٰذِهِ الۡاُمَّةَ تُبۡتَلٰی فِیۡ قُبُوۡرِهَا فَلَوۡلَا اَنۡ لَّا تَدَافَنُوۡا لَدَعَوۡتُ اللّٰهَ اَنۡ یُّسۡمِعَکُمۡ مِنۡ عَذَابِ الۡقَبۡرِ
الَّذِیۡ اَسۡمَعُ مِنۡهُ] [صحیح مسلم : ۷۳۹۲ ومسند احمد]

(دے امت له په قبرونو کښ عذاب ورکولے شی نو که دا یره نهٔ وے چه تاسو به مړی خخ
نکړئ، نو ما به د الله تعالیٰ نه غوختلی وے چه تاسو ته عذاب د قبر واوروی کوم چه زهٔ
اَورم) پدے کښ عذاب دے۔

(۲) [تَعَوَّذُوۡا بِاللّٰهِ مِنۡ عَذَابِ الۡقَبۡرِ] [صحیح مسلم: ۷۳۹۲]

نبی ﷺ فرمائی : د الله تعالیٰ پورے د عذاب د قبر نه پناهی طلب کړئ)۔

(۳) [اِنَّ هٰذِهِ الْقُبُوْرَ مَمْلُوْءَ ةٌ ظُلْمَةً عَلٰى اَهْلِهَا وَاِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُنَوِّرُهَا لَهُمْ بِصَلَاتِيْ عَلَيْهِمْ]

[مسند احمد : ۱۲۵۳۹) ومسلم : ۹۵٦، وابن حبان : ۳۰۸٦ والدارقطنی]

(دا قبرونه د تیارو نه ډك دی خو الله تعالیٰ ئے زما د مانځه په وجه روښانه کوی)۔

(٤) دلیل : شرعی قاعده ده چه کله په قرآن او حدیث کښ یوه خبره ذکر وی او په زمانه د نزول د قرآن او حدیث کښ د خلقو په ذهن کښ په عرف کښ یوه معنیٰ راتله نو هغه معنیٰ به شرعاً هم مراده وی، ولے که هغه مراده نۀ وی نو په الله تعالیٰ او په رسول ﷺ واجب دی چه خلقو ته به بیان کوی چه ددے لفظ نه چه تاسو کوم مطلب اخلئ دا مراد نۀ دے۔ لکه مثال : نبی ﷺ اُوفرمایل : تاسو پهلوان چا ته وایئ ؟، صحابه کرامو اُوفرمایل : هغه څوك دے چه خلق راپرزوی، وے فرمایل :

[لَيْسَ الشَّدِيْدُ بِالصُّرَعَةِ اِنَّمَا الشَّدِيْدُ الَّذِيْ يَمْلِكُ نَفْسَهٗ عِنْدَ الْغَضَبِ]

(پهلوان دیته نۀ وائی چه خلق راغځلوی بلکه پهلوان د الله تعالیٰ په نیز هغه دے چه د غصے په وخت ځان په کنټرول کښ کړی)۔ [بخاری : ٦١١٤]

نو دغه شان په قرآن او حدیث کښ د قبر لفظ ذکر کیږی۔

قرآن کریم کښ دی : [ثُمَّ اَمَاتَهٗ فَاَقْبَرَهٗ] او په عرف د مسلمانانو کښ هم قبر همدے کندے ته وئیلے شی نو که دے قبر کښ عذاب او نعمتونه نۀ وے نو په نبی ﷺ باندے واجبه وه چه امت ته به ئے وئیلی وے چه زۀ چه د قبر لفظ ذکر کوم نو ددے نه دا قبر مراد نۀ دے بلکه برزخ یا بل ځائے مراد دے۔

او په دنیا کښے ددے مثال د خوبی انسان دے چه خوب کښ وهل او خوشحالی وینی او ته به ورته خوا کښ ناست ئے په هیڅ حالت به ئے نۀ خبریږے نو دا د ایمان بالغیب سره تعلق لری۔ او آیت کښ دی :

[وَلَوْ تَرٰى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمَلٰئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ] (الانفال: ٥٠)

چه ملائك کله د کافرانو نه ساه اخلی نو مخونه او شاګانے ئے وهی) او حال دا چه مونږ خو یو کافر هم داسے اُونۀ لیدلو چه مخ ئے د وهلو په وجه شین شوے وی نو دا ټول ایمان بالغیب دے او ددے نه انکار نۀ کوی مګر غټ جاهل خواهش پرست۔ وبالله التوفیق۔

څوك چه د عذاب قبر او نعیم د قبر منکر دی اولًا دا سړے بے ایمانه دے۔ دویم جاهل

دے۔د شریعت د حقائقو نه خبر نهٔ دے۔ د کتاب او سنت صحیح فهم ورسره نشته۔

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا
خاص الله هغه ذات دے چه پیدا کړی ئے دی ستاسو د فائدے دپاره هغه څیزونه
فِي الْأَرْضِ جَمِيْعًا ثُمَّ اسْتَوٰٓى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰهُنَّ
چه په زمکه کښې دی ټول۔ بیا اراده اُوکړه الله تعالیٰ آسمان ته پس برابر ئے جوړ کړل دا
سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۹﴾
اُووه (۷) آسمانونه۔ او هغه په هر شی باندے ډیر پوهه لرونکے دے۔

تفسیر : دلته الله تعالیٰ نور نعمتونه ذکر کوی چه تاسو له الله آسمان او زمکه او ټول نعمتونه ستاسو د فائدے دپاره پیدا کړی دی، نو تاسو څنګه د هغه عبادت نکوئ او د هغه سره شریکان جوړوئ او خالق نه انکار کوئ۔

عنوان الآیة : (۱) پدے آیت کښې تعارف د الله تعالیٰ دے۔ (۲) دویم پدے کښې بیان النعمة دے چه الله تعالیٰ په تاسو عجیب انعامات کړیدی (۳) او دلیل د رد الکفر دے چه ټول نعمتونه د هغه د طرفه دی نو کفر نهٔ دے پکار۔

هُوَ الَّذِیْ : دے کښې معنیٰ د خصوصیت ده ځکه هُوَ او اَلَّذِیْ دواړه معرفے دی۔

(لَکُمْ) کښې لام د انتفاع (فائدے) دپاره دے، ځکه مقصود د پیدائش د څیزونو د هغے نه فائده اخستل دی۔

لَکُمْ : کښې اشاره ده چه انسان له الله تعالیٰ کائنات پیدا کړیدی او هغه په کښې خلیفةُ الارض جوړوی، نو الله تعالیٰ ته ددے انسان اعمال ډیر خوښ دی، نو د دنیا ټول څیزونه بنده له او بنده الله تعالیٰ له پیدا دے۔ نو دا آیت مقدمه شوه د راتلونکی آیت چه الله تعالیٰ تاسو له خلافت درکړو او د دنیا فائدے ئے درله درکړے نو د الله تعالیٰ قانون به نافذ کوئ۔

مَا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا : دے کښې بعض خلق **غلط تفسیر** کوی : چه جَمِیْعًا مفعول بهٖ

دے دپاره د پټ فعل۔ (أَيْ اِعْتَقِدُوْا جَمِيْعًا مِنْهُ) (عقیده اوساتئ چه دا ټول څیزونه د الله تعالیٰ د طرفه دی) وجه دا ده چه دا خبره خو د آیت نه خپله معلومیږی ځکه چه جمیعاً د خَلَقَ سره متعلق دے۔ نو خپله معلومه شوه چه الله تعالیٰ د ټولو څیزونو خالق دے۔ نو دے پټ فعل راوخکلو ته ضرورت نشته۔

سوال : ډیر څیزونه د انسانانو د ضرر دپاره دی لکه مار، لړم، زمری، پړانګان، زهریلی حیوانات، بمونه وغیره ؟ **جواب ۱** : په هغے کښې هم فائده شته ځکه فائده یا دینی وی یا دنیوی نو په هغے کښې دینی فائده شته چه د الله تعالیٰ قدرت پرے معلوم کړی، چه الله تعالیٰ داسے قادر ذات دے چه دومره ضرری څیزونه هم پیدا کولے شی۔

(۲) **جواب** : دنیا کښې ضرری څیزونه پیژندل د آخرت د عذاب دپاره نخے دی۔ پدے سره د انسان اصلاح کیږی۔ ډیر داسے څیزونه دی چه مونږ ته ئے فائده نۀ ښکاری لیکن الله تعالیٰ علیم او خبیر دے (فَلَا أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ وَمَا لَاتُبْصِرُوْنَ) زمونږ علم قاصر دے۔

فائده: بعض اباحیه، دهریه ددے نه استدلال کوی چه زر، زن، زمین مشترك دے د ټولو انسانانو ترمینځ، ځکه دا ټول د انسانانو د فائدے دپاره پیدا دی۔ جواب دا دے چه ددے معنیٰ دا نۀ ده چه د هر شی نه ته فائده اخستے شے، اګرکه پردے شے هم وی۔ او حرام شے وی لکه بعضِ اباحیه دهریه وائی۔ نۀ بلکه معنیٰ دا ده چه مجموعه ټول انسانان د مجموعه ټولو شیانو نه فائده اخلی، د زمکے نه، ددے آسمانونو نه، ددے ورځو، شپو نه، حیواناتو، خاورو، آب وهواء نه، بیا د چا لږ وی د چا ډیر۔ خو دا شیان ستاسو د فائدے دپاره دی۔ نو دلته مقابله د جمع د جمع سره راغلے ده چه دا تقاضا کوی د تقسیم د احادو په احادو۔ نو چه د بعض مسلمانانو د دنیا د څیزونو نه فائده واخسته نو دا داسے شوه لکه چه تا ترے واخسته۔ ځکه هغه ستا همجنس دے۔ نو دے سره دا اعتراض هم ختم شو چه ډیر څیزونو نه خو مونږ فائده نشو اخستے لکه پردئ ښځه، پردے مال وغیره۔

او د قرآن کریم په نورو آیتونو کښې د هغے حرمت ذکر دے۔ نو څنګه یو ځائے نه استدلال کوی او بل ځائے نۀ منی ؟!۔

فائده : اصل په اشیاؤ کښې څه شے دے ؟ اباحت دے او که نۀ ؟

بعض بدعتیان ددے نه دلیل نیسی چه اصل په اشیاؤ کښې اباحت دے نو مونږ چه کوم بدعات کوو نو دا هم مباح دی لکهِ غلط خیراتونه، کلیزے، څلویښتیانے او

خوراكونه۔
جواب دا دے چه دلته فقهي قاعده ده چه اشياء درے قسمه دي : (۱) عبادات او قُربات دي۔ نو اصل پدے كښې توقف دے۔ د ځان نه ځوك عبادت او تقرب نشي جوړولے، خيراتونه، مونځونه د ځان نه جوړول غلط دي بلكه دا به د الله تعالىٰ او د هغه د رسول نه زده كوے۔ ورنه غلے به كيږے۔
(۲) دويم خوراكي مواد، بيوع، لباسونه خوراكونه دي نو اصل پدے كښې اباحت دے۔ هر خوراك، هره بيعه، هر لباس جائز دے مگر هغه چه شريعت ترے منع كړې وي۔ [كُلْ مَا شِئْتَ وَالْبَسْ مَا شِئْتَ مَا اَخْطَأَتْكَ اثْنَتَانِ سَرَفٌ وَمَخِيلَةٌ) (قاله ابن عباس ﷺ كَمَا فِي الْبُخَارِيّ كِتَابُ اللِّبَاسِ) وَوَرَدَ مِثْلُهُ مَرْفُوعًا رَوَاهُ النَّسَائِيُّ فِي الزَّكٰوةِ وَابْنُ مَاجه فِي اللِّبَاسِ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَتَصَدَّقُوْا وَالْبَسُوْا مَا لَمْ يُخَالِطْهُ اِسْرَافٌ وَمَخِيلَةٌ) (تخريج الآحاديث والآثار الواقعة فى تفسير الكشاف-لعبد الله بن عبد الرحمن السعد ۱/٤٥٩) سورة الإعراف] (خورئ، څكئ، او صدقه كوئ او اغوندئ ترڅو پورے چه ورسره اسراف او تكبر نۀ وي يو ځائے شوے)۔
په مرفوع حديث كښې دي :
[وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفٰى عَنْهُ وَفِيْ رِوَايَةٍ : فَهُوَ عَفْوٌ]
[ابوداود : ۳۸۰۲ ترمذی : ۱۷۲۶، وصححه الالبانی]
(كوم شى نه چه شريعت سكوت كړيدے نو هغه ئے امت ته معاف كړيدے)۔
(۳) اصل په زنانو كښې حرمت (حراموالے) دے، ټولے ښځے حرامے دي، كه كافره وي، كه هندوه، كه سكه او كه مشركه وي۔ مگر هغه چه شريعت ئے اجازت وركړي، او شريعت د څلورو ښځو او د وينځو اجازت وركړيدے، باقي زنانه استعمالول حرام دي۔
نو مبتدعينو ته به وئيلے شي چه تاسو چه دا كوم خيراتونه او اسقاطونه او مابنامي او څهلمونه كوئ او په قبر كښے اذانونه كوئ نو دا تاسو عبادت ګنړئ او كه نۀ ؟ كه عبادت ئے ګنړئ نو د الله تعالىٰ او د هغۀ د رسول نه به دليل راوړئ، كه نۀ وي دا به بدعت وي۔
حديث د مسلم كښې دي :
[مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ] [بخاری تعليقا: ومسلم : ٤٥٩٠]
(چا چه يو داسے عمل اُوكړو چه په هغے باندے زمونږ حكم او اجازه نۀ وي نو دا به

مردود وی) نو دا دلیل دے چه کوم عبادت شرع نهٔ وی خودلے نو هغه به د ځان نه عبادت نشي جوړیدے۔ بلکه هغه به بدعت وی۔ اوس پدے خبره باندے ډیر مسائل معلوم کړه!۔ (راجع فتح القدير) ددے مسئلے تفصیل په الحق الصریح (۱/۴۴۵) کښې تفصیلاً اُوګوره۔

ثُمَّ اسْتَوٰی : د استویٰ په صله کښې چه کله اِلیٰ راشي نو په معنیٰ د قصد او ارادے سره وی۔ او چه په صله کښې ئے علی راشي نو په معنیٰ د علا وارتفع (پورته او اُوچت شو) او کیناستو سره وی۔ لکه (اَلرَّحْمٰنُ عَلَی الْعَرْشِ اسْتَوٰی) (لِتَسْتَوُوا عَلٰی ظُهُوْرِهٖ) او د الله تعالیٰ په صفت کښې اِسْتَوٰی راغلے دے۔ او د متشابهاتو نه دے۔

(۳) کله په معنیٰ د کَمُلَ او تَمَّ سره وی کله چه مطلق ذکر شي۔ لکه (وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰی) (القصص:۱۴) ای کَمُلَ عَقْلُهٗ (عقل ئے کامل شو)۔

(۴) کله په معنیٰ د برابر والي سره وی چه واو ورسره راشي لکه (اِسْتَوَی الْمَاءُ وَالْخَشَبَةَ) اَیْ مَعَ الْخَشَبَةِ۔ (اُوبه د لرګی سره برابرے شوے)۔

فَسَوّٰهُنَّ : برابر ئے کړل او ترتیب ئے ورله ورکړو۔ (هُن) ضمیر یا راجع دے السماء ته او هغه جنس دے، په لږ او ډیروئے اطلاق کیږی۔ (۲) یا ضمیر مبهم دے، مرجع ئے روستو (سَبْعَ سَمٰوٰتٍ) ده او دا اضمار قبل الذکر دے۔

سَبْعَ سَمٰوٰتٍ : (۱) د اهل السنة والجماعة رأیه دا ده چه آسمانونه اُووه دی که نور وے نو الله تعالیٰ به د هغے خبر ورکړے وے۔

(۲) فلاسفه وائي (او دا امام رازیؒ غوره کړیده) چه آسمانونه نهه دی، عرش او کرسی ئے هم په آسمانونو کښې شمارلي دی۔ او وائي چه تخصیص بالعدد نفی د زائد نهٔ کوی۔ لیکن دا قول ضعیف دے۔ د عامو نصوصو خلاف دے۔

او زمکے هم اُووه دی لکه د سورة الطلاق په (۱۲) آیت کښې ذکر دی : (وَمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ) لیکن هغه د یو بل سره انختي دی او د آسمانونو ترمینځ فاصلے دی لکه د زمکے نه تر آسمان پورے او خپل خپل مخلوق پکښې الله تعالیٰ پیدا کړیدی، ډیر ملائك دی چه د څلورو ګوتو په مقدار ځائے په آسمانونو کښې نشته مګر په هغے کښې ملائك په عبادت کښې ولاړ دی۔

مسئله : کوم یو مخکښ پیدا دے، زمکه او که آسمان ؟

پدے اختلاف ذکر کولو کښ فائده دا ده چه تطبیق د آیتونو راشي. ځکه چه د دوه آیتونونه معلومیږی چه زمکه مخکښ پیدا ده لکه دا آیت شو. دلته ثم استوی الی السماء روستو ذکر شو د زمکے د پیدائش نه. دویم حم السجده (۱۱) کښ دی (خَلَقَ الْأَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ......ثُمَّ اسْتَوٰى إِلَى السَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ)

او د سورت نازعات (۳۱) نه معلومیږی چه آسمان مخکښ پیدا دے. (وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ دَحٰهَا) نو د بعد نه معلومیږی چه زمکه روستو پیدا شویده.

(۱) نو چا پدے آیتونو کښ تاویل کړیدے چه دلته ثم د تراخی ذکری دپاره دے، نهٔ د تراخی زمانی دپاره. او معنیٰ دا ده چه بیا دا هم واوره چه آسمان ته ئے قصد اُوکړو. نو آسمان مطلقاً مخکښ پیدا دے او زمکه روستو او په سورت نازعات کښ بعد لفظ په خپل حال دے. او دلته ئے زمکه مخکښ ذکر کړه ځکه چه انسان ترے فائده زیاته اخلی. او دا قول د قتادهٌ دے.

(۲) او چا په آیت د نازعات کښ تاویل کړیدے چه بعد هلته په معنیٰ د مع دے یعنی (وَالْاَرْضَ مَعَ ذٰلِكَ دَحٰهَا) لکه (عُتُلٍّ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيْمٍ) (القلم :۱۳) یعنی مَعَ ذٰلِكَ لهذا زمکه مخکښ پیدا شوے هم ده او غوړولے شوے هم ده.

او دا قول امام قرطبیؒ په تفسیر د سورة النازعات کښ ذکر کړیدے.

(۳) دریم قول چه د احادیثو او د قرآن کریم ددے آیتونو نه معلومیږی، هغه دا چه اول زمکه پیدا شوه، بیا آسمان او دهغے برابرول اُوشو بیا روستو زمکه خوره شوه او خوراکونه او څیزونه پکښ پیدا کړے شو. نو نفس پیدائش د زمکے مُقدم دے، لکه ددے آیت او د حم السجده نه معلومه ده او دَحْوُ الارض مؤخر دے لکه د نازعات آیت نه معلومه ده. او پیدائش د آسمان مؤخر دے. لهذا په یو آیت کښ هم تأویل ته ضرورت نشته.

د آسمان او زمکے د پیدائش طریقه څنګه ده ؟ نو په سورة حم السجده کښ او د تورات د سفر الخلق (۲/۱) نه معلومیږی او دا د عبد الله بن عباس ﷺ اثر هم دے چه الله تعالیٰ اُوبه پیدا کړے او بیا ئے دے نه غبار راوچت کړو. او بیا ددے غبار نه ئے مضبوط آسمانونه پیدا کړل، بیا دا اُوبهٔ الله تعالیٰ منجمدے کړے نو ددے نه ئے زمکه او کائنات پیدا کړل او

پدے اُوبو کښې چه کومه رنړا وه د هغې نه ئې نمر او سپوږمۍ جوړ کړل کله چه نمر او سپوږمۍ پیدا شو نو بس مخلوقات او کائنات په دې سره روان شو. ورځ او شپه هم ددې نه پیدا شوه، رنړا او تیارې هم. نو دا ټول څیزونه د اُوبو نه پیدا دی، لکه د سورة الانبیاء (۳۰) آیت نه هم معلومیږی

(اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ)

او دا په حدیث د ابو هریره ﷺ کښې هم راغلی دی:

(عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! اَنْبِئْنِيْ عَنْ كُلِّ شَيْءٍ ؟ قَالَ : كُلُّ شَيْءٍ خُلِقَ مِنَ الْمَآءِ)

(ابن ماجه- ورواه ابن حبان ٤/١١٥ واسناده ضعيف واصل الحديث ثابت من الآية).

(ما اُووئیل : یارسول الله ! ما له خبر راکړه چه دا ټول څیزونه د څه نه پیدا دی ؟ نو هغهٔ اُوفرمایل : ټول څیزونه د اُوبو نه پیدا دی.

وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْم : (۱) د الله تعالیٰ د علم حواله ئې ورکړه پدے کښې ترغیب او ترهیب پروت دے چه اے انسانانو ! تاسو به څرنګ عمل کوئ ما ته ستاسو اعمال معلوم دی.

(۲) بل اشاره ده چه الله تعالیٰ دا ترتیب د عالم روان کړو دا مبنی دے په علم د الله تعالیٰ لکه (ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْم). آیت شو.

د قرآن په دلائلو کښې دا دوه مقصده وی، الله تعالیٰ خالق اُوګڼړئ او عالم ئې اُوګڼړئ، د هرڅه خالق او په هر څه پوهه. او دا خلاصه د ټولو صفاتو ده. په انسانانو کښې چه چا کښې علم وی نو هغه کښې قوت نهٔ وی او چه قوت وی نو علم ورسره نهٔ وی او چه دواړه جمع شی نو هغه هم ناقص وی. او الله تعالیٰ کښې دواړه صفتونه په طریقه د کمال راجمع دی. او دا په سورة طلاق (۱۲) کښې هم راغلی دی:

﴿ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾

(الله تعالیٰ خالق، قادر او عالم دے). (وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ) (القصص:٦٨)

وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً ؕ

او کله چه اُووئیل رب ستا ملائکو ته یقیناً زهٔ پیدا کونکے یم په زمکه کښې یو بادشاه،

قَالُوْٓا اَتَجْعَلُ فِیْهَا مَنْ یُّفْسِدُ فِیْهَا

اُووئیل ملائکو: آیا ته پیدا کوے په دے کښې هغه څوك چه فساد به کوی په دے کښې

وَیَسْفِكُ الدِّمَآءَ ۚ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ

او تویه وی به وینے (په ناحقه) او مونږ پاکی وایو سره د صفتونو ستا نه او مونږه پاکی وایو

لَكَ قَالَ اِنِّیْ اَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾

ستا د ذات ـ الله تعالیٰ اُوفرمایل : زهٔ پوهیږم په هغه څه چه تاسو پرے نهٔ پوهیږئ۔

تفسیر: په دے ځائے کښې الله تعالیٰ واقعه د آدم علیه السلام بیانوی او د ملاء اعلیٰ خبرے دی چه الله تعالیٰ ئے مونږ ته بیانوی او دا ډیر زوړ تاریخ دے چه د وحی نه بغیر نهٔ معلومیږی نو دا د قرآن کریم کمال دے که دا نهٔ وے نو انسان ته د خپل پیدائش پته هم نهٔ وه۔

دلته یو څو بحثونه دی ۱- مقاصد۔ ۲- دویم مناسبة۔ ۳- دریم : فوائد او تفسیر۔

د واقعے مقاصد :

(۱) د مقاصدو نه یو مخکښې بیان شو چه هغه ذکر النعم دے۔ آدم علیه السلام ئے خلیفة الارض، مسجود له د ملائکو گرځولے دے او توبه ئے ورله قبوله کړیده۔نو د الله تعالیٰ شکر او عبادت پکار دے۔ خو نعمت الله تعالیٰ په بل طرز هم بیانولے شو نو پدے کښې زمونږ بعض مشائخ فرمائی : چه (۲) مقصود پکښې رد الشرك دے۔ او نفی د علم الغیب دے۔ لیکن دا مسئله جزئی ده او استنباطاً معلومیږی۔

(۳) بله فائده دا ده چه مخکښې الله تعالیٰ مکان (زمکه) ذکر کړه، اُوس مکین بیانوی چه انسان دے۔ او انسانان د کوم ځائے نه شروع شویدی نو هغه د آدم علیه السلام نه، چه اول دا

پیدا شو۔ او بیا هغه ته خلافت او احکام ورکړے شو۔ او که دے احکامو کښ تقصیر اُوشو نو توبه او استغفار به کوی۔
(٤) غرض : نو پدے کښ شرافت د انسانانو دے چه دا خلافت د زمکے ئے ملائکو او پیرانو ته نهٔ دے ورکړے۔ خو دا خلافت چه ددهٔ نه زائله کیږی نو د الله تعالیٰ په مخالفت او د هغه په امر ماتولو۔ لکه آدم علیه السلام جنت کښ وو لیکن د خطائی په وجه دنیا ته راکوز شو، تکلیف کښ شو۔ بنی اسرائیلو نه ئے خلافت ولے واخستو د هغوی د فسادونو د وجه نه۔ او انسان ته چه عزت ملاویږی نو د الله تعالیٰ په ایمان او طاعت باندے۔ چه ایمان پکښ نهٔ وی، نو بیا د تهولو نه ډیر ناولے او ناکاره دے۔ الله تعالیٰ ئے اسفل السافلین ته رسوی، لکه روستو وائی جهنم ته به ئے رسوم (خالدین فیها)، بیا به په دے جهنم کښ همیشه وی۔ انسان چه قیمتی دے نو دا په څه ؟ دا د الله تعالیٰ د خبرو په منلو۔
(٥) دا واقعه مقدمه ده د روستو خطاباتو د بنی اسرائیلو چه د هغوی نه ولے خلافت واخستل شو۔ (٦) ترغیب دے یهودو او منافقینو او مشرکینو ته چه توبه اُوباسیٔ وقت باقی دے۔ (٧) تنبیه ده عامانو انسانانو ته چه تاسو ابتلاء دپاره پیدا شوی یئ۔
(٨) تعریض دے په یهود چه هغوی کښ فساد، قتل، تکبیر دے لکه د شیطان په شان۔
(٩) د انسان اصل ځائے جنت دے، نو هغے ته بیرته د واپسیٔ کوشش پکار دے۔
(١٠) انسانانو ته دشمن په گوته کول دی۔ دارنګه نور مقاصد هم شته روستو تفسیر کښ راځی۔
مناسبت : ١- یو دا چه مخکښ ئے زمکه بیان کړه نو اُوس د زمکے خلیفه بیانوی۔
٢- مخکښ ئے اُووئیل الله تعالیٰ په هر څه عالِم دے او دلته وائی چه پیغمبران، ملائك، پیریان په غیبو نهٔ پو هیږی۔ ٣- يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا سره ئے مناسبت اُوتړون دے چه نعمتونه الله تعالیٰ ورکوی دپاره د شکر او عبادت کولو۔
(٤) دارنګه د مابعد سره ئے هم مناسبت دے چه دا مقدمه د روستو دپاره ده۔
(٥) نعمتونه دوه قسمه دی ظاهری صوری کوم چه په حِس کښ راځی لکه خوراك، څکاك، پیسه، مکان جائیداد وغیره۔
٢-دویم معنوی لکه عزت، خوشحالی، علم، اکرام وغیره شو نو په مخکښ آیتونو کښ د صوری او ظاهری نعمتونو ذکر وو او پدے راتلونکو آیتونو کښ د معنوی

نعمتونو ذکر دے۔ او هغه داسے چه مونږ ستاسو والد آدم علیه السلام ته د علم دولت ورکړو او دا عزت مے ورکړو چه ملائکو ورته سجده اُوکړه او تاسو ته مے ددے فخر موقع درکړه چه د هغه په اولاد کښې مے راوستئ۔ (معارف)

(وَإِذْ) کلمه د اذ ظرف دے عامل غواړی، بعض وائی متعلق دے د روستو (قالوا) پورے۔ او د ظرف تقدیم په خپل عامل جواز لری۔

(۲) اکثر مفسرین لیکی چه دلته فعل پټ دے۔ (اُذْکُرْ) رایاده کړه دا واقعه او قصه) او خلقو ته ئے بیانه کړه۔ او مقصود پکښې تنبیه وی چه دے راتلونکی واقعے ته متوجه شه او دا مطلب نهٔ دے چه نبی ﷺ ته مخکښې نه واقعه معلومه ده۔

(۳) شاه ولی الله الدهلویؒ فرمائی : دا اشاره وی اختلاف المضمون والواقعه ته، کله چه یوه واقعه د بلے نه جدا کیږی، نو هلته الله تعالیٰ (إِذْ) کلمه ذکر کوی۔ لکه دے سورة کښې به دا (اذ) کلمه زیاته استعمالیږی۔

قَالَ : دا دلیل دے چه د الله تعالیٰ خبرے شته، او احادیثو کښې دی چه الله تعالیٰ ملائکو سره اُوس هم خبرے کوی۔ چه په ملائکو بے هوشی راځی۔

لِلْمَلَائِكَةِ : جمع مَلَك ده د الوکة نه ماخوذ دے په معنیٰ د رسالة (رالیږلو) سره، او الله تعالیٰ ملائك د پیغامات په وړلو باندے مقرر کړیدی، او د مخلوق تربیت پدے طریقه کوی۔

○ نضر بن شُمیل رحمه الله فرمائی : (لَا اِشْتِقَاقَ لِلْمَلَكِ عِنْدَ الْعَرَبِ) (قرطبی)۔

(د عربو په نیز د ملائکة لفظ دپاره اشتقاق نشته)۔

ملائك د الله تعالیٰ هغهٔ نورانی مخلوق دے چه الله تعالیٰ د نور نه پیدا کړیدی او په آسمان کښې ئے اُوسوی، د الله تعالیٰ په اوامر عملی کولو او د هغه په تحمید او تقدیس کښې مصروف وی، او نهٔ ستومانه کیږی او د الله تعالیٰ د هیڅ حکم نه خلاف نهٔ کوی، او د کائناتو خدمتونه پرے کوی، څوك په وریځو مقرر دی څوك په انسانانو، څوك په عرش، څوك په عملنامو لیکلو وغیره وغیره۔

ملائك د الله تعالیٰ داسے مخلوق دے چه نهٔ مذکر دی او نهٔ مؤنث، د دوی صفات پکښې نشته۔ نهٔ ستړی کیږی، نهٔ خوراك څکاك کوی، نهٔ ئے شهوات شته۔ او عدد ئے صرف الله تعالیٰ ته معلوم دے، صرف یو حدیث کښې دی چه هره ورځ اَوویا زره ملائك بیت

المعمور ته داخلیږی او په هغې کښې مونځ کوی او دوباره ئې نمبر نهٔ راځی۔

[هٰذَا الْبَيْتُ الْمَعْمُورُ يُصَلِّي فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ إِذَا خَرَجُوا لَمْ يَعُودُوا إِلَيْهِ]

[بخاری : ۳۲۰۷]

او یو بل روایت کښې دی د اوزاعیؒ نه نقل دی چه : موسیٰ علیه السلام الله تعالیٰ ته اُوفرمایل : تاسره آسمان کښې څوك دی ؟ الله تعالیٰ اوفرمایل : زما ملائك دی۔ عرض ئې وکړو : اے ربه ! ددې شمار څومره دے ؟ الله تعالیٰ اُوفرمایل : [اِثْنَا عَشَرَ سِبْطًا] دولس سبط (خاندانونه) دی۔ د هر سبط څومره عدد دے؟ وې فرمایل : (عَدَدَ التُّرَابِ) ۔ (د خاورو په اندازه دی)۔

[رواه الاصبهانی فی العظمة رقم : ۱۸]۔

او اصبهانیؒ دا هم نقل کړیدی چه ملائك دومره زیات دی چه د الله تعالیٰ په ټولو کائناتو او مخلوقاتو کښې دومره ډیر مخلوق بل نشته۔ او دارنګه د ابن عباس رضی الله عنه نه ئې مرفوعاً روایت راوړیدے چه په دنیا کښې هر شے راززرغونیږی نو په هغې باندے ملائك مقرر دے۔ (رقم : ۲۲) او جبرئیل علیه السلام ئې مشر دے او د ملائکو وزرے دی، د چا دوه، د چا درے او د چا زیاتے او د جبرئیل علیه السلام شپږ سوه وزرے دی۔ ښائسته شکلونه الله تعالیٰ ورکړیدی او دوی ته په قرآن او حدیث کښې ضمیر د مذکر راجع کیږی، او څوك چه دے ته مؤنث وائی نو کافر کیږی کله ئې چه عقیده وی۔

(اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّوْنَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنْثٰى) (النجم :۲۷) ۔

او (تاء) په ملائکة کښې د جمعیت دپاره ده، نهٔ د تانیث۔ ملائك الله تعالیٰ د بندګانو په کارونو لګولی دی، او د الله تعالیٰ هیڅ خلاف نهٔ کوی۔ او په بندګانو ډیر مهربانه دی، هغوی دپاره بخنه او استغفار او دعاګانې غواړی۔

په ملائکو کښې بعض صفات د انسانانو په شان شته لکه (۱) خوف راتلل (۲) لباس اغوستل۔ (۳) بد بوئی بد ګنړل۔ (٤) لیکل وغیره۔ او ناکاره صفات پکښې نشته لکه حسد، غیبت وغیره۔

جاعل : یعنی زهٔ پیدا کونکے یم۔ جعل دلته په معنیٰ د خلق دے۔

خلیفة :

معانی الخلیفة : د خلیفه لفظ ډیرے معانی راځی (۱) حاکم (۲) خلیفة الجن یعنی

د پیریانو نه روستو راغلي، ځکه په دے زمکه اول پیریان آباد وو۔
د ابـن التیـنؒ نه فتح الباری کښے نقل شویدی۔ او دا قول د ابن عباس ﷺ نه په صحیح سـنـد سره امام ابوعبد الله الحاکمؒ په المستدرك رقم الحدیث (۴۰۳۵) کښے ذکر کړیدے او ذهبیؒ په تلخیص کښ د هغه موافقة کړیدے۔ الفاظ ئے داسے دی :
[قَـدْ كَانَ فِيهَا قَبْلَ أَنْ يُخْلَقَ بِأَلْفَيْ عَامٍ الْجِنُّ بَنُو الْجَانّ فَلَمَّا أَفْسَدُوا فِي الْأَرْضِ بَعَثَ عَلَيْهِمْ جُنُودًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ فَضَرَبُوهُمْ حَتّٰى الْحَقُوهُمْ بِجَزَائِرِ الْبُحُورِ]
(یـعـنـی په زمکه کښے د آدم علیه السلام د پیدائش نه دوه زره کاله مخکښے جنات وو کـوم چـه د جان اولاد وو، هـرکـلـه چـه دویٔ په زمـکـه کـښـے فسادونه وکړل الله تعالیٰ په هغوی پسے د ملائکو لښکرے راولیږلے، هغوی ئے ووهل تردے چه د دریابونو جزیرو ته ئے وشړل)۔
(۳) ابن کثیرؒ وئیلی دی : مراد دا دے [قَوْمًا يَخْلُفُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا وَقَرْنًا بَعْدَ قَرْنٍ]
(داسے خلق پیدا کـوم چـه د یـو بـل جانشیـن بـه وی او یو بل پسے به راځی) بناء پدے باندے خلیفة جنس دے۔
(٤) په معنیٰ د مامور سره۔ چه الله تعالیٰ ورته حکمونه ورکړی وی۔
(۵) نـائب۔ دا د الله تعالیٰ نائب نهٔ دے چه د الله تعالیٰ په ځائے به کار کوی او (العیاذ بالله) الله تـعـالیٰ به مُعطل وی۔ بلکه دیته نیابة فی الشرع وائی۔ یعنی د الله تعالیٰ شریعت به په زمـکـه کـښ نـافـذ کـوی۔ ځـکـه الله تعالیٰ شرع رالیږلے ده نو فیصله به پرے انسانان کوی۔
په اصطلاح کښے د **خلافة** دوه معانی دی (۱) مشهوره معنیٰ دا ده چه یو مشر وی او نورئے رعیت وی او هغوی ته حکومت ملاؤ شی۔ او د الله تعالیٰ دین نافذ کوی۔ او دا په اسلام کـښ ډیر اهـمـیـت لـری چـه نبی ﷺ د خـخـولو نه مخکښ ابوبکر صدیق ﷺ خـلـیـفـه مقرر کړے شو۔ بیا چه رعیت کښ څو مره دینداری وی هغه شان خلیفه پرے الله تـعـالیٰ مقرر کوی۔ ددے خلیفه بیا دولس شرطونه دی چه په خپل ځائے کښ به راشی۔ خاصکر الاحکام السلطانیه کښ او فتاوی الدین الخالص جلد (٦) اُوګوره۔
(۲) دویم خلافة : د دین مشری ته وائی، برابره ده که په هره درجه کښ وی، نبوت وی او که امامت او که تدریس وی۔ ددے سره حکومت ضروری نهٔ دے۔

فائده : پدے کښې اختلاف دے چه آیا بنده ته د الله تعالیٰ خلیفه (جانشین) وئیلے شي؟

❁ یو قول دا دے چه جائز دے نو د خلیفة الله في الارض معنیٰ به دا وي چه د الله تعالیٰ ورکړی اختیارات د الله تعالیٰ د مرضئ مطابق استعمال کړي او په دنیا کښې د الله تعالیٰ د مرضئ مطابق نظام قائم کړي۔ دے دپاره چه دنیا ته امن او سکون ملاؤ شي۔

❁ – دویم قول دا دے چه بنده ته خلیفة الله نشي وئیلے ځکه خلیفه خو هغه خلقو ته وئیلے شي چه د یو بل پسے راځي او د یو بل جانشین کیږي۔ او دا صفت د انسانانو دے نو پدے معنیٰ باندے بنده د الله تعالیٰ خلیفه نهٔ جوړیږي۔ اول قول ډیر راجح دے۔ لیکن داسے عبارت وئیل پکار دي چه «خلیفه د زمکے د جانب د الله تعالیٰ نه» ځکه دا عبارت بے غباره دے۔

فائده : پدے آیت کښې الله تعالیٰ د انسان حقیقة اُوخودلو چه انسان د الله تعالیٰ د طرف نه په زمکه کښې خلیفه دے. د هغه احکام به عملي کوي، د هغه وعدے به پوره کوي، د هغه نظام به نافذ کوي او د الله تعالیٰ د منشأ مطابق ژوند به تیروي۔ دا د انسان شرعي تصور دے نو پدے کښې رد دے په منطقیانو چه هغوی د انسان تعریف په حیوان ناطق سره کوي۔ او فلاسفه وائي چه انسان نوم دے د جذبو او احساساتو او حرکاتو۔ دا ناقص تعریفونه دي۔

د الله تعالیٰ په نیز باندے د انسان تصوراو تعریف ته پدے آیت کښې اشاره شویده نو بس کوم انسان چه د هغے مطابق ژوند تیر کړو نو دهٔ خپل حقیقت اُوپیژندلو او که چا الله تعالیٰ اُونهٔ پیژندلو، د هغه احکام ئے عملي نهٔ کړل او د خپل خواهش مطابق ژوند ئے تیر کړو او بندګی ئے اُونکړه نو دے د خپل حقیقت نه جاهل پاتے شو۔

فائده : ملائکو ته ئے دا خبره ولے اُوکړه؟ نو ددے حکمتونه الله تعالیٰ ته ښه معلوم دي خو بعض فائدے دا دي (۱) [تَعۡلِيمًا لِلۡمَشۡوَرَةِ] پدے کښې مقصود بندګانو ته تعلیم ورکول دي چه په کارونو کښې د یو بل سره مشوره کوئ او الله تعالیٰ پخپله مشوره د چا سره نهٔ کوي ځکه مشوره هغه څوك کوي چه خپله نهٔ پوهیږي، د یو شي د عاقبت نه خبر نهٔ وي۔ دا حکمة دومره قوي نهٔ دے۔ (۲) [إِظۡهَارُ شَرَافَةِ آدَمَ لِلۡمَلاَئِكَةِ]۔

(ملائکو ته الله تعالیٰ د آدم علیه السلام شرافت ښکاره کولو) او مخکښې نه ئے ورته وئیلي وو

چه زهٔ یو بنده پیدا کوم تاسو به ئې اکرام کوئ (فَقَعُوا لَهٗ سَاجِدِيْنَ)
ددې مثال داسې دې لکه انسان کور کښې اُووائي چه يو ميلمه راروان دې، تاسو به داسې داسې کارونه د هغه په خدمت کښې اُوکړئ.
(۳) دارنګه دا حکمتونه ښکاره کوي چه ملائك په غيبو نهٔ پوهيږي.
(٤) او آدم ﷺ له الله تعالىٰ شرافت په علم ورکړيدې. او هغه نور حکمتونه راروان دي.
(٥) دارنګه پدې کښې ابتلاء او زميښت وو په ملائکو باندې چه دوی ددې مخلوق په باره کښې څه وائي؟.
(٦) زبدة التفسير ليکي : دا مشوره نهٔ وه بلکه د هغوی رايه راښکاره کول مقصود وو چه دوی پکښې څهٔ وائي. آه. او د انسانانو تعظيم وربنکاره کول وو. (۷) الله تعالىٰ ته د ابليس په نفس کښې کبر او غرور معلوم وو نو د هغې د راښکاره کولو اراده ئې اُوکړه.
(۸) يا مقصود پدې کښې بيان د ابتلاء (امتحان) دې په ملائکو باندې.
(۹) يا دا چه کله اُور پيدا شو نو ملائك د هغهٔ نه اُويريدل نو الله تعالىٰ اُوفرمايل : زه په زمکه کښې خليفه جوړوم او دا اُور به د هغهٔ د نافرمان اولاد دپاره وي.
اَتَجْعَلُ فِيْهَا : دا جمله داسې ښکاري لکه اعتراض ليکن ملائك په الله تعالىٰ باندې هيڅرې اعتراضات نهٔ کوي بلکه اعتراضاتو والا هغه څوك وي چه بې ايمانه وي او د الله تعالىٰ شان ئې نهٔ وي پيژندلې او ملائکو ته خو د الله تعالىٰ شان معلوم دې. نو ديته استفسار (ځان پوهه کول) وائي. چه اې الله رب العالمين ! ته چه انسانانو ته عزت ورکوې نو ددې څه حکمة دې ؟ سره ددې نه چه مونږ هر وخت ستا په عبادت کښې مصروف او مشغول يو او مونږ کښې شر او فساد نشته او دې انسانانو کښې خو خير هم شته او فساد او وراني هم شته، نو په دوی کښې خير او شر دواړه شته او په مونږ کښې سو چه خير دې نو د دوی په پيدا کولو کښې څه حکمة دې ؟ لکه د مشرانو او علماؤ نه خلق دا قسم تپوس کولې شي. نو ديته سؤال الحکمة (د حکمة تپوس) وائي.
حافظ ابن کثيرؒ وائي : [سُؤَالُ اسْتِعْلَامٍ وَاسْتِكْشَافٍ عَنِ الْحِكْمَةِ فِيْ ذٰلِكَ]
(د حکمة د معلومولو او راښکاره کولو باره کښې تپوس وو)
نو الله تعالىٰ ورته روستو حکمة ښکاره کړو. ددې مثال داسې وي لکه يو شاګرد ته

استاذ ډیرے نمبرے ورکړی نو بل شاګرد ترے د حکمة تپوس اُوکړی چه ما هم خواری کړے وه تا دۀ له څنګه ډیرے نمبرے ورکړے ؟۔

سوال : ملائکو د کوم ځائے نه معلومه کړه چه دوی به فسادونه کوی او وینی به تویه کوی، ملائك خو په غیبو نۀ پو هیږی ؟ **جواب** : (۱) دوی استدلال اُوکړو د لفظ د خلیفة نه ځکه خلیفه هغے ته وائی چه د خلقو د جګړو فیصلے به کوی۔ او ملائك ټول عُقول دی، سراسر عقل عقل دے، الله تعالیٰ ورله هوښیارتیا ورکړیده او یو هوښیار انسان چه یو شے اُووینی نو د مخکښ نه ورته پته اُولګی چه دے کښ به دا صفت وی۔ لکه په قبر کښ به هم بنده ته وائی چه [قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ اِنَّكَ تَقُوْلَ هٰذَا] [مسلم : ۲۱٤۱]

(مونږ ته پته وه چه ته به داسے صحیح خبره کوے)

(۲) دارنګه قیاس ئے کړیدے په پیریانو چه هغوی فسادونه کول نو دوی به ئے هم کوی۔ (نقله القرطبي وابن كثير عن ابن عباس) (۳) ددے نه ئے هم معلومه کړه چه دا انسان د څه شی نه جوړ دے ؟ د خاورے نه، او په خاوره کښ مختلف صفات دی، توره خاوره، سره خاوره، خوره، او ګنده بلا۔ نو د دوی په ماده کښ اختلاف دے لهذا په دوی کښ به اختلافات وی او اختلاف چه راځی نو خامخا فساد او وینی تویول به راځی۔

(٤) ډیره واضحه دا ده چه الله تعالیٰ د مخکښ نه د انسان صفات ورته بیان کړی وو چه دا قسم مخلوق به زه پیدا کوم چه په هغوی کښ به ښه او بد صفات وی نو هغوی ته قتل او فساد ډیر بد ښکاره شو نو ځکه ئے په انسان دا رد اُوکړو۔لکه قرطبیؒ او ابن کثیرؒ د ابن عباس ﷺ او ابن مسعود ﷺ او قتادهؒ او ابن جریجؒ او ابن زیدؒ وغیره نه نقل کړیدی چه الله تعالیٰ ملائکو ته د آدم ﷺ د اولادو د طبیعت خبر ورکړے وو چه دوی به په زمکه کښ فسادونه کوی او وینے به تویه کوی۔

ابن مسعود او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : کله چه الله تعالیٰ اُوفرمایل : زه به خلیفه پیدا کوم نو ملائکو اُوویل : دا خلیفه به څنګه وی ؟ الله تعالیٰ اُوفرمایل : ددۀ به اولاد وی چه زمکه کښ به فسادونه کوی او یو بل سره به حسدونه کوی او یو بل به وژنی۔انتهیٰ۔ [ابن ابی حاتم : ۷۸/۱، وابن جریر الطبری ٤۷۹/۱، الکشف والبیان للنیسابوری] نو پدے کښ هم تعریض دے په کفار او یهودو او منافقینو باندے۔

يُفْسِدُ فِيْهَا : سوال : دلته ذهن ته دا سوال راځی چه ملائکو څنګه د انسانانو غیبت

کړے دے؟۔ **جواب** : ملائك پاك مخلوق دے، د چا غیبت او سپکاوے نۀ کوی، بلکه پدے کښې غرض استفسار او تپوس کول وی۔ او دا قانون دے چه قاضی ته کله دوه جګړه ماران راشی نو یو وائی چه دے انسان په ما زیاتے کړے، نو شرعاً دا غیبت نۀ وی۔

(۲) بله دا چه دا د یو شخص غیبت نۀ دے بلکه د جنس په باره کښې خبره ده۔ اول قول غوره دے۔ (۳) بله دا چه تا نه څوك د یو چا په باره کښې استفسار (تپوس) اُوکړی نو ته د هغه عیب بیان کړے، دے کښې ګناه نۀ وی، لکه نبی ﷺ ته یوه زنانه راغله، وے وئیل : ما باندے معاویه ؓ او ابوجهم ؓ جرګه کړیده چا سره نکاح اُوکړم ؟ نو نبی ﷺ ورته د دواړو بدی بیان کړه وے فرمایل :

[اَمَّا اَبُو جَهْمٍ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ، إِنْكِحِيْ اُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ] [مسلم : ۳۷۷۰]

چه ابوجهم ؓ زنانه ډیرے وهی او معاویه ؓ ډیر غریب دے، هیڅ مال ورسره نشته۔ د اسامه (ؓ) سره نکاح اُوکړه۔

وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ : دا په فساد کښې داخل وو نو جدائے ولے ذکر کړو ؟ نو حکمة دا دے چه دا تخصیص بعد التعمیم دے پدے کښې مقصود زیات اهتمام وی چه بے ګناه او ناحقه وینه تویول د الله تعالی په نزد غټ فساد دے اګرکه کافر وی، لکه حدیث کښې دی :

[مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ] چه څوك معاهد (ذمی) کافر قتل کړی نو د جنت خوشبوئی به مونده نۀ کړی۔[صحیح بخاری : ۳۱٦٦]۔ او حدیث کښې دی :

[لَوْ اَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَأَهْلَ الْأَرْضِ اِشْتَرَكُوا فِيْ دَمِ مُؤْمِنٍ لَأَكَبَّهُمُ اللّٰهُ فِي النَّارِ]

«که آسمانونو او زمکو والا تول د یو مؤمن په قتل راجمع شی نو الله تعالیٰ به تول جهنم ته ګوزار کړی» [ترمذی : ۱۳۹۸ صححه الالبانی)

فائده : ملائکو ته دا معلومه ده چه زمکه الله تعالیٰ د صلاح او ښه انتظام دپاره پیدا کړے ده نو ځکه ئے تعجب اُوکړو۔

وَنَحْنُ نُسَبِّحُ : ددے مقصد د ځان صفائی نۀ ده بلکه غرض ئے اظهار د خپل شان چه اے الله ! څه وجه ده چه زمونږ د علم مطابق اُوچت مخلوق له خکته والے ورکوے او خکته مخلوق بره کوے ؟ دے کښې څه حکمة دے ؟۔او هر کله چه ستا صفات بیانیږی او ستا عبادتونه کیږی نو انسانانو پیدا کولو ته څه ضرورت دے او پدے کښے څه حکمة

دي؟۔
(۱) د نُسَبِّحُ او نُقَدِّسُ بنۀ معنیٰ دا ده چه تسبیح د صفاتو وی او تقدیس د ذات وی یعنی مونږ ستا د ذات او صفاتو پاکی بیانوو۔ یعنی ستا په صفاتو کښې هم نقصان نشته او نۀ په ذات کښې۔ د ملائکو ذکر سبحان الله والحمد الله ولا اله الا الله والله اکبر دے۔
(۲) دویم فرق دا دے چه تسبیح په قول او فعل سره وی او تقدیس دا دے چه انسان د کمال صفات کوم چه د ذات عالیه سره مناسب وی په هغے باندے عقیده اُوساتی۔
(۳) امام ضحاکؒ داسے معنیٰ کوی : [نُقَدِّسُ أَنْفُسَنَا لَكَ] (مونږ خپل ځانونه تا ته صفا کوو) دا معنیٰ کمزورے ده ځکه ملائك خو ګناهونه نۀ کوی۔
(٤) میمون بن مهرانؒ فرمائی :
[سُبْحَانَ اللّٰهِ كَلِمَةٌ يُعَظَّمُ بِهَا الرَّبُّ وَيُحَاشٰى بِهَا مِنَ السُّوْءِ]
(سُبحان الله (تسبیح) یوه کلمه ده چه پدے سره د رب تعظیم کولے شی او د هرے بدئ نه لرے کولے شی)
ابن عباس ﷺ فرمائی : [هِيَ تَنْزِيْهُ اللّٰهِ مِنْ كُلِّ سُوْءٍ]۔
(سبحان الله د الله تعالیٰ د هرے بدئ نه پاك ګڼړلو ته وئیلے شی)
ابن الكوّاء د علی بن ابی طالب ﷺ نه تپوس وکړو چه سبحان الله څه مطلب دے ؟ هغۀ وفرمايل : [سُبْحَانَ اللّٰهِ كَلِمَةٌ رَضِيَهَا اللّٰهُ لِنَفْسِهٖ، تَنْزِيْهُ اللّٰهِ عَنِ السُّوْءِ] [الامثال للعسكرى]
سبحان الله : یوه کلمه ده چه الله تعالیٰ د خپل ځان دپاره غوره کړیده چه بندګان ئے د هغۀ دپاره ووائی، او دا د الله تعالیٰ د هر عیب نه د پاك ګڼړلو کلمه ده۔
[وَالتَّسْبِيْحُ هُوَ التَّنْزِيْهُ الْكَامِلُ وَلِذٰلِكَ لَايُسْتَعْمَلُ اِلَّا لِلّٰهِ تَعَالٰى] (فتح البيان)۔
تسبیح :کامله پاکی بیانول دی پدے وجه دا صرف د الله تعالیٰ دپاره استعمالولے شی) او تسبیح په لغة کښې بعد (وړاندے والی) ته وئیلے شی۔
وَنُقَدِّسُ لَكَ : (نُقَدِّسُكَ وَنُنَزِّهُكَ عَمَّا لَايَلِيْقُ بِكَ) ۔ مونږ ستا پاکی بیانوو د هغه څه نه چه ستا سره لائق نه دی)۔
(قَالَ اَبُوْصَالِحٍ : نُعَظِّمُكَ وَنُمَجِّدُكَ) ۔ (مونږ ستا تعظیم کوو او ستا شرافت بیانوو)۔
(وَقَالَ مُجَاهِدٌ : نُعَظِّمُكَ وَنُكَبِّرُكَ) ۔ (مونږ ستا تعظیم کوو او ستا کبریاء او لوئی بیانوو)
(وَقَالَ بَعْضُهُمْ : نُنَزِّهُكَ عَنِ السُّوْءِ فَلَا نَنْسُبُهٗ اِلَيْكَ)۔

(مونږ تا د بدئ نه پاك ګڼړو نو بدی تا ته نۀ منسوب کوو)
ابـن جريرؒ فرمائي : (نَنسُبُكَ اِلٰى مَا هُوَ مِنُ صِفَاتِكَ مِنَ الطَّهَارَةِ مِنَ الْاَدُنَاسِ وَعَمَّا اَضَافَ اِلَيُكَ اَهُلُ الْكُفُرِ بِكَ) (بدائع التفسير)۔
(مـونږ ستا نسبت هغه کامل صفاتو ته کوو چه هغه د خيرو او ګندونو نه صفائي ده او د هـغه څه نه چه کافرانو د هغے تا ته نسبت کړيدے)۔ پدے کښے مقصد رد دے په تفسير د ضحاكؒ باندے۔
حکمة : پـه وَنَحُنُ نُسَبِّحُ کـښ يـو خـو تـفـويض دے الله تعالىٰ تـه چـه اے الله ! تـۀ ښـه پـو هيږے، زمـونږ کار خو صرف تسبيح ده لکه مشورے والا چه اول مشوره ورکړی بيا خبره مشوره اخستـونـکی ته اُوسپاری چه ته ښه پو هيږے او خپل علم ناقص اُوګڼړی لکه د بلقيس اهل حکومت چه بلقيس ته وئيلي وو :
[نَحُنُ اُولُوا قُوَّةٍ وَاُولُوا بَأْسٍ شَدِيُدٍ وَالْاَمُرُ اِلَيُكِ] [النمل : ٣٣]۔
مونږ قوت والا او سخت جنګ والا يو، او واك او اختيار تا ته حواله دے۔
(٢) يا پـدے کـښ د خـالـق دپـاره د پـاکـئ اعـلان کـول دی ددے نه چه پټ شی په هغه بـانـدے هـغـه خبره چه دوی ته ښکاره شويده چه هغه د آدم ؑ د خـلـيفه جوړولو مانع دے۔ يعنی د آدم ؑ د خـلـيـفـه جوړولو نه مانع لکه څنګه چه مونږ ته معلوم دے نو تا ته ډير په ښه شان سره معلوم دے، په تا باندے هغه چرته پټيدے شی ؟!۔
(التنوير ١/٢٣١)
قَالَ اِنِّیۡۤ اَعۡلَمُ : دا د الله تـعـالىٰ حـاکـمـانـه انداز کښ د ملائکو د خبرے ترديد وو، چه ستـاسـو رأيـه د خـليفه په باره کښ درست نۀ ده۔ نو الله تعالىٰ ورته اُوفرمايل : زما په دے کار کښ ډير حکمتونه دی چه هغه تاسو ته نۀ دی معلوم۔ زۀ په دوی کښ انبياء او رسل پيـدا کـوم، په هغوی کښ به صديقين او شهداء او صالحين، عُبّاد، زُهّاد، اَولياء او علماء او متـقيـان او د الله تـعـالـىٰ سره خالص محبت کونکی پيدا کيږی چه پدے سره به د الله تعالىٰ عبادت کيږی او د الله تعالىٰ معرفت به حاصليږی۔ (ابن کثيرؒ)
او دا دليل دے چه ملائکو سره علم الغيب او علم محيط او علم کلی نشته۔
او قرطبیؒ وائی : د (مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ) نه مراد (مَا كَانَ اَوُ مَايَكُوُنُ اَوُ مَا هُوَ كَائِنٌ) مخکنی او روستـو کيـدونـکـی کارونه دی۔ او اشاره ده چه د الله تعالىٰ په هر کار کښ حکمة وی که

چا ته د هغے علم وی او که نهٔ۔

فائده : نو الله تعالیٰ آدم علیه السلام په جنت کښې پیدا کړو او حدیث کښې دی :

[خُلِقَ آدَمُ مِنْ قُبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيعِ الْأَرْضِ فَجَآءَ بَنُو آدَمَ عَلَى قَدَرِ الْأَرْضِ مِنْهُمُ الْأَحْمَرُ وَالْأَسْوَدُ وَالسَّهْلُ وَالْحَزْنُ وَبَيْنَ ذٰلِكَ وَالْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ]

[ابو داود : ٤٦٩٥، والترمذی : ٢٩٥٥، مسند احمد : ١٩٥٩٧، بسند صحيح)

(آدم علیه السلام پیدا شو د هغه موټی خاورے نه چه الله تعالیٰ د ټولے زمکے نه راخستے وه نو انسانان د زمکے په اندازه پیدا شو څوک سرهٔ څوك تور، او څوك نرم خوئی او څوك سخت خوئی او څوك ددے ترمینځ دی او څوك خبیث او څوك پاك دی) یعنی د خاورے صفات پکښې راغلل۔

بیا الله تعالیٰ آدم علیه السلام په خپل لاس پیدا کړو او کلمه د کن ئے پکښې نهٔ ده استعمال کړے په جنت کښې کالبوت (بلا روح) پروت وو، ابلیس ورغلو چه وے کتل دهٔ کښې سوری ډیر وو نو وے وئیل : [خُلِقَ خَلْقًا لَايَتَمَالَكُ] (داسے مخلوق دے چه د ځان اختیار نهٔ لری) [مسلم : ٦٨٥١]

او زړهٔ کښې ئے تیره شوه که زهٔ پرے مقرر شوم نو بنه به ئے گمراه کړم نو الله تعالیٰ پرے رشتیا مقرر کړو۔ کله چه په کښې الله تعالیٰ روح واچولو نو پرنجے ئے اُوکړو نو الحمد لله ئے اُووئیله نو الله تعالیٰ ورله جواب ورکړو (يَرْحَمُكَ اللهُ) بیا ئے ورته اُوفرمایل : دغلته ملائك ناست دی ورشه سلام پرے واچوه (السلام علیکم) نو سلام ئے ورته اُوخودلو، ملائکو جواب ورکړو : وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ۔ [ترمذی : ٣٣٦٦٨ بسند صحیح]

بیا ورله الله تعالیٰ د کسے پښتئ نه بی بی پیدا کړه یو بل ئے اُوپیژندل او فطرةً ئے یو بل ته توجه پیدا شوه۔

دا د ټولو مسلمانانو عقیده ده چه د انسانانو اصل آدم علیه السلام دے او د بعض دهریه ؤ دا عقیده ده چه انسان مخکښې شادو وو، بیا پکښې ترقی پیدا شوه نو انسان ترے جوړ شو مونږ وایو زمونږ اصل خو آدم علیه السلام دے او ستاسو اصل به شادوګان وی۔ لکه دا عقیده د ډاروین وه۔ او عجیبه خبره ده چه صرف په شادو کښې ترقی کیږی او انسان ترے جوړیږی او د اُوښ او غوائی او چیلی نه خو کله هم انسان جوړ نشو، دا کوم عقل دے ؟!۔

وَعَلَّمَ اٰدَمَ الْأَسْمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ
او تعليم وركړو الله تعالىٰ آدم ته د نومونو د ټولو څيزونو بيا ئے پيش كړل دغه څيزونه
عَلَى الْمَلٰٓئِكَةِ فَقَالَ أَنْبِئُوْنِىْ بِأَسْمَآءِ هٰٓؤُلَآءِ
ملائكو ته پس اُووئيل الله : خبر راكړئ ما ته په نومونو ددے څيزونو
اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۳۱﴾
كه چرته يئ تاسو رشتينى۔ (چه مونږ د آدم ﷺ نه غوره يو)۔

تفسير :

ددے ځائے نه اُوس هغه حكمتونه رابنكاره كوى او د ملائكو تفصيلى علم راولى چه آؤ د الله تعالىٰ په هر كار كښ حكمة وى۔ او په اجمالى طور سره د فضيلت د آدم ﷺ نه روستو اُوس تفصيلى طور سره د آدم ﷺ فضيلت او غوره والے ښكاره كوى او دا ډير حكيمانه انداز دے۔دارنګه د ملائكو په سوال كښ دے طرف ته اشاره وه چه مونږ د آدم (ﷺ) نه افضل يو، پدے وجه الله تعالىٰ هغوى ته دا خودل غواړى چه آدم (ﷺ) د هغه علم په وجه كوم چه الله تعالىٰ هغه ته وركړيدے، د هغوى نه غوره دے۔

فوائد الآيات :

(۱) علم : ضمير راجع دے الله تعالىٰ ته۔ الله تعالىٰ دپاره عَلَّمَ لفظ استعماليږى ليكن مُعَلِّم ورته نشى وئيلے۔ ځكه نص پكښ نشته۔

(۲) **دا تعليم په څه طريقه وو ؟** ۱- بعض وائى دا په واسطه د ملائك وو۔ الله تعالىٰ ورته يو ملائك راليږلے وو۔ ليكن دا خبره ضعيفه، بے دليله ده۔

۲- يا دا تعليم په واسطه د فطرت دے، ديته تعليم فطرى وائى، لكه د هيلئ د بچو په فطرت كښ دى چه اُوبو ته دانګى۔

۳- يا دا تعليم په طريقه د وحى سره دے، په شان د نورو انبياء عليهم السلام۔

٤- راجح دا ده چه دا تعليم بلا واسطه وو لكه حديث كښ راغلى دى :

(اِنَّهٗ نَبِيٌّ مُكَلَّمٌ) (رواه احمد : ٢١٥٨٦، وصححه الالبانى فى المشكاة]۔

آدم علیہ السلام هغه نبي وو چه الله تعالىٰ ورسره خبرے كړے وے۔

(٣) **فائده** : ١- بيا آيت نه معلوميږي چه انسان ته شرافت حاصل دے په علم سره۔ چه انسان ته ئے ورکړے وی لکه انسانان جهازونه اوګاړی وغيره جوړوی۔

٢- دويم د شرافت وجه ئے دا وه چه دا د الله تعالىٰ په لاس جوړ شويدے او ملائك په كلمه د كن پيدا دی۔ لکه حديث کښې دی چه ملائکو اُووئيل : اے الله ! مونږ له جنت راكړه او دے انسانانو له خو دے دنيا ورکړے ده، نو الله تعالىٰ اُوفرمايل :

[لَا أَجْعَلُ مَنْ خَلَقْتُهٗ بِيَدَيَّ كَمَنْ قُلْتُ لَهٗ كُنْ فَكَانَ]

(ابن عساكر، البيهقى مسند الشاميين) وَالْحَدِيْثُ صَحِيْحٌ وَرُوِيَ بِاَلْفَاظٍ مُتَقَارِبَةٍ وَاِسْنَادُهٗ صَالِحٌ - روضة المحدثين (٧١/١٠) و كتاب النقض على المريسى للدارمى) العلو (٦٦/١)

(زهٔ هغه مخلوق چه ما په خپل لاس پيدا كړيدے نهٔ ګرځوم په شان د هغه چا چه په كلمه د كن مے پيدا كړيدے)

(٤) فائده : آدم علیہ السلام د الله تعالىٰ نبي مُكلم دے، لکه حدیث کښې راغلی دی، الله تعالىٰ ورسره خبرے كړيدی۔ (احمد، طيالسى، بيهقى) ځكه دلته ئے ورته تعليم هم وركړيدے۔

آدم : ځوك وائى : عجمى عبرانى لفظ دے۔ او اَدَمَة په عبرانئ ژبه كښې خاورے ته وائى (قاسمىؒ) او پدے لفظ كښې عبرانى د عربئ سره موافق شويده۔ ١- نو په عربى كښې دا ماخوذ دے د (اَدَمَة الارض وَاَدِيْمُهَا) نه (مخ د زمكے ته وئيلے شى) او آدم علیہ السلام هم د مخ د زمكے يعنى د خاورے نه پيدا وو۔ ٢- يا ماخوذ دے د اُدْمَةٌ نه غنم رنګ والى ته وائى۔ او د آدم علیہ السلام بدن هم غنم رنګے وو۔ ٣- بعض وائى : اِئْتَدَمَ په معنىٰ د موافقت دے نو د اَلْاِلْفُ وَالْمُوَافَقَة معنىٰ ئے ده۔ يعنى يو ځائے كيدل او موافق كيدل۔

فائده : قرآن كريم كښې د اُووه ويشت (٢٧) انبياء عليهم السلام نومونه ذكر دی او پنځه انبياؤ په كښې دوه دوه نومونه دی لكه (احمد، محمد)، ذو النون او يونس، يعقوب او اسرائيل۔ الياس او ذو الكفل عليهم السلام۔

(ذكره البيهقى عن الخليل بن احمد) (البحر المحيط ٢١٩/١)

د كومو انبياؤ تذكره چه الله تعالىٰ قرآن كريم كښې كړيده نو دا افضل دی، ځكه چه دوی باندے عجيب حالات راغلی دی۔ او د كومو تذكره چه نده شوے نو د هغوی هم

ډير لوئى شان دے ليکن ددے انبياؤ عليهم السلام نه به خکته وى۔
اَلْاَسْمَآءَ : پدے کښې يو څو اقوال دى چه دا د څه شى نومونه وو ؟ :
(۱) بعض وائى : ددے نه مراد د الله تعالىٰ نومونه دى۔ ليکن دا راجح نۀ ده ځکه چه ملائکو ته هم د الله تعالىٰ نومونه ياد دى، په هغے باندے ذکر کوى۔
(۲)– دويم : (اَسْمَاءَ الْمَلَائِكَة) (ربيع بن انس)
د ملائکو نومونه ئے وراخودل)۔ ليکن دے باندے دليل نشته۔
(۳) بعض وائى : (اَسْمَاءَ ذُرِّيَّتِهٖ) د اولاد آدم نومونه ئے وراُوخودل۔ او دا قول بعضو راجح کړيدے، وجه دا ده چه ملائکو په انسانانو باندے يو قسم اعتراض کړے وو نو الله تعالىٰ په اولاد آدم کښې ورته د انبياء او صالحينو نومونه اُوخودل۔ (تدبر القرآن)
(٤) [اَسْمَاءَ الْاَشْيَاءِ كُلِّهَا عُلْوِيَّةً اَوْ سَفْلِيَّةً جَوْهَرِيَّةً اَوْ عَرَضِيَّةً]
(د ټولو څيزونو نومونه چه عالَم علوى وى او که سفلى وى، جواهرات وى او که اعراض) ځکه يو خو دے څيزونو ته حاجت وو، دويم : په انسان کښې داسے فطرت دے چه ددے بعض څيزونو لائق به وى او ملائك به په هغے خبر نۀ وى۔ او په حديث د شفاعة کښې په بخارى کښې داسے راغلى دى : (وَعَلَّمَكَ اَسْمَآءَ كُلِّ شَيْءٍ) (تاته ئے د ټولو څيزونو د نومونو خودنه کړے ده) رقم (٤٤٧٦)
بل په (الاسماء) کښې فائده دا ده چه پدے پيژندلو سره روزمره زندگى تيريږى مثلًا که د جبل (غر) نوم نۀ وے نو انسان به بل څنګه پوهه کولے۔ د لاس نه به ئے نيولے چه راځه يو شے درته ښايم او غر ته به ئے بوتللے نو څومره تکليف به وے وَهَلُمَّ جَرًّا۔ دارنګه آسمان، زمکه درياب، اُوبه وغيره واخله۔
كُلَّهَا : دلته کل عرفى ده لکه د بلقيس په باره کښې راغلى دى : (وَاُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ) هر شے ورکړے شوے وو۔ حال دا چه هغے ته ډير څيزونه نۀ وو رکړے شوى، بلکه سريتوب، د سليمان عليه السلام بادشاهئ وغيره۔ نو دلته د ټولو څيزونو نه مقصد دا دے چه کوم کارونه د ضرورت وو لکه ژبه ئے ور زدۀ کړه، (عربى يا سريانى) او دارنګه د څيزونو فائدے ئے وراُوخودلے چه دا اُوبۀ دى، دے ته (ماء) وائى او ددے دا فائده ده، دا خوراك دے دا ئے فائده ده، دا ښځه ده، دا ئے فائده ده، دا سمسئ، دا کاسه، دا پياله ده۔
عبد الله بن عباس ﷺ فرمائى : [حَتّٰى الْقَصْعَةَ وَالْقُصَيْعَةَ) تردے چه د کاسے او د سمسئ

علم ئے هم ورته اُوخودلو۔ او نومونه ئے ورته زده کړل۔ ځکه چه انسان مخکښ ددے سره اَموختـه نـهٔ دے، دنيا کښ نوے ژوند دے۔ او كل استغراقى نهٔ ده مراد، چه د هرے ذرے علم ورکړى ځکه چه بيا ئے د الله تعالىٰ سره علم برابرېږى۔

الاسماء: ددے نه مراد مُسَمَّيَات دى۔ يعنى هغه څيزونه چه هغوى له نوم كيخودے شى۔ دليل پرے روستو عرضهم ضمير دے ځکه که نفس نومونه مراد وے نو بيا به ئے عرضها وئيلى وے۔ او په ضمير د عرضهم کښ غلبه ورکول دى هغه څيزونو له چه عقل پکښ وى په هغه باندے چه عقل پکښ نهٔ وى۔

عَرَضَهُمْ : عرض کښ ضمير الله تعالىٰ ته راجع دے يعنى الله تعالىٰ پيش کړل دا څيزونه په ملائکو۔

فَقَالَ : هركله چه تعليم پوره شو نو اُوس پرے امتحان كوى۔

أَنْبِئُونِى : خبر راكړئ ما ته د نومونو ددے څيزونو سره د فائدو ددے نه۔ دے ته خطاب التعجيز او خطاب الامتحان وائى۔ يعنى اظهار د عجز د ملائکو دے۔ ځکه چه ملائك خو عاجز وو د هغے د بيانولو نه، الله تعالىٰ د هغوى په فطرت کښ دا څيزونه نهٔ وو اچولى ځکه چه د هغوى ورته ضرورت نهٔ وو۔ او دا مقصد پکښ نهٔ دے چه الله تعالىٰ د ملائکو نه زده کړه کوى۔ ځکه چه اِنباء په هغه ځائے کښ استعمالېږى چه افاده د متعلم پکښ مقصود نهٔ وى۔ ددے وجه نه ئے (عَلِّمُونِىْ) ئے اُونه وئيلو۔

(**اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ**) صادق کله په مقابله د كاذب کښ استعمالېږى نو دوى دا خبره کړے وه (لَنْ يَّخْلُقَ رَبُّنَا خَلْقًا أَكْرَمَ عَلَيْهِ مِنَّا وَلَا أَعْلَمَ مِنَّا)

(هيچرے به زمونږ رب بل داسے مخلوق پيدا نهٔ کړى چه هغه ورته زمونږ نه عزتمند وى او يا زمونږ نه زيات پوهه وى)

يعنى که پدے خبره کښ تاسو رشتينى يئ نو خبر راكړئ نو ستاسو دا خبره صحيح نهٔ ده بلكه تاسو نه اكرم او اعلم مخلوق ما پيدا کړيدے۔

۲- ابوحيانؒ وائى : صادق په معنى د مُصِيْب سره دے يعنى که چرته تاسو رسيدونكے يئ حق ته په دے خبره کښ او په خطاء نه يئ۔ نو زئ خبر راكړئ۔ خو معلومېږى چه تاسو حق ته نهٔ ئے رسيدلى۔ او دا د الله تعالىٰ عادت دے چه څوك په ظاهر کښ لوئى خبرے كوى نو الله تعالىٰ پرے امتحان راولى۔

دلته مشهور **سوال** دے چه ملائك ولے ددے څیزونو په بیانولو قادر نشو او جواب نه عاجز شو او هغوی ته ولے ددے تعلیم ورنکړے شو؟۔

جواب دا دے چه الله رب العزت انسان په داسے شکل او په داسے فطرت پیدا کړو چه هغه دا څیزونه یادولے شو او ملائکو له ئے داسے فطرت ورکړے وو چه دا ئے نشو یادولے ځکه چه د هغوی دے څیزونو ته ضرورت نۀ وو۔ هغوی د ښځو په فائده یا د خوراك او د اُوبو په فائده نۀ پو هیږی چه دا څنګه شے دے او څنګه سکلے کیږی او چه مِعدے ته لاړ شی نو څه چل کیږی۔ ددے علم الله تعالیٰ هغوی له فطرةً نۀ دے ورکړے۔نو هر کله چه الله تعالیٰ انسان له دا کمال ورکړو او تاسو له ئے دا کمال نۀ دے درکړے نو معلومه شوه چه د الله تعالیٰ د آدم علیه السلام په پیدا کولو کښ حکمة وو۔ دویم دا چه د دنیا د نظام چلولو دپاره د علم اهمیت او فضیلت ئے ورته اُوخودلو۔

او پدے کښے د امتحان اهمیت هم معلوم شو۔

بیا دا سوال نۀ کیږی چه د ملائکو په فطرت کښ به ئے هم دا استعداد اچولے وے؟۔

وجه دا ده (وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ) (القصص :٦٨)

(ستا رب څه چه غواړی پیدا کوی او هغۀ لره اختیار دے)

الله تعالیٰ دا دوه قسمه مخلوق پیدا کول غوختل، ملائکو له ئے جدا فطرت او طبیعت ورکړو او انسان له ئے جدا ورکړو نو هیڅ اعتراض نشته او پدے کښ د الله تعالیٰ حکمتونه دی۔ او د هغه حکمتونو نه انسانان پوره طریقے سره نۀ شی خبریدلے۔ ځکه ددے سوال بیا دا مطلب جوړیږی چه فرشتے، ولے د انسانانو په شان اُونۀ ګرځولے شوے۔

فائده : ددے نه دا فائده حاصله شوه چه حاکم له ضروری دی چه د خپل رعیت د خلقو د مزاج، طبیعتونو او د هغوی د خواصو او آثارو نه پوره طور سره واقف وی ورنه د انصاف حکمرانی پرے نشی کولے، ځکه که څوك لوږه تنده نۀ پیژنی او دا قسم فیصله ورته مخے ته راشی نو هغه به دا فیصله څنګه اُوکړے شی ؟۔

شیخ سعدیؒ فرمائی : یو بادشاه ته په سیلاب سره د پنبی د تباه کیدو فریاد چا اُوکړو نو هغه ورته اُووئیل چه وریٔ دِے ولے نۀ کړله۔

قَالُوْا سُبْحٰنَكَ لَاعِلْمَ لَنَآ اِلَّا

اُووئيل ملائكو : پاكي ده تا لره (د شريك نه په علم كښې)، مونږ له هيڅ علم نشته مګر

مَا عَلَّمْتَنَآ ؕ اِنَّكَ أَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ﴿٣٢﴾

هغه چه تا مونږ ته پوهه راكړيده. يقيناً ته پوهه (ئے په هرڅه) او حكمتونو والائے.

تفسير :

هركله چه دا حكمة او د علم اهميت ملائكو ته واضح شو نو هغوى د خپل علم او پوهے په قصور باندے اعتراف او اِقرار اُوكړو چه واقعي انسان كښې ډير كمال دے او خپل نقصان ورته ښكاره شو نو د الله تعالىٰ پاكي ئے اُووئيله، او هغهٔ ته په توبه شو.

سبحانك : دا كلمه په ابتداء د كلام كښې د خپل قصور د اعتراف دپاره ذكر كيږي، لكه موسى عليه السلام په سورة الاعراف (١٤٣) (سُبْحَانَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ) او يونس عليه السلام په سورة الانبياء (٨٧) كښې (لَا اِلٰـهَ اِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ) د توبے په افتتاح كښې وئيلے ده. او دلته مقصد دا دے چه مونږ په تا اعتراض نهٔ كوو او تكبر او د بنى آدمو سپكوالے زمونږ مقصد نهٔ دے.

(٢) دارنګه دا كلمه كله د تعجب دپاره وى لكه (سُبْحَانَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ) (النور : ١٦)

(٣) او كله د نا مناسب خبرے نه د الله تعالىٰ د پاكي بيانول مقصد وى لكه (سُبْحَانَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ) (الحشر:٢٣).

(٤) كله د دعاء په موقعه كښې وى لكه (دَعْوَاهُمْ فِيْهَا سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ) (يونس : ١٠)

(٥) كله د امر په موقعه كښې وى لكه (فَسُبْحَانَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ الخ) (الروم:١٧)

دلته د حكمة دپاره استعمال ده يعنى ته پاك ئے تا باندے اعتراض نهٔ كيږي.

(لَا عِلْمَ لَنَا) هركله چه ملائك په غيبو نهٔ پوهيږي نو هيڅا دپاره علم د غيبو نهٔ شته لكه دلته قرطبىؒ او ابن جريرؒ ددے معنىٰ داسے ذكر كوى : (تَنْزِيْهًا لِلّٰهِ مِنْ أَنْ يَّكُوْنَ أَحَدٌ يَعْلَمُ الْغَيْبَ) (الله تعالىٰ دپاره پاكي ده ددے نه چه يو تن دِے په غيبو پوهه شي) نو د الله تعالىٰ سره شريك فى العلم هيڅوك نشته.

امام قرطبیؒ لیکی : دے نه معلومه شوه چه ادب د ملائکو، انبیاء علیهم السلام او فضلاؤ دا دے چه په کومه مسئله نهٔ پوهیږی نو (لَا اَعْلَمُ او لَا اَدْرِیْ) (زهٔ نهٔ پوهیږم) به وائی، او څوك چه دا کلمه استعمالول بد ګنړی نو هغه بے انصافه دے او ریاست او مشری غواړی۔

عَلَّمْتَنَا نه معلومه شوه چه الله تعالیٰ ورته تعلیم ورکړے دے۔ دا خبره غلطه ده چه ابلیس د دوی استاذ وو، بلکه د احادیثو او قرآن نه دا خبره ښکاره ده چه د ټولو ملائکو استاذ جبرئیل علیه السلام دے چه هغه د الله تعالیٰ نه خبره راوړی او ملائکو ته ئے بیانوی۔ او دا هم معلومه شوه چه ملائکو سره صرف دومره علم دے چه څومره الله تعالیٰ ورکړیدے، نو نیکانو بندګانو او انبیاء علیهم السلام سره هم صرف دومره علم وی چه الله تعالیٰ ورکړے وی، علم غیب کلی سوا د الله تعالیٰ نه هیچا ته نشته۔

اَلْعَلِیْمُ الْحَکِیْم : د دوه نومونو حواله ئے ورکړه ځکه پدے کښ اشاره کوی دے ته چه په تا مونږ اعتراض نهٔ کوو ځکه چه علم او حکمة خو تا سره دی۔ بیا علم، نفس پوهے ته وائی او حکمة اعلیٰ وی۔ د حکمة لفظ تفصیل په دے سورة البقره (۲۶۹) کښ راروان دے ان شاء الله تعالیٰ۔

دلته **حکیم** هغه ذات ته وائی (اَلَّذِیْ لَا اِعْتِرَاضَ عَلَیْهِ) (چه په هغه اعتراض نهٔ کیږی)۔

۲- (اَلَّذِیْ یَعْلَمُ بِدَقَائِقِ الْاُمُوْرِ)۔او هغه ذات چه په دقائقو او باریکاتو پوهیږی۔

(۳) اَلَّذِیْ یُحْکِمُ الْاُمُوْرَ وَیُتْقِنُهَا ۔

(هغه ذات چه مضبوط کارونه کوی، او کوم کار چه کوی نو هغه مُحکم وی)۔

(٤) حکمة کامل علم ته وئیلے شی۔

(٥) (اَلْحِکْمَةُ : اَلْعِلْمُ بِالشَّیْءِ وَاِتْقَانُ عَمَلِهٖ)۔

حکمة: په یو شی باندے پوهیدل او هغه په مضبوطه طریقه سره عملی کول)

(٦) (اَلْحِکْمَةُ ضَبْطُ الْعِلْمِ وَکَمَالُهٗ)۔ (حکمة مضبوط علم او کامل علم ته وئیلے شی)

(۷)- (اَلْحَکِیْمُ : اَلَّذِیْ یَفْعَلُ الْاَفْعَالَ لِغَایَاتٍ حَمِیْدَةٍ وَاَسْرَارٍ عَجِیْبَةٍ)۔

حکیم هغه ذات دے چه هر کار د بهترین مقصدونو او عجیبه حکمتونو او رازونو دپاره کوی) په هر کار کښ ئے حکمتونه وی۔ دلته ئے دریمه او اُوومه معنیٰ واضحه ده۔

فائده : ۱- د اهل السنة والجماعة مذهب دے چه د الله تعالیٰ په هر کار کښ حکمة

وی او دا حکمة ئے په شرع کښې هم شته لکه مونځ، اودس، روژه وغیره کښې هم بے شماره حکمتونه دی۔ په تقدیر کښې ئے حکمتونه دی، د کائناتو په پیدا کولو کښې، زمونږ په دے بدن کښې څو مره رازونه دی۔

دارنګه علماؤ لیکلی دی چه په دے ګناهونو کښې چه د بنده نه کیږی هم د الله تعالیٰ ډیر حکمتونه دی، د الله تعالیٰ نیك بنده دے، ګناه تربے کیږی او غفلت تربے کیږی دا ولے دے کښې هم د الله تعالیٰ ډیر رازونه وی۔

٢- اشاعره او ماتریدیه وائی چه د الله تعالیٰ حکمة نشته ځکه که د الله تعالیٰ حکمة اُومنلے شی نو استکمال بالغیر به راشی۔ ځکه چه (اَلَّذِیْ یَفْعَلُ الْفِعْلَ لِغَرَضٍ یَسْتَکْمِلُ بِذٰلِكَ الْغَرَضِ) (څوك چه یو کار د یو غرض دپاره کوی نو هغه په دغه غرض ځان کامل کوی) د دے جواب دا دے چه الله تعالیٰ یو کار د حکمة دپاره کوی د وجه د کمال د هغه نه۔ او مخلوق (فَعَلَ فَکَمُلَ) یو کار اُوکړی نو کمال ته اُورسی او الله تعالیٰ (کَمُلَ فَفَعَلَ) (الله تعالیٰ کامل وی نو ځکه کار کوی)۔

فائده : د الله تعالیٰ حکمتونه ډیر قسمه دی (١) حِکْمَتُهٗ فِیْ خَلْقِ الْکَائِنَاتِ) (د الله تعالیٰ حکمتونه په پیدائش د کائناتو د عالَم کښې) چه آسمانونه، زمکے، بوټی، اندامونه د انسان وغیره۔

(٢) حَکِیْمٌ فِی الشَّرْعِ) (د الله تعالیٰ په احکامو کښې مختلف حکمتونه وی، لکه اَودس، روژه، زکوة، حج وغیره۔

(٣) (حِکْمَتُهٗ فِیْ صُدُوْرِ الذُّنُوْبِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ)

(کله بنده نه ګناه صادریږی نو دے کښې کله حکمة دا وی چه بنده الله تعالیٰ ته عاجزی اُوکړی او الله تعالیٰ ته نورهم نزدے شی۔ او هغه ته توبه او استغفار اُوکړی۔ او الله تعالیٰ ته تائبین بندګان ډیر خوښ وی۔

او د دے حکمتونو تفاصیل د حافظ ابن القیمؒ په کتاب مفتاح دار السعادة ص (٣٥٨) کښې او پنځه حکمتونه په الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح (١/٣٠٣) کښې او څه یو څو صفحے روستو په مسئله د عصمة الانبیاء کښې اُوګورئ۔

قَالَ يٰٓاٰدَمُ اَنۢبِئۡهُمۡ بِأَسۡمَآءِ هِمۡ ۚ فَلَمَّا
الله اُوفرمایل : اے آدم! خبر ورکړه دے ملائکو ته په نومونو ددے څیزونو، هر کله
اَنۢبَأَهُمۡ بِأَسۡمَائِهِمۡ ۙ قَالَ اَلَمۡ اَقُلۡ
چه خبر ورکړو آدم هغوی ته په نومونو د څیزونو الله اُوفرمایل : آیا نۀ وو وئیلی ما
لَّكُمۡ إِنِّیٓ أَعۡلَمُ غَيۡبَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ۙ وَأَعۡلَمُ
تاسو ته چه زۀ پو هیږم په غیب (پټو څیزونو) د آسمانونو او د زمکے او زۀ پو هیږم
مَا تُبۡدُوۡنَ وَمَا كُنۡتُمۡ تَكۡتُمُوۡنَ ﴿۳۳﴾
په هغه څه چه تاسو ئے ښکاره کوئ او په هغه څه چه تاسو ئے پټوئ۔

تفسیر:

اُوس ورته الله تعالیٰ د آدم علیه السلام د مرتبے او شرافت اظهار کوی چه ته خبر ورکړه چه ستا مرتبه خو معلومه شی۔ ولے که آدم علیه السلام خبر ورنکړی نو د ملائکو په ذهن کښې به راشی چه دے هم عاجز او مونږ هم عاجز یو نو ددۀ فضیلت به ښکاره نۀ شی۔ نو آدم (علیه السلام) د بیل بیل شی نوم او فائده ذکر کړه۔ نو الله تعالیٰ ملائکو ته خپل علم بیانوی چه زۀ په هر هغه څه پو هیږم چه ستاسو د سترګو نه غائب دی، که په آسمان کښې وی، او که په زمکه کښې، دا ټول ما ته معلوم دی۔

او دے کښې اشاره وه چه د آدم علیه السلام اولاد به په زمکه کښې خلیفه ګان وی او په هغوی کښې به هم د علم صلاحیت پروت وی۔

أَنۢبِئۡهُمۡ : دلته ئے داسے اُونۀ فرمایل : چه انبئونی ځکه چه آدم علیه السلام له خو ددے علم ورتلو نو که الله تعالیٰ لره خبر ورکړی نو پدے کښې وَهم د تعلیم الله تعالیٰ ته راتلو نو ځکه ئے داسے اُوفرمایل چه ملائکو ته خبر ورکړه۔

بله دا چه دلته د هغه د مرتبے اظهار دے ملائکو ته، نۀ ځان ته۔

خارجی فائده:

(يَا آدَمُ) دا آواز د نورو پیغمبرانو په شان قرآن کریم کښې الله تعالیٰ کړیدے۔ او زمونږ رسول الله ﷺ ته ئے په خپل نوم آواز نهٔ دے کړے۔ ډیر ادب ئے د محمد رسول الله ﷺ کړیدے۔

أَعْلَمُ: دا یا صیغه د اسم تفضیل ده یا واحد متکلم ده۔

غَيْبَ السَّمٰوٰتِ: دا بیان او تفصیل دے د مخکښې (مَا لَا تَعْلَمُوْنَ)۔ او دا صریح دے په نفی د علم الغیب کښې لکه چه قرطبیؒ تفصیل سره لیکلی دی۔ نو نجومیان او کاهنان د علم غیب په دعویٰ کښې بالکل دروغجن دی۔ دارنګه نور هغه کسان چه د غیب علم د ځان له یا بل دپاره ثابتوی په غیر د الله تعالیٰ نه۔

مَا تُبْدُوْنَ : ابن مسعودؓ فرمائی : مَا تُبْدُوْنَ نه مراد هغه خبره د ملائکو وه چه (أَتَجْعَلُ فِيْهَا مَنْ يُّفْسِدُ فِيْهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ) او ما تکتمون نه مراد هغه تکبر وو چه ابلیس په زړه کښې پټ ساتلے وو۔ (زبدة التفسير)

نو ابن عطیۃؒ وئیلی دی چه دا جمع په معنیٰ د مفرد ده او مراد ترے ابلیس دے۔ چه دا هم په ملائکو کښې اُوسیدو، هغه په زړه کښې تکبر او حسداو معصیت پټ ساتلو۔

یا ددے نه مراد هغه خبره وه چه دوی وئیلے وه (لَنْ يَّخْلُقَ خَلْقًا أَكْرَمَ عَلَيْهِ مِنَّا) (زمونږ نه به عزتمند خوك پیدا نهٔ کړی)

○ بعض خلق وائی : ملائکو په زړه کښې حسد پټ کړے وو۔ دا غلطه خبره ده۔ ملائك پاك مخلوق دے، حسدونه چا سره نهٔ کوی، هغوی د انسانانو ډیر سخت خیر خواه دی، بلکه دلته مقصود شمول او عموم د علم د الله تعالیٰ دے چه که څوك هره خبره ښکاره کوی او که په ذهن کښې ئے تیروی، دے دواړو ته د الله تعالیٰ علم شامل دے او په دواړو حالتونو کښې الله تعالیٰ پو هیږی، د هغه د علم نه هیڅ شے بهر نشته، عجیب قدرت او علم د الله تعالیٰ دے۔ یو وخت کښې ټول څیزونه د هغه په علم کښې حاضر دی۔

او بیا پدے تعلیم د نومونو کښې ډیر فوائد دی چه هغه الله تعالیٰ ته معلوم وو چه بیا ئے عام انسانانو ته هم هغه ورکړیدی لکه مثلاً غر به نوم سره پیژندلے شی که ددے دپاره نوم نهٔ وے کیخودلے شوے نو بیا به د خلقو د پوهه کولو دپاره هغه د لاس نه نیولے شو او غر ته به بوتلے شو چه دا غر دے۔ نو څومره مشکلات به وو دغه شان نور څیزونه

واخله۔

فائده : واقعه د آدم ﷵ په قرآن کریم کښې اُووه کرته راغلے ده، دلته د امتنان دپاره ذکر ده چه الله تعالیٰ تاسو سره څومره احسان کړیدے اے بندګانو ! چه ستاسو پلار ته ئے علم زده کړو۔ او په نورو ځایونو کښې ئے نورے فائدے دی چه خپل ځائے کښې به راشي ان شاء الله تعالیٰ۔

فائده : خطیب شربینیؒ وئیلی دی چه ددے واقعے نه معلومه شوه چه انبیاء علیهم السلام افضل دی د ملائکو نه ځکه چه علم افضل دے د عبادت نه او مُعلم غوره وی د متعلم نه او دا مسلك د اهل السنة والجماعة دے، دارنګه معلومه شوه چه په علم د ملائکو کښې هم زیاتے راتلے شي خلاف ثابت دے فلسفیانو لره چه هغوی دوی ته عقول وائي او وائي چه د دوی په علم کښې زیاتے نۀ راځي۔

نو هر کله چه آدم ﷵ عالم شو، او الله تعالیٰ ورله علم ورکړو او عزت په علم باندے راځي لکه دے نه دا معلومه شوه نو اُوس ملائك ددۀ په خدمت کښې لګیا کوی۔

امام ابن القیم رحمه الله فرمائي : دا قصه دلالت کوی په شرافت د علم باندے د ډیرو وجوهو نه بیا ئے هغه ذکر کړیدی۔ (مفتاح دار السعادة)

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ
او کله چه اُووئیل مونږ ملائکو ته سجده اُوکړئ آدم ته نو سجد اُوکړه ټولو مګر
اِبْلِيْسَ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۳٤﴾
ابلیس (اُونکړه)، انکار ئے اُوکړو، او ځان ئے لوی اُوګنړلو، او وو دے د کافرانو نه۔

تفسیر :

هر کله چه آدم ﷵ د ټولو څیزونو نومونه بیان کړل او د هغۀ فضیلت په ملائکو ثابت شو نو الله تعالیٰ ملائکو ته حکم اُوکړو چه هغوی آدم (ﷵ) ته سجده اُوکړی، او پدے سجدے سره مقصود د آدم ﷵ تعظیم او د ملائکو د طرف نه یو قسم اعتذار (عذر) وو د هغه خبرے، کومه چه هغوی د آدم ﷵ په باره کښې وئیلے وه۔

مناسبة : (۱) مخکښې دریم انعام اُوس څلورم انعام ذکر کوی په بنی آدمو چه د هغوی د پلار اکرام ئے کړیدے په سجده د ملائکو او په جنت کښې داخلول وغیره سره۔
(۲) دویم پدے کښې تَعۡظِیۡمُ الۡمُعَلِّمِ وَالۡعَالِمِ دے پس د بیان د شرافت او علم د هغه نه او د هغه خدمت دے۔

فائدة مهمة : پدے کښې اختلاف دے چه دا سجده آدم علیه السلام ته د هغه د استخلاف او د نومونو د تعلیم نه مخکښې وه او که روستو ؟
(۱) نو حافظ ابن کثیرؒ وغیره دا غوره کړیده چه واقعه د سجدے مخکښې وه پس د پیدائش د آدم علیه السلام نه وه او روستو بیا د هغه استخلاف او تعلیم الاسماء اُوشو۔ دلیل دا ذکر کوی چه په سورة الحجر (۲۹) کښې راغلی دی : (اِنِّیۡ خَالِقٌۢ بَشَرًا مِّنۡ صَلۡصَالٍ مِّنۡ حَمَاٍ مَّسۡنُوۡنٍ، فَاِذَا سَوَّیۡتُهٗ وَنَفَخۡتُ فِیۡهِ مِنۡ رُّوۡحِیۡ فَقَعُوۡا لَهٗ سٰجِدِیۡنَ)
نو دلته ئے د پیدائش پسے سجده ذکر کړیده او بیا دنیا ته راغلے دے۔ او خلیفه جوړ شویدے۔ او وائی چه دلته (وَاِذۡ قُلۡنَا) کښې واو د ترتیب دپاره نهٔ دے۔
(۲) دویم قول دا دے چه واقعه د استخلاف او د تعلیم الاسماء مخکښې شویده او چه کله د آدم علیه السلام فضیلت ښکاره شو نو اُوس د هغه اکرام کوی په سجده کولو د ملائکو سره لکه دا د ترتیب قرآنی موافق قول دے۔ او سورة الحجر کښې چه کومه خبره راغلے ده نو هغه تعلیقی ده یعنی الله تعالیٰ د آدم علیه السلام د پیدائش نه مخکښې فرمایلی وو چه زه به یو بشر پیدا کوم او تاسو به ورته سجده کوئ او پس د پیدائش نه سمدست سجده نهٔ ده شوے بلکه هغه دنیا ته راکوز شویدے او بیا هغه ته تعلیم الاسماء شویدے او بیا ئے ملائکو ته د سجدے کولو حکم کړیدے۔ لهٰذا همدا قول راجح ښکاره کیږی۔

قلنا : صیغه د جمع ئے راوړه دپاره د تعظیم ځکه دلته سجده آدم علیه السلام ته شویده او دا ظاهر کښې تعظیم د غیر الله دے نو الله تعالیٰ صیغه د تعظیم راوړه چه ګوره ستا د زړهٔ نه چرته د الله تعالیٰ عظمت اُونهٔ وځی، هغه دا حکم کړیدے۔
شیخ الاسلام فرمایلی دی چه (قُلۡنَا) د الله تعالیٰ په باره کښې د متشابهاتو نه دے۔ لیکن زما په نیز تعظیم ډیر راجح دے ځکه چه قرآن کریم د عربو په عرف نازل شویدے او په عرف د عربو کښې صیغه د جمع د تعظیم دپاره هم استعمالیږی۔

لِلۡمَلٰٓئِکَةِ : ددے نه ټول ملائک مراد دی، د زمکے وی او که د آسمان لکه بل آیت دے

(فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ) (ص:۷۳)

د سجدے معنیٰ ده تذلل او خضوع (عاجزی)، او ددے انتهاء دا ده چه تندے په زمکه کیدی (قرطبیؒ). **سوال** : مخلوق ته څنګه سجده کیږی ؟ ددے مفسرینو څو جوابونه کړیدی لیکن راجح جواب آخر کښې راځی. **جواب** ۱: دا سجده الله تعالیٰ ته وه لیکن په طرف د آدم ؑ وه لکه زمونږ سجدے الله تعالیٰ ته دی لیکن په طرف د قبلے دی، نو آدم ؑ صرف قبله جوړه شوے وه. ۲- **جواب**: (اُسْجُدُوْا شُكْرًا لِاَجْلِ خَلْقِ آدَمَ)

(یعنی سجده د شکر اُوکړئ ځکه چه الله تعالیٰ آدم (ؑ) پیدا کړو) او دده په وجه به شکر ځکه کوئ چه دده په وجه به عالَم آباد وی او د الله تعالیٰ طاعتونه به کیږی او قیامت به څه وخت پورے نهٔ راځی. نو د انسانانو د پیدائش په وجه په ملائکو هم رحم دے.

۳- **جواب** : دا معروفه سجده نهٔ وه، صرف انحناء وه، او دا په هغه شریعت کښې جائز وه او زمونږ شریعت ددے نه هم منع فرمائیلے ده. په صحیح حدیث کښې دی :

صحابه کرامو اُوفرمایل : (أَيَنْحَنِيْ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ ؟ قَالَ لَا) [ترمذی : ۲۷۲۸ ابن ماجه: ۳۷۰۲] (آیا مونږ به یو بل ته سر ټیټوو ؟ وے فرمایل : نهٔ)

٤- **راجح جواب** : دا معروفه سجده وه، او سجدة التحیه (د سلام سجده وه) او په طریقه د تعظیم وه او د عبادت سجده نهٔ وه، لیکن دا د الله تعالیٰ په امر باندے شویده. او زمونږ په دین کښې دا هم حرامه ده . معاذ بن جبل ؓ رسول الله ﷺ ته اُوفرمایل : زهٔ حِیره علاقے ته تلے وم هلته مے خلق اُولیدل چه خپلو مشرانو ته ئے سجدے کولے نو ما اُوویٔیل چه رسول الله ﷺ ددے ډیر لائق دے چه مونږ ورته سجده اُوکړو، رسول الله ﷺ اُوفرمایل : (أَرَأَيْتَ لَوْ مَرَرْتَ بِقَبْرِيْ أَكُنْتَ تَسْجُدُ لَهُ ؟ قَالَ : لَا) (که ته زما په قبر تیریږے نو آیا ته به هغه ته سجده کوے، هغه اُوویٔیل : نهٔ) یعنی لکه څنګه چه زما قبر ته سجده کول منع دی نو دغه شان په ژوند کښې ما ته سجده کول منع دی.

بیائے اُوفرمایل :

[قَالَ فَلَا تَفْعَلُوْا، لَوْ كُنْتُ آمِرًا اَحَدًا أَنْ يَّسْجُدَ لِأَحَدٍ لَأَمَرْتُ النِّسَآءَ أَنْ يَّسْجُدْنَ لِأَزْوَاجِهِنَّ لِمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَهُمْ عَلَيْهِنَّ مِنَ الْحَقِّ] [ابوداود : ۲۱٤۲، الترمذی : ۱۱۵۹ بسند صحیح]

(وے فرمایل : ما ته به سجده نهٔ کوئ، او که ما یو تن ته حکم کولے چه بل ته ډیے

سجده اُوکړی نو ما به زنانو ته حکم کړے وے چه خپلو خاوندانو ته سجده اُوکړی ځکه چه الله تعالىٰ په هغوی باندے د سړو ډیر حق مقرر کړیدے)۔

(دا جواب بالکل راجح او غوره دے او نور تقریباً بے ځایه تاویلات دی ځکه پدے سجده باندے د الله تعالىٰ امر وو نو دے کښې هیڅ اشکال نشته، ځکه الله تعالىٰ چه د څه په باره کښې بندګانو ته حکم کوی نو بنده له د امر اتباع پکار ده۔ لکه ددے مثال په حالت د حیض کښې د زنانه مونځ پریخودل، په سفر کښې د مانځه قصر، په جنګ کښې د مشرك پلار په قتلول دی او دا ټول جائز دی۔ ځکه چه الله تعالىٰ پدے کښې اجازت ورکړیدے۔

شیخ الاسلام ابن تیمیۃ فرمائی : ملائکو آدم علیه السلام ته سجده کړے وه او دائے د الله تعالىٰ په حکم سره کړے وه۔ الله تعالىٰ (اُسْجُدُوْا لآدَمَ) اُووئیل (اِلٰی آدَمَ) ئے اُونۀ وئیل او د هر حرف یوه معنىٰ وی یعنی آدم علیه السلام ته د سجدے کولو حکم ئے اُوکړو او دآدم طرف نۀ وو مراد، یعنی دا سجده الله تعالىٰ ته نۀ وه لکه الله تعالىٰ فرمائی :

[لَاتَسْجُدُوْا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ، وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ]

یعنی نمر او سپوږمئ ته سجده مۀ کوئ او صرف الله تعالىٰ ته سجده کوئ) (فصلت ۳۷) (دلته هم نفی د سجدے ده نمر او سپوږمئ ته نۀ طرف د هغوی ته)۔

بیا فرمائی : سجده یو تشریع (حکم شرعی) دے، ددے په باره کښې به د الله تعالىٰ د حکم اتباع کیږی، که الله تعالىٰ مونږ ته حکم اُوکړی چه د هغه کوم مخلوق ته سجده اُوکړو نو مونږ به د هغه د حکم اتباع کوو، او هغه مخلوق ته به سجده کوو...... معلومه شوه چه د ملائکو آدم ته سجده کول د الله تعالىٰ بندګی او اطاعت وو او هغه د آدم علیه السلام تعظیم او تکریم وو۔ او دا تحیه او سلام وو۔ او زمونږ په شریعت کښې د ادب او احترام په طور هم دا قسم سجده حرامه شویده لکه حدیث کښې دی : که سجده د الله تعالىٰ نه سوا بل چا دپاره جائز وے نو ما به ښځے ته حکم کړے وے چه خپل خاوند ته سجده اُوکړی۔

[ابو داود : ۲۱٤۲، الترمذی : ۱۱۵۹ کتاب الرضاع، باب ما جاء فی حق الزوج علی المرأة]

لهذا زمونږ په دین کښې مخلوق ته سجده او سر ټیټول نشته، او پخوانو دینونو کښې وه، بیا منسوخ شوه، د فارس والو طریقه وه چه په وخت د سلام کولو کښې به ئے سر ټیټولو او تندے به ئے په زمکه کیخودلو۔ زمونږ په دین کښې به سجده صرف او صرف

الله تعالىٰ ته وي، ځکه دا اُمت غوره دے چه د دوی عبادت خالص الله تعالىٰ لره وي، مخلوق دپاره نهٔ وي. (ابن كثيرؒ)

نو کومو پیرانو او کومو مشرانو ته چه د سلام په وخت داسے قسم سجده کولے شي یا ورته په خپو پریوځی نو دا سو چه حرامه ده او د کفارو طریقه ده. که ددے سره په زړهٔ کښې تعظیم د غیر الله راغلو نو انسان پرے کافر او مشرك کیږی.

اِبْلِيْسَ : دا په قرآن کریم کښې (١١) کرته ذکر دے، بعض وائی : عجمی لفظ دے یا عربی دے د ابلاس نه ماخوذ دے، نا اُمیدئ ته وئیلے شي. (یعنی نا امیده د الله تعالىٰ د رحمت او د هر خیر نه) دا د شیطانانو او پیریانو پلار دے (جَان) هم ورته وائی. او په سریانئ ژبه کښې ئے نوم عزازیل وو او په عبرانئ کښې حارث وو، (قرطبی عن ابن عباس)

لیکن کله ئے چه نافرمانی اُوکړه نو نوم او صورت ئے بدل شو. او ابلیس نوم ورته ورکړے شو. (بغوی) نو دا ئے صفتی نوم او لقب دے.

مسئله آیا ابلیس د ملائکو نه دے او که نهٔ ؟

او دا د ملائکو نه نهٔ وو، بلکه ددهٔ جنس جدا دے، او همدا راجح قول دے. او دا قول د ابن مسعود ﷺ او حسن بصریؒ او ابن زیدؒ او شهر بن حوشبؒ وغیره دے. (ابن جریر، قرطبی)

دلیل : ١- ابلیس نسل او اولاد لری او ملائکو کښې توالد او تناسل نشته. لکه سورة الاعراف (٢٧) کښې دی ﴿وَقَبِيلُهُ﴾ او کهف (٥٠) کښې دی ﴿كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِ أَفَتَتَّخِذُونَهُ وَذُرِّيَّتَهُ أَوْلِيَاءَ﴾.

٢- دارنګه دا د اُور نه پیدا دے او ملائك د نور نه. (كما فى حديث مسلم برواية عائشة)

٣- دارنګه ملائك د الله تعالىٰ هیڅ قسم خلاف نهٔ کوی او دهٔ خو مخالفت کړیدے. او کوم علماء چه دا د ملائکو د جنس نه شماری نو هغوی استثناء ته کتلی دی چه دلته استثناء د ابلیس شویده د ملائکو د جماعت نه. معلومیږی چه دا د هغوی د جنس نه دے. ددے جواب دا دے چه جنس ئے جدا دے لیکن په نفس جماعت د ملائکو کښې شریك وو او د نفس جماعت کښې د شریك کیدو نه جنس کښې اتفاق ضروری نهٔ دے. او امتحاناً الله تعالىٰ د ملائکو سره یو ځائے کړے وو. نو استثناء د نفس اشتراك د وجه نه شویده. او بله دا چه دا استثناء منقطع ده په معنیٰ د لیکن ده او په استثناء منقطع کښې

مستثنیٰ د جنس د مستثنیٰ منه نه نهٔ وی۔ او د انقطاع دپاره دلیل دا مخکښ آیتونه او احادیث دی (كَانَ مِنَ الْجِنِّ) صریح دے۔

بعض خلقو وئیلی دی چه دا د جناتو نه دے، او بعض ملائك په شكل د جناتو دی نو ځکه ابلیس د هغوی سره اُوسیدو۔ مقصد ئے دا دے چه جنات یوه نوعه او قبیله د ملائکو ده۔ لیکن دا مصادره علی المطلوب ده، اوبے دلیله خبره ده۔ لهذا جنات نوعه د ملائکو نه هم نهٔ ده، بلکه جدا جنس دے۔ او ماده د خلقت د دواړو جدا جدا ده۔

ابلیس ته هم دا حکم شوے وو چه سجده اُوکړه ځکه هغه هم د ملائکو سره اُوسیدو۔ د هغوی په شان عبادت به ئے کولو نو په اصل خلقت کښ د ملائکو نه جدا دے لیکن په صورت او شکل کښ د ملائکو په شان وو نو ملائکو ته حکم دا دهٔ ته هم حکم وو۔ (ابن القیم) او سورهٔ اعراف (۱۲) کښ دی : چه ابلیس ته ئے اُووئیل : (مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ) (ته څه منع کړے د سجدے کولو نه آدم ته کله چه ما تا ته حکم اُوکړو)

لهذا هغه ته هم مستقل حکم شوے وو نو دا سوال نهٔ پیدا کیږی چه هغه ته به امر نهٔ وی شوے ځکه به ئے سجده نهٔ وی کړی۔

نو ولے ئے سجده اُونکړه ؟ وجه دا ده (أَبیٰ) : انکار ئے اُوکړو او دا اِنکارے ئے د توحید د وجه نه نهٔ وو، چه زهٔ غیر الله ته سجده نهٔ کوم بلکه ځان ئے لوئی گنړلو، د الله حکم ته ئے غاړه نهٔ کیخودله۔

وَاسْتَكْبَرَ : کله کله داسے وی چه امر انسان اُو نهٔ منی، د ادب رعایت کوی، ځکه کله (اَلْاَدَبُ فَوْقَ الْاَمْر) وی او کله (اَلْأَمْرُ فَوْقَ الْأَدَب) وی۔ یعنی دا خبره نهٔ منم ځکه دے کښ بے ادبی ده، او بے ادبی نَشم کولے، نو کیدے شی چه دهٔ به بے ادبی نهٔ کول مقصد وو، نو (واستکبر) ئے وریسے ذکر کړو چه ځان ئے لوئی گنړلو، بے ادبه هم وو۔ او د هغه استکبار ئے نورو ځایونو کښ ذکر کړیدے چه دهٔ اُووئیل : دا د خاورے نه پیدا دے او زه د اُور نه پیدا یم، او اُور غوره دے د خاورے نه۔ نو خپل عقل ئے د الله تعالیٰ د امر په خلاف استعمال کړو۔

فائده : محمد بن سیرین رحمه الله فرمائی : [اَوَّلُ مَنْ قَاسَ فِیْ مُقَابَلَةِ النَّصِّ اِبْلِیْسُ، فَمَنْ قَاسَ الدِّیْنَ بِرَأْیِهٖ قَرَنَهُ اللّٰهُ بِاِبْلِیْسَ] (اول هغه خوك چه د نص په مقابله کښ ئے قیاس کړیدے هغه ابلیس دے، نو څوك چه دین په خپله رأیه قیاس کوی نو الله تعالیٰ به ئے د

ابلیس سره یو ځائے کړی) او سورة الاعراف کښ به راشی ان شاء الله تعالیٰ چه علماء کرامو ابلیس ته جواب ورکړیدے چه ستا قیاس د دیارلس وجو هو نه فاسد دے۔

(کَانَ) لفظ ئے راوړو ځکه چه ددۀ به د پخوا نه زړه کښ تیریدل چه که زۀ په دے آدم مسلط شم نو دا به زۀ بنه گمراه کړم، حدیث کښ راځی چه کله آدم علیه السلام په جنت کښ پروت وو، لاروح پکښ نۀ وو اچولے شوے، نو دا ترے گیر چاپیره اُوگرځیدو او کتل ئے چه دا څه شے دے کله ئے چه اُولیدل چه دا خو ډډ (سورے سورے) دے نو پو هه شو چه : (خُلِقَ خَلْقًا لَا يَتَمَالَكُ) : (دا یو داسے مخلوق دے چه د خپل ځان اختیار ئے نشته) او بعض آثارو کښ ورسره دا هم راغلی دی چه دۀ اُووئیل :

[لَئِنْ سُلِّطْتُ عَلَيْهِ لَأُهْلِكَنَّهُ وَلَئِنْ سُلِّطَ عَلَيَّ لَأَعْصِيَنَّهُ]

(که زۀ په دۀ مسلط شوم نو گمراه به ئے کړم او که په ما باندے مسلط شی نو زۀ به ئے مخالفت کوم)

[التفسیر القیم لابن القیم ۱/۲۳۸) والبغوی، واللباب والبحر]

نو د مخکښے نه ئے د کفر ارادے وے۔

(۲) دویمه معنی : (صَارَ) یعنی اُوس اُوگرځیدو د کافرانو نه یعنی خاتمه ئے خرابه شوه۔ او ددے خبرے نه ډیره یره پکار ده چه انسان به ډیر جهادونه کړی وی خو آخر کښے به د کافرانو ملگرے شی، امتحان کښے به فیل شی۔ ددے وجه نه علماء کرامؒ فرمائی : که یو سړے فی الحال بنۀ وی نو سمدستی به پرے فیصله نۀ کوے چه دا جنتی دے ترڅو چه خاتمه ئے په ایمان باندے نۀ وی شوی، مخکښې اعمالو ته به نشی کتلے۔

امام شافعیؒ او بایزید بسطامیؒ دواړه فرمائی : [إِذَا رَأَيْتُمْ رَجُلًا يَمْشِيْ عَلَى الْمَاءِ أَوْ يَطِيْرُ فِي الْهَوَاءِ فَلَا تُصَدِّقُوْا بِأَنَّهُ وَلِيُّ اللّٰهِ حَتّٰى تَعْرِضُوْا عَمَلَهُ عَلَى الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ]

(کله چه ته یو سړے اُووینے چه د اُوبو په سر روان دے (خپے ئے نه لمدیږی) او یا هوا کښ اَلوزی، نو سمدستی تصدیق پرے مۀ کوه چه دا د الله تعالیٰ ولی دے، تردے چه د هغه عمل په کتاب او سنت پیش کړے) چه آیا عمل ئے د قرآن او حدیث برابر دے او که نه۔ هسے نه چه ساحر چرته نۀ وی۔ دارنگه انجام له اعتبار دے۔ نو د یو سړی په باره کښ به دا نۀ وائے چه دا ډیر لوئی بزرگ دے دا به هم نۀ وائی چه دا غرق دے، ځکه چه پته نۀ لگی چه انجام به ئے څنگه کیږی، ظاهراً به ورته بنه گورے که نیك عمل وو او یا به فی

الحال ورته بد ګوري که بد عمل وو.
مفسرينو ليکلي دي چه د ټولو نه ړومبنے کافر ابليس وو، او د هغے سبب کبر او غرور وو.
د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه نقل دي چه رسول الله ﷺ فرمايلي دي:
[لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ]
چه د کوم انسان په زړهٔ کښے ذره برابر هم کبر وي هغه به جنت ته نهٔ داخليږي.
[صحيح مسلم- کتاب الايمان رقم : ٢٧٥]
فوائد الآية : ١- آيت کښے دا فائده ده چه اَلْإِعْتِبَارُ لِلْخَوَاتِيْمِ (د اعمالو دارومدار په خاتمه دے) ٢- د الله تعالىٰ د امر نه خلاف کول ګناه ده او د هغے نه انکار کول کفر دے.
٣- تکبر د الله تعالىٰ د حکمونو نه سبب د هلاکت دے.
٤- د علم شرافت او د ملائکو خدمت د انسان دپاره معلوم شو.
٥- يو انسان به د دين په مجالسو او محفلونو کښې وخت تيروي او د بنو خلقو ملګرتيا کښې به وي ليکن په زړهٔ کښې به ئے غلطے ارادے وي، اخلاص به پکښې نهٔ وي نو الله تعالىٰ ئے اُوشرموي او امتحان پرے راشي، د دنيا خواهشات غوره کړي، نو هلاك شي.
٦- انسان هميشه په هر حالت کښې په امتحان کښې دے، نو عاقل له هر کار په سوچ او فکر سره پکار دے، او د الله تعالىٰ نه مدد غوختل پکار دي.
٧- **خارجي فائده** : الله تعالىٰ چه انسان پيدا کړو نو امتحان کښې ئے واچولو ١- پدے طريقه چه ابليس ئے پرے مقرر کړو ٢- بل نفس اَمّاره بِالسُّوْءِ ئے ورکړو.
٣- او شهوات د دنيا ئے ورکړل. دنيا ئے ورته ډولي کړه. ليکن الله تعالىٰ انسان لره دے خيزونو ته اُونهٔ سپارلو بلکه احسان ئے ورسره اُوکړو ددے په مقابل کښې ئے ١- ورته انبياء او کتابونه راوليږل. ٢- او عقل ئے ورکړو. ٣- ملائك ورته د خير الهامونه کوي.
٤- وَاعِظُ اللّٰهِ فِيْ قَلْبِ الْمُؤْمِنِ. الله تعالىٰ د مؤمن په زړه کښې يو واعظ اچولے وي.
٥- بل رحم ئے دا دے چه د توبے دروازه ئے کولاوه کړيده.
٦- او د نيك عمل اجر يو په لس دے او بدي يو په يو ده. نو د رحم طرف غالب دے.
نو انسانان په درے قسمه دي (١) اول هغه دي چه کامياب دي، د انبياء عليهم السلام

او د عقل او د ملائکو د الهامونو تابع دی۔
(۲) دویم د ابلیس او د خواهشاتو تابع دی، دا کفار او منافقین دی۔
(۳) دریم هغه کسان دی چه بین بین دی کله د انبیاء علیهم السلام د خبرے اتباع کوی او کله د ابلیس، پدے کښ بیا ډیرے مرتبے او تفاوتونه دی، الله تعالیٰ ته معلوم دی، نو هر انسان له اُوس لاره اختیارول پکار دی۔
حکمة : ملائکو اطاعت اُوکړو ځکه نفسونو کښ ئے خشوع او عاجزی وه او ابلیس معصیت اُوکړو ځکه چه نفس کښ ئے کبر او غرور وو نو خشوع اساس الطاعات ده او کبر اساس المعاصی دے۔
حکمة : پدے کښ تعریض دے په یهودو او منافقینو چه دوی کښ هم کبر دے د ابلیس په شان او د صحابه کرامو په شان ایمان نهٔ راوړی۔

وَقُلْنَا يَآدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا
او اُووئیل مونږ اے آدم ! اُوسیږه تهٔ او بی بی ستا په جنت کښے او خوراك کوئ ددے نه
رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ
فراخه کوم ځائے کښ چه خوښه وی ستاسو، او مهٔ نزدے کیږئ دے ونے ته
فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِيْنَ ﴿۳۵﴾
نو شئ به تاسو د ظالمانو نه۔

تفسیر : الله تعالیٰ آدم علیه السلام لره پیدا کړو، هغه له ئے عزت ورکړو او بیا ئے د هغه د کسے (کینړے) پوختئ نه د هغه بی بی (حواء رضی الله عنها) پیدا کړه، دے دپاره چه آدم علیه السلام په هغے سره سکون (آرام) حاصل کړی، او الله تعالیٰ په هغه باندے نعمتونه تمام کړل چه دے دواړو ته ئے اُوفرمایل : جنت کښ اُوسیږئ او ددے نعمتونو نه مزے اخلئ او سورهٔ طٰه (۱۸/۱۹) کښ راځی دائے ورته اُوفرمایل : (اِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوْعَ فِيْهَا وَلَا تَعْرٰى، وَاَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيْهَا وَلَا تَضْحٰى) (په جنت کښ به نهٔ اُوګے کیږے او نهٔ به بربنډیږے او نهٔ به

تـګے کیږے او نۀ به دِے ګرمي کیږی) نو دا دریم فضیلت د آدم علیه السلام شو چه جنت ئے ورله کور جوړ کړو۔

اُسْكُنْ : د سُکنیٰ نه دے نۀ د سکون نه۔ د اُوسیدو معنیٰ ده۔

وزوجك : دا ئے عطف کړه په انت باندے ځکه چه ښځه د سړی تابع ده په اُوسیدو کښې، چرته چه سړے اُوسیږی هلته به ورسره ښځه وی۔

(الجنة) **فائده** : پدے کښې اختلاف دے چه کوم جنت مراد دے (١) یو قول دا دے چه دنیا کښې یو باغ مراد دے، ○ وجه دا ده چه هغه جنت حقیقی ته انسان په عمل ځی۔

○ دویم دا چه هغه جنت کښې امتحانات نۀ وی۔ چه دا خوره او دا مۀ۔

○ دارنګه هغه جنت ته شیطان نشي داخلیدے او دلته خو شیطان ورغلے دے۔

دغه شان اعذارئے وئیلی دی۔ حافظ ابن قیمؒ په "مفتاح دار السعاده" کښې فرمائی :

"دا قول د ملحدینو، فلاسفو او معتزلو او مبتدعین متکلمینو دے۔ او د ټولو اهل السنة او سلفو خلاف قول دے"۔ص (١/٣٨)

(٢) قول ثاني دا دے چه د الجنة نه مراد دار الثواب دے کوم ته چه به انسانان او پیریان پس د مرګ نه او په آخرت کښې داخلیږی۔ ځکه چه قرآن او حدیث کښې چه (الجنة) مطلق ذکر شی نو مراد ترے نه حقیقی جنت وی، او که بل جنت مراد وے نو نبی صلی الله علیه وسلم به ئے تشریح کړے وے۔ ٢- دویم دا چه (اهبطوا) دلیل دے، چه د حقیقی جنت نه کوزیدل مراد دی۔ ٣- (وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ) نه معلومیږی چه که دا باغ په زمکه کښې وے نو بیا ئے ولے فِي الْأَرْضِ لفظ ذکر کولو۔

٤- د آثارو نه هم معلومیږی چه آدم علیه السلام د هندوستان په سراندیپ غر باندے راکوز شو او حواء رضی الله عنها په جده کښې راکوزه شوه۔ (روح المعانی)

٥- بله وجه دا ده چه الله تعالیٰ آدم علیه السلام لره په جنت کښې پیدا کړے وو۔

٦- بله وجه دا ده چه انسانان د ابلیس سَبُی (قیدیان) دی، د جنت نه ئے راوستلی دی، بیرته ئے الله تعالیٰ خپل وطن ته واپس بوځی که طاعت اُوکړی لکه یو اثر کښې راغلی دی۔

او د پابندئ جواب دا دے چه کله انسان په عمل باندے لاړ شی نو بیا پابندی نۀ وی او دا مخکښې نه هلته پیدا شوی وو۔

وَكُلَا : دواړه ئې په يوه صيغه کښې يو ځائې کړل ځکه چه ښځه په خوراك کښې د سړی تابع نهٔ ده۔

(**رَغَدًا**) په يو داسې کور کښې ژوند تيرولو ته وائی چه هغه مبارك وی او بغير د مشقت او تکليف نه وی (قرطبیؒ)

يا فراخه او ډير مزيدار بغير د هانع نه۔ (خازن، خطيب شربينیؒ)

(**وَلَا تَقْرَبَا**) الله تعالیٰ د آدم دپاره د جنت هر نعمت مباح کړو، سوا د هغه ونې نه چه د هغې خوړل الله تعالیٰ د هغه دپاره منع کړل، دې دپاره چه ددې منع شوې ونې په خوړلو سره د هغه عذر باقی پاتې نهٔ شی، او دا منع کول د الله تعالیٰ د طرف نه امتحان وو، او هغه ونې ته د نزدې کيدو نه ئې منع کړو پدې کښې د ونې د خوړلو نه د منع کيدو زيات تاکيد دې چه خوا له هم مهٔ ورځئ، ځکه چه څوك د ممنوع څيزونو په خوا کښې خوزيږی نو کيدې شی چه په حرامو کښې واقع شی نو معلومه شوه چه د حرامو اسباب هم حرام دی۔

او اشاره ده بعد عن المعصية ته چه د گناه نه وړاندې کيږه۔

(**الشَّجَرَةِ**) د شجرې نه مراد بعض وائی : د انځر ونه وه۔ څوك وائی : د غنم وه۔ څوك وائی : انگور وه، اُووه قوله پکښې دی خو د هغې تعيين ته څه حاجت نشته ځکه فائده پکښې نشته۔او قرآن او حديث هم د هغې نه ساکت دی۔ نو بس په همدغه ابهام ئې پريخودل پکار دی۔ چه يوه ونه وه، که په معلومات کښې ئې خير وې نو الله تعالیٰ به ئې بيان کړې وې۔

بيا د الله تعالیٰ حکمة پدې کښې هم دې چه په جنت کښې هم پابندی لگوی، امتحان دې، روستو زمانه کښې به جنت کښې پابندی نهٔ وی ځکه د ثواب دپاره به ورغلې وی خو دوی د ثواب دپاره نهٔ وو ورغلی بلکه الله تعالیٰ هسې ديره کړی وو۔

(**الظّٰلِمِيْنَ**) ظلم : (وَضْعُ شَيْءٍ فِيْ غَيْرِ مَوْضِعِهٖ)(يو شې په ځايه کيخودل او استعمالولو ته وائی، لکه عبادت غير الله له ورکړی او د مور نه خادمه جوړه کړی او ځان نه مخدوم۔ ظلم کلی مشکك دې، په لږ او ډير تولو ئې اطلاق کيږی په صغيره او کبيره گناه ئې اطلاق کيږی۔ نو دلته ظلم په درجه د کفر کښې هم نهٔ دې او د گناه کبيره کښې هم نهٔ دې بلکه په درجه د گناه صغيره کښې دې۔

د ظلم مشهوره معنیٰ په استعمال د عربو کښې (الاعتداء) (تجاوز) دے، دا اعتداء کله په ماتولو د نهی سره وی او کله اعتداء په خپل نفس او خپل فضیلت باندے وی نو که اوله معنیٰ واخلو نو معنیٰ به دا شی (تاسو به شئ د ظلم کونکو نه په ځانونو د عقاب او غضب په وجه)۔ او که دویم مطلب واخلو نو معنیٰ به دا شی : (تاسو به شئ د زیاتی کونکو نه په ځان په محرومولو د دوام الکرامة فی الجنة نه)۔ (التنویر)

د انبیاء علیهم الصلاة والسلام د عصمة مسئله

۱- د روافضو مسلك دا دے چه انبیاء علیهم السلام معصوم دی لیکن تقیةً پرے کفر راتلے شی (العیاذ بالله)۔ دا خبره سو چه غلطه ده۔ لهذا دا خو ترے بهر کړه، او د اهل السنة والجماعت دوه قوله دی : (۱) اول قول دا دے چه د صغائرو او کبائر تولو نه مُنزه دی، قبل النبوة وی او که بعد النبوة۔ دوئ دلیل دا وائی چه بیا به انبیاؤ علیهم السلام باندے تهمت لګی چه هرکله دوئ نه خپله یو کار صادرېږی نو بل ته به د نیکئ حکم څنګه وکړی۔ دارنګه د انبیاءِ کرامو د اتباع حکم شویدے نو بیا به امت د هغوی د لغزشاتو تابعداری هم کوی او دا خو باطله خبره ده۔ نو په دوی باندے سوال راځی چه آیتونو سره به څه کوئ چه (وَعَصٰى آدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى) ، او (ثَلَاثُ كَذِبَاتٍ) والا روایت شو۔ نو د هغے جواب دا کوی چه پدے کښې به ښهٔ تاویلات اُوکړو او هغه په درجه د حَسَنَاتُ الْأَبْـرَارِ سَيِّـئَاتُ الْمُقَرَّبِيْن کښې دی۔ (یعنی د نیکانو نیکیانے د مقربینو خلقو ګناهونه شمارلے شی) نو دوی خپل معمولی شان لغزش هم غټ شمارلے دے۔ او عند التدبر دغه آیتونو کښے ګناهونه نهٔ مراد دی بلکه دا خلاف اَولیٰ کارونه دی۔

(۲) **قول ثانی** : شیخ الاسلام ابن تیمیهٌ فرمائی (او دا قول د اکثرو اهل السنة دے) چه مُنزّه دی د کفر او د کبیره ګناهونو نه قبل النبوة او بعد النبوة۔ هر چه صغیره دی نو دا قبل النبوة او بعد النبوة صادریدل ترے ممکن دی۔ او دا قول تفسیر قرطبیؒ په سورة طه کښې غوره کړیدے۔ او دا قول د طبریؒ او د نورو فقهاؤ او متکلمینو او محدثینو دے۔ (کما قال القرطبیؒ)

امام قرطبیؒ فرمائی : [وَقَالَ بَعْضُ الْمُتَأَخِّرِيْنَ مِنْ عُلَمَائِنَا وَالَّذِيْ يَنْبَغِيْ أَنْ يُّقَالَ : إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَخْبَرَ بِوُقُوْعِ ذُنُوْبٍ مِنْ بَعْضِهِمْ وَنَسَبَهَا إِلَيْهِمْ وَعَاتَبَهُمْ عَلَيْهَا، وَأَخْبَرُوْا بِذٰلِكَ عَنْ نُفُوْسِهِمْ وَتَنَصَّلُوْا مِنْهَا، وَاسْتَغْفَرُوْا مِنْهَا وَتَابُوْا وَكُلُّ ذٰلِكَ وَرَدَ فِيْ مَوَاضِعَ كَثِيْرَةٍ لَا يَقْبَلُ التَّأْوِيْلَ

جُملَتُهَا، وَإِنْ قَبِلَ آحَادُهَا، وَكُلُّ ذٰلِكَ مِمَّا لَا يُزْرِيْ بِمَنَاصِبِهِمْ، وَإِنَّمَا تِلْكَ الْأُمُوْرُ الَّتِيْ وَقَعَتْ مِنْهُمْ عَلٰى جِهَةِ النُّدُوْرِ وَعَلٰى جِهَةِ الْخَطَأِ وَالنِّسْيَانِ اَوْ تَأْوِيْلٍ دَعَا اِلٰى ذٰلِكَ فَهِيَ بِالنِّسْبَةِ اِلٰى غَيْرِهِمْ حَسَنَاتٌ وَفِيْ حَقِّهِمْ سَيِّئَاتٌ بِالنِّسْبَةِ إِلٰى مَنَاصِبِهِمْ وَعُلُوِّ اَقْدَارِهِمْ ...... قَالَ وَهٰذَا هُوَ الْحَقُّ]

او بعض متأخرينو علماؤ وئيلي دي : مناسبه خبره دا ده چه دا ووئيلے شي چه الله تعالىٰ د بعض انبياؤ د ذنوبو خبر وركړے او هغوى ته ئے د هغے نسبت كړے او هغوى په هغے ملامته كړي، او هغوى هم د خپلو ځانونو نه خبر وركړے او بيا ئے د هغے نه ځانونه ويستلي، او توبه او استغفار ئے كړے او دا په ډيرو ځايونو كښے راغلي دي چه د هغے ټول تاويلات نۀ قبلوى اګركه بعضو كښے صحيح تاويل كيدلے شي، او دا كار د هغوى په منصب باندے هيڅ عيب او داغ نۀ لګوى بلكه دا كارونه د هغوى نه كله كله واقع دي او په طريقه د خطائي او هيره سره شويدي يا ئے تاويل كړے نو دا په نسبت سره بل چا ته نيكيانے دي خو د دوئ مرتبے ډيرے اُوچتے دي نو د دوئ په حق كښے دوئ ګناهونه ګڼرلي دي۔ [تفسير القرطبى ۳۰۹/۱ سورة البقرة و ۲۵۵/۱۱ سورة طه) طبع دار الكتب المصرية - القاهرة، والتفسير المنير لوهبة الزحيلى (۳۰۱/۱٦) طبع دار الفكر المعاصر- دمشق]

دے قول والا بعض دلائل داسے وائي :

دليل : يو په قرآن او حديث كښ صراحةً بعض انبياء عليهم السلام ته د ګناه نسبت شويدے، بيا د هغے نه استغفار او توبه ذكر ده نو كه مونږ په هغے كښ تاويل اُوكړو نو دغه تاويل به په منزله د تحريف شي ځكه الله تعالىٰ فرمائي : (وَعَصٰى آدَمُ رَبَّهٗ)(عصيان ئے اُوكړو) او مونږ وايو چه نۀ ئے دے كړے نو لازم به شي تقدم بين يدى الله۔ (يعنى د الله تعالىٰ نه مخكښ كيدل)۔ ۲- حديث د شفاعت كښے راغلي دي : قيامت كښ به مؤمنان آدم عليه السلام ته وائي : [اِشْفَعْ لَنَا اِلٰى رَبِّكَ]۔ (مونږ دپاره سفارش رب ته اُوكړه) نو هغه به وائي : [وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ اِلَّا خَطِيْئَةُ أَبِيْكُمْ] (تاسو خو زما د ګناه په وجه د جنت نه راوخكلے شوى يئ) [مسلم : ۵۰۳] دارنګه نوح عليه السلام به فرمائي : ما د الله تعالىٰ نه هغه سوال كړے وو چه زما سره لائق نۀ وو۔

٤- دارنګه ابراهيم عليه السلام به فرمائي : ما درے ګذِبات وئيلي وو۔

۵- موسى عليه السلام به وائي : ما قبطي وژلے دے۔ نو په حديث الشفاعة كښ هم انبياء

علیهم السلام ته د بعض لغزشاتو نسبت شوے۔
لیکن دا خبره یاد ساته ! چه د انبیاء علیهم السلام گناهونه ذکر کول په منبر باندے یا په کتابونو کښې لیکل نقصان او ناجائز کار دے، د خلقو په انبیاء علیهم السلام باندے بدگمانی پیدا کیږی۔ او استدلال کوی د خپلو گناهونو دپاره۔ بلکه دا به هغه ځائے ذکر کولے شی چه کوم ځائے کښې ضرورت وی لکه د قرآن کریم درس وی، یا د حدیثو درس وی، دے دپاره چه د تحریف نه بچ شی۔ او ددے مطلب دا نهٔ دے چه هر نبی نه گناه شویده، نهٔ بلکه یو تن نیم نه په تول ژوند کښې چرته یوه صغیره واقع شوی وی او بیا تر ے هغوی توبه هم ویستلے ده، داسے نبی نشته چه هغه توبه نهٔ وی ویستلی، (لکه د قرطبیؒ په عبارت کښې ذکر شو) او حسنات ئے دومره زیات دی چه دا صغیره د هغے په مقابله کښې داسے ده لکه یو څاڅکے په نسبت د دریاب۔
او **بله** دا چه ددے صغیرے نه روستو د انبیاء علیهم السلام حال ډیر برابر شوے وی په نسبت د مخکښې حال، ډیر استغفار او ژړاگانے ئے کړی دی۔
علامه وهبه الزحیلیؒ فرمائی : د انبیاؤ د گناهونو په باره کښې خبره کول جائز نهٔ دی مگر په هغه اندازه چه قرآن او صحیح احادیثو کښې راغلی دی۔
(التفسیر المنیر: ۱٦/۳۰۰)
مفسرین لیکی : نوح علیه السلام چه کله د بچی متعلق سوال اُوکړو او الله تعالیٰ ورته زورنه ورکړه نو تول ژوند کښې ئے ژړل۔ او آدم علیه السلام چه دنیا ته راکوز شو نو ژړاگانے ئے کولے چه د اُوښکو نه به ئے گیاه راټوکیدله، او علماء کرامؒ فرمائی : کله کله بعض انسانان په گناه باندے جنت ته داخل شوی وی او بعض په نیکیو باندے جهنم ته۔ د هغے وجه همدغه ده۔ نیکی باندے فخر کوی نو د الله تعالیٰ د نظر نه پریوزی او یو انسان به گناه همیشه یادوی نو الله تعالیٰ ته به نزدے شی۔ نو په انبیاء علیهم الصلوات والتسلیمات باندے هم دغه شان حالت کیږی۔
حکمة : د بعض انبیاء علیهم السلام او نیکانو نه چه بعض خطاگانے کیږی ددے ډیر حکمتونه وی : (۱) اِشَارَةٌ اِلٰی اَنَّ الْاَنْبِیَاءَ بَشَرٌ : پدے کښې اشاره وی چه انبیاء علیهم السلام انسانان دی، او انسان کمزورے وی۔
(۲) (دَفْعًا لِلْعُجُبِ عَنْ اَنْفُسِ الصَّالِحِیْنَ) (د نیکانو خلقو د زړونو نه عجب او خود

پسندی زائله کیږی) هسے نه چه عبادتونه کوی او په عجب کښې واقع شی نو الله تعالیٰ ئے پدے طریقه تربیت کوی۔

(۳) (تَوَلِیْدًا لِلتَّوَاضُعِ فِیْ أَنْفُسِ الصَّالِحِیْنَ) (د صالحینو په زړونو کښې عاجزی او زاری پیدا کول) ځکه د گناه نه روستو مؤمنان ډیره زاری کوی۔

(٤) (رِقَّةُ الْقَلْبِ) (پدے سره زړۂ نرمیږی، چه همیشه خپله گناه یادوی)

(٥) د الله تعالیٰ د هر نوم یو اثر دے لکه غفار، غفور، رحمن، رحیم وغیره نو که د دغه انسانانو نه گناه نۂ کیدلے نو بیا به د دغه نومونو اثر نۂ ښکاره کیدے۔ یا غفار یا غفور آواز به ئے څنگه کولے۔ لکه حدیث کښې هم دے ته اشاره ده چه د الله تعالیٰ ژړا او زاری او عاجزی او توبه او استغفار ډیر خوښ دے۔ [وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَوْلَمْ تُذْنِبُوْا لَذَهَبَ اللّٰهُ بِکُمْ وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ یُذْنِبُوْنَ فَیَسْتَغْفِرُوْنَ فَیَغْفِرُ لَهُمْ] [صحیح مسلم : ۷۱٤۱، واحمد : ۲٦۲۳]

(که تاسو گناهونه نۂ کوئ نو تاسو به ختم کړی او داسے قوم به راولی چه گناهونه به کوی او د الله تعالیٰ نه به بخنه غواړی نو الله تعالیٰ به ورته بخنه کوی) پدے حدیث کښے مطلب دا دے چه الله تعالیٰ ته د گناه نه روستو توبه او استغفار طلب کول ډیر محبوب دی۔ او پدے کښے گناهونو ته دعوت نۂ دے۔

(٦) د گناه نه بعد ډیر احتیاط کول۔

(۷) په دے پوهیدل چه زما عصمت د الله تعالیٰ په لاس کښې دے، که هغه زما حفاظت اُونکړی نو زه به ضرور په گناه کښې واقع شم۔ او دا یوه غوره عقیده ده۔

(۸) په نورو گناهگارو شفقت پیدا کیدل او په هغوی رحم کول۔

(۹) په معصیت باندے الله تعالیٰ پیژندل۔

(۱۰) مَرَارَةُ الْمَعْصِیَةِ (د گناه تریخوالے) څکل چه د عبادت په مکمل خوند پوهه شی۔ نور حکمتونه هم شته۔

په آیتونو کښې د مفسرینو تاویلونه

نو اُوس کوم مفسرین چه وائی د پیغمبرانو نه بالکل گناه نۂ صادریږی نو داسے تاویل کوی : روح المعانی لیکی : (وَلَاتَقْرَبَا اَیْ عَمْدًا) (یعنی قصداً دے ونے ته مۂ نزدے کیږئ) او هغوی قصداً نۂ دی نزدے شوی بلکه نسیاناً وو۔ خبره ترے هیره شوے وه۔ (فَنَسِیَ وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا) راغلے دے۔ **جواب** دا دے چه نسی معنیٰ د ترک ده۔ او عزم نه

مراد صبر دے۔ او دا گناه صغیره وه ددے وجوهات دا دي :

۱- اول دا چه ابلیس ورته رایاده کړیده۔ او په خبره کښې ئے ورته غلط تاویل وکړو۔
﴿هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ الْخُلْدِ﴾ [طه : ۱۲۰] (مَا نَهَاكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَٰذِهِ الشَّجَرَةِ إِلَّا أَنْ تَكُونَا مَلَكَيْنِ) (اعراف : ۲۰)

۲- دارنګه حواء رضي الله عنها ورته دعوت ورکړو چه ویه ئے خورو او فائده پکښې شته۔

۳- بل ابلیس ورته قسم اُوکړو، او د هغه ګمان نۀ وو چه په دروغو به څوك قسم کوي۔

٤- بل ئے ورته دا لالچ ورکړو چه جنت کښې به همیشه شئ، نو دوی اُووئیل : ګناه به اُوکړو او څه الله مهربانه دے۔ او په ګناه کښې خو نقصان شته لیکن بل طرفته به جنت کښې همیش والے نصیب شي۔ او د ګناه نه به الله تعالیٰ ته معذرت اُوکړو۔ لکه دا د هر مؤمن زړه کښې راځي، کله چه د یو بے حیائي یا ګناه خوا ته وروړاندے کیږي، نو شیطان ورته ډیرے وسوسے اچوي، چه یره الله غفور رحیم دے او دومره غټ بزرګ خو نه ئے، دا ګناه به اُوکړے روستو به توبه اُوباسے، د توبے دروازه څه دپاره کولاوه ده ، او الله تعالیٰ په توبه ډیر خوشحالیږي نو ورته ئے وروړاندے کړي، زړورتیا ئے مقصد نۀ وي نو آدم علیه السلام هم تاویل اُوکړو او خطاء کړے شو، شیطان ورته دا یقین ورکړو چه زۀ ستاسو خیر خواه یم۔ او قسم ئے هم ورته وکړو چه ستا په ونه خوراك کښې ډیره فائده ده، جنت کښې به همیشه پاتے شې، نو د الله تعالیٰ د محبت په اراده ئے وخوړله۔ نو علماؤ دیته ګناه صغیره وئیلے ده او کبیره ګناه بالکل نۀ ده۔

۵- څکه چه کیدے شي تاویل ئے هم کړے وي چه د معینې ونې نه به منع شوے یم او جنس نه به نۀ یم منع شوے، نو دے بله ونه خوړلو کښې به هغه ضرر نۀ وي۔

٦- بل تاویل : ظالمین نه مراد خلافِ اولیٰ کار کول دي۔

۷- دریم دا چه ظالم نه مراد ظالم علی نفسه دے، یعني په ځان باندے به ظلم اُوکړئ چه د جنت مزے به درنه فوت شي۔ لیکن راجح معنیٰ دا ده چه شئ به د ګناهګارو نه خو وړه ګناه ده۔ او پدے کښې د الله تعالیٰ حکمة وو چه که همداسے الله تعالیٰ دنیا ته راکوز کړے وے نو کیدے شي چه بیا به ئے په الله تعالی بدګماني پیدا کیدلے او خفه به وے، نو الله تعالیٰ د انسان عذر په ځان نۀ پریدی نو څکه ئے د هغۀ نه داسے کار وکړو چه

خپل ځان ملامته کړی۔
او دا آیتونه مونږ ته دا سبق راکوی چه شیطان د انسان ډیر لوی دشمن دے، انسان د ډیرو خیرونو او مزو نه محروم کوی، دارنګه د الله تعالیٰ نافرمانی داسے شے دے چه انسان بربنډوی او د جنت او د نعمتونو نه ئے محرومه کوی (اَلْمَعَاصِیُ تُزِیْلُ النِّعَمَ) (ګناهونه نعمتونه زائله کوی) د انسان صحت خرابوی، د انسان علم، مشری، عزت ختموی۔
یو شاعر فرمائی :-

اِذَا كُنْتَ فِیْ نِعْمَةٍ فَارْعَهَا ❀	فَاِنَّ الْمَعَاصِیْ تُزِیْلُ النِّعَم

(کله چه ته په یو نعمت کښې ئے نو د هغې لحاظ ساته ځکه چه ګناهونه نعمتونه زائله کوی)۔
او دا آیت دلیل دے چه په آیت کښې نهی د تحریم دپاره ده ځکه د ممنوعه ونے خوړلو نتیجه ئے ظلم اُوخودله۔

د آدم علیه السلام زمکے ته راکوزولو کښې حکمتونه

۱- جنت دار الثواب دے، د عمل په مقابله کښې به ئے بندګانو ته ورکوی او جنت د عمل ځائے نۀ دے۔
۲- دویم دا چه د الله تعالیٰ جهاد خوښ دے او جهادونه په جنت کښې نۀ کیدل۔
۳- د الله تعالیٰ موالات او معادات خوښ دے، مؤمنانو سره دوستی او کافرانو سره دشمنی۔ او دا په دنیا کښې کیدل۔
٤- الله تعالیٰ ته د بندګانو اعمال، عاجزی، انکسار، او توبه او استغفار ډیر خوښ دی او دا په جنت کښې نۀ کیدل۔
٥- په جنت کښې مراتب دی، غټ او واړه او درمیانه نو کومو انسانانو له ئے چه لاندے مرتبے ورکولے نو هغوی به خفه وے چه مونږ ته اُوچتے مرتبے ولے ملاؤ نشوے۔ نو الله تعالیٰ دا په اعمالو تقسیم کړیدی۔ او عمل په دنیا کښې کیږی۔
٦- الله تعالیٰ انسانان د عبادت دپاره پیدا کړیدی او د عبادت ټول انواع په جنت کښې نۀ کیږی۔ بلکه دے دپاره دنیا مناسب ده۔
۷- انسانان د الله تعالیٰ د صفاتو مظهر دے، په دۀ کښې د الله تعالیٰ د صفاتو اثر ښکاره

کیږی ځکه چه د الله تعالیٰ رحمتونه هم شته نو انسانان ئے پیدا کړل چه الله تعالیٰ پرے دا بے شماره رحمتونه اُوکړی، او د الله تعالیٰ غضب او قهر هم شته. نو دا به په نافرمانو ښکاره کیږی.

۸- د الله تعالیٰ ابتلاء او امتحان کول عادت دے او دا په دنیا کښ کیږی.

۹- د انسان په ماده کښ ظلم او جهل دے نو د هغے د صفائی دپاره د امتحان په بټئ کښ اچول دی او دا کار په دنیا کښ کیږی.

۱۰- ایمان بالغیب الله تعالیٰ ته ډیر محبوب وو لکه ددے سورت موضوع هم دا ده نو دا په جنت کښ نهٔ حاصلیدلو. زیات حکمتونه په "مفتاح دار السعادة" کښ اُوګوره.

فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا
نو اُوخوئیول دواړو لره شیطان د هغے (ونے د خوړلو دوجه) نه پس راوے خکل دواړه
مِمَّا كَانَا فِيْهِ ۖ وَقُلْنَا اهْبِطُوْا
د هغه نعمتونو نه چه وو دواړه په هغے کښ. او اُووئیل مونږ کوز شئ تاسو (ټول)،
بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِي الْاَرْضِ
بعض ستاسو به د بعضو دپاره دشمنان وی او تاسو لره به په زمکه کښے
مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿٣٦﴾
ځائے د اُوسیدو وی او فائدے به وی تر یو وخت پورے.

تفسیر:

یعنی شیطان ورته مختلف قسمه دوهوکو او وسوسو سره مخے ته راغلو او قسمونه ئے ورته اُوکړل او یقین ئے ورکړو چه ستا د ونے خوړلو په وجه تهٔ په جنت کښ همیشه کیږے. او ځان ئے ورته خیرخواه ثابت کړو (وَقَاسَمَهُمَا اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ) (اعراف : ۲۱) (اوشیطان قسم اُوخوړو چه زهٔ ستاسو د دواړو ډیر غټ خیر خواه یم).

اَزَلَّ دیته وائی چه د سړی اراده نهٔ وی خو ایسته اُوخویږی بل ځوك ئے راخوے کړی. نو

پدے کښې من وجه د هغه تقصير دے چه ولے ختو کښې گرځے او د فتنے ځائے ته ولے حاضريږي، او من وجه معذور دے ځکه هغه خو ځان نۀ راغورزولو ليکن مجبور شو۔

فَأَخْرَجَهُمَا : نسبت د اخراج ئے شيطان ته اُوکړو ځکه چه دۀ وسوسه اچولے وه دائے سبب وو او اصل راويستونکے الله تعالیٰ دے۔

الشَّيْطَانُ : شيطان نه ابليس مراد دے۔ او دا وسوسه په کومه طريقه وه ؟

۱- نو پدے کښې بعض مفسرينو نقل کړيدی چه د مار په خوله کښې ابليس جنت ته داخل شو او وسوسه ئے واچوله۔ دا د يهودو خبرے دی، خلقو له د جنت نه زړه توره وی، چه جنت کښے ماران هم شته۔ ۲- بعض علماء فرمائی : چه کله الله تعالیٰ ابليس لره د جنت نه شړلو نو د وتلو په وخت کښې ئے هغوی ته وسوسه واچوله۔

۳- دريم دا چه ابليس هوائی مخلوق دے، د لرے نه هم وسوسه اَچولے شی، نو دلته ئے هم براهِ راست وسوسه واچوله۔

او دا هم واضح شوه چه لکه څنگه چه شيطان د سجدے د حکم په وقت کښې د الله تعالیٰ د حکم په مقابله کښې د قياس او عقل نه کار اخستے وو چه زۀ د آدم (عليه السلام) نه بهتريم او د هغه د سجدے نه ئے انکار اُوکړو نو دغه شان پدے موقعه کښې ئے د الله تعالیٰ په حکم (وَلَا تَقْرَبَا) کښې ورته تاويل کولو سره د آدم عليه السلام په انخلولو کښې کامياب شو، نو غلط تاويلونه د نص په مقابله کښې او عقل او خپله رايه او قياس چلول اول د شيطان کار دے۔ (نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ هٰذَا)

اِهْبِطُوْا ئے جمع راوړه ځکه دا خطاب آدم عليه السلام، حواء او شيطان درے واړو ته دے۔ دا هم ممکن ده چه خطاب صرف آدم او حواء عليهما السلام ته وی ځکه دا د نسلِ انسانی د پيدائش ذريعه وه۔ نو د هغوی اولاد هم ورسره شامل دی۔ لکه سورة طه (۱۲۳) کښې ئے د تثنيه خطاب کړيدے [قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيْعًا] ۔ او دلته بيا روستو ورسره بعضکم راوړی اشاره ده چه دا خطاب د هغه اولادو ته هم شامل دے۔

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے، رسول الله صلى الله عليه وسلم اُوفرمايل :

[خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيْهِ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيْهِ اُخْرِجَ مِنْهَا]

[مسلم : ۲۰۱۳ نسائی :۱۳۷۳]

د ټولو ورځو نه غوره ورځ د جُمعے ده، پدے ورځ آدم (عليه السلام) پيدا کړے شويدے او پدے

ورځ جنت ته داخل شویدي او پدې ورځ د جنت نه رابهر شویدي۔
د جنت نه راوتل څنګه نعمت شمار شویدې؟ ددې تفصیل په الحق الصریح (جلد ٥) کښې اُوګورئ۔ دلته دا چه دنیا ته راتللو کښې ډیرې فائدې دی لکه چه لږ مخکښې ذکر شوې نو هغه حاصلول پدې ورځ اُوشو نو ځکه نعمت شو۔
بَعۡضُكُمۡ : (۱) یعنی آدم علیه السلام او د هغه اولاد، او ابلیس او د هغه اولاد به یو بل سره دشمنان وی۔ او معلومه ده چه هر شخص خپل دشمن ته د نقصان رسولو هر ممکن کوشش کوی۔ او کوشش کوی چه دهغه دشمن د هر قسم نعمت نه محروم شی۔ لکه الله تعالیٰ فرمائی : ﴿اِنَّ الشَّيۡطَانَ لَكُمۡ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوۡهُ عَدُوًّا﴾ (فاطر/٦)
(شیطان ستاسو دشمن دې نو دا دشمن اُوګنړئ)
(أَفَتَتَّخِذُوۡنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗۤ اَوۡلِيَآءَ مِنۡ دُوۡنِیۡ وَهُمۡ لَكُمۡ عَدُوٌّ بِئۡسَ لِلظّٰلِمِيۡنَ بَدَلًا) (الکهف/٥٠)
(آیا بیا هم تاسو هغه او د هغه اولاد زما نه بغیر خپل دوستان نیسئ حال دا چه هغه خو ستاسو دشمن دې، داسې ظالمانو دپاره بده بدله ده)
(۲) یا انسانان به خپلو کښې هم دشمنان وی او دا به د الله تعالیٰ ابتلاء وی۔ لکه حدیث کښې راغلی دی : رسول الله ﷺ فرمائی : ما د خپل رب نه درې سواله اُوکړل دوه ئې راکړل او یو ئې رانه منع کړو۔ ما د الله تعالیٰ نه اُوغوختل چه زما امت په قحط مۀ هلاکوه، او زما امت باندې دشمنان د دوی نه علاوه مه مسلط کوه، دا دواړه ئې راکړل او ما ترې اُوغوختل [اَنۡ لَّا يَجۡعَلَ بَأۡسَهُمۡ بَيۡنَهُمۡ فَمَنَعَنِيۡهَا] [مسلم : ٧٤٤٢، احمد : ١٥١٦]
(چه د دوی خپل مینځ کښې جګړې مۀ راوله، نو الله تعالیٰ دا منع کړو)
او پدې کښې د الله تعالیٰ حکمتونه دی، ولې که دا بندیز الله تعالیٰ لګولې وې نو بیا به بندګان قسراً او قهراً د ګناه نه بند شوی وې، او امتحان به نۀ وې بلکه دنیا کښې به دشمنیانې ختمې وې او حال دا چه الله تعالیٰ دنیا کښې انسانانو ته اختیار ورکړې دې۔
مُسۡتَقَرٌّ : عام انسانان په زمکه کښې اُوسیږی او ددې نه عیسی علیه السلام مستثنیٰ دې په استثناء شرعی سره یا هغه هم اول کښې په زمکه کښې وو او روستو به هم زمکې ته راکوزیږی لکه یو انسان په جهاز کښې وی نو دا هم د زمکې په حکم کښې دې، ځکه زمکې نه لږ وخت دپاره اُوچتیدل محال نۀ دی، البته داسې نشی کیدې چه انسانان په نمر، سپوږمۍ او ستورو کښې وخت تیر کړی او هلته دِې پیدا شی او هلته ژوند تیر کړی

ځکه الله تعالیٰ هلته هواګانے نهٔ دی پیدا کړی (هائیډروجن او آکسیجن) نهٔ دی پیدا، په هغے کښ ساه بندیږی، په زمکه کښ الله تعالیٰ صفت د کشش اچولے دے، کوم جهازونه چه زمکے ته نزدے وی نو زور پرے ډیر وی او چه کله انسان ډیر لرے اندازے ته اُوخیژی نو بیا خکته نهٔ راپریوزی ځکه چه د زمکے کشش ختم شی، او زمکه کښ الله تعالیٰ ثقل پیدا کړے که دا نهٔ وے نو نمر به ځان ته راخکلے وے، او ټول نظام به خراب شوے وے ځکه چه نمر کښ خپل ډیر کشش دے۔

(**مَتَاعٌ**) (مَا يُتَمَتَّعُ بِهٖ قَلِيلًا ثُمَّ يَفْنٰى) هغه شی ته وائی چه په هغے په ژوند کښ فائدے اخستے شی او بیا زر فانی کیږی۔ که ښه شے وی او که بد وی۔ خو چه فائده ئے کمه وی۔

ابن منظورؒ په لسان العرب کښ لیکی : متاع هغه مردارے ته وائی چه مضطر (مجبوره) شخص هغے ته محتاج وی او خوراك د درندګانو او سپو وی نو دارنګه دنیا یوه مرداره ده چه په هغے سره اضطراری فائده اخستل پکار دی، او مقصد ګرځول نهٔ دی پکار، او ددے وجه نه لفظ د متاع د دنیا په سامانونو او ژوند باندے اطلاق کیږی۔

فائده : حیات (ژوند) ته ئے متاع اُووئیلو : (۱) وجه دا ده چه دا د ټولو انسانانو یو امر مرغوب فیه دے، هر انسان ته ژوند محبوب دے۔ لکه متاع هر چا ته محبوب وی۔

(۲) دویم دا چه ژوند د لذات او تمتع نه خالی نهٔ وی ځکه چه الله تعالیٰ مونږ ته ډیر ملائمات او د خواهش مطابق څیزونه په ژوند کښ راکړیدی چه مونږ بندګان د هغے نه فائده اخلو۔ (التنویر والتحریر)

حین : مطلق زمانے ته وائی الله تعالیٰ ته معلومه ده چه قیامت به کله راځی خو د هر سړی یو وخت دے، نو د چا شپیته کاله او د چا اوویا او د چا پنځوس وغیره مقرر دی۔

فائده خارجی : ابلیس مونږ د جنت نه راویستلی یو او مونږ ئے ځان سره قیدیان کړی یو او قانون دا دے چه د وفادار قیدی زړه د خپل وطن سره لګیدلے وی، چه زهٔ ددے قید نه ځان خلاص کړم او خپل وطن ته واپس شم او نا اهله قیدی، په خپل قید کښ خوشحاله وی او خپل اصلی وطن هیر کړی، نو انسانان د شیطانانو قیدیان دی نو بیرته د واپسئ طریقه توبه او استغفار او د الله تعالیٰ طاعت دے، او کتاب او رسول پسے روانیدل دی۔ او که پدے تابعدارئ کښ درنه تقصیر کیږی نو توبه او استغفارئے علاج دے۔

فَتَلَقّٰٓى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ

پس زده کړے آدم (علیه السلام) د خپل رب نه یو څو خبرے نو الله تعالیٰ مهربانی اُوکړه

عَلَيْهِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۳۷﴾

په دهٔ باندے، یقیناً الله تعالیٰ ډیرتوبه قبلونکے، ډیر مهربان دے۔

تفسیر: پدے آیت کښ نور احسانات په آدم علیه السلام بیانیږی چه هغه ته کلمات خودل او بیا د هغه توبه قبلول دی۔ او پدے کښ بیرته جنت ته د واپس کیدو طریقه ښائی چه هغه توبه او استغفار دے۔

تَلَقِّیْ دیته وائی چه د چا ملاقات ته انسان اُوځی استقبال ئے کوی، او په استقبال کښ د انسان په زړه کښ ډیر احترام او محبت وی نو د آدم علیه السلام هم دے کلماتو ته ډیر ضرورت وو چه کله به ما ته داسے خبرے کیږی چه په هغے سره زه الله تعالیٰ ته بیرته نزدے شم او زما او د الله تعالیٰ اُنس بیرته فعال شی۔ او دا به د هر مؤمن حال وی چه په ګناهونو سره د هغه تعلق د الله تعالیٰ نه کټ شی نو بیرته به ئے شوق وی چه کله به الله تعالیٰ سره زما اُنس برابریږی۔ دے وجه نه یو لفظی توبه وی چه صرف په خوله وی او بله په زړه سره او په محبت او شوق سره توبه وی او دا اصلی توبه ده۔

هرکله چه آدم علیه السلام نه خطائی اوشوه او د جنت نه راکوز شو نو ده اوئیل اے الله ! زه به دے جنت ته بیرته څنګه واپس شم او ته به مانه څنګه راضی شے؟ ددے اسباب به څه وی؟ نو الله ورته څه کلمات اُوخودل چه دا اُووایه بس زهٔ به درنه راضی کیږم۔

کَلِمَاتٍ : ددے کلماتو ډیر مصداقات دی (۱) آدم علیه السلام داسے کلمات لوستل :

[سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ، ظَلَمْتُ نَفْسِیْ فَاغْفِرْ لِیْ، اِنَّهٗ لَایَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ] (ذكره الشربينى فى السراج)

(۲) دویم قول : عبد الله بن عباس رضی الله عنه د فَتَلَقّٰى آدَمُ په ضمن کښ فرمائی :

[قَالَ آدَمُ يَا رَبِّ : اَلَمْ تَخْلُقْنِیْ بِيَدِكَ ؟ قَالَ : بَلٰى، قَالَ : اَلَمْ تَنْفُخْ فِیَّ الرُّوْحَ مِنْ رُوْحِكَ ؟ قَالَ : بَلٰى، قَالَ : اَلَمْ تُسْكِنِّیْ جَنَّتَكَ ؟ قَالَ : بَلٰى، قَالَ: يَا رَبِّ ! اِنْ تُبْتُ وَاَصْلَحْتُ، اَرَاجِعِیْ اَنْتَ

اِلَى الْجَنَّةِ ؟ قَالَ : نَعَمْ ،]

[الحاكم فی المستدرك (٢/٥٩٤) رقم : (٤٠٠٢) وصححه ووافقه الذهبی) (السراج المنير]

(آدم عليه السلام اُووئيل : اے ربه ! آيا تا زه په خپل لاس نه يم پيدا كړے ؟ الله اُوفرمايل : آؤ۔ آدم اُووئيل : آيا تا په ما كښې خپل روح نهٔ دے اچولے؟ الله اُوفرمايل : آؤ۔ آدم اووئيل : آيا ستا رحمت ستا په غضب باندے مخكښې نهٔ دے؟ الله اوفرمايل : آؤ۔ آدم اُووئيل: كه زهٔ توبه اُوباسم او خپل حالت دُرست كړم نو آيا ته به ما دوباره جنت ته واپس كړے ؟ الله اُوفرمايل : آؤ۔نو دا مصداق دے ددے آيت چه فتلقى آدم من ربه كلمات۔

(٣) صحيح او راجح دا ده چه هغه كلمات په سوره اعراف (٢٢) كښې ذكر دى (او قرآن خپله تفسير د قرآن كوى) : ﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ﴾ نو پدے كښې الله تعالىٰ مونږ له تلقين راكوى چه داسے تاسو هم كوئ ځكه چه دا خو هسے فضول قصه نهٔ ده بلكه پدے كښې رازونه او د امت هدايت پروت دے۔ مونږ ته وائى چه اے د آدم اولاد ! تاسو سره به شيطان او د هغه اولاد داسے چلونه كوى گناهونه به درنه كوى خو تاسو به هم دغه شان توبه اُوباسئ۔

١- يعنى مقصود دلته يو انعام دے په قبول د توبه د آدم عليه السلام ۔

٢- بل مقصود ترغيب الى التوبه دے ځكه دا بهتر عبادت دے۔

٣- بل مقصود يهود او منافقينو او مشركينو ته دعوت دے چه وقت باقى دے، توبه اُوباسئ، د آدم عليه السلام تابع شئ او د ابليس ضدى اتباع مكوئ دا وجه ده چه دے سورت كښې د توبے مسئله او د التواب الرحيم بار بار مكرر كړيدى ځكه دعوت دے يهودو او كفارو ته۔

(٤) غلط قول دا دے چه توسل بالنبى صلى الله عليه وسلم ئے اُوكړو۔ ليكن هغه حديث ضعيف جداً دے لكه روستو راځى۔ پدے كښې مخكښې درے قوله په يو ځل جمع كول هم جائز دى۔

مِنْ رَّبِّهٖ : يعنى دا كلمات ئے د خپل رب نه واخستل، هغه ورته زده كړل، داسے نهٔ ده چه عرش نه ئے واخستل، لكه دا دروغو قصه ليكلے شويده (روح المعانى او الدر المنثور ليكلے ده) چه آدم عليه السلام كله خطائى اُوكړه نو په عرش لا اله الا الله محمد رسول الله ليكلے شوے وه نو دهٔ د محمد (صلى الله عليه وسلم) په وسيله دعا اُوكړه نو الله تعالىٰ ورته اُوفرمايل : ته محمد (صلى الله عليه وسلم) څنگه پيژنے ؟ هغه اُووئيل تا چه ددهٔ نوم د ځان سره يو ځائے ليكلے دے،

نو ما ته پته اُولګيده چه دا ستا نزدے بنده دے نو ددۀ په وسيله درنه سوال کوم نو الله تعالىٰ ورته اُوفرمايل : چه څه معاف شوے۔ (وَلَوْلَا مُحَمَّدٌ مَا خَلَقْتُكَ) (که محمد (ﷺ) نۀ وے ما به ته نۀ وے پيدا کړے) كما في المستدرك (۱/۶۱۵) كتاب التاريخ، وميزان الاعتدال (۳/۲۴۶) للامام الذهبي) وفي سنده عبد الرحمن بن زيد بن اسلم وهو ضعيف وحديثه لا شيء (الضعفاء والمتروكين ۱/(وضعفه النسائي) وعلي بن المديني جداً) (ضعفاء العقيلي ۲/۳۳۲)

او بيا پکښې د لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الْاَفْلَاكَ موضوع حديث هم خلق بيانوی۔

تاب : توبه دلته په معنی د مهربانی کولو سره ده، او توبه چه د الله تعالىٰ په صفت کښې راشی نو معنیٰ دا وی چه رجوع ئے اُوکړه د سزا نه ثواب ته۔ نو الله تعالىٰ ورله سزا ورنکړه او ثواب ئے ورله ورکړو۔ او انسانان چه توبه اُوباسی نو معنیٰ دا ده :

(اَلرُّجُوْعُ مِنَ الْمَعْصِيَةِ اِلَى الطَّاعَةِ) (رجوع به کوی د ګناه نه طاعت ته) که نيك عمل ورسره نۀ کوی نو بيا دا توبه نۀ ده۔ د ګناه د ختمولو دپاره بهترين علاج توبه ويستل دی، د توبے مثال داسے دے لکه جامه وينځل چه د خيرو نه پاکه شی۔

حديث کښې راغلی دی، نبی ﷺ فرمايلی دی : [اِنَّهٗ لَيُغَانُ عَلٰى قَلْبِىْ وَاِنِّىْ لَاَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ فِى الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ] [مسلم: ۷۰۳۳] (زما په زړه باندے خړوالے او خفګان راځی نو زۀ د الله تعالىٰ نه په ورځ کښې سل کرته بخنه غواړم) نو هرکله چه د الله تعالىٰ رسول (ﷺ) دومره بخنے غواړی چه هغه لا بخلے شوے بنده دے نو مونږ له خو ډير استغفار او توبه پکار ده۔ کاميابی په توبو ويستلو کښې ده، لکه الله تعالىٰ فرمائی : (وَتُوْبُوْا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ) (النور:۳۱)

د لږو خلقو د استغفار او توبے په وجه په ډيرو خلقو رحمتونه او راحتونه نازليږی۔

د توبے د قبوليت شرطونه

بيا توبه د بنده په حقوقو کښې څلور شرطونه لری۔

(۱) (اَلنَّدَمُ) په تيره شوے ګناه پښيمانه کيدل۔

(۲) (اَلْعَزْمُ عَلٰى اَنْ لَّا يَعُوْدَ) (کلکه اراده کول چه دا کار به بيا نۀ کوی)

(۳) (اَلْاِقْلَاعُ عَنِ الذَّنْبِ) (فوراً د ګناه نه لاس اخستل)۔

(۴) (اَدَاءُ الْحَقِّ اَوِ التَّحَلُّلِ)۔ (هغه غير ته حق اداء کول يا ترے معافی غوختل)

او د الله تعالىٰ په حقوقو کښې دغه درے شرائط لری۔ خو ورسره دا شرط هم دے چه

طاعت به شروع کوی۔ او نیك عمل به کوی لکه سورة فرقان (٧١) کښې رازی (وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مَتَابًا)

التَّوَّابُ: او تواب او رحیم ئې دوه صفتونه راوړل او جمله اسمیه ئې راوړه، پدې کښې يو قسم وعده ده ټول مخلوق سره چه هرکله ستاسو نه تقصير کيږی نو زه به درته معافی کوم په توبه او دعاء سره ، د هر چا توبه قبلوی او په هر چا مهربانی کوی، يوائې د انبياؤ پورې خاص نۀ ده۔ او د تواب صيغه ئې د مبالغې راوړه اشاره ده چه توبه الله تعالىٰ بار بار قبلوی۔

فائده: تواب مبالغه ده ځکه د توبې تعلق د الله تعالىٰ سره په څو قسمه دې (١) توجه پيدا کول توبې طرف ته (٢) توفيق د توبې ورکول (٣) توبه قبلول (٤) ګناه معاف کول ۔ (٥) او په توبه باقی پاتې کيدل (٦) بار بار توفيق ورکول (٧) د هر چا توبه قبلول (٨) د هر قسم ګناه نه توبه قبلول ځکه الله تعالىٰ عاجز ندې د هر قسم ګناه معاف کولو نه (٩) لږ او ډير ګناهونه معاف کول۔ (١٠) پاخه او کچه ګناهونه لرې کول او د هغې اثر ختمول څومره مهربانه رب دې ؟!۔

په لفظ د الرحيم کښې دوام الرحمة بالتوبه وغيره ته اشاره ده چه الله تعالىٰ په توبې سره هميشه رحم کوی۔ ځکه تواب د فعال وزن دې انقطاع پکښې راتلې شي نو الرحيم ئې پسې ذکر کړو دپاره د دلالت په دوام باندې۔

قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا ۚ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى
مونږ ووئيل : کوز شئ ددې (جنت) نه پس که چرته راشی تاسو ته زما د طرفنه هدايت
فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾
نو چا چه تابعداری اُوکړه د هدايت زما نو نۀ به وی هيڅ يره په دوی او نۀ به دوی غمژن شی۔

تفسير:

دا بل علاج دې د تقصير معاف کولو۔ او جنت ته د واپس کيدو نور دوه اسباب ذکر کوی۔

(**اهْبِطُوا**): (۱) دوباره ئے د کوزیدو حکم اُوکړو دیته زمونږ د مشائخو په اصطلاح کښې اعادهٔ بُعْدِ عَهْد وائی۔ (یعنی زمانه ډیره تیره شویده نو بیرته خپل مقصد ته واپس کیږی)

(۲) دارنګه دے دپاره چه راتلونکے حکم پدے باندے مرتب کړی۔ او هرکله ئے چه مخکښې یو ځل دکوزیدلو حکم اُوکړو او بیا ئے د توبے خبره اُوکړه نو دا وَهم پیدا شو چه هرکله توبه قبوله شوه نو کیدے شی چه دوی ته د کوزیدو حکم منسوخ شوے وی، نو دویم ځل ئے ذکر کړو چه معاف خو شوئ لیکن بیا به هم د جنت نه کوزیږئ ځکه که انسان د ګناه نه بعد معاف هم شی خو ګناه به خپل اثر کوی۔ **مثال** ئے دا دے : سړے زهر اُوخوری، که زر توبه اُوباسی او قبوله هم شی لیکن بیا به هم زهر خپل تاثیر کوی۔ نو ددے ونے خوړلو دا تاثیر شو چه د جنت نه محروم شو او پدے کښې د الله تعالیٰ حکمة وو، خپله وعده ئے پوره کوله چه کومه ئے په (إِنِّيْ جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيْفَةً) سره کړے وه۔ لیکن که یو انسان په اخلاص سره توبه اُوباسی نو الله تعالیٰ ورله د ګناه اثر هم ختموی لکه آدم علیه السلام چه دنیا ته راغلو نو بیا خوشحاله هم شو۔

(۳) او بعض وائی : مخکښې کوزیدل وو د جنت نه آسمان ته او دا دویم کوزیدل دی د آسمان نه زمکے ته۔ لیکن اوله خبره غوره ده۔ (ابن کثیر/۱/۲٤۰)

(**فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ**) پدے عبارت کښې ترغیب الی اتباع الکتاب والسنة دے په بشارت سره۔

(که چرته) لفظ ځکه وائی چه په الله تعالیٰ خو فرض نهٔ ده چه پیغمبران او کتابونه به رالیږی۔ یعنی که زما خوښه شوه پیغمبر به در اُولیږم، او که درومے نهٔ لیږلو نو په الله تعالیٰ څه زور نشته۔ خو الله تعالیٰ د هدایت دپاره رسولان رالیږلی دی او دا د الله تعالیٰ محض احسان دے او پدے کښې تسلی ده چه د جنت نه خو راکوز شوئ لیکن که دنیا کښې مو د هدایت تابعداری اُوکړه بیرته به دے جنت ته راواپس کیږئ۔ او دا خطاب دے آدم او حواء علیهما السلام او د هغوئ اولادو ته۔

او د فَإِمَّا جزاء پټه ده (فَاتَّبِعُوْهُ) (یعنی تابعداری ئے اُوکړه)

(۲) بله فائده ئے دا ده چه د الله تعالیٰ ضرورت او حاجت نشته بلکه انسانان د هدایت اتباع ته محتاج دی۔ نو ځکه ئے په طریقه د تعلیق سره ذکر کړو۔

هُدَایٰ : د هدایت نه مراد دلته : (اَلْكُتُبُ وَالرُّسُل) (کتابونه او رسولان) دی۔ (ابوالعالیة)۔

(۱) او نسبت د هدایت ئې ځان ته اُوکړو ځکه چه د ځان نه هدایت جوړول او په هغې باندې عمل کول الله تعالیٰ ته مقبول نهٔ دی۔

(۲) بـل پـدې کـښې تعظیم د امر الهدایة دې چه کوم هدایة د الله تعالیٰ د طرف نه راشی نـو هـغـه لائـق د تـابعدارئ دې۔ او په همدغه سره په دنیا کښې اطمینان د زړهٔ راځی او په آخرت کښې کامیابی۔ (الوسیط ۱ / ٦۲)

دا د هـدایت ذریـعـې دی، لـکه قرآن هدایت دې : (هدی للمتقین)۔ دِ هغې سره ئې تعلق شو۔

فَمَنْ تَبِعَ هُدَایَ دلتـه دا معنی هم ده : (فَمَنْ تَبِعَ کِتَابِیْ) (چا چه زما د کتاب تابعداری اُوکړه)۔ په سورة طه کښې (۱۲۳) ئې (فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَایَ) مزید ذکر کړیدی۔

وجه دا ده چه هلتـه مـوضـوع، د قـرآن کریم عظمتِ شان بیانیدله نو تاکیدی لفظ ئې راوړو او دلته خو عامه خبره ده نو ځکه ئې تَبِعَ مجرد راوړو۔

(فَلا خَوْفٌ) ۱ – (فَلَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ مِنَ الْعِقَابِ وَالْحُزْنِ مِنَ الثَّوَابِ)

(خوف) د عقاب (سزا) نه وی او حزن د (عدم ثواب) نه وی ۔ (یعنی نهٔ به یره وی په دوی د عذاب د الله تعالیٰ نه او نهٔ به د ثواب نه د محرومیدو خطره ورسره وی)۔

(۲) (لَاخَـوْفٌ عَـلَیْهِمْ فِی الآخِرَةِ) یـا یـو د آخـرت سـره اُولـګـوه او بل د دنیا سره (یعنی خوف به پرې په آخرت کښې نهٔ وی)

(وَلَاهُمْ یَحْزَنُوْنَ بِمَا فَاتَهُمْ مِنَ الدُّنْیَا) (یعنی د دنیا د څیزونو پسې به غم نهٔ کوی)

(۳) یـا معنیٰ داسې ده : (اِنَّ نُـفُـوْسَـهُـمْ آمِنَةٌ مُطْمَئِنَّةٌ لَایَعْتَرِیْهَا فَزَعٌ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ لِفَوَاتِ مَطْلُوْبٍ اَوْ فَقْدِ مَحْبُوْبٍ) (الوسیط)

(یـعـنـی د دوی نـفسـونـه به په امن او اطمینان کښې وی هیڅ قسم یره به پرې په آخرت کښې نهٔ وی او غمجن به نهٔ وی په فوت کیدو د مقصود او ورك کیدو د محبوب څیز)

او خوف نکره ده دلالت کوی پدې چه په نیکانو بندګانو به په وخت د مرګ او په قبر او پـه وخت د راپاڅیدو د قبرونونه او په میدان د حشر کښې او په وخت د تقسیم د عملنامو کښې او په وخت د میزان او صراط کښې هیڅ قسم خوف نهٔ وی۔

فائده : دا دواړه ئې ذکر کړل ځکه ټول انسانان چه په دنیا کښې څومره کوشش کوی نو ددې دوه مـقـاصـدو دپاره۔ اِزَالَةُ الْـخَـوْفِ وَالْحُزْنِ. (چـه خـوف او غـم زائل شی او امن او

خوشحالي حاصل شي) دے خبره کښے ته سوچ اُوکړه، دا څومره انسانان چه لګيا دی څوك مزدوريانے کوی او څوك د بادشاهيانو پسے منډے وهی، او څوك تجارتونه اوکاروبارونه کوی، ددے دوه کارونو دپاره چه خوف راباندے رانشي او امن راته ملاؤ شی او غمجن نه شم خوشحالي راباندے راشي۔ بيا به هر مؤمن صادق ته دا دوه نعمتونه ورکولے شي۔ ليکن د درجاتو ترمينځ به هغوی کښ ضرور فرق شته۔ چا چه مکمل تابعداری د هدايت کړی وی نو هغهٔ باندے به هيڅ قسم خوف نهٔ وی او چا چه تابعداریٔ کښ معمولي نقصان راوستے وی نو هغه باندے به معمولي خوف او حزن وی۔

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا
او هغه کسان چه کفر ئے اُوکړو (په الله باندے) او دروغجن ئے کړل آيتونه زمونږ
اُولٰئِكَ أَصْحٰبُ النَّارِهُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿٣٩﴾
دا کسان اُور والا دی دویٔ به په دے کښ هميشه وی۔

تفسير : اُوس نهٔ منونکو ته يره او عذاب بيانوی، يعنی دنيا کښ چه هدايت (رسولان او کتابونه) راغلل که ددے نه چا اعراض اُوکړو او خپل خواهشات ئے رامخکښ کړل او د الله تعالیٰ او د رسول او د هغه د کتابونو تکذيب ئے اُوکړو نو دوی سره د اُور وعده شويده چه الله تعالیٰ به ئے اُور ته داخلوی او هميشه هميشه به پکښے اُوسيږی۔ ځکه دهٔ د خپل ژوند مقصد شا ته ګوزار کړو۔

نو پدے آيت کښ ترهيب دے (يره ورکول دی) د اُور نه په سبب د کفر او تکذيب۔ په دے ترغيب او ترهيب کښ مقصد په کتاب الله باندے ايمان ته دعوت دے او په يهوديانو تعريض دے۔ چه دویٔ کفر او تکذيب کوی اُور ته به ځی۔

(**كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا**) (١) د كَفَرُوْا او كَذَّبُوْا تنازع ده په (بآيتنا) لفظ کښ۔ يعنی کفر او تکذيب ئے زما د آيتونو کړے وی۔

(٢) –يا [كَفَرُوْا بِاللهِ] يعنی دغه د هدايت راليږونکے ذات ئے اُونهٔ منلو، او (**كَذَّبُوْا**) يعنی د هغهٔ د آيتونونه ئے هم انکار اُوکړو۔ د هغهٔ شرع منلو ته تيار نهٔ شو۔

(٣) يا [كَفَرُوْا بِالْجَنَانِ وَكَذَّبُوْا بِاللِّسَانِ]

یعنی په زړهٔ کښې ئې کفر اُوکړو او په ژبه ئې تکذیب اُوکړو.

بِـآیَـاتِنَا : کښې اشاره ده (مِنِّیْ هُدًی) تـه چـه دا آیتـونـه راغـلـل. او په هغې باندې دوی تـکـذیـب اُوکـړو. او ضمیر د جمع متکلم ئې راوړو دې دپاره د مخاطبینو په زړه کښې یره کینوی چه دا زمونږ آیتونه دی او دوی پرې تکذیب کوی.

د آیات لفظ معانی

آیتـونـه درې مـعـنـې لـری : ۱- یو آیتونه د قرآن دی. چه دا څوك اُونه منی نو جهنم ته به ځـی. دیتـه آیات متـلـوه وئیـلـې شـی. ۲- دویـم آیتـونـه په معنی د معجزاتو سره، یعنی د پیـغـمبرانـو مـعـجزې اُو نهٔ منی. ۳- او دریم (اَلآیَاتُ الْکَوْنِیَّةُ) (کـونـی آیـتـونـه (دلائل) لکه آسـمـان، زمـکـه، رزقونه بارانونه وغیره، دا ټول څیزونه د الله تعالیٰ د وجود او د هغه د توحید نخې دی. لکه مخکښې بیان شو په (خَلَقَکُمْ وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِکُمْ) او په (کَیْفَ تَکْفُرُوْنَ بِاللهِ) کښې.

فائده : داسې ئې اُونهٔ وئیل : (وَمَنْ لَّمْ یَتَّبِعْ هُدَایَ) الـخ ځـکـه چـه بیا په دې وعید کښې ماشومان او هغه څوك چه دعوت ورته نهٔ وی رسیدلې، داخلیدل.

اَصْحَابُ النَّارِ : اصحـاب جـمـع د صـاحب ده په معنیٰ د ملګری او پیوستـه سره، دلته تـرې لازم مـراد دې یعنی د اُور سره به لازم وی او د اُور لائق خلق دې. (۲) دویم د اصحاب النار کله اطلاق په خزانچیانو د اُورَ کیږی. لکه په سورة المدثر (۱۹) کښې.

خَـالِدُوْنَ : دا د الله تـعـالیٰ اَټـلـه فـیـصـلـه ده چـه الله تـعـالیٰ وائی : کتاب او رسول مې دراُولیږلو که چا د هغه خبره اُومنله نو جنتی او که چا اُونهٔ منله نو جهنمی دې. دا ئې لنډ حاصـل دې. بـس پـه دغـې دِې هـر انسـان ځـان تـلـی، نو قرآن کریم د ټُول کتاب دې، چه مونږه هدایت د الله تعالیٰ څومره منو.

د ابو سعید خدری رضی الله عنه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل :

[اَمَّـا اَهْـلُ الـنَّـارِ الَّذِیْنَ هُمْ اَهْلُهَا فَاِنَّهُمْ لَا یَمُوْتُوْنَ فِیْهَا وَلَا یَحْیَوْنَ وَلٰکِنْ نَاسٌ اَصَابَتْهُمُ النَّارُ بِذُنُوْبِهِمْ -اَوْ قَالَ بِخَطَایَاهُمْ- فَاَمَاتَهُمْ اِمَاتَةً حَتّٰی اِذَا کَانُوْا فَحْمًا اُذِنَ بِالشَّفَاعَةِ......]

جهنمیان -کوم چه د جهنم اهل دی- په جهنم کښې به همیشه دپاره اُوسیږی، نهٔ به په هـغـې کـښې مـری او نـهٔ بـه ژوندی وی (په فائده من ژوند) لیکن څه خلق به داسې وی چه هـغـوی بـه د خپـلـو ګناهونو په وجهٔ جهنم ته ګوزار شی بیا به هغوی مړهٔ شی تردې چه سکارهٔ به شی، د هغې نه بعد به د هغوی دپاره د شفاعت (سفارش) اجازت اُوکړې شی.

[مسلم : ٤٧٧، احمد : ١١٠٩٢] - (ابن کثیر)

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ
اے اولاد د یعقوب (ﷺ) ! رایاد کړئ نعمتونه زما هغه چه ما انعام کړے
عَلَيْكُمْ وَاَوْفُوْا بِعَهْدِيْٓ اُوْفِ
په تاسو باندے، او پوره والے اُوکړئ په لوظ زما (ستاسو سره)، زۀ به پوره کړم
بِعَهْدِكُمْ وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ ﴿٤٠﴾
لوظ ستاسو او خاص ځما نه اُویریږئ (په احکام منلو سره)

تفسیر : ربط : (۱) مخکنو آیتونو کښ الله تعالیٰ د بنی نوع انسان د پیدائش ابتداء ذکر کړه، بیا ئے عام انسانانو ته د خپلے بندګئ دعوت ورکړو ددے نه بعد اُوس پدے آیتونو کښ خاص بنی اسرائیلو ته د اسلام د قبلولو دعوت ورکولے شی دارنګه د صحیح بندګئ دعوت هم ورکولے شی ځکه هغوی په مدینه کښ د رسول الله ﷺ سره نزدے اُوسیدل او زیات حقدار وو چه په رسول الله ﷺ باندے ئے ایمان راوړے وے، ځکه د تورات په ذریعه هغوی د رسول الله ﷺ صدق پیژندلے وو۔

(۲) د آدم (ﷺ) خلافت ذکر شو نو اُوس بیانوی چه دا خلافت په بنی اسرائیلو کښ زاروان وو نو د هغوی نه دا خلافت ولے مسلمانانو ته نقل کړے شو؟ ځکه هغوی کښ د الله تعالیٰ صحیح عبادتونه نۀ وو او صحیح اخلاق هم پکښ نۀ وو۔ بلکه فسادونه پکښ وو۔ (فی ظلال القرآن)

(۳) مخکښ (هو الذی خلق لکم) کښ بیان د پیدائش د زمکے او د هغے د څیزونو وو، بیا خلافة الارض د انسانانو دپاره او د هغے اسباب د بقاء او د حصول چه هغه د کتابونو او د رسولانو هدایة قبلول۔ وو اُوس واقعه د بنی اسرائیلو بیانوی چه پدے کښ اسباب د زوال د خلافت دی۔ (٤) مخکښ اشارةً دعوت وو یهودو ته اُوس صراحةً خطاب ورته کوی۔

(٥) مخکښې آياتونه په منزله د مقدمه وو اُوس مقصود شروع شو ليکن د قرآن کريم مقدمه هم د عظيم مقاصدو نه ډکه وی۔

فائده : په قرآن کريم کښې د بنی اسرائيلو تذکره زياته کيږی او د هغوی قبائح ډير بيانيږی ددے يو څو حکمتونه دی (۱) بنی اسرائيل په هر وخت کښې موجود دی او ډير دی، يهوديت او نصرانيت هر وخت شته۔ (۲) امت محمديه غالباً په اکثرو څيزونو کښې د يهودو او نصاراؤ تابعداری کوی لکه حديث کښې دی :

[لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتّٰى لَوْ دَخَلُوْا جُحْرَ ضَبٍّ لَسَلَكْتُمُوْهُمْ وَفِیْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ : لَاتَّبَعْتُمُوْهُمْ] [بخاری٣٤٥٦، مسلم : ٢٩٥٢، واحمد والطيالسی]

(تاسو به د پخوانو خلقو په طريقو پسے داسے برابر راونيږئ لکه يوه لويشت چه د بلے لويشت سره او يو گز د بل گز سره برابريږی، تردے چه که هغوی د خادمئ سوړے ته ننوتی وی نو تاسو به هم د هغوی تابعداری اُوکړئ) يعنی په احکامو کښې به حيلے اُوکړئ څکه خادمئ حيله گر حيوان دے۔ صحابه کرامو عرض اُوکړو : يا رسول الله ﷺ يهود او نصارئ مراد دی؟ وے فرمايل : (فَمَنْ ؟) (نور څوك دی ؟)۔ يعنی همدغه مراد دی۔

(۳) دريم مقصد : (تَحْذِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ عَنِ الْاِتِّصَافِ بِأَوْصَافِهِمْ) (مسلمانانو ته يره ورکول دی چه د هغوی په شان صفات اختيار نکړی ورنه دوی نه به هم خلافت زائل شی)۔

(٤) بل مقصد پکښې اصلاح اليهود ده چه تاسو کښې دومره قبائح دی نو راشئ دا د ځان نه اُوباسئ او صحيح ايمان راوړئ چه په دے امت کښې داخل شئ۔

(٥) (تَنْبِيْهُ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلٰی أَعْدَائِهِمْ)

(مؤمنانو ته خبردارے ورکوی چه خپل دشمنان اُوپيژنئ او د هغوی تابعداری اُونکړئ)

(٦) (تَصْحِيْحُ التَّصَوُّرِ فِيْهِمْ) ۔(د امت مسلمه د تصور او عقيدے او گمان اصلاح کوی او تصفيه کوی چه هسے نه په يهودو او نصاراؤ ښه گمان اُونکړی۔ نو په غټ فساد کښې به واقع شی۔

(۷) دا امت د بنی اسرائيلو سره مشابه دے او نبی ﷺ ځان د موسیٰ ؑ سره مشابه کړيدے نو کوم خطاب چه بنی اسرائيلو ته وی هغه به دے اُمت ته هم وی۔

ددے وجه نه عمر فاروق ؓ په منبر باندے اُوفرمايل : [قَدْ مَضٰی بَنُوْ اِسْرَائِيْلَ (وَفِیْ رِوَايَةٍ

مَضَى الْقَوْمُ) وَإِنَّمَا يَعْنِىْ بِهِ أَنْتُمْ] [تفسير ابن ابى حاتم ١/١٢٧) وابن المنذر]۔

(بنی اسرائیل تیر شویدی او الله تعالیٰ پدیے آیتونو باندیے تاسو قصد کوی)۔

لهذا چا کښبے دا صفات راغلل نو هغه به د یهودو سره مشابه وی او د هغوی په شان عذابونه به پریے راځی۔

(يَا بَنِیْ إِسْرَائِيْلَ) دیے ته خطاب خاص پس د خطابِ عام نه وائی، مخکښې عام خطاب وو (يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا) دلته اُوس خاص بنی اسرائیلو ته الله تعالیٰ متوجه کیږی۔ یعنی یهود او نصاراؤ ته۔ چه راشئ سم ایمان راوړئ دا تاسو څه ګډیے وډیے شروع کړیدی . دا نور عرب او عجم که ایمان نهٔ راوړی نو دا خو جاهلان او ناپوهه دی، تاسو خو پوهه خلق یئ، الله تعالیٰ کتابونه درکړیدی، ځو مره انعامات ئے درسره کړیدی، اُوګوره سزاګانے ئے هم درکړیدی، الله تعالیٰ هم هغه دیے۔ که نهٔ سمیږئ همغه شان عذابونه به درکوی او نهٔ به مو پریدی۔

او ددیے نزدیے واقعیے سره ئے مناسبت دا دیے چه الله تعالیٰ اول انسانانو ته خلافت ورکړیے وو، بیا ئے روسته بنی اسرائیلو ته ورکړو، بنی اسرائیلو کښې نا اهلی پیدا شوه نو الله تعالیٰ تریے بیرته د دین مشری واخستله۔ دیے اُمت ته ئے رانقل کړه او هغوی ئے بے مشریٔ پریخودل۔ د دین مشری اُوس د بنی اسرائیلو (د یهود او نصاراؤ) سره نشته، اُوس د ګمراهیٔ مشران دی۔

مضمون: پدیے آیتونو کښې تر (٤٦) شپږ خلویښت آیت پوریے نهه امرونه (اُذْكُرُوْا، اَوْفُوْا، فَارْهَبُوْن، آمِنُوْا، فَاتَّقُوْن، اَقِيْمُوا الصَّلَاةَ، آتُوا الزَّكوٰةَ، وَارْكَعُوْا، وَاسْتَعِيْنُوْا) او پنځه نواهی (لَا تَكُوْنُوْا اَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ، لَا تَشْتَرُوْا، لَا تَلْبِسُوْا، لَا تَكْتُمُوْا، وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ په معنی د وَلَا تَنْسَوْا) الله ذکر کړیدی۔ یعنی الله تعالیٰ فرمائی : دا کارونه اُوکړئ او ددیے کارونو نه ځان اوساتئ۔ نو تاسو به هم په دیے غوره اُمت کښې داخل شئ۔ او پدیے کښې دعوت دیے ایمان بالله ته او قرآن او رسول ته، او تحذیر (یره ورکول) دی د هغه کارونو نه چه دین نړوی، او تیزی ورکول دی په ذکر د داسے امورو چه په هغے سره د دین او خلافتِ حقه مضبوطوالے راځی۔

او ددیے آیتونو نه تر (١٤٢) آیت پوریے تهول بحث د بنی اسرائیلو سره دیے، کله الله تعالیٰ دوی ته په نرمه لهجه کښې اسلام طرف ته دعوت ورکوی، په دوی او د دوی په

پلارانو او نیکونو باندے خپل نعمتونه ذکر کوی، کله ئے هغوی یرولی دی نو کله ئے د هغوی په خلاف حجت قائم کړیدے او د هغوی بد عملیانے ئے ذکر کړیدی او د هغوی د پلار نیکه سزاګانے ئے ذکر کړیدی، دا ټول دوی ته د دعوت طریقے دی۔

﴿ يَا بَنِيٓ اِسۡرَآئِيۡلَ ﴾ (بَنِیٌ) لفظ په عرف کښ په ټولو اولادو اطلاق کیږی که نارینه وی که زنانه، نزدے اولاد وی که وړاندے۔

اِسۡرَائِيۡل د دوه لفظونو نه جوړ دے، په عبرانئ (یا سُریانئ) ژبه کښ د اِسۡر معنیٰ ده عبد (بنده) او اِیۡل په معنی د الله سره (یعنی عَبۡدُ الله) (د الله تعالیٰ بنده)۔

بعض وائی : په معنیٰ د (صَفۡوَةُ الله) (د الله تعالیٰ غوره بنده) سره دے۔ او دا د یعقوب عليه السلام لقب (صفتی نوم) وو، یعنی اے اولاد د یعقوب ! چه هغه د الله تعالیٰ بندګی کړے وه نو تاسو هم اُوکړئ۔ نو په دے کښ هغوی ته ترغیب او تیزی ورکول دی په خالص عبادت او بندګئ باندے، چه د پلار نیکه طریقه خو راتینګه کړئ۔ د یعقوب عليه السلام د اَولادو نه یهود او نصاریٰ مراد دی۔

د یعقوب عليه السلام دولس ځامن وو، چه د هغے نه دولس قبیلے جوړے شوے وے او په هغوی کښ ډیر انبیاء او رسولان (علیهم الصلاة والتسلیمات) راغلی وو، ترد ے چه امام حافظ عماد الدین ابن کثیر لیکی : ټول انبیاء په بنی اسرائیلو کښ وو، سویٰ د لسو نه نوح، هود، صالح، شعیب، ابراهیم، لوط، اسحاق، یعقوب، اسماعیل او محمد علیهم الصلاة والسلام۔ او عرب د اسماعیل عليه السلام اولاد دی، د عدنان او د قحطان په اولادو کښ راغلی دی۔

د بنی اسرائیلو نه یهودیان پیدا شو چه په عربو کښ دوی ته د تیر شوی تاریخ او د علم او مذهب سره د تعلق په وجه یو خاص مقام حاصل وو، پدے وجه دوی ته دعوت ورکوی چه زما زاړهٔ او نوی نعمتونه رایاد کړئ۔ او زما د وعدو پوره والے اُوکړئ۔

(**اُذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِيَ**) رایاد کړئ هغه احسانات چه ما په تاسو کړیدی، هغه احسانات کوم دی؟ نو هغه ډیر شے دی چه الله تعالیٰ اته (۸) احسانات روستو بیان کړیدی (۴۸) او (۶۸) آیت کښے او سورت آل عمران (۱۸۷) او سورت مائده (۱۲) آیت کښے هم ذکر دی، چه اُوګوره الله تعالیٰ تاسو کښے بادشاهان مقرر کړیدی او تاسو کښ ئے پیغمبران رالیږلی دی، کتابونه ئے نازل کړیدی او د خوراك دپاره ئے من او سلویٰ درکړی دی۔ اود

فرعون او د هغه د لښکر نه ئے بچ کړئ، د کانړو نه ئے ستاسو دپاره چينے روانے کړے۔ او تاسو ئے په خپله زمانه کښې په نورو خلقو غوره کړئ، او دا نعمتونه دوه قسمه دی، دينی، او دنيوی۔

فائده : نعمة ئے ولے مخکښې ذکر کړو؟

(۱) - [لِأَنَّ ذِكْرَ النِّعَمِ بَاعِثٌ عَلَى الشُّكْرِ وَالْحَيَاءِ] وجه دا ده چه کله بنده د الله تعالیٰ نعمت او احسان رایاد کړی نو هغهٔ کښې حياء پيدا شی او د شکر ماده پکښې راشی او د منلو والا جوړيږی، ځکه چه چا کښې لږ شان عقل وی نو د الله تعالیٰ په احسانات يادولو سره زر راګرځی، ددے وجه نه ئے اول نه ورته داسے اُونه وئيل چه ايمان راوړئ ځکه چه د ايمان باعث د الله تعالیٰ نعمتونه رايادول دی، او پس د يادولو نه به خپله ايمان راوړی۔

(۲) ابو حيانؒ فرمائی : [لِأَنَّ تَذْكِيرَ النِّعَمِ السَّالِفَةِ يُطْمِعُ فِي النِّعَمِ اللَّاحِقَةِ وَذٰلِكَ الطَّمَعُ يَمْنَعُ مِنْ إِظْهَارِ الْمُخَالَفَةِ] (البحر المحيط ۱/۲۱۹)

(ځکه چه مخکنی نعمتونه رايادول طمع ورکوی په نوی نعمتونو، او کله چه بنده د الله تعالیٰ د نوی نعمتونو په طمع شی نو بيا د هغه مخالفت نهٔ کوی)

فائده : نعمة مفرد دے او مضاف شويدے، نو دا مفيد د استغراق وی۔ يعنی زما ټول نعمتونه دينی او دنيوی رایاد کړئ۔ او ځان ته ئے نسبت اُوکړو اشاره ده د هغه نعمتونو فراخوالی او غټ والی ته چه ډير زيات احسانات دی۔ او تخصيص ته اشاره ده چه صرف زما د طرف نه دی۔

عَلَيْكُمْ : يعنی ستاسو په پلارانو او نيکونو باندے الله تعالیٰ دغه احسانات کړيدی او په پلار نيکه احسان داسے وی لکه په بچو باندے نو د هغوی په شان سرکشی مهٔ کوئ ګنے د هغوی په شان عذابونه به درکړے شی۔ دارنګه په تاسو هم دغه شان احسانات شويدی۔

فائده : بيا د نعمت رايادولو څه معنیٰ ده؟ نو د نعمت رايادولو مطلب دا وی چه د هغے شکر اُوکړئ، توحيد اُومنئ، ددے رسول ﷺ رسالت باندے ايمان راوړئ، د الله تعالیٰ د آيتونو تکذيب مهٔ کوئ، او په ژبه باندے د هغے يادول هم يو نوع د شکر ده۔ ځکه د شکر نخه دا ده چه انسان دغه نعمت په خوله باندے ذکر کړی،

لکه حديث کښې راغلی دی :

[فَإِنَّ مَنْ أَثْنَى فَقَدْ شَكَرَ وَمَنْ كَتَمَ فَقَدْ كَفَرَ] [ترمذی ٢٠٣٤، بسند صحیح]

(یعنی چا باندے چه نعمت اُوشو او د هغے اظهار اُوکړی (په صفت کولو) نو دۀ شکر اُوکړو او چه پټ ئے کړو نو ناشکری ئے اُوکړه)۔ (وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ) (د الله تعالىٰ نعمت بیانوه) اگرکه تعیین ضروری نۀ دے۔

رسول الله ﷺ یو مالدار صحابی (د ابو الاحوص پلار مالك) ته چه بیکاره جامے ئے اغوستے وے – اُوفرمایل: (فَلْيُرَ أَثَرُ نِعْمَةِ اللّٰهِ عَلَيْكَ)

(د الله تعالىٰ د نعمت اثر دِے په تا راښکاره شی)

[ابوداود: ٤٠٦٥، احمد: ٧٢٧٠ بسند صحیح]

او د ذکر نه مراد په زړۀ کښې هم رایادول وی چه د هغۀ نه به رضا کیږی، او خفه به نۀ وی۔

(وَأَوْفُوا بِعَهْدِي أُوفِ بِعَهْدِكُمْ) ددے عهدی نه څه مراد دے؟ نو ددے ډیر مصداقات دی:

(١) (اَلْعَمَلُ بِكِتَابِ اللّٰهِ) (د الله تعالىٰ په کتاب به عمل کوئ) لکه بقره: ٦٣) کښې دی۔

(٢) توحید اختیارول (یعنی د شرك فی العبادة نه ځان ساتل) (بقره: ٨٣)

(٣) او د والدینو او ذوی القربیٰ او یتیمانانو او مسکینانو حقوق اداء کول (بقره: ٨٤)

(٤) خلقو ته دعوت د دین کول۔ (وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا) (بقره: ٨٣)

(٥) اقامة الصلاة۔

(٦) زکوٰة اداء کول۔

(٧) د ناحقه قتل نه ځان ساتل۔

(٨) یو بل د کورونو ویستلو نه ځان ساتل۔ (بقره: ٨٣/٨٤)

(٩) (اَلْإِيْمَانُ بِمُحَمَّدٍ ﷺ وَإِظْهَارُ صِفَتِهِ)

(په آخری رسول به ایمان راوړی او دۀ صفات به راښکاره کوی کوم چه په تورات او انجیل کښې ذکر دی) دا په سورة آلعمران (٨١) کښې ذکر دی۔

(١٠) خلقو ته د الله تعالىٰ د کتاب تبیین (تشریح او تفسیر) کول۔ (آلعمران: ١٨٧)

(١١) اقامة الصلاة، ایتاء الزکوة، او ایمان په ټولو رسولانو لرل او د هغوی د دین امداد کول او په دین حق باندے خرچ کول۔ (المائدة: ١٢)

(۱۲) تقوىٰ اختيارول او په تولو آيتونو باندے مضبوط ايمان لرل۔ (اعراف : ١٧٢)
(۱۳) توحيد ربوبيت منل۔ (اعراف : ١٥٦)
نو الله تعالىٰ دوى ته وئيلى وو چه زما پيغمبران به منئ، زما كتابونه، زما امرونه به منئ كه دا تاسو اُومنئ نو زۀ به ستاسو لوظ پوره كړم، جنت به دركړم، دنيا كښې به درله خائسته ژوند دركړم، او تاسو ته چه كوم عروج او فضيلت حاصل وو هغه به تاسو ته دوباره دركړے شي۔

مفسرينو داسے مصداقات بيان كړيدى : (۱) امام قرطبیؒ فرمائی : [هُوَ عَامٌّ فِيْ جَمِيْعِ اَوَامِرِهٖ وَنَوَاهِيْهِ وَوَصَايَاهُ فَيَدْخُلُ فِيْ ذٰلِكَ ذِكْرُ مُحَمَّدٍ ﷺ الَّذِيْ فِي التَّوْرَاةِ وَغَيْرِهٖ] (١/٣٣٢)
(يعنى ددے عهد نه تول اوامر او نواهى او وصيتونه د الله تعالىٰ مراد دى نو پدے كښې د رسول الله ﷺ تذكره هم مراد ده كومه چه په تورات وغيره كښې وه) چه هغه به خلقو ته ښكاره كوى او ايمان به پرے راوړى۔
(۲) (اَوْفُوْا بِعَهْدِيْ فِيْ أَدَاءِ الْفَرَائِضِ عَلَى السُّنَّةِ وَالْإِخْلَاصِ، أُوْفِ بِقَبُوْلِهَا مِنْكُمْ وَمُجَازَاتِكُمْ عَلَيْهَا) (تاسو زما لوظ پوره كړئ په اداء كولو د فرائضو په سنت او اخلاص سره زۀ به پوره والے اُوكړم په قبلولو د دغه عبادتونو او بدله دركولو)
(۳) زجاجؒ وئيلى دى : چه هغه لوظ مراد دے چه په تورات كښې وو چه هغه اتباع د محمد ﷺ ده۔
(٤) (اَوْفُوْا بِعَهْدِيْ فِي الْعِبَادَاتِ اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ اَيْ اُوْصِلْكُمْ اِلٰى مَنَازِلِ الرِّعَايَاتِ) (قرطبى)
(تاسو زما عبادتونه پوره پوره ادا كړئ زه به تاسو د رعايتونو مقاماتو ته اُورسوم)
قرطبیؒ وئيلى دى چه اول قول صحيح دے۔

فائده : اُوْفِ بِعَهْدِكُمْ ئے روستو راوړو، دے كښې حكمة دا دے چه دا د الله تعالىٰ قانون دے چه بنده به اول د الله تعالىٰ لوظ پوره كوى، د الله تعالىٰ دپاره به مجاهدے كوى، تكليفونه به تيروى، عبادتونه او طاعتونه به كوى، بيا به الله تعالىٰ وعدے پوره كوى، ښائسته ژوند به وركوى او كله چه بنده د الله تعالىٰ وعدے نۀ پوره كوى او د الله تعالىٰ نافرمان وى او وائى چه الله تعالىٰ په مونږ رحم نۀ كوى۔ او څه مجاهده ئے نۀ وى كړى او اُوچتے مرتبے او درجے او نعمتونه غواړى۔ دا د الله تعالىٰ غالباً قانون نۀ دے۔ څكه دلته الله تعالىٰ شرط لګولے دے چه زۀ به لوظ هله پوره كوم چه ستا د طرف نه لوظ پوره شى،

نـو کـه بـنـده د الله تـعـالیٰ لوظ پوره نهٔ کړی نو الله تعالیٰ باندے به په نهٔ وفاء د لوظ کښې هیڅ اعتراض نهٔ وی۔

(**وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ**) **اِيَّايَ** : نه مخکښې فعل پټ دے،(فَارْهَبُوْنِ اِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ)

نـو پـدے کښې د تکرار معنیٰ ده او پدے کښې ډیر تاکید دے۔ اوتخصیص دے، حاصل ئے داسے دے : (اِرْهَبُوْا اِيَّايَ اِنْ كُنْتُمْ رَاهِبِيْنَ عَنْ شَيْءٍ فَارْهَبُوْنِيْ)

(خاص زما نه یره اُوکړئ که چرته تاسو د یو شی نه یره کوئ نو ما نه یره اُوکړئ)

ابـن جریرؒ ددے تفسیر داسے کړیدے چه اے بنی اسرائیلو ! هغه خلقو چه زما لوظ مو ضائـع کـړو او زما د رسول تکذیب مو اُوکړو د کوم په باره کښې چه ما ستاسو نه ستاسو پـه کـتـابـونـو کـښې لـوظ اخستے وو، مـا نه اُویریږئ او خبر شئ چه که تاسو زما د رسول اتبـاع مـو اُونـکـړه او پـه قرآن کریم مو ایمان رانهٔ وړو نو هسے نهٔ چه تاسو ته هغه عذاب اُورسی کوم چه ستاسو نیکونو ته رسیدلے وو، کومو چه زما د حکم خلاف ورزی کړے وه او زما د رسولانو تکذیب ئے کړے وو۔

فائده: دلتـه ئے امر په رهبة اُوکړو او روستو ئے په تقویٰ۔ ددے یو حکمة دا دے (۱) چه یهـودیـانـو کښې چه به څوك متقی وو نو هغه ته به ئے راهب وئیلو نو دوی د ایمان راوړو نه مـخـکـښې رهبة پیـژنـدلـو او چه کله ئے ایمان راوړو نو بیا به ورته د قرآن په اصطلاح متـقـی وئـیـلے شی۔ (۲) دویم دا چه رهبة متعلق دے د ذات پورے او تقویٰ متعلق دے د احکامو پورے۔ یعنی زما د ذات نه یره اُوکړئ او زما د احکامو تابعداری اُوکړئ۔

فائده : الله تعالیٰ همیشه په خپله تقویٰ او یره باندے حکم کوی، وجه دا ده چه انسان نـه کـنـده صـفـات هـلـه اُوځـی او ښـائسته صفات پکښې هله راځی چه زړه کښې ئے د الله تعالیٰ نه یره پیدا شی۔ ابو سلیمان الدارانیؒ فرمائی :

(مَا فَارَقَ الْخَوْفُ قَلْباً اِلَّا خَرِبَ) (د زړهٔ خوف نهٔ دے جدا شوے مګر هغه خراب شوے)۔

ابراهیم بن سفیان رحمه الله نه نقل دی :

[اِذَا سَكَنَ الْخَوْفُ الْقُلُوْبَ اَحْرَقَ مَوَاضِعَ الشَّهَوَاتِ مِنْهَا وَطَرَدَ رَغْبَةَ الدُّنْيَا عَنْهَا]

(کـلـه چـه پـه زړهٔ کښـې خـوف ځـائے اُونیسی نو د شهوت ځایونه اُوسوزوی، او دنیا ترے اُوشړی)۔ [الرسالة القشيرية، للقشيري، نضرة النعيم د/ ۱۹۰۰]

فائده : د رهبة سره قـریـب الـمـعـنـیٰ کلمات قرآن او حدیث کښې استعمالیږی، ددے

پیژندل هم ډیر فائده مند دی۔ **رَهْبَة** وائی : (خَوْفٌ مَعَ حُزْنٍ وَاضْطِرَابٍ) (خازن)
(بنده د الله تعالیٰ نه یریږی او غمجن او پریشانه وی)،
(۲) (خَوْفٌ مَعَ تَحَرُّزٍ) (یره چه ورسره تحرز او بچاؤ هم کوی)۔
(۳) (خَوْفٌ مَعَ هَرَبٍ) ۔(هغه یره چه ورسره تیخته هم وی)۔
تقویٰ : (خَوْفٌ مَعَ حَزْمٍ) (هغه یره چه هوښیارتیا ورسره وی)۔
خَوف : (هَرَبُ الْقَلْبِ مِنْ حُلُوْلِ الْمَكْرُوْهِ عِنْدَ اسْتِشْعَارِهٖ) (د زړهٔ تختیدل دی د یو مکروه څیز د نازلیدو په وخت چه کله د هغے احساس اُوکړے شی) دا د عوامو کار دے۔
خَشیَةُ : (خَوْفٌ مَقْرُوْنٌ بِالْمَعْرِفَةِ مَعَ تَعْظِيْمِ الْمَخْشِيِّ عَنْهُ) (هغه یره ده چه معرفت ورسره وی او د چا نه چه یره کوی نو د هغه تعظیم هم ورسره وی) او دا د علماؤ په باره کښې استعمالیږی۔ **وَجَلُ** : (رَجَفَانُ الْقَلْبِ لِذِكْرِ مَنْ يُّخَافُ سُلْطَانَهٗ وَعُقُوْبَتَهٗ)
(د زړه رپیدل دی د وجه د یادولو د هغه چا نه چه د هغه د قوت او عذاب نه یره کیږی)
هَیبَة : (خَوْفٌ مُقَارِنٌ لِلتَّعْظِيْمِ) (دا هغه یره ده چه تعظیم ورسره وی) دا د مُحبینو کار دے۔
اِجْلَال : (تَعْظِيْمٌ مَقْرُوْنٌ بِالْحُبِّ)
(د چا تعظیم کول سره د محبت ساتلو نه د هغه سره) او دا د مقربینو صفت دے۔
او حافظ ابن القیمؒ فرمائی : (وَعَلٰى قَدْرِ الْعِلْمِ وَالْمَعْرِفَةِ يَكُوْنُ الْخَوْفُ وَالْخَشْيَةُ)۔
(څومره چه علم او معرفة وی نو هغومره به خوف او خشیت وی)۔
اِشْفَاق : (ظُهُوْرُ أَثَرِ الْخَوْفِ فِيْ ظَاهِرِ الْبَدَنِ) (په ظاهری بدن باندے د خوف اثر ښکاره کیدل) که څوک کیره خرئیوی، اوتبائی پتلون اچوی، ګلوډ روان وی نو دهٔ کښی د الله تعالیٰ نه یره نشته۔ ځکه چه شکل باندے ئے اثر نهٔ ښکاری۔
فائده : خوف د کوم څیزونو نه کیږی ؟ (۱) (خَوْف عَنْ عَذَابِ اللّٰهِ) (د الله تعالیٰ د عذاب نه خوف)۔ (۲) (خَوْف عَنْ عَظَمَةِ اللّٰهِ) ۔(د الله تعالیٰ د عظمت نه یره کول لکه څنګه چه یو بچے د خپل مشفق والد نه یریږی۔
(۳) (خَوْفُ الْقَطِيْعَة)۔(یریدل چه د ګناه په وجه د الله تعالیٰ نه قطعه نهٔ شم)۔
(٤) (خَوْفٌ عَنِ الذُّنُوْبِ) (د ګناهونو نه یریدل)۔
(٥) (خَوْفٌ عَنْ عَدَمِ قَبُوْلِ الْأَعْمَالِ)۔(دا یره کول چه اعمال به مے قبول نهٔ شی)۔

(٦) (اَلْخَوفُ عَنْ سُوْءِ الْخَاتِمَة)۔ (د بدے خاتمے نه یریدل)۔
(۷) خوف د عملنامے نه په قیامت کښې۔
(۸) خوف د غلطو اسبابو نه۔ نور خوفونه هم شته "الفوائد فی تزکیة النفوس" اُوګوره۔

وَاٰمِنُوْا بِمَا اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ
او ایمان راوړئ په هغه کتاب چه ما نازل کړیدے تصدیق کونکے دے د هغه کتابونو
وَلَا تَكُوْنُوْا اَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهٖ ۪ وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِىْ
چه تاسو سره دی او مهٔ کیږئ اول کفر کونکی په دے قرآن او مهٔ اخلئ په آیتونو زما
ثَمَنًا قَلِيْلًا ۡ وَّاِيَّاىَ فَاتَّقُوْنِ ﴿۴۱﴾
پیسے لږے (عوض لږ) او خاص ما نه اُویریږئ۔

تفسیر : مخکښې آیت کښې توحید طرف ته دعوت وو، اُوس پدے کښې په قرآن او رسول باندے ایمان راوړو ته دعوت دے، او په دے کښې دوه اوامر او دوه نواهی ذکر دی۔

بِمَا اَنْزَلْتُ : ددے نه مراد قرآن کریم دے۔ او په لفظ د انزلت سره ئے ذکر کړو چه شامل شی وحی غیر متلو (حدیث) ته هم۔

مُصَدِّقًا : دا لفظ قرآن کریم کښې دولس (۱۲) کرته راغلے دے۔ دوه قسمه استعمالیږی۔ د تصدیق لفظی معنیٰ ده : رشتینی کونکے۔ قرآن مصدِق دے د تورات او انجیل۔ تصدیق اجمالی او تفصیلی دواړه کوی۔ اجمالًا دا چه قرآن وائی موسی علیه السلام او عیسی علیه السلام حق انبیاء دی او تورات او انجیل حق کتابونه وو۔ او تفصیلًا دا چه کومے مسئلے په تورات او انجیل کښې دی هغه قرآن کښې رانقل شوی دی۔لکه تورات او انجیل کښې د محمد ﷺ صفات او د هغه د صحابه کرامو صفات ذکر وو دارنګه په هغے کښې توحید او اصول الایمان او اصول د محرماتو او پنځه بناګانے د اسلام ذکرو ے، ښو اخلاقو او ښائسته صفاتو خپلولو ته دعوت وو، نو دا ټول په قرآن کریم کښې هم

شته نو تاسو ولې ددې قرآن خلاف کوئ۔

او ابن جریرؒ وائي چه الله تعالیٰ دوی ته د قرآن کریم د تصدیق حکم اُوکړو او دائې اُووئیل چه د قرآن تصدیق دا په اصل کښې د تورات تصدیق دے ځکه دوی ته که په قرآن کښې د نبي کریم ﷺ د نبوت تصدیق او د هغه د اتباع حکم شویدے نو همدغه خبره په تورات او انجیل کښې هم موجوده وه، پدے وجه که هغوی په محمد ﷺ باندے د نازل شوی کتاب تصدیق کوی نو گویا کښې د تورات تصدیق کوی او که ددے تکذیب کوی نو گویا کښې د تورات تکذیب کوی۔ دارنګه د تصدیق صورت دا هم دے چه تورات کومے پیشن گویانے ورکړیدی نو هغه په قرآن کریم کښې صادق شوی دی نو قرآن مصدق د تورات شو چه د هغه پیشن گوئی ئے رشتینے کړه۔

فائده : د مصدق نه معلومه شوه چه د اهل حقو طریقه دا ده چه د حق تائید او تصدیق به کوی که د هر چا سره وی او د اهل بدعت او یهود او نصاراؤ طریقه دا ده چه د خپل مخالف سره که حق هم وی نو تسلیمیدو ته ئے تیار نهٔ وی۔ فتفکر۔

(**وَلَا تَكُوْنُوْا اَوَّلَ كَافِرٍۭ بِهٖ**) **سوال** دا دے چه اول کفر خو د مکے مشرکانو کړے وو ؟

جواب (۱) دا دے (وَلَاتَكُوْنُوْا أَوَّلَ كَافِرٍ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ) (قرطبی) (یعني په اهل کتابو کښې د ټولو نه اول د قرآن کریم انکار کوونکې مهٔ جوړیږئ)، ورنه د مکے مشرکانو خو د ټولو نه اول انکار کړے وو، او په مدینه کښې د اهل الکتاب نه یهود اول هغه خلق وو چه الله تعالیٰ ورته په قرآن کریم باندے د ایمان راوړو دعوت ورکړو نو حقه خو دا وه چه هغوی د ټولو نه اول په دے ایمان راوړے وے، ځکه دوی ته خو د رسول الله ﷺ صفات د مخکښې نه د تورات په ذریعه معلوم وو، لیکن هغوی د کفر لاره اختیار کړه او د قرآن او د رسول الله ﷺ نه ئے انکار شروع کړو۔ او دا حکم تاکید دے د مخکښې (آمِنُوا) دپاره یعني ایمان راوړئ او کفر مهٔ اختیاروئ او مشران د کفر مهٔ جوړیږئ۔

۲ - یا دا اولیّت اضافي دے یعني په نسبة د خپلو کشرانو اول کفر کونکي مهٔ جوړیږئ او مراد دا دے چه مقتدیٰ د کفر مهٔ ګرځئ ځکه چه اول مخاطب په دے کتاب باندے دغه یهود دی نو کله چه دوی کفر اُوکړو نو د دوی کشران او تابعدار به هم د دوی په شان کفر کوی، نو دوی به د هغوی دپاره په کفر کښې امامان او مُقتدیٰ شی، نو دوی به مخکښې وی او هغوی به ورپسے وی۔ نو مطلب دا شو چه د بل چا دپاره ذریعه د کفر مهٔ

گرځئ، خپله به هم تاوانیان شئ او د بل تاوان به هم درباندے راشی۔
۳- یا کافر په معنیٰ د (کَاتِمُ الْحَقِّ) (حق پټونکی) دے یعنی اول ددے قرآن په باره کښ خپل علم د خلقو نه پټ مه ساتئ۔ او مشرکان خو منکر د حق نه وو لیکن کاتمین د حق نۀ وو ځکه جاهلان وو۔ او اهل کتاب منکرین او کاتمین دواړه وو۔
٤- راجح دا ده چه دا کنایه ده د عدم تدبر نه او اول مقابل د ثانی نۀ دے، یعنی د ابتداء نه بغیر د سوچ او فکر او تدبر نه سمدست انکار مۀ کوئ بلکه د سوچ نه پس که تاسو ته ددے باطل والے معلوم شو، نو بیا که ترے انکار کوئ نو څه جواز به درله ثابت شی۔ (دا فرض محال دے) ددے مثال په محاوره کښ داسے وی لکه یو سړے چا ته خبره اُوکړی او بیا ورته تاکیداً وائی، د اول نه انکار مه کوه لږ سوچ اُوکړه نو اول نه مراد په نسبت د ثانی نۀ وی۔ بلکه معنیٰ ده سمدستی او بغیر د سوچ انکار مه کوه۔
(بِهٖ) ضمیر قرآن یا رسول ته راجع دے او دواړه صحیح دی۔
(۲) دویم دا چه (بِهٖ) ضمیر مَا مَعَكُمْ ته راجع دے یعنی په خپل کتاب (تورات او انجیل) باندے اَول کفر کونکی مۀ کیږئ ځکه چه ذ قرآن کریم نه منکر شی نو په خپل کتاب به کافر شی ځکه په هغه کتاب کښ الله تعالیٰ د قرآن کریم صفت کړیدے، نو چه قرآن اُونۀ منی نو خپل کتاب ئے اُونۀ منلو نو کفر بالقرآن متضمن دے کفر بالتوراة والانجیل لره۔ مگر دا تفسیر دومره راجح نۀ دے، ځکه تو له خبره د قرآن کریم شروع ده۔
فائده وقاعده : افعل صیغه چه نکره مفرده ته مضاف شی نو بیا د تمییز مفهوم کښے وی او کله چه معرفے ته مضاف شی نو بیا مضاف الیه جمع وی، لکه اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ فَاَنَا اَوَّلُ الْعَابِدِيْنَ۔ نو اول کافر لفظ چه استعمال شی نو دا تپوس به نۀ وی چه بل کافر شته یا نشته۔ او دویم ترکیب کښ به دا معنیٰ وی چه دا سړے د تولو نه مخکښ دے لکه اول الکافرین کښ به دا معنیٰ کوی چه فلانے د تولو نه مخکښ کافر دے بخلاف الاول۔
﴿وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِىْ ثَمَنًا قَلِيْلًا﴾ دا دویمه نهی ده او مطلب ئے دا دے چه دنیا او د دنیا د خواهشاتو په وجه (کوم چه لږ او فانی دی) د قرآن کریم او د نبی ﷺ نه انکار مۀ کوئ او دنیا په دین باندے مۀ غوره کوئ ورنه ایمان ته به مو نقصان اُورسی۔ یعنی د دنیا د عارضی نعمتونو په دهوکه کښ رانشئ بلکه د حق تابعداری اُوکړئ۔

پدے آیت کښې ضلال د یهودو دے (یعنې خپله گمراهان وو) او روستو آیت (وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ) کښې ئے اضلال (د بل گمراه کول) ذکر دی۔

یهودو کښې دا خصوصي مرض وو چه دین ئے د دنیا ذریعه گرځولے وه، او دا مرض پدے امت کښې هم زیات شویدے۔ ابن الاعرابی رحمه الله نه چا تپوس اُوکړو چه سَفَلَه (خکته خلق،کمینه او پسمانده) څوك دی ؟ وے فرمایل : [اَلَّذِیْ یَختَلُّ الدُّنْیَا بِالدِّیْنِ، الَّذِیْنَ یَأْکُلُوْنَ الدُّنْیَا بِدِیْنِهِمْ] (دین په دنیا خرابوی او دنیا په دین گټی) بیا ورته اُوویل شو : (مَنْ سَفَلَةُ السَّفَلَةِ ؟)(د خکتونه خکته (سپك خلق) څوك دی) ؟ وے فرمایل : (اَلَّذِیْ أَذْهَبَ آخِرَتَهُ بِدُنْیَا غَیْرِهٖ) (القرطبی) (د بل چا د دنیاوی فائدو دپاره خپل آخرت تباه کوی) لکه غلط څوکیداران، دربانچیان ، مزدوران چه د مالکانو دپاره دروغ وائی۔ او ښځه د خاوند او خاوند د ښځے دپاره۔ او په شرح السنه (۳۳۵/۱٤) او شعب الایمان (٦٥٣٣) کښے ئے ددے قول نسبت امام مالك ته کړے۔

(ثَمَنًا قَلِیْلًا) ددے لفظی معنیٰ ده ، (لږے پیسے ، عوض) لیکن حسن بصریؒ فرمائی : (اَلدُّنْیَا بِحَذَافِیْرِهَا) ټوله دنیا مراد ده۔ ځکه دا ټوله دنیا په نسبت د آخرت کمه ده۔ لکه سورة النساء (۷۷)(قُلْ مَتَاعُ الدُّنْیَا قَلِیْلٌ) او آل عمران (۱۹۷) (مَتَاعٌ قَلِیْلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ) کښې دی۔ او دا مطلب نۀ دے چه لږے پیسے مۀ اخلئ او که ډیرے اخلئ نو خیر دے۔لکه بعض اهل بدع وائی د څلویښتوروپو نه زیاتے اخستے شے، نۀ کمے ځکه پدے کښې د قرآن اکرام دے۔ نو دا د قرآن تحریف دے۔

پدے مقام کښې اول یو څو تفسیرونه بیا شرعی مسئله بیانیږی :

(۱) اشتراء بالآیات نه مراد په آیتونو کښې تحریف لفظی او معنوی کول دی۔ معنیٰ دا ده چه د الله تعالیٰ آیاتونه تاسو بدلوئ او د هغے په مقابله کښې پیسے اخلئ لکه دوی به تحریف کولو نو معنیٰ ده : (بِتَحْرِیْفِ الْآیَاتِ)۔ د آیتونو په بدلولو سره دنیا د خلقو نه مۀ اخلئ۔ دین هم خراب کړے او بیا پرے حرام مال هم حاصلوے۔ ځکه دوی به احکامو کښې رشوتونه اخستل۔ او ثمن قلیل نه مراد مشری د دنیا هم ده چه دوی ورته احکام به بدلول او تحریف به ئے کولو دے دپاره چه دا کشران بل طرفته لاړ نۀ شی او د خپل ځان تابع ئے کړی لکه ډیر پیران او ملیان دا کار کوی چه کشران د اهل حقو خواته ورتلو نه منع کوی۔ او دے کښې دا هم داخلیږی چه قرآنی حکم او قانون بدل کړی او ددے په ځائے

بل قانون مینځ ته راوړی، او په هغې باندې دنیا اخلی لکه یهودو په رجم کښې دا کار کړے وو، د مالدارونه به ئې پیسے اخستې۔ او دا ټول مرضونه دې امت کښې په کامله طریقه موجود دی۔

۲- دویمه معنیٰ ده : (بِالْاِیْمَانِ بِآیَاتِیْ) چه په آیتونو د الله تعالیٰ ایمان نۀ راوړئ او دنیا غوره کوئ، یهودو ولے ایمان نۀ راوړو؟ وئیل به ئې که مونږ ایمان راوړو نو د دنیا عزت مو خرابیږی، مال ته مو نقصان رسی، او دا ئې په الله تعالیٰ بدګمانی وه۔ اُوس هم ډیر مُلیان حق ته نۀ راځی، ډیر عوام حق ته نۀ راځی، ولے ؟ وائی : بیا مو کاروبار خرابیږی، نۀ ! دا په الله تعالیٰ بدګمانی ده او دا نۀ ده پکار۔ ته په کفر او بدعت او باطل پرستئ کښې وې الله تعالیٰ تاله رزق درکولو، دنیا ئې درکوله او چه حق ته راشے نو ولے الله به ئې تا ته نه درکوی څه ؟ ستا ایله په الله دا ګمان شو!!۔

٤- نو دارنګه ابو العالیهٰ وئیلی دي : [بِتِلَاوَةِ آیَاتِیْ] یعنی د الله تعالیٰ د آیتونو په تلاوت هم پیسے مۀ اخلئ۔ (اَیْ لَاتَأْخُذُوْا عَلٰی کِتَابِ اللّٰهِ أَجْرًا) (د الله تعالیٰ په کتاب باندے اجر مۀ اخلئ۔

فائده : دلته یو بل شے دے چه د مصحف خرڅول جائز دی، دلیل دا دے چه د ابن عباس ﷺ نه چا تپوس اُوکړو چه کاتبان قرآن اُولیکی بیا ئې خرڅوی دا څنګه دی؟ هغه اُوفرمایل : (اِنَّمَا هُمْ مُصَوِّرُوْنَ، وَاِنَّمَا یَأْکُلُوْنَ مِنْ عَمَلِ اَیْدِیْهِمْ) (دوی خو تصویر د خط جوړوی او د خپل لاس کار وکسب خرڅوی) یعنی قرآن خو کلام الله ته وائی لفظ او معنیٰ دواړه او د هغے اخستل، خرڅول خو امکان نۀ لری، او کوم شے چه خرڅیږی نو هغه قیمت د کاغذ، او د محنت د کتابت او د طباعت او جلد دے۔ نو هغه اتفاقاً جائز دی۔ امام احمدؒ وئیلی دی چه دا هم مکروه دی څکه بیا به ئې خلق نشی اخستے، نو تلاوت د قرآن کریم به کم شی خو د عامو اهل علمو په نیز جائز ده و هو الحق۔

آیا تعلیم د قرآن کریم پدے کښې داخل دے او که نۀ ؟

نو اول دا خبره یاده کړه چه اول دا آیت د یهودو په باره کښې دے لیکن حکم ئې د یهودو پورے خاص نۀ دے څکه عموم د الفاظو لره اعتبار وی او خاص سبب لره اعتبار نۀ وی لکه دا په شریعت کښې معلومه قاعده ده۔ او په اصول التفسیر کښې هم ده۔

یو مسئله د اجرت اخستو ده په عباداتو باندے۔

نو د هغې تفصیل په فتاوی الدین الخالص او الحق الصریح (ج ٤) کښې اُوګوره لنډه خلاصه ئې دا ده چه : (۱) په تلاوة القرآن باندې اجرت اخستل په نزد د عامو علماؤ حرام دی، وجه دا ده چه تلاوت د قرآن کریم او په کورونو کښې ختمونو کولو ته ضرورت نشته، بلکه صرف برکت غرض وی، نو پدې باندې پیسې او عوض اخستل حرام دی۔
[اَلآخِذُ وَالْمُعْطِیْ كِلَاهُمَا آثِمَان لِأَنَّ ذٰلِكَ يُشْبِهُ الْإِسْتِئْجَارَ عَلَى الْقِرَاءَةِ وَهُوَ لَايَجُوْزُ] (حاشية رد المحتار ٢ /٧٨) (اخستونکې او ورکونکې دواړه ګناهګار دی ځکه دا مشابه دې د مزدورۍ اخستلو په قراءت باندې او دا کار حرام دې) بله دا چه کورونو کښې د برکت دپاره ختمونه کول په دین کښې نشته، او نۀ په تراویحو کښې ختم کولو باندې پیسو اخستو باره کښې څه دلیل شته، امام احمدؒ ته چا اُووئیل : دلته یو سړې دې په تراویحو باندې پیسې اخلی۔ هغۀ اُوفرمایل : (اُفّ، اَيُصَلِّى خَلْفَهٗ) (افسوس ! آیا دده پسې به هم څوك مونځ کوی) یعنی دا خو د مانځه لائق انسان نۀ دې)
عمر فاروق ؓ نه نقل دی : [لَاتَأْخُذُوْا عَلٰى كِتَابِ اللّٰهِ أَجْرًا فَتَسْبِقُكُمُ الزُّنَاةُ اِلَى الْجَنَّةِ] (الخطيب فى الجامع، كنز العمال) (د الله تعالىٰ په کتاب باندې مزدوری مۀ اخلئ ورنه زناکار به ستاسو نه جنت ته مخکښې لاړ شی)۔
د مصعب بن سعد (تابعی) رحمه الله په باره کښې راځی چه ده یو ځائے کښې تراویح اُوکړې چا جامې او یو شے بل شے ورکړو نو هغۀ بیرته واپس کړې چه ما تراویح دې دپاره نۀ دی کړی۔
دليل : حدیث کښې دی : [اِقْرَأُوا الْقُرْآنَ وَاعْمَلُوْا بِهٖ وَلَاتَجْفُوْا عَنْهُ وَلَاتَغْلُوْا فِيْهِ وَلَاتَأْكُلُوْا بِهٖ وَلَا تَسْتَكْثِرُوْا بِهٖ] (صحيح الجامع : ١١٦٨ وسنده صحيح)
(یعنی په قرآن کریم باندې خوراکونه مۀ کوئ او پدې باندې مالونه مۀ ډیروئ)۔
(۲)- په دم باندې پیسې اخستل جائز دی او واقعه د ابو سعید خدری ؓ پرې دلیل دې چه بخاری وغیره کښې راغلې ده، دۀ په یو سړی دم اچولے وو او دیرش ګډې ئې پرې اخستې وې او نبی ﷺ ورته اُوفرمایل : (اَحَقُّ مَا أَخَذْتُم عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللّٰهِ) (ډیر لائق هغه شے چه تاسو په هغې مزدوری اخلئ هغه کتاب د الله دې) لیکن دې نه به کاروبار نۀ جوړوی۔
(۳) - په تعلیم د دین باندې اجرت اخستو کښې اختلاف دې۔ ۱- امام زهریؒ، عطاء بن

ابی رباحؒ، ابن جریجؒ، امام ابو حنیفهؒ وئیلی دی چه په تعلیم او تدریس د قرآن او حدیث او دینی کتابونو باندے اجرت اخستل جائز نهٔ دی ځکه دا عبادت دے، او مبنیٰ د عبادت په اخلاص ده او اجرت اخستل د اخلاص خلاف دی۔

۲- **دویم دلیل** : حدیث عباده بن صامت ﷺ کښې راغلی دی :

[عَلَّمْتُ نَاسًا مِنْ اَهْلِ الصُّفَّةِ الْكِتَابَ وَالْقُرْآنَ فَأَهْدٰى اِلَيَّ رَجُلٌ مِنْهُمْ قَوْسًا، فَقُلْتُ لَيْسَتْ بِمَالٍ وَاَرْمِيْ عَنْهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ]

(ما څه کسانو ته د اصحاب صفه ؤ نه خط (لیکائی) او د قرآن تعلیم ورکړو او په هغوی کښې یو سړی ما ته په هدیه کښې لینده راکړه، ما اُووئیل : پدے به زهٔ جهادونه کوم دا خو مال نهٔ دے نو ما واخسته بیا مے نبی ﷺ ته اُووئیل : نو هغه اُوفرمایل : [اِنْ كُنْتَ تُحِبُّ اَنْ تُطَوَّقَ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَاقْبَلْهَا] که تهٔ غوارے چه د اُور طوق درواچولے شی نو دا لینده قبوله کړه۔ [ابوداود : ۳٤۱۸، ابن ماجه : ۲۱۵۷ والصحیحة رقم : ۲۱۵٦]

۳- **دلیل** : اُبی بن کعب ﷺ فرمائی :

[عَلَّمْتُ رَجُلًا الْقُرْآنَ فَاَهْدٰى لِيْ قَوْسًا فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ : اِنْ اَخَذْتَهَا أَخَذْتَ قَوْسًا مِنْ نَارٍ، فَرَدَدْتُهَا] [ابن ماجه : ۲۱۵۸: صحیح]

زهٔ به یو سړی ته ورتلم د قرآن تعلیم به ورته ورکولو نو هغه به ما له ښهٔ خوراك راکولو، ما رسول الله ﷺ ته ددے خبرے تذکره اُوکړه نو هغه اُوفرمایل : که د کور عام خوراك درکوی نو خیر دے او که تا له امتیازی خوراك درکوی نو بیا ئے مهٔ خوره۔ [نیل الاوطار]

۲- اکثر اهل علم وائی : په تعلیم د قرآن او په تدریس د علومو باندے اجرت اخستل بالکل جائز دی خو په شرطونو سره۔

دلائل : ۱- دلیل عقلی: د قرآن کریم تعلیم او تدریس د علومو ته د اُمت ضرورت دے که علماء دا اُونکړی او کاروبار او تجارت شروع کړی، نو بیا به اُمت ضائع شی۔

۲- [أَحَقُّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللّٰهِ] (صحیح بخاری: ۵۵۷۳۷) (ډیر حقدار هغه څه چه تاسو پرے مزدوری اخستے ده هغه د الله تعالیٰ کتاب دے) یعنی د الله تعالیٰ کتاب لائق دے چه پدے اجرت واخستے شی۔

دا حدیث په نسبت د حدیث د عباده او ابی بن کعب ﷺ ډیر اصح دے۔

۳- دریم حدیث د بخاری وغیره کښې راځی چه یو سړی ته ئے فرمایلی وو :

[فَقَدْ زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ] [بخاری : ٥٠٢٩]

یعنی هغه له ئې زنانه ذ قرآن په مقابله کښ ورکړې وه او د قرآن تعلیم ئې ورله مهر مقرر کړو. او مهر خو مال وی لهذا قرآن په مقابله د مال کښ استعمالولے شی۔

٤- ابوبکر صدیق ﷺ چه خلیفه شو نو بازار ته روان شو، عبد الرحمن بن عوف ﷺ او عمر فاروق ﷺ ورته اُووئیل : که تهٔ کاروبار کوے نو د مسلمانانو د کارونو تربیت به څوك کوی۔ نو تنخواه ئې ورله مقرر کړه۔ نو هغه اُوفرمایل :

[يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ شُغِلْتُ بِاَمْرِ الْمُسْلِمِيْنَ فَسَيَأْكُلُ آلُ اَبِيْ بَكْرٍ مِنْ هٰذَا الْمَالِ وَيَحْتَرِفُ لِلْمُسْلِمِيْنَ فِيْهِ] [بخاری : ٢٠٧٠]

(اے خلقو ! زهٔ د مسلمانانو په کارونو مشغول شوم نو د ابوبکر کور والا به ددے مال نه خوراك کوی او (ددے په بدله کښ به) هغه د مسلمانانو دپاره کار کوی) نو انی شغلت بامر المسلمین کښ هر شغل داخلیږی خصوصاً تعلیم۔

٥- عمر فاروق ﷺ خپلو عاملانو ته لیکلی وو [أَنْ اَعْطِ النَّاسَ عَلٰى تَعَلُّمٍ وَفِيْ رِوَايَةٍ : تَعْلِيْمِ الْقُرْآنِ] چه په تعلیم د قرآن باندے خلقو ته عطیے ورکوئ۔

او بل روایت کښ دی : [وَكَانَ يَرْزُقُ الْمُعَلِّمِيْنَ] چه هغه به مُعلمینو ته وظیفه ورکوله۔

[نصب الرایه (١٣٧/٤) کتاب الاموال لابی عبید (٢٦١)]

او کوم احادیث چه په باره د نهی د اجرت اخستو کښ راغلی دی نو هغه په باره د تلاوت کښ دی او په تلاوت باندے پیسے اخستل خو اتفاقی ناجائز دی۔

او حدیث د عُباده ﷺ او اُبی بن کعب ﷺ دواړه ضعیف دی څکه په حدیث د ابی بن کعب ﷺ کښ ابوعبیدهؒ او عبد الرحمن بن سلیمؒ دواړه ضعیف راویان دی۔ او په حدیث عباده بن صامت ﷺ کښ مغیره بن زیاد راوی ضعیف او منکر الحدیث دے (لکه امام احمدؒ وئیلی دی) نو دا په تعلیم باندے د اجرت په حراموالی دلیل نهٔ گرځی۔ او که صحیح شی نو بیا به مطلب دا وی چه اولاً د الله تعالیٰ رضاغرض وی بیا پکښ پیسے راوستل صحیح کار نهٔ دے او که ابتداءً د ضرورت په وجه څه تنخواه مقرره شی بیا جواز لری۔

(٤) په اذان باندے اجرت اخستو نه صحیح حدیث کښ منع راغلے ده۔

[وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلٰى اَذَانِهٖ اَجْرًا] [ابو داود : ٥٣١، الترمذی : ٢٠٩، نسائی: ٦٧٢]

او عبد الله بن عمر ﷺ د یو سړي سلام نهٔ وو قبول کړے پدے وجه چه هغه په اذان اجرت اخستو۔

(۵) په امامت باندے پیسے اخستل هم جائز نهٔ دي ځکه د جواز دلیل نشته۔ او بله دا چه د امامت سره کاروبار کیدے شي، البته که د امامت سره درس او تدریس کوي نو بیا به جائز وي او دا په اصل کښې په درس او تدریس اجرت دے، او که چا خود بخود ورکولو او شرط ئے نهٔ وو لګولے نو جائز ده۔ نبي کریم ﷺ عمر فاروق ته اُوفرمایل :

[اِذَا جَاءَ كَ مِنْ هٰذَا الْمَالِ شَیْءٌ وَاَنْتَ غَیْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَائِلٍ فَخُذْهُ وَمَا لَا، فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ]

[بخاری : ۱٤۷۳]

(تا ته چه مال راشي او ته سوال نکوے او هغے ته ځان نیغ نیغے کوے نهٔ نو هغه واخله او کوم چه نهٔ راځي نو د هغے پسے په زوره خپل ځان مهٔ ورپسے کوه)۔

خلاصه دا چه په تلاوت، امامت، او اذان باندے پیسے اخستو باره کښې هیڅ دلیل د جواز نشته، او دا آیت ورته شامل دے او په تعلیم د قرآن وغیره باندے پیسے اخستل جائز دي، صحیح مرفوع احادیث پکښې موجود دي۔

وَاِیَّایَ فَاتَّقُوْنِ: د تقویٰ معنیٰ مخکښې ذکر شوه چه زما د احکامو تابعداري کوئ۔

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۲﴾
او مهٔ ګډوډ کوئ حق د باطل سره او مهٔ پټوئ حق حال دا چه تاسو پو هیږئ۔

تفسیر : مخکښې اشتراء الآیات کښې د دوی ضلال (خپله ګمراهي) ذکر شوه، اُوس د دوی اِضلال ذکر کوي یعني بل څوك ګمراه کول۔ لیکن بل ګمراه کول په دوه قسمه دي یو نیمګړي مُلیان او طالبان او دویم خالص عوام نو اول په شبهاتو باطله ؤ او په تلبیس سره ګمراه کولے شي، او د دویم قسم خلقو د ګمراه کولو طریقه د حق پټول دي۔ نو پدے آیت کښې الله تعالیٰ بني اسرائیل د حق او باطل خلط ملط کولو او د رسول الله ﷺ په باره کښې د حق پټولو نه منع کوي ځکه پکار خو دا وه چه اهل علم (علم ته منسوب) او کتاب والا د باطل تردید اُوکړي او حق راښکاره کړي، خلقو ته اُووائي چه محمد ﷺ د الله تعالیٰ رشتینے رسول دے، دے دپاره چه هدایت غوختونکے هدایت

حاصل کړي او ګمراه خلق حق طرف ته رجوع اُوکړي او په اجتماعیت کښ د حق د مخالفینو خلاف حجت قائم شي ځکه چه څوك داسے کار کوي نو هغه د قومونو رهنما او د رسولانو نائبان وي او څوك چه حق د باطل سره ګډوډ کوي او د کتمانِ حق نه کار اخلي، هغه جهنم طرف ته دعوت ورکونکي دي ځکه عوام خلق په دیني امورو کښ د علماؤ تابعداري کوي پدے وجه اے د یعقوب اولاد ! تاسو په دوه لارو کښ یوه لاره ځان له اختیار کړئ۔

(**وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ**) ۱- باء سببیه ده۔ ۲- یا د مصاحبة ده او باطل نه مراد شبهات باطله او تاویلات فاسده دي۔ (۱) یوه معنیٰ دا ده چه مه ګډوډ کوئ حق په خلقو په سبب د باطل چه هغه شبهات باطله دي، د خلقو زړونو کښ شبهے وراچوئ چه دا پیغمبر حق نهٔ دے، او دا مونږ نه علاوه بل چا ته رالیږلے شویدے۔دا قرآن مهٔ منئ، دے کښ دا تعارض دے۔ دا نوے مسئلے دي، پلار نیکه لاره ولے پریدئ، نو دا شبهے مه اچوئ۔ او تغییر او تبدیل هم په باطل کښ داخل دے۔ لکه نن صبا باطل پرست مُلیان هم داسے تلبیس کوي چه یو امی څه ناڅه په حق پوهه شي، یوه مسئله کښ یو حدیث یو بدعتي ملا ته یوسي چه دے باره کښ دا حدیث راغلے دے نو هغه ورته پکښ تلبیس اُوکړي او خبره اخوا دیخوا کړي چه ددے دا مطلب نهٔ دے۔ بلکه د ځان نه ورته یو مطلب بیان کړي۔ دا منسوخ شویدے، او دا د یهودو په باره کښ وو۔ او کله وائي : دا د امام شافعیؒ دلیل دے۔

(۲)- دویمه معنیٰ : مه یو ځائے کوئ حق د باطل سره چه بعضے خبرے ښے بیانوئ او بعضے غلطے۔ بلکه ټولے خبرے حقے بیانوئ او دا زمونږ د زمانے د بدعتیانو طریقه هم ده چه ښے مسئلے به بیانوي لیکن ایسته به په آخر کښ د شرك یوه مسئله هم بیانه کړي چه د فلاني د قبر نه داسے فیوضات حاصلیږي نو ټوله خواري به ضائع کړي۔ او دا دواړه مرضونه زمونږ په دے امت کښ څو مره په کامله طریقه موجود دي، ملا به خلقو ته په احادیثو کښ غلط تاویلات کوي، هغوي که په صحیح طریقه روان وي نو شکوك او شبهات ورته اچوي چه دا خو منسوخ دي او دا نا غوره طریقه ده۔

ددے وجه نه کوم خلق چه حق هم وائي او بیا ورسره څه ناڅه باطل هم وائي نو هغوي ته کیناستل او د هغوي خبره اَوریدل صحیح نهٔ دي، ځکه چه عام مبتدعین خو ټولے

خبرے غلطے نۀ کوی بلکه قرآن او حدیث وائی لیکن یوه خبره نیمه پکښې د شرك او د بدعت اُوکړی لهذا دوی ته کیناستل صحیح او جائز نۀ دی۔
وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ په اصل کښې (لَا تَكْتُمُوا الْحَقَّ) دے، په (تَلْبِسُوا) باندے عطف دے د (لَا) د لاندے دے۔ او دا واو الصرف دے۔ یعنی حق مۀ پټوئ۔
دلته دوه تفسیرونه دی (۱) که واو عطف دپاره شی نو بیا دلته دوه نهی دی، یو لَا تَلْبِسُوا دویم لَا تَكْتُمُوا او بیله بیله جمله ده۔ (۲) او که واو الصرف شی نو بیا به یوه جمله شی یعنی دواړه کاره مه جمع کوئ چه تلبیس او کتمان دے۔
حافظ ابن قیمؒ فرمائی : [وَهٰذَا الْقَوْلُ أَعْرَبُ وَأَمْيَزُ مِنَ الْأَوَّلِ] [بدائع التفسیر ۱/۳۱۳]
(دا قول د عربیت د قواعدو سره ډیر برابر او واضح دے او د اول نه ډیر ممتاز دے)
بیا حق عام دے، وجوبی عملونه وی او که استحبابی او سنت وی، یا اصولی مسائل وی او که فروعی، ټول به امت ته بیانولے شی، داسے به نشی وئیلے چه د توحید مسئله ضروری ده دا مخکښې بیانول پکار دی او سنت طریقے به روستو په قلاره بیانوو، دا خبره خطاء ده بلکه ټول بیانول ضروری دی، دین پوره شویدے، او بل نبی نۀ راځی اګرکه د مقام او وخت مناسب خبره مخکښې کول ضروری دی، خو بیان به د ټول دین کولے شی۔ ډیر خلق پدے بهانه باندے مداهنت کوی او دیته حکمة وائی، حال دا چه حکمة حق بیانولو ته وائی چه په بنائسته ترتیب او الاهم فالاهم مقدم کولو او اخلاقو سره وی۔
(وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ) (۱) [وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ قَبَاحَةَ الْكِتْمَانِ]
(یعنی تاسو ته د حق د پټولو قباحت او ګناه معلومه ده) او بیا هم حق پټوئ۔
(۲) [وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ الْحَقَّ] (یعنی تاسو ته حق معلوم دے بیا ئے هم پټوئ) نو دا ډیره لویه ګناه ده ځکه که یو انسان په صحیح طریقے سره په حق نۀ پوهیږی او هغه پټ کړی نو ګناهګار نۀ دے۔ احادیثو کښې ډیرے مسئلے دی او مونږ ته نۀ دی معلومے۔
فائده : بیا کتمان حق دیته نۀ وائی چه هره مسئله دِے لیدله نو بس هغه به بیانوے بلکه کتمان حق دا دے چه یوه ضروری مسئله د ایمان او د توحید او د عمل او د رسول الله ﷺ د تابعدارئ سره تعلق لری، او انسان ئے پټه کړی نۀ بلکه د هغے بیانول به ضروری وی او ډیرے مسئلے داسے شته چه یو وخت کښې ورته ضرورت نۀ وی، یا باریکے وی، د عوامو ذهن ورته نۀ ورسیږی او د هغے نه بغیر هم د هغه ایمان جوړ دے۔ نو که

هغه بیان نکړے شی نو څه حرج به پکښ نۀ وی، اګرکه اعلیٰ درجه نۀ ده۔ لکه علی رضی الله عنه نه نقل دی : چه ته به کله یوه خبره بیانوے نو د بعض خلقو دپاره به فتنه اُوګرځی۔ نو د خلقو د عقلونو مطابق کلام به کولے شی۔

فائده : خلق کتمان حق ولے کوی؟ ددے یو څو وجے دی : (۱) کله کتمان حق کیږی د دنیا پرستئ د وجه نه، وائی که حق بیان کړم نو دا تنخواه او امامت رانه زائله کیږی۔
(۲) کله کتمان حق کیږی د ضد او عناد او حسد د وجه نه، که حق بیان کړم نو د مخالف خبره رابانده اُوچتیږی۔ (۳) کله د یرے د وجه نه وی، چه کلی کښ راته شر جوړیږی۔

وَأَقِيمُوا الصَّلوٰةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿٤٣﴾
او پابندی د مانځه کوئ او ورکوئ زکوٰة او رکوع کوئ سره د رکوع کونکو نه۔

تفسیر : مخکښ امرونه د ایمان د حفاظت طریقے وے، نو اُوس د ایمان د کامل کیدو او د هغے د مضبوطیدو اعمال ذکر کوی، اول د مانځه پابندی او دا بدنی عبادت دے او بل زکوٰة ورکول دی او دا دلیل دے چه د بنی اسرائیلو په دین کښ هم مونځ او زکوٰة فرض وو، لیکن دوی کښ ددے شی کموالے راغلے وو۔ څکه ورته امرونه کوی۔ او هرکله چه دوی ایمان راوړی نو اُوس به زمونږ د نبی ﷺ په طریقه مونځ او زکوٰة ورکوی۔
بیا په هغوی بانده څلور مونځونه فرض وو او په مونږ بانده پنځه مونځونه فرض دی، او دا امر لکه څنګه چه هغوی ته دے نو مونږ ته هم دے۔
وَآتُوا الزَّكٰوةَ : زکاة په ډیرو ادیانو کښ الله تعالیٰ لازم کړیدے، په قرآن کریم کښ مونځ او زکوة دواړه په یو ځائے ذکر کیږی۔ وجه دا ده چه مال او بدن دواړه الله تعالیٰ د مؤمن نه اخستلی دی [اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰی مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ] (التوبة : ۱۱۱) (جنت انسان ته هله حاصلیږی چه مال او بدن اُولګوی)۔ دلته امر په زکوٰة بانده مطلق راغلے دے او تفصیلات ئے بیا احادیثو کښ رسول الله ﷺ کړیدی۔
زکوٰة په لغت کښ طهارت او نمو (ترقی) ته وائی۔ نو د زکوٰة په وجه مال پاکیږی او نمو او زیادت پکښ پیدا کیږی۔ زکاة هغه مال ته وائی چه د نصاب نه بعد مسکینانو

تـه ورکولے شی۔ بیا په هر دوه سوو روپو کښې پنځه روپۍ دی، او په زرو کښې پنځه ویشت روپۍ دی۔ یهودو کښې دا دواړه مرضونه وو چه د مانځه پابند هم نۀ وو او د بل چا نه به ئے مالونه راجمع کول او خپله به ئے نۀ لګول۔

یهود د زکاة نه انکار نۀ وو کړے لیکن دوه غلط فهمیانے هغوی کښې راغلے وے :

(۱) – د زکاة نۀ اداء کول۔ (۲) دویم د زکاة مصرف فقراء او مساکین وو نو دوی د هغې مصرف احبار او کاهنان جوړ کړل او مسکینان ئے په ځائے پریخودل۔ لکه د تورات په کتاب الاحبار کښې د کاهنانو حقوق، فرائض، نذرونه او هغوی دپاره قربانی ذکر دی لیکن د مسکینانو ذکر په کښې بالکل نشته۔

زکاة چه څوك نۀ ادا کوی نو خلیفه د مسلمانانو به د هغه سره قتال کوی، لکه ابوبکر صدیق ﷺ مانعینو د زکوٰة سره قتال کړے وو۔

په قرآن کریم کښې د زکاة فوائد

(۱) دا د نیکانو د اعمالو نه دے (سورة البقره : ۱۷۷)

(۲) دا سبب د اجردے د الله تعالیٰ په نزد (سورة البقره : ۲۷۷)

(۳) دا سبب د حصول د جنتو او تکفیر د سیئاتو دے (مائده : ۱۲)

(٤) دا صفت د هغه چا دے چه حقدار د دوستانے کولو وی (مائده : ۵۵)

(۵) دا سبب دے د حصول د رحمتِ خاصه (اعراف : ۱۵٦)

(٦) دا سبب دے د حفاظت او عصمت د وینے او د مال (سورة التوبة : ۱۱/۵)

(۷) دا سبب د فلاح او کامیابۍ دے (المؤمنون : ٤)

(۸) دا سبب د زیاتوالی دے۔ (روم : ۳۹)

(۹) دا د صفاتو د محسنین نه دے (سورة لقمان : ٤)

(۱۰) ددے پریخودل د صفاتو د مشرکانو نه دی (سورة حم السجده : ۷) انظر احسن الکلام۔

﴿ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴾ :ددے یو څو معانی دی (۱) یعنی ځان کښې د خشوع والا صفت پیدا کړئ۔ نو رکوع په معنیٰ د خشوع سره۔ څکه چه دوی کښې تکبر زیات وو، د الله تعالیٰ د حکم نه به ئے سرغړونه کوله۔ دیته معیة فی الوصف وائی یعنی د خشوع

والـو پـه شـان صفت ځان کښې راولئ۔ ځکه خشوع چه چا کښې راغله او تکبر ترے ختم شو نو هغه کښې هر خیر راځي۔ (۲) دویمه معنیٰ د رکوع نه مراد انقیاد دے۔ [اَیِ انْقَادُوْا مَعَ الْمُنْقَادِیْنَ] (تابعدار او منقاد شئ د هغه بندګانو سره چه منقاد دی) د الله تعالیٰ د حکم تابعدار دی۔ دا ئے عامے معنے دی۔ خصوصي معنے دا دی:

(۳) رکـوع نـه مراد مونځ دے۔ او پدے آیت کښې الله تعالیٰ امر بالجماعة کړیدے۔ (یعنی صَلُّوْا مَعَ الْمُصَلِّیْنَ) (یعنی د نورو مونځ کونکو سره په شریکه د جَمعے مونځونه کوئ) او د راکعیـن نـه مراد دا اُمت دے یعنی ایمان راوړئ او راشئ ددے امت سره شریك مونځ کوئ۔ بیا دلته تفسیر قرطبیؔ د جماعت احکام هم ذکر کړیدی۔

جـماعت فرض دے، نۀ به ئے پریدی مګر د سخت ضرورت د وجه نه لکه باران او سخت مـرض، یا یـو انسان غـلط مونځ کوی۔ قراءت ئے خطاء وی یا رکوع او سجده وریسے نۀ شي رسـولے، د جـماعـت نـه بغیر هم مونځ کیږی لیکن انسان به د فرض د پریخودو په مـطابـق ګـنـاهګار وی۔ لکه ددے تفصیل په فتاوی الدین الخالص (٤) او الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح (٥) کښې اُوګورئ۔

(٤) – ظـاهـر مـعـنـیٰ دا ده چه دلته حکم دے په رکوع کولو باندے دوی ته او پدے کښې اشاره ده چه رکوع په دوی فرض وه لیکن دوی قصداً پریخوستے وه ځکه په تورات کښې یهـودو تـه "ګـردن کـش" وئیلے کیږی۔ او د یهودو علماؤ وئیلي وو چه په مونږ باندے په کـال کـښې صـرف یـوه سجده فرض ده، او هغے کښې هم دا اجازت دے چه که په دیوال دِے اُوکړه یا پـه بـل شي باندے، په ولاړه ولاړه ئے اُوکړه بس تۀ غټ عابد شوے۔ نو دوی د الله تـعـالیٰ عبـادت نـه ځان دومره جدا کړے وو او لاپے او د ځان صفتونه به ئے دومره کول چه حد ئے نشته۔ (تدبر قرآن)۔

نـو مـعـنـیٰ دا ده : رکـوع اُوکـړئ د رکـوع کـونکو سره۔ یعنې نور خلق چه څنګه رکوع کـوی نـو دغـه شان رکـوع اُوکـړئ۔ په رکوع ئے ولے خاص امر اُوکړو ؟ ځکه چه د دوی په مـانـځـه کـښې رکوع ختمه شوے وه۔ بلکه قراءت به ئے ختم کړو نو سمدست به سجدے تـه تـلـل، او یا بـه ئـے زر زر کـوله حال دا چه دا عظیم رکن د مانځه دے، انسان په کښې الله تـعـالیٰ تـه ډیر ذلیـلـه کـیـږی نـو الله تـعـالیٰ ورتـه وائي چه دا رکوع پکښې خصوصاً مۀ پریدئ۔ او رکوع کښې ملا سمه نۀ برابرول او زر زر کولو سره مونځ درست نۀ دے۔

رسول الله ﷺ په مسیء الصلاة صحابی باندے درے کرته مونځ راواپس کړیدے ځکه چه رکوع او قومه او جلسه ئے برابره نهٔ وه۔ بعض علماء وائی : دا امر ورته ځکه کوی چه د یهودو په مانځه کښې رکوع نهٔ وه۔ لیکن دا قول ضعیف دے وجه دا ده چه روستو سورة آلعمران (۴۳) آیت کښې مریم علیها السلام ته په رکوع امر شویدے۔

دا ټولے معانی پدے کښې صحیح کیدے شی او ټولے دلته مراد دی، ځکه چه تعارض پکښې نشته، او دا حکمونه لکه څنګه چه بنی اسرائیلو ته وو دغه شان دا حکمونه مونږ ته هم متوجه دی۔ عمر فاروق ﷛ یوه ورځ تقریر کښې اُوفرمایل : اے خلقو ! دا آیتونه د بنی اسرائیلو په باره کښې ځان له نهٔ دی ځکه هغوی خو مخکښې تیر شویدی بلکه الله ئے تاسو ته اَوروی (ستاسو دپاره هم دی)۔ کوم خلق چه وائی چه دا آیتونه صرف د بنی اسرائیلو دپاره دی، غلط وائی۔

پدے آیتونو کښې د یهودو قبائح دا ذکر شو : ناشکره دی، وفاء بالعهد پکښې نشته۔ رهبة او تقویٰ پکښې نشته۔ ایمان پکښې نشته اول کفر کونکی دی په قرآن، او په رسول۔ او اشتراء بالآیات کوی، تلبیس د حق او د باطل کوی۔ کتمان حق کوی، د مانځه پابند نهٔ دی او زکوٰة نهٔ ورکوی، او رکوع او د جمعے پابندی پکښې نشته۔ نور مرضونه :

أَتَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ
آیا تاسو حکم کوئ خلقوته په نیکئ باندے او هیروئ ځانونه خپل
وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۴۴﴾
حال دا چه تاسو لولئ کتاب نو آیا تاسو د عقل نه کار نهٔ اخلئ۔

تفسیر : عنوان الآية : [اَلتَّوْبِيْخُ بِتَرْكِ الْعَمَلِ مَعَ دَعْوَةِ النَّاسِ اِلَى الْعَمَلِ] اُوس یو توبیخ ورکوی چه دوی بل ته مسئلے کوی خپله پرے حملے کوی)۔ نو الله تعالیٰ فرمائی په تاسو کښې یو بل بد صفت هم موجود دے او هغه دا چه تاسو خلقو ته خو د ایمان او د نیکئ حکم ورکوئ (مسئلے بیانوئ) او خپله مو ځانونه هیر کړیدی ګویا کښې دا دین ستاسو دپاره نهٔ دے۔ حالانکه تاسو تورات لولئ چه په هغے کښې خیانت، ترکِ خیر او په

قول او عمل کښې په تضاد باندې ډیر سخت وعید راغلې دې، ددې خصلت د زیات بد ښکاره کولو دپاره په آخر کښې فرمائی چه آیا په تاسو کښې دومره هم عقل نشته چه د قول او د عمل د تضاد قباحت او بد والې محسوس کړئ ؟ ! ۔

او په یو حدیث کښې د قیامت د علاماتو نه دا خبره خودلې شویده چه خطّیبان او مقررین به ډیر شی او فقهاء او علم والا به کم شی۔

(أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ) نیکو خبرو باندې بل ته امرکوئ چه پدې نبی باندې ایمان راوړئ او بیا خپله پرې ایمان نۀ راوړئ۔ ددې ډیر **مصداقات** دی :

(١) یو دا چه بعض یهودیانو به په رسول الله ﷺ باندې د ایمان راوړلو حکم کولو لکه دوه حدیثونه بخاری او مشکاة کښې راغلی دی چه یو یهودی به د رسول الله ﷺ خدمت کولو، نو په مرض الوفات کښې رسول الله ﷺ د هغه خواته ورغلو، ورته ئې اُوفرمایل : (قُلْ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ) (کلمه د توحید اُووایه) هغه خپل پلار ته اُوکتل، نو پلار ئې غلې شو، رسول الله ﷺ بیا دعوت ورکړو، هغه بیا پلار ته اُوکتل نو پلار ئې اُوویل : (أَطِعْ اَبَا الْقَاسِمِ (ﷺ) (د رسول الله ﷺ تابعداری اُوکړه) نو هغه اُوویل : (اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ) بیا وفات شو۔ (رضي الله عنه) نو رسول الله ﷺ د هغۀ نه راووتو او دا ئې فرمایل : (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْقَذَهٗ مِنَ النَّارِ)

[بخاری باب اذا اسلم الصبی : ١٢٩٠]

(حمد دې هغه ذات لره چه زما په وجه ئې د اُور نه خلاص کړو)۔

٢- تفسیر "الدر المنثور" کښې د ابن سعدؒ او احمدؒ روایت راوړیدې چه یو پلار د خپل ځوی د وفات کیدو په وخت کښې تورات د خپلې تسلئ دپاره کولاؤ کړې وو او هغه ئې لوستلو نو رسول الله ﷺ ورته اُوفرمایل : [أَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ الَّذِي أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ هَلْ تَجِدُنِیْ فِيْ كِتَابِكَ ذَا صِفَتِيْ وَمَخْرَجِيْ فَقَالَ بِرَأْسِهٖ هٰكَذَا أَيْ لَا،] تا ته قسم درکوم په هغه ذات چه تورات ئې نازل کړیدې، آیا ته پدې تورات کښې زما صفت او زما د راوتو ځائې مونده کوې ؟ نو هغه په سر اشاره اُوکړه چه نه، نو ځوی ئې اُوویل : [أَيْ وَالَّذِيْ أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ إِنَّا لَنَجِدُ فِيْ كِتَابِنَا صِفَتَكَ وَمَخْرَجَكَ وَأَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ] قسم په هغه الله تعالیٰ چه تورات ئې نازل کړیدې ضرور مونږ ستا صفت او مخرج مونده کوو۔ او بیا ئې کلمه د شهادت اُووئیله۔بیا وفات شو، بیا نبی ﷺ صحابه کرامو ته اُوفرمایل :

[أَقِيمُوا الْيَهُودِيَّ عَنْ أَخِيكُمْ ثُمَّ وَلّٰى كَفَنَهُ وَالصَّلَاةَ عَلَيْهِ]

دا یهودی ستاسو د ورور د خوا نه پاخوئ، بیا ئے کفن ورکړو او مونځ ئے پرے اُوکړو۔

[الدر المنثور ۳/۵۷۳) (وَهٰذَا اِسْنَادٌ جَيِّدٌ وَلَهُ شَاهِدٌ فِي الصَّحِيحِ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ - صحیح السيرة النبوية ۱/۷۳) للشيخ الالبانی رحمه الله]

۳- دوه ورونـه (ابوحـارثـه او کُرز بـن عـلـقـمـه) په لاره روان وو، یو امی (کرز) او بل (ابوحارثه) د انجیل عالم وو، نو د ابوحارثه اُوښه اُوخویدله نو کرز د نبی ﷺ په باره کښ ښیرے اُوکړے (تَعِسَ الْأَبْعَدُ) (الله دِے دا وړاندے انسان هلاك کړی) نو ابوحارثه ورور ورته اُووئیل : (بَلْ أَنْتَ تَعِسْتَ) (تهٔ دِے هلاك شے) نو کرز ورته اُووئیل : دا ولے ؟ ابوحارثه اُووئیل : (واللهِ اِنَّهُ لَلنَّبِيُّ الَّذِيْ كُنَّا نَنْتَظِرُ) (قسم په الله دا هغه نبی دے چه مونږ ئے انتظار کولو) نو کرز ورته اُووئیل : (وَمَا يَمْنَعُكَ وَأَنْتَ تَعْلَمُ هٰذَا) (هرکله چه تا ته دا معلوم دے نو تهٔ ئے بیا تابعداری ولے نهٔ کوے؟) نو ابوحارثه ورته اُووئیل : (مَا صَنَعَ بِنَا هٰؤُلَاءِ الْقَوْمُ، شَرَّفُوْنَا وَاَمَّرُوْنَا وَاَكْرَمُوْنَا الخ) یعنی زهٔ د تابعدارئ نه دے خبرے منع کړے یم چه دے قوم (نصرانیانو) مونږ له شرافت راکړے، مونږه ئے مشران جوړ کړی یو، او زمونږ عزتونه کوی او دوی خو ددے نبی خلاف دی نو که زهٔ ئے تابعداری اُوکړم نو دا ټول څیزونه کوم چه ته ګورے رانه اخلی، نو کرز دا خبره په زړه کښ پټه کړه او ددے نه روستو ئے اسلام راوړو۔

[المعجم الاوسط: ۳۹۰٦ ومجمع الزوائد وفی سنده بريدة بن سفيان وهو ضعيف) (وتفسير كبير)]

۲- او د البر بـل مـصـداق صـدقـات او خیراتو نه دی لکه د سلمان فارسی ﷺ په اُوږده واقعـه کښ راځـی چـه د هـغـه پیـر بـه خـلـقـو تـه په صدقاتو امرونه کول او دهٔ به جمع کـولـے۔نو په هغوی کښ به بعضو وئیل : صدقے ورکوئ، زکاتونه ورکوئ او خپله به ئے نهٔ ورکـول، بـخیـلان وو۔ او دا صفت په ډیرو مُلیانو کښ شته چه ښه مالدار وی بل ته د صدقے او خیرات فـضـائـل بیانوی او خپله ئے نهٔ کوی۔ بل ته به ئے وئیل خیانتونه مهٔ کوئ او خپله غټ خائنان وو۔ ۳- او عام نیك اعمال ئے هم مصداق دے۔

البرّ : (۱) (اَلطَّاعَةُ الْوَاسِعَةُ) فـراخـه نیـکـئ تـه وائـی، بیا دا عام دے هر قسم نیکئ ته شـامـل دے، د ایـمـان، د مـانـځـه او مـالـونـو ټولو نیکیانو ته شامل دے، خصوصاً ایمان بالرسول ته۔

(۲) دارنګه بر لفظ عربی کښې ایفاء عهد، وفاداری او د اداء الحقوق په معنیٰ راځي۔ د بِر په مقابله کښې اثم، عقوق، غدر، ظلم راځي۔

خطیب شربینیؒ لیکی:

[اَلْبِرُّ : هُوَ التَّوَسُّعُ فِي الْخَيْرِ مِنَ الْبَرِّ بِالْفَتْحِ وَهُوَ الْفَضَاءُ الْوَاسِعُ يَتَنَاوَلُ كُلَّ خَيْرٍ وَلِذٰلِكَ قِيْلَ الْبِرُّ ثَلَاثَةٌ، بِرٌّ فِيْ عِبَادَةِ اللّٰهِ وَبِرٌّ مَعَ الْأَقَارِبِ وَبِرٌّ فِيْ مُعَامَلَةِ الْأَجَانِبِ] (السراج)

(برّ په خیر کښې فراخي کولو ته وئیلے شي، جوړ دے د بَر نه په زور د باء سره هغه میدان چه فراخه وي، نو بِر هم هرے نیکئ او خیر ته شامل دے ددے وجه نه وئیلے شي چه بر درے قسمه ده یو د الله تعالیٰ په عبادت کښې نیکی ده او بله نیکی ده د خپلوانو سره او بله د پردو خلقو سره په معامله کښې نیکی کول دی)۔

﴿ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ ﴾ یعنی تاسو ځانونه هیر کړیدی د هغے د عمل کولو نه۔ د ځان هیرولو معنیٰ دا ده چه خپله دا سوچ نۀ کوئ چه آیا مونږ دا عملونه کوو او که نۀ ؟۔ او په مونږ لازم دی او که نۀ ؟ دارنګه د عمل پریخودو معنیٰ ئے ده۔

﴿ وَأَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ﴾ یعنی تاسو خو کتاب (تورات) هم لولئ چه هغه تاسو ته حکم کونکے دے په عمل کولو۔ دا قید د زیات قباحت دپاره دے۔ چه یو انسان د الله تعالیٰ کتاب لولی او هغے کښې ورته امر او نهی هم معلوم وی او بیا هم عمل نۀ کوی دا خو ډیر لوئی مجرم او بے عقله دے۔

(۲) دارنګه تاسو کتاب لولئ او هغه ستاسو دپاره هم دے او د عوامو دپاره هم، نو څنګه بل ته پرے نصیحت کوئ او خپله پرے عمل نۀ کوئ۔ کتاب په بل چا لګولے او ستا دپاره به نۀ وی !!۔ وَتَنْسَوْنَ نه دا وَهُم پیدا کیدو چه په هیره باندے خو الله تعالیٰ رانیول نکوی، چه انسان نه هیر وی او ګناه اُوکړی یا نیکی پریږدی۔ نو ددے وهم د ازالے دپاره الله تعالیٰ ورسره وانتم تتلون الکتاب اُووئیل چه دا کتاب تاسو لولئ او دا درته خبره هم رایادوی او بیا هم تاسو هیڅ سوچ نۀ کوئ۔

﴿ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴾ (۱) [أَفَـلَا تَعْقِلُوْنَ سُوْءَ صَنِيْعِكُمْ] (آیا تاسو سوچ نۀ کوئ په دے بد کار خپل) چه انسان بل لره د جهنم نه بچ کوی او خپل ځان اُور ته بوځی۔

حدیث کښې دی: [مَثَلُ الْعَالِمِ الَّذِيْ يُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ، وَيَنْسَى نَفْسَهُ كَمَثَلِ السِّرَاجِ يُضِيْءُ لِلنَّاسِ وَيُحَرِّقُ نَفْسَهُ]

[الضیاء فی المختارة والالبانی فی صحیح الجامع : ۵۸۳۱) (واقتضاء العلم العمل : ۴۹]
(مثال د هغه عالِم چه خلقو ته د خیر تعلیم ورکوی او خپل ځان ئے هیر کړے وی لکه د هغه ډیوے دے چه خلقو ته رنړا کوی او ځان سوزوی)
ددے وجه نه د قرآن او حدیث په زده کړه کښې به اول د خپل ځان د اصلاح نیت کیږی، او د ځان اصلاح چه اُوشوه نو بیا د الله تعالیٰ قانون دے چه الله رب العالمین ددهٔ د خولے او د عمل نه داسے احوال راوُباسی چه د بل اصلاح پرے په ښه شان کیږی او چه انسان خپله ناجوړه وی، او د بل اصلاح کوی نو دا په پوره طریقے سره نشی کیدے۔

وَغَيْـرُ تَـقِـيٍّ يَـأْمُـرُ النَّـاسَ بِـالتُّـقٰـى	طَبِيْـبٌ يُـدَاوِى النَّـاسَ وَهُـوَ مَـرِيْـضٌ

(غیر متقی انسان چه خلقو ته په تقویٰ امر کوی ددے مثال داسے دے لکه طبیب چه بل له علاج کوی او خپله مریض وی) نو دا به څه علاج اُوکړی۔
ابو الاسود الدئلی رحمه الله فرمائی :

۱: لَاتَـنْـهَ عَـنْ خُـلُـقٍ وَتَـأْتِىَ مِثْلَـهٗ	عَـارٌ عَـلَيْكَ إِذَا فَـعَـلْـتَ عَـظِيْمٌ
۲: تَصِفُ الدَّوَاءَ لِذِى السَّقَامِ وَذِى الضَّنٰى	كَيْـمَـا يَـصِحُّ بِـهٖ وَأَنْـتَ سَقِيْـمٌ
۳: اِبْـدَأْ بِـنَـفْسِكَ فَانْهَهَـا عَنْ نَـحْيِهَـا	فَـإِذَا انْتَهَـتْ عَـنْـهُ فَأَنْتَ حَـكِيْـمٌ
٤: فَهُـنَـاكَ يُـقْـبَلُ مَـا تَـقُـوْلُ وَيُـقْتَـدٰى	بِـالْـقَـوْلِ مِـنْكَ وَيَـنْـفَـعُ التَّـعْلِيْـمٌ

(الفوائد ۲)
(۱: د بد کار نه خلقو له منع کول او خپله ورته راتلل دواړه مهٔ جمع کوه ځکه دا کار په تا باندے ډیر شرم تمامیږی۔ ۲ : تهٔ خو بیمار ته دوائی ښائے دے دپاره چه هغه پرے روغ شی لیکن تهٔ خپله بیمار ئے۔ ۳: اول خپل ځان نه شروع وکړه، دا د خپلو غلطو نه منع کړه، کله چه ستا نفس منع شی نو تهٔ حکیم (هوښیار) ئے۔ ٤: نو دغه وخت کښے به ستا خبره قبلیږی او ستا د خبرے اقتداء به کیږی او ستا تعلیم ورکول به فائده ورکوی)
بعض کسان دا شکایت کوی چه زما په بیان کښې اثر نهٔ وی، یا پوره خبره نشم کولے نو

د هغې طريقه دا ده چه د ځان اصلاح اُوکړه نو ستا په زړهٔ کښې به خير خواهي او اخلاص پيدا شي بيا به غير اختياري ستا د خولې نه بي خبرې راوځي چه په خلقو به اثر کوي۔

(۲) (أَفَلَا تَعْقِلُونَ اَىْ أَفَلَا عَقْلَ لَكُمْ)

(آيا ستاسو عقل نشته) ځان ته مُلیان وايئ او کارونه د بے عقلو کوئ۔

فائده مهمه : بيا نيك اعمال په دوه قسمه دی : ۱- يو فرضي اعمال لکه په الله تعالىٰ باندې ايمان راوړل، د هغه توحيد منل، د رسول الله ﷺ رسالت منل، الله تعالىٰ باندې توکل، هغه ته انابت، او قرآن کريم کښې چه د ايمان والو کوم صفات ذکر دی لکه مونځ، زکوٰة، روژه، حج، منافقت نه ځان بچ کول دی۔ ۲- دويم مستحب اعمال دی۔ نو په فرائضو چه دِې امر اُوکړو نو خپله به ئې خامخا کوې۔ او په مستحباتو که دِې امر اُوکړو نو هغه تا دپاره کول افضل دی، او که عمل دِې پرې اُونکړو نو د اُوچتې درجې نه به خکته راپريوزې خو گناهگار به نهٔ ئې۔ او دا وعيد به تا ته نهٔ شامليږی۔ لکه تا چا ته اُووئيل چه تهجد کوه، ډير ښه عمل دې، او خپله درنه پاتې شو، نو الله تعالىٰ به تا نهٔ راګيروی، ليکن تا له ئې کول پکار دی۔ او که چا ته دِې اُووئيل فرض مونځ کوه، د زنا، فساد، غلا او گناه نه ځان ساته۔ نو خپله به ترې خامخا ځان ساتې۔ فرض مونځ به کوې، که اُودِې نکړو، غټ مجرم ئې او پدې آيت کښې داخل ئې۔ ليکن تا باندې دوه فريضې دی :

۱- يو دعوت ۲- بل عبادت۔

که عبادت دِې اُونکړو۔ دعوت دِې اُوکړې شو۔ يوه فريضه خو به ادا شي۔

ددې آيت دا معنىٰ نهٔ ده چه بل ته دعوت به هله ورکوې چه اول پرې خپله عمل اُوکړې۔ داسې معنىٰ ئې نهٔ ده، بلکه پدې کښې توبيخ او زورنه ده يعنی چه بل ته امر کوې، دعوت کوې، نو پکار ده چه عمل هم ورسره اُوکړې۔ خو که چا عمل اُونکړو نو هغه يوه گناه اُوکړله او که چا عمل اُونکړو او دعوت ئې هم اُونکړو۔ نو دوه گناهونه ئې اُوکړل۔

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي : [كَفٰى بِالْمَرْءِ اِثْمًا اَنْ يَّقُولَ لَهٗ اَخُوهُ اِتَّقِ اللّٰهَ ! فَيَقُولُ : عَلَيْكَ بِنَفْسِكَ] (دا کافي (کبيره) گناه ده چه يو انسان ته ورور مسلمان اُووايئ د الله تعالىٰ نه اُووېريږه او دا ورته جواب کښې اُووائي : د خپل ځان غم کوه)۔ (القرطبی ۳/ ۱۹)

او په مرفوع حديث کښې دی : [اِنَّ اَبْغَضَ الْكَلَامِ اِلَى اللّٰهِ اَنْ يَّقُولَ الرَّجُلُ لِلرَّجُلِ اِتَّقِ اللّٰهَ

فَيَقُوْلُ : عَلَيْكَ بِنَفْسِكَ] [الصحيحة ٦/٩٩رقم : ٢٥٩٨]
(یعنی دا خبره الله تعالیٰ ته ډیره ناخوښه ده (ډیره ئے بدی شی) چه یو سړے بل ته اُووائی د الله نه یره اُوکړه او هغه ورته وائی د خپل ځان غم کوه)۔

تنبیه : اوکوم اثر د ابراهیم نخعیؒ کښ چه رازی چه زه درے آیتونو د بیان نه منع کړے یم، دا آیت او لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ (سورة الصف آیت : ۲) او وَمَا اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَا اَنْهٰكُمْ عَنْهُ (سورة هود : ۸۸)

نو هغه محمول دے په هغه وخت چه بل عالم موجود وی او دعوت فرض عین نهٔ وی۔
نو اُوس به څوك وائی چه هلکه دا شیان مونږ پریدو۔نو دا اړے، خپله مشری او مالونه په دهوکو، دړکو ګټو نو ددے نه به څنګه خلاص شو؟ نو الله تعالیٰ دلته چل ښائی :

وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ۚ
او مدد اُوغواړئ (د الله تعالیٰ نه) په صبر کولو او په مونځ کولو سره
وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ﴿٤٥﴾
او یقیناً دا کار خامخا ډیر ګران دے مګر په عاجزی کونکو (نهٔ دے ګران)

تفسیر: مخکښ آیتونو کښ بنی اسرائیلو ته د دنیا او د مال د محبت نه د بچ کیدو نصیحت اُوکړے شو، چه هغه بغیر د صبر او ثبات نه نهٔ حاصلیږی، پدے وجه الله تعالیٰ پدے آیت کښ هغوی ته د صبر او د مانځه تلقین اُوکړو۔ چه تاسو پدے مخکښ احکامو او اوامرو باندے هله عمل کولے شئ چه صبر درپکښ پیدا شی۔او دے کښ دا هم اشاره ده چه صبر او مونځ نه کار واخلئ الله تعالیٰ به بیرته خلافت او عزت درکړی۔
یهودو په دین باندے صحیح عمل پدے وجه نهٔ کولو چه د دنیا مال او متاع او تنخواه ګانے او اړے به راباندے بندے شی، په الله تعالیٰ ئے توکل نهٔ وو۔ او دغه شان خبره بعینهٖ د مکے مشرکانو هم کړے وه (وَقَالُوْا اِنْ نَّتَّبِعِ الْهُدٰى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ اَرْضِنَا) (القصص:٥٧)
(که مونږ د هدایت تابعداری اُوکړو نو خلق به راباندے حملے اُوکړی او تباه به شو)
نو دا په الله تعالیٰ بد ګمانی ده ځکه چه الله تعالیٰ تا ته په یهودیت او شرك او بدعة کښ

رزق او مالونه درکوی نو چه ته د الله تعالیٰ هدایت قبول کړے نو آیا تا به الله تعالیٰ د لوږے نه مړ کړی ؟ هیچرے نهٔ !۔

نو پدے آیت کښں الله تعالیٰ دوی ته د هدایة د قبلولو او د حق بیانولو طریقه دا اُوخودله چه صبر او مونځ کوئ او د الله تعالیٰ نه دعاګانے غواړئ۔

د صبر نه بغیر خو هیڅ د خیر کار نهٔ موجودیږی او د مانځه مقصد خپل زړه الله تعالیٰ ته متوجه او مائل کول دی چه دا د ایمان او د عمل په میدان کښں د ثابت قدمیٔ دپاره د ټولو نه غټ مددګار شے دے۔ یهودو به په ډیر دین باندے د خلقو د یرے نه عمل نهٔ کولو، یا د محبت د مال او سرداریٔ د وجه نه نو دلته ورته اُووئیل شو صبر اُوکړئ۔

﴿وَاسْتَعِيْنُوْا﴾ استعانة : مدد طلب کولو ته وائی۔ بیا پدے کښں معانی او تفسیرونه دی (۱) یو دا چه استعانة په معنیٰ د استقامة دے۔ (اَیْ اِسْتَقِيْمُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ) (کلك او مضبوط شئ په صبر او مانځه باندے) نو حاجتونه به مو پوره شئ۔

(۲) مدد حاصل کړئ د دغه ماموراتو او منهیاتو د عمل کولو دپاره په صبر کولو سره د لذتونو نفسانیو نه (چه مال او جاه او مشری وغیره دی) او په مانځه سره۔ (خازن والنیسابوری)۔

(۳) دریم استعانة په خپله معنیٰ دے، مدد طلب کول۔ او معنیٰ دا ده [اِسْتَعِيْنُوْا بِوَسِيْلَةِ الصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ عَلٰی قَضَاءِ حَوَائِجِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ] (یعنی مدد طلب کړئ د الله تعالیٰ نه په وسیله د صبر او مانځه سره په پوره کولو د حاجتونو د دنیا او آخرت)

یعنی صبر کوئ او مونځونه کوئ نو الله تعالیٰ به درسره مدد کوی، د عذابونو نه به نجات او خلاصے درکوی او حاجتونه به مو پوره کوی)

(٤) مدد حاصل کړئ په تکالیف او مصائبو کښں په صبر کولو سره په مصائبو باندے۔

(٥) مدد حاصل کړئ په حق ښکاره کولو باندے په صبر او صلوة سره۔

(٦) [اِسْتَعِيْنُوْا فِیْ كُلِّ اُمُوْرِكُمْ بِالصَّبْرِ بِجَمِيْعِ اَنْوَاعِهٖ وَكَذٰلِكَ الصَّلَاةِ]

[التفسير الميسر ۱ /٥٩]

(د الله تعالیٰ نه په ټولو کارونو کښں په ټولو اقسامو د صبر سره مدد حاصل کړئ او په مانځه سره)

(۷) ابو العالیهٔ فرمائی : [اِسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ عَلٰی مَرْضَاةِ اللّٰهِ، وَاعْلَمُوْا اَنَّهَا مِنْ طَاعَةِ

اللّٰهِ] (تفسیر ابن ابی حاتم ۱۲۳/۱) (مدد حاصل کړئ په صبر او مانځه سره په رضا د الله تعالیٰ۔ او پو هه شئ چه دا د الله طاعت دے)

لکه نبی ﷺ پدے باندے عمل کریدے : [كَانَ اِذَا حَزَبَهٗ أَمْرٌ صَلّٰى] [ابوداود : ۱۳۲۱] (نبی ﷺ ته به چه یو مصیبت راپیښ شو یا به یو کار غمجن کړو نو مانځه ته به زر متوجه شو)۔ او دیته توسل وائی په اعمال صالحه ؤ سره، چه انسان حاجت پوره کول غواړی نو نورو وسیلو ته ضرورت نشته چه باباګانو او قبرونو خوا له ورشی او د هغوی نه مددونه غواړی لکه ډیر مشرکان د تکلیف په وخت کښ د اولیاؤ مزارات او قبرونو ته حاضریږی او د هغوی نه برکت او مدد حاصلوی۔ بلکه شرعی طریقه د وسیلے دا ده چه خپل نیك عمل الله تعالیٰ ته وسیله اُوګرزوه، مونځونه ډیر کړه۔ او صبر ورسره کوه۔بس مسئلے به دِے حل شی۔ [وَمَنْ دَقَّ بَابَ كَرِيمٍ فَتَحَ]

(څوك چه د عزتمند ذات دروازه ټکوی هغه ضرور کولاویږی)

بعض خلق یو کرت نیم دعاء اُوغواړی او دوه رکعاته مونځ اُوکړی او بیا وائی مونږ سره مدد اُونشو، تلوارګرن او جلت باز وی، حال دا چه صبر او مونځ به کوے کوے تردے چه آخر به الله تعالیٰ دروازه کولاوه کړی او حاجت به پوره شی۔ دارنګه مخلوق ته متوجه کیدل او د الله تعالیٰ دربار پریخودل هم د یقین د خرابئ نښه ده۔

نو پدے آیت کښ د ټولو مصیبتونو علاج که دنیوی وی او که دینی وی، دغه دوه څیزونه خودلے شویدی۔

تنبیه: دلته ډیرو مفسرینو د صبر نه مراد صوم اخستے دے یعنی روژے نیسئ (او دا قول د مجاهدؔ دے) لیکن دا نیمګړے مصداق دے ځکه چه حدیث کښ صوم ته نصف الصبر وئیلے شویدے او دلته مقصود امر کول دی په کامل صبر باندے۔ لهذا په عموم باندے پریخودل اولیٰ دی۔ چه صوم ته هم شامل شی۔ بیا په مذکوره تفسیرونو کښ شپږم تفسیر غوره دے۔

د لفظ صبر وضاحت

صبر په لغت کښ مرارة او تریخوالی ته وئیلے شی لکه مصبر یو تریخ کنډ دے هغے ته هم صَبِر وائی، صبر هم ډیر تریخ شے دے، هسے په خوله باندے وئیل ئے خو آسان دی، لیکن اختیارول ئے ډیر ګران کار دے۔ لکه یو شاعر دا معنیٰ ادا کړیده :

اَلصَّبْرُ مِثْلُ اسْمِهٖ مُرٌّ مَذَاقَتُهٗ	لٰكِنْ عَوَاقِبُهٗ اَحْلٰى مِنَ الْعَسَلِ

(صبر د خپل نوم په شان دے، تریخ خوند ئے دے لیکن انجام ئے د گبین نه هم زیات خوږ دے)۔

(۲) دویم صبر په معنیٰ د حَبْس (بندوالی) سره دے، او په صبر کښې هم د یو شی نه یا په یو شی باندے بندیدل وی۔

په اصطلاح کښې حافظ ابن قیمؒ په مدارج السالکین (۱۵۲/۲) کښې داسے تعریف کوی:

[فَالصَّبْرُ: حَبْسُ النَّفْسِ عَنِ الْجَزَعِ وَالتَّسَخُّطِ وَحَبْسُ اللِّسَانِ عَنِ الشَّكْوىٰ وَحَبْسُ الْجَوَارِحِ عَنِ التَّشْوِيْشِ] (بندول د نفس دی د فریاد کولو او خفگان نه او بندول د ژبے دی د شکایت کولو د الله تعالیٰ نه او بندول د اندامونو دی د گډوډ کولو نه)۔

(۲) ذو النون المصریؒ فرمائی:

[اَلصَّبْرُ: التَّبَاعُدُ مِنَ الْمُخَالَفَاتِ وَالسُّكُوْنُ عِنْدَ تَجَرُّعِ غُصَصِ الْبَلِيَّةِ وَاِظْهَارُ الْغِنٰى مَعَ حُلُوْلِ الْفَقْرِ بِسَاحَاتِ الْمَعِيْشَةِ] [مدارج۱۵۲/۲]

(صبر: د الله تعالیٰ د مخالفتونو نه وړاندے کیدل، او د مصیبت د سختیو د گوټ کولو په وخت په آرام کیدل او د ژوند په پړاوونو کښې د فقر د نازلیدو په وخت کښې د مالدارئ اظهار کول) دی۔

بیا صبر لفظ قرآن کریم کښې (۱۰۳) کرته راغلے دے او اته نوی (۹۸) کرته صبر ممدوح دے او (۵) کرته صبر مذموم ذکر دے۔ لکه روستو راځی۔

دا خبره زده کړه چه (اَلصَّبْرُ سَاقٌ لِكُلِّ عَمَلٍ) (صبر د هر عمل پونډئ ده) هیڅ عمل بغیر د صبر نه ممکن نهٔ دے۔ که هغه دینی عمل وی او که دنیوی۔ ددے وجه نه د صبر اجر هم زیات دے۔ د الله تعالیٰ ارشاد دے:

(اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ) (الزمر:۱۰)

(صبرناکو ته به بے حسابه اجر ورکړے شی)

ددے وجه نه دا د ایمان نیمه حصه ده۔ ایمان د دوه څیزونو نه جوړ دے۔ صبر او شکر، او په مانځه سره شکر حاصلیږی۔

د صبر اقسام : اول تقسیم :

۱- صبر علی المقدور: تقدیر کښې چه کوم مصیبت لیکلے شوے وی په هغے کښې د الله تعالیٰ نه رضا کیدل او صبر کول. او دا په درے طریقو آسانیږی:

۱- (بِمُلَاحَظَةِ حُسْنِ الْجَزَاءِ) (دا خیال کول چه ددے مصیبت بدله به د الله تعالیٰ سره ډیره مزیداره وی). ۲- (وَانْتِظَارُ رُوحِ الْفَرَجِ وَلَذَّتِهِ) (د مصیبت د لرے کیدو او د کشادګئ د خوند انتظار کول) او امید ساتل چه راحت راروان دے.

۳- (بِتَعْدَادِ نِعَمِ اللّٰهِ السَّالِفَةِ وَالْآتِيَةِ) (د الله تعالیٰ د مخکنو نعمتونو او د آینده نعمتونو شمارل) کله چه بنده د الله تعالیٰ احسانات او د هغه فراخه رحمت او نعمت یاد کړی نو دا مصیبت به داسے اُوګنړی لکه قطرة من بحر. (د دریاب یو څاڅکے).

۲- صَبْر عَلَی الْمَأْمُور (یعنی اَلصَّبْرُ عَلَی الطَّاعَات) : په ماموراتو (عباداتو) باندے صبر کول.

او صبر عَلَی الطَّاعَة په دے طریقه راځی : چه د طاعت محافظت اُوکړی همیشه دپاره، او په اخلاص سره د هغے رعایت اُوکړی او په علم سره د هغے تحسین (ښائست) اُوکړی.

۳- صَبْر عَنِ الْمَحْظُوْر. (اَلصَّبْرُ عَنِ الْمَعَاصِیْ) د حرامو او ګناهونو نه صبر.

۴- اَلصَّبْرُ عَنْ كَثِيْرٍ مِنَ الْمُبَاحَاتِ : (د ډیرو مباح خواهشات او لذتونو د دنیا نه صبر کول) او دلته صبر ټولو اقسامو ته شامل دے. (ابن کثیرؒ، خازن)

دویم تقسیم : صبر بیا په دوه قسمه دے (۱) اَلصَّبْرُ الْاِخْتِيَارِیّ. په صبر باندے هله اجر ملاویږی چه دا اختیاری وی، او د مصیبت په ابتداء کښې اُوشی. لکه حدیث کښې دی :(اِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْاُوْلٰی). ۲- دویم صبر اِضْطِرَاری : مجبوراً صبر کول دی چه انسان اول جزع فزع، شکایتونه، فریادونه، رد بد اُوکړی نو بیا مجبوراً صبرناك شی څکه نور څه پاتے نشی نو پدے باندے اجر نشته. دے عقلو خلقو طریقه دا ده چه مصیبت هم پرے راشی او د ځان نه د صبر ثواب هم ختم کړی.

دریم تقسیم : صبر په دوه قسمه دے

(۱) اَلصَّبْرُ الْمَحْمُوْدَ وَالْمَمْدُوْح. پدے کښې هغه مخکنی څلور واړه اقسام داخل دی.

(۲) اَلصَّبْرُ الْمَذْمُوْم : مذموم صبر دا دے چه (۱) انسان د الله تعالیٰ نه بے غمه شی، په

هغه هیڅ پرواه نۀ لري۔ دا ډیر ناکاره صبر دے۔

اَلصَّبْرُ يُحْمَدُ فِي الْمَوَاطِنِ كُلِّهَا	❁	اِلَّا عَلَيْكَ فَاِنَّهٗ لَا يُحْمَدُ

صبر په هر ځائے کښې ښۀ صفت دے، مگر ستا نه صبر کول ښۀ نۀ دی۔

(۲) – په اُور باندے صبر کول (فَمَا أَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ) (البقره: ۱۷۲)

﴿سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَحِيْصٍ﴾ (ابراهيم: ۲۱)

(۳) – په بابا ګانو او معبودانو باندے صبر کول، (لَوْلَا أَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا) (فرقان: ٤١)

٤ – اِصْبِرُوْا عَلٰى آلِهَتِكُمْ) (ص: ٦) په باطل باندے صبر کول او کلك پاتے کيدل۔

د صبر نور اقسام:

(۱) اَلصَّبْرُ بِاللهِ (۲) اَلصَّبْرُ لِلّٰهِ (۳) اَلصَّبْرُ مَعَ اللهِ۔

صبر بالله ديته وائي چه د الله تعالیٰ مدد غوختل او دا ګنړل چه صبر ورکونکے صرف الله تعالیٰ دے۔ لکه (وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ اِلَّا بِاللّٰهِ) (النحل: ۱۲۷)

(يعنی که الله تعالیٰ درله صبر درنکړی نو ته صبر نشے کولے)۔

اَلصَّبْرُ لِلّٰهِ (د الله دپاره صبر) دا دے چه په بنده باندے په صبر کولو کښې باعث د الله تعالیٰ محبت او د هغه رضا وی او هغه ته ځان نزدے کول وی، د خپل نفس د قوت اظهار او خلقو صفت راجلب کول ئے اراده نۀ وی۔

اَلصَّبْرُ مَعَ الله (د الله تعالیٰ سره صبر کول) دا دی چه بنده د الله تعالیٰ د دينی مراد او د هغه د احکامو سره ګرزی راګرزی، د هغے سره ئے ځان بند کړے وی، يعنی خپل نفس ئے د الله تعالیٰ په اوامر او محبوب څيزونو پورے تړلے وی۔ او دا په ټولو کښې اَهم او سخت دے۔

د صبر فوائد: حديث کښې دی: [وَمَا أُعْطِيَ اَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَاَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ] بنده ته نۀ ده ورکړے شوے يوه عطيه چه هغۀ غوره او فراخه وی د صبر نه۔

[احمد ۳/٤٧ والبخاری: ١٤٦٩]

۱ – د الله تعالیٰ معيت ورسره حاصليږی۔ (اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصَّابِرِيْنَ)

۲ – اجر ئے بے اندازے دے۔ کما مرّ۔ ۳ – جنت او فوز او نجات بغير د صبر نه نۀ حاصليږی، قرآن کښې د ايمان والو د صفاتو په آخر کښې د صبر صفت راوړی۔

﴿بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ﴾ (رعد: ۲٦) (أُولٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوْا) (فرقان: ۷۵)

٤- د الله تعالىٰ مدد او نصرت وعده د صابرينو سره ده. (آل عمران /١٢٥)

٥- صبر چه چا کښې نهٔ وي، هغه د ګناهونه نشي بچ کيدے او نيکي پکښې نشي راتلے. او کمالاتو ته هم نشي رسيدلے. امامت في الدين په صبر سره دے. او الله تعالىٰ په بندګانو امتحان کوي چه دوي څومره صبر کوي.

(وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوْا) (الم السجدة: ٢٤)

فائده : په صبر کښې شکوىٰ اِلى الله بهتر عمل دے، چه انسان الله تعالىٰ ته فرياد کوي، پدے سره بنده الله تعالىٰ ته نزدے کيږي. او شکوى من الله (چه مخلوق ته شکايت کوي) مذموم عمل دے. يو سړي بل سړے اُوليدو چه مخلوق ته ئے د فاقے او حاجت شکايتونه کول نو هغه ورته اُووئيل :

(يَا هٰذَا ! تَشْكُوْ مَنْ يَّرْحَمُكَ اِلٰى مَنْ لَّا يَرْحَمُكَ)

(ته د الله رحيم ذات شکايت هغه چا ته کوے چه رحم دربانده نشي کولے)

وَاِذَا شَــكَـوْتَ اِلَــى ابْــنِ آدَمَ اِنَّــمَــا	❁	تَشْـكُــو الـرَّحِيْـمَ اِلَى الَّـذِىْ لَايَـرْحَـمْ

(او کله چه تهٔ بنيادم ته شکايت کوے نو پوهه شه چه ته د رحيم ذات شکايت هغه چا ته کوے چه رحم دربانده نشي کولے)

فائده : د صبر د زده کولو طريقه په حديث کښے دا خودلے شويده :

[وَمَنْ يَّتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللّٰهُ] [بخاري : ١٤٦٩]

(څوك چه په تکلف سره صبر کوي او په ځان بوج اچوي نو الله تعالىٰ به ئے صبرناك جوړ کړي).

مطلب دا چه هر ځل په تا باندے يو مصيبت راغلو، نو په خپل نفس باندے بوج واچوه او برداشت وکړه، داسے په هر مصيبت کښے نو ددے په نتيجه کښے به الله تعالىٰ تا ته صبر درنصيب کړي، مزاج به دِے صبرناك شي. نو صبر په صبر کولو سره زده کيږي.

د صبر زيات تحقيقات په کتاب عدة الصابرين لابن القيّمؒ کښې کتلے شئ.

وَالصَّلَاة : مونځ سره د انسان مشکلات حل کيږي او د الله تعالىٰ سره عجيب اُنس او محبت حاصليږي، او کله چه دا حاصل شي، نو بيا بنده وائي چه دغه مشکل دِے وي، او دا ضرورت دِے حاصل نشي خو چه دا اُنس رانه لاړ نشي. د بعض سلفو نه نقل دي

چه ما بانـدے كله مصيبت راشي نو زۀ د الله تعالىٰ نه دعا غوارم غوارم تردے چه زما د الله تـعـالىٰ سره عجيب تعلق جوړ شي چه بيا غوارم چه دغه حاجت مے پوره نشي ځكه كه هغه پوره شي، نـو بيـا دا تـعـلـق كټ كيږي۔ نو د مؤمن بنده په مونځ باندے ډيره تسـلـي كيـږي او په زړه كښ يو عـجيبه غِنىٰ پيدا كيږي۔ خو كه دا قسم مونځ جوړ شي هله ؟!۔

﴿وَاِنَّهَا﴾ (۱) (ها) ضمير دے خصلت د صبر او مانځه ته راجع دے۔

(۲)– يا الـعبـادة ته راجع دے۔ يعنى دا عبادت د صبر او د مانځه۔ (۳) بعض وائى : استـعـانـة تـه راجع دے۔ تول صحيح دى۔ (٤) لیـكن راجح دا ده چه : اِنَّهَا ضـمـير صلوٰة (مـانـځـه) تـه راجـع دے، د يو څو وجو هاتو نه (۱) اوله وجه دا ده چه دا اقرب مذكور دے۔

(۲) دويم دا چه د صبر گران والے هرچا ته معلوم دے، د هغے بيان ته حاجت نشته۔

(۳) دريـم دا چـه صبـر تـريخ دے نو د هغے خوږوالے بيانول پكار دى، نۀ سختوالے، لكه د ترغيب طريقه همدا ده۔

(٤) څـلـورم دا چـه صبر خـو خـاشـعـيـن او غيـر خـاشـعين دواړه كولے شى اُوگوره كفار خـو مـره صبر كوى د خپل فاسد مقاصدو دپاره، ډاكوان، غله، مفسدان د حصول د خپلو خـواهشـاتـو دپـاره څو مره صبر كوى او دلته الله تعالىٰ په (اِلَّا عَـلَى الْخَاشِعِيْنَ) سره حصر كـړيـدے نـو ظاهـر دا ده چـه ضـمـير صلاة ته راجع دے، بيا دا تفسير د مجاهدؒ دے او ابن جريرؒ هم اختيار كړيدے۔

(۵) بـلـه وجـه دا هـم كيدے شي چه په صلاة كښ صبر ضمني طريقے سره داخل دے، د مونځ گرانوالے د صبر نه په غير نۀ حل كيږي او صبر ورسره ضروري دے۔

فائدتان : (۱) صبر عجز او كمزورئ ته نۀ وائي بلكه استقامت او كلك والى ته وئيلے شي لكه په لغتِ عربى كښ په اشعارو كښ راغلي دى او قرآن كريم كښ هم راځي۔

(۲) سكينة، وقار، صَمْت (چپوالے) كِتْمَانُ السِّرّ (راز پټ ساتل) حُسْنُ السَّمْت (ښائسته سيرت) صَوْم (روژه) عِفَّتْ مِنَ الْفَوَاحِش (د بى حيائى نه ځان پاك ساتل) عَفَافَ عَنِ السُّؤَال (د سوالونو نه ځان ساتل) حِلْم، (بُردبارى) اَلتُّؤُدَه (اطمينان) وغيره په صبر كښ داخل دى بلكه د صبر انواع دى۔

فائده : قـرآن او حـديث كـښ غـالبـاً مُزْدَوجات ذكر كيږى لكه (۱) صبر او صلاة (۲)

عبادة او توکل (۳) ایمان او عمل صالح (٤) صبر او شکر (٥) ذکر او شکر (٦) او کله ذکر او فکر (۷) کله توکل او توبه (۸) کله توبه او انابت (۹) کله توبه او استغفار (۱۰) ایمان او یقین (۱۱) کله تقویٰ او ایمان (۱۲) کله زکاة او صلاة (۱۳) کله قرآن او ایمان بالآخرة (١٤) کله قرآن صلاة جمع کوی (١٥) کله درے واړه (قرآن، صلاة، آخرت) جمع کوی۔ (١٦) التوحید، الرسالة (۱۷) کله حج او عمره (۱۸) کله ایمان، هجرت او جهاد یو ځائے ذکر کیږی۔ (۱۹) کله علم او خشیت (۲۰) او کله علم او ایمان۔

(۲۱) کله توبه او عمل صالح (۲۲) او کله ایمان او خوف (۲۳) او کله توکل او حق پرست کیدل۔ (فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ اِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِيْنِ) [النمل : ۷۹] ځکه ددے اعمالو یو بل سره ګهرا او مضبوط تعلق وی، چه تدبر سره هغه معلومیږی۔

(٢٤) او صبر خو د ډیرو شیانو سره یو ځائے راوړی لکه صبر عمل صالح، صبر او ایمان، صبر او شکر، صبر او تقویٰ وغیره دا فائده ډیره مفصله ده چه د الفوائد په دریم جلد کښں به ان شاء الله تعالیٰ راځی۔

﴿ اِلَّا عَلَى الْخَاشِعِيْنَ ﴾ یعنی چا کښں الله تعالیٰ ته عاجزی وی نو هغه باندے صبر او مونځ او هر عبادت ګران نهٔ وی۔ وجه دا ده چه هغه په دغه عبادت کښں د الله تعالیٰ د رضا او د ثواب اُمید لری او د الله تعالیٰ په وعدوئے یقین وی، او په پریخودلو کښں ئے یره د عذاب نه او د آخرت نه کوی۔

امام ابن جریرؒ او حافظ ابن کثیرؒ دلته د خاشعین څلور معانی ذکر کړیدی۔ (اَلْخَائِفِيْنَ) (ابو العالیة) (یره کونکی د الله تعالیٰ د عذاب او غضب نه)۔

(۲) (اَلْمُصَدِّقِيْنَ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى) (ابن عباس) (هغه کسان چه تصدیق د ما انزل الله کوی)۔

(۳) (اَلْمُؤْمِنِيْنَ حَقًّا) (مجاهد)۔(رشتینی او یقینی مؤمنان)۔

(٤) (اَلْمُتَوَاضِعِيْنَ) (مقاتل بن حیان)۔(عاجزی کونکی)۔

او په چا کښں چه دا ټول صفات راشی نو هغه باندے هیڅ عبادت مشکل او درون نهٔ وی۔

دلته **سوال** راځی چه الله تعالیٰ فرمائی : مونځ ډیر ګران عمل دے او حال دا چه مونځ خو منافقان او فاسقان خلق هم کولے شی او مونږ ټول ئے کوو، سره د هغے نه چه ډیر

انسانانو کښې خشوع نهٔ وي او لګیا وي مونځ کوي؟ نو دا څنګه ګران دے ؟

جواب دا دے چه یو د خلقو په اصطلاح کښې هسے خکته پورته کیدل او ورزش دے، او یو اصلي مونځ دے، د شارع په نیز، هسے خکته پورته کیدل ورزش دے، دا هر څوك کولے شي. کافرئے هم کولے شي، مسلمان، منافق، خاشع او غیر خاشع ټول، بلکه غیر خاشع ډیر ښه مونځ کولے شي، داسے سرکوندئ اروي، مونځونه کوي لګیا وي او یو داسے مونځ دے چه الله تعالیٰ پرے رضا کیږي، په هغے کښې الله تعالیٰ ته کامله توجه وي او د الله تعالیٰ سره پکښې محبت وي او د هغه هیبت او جلال وي او انسان پکښې په وقار وي او په هغه باندے اثر کوي. نو داسے مونځ ډیر ګران کار دے مګر په هغه کسانو باندے آسان دے چه هغوی کښې خشوع وي د مخکښې نه. بهر د مانځه نه. کله چه مخکښې نه تا کښې خشوع ده، چه مانځه ته اُودریدے نو بیا ډیر آسان دے. خو چه مخکښې نه درکښې مستي، فساد او ورانے وي نو بیا چه په مانځه اُودریدے نو تاکښې به خشوع څنګه راشي؟.

دے وجه نه شریعت وئیلي دي چه تاسو مانځه له راځئ نو مخکښې سنت اُوکړئ، نفل اُوکړئ، صف کښې کینئ، ذکر ، دعا اُوکړئ نو خشوع به درکښې څه نه څه پیدا شي. بیا چه ته کله په مانځه اُودرېږے نو مونځ به درته آسان وي او آسانے طریقے سره به ئے کولے شے. او تجربه هم داسے ده، یو سړے ډے د مانځه نه مخکښې منډے تړړے وهلي وي، دکان نه ډے راپاڅیدلے وي او بیا ډے راشي زر ډے په مانځه اُودرېږي نو ده کښې به خشوع څنګه پیدا شي، ټول مونځ به ئے بے خشوع وي، دا چه خپله خشوع برابروي نو سلام به ئے اړولے وي.

معنی الخشوع : خشوع په لغة کښې [اَلْاِنْخِفَاضُ وَالذُّلُّ وَالسُّكُوْنُ] (خکته کیدل، ذلیله کیدل او په آرام کیدل) دی لکه (اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً) (اَىْ ذَلِيْلَةً) (فصلت :۳۹) (وَخَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ) (طه :۱۰۸) (اَىْ سَكَنَتْ)

او دا لغوي معنیٰ په اصطلاحي معنیٰ کښې مراد وي. په خشوع کښې هم د مخلوق نه ځان خکته کنړلِ وي او الله تعالیٰ ته ځان ذلیله کول وي او آرام وي)

خشوع په اصطلاح کښې : (۱) (سُكُوْنُ الْقَلْبِ مَعَ سُكُوْنِ الْجَوَارِحِ) ته وئیلے شي.

(یعني د زړه په آرام کیدل سره د اندامونو نه) یعني زړه کښې ئے عاجزي او خضوع پیدا

شي او اندامونه ئے په آرام شي)

(۲) شيخ الاسلام ابن قيم الجوزية رحمه الله جامع تعريف كوي : [قِيَامُ الْقَلْبِ بَيْنَ يَدَيِ الرَّبِّ بِالْخُضُوعِ وَالذُّلِّ وَالْجَمْعِيَّةُ عَلَيْهِ] (د زړهٔ اُودريدل دي د رب مخے ته په عاجزئ او ذليله كيدو سره او د زړه راجمع كيدل دي په الله تعالىٰ باندے)

(وَمِنْ مُوجَبَاتِهِ الْإِنْقِيَادُ إِلَى الْحَقِّ)

(د خشوع نه انقياد او تابع كيدل د حق پيدا كيږي) چا كښے چه خشوع وي نو هغه د حق مُنقاد وي، او چا كښے چه تكبر وي نو هغه كښے ضد او تعصب وي۔

او محل د خشوع زړهٔ دے او د خشوع ثمره (ميوه) رابنكاره كيږي په اندامونو كښے نو چه په زړهٔ كښے خشوع پيدا شي نو اندامونه ئے په آرام وي، كبر په كښ نهٔ وي او خوله او لاسونه او سترگے وغيره اندامونه ئے غلط نهٔ استعماليږي۔

او خشوع اصل كښے د زړهٔ صفت دے۔ ظاهري اندامونه په هغے باندے صرف دليل وي۔ يو سړے به په ظاهره كښ ډير په عاجزئ ولاړ وي، خو زړهٔ كښے به ئے هيڅ خشوع نهٔ وي، او دا د منافقانو خشوع ده۔

د خشوع مثال : بعض سلفو نه نقل دي چه مونځ د هغه وينځے مثال لري چه يو بادشاه ته هديه كښے ليږلے شي نو ستا څه گمان دے چه يو بادشاه ته شله، يا ړنده، يا كوړ سترگے، يا لاس او خپه پريكړے، يا مريضه يا بد شكله يا قبيحه وينځه تحفه كړي تردے چه بغير د روح نه مړه وينځه ورته تحفه كړي، آيا هغه به ئے قبوله كړي۔ نو بيا دغه مونځ چه بنده ئے خپل رب ته وړاندے كوي او هغهٔ ته پرے ځان نزدے كوي، آيا دا به قبوله شي، او الله تعالىٰ مزيدار ذات دے، مزيدار عمل خوښوي، او هغه مونځ به څه مزيدار شي، چه بغير د روح نه وي۔ [مدارج السالكين ١/٥٢٦]

د خشوع اقسام

خشوع دوه قسمه ده : (۱) خشوع النفاق، (۲) او خشوع الايمان ۔ د ايمان والو خشوع دا ده چه (أَنْ يَّكُوْنَ فِي الْقَلْبِ وَيَظْهَرُ أَثَرُهُ عَلَى الْجَوَارِحِ) (په زړهٔ كښے وي او ظاهر باندے ئے اثر ښكاره كيږي)۔ او خشوع د نفاق دا ده چه (أَنْ يُّرَى الْجَسَدُ خَاشِعًا وَالْقَلْبُ فَاجِرًا) (ظاهره كښ سړے ډير عاجزه وي او دننه زړه ئے خراب وي)۔ ددے وجه نه علماء وائي : دومره خشوع رابنكاره كوئ چه څومره زړهٔ كښ وي، چه زړه كښ هيڅ هم نهٔ وي او

ظاهره کښې خشوع ډيره جوړه کړي- دا رياكار دے-

سفيان الثوريّ د ابراهيم نخعيّ نه نقل کړيدي چه خشوع دا نۀ ده چه اُوچه ډوډئ خوري او زګے جامے اغوندي او سرئے تيټ کړے وي، خشوع دا ده چه مالدار او غريب ورته په حق کښې مساوي ښکاري او په هر فرض کښې الله تعالیٰ ته عاجزي کوي-

او مرفوع حديث د ابو الدرداء ﷺ کښې دي :

[أَوَّلُ مَا يُرْفَعُ مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ الْخُشُوْعُ حَتّٰى لَا تَرٰى فِيْهَا خَاشِعًا] [الطبراني في الكبير : واسناده حسن، مجمع الزوائد ۲/۱۳٦، صحيح الترغيب والترهيب :۵٤۳]

(اول ددے امت نه چه پورته کيږي هغه خشوع ده، تردے چه تۀ به پکښے يو تن هم خشوع والا ونۀ وينے)

عباده بن صامت ﷺ فرمائي : نزدے ده چه ته به يو جامع مسجد ته ننوځے او يو رجل خاشع به اُونۀ وينے-

حسن بصريّ فرمائي : [إِذَا هَانَتْ عَلَيْكَ صَلَاتُكَ فَأَيُّ شَيْءٍ يَعِزُّ عَلَيْكَ] [قوت القلوب ۲/۱۷) والكبائر للذهبي الكبيرة الرابعة] (کله چه تا ته مونځ سپك او معمولي عمل ښکاري نو ددے نه روستو به بل کوم څيز تا ته عزتمند ښکاري)

د خشوع د پيدا کيدو اسباب

په مانځه کښې د خشوع د پيدا کيدو ډير اسباب دي :

۱- ضُعْفُ الشَّاغِلِ : (کوم شے چه تا مشغوله کوي نو هغه کمزورے کړه) لکه د بول ويراز نه ځان فارغ کړه-

۲- قُوَّةُ الْمُقْتَضِيْ : (تقاضا کونکے د خشوع قوي کول چه هغه يره د الله تعالیٰ ده) -

۳- تَدَبُّرُ فِي الآيَاتِ : (کوم آيتونه چه ستا په خوله جاري وي په هغے کښې تدبر کول)-

٤- إِعْظَامُ الْمَقَامِ : د مقام تعظيم کول) چه زه په مسجد کښې ولاړ يم په مصلیٰ ولاړ يم او الله عظيم ذات ته ولاړ يم-

۵- اَلْجَهْرُ بِالْقِرَاءَةِ : (قراءت معمولي شان په زوره وئيل) چه خپله ئے اَوري-

٦- (صَلِّ صَلَاةَ مُوَدِّعٍ) (داسے مونځ کوه ګويا کښې دا ستا آخري مونځ دے او ددے نه روستو وفات کيږے) يعني طُوْلُ الْاَمَلِ (اُوږد اميد) کمول-

۷- دا خيال کول چه زما هغه حصه مونځ قبول دے چه خشوع پکښې وي نو ولے خپل

عبادت تباه کوم. داسے نور اسباب هم دی. د هر رکن بیله بیله خشوع ده. او خشوع چه کله په مانځه کښ پیدا شوه نو بیا بهر هم پیدا کیږی. د خشوع پوره تفصیل په الحق الصریح او الفوائد کښ اُوګوره.

فائده: د خشوع، خضوع او تضرع فرق دا دے چه خشوع په زړه کښ وی او تضرع په ژبه کښ وی (زاریٔ ته وئیلے شی) او خضوع په عام بدن کښ وی، او کله خضوع د سترګو دپاره استعمالیږی. دارنګه د زړه لین (نرموالی) ته هم خضوع وئیلے شی. کما فی السراج

امام راغبؒ فرمائی: (اَلْخُشُوْعُ: اَلضَّرَاعَةُ وَأَكْثَرُ مَا يُسْتَعْمَلُ الْخُشُوْعُ فِيْمَا يُوْجَدُ عَلَى الْجَوَارِحِ، وَالضَّرَاعَةُ أَكْثَرُ مَا تُسْتَعْمَلُ فِيْمَا يُوْجَدُ فِى الْقَلْبِ وَلِذٰلِكَ قِيْلَ فِيْمَا رُوِيَ : إِذَا ضَرَعَ الْقَلْبُ خَشَعَتِ الْجَوَارِحُ) (مفردات /١٤٨)

(خشوع، تضرع ته وئیلے شی، لیکن خشوع اکثر په هغه څه کښ استعمالیږی چه په اندامونو کښ موجودیږی او ضراعة (تضرع) اکثر د زړه سره استعمالیږی لکه یو روایت کښ دی: إِذَا ضَرَعَ الْقَلْبُ خَشَعَتِ الْجَوَارِحُ) یعنی کله چه زړه کښ تضرع پیدا شی نو اندامونو کښ خشوع راځی.

اَلَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُلٰقُوْا
(دا) هغه کسان دی چه دوئ یقین لری چه یقیناً دوئ ملاویدونکی دی
رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ﴿٤٦﴾
د رب خپل سره او یقیناً دوی خامخا هغهٔ ته ورګرځیدونکی دی.

تفسیر: پدے آیت کښ اُوس د خشوع طریقه بنائی او باعث د خشوع بیانوی.

(اَلَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ) یعنی په آخرت او د الله تعالیٰ په ملاقات باندے ئے یقین دے، او کله چه انسان الله تعالیٰ لره ډیر یادوی او په بعث بعد الموت باندے یقین لری نو هغه کښ خشوع زیاته پیدا کیږی. ظن دلته په معنیٰ د یقین دے ځکه چه ظن نه روستو کله (أَنْ) یا (أَنَّ) راشی نو معنیٰ ئے د یقین وی.

(مُلَاقُوْا رَبِّهِمْ) : (۱) دے کښې یو مقصد دا دے چه په دے کسانو کښې دا خشوع ولې راغلے ده؟ نو ددے وجه دا ده چه د دوی په زړونو کښې د الله تعالیٰ تعظیم دے، همیشه ئے زړه کښې دا وی چه مونږ به الله تعالیٰ له ورځو۔ او په آخرت ئے یقین وی۔ یعنی مُلَاقُوْا رَبِّهِمْ فِي الْآخِرَةِ۔

(۲) دویم دا چه ظن په معنیٰ د گمان شي یعنی دوی داسے مونځ کوی چه دا گمان کوی چه مونږ د الله تعالیٰ سره ملاقات کوو (أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ) فی الحال په مانځه کښې د الله تعالیٰ سره ملاؤ دی۔ او دا گمان لری چه د مانځه نه پس به الله تعالیٰ ته ورگرځو۔ یعنی دا آخرنے مونځ گنړی لکه حدیث کښې دی (صَلِّ صَلَاةَ مُوَدِّعٍ)

[ابن ماجه ٤١٧١ ، الطبرانی : المعجم الاوسط: ٤٤٢٧]

(داسے مونځ کوه گویا کښې دا ستا آخری مونځ دے)۔

نو د خشوع سبب دا شو چه سړے داسے مونځ اُوکړی چه گویا کښې دا صلاة مودع (د رخصتونکی (وفات کیدونکی) انسان مونځ) دے۔ دلته اوله معنیٰ غوره ده وجه دا ده چه

(۱) یو خو ایمان بالآخرة تولو خیرونو (نیکیانو) لره جامع دے نو په صلاة مُودع کښے داخل دے۔

(۲) دویمه وجه دا ده چه لقاء قرآن کریم کښې غالباً د آخرت معنیٰ ورکوی لکه روستو معلو میږی۔

د لقاء درے معانی دی (۱) لقاء الله په معنیٰ د موت (مرگ) سره۔

(۲) البعث بعد الموت۔

(۳) کله د الله تعالیٰ رؤیت (لیدلو) ته هم وائی۔ (احزاب : ٤٤)

او مؤمنان دلته د درے واړو یقین لری چه په مونږ به مرگ راځی، بعث بعد الموت راتلونکے دے او بیا به د الله تعالیٰ مخے ته اُودریږو د حساب دپاره۔

﴿ رَاجِعُوْنَ ﴾ یعنی د الله تعالیٰ مخے ته به اُودریږی او بیا به ورسره حسابونه کوی۔

يٰبَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ اذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِيَ الَّتِيۡۤ اَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ

اے اولاد د یعقوب (علیه السلام) رایاد کړئ نعمتونه زما هغه چه ما کړی دی په تاسو

وَاَنِّيۡ فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۴۷﴾

او یقیناً ما تاسو غوره کړی وئ په مخلوقاتو (د خپلے زمانے)۔

تفسیر : (مضمون) بنی اسرائیلو ته خطاباتو کښې اول خطاب ددے آیت پورے بیان شو اُوس ددے ځائے نه تر (۶۲) پورے بل خطاب دے او دریم خطاب (۷۳) پورے او څلورم (۸۲) پورے او پنځم (۸۶) او شپږم (۹۶) پورے بیانیږی۔

دا شپږ خطابات دی یعنی بنی اسرائیلو سره خبرے دی د (قُلۡ مَنۡ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبۡرِيۡلَ) پورے، په دے اولنی خطاب کښې اته انعامونه بیانوی، چه دا رایاد کړئ او ددے په مقابله کښې تاسو له ایمان راوړل پکار دی۔ او دوه عذابونه۔ او دیته تذکیر بِالنِّعَمِ وَالنِّقَم وائی۔

او دا نعمتونه ئے په پخوانو بنی اسرائیلو باندے کړی دی خو دے اُوسنو باندے هم دی، پلار باندے چه نعمت اُوشو نو په څوی هم اُوشو۔ چه الله تعالیٰ دومره دومره نعمتونه کړی نو ظالمانو ولے ایمان نهٔ راوړئ، ولے حق نه منئ، ولے ضدونه کوئ، د الله تعالیٰ د نعمت په مقابله کښې درله ناشکری پکار ده که شکر؟، گوره الله تعالیٰ که نعمتونو والا دے خو عذابونو والا هم دے۔ پلار نیکه له ئے درله څنګه عذابونه درکړی وو، رجز من السماء ئے پرے نهٔ وو نازل کړی څه ؟ او ذلت، او مسکنت او غضب ئے پرے نه وو نازل کړے؟ د الله رب العزت عذابونو نه هم ویریږئ۔ (ترغیب مع الترهیب دواړه بیانیږی)۔

ذکر د نعمت د ترغیب دپاره دے او ذکر د عذابونو د ترهیب دپاره دے۔ ترغیب او ترهیب سره بنده جوړیږی۔

سړی کښې چه اهلیت وی یا په ترغیب جوړ شی یا په یره باندے جوړ شی۔ چه نهٔ په ترغیب او نهٔ په ترهیب جوړیږی دا هسے یو کاڼړے دے)۔ بیا ذکر د اته انعاماتو دے په سبب د ایمان او تابعدارئ د دوی د موسیٰ ﷺ ۔ او دوه عذابونه بیانوی د وجه د نا شکرئ د نعمتونو نه او په آخره کښې دوه شپیته آیت کښې : (ان الذین آمنوا) سره بیا

ترغیب ایمان او عمل صالح ته ورکوی چه راشئ تیر په تیر او هیر په هیر، اُوس ایمان راوړئ، الله رب العزت به تاسو اُوس هم اُوبخښي۔ داسے مهربانه الله دے، زرکاله ډیے تا کفر کړیے وی، اُوس ایمان راوړه الله تعالیٰ ئے درنه قبلوی۔ اُوس هم اجر درکوی او جنت ته دِیے رسوی۔ دغه مقاصد به بیانیږی۔

قرآن کریم کښې الله تعالیٰ د موسی علیه السلام واقعات زیات بیانوی ددیے وجوه مخکښې بیان شویدی چه زمونږ نبی مشابه دیے موسی علیه السلام سره او دا امت د بنی اسرائیلو سره۔

(**یَا بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ**) دا خطاب مخکښې هم تیر شو، دوباره ئے راوړو ځکه چه هرکله انسان نعمت رایاد کړی نو دا هله فائده ورکوی چه د هغیے مطابق عمل اُوکړی نو دلته وائی هرکله چه تاسو نعمتونه رایاد کړئ نو راشئ اُوس پدیے باندیے عمل اُوکړئ (زبدة التفسیر)

۲- یا دا چه مخکښې انعامات وو په موجوده بنی اسرائیلو او اُوس انعامات ذکر کوی په مشرانو د هغوی باندیے چه ستاسو مشرانو سره هم الله تعالیٰ دغه شان احسانات کړیدی نو تاسو چرته ناشکری د نعمتونو اُونکړئ، گنیے د هغوی په شان سزاګانے به درکړم۔

۳- دارنګه تاکیداً ئے دوباره راواپس کړو او دیے دپاره چه دا مقدمه شی د راتلونکو نورو نعمتونو دپاره۔

﴿وَاَنِّیْ فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعَالَمِیْنَ﴾ او هرکله چه تاسو له الله تعالیٰ غوره والے درکړیے وو نو تاسو له شکر کول پکار دی ځکه چه یو انسان الله تعالیٰ نبی یا عالم د دین اُوګرځوی، په خلقو ورله غوره والے ورکړی نو هغه له شکر کول پکار وی۔

دا فضیلت په څه باندیے دوی ته ورکړیے شویے وو؟ : (بِالْكِتَابِ وَالنُّبُوَّةِ) (دوی له کتابونه ډیر ورکړیے شوی وو او نبوت پکښې زیات راغلے وو) لکه سورة المائده (۲۰) کښې هغه ذکر دی۔

د عام نعمتونو ذکر کولو نه روستو یو خاص نعمت ذکر شو او خطاب اګرچه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زمانے یهودو سره دیے، لیکن مراد د هغوی پلاران نیکونه دی او د عالمین نه مراد د هغه زمانے خلق دی۔

سوال : که یهودیان او نصاریٰ سوال اُوکړی چه ستاسو قرآن کښې دی چه بنی

اسرائیل په ټول مخلوق غوره دی ؟

نو ۱-**جواب** دا دے چه په العالمین کښې الف عهدی دی، (اَیْ عَالَمِیْ زَمَانِهِمْ) (د خپلے زمانے په عالَم باندے غوره وو) او د رسول الله ﷺ د راتګ نه روستو د هغوی غوره والے ختم شویدے مګر هله که په محمد رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړی نو بیا به ورته دوه اجرونه ملاویږی او که ایمان رانهٔ وړی نو (اُولٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ)

(په ټول مخلوق کښې دوی شریان او بد عمله خلق دے)

ددے امت نه څکه نشی غوره کیدے چه الله تعالیٰ په سورة آلعمران کښې ددے امت مؤمنانو ته فرمائی : (كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ) (آلعمران ۱۱۰) (تاسو غوره امت یئ) (وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ اُمَّةً وَسَطًا) (بقره : ۱٤۲) (تاسو ما غوره امت ګرزولی یئ)

لهذا دا اُمت غوره دے، یهود او نصاریٰ څوك دی چه هغوی په دے اُمت غوره کیږی؟ !، هغوی خو د انبیاؤ قاتلین او مغضوب علیهم او ضالین دی۔

۲- **جواب** : هغوی ته دا جزئی فضیلت ورکړے شوے وو چه انبیاء او رسولان او کتابونه پکښې زیات نازل شوی وو۔ او باقی دا اُمت غوره دے لکه د احادیثو نه معلومیږی چه دا امت به اول جنت ته داخلیږی، او دوی سره به اول حساب کتاب کیږی، او دنیا کښې ئے وخت لږ تیر کړیدے او اجر به ورته زیات ملاویږی۔

۳- **جواب** : دوی ته دا فضیلت د ډیرو کراماتو او خوارق العادات کارونو په وجه ورکړے شوے وو، یعنی د هغوی سره به ناشنا کارنامے کیدلے، او دے اُمت ته الله تعالیٰ نور فضیلتونه ورکړی دی، سره د دغه کراماتو نه لکه احادیث ددے نه ډك دی۔ لیکن خوارق د دوئ کم دی، د وجے د قوة الایمان نه نو د هغوی صرف جزئی فضیلت شو او دا هم صرف په پخوا زمانه کښے۔

وَاتَّقُوا يَوْمًا لَّا تَجْزِي نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ
او اُویریږئ د هغه ورځې نه چه بدله به نشي ورکولې هیڅ نفس د بل نفس (مجرم) نه
شَيْـًٔا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا يُؤْخَذُ
د هیڅ شي او نهٔ به شي قبلیدې د هغهٔ نه سفارش او نهٔ به اخستلې شي
مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤٨﴾
د هغهٔ نه فدیه (بدله) او نهٔ به دوئ سره مدد اُوکړې شي۔

تفسیر : تردې ځائې پورې اجمالًا د الله تعالیٰ نعمتونه بیان شو، نو اُوس د آخرت تخویف (یره) ورکوی ځکه د آخرت په یره سره ټول احکامو باندې عمل کول آسانیږی۔او دا باعث دې په شکر د نعمتونو۔ او دې ته د انسانانو په اصطلاح کښې غاړه خلاصول وائی، الله تعالیٰ ورله ډیره خیرخواهی کړیده۔ درې ځل ئې ورته یا بنی اسرائیل آواز کړیدې۔

مطلب دا چه که تاسو زما رسول او په هغه نازل شوی کتاب باندې ایمان رانهٔ وړئ او پدې حال کښې تاسو قیامت ته راشئ نو نهٔ به کوم رشته دار په هغه ورځ په کار راځی او نهٔ کوم سفارش او نهٔ به د عذاب نه د ځان بچ کولو دپاره کومه معاوضه او رشوت قبلیږی او نهٔ به ستاسو مدد ته څوك راځی، هر تعلق، هره رشته داری او هر سفارش به بیکاره ثابت شی، په هغه ورځ به فیصله صرف د الله تعالیٰ په اختیار کښې وی او بدانو ته به د هغوی د بدئ او نیکانو ته به د هغوی د نیکئ بدله ورکولې شي۔

﴿وَاتَّقُوْا﴾ : تقویٰ ئې ځکه راوړه چه تقویٰ یره ده سره د بچاؤ نه نو نفس پریدل کار نهٔ ورکوی ترڅو چه په اعمالو باندې د قیامت د عذابونو نه انسان ځان بچ نکړی۔نو پدې کښې تیاری کولو ته اشاره ده۔

(**یَوْمًا**) یعنی د دغه ورځې د عذابونو نه اُویریږئ او په صحیح ایمان او عمل صالح باندې ځان ترې خلاص کړئ۔ ددې ورځ نه مراد د قیامت ورځ ده چه پنځوس زره کاله

ده۔

لا تجزی : (۱) یوه معنیٰ ده (لَا تَكْفِيُ)۔(نهٔ کافی کیږی یو نفس په ځائے د بل نفس) او کار به نهٔ ورکوی د هغه په ځائے۔

(۲) دویم : (لَاتُغْنِيُ) (نهٔ به شی دفع کولے یو نفس د بل نه هیڅ شے)۔

(۳) دریم جزاء بدلے ورکولو ته وئیلے شی۔ یعنی بدله به نشی ورکولے۔ چه مثلًا پلار یا بل خپلوان راشی او الله تعالیٰ ته اُووائی زما ځوی معاف کړه، ما اُونیسه۔ یا د هغه ضمانت اُوکړی۔دا به نهٔ وی۔ (وهذا ظاهر)۔

نفس : دا لفظ قرآن کریم کښے (۱۱۳) کرته راغلے دے، کله په معنیٰ د روح وی۔ (أَخْرِجُوا أَنْفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ) (انعام : ۹۳) (اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْأَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا) (الزمر: ٤٢)

(۲) او کله روح مع الجسد دواړه مراد وی۔ لکه پدے مقام کښں دا مراد دے۔

او نفس د الله تعالیٰ صفت هم دے او د بندګانو هم۔ د الله تعالیٰ په صفت کښں د متشابهاتو نه دے۔ نفس د تنفس نه ماخوذ دے، ساه اخستلو ته وئیلے شی او نفس هم ساه اخلی۔

فائده : نفسونه درے قسمه دی : (۱) اَلنَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّه : دا اعلیٰ نفس دے۔ سورة الفجر کښں راغلے دے۔ (۲) اَلنَّفْسُ اللَّوَّامه۔ چه په ګناه باندے ځان ملامته کوی۔ دا د مؤمن نفس وی۔ (وَلَا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَة) (القيمة :۲)

(۳) اَلنَّفْسُ الْأَمَّارَةُ بِالسُّوْءِ ۔ (هغه نفس چه په ګناه باندے امر کوی) (إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوْءِ) (یوسف:۵۳) دا د مشرکانو او کافرانو او ګناهګارو خلقو نفس وی۔

دلته د اول نفس نه مراد پاك نفس دے او دویم نفس نه مجرم نفس مراد دے۔

شَيْئًا : دا مفعول مطلق دے د لاتجزی دپاره یا مفعول بهٖ دے۔یعنی شَيْئاً مِنَ الْإِغْنَاءِ او شَيْئًا مِنَ الْكِفَايَةِ۔ هیڅ قسم کفایت او بدله به نشی ورکولے۔

﴿ **وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ** ﴾ د هغه پاك نفس نه به سفارش هم نهٔ قبلیږی۔ (مِنْهَا) ضمیر دے اول نفس ته راجع دے، سفارش دا دے چه یو نیك سړے راشی الله تعالیٰ ته اُووائی : یا الله دا معاف کړه ! الله تعالیٰ به وائی نهٔ، کافر دپاره سفارش نشته۔ که بالفرض پیغمبران ورله سفارش کوی، هم الله تعالیٰ ئے نه قبلوی۔ شفاعت شته خو لیکن د مؤمنانو ګناهګارو دپاره دے۔

(**وَلا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ**) (عدل) فدیے او بدلے ته وائی یعنی الله تعالیٰ به د انسان نه فدیه او مال هم نهٔ اخلی چه ورشه، دومره پیسے راوړه، تهٔ به خلاص شے، ځکه پیسو ته د الله تعالیٰ حاجت نشته۔

دویم : عدل کله په معنیٰ د انصاف استعمالیږی او هغه دلته نهٔ دے مراد۔ بلکه د عدل معنیٰ ده فدیه چه مساوی وی د انسان د قیمت سره، او په عدل کښ معنیٰ د مساوات پرته ده اشاره ده چه د انسان څومره قیمت دے که هغه ورکړے هم نهٔ قبلیږی۔

﴿ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴾ ملګری به ورسره مدد هم نشی کولے۔

فائده : غالباً چه سړے د جیل وغیره نه بچ کیږی نو په دے څلورو اسبابو : (۱) یو دا چه یو سړے د بل په ځائے کار ورکړی چه دا مه نیسه، دا کمزورے دے، بس زه به کفاله بالنفس اُوکړم۔ زه به دلته ناست یم۔ (۲) دویم دا چه مخوریز خلق راشی هغهٔ ئے په سفارش راخلاص کړی۔ (۳) دریم دا چه پیسے وغیره اُولګوی۔

(٤) څلورم دا چه خپلو ملګروته اُووائی چه زور اُولګوئ، په جیل وغیره باندے حمله اُوکړئ وغیره۔ دا څلور واړه طریقے په آخرت کښ نهٔ چلیږی۔ بلکه په صحیح ایمان او توحید او نیك عمل کار کیږی۔

مسئله د شفاعت :

شفاعة په لغت کښ یو ځائے والی ته وئیلے شی، نو په شفاعت کښ هم پاك نفس ځان سره مجرم یو ځائے کړی او د چا خواله ورشی چه دا معاف کړه۔ شفاعة لفظ په قرآن کریم کښ (۲۳) کرته راغلے دے۔

اقسام د شفاعة

شفاعت دوه قسمه دے : دنیوی، او اُخروی۔ دنیوی شفاعت (۱) – یو شفاعتِ حَسَنه (نیك شفاعت) دے (۲) او بل سَيِّئَه (بد) دے۔ شفاعت حسنه دا دے چه یو مسلمان ته د خیر رسیدو دپاره منډه وهل چه بل مسلمان ته پکښ ضرر نهٔ وی، دا ښهٔ عمل دے۔ حدیث کښے دی :

[اِشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوْا] [بخاری : ٦٠٢٦، مسلم : ٦٨٥٨]

(سفارش کوئ اجر به درکولے شی)

(۲) بد (سیئه) شفاعت دا دے چه د ګناه په کار کښ د چا سره مرسته کول۔

او د شفاعتِ اُخروى څلور اقسام دى : ۱- د مؤمنانو گناهګارو دپاره د پيغمبرانو سفارش، هر پيغمبر به خپل امت له سفارش كوى.
۲- شفاعت د ملائكو گناهګارو لره.
۳- د مؤمنانو خپل مينځ كښى يو بل له سفارش كول. ٤- او د الله تعالىٰ سفارش كول خپل ځان ته. لكه حديث كښى دى [وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ] [مسلم : ٤٧٢]
الله تعالىٰ به فرمائى چه زۀ اُوس پاتے يم نو د جهنم به د انسانانو يو موټے راډك كړى چه هغوى به موحدين وى اګركه نيكى به ئے نۀ وى.
يو شفاعت كبرىٰ دے، هغه د حساب كتاب د شروع كولو دپاره دے، هغه زمونږ د رسول الله ﷺ پورے خاص دے. او بل شخصى سفارش د اُمت دپاره دے نو دا بيا ډيرو طريقو سره دے ۱- يو دا چه د چا نيكى او بدى برابره شوى وى، نو نبى ﷺ به ئے سفارش كوى چه الله تعالىٰ ئے جنت ته بوځى. ۲- د جنت د دروازے كولاوولو دپاره وى.
۳- جهنم كښے د چا موده زياته مقرر شوى وى د پيغمبر په سفارش به راكميږى.

په **بل تقسيم شفاعت** په څلور قسمه دے : (۱) شَفَاعَة بِالْإِذْن (د الله تعالىٰ په اجازت سره سفارش كول) دا به د مؤمنانو په حق كښى وى.
۲- شفاعت قَهْرِىٰ (په زوره سفارش كول بغير د اجازت د الله تعالىٰ نه نو دا په قيامت كښى نشته، لكه څنګه چه مشركان دا عقيده لرى چه مونږ به خپل معبودان باباګان د الله تعالىٰ نه خلاصوى.
۳- شفاعت بِالْوَجَاهَة (يو مخوريز په سفارش كښى بوتلل).
٤-شفاعت بِالْمَحَبَّة : (يو محبوب سړے چا ته سفارش كښى بوتلل). نو دا درے قسمه شفاعت په قيامت كښى نشته. ځكه ددے مطلب دا جوړيږى چه الله تعالىٰ باندے العياذ بالله د چا زور رسى يا هغه د چا د مخ نه مجبوره وى، يا د چا د محبت نه مغلوبه وى وائى كه دا سفارش قبول نكړم نو محبوب رانه خفه كيږى. نو دا كارونه په الله تعالىٰ نشى راتلے. او شفاعت منل د مسلمانانو عقيده ده، معتزله او خوارج او اباضيه وغيره باطلے فرقے ئے نۀ منى، د مطلق آيتونو نه استدلال كوى چه په هغے كښى نفى د شفاعت راغلے وى (فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِينَ) (الشعراء : ۱۰۰).

حال دا چه دغه آیتونو کښې د کافرو د شفاعت نه نفی راغلې ده یا بغیر د اجازت نه شفاعت کول مراد دی۔ او ډیر نصوص د آیتونو او حدیثونو نه دلالت کوی چه شفاعت حق دے، قرآن کریم کښې بار بار (اِلَّا بِاِذْنِهٖ) لفظ راځی یعنی سفارش د الله تعالیٰ په اذن او اجازت سره شته۔

علامه قرطبیؒ وئیلی دی چه پدے باره کښې احادیث متواتره معنیً وارد دی او اجماع د سلفو صالحینو د امت هم ده۔ او شفاعت شرکی خو بالکل نشته چه یو مړی یا بابا له انسان ورشی چه زۀ تا له راغلے یم او تۀ ئے الله تعالیٰ ته اُووایه او زما دا حاجت پوره کړه نو دا سُو چه شرك دے۔

وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ
او کله چه خلاص کړئ مونږ تاسو د فرعونیانو نه، رسول به ئے تاسو ته بد عذابونه،
يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُوْنَ نِسَائَكُمْ
حلالول به ئے ځامن ستاسو، او ژوندئ به ئے پریخودلے زنانه ستاسو
وَفِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿۴۹﴾
او په دے (نجات) کښې انعام وو ستاسو د رب د طرفه، لوی۔

تفسیر : دے کښې په بنی اسرائیلو باندے د نعمتونو تفصیل بیانوی۔ دا دویم قسم خطاب دے بنی اسرائیلو سره پدے کښې بیان النعم والنقم علیهم دے۔ (یعنی د نعمتونو او عذابونو بیان دے) دپاره د جلب کولو د ایمان د هغوی۔ نو دلته (۱۰) غټ غټ انعامات ذکر کوی (۱) نجات د فرعون نه (۲) نجات د غرق کیدو نه (۳) هلاکول د فرعون (۴) د شرك نه روستو معافی کول، (۵) کتاب ورکول (۶) توبه قبلول (۷) بعث بعد الموت۔ (دوباره ژوندی کول) (۸) وریخ سورے کول (۹) او من او سلویٰ نازلول۔ مینځ کښې یو عذاب دے په قول او عمل بدلولو سره۔ (۱۰) نعمت : اُوبه نازلول۔

بیا بل عذاب : غضب نازلول او آخر (۶۲) آیت کښې ترغیب دے چه راشئ ایمان

راوړئ، الله به اجرونه درکړي او د غمونو نه به مو بچ کړي.
دلته هم اګرچه خطاب د مدینے یهودو ته دے لیکن مراد د هغوی آباء واجداد دي ځکه چه د هغوی نجات د کشرانو د پیدائش دپاره سبب دے.
او پدے آیت کښې اول نعمت ذکر دے په بني اسرائیلو : (اَلنَّجَاةُ مِنُ فِرُعَوُنَ)
(یعنی الله تعالیٰ تاسو د فرعون او د هغه د عذابونو نه خلاص کړئ). او نعمتونه په مشرانو دا نعمتونه وي په کشرانو.

د بني اسرائیلو تاریخي پس منظر

ددے آیتونو تاریخي پس منظر دا دے چه کله یوسف ﷺ د کنعان نه خپل والدین، ورونه او خپل خپلوان مصر ته راوغوختل نو هغوی ته ئې د مصر د بادشاه په حکم سره زرخیزه زمکه ورکړه، نو په هغے کښې به په کثرت سره اولاد پیدا کیدل، د یوسف ﷺ او د عزیز مصر د وفات نه بعد، د هغوی وقعت خو کم شو لیکن د نسل زیاتیدل جاري وو، آخر دا اُوشو چه د مصریو داسے تن بادشاه شو چه د اسرائیلیانو کثرت او ډیر والی نه اُوبریدو او خپل قوم ته ئې اُووئیل چه بني اسرائیل زمونږ نه په شمیر او شان وشوکت کښې زیات شو، دا ستاسو دپاره د خطرے سبب دے، د دوی فوج به زیات شي، چرته داسے اُونۀ شي چه مونږ ددے زمکے نه بے دَخله نۀ کړي، پدے وجه هغه حکم اُوکړو چه دا خلق په سخت نه سخت کارونو اُولګولے شي، او د دوی چه کوم نر بچي پیدا کیږي هغه دِے قتل کړے شي.
بیا فرعون د بني اسرائیلو اولاد ولے وژل ؟ پدے کښې د مفسرینو درے اقوال مشهور دي.
(۱) – بعض وائي : کاهنانو او نجومیانو ورته وئیلي وو، چه ستا بادشاهي به د یو بني اسرائیلي دلاسه اَوړي، نو هغه په ذبح د اولادو شروع اُوکړه. او دا هم یوه وجه کیدے شي چه فرعون دِے د کاهنانو په خبره یقین کړے وي، اګرکه مسلمانان به د کاهنانو په خبره یقین نۀ کوي، حدیث کښې ددے نه منع راغلے ده.
[مَنُ اَتٰی کَاهِنًا اَوُ عَرَّافًا فَصَدَّقَهٗ بِمَا یَقُوُلُ فَقَدُ کَفَرَ بِمَا اُنُزِلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ ﷺ]
(څوك چه کاهن ته راغلو او د هغه د خبرے تصدیق ئې اُوکړو نو دهٔ کفر اُوکړو په هغه

دین چه الله تعالیٰ په محمد ﷺ نازل کړیدے) الحدیث۔

[ابوداود : ٣٩٠٦، احمد: ٩٥٣٢، ابن ماجه : ٦٣٩ بسند صحیح]

(۲) راجح وجه هغه ده چه د ابن عباس ﷺ نه په حدیث الفتون کښ نقل ده او هغه حافظ ابن کثیرؒ په تفسیر د سورتِ طه کښ او مجمع الزوائد (١١١٦٦) کښ هیثمی مفصلًا باسناد حسن ذکر کړیدے۔ چه کله ابراهیم ﷺ د خپلے بی بی (ساره) رضی الله عنها سره په مصر راتیریدو او د مصر بادشاه د سارے د بے حیائی کوشش کولو نه بعد ناکام شو نو ابراهیم ﷺ خپلے بی بی ته اُوفرمایل : ته مه خپه کیږه، داسے وخت راروان دے چه ددے مصر بادشاهی به زمونږ اولادو ته پاتے کیږی۔

او دا رشتینی پیشینگوئی وه، نو بنی اسرائیلو به دا خبره اړوله راړوله تردے چه فرعون ته هم اُورسیدله نو هغه سره خطره پیدا شوه چه زما په زمانه کښ دا رابنکاره نشی نو په قتل د اولادو ئے حکم اُوکړو۔ (لکه اُوس هم کافران دا یره کوی چه مجاهدین (دهشتگر) چرته زیات نشی، زمونږ حکومتونه د دوی د لاس نه وانهٔ وړی او زمونږ امن ته خطره پیوسته نشی او هسے نه چه ایتم د دوی لاس ته راشی۔ نو د دوی د ختمولو کوشش کوی۔ او همیشه دپاره د کافرانو دا خوئی دے، چه غواړی چه مسلمانان کم کړی او خپل کفار ډیر کړی۔ دوی ته وائی تاسو منصوبه بندی کوئ او بچی کموئ او خپل بچی ډیروی لګیا دی۔ لیکن دا د کافرانو بے عقلی ده چه د پیغمبر د خبرے مقابله کوی او د هغه پیشینگوئی غلطه ثابته وی، حال دا چه پیغمبر یوه پیشنگوئی اُوکړی نو هغه ضرور ثابتیږی اگرکه انسان هرخومره د هغے مقابله اُوکړی)۔

(۳) وجه : او بعض مفسرین (خازنؒ، قرطبیؒ، ابن کثیرؒ) وئیلی دی چه فرعون خوب اُولیدو چه د بیت المقدس د طرف نه اُور راغلو او کورونو د قبطیانو د مصر کښ داخل شو او د بنی اسرائیلو کورونه ترینه بچ شو چه د هغے تعبیر ورته دا اُوشو چه بنی اسرائیلو کښ به یو هلك پیدا کیږی چه د هغه په ذریعه به ستا حکومت ختمیږی، نو هغه حکم اُوکړو چه د بنی اسرائیلو هر نربچے پیدا کونکے دِے ذبح کړے شی، دے دپاره چه بنی اسرائیل پدے طریقه کمزوری کړی نو کله چه قبطیانو اُولیدل چه پدے طریقه خو بنی اسرائیل کمیږی نو زمونږ خدمتونه به څوك کوی ؟ نو فرعون ته ئے شکایت اُوکړو نو هغه دویمه فیصله دا اُوکړه چه یو کال ئے وژنئ او یو کال ئے پریدئ۔ په کوم کال

ئے چه نهٔ وژل، هارون ﷺ پیدا شو او په کوم کال ئے چه وژل، نو موسیٰ ﷺ پیدا شو نو مورئے په تابوت کښ واچولو الی آخر القصه چه ددے تفصیل به په سورة القصص (٤) کښ راځی۔ ان شاء الله تعالیٰ۔ بنی اسرائیل ددے پریشانونه تیریدل چه پدے کښ الله تعالیٰ موسی ﷺ نبی راولیږلو او هغوی ئے د فرعون د عذابونو نه راخلاص کړل۔

تفسير او فوائد

د (آل فرعون) نه مراد فرعون او د هغه لښکر او تابعدار دی۔ آل په اصل کښ د یو شخص قومیانو، تابعدارو او د هغه مسلك والو ته وئیلے شی، که د هغه په اولادو کښ وی او که نهٔ وی، ددے وجه نه څوك چه د ایمان او توحید عقیده نهٔ لری نو هغه په آل محمد ﷺ کښ داخل نهٔ دی اګرکه د هغه قریب او نسبی وی او ځان ته سید وائی (قرطبیؒ)

د لفظ د آل اضافت د قوم مشر ته کیږی او اشرافو کښ استعمالیږی، او په وخت د اضافت کښ مضاف او مضاف الیه دواړه په حکم کښ داخل وی۔ او هرچه اهل لفظ دے نو هغه کلو ته مضاف کیږی او د هغے په حکم کښ مضاف الیه داخل نهٔ وی۔ دلته د آل نه مراد تابعدار دی ځکه چه د فرعون ځوی، لور، پلار، ترهٔ او ورور او خاندان (نزدے خپلوان) نهٔ وو۔ (قرطبی)۔

لیکن د قرطبیؒ دا خبره خطاء معلومیږی ځکه چه د فرعون لور وه لکه په حدیث د ماشطه کښ راغلے دی چه هغه امام احمد (۱/۳۰۹) رقم (۲۸۲۱) راوړیدے:

[هٰذِهِ رَائِحَةُ مَاشِطَةِ ابْنَةِ فِرْعَوْنَ وَاَوْلَادِهَا قَالَ : قُلْتُ وَمَا شَأْنُهَا؟ قَالَ بَيْنَمَا هِيَ تُمَشِّطُ ابْنَةَ فِرْعَوْنَ اِذْ سَقَطَ الْمِشْطُ الخ) [وفيه اختلاط عطاء السائب]

فرعون : دا د مصر د باشاهانو لقب وو لکه قَيْصَر د رومیانو د بادشاهانو لقب وو او کِسریٰ د فارس (ایران) د باشاهانو وو۔ او تُبَّع د یمن د بادشاهانو وو۔ او ددهٔ خپل نوم ولید بن مصعب بن ریان وو۔ (کما نقل ابن اسحاق)

(۲) وهب بن منبهؒ وائی : قابوس وو۔ (قرطبی، رازی)۔

(۳) بعض وائی : نوم ئے مصعب وو۔ (ابن کثیرؒ، آلوسیؒ)

(٤) بعض وائی : مرنفتاح بن رَعمیس ثانی وو۔ اول قول ډیر مشهور دے۔

د موسیٰ ﷺ په دور کښ راغلے وو، عمرئے (٤٥٠) کاله وو، او په ټول عمر کښ پرے

مرض نۀ وو راغلے نو ځکه دومره متکبر شوے وو۔ ددۀ د عقیدے متعلق دوه قوله دی پس د اتفاق نه چه کافر خو وو۔ (۱) یو قول دا دے چه دا د معطله، دهریهٔ نه وو، الله تعالیٰ ئے نۀ منلو او ځان ته ئے رب وئیلو۔

(۲) مشهور قول دا دے چه دا مشرك وو، الله تعالیٰ ئے منلو، خو ځان ته ئے جحوداً او استکباراً رب وئیلو۔ لکه قرآن فرمائی : ﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا﴾ (النمل : ١٤) په الله تعالیٰ او د موسیٰ عليه السلام په حقانیت ئے یقین وو لیکن د ضد او تکبر د وجه نه ئے نۀ منلو۔ څوك چه فرعون مسلمان ګنړی لکه ابن عربی صوفی حلولی نو هغه خپله کافر دے ځکه د صریح قرآن نه انکار دے۔

يَسُومُونَ : سام : چا ته تکلیف ورکولو ته وئیلے شی۔

سُوْءَ الْعَذَاب : ددے نه مراد ناکاره عذابونه دی چه دا په ډیرو قسمونو سره وو، یو د هغے نه دا دے چه ذبح کول به ئے بچی د هغوی۔ د بعضو نه ئے خادمان جوړ کړی وو، په چا باندے ئے په زوره زمینداری کوله، او بعضو باندے به ئے د غرونو نه ګټے راوړلے او بعضو به کچه خختے جوړولے او بعضو به پخے خختے جوړولے او چا باندے به ئے کورونه جوړول او چا باندے به ئے آهنګری کوله او چا باندے به ئے نجاری کوله او چا باندے به ئے بلډنګونه جوړول، او کوم کسان چه به ضعیف وو کار به ئے نشو کولے نو هغوی باندے به ئے جزیه لګولے وه، او زنانو به جامے ګنډلے او سپنړسی او څرخے به ئے کولے۔ (بغويؒ)

يُذَبِّحُونَ : عطف ئے رانۀ وړو ځکه چه دا تفسیر د سوء العذاب دے، او مقصد دلته نعمت ذکر کول دی او په سورة ابراهیم کښې ئے عطف راوړیدے ځکه چه هلته تعداد د عذابونو وو۔

اَبْنَاءَكُمْ : یعنی ماشومان به ئے د پیدائش په وخت ذبح کول او دا لوئی مصیبت دے چه د انسان مخامخ د هغه بچے ذبح کیږی۔

﴿**وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ**﴾ ددے دوه معانی دی (۱) یو دا چه استحیاء د حیاء نه اخستے شویده یعنی بے حیاء کولے به ئے زنانه ستاسو او دا استحیاء پدے طریقه وه چه د زنانو حمل به ئے کتلو، په خیتو به ئے ورله ګوتے وهلے، یا خاص قسم حیاء وه ځکه ئے په مخکښې باندے عطف کړه۔ (التنوير)

(۲) دویم دا د حیات نه اخستے شویدے په معنیٰ د ژوند سره یعنی ژوندئ به ئے

پریخودلے جینکئ ستاسو) او دا پدے طریقه عذاب دے چه د زنانو ډیر والے او د نارینو
کموالے سبب د ډیرو فتنو دے لکه په حدیث کښ دا د قیامت علامه خودلے شویده۔
دواړه معانی صحیح دی۔ خو ظاهره معنی دا ده چه جینکئ به ئے ژوندئ پریخودلے۔
ولے که بی حیاء کولے نو الله رب العزت په بے حیائی باندے صبر نهٔ کوی۔ بیا به ئے
هغوی ته امر کړے وے د هغوی سره د جهاد کولو، خو دومره ده چه څه نه څه بے حیائی
پکښ دا وه چه د زنانو پسے به ئے نورے زنانه لیږلے چه تاسو اُوګورئ چه دا حاملے شوی
دی او که نه او د چا کور کښ بچے دے او د چا نه ؟۔ او دا هم یو نوع بے حیائی ده۔ او ددے
بله وجه تاریخ هم دے چه تورات نقل کړیدی چه فرعون دایانو (ښځو) ته وئیلی وو چه
هر نر بچے چه پیدا کیږی هغه قتل کړئ۔ (التنویر)

فائده : په قتل کښ ئے ابناء کم لفظ راوړو او په یستحیون کښ ئے (بناتکم) اُونهٔ وئیلو
بلکه (نساء کم) ئے اُووئیلو، پدے کښ په دوی باندے شفقت راوچتول او د هغوی غیرت
په زنانو راپاخول مقصد دے۔

بَلَاء : امتحان ته هم وائی او ذلك اشاره ده دغه مصیبتونو او تکلیفونو ته۔ یعنی الله تعالیٰ
دریاندے سخت امتحان راوستے وو او بیا ئے پکښ کامیاب کړی وئ۔ نو دا هم نعمت شو۔

ابن عاشور رحمه الله فرمائی : د بلاء غالباً اطلاق په هغه مصیبت باندے کیږی چه په
بنده باندے نازلیږی ځکه پدے سره د بنده په صبر او حلم باندے امتحان کیږی۔
(التنویر)

(۲) -- یا ذلك اشاره ده نجات ته او بلاء انعام ته وائی۔ لکه سورة الانفال (۱۷) کښ
راغلے ده (وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا) یعنی نجات ئے درکړو دا ډیر لوئی انعام دے۔
او دا تفسیر پدے مقام کښ راجح دے ځکه د نعمتونو شمارل شروع دی۔ نو څومره
غټ نعمت ئے درسره اُوکړو چه د فرعون غټ جبار بادشاه د لاس نه ئے راخلاص کړئ۔ نو
شکر درله پکار دے۔

وَاِذۡ فَرَقۡنَا بِکُمُ الۡبَحۡرَ فَاَنۡجَیۡنٰکُمۡ
او کله چه جدا کړو مونږه ستاسو (د بچ کولو) دپاره درياب، پس خلاص مو کړئ تاسو
وَاَغۡرَقۡنَاۤ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ وَاَنۡتُمۡ تَنۡظُرُوۡنَ ﴿۵۰﴾
او غرق مو کړل فرعونيان (سره د فرعون نه) او تاسو ورته کتل۔

تفسیر : پدے آيت کښې د نجات ورکولو تفصيل بيانوى او پدے کښې دويم خاص نعمت ذکر دے چه هغه د غرقيدو نه نجات دے او د دشمن هلاك کيدل دی۔ او پدے کښې وړو واقعو ته اشاره کوی۔ څکه چه دا واقعات يو بنی اسرائيلو ته معلوم وو او بل هغوی پرے فخر کولو نو څکه مختصر واقعات دلته ذکر شو۔

موسىٰ عليه السلام چه کله نبی شو او راغے فرعون ته ئے دعوت د ايمان ورکړو، هغه خبره اُونۀ منله، مناظرو ته تيار شو، پدے کښې وخت تيريدو نو الله تعالىٰ موسى ته د هجرت حکم اُوکړو نو هغه اراده اُوکړه چه خپل قوم بانديے هجرت اُوکړی او د فرعونيانو د مصيبتونو نه ئے بچ اُوساتی او دا ورته د الله تعالىٰ حکم وو نو د شپے د بحر قُلزم (چه پدے وخت کښې ورته بحر احمر وئيلے شی او تورات کښې ورته بحر سوف وئيلے شی) طرف ته روان شو، فرعون سحر خبر شو نو دوی پسے په تکبر روان شو چه دوی راګير کړی، او قتل ئے کړی نو د الله تعالىٰ د فيصلے مطابق فرعون دوی لره د بحر قلزم په غاړۀ اُوليدل، بنی اسرائيلو موسىٰ عليه السلام ته اُووئيل مونږ خو رالاندے کړے شو، موسىٰ عليه السلام ورته اُوفرمايل : هيڅکله نۀ، ما سره زما رب ملګرے دے۔

نو موسىٰ عليه السلام د الله تعالىٰ په حکم سره خپله اَمسا باندے اُوبه اُووهلے نو اُوبه دوه ټکړے شوے، او جدا جدا لارے پکښې جوړے شوے، موسىٰ عليه السلام پرے خپل قوم واړولو، دوی چه هغه طرفته رسيدل نو فرعون او د هغه لښکرے په اول طرف باندے راداخل شو، د دوی دا خيال وو چه مونږ به (د بنی اسرائيلو په شان) واوړو، (درياب به پار کړو) ليکن کله چه د درياب مينځ ته شو نو ټول اُوبو راګير کړل او ټول پکښې غرق شو۔

فرعون پدغه وخت کښې د ايمان نعرے وهلے ليکن وخت تير وو۔

نو ګوره پدې کښې د بني اسرائيلو هجرت او د موسى عليه السلام معجزه او د دشمن مخامخ غرق کيدل دا ټول لوئی انعامات دی۔

بِكُمُ : ۱ - باء د ملابسة دپاره ده او د ملابسة معنىٰ دلته دا ده چه د دوی د داخليدو سره سره دریاب به جدا کیدو ۔ (۲) دا هم جائز ده چه باء سببيه شي (اَیُ بِسَبَبِ اِنُجَاءِ کُمُ) يعنى ستاسو د نجات دپاره۔ (التنوير)۔

دریاب دولس لارے شو ځکه چه دوی دولس اسباط (خاندانونه) وو۔ قتاده رحمه الله فرمائی : د موسىٰ عليه السلام سره شپږ لاکهه ملګری وو۔ او فرعون سره (۱۱) يولس لاکهه کسان وو په اَسونو باندے۔ ځکه ئے بنی اسرائيلو ته کم هم وئيلی وو۔ (اِنَّ هٰؤُلَاءِ لَشِرُذِمَةٌ قَلِيُلُوُنَ) (الشعراء : ٥٤) (تفسير الطبری)

بعض د فرعون لښکر (۱۸) لاکهه يادوی۔

اَلُبَحُرَ : ددے بحر نوم بحيرهٔ قلزم يا قرزم دے چه کنيه ئے ابوخالد ده۔ د سدیؒ نه نقل دی چه کله موسى عليه السلام دا اُووهلو نو ديته ئے کنيه ابوخالد کيخوده۔(طبریؒ)

دا دریاب د مصر او د فلسطين په مينځ کښې دے۔ او دے ته اُوس بحر احمر هم وائی۔

علامه ابن عاشور رحمه الله ليکی : کله چه موسىٰ عليه السلام بنی اسرائيلو لره د ځان سره راروان کړل نو فرعون ته بعض ملګرو اُووئيل چه دوی راواپس کول پکار دی ځکه چه د مصر کارونه خرابيږی کوم باندے چه بنی اسرائيل مقرر وو۔ او بنی اسرائيل چه کله د مصر د ښاريو د اطرافو نه اُووتل چه په دغه زمانه کښې د هغوی ښار (منفيس) وو نو دوی شام ته په غير معروفه (شاړه) لاره باندے روان شو دے دپاره چه د دوه نيم سوه ميلونو نه زياته فاصله مزل قطع نکړی نو دوی په جنوبی مشرقی طرف چه د بحر احمر اعلىٰ طرف ته کومه لاره تللے وه په هغے باندے روان شو۔ او په مشهوره لاره روان نشو کوم باندے چه به د مصريانو قافلے تللے دے دپاره چه د فرعون لښکر ئے رالاندے نکړی او بيرته ئے راواپس نکړی ځکه موسى عليه السلام ته په وحی سره معلومه شوے وه چه فرعون به ستاسو د راايسارولو نه نهٔ منع کيږی (وَاَوُحَيُنَا اِلٰى مُوُسٰى اَنُ اَسُرِ بِعِبَادِیُ اِنَّكُمُ مَتَّبَعُوُنَ) نو بس په دغه ځائے کښې دوی محتاج شو چه د دریاب مخے ته اُودريدل۔ او دغه ځائے ته ئے (فم الحيروث) وئيلو نو دلته معجزه د موسىٰ عليه السلام راښکاره شوه چه دریاب ئے په امسا اُووهلو نو لاره پکښې اُوچه شوه، بنی اسرائيل پرے راداخل شول او د فرعون

لښکرو د دوئ پسے اراده د داخلیدو دریاب ته اُوکړه هرکله چه راداخل شول نو الله تعالیٰ پرے دریاب رابند کړو او ټول ئے هلاك کړل۔ انتهیٰ۔

فَأَنْجَيْنَاكُمْ : د الله تعالیٰ د قدرت عظیمه نخه وه چه د اُوبو طبیعت سیلان (بهیدل) دی او بنی اسرائیلو ته اُودریدلے او فرعونیان ئے پکښې ټول په ټوله غرق کړل۔ او د موسیٰ علیه السلام عجیبه معجزه وه۔ د اُوبو اُودریدل، بیا په هغے کښې لارے جوړیدل لکه د غرونو په شان او په هغے کښې مزل کول۔ دارنګه بله معجزه دا وه چه د فرعون نه ئے عقل واخستو او همدغه دریاب بانـدے بے سوچه اوبے فکره ورګډ شو۔ او بل کمال دا دے چه فرعون سره ډیر لښکر وو د هغے نه یو کس هم بچ نهٔ شو او د موسیٰ علیه السلام لوئی قوم دے د هغوی نه یو کس هم هلاك نهٔ شو، دا ټول د الله تعالیٰ د قدرت نظارے دی، او د بنی اسرائیلو سره احسانات دی۔بیا په دریاب کښې په یو ځل غرقیدل استیصالی عذاب وو چه الله رب العالمین هغوی ته ورکړو، او دا قسم عذابونه به هله راتلل چه کله جهادونه نهٔ وو مشروع شوی، خو کله چه جهاد فرض شویدے نو بیا دا قسم عذابونه د اُمتونو نه الله تعالیٰ بند کړیدی لکه دا خبره په سورة القصص کښې الله تعالیٰ اشارةً ذکر کړیده۔

آلَ فِرْعَوْنَ : فرعون او د هغه ټول مصر والا کوم چه بلوغ ته رسیدلی وو هغه ئے ځان سره روان کړل، سوا د ضعیفانو او زنانو نه نو دا ټول غرق شو۔

د فرعون غرقیدل ددے آیت نه هم ثابت دی ځکه چه په آل کښې مضاف الیه په حکم د مضاف کښې داخل وی۔ لکه دا قاعده حافظ ابن القیمؒ په جلاء الافهام کښې لیکلے ده، بل دا چه د فرعون غرقیدل صراحةً سورة بنی اسرائیل (۱۰۳) کښې ذکر دی (فَأَغْرَقْنَاهُ وَمَنْ مَعَهُ جَمِيعًا)دارنګه سورة الذاریات (۴۰) آیت، او یونس (۹۰) آیت، او نازعات (۲۵) آیت کښې۔ نوکوم ګمراه صوفیاء (محیی الدین ابن عربی وغیره) چه دا عقیده لری چه فرعون ایمان راوړے وو نو دا سوچه دروغ وائی۔ او د فرعون نسبیان دی۔

(**وَأَنْتُمْ تَنْظُرُونَ**) دشمن چه سرے ګوری او هغه هلاك کیږی نو خوشحالیږی۔ لکه اُوس دے وخت کښې چه د امریکی جهاز چرته راپریوځی نو مؤمن پرے ډیر خوشحاله شی۔ که یو کافر اُونیولے شی ، انسان ډیر خوشحالیږی۔

فائده : الله تعالیٰ ولے فرعون د بنی اسرائیلو مخامخ غرق کړو ؟ وجه دا وه چه د فرعون او د هغه د قوم هیبت د بنی اسرائیلو په زړونو کښې دننه ننوتے وو نو که دوی

مخامخ د هغه هلاکت نهٔ وے لیدلے او موسیٰ ﷺ خبر ورکړے وے نو د دوی به گمان کښې نهٔ راتلے چه فرعون څنګه هلاك شی، لکه د ډیرو خلقو په زړونو کښې د امریکی او نورو کافرانو عظمت پروت وی چه امریکه به څنګه اُووهلے شی !!۔ نو الله تعالیٰ د دوی د یقین پیدا کولو دپاره د دوی مخامخ هلاك کړل۔

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ کله مدینے ته راغلو نو وے لیدل چه یهود د محرم په لسم تاریخ (عاشورے ورځ) باندے روژه نیسی، تپوس ئے اُوکړو چه دا روژه څنګه ده؟، نو هغوی اُووئیل :

[هٰذَا يَوْمٌ عَظِيْمٌ اَنْجَى اللّٰهُ فِيْهِ مُوْسٰى، وَاَغْرَقَ فِرْعَوْنَ، فَصَامَ مُوْسٰى شُكْرًا]

دا ډیره لویه ورځ ده۔ پدے ورځ باندے الله تعالیٰ موسی (ﷺ) او بنی اسرائیلو لره د دشمن نه نجات ورکړے وو، او فرعون ئے غرق کړے، پدے وجه موسی ﷺ د الله تعالیٰ د شکر کولو په طور روژه نیولے وه، نو نبی ﷺ اُوفرمایل :

[فَنَحْنُ اَحَقُّ وَاَوْلٰى مِنْكُمْ، فَصَامَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَاَمَرَ بِصِيَامِهٖ]

مونږ د موسی ﷺ ستاسو نه زیات حقدار یو (چه د هغهٔ تابعداری اُوکړو) بیا رسول الله ﷺ (دغه ورځ) روژه اُونیوله او د روژے نیولے حکم ئے اُوکړو۔

[بخاری : ۳۹۴۲، مسلم : ۲۷۱٤، ابن ماجه : ۱۷۳٤]

لیکن هغه ورسره د نهمے ورځے روژے نیولو اراده کړے وه، دے دپاره د چه د یهودیانو سره مشابهت رانشی۔

وَاِذْ وٰعَدْنَا مُوْسٰى اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ثُمَّ
او کله چه وعده اوکړه مونږ موسیٰ ﷺ سره څلویښت شپے (چه دا به پوره کوے) بیا
اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۵۱﴾
اُونیولو تاسو سخے (په اُلوهیت) پس د تګ د هغهٔ نه او تاسو ظلم کونکی وئ۔ (په شرك کولو سره)۔

تفسیر : پدے او روستنی آیت کښے بل نعمت ذکر دے (اَلْعَفْوُ بَعْدَ الشِّرْكِ) چه الله تعالیٰ

درله توبه قبوله کړه۔ شرك مو اُوكړو۔ او الله تعالىٰ معاف كړئ۔

واقـعـه داسـې وه چه كله الله تعالىٰ فرعون او د هغهٔ تابعدار هلاك كړل او بنی اسرائيل ئې د درياب د غـرق كيـدو نـه خـلاص كړل نو دوى اخوا په يو ميدان (صحرائې سينا، ميدان تيـه) كـښې آبـاد شول، نو د دوى دپاره اُوس يو قانون او نظام او كتاب ته ضرورت وو، د الله تـعالىٰ رزقونه خورى نو پكار ده چه په يو قانون باندې خو عمل هم اُوكړى او يو قوم چه بـغـيـر د كـتـاب او نظام نه اُوسيږى نو پريشانيانې ئې زياتوى، نو الله تعالىٰ موسىٰ عليه السلام لره جبـل طـور ته د تورات وركولو دپاره راوغوختو، موسىٰ عليه السلام هارون عليه السلام لره خپل نائب مقرر كړو او لاړو كوهِ طور كښې ئې څلويښت ورځې او څلويښت شپې تيرې كړې، د مودې ختـمـيـدو نـه بـعـد الله تعالىٰ هغه ته تورات وركړو، ليكن موسى عليه السلام چه طور ته لاړو دوى دلته شرك شروع كړو، د سامرى او شيطان په وسوسه د سخى عبادت ئې شروع كړو۔ (عبادت ئې دا وو چه طـوافـونه به ئې ترې كول او ګرد به ترې تاويدل او ورته ګډيدل به او ډولكى به ئې ورته وهل) (نو ګډا او ډولكى وهل د سامرى او عيسايانو طريقه ده)

موسىٰ عليه السلام تـه الله تـعـالىٰ خبر وركړو نو راغلو خپل ورور، سامرى او قوم ته غصه وو لـكـه سـورة طـه كـښې ددې تشـريـح راځـى، هر يو ته ئې خپل خپل خطاب اُوكړو۔ سورة الاعراف كښې راځى چه موسىٰ عليه السلام ورتـه د توبې حكم اُوكړو نو دوى كښې اكثرو بيا توبه اُوويستـلـه او الله تـعـالـىٰ مـعاف كړل۔ او لږ كسان بيا هم په شرك كښې پاتې شو۔لكه (إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ الخ) (اعراف :۱۵۲) نه معلوميږى۔

نـو پـدې آيـتـونـو كښې دا خبره ورته رايادوى چه ستاسو مشرانو داسې كارونه كړيدى او الله تـعـالىٰ ورته دا عظيم جرم معاف كړو چه شايد چه شكرګزار به شى او الله تعالىٰ ته به رجوع اُوكړى۔

(**مُوسىٰ**) دا نـوم پـه قرآن كريم كښې (۱۳٦) كرته راغلى دې او دا عبرانى لفظ دې (مُو) اُوبـو تـه وئيـلـې شى او (سَا) شجـر (ونې) تـه وائـى نو دا د ونې په لرګى كښې په اُوبو كښې موندلې شوې وو۔ كله چه د هغه مور دا په تابوت كښې اچولې وو۔ او فرعون موندلې وو۔

بعض مفسرين وائى دا نوم ورته مور ايخودې وو۔ نو دا بيا نكته بعد الوقوع ده۔

ددهٔ **نسب** داسې دې : مـوسـى بـن عـمران بن يَصْهُر بن قاهث بن لاوى بن يعقوب عليه السلام دې۔

په مصر کښې پیدا شویدے په حدودو د سنه (۱۵۰۰) کښې مخکښې د ولادت د عیسیٰ ﷺ نه۔ د مور نوم ئے (یُوحَانِذ) وه، هغه هم د اولادو د لاوی بن یعقوب ﷺ نه وه، او د موسیٰ ﷺ والد د هغه د ولادت نه مخکښې وفات شوے وو۔نو هغے د قبطیانو نه درے میاشتے پټ ساتلے وو۔بیا ورته الله تعالیٰ الهام اُوکړو چه په یو صندوق کښې ئے بند کړه او په دریاب کښې ئے واچوه او سورة قصص کښې راځی چه د فرعون کور والو راونیولو۔
او تاریخی روایاتو کښې راځی چه د فرعون ښځے هغے له نوم کیخودو (موشی) بیا په عربیٔ کښې ترے مُوسی جوړ شو مګر ظاهر دا ده چه مُوسی عبرانی لفظ دے او کیدے شی چه د فرعون په کور کښې دده بل نوم وی او د هغے نه روستو ئے نوم بدل کړے وی، او موسیٰ ﷺ د فرعون په کور کښې غټیدو لکه د هغه د ځوی په شان، کله چه غټ شو پته اُولګیده چه دا خو اسرائیلی دے نو د هغه نه لاړو نو الله تعالیٰ په کښې محبت د عدل او مدد د ضعیف پیدا کړو۔ او باقی واقعات ئے مشهور دی۔ راجع الی (التنویر)
موسیٰ ﷺ د اولوالعزم پیغمبرانو نه دے، حدید المزاج (تیز مزاج) والا پیغمبر وو۔د بدن نه قوی وو، د هارون ﷺ نه عمر کښې کشر وو، لیکن نبوت کښې ترے مخکښې وو۔ دا د بنی اسرائیلو مشر پیغمبر وو، او بنی اسرائیل دده نه یریدل هم او هارون ﷺ د خوئی نه نرم وو۔
اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً : په سورة الاعراف (۱۴۲) آیت کښې دی چه اول وعده د دیرشو شپو وه بیا په کښې لس زیاتے شوے نو څلویښت شوے۔ هلته چونکه تفصیل غرض دے نو ځکه ئے دواړه حالتونه ذکرکړیدیٰ او دلته انعام ذکر کول مقصود دے نو آخری حالت ئے ذکر کړیدے۔
بیا د الله تعالیٰ به پدے کښې حکمة وو چه موسیٰ ﷺ ته ئے سمدست کتاب ورنکړو بلکه په طور کښې ئے څلویښت شپے حصار کړے وو، د الله تعالیٰ بندګی ئے کوله، نو هرکله چه د بشری کدوراتو نه بالکل صفا شو نو الله تعالیٰ ورته خپل کتاب ورکړو۔
او څلویښت ورځو کښې یو اثر هم وی چه انسان یو عمل څلویښت ورځے اُوکړی نو په مزاج کښې ئے تغییر راځی، ددے وجه نه حدیث کښې دی چه چا څلویښت ورځے په اخلاص سره د الله تعالیٰ دپاره عمل اُوکړو نو د هغه د خولے نه به د حکمة چینے روانے کړی۔ [رواه رزین وابونعیم فی الحلیة وفی سنده نکارة] راجح دا ده چه دا قول د مکحول

(تابعی) رحمه الله دے۔ بل حدیث دے : [مَنْ صَلّٰی لِلّٰهِ اَرْبَعِیْنَ یَوْمًا فِیْ جَمَاعَةٍ یُدْرِكُ التَّكْبِیْرَةَ الْاُوْلٰی كُتِبَتْ لَهٗ بَرَاءَتَانِ، بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ] چه څوك څلویښت ورځے تکبیر اولیٰ سره مونځ اُوکړی نو د منافقت او د جهنم نه به بچ شی۔

[رواه الترمذی : ۲٤۱، وشعب الایمان : ۲۱٦۱٥ باسناد حسن]

فائده : ددے څلویښت شپو نه بعض صوفیاء چهلے ثابتوی، چه ګوره موسی علیه السلام څلویښت ورځے لګولے وے، نو دوی بیا چهلے ویستل عبادت ګنړی حال دا چه کله شریعت یو وخت نهٔ وی متعین کړے او ته ئے متعین کوے او بیا هغے ته عبادت وائے نو ددے نه بدعات پیدا کیږی۔ زمونږ نبی ﷺ پدے چهله کوم ځائے عمل کړیدے؟۔

البته دلته یو قانون دے چه یو امور انتظامیه دی۔ او بل د الله تعالیٰ تعیین دے۔ نو په امور انتظامیه ؤ کښ د یو وخت متعین کول چه عبادت او لازم ئے نهٔ ګنړی- بدعت نهٔ دے لکه مدرسه د دین مرکز وی، د شروع او رخصت وخت ئے معلوم دے۔ دارنګه درسونه پکښ د (۸) بجو نه شروع کیږی او په (۱۲) یا یوه بجه ختمیږی، او په شوال کښ شروع کول او په رجب کښ ختمول دا کوم خاص فضیلت نهٔ لری، چه بس په همدغه ترتیب به کار کیږی او که ددے نه په کښ خلاف راغلو نو دا به ګناه وی، نو پدے طریقه کښ څه بدعت والے نهٔ راځی۔ او که یو انسان دا لازم اُوګنړی چه بس په همدے طریقه کښ ثواب دے او کمے زیاتے کول ورته ګناه ښکاری نو دا به بیا خامخا بدعت وی۔ نو ددے وجه نه که څوك د دین خدمت په یو ترتیب په یو وخت کښ کوی نو دا جائز ده خو که د هغے تغییر ګناه ګنړی نو دا بیا بدعت دے۔ لکه د بعضے تبلیغیانو ملګرو دا مزاج جوړ شویدے چه درے ورځو یا څلویښت ورځو یا څلورو میاشتو کښ که چا کمے اُوکړو نو دا ورته بد ګوری نو دا کار ښه نهٔ دے۔ ځکه التزام د امور مباحه ؤ بدعت دے۔ بل په تبلیغ والو کښ نور ډیر بدعات او خرافات شته چه د هغے نشاندهی ضروری ده، مسلمان به ئے وخت په وخت د دین د صفائی او د خیر خواهی په نیت کوی۔

بیا دلته **سوال** دا دے چه بنی اسرائیلو خو ځان ته ډیر عاقلان وئیل نو د سخی عبادت ئے څنګه کولو؟ ۱- **جواب** دا دے چه دوی مشرکان وو او د مشرك سری نه الله تعالیٰ عقل او بصیرت اخلی (لَایَعْقِلُوْنَ او لَایُبْصِرُوْنَ) وی، که پدے امت کښ مشرکین دی، هغه هم بے عقله دی، د کانړو، قبرونو عبادت کوی او په هندوانو کښ داسے خلق هم شته چه

د انسان د عورت (ذَکر) عبادت کوی، نو شرك یے عقله کړی وو۔
۲ - دویم دا چه دوی کښې د حلول عقیده وه (چه الله تعالیٰ (العیاذ بالله) په مخلوق کښې داخلیږی) یعنی الله تعالیٰ (العیاذ بالله) په دے سخی کښې داخل شوید ے۔نو ځکه ئے د سخی عبادت کولو، ځکه چه کله ئے داسے کرشمه نهٔ وه لیدلے چه جماد شے ډیے د سخی په شان آوازونه کوی۔

د حلول عقیده او اقسام

دا عقیده د یونان والو وه، بیا بنی اسرائیلو یهودو ته رانقل شوه، بیا هغوی نه نصاراؤ ته او د نصاراؤ نه زمونږ ددے اُمت متصوفه (صوفیاؤ) واخسته۔(ابن عربی، تلمسانی، ابن سبعین، بایزید بسطامی، حاجی امداد الله مکی دیوبندی وغیره) حلول په دوه قسمه دے (۱) یو حلول کلی۔ چه الله تعالیٰ (عیاذاً بالله) په هر مخلوق کښې دننه ورننوزی، انسان، حیوان، زمکه آسمان او ګټه او لوټه کښې۔ دا د ډیرو صوفیانو عقیده ده۔ هغوی وائی چه الله تعالیٰ پدے عالم کښې داسے دے لکه د انسان په بدن کښې چه مالګه، چونه، خوره وغیره دی۔ دا کفری عقیده ده۔ دا خبرے د انسان په خُله او په قلم نهٔ راځی لیکن د نقل کفر کفر نباشد په درجه کښې بیانیږی، چه خلق ترے ځان اُوساتی۔
(۲) دویم حلولِ خاصه دے او هغه دا چه الله تعالیٰ په هر شی کښې نشته، خو په خپلو خواصو او نیکانو صالحینو بندګانو کښې ورننوزی لکه دا د عیسایانو عقیده وه چه الله تعالیٰ (نعوذ بالله) په عیسیٰ علیه السلام کښې حلول کړے دے۔ نو ددے یهودیانو دا عقیده وه چه الله تعالیٰ په دے سخی کښې حلول کړیدے۔ (د هغه په آواز دهوکه شو)۔نو د سخی عبادت عین د الله تعالیٰ عبادت دے۔ (عیاذاً بالله العظیم)۔ او زمونږ پدے امت کښې د ډیرو متصوفو دا عقیده وه او حسین بن منصور الحلاج یو زندیق انسان به دا دعوه کوله۔ (اَنَا الْحَقُّ) (زه الله یم)
او کله به ئے وئیل : (سُبْحَانِیْ مَا اَعْظَمَ شَانِیْ) (مالره پاکی ده چه زهٔ څومره لوئی شان والا یم) د بایزید بن بسطامی هم دا عقیده وه لکه اخون درویزه بابا په خپل کتاب ارشاد الطالبین ص (۹) کښې لیکی : چه بایزید به وئیل : (سُبْحَانِیْ، اَنَا الْحَقُّ) او شاګردانو ته ئے اُووئیل چه زما پدے خبرو مه خفه کیږئ ځکه چه زه کله دا کلمات وایم نو په دغه وخت کښې په ما کښې الله (العیاذ بالله) حلول کړے وی۔او صحیح اسلامی عقیده دا ده چه الله

تعالیٰ د ټول مخلوق نه بهر او جدا دے او د هغوی دپاسه دے، ټول مخلوق وړوکے او الله تعالیٰ عظیم ذات دے، پدے کمزوری مخلوق کښې هیچرے هغه حلول نکوی۔

ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ : (اَیْ اِلٰهًا) (یعنی بیا تاسو سخے په اُلوهیت اُونیولو) او عبادت مو ورله شروع کړو۔ فراء بغویؒ لیکی : چه دوی به د هغے نه گیر چاپیره طوافونه کول او گډیدل به او دا طریقه په هندوانو کښې هم موجوده ده او په صوفیاؤ کښې هم دا طریقه شته چه په رقص (گډا) او سرودونو سره عبادت کوی، او نوم ورله قوالی او سماع ږدی۔ دا د یهودیت سره مشابهت دے۔

مِنْ بَعْدِهٖ : [اَیْ مِنْ بَعْدِ ذَهَابِ مُوْسٰی اِلَی الطُّوْرِ] (پس د تلو د موسیٰ علیه السلام نه طور ته) ﴿وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ﴾ دومره ظالمان وئ چه الله تعالیٰ مو نهٔ پیژندلو، د سخی عبادت مو شروع کړو، او حال دا چه احسانات درسره الله تعالیٰ کړی وو۔ دلته ظلم په درجه د شرك کښې مراد دے۔

ثُمَّ عَفَوْنَا عَنْكُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۵۲﴾
بیا مونږ معافی اُوکړه تاسو ته پس ددے (شرك) نه (په توبه) دے دپاره چه شکر اُوکړئ۔

تفسیر : موسی علیه السلام چه کله د طور نه راغے وے وئیل : دا تاسو څه کړیدی؟ نو بیا دوی کښې اکثرو توبه ویستله۔ لږ لږ کسان پاتے شو، لکه سورة الاعراف (۱۵۲) کښې الله فرمائی : [اِنَّ الَّذِیْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَیَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ]۔ دا هغه کسان دی چه توبه ئے نه وه اُوخکلے، غالباً بنی اسرائیلو توبه اُوخکله، او د هغے تفصیل روستو راځی چه دوی قتل ته تیار شو چه مونږ ځان وژنو۔ نو گوره الله رب العزت درته شرك معاف کړے دے۔ دا څومره لویه خبره او لوئی انعام دے، پکار دا ده چه تاسو ئے هلاك کړی وے۔

(**لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ**): دے دپاره مے معاف کړئ چه تاسو شکر اُوکړئ۔ نو د احسان په بدله کښې شکر پکار دے۔

د شکر ماده په قرآن کریم کښې (۷۳) کرته ذکر ده، شکر په لغت کښې ښورب والی او د طعام اثر په حیوان کښې ښکاره کیدو ته وائی۔ لکه عرب وائی : (شَكَرَتِ الدَّابَّةُ) (اثر د خوراك په حیوان کښې ښکاره شو او ښورب شو) او حدیث د ترمذی کښې د یأجوج

ماجوج په باره کښې دي : [اِنَّ دَوَابَّ الْاَرْضِ لَتَسْمَنُ وَتَشْكُرُ شُكْرًا مِنْ لُحُوْمِهِمْ] - (يعنى د زمکې حيوانات به د دوئ په غوښو باندې چاق او څاربۀ شي)۔ نو شکر ته هم شکر ځکه وائي چه څوك د الله تعالىٰ شکر کوي نو هغه نعمت غټيږي او اثرئې راښکاره کيږي۔

په اصطلاح کښې (ظُهُوْرُ أَثَرِ نِعْمَةِ اللّٰهِ عَلٰى لِسَانِ عَبْدِهٖ ثَنَاءً وَاعْتِرَافًا، وَعَلٰى قَلْبِهٖ : شُهُوْدًا وَمَحَبَّةً، وَعَلٰى جَوَارِحِهٖ اِنْقِيَادًا وَطَاعَةً) (مدارج السالكين لابن القيم ٢/٢٤٤)

(د الله تعالىٰ د نعمت اثر ښکاره کيدل په ژبه د بنده په ثناء وئيلو او په اقرار کولو د نعمت سره او په زړه باندې په محبت کولو سره او په اندامونو باندې په طاعت او تابع کيدو سره) حاصل ئې دا دې : د الله تعالىٰ احسان په ځان منل، او د هغه دپاره بندګي او عمل کول په اندامونو۔ او په زړه کښې د هغه سره محبت ساتل او په ژبه د هغه حمد او صفت کول د هغه شکر دے۔

د شکر مادے

شکر يو څو مادے غواړي چه هغه راشي نو انسان پوره شکرګزار جوړيږي۔ او حافظ ابن القيمؒ فرمائي : څو مره تعريفونه د شکر چه کيږي او شويدي نو هغه ټول دے ته راجع کيږي۔ الله(١) مَحَبَّةُ الْمُنْعِمِ (د نعمت کونکي سره په زړه کښې محبت ساتل)

(٢) نِسْبَةُ النِّعْمَةِ اِلَى الْمُنْعِمِ (د نعمت نسبت به انعام کونکي ته کوي)

(٣) (ثَنَاءُهٗ عَلَيْهِ) (صفت کول د نعمت کونکي)۔

(٤) ذِكْرُ النِّعْمَةِ وَالْاِعْتِرَافُ بِهَا) (د نعمت تذکره کول او په هغې باندې اقرار کول)۔

(٥) خُضُوْعُ الشَّاكِرِ لِلْمَشْكُوْرِ) (منعم ته عاجزي کول)

(٦) اِسْتِعْمَالُ النِّعْمَةِ فِيْ رِضَى الْمُنْعِمِ) (دغه نعمت د هغه په رضا کښې استعمالول او د هغه د خفګان په ځائے کښې نه استعمالول)۔ (عدة الصابرين ص (١٤٩) والمدارج (٢/٢٤٤)

ددے قواعدو نه معلومه شوه چه د شکر کولو مرکزي دوه ارکان دي۔ اول رکن : نسبت کول د نعمت دي مُنعم ته چه الله تعالىٰ دے او دا درجه د توحيد او د ترك شرك ده او دويم رکن : نعمت په رضا د منعم کښې خرچ کول او دا درجه د سنت ده ځکه چه ځايونه د رضا د الله تعالىٰ په سنت سره معلوميږي نو معلومه شوه چه هر کفر او شرك او بدعت او نور ګناهونه دا ټول ناشکري ده۔

حمدون القصارؒ وائي : شکر ديته وائي : (أَنْ تَرٰى نَفْسَكَ فِيْهَا طُفَيْلِيًّا) (يعنى چه ته خپل

نفس پدے نعمت کښې طفیلي او سوالي اُوګڼړے او ځان اهل او مستحق اُونۀ ګڼړے) لکه جنیدؒ دا معنیٰ ادا کړیده : (أَنْ لَّا تَرٰى نَفْسَكَ أَهْلًا لِلنِّعْمَةِ)
(خپل نفس اهل د نعمت اُونه ګڼړے)
ابوعثمانؒ وائی : شکر دیته وائی : (مَعْرِفَةُ الْعِجزِ عَنِ الشُّكْرِ)
(چه د انسان دا علم راشي چه زۀ د شکر کولو نه عاجز یم) بس دا شکر دے۔
بیا شکر د اعلیٰ ذات هم وی او د مساوی هم وی او د ادنیٰ هم۔
نو شکر د الله تعالیٰ (بِالْعُبُوْدِيَّةِ لَهٗ) (په عبادت کولو دے هغه لره) لکه حدیث کښې دی چه نبی ﷺ به تهجد دومره اُوږده کول چه خپے به ئے اُوپړسیدلے، نو صحابه کرامو ورته اُوفرمایل : چه ولے دومره اُوږد عبادت کوے حال دا چه الله تعالیٰ تاسو ته ټول ګناهونه معاف کړیدی ؟ نو نبی ﷺ اُوفرمایل : (أَفَلَا أَكُوْنُ عَبْدًا شَكُوْرًا) [بخاری : ۱۱۳۰]
(آیا زۀ د الله تعالیٰ شکر ګذار بنده جوړ نشم) نو اُوګوره عبادت ته ئے شکر اُووئیلو۔
(۲) شکر د مساوی (بِالْمُكَافَاتِ) (په بدلے ورکولو سره) وی چه تۀ هم ورسره احسان اُوکړے۔
(۳) او شکر د ادنیٰ (بِالرَّحْمَةِ وَالشَّفَقَةِ وَالْإِحْسَانِ) ۔ (په هغۀ رحم او شفقت او احسان کولو سره) وی او چه د هغه لړ خدمت په ډیر باندے منظور کړی۔ او ځوك چه د مخلوق شکر نشی کولے او نۀ ئے کوی نو هغه د الله تعالیٰ هم نشی کولے ځکه چه د مخلوق شکر آسان دے۔ حدیث کښې دی :
(مَنْ لَّمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللّٰهَ) [ترمذی : ۱۹۵۵، احمد : ۷٤۹۵، بسند صحیح]
(اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ) (لقمان : ۱٤) (زما شکر کوه او د مور پلار خپل)۔
والدین الله تعالیٰ د خپل ځان سره په شکر کولو کښې ددے وجه نه شریك کړل۔

آلات د شکر

شکر بیا په درے ځیزونو سره کیږی په زړه سره هم وی (چه د منعم نه رضا وی او د هغه سره محبت ساتی) او په خوله باندے صفت کول د هغه دی او د هغه د انعام تذکره کول چه ما سره ئے دا انعام کړیدے۔ او شکر په اندامونو دا دے چه د هغه په خدمت کښې به اُولګی او که د عبادت مستحق وی لکه الله تعالیٰ شو نو بیا به ورله عبادت اُوکړی۔ او حمد صرف په ژبه وی۔

د شکر پوره تفصيل په (الفوائد ۲/۹۸) کښې اُوګوره۔

فوائد الشکر: (۱) شکر الله تعالیٰ ته ډیر محبوب عمل دے،

(۲) شکر سبب د زیادت د نعمتونو دے،

(۳) [اَلشُّكْرُ صَيْدُ الْمَفْقُوْدِ وَقَيْدُ الْمَوْجُوْدِ] (شکر سره ورک شوے شے ملاویږی او موجود شے د ضائع کیدو نه راښندیږی) شاعر وائی :

اِذَا كُنْتَ فِیْ نِعْمَةٍ فَارْعَهَا	❁	فَاِنَّ الْمَعَاصِیْ تُزِيْلُ النِّعَم

(کله چه ته په یو نعمت کښې یے نو د هغې لحاظ ساته ځکه چه ګناهونه نعمتونه زائل کوی)

(٤) شکر والا ته الله تعالیٰ عذاب نهٔ ورکوی، آیت کښې دي :

(مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ اِنْ شَكَرْتُمْ) (النساء: ۱٤۷)

(الله تعالیٰ ستاسو په عذاب څه کوی که تاسو شکر اُوکړئ)

(٥) شکر ګذار ته الله تعالیٰ ښائسته جزاء او بدله ورکوی الله تعالیٰ فرمائی :

(وَسَيَجْزِی اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ) (آل عمران : ۱٤٤)

(زر دے چه الله تعالیٰ به شکر ګذارو ته ښائسته جزاء ورکړی)

(٦) شکر سبب د نجاة دے۔ د الله تعالیٰ ارشاد دے: (كَذٰلِكَ نَجْزِیْ مَنْ شَكَرَ) (القمر:۳٥)

(۷) شکر ګذار د الله تعالیٰ د آیتونو او کائناتو نه عبرت اخلی۔

(اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ)

(ابراهیم : ٥، لقمان : ۳۱، سبا : ۱۹، الشوری : ۳۳)

شکر ګذار سره حساب نهٔ کیږی ۔ او د شکر نور فوائد هم شته۔

شکر د الله تعالیٰ په صفت کښې په معنیٰ د ښکاره کولو د نعمت دے او قبلول د شکر دی۔ دارنګه (اَلْاَجْرُ الْجَزِيْلُ بِالْعَمَلِ الْقَلِيْلِ)

(په لږ عمل باندے ډیره بدله ورکول) او دارنګه د عمل قدردان په معنیٰ سره هم راځی۔

وَاِذْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ
او کله چه ورکړو مونږ موسیٰ (علیه السلام) ته کتاب (تورات)
وَالْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۵۳﴾
او فرق کونکے معجزے (د حق او د باطل ترمینځ) دے دپاره چه تاسو هدایت واخلئ۔

تفسیر : پدے آیت کښې شلورم خاص نعمت دے چه هغه تورات ورکول وو، الله تعالیٰ موسی علیه السلام ته د بنی اسرائیلو د هدایت دپاره تورات ورکړو، دا یو عظیم نعمت وو، دلته ورته دا نعمت یادوی، دے دپاره چه پدے کښې موجود بشارت رایاد کړی او په رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړی او په دین اسلام باندے عمل اُوکړی چه د ګمراهئ نه نجات حاصل کړی۔

په آیت کښې د (کتاب) نه مراد (۱) یا خو تورات دے او (فرقان) د هغه عطف تفسیر دے، دا په کښې یو خاص صفت وو چه د حق او باطل ترمینځ فرق کونکے وو۔ نو د تورات دوه نومونه شو۔

(۲) – یا د (کتاب) نه مراد تورات دے او د (فرقان) نه مراد هغه معجزات دی چه موسی علیه السلام ته د حق او د باطل او د کفر او د ایمان ترمینځ د فرق او جدائی راوستو دپاره ورکړے شوی وو۔ چه هغه سپین لاس، امسا وغیره وو۔

(۳) فرقان کله رعب ته هم وئیلے شي۔ لیکن دا قول کمزورے دے۔ او پدے کښې دے امت باندے هم احسان ذکر کول مقصود دے چه تاسو ته ئے هم د هدایت کتاب قرآن کریم درکړیدے۔ اول تفسیر ظاهر دے۔ وجه دا ده چه بل آیت کښې دی :

﴿وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوْسٰى وَهَارُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَاءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ﴾ (الانبیاء/۴۷)

بیا قرآن او تورات ته فرقان وائی پدے کښې اشارات دی (۱) اشاره ده چه دا دواړه تفصیل د احکامو کوی (۲) (يُفَرِّقَانِ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ وَالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ) (دواړه د حق او باطل او حلال او حرامو ترمینځ فرق کوی)

(۳) دواړه په خپل مقصود کښې ښهٔ وضاحت کونکی دی۔

(٤) دواړه بنده ته هغه حکمة ورکوی په کوم باندے چه خیر او شر په ژوند کښ پیژندلے شی۔
(لَعَلَّکُمْ تَهْتَدُوْنَ)دا هم دلیل دے چه (کِتَابُ اللّٰهِ لِلْهِدَایَةِ) د الله تعالیٰ ټول کتابونه د هدایت دپاره راغلی دی۔نو د (هُدًی لِلْمُتَّقِیْن) سره ددے هم تعلق دے۔

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰی لِقَوْمِهٖ یَا قَوْمِ اِنَّکُمْ ظَلَمْتُمْ
کله چه اُووئیل موسی علیه السلام خپل قوم ته، اے قومه څما ! یقیناً تاسو ظلم کړے
اَنْفُسَکُمْ بِاتِّخَاذِکُمُ الْعِجْلَ فَتُوْبُوْا
په ځانونو خپلو په سبب د نیولو ستاسو سخی لره (په اُلوهیت سره)، پس توبه اُویاسئ
اِلٰی بَارِئِکُمْ فَاقْتُلُوْا اَنْفُسَکُمْ ذٰلِکُمْ خَیْرٌ لَّکُمْ عِنْدَ

خالق خپل ته، نو اُووژنئ ځانونه خپل، دا کار غوره دے ستاسو دپاره په نیز

بَارِئِکُمْ فَتَابَ عَلَیْکُمْ
د خالق ستاسو، نو هغهٔ مهربانی اُوکړه په تاسو، (توبه ئے درله قبوله کړه)
اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ﴿٥٤﴾
یقیناً هغه ډیر توبه قبلونکے، مهربان دے۔

تفسیر : په دے آیت کښ پنځم خاص نعمت دے چه د گناه د معاف کولو نه پس ئے سزا هم معاف کړه۔او تخفیف ئے پکښ راوستو۔ او دا د مخکنی آیت د مغفرت او معافئ تفصیل دے۔
هرکله چه دوی شرك اُوکړو نو موسیٰ علیه السلام راغلو، دوی ته ئے غصه اُوکړه چه تاسو خو ځان هلاك کړو نو دوی ته د تویے احساس اُوشو چه توبه اُویاسو (سورة الاعراف ۱٤۹)

کښې راغلي چه دوی پدې خپل شرك پښیمانه شو. نو بیا دلته تفسیرونه دی. (۱) یو دا چه د دوی توبه کښې دوه اجزاء وو، یو په خوله باندې توبه ویستل، او دویم ځانونه وژل. او دا صرف پدې موقعه کښې ورته وئیل شوی وو، همیشه دپاره دا حکم نهٔ وو. چه توبه کښې به ځان وژني. لکه زمونږ په دین کښې هم په بعض صورتونو کښې د توبې سره سره د بعضې ګناهونو سزا د مجرم وژل دی لکه مثلًا د قصدي قتل او په ګواهئ سره د ثابتې شوې زنا سزا ګانې قتل او سنګسارول دی چه په توبه سره هم دا ګناه نهٔ معاف کیږي.

(۲) دویم تفسیر دا دې چه د هغوی توبه دا وه چه قتل ته ځان تیار کړي او د خولې توبه نهٔ وه. نو بناء په دې (فَاقْتُلُوْا) به تفسیر وی دپاره د (تُوْبُوْا) او د توبې نه مراد به اراده د توبې، او توبې ته ځان تیارول وی، او قتل به حقیقي توبه وی. اول قول اظهر دې ځکه چه هغه په دویم مشتمل دې.

د علي ﷺ نه روایت دې چه بني اسرائیلو موسیٰ علیه السلام نه تپوس اُوکړو چه زمونږ ددې ګناه توبه څهٔ شې دې ؟ نو موسیٰ علیه السلام ورته اُوفرمایل : په تاسو کښې دِې بعض بعضو لره قتل کړي، نو هغوی چړې راواخستې او یو بل قتل کول ئې شروع کړل، پدې کښې بیا دا وئیلې شویدی (چه مرفوع معتمد نص پکښې نشته) چه دوی کله اوویا زره کسان قتل شو، پدې کښې موسی او هارون علیهما السلام د الله تعالیٰ نه دعاګانې اُوکړې چه یا الله ! دا خلق معاف کړه نو الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته د وحي په ذریعه خبر ورکړو چه دوی ته حکم اُوکړه چه اُوس قتل بند کړئ، کوم چه قتل شو نو د هغوی ګناه معاف شوه او کوم چه باقي پاتې شو نو د هغوی توبه قبوله شوه.

پدې کښې یوه بله رایه دا ده چه د لاوی بن یعقوب اولادو د سخي عبادت نهٔ وو کړې نو هغوی ته حکم اُوشو چه هغوی دِې دا نور (شرك کونکي) قتل کړي، نو هغوی دغه شان اُوکړل، بیا الله تعالیٰ د ټولو توبه قبوله کړه او همدا رایه راجح معلومیږي ځکه موحدینو مشرکانو لره قتل کړل. (تیسیر الرحمن)

او همدا خبره د تورات باب الخروج نه معلومه ده باب (۳۲ – آیات ۲۵ – ۳۰) نو کوم علماء چه فرمائي چه دوی بالکل ندی قتل شوی، و خبره ئې ضعیفه ده.

نو پدې کښې الله تعالیٰ دا مهرباني اُوکړه چه ډیر خلق ئې بغیر د قتل نه معاف کړل، ټولو ځان اُونهٔ وژلو او کوم چه قتل شو نو هغوی په آخرت کښې د رحمت او مهربانۍ

مستحق جوړ شول۔ نو دا په موجوده یهودو هم بل انعام شو چه که ستاسو پلاران ئے تول وژلی وے، نو ستاسو نسل به کمزورے وے۔

یا قوم : فائده : د انبیاء کرامو (علیهم السلام) د بیان همیشه دا طریقه وی چه خپل قوم ته ډیر په نرم انداز خبره کوی، داسے ورته نهٔ وائی چه اے مشرکانو، کافرو، ظالمانو !۔ نو د داعی دپاره پکار ده چه په خپلو الفاظو کښې نرمی اُوکړی دے دپاره چه خبره ئے په مخاطبینو اثر اُوکړی۔

بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ : ددے مفعول ثانی حذف دے یعنی (اِلٰهاً) (یعنی په سبب د نیولو ستاسو سخی لره په اُولوهیت او معبود گرزولی وو)۔

(**فَتُوبُوٓا اِلٰى بَارِئِكُمْ**) باریٔ : هغه ذات ته وائی چه په جدا جدا شکل او په اخلاقو او صفاتو سره د مخلوق پیدا کونکے وی، چه د هغوی د اندامونو ترمینځ ښائسته مناسبت وی۔ دا لفظ ئے ځکه راوړو چه پدے کښې دوی ته یو قسم زورنه ده چه الله تعالیٰ ستاسو خالق دے او شکل ئے درله خائسته کړیدے او ترتیب ئے درکړیدے۔ نو څنگه د یو بد شکله او په کم عقلتیا مشهور حیوان عبادت مو کړیدے؟ دا ډیر لوئی ظلم دے۔ نو پدے کښې د دویٔ ظلم او بے عقلیٔ ته ډیره لطیفه اشاره شوه ۔

(**ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ**) یعنی په ظاهره کښې خو به تاسو ته تکلیف وی خو د الله تعالیٰ په نیز دا ډیر غوره دے، په دے تاسو ته ډیر لوئی اجر درکوی۔ نو ترغیب ورکوی توبے ویستلو ته او پدے کښې اشاره ده چه مجرم له په سزا ورکولو کښې ډیر خیر او فائدے موجودے دی، اگر که هغه ته نهٔ وی معلومے۔ او د الله تعالیٰ د حدودو په نافذ کولو عجیب خیرونه دی۔ اگر که انسان ته به لږ شان تکلیف هم رسی خو روستو ورله جنتونه او نعمتونه ورکوی۔

فَتَابَ عَلَيْكُمْ : یعنی هرکله چه تاسو قتل ته تیار شویٔ او څه ناڅه کسان په کښې قتل شو نو الله تعالیٰ په باقی مانده کسانو باندے احسان اُوکړو او توبه کښې ئے ورله تخفیف پیدا کړو په دعاء د موسی او هارون علیهما السلام سره۔ او دا قانون دے چه څوك د الله تعالیٰ حکم ته تیار شی، الله تعالیٰ ورسره ډیر احسان کوی۔

بعض علماء وائی : دوی بیا مړه نهٔ شول، بلکه دوی دا اراده اُوکړه چه مونږ ځان وژنو۔ نو الله تعالیٰ توبه راولیږله چه ما معاف کړیٔ، د دوی رشتینے نیت ئے اُوپیژندلو چه دا

خلق رشتيني نيت والا دی۔ نو بس قتل ئے ورته معاف كړو، دا قول بعض مشائخ غوره كوی۔

عام مفسرين داسے وائي : چه نۀ، دوی په يو بل باندے ګوزارونه شروع كړل، ډير كسان اُووژلے شو، بيا موسى عليه السلام د الله تعالىٰ نه دُعا اوكړه چه اے الله ! بني اسرائيل به ختم شي۔ تۀ مهرباني اُوكړه۔ الله تعالىٰ اُوفرمايل : څه معاف شول۔ څه نه څه كسان ترے اُووژلے شو، څوك زرګونه يادوی، څوك كم يادوی، دا بيا تاريخي واقعات دی۔ حديث پكښې نشته۔ ددے د خاطره انسان ئے هسے نقل كولے شي۔ او همدا زمونږ په نيز غوره دے څكه د تورات عبارت پرے دليل دے او په قرآن كښے د هغے مخالفت هم نشته بلكه تائيد ئے كوی۔

سوال : هركله چه د سخي عبادت كونكی قتل شو نو هغوی ته (فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ) څنګه وائي؟۔ **جواب** : دے موجوده اولادو ته ئے په طور د انعام ذكر كوی چه ستاسو د مشرانو توبه مے قبوله كړے ده۔ او ترغيب وركوی چه تاسو هم د خپلو شركونو او مخالفتونو نه الله تعالىٰ ته توبه اُوباسئ۔

٢- جواب : دلته توبه په معنىٰ د تخفيف د حكم سره دے يعني الله تعالىٰ درته حكم آسان كړو چه بعض قتل شو او بعض پاتے شو۔ او ټول ئے قتل نۀ كړئ۔ او دا قول راجح دے وجه دا ده چه قبول التوبه خو مخكښې آيت په (عفونا) كښې ذكر شوه، نو دلته تخفيف مراد دے۔

دارنګه توبه وئيلے شي : [إِسۡتِعۡمَالُ الۡعَبۡدِ فِيۡ طَاعَةِ اللّٰهِ تَعَالىٰ]

(چه الله تعالىٰ بنده لره د ګناه نه روستو په خپل طاعت كښې استعمال كړی)

نو دغه ژوندی او مړی دواړه په طاعت كښې استعمال شو۔ دا د توبے حقيقت دے۔

(التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ) هر وخت چه څوك توبه ورته اُوباسی الله تعالىٰ ئے قبلوی۔ او پدے كښې اشاره ده چه الله تعالىٰ د توبے طريقے خپله ښائي او بيا د توبے نه پس رحمتونه هم كوی۔ دا دوه صفتونه مخكښې هم تير شو د آدم واقعه كښې بار بار دے سورت كښې راځي، اشاره ده چه اے الله كتابو توبه اُوباسئ وقت تير ندے، موقعه شته۔

حكمتونه : پدے آيت كښې ډيرو حكمتونو او فوائدو ته اشاره ده (١) اول اجتماعي طريقے سره توبه ويستلو كښې زور ډير وی (٢) د مشركينو نه بيزاری او هغه د خپل

مینځ نه ویستل پکار دی۔ (۳) د شرك نهایت قباحت او د توحید انتهائی عظمت ته اشاره ده ګویا کښې که بنیے لاس شرك اُوکړی نو په چپ لاس کټ کول پکار دی او بالعکس۔

(٤) اخیارو اشرار قتل کړل د خاندانی او قبائلی تعصب ختمولو دپاره۔او چه هیڅ قسم فتنه پیدا نشی او بنی اسرائیل پاك شی۔

(٥) د مرتد سزاء قتل ده په پخوانو ادیانو کښې هم۔

(٦) د ایمان مضبوطولو ته اشاره ده چه اهل توحید دِیے د اهل شرك ګردنونه او ځټونه پریکړی دیے دپاره چه د دوی په ایمان کښې قوت راشی او الولاء والبراء راښکاره شی۔

(۷) کومه ګناه چه د مشرانو د غفلت په وجه عوام اُوکړی نو ددیے کفاره په ټولو ادا کول پکار دی۔ (۸) د توبیے د قبولیت شرط دا دیے چه د اصل ګناه نه بیزار شی۔

وَإِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ
او کله چه وئیلی وو تاسو، اے موسیٰ ! هیچرے ایمان نۀ راوړو مونږ په تا باندیے
حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ الصّٰعِقَةُ وَأَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿٥٥﴾
تردیے چه مونږه اُووینو الله تعالیٰ لره ښکاره نو اُونیولۀ تاسو تندر، او تاسو کتل۔

تفسیر: دا بله واقعه ده چه پدیے کښې (۱) یو تفسیر دا دیے چه کله موسیٰ علیه السلام دوی ته د شرك کولو نه پس د توبیے ترغیب ورکړو نو د توبیے دپاره موسیٰ علیه السلام د دوی نه اوویا مشران منتخب کړل او کوهِ طور ته ئے د دویم میقات (ملاقات) دپاره بوتلل، نو کله چه موسیٰ علیه السلام سره الله تعالیٰ یواځیے خبرے اُوکړے چه دوی به په توبه کښې ځان قتلوی نو موسیٰ علیه السلام دوی ته په واپسئ کښې په لاره کښې دا ذکرکړه نو دوی دا بے ادبی اُوکړه چه د الله تعالیٰ د لیدلو مطالبه ئے اُوکړه چه مونږ ته دِیے الله تعالیٰ ځان راښکاره کړی نو د الله تعالیٰ په خلاف ئے انتهائی جرأت اُوکړو او د ایمان بالغیب نه منکر شو۔ (ځکه په دنیا کښیے د هیچا طاقت نشته چه الله تعالیٰ لره اُووینی) نو په دوی باندیے د آسمان د طرف نه تندر راپریوتو چه سمدستی ئے مړۀ کړل، موسیٰ علیه السلام دعاګانے شروع کړیے چه اے الله ! دا

سُفهاء (بے وقوف) وو، معاف ئے کړه ! نو الله تعالیٰ په خپل فضل او کرم سره دوی دوباره ژوندی کړل۔ دا تفسیر د سورة الاعراف (۱۵۵) نه معلومیږی او دا راجح دے۔

(۲) — دویم تفسیر دا دے چه کله موسیٰ علیه السلام اول ځل د کتاب د اخستو دپاره کوهِ طور ته لاړو او کتاب ورته ملاؤ شو او دوی ته ئے د هغے اوامر او نواهی بیان کړل نو دوی ته ګران ښکاره شو، نو دوی مطالبه اُوکړه چه دا به مونږ هله منو چه الله تعالیٰ مونږ ته مخامخ راشی او دا اُووائی چه دا زما کتاب دے، وے منئ۔ نو الله تعالیٰ پرے غر راوچت کړو۔ بیا ئے اُومنل۔ ددے تفسیر په بناء به دا وینا د ټولو بنی اسرئیلو وی، سوا د مخلصینو نه او اول تفسیر سره دا صرف وینا د اَویا (۷۰) کسانو ده۔ لیکن دا تفسیر غوره نهٔ دے۔

وجه دا ده چه پدے واقعه کښې خو دوی مړهٔ شوی نهٔ وو، صرف غر پرے الله تعالیٰ راوچت کړے وو۔ او دوی په سجده پریوتی وو او ظاهره کښې ئے خبره منلے وه۔ اګرکه په دغه واقعه کښې ئے هم دے ادبیٔ خبرے کړیدی چه مونږ منلو ته تیار نهٔ وو۔ (وَعَصَيْنَا)

او پدے کښې اشاره ده چه دغه اوویا کسان پدے وینا سره مرتد شوی وو، پدے وجه الله تعالیٰ ورله سزا د مرګ ورکړه لیکن د توبے او د موسی علیه السلام د دعاء په برکت بیرته ژوندی شو۔ بعض وائی : د دوی مقصد انکار نهٔ وو بلکه د جهالت د وجه نه ئے داسے خبره کړے وه نو مرتد نهٔ دی، لیکن سزا د مرګ ورله پدے وجه ورکړے شوه چه دوی بے ادبی د الله تعالیٰ او د هغه د رسول (موسی علیه السلام) اُوکړه۔

دلته بعض تفسیرونو کښې دریمه قصه لیکلے ده چه اویا کسانو د الله تعالیٰ خبرے واوریدلے او بیا ئے د الله تعالیٰ د لیدلو مطالبه اُوکړه کما فی السراج والخازن وغیرهما۔ لیکن دا خبره یقینی غلطه ده ځکه کلام د الله تعالیٰ صرف موسیٰ علیه السلام اَوریدلے دے، لکه د (اِنِّی اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسَالَاتِي وَبِكَلَامِي) (اعراف:۱۴۴) نه دا خبره معلومه ده۔

قُلْتُمْ : دا وینا خو موجوده کسانو نهٔ وه کړے بلکه د دوی مشرانو کړے وه لیکن د مشرانو خبره خلق کشرانو ته کوی چه ګوره ستاسو مشرانو داسے خبرے کړی دی۔

يَامُوسىٰ : دوی خپلو پیغمبرانو ته یارسول الله یا نبی الله نهٔ وئیلو بلکه خپل نوم ئے ورته اخستو۔ دا دلیل دے د دوی د بے ادبیٔ، په خلاف د صحابه کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم

چه هغوی هیڅکله رسول الله ﷺ ته پس د پو هے نه یامحمد نهٔ دے وئیلے بلکه دا وینا (یَا مُحَمَّدُ) الله تعالیٰ په دوه آیتونو د سورة النور (۶۳) (لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا) او سورة الحجرات (۲) (وَلَاتَجْهَرُوا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ) سره حرامه کړیده۔ لکه سورة النور کښے به راشی ان شاء الله تعالیٰ۔

لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ : دوی خو ایمان راوړے وو، خو بیا ئے هم ځان نه ایمان نفی کولو، ظالمان وو، د ایمان په خوند نهٔ پو هیدل۔ حال دا چه دا لا تویے له هم تلی وو، ددے وجه نه دے امت ته وئیلے شویدی چه تاسو به ایمان د ځان نه نهٔ نفی کوئ۔ اګرکه لږ ساعت دپاره وی، او په قسم کښ وی، داسے به هم نه وائے چه زهٔ به مسلمان نهٔ یم که دا کار ما اُوکړو او یا داسے اُووائی : ما دے الله تعالیٰ د ایمان نه خلاص کړی) که رشتینی وی نو هم اسلام ته به بیرته روغ راواپس نهٔ شی۔ ددے الفاظو استعمالول هم په احادیثو کښ حرام شویدی۔

لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ : دا د کفر خبره دوی کړے ده، مفسرین وائی دا مسلمانان وو خو د جاهلیت د وجه نه ئے دا لفظ وئیلے دے۔ مراد ددے نه دا دے (لَنْ يُّكْمُلَ إِيْمَانُنَا) چه زمونږ ایمان کاملیږی نهٔ۔ ظاهر دا ده چه دا د دوی د بے ادبئ کلمه وه، او د الله تعالیٰ د حکم او د ایمان څه پرواه ئے نهٔ لرله۔ لکه روستو راځی ۔ (اَلْئٰنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ) (اُوس دے حق بیان کړو) دا هم د بے ادبئ خبره ده۔

فائده: دا آیت دلیل دے چه الله تعالیٰ په دنیا کښ نشی لیدلے کیدے، داسے طاقت الله تعالیٰ په دنیا کښ انسان له ندے ورکړے چه الله تعالیٰ اُووینی لیکن په قیامت کښ به مؤمنین صادقین الله تعالیٰ لره لیدلے شی، الله تعالیٰ به پکښ طاقت د لیدلو پیدا کړی۔ لکه دا خبره د قرآن او د صحیح احادیثو نه ثابته ده۔ او دا مذهب د مسلمانانو دے په خلاف د معتزلو نه۔

الصَّاعِقَة : تندر ته وائی دلته ئے یو څو مصداقات دی (۱) مرګ پرے راغلو۔

(۲) په دوی باندے اُور نازل شو چه دوی ئے اُوسیزل۔ یعنی د اُور تندر۔

(۳) د آسمان د طرف نه پرے چغه راغله لکه د صیحے د ثمودیانو او د قوم شعیب علیه السلام او د قوم لوط علیه السلام ۔

(٤) ډیر ملائک چه د هغوی په کشاری آوریدلو یا د هغوی په لیدلو سره دوئ بے هوشه شول او ډیرے نه مړهٔ شول (خازن) او سورة الاعراف (۱۵۵) کښ ئے دیته رجفه

وئیلے ده یعنی زلزله د زمکے یا هیبت او خوزیدل د زړونو مراد دے۔ او حقه دا ده چه صاعقه (کُلُّ شَیْءٍ غَیَّرَ الشَّیْءَ وَاَفْسَدَهٗ) ته وئیلے شی (هر هغه شے چه بل شی کښې تغییر راولی او هغه فاسد اُوګرځوی دا صاعقه ده)۔ لهٰذا دے تولو شکلونو ته صاعقه لفظ شامل دے کما فی ابن جریر (فی حم السجدة)۔

وَأَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ : (۱) (تَنْظُرُوْنَ اِلَی الصَّاعِقَةِ النَّازِلَةِ قَبْلَ اَنْ تُصِیْبَکُمْ) (یعنی تندر ته مو کتل مخکښې د رسیدلو نه)۔

(۲) (یَنْظُرُ بَعْضُکُمْ اِلٰی بَعْضٍ کَیْفَ یَأْخُذُهُ الْمَوْتُ) یو بل ته مو کتل چه مړهٔ کیدلو (بغوی، خازن) دا جمله ئے ځکه ذکر کړه چه عذاب انسان پسے راروان وی او دا ورته ګوری او لا بدن ته ئے نهٔ وی رسیدلے نو په دے کښې ډیر رعب وی چه تول زړه د انسان رانیسی۔

(۳) بعض وائی : تَنْظُرُوْنَ د نَظِرَةٌ نه دے په معنیٰ د انتظار سره۔ (اَیْ وَاَنْتُمْ تَنْتَظِرُوْنَ اِجَابَةَ السُّؤَالِ فِیْ حُصُوْلِ الرُّؤْیَةِ لَکُمْ) (روح المعانی) (تاسو په انتظار وئ چه اُوس به زمونږ سوال قبول شی او د الله تعالیٰ رؤیة به راته حاصل شی)۔

(٤) تَنْظُرُوْنَ (اِلٰی اَثَرِهَا الْبَاقِیْ فِیْ اَجْسَامِکُمْ بَعْدَ الْبَعْثِ) (روح) (یعنی تاسو کتلو هغه اثر د عذاب ته چه ستاسو په بدنونو کښې باقی وو پس د راپورته کیدو نه)

ثُمَّ بَعَثْنٰکُمْ مِّنْ بَعْدِ مَوْتِکُمْ لَعَلَّکُمْ تَشْکُرُوْنَ ﴿٥٦﴾
بیا راژوندی کړئ مونږ تاسو پس د مرګ ستاسو نه، دے دپاره چه تاسو شکر اُوکړئ۔

تفسیر : دا بل نعمت دے په بنی اسرائیلو چه د مرګ نه روستو ئے دوباره ژوندی کړیدی په سبب د دعاء د موسیٰ علیه السلام چه هغه وئیلی وو : (رَبِّ لَوْ شِئْتَ اَهْلَکْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِیَّایَ) (اعراف : ۱۵۵) ۔ یعنی اے الله ! تا به دا مخکښې وژلی وے ځکه چه زهٔ به بنی اسرائیلو ته څه وایم هغه خو تهمتیان قوم دے، وائی به زمونږ غوره خلق ډیے بوتلل او مړهٔ دے کړل نو اے الله ! دا راژوندی کړه ! او دا حقیقی مرګ دے، صرف بے هوشی نهٔ وه۔ او دیته عقوبی (سزائی) مرګ وائی، اَجَلی مرګ نهٔ دے۔

کله چه الله تعالیٰ دوی لره راژوندی کړل نو زیر زیر وو او شکلونو کښې ئے دغه آثار

ښکاره کیدل، بچو کښې ئې هم بیا دغه آثار وو۔ الله تعالیٰ ورسره ځو مره انعام کړے چه پس د مرګه ئې راژوندی کړل، که همداسې ئې پریخی وې نو سیده به جهنم ته تلی وے۔ نو الله تعالیٰ ورسره ځو مره احسان اُوکړو۔
دنیا کښې الله تعالیٰ مړی راژوندی کړیدی۔ یوه واقعه دا ده څلور به روستو پدے سورت کښې نورے راځی۔ (۷۳) کښې او (۲٤۳) او (۲٦۰) کښې۔

مقاصد الواقعة

او پدے واقعه کښې غرض : ۱- د الله تعالیٰ قدرت ښکاره کول دی،
۲- اثبات د آخرت پرے کیږی۔ ۳- او د نبی معجزه پکښې ذکر ده۔
٤- کله نا کله سزا ورکول سبب د معاف کیدو ګرځی۔
۵- او په بنی اسرائیلو باندے انعام او احسان ذکر کول دیٔ چه د الله تعالیٰ شکر اُوکړیٔ، په محمد رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړیٔ۔

سوال : د قرآن کریم د سورة الانبیاء (۹۵) نه معلومیږی : (وَحَرَامٌ عَلٰی قَرۡیَةٍ أَهۡلَكۡنَاهَا أَنَّهُمۡ لَا يَرۡجِعُونَ) د الله تعالیٰ فیصله خو دا ده چه څوك مړۀ شی نو هغه دنیا ته دوباره نۀ راواپس کیږی نو دوی څنګه دوباره راواپس شو ؟۔

جواب : مرګ دوه قسمه دے (۱) اجلی مرګ دے چه په خپله نیته مړۀ شی نو بیرته نشی راتلے۔ (۲) او بل عقوبی او عقابی (سزائی) مرګ دے، چه په طور د سزاء الله تعالیٰ وژلے وی، او خپله نیته ئې نۀ وی پوره۔ نو پدے کښې دوباره راتلل ممتنع نۀ دی۔

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ

او سورے کړو مونږ په تاسو باندے وریځے او راولیږل مونږ په تاسو باندے ترنجبین

وَالسَّلْوٰى ؕ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا

او مرزان، خورئ د پاك هغے نه چه مونږ درکړیدی تاسو ته او ظلم اُونکړو دوئ په مونږ

وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۵۷﴾

باندے لیکن په ځانونو ئے ظلم کولو۔

تفسیر : په دے آیت کښ بل (۷) انعام دے، هرکله چه دوی په صحرائے سینا (میدان تیه) کښ اُوسیدل چه هیڅ بندوبست نهٔ وو، سمدست کورونه جوړول هم د دومره تعداد دپاره عرفاً ممکن نهٔ وو، نو یو ځائے کښ چه خوراك څکاك نهٔ وی نو نهٔ نیك عمل کیږی او نهٔ ژوند تیریږی نو د ژوند ضروریات ئے ورله پوره کړل یو په میدان کښ ګرمی وه نو د هغے د زائله کولو دپاره ئے پرے د بره نه (بے بارانه) وریځے راخورے کړے او د خوراك دپاره ئے وِرله من او سلویٰ نازل کړل او اُوبه ئے ورته د کانړی نه را اُوویستلے نو ټول ضرورتونه پوره شو او دین او کتاب هم ورته ورکړے شو۔

اَلْغَمَامَ : جمع د غَمَامَةٌ ده، دا هغه سپینے نرئ وریځو ته وائی چه د انسان زړهٔ پکښ نهٔ تنګیږی، صرف د نمر ګرمی او تیزه رنړا کمه شی، نو ډیره تیاره هم نهٔ پیدا کوی او ګرمی هم نهٔ پیدا کوی۔ ورنه په وریځ کښ تیارهٔ وی، د انسان زړهٔ پکښ تنګ وی۔

(مَنّ) (ترنجبین) د شبنم په شان یو شے دے چه د آسمان نه نازلیدلو، او په خوږ والی کښ د شهدو په شان دے۔ په ژمی کښ اکثر د ښونانو په ونو باندے کیږی، په یخو علاقو کښ وی، او هغه د ترکاریٔ په ځائے کار ورکوی۔

مفسرینو ددے په مصداق کښ ډیر اقوال ذکر کړیدی (۱) ترنجبین (۲) خوږه جاوله۔ (۳) ګبین (٤) خوګ شربت۔

حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : چه دا ټول اقوال یو بل ته نزدے دی ځکه چه دغه نعمت

(ترنجبین) كه یواځې اُوخوړلې شي نو طعام او حلویٰ وه، او چه د اُوبو سره یوځائې شي نو شربت به ترې جوړ شو او كه بل څیز سره به مركب شو نو بله نوعه خوراك به جوړ شو.

او حدیث كښې راغلی دی : (اَلْكَمْاَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ)

[بخاری : ٤٤٧٨، مسلم : ٥٤٦٤]

(خرېړې د ترنجبین نه دې او ددې اُوبه د سترګو دپاره شفاء ده)

نو خرېړی ته ئې من پدې وجه اُووئیلو چه دا هم بې تکلیفه، بغیر د تخم نه راخیژی.

یا مطلب دا چه بنی اسرائیلو ته په مَن كښې دا هم ورکړې شوې وو.

او (سَلویٰ) مرزان وو. ابو العالیهؒ نه نقل دی چه دا سمانیٰ مرغئ وې، ابن عباس ﷺ نه نقل دی چه دا د سمانیٰ په شان مرغئ وې، عكرمهؒ فرمائی : دا مرغئ د هندوستان د ملك وې چه د چینچړې نه غټې وې او دیته په پښتو ژبه كښې مرز (بټیر) وائی.

پدې كښې بیا بعض مفسرین وائی چه دا به ورته پاخه راتلل، لیكن راجحه معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ به ورته په زمكه پیدا كول، د یو ځائې نه به ورته راتلل، لیكن په آسمانی تدبیر سره پیدا كیږی نو ځكه ئې اَنْزَلَ لفظ ذكر كړو او د ظاهری عادت خلاف وو ځكه ترنجبین په ونو او یخو علاقو كښې وی او دوی په ګرم او هوار میدان كښې وو.

او مرزان د انسان نه تختی، او په فصلونو كښې وی لیكن هغه به نهٔ تختیدل، د دوی خواته به راتلل او دوی به ذبح كول. د چرګانو پشان. دا د بنی اسرائیلو كرامت او د موسیٰ ؑ معجزه او د الله تعالیٰ د قدرت نښه وه. الله تعالیٰ بې اسبابو هم رزق وركولې شی.

او الله تعالیٰ ورته دا وئیلی وو : (كُلُوا) (خورئ) یعنی حلال ئې ګنړئ، یو خو حلال دی او بل طیبات، مزیدار دی، صحت هم پكښې ښه كیږی، بركتناك هم دی، دلته وقف دې.

دوی ته دا وئیلې شوی وو چه طغیان به نهٔ كوئ، (وَلَا تَطْغَوْا فِيهِ) (طه : ٨١)

او دا طعام به ځان له ذخیره كوئ هم نهٔ، لیكن بې صبری، او اظهار د ناراضګی، بې ادبی شكایتونه او د الله تعالیٰ ناشكری د هغوی شیوه جوړه شوې وه، نو دوی ناشكری شروع كړه لكه روستو راځی، دوی اُووئیل : دا خو راله زړه وهی، ترسكن څیزونه پكار دی.

او دغه طعامونه ئې ذخیره كول هم چه د هغې په وجه به زر سخا كیدل او چینجی به پكښې پیدا كیدل، نو د الله د عذاب مستحق شو، دغه طعام پرې الله تعالیٰ كم كړو.

طیبات : [مَا أَغْذٰی وَأَنْمٰی] (هغه خوراکونو ته وئیلے شی چه غذائیت پکښ وی او نمو او ترقی پکښ وی)۔

(۲) دویم : طیب هغه طعام دے چه ذاتاً او کسباً حلال وی۔

نو الله تعالیٰ فرمائی : (وَمَا ظَلَمُوْنَا) یعنی کله چه ئے دا نعمتونه په ځان قطع کړل نو په الله بانـدے ئـه ظـلم رانغے، هغه ته هیڅ نقصان اُونهٔ رسیدو، بلکه د خپل ځان نقصان ئے اُوکړو چه الله تعالیٰ ترے نعمتونه قطع کړل، بیا د هقانیانے او زمینداریانے به ئے کولے او چاودلی پوندے به گرزیدل او خر مخونه به ئے نیولی وو۔ او د الله تعالیٰ عبادت هم ترے پاتے وو۔ په مشقتونو اخته شول۔ دا د نعمت د ناشکرئ نتیجه ده۔

وَاِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوْا مِنْهَا حَيْثُ
او کله چه مونږ اُووئیل دا خل شئ دے کلی ته، نو خورئ د هغے نه کوم ځائے کښے
شِئْتُمْ رَغَدًا وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا
چه ستاسو خوښه وی فراخه، او داخل شئ دروازے (د کلی) ته سجده کونکی،
وَقُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطٰيٰكُمْ
او وایئ تاسو کلمه د حِطة (بخنه اُوکړه مونږ ته) وُبه بخښو تاسو ته گناهونه ستاسو،
وَسَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾
او زر دے چه ډیر به کړو نیك عملو لره۔

تفسیر : پدے آیت کښ اُوس الله رب العزت یو عذاب ذکر کوی۔ چه کوره دوی ته دوه حکمونه شوی وو، هغه ئے بدل کړل، یو سجده او بل ذکر۔ دوی ذکر هم بدل کړو او سجده ئے هم بدله کړه، الله رب العزت دوی لـه د ذکر په بدلولو عذاب ورکړو۔ نو په سجده بدلولوئے په طریقه اولیٰ پرے راولیږلو۔

د واقعے تفصیل دا دے چه بنی اسرائیل په دے میدان (صحرائے سینا) کښ وو چه

موسیٰ علیه السلام دوی ته حکم اُوکړو چه تاسو به یو کلی (بیت المقدس یا اریحاء وغیره) ته داخلیږئ، الله تعالیٰ په تاسو جهاد فرض کړیدے لکه دا سورة المائده کښې راځی نو دوی دولس کسان د معلومات دپاره اُولیږل، وے لیدل چه هغه خلق جبارین، سخت بدنونو والا وو، نو دوی بزدله شو او انکارئے د جهاد نه اُوکړو، موسیٰ علیه السلام ورته ډیرے زاری ګانے اُوکړے، لیکن دوی ورله خبره نۀ منله، نو موسیٰ علیه السلام دعاء اُوکړه چه یا الله ! مونږ ددے قوم نه واخله، نو هغه وفات شو، او دوی څلویښت کالو پورے په میدان کښې حیران پراته وو۔ بیا پرے الله تعالیٰ رحم اُوکړو چه یوشع بن نون علیه السلام ئے ورته پیغمبر راولیږلو او دوی د هغه سره جهاد ته څلویښت کاله روستو تیار شو، کله چه بیت المقدس فتح شو، نو الله تعالیٰ دوی ته دوه امرونه کړی وو، یو دا چه دے کلی ته د اُوسیدو دپاره داخلیږئ نو سر به خکته کوئ (عاجزئ سره به داخلیږئ)۔

بل دا چه د حِطَّةٌ (اے الله مونږ ته ګناهونه معاف کړه) لفظ ذکر به کوئ، لیکن دے ظالمانو سرکشی اختیار کړه، عمل ئے هم بدل کړو چه په کُناتو باندے ټُلیدو سره داخل شول (سجده ئے اُونکړه) او د حطة په ځائے (حِنطَةٌ فِیۡ شَعُرَةٍ) (په ویښتو کښې بند غنم غواړو) وئیلو سره داخل شو۔ نو پدے کښې د الله تعالیٰ د حکم انتهائی اهانت او سپکوالے وو، پدے وجه الله تعالیٰ دوی په طاعون (ننکو) باندے مبتلا کړل۔

[الموطأ، ومسلم : ۵۹۰۵ واحمد، ابن حبان : ۲۹۵۲]

(۲) دویم قول د مفسرینو دا دے چه د جهاد واقعه جدا ده او دا واقعه جدا ده، دوی ته وئیل شوی وو چه دغه کلی ته داخل شئ، اُوسیږئ، هلته خوراکونه کوئ، خو دوه کارونه به کوئ، سجده به کوئ او ذکر به کوئ په حِنطَةٌ سره۔ نو دوئ قول او عمل دواړه بدل کړل۔ دا دواړه احتمالات صحیح دی ځکه چه دلته مقصود په بنی اسرائیلو باندے تعداد النعم والنقم دے۔

اُدۡخُلُوۡا هٰذِهِ الۡقَرۡیَةَ : دا دخول د سکنیٰ (اُوسیدو) دپاره وو، خو په جهاد به ورننوزئ او ځانله به ئے فتح کوئ لکه سورة الاعراف (۱۶۱) کښې راځی : (وَاِذۡ قِیۡلَ لَهُمُ اسۡکُنُوۡا هٰذِهِ الۡقَرۡیَةَ) هلته په سکنیٰ باندے امر راغلے دے، او دلته په دخول۔ او سکنیٰ خو د دخول نه روستو وی۔ نو ګویا کښې دخول علت دے دپاره د سکنیٰ۔

الۡقَرۡیَةَ : ددے قریه په تعیین کښې د مفسرینو ډیر اقوال دی : بیت المقدس وو، اریحا،

رملـه، شام، اردن، فلسطین، تدمُر، ایلیا، بَلُقاء یا مصر وو۔ لیکن ابن کثیرؒ وئیلی دی چه صحیح دا ده چه دا بیت المقدس دے۔

فَکُلُوۡا : فاءئے راوړه ځکه چه دا د تعقیب دپاره ده نو خوراك هم د داخلیدو نه روستو وی او په سورة الاعراف کښ (وَکُلُوۡا) کښ واو راوړے دے ځکه چه واو کښ تعقیب نهٔ وی بلکه د مطلق جمع دپاره وی یعنی اُوسیږئ او خوراك هم کوئ۔

نو دا آیتونه مونږ ته دا وائی چه تاسو دا اذکارِ شرعیه مهٔ بدلوئ او افعالِ شرعیه مهٔ بدلوئ ورنه هلاك کیږئ لکه څمونږ ډیر مقلدین دا کار ډیر کوی، احکام شرعیه بدلوی، په غلطو طریقو پرے عمل کوی چه کومئے مزاج غواړی۔

(رَغَدًا) (اَیۡ کَثِیۡرًا وَّاسِعًا) (قرطبی) ځکه په دے شام علاقه کښ فراخیانے ډیرے دی۔ په رغد کښ فراخوالی د خوراك ته او په حیث شئتم کښ فراخوالی د مکاناتو ته اشاره ده۔

وادخلوا الباب : ددے دروازے نه مراد باب القریه (د کلی دروازه) ده، لکه پخوا به د هر کلی نه دروازه چاپیره وه۔ او همدا صحیح قول دے۔

بعضو وئیلی دی، باب المسجد مراد دے لیکن دا قول ضعیف دے ځکه چه مسجد په هغه وخت کښ لا جوړ نهٔ وو۔

بعض وائی : باب القبه وه کوم طرف ته به چه موسی علیه السلام مونځ کولو۔ مگر اول قول صحیح دے۔ قرطبیؒ وئیلی دی : دا دروازه اُوس مشهوره ده په باب حِطّه سره۔

(سُجَّدًا) (۱) یوه معنی دا ده چه سجده د شکر اُوکړئ پس د داخلیدو نه۔ په داخلیدلو کښ سرے سجده نهٔ شی کولے۔ (او سجده د شکر په ډیرو احادیثو کښ راغلے ده، لکه حدیث د کعب بن مالك رضی الله عنه وغیره شو۔ کومو علماؤ چه نهٔ ده منلے نو هغوی ته دے باره کښ احادیث نهٔ دی رسیدلی)

(۲) دویمه ظاهره معنیٰ دا ده چه تاسو داخلیږئ نو سرونه الله تعالیٰ ته ښکته کړئ، عاجزئ سره داخل شئ، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کله د فتح په وخت مکے ته داخلیدو، نو سرئے دومره ښکته کړے وو چه د خپل اُوښ د ښټ سره لګیدو۔ الله تعالیٰ ته ئے عاجزی کوله۔ نو دے سجدے نه مراد انحناء ده یعنی سر ښکته کړئ عاجزی الله تعالیٰ ته اُوکړئ، الله تعالیٰ په دے باندے انسان نه رضا کیږی، د بخاری د روایت نه معلومیږی :

[فَدَخَلُوۡا یَزۡحَفُوۡنَ عَلٰی اَسۡتَاهِهِمۡ وَقَالُوۡا حَبَّةٌ فِیۡ شَعۡرَةٍ] [بخاری :۳۴۰۳]

(دوی داخل شو په داسے حال کښې چه په کوناتو تولیدل) ددے نه معلومیږی چه دا په ولاړه مراد ده یعنی مطلب ئے دا دے چه مونږه سر نۀ شو خکته کولے، سرئے اُوچت کړے وو، په کناتو باندے روان وو۔ د الله تعالیٰ حکم ئے بالکل ماتولو، گپ ورته ښکاره کیدلو۔

حِطَّة : راجح دا ده چه دا د هغوی د استغفار کلمه وه۔ حطة حطة سره به ئے ذکر کولو او معنیٰ ئے دا ده چه اے الله ! مونږ ته زمونږ گناهونه اُوبخه۔ (الحسن وقتادة)

یا : مونږ اقرار کړیدے په گناهونو)۔ ځوك وائی : بله کلمه وه خو حطة سره ترے الله تعالیٰ تعبیر کړیدے لکه تعوذ تعبیر دے د (اعوذ بالله من الشیطان الرجیم) نه او تسمیه تعبیر دے د (بسم الله الرحمن الرحیم) نه۔ نو دا حطة هم یو تعبیر دے۔ نو بیا بعض وائی : دے نه مراد کلمه د (لا اله الا الله) ده (عکرمة)۔

ځوك وائی : (سبحان الله الحمد لله) کلمه مراد ده۔ ځوك وائی : (اَسۡتَغۡفِرُ اللهَ) مراد ده۔ (ابن عباسؓ)۔ دا ټول احتمالات پکښې دی خو داسے کلمه وه چه په هغے ټول گناهونه رژیدل۔ او د الله تعالیٰ تعظیم پکښې راتلو۔ حطة د حط نه ماخوذ دے رژولو ته وئیلے شی۔ لکه (وحُطَّ عَنِّیۡ بِهَا وِزۡرًا) ۔

ظاهر دا ده چه لفظ د حطة باندے ورته امر شوے وو او عربی او عبرانی دواړو کښې نزدے والے دے نو حطة کښې معنیٰ د گناه رژیدلو پرته ده او همدا ظاهر د قرآن دے۔

او حدیث کښې (فَقَالُوۡا حِنۡطَةٌ فِیۡ شَعۡرَةٍ) (نو هغوی حِنۡطَة اُووئیلو) نون ئے پکښې زیات کړو۔ [مسند احمد : ۸۰۹۵]

حافظ ابن کثیرؒ وئیلی دی : حاصل ددے دا دے چه دوی ته حکم شوے وو چه د فتح په وخت کښې دوی الله تعالیٰ ته په قول او عمل سره خضوع او عاجزی اُوکړی او د خپلو گناهونو اقرار اُوکړی او د هغے نه استغفار او بخنه اُوغواړی او د الله تعالیٰ د نعمتونو شکر اُوکړی۔ ابن کثیر : (۱/۲۷۳)

نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ: په دے ذکر اذکارو کښې دا فائده ده چه گناهونه ورسره معاف کیږی۔

وَسَنَزِيۡدُ الۡمُحۡسِنِيۡنَ :(۱) – (وَسَنَزِيۡدُ اَجۡرَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ مِنۡكُمۡ) یعنی تاسو کښې چه کوم نیك عمله خلق دی هغوی له به زیات اجر ورکړم، کومو چه د سخی عبادت نۀ دے کړے۔(قرطبی) (۲) یا ستاسو ددے ذکر په وجه به ستاسو نیکیانے زیاتے کړم۔

۳– یا عامه معنیٰ مراد ده (سَنَزِيۡدُ الۡمُحۡسِنِيۡنَ فِیۡ اِحۡسَانِهِمۡ) چه نیکی مو کوله نو الله به

درله احسان نور هم زياتوي۔
(٤) يا دا چه نيك عمله به زيات كړو ځكه چه لږ كسان نيك عمله وي نو د هغوي په وجه نه الله تعالیٰ نور كسان نيك عمله او ښه كوي۔ نيك عملئ سره معاشره ښائسته كيږي۔ نو كه تاسو ښه شوئ، نو ستاسو په وجه به ستاسو اَولاد او ستاسو ملګري ښه شي محسنين به نور هم زيات شي۔
(٥) يا دا چه نَغْفِرُ او سنزيد د دوه قسمه خلقو بدله ده، كوم كسانو چه من او سلویٰ كښ خيانت يا نور ګناهونه كړي وي نو ددے كلمے په وجه به د هغوي ګناهونهٔ اُوبښلے شي او چا چه دا خيانت يا نور ګناهونه نهٔ وي كړي نو هغوي له به په سبب د دغه عباداتو ثواب زيات كړے شي۔(تفسير النيسابوري ١/٢٢٩)
(٦) يا دا چه څوك دغه طاعت په ښائسته طريقه سره اُوكړي نو د هغه ګناه به هم معاف شي او درجات به ئے هم اُوچت شي او اجر به ئے هم زيات شي۔
او پدے كښ اشاره ده دے ته چه دا ذكر د نيك عملو كار دے۔ دے باندے سړے د احسان درجے ته رسيږي، او نور هم زياتيږي۔
محسن هغه دے چه د توحيد عقيده ئے صحيح زده كړي وي او د خپل نفس ښائسته تربيت ئے كړے وي، او د فرائضو په ادا كولو ئے توجه كړي وي او نور مسلمانان د هغه د شر نه محفوظ وي۔(قرطبیؒ، اللباب)
(۲) دارنګه علامه حرالیؒ وائي : احسان ديته وائي : [اَلْبُلُوْغُ اِلَى الْغَايَةِ فِيْ حُسْنِ الْعَمَلِ] [نظم الدرر ١/١٠١] (محسن هغه چا ته وائي چه په نيك عمل كښ انتها درجے د حسن (ښائست) ته رسيدلے وي) او حسن د عمل په دوه څيزونو سره راځي يو دا چه په اخلاص او توحيد سره وي، د شرك نه پاك وي او بل اتباع د سنت پكښ وي۔
فائده : دلته ئے واو راوړو او په سورة الاعراف (١٦١) كښ ئے سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ بغير د واو نه راوړيدے۔ وجه دا ده چه دلته مجموعه مغفرت او زيادت يوه جزاء ده دپاره د مجموعه فعلينو چه هغه دخول د باب او قول د حِطَّه دے او واو هم دپاره د جمع وي۔
او سورة الاعراف كښ تقسيم د دواړو جزاګانو دے په دواړه فعلينو باندے يعني نَغْفِرْ لَكُمْ متعلق دے د قول د حِطَّةٌ سره او سَنَزِ الْمُحْسِنِيْنَ متعلق دے د دخول الباب سُجَّداً سره۔
[الرازي، اللباب ١/٣٣١) احسن الكلام]

فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِىْ
پس بدل کړو هغهٔ کسانو چه ظلم ئے کړے وو وينا لره، وائے خسته غير د هغے (وينا) نه
قِيْلَ لَهُمْ فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا
چه وئيلے شوے وه دوئ ته، پس راوليږلو مونږ په هغه کسانو چه ظلم ئے کړے وو
رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۵۹﴾
بد عذاب د (طرف) آسمان نه پدے وجه چه دوئ نافرمانی کوله۔

تفسير : په دے آيت کښ د دنيا تخويف بيانوی په ذکر کولو د عذاب په بنی اسرائيلو او سبب د هغے تبديل د وينا دے۔ او دلته ئے تبديل د قول ذکر کړو نو هرکله چه دوی ته په تبديل د قول سره ظالمان اُووئيل شو او سزا ورکړے شوه نو په تبديل د فعل سره به په طريق اولیٰ ظالمان وی، او سخته سزا به ئے وی ځکه تبديل د فعل غټ جرم دے۔

(فَبَدَّلَ) دا لفظ متضمن دے معنیٰ د اَخَذَ لره نو پدے وجه په غير الذی کښ اعتراض نۀ پيدا کيږی چه دلته خو معنیٰ دا راوځی چه کومه وينا چه ورته کړے شوه نو د هغے نه غيرئے بدله کړه نو بيا څنګه مستحق د عذاب شو؟۔ ځکه دوی خو په منقول ذکر کښے تبديلی اُونکړه۔ نو دلته معنیٰ دا ده چه دوی په بدله کښ واخسته وينا لره چه سيوا وه د هغه وينا نه چه دوی ته وئيلے شوے وه، نو بَدَّلَ په معنیٰ د اِسْتَبْدَلَ دے۔

(۲) يا بَدَّلَ په خپله معنیٰ دے يعنی بدل ئے کړو او د غير نه مخکښ (اَخَذُوْا) (وائے خسته) لفظ پټ مراد دے۔

نو دوی دا لفظ بدل کړو او [حِنْطَةٌ فِىْ شَعْرَةٍ يا حِنْطَةٌ فِىْ شَعِيْرَةٍ] (غنم چه سره د وربشو نه وی) (يا حَبَّةٌ فِىْ شَعْرَةٍ) كما فى حديث الصحيحين وغيرهما) وئيل ئے شروع کړل۔

بعض وائی داسے ئے وئيل : (هطا سقماثا ازبةً مزبا) دا عبرانی ژبه ده يعنی دانے د غنمو سرے (قوی) سورئ کړے شوے چه په هغے کښ تور وېښتۀ وی) دا قول د ابن مسعود رضی الله عنه دے كما فى المستدرك للحاكم : [۳۲۵۲]

اول قول مرفوع حدیث کښې راغلے دے۔ لکه نن صبا بعض کفار وائي : اسلام او مونځونه په ځائے پریده د خلقو د خیتو غم کول پکار دي، روټی، کپړا، مکان ددے کوشش پکار دے۔ او بعض نام نهاد مسلمانان هم دغه شان خبره کوي چه اسلام څه ته وائي (العیاذ بالله) ددے نورو څیزونو غم کول پکار دي۔

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا : دوه ځل ورته الله تعالىٰ ظالمان اُووئیل او یو ځل فاسقان۔ (فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا) (عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا) دا د الله تعالىٰ د غضب الفاظ دي۔ ځکه چه دوي ډیر ظلم کړے وو۔

(رِجْزًا) سَيِّءُ الْعَذَاب (بد عذاب) ته وئیلے شي۔ (۱) دا بد عذاب د طاعون بیماری وه۔ چه اَویا زره کسان پکښې اُووژلے شو (ابن زید)

او یو حدیث کښې دي : چه دا د مخکنو امتونو دپاره عذاب وو او ددې امت دپاره شهادت دے۔ [كَانَ عَذَابًا يَبْعَثُهُ اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ فَجَعَلَهُ اللّٰهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِيْنَ فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَقَعُ الطَّاعُوْنُ فَيَمْكُثُ فِيْ بَلَدِهٖ صَابِرًا يَعْلَمُ اَنَّهٗ لَنْ يُّصِيْبَهٗ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ اِلَّا كَانَ لَهٗ مِثْلُ اَجْرِ الشَّهِيْدِ] [بخاری : ۵۷۳۴، ۶۶۱۹]

(۲) – بعض وائي : د رجز نه مراد غضب د الله تعالىٰ دے چه د بَره نه پرے نازل شو۔ (ابو العالیۃؒ)

(مِنَ السَّمَاءِ) معنىٰ ده : (مُقَدَّرًا مِنَ السَّمَاءِ) د آسمان نه مقرر وو۔ ځکه الله تعالىٰ بره دے۔

(بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ) کله چه دوئ نافرمانی او فسق شروع کړو نو الله تعالىٰ پرے عذابونه راولیږل۔ او ددے نه معلومیږي چه دوي کښې ددے مذکوره گناهونو نه علاوه نور گناهونه هم وو۔ بیا فسق ئے د ظلم نه روستو ذکر کړو۔ وجه دا ده چه ظلم کله گناهِ صغیره ته وئیلے شي او فسق خاص دے د گناه کبیره پورے نو معلومه شوه چه د دوی ظلم په درجه د گناه کبیره کښې وو۔ غټ مجرمان وو۔

فائده-- د الفاظ شرعیه ؤ بدلول حرام دي:

دلته مفسرینو (جصاصؒ، تفسیر کبیر د رازیؒ، بدائع التفسیر د ابن القیمؒ) لیکلي دي چه دا آیت دلیل دے چه اذکار شرعیه او الفاظ نبوی بدلول د الله تعالىٰ د عذاب سبب دے۔

[فَالطَّاعُوْنَ بِالرَّصَدِ لِمَنْ بَدَّلَ قَوْلًا اَوْ فِعْلًا الَّذِیْ اُمِرَ بِہٖ]

(طاعون د هغه چا په انتظار کښې دے چه قول او فعل کښې تبدیلی کوی کوم باندے چه دۀ ته حکم شوے وی) او هغه په طور د عبادت وی۔

قرطبیؒ وئیلی دی : چه په دین کښې زیادت کول او په شریعت کښې ابتداع (بدعت پیدا کول) ډیر لوئی خطر او سخت ضرر دے۔ ځکه چه تغیر په یوه کلمه د توبه کښې سبب د عذاب دے نو ستا څه گمان دے په بدلولو د صفاتو د الله تعالیٰ۔ او علامه جصاص، امام رازی او ابوحفص الدمشقیؒ په اللباب کښې پدے مقام کښې د اذکار او اقوال شرعیه د بدلولو تفصیل ذکر کړیدے۔ او وئیلی ئے دی چه شریعت کښې کوم اذکار راغلی دی نو د هغے تبدیل ناجائز دے نو د قرآن کریم قراء ت په فارسئ کښې یا تکبیر تحریمه او تعوذ او تسمیه په فارسی یا بله ژبه سره اُووائی۔

یا د الله اکبر او اعوذ بالله او بسم الله په ځائے نور کلمات ادا کړی۔

ددے وجه نه حدیث د صحیحین وغیره کښې راغلی دی چه براء بن عازب ﷺ ته رسول الله ﷺ په دعاء د خوب کښې (وَبِنَبِیِّكَ الَّذِیْ اَرْسَلْتَ) اُوخودلو نو هغه چه نبی علیه السلام دوباره تیره ولو نو (وَبِرَسُوْلِكَ الَّذِیْ اَرْسَلْتَ) ئے اُووئیلو، نو نبی ﷺ هغه رد کړو او دائے ورته ووئیل چه (وَبِنَبِیِّكَ الَّذِیْ اَرْسَلْتَ) وایه۔ (بخاری : ۲۴۷)

اگرکه په (وَرَسُوْلِكَ) کښې ډیره مدحه ده په نسبت د نَبِیِّكَ سره۔ نو دا دلیل دے چه پیغمبری الفاظ په نورو الفاظو بدلول -اگرکه هغه ستا په ذهن کښې راجح ښکاری- صحیح نۀ دی۔

دارنګه پدے کښې داخل دی هغه څوك چه د شرعی درود الفاظ بدلوی په نورو الفاظو سره لکه درود تاج او درود لکهی او په جنازو کښې غلط درودونه وئیل وغیره یا په دعا د اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ کښې د ځان نه نور کلمات زیاتول لکه (حَیِّنَا رَبَّنَا بِالسَّلَامِ وَاَدْخِلْنَا دَارَكَ دَارَ السَّلَامِ)، دارنګه مسنون اذکار پریخودل او د ځان نه اذکار جوړول او په هغے باندے عبادت کول۔ دارنګه الله تعالیٰ ته د خدائے نوم وئیل، د اذان په دعاء کښې (وَالدَّرَجَةَ الرَّفِیْعَةَ وَارْزُقْنَا شَفَاعَتَهٗ) زیاتول، دارنګه په اذان کښې حی علی خیر العمل زیاتول، نیتونه د ځان نه جوړول (نَوَیْتُ اَنْ اُؤَدِّیَ لِلّٰهِ تَعَالیٰ اَرْبَعَ تَکْبِیْرَاتِ صَلَاةِ الْجَنَازَةِ) دارنګه سورة الضحیٰ کښې تکبیرونه وئیل وغیره۔ یا د سورة یس په هر مُبِیْن کښې اذان

وئیل۔ دا تول منع او ناکاره بدعات دی، دا آیت او دا حدیث پرے دلیل دے۔

وَإِذِ اسْتَسْقَىٰ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِبْ
او کله چه اُوبهٔ طلب کړے موسیٰ (علیه السلام) دپاره د خپل قوم نو اُووئیل مونږ اُووهه
بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ. فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا. قَدْ
په امسا خپلے سره (دغه) کاڼړے نو روانے شوے د هغے نه دولس چینے، په تحقیق سره
عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ. كُلُوْا
معلومه وه هرے یوے ډلے ته ځائے د سکلو (گودر) خپل، (مونږ اُووئیل) خورئ
وَاشْرَبُوْا مِنْ رِّزْقِ اللهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٦٠﴾
او سکئ د رزق د الله نه، او مهٔ گرځئ په زمکه کښ فساد کونکی۔

تفسیر : کله چه دوی په میدان تیه کښ پراته وو نو د دوی اُوبو ته ضرورت وو او د دریاب اُوبه خو ښکیل کیږی نهٔ او دا قوم تګی وو، نو دوی موسیٰ علیه السلام ته شکایت اُوکړو، هغه د الله تعالیٰ نه دعاء اُوکړه چه اے الله ! زما قوم تګے دے، دوی باندے باران اُولیږه۔ نو الله تعالیٰ ورته اُوفرمایل : دغه امسا باندے کاڼړے اُووهه، اُوبه به راوځی، موسیٰ علیه السلام دغه شان اُوکړل نو د بنی اسرائیلو د دولسو قبیلو دپاره دولس چینے راپیدا شوے چه هرے قبیلے ته خپله خپله چینه متعین شوه۔ او په دے طریقه ئے ژوند تیرولو چه اختلافات ئے رانهٔ شی۔ ځکه بنی اسرائیل جګړه مار قوم وو۔ نو پدے آیت کښے دا بل نعمت ذکر دے۔

اِسْتَسْقٰی : د اِسْتِسْقَاء معنیٰ ده د اُوبو او د باران طلب کول۔ دلته جار مجرور پټ دے (مِنْ رَّبِّهٖ) یعنی د خپل رب نه ئے باران طلب کړو۔

فوائد : (۱) دا آیت دلیل دے چه معجزات د الله تعالیٰ د طرف نه دی، د موسیٰ علیه السلام

په علم او قدرت کښې دا نۀ وه چه د کانړی نه اُوبۀ راوباسی۔

(۲) انبیاء علیهم السلام هم د الله تعالیٰ محتاج بندګان دی د هغوی په لاس کښې څه قدرت نشته چه بارانونه اُوکړی او خپل قوم خړوبه کړی۔

(۳) استسقاء کول او پدے کښې مونځ کول یا صرف په دعاء باندے اکتفاء کول سنت طریقه ده، او دا د نبی ﷺ طریقه وه چه د الله تعالیٰ نه به ئے باران غوختلو څکه باران ته د امت ډیر ضرورت وی، او نبی ﷺ به چه کله استسقاء کوله نو مانځه دپاره به بهر میدان ته وتلو [مُتَبَذِّلًا خَاشِعًا خَاضِعًا] په زړو جامو کښې او په عاجزئ سره، دے وخت کښې د زړونو د سختوالی د وجه نه څوك د الله تعالیٰ نه سوال نکوی بلکه د موسمیاتو ماهرینو او ریډیو او ټی وی نه معلومات حاصلوی، او ددے نه مارۀ دی چه د الله تعالیٰ نه د باران سوال اُوکړی او شرعی استسقاء ته حاضری اُوکړی۔

کله کله نبی ﷺ د جُمعے په ورځ په خطبه کښې د باران دپاره دعاء کړیده۔ او کله به په عام حالت کښې منبر ته اُوختلو او دعاء به ئے په شریکه اُوکړه۔ او د باران په غوختو کښې د عربو د جاهلیت والو طریقه دا وه چه غوا به ئے راونیوله او د هغے د لکئ پورے به ئے توتے غوټه کړے او بیا به ئے اُور وراچولو او هغے ته به ئے بَیُقُوْرًا مُسَلَّعَة وئیله۔

لکه د هغوی یو طائی شاعر هم دا معنیٰ ادا کړیده :

اَجَاعِلٌ اَنْتَ بَيْقُوْرًا مُسَلَّعَةً ❀	ذَرِيْعَةً لَكَ بَيْنَ اللّٰهِ وَالْمَطَرِ

(آیا تۀ دغه قسم غوا د الله تعالیٰ او د باران ترمینځ ذریعه جوړه وے)

نو غوا به منډے وهلے نو دوی به وئیل : اُوس به باران کیږی۔ دا یو غلط رواج وو، حیوان له به ئے ضرر ورکولو، بعضو به د ستورو په پریوتو او راختو کښې باران ګنړلو۔ کله به ئے وئیل مِجدح ستورے چه پریوزی نو باران کیږی۔ او دا رواجونه زمونږ پدے امت کښې هم موجود دی چه کله چمچمیر غواړی۔ او په خلقو باندے اُوبه اچوی او بعضے قبرونو باندے اُوبه اچوی او پدے کښې باران ګنړی دا ټول بدعات او ناروا کارونه دی۔

بِعَصَاكَ. الله تعالیٰ داسے عظیم قدیر ذات دے چه د موسی علیه السلام دغه یوے امسا نه ئے مختلف کارونه اخستل، دریاب ئے پرے اُوچ کړو او لارے پکښې جوړے شوے او دلته ئے

اُوچ کانړے اُووهلونو اُوبه ئے ترے اُوويستلے، او د فرعون مخے ته به ئے گوزار کړه نو اژدها به ترے جوړه شوه هغه ذات قادر علی الاضداد دے۔

او امسا گرځول زمونږ د نبي ﷺ طريقه هم وه ځکه پدے کښ ډيرے فائدے دی چه هغه قرطبیؒ په تفسير د سورة طه کښ ذکر کړيدی۔ چه دا ستره جوړيدے شی، د کوهے نه پرے اُوبه راويستے شی، مار لړم او دشمن وغيره مدافعت پرے کيږی او په مزل کښ د انسان مدد پرے کيږی، او د بچو او اهل د يرولو اُو تربيت کولو ذريعه ده۔ نو دلته وقف دے۔ موسیٰ علیہ السلام هغه کانړے په اَمسا سره اُووهلو نو دولس چينے روانے شوے۔

اَلْحَجَرَ : پدے کښ ابوحيان په البحر المحيط کښ څوارلس اقوال ذکر کړيدی چه دا کومه گټه وه؟ (۱) ظاهر دا ده چه قرآن کريم ددے تعيين نۀ دے کړے نو بس هره گټه چه وی په معلومولو کښ ئے څه فائده هم نۀ ښکاریٰ۔

(۲) بعض وائی : دا هغه گټه وه چه موسیٰ علیہ السلام نه ئے جامے تختولے وے۔ او تفسير ماجدی کښ د انگريزانو سياحانو تصديقات نقل کړيدی چه په هغوی کښ بعضو ليکلی دی چه دغه گټه اُوس هم شته دے چه تقريباً پنځلس فټه دنګه ده او مخے طرف ته لږه مائله ده او د (ليجا) په وسيع وادی کښے د راسِ سفسفه خواته موجوده ده۔
(احسن الكلام)

(۳) د تورات په سفر الخروج کښ راغلی دی چه دا هغه گټه ده چه الله تعالیٰ د موسیٰ علیہ السلام سره ددے نه خبرے کړے وے او دا په جبل حوريب کښ موجوده ده۔ (التنوير)

فانفجرت : سورة الاعراف (۱۶۰) کښ فَانْبَجَسَتْ راغلے دے۔ انفجار ډيرے اُوبۀ او انبجاس لږے اُوبۀ روانيدو ته وائی۔ (طبرسیؒ) او راغبؒ وئيلی دی چه انبجاس اکثر په هغه ځائے کښے استعماليږی چه د تنگ شی نه اُوبه روانے شی او انفجار د تنگ او فراخه دواړو دپاره استعماليږی۔ نو اول کښ لږے اُوبه روانے شوے او بيا ډيرے شوے۔ دلته تعداد النعم دے نو ځکه ورته ډيرے اُوبه يادوی۔ مگر بعض علماء دواړه په يوه معنیٰ گرځوی او صاحب المنار ددے دپاره د عربو اشعار په خپل تفسير کښے جمع کړيدی، لکه سورة الاعراف کښے به ئے تشريح راشی۔

[لَهُ قَائِدٌ دُهْمُ الرَّبَابِ خَلْفَهُ رَوَايَا يُبَجِّسْنَ الْغَمَامَ الْكَنَهْوَرَا] آه۔

او متنبی وئيلی دی : [بُهِتَتْ فَلَمْ تَتَبَجَّسِ الْاَنْوَاءُ]

قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَشْرَبَهُمْ :

نکته : دے نه دا فائده حاصلیږی چه هرکله په یوه کورنئ کښې اختلافات ډیر شی نو د هغے د حل طریقه یوه دا ده چه ټول خلق متقیان شی، که ډیر خلق په یو ځائے اُوسیږی نو د هغوی ژوند تیریږی ځکه چه د یو بل حق به پیژنی او یو بل ته به درګذر او معافی کوی او احسانات به کوی نو اختلافات به ختم شی، او که نهٔ وی نو بیا دِے بیل بیل شی نو په بیلتون سره هم اختلافات ختمیږی۔

كُلُوا وَاشْرَبُوا مِنْ رِزْقِ اللهِ : مړزان او ترنجبین او دا مزیدارے اُوبه څکئ او مزے کوئ۔ او په ځان ئے مه حراموئ او دارنګه صبا دپاره ئے مه ذخیره کوئ۔

مِنْ رِزْقِ اللهِ : ټول رزقونه د الله تعالیٰ د طرفنه دی لیکن دلته ئے الله تعالیٰ نسبت ځکه اُوکړو چه دا بغیر د اسبابونه دوی ته ملاویدل، کرل ریبل، کو هیان ویستل وغیره پکښې نهٔ وو۔

وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِيْنَ : تَعْثَوْا (عَثَا يَعْثُوْ عَيْثًا) خپله معنیٰ د فساد کولو ده، امام بخاری وائی : اَشَدُّ الْفَسَاد ته وائی۔ یعنی سخت فساد۔ لکه حدیث د دجال کښې راځی (فعَاثَ يَمِيْنًا وَعَاثَ شِمَالًا) [الحاکم : ۸٦١٤]۔ (یعنی دجال به په زمکه کښې ښی او ګس طرفته د فساد دپاره ګرځی) لیکن مُفْسِدِيْن (حال) ئے د تاکید دپاره ذکر کړو۔ یعنی فساد مه کوئ په زمکه کښې فساد کونکی۔ بیا پکښې تجرید کیږی نو د تَعْثَوْا نه د فساد معنیٰ جدا کړے شی او صرف معنیٰ د ګرزیدو پاتے شی۔

فائده عجیبه : د فساد نه ئے خصوصی ولے منع کړل ؟ ځکه چه سړے ځوان وی، خوراك سکاك کوی، برابر وی او اُوزګار هم وی نو بیا ترے غټ مفسد جوړیږی، ددے وجه نه الله تعالیٰ عام بندګان په کارونو مشغول کړیدی، که نه وی، الله تعالیٰ کولے شو چه دے ټولو ته ئے تیاره ورکولے، ترکاری به هم بهیدلے او ډوډئ به هم پخیدلے لکه څرنګ چه اُوبه بهیږی خو بیا به دنیا د فساد نه ډکه شوی وے، دا خو الله تعالیٰ انسانان په کارونو مشغول کړی دی۔ د عالَم نه د فساد د ختمولو دپاره۔ او امتحان هم پکښې غرض دے چه دوی ددے کارونو سره د الله تعالیٰ بندګی کوی او که نه ؟ یو شاعر (ابو العتاهیه) وائی : ؎

اِنَّ الشَّبَابَ وَالْفَرَاغَ وَالْجِدَةَ	❁	مُفْسِدَةٌ لِلْمَرْءِ اَیَّ مَفْسَدَةَ

(شباب (ځوانی)، فارغوالے، او مالداری سړی له پوره خرابونکی دی)

مګر که الله تعالیٰ په انسان باندے رحم اُوکړی۔ بل دے کښې د یهودو بد مزاج ته اشاره ده چه دوی کښې فساد دے، بل په فساد سره الله تعالیٰ ناراض کیږی ځکه د اول د سورت نه لفظ د فساد شروع شویدے تَقْبِيْحًا لَهٗ۔ (ددے د قباحت دپاره)

وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ

او کله چه وویل تاسو اے موسیٰ! هیچرے مونږ صبر نۀ کوو په یو قسم طعام باندے،

فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا

پس دُعا اُوغواړه زمونږ دپاره د رب خپل نه چه راوُباسی مونږ دپاره د هغهِ څه نه

تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ مِنْۢ بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا

چه زرغونوی ئے زمکه، د هغے د ترکاریانو (سبزیانو) نه او بادرنګ او (ترئ) د هغے نه

وَفُوْمِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا ؕ قَالَ

او د اُوګے د هغے نه او د دالو د هغے نه او د پیازو د هغے نه۔ اُووئیل موسیٰ علیه السلام:

اَتَسْتَبْدِلُوْنَ الَّذِيْ هُوَ اَدْنٰى بِالَّذِيْ

آیا په بدل کښې اخلئ تاسو هغه شے چه هغه معمولی دے په مقابله د هغه شی کښې

هُوَ خَيْرٌ ؕ اِهْبِطُوْا مِصْرًا فَاِنَّ لَكُمْ

چه هغه ډیر غوره دے، (نو) کوز شئ یو ښار ته، پس یقیناً ستاسو دپاره (په دے ښار کښې)

مَّا سَأَلْتُمْ ۗ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ
هغه شے دے چه غواړئ تاسو او اُووهلے شو په دوی باندے ذلت (رسوائی) او خواری
وَبَآءُوْا بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ۗ ذٰلِكَ
(غریبی)، او اَخته شو په غضب د الله، دا (غضب، ذلت او مسکنت)
بِأَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُوْنَ
په سبب ددے دے چه یقیناً وو دوی چه کفر به ئے کولو په آیتونو د الله او وژل به ئے
النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۗ ذٰلِكَ بِمَا
پیغمبران په ناحقه (بغیر د جرم شرعی نه) دا (کفر) په دے وجه وو
عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿٦١﴾
چه دوئ نافرمانی کوله او وو دوئ د حد نه تیروتونکی۔ (زیاتے کونکی)۔

تفسیر : په دے آیت کښې الله تعالیٰ دویم عذاب ذکر کوی په بنی اسرائیلو چه هغه ذلت او مسکنت او غضب دے چه سبب ددے ناشکری وه یعنی دا دومره ناشکره قوم دے چه د الله تعالیٰ د نعمتونو په مقابله کښې خپل خواهشات رامخکښې کوی۔ نو الله تعالیٰ پرے ذلت راوستو او په دوی کښې نور خباثتونه هم وو چه هغه کفر او قتل د انبیاؤ او عصیان او اعتداء چه ددے جرمونو په نتیجه کښے په دوی باندے همیشه دپاره غضب او ذلت مسلط شو نو بس دوی چه په دنیا کښے په هر ځائے کښې اُوسیدلی دی نو قومونو دوی لره ذلیله کړیدی، او دوی به خپله همیشه ذلیله وی، که د دوی سره دولت او حکومت هم راشی نو په دوی باندے به د ذلت او مسکنت څادر غوړیدلے وی۔

واقعه داسے وه چه کله چه دوی میدان تیه کښې پراته وو، او د الله تعالیٰ د طرفنه ورته

تیاره میلاویده نو دوی ناشکری شروع کړه او دا ئے اُووئیل چه یو قسم طعام دے۔ (ترنجبین او مرزان) نور څه پکښ نهٔ راځی نو ځان ئے نازولے کړے وو، ته به وائے چه ډیرے غتے مجاهدے او کارنامے ئے کړیدی نو د موسیٰ علیه السلام نه ئے درخواستونه شروع کړل چه مونږ ته سبزی، دال مسور، پیاز اُوګه پکار ده، موسیٰ علیه السلام اُورټل او منع ئے کړل چه تاسو څنګه خلق یئ چه لذیذ او پاکیزه خوراکونه پریدئ چه تیار راځی او د دغه څیزونو مطالبه کوئ، خو دوی نهٔ منع کیدل۔ نو موسی علیه السلام ورته اُوفرمایل چه دا څیزونه خو په ښارونو کښ ملاویږی۔ ځانله کارونه کوئ او دا څیزونه پیدا کوئ نو الله تعالیٰ دوی په ذلت او مسکنت اخته کړل او مرزان او ترنجبین ئے پرے بند کړل بیا دلته د مفسدینو حال بیانیږی ورنه په دوی کښ نیکان خلق هم وو، د موسیٰ علیه السلام ټول ملګری خراب نهٔ وو خو الله تعالیٰ دے موجوده بنی اسرائیلو ته فرمائی چه ستاسو مشران داسے بد اخلاقه او خیټه ور خلق وو۔ د خیټو دپاره هغوی د موسی علیه السلام خبره نهٔ منله نو پدے کښ اشاره ده چه موجوده اهل کتاب د خیټو دپاره د آخرنی نبی (محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم) خلاف کوی، که انسان دنیا شاته ګوزار کړی نو په مخالفت کښ به نهٔ واقع کیږی۔

فائده: (١) بیا ددے څیزونو خوراك ناروا نهٔ دے لیکن دوی دا په طریقه د ناشکرئ سره غوختل چه الله تعالیٰ ورله یو نعمت ورکولو او دوی اُووئیل دا مونږ نشو خوړلے، (لَنۡ نَصۡبِرَ) لفظ ئے خطاء وو۔ که دوی داسے وئیلی وے چه اے د الله رسوله ! یا ئے وئیلی وے چه اے موسی علیه السلام ! مونږ یو درخواست کوو، که تهٔ زمونږ نه نهٔ ناراضه کیږی او الله تعالیٰ مونږ نه نهٔ ناراضه کیږی نو دا دِے الله تعالیٰ بدل کړی او خپله ئے هم د الله تعالیٰ نه غوختلی وے نو کیدے شی چه الله تعالیٰ ورله بدل کړی هم وے۔ خو دوی ځانونه په الله تعالیٰ نازولی کول او جرأت ئے په الله تعالیٰ کولو۔ چه مونږ پدے خوراکونو صبر نشو کولے، مونږ له دِے نور طعامونه راشی !۔

(٢) دویم دا چه پدے مطالبه کښ دا نقصان وو چه دا د الله تعالیٰ د رسول په مقابله کښ وه، موسیٰ علیه السلام دوی ته اُووئیل : چه دا طعامونه مهٔ غواړئ نو دوی خپله رائے د هغه په رائے مقدمه کړه او د هغه خبره ئے ګوزار کړه۔ نو ځکه الله تعالیٰ ورله سزا ورکړه۔او دا مرض زمونږ پدے امت کښ څومره زیات دے چه خپله رائے او د خپل یو لیډر، مشر او امام خبره او رایه د الله تعالیٰ د رسول په خبره مخکښ کوی۔ والله المستعان۔

دارنګه ددے سزا سبب یواځے دا مطالبه نۀ وه بلکه دوی کښې نور مرضونه هم پیدا شوی وو چه انبیاء وژل، اعتداء او عصیان کول۔

طعام واحد : دلته **سوال** دے چه طعامونه خو دوه وو۔ نو څنګه طعام واحد وائی ؟

جواب : (۱) دلته یو نوع طعام مراد دے۔ یعنی هر وخت کښې دا یوه نوع طعام راځی۔ (بحر العلوم)

(۲) یا دا چه یو په منزله د اُوبو وو او دا بل په منزله د ترکارئ وو۔ (کَانُوا یَعْجِنُونَ أَحَدَهُمَا بِالآخَرِ) (عبد الرحمن بن زید بن اسلم) او دواړه به ئے یو ځائے کول۔ نو یو طعام به ترے جوړ شونو دے مجموعے ته ئے یو وئیلے دے۔ (طبریؒ، بغویؒ)

(۳) یا دا چه وحدت نه مراد دا دے چه تبدیلی پکښې نۀ راځی۔ (اللباب).

د دعاء مطالبه د بل چا نه څه حیثیت لری ؟

فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ :دیته د ژوندی په دعاء سره وسیله نیول وائی۔ او د یو نیك عمله سړی دعا وسیله کول جائز دی چه هغه ژوندے وی او تا له دعا غواړی، لکه نبی ﷺ ته عمر فاروق ﷛ راغلو چه زه عمرے له ځم نو نبی ﷺ ورته اُوفرمایل :

[أَشْرِكْنَا یَا أُخَیَّ فِیْ دُعَائِكَ] [ابوداود: ۱۵۰۰ ترمذی : ۳۵٦۲]

(مونږه هم دعاګانو کښې شریك کړه) نو نبی ﷺ د عمر ﷛ نه مطالبه د دعاء کوی، لیکن بل طرفته د ابوذر غفاری ﷛ نه نقل دی چه د خلقو نه ډیرے دعاګانے مۀ طلب کوه بلکه ته نیك عمله شه نو د مؤمنانو په دعاګانو کښې به ستا برخه وی کوم چه په تشهد کښې کیږی۔

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی : په هر وخت کښې د هر چا نه د دعا مطالبه بدعت دے لکه پدے وخت کښې دا زمونږ عادت جوړ شویدے چه خلك هر نیك او بد ته وائی دعا کوه۔ دا طریقه د صحابه کرامو نۀ وه بلکه په یو وخت کښې به ئے چرته د یو نیك عمله سړی نه د دعاء مطالبه اُوکړه۔ (مجموع الفتاوی)

تُنْبِتُ الأَرْضُ : زمکه سبب د انبات (رازرغونولو) دے نو ځکه ئے هغې ته نسبت کړیدے او کله فاعل حقیقی ته نسبت کیږی، نبی ﷺ فرمائی :

[إِنَّ مِمَّا یُنْبِتُ الرَّبِیعُ الْبَقْلَ مَا یَقْتُلُ حَبَطًا] [بخاری : ۲۸٤۲، مسلم : ۲٤٦۸]

نو سپرلی ته ئے نسبت د زرغونولو کړیدے نو کله کله سبب ته هم نسبت جائز دے۔

یعنی د الله تعالیٰ په امر داسے کوی۔
بَقْلِهَا : تـرکاریانو او سبزی جاتو ته وئیلے شی دائے ځکه غوختل چه دوی په مصر کښ پدے باندے اموخته وو۔
قِثَّاء : (۱) بادرنګ (۲) ترئ۔
فُومِهَا : (۱) اَلثُّوْمُ : (یعنی اُوږه) (مجاهدؒ) (۲) بعض وائی : فوم غنمو ته وائی۔
(۳) تـولے دانے د غلے۔ اول قول غوره دے۔ ځکه بل قراءت کښ وَثُوْمِهَا راغلے دے او ثوم اُوږے ته وئیلے شی۔
عَدَسِهَا : مسور دالو ته وئیلے شی۔ بصل : پیاز۔
ددے تـولـو د غـوختلو وجے دا دی : چه قثاء : بارد رطب دی او ثوم (اُوګه) حار یابس ده او عـدس بـارد یـابس (نفاخ) دی، (باد پیدا کوی)۔ او بصل حار رطب دی او چه پاخه شی نو بیا بارد رطب شی۔ (بحر المحیط، روح المعانی)
او دا څیـزونـه د یـو بل سره یو ځائے پخولے هم شی۔ او بیا پکښ د یو صفت غلبه په بل راشی نو د عام انسانانو د تولو مختلفو طبائعو سره برابر شی۔
(بِـالَّذِیْ هُوَ خَیْرٌ) غـوښـه پـه دنیـا کـښ ډیر غوره شے دے خاصکر د مارغانو غوښه او بیا خـاصکـر هغه غوښه چه د الله د طرف نه راځی نو هغه د برکت نه هم ډکه وی، الله تعالیٰ مـنـتـخـبـه کـړی وی او دغـه شیـان صحت له دومره طاقت نهٔ ورکوی معمولی شیان دی، انسان چه غوښه څلویښت ورځو کښ اُونه خوری نو عقل کښ ئے کمے راځی۔
دارنـګـه من او سلویٰ بے تکلفه ملاویدل او ددے څیزونو په پیدا کولو کښ تکلیف هم دے، نـو هـغـوی نـهٔ حـصـاریـدل چـه مونږ مخامخا دا غواړو۔ دا څیزونه د بنی اسرائیلو دپاره هـم حـلال وو او زمونږ ددے امت دپاره هم حلال دی په راجح قول د علماؤ کښ خو صرف د مانځه په وخت او د مسجد یا ګنړے ته د تللو په وخت به ئے نهٔ استعمالوی، ددے نه نبی ﷺ منع فرمائیلے ده چه څوك پیاز اُوګه استعمال کړی نو بیا ډِے زمونږ مسجد ته نهٔ راځی۔ بعض خلق ئے په مسجد کښ خوری نو دده به څه حال وی ؟۔
اَتَسْتَبْدِلُوْنَ : همزه دپاره د استفهام توبیخی ده۔ پدے کښ سخته زورنه ده چه ستاسو دا مطالبه غلطه ده۔ په باب د استبدال کښ قاعده دا ده چه ددے مفعول مطلوب وی (اَلَّذِیْ هُوَ اَدْنٰی) او مـدخول د باء ئے متروك وی (بِـالَّذِیْ هُوَ خَیْرٌ) مـعـنـیٰ دا ده چه تاسو ادنیٰ شے

اخلئ او غوره شے پریدئ۔(البحر المحيط)

بِالَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ : من او سلوئ کښې خير زيات دے د دوی د مطلوبه خوراکونو نه او ددے خيريت شپږ وجے امام قرطبیؒ او ابوحيانؒ ذکر کړيدی (۱) د يو شی غوره والے په قيمت راځی نو د مَنْ او سلوئ قيمت ډير زيات دے په نسبت د دغه پنځو ځيزونو۔ (۲) په مَن او سلوئ سره الله تعالیٰ په دوی احسان کړے او ورته ئے د هغے په خوراك امر کړے وو نو معلومه شوه چه د هغے په خوړلو کښې شکر د الله تعالیٰ دے۔ او دغه پنځه ځيزونه داسے نهٔ دی۔ (۳) مَنْ او سلوئ په لذت او خوند او مزيدار والی کښې ضرور افضل دی د دغه ځيزونو نه۔ (٤) من او سلوئ بے تکليفه او بغير د مشقت نه ملاويدل او دغه ځيزونه په زميندارئ او مشقتونو سره ملاويږی۔ د خيتے دپاره به انسان د الله تعالیٰ د بندگئ نه پرے اُوځی۔ (٥) د مَنْ او سلوئ په حلالوالی کښې هيڅ شك او شبهه نهٔ وه ددے وجه نه هغے ته ئے طيبات وئيلی وو او ددے ځيزونو په حاصلولو کښې د زميندارئ سامان او بيع او شراء لره دخل وی او په هغے کښې ډير شبهات راتلے شی۔

(٦) په مَنْ او سلوئ کښې غذائيت او طبی فوائد دومره دی چه هغه په دغه ځيزونو کښې نشته، ځکه سلوئ غوښه ده او خاصکر د مرز په غوښه کښې ډير طاقت، غذائيت او فوائد وی۔ او غوښه په دنيا او آخرت کښے سَيِّدُ الْإِدَامِ (د ترکاريانو سرداره) ده۔

(۷) دارنګه من او سلوئ الله تعالیٰ منتخب کړی وو۔ او دغه خوراکونه د دوی انتخاب وو۔ او د الله تعالیٰ انتخاب ضرور د بنده په حق کښې غوره وی د بنده د انتخاب نه۔

فائده : ډير خوارکونه تيارول او د هغے استعمالول د انسان دپاره الله تعالیٰ جائز کړيدی خو په شرطونو باندے (۱) چه اسراف به پکښې نهٔ وی، (۲) وخت به پرے ډير نهٔ مصرف کوی، چه صرف خيټه ئے نصب العين گرځولی وی، (۳) او د الله تعالیٰ د ذکر او عبادت نه به پرے ځان نه ورانوی، (٤) او د فخر او کبر سبب به ئے نهٔ جوړيږی که دا شرطونه پکښې نهٔ وو نو بيا دداسے ډيرو خوراکونو نه ځان ساتل پکار دی۔او که بغير د تکلف نه ملاويدل نو د هغے استعمال بالکل جائز دے۔ هيڅ حرج پکښې نشته۔

امام شافعی رحمه الله فرمائی : (طَلَبُ فُضُوْلِ الدُّنْيَا عُقُوْبَةٌ عَاقَبَ اللّٰهُ بِهَا أَهْلَ التَّوْحِيْدِ)

(د دنيا زياتی خواهشات طلب کول سزا ده چه الله تعالیٰ دا سزا موحدينو ته ورکوی) د دوی د بعض گناهونو د وجه نه۔ اشاره ده چه توحيد والو دپاره خو د الله تعالیٰ په بندگئ

کښې وخت تیرول او د دنیا نه ګوزاره حال ژوند تیرول پکار دی.
اِهْبِطُوْا : دلته وقف دے، معنیٰ دا ده چه دوی نۀ حصاریدل او خپله مطالبه ئے کلکه نیولے وه، چه که ادنیٰ وی هم مونږ ئے غواړو. نو الله تعالیٰ ورته اُوفرمایل : اِهْبِطُوْا.
بیا موسیٰ ﷺ هم دوی دپاره دا دعاء طلب نکړه ځکه چه هغه ته معلومه وه چه دا هسے خواهش پرست او مزه خولی دی، د الله تعالیٰ په منتخب کړو خوراکونو کښې سرکشی کوی.
مِصْرًا : ۱- بعض مفسرین وائی : دا مشهور مصر د فرعون دے. یعنی کوم د ذلت ځائے نه چه تاسو راوتلی یئ نو هلته بیرته واپس لاړ شئ، ستاسو هم دغه ذلت خوښ دے، ځئ لاړ شئ خپل مالوف د ذلت نه ډك او خکته درجے غلامانه زندګی دوباره اختیار کړئ، هلته به درته دا څیزونه فراخه ملاویږی او هغه اُوچت نصب العین پریدئ کوم دپاره چه تاسو منتخب شوی یئ. که دا مقصد شی نو بیا به دا د موسی ﷺ د طرف نه یو قسم تادیب او توبیخ وی او هغوی ته به شرم ورکول مقصد وی. چه تاسو خپله غلامانه زندګی رایاده کړئ او د الله تعالیٰ شکر اُوکړئ چه د ذلت نه ئے راخلاص کړئ او تیاره خورئ. او دا سید قطبؒ غوره کړیدے. [فی ظلال القرآن ١/ ٦٤]
وجه دا ذکر کوی چه مسکنت او ذلت او غضب راتلل په دوی باندے په دے مرحله کښې نۀ وو بلکه دا د موسی ﷺ د زمانے نه څو نسلونه روستو اُوشو کله چه دوی انبیاء قتل کړل او اعتداء او عصیاناتو کښې واقع شو. او په دے کښې دا راز هم وو چه تاسو خو دار الهجرة کښې یئ او څوك چه د دار الهجرة نه بیرته بغیر د څه عذر نه واپس کیږی نو هغه ذلیله کیږی او ثواب د هجرت ئے هم باطلیږی.
(۲) اکثر مفسرین وائی : [مِصْرًا مِنَ الْأَمْصَارِ] (یعنی تاسو چه څه طلب کوئ نو دا خو بالکل معمولی شے دے، ددے دپاره دومره غټ درخواست او دعاء کولو ته ضرورت نشته بلکه یو ښار د ښاریو ته ورشئ هلته دا څیزونه په کافی مقدار ملاویدے شی او همدا راجح ده ځکه مصراً نکره ده او که هغه معروف مصر وے نو بیا خو غیر منصرف پکار وو.
وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ : یعنی قَدَرًا او شَرْعًا پرے ذلت او مسکنت راغلو. یعنی ذلیل هم شو او خواری هم ورباندے راغله، خواهشاتو کښے الله تعالیٰ دا مرض اچولے دے

چه انسان ورسره ذليل او رذيل او خوار كيږي. او دوى كښې اُوس هم دغه رذالت او ذلت موجود دے. دا خوئے د دنيا حال شو.

ضُرِبَتْ : د ضرب په صله كښې چه عَلىٰ راشي نو په معنىٰ د الصاق او الزام او احاطے سره وى نو معنى دا ده چه ذلت پرے داسے احاطه اُوكړه لكه څنګه چه خيمه د كسانو نه تاوه وى، نو دا كنايه ده د احاطے او شمول او عموم نه او د لزوم معنىٰ ده يعنى دوى پورے ذلت او مسكنة انختلو او ګيره ئے ترے واچوله د هر طرف نه.

الذِّلَّةُ : (١) د بدن ذلت هم پرے راغلو او مسكنة د مال سره تعلق لرى يعنى بدنى او مالى ذلت باندے اخته شول. (٢) يا: ذلة، فقر القلب ته وائى يعنى زړه ئے هم ذليله او فقير او مسكنة : ظاهرى فقيرى، ظاهرى بدن ئے هم ذليله وى. (معالم التنزيل)

حسنؒ وائى : مسكنة جزيے ته وئيلے شي. لكه روستو زمانو كښې په دوى باندے د بادشاهانو د طرفه جزيے وهلے شوے وے. مفسر امام ضحاك بن مزاحم د عبد الله بن عباس ﷺ نه د ذلت او خوارئ دا مفهوم نقل كړيدے : (هُمْ اَهْلُ الْقِبَالَاتِ يَعْنِي الْجِزْيَةَ)

(دوى به تل دپاره خلقو ته قلنګونه وركوى په خپله به هيڅ طاقت او اقتدار نهٔ لرى)

او حسنؒ دا هم وئيلى دى : [اَذَلَّهُمُ اللّٰهُ فَلَا مَنَعَةَ لَهُمْ، وَجَعَلَهُمُ اللّٰهُ تَحْتَ اَقْدَامِ الْمُسْلِمِيْنَ]

الله تعالىٰ دوئ لره ذليله كړل نو د دوئ د حفاظت هيڅوك نشته او نهٔ ئے طاقت شته او الله تعالىٰ د مسلمانانو د خپو د لاندے كړل، او دے امت چه اُوموندل نو مجوسو د دوئ نه جزئے اخستے. (ابن كثير)

د يهودو د ذلت بيان

او دا د قرآن كريم اخبار بالغيب دے چه صادق شويدے، هر يهودى به ذليله او خوار وى، اګركه ظاهرى مالداره وى خو زړه به ئے ذليله او خوار وى او اسلامى دور حكومت كښې به يهوديانو باندے جزيے مقررے وے، نو يهوديان كه هر څومره مالدار وو، زړے زړے جامے به ئے اچولے او ځان به ئے خوار ښكاره كولو دے دپاره چه زياته جزيه ترے وانخستے شي. او دارنګه تاريخ شاهد دے چه څومره يهوديان تير شويدى نو پدے تولو باندے نورو خلقو حكومتونه كړيدى او دوى ئے پكښې ذليله كړيدى تردے چه مجوسو به د دوى نه جزيے او جبايات اخستل. دوى دومره غټ جرمونه كړى وو چه الله تعالىٰ هميشه دپاره په دنيا كښې ذليله كړل او دغه غلط خويونه د دوى افراخ او بچو ته هم رانقل

شویدی۔ نو دوی هم همغه شان ذلیله دی۔

مفسرین لیکی : [فَلَا تَرٰى فِيْ أَهْلِ الْمِلَلِ أَذَلَّ وَأَحْرَصَ عَلَى الْمَالِ مِنَ الْيَهُوْدِ]

[تفسیر البغوی : ۱/۱۰۱]

«په هیڅ دین والو کښې د یهودو نه زیات ذلیل او په مال باندې زیات حرص کونکې بل نشته» ۔ (هرځائے کښې چه یهودی ګورې نو ذلیله به وی او مسکنت به پرې راغلې وی)۔ بلکه روستو سورة الاعراف (۶۷) آیت کښې راځی، الله تعالیٰ دوی سره دا وعده کړې وه [وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ يَّسُوْمُهُمْ سُوْءَ الْعَذَابِ]۔

(چه قیامته پورې به په دوی باندې عذابونه رالیږی)، اُوس هم یهود په عذاب کښې ګرفتار دی اګرچه مسلمانانو باندې ظلمونه هم کوی او وژنی ئې هم لیکن بیا هم دوی په عذاب کښې ګرفتار دی، یوه جینئ ځان پورې بم اُوتړی او د دوی ډیر کسان پرې مردار کړی، په خوف کښې ژوند تیروی۔

امام ابن کثیر رحمه الله د یهودیانو د ذلت او خوارئ مفهوم داسې نقل کوی :

[لَا يَزَالُوْنَ مُسْتَذَلِّيْنَ مَنْ وَجَدَهُمْ إِسْتَذَلَّهُمْ وَضَرَبَ عَلَيْهِمُ الصَّغَارَ] (که دوی هر څومره مالداره شی همیشه به تولو قومونو کښې ذلیل او سپك ګڼړلې شی د چا چه پرې وَس بر شی دوی به ذلیله کوی او په دوی به د غلامئ تاپې لګوی) ۔ (ابن کثیر : ۱/۲۸۲)

سوال : اُوس خو یهودیان مشهور دی په مالدارئ او بادشاهی ورسره ده نو دلته څنګه وائی چه دا خوار دی ؟ **جواب**- ۱ : مونږ ته داسې ښکاره کیږی چه هغوی مالداره او دولت مند دی او پیسې ورسره دی او په نفس الامر کښې همدا دولت د دوی دپاره ذلت او مسکنت دې۔ اګرکه مونږ ته ئې ذلت نهٔ ښکاری او الله تعالیٰ د هغوی د ذلت او مسکنة خبر ورکړیدې نو اګرکه مونږ ته ظاهره کښې مالدار ښکاری خو دوی ذلیله دی۔

۲- **جواب** : مالداری سبب د عزت نهٔ دې۔ حدیث کښې دی : (لَيْسَ الْغِنٰى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ) (مالداری په ډیرو سامانونو (او دولتونو او حکومتونو) نهٔ ده) وَلٰكِنَّ الْغِنٰى غِنَى النَّفْسِ) [بخاری : ٦٤٤٦ مسلم : ٢٤٦٧]

(اصلی مالداری هغه ده چه زړه ئې غنی او مالداره وی)

او یهودو کښې په زړهٔ کښې غربت او فقر او فاقه او حرص لیکلې شویدې۔(وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ) نو د ذلت نه مراد حرص د دنیا دې۔

۳- **جواب** : تفسیر ماجدی کښې ئې لیکلی دی چه نن صبا زمانه کښې اګرکه یهودیان په ظاهر کښې په دنیا کښې په مالدارئ مشهور دی لیکن حقیقت کښې د هغوی مالداری صرف د خواصو یو څو کسانو ده او هر چه د هغوی عوام دی نو ډیر مفلسان دی ځکه چه د هغوی نظام د سرمایه دارئ دے چه په هغے نظام کښې عام خلق مفلس او ذلیل وی۔ او زه وایم چه اُوس هم یهود سره دبادشاهئ نه ذلیله دی وجه دا ده چه د نصاراؤ د لاس نه لاندے دی، د هغوی غلامان دی، هغوی چه څه ورته وائی هغه کوی، نو دا ئے ذلت دے۔

تفسیر معارف کښې داسے تحقیق کوی : په سورة آلعمران (۱۱۲) کښې الله تعالیٰ فرمائی : [ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ أَيْنَمَا ثُقِفُوْا اِلَّا بِحَبْلٍ مِنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ مِنَ النَّاسِ] (تاپه شویدے په دوی ذلت اوے قدری چرته چه موندلے شی مګر که دوی راتینګ کړی یو داسے ذریعه چه د الله تعالیٰ د طرفه وی یا د خلقو د طرفه وی) د الله تعالیٰ د طرفه ذریعه دا ده چه ایمان راوړی نو بس ذلت به ترے ختم شی، او د مخلوق د طرفه ذریعه دا ده چه د خلقو سره د صلح معاهده اُوکړی، ددے یو صورت دا هم کیدے شی چه د مسلمانانو سره ئے صلح اُوشی یا د جزئے په ورکولو سره د مسلمانانو په ملك کښې اُوسیږی۔ یا الناس لفظ عام دے یعنی د نورو غیر مسلمو سره د صلح کولو په وجه د هغوی په پناه کښې راشی نو هله په امن کښې کیدے شی دا هله چه (اِلَّا بِحَبْلٍ) کښې استثناء متصل واخستے شی لکه دا صاحب کشاف غوره کړیدے۔ او ډیرو مفسرینو دا استثناء منقطع اغستے ده نو پدے صورت کښې به مطلب دا وی چه په قومی حیثیت سره خو به دوی ذلیله او خوار پاتے وی اګرچه د قانون الٰهی په لَمن کښې راتلو سره به د دوی ځنے کسان محفوظ شی یا د نورو خلقو ډاډ موندلو سره به په خپلے خوارئ او ذلت پرده واچوی۔

پدے طریقه سره د بعض مسلمانانو دا شبهات هم ختمیږی چه الله تعالیٰ د دوی ذلت او رسوائی بار بار بیان کړیده او حال دا چه په فلسطین کښې د دوی ریاست او حکومت قائم دے۔ ددے لنډ جواب دا دے چه دغه اسرائیلی حکومت د برطانیے او امریکے د یو چهاونړئ حیثیت لری، که دوی ترے لاس واخلی نو یو میاشت هم دغه حکومت قائم نشی پاتے کیدے، دوی ئے پُشت پناهی کوی۔ او د مغربی ملکونو په نظر کښې هم اسرائیل د دوی د غلام نه زیات بل حیثیت نۀ لری۔ نو دوی د بل چا په پناهی کښې قائم

دی او هغه هم سره د ذلت نه لکه چه مخکښ بیان شو۔

علاوه لا دا چه په دنیا کښ د تولو نه مخکښ یهود راغلی دی او حال دا چه په ټوله دنیا کښ دوی د فلسطین په یوه معمولی علاقه باندے ریاست کوی (چه هغه هم نیمه ده) چه دا د ټولے دنیا په نقشه کښ د یوے نقطے حیثیت لری او بل خوا د نصاراؤ او د مسلمانانو (د تنزل په دے دور کښ هم) څومره غټ غټ حکومتونه قائم دی دا ددے خبرے لوئی ثبوت دے چه الله تعالیٰ په یهودو باندے د ذلت او خوارئ ټاپے وهلی دی چه تر قیامته پورے به پرے باقی پاتے وی۔

فائده : نبی ﷺ د داسے آیتونو نه استنباط کړیدے لکه په حدیث د بخاری کښ راغلی دی، ابوامامه رضی الله عنه ایوه، جغ او څه سامان د دهقانئ اُولیدو نو وے فرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی دی : (لَايَدْخُلُ هٰذَا بَيْتَ قَوْمٍ اِلَّا اَدْخَلَهُ اللّٰهُ الذُّلَّ) (بخاری :۲۱۹٦) بَابُ مَا يُحَذَّرُ مِنْ عَوَاقِبِ الْاِشْتِغَالِ بِاٰلَةِ الزَّرْعِ) (دا د چا کور ته نۀ داخلیږی مګر الله تعالیٰ هغه کور ته ذلت ورداخلوی)

امام بخاریؒ ددے معنیٰ کوی چه پدے سره ذلت هله دے چه خلق کروندو ته متوجه شی او جهادونه او نور فرائض دینیه ترے پاتے شی، مونځ نۀ کوی یا ئے په پټی کښ کوی، د الله تعالیٰ بندګئ ته اُوزګار نۀ وی نو دا ذلت دے۔ او دا مطلب نۀ دے چه هر څوك چه دهقانی کوی نو هغه به ذلیله وی، ځکه چه صحابه کرامو کښ هم دهقانان موجود وو او ډیر ایمان والا کروندے کوی۔ مطلب دا چه دا کارونه او دا څیزونه غالباً سبب د ذلت دے خو بعضو دپاره به سبب نۀ ګرځی، د الله تعالیٰ نه به پکښے یره کوی۔

فائده : الله تعالیٰ دا سزا د ذلت هر هغه چا ته ورکوی چه د یهودو دغه صفات پکښ راشی لکه اهل بدع او فاسقان شو۔ د شاه ولی الله الدهلوی قول مونږ په سورة الفاتحه کښ ذکر کړے (اِنْ شِئْتَ اَنْ تَرٰی اُنْمُوْذَجًا مِنَ الْيَهُوْدِ) (که ته غواړے چه نمونه د یهودیانو پدے اُمت کښ اُوګورے نو د خپلے زمانے ناکاره علماؤ ته اُوګوره)۔ چه د یهودو په شان حق به پټوی او د یهودو په شان پردی مالونه به خوری او حق نه به منع کول کوی او د کافرو سره اُودریږی او د مؤمنانو سره ئے مینه کمه وی او کافرو سره ډیره وی، او ذلت هم پکښ وی چه ښه مالدار به وی د خلقو نه به زکاتونه اخلی او خپله زکوٰة نۀ ورکوی، خلقو نه سوالونه کوی او که څوك چنده ورکړی د مدرسے او طالبانو دپاره نو دوی ئے د

ځان دپاره استعمالوی او پرواه نهٔ لری چه دا حرام مال دے۔ او کار کم کوی او شهرت ډیر کوی دا هغه ذلت او مسکنت دے چه په بعض ملیانو کښې موجود دے، پدے وجه مالدارو خلقو ته مُلیان پدے سپك ښکاره شویدی۔ چه دا خو سوالگر دی، دا خو څه ضروری نهٔ ده چه انسان لس مدرسے جوړے کړی او د هغے حاجات پوره کوی په خپل ذلت او چندو باندے۔دوه کسان ډے وی خو چه صحیح د دین کار کیږی او ستا ذلت پکښې نهٔ وی۔

او حدیث کښې راغلی دی : [وَجُعِلَ الذِّلَّةُ وَالصَّغَارُ عَلٰى مَنْ خَالَفَ أَمْرِىْ]

[احمد : ٥١١٤، والبخاری فی ترجمة الباب عن ابن عمر باب : ٨٨]

(الله تعالیٰ ذلت او سپکوالے مقرر کړیدے هغه چا دپاره چه زما د امر او حکم مخالفت کوی) نو هر مبتدع او فاسق به ذلیله وی۔ او هر مخالف د سنت به هم ذلیل وی لکه الله فرمائی : أُولَٰئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ (مجادله/ ٢٠)۔ دا کسان به ذلیله وی۔

(وَبَاءُوْا) باء : په معنیٰ د رجوع، او اخته کیدو او مستحق کیدو سره استعمالیږی۔ یعنی دوئ واپس شو او مستحق شو او د الله تعالیٰ د طرف نه پرے غضب راپریوتو۔

او دے کښې ئے د آخرت حال بیان شو۔ چه هلته به مغضوب علیهم وی، د الله تعالیٰ د رحمت نه به جدا وی۔

بِغَضَبٍ : دلته ئے عذابونه دوه بیان کړل او نعمتونه ډیر، اشاره ده چه د الله تعالیٰ رحمت د هغهٔ په غضب مقدم دے۔

ذٰلِكَ : اشاره ده غضب، ذلت او مسکنة درے واړو ته په تاویل د مذکور سره۔او دا دفع د سوال ده چه صرف ددے ترکاریانو غوختلو په وجه پرے غضب اُوشو، دا خو د غضب سبب نه دے؟ نو الله تعالیٰ وجه بیانوی چه الله تعالیٰ هسے غضبونه په چا نهٔ کوی بلکه په دوی کښې نور مرضونه وو۔ غضب پرے ځکه راغلو چه دوی به د الله تعالیٰ د آیتونو تصدیق نهٔ کولو، د انبیاء علیهم السلام معجزات به ئے نهٔ منل۔ لکه اُوس هم دوی د قرآن تصدیق نهٔ کوی۔ دے سورة کښې د ایمان موضوع ده نو ځکه د هغے مقابل کښې ئے کفر لفظ راوړو۔ چه په آیتونو باندے کفر د ذلت سبب دے او د الله تعالیٰ په آیتونو ایمان د عزت سبب دے۔

وَيَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ : یعنی کوم داعین د حق چه د دوی خیر خواه وو، هغه به ئے قتلول۔د

خپلے خیر خواهی نه هم غافله قوم دے۔
بِغَيْرِ الْحَقِّ : (حق نه مراد جرم دے) ناحقه به ئے وژل، هیڅ شرعی جرم به ئے نهٔ وو کړے، بلکه دوی ته به ئے د حق خبرے بیانولے څکه ئے وژل۔ نو دا قید واقعی او اتفاقی دے، دپاره د زیات قباحت د دوی او احترازی نهٔ دے۔ او یوانسان چه قتلولے شی نو په یو د دریو سببونو چه د واده نه روستو زنا اُوکړی، یا مرتد شي یا قتل اُوکړی او په انبیاء علیهم السلام کښ دا یو کار هم نهٔ وو نو د هغوی قتلول ناحقه شو۔ لکه ددے سورة په (۸۷) آیت کښے راغلی دی (أَفَكُلَّمَا جَاءَكُمْ رَسُولٌ) چه د دوی د خواهش مطابق خبره به ئے کوله نو دوی به خوښول او که د دوی د مزاج خلاف به وه۔ نو بیا به ئے تکذیب کولو او قتلول به ئے۔ اګرکه دوی به په زړونو کښ هم دا کار ناحقه او ناروا کار ګنړلو لیکن عناد او ضد ړانده کړی وو۔

انبیاء علیهم السلام د قتل :

دا آیت دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام وژل شویدی۔ او د ارادے د قتل معنیٰ کول د ظاهر د قرآن او د صحیح احادیثو خلاف دی۔ په قرآن کریم کښ په لسو آیتونو کښ قتل الانبیاء علیهم السلام ذکر دے۔ او ظاهر د قرآن کریم د بعض اوهامو په وجه پریخودل تحریف وی۔
او پدے باره کښ تقریباً (۱۶) احادیث راغلی دی۔ او اجماع د ټول امت ده سویٰ د شرذمه قلیله نه چه د هغوی د خبرے هیڅ تائید او اعتبار نشته۔
۱- حدیث کښ دی : [أَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا رَجُلٌ قَتَلَ نَبِيًّا أَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ] (مسند احمد ۱/۴۰۷ ابن کثیر) (د سخت عذاب والا هغه سړے دے چه نبی ئے وژلے وی یا نبی دهٔ لره قتل کړے وی) نو ګوره که نبی نهٔ وژلے کیدے نو دا خبره بیا څنګه صحیح کیده ؟۔
۲- سعید بن المسیب رحمه الله فرمائی : بخت نصر (بادشاه) دمشق ته راغلو وے لیدل چه د یحیٰی علیه السلام وینے جوش وهلو نو د هغے باره کښ ئے تپوس اُوکړو، خلقو خبر ورکړو نو هغهٔ د یحیٰی علیه السلام د وینے په بدله کښے اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان قتل کړل نو د یحیٰی علیه السلام وینه په آرام شوه۔ (البدایةوالنهایة لابن کثیر ۲/۵۰) وقال اسناد صحیح)
۳- محمد رسول الله ﷺ د یهودو د زهرو دلاسه شهید شویدے۔ او شهادت په توره او

په زهرو یو شے دے۔ (بخاری، فتح الباری)

٤- عبد الله مسعود ﷺ فرمائی : [كَانَتْ بَنُو اِسْرَائِيْلَ فِي الْيَوْمِ تَقْتُلُ ثَلاثَمِائَةِ نَبِيٍّ ثُمَّ يُقِيْمُوْنَ سُوْقَ بَقْلِهِمْ مِنْ آخِرِ النَّهَارِ]

[ابو داود الطيالسی، وابن ابی حاتم : ابن كثير ١٠٢/١) والدر المنثور (٧٣/١)]

(بنی اسرائیلو به په یوه ورځ کښې درے سوه انبیاء قتل کړل او بیا به ئے په همدغه ورځ کښې مازیګر بازار اُولګولو او سبزیانے به ئے خرڅولے۔ دا حدیث موقوف بمنزلة المرفوع دے۔ او سند ئے صحیح دے۔

٥- بخاری کښې د خباب بن الارت ﷺ په حدیث کښې دی : [قَدْ كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ يُؤْخَذُ الرَّجُلُ فَيُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ فَيُجْعَلُ فِيهَا فَيُجَاءُ بِالْمِنْشَارِ فَيُوْضَعُ عَلٰى رَأْسِهٖ فَيُجْعَلُ نِصْفَيْنِ وَيُمَشَّطُ بِاَمْشَاطِ الْحَدِيْدِ مَا دُوْنَ لَحْمِهٖ وَعَظْمِهٖ فَمَا يَصُدُّهٗ ذٰلِكَ عَنْ دِيْنِهٖ]

ستاسو نه مخکښو خلقو کښې داسے خلق وو چه د اُوسپنو په ګمنزو به ئے سرونه ګمنزل کولے شی د غوښے او هډوکو او پلو ترمینځ، خو دے کار به د دین نه نهٔ اړولو او آره به ورته د سر په مینځ کښې کیخودلے شوه او دوه ټکړے به کړے شو خو دے به د دین نه نهٔ ګرځولو...... الخ)

حافظ فتح الباری (١٣١/٢) کښې لیکی : ابن التینؒ وئیلی دی چه ددے خلقو نه مراد انبیاء علیهم السلام او د هغوی اتباع دی۔ باقی اُولس دلائل په فتاوی الدین الخالص (٩٢/٢) کښې اُوګورئ۔

کوم کسان چه د انبیاؤ د قتل قائل نهٔ دی لکه په مصر کښې بعض خلق دی او دغه شان بعض نور علماء چه دا په شعوری یا غیر شعوری طور سره د یهودیانو د رضا کولو کوشش کوی نو د انبیاؤ د قتل نه انکار کوی۔

روح المعانی کښې دوی ته ملحدین وئیلے شویدی۔ فتاوی اللجنة (٢٥١/٣) کښې د سعودی علماؤ فتویٰ نقل کړیده چه څوك د قتل الانبیاء نه منکر دی نو دوی د خپلو یهودی ورونو نه دفاع کوی، او دے ته ئے الحاد فی آیات الله او تلاعب بکتاب الله وئیلے دے۔ نو هغوی ته یو څو شبهات راپیدا شویدی :

(١) یو دا چه قرآن کریم کښې راغلی دی :

(اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا) (غافر: ٥١) (اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ) الصافات (١٧٢)

(الله تعالىٰ د رسولانو د نصرت وعده کړیده) نو که نبی قتل کړے شی نو بیا د هغه نصرت اُونۀ شو ؟ **جواب** (۱) : د نصرت نه مراد غلبه د حجت ده یعنی انبیاؤ سره الله تعالىٰ دا مدد کړیدے چه حجت ئے په ټولو خلقو غالب وی، ځوك پرے غلبه نشی کولے۔
(۲) دویم جواب : شهادت هم نُصرت دے۔ (۲) کله دا شبهه کوی چه دا خو دین ته نقصان دے، ځکه د نبی په وجه خو دعوت ختمیږی ؟۔
جواب : دا صحیح ده چه نبی راشی نو سمدست نۀ وژلے کیږی بلکه دین بیان کړی، خلق پوهه کړی، نو بیا وژلے شی۔ نو دین ته ئے هیڅ نقصان نۀ ملاویږی۔
۲- دویم وایو چه په دغه آیت کښ خو الله تعالىٰ ایمان والا هم ذکر کړیدی چه دوی سره هم مدد کوی نو آیا هغوی هم نۀ دی وژلے شوی ؟۔
(۳) دریم دا چه : انبیاء الله تعالىٰ قتل ته ولے پریخودل۔ نو عامو تفاسیر (قرطبی، ماوردی، ثعالبی وغیره) لیکلی دی : (نَيْلاً لِدَرَجَةِ الشَّهَادَةِ) دے دپاره چه د شهادت درجه حاصله کړی، ځکه شهادت د الله تعالىٰ په نزد یو کرامت دے نو دا هم بعینهٖ د نبی نصرت دے چه هغه له الله تعالىٰ د نبوت سره شهادت هم ورکړی۔
بعض علماء دا فرق کوی (لکه قاسمیؒ، آلوسیؒ) چه رسولان نۀ دی وژلے شوی او انبیاء وژلے شویدی۔ لیکن دا فرق هم د سورة البقره (۸۷) آیت د ظاهر خلاف معلومیږی او په هغے کښ تاویل کوی لیکن تاویل ئے مزیدار نۀ دے۔د ظاهر خلاف دے۔
ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ: اشاره ده کفر او قتل ته۔ یعنی دوی کښ د نافرمانئ مرض وو، او د الله تعالىٰ د حدودو نه به ئے تجاوز کولو په دے وجه دوی دا کفر بآیات الله او قتل الانبیاء شروع کړه۔ ځکه دا قانون دے : (اَلْمَعْصِيَةُ تَجُرُّ اِلَى الْمَعْصِيَةِ)
(یوه گناه سړے بلے ته راکاږی) دوی اول نافرمانی او گناهونه شروع کړل په هغے ئے پرواه نۀ کوله بیا ئے اعتداء (ظلم او زیاتے او د حدودو نه تیروتل) شروع کړل، بیا ئے خبره قتل الانبیاء ته اُورسوله نو بیا کفر بآیات الله ورته معمولی ښکاره شوه نو الله تعالىٰ هم بیا انسان ته صبر نۀ کوی نو غضب او ذلت او مسکنت ئے وربانده نازل کړو۔
(۲) بعض وائی : دے کښ هم هغه غضب او ذلت او مسکنة ته اشاره ده نو دا بیا تاکید دے او د غضب دپاره څلور اسباب شو، کفر، قتل، عصیان او اعتداء۔
يَعْتَدُوْنَ : اعتداء په اصل کښ د حد نه تجاوز او تیریدلو ته وئیلے شی بیا په عرف کښ

ئے په هره گناه او ظلم اطلاق کیږي۔ (قرطبی) د دوی ډیرے اعتداگانے وے :
(۱) د خالی په ورځ به ئے ښکار کولو۔
(۲) خپل مینځ کښ به ئے یو بل باندے ظلمونه هم کول۔ د کورونو نه به ئے ویستل
(۳) موسیٰ علیه السلام باندے به ئے اعتراضونه کول۔
(٤) د الله تعالیٰ حکمونو ته تیار نۀ وو۔
(٥) سورة یونس (٧٤) کښ تکذیب د آیتونو ته اعتداء وئیل شویده۔
(٦) غټه اعتداء ئے شرك وو د الله تعالیٰ سره۔ عزیر علیه السلام ته ئے ابن الله (د الله ځوی) وئیلو۔
اُوس ترغیب توبے ته ورکوی او دا د دعوت ښه طریقه ده چه د چا تردید او عیب بیان شی بیا ترغیب د توبے اوایمان ورکړے شی۔

إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى
یقیناً هغه خلق چه ایمان ئے راوړے او هغه خلق چه یهودیان دی او عیسائیان
وَالصّٰبِئِيْنَ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ
او صابیان چاچه ایمان راوړو (د دوئ نه صحیح ایمان) په الله او په ورځ د آخرت
وَعَمِلَ صٰلِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ
او عمل ئے اُوکړو نیك نو دوی لره اجر د دوئ دے په نیز د رب د دوئ
وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾
او نۀ به وی هیڅ یره په دوئ او نه به دوئ غمژن شی۔

تفسیر : د بنی اسرائیلو خطابات شروع دی چه الله رب العالمین بنی اسرائیل یعنی یهود او نصاراؤ ته او خصوصاً یهودو ته دعوت ورکوی چه راشئ په الله تعالیٰ او په پیغمبر باندے صحیح ایمان راوړئ، قرآن ستاسو دپاره د هدایت کتاب دے، ولے کفر

كوئ، الله تعالىٰ تاسو سره څو مره انعامات كړيدي اُوګوره ستاسو په مشرانو ئے عذابونه هم راوستي دي، د هغوى نه څو لګ شان عبرت واخلئ نو په دے آخر د خطاب كښں تر دوه شپيته آيت پورے الله تعالىٰ ترغيب وركوى ايمان او عمل صالح ته چه ګوره ډلو او تنظيمونو او نومونو له اعتبار نشته چه يو سړے وائي يهوديت غوره دين دے، نصرانيت غوره دے او صابئين غوره دى۔ لكه نن صبا هم ډير مشركان ځانته اهل السنة والجماعة وائي او په واقع كښں نهٔ وى۔ صرف دے نومونو او ليبلو له اعتبار نهٔ شته بلكه ايمان او عمل صالح لره اعتبار دے، او داسے ترغيب وركوى چه مخكښے مو هر څه كړى وى خو اُوس راشئ ايمان راوړئ او نيك عمل شروع كړئ، الله تعالىٰ به مو معاف كړى، الله تعالىٰ داسے مهربان دے چه هغه زاړه ګناهونه درله بخى او مغفرت درته كوى۔ لكه دا د الله تعالىٰ قانون دے چه ډلو او نومونو له اعتبار نهٔ وركوى لكه يهودو به وئيل چه مونږ غوره مخلوق يو، يهوديت غوره دين دے، دا ټول مخلوق الله تعالىٰ يهودو لره پيدا كړيدى، عيسايانو به وئيل چه زمونږ په شان دين د چا نشته، صابئين وائي زمونږ په شان نشته، نو الله تعالىٰ په دوى رد كوى چه نهٔ ! ايمان او عمل لره اعتبار دے، په هره زمانه كښں چه وى، په هرځائے كښں چه وى، د الله تعالىٰ د ډلو سره كار نشته، د الله تعالىٰ د صفاتو سره كار دے، چا كښں چه ايمان او عمل صالح صفت وى نو دا د الله تعالىٰ دوست دے او ده لره به اجر وركوى، او هيڅ غم به پرے نهٔ وى۔

(الذين آمنوا) **سوال** : اَلَّذِيْنَ آمَنُوْا اسم د اِنَّ دے او مَنْ آمَنَ ئے خبر دے او دلته اسم او خبر دواړه يو شے دى، نو حمل د شى په خپل ځان راځى۔ او دا بے فائدے وى۔ څكه معنىٰ به دا شى چه هغه كسان چه ايمان ئے راوړيدے چا چه ايمان راوړو۔او دا تحصيل د حاصل دے۔

جواب : ددے دوه تفسيرونه دى : (١) اول دا چه الذين آمنوا نه مراد مؤمنان ددے اُمت دى چه صرف د خولے دعويدار دى، نو روستو مَنْ آمَنَ كښں صحيح حقيقي ايمان مراد دے۔ يعنى صرف دعويدار ايمان والو كښں كه چا صحيح حقيقي ايمان راوړو نو يره به پرے نهٔ وى۔(٢) دويم دا چه آمَنُوْا نه حقيقي مؤمنان مراد دى او مَنْ آمَنَ نه اعلىٰ درجه د ايمان مراد ده۔ څكه چه ايمان كښں ډيرے مرتبے دى۔ يعنى په ايمان والو كښں كه چا اعلىٰ درجه ايمان راوړو الخ۔ لكه دا د قرآن كريم په نورو آيتونو كښں هم شته۔ (يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ

آمَنُوا آمِنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهٖ﴾ (النساء:۱۳٦) او همدا خبره راجحه ده ځکه چه ایمان کله مطلق ذکر شي نو مراد ترینه شرعي ایمان وي۔ (۲) دویم دا چه دا کلام په محاوره بناء دے لکه خلق وائي که اهل حق وي او که اهل باطل چا چه د حق اتباع اُوکړه نو هغه کامیاب دے۔ نو دارنګه دا آیت هم دغه شان په محاوره بناء دے۔

۲- بعض علماء پدے کښ یو بل ترکیب هم کوی چه بعید دے، هغے کښ تقطیع راځي۔ چه اِنَّ الَّذِیْنَ آمَنُوْا دپاره خبر (فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ) دے، او (وَالَّذِيْنَ هَادُوْا) مستقله مبتداء ده او (مَنْ آمَنَ) ئے خبر دے۔ دا ترکیب ضعیف ځکه دے چه د مبتداء او خبر ترمینځ فاء راوړل صحیح نهٔ وي ځکه دواړو کښ اتصال او حمل وي او فاء انفصال پیدا کوي۔

او (وَالَّذِيْنَ هَادُوْا) نه مراد (یهودیان) د موسی علیه السلام تابعدار دي چه اوله کښ ښهٔ خلق وو، د موسیٰ علیه السلام تابعدار وو۔ الله تعالیٰ ته رجوع کونکي خلق وو، بیا روسته د یهود نوم د حیله ګرو دے۔ هر حیله ګر، هر ظالم، هر زیاتے کونکے، غصب کونکے، د غلطو عقیدو والا ته یهودي وائي۔ او دوی په هغه زمانه کښ په مصر او د هغے په ماحول او د فسلطین او د هغے په ماحول کښ اُوسیدل، اُوس هم هلته زیات دي۔

یهود ته ځکه یهود وائي چه هَادَ په معنیٰ د تَابَ او رَجَعَ او مَالَ (مائل کیدو) سره دے نو دوی اوله کښ توبه ویستلے وه۔ الله تعالیٰ ته ئے وئیلي وو: (اِنَّا هُدْنَا اِلَیْكَ) (اعراف :۱۵٦) (اَیْ تُبْنَا) (مونږ تا ته توبه اُویاسو) نو یهود معنیٰ توبه ګار۔ او [تَهَوَّدَ اَیْ دَخَلَ فِي الْيَهُوْدِيَّةِ] یعنی د تهوّد معنی ده: د یهودیت په دین کښ داخل شو) بیا دا نوم په دوی باندے همداسے پاتے شو، نو بعد التبدیل هم دوی ته یهود وائي اګرکه اُوس توبه ګار نهٔ دي۔ یا دوی د اسلام نه مائل شوی (اوړیدلي) وو۔ (معالم التنزیل للبغوی)۔

۲- بعض وائي: هَادَ او تَهَوَّدَ په معنیٰ د سر خوزولو سره دے، دوی ته به ئے ځکه یهود وئیل چه کله به تورات لوستل کیدو نو دوی به سر خوزولو، حرکت کښ به راتلل، او اُوس هم دوی چه کله تورات اَوري، یا ئے وائي نو سر خوزوي۔ او زمونږ ددے زمانے قاریانو هم د هغوی نه چل زدهٔ کړو، د تلاوت په وخت سر خوزوي، دا طریقه صحیح نهٔ ده۔ بلکه قرآن کریم ته په آرام کیناستل پکار دي۔

۳- بعض وائي: دا د یعقوب علیه السلام مشر ځوی یهوذا بن یعقوب علیه السلام په اولادو کښ راغلي دي او په عربئ کښ ذال په دال بدلیدل مشهور دي، لکه نمروذ او نمرود۔ (ابن

کثیر، قرطبی) ٤- یا د هَوَادَة نه دے په معنیٰ د مینے محبت سره او دوی هم د یو بل سره مینه محبت ساتلو۔

النصٰریٰ : دا جمع د نصرانی ده، او نصرانی منسوب دے نصران ته یا ناصره ته چه دا د یو کلي نوم وو چه په هغے کښ عیسی ﷺ پیدا شوے وو، او اُوسیدو او دا په فلسطین کښ د بیت المقدس نه په شمالي جانب کښ تقریباً اویا (۷۰) میله لرے وو۔ نو چا چه به د عیسی ﷺ د تابعداریٔ او د مدد دعویٰ کړے وه چه مونږه ددهٔ مددگار یو، نو هغوی ته به ئے نصاریٰ وئیل۔(۲) څوك وائی : دوی ته دا نوم ځکه ورکړے شو چه دوی کښ حواریونو وئیلی وو : (نَحۡنُ أَنصَارُ اللّٰهِ) (مونږ د الله تعالیٰ د دین مددگار یو)۔

فائده : قرآن کریم او احادیثو کښ دوی ته نصاریٰ نوم ورکړے شویدے نو دوی ته مسیحین یا عیسایان وئیل مناسب نهٔ دی لکه دا خبره بکر بن عبد الله ابوزید په معجم المناهی اللفظیه (۲۱/۱) کښ ذکر کړیده چه پدے سره د عیسی ﷺ د نوم بے ادبی ده ځکه چه دوی خو د هغه دین بدل کړیدے۔ او په هیڅ نص کښ هم ددے استعمال نهٔ دے راغلے او نه په تاریخ او اقوال د علماؤ کښ دا نوم موجود دے نو دا یوه محدثه تسمیه ده۔ لهذا ددے نه ځان ساتل پکار دی۔

صَابِئِين : ددے په تفسیر کښ ډیر اقوال دی : ۱- مشهوره دا ده چه دا په یو قوم وو چه عراق کښ اُوسیدل او (لا اله الا الله) کلمه به ئے وئیله نور دین ئے نهٔ وو۔ او عقیده ئے د ستورو د تاثیر لرله۔ چه د عالَم تدبیر ستوری کوی۔ (قرطبی) دے وجه نه مشرکانو به مسلمانانو ته صابئین وئیل۔ (صُباة) به ئے ورته وئیل۔ (اَوَیۡتُمُ الصُّبَاةَ -بخاری ۲/۱) چه دوی هم د صابئینو په شان د لا اله الا الله کلمه وائی۔

۲- سید قطبؒ دیته ترجیح ورکړیده چه دا د عربو مشرکانو نه یوه ډله وه چه د رسول الله د بعثت نه مخکښے دویٔ د خپل قوم د موروثی شرکی دین نه جدا شوی وو او د بتانو په عبادت کښ ئے شك پیدا شوے وو۔ نو دوی ځانله په خپل غور او فکر سره یوه عقیده غوره کولو کوشش کولو نو صحیح توحید ته اُورسیدل، او دا دعویٰ به ئے کوله چه مونږ په دین حنیف باندے یو، کوم چه ابراهیم ﷺ پیش کړے وو۔ نو دوی د بتانو عبادتونه ترك کړی وو، اګرکه خپل قوم ته ئے د عقیدهٔ توحید دعوت نهٔ ورکولو۔

ددے خلقو په باره کښ به مشرکانو وئیل چه دا خلق صابیان دی۔ یعنی د خپل پلار

نیکه دین ئې پریخې دې۔ لکه روستو زمانه کښې به مشرکانو دا طعن مسلمانانو ته ورکولو چه دوی صابیان دی۔ [فی ظلال القرآن ۱/۴۷]

۳- بعض وائی : صابئین هغه چا ته وائی چه د یو دین نه نقل کېږی بل دین ته۔ نو دوی د یهود او نصاراؤ دین پریخودې وو او د ملائکو عبادت به ئې کولو۔

٤- بعض وائی : دا د ابراهیم ﷺ قوم وو (کَلْدَانیین) چه د ستورو عبادت به ئې کولو۔ او په شام او حران کښې د هغوی قبلې جنوبی طرفته جوړې شویدی۔ اُوس هم د دوی عبادت خانې شته۔ او دوی اُوس هم په عراق موصل کښې اُوسیږی۔ یو سړی د صابئینو نه زمونږ خوا ته د عراق نه راغلې وو، مسلمان شوې وو، هغه اُووئیل : زمونږ دین اُوس هم په عراق کښې شته۔ او دا قول امام رازیؒ په تفسیر کبیر کښې غوره کړیدې او وئیلی ئې دی چه د دوئ د ستورو په باره کښې دوه قسمه عقیدې وې :

(۱) -یو دا چه خالق د عالَم الله سبحانه دې لیکن دغه الله تعالیٰ حکم کړیدې چه ددې ستورو تعظیم اُوکړې شی او دا د مانځه او دعاء او تعظیم دپاره قبله جوړه شی۔

(۲)- دویم دا چه الله تعالیٰ آسمانونه او ستوری پیدا کړل او بیا ددې عالم تدبیر همدغه ستوری کوی چه خیر، شر مرض او صحت دوی راولی۔ نو په بشر باندې واجب دی چه د دوی تعظیم اُوکړی ځکه چه دا آلِهَه مُدَبِّره (تدبیر کونکی) ددې عالم دی او بیا دا د الله تعالیٰ عبادت کوی۔ [تفسیر کبیر۲/۱۸۹]

٤- بعض وائی : دا کتابیان دی او زبور به ئې لوستلو او د دین دعوه به ئې کوله۔ ځان ته به ئې د یحیی ﷺ تابعدار وئیل او قبلې ته به ئې پنځه مونځونه هم کول لیکن د ملائکو عبادت به ئې هم کولو۔ (الحسن وقتادة) (قرطبی)

زیاد بن ابی سفیانؓ دوی اُولیدل چه پنځه مونځونه کوی او کعبې ته مخ کوی نو جزیه ئې ترینه لرې کړه بیا خبر شو چه ورسره د ملائکو عبادت هم کوی نو بیرته ئې پرې مقرر کړه۔ (قرطبی) ددې وجه نه امام ابوحنیفه او اسحاق رحمهما الله په دوی باندې د اهل کتابو حکم جاری کړې وو په باره د نکاح او ذبیحه کښې۔

۵- امام مجاهدؒ وائی : (قَوْمٌ بَيْنَ الْيَهُودِ وَالنَّصَارىٰ وَالْمَجُوسِ لَيْسَ لَهُمْ دِيْنٌ) (دا یو قوم دې د یهود او نصاریٰ او مجوسو ترمینځ چه په هیڅ دین نهٔ دی روان)۔

وهب بن منبهؒ نه د صابئینو متعلق تپوس اُوشو نو هغه اُووئیل : (اَلَّذِیْ یَعْرِفُ اللهَ

وَحْدَهُ، وَلَيْسَتْ لَهُ شَرِيعَةٌ يَعْمَلُ بِهَا وَلَمْ يُحْدِثْ كُفْرًا) (هغه خوك چه صرف الله تعالىٰ يواځې پيژني او په هيڅ شريعت عمل نهٔ كوي او كفرئے نهٔ وي كړے)

ابن كثيرؒ د اقوالو ذكر كولو نه روستو وائي :

(وَأَظْهَرُ الْأَقْوَالِ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ - قَوْلُ مُجَاهِدٍ وَمُتَابِعِيهِ وَوَهْبٍ : أَنَّهُمْ قَوْمٌ لَيْسُوْا عَلٰى دِيْنِ الْيَهُوْدِ وَلَا النَّصَارىٰ وَلَا الْمَجُوْسِ وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ وَاِنَّمَا هُمْ قَوْمٌ بَاقُوْنَ عَلٰى فِطْرَتِهِمْ وَلَا دِيْنَ مُقَرَّرٌ لَهُمْ يَتَّبِعُوْنَهُ وَيَقْتَفُوْنَهُ)

(ظاهر قول د مجاهدؒ او د وهبؒ دے چه دا يو قوم دے چه نهٔ په دين د يهوديانو، نهٔ د نصاراؤ نه د مجوسو او نهٔ د مشركانو روان دي بلكه دا هغه خلق دي چه په خپل فطرت باندے پاتے دي او د دوی هيڅ مقرر دين نشته چه د هغے تابعداری اُوكړی۔ ددے وجه نه مشركانو به مسلمانانو ته دا طعن وركولو چه دوی صابيان دي ځكه چه په هغه زمانه كښ د ټولو دينونو د زمكے والونه وتلی وو۔ انتهیٰ۔

نو الله تعالىٰ دے ټولو ډلو ته د صحيح ايمان دعوت وركوی۔

آمَنُوْا : د ايمان موضوع شروع ده نو ځكه ئے ايمان مطلق ذكر كړو مراد ترے نه ايمان شرعي دے يعنی ټولو ايمانياتو باندے ايمان لرل۔ كوم ته چه شريعت دعوت وركوی۔

﴿ وَعَمِلَ صَالِحًا ﴾ او ددغه ايمان سره نيك عمل كوی ځكه چه دا د صحيح ايمان نخه ده۔ ﴿ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴾ دا لفظ ئے دوباره راوړو، مخكښ (۳۸) كښ تير شو ځكه چه د ټولو انسانانو د كوششونو مقصد هم دغه دوه څيزونه دي۔

(۲) دويم مقصد د آيت دا دے چه په تير شوی قومونو كښ كومو خلقو د خپلے زمانے د نبی اتباع كړے نو هغوی له به الله تعالىٰ نيكه بدله وركوی او همدا حال به ترقيامته پورے وی چه د نبی ﷺ نه روستو قيامته پورے كومو خلقو د رسول الله ﷺ تابعداری اُوكړه نو هغوی ته به أبدی سعادت او نيكبختی ملاويږی او هيڅ قسم خوف به پرے نهٔ وی۔ عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه ددے آيت نه دا آيت روستو راغلے دے (وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ الخ) يعنی د دين اسلام راتلو نه روستو نور ټول دينونه منسوخ شو۔

حديث كښے دی : [وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَا يَسْمَعُ بِيْ اَحَدٌ مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ يَهُوْدِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ لَا يُؤْمِنُ بِيْ إِلَّا دَخَلَ النَّارَ]

[صحيح مسلم رقم : ٤٠٣، كتاب الايمان باب وجوب الايمان برسالة محمد]

(قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په لاس کښ دے پدے امت کښ چه کوم شخص زما په باره کښے واوری که هغه یهودی وی او که نصرانی بیا په ما ایمان رانهٔ وړی نو هغه به ضرور اُور ته داخلیږی)۔ نو کوم خلق چه د وحدت ادیان کوشش کوی دا سو چه دروغ وائی دا قرآن او احادیث شاته غورزول دی۔

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ
او کله چه اخستے وه مونږه وعده ستاسو نه او اُوچت کړے وو مونږ دپاسه ستاسو
الطُّوْرَ خُذُوْا مَا اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ
طور غر، (اُووئیل مونږ) واخلئ هغه (کتاب) چه مونږ تاسو ته درکړیدے په قوت سره
وَاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿٦٣﴾
او رایاد کړئ هغه احکام چه په دے کښ دی، دے دپاره چه تاسو کښ تقویٰ راشی۔

تفسير : ددے ځائے نه اُوس بل خطاب دے بنی اسرائیلو ته چه دا تر دویمے رکوع (٨٢) آیت پورے چلیږی ۔ په دے کښ ددے خبرے بیان دے چه دے اهل کتابو (یهودو) کښ ډیر عیبونه راجمع شوی دی څه په مشرانو کښ او څه په دوی کښ۔ د دوی د مشرانو درے عیبونه ذکر کوی۔ چه دے نه بیله بیله ډله جوړیږی :

١ – لوظ ماتول په باره د کتاب د الله کښ۔ (ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ)

٢ – د الله تعالیٰ په احکام شرعیه ؤ کښ حیلے کول۔ (وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا)

٣ – د دنیا دپاره قتل کول او په پاکو خلقو بهتان او تهمت لګول۔ (وَاِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا) دومره غلط خلق دی او ځان ته پاك وائی، عجیبه ده !!۔ او دا صفات سره د روستنو نه تول په موجوده یهودو کښ وو، د مشرانو تقلید ئے کړے وو۔

(٤) خلورم د الله تعالیٰ او رسول الله ﷺ په حکمونو کښ ټال متول تاخیر کول۔ لکه وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى ......اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ) کښ راځی۔

نو الله تعالیٰ فرمائی: په داسے مشرانو پسے ولے ځئ چه داسے عیجن خلق وو۔ او تاسو کښې اُوس موجوده پنځه عیبونه دی۔ اُوګوره ځان ته ښه خلق وایئ لکه دوی به ځان ته وئیل: (نَحۡنُ شَعۡبُ اللّٰهِ الۡمُخۡتَارُ) (مونږ د الله تعالیٰ غوره ډله یو) اُوس هم تول یهود وائی: دا ټول مخلوق الله تعالیٰ مونږ له پیدا کړیدے، زمونږ د خدمت دپاره دی، که مونږه ئے وژنو او که مونږ ترے مال اخلو نو مونږ له جائز ده، د دروغو دعویٰ ئے کړیده، جنت هم الله تعالیٰ مونږ له پیدا کړیدے۔ او د الله تعالیٰ دوستان هم دا مونږ یو۔ الله رب العزت دلته ورله عیبونه راښکاره کوی چه دا څنګه دعویٰ کوئ، نو د دوی د دین په باره کښې تصور غلط شوے وو نو ځکه الله تعالیٰ د هغے اصلاح کوی چه دا تصورات غلط دی ځان ته اُوګوره چه ته څومره ګنده وے۔

او پنځه عیبونه او خباثتونه د کشرانو راوړی: ۱-تحریف معنوی کول۔ ۲- منافقت کول۔ ۳- تقلید کونکی امیان۔ ٤-تحریف لفظی کول۔

٥- د جنت دعوه کول سره د بد عمل کولو نه۔ او په آخر کښې به تخویف اُخروی (د آخرت یره) او زیرے بیانوی۔

او د (یا بنی اسرائیل) نه د بنی اسرائیلو تقریباً پنځوس عیبونه بیانول شروع دی چه دا سبب دے د نقل کیدو د رسالت او خلافت د دوی نه بنی اسماعیلو ته۔ او پدے ټولو واقعاتو کښې ترغیب الی الایمان دے۔

ربط او تړون:

مخکښې آیت کښې د ایمان او عمل صالح تذکره اُوشوه او دوی ته دعوت ورکړے شو نو اُوس وائی چه اے یهودو! تاسو کښې بیا هم دغه صفات رانغلل بلکه په ځائے د ایمان او عمل صالح په تاسو کښې خباثتونه پیدا شو چه په هغے سره تاسو نه دغه صحیح ایمان زائل شو۔

پدے دوه آیتونو کښې د دوی د نقض عهد تذکره کوی۔

مِیۡثَاقَکُمۡ: دا لوظ ئے د دوی د مشرانو نه اخستے وو چه د الله تعالیٰ په کتاب به عمل کوئ او ددے منلو ته به تیار شئ۔ ﴿وَرَفَعۡنَا فَوۡقَکُمُ الطُّوۡرَ﴾ غرئے په دوی ولے اُوچتولو؟ ځکه چه دوی ته کله موسی علیه السلام د طور نه تورات راوړو او ورته ئے اُووئیل چه شابئ دے باندے عمل اُوکړئ نو دوی اُووئیل: په دے باندے به څوک عمل کوی؟ دا خو احکام

شاقه (ګران احکام) دي۔ دے ته مونږ نشو تیاریدلے۔ نو جبرئیل علیه السلام ته الله تعالیٰ امر اُوکړو چه ورشه او غر پرے اُوچت کړه نو غرئے پرے راوچت کړو، او داسے شو لکه د یو څپر په شان یا د چهترئ یا د وریځے په شان۔ لکه سورة الاعراف (۱۷۱) کښې راځي :
(وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُ ظُلَّةٌ).

دوی پوهه شو چه اُوس رابانديے راغورزيږی نو په سجده پريوتل، کړه سجده ئے اُوکړه، په يوه سترګه ئے غرۀ ته کتل او په يوه سترګه ئے سجده اُوکړه، اُوس هم يهوديان کړه سجده کوی۔ وائي په دے سجده زمونږ مشران خلاص شوی دی۔

الطور : طور : (كُلُّ جَبَلٍ ذَاتُ نَبَتٍ حَسَنٍ) (هر هغه غر ته وئيلے چه ښائسته ګياه ګانے پکښې راتوکيدلی وی) لکه (وَشَجَرَةٍ تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ) (المؤمنون : ۲۰)

مجاهدؒ او ابو العاليهؒ وائي طور په سريانئ کښې هر غر ته وئيلے شي۔ (۱) دلته ترے مراد عام غر دے چه دوی د هغے په خوا کښې وو۔ لکه سورة الاعراف (۱۷۱) کښې نَتَقْنَا الْجَبَلَ) کښې ورته جبل (غر) وئيلے شويدے۔ ابن کثيرؒ وائي همدا ظاهر تفسير دے۔ (۲) يا هغه خاص غر چه موسیٰ علیه السلام ته پکښې د الله تعالیٰ تجلی شوے وه۔

(خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ) قوت معنوی مراد دے يعنی (أَيْ بِالْعِلْمِ وَالْعَمَلِ) د کتاب په طاقت باندے نيولو معنیٰ دا ده چه علم او عمل کښې ئے راولئ ځکه چه يو شے چه علم کښې راشي، هغه کلك شي او بيا کوم شے چه عمل کښې راولی هغه د انسان نه نۀ هيريږی۔ او ورسره په قوت کښې دا هم داخل ده چه په بنی لاس به ئے نيسی۔ بے ځائے به ئے نۀ اړدی چه اُوغورزيږی۔ دا بے ادبی ده او کوم خلق چه د الله تعالیٰ د کتاب ادب نۀ کوی، بے ځائے اړدی او دپاسه پرے خپے اړوی نو دوی ته الله تعالیٰ د دين صحيح پوهه نۀ ورکوی۔ او په علم کښې ئے برکت نۀ وی۔ او ديته قوت ظاهری وائي۔

(۳) قتادهؒ وائي د قوة نه مراد (بِالْجِدِّ) دے يعنی په جِدّئ او رشتينے طريقے سره اخستل دی۔

مَا آتَيْنَاكُمْ : نه مراد تورات دے۔

﴿وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ﴾ ددے نه دا معلوميږی چه د الله تعالیٰ د کتاب درس او تدريس فرض دے ځکه صرف (وَاحْفَظُوا) (حفظ ئے کړئ) ئے نۀ دے وئيلے، ځکه صرف يادول مقصود نۀ دی بلکه تذکير مقصود دے چه د هغے په ژبه تلاوت کوی او د هغے نه فوائد ايمانی او

مقاصد راوباسی او تدبر پکښې اُوکړے شي، او خلقو ته بیان کړے شي۔ نو کومه مدرسه او کوم دعوت کښې چه قرآن نهٔ بیانیږي، هغه ناقص دے۔ او ددے نه معلومه شوه چه د الله تعالیٰ کتاب به بار بار وئیلے شي۔

(وَاذْكُرُوْا) دیته وائي چه زاړه خبره سړي ته بیرته رایاده کړي، تاته دا معلومه ده چه مونځ فرض دے، لیکن قرآن کښې به ترغیب راشي چه دا مونځ ډیر اُوچت عمل دے، نو ستا شوق به پیدا شي۔ نو (اُذْكُرُوْا) معنیٰ دا چه رایاد کړئ هغه مسائل چه په دے کتاب کښې دي نو تقویٰ به درکښې پیدا شي۔ هدی للمتقین هم پدے وجه دے۔ حدیث کښې دي :(اِنَّ الْمُؤْمِنَ خُلِقَ مُفَتَّنًا تَوَّابًا نَسَّاءً، اِذَا ذُكِّرَ ذَكَرَ) (مؤمن پداسے حال پیدا شوے دے چه په دهٔ به فتنے راځي، دا به ډیر توبه ویستونکے وي، هیره به ترے کیږي، کله چه ورته خبره وریاده کړے شي نو دا ئے یاده وي) (الصحیحة رقم : ۲۲۷٦) و (۳۱۳۲)

فوائد الآیات : (۱) دلته **سوال** دے چه دا زور پرے الله تعالیٰ ولے کولو؟ دا خو مجبوره کول دي ایمان ته او جبري ایمان خو قبول نهٔ دے ځکه په دین کښې خو زور نشته ؟ (لَا اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ) (۱) **یو جواب** دا دے چه نواب صدیق حسن خان په فتح البیان کښې د قفالؒ نه نقل کړیدی چه یو اکراه ده او بل اجبار دے۔ نو په اکراه کښې اختیار باقي وي او په اجبار (مجبوره کولو) کښې اختیار باقي نهٔ وي، لکه د زنکدن په وخت کښې ایمان راوړلو له اعتبار نشته۔ نو دا اجبار او الجاء نهٔ وه بلکه اکراه وه او په اکراه کښې انسان اختیار استعمالولے شي چه مثلًا هغه ته اُووئیلے شي چه یا به عذاب درکوم یا به دا کار کوے نو هغه سوچ اُوکړي چه کوم ورته آسان او غوره ښکاره شي نو هغه اختیار کړي او په داسے وخت کښې خو ایمان قبلول په حدیث کښې هم راغلي دي۔ لکه واقعه د اسامه بن زید ﷺ او خالد بن ولید ﷺ پرے دلیل دے۔ اگرکه د تورے د لاندے راشي او کلمه وائي نو بیا ئے هم الله تعالیٰ قبلوي او د هغه قتل به منع وي۔

او دا د سورة النساء (۹٤) آیت نه هم معلومیږي : (وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰى اِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا) او هرچه لَا اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ دے نو د هغے مطلب دا دے چه د زړه په عقیده کښې په چا باندے زور نهٔ چلیږي، ځکه هغے ته رسیدل ممکن نهٔ دي۔ دا جواب کمزورے دے ځکه اکراه کښې اختیار باقي نهٔ وي۔ ځکه یو طرف ته عذاب وي بل طرف ته کار۔ او د عذاب برداشت خو مشکل وي نو اختیار مسلوب شو، دا اختیار به هله باقي وي چه

درې شیان وی (۱) عذاب (۲) خوراك کول مثلًا (۳) دغه کار کول فتدبر۔

۲- دویم جواب : یو اعمال دی، بلـه عقیده ده، په عقیده کښ زور نهٔ وی۔ د هر چا خوښه ده چه ایمان راوړی او که نهٔ او هرچه اعمال دی نو په هغې کښ زور شته۔

۳- جواب : (د ټولو نه قوی) دا دے چه په دین کښ زور نشته چه څوك پکښ په زوره داخل کړی یعنی په کافرو زور نشته، او چه څوك ایمان راوړی، او بیا د اسلام نه فائدے اخلی، زکاتونه او میراثونه اخلی او هغه بیا بد عملونه کوی نو په هغه زور شته، مونځ به پرے په زور کیږی، مهر به په زور ورکوی، خپل بچو، ښځے له به خرچه په زور ورکوی، ولے د اسلام دعوئ کوی او د اسلام نه فائدے اخلی نو په اسلام باندے به خرچه هم کوی۔ او کافرو باندے به زور نهٔ کوی، ترغیب به ورکوی که راځی ایمان راوړی، که نهٔ وی، جزیه دِے قبوله کړی او که نهٔ وی نو جنګ ته دِے تیار شی۔ او که جنګ نهٔ کوی نو هغې دپاره دغه حکم دے چه د مسلمانانو په ملك کښ دِے اُوسیږی او جزیه دِے ورکوی۔ نو دا خلق مسلمانان وو خو په کتاب د الله تعالیٰ ئے عمل نکولو چون وچرا به ئے کوله او بغاوت ئے اُوکړو نو ځکه دا سزا ورته ورکړے شوه او زبردستی پرے اُوکړے شوه او په حدیث کښ هم راغلی دی :

[وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِيْنَ] [ابوداود : ٤٩٥، صحیح]

(ماشومان په مانځه نهٔ کولو اُووهئ کله چه د لسو کالو شی)۔

دارنګه رسول الله ﷺ د هغه خلقو کور سیزلو چه جماعت ته نهٔ حاضریږی نو آیا په مسلمان باندے دا څه زور نشو ؟!۔ او لکه څنګه چه د دنیا په ټولو حکومتونو کښ هم د باغیانو خلقو سزاء، د عام مخالفو او دشمنانو قومونو نه جدا وی یعنی یا خو به د حکومت د قوانینو تابع کیږی او یا به وژلے شی او همدغه وجه ده چه په اسلام کښ د مرتد سزا وژل دی نهٔ د کافر۔

(۲) رفعنا کښې اشاره ده دیته چه اے خلقو ! تاسو د الله تعالیٰ په کتاب ځان پورته نکړو چه په هغې سره خلق اُوچتولے شی (د غر په شان) لکه حدیث کښ دی :

[اِنَّ اللّٰهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ اَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ] [احمد : ۲۳۲، ومسلم : ۱۹۳۴]

(الله تعالیٰ پدے کتاب څه خلق پورته کوی او څه خکته کوی) نو ځکه ئے تاسو خکته کړئ او طور غر ئے درباندے پورته کړو۔

(۳) فَوْقَكُمُ : دا فوقية حقيقي وو او پدے کښې تاويلونه کول چه دا حقيقي پورته کيدل نۀ وو، بلکه هسے دهمکي وه چه دا غر دربانديے راپورته کوم - غلط دي او تحريف دے، وجه دا ده چه ددے ډيرے قرينے دي يو دا چه سورة الاعراف (۱۷۱) کښې وائي : (وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ) او نتق د بيخ نه راويستلو او پورته کولو ته وئيلے شي۔ (طبری)۔

بل دے دپاره (رَفَعَ او فَوْقَ او ظُلَّةٌ او وَاقِعٌ بِهِمْ) الفاظ استعمال دي يعني د دوی دپاسه پورته کړے شو او داسے شو لکه د وريځ يا چهترئ په شان او قريبه وه چه راپريوتونکے وو په دوی باندے۔ دارنګه دوی بيا ګګه سجده ولے کوله۔ دارنګه ددے تائيد پخپله د يهوديانو د کتابونو نه کيدے شي : "تالمود" شرح د تورات کښې ئے ليکلي دي چه دا حقيقي رفع وه۔

او کتاب جيوش انسائيکلو پيډيا (۲۳۱/٤) کښې هم دا تصريح شته (تفسير ماجدی) احسن الکلام۔

(٤) پدے کښې معجزه د موسی علیه السلام او د الله تعالیٰ د قدرت نخه وه چه د زمکے نه غر د چهترئ په شان پورته کولے شي۔

(٥) (تَتَّقُوْنَ) د تقویٰ د پيدا کيدو يوه طريقه الله تعالیٰ مونږ ته دا اُوخودله چه قرآن ته تاسو کينئ، دا اَورئ او دا بيانوئ نو په دے کښې به نوے نوے خبرے راځي يا زړے خبرے به راځي په هغے سره به ستاسو ايمان کښې تازګي پيدا کيږي او تقویٰ به مو زياتيږي۔ خو پدے شرط چه انسان ورته په صحيح نيت او توجه سره کيني۔ او ددے مثال داسے دے لکه وني ته اُوبه اچول نو قرآن د زړه د تازه کولو کتاب دے۔ دا آيت تعلق لري د (هدی للمتقين) سره۔

(٦) معلوميږي چه تقویٰ غايه ده د هر عمل، او مقصودي شے دے۔

ثُمَّ تَوَلَّيْتُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ ۖ فَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ
بیا تاسو واوړیدئ پس ددے (لوظ) نه نو که چرته نهٔ وے فضل د الله په تاسو
وَرَحْمَتُهُۥ لَكُنتُم مِّنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٦٤﴾
او مهربانی د هغهٔ خامخا وے به تاسو د تاوانیانو نه۔

تفسیر : پدے آیت کښ ددے خلقو لوظ ماتول او د الله تعالیٰ احسان ذکر دے په دوی باندے چه عذاب ئے نهٔ دے ورکړے۔ نو تاسو له شکر پکار دے۔ او د دغه فاسدو مشرانو تابعداری نهٔ ده پکار، نو دا کشرانو ته د دعوت طریقه شوه۔

تَوَلَّيْتُمْ : دا څنګه واوړیدل نو ددے تشریح روستو (۹۳) آیت کښ راځی : (قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا) یعنی اول کښ ئے اُومنله خو روستو ئے مخالفت شروع کړو۔

فَضْلُ اللهِ : (۱) فضل د الله تعالیٰ دا دے چه توفیق د توبے ئے درکړو او رحمت ئے دا دے چه توبه ئے درله قبوله کړه۔

(۲) بعض وائی : فضل الله قرآن، او رحمت نبی علیه السلام دے۔ که الله تعالیٰ روستو زمانه کښ دا قرآن او نبی محمد ﷺ نهٔ رالیږلے۔ نو تاسو له ئے عذاب درکولو۔ خو الله تعالیٰ په روستنو خلقو امتحان کولو چه دے آخری نبی او قرآن باندے ایمان لری او که نه ؟ که هغه ئے اُونه منلو نو بیا به ورله عذاب ورکړی۔ نو تاسو د رسول الله ﷺ د بعثت په وجه بچ شوئ نو راشئ ایمان خو راوړئ۔ نو بناء پدے دا موجوده یهودو ته خطاب شو۔

(۳) بعض وائی : فضل او رحمة عام مراد دی چه دا دواړه مجموعه سبب د تاخیر د عذاب شو۔

فائده : قرآن کریم کښ اکثر مواقعو کښ فضل او رحمت جمع کیږی ځکه دا دواړه یو بل ته قریب شیان دی او د یو بل متمم دی، فضل کښ د زیادت معنیٰ ده او رحمت کښ د شفقت معنیٰ ده نو اشاره ده نعمت ورکولو ته او د تکلیف او مشقت پورته کولو ته۔

الْخَسِرِيْنَ : (اَيِ الْمُهْلَكِيْنَ) (د تباه شوو نه) خاسر پدے مقام کښ تباه شوی ته وائی

یعنی تباه شوی به وے۔ الله تعالیٰ دریاندے فضل او رحمت اُوکړو، سره د نافرمانئ نه ئے درته ځه اُونهٔ وئیل۔ صبرئے درته اُوکړو دا د الله تعالیٰ خومره مهربانی او رحمت دے۔
پدے کښے ورته الله تعالیٰ خپل احسانات یادوی، دے دپاره چه دوئ او د دوئ کشران د خپلے سرکشئ نه توبه ګار شی۔

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ
او یقیناً تاسو ته معلوم دی هغه کسان چه زیاتے ئے کړے وو ستاسو نه
فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ ﴿٦٥﴾
په ورځ د خالی کښ، پس اُووئیل مونږ دوی ته شئ تاسو شادوګان (بیزوګان) ذلیلان۔

تفسیر : (۱) د نقض عهد (لوظ ماتولو) دویم مثال راوړی (اَلْحِيَلُ فِي الْأَحْكَام) چه دا داسے خلق وو چه دوی د الله تعالیٰ لوظونه مات کړی دی چه حیلے او چلونه ئے د الله تعالیٰ په احکامو کښ کړیدی۔ او دا ئے روستو ځکه ذکر کړو چه ددے واقعے زمانه روستو وه او دا نور مشران د یهودو مراد دی۔ (۲) دارنګه مخکښے نقض العهد وو فِسْقاً۔ یعنی مخکنو به د الله تعالیٰ حکمونه ماتول په فسق او نافرمانئ سره او دا نقض العهد دے په حیلو سره۔ یعنی دے کسانو به د الله تعالیٰ حکم ماتولو په حیلو او چلونو سره۔
د واقعے تفصیل دا دے چه دا کسان د داود عليه السلام په زمانه کښ د دریاب په غاړه یو کلی کښ اُوسیدل چه د اَيْلَه په نوم وو او د مدین او د مصر ترمینځ واقع وو، او عَقَبَهٔ داؤد هم ورته وائی۔ دا یوه بندرګاه ده چه په خلیج العقبه باندے واقع ده، چه اُوس یهودیانو دا بیرته تازه کړیده او "ایلات" نوم ئے ورته ایخودے دے۔ (التفسیر الحدیث)
دوی باندے الله تعالیٰ د خالی په ورځ د ماهیانو ښکار حرام کړو، وجه دا وه چه بنی اسرائیلو ته الله تعالیٰ د موسیٰ عليه السلام په واسطه فرمایلی وو: چه په هفته کښے یوه ورځ د خپل رب د عبادت دپاره خاص کړئ او زما په نیز د جُمعے ورځ غوره ده، خو ستاسو خوښه ده، نو دوی پکښے اختلاف اُوکړو او ځانله ئے د هفتے ورځ منتخب کړه، نو الله تعالیٰ پرے د خالی په ورځ د دنیا هر کار حرام کړو، که ښکار کول وو او که نور تجارتونه

وغیره۔ او هرکله چه دوی د خالي د ورځې انتخاب پخپله مرضۍ اُوکړو نو الله تعالیٰ پرے امتحان اُوکړو۔ نو دا عمل چليدو تردے واقعے پورے، ليکن په دوی کښ نور فسق او فجور زياتيدو، نو زړه ئے صبر اُونکړو، ښکاره ماهيان به ئے ليدل چه ډير به راتلل تردے چه اُوبه به د کثرت د مهيانو په وجه کمے ښکاره کيدے، آخر دا چه د ماهيانو د رانيولو دپاره ئے چلونه جوړ کړل او هغے ته ئے کندے اُوکنستلے، او په هغے کښ به ماهيان راغلل نو دوی به ورته بند اُوتړلو او بيا به ئے د اتوار په ورځ رانيول۔

دارنګه بله طريقه : د جُمعے په ورځ به ئے کُندے اُوبو کښے واچولے نو د خالي په ورځ به پکښ مهيان ګير شو بيا به ئے د اتوار په ورځ راويستل، نو د جُمعے په ورځ کندے اچول او کندے کنستل حرام نۀ وو ليکن دوی دا حيله ګرځولے وه دپاره د ښکار په خالي ورځ کښ نو ځکه الله تعالیٰ ديته اعتداء اُووئيله۔نو دوی باندے به که چا اعتراض اُوکړو چه تاسو دا څۀ کوئ نو هغوی به تاويل کولو چه مونږ خو د خالي په ورځ د عبادت نه پدے کار نۀ يو مشغول شوی، او ښکار مو نۀ دے کړے (خپے ئے لا په اُوبو کښ دی) نو ددے نه په عوامو کښ دا متل مشهور شو چه ملا صاحب ئے خپے اُوبو ته کوی۔يعني حيلے ورله ورځی۔

د دوی دا تاويل باطل وو ځکه دا د دوی د عذاب سبب شو۔ وجه دا وه چه ماهی کله ستا ډنډ ته راغلو نو دا مملوك شو، ددے وجه نه د هر يو خپل خپل ډنډ معلوم وو۔ او چه کله عامو اُوبو کښ وی نو بيا د ټولو مشترك وی۔

(۲) حسن بصريؒ فرمائي : دوی به د خالي په ورځ ښکار کول حلال ګنړل نو دا د دوی اعتداء وه۔ (القرطبي، والنکت والعيون للماوردی) ليکن اول قول غوره دے۔

بيا په دوی کښ درے ډلے جوړے شوے يو ښکار کونکي بل منع کونکي او بل نيکانو لره منع کونکي وو چه پريده چه خپل کار کوی تاسو ډير نصيحت ورته اُوکړو، خو ستاسو خبره نۀ مني نو څله ئے منع کوئ نو الله تعالیٰ پرے عذاب راوستو اوله ډله ئے هلاك کړه او ظاهر دا ده چه دويمه ډله ئے هم هلاکه کړيده لکه اعراف کښ به ددے تفصيل راځي ان شاء الله تعالیٰ او نهي عن المنکر والو له ئے نجات ورکړو۔

په دين کښ حيلے کول حرام دی

حيله ديته وائي چه د الله تعالیٰ د حکم خلاف وی او چه قرآن او حديث کښ کوم عمل

راغلے وی یا په وحی سره ثابت شوے وی نو هغه حیله نۀ ده، بلکه هغه حکم شرعی وی۔ ددے وجه نه زمونږ په دین کښ حیلے (چلونه) نشته۔ رسول الله ﷺ فرمائی :
[لَا تَرْتَكِبُوا مَا ارْتَكَبَتِ الْيَهُودُ] (دیهودو په شان کار مه کوئ) [فَتَسْتَحِلُّوا مَحَارِمَ اللّٰهِ بِأَدْنَى الْحِيَلِ]۔(تاسو به حلال حرام کړئ په ادنیٰ (معمولی) حیلو سره)۔
[رواه ابن بطة فی جزء الخلع و ابطال الحیل و اسناده جید (حسن) کما قال الحافظ ابن کثیر و الالبانی، ارواء الغلیل رقم ۱۵۳۵]
ددے وجه نه بعض اهل بدع د حیلو د اثبات دپاره د قرآن او د حدیث نه غلط استدلال کوی لکه وائی : یوسف علیه السلام د ورور په پاتے کولو کښ حیله کړے وه (كَذٰلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ) (دغه شان کید مونږ د یوسف دپاره کړے وو) دارنګه کله وائی چه ایوب علیه السلام د خپل قسم نه د ځان ویستلو دپاره جارو چه سل ډکی پکښے وو په هغے باندے ښځه اُووهله۔ (وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِهٖ)۔

الجواب : دا استدلال خطاء دے یو خو دیته حیلے وئیل صحیح نۀ دی ځکه چه دا خو دے انبیاؤ علیهم السلام ته د الله تعالیٰ حکمونه وو۔ نو دا په وحی سره ثابت شو۔
دارنګه پدے باندے نورے حیلے قیاس کول قیاس مع الفارق دے ځکه چه د نورو حیلو دپاره د وحی نه ثبوت نشته۔ او د دغه الفاظو نه خصوصیت هم معلومیږی چه (كِدْنَا) کښ نسبت الله تعالیٰ ځان ته کړیدے نو دا په وحی سره وو او (لِيُوسُفَ) کښ لام د اختصاص دے یعنی خاص وو د یوسف علیه السلام دپاره۔ لکه ددے تفصیل علامه ابن القیمؒ په اغاثة اللهفان (۱۰۲/۲) کښ ذکر کړیدے او په حیله ګروئے ردونه کړیدی۔ چه په دے واقعه باندے دلیل نیول هله صحیح دی چه زمونږ په دین کښ دا کارونه جائز شی او حال دا چه دا زمونږ په دین کښ حرام دی چه پلار په یو داسے عمل خفه کړی او په ورور باندے تهمت د غلا اُولګوی او د بل ملك قانون پرے جاری کړی۔ الخ نو پدے باندے قیاسونه کول غلط شو۔
امام بخاریؒ په خپل صحیح کښ کتاب الحیل او کتاب ترك الحیل ددے دپاره راوړیدے چه په دین کښ حیلے نشته۔ او دغه مخکښے حدیث هم د حیلو پوره تردید کوی۔
اوددے اُمت روستنو متأخرینو هم په دین کښ حیلے زیاتی کړیدی۔ عالمګیری وغیره

د کتاب الحیل په نوم بابونه راوړیدی او حیلے ئے ثابتے کړیدی، د اَوداسه حیلے، د مانځه او د زکوٰة او شفعے وغیره چه بعض حیلے ئے دا دی :
۱- اوداسه او اُوبو کښې دا حیله کوی چه یو ډنډ چه عَشْرًا فِیْ عَشْرٍ نهٔ وی او گندگی پکښې پریوزی او تهٔ ترے اَودس کوے نو دا اُوبه خو نجسے دی نو حیله دا ده چه ددے خوا ته به وياله اُوباسے او دغه اُوبه به ورته راکولاوے کړے نو چه اُوبهيدلے بس ستا دپاره پرے اَودس جائز شو، ځکه چه دا جاری اُوبه شوے۔
۲- په مانځه کښې ئے حیله دا ده چه د سحر سنت د جَمعے په خت نهٔ کیږی مگر تهٔ اول نیت اُوتړه بیا ئے مات کړه نو د (لَزِمَ النَّفْلُ بِالشُّرُوْعِ) قانون په وجه به لازم شی نو بیا د جماعت د اُودریدو په وخت هم کیږی۔
۳- د زکوٰة حیله دا ده چه کله کال پوره کیدو ته نزدے شی یوه ورځ یا دوه ورځے پاتے شی نو ټول مال ښځے ته اُوبخه، بس ته فقیر شوے په تا زکوٰة نشته خو چه دغه دوه درے ورځے تیرے شوے، بیرته ترے واخله (ځکه چه هبه کښې رجوع جائز گڼړی) نو پدے پیسو کال تیر نشو نو هر کال دا کار کوه په تا باندے به هیڅ کله زکوٰة نهٔ راځی۔
٤- طلاقو کښې حیله دا ده چه سړے درے طلاقه ښځے له ورکړی نو ښځه خو ترے ځی نو زر دِے ځان کافر کړی نو بیا به تجدید د نکاح اُوکړی۔
۵- په شفعه کښې حیله دا ده چه د شفیع طرف ته دِ یوے کرخے په مقدار معمولی شان زمکه نهٔ خرڅوی نو بس شفعه به ئے باطله شی۔
٦- د غلا حیله دا ده چه غل نه لاس پرے نکړے شی چه یو غل دِے کور ته داخل شی او هلته نه دے بل غل ته سامان راگوزار کړی، یا دِے اُوبو کښې روان کړی نو بس دواړو غلو نه لاس نهٔ کټ کیږی۔ (عالمگیری)
۷- د قضائی مونځونو دپاره حیلهٔ اسقاط ته جائز وائی او دے دپاره ئے په شامی او عالمگیری وغیره کښې شرطونه وئیلی دی۔ او حال دا چه د مانځه فدیه په قرآن او حدیث کښې نهٔ ده راغلے، صرف د امام محمدؒ گمان د دوی دپاره دین گرځیدلے دے چه هغه وئیلی دی چه زما امید دے چه که فدیه د مونځونو ورکړی نو قبوله به شی۔ نو دا د حیله گرو دین دے، د یهودو په شان صفات ددے امت په اهل بدعو کښې هم کامل مکمل راغلل۔ د الله تعالیٰ حرام ئے په معمولی حیلو او شبهاتو حلال کړل۔ او دا د

منافقانو خصلت دے يُخَادِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا۔ د الله تعالیٰ سره دهوکے کوی۔
نو الله تعالیٰ مونږ منع کوی چه تاسو د الله تعالیٰ په حکمونو کښې چل ول مه کوئ۔
سیده ساده ئے اُومنئ۔
فائده : دا یهود الله تعالیٰ پدے وجه هلاك کړل چه د سحر نه مابنام پورے دماهیانو ښکار ورله حرام وو، (اګرکه ماهی حلال شے دے خو صرف دوی به د خالی په ورځ ښکار کولو)، نو څه به وی حال د هغه چا چه توله ورځ زنا ګانے کوی، پردی مالونه خوری، خیانتونه، دوهکے او دروغ وائی، د امام یا لیډر دپاره د الله تعالیٰ د نبی ﷺ د احادیثو نه جوابونه کوی، ځانته وکیل احناف او وکیل المقلدین وائی۔ نو دا څومره اعتداء او زیاتے دے، آیا په دوی به عذاب نهٔ راځی؟ آیا دوی سره الله تعالیٰ ګنے وعده کړیده چه تاسو هرڅه کوئ تاسو خلاص یئ او صرف هغوی مجرمان وو ؟۔والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله۔
وَلَقَدْ عَلِمْتُمْ : تاکید سره ئے دا واقعه ذکر کړه (لِأَنَّهُمْ كَانُوْا يَتَكَاتَمُوْنَهَا فِيْمَا بَيْنَهُمْ) موجوده یهودیانو به دا واقعه خپل مینځ کښې د کشرانو او مخالفینو نه پټه ساتله ځکه چه د دوی د مشرانو دوهوکه او شرم پکښې وو۔ چه د خیتے دپاره ئے د الله تعالیٰ حکم مات کړیدے، ددے وجه نه په سورة الاعراف (۱۶۳)کښې داسے الفاظ دی : (وَاسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ) او پدے کښې ورته الله تعالیٰ توبیخاً وائی چه آیا تاسو مشرانو ته نهٔ ګورئ چه الله تعالیٰ ورله د حیلو او چلونو په وجه څنګه سزا ورکړه نو آیا تاسو عبرت نهٔ اخلئ !۔ نو دوی عبرت وانخستو نو الله تعالیٰ تول ذلیله کړل ترقیامته پورے۔
الَّذِيْنَ : (۱) ددے نه مراد حالات د هغه کسانو دی او عین هغه خلق دوی ته نهٔ وو معلوم۔ نو ددے وجه نه بعض مفسرین وائی چه دلته علم په معنی د معرفت دے ځکه معرفت تعلق لری د احوالو د شی سره۔ او علم تعلق لری د ذات د شی سره۔ (القرطبی والطبری)
(۲) امام بغویؒ فرمائی : ظاهر دا ده چه دوی ته عین هغه کسان معلوم وو۔ (معالم التنزیل)
(فِي السَّبْتِ) ۱– (اَیْ فِيْ تَعْظِيْمِ السَّبْتِ) یعنی په تعظیم د خالی کښې چه د ورځے تعظیم ئے سم نهٔ کولو۔

۲- یا د خالی په ورځ به ئے زیاتے کولو۔ لکه مخکښ د هغے بیان تیر شو۔
السَّبُت : (۱) سبت په معنیٰ د راحت او ارام سره دے لکه مَسْبُوُت اُوده انسان ته وئیلے شی چه په آرام پروت وی۔ خوب ته سُبات وئیلے شویدے، لکه (وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا) [النبأ:۹] نو یهودو به هم پدے ورځ د دنیا د کارونو نه آرام کولو۔
(۲) یا سبت په معنیٰ د قطع سره دے، نو دوی به پکښ د خپلو کارونو نه منقطع شوی وو۔ (۳) یا په معنیٰ د فراغت سره ده نو الله تعالیٰ پدے ورځ د مخلوق د پیدائش نه فارغ شوے وو۔ (ابوعبیدهؒ) (النکت والعیون ۱/۵۷)
كُوْنُوْا : دا امر کونی دے، امر شرعی نهٔ دے۔ بلکه دیته خطاب التعجیز والتسخیر وائی۔ (یعنی عاجز کول او مسخر کول) او پدے کښ مقصد دا وی چه سمدستی عذاب پرے نازل شو۔
قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ : الله تعالیٰ ترے شادوگان جوړ کړل او ذلیله ئے کړل او ددے زیات تفصیل سوره اعراف (۱۶۳) کښ راځی، او دوی حقیقةً شادوگان شوی وو، دوه درے ورځے وو بیا الله ختم کړل۔ کومو تفاسیرو چه لیکلی دی چه مخونه ئے د شادوگانو په شان شوی نهٔ وو۔ بلکه معنوی مسخ وه یعنی زړونه ئے مسخ شوی وو۔ لکه دا قول د مجاهدؒ نه نقل دے نو دا صحیح نهٔ ده۔ ابن کثیرؒ د ډیرو علماؤ اقوال راوړیدی چه دا مسخ صوری او معنوی دواړه وه۔ یعنی زړونه او مخونه دواړه ئے مسخه شوی وو۔ او د مجاهدؒ قول ته ئے شاذ او غلط او د قرآن کریم مخالف وئیلے دے۔ دغه شان سید قطبؒ وئیلی دی چه دا ضروری نهٔ ده چه د دوی جسمونه هم د شادوگانو په جسمونو بدل شوی وی، کیدے شی چه د روح، فکر، شعور او د مزاج په اعتبار سره هغوی نه شادوگان جوړ شوی وی، او د شادوگانو په شان حرکتونه ئے کړی وی ځکه د فکر عکاسیت او اثر په مخ، شکل او هیبت او حرکات او سکناتو باندے پریوځی، د انسان په ظاهری حالت باندے د هغه د فکر ژور اثرات پریوځی۔ (فی ظلال ۱/۴۹)
نو دا خبره هم غلطه ده او د قرآن کریم د ظاهر خلاف ده۔
خَاسِئِيْنَ : اَیْ مُبْعَدِيْنَ مَطْرُوْدِيْنَ۔ (معالم)۔ (هلاك شوی، شړلے شوی)۔
فائده : د شادو خپل شکل ډیر مزیدار دے لیکن انسان نه چه شادو جوړه شی ډیر بد ښکاری نو ځکه ئے ورسره خاسئین لفظ اُووئیلو چه دوی ډیر بد شکل ښکاره کیدل۔ او

دوی لـه ئے دا جزاء ځکه ورکړه چه شادو په ظاهر کښې په شکل د انسان دے خو په حقیقت کښې انسان نهٔ دے نو دوی هم په ظاهر کښې د حق مطابق عمل کولو لیکن په حقیقت کښې هغه باطل عمل وو۔ نو جزاء من جنس العمل ورکړے شوه۔ د الله تعالیٰ د حکم شکل ئے بدل کړو نو د دوی شکلونه بدل کړے شو۔ او دغه شان زړونه ئے هم مسخ شو۔ (ابن کثیر ۱/ ۲۹۰)

بیا د دوی نسل باقی نهٔ دے پاتے شوے لکه دا د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی۔ او هرچه شادو حیوان دے نو دا خو د پخوا نه موجود دے، دا د هغوی نسل نهٔ دے۔ لکه قرطبیؒ کښې ددے تفاصیل اُوکوره۔

سوال : دا خلق چه مسخ شول نو د دوی عقل او فهم خو پاتے نشو نو دوی په خپل عذاب خنګه پوهیدل ؟۔ **جواب** : په مسخ سره صرف د دوی ظاهری شکل بدل شوے وو او په خبرو او انسانی کارونو باندے قادر نهٔ وو، لیکن په دے پوهیدل چه الله تعالیٰ مونږ له د ګناه د وجه نه داسے عذاب راکړے دے۔ لکه د ابن عباس رضی الله عنه نه امام طبریؒ نقل کړیدی چه دوی کښې به یو تن د خپلوان خواته ورغلو، د هغه جامے به ئے بوئی کولے او ژړل به ئے نو هغه به ورته اُووئیل : آیا مونږ تاسو ددے کار نه نهٔ وو منع کړی نو دهٔ به په سر اشاره اُوکړه چه آؤ۔

او قتادهؒ وئیلی دی چه د دوئ د شادوګانو په شان لکئ هم وشوے او د هغوی په شان به ئے غپا کوله پس د هغے نه چه دوئ سړی او ښځے وو۔

[طبری رقم : ۱۱۴۷، واللباب للدمشقی ۹جزء ۳۵۶]

فَجَعَلْنٰهَا نَكٰلًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا
نو مونږ اُوګرځوله دا واقعه (یا دا کلے) عبرت ناکه سزا د هغه چا دپاره چه مخکښې ددے کلی
وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٦٦﴾
نه دی، او هغه چه روستو دی ددینه، او وعظ او نصیحت دپاره د تقویٰ والو (ددے امت)۔

تفسیر : مخکښې آیت کښې قصے ته اشاره اُوشوه نو اُوس ددے نه عبرت راوباسی،

ځکه مقصود په قصه کښې د هغې نه عبرت اخستل وی، چه ګوره دا یو قوم دے الله تعالیٰ ورله د دریاب په غاړه رزق ورکوی او سمدست هلاکیږی دا ولے ؟ دا د الله تعالیٰ د نافرمانۍ د وجه نه۔

فَجَعَلْنَاهَا : دا ضمیر (۱) راجع دے قریه (کلی) ته ځکه مقام ئے تقاضا کوی۔ او همدا راجح دے۔(ابن کثیر) (۲) یا راجع دے عقوبة (سزا) ته۔

(۳) یا راجع دے امة (دغه ډلے) ته۔

(٤) یا راجع دے مَسْخَةٌ (د دوی مسخ کولو) ته۔ (٥) یا راجع دے قیصے او واقعے ته۔ (اللباب ۱/۳٦۳)

(٦) د ابن عباس ﷺ نه طبریؒ نقل کوی چه ضمیر حِیتان (مهیانو) ته راجع دے۔

(۷) بعض وائی : قرده (شادوګانو) ته راجع دے۔(طبری)

نَكَالًا : نکال اصل کښې منع ته وئیلے شی، او دا عذاب هم سبب د منع شو د نورو خلقو دپاره چه د دوی په شان کار اُوکړی۔ دارنګه نکال په معنیٰ د عقوبة یعنی عبرت ناکه سزا سره دے۔ (قرطبی عن الازهری) لکه د غل نه د لاس د پریکولو په باره کښې راځی : (نَکَالًا مِنَ اللّٰهِ) (المائدة :۳۸)

لِمَا بَيْنَ يَدَيْهَا : (۱) (هَا) ضمیر قریه (کلی) ته راجع دے او (مَابَیْنَ یَدَیْهَا) نه مراد حاضر او نزدے کلی او (مَا خَلْفَهَا) نه وړاندے کلی مراد دی۔ (یا مخکښې کلی او روستو کلی، ځکه د هر کلی نه څه مخکښې کورونه وی او څه روستو) ددے ټولو دپاره عبرت شو چه څوك (په بنی اسرائیلو کښې) د خالی د ورځے بے عزتی کوی دغه به ئے حال وی۔

(۲) – یا د زمانے سره لګی یعنی (مَابَیْنَ یَدَیْهَا) نه مراد د هغه زمانے خلق دی او (مَا خَلْفَهَا) نه مراد روستنی اُمتونه دی۔

(۳) ابن عطیهؒ وئیلی دی چه ها ضمیر عُقُوبَة (سزا) ته راجع دے او (مَابَیْنَ یَدَیْهَا) نه مراد تیر شوی (زاړۀ) ګناهونه او (مَا خَلْفَهَا) نه روستنی ګناهونه دی۔ یعنی دا سزا د تیر شوو ګناهونو او د روستنو ګناهونووه په کوم باندے چه هلاك شو چه مهیان ښکار کول دی۔ ابن کثیرؒ اول قول ته ترجیح ورکړیده۔تائید کښې ئے آیت پیش کړیدے۔ (وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِنَ الْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ) (احقاف :۲۷)

مَوْعِظَةً : موعظه مصدر میمی دے د وعظ نه دے (۱) په معنیٰ د زجر او منع سره دے،

یعنی دا منع کونکے شو۔ (۲) او موعظه کله تخویف ته وئیلے شی۔
(۳) او کله تذکیر او عبرت ته هم وئیلے شی۔ (طبری)
مفسرینو داسے الفاظ وئیلی دی : (نَهْيًا وَ زَاجِرًا وَتَذْكِرَةً وَعِبْرَةً) (یعنی دا نهی او منع کونکے او نصیحت او عبرت دے دپاره د متقینو) خپله به هم ترے عبرت واخلی او بل ته به هم وعظ او نصیحت اُوکړی چه دغه شان کار اُونکړی۔
لِلْمُتَّقِينَ : د متقین نه مراد امة د محمد ﷺ دے۔ [اَیْ لِلْمُتَّقِيْنَ مِنْ هٰذِهِ الْاُمَّةِ] (خازن) (بحر العلوم) دوی به هم عبرت واخلی چه څوك د الله تعالىٰ دغه شان نافرمانی کوی نو د هغوی به هم دغه شان انجام وی۔
او کله چه په یوه علاقه عذاب راشی، نو هغوی له عبرت اخستل پکار دی، چا باندے سیلابونه په دے وخت کښ راځی چا باندے زلزلے راځی، غرونه پرے راپریوزی، دا هم د الله تعالىٰ بندګان دی مونږه هم یو، ولے په هغوی راپریوزی؟
نو دا د الله تعالىٰ د نافرمانئ په وجه، مونږه هم که هغه شان شو نو مونږ سره به هم دغه شان معامله کیږی، د الله تعالىٰ یو شان بندګان دی۔ نو صرف په تقوىٰ سرے بچ کیږی۔
(۲) یا د هر امت متقیان مراد دی۔ (ابن عباس رضی الله عنه - آلوسی)
او همدا خبره ظاهره ده ځکه چه عموم اولیٰ دے۔
فوائد : (۱) ددے قصے فائده دا ده چه الله تعالىٰ مخلوق د خپلے بندګئ دپاره پیدا کړیدے، نو که دوی خپلے خوښے او طبع ته پریدی نو په جسمانی لذتونو کښ به اخته شی ځکه چه دوی پرے د وړوکوالی نه اموخته دی نو الله تعالىٰ عبادات مقرر کړل او په معین اوقاتو کښ ئے مکرر کړل دے دپاره چه د بندګانو نه د طبیعتونو خیرے ختم شی، او تیاره د خواهشاتو ئے ختمه شی نو څوك چه ددے عباداتو خیال نۀ ساتی نو د هغه د استعداد رنړا به زائل شی او د زړه ډیوه به ئے مړه شی۔
۲- بنده له پکار دی چه نصیحت واخلی د الله تعالىٰ د وعدو او وعیدونو نه۔
(۳) د معصیت (ګناه) نحوست (سپیره والے)
(٤) د حکم شرعی حقیقت له اعتبار دے، ظاهر له اعتبار نشته که یو سړے ظاهراً ځان دین دار ښکاره کړی او حقیقت کښ نۀ وی نو دا فائده نۀ ورکوی۔
(٥) متقین هغه خلق دی چه ډیر احتیاط کوی او د شوائبو د حرامو نه پرهیز کوی۔

(٦) حرام په ډير قسمه دی۔
(٧) تقویٰ سبب د عبرت دے۔

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ اِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ اَنْ تَذْبَحُوْا
اوکله چه اُووئیل موسیٰ خپل قوم ته یقیناً الله امر کوی تاسو ته چه حلاله (ذبح) کړئ
بَقَرَةً ، قَالُوْا اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ، قَالَ
یوه غوا، اُووئیل دوئ: آیا ته نیسی مونږ په توقو باندے، هغهٔ اُووئیل :
اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجَاهِلِيْنَ ﴿٦٧﴾
زهٔ پناهی غواړم په الله پورے ددے نه چه زهٔ شم د ناپوهانونه۔

تفسير : اُوس یوه بله واقعه راوړی چه په دے کښ هم د دوئ حیله ذکر ده دپاره د ساقطولو د حکم د الله تعالیٰ۔ د الله تعالیٰ حکمونو منلو ته سمدست تیار نهٔ وو۔ دا د یهودو مرض وو۔ چه الله تعالیٰ به امر راولیږلو د پیغمبر په ژبه، دوی به وئیل که دا داسے شی او که داسے شی، چون وچرا او تعنت او تاخیر به ئے کولو۔ پدے وجه په احادیثو د رسول الله ﷺ کښ چون وچرا نهٔ ده پکار۔ چه که پدے عمل اُوشی نو داسے داسے به اُوشی۔ لکه ډیرمتأخرین دا کارونه کوی، د نبی ﷺ احادیثو له یے ځایه لارے ګوری، او په هغے باندے ئے حملوی۔ او دا مشابهت د یهودو سره دے۔ او نبی ﷺ فرمائی :

[لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ] [بخاری : ٧٣٢٠]

تاسو به د یهودو د طریقو پسے روانیږئ لویشت په لویشت او ګز په ګز)۔ څنګه کارونه چه هغوی کړیدی زما اُمت به هم داسے کارونه کوی۔ لکه مثلًا یو حدیث به راشی، منلو ته به ئے تیار نهٔ وی ولے ؟ ځکه چه دا زمونږ د مذهب سره موافق نهٔ دے، دا د یهودو خبره ده۔ نو الله تعالیٰ پدے آیتونو کښ زمونږ تربیت کوی او مونږ یروی چه تاسو ددے خپل نبی په خبرو کښ چون وچرا اُونکړئ بلکه فی الفور تسلیم شئ۔ او دا توقے مه ګنړئ۔ (اَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا)

نو عنوان د آیت دے : (بَيَانُ تَعَنُّتِ الْيَهُوْدِ فِيْ أَحْكَامِ اللّٰهِ وَتَاخِيرُهُمْ) (یعنی پدے کښې د یهودو تعنت او چون وچرا او تاخیر په احکامو د الله تعالیٰ کښې بیانیږی)۔

اَنْ تَذْبَحُوْا بَقَرَةً : د بقرے د ذبح کولو امرئے ورته ولے کولو ؟ (۱) نو یو د دوی طاعت او عدم طاعت معلومول مقصد وو چه دوی څومره تابعدار دی او څومره نهٔ دی۔ د الله تعالیٰ په هرڅه کښې امتحان وی۔

(۲)- دویمه وجه امام قرطبیؒ، ماوردیؒ او ابن القیم صاحبؒ په بدائع التفسیر (۳۲۰/۱) کښې لیکلے ده : [لِيُهَوِّنَ عَلَيْهِمْ مَعْبُوْدَهُمْ] (دے دپاره چه دوی ته معبود سپك بنکاره کړی) ځکه دوی د غوا عبادت کړے وو۔ نو ورته اُووئیل شو چه دا په خپل لاس ذبح کړئ چه تاسو ته پته اُولګی چه دا هیڅا له ضرر او فائده نهٔ شی ورکولے۔ او پدے کښې تنبیه او خبردارے وو چه دا قسم حیوان د ذبح او د حرث او د سقی (ایوے، اُوبه خور) د ذلت نه ځان نشی بچ کولے۔ نو دا به د اُلوهیت دپاره څنګه صلاحیت اُولری۔ لکه یو مشرك تازه مؤحد شی او هغهٔ ته اُووئیل شی چه د فلانی زیارت (بابا) نه جنډے ماتے کړه، دے دپاره چه هغهٔ ته معلومه شی چه دا هیڅا له نفع او نقصان نشی ورکولے او هیبت د بابا ئے د زړهٔ نه اُوځی۔

او پدے واقعه کښې شخصی جزئی ډیر فوائد به راځی لکه د بنی اسرائیلو تعنت او چون وچرا، او ډیرے ځایه تپوسونه، او دا اُمت منع کول دی چه د یو شی په حکمة نهٔ پوهیدلے نو بس تسلیمیږئ، په هغے باندے اعتراضونه مهٔ کوئ۔ دا پکښې عظیمه فائده ده۔

فائده : غوا أَبْلَدُ الْحَيَوَان (په حیواناتو کښې ډیر کم عقل) دے، اګرکه مشهور نهٔ دے او بنی اسرائیل پدے کم عقل حیوان باندے دوه ځل دوهوکه شویدی۔ اشاره ده چه مشرك دغه شان کم عقل او کم دماغے وی۔ په معمولی څیزونو د عظیم ذات نه دهوکه شی۔

(۲) **دویم قول** : پدے کښې د عامو مفسرینو قول دا دے چه دا واقعه مخکښې وه په ذبح د غوا باندے او تقدیم تاخیر په واقعه کښې شویدے دپاره ددے چه د هرے واقعے نه خپلے خپلے فائدے راوځی لیکن ددے قول معتمد تائید نشته۔ لهذا د قتل واقعه ددے اصل سبب او باعث نهٔ وو، هغه په کښې خود بخود راپیښه شویده۔

دلائل دا دی : ۱- ځکه که هغه سبب وے نو دوی به سمدستی ذبح کړی وے، تال

متهول تـه ضرورت نۀ وو ځکه چه قاتل زر معلوم شویوے۔ او حال دا چه د ابن عباس ﷺ نـه نـقـل دی چه دوی څلویښت کاله پسې ذبح کړے وه۔ هغه فرمائی : [اِنَّ اَصْحَابَ الْبَقَرَةِ بَنِیْ اِسْرَائِیْلَ طَلَبُوْهَا اَرْبَعِیْنَ سَنَةً حَتّٰی وَجَدُوْهَا عِنْدَ رَجُلٍ فِیْ بَقَرٍ لَهٗ......... فَذَبَحُوْهَا فَضَرَبُوْهُ بِعُضْوٍ مِنْهَا فَقَامَ تَشْخُبُ اَوْدَاجُهٗ دَمًا، فَقَالُوْا لَهٗ مَنْ قَتَلَكَ؟ قَالَ : قَتَلَنِیْ فُلَانٌ]

(یعنی غوا الا بنی اسرائیلو دغه غوا څلویښت کاله طلب کوله آخرئے د یو سړی سره وموندہ د هغۀ په نورو غواګانو کښے..... نو دغه ئے ذبح کړه او د هغے په یو اندام سره ئے مقتول ووهلو، نو هغه راپاڅیدو چه وینه ترے روانه وه، دوئ ورته وویل : چا وژلے ئے ؟ هغه وویل: فلانی)۔ (ابن ابی حاتم، الدر المنثور : ۱/ ٤١٤)

۲- دویم دا چه دا واقعه ئے په (اِذْ) لفظ سره راوړه، اشاره ده چه دا مستقله واقعه ده او د یهودیانو حیله پکښې ذکر ده۔

۳- دریم دا چه ترتیب قرآنی دلالت کوی چه دا واقعه مقدم وه او واقعه د قتل النفس روستو وه۔ لکه مخکښے د ابن عباس ﷺ په روایت کښے ذکر شو۔

یَاْمُرُکُمْ : (۱) **فائده** : ددے نه معلومیږی چه امر د شارع د وجوب دپاره وی مګر که دلیل ددے په خلاف موجود شی۔

(۲) **فائده** : بنی اسرائیلو کښې تعنت زیات وو، د نبی د خبرے پوره احترام ئے نۀ کولو نو ځکه موسی علیه السلام پدے مقام کښې الله تعالیٰ ته نسبت د امر اُوکړو چه دا زما امر نۀ دے بلکه دا د الله تعالیٰ امر دے نو ددے عملی کول فرض دی۔ او قرآن او حدیث کښې د تاکید په صورت کښې او د حل او حرمت په باب کښې الله تعالیٰ ته نسبت کیږی۔

بَقَرَةً : ددے نه حقیقی ظاهری غوا مراد ده او نفس ترے نۀ دے مراد لکه بعض صوفی مفسرین لیکی چه مراد دلته خپل نفس نه بد صفات ویستل او هغه د شهواتو نه منقطع کول مقصد دے۔

فائده : غواګانے الله تعالیٰ ددے دپاره پیدا کړیدی چه (۱) هغه ذبح کړے شی او د غوښے او د هډوکو نه ئے فائده واخستے شی۔ (۲) د هغے نه پئ (شوده) حاصلول۔ (۳) ایوه کول۔ (٤) او ارټ کښې استعمالول۔ (اُویۀ پرے راوخکل) ددے نه ماسوا نورے فائدے ترے اخستل صحیح نۀ دی لکه هغے باندے بعض خلق ګاړی تړی، بعض خلق پرے سورلی کوی دا ظلم دے۔ حدیث کښې دی : یو سړے په غوا باندے سور وو نو هغے

ورته خبرے اوکړے : [اِنَّا لَمْ نُخْلَقْ لِهٰذا، اِنَّمَا خُلِقْنَا لِحَرَاثَةِ الْأَرْضِ]
(مونږ دے (سوریدلو) له نۀ یو پیدا شوی، مونږ د زمکے د کروندے دپاره پیدا یو) خلقو اُووئیل : [سُبْحَانَ اللّٰهِ بَقَرَةٌ تَكَلَّمُ] تعجب دے ! غوا هم خبرے کوی) نو نبی ﷺ اُوفرمایل : زۀ پدے ایمان راوړم او ابوبکر او عمرئے هم راوړی۔ او په دغه مقام کښ ابوبکر او عمرؓ نۀ وو موجود، (او دغوی د ایمان ګواهی ئے ورکړه)

[بخاری : ۳٤۷۱، مسلم : ٦٣٣٤] مسند احمد ۲/۲٤۵، السنن الکبری : ۸۱۱٤]

(أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا) همزه د تعجب دپاره ده، او هُزواً مصدر مبنی للمفعول دے یعنی (مَهْزُوًّا بِنَا) (آیا ته مونږ توقه کړے شوی جوړوے) یعنی توقے راپورے کوے)

(۱) د غوا محبت ئے دومره زړه ته داخل شوے وو چه د هغے په ذبح کولو ئے تعجب کولو (وَأُشْرِبُوا فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْعِجْلَ) نو ځکه ئے اُووئیل : ته مونږ سره توقے کوے۔ مطلب ئے دا وو چه د غوا په حلالو کښ څه فائده ده ؟ لهذا دا د جاهلانو خبرے دی۔

او(۲) دویمه وجه د تعجب ئے دا وه چه دوی په حکمة نه پو هیدل : او مطلب ئے دا وو : [نَسْأَلُكَ عَنِ الْقَتِيْلِ وَعَمَّنْ قَتَلَهُ وَتَأْمُرُنَا بِذَبْحِ الْبَقَرَةِ] (معالم) مونږ تا نه ددے وژلے شوی او د قاتل په باره کښ تپوس کوو او تۀ مونږ ته د غوا په ذبح کولو حکم کوے) دواړو کښ څه مناسبت دے۔دا خو توقے ښکاره کیږی۔ (بنا په یو تفسیر)

فائده : کله چه یو حکم شرعی راشی او انسان د هغے په حکمة باندے نۀ پو هیږی نو هغه له تسلیمیدل پکار دی او خپل عقل به نۀ استعمالوی۔ بلکه دا د یهودو کار دے۔

(۲) دویم پدے کښ نسبت د استهزاء نبی (موسی) علیه السلام ته دے۔

فائده : آیا ددے کلمے په وئیلو سره دوی کافر شول او که نۀ ؟ نو پدے کښ دوه قوله دی : (۱) اول دا چه دوی پدے کلمه کافر شویدی۔ وجه دا ده چه پیغمبر ته ئے د توقو نسبت کړیدے او د نبی امر ورته توقے ښکاره شویدی۔

دویم دا چه موسی علیه السلام خو ورته د الله تعالیٰ خبره کړے وه او دوی هغے ته توقے اُووئیلے۔ غرض ئے دا وو چه موسیٰ علیه السلام به مونږ ته د ذبحے امر په رشتیا سره نۀ کوی نو دا نیت د خیانت دے نبی ته په وحی الهی کښ او دا کفر دے۔

(۲) دویم قول دا دے چه دا جاهلان وو، د نبی شان ئے سم نۀ پیژندلو او د دوی اراده صحیح وه لیکن الفاظ ئے د زړه د سختوالی نه کاږۀ وئیلی دی. نو پدے سره کافر شوی

نۀ دی اګرکـه دا کار ګناه ده۔ دوی له پکار وو چه په بنائستـه طریقه ئې داسې تپوس کړې
وې چه ددې غوا په ذبح کولو کښې به څه حکمة وی چه مونږه پرې عمل اُوکړو ؟۔
(الْجَاهِلِيْنَ) (۱) (اَیِ الْمُفْتَرِیْنَ عَلَی اللّٰہِ) (د دروغ جوړونکونه په الله تعالیٰ) دې نه دا فائده
معلومه شوه چه مفتری علی الله (په الله تعالیٰ باندې دروغ جوړونکې) جاهل وی یعنی
دا خو د ناپوهۍ کار دې چه الله تعالیٰ باندې دروغ جوړوی۔
(۲) بعض اهل لغت وائی چه جهل او جهالة کله نفس استهزاء ته وئیلې شی نو معنیٰ
دا ده : (اَیِ الْمُسْتَهْزِئِیْنَ بِالْمُؤْمِنِیْنَ) (معالم، خازن، اللباب)
(چه زۀ شم د توقو کونکو نه په مؤمنانو پسې) او ددې نه معلومه شوه چه په خلقو
پسې توقې او استهزاء کول جهالت دې۔
۲ – دارنګه د ځان نه فتوې ورکول چه الله تعالیٰ داسې وئیلی دی او هغه نۀ وی
وئیلی نو دا ویناګانې جهالت دې۔ ۳– په توقو کښې دروغ وئیل هم کبیره ګناه ده۔
(٤) بعض وائی : (الْجَاهِلِیْنَ بِالْجَوَابِ لَا عَلٰی وَفْقِ السُّؤَالِ) (معالم، خازن)
یعنی الله تعالیٰ پورې پناه غواړم چه زۀ د جاهلانو نه شم په جواب غیر موافق د سؤال)
چه تاسو رانه د قتل د نفس سوال کړې وی او زۀ درته د هغې مخالف جواب درکوم بلکه
دا غوا ذبح کول بعینهٖ ستاسو د سوال جواب دې، پدې سره به قاتل معلوم شی۔
(۵) بعض وائی : [مِنَ الْجَاهِلِیْنَ بِمَا فِی الْاِسْتِهْزَاءِ فِیْ اَمْرِ الدِّیْنِ مِنَ الْعِقَابِ الشَّدِیْدِ
وَالْوَعِیْدِ الْعَظِیْمِ] (اللباب) (چه زۀ شم د ناخبرو نه په هغه سخت عذاب او مضبوط وعید
چه په دین کښې په استهزاء باندې حاصلیږی) یعنی ما ته خو په دین کښې د توقو سزا او
عذاب معلوم دې نو زه به څنګه توقې اُوکړم۔
بیا پدې جمله کښې ډیر تاکیدات دی (۱) یو دا چه د استهزاء نه په الله تعالیٰ پورې پناه
طلب کول ضروری دی۔ (۲) استهزاء خو د جاهلانو کار دې۔ (۳) او اشاره ده چه زۀ
جاهل نۀ یم او تاسو جاهلان ئې چه ما ته د توقو نسبت کوئ۔ (قرطبی)
فائده : جهل معنیٰ : په نالائقه طریقه سره څه کار کول دی، (مفردات راغب) یعنی
الله تعالیٰ ته د داسې څیز نسبت کول چه هغه ئې امر نۀ وی کړې دا خو جهل دې۔
او اسباب د جهل نهه دی (۱) استهزاء فی احکام الله (د الله تعالیٰ په احکامو کښې
استهزاء کول) لکه پدې آیت کښې شوه۔

(۲) نفس بے خبری د حقیقت نه۔ (سورة البقره : ۲۷۳)
(۳) دریم هر قسم گناه کول جهل دے۔ (سورة النساء : ۱۷)۔
(٤) څلورم : طلب د تشبیه د مشرکانو (سورة الاعراف : ۱۳۸)
(٥) پنځم : فقراؤ پورے مسخرے کول۔ (سورة هود : ۲۹)
(٦) شپږم : پردو زنانو ته میلان کول۔ (سورة یوسف : ۳۳)
(۷) اُووم : بد فعلی د نارینو سره (سورة النمل : ٥٥)
(۸) اتم : خیانت کول په امانت د الله تعالیٰ کښې (سورة الاحزاب : ۷۲)
(۹) نهم امر : کول په عبادت د غیر الله۔ (سورة الزمر : ٦٤)

نو دوی پوهه شو چه خبره خو رشتیا ده نو بیائے چون وچرا شروع کړله په تپوسونو کولو سره دے دپاره چه دا حکم منسوخ شی، همغه شان په زړهٔ کښې ئے محبت د غوا پاتے وو۔

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا
اُووئیل دوی : دعا اُوغواړه زمونږ دپاره د رب خپل نه چه بیان کړی مونږ ته
مَا هِيَ ۚ قَالَ إِنَّهُ
چه څنګه ده دا غوا (یعنی عمرئے څومره دے؟) اُووئیل موسی علیه السلام یقیناً الله
يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَّلَا بِكْرٌ عَوَانٌ بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ
فرمائی دا غوا ده، نهٔ بوډئ (زړه) ده او نهٔ نوے ځوانه ده، درمیانه ده په مینځ ددے کښې،
فَافْعَلُوا مَا تُؤْمَرُونَ ﴿٦٨﴾
پس اُوکړئ هغه کار چه تاسو ته ئے حکم کیدے شی۔

تفسیر : اُدْعُ لَنَا رَبَّكَ : دا هم د تعنت او د سختئ الفاظ دی، چه ګویا دا د موسیٰ علیه السلام

رب دے او د دوی نۀ دے، دارنګه ګویا کښې ددے سوال تعلق صرف د موسیٰ علیه السلام او د هغه د رب سره دے او د دوی ورسره څه خاص دلچسپي نشته دے، دا صرف د موسیٰ علیه السلام او د هغه د رب معامله ده۔ بیا موسیٰ علیه السلام ته دا وئیل چه هغه دِے خپل رب نه معلومه کړی چه دا غوا څه شے دے، دلته مقصد خو دا وو چه غوا څنګه وی، لیکن دوی د استهزاء او انکار په طور تپوس کوی چه غوا لا څه شے دے؟، ګویا کښې دوی د غوا د ماهیت (حقیقت) نه خبر نۀ دی۔ (فی ظلال)

يُبَيِّنْ لَّنَا مَا هِيَ: یعنی عمرئے څومره دے۔ او دا وړه ده او که غټه ؟۔

مفسرین فرمائی : د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه نقل دی :

[فَلَوْ اَنَّهُمْ عَمِدُوْا اِلٰى اَدْنٰى بَقَرَةٍ فَذَبَحُوْهَا لَاَجْزَأَتْ عَنْهُمْ وَلٰكِنَّهُمْ شَدَّدُوْا عَلٰى اَنْفُسِهِمْ بِالْمَسْاَلَةِ فَشَدَّدَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ بِالْمَنْعِ] [بحر العلوم للسمرقندی ۱/٦٦ وغیره]

که دوی هره غوا رانیولی وے او حلاله کړے وے نو بس فرض به ادا شوی وے لیکن دوی په ځان سخته کړه په تپوسونو نو الله تعالیٰ هم پرے سخته کړه)۔ نو دغه رنګه په احکام شرعیه ؤ کښې هم سختی نۀ ده پکار۔ بس چه الله تعالیٰ او رسول یو امر اُوکړو نو (آمَنَّا او سَلَّمْنَا) وئیل پکار دی۔ او په جلتئ سره هغے باندے عمل پکار دے۔

نبی صلی الله علیه وسلم هم ددے نه منع کړیده چه بے ځایه تپوسونه به نۀ کوئ او په مطلق حکم به عمل کوئ۔

لکه حدیث کښې دی : نبی صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل : حج فرض دے، اقرع بن حابس رضی الله عنه تپوس اُوکړو : هرکال ؟۔ نبی صلی الله علیه وسلم (پدے سره غصه شو) وے فرمایل :

[لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ] که زۀ ووایم آؤ، نو دا به (درباندے هر کال) فرض شوے وے او بیا به مو طاقت نۀ لرلے۔ بیائے اُوفرمایل : [ذَرُوْنِيْ مَا تَرَكْتُكُمْ] (یعنی ما چه د یو شی تشریح نۀ وی کړی نو د هغے بے ځایه تپوسونه ما نه مۀ کوئ)۔

[فَاِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلٰى اَنْبِيَائِهِمْ فَاِذَا اَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَدَعُوْهُ] --[بخاری وصحیح مسلم : ۱۳۳۷]

[ځکه چه ستاسو نه مخکښې هلك په ډیرو (بے ځایه) تپوسونو او د انبیاو په مخالفت سره هلاك شول، نو هرکله چه زۀ تاسو ته په یو شی باندے حکم وکړم نو هغے ته راتلل کوئ د خپل وس او طاقت مطابق او کله چه زۀ تاسو د یو شی نه منع کړم نو هغه

پریدئ)۔

که د غوا وړوکوالے، غټوالے او رنګ او عمل وغیره د الله تعالیٰ مراد وے نو خپله به ئے د هغے بیان کړے وے، هرکله چه الله تعالیٰ د هغے بیان اُونکړو نو بس یوه غوا ذبح کولو سره کار پوره کیدو۔ او دا قانون په احکام شرعیه ؤکښې ډیر پکار راځی چه یو مقام کښې الله تعالیٰ آسانی کړی وی او حکم ئے مطلق ذکر کړے وی نو انسان به په هغے کښې د ځان نه قیدونه نهٔ لګوی، لکه بعض فقهاؤ په باب د مسح د جوربین او خفین وغیره کښې قیدونه لګوی چه هغه په احادیثو کښې نهٔ دی ثابت۔

اِنَّهٗ : دا ضمیر شان دے یعنی شان دا دے۔

فَارِضٌ : ډیر عمر والا بوډئ ته وائی چه ډیر بچی ئے راوړی وی۔

بِکْرٌ : دیته وائی چه نوے ځوانه وی، حمل ئے لا نهٔ وی شوے۔ عوان دیته وائی چه درمیانه عمر والا وی یو بچے دوه ئے پیدا شوی وی۔

(بَیْنَ ذٰلِكَ) یعنی په بینونت حقیقی سره یعنی نهٔ فارض ته مائله ده او نهٔ بکر ته۔

﴿ فَافْعَلُوْا مَا تُؤْمَرُوْنَ ﴾ چون وچرا مه کوئ۔ او د الله تعالیٰ په امر کښې تاخیر مه کوئ۔ او امر ئے ورته دوباره اُوکړو دپاره د تاکید چه دا حکم په ډیرو تپوسونو نهٔ منسوخ کیږی بلکه دا به ضرور کوئ۔

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا
اُووئیل دوئ اُوغواړه زمونږ دپاره د رب خپل نه چه بیان کړی مونږ ته
مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ
چه څه دے رنګ ددے، اُووئیل هغهٔ یقیناً الله فرمائی چه یقیناً دا یوه غوا ده ،
صَفْرَآءُ ۙ فَاقِعٌ لَّوْنُهَا تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ ﴿۶۹﴾
زیړ رنګ والا، خالص دے زیړ رنګ د هغے، خوشحاله کوی کتونکو لره۔

تفسیر : دا بل تعنت او تشدد دے چه بار بار تپوسونه کوی او په خپل ځانونو باندے

ئے وسیعه دائره تنگه کړه، ځکه مخکښې په هر قسم غوا ذبح کولو باندے عمل کیدو اُوس به دغه شان صفاتو والا غوا پیدا کوی۔ نو دوی اُووئیل : کوم قسم غوا حلاله کړو، زیړه، سپینه، توره ؟۔

(فَاقِعٌ) دے ته وائی چه زیړ والی کښې زیادت او کمال وی، بل رنګ پکښې نۀ وی۔ یعنی خالص زیړ رنګ۔ او فاقع تاکید صرف د زیړ رنګ دپاره راځی نۀ د بل رنګ دپاره۔ لکه په عربئ کښې د سور رنګ تاکید په اَلْأَحْمَرُ الْقَانِئُ او د تور رنګ تاکید په اَلْاَسْوَدُ الْحَالِكُ او د سپین رنګ اَلْأَبْيَضُ الْخَالِصُ یا اَلنَّاصِعُ او د شین رنګ په اَلْأَخْضَرُ النَّاضِرُ سره راځی۔

﴿تَسُرُّ النَّاظِرِيْنَ﴾ ځکه خړبه ده، مزیداره، ښائسته ده۔ او زمیندار او شپونکے او هر څوك چه ورته ګوری نو پرے خوشحالیږی، ځکه حیواناتو کښې هم الله تعالیٰ یو ډول اچولے دے۔

فائده : عام مفسرینو د علی او ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه هغوی به ترغیب ورکولو په زیړ پیزار اغوستلو کښې او وئیل به ئے چه زیړ رنګ په زړه کښې خوشحالی پیدا کوی او غم لرے کوی د وجه ددے آیت نه ۔ او ابن زبیرؓ او یحیی بن ابی کثیرؒ به د تور پیزار نه منع کوله چه دا انسان له غم جوړوی۔ (القرطبی ۱/٤٥١) (الثعلبی روح المعانی، اللباب، تفسیر ابی السعود ۱/۱۱۲)

لیکن دا د تجربے خبره ده او حکم شرعی نۀ دے۔

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَّنَا
اُووئیل دوئ : اُوغواړه زمونږ دپاره د رب خپل نه چه بیان کړی مونږ ته
مَا هِيَ ، إِنَّ الْبَقَرَ تَشٰبَهَ عَلَيْنَا ،
چه څنګه دے صفت (عمل) ددے غوا، یقیناً دا غوا ګډه وډه شوه په مونږ باندے
وَاِنَّآ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ ﴿۷۰﴾
او یقیناً مونږ که چرته د الله خوښه شی خامخا مقصد ته رسیدونکی یو۔

تفسیر : پدے کښې د دوی دریم سوال ذکر کوی او دا د مخکښې سوال نه هم ډیرے ضرورته دے ځکه چه د غوا عمل او کار معلومول په ذبح کولو کښې ضروری نهٔ دی۔ لیکن دا د چون وچرا والا خلق وو۔ یعنی مقصد ئے دا وو چه بله نخه وغیره پکښې شته او که نهٔ، دارنګه ارتې ده او که غیر ارتې ده۔ کج روی او د الله تعالیٰ د رسول په ډیرو تپوسونو تنګول د بنی اسرائیلو فطرت ثانی وو۔

مَاهِيَ : یعنی زیړے غواګانے خو ډیرے دی، خو دا کارنده ده او که نهٔ ده ؟۔

﴿ اِنَّ الْبَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا ﴾ البَقَر : اسم جنس دے، یعنی دا جنس غوا په مونږ ګډوډه شوه۔ الله تعالیٰ خو ورته صفا بیان کړے وو خو دوی په ځان ګډه وډه کړه۔ ذهن کښې ئے شکوك او شبهات راتلل۔ لیکن یوه خوږه کلمه ئے اُووئیله نو د هغے د برکت نه ئے عمل اُوکړو، او شکونه ئے ختم شو او تسلی ئے اُوشوه۔

فائده : پدے کښے اشاره ده چه د الله تعالیٰ او د هغه د رسول بیان مکمل وی لیکن کوم خلق چه په کښې شکونه کوی، یا پرے نهٔ پوهیږی او تسلی ئے نهٔ کیږی نو دا د هغوی خپل نقصان دے۔

﴿ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ ﴾ انابت پکښې راغلو نو الله تعالیٰ ورته هدایت اُوکړو، مقصد ته ئے اُورسول۔ حدیث کښې راغلی دی :

[لَوْ لَمْ يَسْتَثْنُوا لَمَا بُيِّنَتْ لَهُمْ آخِرَ الْأَبَدِ]

(ابن جریر : ۱۲۴۹، ابن کثیر عن قتادة مرسلا)

(که دوی ان شاء الله نهٔ وے وئیلے نو قیامته پورے به دوی ته بیان نهٔ وے شوے). هم دغه شان به دوی سوالونه کولے. یهود خو قیامته پورے شته نو دا سوالونه به دوی باندے واردیدلے. او دا کلمه داسے عظیم الشان ده چه سلیمان ﷺ نه هیره شوه نو د هغه د سلو بی بیانو نه هیڅ اولاد پیدا نهٔ شول بلکه یو ناتمام بچے پیدا شو. او د نبی ﷺ نه هیره شوه نو څلویښت یا پنځوس ورځے وحی بنده وه.

لَمُهْتَدُوْنَ : (۱) لَمُهْتَدُوْنَ اِلٰی ذَبْحِهَا) (یعنی مونږ به ددے ذبح ته اُورسیږو).

(۲) لَمُهْتَدُوْنَ اِلٰی اِجْرَاءِ أَحْكَامِ اللّٰهِ) د الله تعالیٰ د حکم عملی کولو ته به اُورسولے شو)

(۳) لَمُهْتَدُوْنَ اِلٰی وَصْفِهَا) (خازن) (ددے صفاتو ته به اُورسولے شو).

قَالَ اِنَّهٗ يَقُوْلُ اِنَّهَا بَقَرَةٌ

اُووئیل موسیٰ ﷺ یقیناً الله تعالیٰ فرمائی : یقیناً شان دا دے چه دا یوه غوا ده

لَّا ذَلُوْلٌ تُثِيْرُ الْاَرْضَ وَلَا تَسْقِى الْحَرْثَ ۚ

چه نهٔ دے ښخ اړولے شوے د هغے چه اَړوی زمکه او نهٔ اُوبه کوی فصل لره ،

مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيْهَا قَالُوا الْـٰٔنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ۚ

روغه رمته ده، هیڅ داغ نښته پدے کښ، اُووئیل دوئ : اُوس دِے راوړو پوره بیان،

فَذَبَحُوْهَا وَمَا كَادُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۱﴾

نو حلاله ئے کړه او نزدے نهٔ وو دوئ چه دا کار ئے کړے وے.

تفسیر : لَاذَلُوْلٌ : (یعنی مُذَلَّل)، دے ته وائی چه تابع کړے شوی وی، ښخ ورله چا اَړولے وی په جغ باندے. یعنی کار ئے کړے نهٔ دے.

تُثِيْرُ الْاَرْضَ : دا صفت د ذَلُوْلٌ دے د (لَا) د لاندے دے. یعنی زمکه وغیره ئے نهٔ ده اَړولے،

قولبه پرے نهٔ ده شوے ځکه کله چه په غوا باندے قولبه اُوشي نو بيا ئے ځتے واوړی۔ او ددے بعض خلق داسے معنیٰ کوی ((اَړوی زمکه))۔ دا معنیٰ صحیح نهٔ ده۔ ځکه که دا معنیٰ واخلو نو بیا د (تُثِيْرُ الْاَرْضَ) او (ذَلُوْلٌ) تعارض راځی ځکه چه زمکه ئے واړوله نو بیا خو مذلله شوه، بلکه دلته د نفی معنیٰ ده۔ او دا پدے طریقه ده چه (تثیر الارض) جمله صفت د ذلول دے، نو په مینځ کښے ئے د پښتو په ترجمه کښے (چه) لفظ راځی۔ یعنی غاړه وتلے نهٔ ده چه زمکه اَړه وی۔

(وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ) یعنی چا پرے فصل هم نهٔ دے اُوبهٔ کړے۔

مُسَلَّمَةٌ : (۱) (اَیْ سَالِمَةٌ مِنَ الْعُيُوْبِ وَالآثَارِ) (ابن عباس، قتاده)

(د عیبونو او نخو نه روغه ده)

(۲) (مُسَلَّمَةُ الْقَوَائِمِ وَالْخَلْقِ) (عطاء الخراسانی) (زاد المسیر)

(یعنی روغو خپو او اندامونو او شکل والا ده)۔

(شِيَةَ) (اَیْ لَا لَوْنَ فِيْهَا غَيْرَ الصُّفْرَاوِيَّةِ) (د زیړ رنګ نه پکښ علاوه بل رنګ نشته) او شِيَةٌ اصل کښ (وَشْيٌ) دے، هغه داغ اواثر او بدل رنګ ته وئیلے شی چه د عام رنګ نه مخالف وی۔ (مفردات)۔

بِالْحَقِّ : د حق دوه معنے دی : ۱- حق مقابل د باطل: یعنی اُوس دِے حق بیان کړو او اُوسه پورے دِے هسے باطلے خبرے کولے۔ نو ابن جریر الطبریؒ او ابن القیمؒ لیکی : (هٰذِهٖ رِدَّةٌ ظَاهِرَةٌ) دا دلیل دے چه دا د اسلام نه مرتد شوی وو، ولے پیغمبر ته ځوك داسے وائی چه دا خبره باطله ده۔ بلکه د پیغمبر ټولے خبرے حقے دی۔

۲- دویم راجح دا ده چه دوی مسلمانان وو لیکن جاهلان وو، د حق معنیٰ ده (اَلْبَيَانُ الْكَامِلُ) یعنی اُوس دِے پوره بیان اُوکړو۔ او اُوسه پورے دِے ناقص بیان وو۔ دا خبره ئے هم غلطه ده، (او پدے باندے دوی سخت ګناهګار شویدی) وجه دا ده چه اُوسه پورے هم ښهٔ پوره کامل بیان وو خو دوی په ځان په زوره سختوله، بس یوه غوا راونیسئ، حلاله ئے کړئ ، کار به اُوشی۔ د مبتدعینو هم دا طریقه ده چه د هغوی د پیغمبر په کامل بیان باندے یقین نهٔ راځی بلکه هغه ورته ناقص ښکاری او د خپلو مشرانو مُلیانو خبرے ورته کاملے ښکاری، قرآن او حدیث ورته نیمګړی ښکاری چه پدے کښ خو لسمه حصه دین هم نشته۔ وائی : دا امامانو پوره کړیدے!!!۔

(فَذَبَحُوهَا) نو بس په دغه وخت کښې ئے حلاله کړه۔
(وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ) يعنی نزدے نهٔ وو چه دوی مخکښې ددے بيان نه دا کار کړے وے، ځکه د غوا تقدس او عظمت ئے په زړه کښې پروت وو، دا د دوی بل قباحت وو۔ خو د ان شاء الله په وجه دوی له الله تعالیٰ خير او برکت ورکړو۔ او د غوا ذبح کولو ته تيار شو۔
(۱) [وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ لِغَلَاءِ ثَمَنِهَا] (نزدے نهٔ وو چه دوی دا کار کړے وے د وجه د ډيروالی د پيسو ددے نه) دا وجه ابن جريرؒ غوره کړيده او ابن کثيرؒ کمزورے کړيده۔
(۲) دويمه وجه : [وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ خَوْفَ الْفَضِيحَةِ]
(د شرم نه يريدل چه که غوا ذبح کړو او مړے پرے راژوندے شی نو حال به ښکاره شی او اُويه شرميږو) دا وجه هم دومره غوره نهٔ ده۔
(۳) غوره دا ده چه (وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ لِتَعَنُّتِهِمْ وَفَسَادِ أَنْفُسِهِمْ)
(يعنی دوی دا کار نشو کولے ځکه چه په دوی کښې تعنت (چون وچرا) او فساد د نفسونو وو) د الله تعالیٰ حکم ته نهٔ تياريدل ليکن د ان شاء الله په وجه ورته توفيق ملاؤ شو)۔
مفسرين وائی : دغه غوا د يو يتيم سره پيدا شوه چه مور ورته وئيلی وو چه دا په سل روپۍ خرڅه کړه، نو يو سړی ورله دوه سوه روپۍ ورکولے ليکن دے د مور تابعدار وو، لاړو د مور نه ئے تپوس اُوکړو چه په دوه سوه ئے رانه غواړی ورکړم؟ مور ورته اُووئيل : خرڅه ئے کړه۔ بيا چه راغلو نو بل سړی ورته درے سوه يادِے کړے، بيا مور پسے لاړو، بيا چه راغلو سړے نهٔ وو، نو په دغه طريقه دغه غوا پاتے شوه او څه موده بعد ددے بنی اسرائيلو ورته حاجت راغلو نو دوی ددے غوا مطالبه اُوکړه، نو هغوی ورته اُووئيل : دومره قيمت به راکوئ چه ددے غوا څرمن د سرو زرو نه ډکه شی، الله تعالیٰ دے بنی اسرائيلو ته سخته کړه ځکه دوی چون وچرا کوله، ليکن دے يتيم ته ئے فائده ورکړه ځکه چه د مور خادم وو نو دوه فائدے پکښې راووتلے يو دا چه څوک د الله تعالیٰ په حکمونو کښې چون وچرا کوی نو الله تعالیٰ به ئے ورته سختوی او کله چه د مور او پلار خدمت کوی نو الله تعالیٰ به ورته کارونه آسانوی او په مالونو کښې به ئے برکت اچوی۔

ددے قصے فوائد :

پدے واقعه کښې ډير فوائد دی : (۱) د غواګانو رنګونه او عمل ذکر شويدے۔
(۲) د يهودو تعنت او په دين کښې چون وچرا۔

(۳) د هغه اَوامرو چه عقل د بنده ورته نهٔ رسیږی د هغے مقابله په عقل باندے کول نهٔ دی جائز۔

(٤) د بنی اسرائیلو بی ادبی۔

(٥) د ان شاء الله برکات۔

(٦) پیغمبرانو ته د استهزاء نسبت کول۔

(٧) استهزاء کول جهالت دے۔

(٨) عظمت د بقرے په زړونو ددے یهودو کښ۔

پدے قصه کښ خارجی فوائد

(۱) [اَلدَّلَالَةُ عَلٰی نُبُوَّةِ مُحَمَّدٍ ﷺ] د نبی ﷺ رشتینوالے او نبوت ترے معلوم شو چه د داسے واقعے خبر ئے وکړو چه خپله ورته نهٔ وو حاضر شوے۔ معلومیږی چه دا په وحی سره معلومه شویده او یهودو پرے اعتراض هم اُونکړو چه دا واقعه غلطه ده۔ نو دا دلیل د یهود او مشرکانو دواړو دپاره شو۔

(۲) (اِثْبَاتُ نُبُوَّةِ مُوْسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ) (د موسیٰ علیه السلام نبوت ترے ثابت شو۔

(۳) (اِثْبَاتُ الْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ بَيْنَ الرُّسُلِ) د ټولو رسولانو ترمینځ دا خبره ثابته وه چه بعث بعد الموت راتلونکے دے)۔ دنیا کښ پرے ډیر دلائل شته۔

(٤) (اِثْبَاتُ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْفَاعِلُ الْمُخْتَارُ) (دے نه دا ثابتیږی چه الله تعالیٰ د هر خیز فاعل مختار دے، د هغه خوښه ده چه کوم شے پیدا کوی او په کوم شی امر کوی او کوم نهٔ پیدا کوی او نهٔ پرے امر کوی۔

(٥) مقصد (تَعْدِيْدُ النِّعَمِ عَلٰی بَنِیْ اِسْرَائِيْلَ) (بنی اسرائیلو باندے نعمتونه شماری)۔

(٦) (اِخْبَارُ النَّبِیِّ ﷺ بِقَدِيْمِ كُفْرِهِمْ وَخِلَافِهِمْ وَتَعَنُّتِهِمْ عَلَى الْاَنْبِيَاءِ وَعِنَادِهِمْ وَبُلُوْغِهِمْ فِيْ ذٰلِكَ مَا لَمْ يَبْلُغْهُ اَحَدٌ مِنَ الْاُمَمِ قَبْلَهُمْ) نبی ﷺ ته خبر ورکوی چه دوی د پخوا نه دغه شان انکاریان او خلاف کونکی دی او انبیاؤ سره تعنت او عناد کوی او دومره سخت عنادیان دی چه د دوی نه پخوانو امتونو دومره عناد نهٔ دے کړے) د الله تعالیٰ آیات او دلائل ئے اُولیدل، نو نورئے هم زړونه سخت شو۔

(۷) نو پدے کښ یو قسم تسلی هم ده نبی محمد رسول الله ﷺ ته چه هرکله دوی د خپلو انبیاؤ سره داسے کارونه او مخالفتونه کړیدی نو دا څه ناشنا نهٔ ده چه د دوی کشران

د هغه سره دغه شان معامله اُوکړی۔ (فَلْيَهُنْ عَلَيْكُمْ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَالْمُؤْمِنُونَ مَا تَرَوْنَهُ مِنْ عِنَادِهِمْ وَإِعْرَاضِهِمْ عَنِ الْحَقِّ) (اللباب)۔ (نو اے نبی او مؤمنانو تاسو باندے دِ دهغوی عناد او اعراض د حق نه مشکل پرے نهٔ وزی)۔

(۸) (تَحْذِيرُ أَهْلِ الْكِتَابِ الْمَوْجُودِينَ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ ﷺ) (موجوده اهل کتابو ته یره ورکوی چه د مشرانو په شان کارونه اُونکړی ورنه په دوی به هم هغه شان عذابونه راشی کوم چه د دوی په مشرانو په دغه مختلفو واقعاتو کښې راغلی وو)۔

(۹) اسباب د زوال الخلافة هم بیان شول۔

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا ۖ
او کله چه قتل کړو تاسو یو نفس نو مختلف شوئ د هغهٔ په باره کښې (چه دا به
وَاللَّهُ مُخْرِجٌ مَا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ ﴿۷۲﴾
چا وژلے وی؟) او الله تعالیٰ راویستونکے دے هغه څیزونو لره چه تاسو ئے پټوئ۔

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ د دوی بل (څلورم) عیب بیانوی (اِتِّهَامُ الْأَبْرِيَاءِ) (په بری خلکو تهمتونه لګول) چه ګوره دوی کښې دا مرضونه هم دی چه په پاکو خلقو باندے تهمتونه لګوی، په دے طریقه چه یو سړے راولګیدو او تره ئے مړ کړو په دے وجه چه ددهٔ ښځه یا لور په نکاح واخلی (بناء په دوه روایتونو) او مال به ئے هم راته پاتے شی او نور ځامن د هغه نهٔ وو۔ (او ډیر ظالمان ددے امت هم دا کار کوی) کله ئے چه مړ کړونو په یو طرف کښې د چا کور مخے ته ئے واچولو، سحر کښې په هغه باندے خلق راجمع شو چه دا قتل چا کړیدے نو پدے کښې دا سړے راغلو او په هغه خلقو ئے د دروغو دعوه اُوکړه چه تاسو زما تره وژلے دے ما ته ددهٔ دیت راکړئ نو د منافقت ژړاګانے ئے شروع کړلے او په سر باندے ئے خاورے بادولے،

(دا د یهود او نصاراؤ طریقه وه، اُوس هم مسلمانان قتل کړی او ډزے بمباری پرے اُوکړی، تکلیفونه ورکړی او وائی چه دا مجاهدینو اُوکړل)

نو الله رب العالمین د دوی دا عیب بیانوی چه ګوره کار خپله غلط اُوکړی او بیا ئے په

بل چا اَړوی، موسیٰ ﷺ تـه خبر اُوشـو چـه داسـے واقعه ده، نو هغه خلقو ته اُووئيل چه قتـل پـه تـاسـو راغـلـے دے، تـاسـو بـه اُوس ديت وركوئ نو هغوی اُووئيل : مونږ ته ديت وركـول آسـان دی لـيـكـن دا خـو لـوئـی عـيـب او شـرم او پـيـغـوردے زمونږ دپاره چـه قتل رابـانـدے راواوړی، تـه د الله تعالىٰ نه دعا اُوغواړه چه مجرم مونږ ته ښكاره كړی، نو هغه دعـا اُوغـوختـه كړه نو پدے كښ موسى ﷺ تـه وحـی اُوشوه چه دا تياره غوا هم حلاله شـوے ده، او مـړے هـم شـوے دے، ددے غـوا نـه يـوه حـصـه راواخله دا مړے پړے اُووهه، دا سړے به راوژوندے شي او خپل حال به اُووائی۔ (لكه پدے كښ راجح تفسير همدا دے)۔

نو هغه ئے پړے اُووهلو او سړے راژوندے شو، او د قاتل نوم ئے اُوخودلو۔ ليـكـن دے ظالم بيا هم نهٔ منله او انكار ئے كولو چه دا ما نهٔ دے وژلے۔

نـو دلتـه پـه مړی باندے الله تعالىٰ مړے راژوندے كړو۔ دا د الله تعالىٰ د حكمة او د طاقت نـخـه ده۔ (دا دويـمـه واقـعـه ده چـه الله تـعـالىٰ پس د مرګه مړی راژوندی كړيدی) دے نه معلومه شوه چه بهتان تړل او د حقائقو نه انكار كول د يهودو مرض وو۔

د عبد الله بن سلام ﷺ پـه واقعه كښ هم راځی چه دهٔ كله ايمان راوړو نو رسول الله ﷺ ته ئے اُوفرمايل : (إِنَّ الْيَهُوْدَ قَوْمٌ بُهْتٌ) (يهـوديان ډير بهتانيان خلق دی او كه زما د اسلام نـه خبـر شـی نـو پـه مـا بـه بهتان اُوتړی، ستا په نزد به زه عيبجن ښكاره شم، تهٔ د دوی نه زمـا پـه باره كښ تپوس اُوكړه، تپوس ئے اُوكړو : (أَيُّ رَجُلٍ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ فِيْكُمْ؟) عبد الله پـه تـاسو كښ څنګه سړے دے؟ هغوی اُووئيل : ډير ښه سړے دے۔ (خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا وَسَيِّدُنَا وَابْنُ سَيِّدِنَا) (دا هم ښهٔ سړے دے او دده پلار هم ښهٔ سړے وو) نبی ﷺ اُوفرمايل : [أَفَرَأَيْتُمْ إِنْ أَسْلَمَ عَبْدُ اللّٰهِ] كـه عبـد الله بـن سلام ايمان راوړی نو ستاسو به څه حال وی ؟ هغوی اُووئـيـل : (أَعَاذَهُ اللّٰهُ مِنْ ذٰلِكَ) (الله تـعـالىٰ دِےئے د اسلام نه اُوساتی) هغه چرته دا كـار كـوی؟) دے كـښ عبـد الله بـن سـلام راووتـو او كـلـمـه د توحيد ئے اُووئيلـه نو دوی سمدست اُووئـيـل : (شَرُّنَا وَابْنُ شَرِّنَا) (دا هـم ډير ناكاره سړے دے، پلار ئے هم ناكاره وو) د هغهٔ تنقيص ئے شروع كړو۔ عبد الله اُوفرمايل : يارسول الله ! زهٔ ددے خبرے نه يريدلم۔

(صحيح بخاری : ۳۳۲۹)

اُوګـوره مـخامخ لږ ساعت كښ ئے د خپلے خبرے نه رجوع اُوكړه، دا د يهودو او د نصاراؤ كـار دے۔ مسلمان كه د دوئ په خبرو تيروځی نو ډير بد به كوی۔ الله تعالىٰ مونږ ته قرآن

کريم کښې بار بار وئيلي دي چه دوی چل ول او دوهوکه کونکي دي، دوی تاسو سره دهوکه کوی هسے په خله مو خوشحالوی خو ارمان دے چه رجوع قرآن کريم ته اُوشي۔

ددے واقعے فوائد :

(۱) په بريانو (پاکو خلقو) تهمت لګول ګناه کبيره ده او د يهودو مرض دے۔

(۲) اِثْبَاتُ الْمَعَادِ الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ بَيْنَ الرُّسُلِ (د آخرت په راتللو ټول انبياء عليهم السلام متفق دی) چه ضرور به راځي، او د هغے دپاره تياری پکار ده۔

(۲) قُدْرَةُ اللهِ (د الله تعالیٰ قدرت راښکاره کيدل)۔

(۳) د الله تعالیٰ طريقه دا ده چه هر فاعل لره الله تعالیٰ د هغه د قصد نقيض ورکوی کله چه هغه د الله تعالیٰ د حکم خلاف کوی مثلًا يو انسان د بل چا د سپکاوی اراده کوی نو هغه به الله تعالیٰ اُوچتوی، او که د هغه بيعزتی کوی هغه به الله تعالیٰ عزتمند کوی او چه انسان بل ته کوهے کنی نو خپله به پکښې واقع کيږی۔ لکه دے قاتل دا اراده کړے وه چه زهٔ به ددے ترهٔ مال او ښځه واخلم ليکن الله تعالیٰ ددهٔ د قصد نقيض اُوکړو او دائے خلقو کښې اُوشرمولو او مقصد ته اُونهٔ رسيدو۔

(٤) ملزم له اقرار پکار دے۔

(٥) قَسْوَةُ قُلُوْبِ الْاُمَّةِ الْاِسْرَائِيْلِيَّة ۔ د بنی اسرائيلو د زړونو سختوالے هم معلوميږی چه مړے ژوندے هم شو بيا هم قاتل منکر وو۔

قَتَلْتُمْ : قتل يو تن کړے وو ليکن ټولو بنی اسرائيلو کښې دا مرض وو۔ نو ځکه ټولو ته خطاب کوی۔

فَادّٰرَأْتُمْ فِيْهَا: چا په يو باندے ګمان کولو او چا په بل باندے، د پټولو دپاره۔

فائده : اِخْتَلَفْتُمْ ئے اُونهٔ وئيلو ځکه چه اختلاف ديته وائی چه هر يو منکر وی د کار نه او دلته اِدّارَءَ ديته وائی چه په يو بل باندے ئے اړوی، چه تا کړيدے او بل وائی تا کړيدے۔

فِيْهَا : نفس ته ضمير راجع دے۔ بيا دلته وقف دے چه دا اختلاف ئے ولے کولو ؟ (لِتَكْتُمُوْهُ) (دے دپاره چه دا مړے مو پټولو او د دنيا مال مو غوره کولو)۔

(وَاللهُ مُخْرِجٌ مَا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ) (مُخْرِجٌ أَيْ مُظْهِرٌ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ)

(الله تعالیٰ راښکاره کوی په دنيا او آخرت کښې) هغه شے چه بندګان ئے پټ ساتی۔

فائده : دے نه دا قانون معلوم شو چه يو سړے په پټ ځائے کښې ګناه اُوکړی نو الله

تعالىٰ ئے راښکاره کوی او دغه شان که چا نيك عمل په پټ ځائے کښې اُوکړو نو الله تعالىٰ ئے راښکاره کوی لهذا رياء ته هيڅ ضرورت نشته۔

په حديث د عثمان ﷺ کښې راځي چه که يو سړے په کاڼړی کښې دننه يو عمل اُوکړی چه د هغے هيڅ دروازه او روشندان نۀ وی نو ددۀ عمل به ضرور خلقو ته راوځی، هرڅنګه چه وی۔

(مسند احمد ٢/٢٨رقم ١١٢٤٦) وسنده حسن)

فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا۔
پس اُووئيل مونږ چه اُووهئ تاسو دے (مړی) لره په بعض حصه ددے (غوا، يا ددے
كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ
مړی) دغسے راژوندی کوی الله تعالىٰ مړو لره او ښائی تاسو ته نخے د قدرت خپل
لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿٧٣﴾
دے دپاره چه تاسو د سوچ نه کار واخلئ۔

تفسير : (بِبَعْضِهَا) (١) دا ضمير بقرة ته راجع دے۔ يعنى په بعض حصه د غوا سره دا مړے اُووهئ۔ لکه همدا د جمهورو مفسرينو رايه ده او همدا **راجح** ده، بيا پدے کښې به حکمة الله تعالىٰ ته معلوم وی چه د غوا په بعض اندام باندے وهلو سره مړے څنګه راژوندے کوی، خو د الله تعالىٰ د عجيب قدرت نظاره پکښې ضرور شته۔

(٢) دے کښې دويم تفسير زمونږ بعض مشائخو دا هم کړيدے چه د بَعْضُها ضمير نفس ته راجع دے۔ او نفس مؤنث سماعى دے، دے ته ضمير د مؤنث راجع کول صحيح دی۔ معنىٰ دا ده : اُووهئ دے نفس لره په بعض ټکړه ددے نفس سره لکه لاس د هغه شو، لکه څنګه چه الله تعالىٰ قادر دے چه د غوا په بعض ټکړه سره مړے ژوندے کړی نو دغه شان د مړی په بعض اندام سره لکه لاس وغيره سره هغه راژوندے کړی۔ او دوی وئيلى

دی چه دا احتمال ځکه غوره دے چه یو خو مشهور قول والا سره صحیح یقینی روایات نشته بلکه اسرائیلیات دی، او بل طرفته دا (غیر مشهور) احتمال د قانون د عربیت برابر هم دے۔ دریم دا چه پدے کښې دا فائده هم راځی چه د غوا کرامت او عظمت به هم معلوم نهٔ شی، بلکه دلته د نفس په بعض حصه باندے نفس راژوندے شویدے۔ نهٔ د غوا په ذریعه۔ دارنګه هره واقعه په (اِذْ) سره شروع کیدو نه استقلال د هرے واقعے معلومیږی۔ لهذا د مړی راژوندی کول د غوا سره تعلق نهٔ لری۔

دلته وقف دے (فَضَرَبُوْهُ بِبَعْضِهَا فَحَيِيَ) یعنی هغوی اُووهلو په بعض حصه د غوا نو مړے راژوندے شو۔ او خپل قاتل ئے اُوخودلو چه قاتل ئے ورارهٔ دے، بیا مفسرین لیکی : د تورات د قانون مطابق هغه قاتل د میراث نه محروم شو او داسے زمونږ په شریعت کښې هم دی چه قاتل به د میراث نه محرومیږی اګرکه قتل خطاء ئے کړے وی۔ ځکه دا دده سزاء ده چه دهٔ د مال دپاره قتل کړیدے نو الله تعالیٰ ئے د هغه مال نه محروموی۔

(كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى) دیته (قِيَاسُ الْإِعَادَةِ عَلَى الْبَعْثِ الدُّنْيَوِيِّ) وئیلے شی، یعنی (دوباره ژوند ئے قیاس کړیدے په دنیا کښې مړی ژوندی کولو باندے) یعنی قیامت به هم داسے راځی څنګه چه دنیا کښې مړی راژوندی کړیدی، دا د قرآن طریقه ده چه خبره یوه شروع کړی یو مثال بیان کړی او بیا د هغه مثال نه فائدے راوباسی، دا میوه دار مثالونه دی۔نو یو پدے کښې اثبات د آخرت او بل د الله تعالیٰ قدرت خلقو ته معلوم شو۔

بیا دا مړے الله تعالیٰ همداسے په خپل امر سره هم راژوندے کولے شو، لیکن خلقو ته ئے د موسیٰ ﷺ معجزه هم خودله، دے دپاره چه هغوی اُونهٔ وائی چه دا په جادو سره راژوندے شو۔

(۲) د التحریر والتنویر نه معلومیږی چه پدے کښې د الله تعالیٰ د هغه امر حکمة وو چه دے یهودیانو ته ئے په ذبح د بقرے سره کړے وو، د کوم نه چه دوئ په اول د اَوریدو کښې نفرت او انکار کړے وو۔ یعنی الله تعالیٰ ورته دا ښائی چه ددے غوا ذبح کولو کښے او پدے امر باندے عمل کولو کښے دا فائده اُوشوه چه قاتل معلوم شو۔

كَذٰلِكَ : کښے کاف تشبیهی دے او ذلك اشاره ده دغه قتیل (وژلے شوی) ته او يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى ئے مشبه ده۔ او پدے جزئی واقعے سره اثبات د آخرت ځکه کوی چه عربو مشرکانو او بنی اسرائیلو باندے رد شی چه هغوی شك کولو په بعث بعد الموت کښې

او اختلاف ئې کړی دی، بعضو وئیل چه روح به دوباره په بل شکل ژوندے کیږی او بعضو به وئیل چه ټول اجزاء د بدن سره نشی ژوندے کیدلے نو په دے واقعے سره معلومه شوه چه په کوم حال انسان مړ وی نو په همغه حال به ژوندے کیږی۔ او الله تعالیٰ پدے قادر دے۔

وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ : دا د تاکید دپاره وائی چه الله تعالیٰ تاسو ته د بعث بعد الموت ثابتولو دپاره ډیر دلائل درخائی، صرف دا یو دلیل نهٔ دے بلکه دغه شان نور هم ډیر شے دلائل موجود دی۔ یریکم نه مراد په سترګو لیدل او بصیرت د زړه دواړو ته شامل دے۔

نو دا خطاب بنی اسرائیلو ته وو۔ (يَعْنِيُ قُلْنَا لَهُمْ) : مونږ هغوی ته دغه شان وئیلی وو۔ چه تاسو ته الله تعالیٰ نخے د قدرت ښائی دے دپاره چه تاسو د نورو ګناهونو نه منع شئ۔

۲- یا دا خطاب امة محمد (ﷺ) ته دے۔ چه دغه واقعاتو نه عبرت واخلئ۔ دغه شان به الله تعالیٰ مړی په قیامت کښې هم راژوندی کوی۔ او د نبی ﷺ د صدق نخے درښائی۔ یا مطلب دا دے : (آيَاتِهِ الْمُتَضَمِّنَةَ لِقُدْرَتِهِ وَحِكْمَتِهِ) (درښائی تاسو ته خپل هغه آیتونه چه مشتمل دی په قدرت د الله تعالیٰ او حکمت د هغه)۔

آيَاتِهِ : ئې جمع راوړه۔ ۱- ددے وجه دا ده چه د قیامت په اثبات باندے ډیر دلائل دی۔

۲- یا ترے مراد نخے د قدرت د الله تعالیٰ دی۔ (۲) - بعض وائی : دا یوه واقعه ترے مراد ده چه الله تعالیٰ دوی ته په سترګو اُوخودله لیکن جمع ئې ځکه ذکر کړه چه دا مشتمله وه په ډیرو فائدو او دلیلونو باندے۔ چه هغه د الله تعالیٰ په هر څه باندے قادر او عالِم کیدل، او په ایجاد او خلق کښې مختار کیدل، او صدق د موسیٰ ؑ او د پاکو خلقو برائت معلومیدل، او دغه تهمت په قاتل باندے متعین کیدل، نو دا اګرکه یو آیت دے لیکن په ډیرو آیتونو او دلیلونو مشتمل شو۔(تفسیر الرازی وروح المعانی)

﴿لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ ۱- چه تاسو عقل او سوچ اُوکړئ چه الله تعالیٰ زمونږ خومره قادر مطلق ذات دے، نو قیامت به هم راولی،

۲- او سوچ اُوکړئ په حکمتونو د الله تعالیٰ کښې۔

۳- او سوچ اُوکړئ چه الله تعالیٰ نقیض القصد د انسان کوی کله چه هغه د الله تعالیٰ د حکم خلاف کوی۔

٤- دارنګه (لَعَلَّكُمْ تَفْهَمُوْنَ اَنَّ الَّذِيْ يُخْبِرُكُمْ بِهٖ مُحَمَّدٌ ﷺ حَقٌّ) پوهه شئ چه دا محمد رسول الله ﷺ تاسو ته د څه خبر درکوی نو دا حق دی. (بحر العلوم)
(۲) یا عقل په معنیٰ لغوی سره دے بندیدل او منع کیدل یعنی منع شئ د مخالفت کولو او ګناهونو نه. یعنی ګناه به نه کوئ څکه الله تعالیٰ مو ګوری. (القرطبی)

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ
بیا سخت شو زړونه ستاسو پس ددے (نخو) نه، پس دا په شان د کانړو شو یا زیات
قَسْوَةً ، وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ
په سختوالی کښې. او یقیناً بعض د کانړو نه خامخا هغه دی چه بهیږی د هغے نه
الْاَنْهٰرُ ، وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ،
نهرونه او یقیناً بعضے ددے نه خامخا هغه دی چه اُوچوی نو راوځی د هغے نه اُوبه
وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ
او یقیناً بعض ددے نه خامخا هغۀ دی چه رارغړی د وجے د یَرے د الله تعالیٰ نه
وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۷٤﴾
او نۀ دے الله تعالیٰ بے خبره د هغے عملونو نه چه تاسو ئے کوئ.

تفسیر : اُوس موجوده یهودو ته الله تعالیٰ خطاب کوی (کوم چه د نزول د قرآن په وخت کښې موجود وو) او ممکن ده چه د هغه زمانے یهود هم مراد وی چه تاسو د الله تعالیٰ د قدرت دومره نخے اُولیدلے او اُوپیژندلے، ستاسو مشرانو سره ئے څنګه کارنامے کړیدی او بیا هم تاسو د هغوی په نقش قدم روان یئ او پدے نبی او پدے قرآن کریم باندے ایمان نۀ راوړئ او زړونه مو سخت دی د الله تعالیٰ د توحید او د رسالت د رسول الله

ﷺ اقرار نهٔ کویٔ۔

او پدے آیت کښې ربط او تعلق د موجوده یهودیانو دے د ماقبل سره په قسوت د زړه کښې چه د پخوانو په شان ستاسو زړونه هم سخت شو چه د الله تعالیٰ امر او حکم په تاسو اثر نهٔ کوی۔

یعنی ددے سترګو لیدلو واقعاتو تقاضا خو دا وه چه د هغوی په زړونو کښې نرمی پیدا شوی وے او د الله تعالیٰ په یاد کښې مشغول شوی وے لیکن د هغوی د زړونو د سختیٔ ګواهی الله تعالیٰ ورکړه چه دا د کاڼړی نه هم ډیر سخت دی او د کاڼړو سره ئے مثال څکه ورکړو چه کاڼړے د اُوسپنے نه هم ډیر سخت دے څکه اُوسپنه په اُور ویلی کیږی او کاڼړے نهٔ ویلی کیږی ، بیا الله تعالیٰ اُوفرمایل چه کاڼړی خو د دوی د زړونو نه غوره دی څکه بعض کاڼړی داسے وی چه د هغے نه نهرونه روانیږی، بعض چوی او د هغے نه چینے روانیږی او بعض کاڼړی خو داسے وی چه د الله تعالیٰ د یرے نه اُوخوزیږی او خکته راپریوزی او په دوی مجرمینو کښې هیڅ اثر نهٔ کیږی، کله ئے هم خپل ګناهونه رایاد نهٔ کړل چه اُوژاړی او الله تعالیٰ ته توبه اُوباسی او ددے نبی ﷺ صحیح تابعدار شی۔

ثُمَّ : ددے نه مراد یا اِحیاء المیت دے۔ (۱) (یعنی ثُمَّ بَعُدَ اِحْیَاءِ الْمَیِّت) (بیا پس د راژوندی کولو د مړی نه ستاسو زړونه سخت شو) (۲) دویم : اشاره ده یُرِیْکُمْ آیَاتِهٖ ته یعنی (ثُمَّ بَعُدَ اِرَائَةِ الآیَاتِ) (بیا پس د نخو د قدرت لیدلو نه)۔

قَسَتْ : بعض حکماؤ نه نقل دی چه د قسوت معنیٰ ده وچیدل د زړونو او د زړونو وچیدل په دوه قسمه دی یو اُوچ والے دے : (عَنْ مَاءِ خَشْیَةِ اللّٰهِ) (د الله تعالیٰ د یرے نه پکښې اُوبه نهٔ راځی) (۲) دویم (عَنْ مَاءِ شَفَقَةِ الْخَلْقِ) چه په مخلوق باندے د شفقت کولو د اُوبو نه اُوچ شی)۔ (بحر العلوم للسمرقندی ۱/۷۰)

فائده : قسوة په لغت کښے [غِلَظُ الْقَلْبِ وَصَلَابَتُهٗ] (مفردات) ته وائی : یعنی د زړه سختیدل او کلک کیدل) دی، او په اصطلاح کښې :

(۱) (عَدَمُ التَّأَثُّرِ مِنْ آیَاتِ اللّٰهِ) ته وئیلے شی (یعنی د الله تعالیٰ د قرآن او د رسول الله ﷺ د حدیث نه فائده نهٔ اخستل او نهٔ متأثره کیدل)

(۲) دارنګه امام زجاجؒ فرمائی: (اَلْقَسْوَةُ فِی الْقَلْبِ ذَهَابُ اللِّیْنِ وَالرَّحْمَةِ والْخُشُوْعِ) (بحر العلوم واللباب) (د زړهٔ سختوالے دا دے چه نرمی، رحم او شفقت او خشوع ترے ختمه شی)

او دا زړهٔ سختیدل په اصل کښې د یهودو مرض دے چه زمونږ دے اُمت ته رانقل شویدے۔
الله تعالیٰ سختو زړونو والو ته ښیرے کړیدی : (فَوَيْلٌ لِلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ) (الزمر:۲۲) (هلاکت دِے وی سخت زړونو والو دپاره د الله تعالیٰ د ذکر نه)
مالك بن دینار رحمه الله نه نقل دی : (مَا ضَرَبَ اللَّهُ عَبْدًا بِعُقُوبَةٍ أَشَدَّ عَلَيْهِ مِنْ قَسْوَةِ الْقَلْبِ) (په بنده باندے د الله تعالیٰ د عذابونو نه سخت عذاب دا دے چه د هغه زړه سخت کړی) چه ذکر، تلاوت ایمان او عمل صالح ورله خوند نهٔ ورکوی۔
حدیث د ابن عمر ﷺ کښې مرفوعاً نقل دی، رسول الله ﷺ فرمایلی دی :
[لَاتُكْثِرُوا الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ فَإِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ وَإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللَّهِ الْقَلْبُ الْقَاسِيُ] [ترمذی باسناد حسن غريب وشعب الايمان :٤٩٥١]
(د الله تعالیٰ د ذکر نه علاوه ډیرے خبرے مهٔ کوئ ځکه چه ډیرے خبرے په غیر د ذکر د الله نه قسوت (سختوالے) د زړه دے او یقیناً د الله تعالیٰ نه ډیر لرے زړه سخت زړه دے)۔
(راجح دا ده چه دا د عیسیٰ علیه السلام کلام دے لکه دا خبره شیخ البانیؒ په الضعیفه کښې ذکر کړیده)۔
۳- حدیث د انس ﷺ کښے مرفوعاً دی : [أَرْبَعٌ مِنَ الشَّقَاءِ : جُمُودُ الْعَيْنِ وَقَسَاوَةُ الْقَلْبِ وَطُولُ الْأَمَلِ وَالْحِرْصُ عَلَى الدُّنْيَا] څلور څیزونه د بد بختئ نښه ده، د سترګو اُوچیدل، د زړه سختوالے، اُوږد امید، او د دنیا حرص)۔
[البزار وَفِيْ إِسْنَادِهِ نَكَارَةٌ وَجَهَالَةٌ وَمَعْنَاهُ صَحِيْحٌ]

فائده : د قسوة القلب اسباب :

قسوت پیدا کیږی (۱) د معاصی او ګناهونو نه (۲) د غفلت عن ذکر الله نه چه انسان د الله تعالیٰ د ذکر نه غافل شی۔ (۳) (كَثْرَةُ الْكَلَامِ) (ډیرے خبرے کول بغیر د ذکر د الله تعالیٰ نه) ۔ (٤) (كَثْرَةُ الطَّعَامِ)۔(ډیر خوراك کول)۔ (٥) (كَثْرَةُ الْمَنَامِ) (ډیر خوبونه کول) (٦) (كَثْرَةُ الْمُخَالَطَةِ)۔(د خلقو سره ډیر ګډون کول او په دنیا کښې ډیر مشغولیدل)۔
پکار ده چه د بنده اکثر اوقات د الله تعالیٰ سره وی، او د هغه سره خلوت کښې وی)۔ بیا د مخالطة ډیر قسمونه دی ۔
د علماؤ سره مخالطت په ورځ کښې دوه درے ځل ضروری دے، چه د هغوی مجالسو

کښې حاضر شي او د دین د خبرو نه خبر شي او بعض مخالطتونه د دوائي په شان وي چه هغه به په هغه وخت کښې کولے شي چه انسان ورته ضرورت راشي لکه اصحاب الکسب والمعاش۔ دکانداران وغیره سره به د ضرورت په وخت ملاویږے۔

او بعض مخالطتونه د بیماریو او زهرو په شان وي چه هغوی سره ملاؤ شوے نو بیا به لږ بیماریږے یا به ډیر یا به بالکل مړ کیږے، لکه اصحاب الفسق۔ که لږ فاسق وو نو لږ به دے گمراه کړي، او که ډیر وي، ډیر به دِے گمراه کړي، او که مشرك سره ملاؤ شوے نو عقیده به دِے خرابه کړي۔

د قسوة القلب د زائله کیدو اسباب :

قسوت ختمیږی په (۱) (كَثْرَةُ ذِكْرِ اللّٰهِ) (د الله تعالیٰ ذکر ډیر کول)

(۲) (كَثْرَةُ ذِكْرِ الْمَوْتِ)۔ (مرگ ډیر یادول)۔

(۳) (اَلْإِطِّلَاعُ عَلَى الْقُبُوْرِ) (د قبرونو ملاقات له تلل)۔

(٤) (تِلَاوَةُ الْقُرْآنِ وَتَدَبُّرُهُ)۔(په ښائسته آواز سره قرآن کریم لوستل)۔ (تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُوْدُ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِيْنُ جُلُوْدُهُمْ وَقُلُوْبُهُمْ اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ) (الزمر:۲۳)۔

حدیث کښے دی : (اِنَّ الْقُلُوْبَ تَصْدَأُ كَمَا يَصْدَأُ الْحَدِيْدُ، قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! وَمَا جَلَاؤُهَا ؟ قَالَ : تِلَاوَةُ الْقُرْآنِ)

(شعب الایمان، محمد بن نصر، وابونعیم فی الحلیة ۱۹۷/۸) وَسَنَدُهٗ مُنْكَرٌ وَمَعْنَاهُ صَحِيْحٌ)

زړونه زنگین کیږی لکه څنگه چه اُوسپنه زنگینه کیږی، عرض اُوشو : ددے صفائی په څه سره ده ؟ وے فرمایل : مرگ ډیر یادول او تلاوة د قرآن کریم)۔

(٥-٦) یو صحابیؓ رسول الله ﷺ ته د زړه د سختوالی شکایت اُوکړو نو هغه ورته اُوفرمایل :

(اَطْعِمِ الْمِسْكِيْنَ وَامْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيْمِ) [احمد : فتح الباری (۱۵۱/۱۱) واسناده حسن]۔

(مسکین له خوراك ورکړه او د یتیم په سر لاس راکاږه) یعنی شفقت اُوکړه۔

(۷) ام الدرداء رضی الله عنها نه نقل دی چه اتباع الجنائز۔ (۸) او عِيَادَةُ الْمَرِيْضِ او اِطِّلَاعٍ عَلَى الْقُبُوْرِ) سره د زړهٔ سختوالے ختمیږی۔

(اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً) پدے کښې اتفاق دے چه (اَوْ) د شك دپاره نهٔ دے ځکه چه الله رب العزت شك نهٔ کوی، (۱) نو بعضو وئیلی دی چه (اَوْ) په معنیٰ د واو دے۔

(۲) بعضو وئیلی دی چه (او) د ترقئ دپاره دے په معنیٰ د بل دے یعنی بلکه د کانړی نه هم زیات سخت دی. (۳) یا (او) په خپله معنیٰ دے او شك په نسبت د مخاطب او رائئ (لیدونکی) دے. یعنی ته ورته اُوګوره یا به درته دا زړونه د کانړو په شان ښکاره شی یا زیات د کانړو نه.(اللباب ۱/ ۳۸۵)

(٤) راجح دا ده چه حافظ ابن القیمؒ فرمائی : په عربئ کښ ددے مجموعه معنیٰ داسے وی : (اِنْ لَّمْ تَزِدْ قَسْوَتُهَا عَلٰی قَسْوَةِ الْحِجَارَةِ فَلَيْسَتْ دُوْنَهَا)

(که زړونه د کانړو نه زیات سخت نهٔ وی نو کم خو ترے نهٔ دی) یعنی د کانړی نه هم زیات سخت دی.

فائده : علامه ابوحفص ابن عادل الدمشقی رحمه الله د زړونو د کانړو د زیات سختوالی درے وجے ذکر کړیدی : (۱) اوله دا چه که بالفرض په حجاره کښ عقل پیدا شی او دا نخے اُووینی نو حق به قبلوی لکه په سورة الحشر (۲۱) کښ دی. (لَوْ أَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْآنَ عَلٰی جَبَلٍ لَرَأَيْتَهٗ خَاشِعًا).

۲- دویمه وجه دا چه الله تعالیٰ کوم حوادث په حجاره کښ پیدا کوی نو د کانړی د طرفنه په هغے کښ هیڅ امتناع نهٔ وی اګرکه سخت هم وی بلکه هغه د الله تعالیٰ د ارادے مطابق اَوړی او دے خلقو ته دومره آیات او نعمتونه راځی او بیا هم طاعت نه منع کیږی او زړونه ئے د الله تعالیٰ د حقوقو معرفت ته نهٔ نرمیږی.

(۳) دریم دا چه د کانړو نه بعض فوائد خو اخستلے کیږی مګر ددے خلقو په زړونو کښ هیڅ خیر او فائده نشته. (اللباب ۱/ ۳۸۵)

وَاِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ : اُوس د کانړو اقسام بیانوی دے دپاره چه کانړی خو د دوی د زړونونه ډیر غوره دی ځکه چه هغوی کښ د الله تعالیٰ نه خشیت موجود دے، چا کښ په یوه طریقه او چا کښ په بله طریقه. او فائدے ترے خلقو ته ملاویږی، اُوبه ترے رابهیږی، او د دوی په زړونو هیڅ اثر نهٔ کیږی، فوائد ترے نهٔ ملاویږی. نو کانړی د دوی نه الله تعالیٰ غوره حساب کړل.

(مِنْ خَشْيَةِ اللهِ) دا د درے واړو سره لګی. لکه د مجاهدؒ نه ابن کثیرؒ نقل کړیدی. چه د هر کانړی نه چه اُوبه (نهر) روانیږی یا د اُوبو په وجه چوی (لړے اُوبه) یا د غر د سر نه رارغړی نو دا د الله تعالیٰ د یرے د وجه نه دی او پدے خبره باندے قرآن نازل شویدے. [ابن

کثیر و اللباب]۔

فائده : شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی : د غرونو اُوبه ټولے د باران نه دی، ډیرے داسے دی چه الله تعالیٰ د کانړو نه ویستلی دی د چینو په شکل۔ اګرکه آسمانی اُوبه زیاتے دی او د کانړو اُوبه کمے دی او په کانړو کښې ئے الله تعالیٰ پیدا کوی په خپل قدرتِ کامله سره لکه ائرکنډیشن کښې چه یخوالے پیدا کوی۔ دارنګه په کانړو کښې دننه هم د الله تعالیٰ د یرے نه اُوبه پیدا کیږی۔

فائده : پدے آیت کښې د کانړو درے حالات ذکر شو نو پدے کښې د انسانانو د زړونو درے حالاتو ته اشاره ده۔ نو کوم زړونه چه ډیر سخت نۀ دی، بلکه د کانړو په شان وی، نو د قرآن او دینی مواعظ او نصیحت اَوریدو په وخت کښې په هغوی کښې دغه شان درے حالات پیدا کیږی اول دا چه زړۀ کښې ئے خشیة (یره) پیدا شی، قرآن او مواعظو ته ځان راخکته کړی غوږ ورته کیدی، زړه کښې ئے اُوښکے راشی، دویمه درجه کښې بیا ئے سترګو کښې اُوښکے راشی او دریمه درجه کښې ئے بیا اُوښکے ډیرے بهیږی که چا کښې دا درے حالات پیدا نۀ شی نو هغه بیا د کانړو نه هم سخت زړۀ دے۔

وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ) : (۱) دا قسم جمله یا کنایه وی د مهلت نه یعنی اے بنده ګانو تاسو چه کوم عملونه کوئ الله تعالیٰ ترے غافل نۀ دے، عذاب به درکوی لیکن خبره د مهلت ده، تاسو له ئے مهلت درکړیدے، آخرت کښې به په بد عمل سخته سزا درکوی۔

(۲) او پدے جمله کښې د مؤمنانو دپاره بشارت وی چه الله تعالیٰ به د عملونو بدله درکوی۔ مه خفه کیږئ۔

أَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُؤْمِنُوْا لَكُمْ
آیا تاسو طمع لرئ (اے ایمان والو!) چه دا یهودیان به ایمان راوړی ستاسو په خبره
وَقَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِنْهُمْ يَسْمَعُوْنَ كَلَامَ اللهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ
او حال دا چه وه یوه ډله د دوی نه چه اوریدو به ئے کلام د الله، بیا به ئے بدلولے معنے د هغے،
مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾
روستو د هغے نه چه پوهه به شو په معنی د هغے، او دوی پو هیدل (چه دا گناه ده)۔

تفسیر : ددے ځائے نه روستو پنځه ډلے بیانوی چه هغه د نبی ﷺ په وخت کښ د موجوده یهودیانو وے۔ (او دا بیلے بیلے ډلے نهٔ وے بلکه دا مجموعه صفات په یهودو کښ تقسیم وو نو ځکه ترے په ډلو تعبیر کیږی) او د دوی پنځه خباثات او عیبونه دی۔ ۱- یو علماء چه تحریف معنوی به ئے کولو۔ ۲- دویم منافقان ۳- دریم امیان مقلدین۔

٤- څلورم علماء تحریف لفظی کونکی۔ ۵- پنځم : ځان دپاره د جنت خاص کونکی حال دا چه عقیده ئے باطله وه۔ پدے آیت کښ اوله ډله ذکر ده۔

ربط او تړون : تردے ځائے پورے الله رب العالمین د بنی اسرائیلو د مشرانو درے ډلے بیان کړے یعنی د هغوی درے بد صفات۔ اُوس ددے ځائے نه الله تعالیٰ د بنی اسرائیلو چه کوم موجوده ډلی دی د رسول الله ﷺ په زمانه کښ، د هغے تذکره کوی چه دا ټول بد صفات د مشرانووی او که د کشرانو دا اُوس هم یهود او نصاراؤ کښ موجود دی۔ ددے دا مطلب نهٔ دے چه دا صفاتو والا پخوا تیر شویدی او اُوس نشته دے۔ بلکه دا بد صفات دوی کښ اُوس هم شته۔

اُوس دے آیت کښ الله تعالیٰ خطاب کوی مؤمنانو او پیغمبر ته چه د هغوی دا طمع وه چه مونږ به دے خلقو ته دعوت ورکړو، ایمان به راوړی ځکه ددوی زړونه پاك وو، هر سړے په خپل ځان باندے قیاس کوی (اَلْمَرْءُ يَقِيْسُ عَلٰى نَفْسِهٖ) دوی دا گمان کولو چه دا

خو د حق خبرے دی، او د جنت ذریعه ده، د اُور نه د بچاؤ ذریعه ده، دا خلق به ئے ولے نهٔ منی؟ تیار اهل کتاب دی، دینداره خلق دے او علماء دی، او که دوی ایمان راوړو نو د دوی په وجه به ډیر خلق ایمان راوړی، نو الله تعالیٰ د مؤمنانو او د خپل پیغمبر طمع قطع کوی چه دا سخت زړی خلق دے، ددے خلقو نه به د ایمان طمع نهٔ کوئ ځکه چه یو سړی ته د الله تعالیٰ کتاب معلوم شو او بیا ئے پکښې غلط تفسیرونه او تاویلونه شروع کړل نو د هغه نه د هدایت طمع مهٔ کوه۔

دا بعض خلق دے وخت کښې د بدعتیانو په باره کښې وائی چه فلانے مُلا دے، هغه سره لږه نرمی پکار ده، کیدے شی چه ښه شی، نهٔ بلکه چه شیخ الحدیث او شیخ القرآن شو۔ په قرآن او حدیثو باندے پوهه شو او بیا هم بدعت کوی نو هغه به کله پوهیږی، سپین ګیر توب ته اُورسی، عمرئے د شلویښتو نه واوړی نو هغه به کله سمیږی۔

نو پدے آیت کښې خبر ورکوی د هغوی د عدم ایمان نه۔ چه دوی سره خپل کتابونه موجود دی او په هغے کښې تحریف کوی هغه سم نهٔ منی، نو ستاسو خبره به څه اُومنی، نو د دوی د ایمان طمع مهٔ کوئ۔

(اَنۡ یُّؤۡمِنُوۡا لَکُمۡ) یعنی تصدیق (اعتماد) به اُوکړی ستاسو په خبره، یا ایمان به راوړی ستاسو د وجه نه او ستاسو په دعوت باندے۔

(کَلَامَ اللّٰهِ) (۱) د کلام الله نه دلته تورات مراد دے۔یعنی دوی ته به کوم امی د تورات یو آیت راوړو چه دے کښې دا مسئله ده او د آخری نبی بشارت پکښې دے نو دوی چه به واوریدو نو زر به ئے پکښې غلط تاویل (او تحریف) اُوکړو، چه ددے نه مراد دا نبی نهٔ دے، هغه به روستو راځی وغیره۔

(۲) او دا تفسیر ضعیف دے چه د کلام الله نه مراد دا دے چه دوی د الله تعالیٰ خبرے براهِ راست اوریدلے وے کومے چه موسی علیه السلام سره په کوهِ طور کښې کیدلے، نو دوی اوویا کسانو هم هغه اوریدلے وے، دا باطل تفسیر دے، د الله تعالیٰ خبرے د موسی علیه السلام نه بغیر په هغه زمانه کښې هیچا نهٔ دی اوریدلی۔ هارون علیه السلام هم نهٔ دی اَوریدلی، او بیا د دوی او موسیٰ علیه السلام امتیاز څه شو، او بعض اهل علمو پدے تفسیر باندے سخت انکار کړیدے لکه هغه ابن الجوزی په خپل تفسیر زاد المسیر (۱۰۳/۱) کښې نقل کړیدے۔ بلکه دلته د کلام الله نه مراد تورات دے، دا ئے اوریدلے وو۔

او د کلام الله اطلاق په تولو آسمانی کتابونو کیږی، نو د بعضو خلقو دا خبره کول چه کلام الله صرف قرآن ته وئیلے شی او تورات، انجیل او زبور د الله تعالیٰ کتابونه وو خو کلام ئے نهٔ وو، دا خبره غلطه ده، وجه دا ده چه الله تعالیٰ په هره ژبه خبره کولے شی نو په تورات هم الله تعالیٰ تلفظ کړیدے نو هغه هم د الله تعالیٰ کلام دے۔ او هغے ته هم په احادیثو کښې کلام الله وئیلے شویدے۔ او پدے آیت کښې هم۔

يُحَرِّفُوْنَهٗ : (يُغَيِّرُوْنَ مَا فِيْهَا مِنَ الْأَحْكَامِ) (یعنی احکام د تورات به ئے بدلول چه یو د هغے نه صفت د محمد ﷺ دے او آیت د رجم دے)

(مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ) (اَیْ مِنْ بَعْدِ مَا فَهِمُوْا مَعْنَاهُ) یعنی پس د هغے نه چه په خپل اصلی مقصد به ئے پوهه شو او سره د پوهے نه به ئے دغه شان تحریف کولو۔ عقل په معنیٰ د پوهے سره دے۔

(وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ) (۱) (اَیْ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهُمْ مُخْطِئُوْنَ فِيْمَا ذَهَبُوْا اِلَيْهِ مِنْ تَحْرِيْفِهٖ وَتَأْوِيْلِهٖ) (ابن کثیر) یعنی دوی پوهیدل چه دا تحریف ډیر بد او غلط کار دے او مونږ په کښې په خطا یو) ۔ د تحریف په قباحت باندے پوهیدل۔(۲) (وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهُمْ كَاذِبُوْنَ) (مجاهد، وقتادة) (بغوی) (دوی پوهیږی چه دوی دروغجن دی)۔

د (عَقَلُوْهُ) او (يَعْلَمُوْنَ) فرق دا دے چه د عقل معنیٰ ده د هغے په معنیٰ باندے به پوهه شو او د (یعلمون) معنیٰ ده د تحریف په قبح پوهیدل چه دا ډیر بدکار دے۔

فائده : ددے قیدونو نه معلومه شوه چه یو انسان د یو آیت معنیٰ کوی لیکن هغه غلطه وی خو ده ته پته نهٔ وی چه دا غلطه ده، نو دا انسان گناهگار نهٔ دے اگرکه ددهٔ په باره کښې به داسے وایو چه معنیٰ ئے خطاء ده، او انسان خطاء شویدے۔

او دیته به تحریف نشی وئیلے کیدے ځکه تحریف کښې مقصد د دغه غلطے معنے باقی پریخودل وی په خلقو کښې چه پدے باندے عمل کویٔ او دلته که دهٔ له تنبیه ورکړے شی نو دا هغه معنیٰ پریدی۔ او توبه الله تعالیٰ ته اُوباسی۔

دویم يَعْلَمُوْنَ بِقَبَاحَةِ التَّحْرِيْفِ دا قید ځکه لگوی چه کیدے شی چه یو انسان تحریف کوی او دا ورته گناه نهٔ ښکاری چه ددے آیت یا داسے مطلب وئیل یا داسے وئیل، یا چا له رجم ورکول یا مخ تورول دواړه یو شے دے، مخ تورول به هم د الله تعالیٰ د حکم په شان وی او ددے په قباحت باندے نهٔ پوهیږی چه د الله تعالیٰ په حکم بدلولو کښې څومره نقصان

دے نو دا هم ماخوذ دے خو دومره نهٔ، ځکه چه جاهل دے، خو چه یو سړی ته د الله تعالیٰ حکم معلوم دے او د هغے د بدلولو په نقصان هم پو هیږی او بیا ئے هم بدلوی نو دا غټ مجرم دے۔

فائده: تحریف په لغت کښ په یو شی کښ تغییر او تبدیل پیدا کولو ته وئیلے شی۔ او تحریف دوه قسمه دے : ۱- **تحریف لفظی** : یو دا دے چه د الله د کتاب الفاظ بدل کړی او ددے په ځائے نور الفاظ کیدی۔ یا پکښ تقدیم او تأخیر اُوکړی، یا بعض الفاظ کټ کړی، او مخکښ روستو اُووائی۔ دا هم دوی کړیدے لکه (اظهار الحق د علامه کیرانویؒ او - اَلْجَوَابُ الصَّحِیْحُ لِمَنْ بَدَّلَ دِیْنَ الْمَسِیْح) د شیخ الاسلام) کښیے ئے لیکلی دی۔ چه دوی د رجم په ځائے (تَحْمِیْم) د مخ تورولو او خرهٔ باندے سوره ولو قانون ایخودے وو۔

ددے وجه نه ابن عباس رضی الله عنهما نه چه بخاریؒ نقل کړیدی چه د الله تعالیٰ په کتاب کښ تحریف نشی کیدلے نو د هغے مطلب دا دے چه داسے نشی کیدے چه په هره نسخه کښے به خامخا تحریف شوے وی بلکه داسے ممکن ده چه یوه نسخه داسے وی چه په هغے کښ تحریف نهٔ وی شوے۔ اګرکه دوی کوشش کړیدے چه تحریفونه پکښ اُوکړی۔

۲- **تحریف معنوی** : دیته وائی چه د الله تعالیٰ د کتاب غلط تفسیر او غلطه معنیٰ اُوکړی د خپلے رائے، خواهش او غلطے عقیدے مطابق۔ او د الله تعالیٰ احکام بدلوی، حرامو نه حلال جوړ کړی او حلالو نه حرام۔ او دا تحریف په قرآن کریم او احادیثو کښ هم کیدے شی، د یهودو هم عادت وو،

او ددے امت مبتدعین، قدریه، جبریه، معتزله، خوارج او روافض ټول د قرآن کریم او احادیثو نه استدلالونه کوی او هغه خپلے رائے ته راتاووی۔ او تحریف لفظی قرآن کریم کښ نشی کیدے۔

الله تعالیٰ وعده کړیده : (اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّکْرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحَافِظُوْنَ) (الحجر:۹)

(مونږ دا قرآن نازل کړیدے او مونږه ددے حفاظت کونکی یو)۔ او دا دواړه سخت ناروا کارونه دی، د الله تعالیٰ شریعت بدلول دی۔

او پدے کښ د مفسرینو هغه استنباطات نهٔ دی داخل چه د آیت نه ئے کوی ځکه چه

هغه د خپل خواهش دپاره نهٔ کوی، دارنګه هغه د سیاق او سباق د آیت نه معلومیږی۔
او دے آیت کښې دا اشاره ده چه کوم کسانو ته حق واضحه شی او بیا هم د خپلے رائے او د خپل تنظیم د وجه نه د الله تعالیٰ په کتاب او احادیثو د نبی ﷺ کښې تاویلات کوی نو دۀ ته غالباً هدایت نهٔ کیږی۔

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا ۚ وَإِذَا
او کله چه دویٔ یو ځائے شی د مؤمنانو سره، وائی دویٔ مونږ ایمان راوړیدے او کله چه
خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا
جدا شی بعض د دویٔ د بعضو (مشرانو) سره، وائی هغوی (ورته):
أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ
آیا تاسو بیانویٔ مؤمنانو ته هغه شے چه راکولاؤ کړیدے الله تعالیٰ په تاسو،
لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٧٦﴾
انجام دا دے چه دوی به جګړے کوی تاسو سره په نزد د رب ستاسو، آیا تاسو عقل نه لریٔ۔

تفسیر : اُوس په دوی کښې دویمه ډله منافقان وو د هغوی حال بیانوی چه کله دوی د مسلمانانو سره ملاؤ شی نو وائی مونږ ستاسو په شان مسلمانان یو، لیکن کله چه خپل مینځ کښې کینی یا کشران د مشرانو خوا له لاړ شی، بل ځوك نهٔ وی نو یو بل ته وائی چه الله تعالیٰ تاسو له علم در کړیدے، پوهه ئے درکړیده، د خپلو کتابونو تحریف ئے درته زده کړیدے نو دا دے مؤمنانو ته ولے بیانویٔ ! ځکه چه مخکښې به یهودیانو مسلمانانو ته دا بیان کولو چه دا خبرے خو زمونږ په کتاب کښې ئے هم لیکلی دی۔ او ددے پیغمبر صفات خو زمونږ کتاب کښې هم شته نو مؤمنان به ئے نور هم مضبوطول، نو مشرانو ورته اُوئیل چه دوی ته دا خبرے مهٔ بیانویٔ ځکه بیا به دوی د قیامت په ورځ

د الله تعالیٰ په دربار کښې تاسو باندې گواهي کوي او بحث به درسره کوي،
وائي به چه اے الله ! دې خلقو ته ښه حق معلوم وو او مونږ ته ئې بیان کړلو او خپله ئې نۀ
منلو بیا به هلته خړ سترگي ناست یئ، قیامت خو تاسو هسې هم منئ (ځکه دوی د
قیامت منونکي وو)۔ لیکن کافر وو۔
(وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا) مخکښې هم د دوی صفات تیر شویدي خو هغه د عامو منافقانو
په باره کښې وو، او دا د یهودیانو مُلیانو منافقان دي۔
بِمَا فَتَحَ اللهُ عَلَيْكُمْ : د فتح ډیرې معنې دي (۱) یعنی هغه علوم چه الله تعالیٰ تاسو ته
راکولاؤ کړیدي او بل چا له ئې نۀ دي ورکړي نو دا دې عوامو ته مۀ بیانوئ۔ (قفالؒ)
(۲) [بِمَا بَيَّنَهُ اللّٰهُ لَكُمْ مِنَ الْعِلْمِ بِصِفَةِ النَّبِيِّ مُحَمَّدٍ ﷺ وَنَعْتِهِ] (کسائی)
(هغه خبرې چه الله تعالیٰ بیان کړیدي تاسو ته په تورات کښې چه دا حق نبي دې او الله
تعالیٰ دده صفت پکښې بیان کړیدې) نو دې عربو مشرکانو او مؤمنانو ته دا خبرې مه
ښکاره کوئ او اقرار دده په نبوت مۀ کوئ، بیا به دوی ستاسو په خبره دلیل نیسي او
وائي به چه تاسو دا اقرار کوئ چه دا حق نبي دې او بیا تابعداري ئې نۀ کوئ۔ نو د الله
تعالیٰ په نیز به ورته شرمنده شئ او هغوی به درباندې غالبه شي۔
(۳) (بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ مِنَ الْعَذَابِ لِيُعَيِّرُوكُمْ بِهِ وَيَقُولُونَ فَمَنْ أَكْرَمُ عَلَى اللّٰهِ مِنْكُمْ)
(اللباب) یعنی دوی ته مۀ بیانوئ هغه عذابونه چه الله تعالیٰ په تاسو او ستاسو په
مشرانو نازل کړیدي ځکه بیا به تاسو ته پیغور درکوي او وائي به چه تاسو څنگه په الله
تعالیٰ عزتمند یئ چه عذابونه ئې درکړیدي) یعنی بیا به ورته بیعزته ښکاره کیږئ۔ او
حال دا چه یهودیانو به ځانونه د الله تعالیٰ غوره ډله شمارله۔
(٤) (بِمَا قَضَى اللّٰهُ لَكُمْ وَعَلَيْكُمْ) (عطاء الخراسانی) (تفسیر ابن ابی حاتم)
(یعنی هغه څه چه الله تعالیٰ ستاسو دپاره یا په تاسو باندې فیصله کړیده) دا خپل
واقعات (ښه او بد) دوی ته مۀ بیانوئ بیا به درباندې دلیل نیسي۔ نو دغه شان جاهلان
ئې اُوساتئ۔ چه درباندې غالبه نشي۔
(**لِيُحَاجُّوكُمْ بِهِ**) (۱) دا (لام) د عاقبت دپاره دې یعنی انجام به دا شي چه دا خلق به
تاسو سره د الله تعالیٰ په دربار کښې بحث کوي۔
(۲) یا متعلق دې د اَتُحَدِّثُونَهُمْ پورې۔ او لام په معنیٰ د کَيْ (سبب) سره دې او دا علت د

تحدیث دے یعنی تاسو ئے ددے دپاره بیانوئ چه دلیلونه دربانده اُونیسی؟) یعنی ستاسو بیان به علت شی ددے چه بیا به دربانده دلیلونه نیسی۔

(عِنۡدَ رَبِّكُمۡ) ددے درے مصداقات دی (۱) (عِنۡدَ رَبِّكُمۡ أَیۡ فِی الآخِرَةِ) یعنی په قیامت کښ به درسره جګړه کوی او د الله تعالیٰ په دربار کښ به ستاسو په خلاف دلیل پیش کړی چه دوی مونږ ته مسئلے کړیدی او خپله ئے تابعداری نۀ ده کړے۔ لکه تفصیل ئے مخکښ ذکر شو۔ او په التنویر کښ ابن عاشور رحمه الله همدا معنیٰ غوره کړیده۔ او ردئے کړیدے په استبعاد د بیضاویؒ چه هغه وئیلی دی چه دا معنیٰ ضعیفه ده ځکه چه د دوی دا خبرے او دا حقائق پټ ساتل دوی ته په قیامت کښ خو فائده نشی ورکولے، او الله تعالیٰ ته خو معلوم دی، نو څنګه کشران منع کوی۔

نو ابن عاشورؒ فرمائی : چه دا تفسیر د عقیدے د یهودیانو مطابق دے چه هغوی به د الله تعالیٰ تشبیه د انسانانو د حاکمانو سره ورکوله چه لکه څنګه په انسان باندے حیله پټیږی نو په الله تعالیٰ هم پته پاتے کیږی۔ (العیاذ بالله)

او ددے دپاره ئے د یهودیانو د کتابونو (سفر التکوین) نه مثالونه پیش کړیدی۔ لهذا کشرانو ته وائی چه تاسو عوام مه پوهه کوئ په حق باندے چه قیامت کښ دربانده دلیل پیش نکړی او چه دوی دربانده دلیل پیش نکړو نو مغلوب به نشئ۔ او خپله به ئے دا بهانه کوله چه مونږ هم د خپلو پیغمبرانو تابع یو او اهل کتاب یو۔ پدے دهوکه شوی وو۔

(۲) – بعض مفسرین وائی : چه (عِنۡدَ رَبِّكُمۡ) نه کتاب الله او فیصله مراد ده۔ (أَیۡ فِیۡ كِتَابِ رَبِّكُمۡ وَحُكۡمِهٖ) ځکه د الله تعالیٰ په کتاب کښ جګړه کول داسے دی لکه د الله تعالیٰ په دربار کښ جګړه کول۔

نیشاپوریؒ معنیٰ کوی : (لِيَحۡتَجُّوۡا عَلَيۡكُمۡ بِمَا أَنۡزَلَ عَلَيۡكُمۡ رَبُّكُمۡ فِیۡ كِتَابِهٖ)

معنیٰ دا ده : جګړه به درسره کوی په هغه خبره چه الله تعالیٰ تاسو ته په کتاب خپل کښ نازل کړیده، یعنی دا تورات به درپسے راخلی چه ګوره دے کښ ئے داسے مسئله لیکلے ده او تاسو مونږ ته بیان کړیده او اُوس ئے نۀ منئ۔ ځکه چه بعض یهودیانو به مؤمنانو ته تورات ورخودلو چه ددے نبی صفات زمونږ په کتاب کښ هم شته لیکن مشرانو یهودو منع کړل او دا د یهودو صفت وو چه دوی مؤمنانو ته حق نۀ بیانولو۔ د

بعض جاهلانو مُلیانو دا عادت دے، هغوی وائی چه عوامو ته دین بیانول نۀ دی پکار، دوی بیا په مُلیانو مستیرې نو دوی همداسے غافل ساتل پکار دی۔ لیکن اوله معنی ظاهره ده۔ کله به دے یهویانو مؤمنانو ته د خپلو مشرانو واقعے او قصے او عذابونه او نقمتونه بیانول نو مشرانو منع کړل چه صبا له به درته وائی چه ستاسو مشران خو خراب خلق وو، تاسو ئے ځنګه تابعداری کوئ نو دغه شان غافله ئے اُوساتیٔ چه بحث درسره نشی کولے۔

(۳) [لِيُحَاجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ فَتَظْهَرُ لَهُمُ الْحُجَّةُ عَلَيْكُمْ، فَيَكُوْنُوْا اَوْلٰى بِاللّٰهِ مِنْكُمْ] (الحسن) (تفسير النكت و العيون للماوردیؒ)

(یعنی دوی ته دا حق مۀ بیانوئ ځکه چه دوی ته به ستاسو په خلاف حجت او دلیل ښکاره شی نو دوی به په تاسو غالبه شی لهذا دوی به الله تعالیٰ ته ستاسو نه زیات قریب شی) او تاسو به مغلوبه شئ، ځان ته به بیا غوره نشئ وئیلے۔

(أَفَلَا تَعْقِلُوْنَ) (۱) دا قول یا د مشرانو دے کشرانو ته او پدے کښې زیات تاکید دے په توبیخ ورکولو هغوی ته یعنی دومره عقل مو نشته چه دشمنان په ځان خبروئ، دشمن ته ولے خبر ورکوئ۔ چه د قیامت په ورځ به مو شرموی۔ او کوم انسان چه دشمن ته ځان پاتے راولی نو دا بے عقله وی۔

(۲) یا د اقول د الله تعالیٰ دے او خطاب دے مؤمنانو ته چه اے ایمان والو! د یهودیانو نه تاسو ددے منافقت او د حق د پټولو باوجود اُوس هم د ایمان طمع کوئ، لږ سوچ اُوکړئ چه یو انسان د حق د ښکاره کولو نه خلق منع کوی نو دا به ځنګه حق ته راشی۔ (قاله الحسن - اللباب) اول قول ډیر ظاهر دے۔

اَوَلَا يَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ
آیا نهٔ پوهیږي دوئ (یعني یهودیان) چه یقیناً الله پوهیږي په هغه څه چه دوی پټوی
وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۷۷﴾
او په هغه څه چه دوی ئے ښکاره کوی۔

تفسیر : اُوس الله تعالیٰ په دوی او په دغه ضدیان علماؤ باندے رد کوی چه علماء ئے د حق د خبرے د ښکاره کولو نه منع کوی او منافقان ئے پټ کفر کوی، دوی خو د خلقونه دا خبرے پټے ساتی، خو الله تعالیٰ ته د دوی هر حالت معلوم دے، ددے تولو سزا به ورکوی۔
او لا یعلمون : پدے کښې ضمیر مشران او کشران ټولو ته راجع دے۔
﴿ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ﴾ کومه خبره چه دوی پټوی او کومه خبره چه ښکاره کوی ټول الله تعالیٰ ته معلوم دی۔ نو ولے به ئے الله تعالیٰ نهٔ راښکاره کوی ځکه که تا مؤمن ته بیان نکړه نو الله تعالیٰ ته خو ستاسو دروغ معلوم دی هغه به ئے راښکاره کړی، د هغه په مخکښې به اُوشرمیږی هغه به ئے ټولو خلقو ته ښکاره کړی چه دا هغه شرمیدلی دی۔ پدے کښے د حق او د کفر پټول او د ایمان ښکاره کول په طریقه د منافقت سره داخل دی۔

وَمِنْهُمْ أُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ إِلَّا
او بعضِ د دوئ نه امیان (اَن پڑھ، ناخوانده) دی چه نهٔ پوهیږی په کتاب مګر
أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۷۸﴾
روان دی د آرزوګانو (خواهشاتو) پسے او نهٔ دی دوی مګر ګمان (او اټکل) کوی۔

تفسیر : د دوی دوه ډلے بیان شوے یو منافقان دی، دویم تحریف کونکی په تحریف معنوی سره نو اُوس دریمه ډله د عوامو امیانو بیانوی۔ اُمِّيُّوْنَ جمع د اُمی ده، او امی

منسوب دے ام ته یعنی د مورنه چه څنګه ناپوهه پیدا وو نو هغه شان ناپوهه دے۔ هیڅ خط او کتابت او لوستل ئے نۀ دی زده کړی۔ او دا صفت په عامو انسانانو کښې قبیح دے لیکن زمونږ د نبی کریم ﷺ په صفت کښې د مدحے صفت دے۔

(۲) ابن عاشور رحمه الله فرمائی : (وَالْأَظْهرُ أَنَّهُ مَنْسُوبٌ إِلَى الْأُمَّةِ بِمَعْنَى عَامَّةِ النَّاسِ فَهُوَ يُرَادِفُ الْعَامِيَّ) (ډیره ظاهره دا ده چه امی منسوب دے امت ته په معنیٰ د عامو خلقو سره نو دا بیا د عامی په معنیٰ دے)۔ چه قرائت او کتابت باندے نۀ پوهیږی۔

او مطلب دا دے چه دا ټول په کفر او ضلالت کښې سره یو برابر دی، علماء ئے تحریف د الله تعالیٰ د کتاب کوی او عوام خلق ئے په لیکلو او لوستلو نۀ پوهیږی چه پخپله د تورات مطالعه اُوکړی او د نبی ﷺ د نبوت دلائل اُوپیژنی او ایمان راوړی، بلکه د دوی ټوله اثاثه بے بنیاده ارمانونه او آرزوګانے او خواهشات دی چه د علماؤ نه ئے موندلی دی، هغوی ورته وائی چه الله تعالیٰ به دوی معاف کوی څکه چه د دوی انبیاء چه دوی د هغوی اولاد دی، هغوی به دوی لره سفارش کوی او دارنګه جنت د دوی پورے مختص دے۔

او دارنګه وئیل به ئے چه مونږ د الله تعالیٰ خامن او محبوبان یو، د انبیاؤ اولاد یو۔

دارنګه مُلیانو ورته وئیلی وو چه مونږ به تاسو د الله تعالیٰ د عذابونو نه خلاصوو، او مونږ به جهنم ته صرف د یو څو ورځو دپاره ځو، پدے جالونو کښې خپلو مُلیانو انخلولی وو، هیڅ تحقیق ورسره نۀ وو، په جهالت ئے سر وو، دا د دوی د ایمان حصه وه، لکه دا کار بعینهٖ زمونږ ددے امت امیانو باندے خپلو باطل مُلیانو او پیرانو اُوکړو چه دوی ته ئے وئیلی وو (اَلا بلا بگردن مولا) کله ورته وائی د امی سړی د دلیل سره څه کار! د هغه دپاره د مولا خبره دلیل دے۔ کله وائی :(قال قال بسیار است مرا قول ابوحنیفه کافیست)(فتاوی برهنه)

نو الله تعالیٰ فرمائی : دداسے امت نه چه د هغوی د علماؤ دغه حال دے او د عوامو ئے دا حال دے– تاسو به څنګه طمع د ایمان اُوکړئ۔

لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتَابَ : د کتاب نه تورات مراد دے۔ یا جنس کتاب چه تورات ته هم شامل دے۔

(اِلَّا أَمَانِيَّ) پدے کښې درے تفاسیر دی او استثناء یا متصل یا منقطع ده۔

(۱) امانی : جمع د امنیة ده د تمنی نه اخستلے شویدے په معنیٰ د قَرَءَ (لوستلو) سره

ـلکه (إِذَا تَمَنَّىٰ أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ) (الحج : ٥٢) (اى قَرَأ) کله چه قراء ت کوی۔
دارنگه حسان بن ثابت ﷺ د عثمان ﷺ په مدح کښې داسې وئيلی وو :

تَـمَـنّـٰـى كِتَـابَ اللّٰهِ أَوَّلَ لَيْـلَةٍ ❁	وَآخِـرَهُ لَاقَـىٰ حِـمَـامَ الْـمَقَـادِرِ
تَـمَـنَّـىٰ كِتَـابَ اللّٰهِ أَوَّلَ لَيْـلَةٍ ❁	تَـمَـنِّـىَ دَاوُدَ عَـلَـى رَسَـلٍ

(١- په اول د شپه کښې ئې د الله تعالىٰ کتاب لوستلو او په آخر د شپه کښې د مقرر مرگ سره ملاؤ شو، ٢- په اول د شپه کښې ئې د الله تعالىٰ کتاب اُولوستلو لکه څنگه چه داود ﷺ زبور په آرام سره لوستلو)

نو د اَمانی نه مراد ظاهری قراء ت او تلاوت دے۔ معنىٰ دا ده چه بعض په دوی کښې هغه خلق دی چه د کتاب الله علم ورسره نشته مگر ظاهری الفاظ لولی۔ او د حقائقو او معانیو نه ئې خبر نهٔ وی لکه زمونږ پدے اُمت کښې هم داسې خلق دی چه په تلاوت د قرآن باندے به ښهٔ پوهیږی لیکن حقیقت د قرآن نه نهٔ دی خبر او وائی چه مونږ اهل قرآن یو او مونږه د قرآن خادمان یو او صرف په تلاوت او حفظ باندے فخر کوی۔ او حال دا چه اصلی مقصد د قرآن په معنیٰ او تفسیر باندے ځان پوهول او بیا د هغے مطابق عمل کول او د هغے بیانول دی۔(دے آیت کښې سوچ اُوکړه)۔ او دا معنیٰ امام رازیؒ په تفسیر کبیر کښې غوره کړیده۔ دے دپاره چه د مابعد او د ماقبل د استثناء مطابقة راشی۔

او امام ابوحفص الدمشقیؒ په "اللباب" کښې وئیلی دی چه دا قول د اکثرو اهل علمو دے، او دا غوره دے نو استثناء متصل ده او اَمانی په معنیٰ د "لوستلو د الفاظو" دے۔

نو هرکله چه دوی امیان دی او د لوستلو نه ماسوا په بل هیڅ څیز نهٔ پوهیږی نو دوی په عقیدو او عملونو کښې په څه پسے روان دی ؟ نو فرمائی : (اِنْ هُمْ الا يظنون) دوی د گمانونو پسے روان دی چه علم ورسره نشته او ځان ته عالمان وائی، ځان ئې هسے په مُلیانو کښې شمارلے دے او مینځ کښې علم ورسره نشته۔ او ایمان ورسره نشته او ځان ته مؤمنان وائی۔ او دارنگه اهل حق نهٔ دی او ځان ته حق پرست وائی، پدے باندے دوی ځان کامیاب گنړی، او دا د ځان سره دوهوکه ده چه یو انسان پوهیږی نهٔ او ځان ته پوهه وائی۔ یو انسان د الله ولی، هدایت والا نهٔ دے او ځان د الله تعالىٰ ولی او هدایت والا گنړی نو دا ځان سره دهوکه کوی۔

(۲) تفسیر : اَمَانی (تَمَنِّیَات) آرزوګانو او ارمانونو ته وئیلے شي او دا استثناء منقطع ده په معنی د لکن سره یعنی : (لٰکِنْ یَتَّبِعُوْنَ الْأَمَانِيَّ وَالتَّمَنِّیَاتِ) لیکن روان دی د تشو آرزوګانو پسے، صرف آرزو دے ته وائی چه سړے څه عمل نهٔ کوی او نیت لری چه زه بس ښه سړے یم او کامیاب، جنتی یم۔ او زه به متبوع یم او ټول خلق به زما تابع وی۔ ځان نه ئے پیران او مشران جوړ کړی وی، او ګمانونو پسے روان دی۔

د یهودو دا صفت وو چه بس مونږ خو د پیغمبرانو اولاد یو او مونږ اهل کتاب یو۔ او مونږ د الله تعالیٰ غوره ډله یو۔ نو دوی په تشو ګمانونو ځان متبوع ګڼړلو حال دا چه څوک د چا متبوع کیږی نو هغه په څه کار باندے، په څه عقیده، په څه عمل او څه اخلاقو او څه کارنامو باندے او په یقین او عمل باندے۔ نو دوی تورات صرف د خپلو آرزوګانو مجموعه ګڼړله چه (لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ) او (لَنْ یَّدْخُلَ الْجَنَّةَ)

د ځان نه ئے عقیده جوړه کړے وه او ګمان ئے دا وو چه دا ګنے په تورات کښې وئیل شویدی۔

او زمونږ په امت کښې هم ډیر جاهلان شته، وائی مونږ مسلمانان یو دا جنت الله تعالیٰ چا له پیدا کړیدے؟، مسلمانانو له ئے پیدا کړیدے۔ سره ددے نه چه عقیده به ئے خرابه وی، عمل او اخلاق به ئے خراب وی نو صرف د اسلام په نوم هم ځان جنت ته بوځی۔ نو هغوی به هم داسے وئیل چه مونږ اهل کتاب یو او حال دا چه د کتاب نه د سره خبر نهٔ وو او ځان ته ئے اهل کتاب وئیل، دے امت کښې هم ډیر خلق د قرآن او حدیث نه هیڅ خبر نهٔ وی او په قرآن او حدیث فخر کوی، او حال دا چه د قرآن او سنت خوا له نهٔ راځی۔ آرزو پسے روان وی۔

امام رازیؒ په تفسیر کبیر کښے لیکی : څوک چه پدے آیتونو کښې سوچ اُوکړی نو پدے کښې چه کومے فرقے ذکر دی دا به یقیناً پدے اُمت کښې اُومومی۔

(۳) تفسیر : تَمَنّی کله په معنیٰ د کَذَبَ (دروغ وئیلو) سره هم راځی (الوسیط) نو امانی په معنیٰ د (اَلْأَکَاذِیْبُ وَالْمَکْذُوْبَاتُ) سره دے (یعنی دروغ خبرے) او استثناء منقطع ده۔ (لٰکِنْ یَتَّبِعُوْنَ الْأَکَاذِیْبَ) (یعنی مشرانو ورته دروغ وئیلی دی په هغے پسے روان دی) لکه دے امت کښې هم چه څوک ډیر دروغ وائی نو هغه پسے ډیر خلق روان وی۔

(وَاِنْ هُمْ اِلَّا یَظُنُّوْنَ) صرف ګمان کوی او ګمان پسے روان دی او ګمان پسے په باب د

عقیده او دارنګه په باب د اعمالو کښې روانیدل صحیح نهٔ دی، زمونږ دین ټول یقینی یقینی دے، خبر واحد ئې هم یقینی دے او قرآن ئې هم یقینی دے۔ او دا خبره چه خبر واحد (یوتن نقل کړے حدیث) ګمان پیدا کوی – نو دا عقیده غلطه ده۔
خطیب شربینیؒ لیکی : ظن هغه رائے او عقیدے ته وائی چه هیڅ قطعی دلیل ئې نهٔ وی اګرچه د هغے صاحب په هغے باندے یقین کوی لکه عقیده د مقلد او د حق نه د اوړیدونکی په سبب د شبهے سره۔ (السراج المنیر) نو په آیت کښې رد د تقلید دے چه چا سره یقینی دلیل نهٔ وی نو د هغه پسے روانیدل د یهودو صفت دے۔
نو پدے آیت کښے د اهل کتابو دا صفت ذکر شو چه دوی ګمان پسے روان دی، دلیل ورسره نشته، ځکه چه ظن علم نهٔ دے۔ او ځان ته بزرګان وائی او حال دا چه عقیده ئې خطاء ده۔ او په حق کښې دوی د ټولو خلقو نه زیاتے جګړے کوی، او سخت دروغجن او غرور والا دی۔
دارنګه پدے آیت کښې الله تعالیٰ مونږ ته دا تنبیه هم راکوی چه تاسو د ځان نه دغسے کسان مهٔ جوړوئ چه په څه نهٔ پوهیږئ او دعوی غټے غټے کوئ، نهٔ ! د خپلے شرۍ مطابق خپے اوغزوئ۔
ابن جریرؒ معنیٰ کوی : [يَتَخَرَّصُوْنَ الْكَذِبَ وَيَتَقَوَّلُوْنَ الْأَبَاطِيْلَ]
دروغ جوړوی او باطلے خبرے کوی پیدا کوی۔ یعنی ظن په معنیٰ د دروغ وئیلو دے ځکه چه د دوی په صحت د خپلو خبرو باندے علم نشته۔
(۲) – بعض معنیٰ کوی : أَكَاذِيْبَ سَمِعُوْهَا مِنْ عُلَمَائِهِمْ فَنَقَلُوْهَا عَلَى التَّقْلِيْدِ (البحر المحیط)
(دوی دروغ د علماؤ نه اوریدلی دی نو په تقلیدی طریقه ئې نقل کوی) چه بس ملیانو او استاذانو داسے وئیلی دی، نور مونږ نهٔ یو خبر۔ نو که ملیان ئې غلط وی نو دوی هم په غلطه شو او که ملیان ئې رشتینی شی نو دوی به هم رشتینی شی او بعینهٖ دیته تقلید وائی۔ او دا په دے آیت سره حرام دے۔
فائده : امانی که په معنیٰ د قراءة الالفاظ (الفاظ لوستلو سره) شی نو پدے کښې د دوی عمل ذکر شو او (اِلَّا يَظُنُّوْنَ) کښې ئې عقیده ذکر شوه چه د دوی عمل هم بے دلیل دے او عقیده ئې هم د ګمان او د دروغو او د تقلید ده۔ او که امانی په معنیٰ د تمنیات او

خیالانو سره شی نو بیا اِنْ هُمْ اِلَّا یَظُنُّوْنَ تاکید دے د امانی دپاره چه دوی کښې هیڅ قسم علم نشته۔
(۲) یا دا چه امانی نه مراد هغه خیالات او تقدیرات او فرضیات دی، چه ملیانو نه ئے اَوریدلی دی، په هغے هم عمل کوی او یظنون کښې د دوی خپل گمانونه او خیالات مراد دی۔
فائده : او یَظُنُّوْنَ ئے جمله فعل مضارع سره ذکر کړه نۂ په اسم فاعل سره، اشاره ده چه ظن ددے عوامو همیشه نوے نوے پیدا کیږی نو دا دلالت کوی په گډوډ والی د عقیدے د دوی۔ مشرکین عوام هم دغه شان کار کوی چه په خپلو معبودانو او باباگانو باندے ئے گمانونه بدلیږی رابدلیږی، کله یو پسے منډے او کله بل پسے۔ او کله د یو بابا صفت او کله د بل۔

مسائل الآیة :

(۱) د آیت نه معلومه شوه چه علمونه کسبی امور دی او بدیهی نۂ دی ددے وجه نه الله تعالیٰ بدی وئیلے ده د هغه چا چه علم نۂ لری او گمانونه کوی۔
(۲) او دلیل دے چه تقلید باطل کار دے۔
(۳) گمراه کونکے مذموم دے او څوك چه د گمراه کونکی په گمراه کولو گمراه شی هغه هم مذموم دے څکه الله تعالیٰ د دوی بدی بیان کړیده اگر که بل گمراه کړے وی۔
(٤) په اصولو د دین کښې اکتفاء په ظن باندے جائز نۂ ده۔او آیت دلیل دے چه گمانونه او آرزوگانے انسان لره حق ته نشی رسولے۔ [الکبیر ۲/۱۷۱]
(٥) د کوم قول او عمل چه وجود او عدم برابر وی نو د هغے یو جانب ته تلل بغیر د دلیل نقلی نه نشی کیدلے۔
(٦) اُمیت (امی کیدل) صفت د هغه چا هم دے چه قرائت (لوستل) نشی کولے او هغه څوك هم په امیانو کښې داخل دے چه لوستل کولے شی لیکن په معنیٰ ئے نۂ پو هیږی۔
(۷) په آیت کښې بدی بیان شوه د هغه چا چه د الله تعالیٰ د کتاب د مقاصدو په پیژندلو باندے څه باك نکوی او ددے اهتمام ورسره نۂ وی او مقصد ئے صرف الفاظ وی۔ لکه د صوفیانو ډله شوه۔
(۸) (اِنَّ مَنْ لَایَفْهَمُ الْمَعْنیٰ فَاِنَّهٗ لَایَتَکَلَّمُ اِلَّا بِالظَّنِّ) څوك چه په معنیٰ او مقصد نۂ

پو هیږي نو هغه به په ظن سره خبرې کوي نو عامي سړي چه قرآن کریم د اول نه تر آخره پورې اُولولي لیکن په معنیٰ ئې نۀ پو هیږي نو چه کله په یو حکم د احکامو د الله تعالیٰ کښې خبره کوي نو دده کلام به ګمان وي، ځکه چه دا خو په حقیقت کښې علم نۀ لري ځکه چه علم بغیر د فهم د معنیٰ نه حاصلیدل ممکن نۀ دی۔

(۹) د آیت نه بدی د هغه چا معلومه شوه چه په ظن سره حکم او فیصله کوي او دا د یهودو صفت وو، او دا صفت په ډیرو هغو خلقو کښې هم موجود دې چه هغوی پدې خوشحالیږي چه دوی ته علماء اُوئیلې شي نو ته به ګورې چه هغه به بغیر د علم نه فتوې ورکوي، ډیر کرته د کتاب او سنت خلاف فتویٰ ورکوي او په ځان نۀ پو هیږي۔

(۱۰) مُقلِد عالِم نۀ دې ځکه چه هغه په معنیٰ او مقصد د آیت او حدیث نۀ پو هیږي۔

[وَقَدْ قَالَ ابْنُ عَبْدِ الْبَرِّ: أَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلٰى اَنَّ الْمُقَلِّدَ لَيْسَ بِعَالِمٍ]

(ابن عبد البرّ فرمائي : د علماؤ پدې اتفاق دې چه مقلد عالِم نۀ دې)۔ (تفسیر ابن عثیمین)۔

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِأَيْدِيْهِمْ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ
پس هلاکت دې هغه کسانو له چه لیکي کتاب په لاسونو خپلو بیا وائي (خلقو ته)
هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۖ فَوَيْلٌ
دا د طرف د الله نه دې، دې دپاره چه واخلي په هغې پیسې لګې (دنیا) پس تباهي ده
لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ اَيْدِيْهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ
دوی لره د وجه د هغې نه چه لیکلي دي لاسونو د دوی، او هلاکت دې دوی لره
مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ ﴿۷۹﴾
د هغې نه چه دوی ئې کسب کوي (مال پرې ګټي)۔

تفسیر : اُوس څلورمه ډله تحریف لفظي کونکي بیانوي چه د الله تعالیٰ د کتاب

(تورات) آیاتونه او د هغې احکام به ئې د دنیا د متاع او فائدو دپاره بدلول او د خپل تحریف شوی کلام په باره کښې به ئې خلقو ته وئیل چه دا د الله تعالیٰ کلام دے، او د خپلو حرکتونو په وجه ئې درے قسمه ظلمونه کول، یو به ئې د خلقو دین بدلولو، بل به ئې ددغه مُحرّف کتاب نسبت الله تعالیٰ ته کولو۔ او بل به ئې د هغوی نه په ناجائز طریقه مال خوړلو، پدے وجه په آیت کښې درے ځله د هغوی دپاره (وَيْلٌ) ذکر شویدے۔

او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : په تورات کښې د رسول الله ﷺ داسے صفات وو (حَسَنُ الْوَجْهِ، حَسَنُ الشَّعْرِ، اَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ، رَبْعَةُ الْقَامَةِ)

(ښائسته مخ، ښائسته ویښتو والا، رنجیني سترګو درمیانه قد والا به وی) نو دوی د هغې په ځائے داسے اُولیکل : (اَزْرَق، سَبِطُ الشَّعْرِ) (شین سترګے، پرتو ویښتو والا) نو عوامو ته به ئې خودل چه په تورات کښې ددے نبی صفات علاوه ددے نه موجود نۀ دی۔ نو هغوی به ئې د ایمان راوړلو نه منع کړل۔

(ابن ابی حاتمؒ، سیوطیؒ)

دارنګه کله به ئې داسے تحریف کولو چه خپل الفاظ به ئې اُولیکل بیا به ئې وئیل قَالَ اللهُ قَالَ الرَّسُوْلُ ۔ الله تعالیٰ داسے وئیلی دی او رسول داسے وئیلی دی، د دروغو نسبت به ئې الله تعالیٰ ته کولو۔

ددے وجه نه شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ فرمائی : پدے آیتونو کښې اګرکه د یهودیانو د علماؤ بدی ذکر شویده لیکن د دین اسلام د راتلو نه بعد هغه خلقو ته هم شامل دے چه د بدعاتو د ثابتولو دپاره په قرآن او سنت کښې تحریف کوی۔ یا آیتونه او احادیث چه د دوی د اقوالو نه خلاف وی، هغه پټوی۔ (تیسیر الرحمن)

زمونږ په دے امت کښې هم داسے طریقے سره تحریف ډیر زیات دے چه خلقو موضوعی حدیثونه ایجاد کړیدی او نبی ﷺ ته ئې نسبت کړیدے۔ اګرکه زمونږ په امت کښې علماء کرام رحمهم الله دغه موضوعی احادیث د صحیح احادیثو نه داسے جدا کړیدی لکه د وړو نه چه ویښته جدا کولے شی ځکه چه احادیث وحی ده او د وحی د حفاظت ذمه واری الله تعالیٰ اخستے ده نو د هغې د حفاظت دپاره ئې داسے کره علماء پیدا کړیدی۔

(**فَوَيْلٌ**) د ویل ډیرے معانی علماؤ ذکر کړیدی : (۱) (اَلْوَيْلُ : جُمَّاعُ الشَّرِّ كُلِّهٖ) (قاله الحرالی- نظم الدرر) (ټولو شرونو او ضررونو ته وئیلے شی)

(۲) د ابن عباس ﷺ نه نقل دی : (اَلْوَيْلُ : اَلْمَشَقَّةُ مِنَ الْعَذَابِ) (د عذاب مشقت ته وئیلی شی) (۳) (شِدَّةُ الشَّرِّ) (ویل : سخت شر او تکلیف ته وئیلی شی) (خلیل)

(٤) اصمعیؒ وائی : ویل تفجع (فریاد) او وَیح ترحم دے۔

(۵) وَیل هغه چا دپاره استعمالیږی چه په هلاکت کښ واقع وی او ویح زجر دے هغه چا دپاره چه هلاکت ته نزدے شوے وی۔ (سیبویه)

(٦) وَیل : حزن او خفګان ته وئیلی شی۔ (ابن عرفه)

(۷) بعض وائی : اصل کښ هلاکت ته وئیلی شی، هرڅوك چه په هلاکت کښ واقع شی نو دُعا د ویل کوی۔لکه (يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتَابِ) (تفسیر القرطبی)

(۸) – دارنګه په جهنم کښے یوه کنده ده او څوك چه هغے ته داخل شو نو هغه هلاك شو (ابن حبان فی صحیحه والحاکم وَصَحَّحَهُ هُوَ وَالذَّهَبِيُّ لٰكِنَّهُ حَدِيْثٌ ضَعِيْفٌ مَرْفُوْعًا)

او پدے باره کښے آثار د ابن عباس ﷺ، د عطاء بن یسارؒ نه نقل دی انظر : (الزهد لاسد بن موسی)

(۹) بعض وائی : (كَلِمَةُ تَهْدِيْدٍ وَوَعِيْدٍ) دا کلمه په مقام د دهمکی او سزا بیانولو کښے ذکر کیږی۔

نو د ویل معانی دی : حزن (خفګان)، هلاکت، عذاب، مشقت، شر او ضرر۔

حاصل دا چه وَیل په اصل کښ د الله تعالیٰ د غضب الفاظ دی، کله چه الله تعالیٰ په بنده باندے غضب او غصه کوی نو ویل ورله استعمالوی۔

بِأَيْدِيْهِمْ : دا ورسره څکه وائی چه کله لیکل په طریقه د امر سره وی، چه بل ته حکم اُوکړی چه داسے اُولیکه او خپل لاس سره ئے نهٔ وی لیکلے، خو چه تحریف اُوکړی او بیا ئے په خپل لاس هم لیکلے وی نو پدے کښ زیات قباحت دے چه ښه د پو هے او قصد سره دوی دغه شان خلق ګمراه کوی، د پیسے او د دنیا د مال متاع د خاطره۔

(لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا) یعنی دنیا پرے اخلی، بلکه څه مجبورتیا ئے هم نشته۔

علامه ابن عادل الدمشقیؒ فرمائی : پدے کښ دوه قسمه تنبیهات دی :

(۱) یو دا چه دا دلیل دے د دوی په نهایت شقاوت او بد بختئ باندے څکه عاقل انسان په ثمن قلیل د دنیا باندے نهٔ رضا کیږی چه د هغے په وجه په آخرت کښ د اَبَدی اجر عظیم نه محروم شی۔

(۲) دویم دا چه دوی دا کار د مال او جاه د طلب دپاره کړیدے۔نو دا دلیل دے چه په باطل باندے مال اخستل اګر که په رضا د جانبینو سره وی، هم حرام دی، ځکه دے یهودی مُلیانو ته چه به عوامو کوم مالونه ورکول نو بښه په محبت او رضا به ئے ورکول او الله تعالیٰ ئے بیا هم بدی بیان کړه۔ (اللباب)

ثَمَنًا قَلِيْلًا : د قلت وجوه درے دی : (۱) فانی دی (۲) حرام دی ځکه حرامو کښې برکت نهٔ وی۔ (۳) د آخرت په نسبت کم دی۔

فائده : په یهودو کښې دا طریقه وه چه د الله تعالیٰ احکام به ئے بدلول او په هغے به ئے د خلقو نه پیسے اخستلے۔ او دا به ئے وئیل چه که مونږ دوی ته صحیح دین بیان کړو نو بیا زمونږ تنخواه ګانے او کسبونه او خوراکونه بندیږی۔نو د یهودو چه څه مرضونه دی دا زمونږ پدے اُمت کښې هم شته مُلا صاحب وائی : زهٔ به درله مسئله اُوګورم او ستا په حق کښې به فیصله اُوکړم خو دومره شوره به راوړے۔ بعض ورته د چائے پانړے وائی۔ څوك چه په کومه عهده فائز دے بس هغه پکښے مارے داړے کوی، د الله تعالیٰ د رضا دپاره هیڅا سره منډه نهٔ وهی۔ الا من رحم ربك۔ د جرګو او فیصلو والا مُلیان هم دا کار کوی۔ نو د دنیا دپاره د الله تعالیٰ حکم بدلوی، دا جائز نهٔ ده۔ نو رب العزت ورته بار بار وعید او دهمکی بیان کړیده۔

(وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُوْنَ) پدے کښې دوه معانی دی (۱) یو دا چه کومے پیسے ئے چه ګټلی دی په دے دِ تباه شی۔(۲) – دویم دا چه عام ګناهونه مراد دی یعنی دوی چه عام ګناهونه کړیدی په هغے دِے هم تباه شی۔او همدا ظاهر ده ځکه دلته عموم دے۔

فائده : آیت کښې درے ځله (ویل) ځکه اُووئیلو چه درے کارونه ئے کړی دی :

۱– دروغ ئے جوړ کړیدی او په خپل لاسونو ئے لیکلی دی۔

۲– دویم بیا نسبت د دروغو ئے الله تعالیٰ ته کړیدے۔ دا بل جرم، ځکه چه کتاب ئے اُولیکلو نو داسے وینا ورله پکار وه چه دا زما خپل کتاب دے، خپلے مسئلے درته کوم۔ نو دا لا دومره غټ جرم نهٔ وو لکه ډیر خلق یو قانون جوړ کړی چه د الله د قانون سره متصادم وی، لیکن هغے ته د الله تعالیٰ قانون نهٔ وائی دا هم مجرم دے لیکن ددے نه غټ مجرم هغه انسان دے چه خپل جوړ کړی قانون ته د الله تعالیٰ قانون وائی۔ په الله تعالیٰ باندے دروغ وائی۔

۳- دریم دا چه بیا پرے دنیا هم گټی۔ نو دا ډیر لوئی مجرم دے، یو سړے په الله تعالیٰ باندے دروغ د دین دپاره اُووائی دا هم مجرم دے، خو بیا به هم سړے اُووائی چه د دین دپاره ئے دروغ وئیلی دی۔ لیکن ده د دنیا دپاره په الله تعالیٰ باندے دروغ اُوتړل، دا عظیم جرم دے۔ پدے وجه ئے ورله درے ځله هلاکت ذکر کړو۔ او دا څه د توقو خبره نۀ ده چه الله ډِیے چا ته بنیرے اُوکړی او یا ډِیے خبر ورکړی چه دۀ دپاره هلاکت دے او هغه ډِیے بیا بچ شی!۔

فائده : علامه قرطبیؒ لیکی :

پدے آیت او ددے نه مخکنی آیت کښ تحذیر (یره ورکول) دی د تغییر او تبدیل او زیادت پیدا کولو نه په شرع کښ نو هر هغه څوك چه په دین کښ تغییر یا تبدیل اُوکړی یا په دین کښ بدعت پیدا کړی کوم چه په دین کښ نۀ وی او په دین کښ جائز نۀ وی۔ نو دا پدے وعید شدید او عذاب الیم کښ داخل دے۔او دا کار پدے امت کښ ډیر واقع شویدے ۔ (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیۡهِ رَاجِعُوۡنَ)۔

وَقَالُوۡا لَنۡ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّاۤ اَیَّامًا مَّعۡدُوۡدَةً ؕ
او وائی دوئ : هیچرے به نۀ رارسی مونږ ته اُور مګر یو څو ورځے شمارلے شوے،
قُلۡ اَتَّخَذۡتُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ عَهۡدًا فَلَنۡ یُّخۡلِفَ اللّٰهُ
تۀ اُووایه ! آیا تاسو اخستے دے د الله سره لوظ نو (بیا) هیچرے خلاف نکوی الله تعالیٰ
عَهۡدَهٗۤ اَمۡ تَقُوۡلُوۡنَ عَلَی اللّٰهِ مَا لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۰﴾
د لوظ خپل نه، بلکه تاسو وایئ په الله باندے هغه څه چه تاسو پرے نۀ پو هیږئ۔

المناسبة : پدے جملو کښ یو خو خبائث الیهود بیانیږی دویم د یظنون او الامانی تشریح ده۔

تفسیر: دا پکښ بل صفت وو۔ دے ته زمونږ مشائخ کرام – رحمهم الله – د ډلے نوم اړدی۔ چه دا بیله ډله ده۔ دا یوه اصطلاح ده، ورنه دا بیل بیل جماعتونه نۀ وو۔ بلکه په یهودیانو کښ مجموعه دا صفات موجود وو۔ تهمتونه به ئے هم لګول، چغلی به ئے هم

کوله، تحریف به ئے هم کولو خو هریو کس کښې دا کار نۀ وو. مجموعي لحاظ سره دا بد صفات پکښې موجود وو. د عامو یهودو عقیده او دعوه دا ده : (اَلْمُخَصِّصِیْنَ لِاَنْفُسِهِمُ بِالْجَنَّةِ) (ځان پورې جنت خاص کونکي دي) چه جنت ته به صرف او صرف مونږه ځو او جهنم ته که لاړ شو نو صرف یو څو ورځې به پکښې یو. دا ولې ؟

وجه به ئے دا بیانوله چه زمونږ پلار نیکه د سخې عبادت کړیدې، او ددې په وجه به صرف څلویښت ورځې اُور ته ځو نور مونږ جنتیان یو. لیکن دوی بې دلیله دروغ وائي. دارنګه دوی وائي : مونږه پاك خلق یو، هسې واړه واړه ګناهونه رانه شویدي، د هغې په وجه باندې به اُور ته ځو او بیا به جنت ته داخلیږو، ځان ته ئے پاك وئیل او حال دا چه عقیده ئے غلطه وه. شرك او كفر او کبیره ګناهونه به ئے کول.

شان نزول : رسول الله ﷺ دوی نه تپوس اُوکړو (مَنْ اَهْلُ النَّارِ ؟) چه اُور والا څوك دي؟ نو دوئ د ځان نه جواب اُوکړو چه (نَكُوْنُ فِيْهَا يَسِيْرًا، ثُمَّ تَخْلُفُوْنَّا فِيْهَا) مونږ به یو څو ورځې اُور کښې یو، بیا به ترې رابهر شو او تاسو به زمونږ نه روستو پاتې شئ) نو نبی ﷺ ورته اُوفرمایل : [اِخْسَئُوْا فِيْهَا، وَاللّٰهِ لَا نَخْلُفُكُمْ فِيْهَا اَبَدًا]

[بخاری : ۳۱۶۹، احمد: ۹۸۲۶، نسائی: ۱۱۲۹۱]

(کورئ شئ پدې اُور کښې قسم په الله مونږ به تاسو نه روستو هیچرې نۀ پاتې کیږو).

یعنی دا اُمت به روستو نۀ پاتې کیږی بلکه مؤمنان که د ګناهونو په وجه جهنم ته لاړ شي نو آخر کښې به راوځي او یهود به پکښې همیشه دپاره پاتې وي. بلکه د حدیث نه معلومه ده چه [اِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ دَفَعَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ اِلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ يَهُوْدِيًّا اَوْ نَصْرَانِيًّا فَيَقُوْلُ هٰذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ] [مسلم: ۷۱۸۷]

هر مؤمن ته به الله تعالیٰ یو یهودي او کافر ورکړي چه دا اُونیسه او د خپل ځان په بدله کښې ئے اُور ته بوځه. دا ستا دپاره د اُور نه دآزادئ سبب شو) نو څوك چه د یهود او نصاراؤ ملګرې دې، هغه به هم د هغه سره شریك اُور ته ځي.

بیا دلته **سوال** دا دې چه داسې خبره خو زمونږ مسلمانان هم کوي، او دا د مسلمانانو عقیده ده چه الله تعالیٰ به مسلمانان جنت ته بوځي، که څه موده د ګناهونو په وجه دوزخ ته لاړل، تلې به وي خو آخر به ئے الله تعالیٰ جنت ته بوځي نو څنګه هغوی پدې خبره کښې غلط شو او مسلمانان صحیح شو؟.

جواب دا دے چه هغوی دا خبره د ځان نه کوله، دليل ورسره نۀ وو او حال دا چه عقيده ئے غلطه وه، ځکه پرے الله تعالىٰ رد کوی، الله تعالىٰ ور ته دا خبره نۀ وه کړے بلکه د ځان نه ئے عقيده جوړه کړے وه او د الله تعالىٰ کتابونه ئے سم نۀ منل، رسولان ئے نۀ منل، او دعوىٰ د جنت به ئے کوله۔ او مونږه مسلمانان چه دا خبره کوو، نو دا په دليل کوو۔ دليل د الله تعالىٰ او د هغه د رسول ﷺ مونږ سره موجود دے، قرآن او حديث کښ دا عقيده ذکر ده چه څوك مؤمن وی او د توحيد او د رسالت کلمه ئے وئيلی وی، او قيامت ئے منلے وی او نيك عمل ئے کړے وی نو دا به يو وخت کښ الله تعالىٰ جنت ته بوځی، که پاك وو، اول نه به ئے سيده جنت ته بوزی، او که ګنهګار وو نو کله چه د الله تعالىٰ خوښه وه۔ نو مونږه ئے په دليل وايو او دوی بے دليله لګيا دی۔

﴿إِلَّا أَيَّامًا مَعْدُودَةً﴾ (۱) د ابن عباسؓ او مجاهدؒ نه روايت دے چه يهودو به وئيل چه د دنيا عمر اُووه زره کاله دے او مونږ به د هر زرو کالو په مقابله کښ يوه ورځ عذاب خورو۔

(۲) د ابن عباس ﷺ يو بل روايت دے چه يهودو به وئيل : دومره موده به جهنم ته ځو څومره موده چه زمونږ مشرانو د سخی عبادت کړيدے چه هغه څلويښت ورځے دی بيا به عذاب زمونږ نه ختم شی۔ نو دا آيت نازل شو۔ (ابن جريرؒ، ابن کثيرؒ)

دا د دوی هغه اَمانی (آرزوګانے) وے۔ کفر پکښ موجود وو او ځان ئے جنتيان ګنړل۔ او دا دليل ئے غلط وو، ځکه چه د مشرانو د شرك په وجه کشرانو ته عذاب نۀ ملاويږی۔

۲- دويم دا چه هر کله مشرانو ئے توبه اُوويستله او الله تعالىٰ قبوله کړه نو بيا عذاب څنګه ورکولے شی۔ دارنګه اوله خبره ئے هم غلطه ده ځکه چه دوی به يا ګناهګار او مجرمان وی يا به نۀ وی، که نۀ وی نو ولے اُووه ورځے عذاب ځان دپاره منی او که مجرمان وی نو بيا اُووه ورځے د کوم ځائے نه شوے بلکه هميشه به پکښ پراته وی۔

(۳) وجه : دوی به وئيل مونږ پاك خلق يو، د الله تعالىٰ د ځامنو پشان يو، او د الله تعالىٰ محبوبان يو۔ لکه روستو سورة المائده کښ راځی۔ صرف مونږ انسانان يو، که کوم صغيره ګناهونه رانه شوی وی که په هغے مو چرته يو څو ورځے جهنم ته بوځی، وی به ګنے باقی آخری تيهکانه زمونږ جنت دے۔ او دا د بعض جاهلانو طريقه هم وی چه وائی زما ياد نشی چه ما داسے غټه ګناه کړيوی او حال دا چه د ګناهونو په ګنده حوض کښ غوپه وی۔

(عِنۡدَ اللّٰهِ عَهۡدًا) دا د دوی په دین کښې غلط تصور وو۔ او الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې همیشه دپاره د انسان غلط تصورات او خیالات برابروی نو دوی سره الله تعالیٰ چرته لوظ کړیدے چه آؤ یهودی به جنتی وی۔ آیا دوی ته چرته وحی راغلے ده، اُوډِ بنائی۔ نو د عهد نه مراد وعده د نجات د عذاب نه ده۔

۲- یا د عهداً نه مراد کلمه د لا اله الا الله ده۔ یعنی آیا تاسو دا کلمه وئیلے ده، توحید مو قبول کړیدے، ایمان مو راوړیدے، او که هسے ځان ته جنتیان وایئ؟ ځکه دد ے لوظ نه ماسویٰ انسان جنت ته نشی داخلیدے۔(ابن عباس او ابن مسعود رضی الله عنهما دا تفسیر کړیدے) [ابو حیان، معالم التنزیل]

(فَلَنۡ يُّخۡلِفَ اللّٰهُ عَهۡدَهٗۤ) یعنی الله تعالیٰ چه چا سره لوظ اُوکړو هغه بیا جنت ته بوزی۔

(اَمۡ تَقُوۡلُوۡنَ) (اَمۡ) په معنیٰ د (بَلۡ) سره دے یعنی بلکه تاسو په الله باندے دروغ وایئ او پو هیږئ نهٔ چه دا په الله دروغ دی چه الله به مونږ جنت ته بوځی۔ په تقول علی الله باندے الله تعالیٰ ډیر غصه کیږی، دا ئے د شرك نه لویه گناه شمارلے ده۔ لکه په سورة الاعراف (۳۳) کښې به راشی۔

دا آیت دلیل دے چه څوك په الله تعالیٰ باندے په جهالت سره دروغ اُووائی نو دا هم مجرم دے او ددهٔ جهالت عذر نهٔ دے۔ کله چه په ملك د اسلام کښې وی یا علماء اهل حق موجود وی۔

بَلٰى مَنۡ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتۡ بِهٖ خَطِيۡٓـئَتُهٗ
آؤ، چا چه اُوکړه گناه (شرك) او راګیر کړو ده لره گناه ددهٔ
فَاُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ النَّارِ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۸۱﴾
(تردے چه پرے مړ شی) نو همدا کسان اُور والا دی دوئ به په دے کښې همیشه وی۔

تفسیر: اُوس الله تعالیٰ تخویف او بشارت بیانوی یعنی د آخرت یره او زیرے۔ غرض پکښې رد دے د وینا او دعوے د یهودیانو او هغوی ته دعوت دے چه د الله رب العزت کار د صفاتو سره دے که چا کښې بد صفات وی نو هغه تول اُور والا دی، او چا کښې چه نیك

صفات دي هغه جنتيان دي. د الله تعالىٰ د يوے ډلے سره کار نشته چه يهود، نصارىٰ يا د موسى عليه السلام قوم يا د نبي عليه السلام قوم يا بلے ډلے سره ئے کار نهٔ شته بلکه صفاتو سره ئے کار دے. که تا کښې ښه صفات وي نو ته جنتي ئے او که بل کښې وو نو هغه دے. نو مناسبت ددے په طريقه د نتيجه د کلام د هغوي دے.

نو معنىٰ د آيت دا ده چه خبره داسے نهٔ ده چه تاسو ته به اُور نهٔ رسيږي بلکه تاسو به اُور کښې هميشه پاتے کيږئ ځکه هر څوك چه ستاسو په شان شرك کوي او ګناهونه پرے غلبه اُوکړي او داسے ګيره ترے واچوي لکه څنګه چه ديوالونه په کور والو باندے احاطه کړيوي او پدے حالت کښې بيا مړ هم شي او ايمان د هغه زړه ته داخل نهٔ شي او توبه الله تعالىٰ ته اُونهٔ باسي نو دا اُور والا دي او دوي به پکښې هميشه وي.

(بَلٰى) يعني آؤ تاسو به هميشه جهنم ته ځئ) [تَحۡقِيۡقٌ لِطُوۡلِ مُكۡثِهِمۡ فِي النَّارِ]

بلىٰ سره تحقيق او اثبات ددے خبرے دے چه دوي به په اُور کښې هميشه وي) د بلىٰ نه چه مخکښے نفي وي نو دے سره اثبات کيږي يعني : [بَلٰى اَىۡ نَعَمۡ تَمَسُّكُمُ النَّارُ]

(آؤ تاسو ته به ضرور اُور رسيږي) نو بلى کلمه حرف ايجاب دے لکه د نعم او جير په شان صرف دا ده چه بلىٰ کلمه جواب د مخکني نفي دپاره استعماليږي برابره ده چه حرف استفهام په مخکنۍ نفي داخل وي او که نهٔ نو دا به اثبات د مخکني حکم کوي.

بعض وائي : بلى په اصل کښے "بَلۡ" دے الف ورسره د وقف دپاره زيات شويدے بيا د ايجاب او اثبات دپاره استعماليږي، بيا که مخکښے جمله کښے د نفي حکم وي نو د بلى نه روستو به د اثبات حکم وي لکه يو تن ووائي : مَالَكَ عَلَيَّ شَيۡءٌ (ستا په ما باندے هيڅ نشته) نو تهٔ ورته ووائے (بَلٰى) يعني آؤ زما په تا باندے شته. او که ددے په ځائے نَعَمۡ ووائي بيا به مخکنۍ نفي ثابتول وي. يعني آؤ زما په تا باندے هيڅ نشته.

(مَنۡ كَسَبَ) من موصوله دے او مقصد پکښې تعميم دے، ښځے او سړي، او يهودي او غير يهودي ټولو ته شامل دے.

کسب : په لغة کښې اِسۡتِجۡلَابُ النَّفۡع (فائده راخکلو) ته وئيلے شي. او د سيئه دپاره تهکماً استعمال شويدے ځکه چه خلق کسب دے له کوي چه فائده ورته حاصله شي او دوي ځان ته ګناهونه راکاږي. او کله کسب په معنى د مطلق عمل سره وي. او دلته ئے لفظ د کسب ځکه استعمال کړيدے چه په خپل فکر او سوچ او خپل اختيار سره ئے

کړیدے، ولے که انسان نه بے اختیاره ګناه اُوشی، نو په هغے داسے عذاب نشته۔
دا دلیل دے چه انسان د خپلو عملونو کاسب (کونکے) دے، او خالق نهٔ دے۔ او انسان ته الله تعالیٰ قدرت د کسب ورکړیدے، او پدے کسب سره به ده ته بدله د خیر یا د شر ورکولے شی۔ او دا د اهل السنة مذهب او عقیده ده۔

(سیئة) **فائده** : اول خطیئه وی بیا سیئه وی بیا ذنب بیا معصیة وی۔ سیئه خو مطلق ګناه ته وئیلے شی، صغیره وی او که کبیره۔ (خازنؒ) ځکه چه پدے سره انسان بد رنګیږی او انسان خفه کوی۔ ګناه نه مراد دلته شرك دے۔ (ابن عباس ﷺ، مجاهدؒ، عطاءؒ وغیره)

(۲) یا د سیئة نه مراد هغه کبیره ګناهونه دی چه الله تعالیٰ په هغے باندے وعده د اُور کړیده۔(حسن وقتادة) (قرطبی)

(وَاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِیْٓئَتُهٗ) د خطیئه اطلاق په قرآن کریم کښ کله په هغه خطاء باندے هم کیږی چه غیر اختیاری د انسان نه اُوشی د هغے په مقابله کښ عَمْد راځی۔ (وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا) (النساء:۹۲) او عام ځایونو کښ قصداً ګناه دپاره استعمال دے۔ تردے چه د خطیئے اطلاق په کفر هم کیږی او په ګناه کبیره هم (اِنَّهٗ كَانَ خِطْاً كَبِیْرًا) (اسراء:۳۱) دلته قصداً ګناهونه مراد دی۔ او خطیئة جنس دے، مراد ترے ډیر ګناهونه دی۔

بیا دلته **سوال** دے چه دا آیت خو د خوارج او معتزلو دپاره دلیل دے چه چا ګناه کبیره اُوکړه نو هغه کافر دے او همیشه جهنمی دے۔ وجه دا ده چه دلته ئے په ګناه باندے همیشه جهنم وئیلے دے۔ دلیل دے چه دا کافر دے او همیشه جهنمی دے۔

او د اهل السنة والجماعة مذهب خو دا دے چه د شرك او کفر او نفاق نه علاوه په نورو کبیره ګناهونو انسان نهٔ کافر کیږی او نهٔ همیشه جهنمی کیږی بلکه د الله تعالیٰ مشیئة ته سپارلے شویدے، که هغه ورته بخنه کوی او که عذاب ورکوی، خو علیٰ کل حال په جهنم کښ به همیشه دپاره پاتے نهٔ وی؟۔

جواب : د عبد الله بن عباسؓ، مجاهدؒ، عطاءؒ وغیره نه نقل دی چه د سیئه نه مراد شرك دے۔ (۲) دویم دا چه سیئه او خطیئه دواړه جنس دے، ټولو ګناهونو ته شامل دے او (اَحَاطَتْ) کښ د احاطے نه د هر طرف نه په ګناه کښ راګیرول مراد دی چه په خوله کښ ئے هم ګناه، په زړه کښ، په سترګو، په غوږونو او په ټول بدن او مال او هر حالت کښ

گناه گناه وی، نو بیا دا حال د مسلمان نهٔ وی، بلکه مسلمان به ضرور په یو وخت کښې نیک عمل کوی، که یو ځائے کښې گناه کوی نو په بل ځائے کښې نیک عمل کوی۔ددے وجه نه سلفو ددے تفسیر په کفر او شرك سره کړیدے۔ (السراج المنیر، والتحریر والتنویرلابن عاشور)

(۳) یا سیئه نه مراد کبیره گناه او شرك دے او خطیئه نه عام گناهونه مراد دی۔

وَاَحَاطَتْ : (بِأَنْ مَاتَ عَلَيْهِ وَلَمْ يَتُبْ) (ربیع بن خیثم) (مړ شی په دغه شرك او توبه اُونهٔ باسی) (سَدَّتْ عَلَيْهِ جَمِيعَ مَسَالِكِهٖ) (ټول اطراف او لارے ورله بندے کړی) چه هیڅ خیر د هغهٔ په زړهٔ او بدن کښې نهٔ راځی، او ایمان ورته نهٔ داخلیږی۔

(أَحَاطَتْ بِحَسَنَتِهٖ خَطِيْئَتُهٗ) (ابوعلی) زاد المسير (۱/۱۰۸) وفتح القدير (۱/۱٦٤) للشوكاني)

(یعنی دده گناهونو نیك اعمال برباد کړی وی)۔

(۴) (اَوْبَقَتْهُ ذُنُوْبُهٗ، دَلِيْلُهٗ قَوْلُهٗ تَعَالٰى : اِلَّا اَنْ يُّحَاطَ بِكُمْ) (بغوی)

(هلاك کړی دهٔ لره گناهونه لکه په الا ان یحاط بکم کښې احاطه په معنیٰ د هلاکت دے)۔

لهذا دا آیت د کافر په باره کښې دے ځکه پدے کښې اعلیٰ درجه ذکر ده، نو پدے کښې د معتزله او خوراجو هیڅ دلیل نشته۔ لیکن مسلمان له هم د داسے حال نه یره پکار ده۔

(فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُوْنَ) په یو گناه سرے په اُور کښې همیشه کیږی نهٔ، بغیر د شرك نه، لیکن دلته ډیر گناهونه دی یعنی ډیر گناهونه ئے کړیدی تردے چه په هغے کښې کفر او شرك هم داخل دے۔

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓـئِكَ
او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او نیك عملونه ئے کړیدی همدغه کسان
اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۸۲﴾
هم دوی جنتیان دی، دوئ به په دے کښے همیشه وی۔

ربط : ربط په طریقه د تقابل تضاد سره دے چه مخکښې ترهیب وو او اُوس ترغیب

دے۔

تفسیر : د ایمان نه مراد شرعی ایمان دے، نۀ د یهودو ایمان۔ دلته د ایمان نه کامل ایمان مراد دے لکه څنګه چه مخکښې کامل ګناهګار مراد وو چه هغه مشرك دے، پدے وجه ئے ورسره دلته عمل صالح هم ذکر کړو۔

فائده : (۱) دلته خازن لیکی : عمل صالح په ایمان کښې داخل دے لیکن جدا ئے ذکر کړو پدے کښې اشاره ده چه دۀ د ایمان په افعالو کښې هر یو فعل کړیدے. او هسے تش د خولے مؤمن نۀ دے۔ (۲) بعض وائی : آمنوا کښې معنیٰ د ماضی ده او عملوا الصالحات کښې د مستقبل ده (فَكَأَنَّهُ تَعَالَى قَالَ : آمَنُوْا اَوَّلًا ثُمَّ دَاوَمُوْا عَلَيْهِ آخِرًا وَيَدْخُلُ فِيْهِ جَمِيْعُ الْأَعْمَالِ الصَّالِحَاتِ) (خازن) (ګویا کښې الله تعالیٰ داسے اُوفرمایل : چه اول دوی ایمان راوړیدے، او بیا پدے ایمان باندے په اعمالو سره همیشه والے کوی تر مرګه پورے۔ او پدے کښې ټول اعمال صالحه داخل دی۔ نو دا مقابل شو د مخکښې تخویف سره۔

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا
او کله چه مونږ اخستے وه مضبوطه وعده د بنی اسرائیلو نه چه بندګی به نکوئ مګر
اللّٰهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَّ ذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى
د یو الله تعالیٰ او د مور او پلار سره به احسان (خیګړه) کوئ او د خپلوانو او د یتیمانانو
وَالْمَسٰكِيْنِ وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا وَّاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ
او مسکینانو سره، او وایئ خلقو ته ښائسته خبرے، او پابندی د مانځه کوئ
وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْكُمْ
او زکوٰة ورکوئ بیا تاسو واوړیدئ (ددے وعدے نه) مګر لږ کسان ستاسو نه
وَاَنْتُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۸۳﴾
او همیشه تاسو اعراض کونکی یئ۔

تفسیر : په دې يو رکوع کښې تر (۸٦) آيت پورې څلورم قسم خطاب دې بنی اسرائيلو ته او پدې کښې د دوی نور قبائح الله تعالیٰ بيانوی چه دا خبائث د قرآن د نازليدو په وخت په موجوده يهوديانو کښې موجود وو، هغه دا دی چه دې يهوديانو ته په څلورو خبرو امر شوې وو نو هغوی ماتې کړې او هغې باندې ئې راتګ اُونکړو او د څلورو خبرو نه منع شوی وو په هغې باندې ئې راتګ اُوکړو، نو الله تعالیٰ فرمائی : چه څوك داسې كار كوی نو زۀ به دوی دنيا کښې شرموم او دغسې ئې دې خلقو سره اُوکړل چه په دنيا کښې ئې اُوشرمول۔

بيا د هغوی بل نقض عهد (لوظ ماتول) ذکر کوی او په آخر کښې ئې تخويف ورکړيدې چه د الله تعالیٰ امرونه څوك ماتوی هغه به شرميږی۔ اول امر دوی ته دا وو چه تاسو به د مور او پلار او خپل خپلوان او يتيمانانو او مسکينانو سره احسان کوئ، خلقو سره به ښې خبرې کوئ، مونځ به کوئ، زکوٰة به ورکوئ او ورسره دا اَمر شوې وو چه د يهوديانو نه قيدی چه چرته تاسو اُوليدلو، نو هغه به آزادوئ، او ددې خبرو نه منع شوی وو چه د غير الله عبادت به نۀ کوئ او د يو بل وينې به نۀ توی کوئ، او خلق به د خپلو کورونو نه نۀ اُوباسئ، او يو بل سره به په ظلم اوګناه کښې تعاون نکوئ، نو دوی راولګيدل هغه حکمونه ئې مات کړل او صرف په هغه يو ئې عمل کولو، هغې کښې به ئې هم څه فائده وه ځکه به ئې پرې عمل کولو لکه د هغې قصه روسته بيانيږی۔

صرف بعض يهوديان پدې وعده کلك پاتې شو او دا حقوق ئې اداء کړل لکه عبد الله بن سلام او د هغه هغه ملګری چه په رسول الله ﷺ باندې ئې ايمان راوړې وو۔ الله تعالیٰ فرمائی : ګوره دې بنی اسرائيلو نه ما وعدې اخستې وې، ليکن تول ئې ګډ وډې کړې۔ په دې کښې مونږ ته تنبيه ده چه اې بندګانو ! دا وعدې تاسو نه هم اخستې شوی دی او دا کومې وعدې چه دلته ذکر کيږی دا مونږ نه هم اخستې شوی دی، څوك چه مؤمن دې، هغه باندې هم دا څيزونه فرض دی۔ او دې اُمت ته خصوصی خطاب پدې څيزونو باندې په سورة النساء (۳٦) آيت کښې راروان دې۔

مناسبة : دا دې چه يو خطابات د بنی اسرائيلو شروع دی (۲) دويم يهود ځان غوره ګڼړی نو الله تعالیٰ بيان د خبائثو کوی چه غوره نۀ دی بلکه ګنده دی۔ (۳) دريم دا د (وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ) او (بَلٰى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً) تشريح ده چه راشئ د دوی ګناهونه واورئ،

دا خو مشرکان دی، عبادت د غیر الله ئې کړیدے نو د معتزلو په تفسیر به رد هم راشي۔ او دے ته دلالة الاقتران وئیلے شي۔

﴿وَاِذْ اَخَذْنَا﴾ (۱) دا وعده یا په ژبه د موسی علیه السلام اخستے شوے وه، (۲) یا په تورات کښې ذکر ده، نو په تورات کښې الله تعالیٰ امرونه راولیږل۔ نو تورات چه چا اُومنلو گویا کښې هغه نه دا وعده واخستے شوه چه ته به دا حکمونه منې۔ لکه مونږ قرآن منلے دے نو د الله تعالیٰ سره مو لوظ کړیدے چه دے کښې څه حکمونه دی هغه به منو په اندازه د طاقت زمونږ۔

فائده : په کلمه د اذ سره ئې بحث د بنی اسرائیلو بیرته شروع کړو او لفظ د بنی اسرائیل ئې راوړو او خطاب ئې اُونکړو پدے کښې اشاره ده چه دا حکمونه پخوانو او اُوسنو ټولو ته دی نو موجوده یهود هم پدے حکمونو کښې داخل دی۔ یواځې مشران نهٔ دی مراد۔

لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا الله : دلته نفی په معنیٰ د نهی ده۔ [اَیُ لَاتَعْبُدُوْا اِلَّا اللّٰهَ]

(بندگی مهٔ کوئ سوا د الله تعالیٰ د نه د بل چا) او په طریقه د نفی ذکر کولو کښې مقصد تاکید دے۔ چه تاسو بندگی نهٔ کوئ یعنی ستاسو د شان سره دا لائقه ده چه تاسو دِے بندگئ د غیر الله اُونکړئ۔ پدے کښې اشاره ده دے ته چه دے یهودیانو دا لوظ هم مات کړیدے چه د الله تعالیٰ بندگی ئې پریخودے ده او د غیر الله بندگی ئې شروع کړیده، د عیسیٰ علیه السلام او عزیر علیه السلام بندگی شروع کړیده۔ او د مشرکانو سره ملگری شوی وو او هغوی ته ئې وئیلی وو چه ستاسو دین غوره دے او د ولاء او براء مسئله پکښې نهٔ وه۔ دوی کښې اصالةً شرك نهٔ وو لیکن روستو پکښې راغلو۔ دا حقوق الله شو۔

دویم په حقوق العباد کښې اول حق د مور او پلار دے نو هغے باندے امر کوی :

وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا : اِحْسَانًا مفعول مطلق دے د پټ فعل دپاره (اَیُ اَحْسِنُوْا بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا) (د مور او پلار سره ضرور احسان اُوکړئ) نو دا به لفظاً انشاء عطف شي په معنیً انشاء باندے چه لا تعبدون دے۔ یا تقدیر داسے دے (وَتُحْسِنُوْنَ بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا)

(تاسو احسان کوئ د مور او پلار سره) نو جمله خبریه به په خبریه عطف شي۔

فائده: د مور او پلار سره احسان په دوه قسمه دے : (۱) دینی احسان (۲) او دنیوی۔

دینی احسان ډیر اهم دے ځکه که ته د مور او پلار سره په دنیا کښې ډیر احسان او اکرام اُوکړے خو چه هغوی اُور ته لاړل نو څه فائده ئے اُوکړه ـ نو اول احسان هغوی سره دعوة د توحید دے چه د توحید دعوت ورکړه او ډیر په ښائسته طریقه او اخلاقو سره او دغه شان په نورو احکامو د دین باندے پوهه کول۔ (۲) دنیوی احسانات دوه قسمه دی : (۱) د مرګ نه مخکښې (۲) د مرګ نه روستو۔

د مرګ نه مخکښې احسانات درے قسمه دی (۱) بِالْمَال : چه هغوی له مال، نفقه، جامے او ځائے ورکړے شی۔ (۲) بِالْخِدْمَة۔ د هغوی خدمت اُوکړے۔

(۳) بِالْاَخْلَاقِ الْحَسَنَه (د مور او پلار ادب کول او ښائسته اخلاق ورسره کول، په نوم باندے ورته آواز نهٔ کول، د هغوی د خبرے نه نهٔ مخکښې کیدل، هغوی سره تواضع کول۔

(۲) او د مرګ نه روستو : حدیث کښې دی : ۱- (اَلْاِسْتِغْفَارُ لَهُمَا) دوی له په ژوند کښې او پس د مرګ نه استغفار غوختل۔ ۲- (وَاِکْرَامُ صَدِیْقَیْهِمَا) (د مور او پلار د دوستانو سره تعلق ساتل او د هغوی اکرام کول) ۳- (وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِیْ لَاتُوْصَلُ اِلَّا بِهِمَا) (هغه صله رحمی پالل چه د هغوی په وجه پیدا شوی وی) ٤- (وَاِیْفَاءُ عَهْدِهِمَا) (د هغوی وعده پوره کول)۔ ٥- (وَالدُّعَاءُ لَهُمَا) (هغوی دپاره دعاګانے غوختل)۔

٦- (وَالصَّدَقَةُ عَنْهُمَا) (د هغوی د طرفه صدقه کول) ۔۷- (وَتَنْفِیْذُ وَصِیَّتِهِمَا) (د هغوی وصیت نافذ کول او په هغے باندے عمل کول)۔ ۸- (اَدَاءُ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ وَالصَّوْمِ عَنْهُمَا) (که په هغوی باندے حج او عمره او روژے پاتے وی نو هغه اداء کول)۔

۹- (زِیَارَةُ قَبْرِهِمَا) (د هغوی د قبر ملاقات ته تلل)۔

کله چه انسان دا په خپل ځان باندے حقوق اُوګنړی نو بیا ددے کول ورته آسان وی او چه کله ئے دین او حق نهٔ ګنړی نو بیا ورته بوج وی۔ د مور او پلار سره احسان قرآن کریم کښې نهه کرته ذکر دے ځکه چه د انسان په پیدائش کښې د الله تعالیٰ نه روستو اول سبب مور او پلار دی، او یواځے سبب نهٔ بلکه بیا دوی څومره خدمتونه او مشقتونه د بچو دپاره برداشت کړیدی۔ او دا د انسان نه بیا هیر شی۔

علماء کرامؒ فرمائی : بچے چه د مور او پلار هر څومره خدمت اُوکړی، نهٔ ئے شی پوره کولے اګرکه د هغوی ګندګی صفا هم کړی، ځکه چه د بچی په طبیعت کښې پدے

خدمت باندے یو قسم بوج وی او نفرت ورځی او د هغه په مرګ خوشحالیږی او مور به د بچی ګندونه په خوشحالئ صفا کول او دعاء به ئے ورته کوله۔ او د هغه په غټ والی خوشحالیدل۔

صحیح حدیث کښ راغلی دی : یو سړی اُووئیل : یارسول الله !

(مَنْ اَبَرُّ ؟ قَالَ اُمَّكَ، قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : اُمَّكَ، قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : اُمَّكَ، قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : اَبَاكَ ، ثُمَّ اَدْنَاكَ اَدْنَاكَ) [سنن ابی داود رقم : ٥١٤٠]

زۀ د چا سره احسان او نیکی اُوکړم ؟ وے فرمایل : مور سره، بیا چا سره ؟، مور سره۔ بیا چا سره ؟ مور سره۔ بیا چا سره ؟ وے فرمایل : پلار سره او بیا چه څومره تا ته نزدے (خپلوان) وی

﴿ وَذِی الْقُرْبٰی ﴾ د خپلوانو سره احسان هم (۱) بِالْمَال : چه مال درله الله تعالیٰ درکړے وی نو هغوی باندے اُولګوه، نفقه یا صدقه ورکړه۔ (۲) بِالْخِدْمَة : د هغوی خدمت کول۔ (۳) بِالزِّيَارَة : د خپلوانو ملاقات له تلل، دے سره هم یو نوع احسان د هغوی سره کیږی۔ (٤) عِيَادَةُ الْمَرِيْض : د هغوی د بیمارانو تپوس۔

(٥) اِتِّبَاعُ الْجَنَائِز : د هغوی په جنازه کښ شرکت کول۔

(٦) (وَمِنْ ذٰلِكَ الْاِحْسَان : اَلْاَمْرُ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ) (بعض احسان دا هم دے چه هغوی ته د نیکئ امر اُوکړے شی او د بدئ نه منع کړے شی)۔

د صله رحمئ فائدے :

حدیث کښ دی : [مَنْ اَحَبَّ اَنْ يُّبْسَطَ لَهٗ فِيْ رِزْقِهٖ وَيُنْسَأَ لَهٗ فِيْ اَثَرِهٖ فَلْيَصِلْ رَحِمَهٗ] (بخاری : ٢٠٦٧)

(څوک چه غواړی چه رزق ئے فراخه شی او عمر ئے زیات شی نو صله رحمی دِ ے قائموی)

حدیث د ابو هریره ﷺ کښ مرفوعاً نقل دی : [تَعَلَّمُوْا مِنْ اَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُوْنَ بِهٖ اَرْحَامَكُمْ فَاِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِی الْاَهْلِ، مَثْرَاةٌ فِی الْمَالِ، مَنْسَأَةٌ فِی الْاَثَرِ] [احمد : ٨٨٥٥، والترمذی : ١٩٧٩ بسند صحیح] (دومره نسب ضرور زدۀ کړئ چه په هغے سره تاسو خپلولی اُوپالئ، ځکه خپلولی پالل په کورنئ کښ محبت پیدا کوی او مال زیاتوی، (یعنی مال کښ برکت راځی) او عمر کښ تاخیر (زیادت) پیدا کوی۔

وَالْيَتٰمٰى خو مره چه ډېر وسه کیدله. او په دغه ترتیب سره به احسان کولے شی.

یتیم په مارغانو کښې هغه دے چه مورئے مړه وی، او په انسانانو کښې هغه دے چه پلارئے مړ وی او حیواناتو کښې هغه دے چه دواړه ئے مړه وی. (کما فی حاشیة ریاض الصالحین)

علامه ماوردیؒ فرمائی : یتیم هغه چا ته وائی چه پلارئے مړ وی او نابالغ وی. یا مور ئے مړهٔ وی. او ددهٔ سره احسان پدے وجه پکار دے چه یو خو دا وړوکے دے، بل پلار یا مور ئے نشته بل دا چه ددهٔ څوك مشر نشته چه ددهٔ د کارونو او حاجتونو اصلاح اُوکړی.

د دوی سره احسان (۱) په مال هم شته (۲) په اخلاق استعمالولو سره. (۳) او په ادب ورکولو سره اګرکه په وهلو سره وی. عائشه رضی الله عنها فرمائی : (اِنِّیْ لَأَضْرِبُ أَحَدَهُمْ حَتّٰی يَنْبَسِطَ) (السنن الکبری للبیهقی باب ما جاء فی تأدیب الیتیم رقم : ۱۳۰۴۹)

(زهٔ خپل یتیم دومره وهم تردے چه برابر شی)

او جابر ﷺ ته رسول الله ﷺ فرمایلی وو : [أَفَأَضْرِبُهٗ ؟ قَالَ : نَعَمْ، مِمَّا تَضْرِبُ مِنْهُ وَلَدَكَ] (مسند الرویانی رقم : ٧٥٤] [المطالب العالیة رقم : ٢٥٦٦، لابن حجر، واتحاف الْخِيَرَةِ الْمَهَرَة للبوصیری١٣٦/٦] وفی سنده حجاج بن ارطاة ضعیف]

(آیا زهٔ یتیم وهلے شم ؟ هغهٔ وفرمایل : بچے چه په کومه خبره وهے په هغے یتیم هم وهلے شے) څکه دا د هغه تربیت دے. کوم شے چه عُرفاً او شرعاً احسان شمارلے شی هغه به ورسره کوی.

وَالْمَسَاكِيْنِ : مسکینانو سره احسانات مالی هم دی، که مال نهٔ وی نو نرمه خبره ورسره کول او اخلاق ورسره استعمالول. او د هغوی سره په بدن مدد کول. د هغوی بوج سپکول. سفارش ورله کول، کار ورله پیدا کول.

وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا : (خلقو سره ښے خبرے کوئ) انسان د عامو خلقو سره د مال احسان نشی کولے چه هر چا ته پیسے ورکړی نو څکه ئے د هغوی سره په قولی احسان باندے امر اُوکړو بیا ددے احسان ډیر مصداقات دی :

(۱) [قُوْلُوْا لَهُمْ صِدْقًا وَحَقًّا فِیْ شَأْنِ مُحَمَّدٍ ﷺ] [ابن عباس ﷺ، سعید بن جبیر، ابن جریج] (بغوی) (یعنی تاسو خلقو ته د نبی ﷺ په باره کښې رشتیا او حقه خبره کوئ نو چا چه درنه تپوس اُوکړو نو رشتیا ورته وایئ او دده صفت بیان کړئ او ددهٔ شان مهٔ

پټوئ)
(۲) - دارنګه په ښائسته اخلاقو ورسره ملاؤ شی۔ ښائسته اخلاق ورسره استعمال کړه۔
بیا حسن اخلاق او ښې خبرې دیته وائی چه شریعت ورته ښه وئیلی وی که په هغه بد هم لګی، خو ته به ئې ورته وائې۔
(۳) ابن عباس ﷺ فرمائی : په لا اله الا الله (توحید) باندې ورته حکم اُوکړئ۔
(٤) او دلته ددې معنیٰ دا هم ده : [مُرُوْهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَوْهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ]
(په نیکئ باندې امر کوئ او د منکراتو نه خلق منع کړئ) (قاله سفیان الثوریؒ) دا د خلقو سره احسان دې او دا بعینهٖ خوش اخلاقی ده۔
(٥) - (اَللِّيْنُ فِي الْقَوْلِ) په خبرو کښې خلقو سره نرمی کول۔ (حسنؒ)
(٦) (حُسْنُ الْعِشْرَةِ) ښه ژوند ورسره تیر کړه۔ (ابن جریرؒ، ابن کثیرؒ)
دا ټول مصداقات دلته مراد دی۔ او که پدې یو آیت باندې مونږ عمل اُوکړو نو دا هم زمونږ دپاره ډیر ماحول او معاشره برابروی۔ پدې سره اخلاق برابرېږی چه چا سره کیناستې پاڅیدې، نو ښه خبره ورسره کوه، داسې خبره مۀ کوه چه هغه پرې خفه کیږی، درد ورته رسیږی، او حدیث کښې داسې راغلی دی : [وَلْيَأْتِ اِلَى النَّاسِ الَّذِىْ يُحِبُّ اَنْ يُّؤْتٰى اِلَيْهِ] (چه بل سره هغه شان سلوك کوه چه تهٔ غواړې چه تا سره ئې خلق اُوکړی)۔ [مسلم : ٤٨٨٢، مسند احمد ۲/۱۹۲ بسند صحیح] مثلاً ته یو مسلمان ته داسې مۀ وایه چه دې غوړ ته، ډې سترګې، دې خُلې ته ډې اُوګوره داسې بل پورې توقې او استهزاء مۀ کوه لکه څنګه چه ته غواړې چه ما پورې ډې اُونکړې شی، خلقو ته په هغه طریقه راځه په کوم چه ته غواړې۔
په قرآن کریم کښې په نورو ځایونو کښې هم دا امر شته۔ [وَقُلْ لِّعِبَادِىْ يَقُوْلُوا الَّتِىْ هِيَ اَحْسَنُ]۔ (الاسراء/٥٣) ښۀ خبره کوه هیڅ کله به جګړه نۀ پیدا کیږی۔
بل امر : ﴿ وَأَقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكٰوةَ ﴾ دا خو ډیر ضروری حکمونه دی۔ او دا ئې تخصیص بعد التعمیم اُوکړو د زیات اهتمام دپاره۔
ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ : دا جمله پکښې مقصودی ده نو ځکه ئې رامخکښې کړه۔ او خطاب موجوده یهودو ته وو اګرکه اَوړیدلی مشران وو، لیکن دوی هم د هغوی تابعداری کوی۔

(اِلَّا قَلِیْلًا) دے قلیل کښې عبد الله بن سلام او د هغه ملګرې مراد دي کوم له چه الله تعالیٰ د ایمان توفیق ورکړو او پدے لفظ ذکر کولو کښې غالباً دا حکمة بیانول مقصود دے چه په یو قوم کښې د څه صالح افرادو وجود د عذابِ الٰهی نه مانع نهٔ وي۔

او پدے (الا قلیلًا) کښې د هغوی په توبیخ او بدی بیانولو کښې انصاف کوی او فضیلت د هغه چا ترے معلومیږی چه هغوی په دغه لوظونو د الله تعالیٰ محافظت کړے وی۔ او پدے کښې خلقو ته دا رهنمائی ده چه په هر امت کښې به څه مخلصین ضرور موجود وی او دوی اګرکه موجود وی خو بیا به هم عذاب په امت راځی کله چه په دوی کښې منکرات زیات شی۔ (الوسیط)

﴿ وَاَنْتُمْ مُعْرِضُوْنَ ﴾ (۱) د تولیتم معنیٰ دا ده (تَوَلَّیْتُمْ بِالْفِعْلِ) چه بالفعل تاسو مخ اړولے دے۔ او (وَاَنْتُمْ مُعْرِضُوْنَ) جمله اسمیه ده د دوام او وصف ثابته معنیٰ پکښې پرته ده یعنی ستاسو عادت هم دا دے چه همیشه تاسو د الله تعالیٰ حکمونه ماتوئ، د یهود او نصاراؤ دا مرض دے۔(۲) – یا تولی په بدن سره وی او اعراض په زړه سره وی۔ (قرطبیؒ)

(۳) – یا تولی د میثاق نه ده او اعراض د ایمان نه په آخری نبی باندے۔

(٤) – یا تولی په تیره شوے زمانه کښې ده او اعراض، حالی او آینده زمانه کښې مراد دے۔

(۵) یا تَوَلَّیْتُمْ کښې خطاب مشرانو ته دے او اَنْتُمْ کښې کشرانو ته یعنی ستاسو مشران ددے لوظونو نه اوړیدلی وو او تاسو هم د هغوی په شان اعراض کوئ اے کشرانو !۔

(٦) مُعْرِضُوْن ئے روستو د تَوَلَّیْتُمْ نه راوړو پدے کښې اشاره ده چه د دوی دا اوړیدل مجبوراً او سهواً او خطأً نهٔ وو بلکه (اَنْتُمْ مُعْرِضُوْنَ) تاسو بنهٔ قصداً او په جرأت او بے باکئ سره دغه وصیتونه پریخودل او پدے کښې تدبر او پدے باندے عمل مو پریخودلو۔ (التنویر)

وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُوْنَ
او کله چه واخسته مونږه مضبوط وعده ستاسو نه چه نۀ به توی کوئ
دِمَآءَ كُمْ وَلَا تُخْرِجُوْنَ اَنْفُسَكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ
وینے د یو بل (په ناحقه) او نۀ به اُویاسئ خپل ځانونه (یو بل) د کورونو خپلو نه
ثُمَّ اَقْرَرْتُمْ وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ﴿۸٤﴾
بیا تاسو اقرار اُوکړو او تاسو گواه یئ۔

تفسیر : په دے آیتونو کښے د دوی بل عهد او لوظ او د هغوی مخالفت ذکر کوی۔

شان نزول : دے آیتونو باندے انسان هله پو هیږی چه د واقعے نه خبر شی هغه دا ده چه په مدینه طیبه کښ د یهودیانو دوه ډلے اُوسیدلے، بنو نضیر او بنو قریظه د دوی به په خپلو کښ اختلافات راتلل او هرچه بنو قینقاع وو نو دا د بنی نضیرو سره ملګری وو، بیا دا یوه ډله د یهودو د اَوس قبیلے ملګری وو او اَوس عرب وو، او دا بله ډله (بنونضیر) د خزرج والو ملګری وو، او دا هم عرب وو، انصار مدینه وو۔ د اَوس او خزرج به اصل کښ جګړه راتلله او دے یهودو به راپارول چه جګړه کوئ مونږ درپسے شا ته ولاړ یو، پیسے به ئے ورکولے او بیا به ئے د هغے په عوض کښ د هغوی نه باغونه او زمکے قبضه کولے، تردے چه هغوی ئے غریبان کړل، ددے وجه نه خیبر او نورے علاقے یهودیانو پدے طریقه نیولے وے، نور خلق به ئے په جګړه اَچول او دوی به سَیل کولو،

(دے زمانه کښ هم اُوس د هغوی دا طریقه ده، مسلمانان جنګول او خپل مابین کښ خلق اچول او هغوی ئے سیل کوی لګیا وی)۔ نو په دے مابین کښ به چه کله د اَوس حمله وه په خزرج باندے نو هره فرقه د یهودو به د خپلو حلفاؤ ملګرے شوه نو بنو قریظه ؤ به خزرجیان هم وژل او بنو نضیر به ئے هم وژل او دغه شان بل طرفنه واخله (یعنی هرے ډلے د یهودو به عرب هم وژل او خپل یهود به ئے هم وژل) او د کورونو نه به ئے ویستل او مالونه او سامانونه به ئے لوټ کول، حال دا چه دا په تورات کښ په دوی

بانـدې حرام شوی وو لیکن چه یهودیان به د دوی قید ته راغلل، د دوی حلفاؤ به اُونیول نـو دې یهـودیـانـو بـه خپلو حلفاؤ له پیسې راجمع کړې چه دا زمونږ یهودی د قید نه بچ شي نـو خپـلـو مـلګرو ته به ئې اُووئیل : دا پیسې واخلئ او دا کسان پرېږدئ نو هغوی به ورتـه وئیـل چـه دا څـه وجـه ده چـه تـاسـو دوی سره زمونږ په مدد کښې جنګونه کوئ او کورونو نه ئې هم مونږ سره اُوباسئ او قتلوئ ئې هم او چه مونږ ئې اُونیسو نو تاسو پیسې راجـمـع کړئ او دا پرې خلاصوئ ؟ نو هغوی به وئيـل چه مونږ خو تاسو سره اُوس قسم کړيدې چه ستاسو مدد به کوو، او په دې هم خفه کېږو چه زمونږ ملګری ذليله شي، او دا به ئې وئيل چه مونږ ته د الله تعالىٰ حکم دې په تورات کښې چه یهودی مو چرته لیدلو او هغه قید ته اچولې شوې وو، هغه به راخلاصوئ۔

(پـه مـدینـه کښې د اَوس او خزرج جګړې د څلويښتو کالو نه راروانې وې چه هيڅ صلح پـکښې کـار آمـد نـۀ راتـللـه، هـرکـال بـه ئې جـګـړې تـازه کـيدلې، نو په یوه موقعه کښې خزرجیان کمزوري شو، نو دوی مکې ته د قریشو نه د مدد اخستو دپاره لاړل نو رسول الله ﷺ ورتـه پـه مـکـه کښې د اسلام دعوت ورکړو نو دوی خپلو کښې اُووئيل چه مونږ کوم کـار لـه راغـلـي يـو، د هغې نه دا غوره ده چه دې سړی باندې ایمان راوړو، کیدې شي چه ددۀ پـه وجـه زمـونـږ صلح او جوړجاړې راشي، نو ایمان ئې راوړو او بیا همغه شان اُوشوه چـه د رسول الله ﷺ په وجه هغوی خپـل مینځ کښې ورونه ورونه شو۔ (فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا)

فائده : یهـود د عیسیٰ او د نبـی عـلـیهـمـا السلام د راتـلـو نـه مخکښې په اوله کښې مسـلـمـانـان وو نـو هـغـوی بـه پـدې حکم باندې عمل کولو۔ او دا زمونږ دې امت ته هم حکم دې چه قیدی چرته وی او مسلمان وی او د نورو مسلمانانو وَس وی نو ضرور به ئې راخـلاصـوی، د خپـل طاقت مـنـاسب مال به لګوی، خبره به کوی۔ په هره طریقه چه آزادولې شـو کـوشـش بـه کـوی۔ کـافـرو تـه بـه ئې نۀ سپاری خو افسوس په دې نام نهاد مسـلـمـانـانـو چـه دوی د مسلمان د راخلاصولو په ځائې آزاد مسلمان د یو څو روپـاتو په بدله کښې د کافرو په پنجه کښې ورکوی !! دا کوم اسلام دې ؟)۔ **لا حول ولا قوة الا بالله**۔

نو الله رب العالمین دا آیتونه راولېږل چه یهود دومره ظالمان دی ګوره کومو حکمونو کښې ئې چـه لږه شان فائده وه نو هغې باندې بۀ عمل کوی ځکه دا مال به ئې چه راجمع

كړو غالبه دا ده چه دوى به پكښې وهلو هم، غلا به ئې كوله او په دے قتل او كورونو نه ويستلو كښې ئے فائده نهٔ وه نو پدے حكم به ئې كولاؤ عمل نهٔ كولو۔ او زمونږ ددے زمانے د بدعتيانو طريقه هم دا ده چه كومه طريقه باندے ورته پيسے ملاويږى، مال په هغے كښې ډيروى نو په هغے ډير ښه عمل كوى او كومه كښې چه مال او دولت نهٔ وى نو د هغے پرواه نهٔ لرى۔

اضافى تشريح : د زياتى فائدے دپاره دا تاريخ هم ياد كړه : رسول الله ﷺ چه كله مدينے ته هجرت اُوكړو نو مدينه كښې درے قسمه يهوديان اُوسيدل، بنو نضير، بنو قريظه، بنو قينقاع، بنو قريظه د قباء نه شاته او بنو قينقاع د مسجد نبوى په خوا كښې يو بازار دے۔ هلته اُوسيدل۔ او بنو نضير اخوا آباد وو۔ رسول الله ﷺ د هجرت سره سمدست د دوى سره صلح اُوكړه چه تاسو به مونږ ته څه نهٔ وايئ او مونږ به تاسو ته څه نهٔ وايو۔ (او دا هم نبوى سياست دے ځكه چه د رسول الله ﷺ هدف مشركان وو، ددے دپاره چه سنگرونه زيات نشى ځكه چه دا د قتال او جهاد طريقه ده چه په هر ځائے كښې به ئې نهٔ شروع كوے، دشمنان به ځان ته نهٔ ډيروے، غټ دشمن سره به اول شروع اُوكړے د هغے نه پس به بيا په آرام آرام نورو دشمنانو سره شروع كوے) نو پدے كښې د اَوس او د خزرج جګړے خو د اسلام په وجه ختمے شوے، او يهوديان په خپلو علاقو كښې په آرام اُوسيدل، كله چه د بدر غزا اُوشوه او رسول الله ﷺ له الله تعالىٰ غلبه په مشركانو وركړه نو يهوديان اُويريدل چه دا نبى خو غالبه كيږى۔ نو ورانے ئے شروع كړو (حال دا چه دے ظالمانو به د رسول الله ﷺ د راتلو نه مخكښې د عربو د مشركانو سره د جګړے په وخت وئيل چه د يو نبى زمانه رانزدے شوے ده، كه هغه راغے مونږ به ورسره ملګرى كيږو او تاسو به داسے وژنو لكه د عاديانو، خو چه كله راغلو نو دوى ئے اول خلاف شو۔

(دا د باطل پرستو طريقه وى، د حق دعوے كوى خو چه حق راشى نو بيا ئے خلاف همدا كوى) نو رسول الله ﷺ دوى ته اُووئيل : چه ورانے مهٔ كوئ، زمونږ او ستاسو خو صلح ده، ورنه ستاسو سره به هم هغه شان كار اُوشى كوم چه د مكے والو سره اُوشو۔ نو دوى به وئيل چه اے محمد ! پدے مه دوكه كيږه چه تا د قريشو اَوباش (ساده ګان، بے تجربے) خلقو سره جنګ اُوكړو، كه مونږ سره دِے جګړه راغله نو تا ته به پته اُولګى۔ نو پدے مابين كښې يوه مسلمانه زنانه د بنو قينقاع په بازار كښې د يو دوكاندار سره څه

سودا کوله نو یو یهودی راغلو او د هغې لنگ ئې د شا پورې اُوتړلو او هغې ته پته نۀ وه، نو چه هغه پاڅیدله نو شا ته ښکاره شوه نو ټولو یهودیانو ورپورې اُوخوندل (ځکه دا بازار د یهودیانو وو)

نو پدې کښې یو مسلمان تیریدو، هغه چه دا حال اُولیدو نو دغه یهودی ئې قتل کړو، یهودیان راجمع شو او دغه مسلمان ئې شهید کړو، رسول الله ﷺ ته خبر اُوشو نو هغه پرې حمله اُوکړه او دغه خلق ئې محاصره کړل نو په هغوی باندې رعب راغلو سره د ډیر والی نه نو پدې کښې عبد الله بن اُبی ابن سلول رئیس المنافقین نوې اسلام راښکاره کړې وو۔ نو دۀ سوال زاری شروع کړه چه دا زما دپاره پریده، رسول الله ﷺ اُوفرمایل : زۀ ئې خامخا وژنم۔ خو دا کلك اُونختلو چه خامخا به ئې پریدې۔

نو رسول الله ﷺ ددۀ لحاظ اُوکړو او هغوی ئې پدې شرط پریخودل چه دلته مدینه کښې به نۀ اُوسیږی نو پدې طریقه ذلیله شو، دکانونه او باغونه او کورونه او بازارونه ترې پاتې شو او خیبر او شام علاقو طرف ته لاړل۔

بیا چه کله د اُحد غزا اُوشوه نو رسول الله ﷺ د دیت د قرض دپاره د بنو نضیرو خوا ته ورغلو چه مونږ له قرض راکړئ نو دوی غلطه اراده اُوکړه او دا مشوره ئې اُوکړه چه تیار راغلې دې راځئ د جرندې پل به پرې د بره نه راگوزار کړو۔ او ترې خلاص به شو۔

نو الله تعالیٰ ورته خبر ورکړو او یو روایت کښې دی چه یوې مسلمانې زنانه ورته خبر ورکړو چه دوی داسې غلطه اراده کړې ده۔ نو رسول الله ﷺ د هغه ځائې نه په جلتۍ واپس لاړو او صحابه کرام (جُنُود الله) ئې ځان سره کړل او په دوی باندې ئې حمله اُوکړه نو دوی ئې شپږ اته یا پنځلس ورځې محاصره کړل بیا فیصله پدې اُوشوه چه تاسو به د مدینې نه اُوځئ او د یو اُوښ په اندازه سامان ځان سره وړلې شئ لکه دا په سورة الحشر کښې تفصیلًا راځي۔ نو هغوی خپل کورونه ورانول او دروازې به ئې ترې وړلې۔ په څلورم کال چه کله د خندق (الاحزاب) واقعه راغله نو بنو قریظه ؤ پکښې وعده ماته کړه او د مشرکانو ملگرتیا ئې شروع کړه نو د خندق د غزا د ختمیدو نه پس سمدستی ورپسې رسول الله ﷺ ورغلو او هغوی هم محاصره کړل تردې چه د سعد بن معاذ ﷺ په فیصله راکوز شو، ځوانان جنگیان ئې اُووژلې شو او ماشومان او زنانه ئې وینځې او غلامان شو۔

او څه موده بعد بیا په یهودو باندے په خیبر کښ هم حمله اُوشوه نو هغوی ئے هم اُونیول او هلته ئے دهقانان کړل بیا د سیدنا امیر المؤمنین عمر فاروق ﷛ په دور کښ د هغه ځائے نه هم اُوشړل او شام او اَذْرُحاء ته لاړل بیا څه ډیره موده بعد د مسلمانانو د غفلت او اختلافاتو د وجه نه هغوی کښ قوت پیدا شو۔ تردے چه پنځمه صدئ کښ حروب صلیبیه پیدا شو او په هغے کښ ډیر مسلمانان شهیدان شویدی۔

دا د دوی مختصره خاکه وه۔ یهودیان او نصاریٰ چونکه مسلمانانو همیشه ذلیله کړیدی نو ځکه اُوس ډیر په غصه دی چه دوی زمونږ پلاران او نیکونه د خپلو علاقو نه شړلی دی۔ نو ځکه دوی اُوس غلبه په عامو ملکونو اُوکړه او په عامه دنیا کښ د دوی تسلط دے، او الله تعالیٰ دا وعده کړیده چه بیرته به مسلمانانو ته خلافتِ اسلامی ورکوی۔ او دا وخت ان شاء الله تعالیٰ څه بعید نهٔ دے۔ الله تعالیٰ دِے مونږ او تاسو ددے اهل اُوګرځوی۔ آمین۔

دِمَائَكُمْ : یعنی د یو بل وینے مراد دی۔ ځکه چه د مسلمان وینه تویه ول داسے دی لکه خپله وینه تویول او دارنګه کله چه ته د هغه وینه تویه وے نو هغه به ستا وینه تویوی نو داسے شوه لکه چه تا خپله وینه تویه کړه۔

او (أَنْفُسَكُمْ) نه مراد هم همجنس او ملګری دی۔دلیل پرے روستو آیت کښ (وَتُخْرِجُوْنَ فَرِيْقًا مِنْكُمْ مِنْ دِيَارِهِمْ) لفظ دے۔ او د هغوی ویستل داسے دی لکه د ځان ویستل یا دا چه هغه دِے اُوویستلو نو هغه به تا اُوباسی۔ نو داسے شو لکه چه تا ځان اُوویستلو۔

وَأَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ یعنی تاسو دا ګواهی ورکوئ چه دا د الله تعالیٰ حکم دے۔ نو بیا خو تاسو له ددے وفاء پکار ده۔

۲ – یا تَشْهَدُوْنَ په معنیٰ د تَعْلَمُوْنَ دے یعنی تاسو پو هیږئ۔

ثُمَّ أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم

بیا تاسو دغه کسان یئ چه تاسو وژنئ خپل رونړه او تاسو اُویاسئ یوه ډله ستاسو نه

مِّن دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِم بِالْإِثْمِ

د کورونو د هغوی نه، تاسو مدد کوئ د یو بل سره د هغوی په مقابله کښې په گناه

وَالْعُدْوَانِ، وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ تُفَادُوهُمْ

او په ظلم کولو باندې، او که راشی دوئ تاسو ته قیدیان، تاسو فدیه (جرمانه) ورکوئ

وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ

د هغوی د طرفه، حال دا دې چه حرام شویدی په تاسو باندې ویستل د دوئ

أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَن

نو آیا تاسو ایمان لرئ په بعضې کتاب او کفر کوئ په بعض حصه پس نۀ ده بدله د هغه چا

يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ

چه کوی دا کار ستاسو نه مگر شرم په ژوند دنیوی کښې او په ورځ د قیامت به

يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۸۵﴾

دوی واپس کړې شی سخت عذاب ته او نۀ دې الله ناخبره د هغې عملونو نه چه تاسو ئې کوئ۔

تفسیر : پدې کښې د بنی اسرائیلو بدی ذکر کول دی په ماتولو د درې لوظونو یو دا

چه خپل مینځ کښې یو بل وژنې، بل دا چه د کورونو نه ئې اُویاسی۔ دریم دا چه د یو بل سره په گناه او ظلم کښې مدد کوی۔ او دا د هغه اعراض بیان دے کوم چه په مخکښې آیت کښې ذکر شو۔

ثُمَّ أَنْتُمْ هٰؤُلَاءِ : اَنْتُمْ مبتداء او هٰؤُلَاءِ ئې خبر او تَقْتُلُوْنَ جمله حال دے۔

(۲) دویم اَنْتُمْ مبتداء او هٰؤُلَاءِ خبر یعنی تاسو دغه کم عقل خلق یئ او (تَقْتُلُوْنَ) جمله مستأنفه ده پدے کښې بیان د هغوی د کم عقلتیا دے۔

﴿تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ یعنی د خپلو ملگرو په مقابله کښې د نورو کافرو (عربو) سره ملگری شئ او بیا په ظلم او گناه کښې ملگرتیا ده۔ حال دا چه خلق د مظلوم ملگرتیا کوی نۀ د ظالم، او د یو بل سره په گناه او ظلم باندے مدد کول جائز نۀ دی۔

تَظَاهَرُوْنَ : تظاهر د یو بل سره تعاون کولو ته وئیلے شی اصل کښې د ظهر نه دے ملا ته وئیلے شی نو په تعاون کښې هم د یو بل ملا قوی کول وی۔

(اثم) هغه گناه ته وائی چه جنس ئې حرام وی، یعنی ټول حرام وی، لږ وی او که ډیر۔ (عدوان) هغې ته وائی چه په هغې کښې زیادت حرام وی، مثال ئې دا دے چه شراب لږ او ډیر ټول حرام دی، نسوار لږ او ډیر ټول حرام دی، د اوداسۀ په اُوبو کښې لږے استعمالول جائز خو اسراف پکښې گناه ده۔ ډوډئ خوراك جائز دے خو زیادت پکښې گناه ده۔ دے ته عدوان وائی۔

۲- (اثم) کله محرم الجنس ته وائی یعنی چه جنس او ذات ئې حرام وی) او (عدوان) بدعت ته وائی۔ نور فرقونه په سورة المائده کښې راځی ان شاء الله تعالیٰ۔

فائده : په دے آیت کښې بالاثم والعدوان په باء سره ذکر دے او په سورة المائده (۲) آیت کښې (وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ) په عَلٰی سره ذکر دے، ددے وجه د فرق دا ده چه په باء کښې اشاره ده چه دا تعاون په قتل او اخراج پخپله گناه او ظلم دے لکه څنگه چه قتل او اخراج هم گناه او عدوان دے۔ او په لفظ د علیٰ کښې اشاره ده چه تعاون کول د بل چا سره په داسے طریقه چه هغه له تمکین او قدرت ورکړی په گناه او عدوان کولو باندے یعنی اسباب د گناه ورله جوړ کړی اگرچه پخپله ئې په هغه عمل کښې شرکت نۀ وی کړے نو تعاون علی الاثم عام دے د تظاهر د گناه نه۔ یعنی تعاون علی الاثم عام دے که خپله ئې په هغه گناه کښې شرکت کړے وی او که ذریعه جوړ شوے وی او تظاهر دیته

وائی چه خپله هم پکښې شریك وی۔
تُفٰدُوۡهُمۡ : تاسو فدیه ورکوئ د دغه خپلو ملګرو۔ د راخلاصولو دپاره۔
(وَهُوَ) دا ضمیر شان دے مخکښې مرجع نهٔ غواړی یعنی شان او حال دا دے۔
(اِخۡرَاجُهُمۡ) هرکله ئے چه ویستل حرام دی نو قتل خو ئے په طریقِ اولیٰ حرام شو۔ ځکه قتل خو پوره ویستل دی او مقبرے ته رسول دی۔ نو په ادنیٰ طرف ذکر کولو سره تنبیه اُوشوه په اعلیٰ طرف باندے۔
﴿ اَفَتُؤۡمِنُوۡنَ بِبَعۡضِ الۡكِتَابِ وَتَكۡفُرُوۡنَ بِبَعۡضٍ ﴾ د ایمان نه مراد دلته عمل دے۔ عمل کوئ په بعض او انکار کوئ د بعضو نه۔ مراد دا دے چه عمل پرے نهٔ کوئ، یهودو خو به تول تورات منلو۔ نو د کفر نه مراد (ترك عمل) (عمل پریخودل) دی۔ دے ته کفر عملی وائی۔ د ایمان اطلاق په عمل باندے کیږی او د کفر اطلاق هم په ګناه باندے کیږی۔
امام مجاهدؒ داسے معنیٰ کوی : (اِنۡ وَجَدۡتَّهٗ فِيۡ يَدِ غَيۡرِكَ فَدَيۡتَهٗ وَاَنۡتَ تَقۡتُلُهٗ بِيَدِكَ)
(که د بل په لاس کښې دغه یهودی اُوموے نو بیا ئے په فدیه سره راخلاصوے (پدے حکم خو عمل کوے) او حال دا چه په خپل لاس ئے وژنے۔ (او دا وژل خو حرام دی) پدے حکم عمل نهٔ کوے۔
فائده : عمل په ایمان کښې داخل دے او په ترك د جمیع اعمالو انسان کافر کیږی او په ترك د بعضو په کفر عملی کښې واقع کیږی۔
﴿ فَمَا جَزَاءُ مَنۡ يَّفۡعَلُ) دلته اُوس د دوی عذاب بیانوی چه څوك چه ځان بزرګ ګنړی او مینځ کښې د الله تعالیٰ حکم ماتوی نو داسے انسان لره الله تعالیٰ شرموی، دوی وائی مونږه اهل کتاب یو او مینځ کښے ئے د الله کتاب شاته غورزولے دے۔ د دوئ ددے مبغوض عمل د وجه نه الله تعالیٰ په دوی باندے په دنیا کښې څنګه ذلت او رسوائی راوسته، وے ئے شرمول، ذلیله ئے کړل، خپل رسول ئے د هغوی په خلاف راپورته کړو چه د هغے په نتیجه کښې دوی قتل، قید او بند او د جلا وطنی په مصیبتونو کښې مبتلا شو، مدینے منورے نه ئے اُوشړل، خیبر ته لاړل بیا د خیبر نه شام ته اُوشړلے شو۔ تړوله دنیا کښې الله تعالیٰ سپك کړل۔ او په آخرت کښې به هم د دنیا په نسبت په سخت عذاب کښې مبتلا کیږی، د هغه ځائے وعده ورسره الله تعالیٰ اُوکړه۔
خِزۡيٌ : د دنیا د عذاب دپاره استعمالیږی او د آخرت د عذاب دپاره اَخۡزٰی (ډیر

شرمونکے) استعمالیږی۔ لکه (وَلَعَذَابُ الآخِرَةِ اَخْزىٰ وَهُمْ لَايُنْصَرُوْنَ) (حم السجدة :١٦) دارنګه خِزْی، غضب، شرمندګی، رسوائی، بے حیائی او په مصیبت کښ مبتلا کیدو ته وئیلے شی۔ لهذا دا هر قسم ذلت او سپکاوی ته شامل دے۔ او دا وعده د یهودو سره الله تعالیٰ پوره کړیده۔ هر ځائے کښ یهودی ذلیل دے۔ او دا ذلالت ورته د الله تعالیٰ د شریعت او د هغه د امرونو په مخالفت کښ اُورسیدو۔ نو هر څوك چه د پیغمبرانو او د الله تعالیٰ د شریعت خلاف کوی نو الله تعالیٰ به ئے ذلیله کوی۔

نو الله تعالیٰ پرے اُوس سمدستی په دنیا کښ ولے عذاب نهٔ راولی ؟ نو الله تعالیٰ فرمائی : ﴿ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴾ الله تعالیٰ ته معلوم دی په خپل وخت کښ به پرے سزا راولی۔

أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ
دا هغه کسان دی چه اخستے ئے دے ژوند دنیوی په مقابله د آخرت کښے
فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٨٦﴾
نو سپك به نهٔ کړے شی د دوئ نه (مقرر) عذاب او نهٔ به د دوئ سره مدد اُوکړے شی۔

تفسیر : په دے آیت کښ تتمه ده د مخکښی خطاب په زجر او تخویف اخروی سره او د تیر شوو بدو صفاتو سبب ذکر شویدے چه هغه دنیا غوره ګڼړل دی په آخرت باندے۔ دارنګه دوی دا سوچ اُوکړو که مونږ د خپلو حلیفانو (قسمیانو) مدد اُونهٔ کړو نو خلق به راته پیغور کوی، اُوبه شرمیږو نو پدے وجه ئے د آخرت عذاب قبول کړو۔

(اِشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالآخِرَةِ) یعنی که دوی آخرت منلے نو دا کارونه او دا ګناهونه به ئے نهٔ کولے۔ خو دوی آخرت پریخوستے دے او دنیا ئے غوره کړیده۔ دا مرض دے اُمت کښ هم اُوس ډیر زیات راغلے دے۔ (والعیاذ بالله) د مال دپاره خپل آخرت تباه کوی په غلطو او دروغو قسمونو سره۔

﴿ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ ﴾ (اَیِ الْعَذَابُ الْمُقَدَّرُ لَهُمْ) یعنی کافرو له چه کوم عذاب الله تعالیٰ مقرر کړیدے هغے کښ به سپکوالے، ختموالے، کم والے نهٔ راځی او دا مطلب نهٔ دے

چه د کافرو دپاره به سپك عذاب نهٔ وی ځکه ابو طالب دپاره سپك عذاب دے چه په خپو کښې به ئے د اُور څپلئ اچولی وی او د هغے په وجه به ئے دماغ خوټ کیږی۔ او دا به گمان کوی چه زما د ټولو خلقو نه زیات سخت عذاب دے۔ (الحدیث)

[إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا مَنْ لَهُ نَعْلَانِ وَشِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِي الْمِرْجَلُ وَمَا يَرَى أَنَّ فِي النَّارِ أَشَدَّ عَذَابًا مِنْهُ وَإِنَّهُ لَأَهْوَنُهُمْ عَذَابًا] [المستدرك : ۸۷۳۰]

په روایت د بخاری کښې دی : [فَيُجْعَلُ فِي ضَحْضَاحٍ مِنَ النَّارِ يَبْلُغُ كَعْبَيْهِ يَغْلِي مِنْهُ دِمَاغُهُ] (بخاری :۳۸۸۵) چه ابو طالب په یو ضحضاح (ډنډوکی) د اُور کښې وی تر گیټو پورے چه د هغے په وجه به د هغهٔ دماغ خوټ کیږی۔

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْ بَعْدِهٖ
او یقیناً مونږ ورکړے وو موسیٰ (علیه السلام) ته کتاب (تورات) او رالیږلی وو مونږ روستو د هغهٔ نه
بِالرُّسُلِ وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ
ډیر پیغمبران او ورکړے وو مونږ عیسیٰ ځوی د مریم (علیها السلام) ته ښکاره دلیلونه
وَأَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ أَفَكُلَّمَا
(معجزات) او مضبوط کړے وو مونږ هغهٔ لره په روح پاك سره آیا پس هر کله
جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُكُمُ
چه به راوړے تاسو ته یو رسول هغه مسئلے چه نهٔ به خوښولے زړونو ستاسو،
اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيْقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ ﴿۸۷﴾
تاسو به لوئی اُوکړه، نو یوه ډله (د پیغمبرانو) تاسو دروغژنه کړه او بله ډله د پیغمبرانو تاسو وژله۔

تفسیر : ددے ځائے نه (۸۸) پورے بل (پنځم) خطاب دے چه په دے کښې غرض دا دے چه الله تعالیٰ دوی ته تورات ورکړو نو دوی هغه بدل کړو او د موسیٰ علیه السلام نه روستو په دوی کښې الله تعالیٰ نور انبیاء او رسولان راولیږل دے دپاره چه تورات نافذ کړی لیکن دوی د هغوی سره بدترینه معامله اُوکړه، هغوی ئے دروغجن کړل او ډیرئے پکښې شهیدان کړل او په آخر کښې الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام راولیږلو چه هغه د الله تعالیٰ په حکم سره په بعض احکاماتو د تورات کښې تبدیلي اُوکړه نو بنی اسرائیلو هغه هم دروغجن کړو او د هغه په خلاف ئے د حسد او عناد نه کار واخستو، د انبیاء علیهم السلام سره د دوی داسے معامله ځکه راغله چه د هغوی خبرے د دوی د خواهشاتو مطابق نۀ وے او هغوی به دوی ته د تورات په صحیح احکامو باندے د عمل کولو دعوت ورکولو۔

حاصل مطلب دا چه دے یهودو کښې دا مرض هم موجود دے (اِنۡکَارُهُمۡ مِنَ الۡاَنۡبِیَاءِ السَّابِقِیۡنَ) (چه دوی انکار د پخوانو پیغمبرانو نه هم کړیدے)۔ او بیا خصوصاً ددے پیغمبر نه ئے هم کړیدے۔ لکه روستو راځي۔ نو دوی د پخوانو انبیاؤ خبره نۀ ده منلے کوم چه دوی ته راغلي وو۔ د دوی د بنی اسرائیلو نه وو، نو محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم به دوی څه اُومنی، دا خو به خامخا نۀ منی۔ دا په (وَلَمَّا جَاءَهُمۡ رَسُوۡلٌ) کښې بیانیږی۔ دا دومره ضدیان او عنادگر خلق دی چه د رسولانو سره د دوئ ډزے دی۔

دا د یهودو صفت دے چه د الله تعالیٰ او د رسولانو خبرے ته تیار نۀ دی۔ کومه چه د خواهش خلاف وی، بلکه رسول پرے دپاسه وژنی هم۔ او دا صفت چه په سړی کښې راشی چه د پیغمبر هغه خبره منی کومه چه د خواهش مطابقه وی او ښه پرے لگیږی او کومه ئے چه خواهش خلاف وی او ښے پرے نۀ لگی نو هغه نۀ منی۔ نو ده کښې د یهودو صفت راغلے دے۔

ددے ټولو خبرو غرض دا دے چه اے یهودیانو ! تاسو څنگه ځان ته ښه خلق وایئ، چه مونږ د الله تعالیٰ غوره ډله یو۔ او دا ټول مخلوق الله تعالیٰ مونږ له پیدا کړیدے۔ تاسو کښې دا مرضونه دی، آیا داسے ناجوړه، داسے کافران او قاتلین د انبیاء علیهم السلام د الله تعالیٰ دوستان کیدے شی ؟!۔ بل پدے کښې مونږ ته اشاره ده چه اے مؤمنانو! د یهودو د صفاتو نه به ځان ساتئ۔ بل دا چه دوی نه الله تعالیٰ د دین مشری ولے واخسته، په دے

وجه چه دوی کښې دا مرضونه راغلل۔ که تاسو کښې اے مؤمنانو ! دا مرضونه پيدا شول نو الله تعالیٰ به تاسو نه هم ددین مشری واخلی۔ دا ددے آیتونو مجموعی لحاظ سره اغراض دی۔

نو په دے آیتونو کښې انکار د دوی د مخکنو پیغمبرانو نه بیا ددے نبی نه بیا دعوه د دوی چه مونږ په تورات عمل کوو نو په هغوی باندے رد چه تاسو تورات کوم دے چه منلے دے، که تاسو په هغے عمل کولے نو بیا مو انبیاء علیهم السلام ولے وژل، تاسو کښې خو دا عیبونه دی، بیا دوی دعوے د جنت شروع کړے چه نورے خبرے پریده خو جنت صرف مونږ پورے خاص دے۔ نو دوی سره به اعلان د مباهلے اُوکړے شی، لیکن الله تعالیٰ فرمائی : دوی ته د خپل ځان باطلوالے معلوم دے کله مباهله کولے شی؟۔

التفسیر والفوائد :

(وَقَفَّيْنَا) قَفَّيْنَا : د تقفیه نه اخستے شویدے، او تقفیه د قفا نه دے په معنیٰ د څټ پسے وړپسے کیدلو دے، نو دلته معنیٰ ده : (اَرْدَفْنَا وَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ خَلْفَ بَعْضٍ) (طبری)

(یعنی روستو مو راولیږل او بعض مو د بعضو پسے کړل)

مِنْ بَعْدِهٖ : یعنی روستو د موسیٰ علیه السلام نه۔ د هغه نه روستو ځکه وائی چه اکثر پیغمبران د موسیٰ علیه السلام نه روستو راغلی وو او د هغه تابع وو، تورات به ئے لوستلو، خپله وحی به هم ورته الله تعالیٰ کوله او تورات به ئے هم لوستلو او هغے ته به ئے دعوت ورکولو تر عیسیٰ علیه السلام پورے بیا عیسیٰ علیه السلام ته هم الله تعالیٰ تورات ورکړو خو لږ زیادت ئے پرے اُوکړو انجیل ئے ورله ورکړو۔

وَآتَيْنَا عِيْسَى : دا ولے ذکر کوی ؟ ځکه چه ددے یهودو د عیسیٰ علیه السلام سره سخته دشمنی وه، نو پدے کښې اشاره ده چه عیسیٰ علیه السلام د بنی اسرائیلو پیغمبر دے او دوی نهٔ دے منلے نو دا نبی به څه اُومنی، دا غټ ضدیان دی۔

عیسیٰ : په عبرانئ او سریانئ ژبه کښې یَسُوْع یا یَشُوْع دے، او دا په عبرانئ ژبه کښې په معنیٰ د سَیِّد او مبارك سره دے۔ یعنی الله تعالیٰ پکښې برکت اچولے دے۔ عیسیٰ علیه السلام ته په دیرشتم کال د عمر باندے نبوت ورکړے شو بیا درے کاله روستو آسمان ته پورته کړے شو۔

ابن مریم : قرآن او سنت کښې د زنانو نومونه غالباً نهٔ ذکر کیږی بلکه پلار ته نسبت

کیږی لیکن د عیسیٰ علیه السلام نسبت مور ته کیږی پدے کښ اشاره ده چه دا بے پلاره د الله تعالیٰ په قدرت پیدا شوے وو۔ مریم علیها السلام چه کله د ناصره علاقے نه روانه شوه بیت المقدس ته تلله نو په لاره کښ ئے په بیت الشرق کښ عیسیٰ علیه السلام پیدا شو او مریم د دیارلسو کالو په عمر وه۔

مَرْيَم : عبرانی لفظ دے په معنیٰ د خادم سره۔ کله چه عربی ته رانقل شو نو هیڅ معنیٰ ئے نشته مګر هغه عرب چه نصرانیت ئے اختیار کړے وو هغوی په معنیٰ وصفی کښ استعمال کړو، نو مریم به ئے هغه زنانه ته وئیله چه د ښځو د صفاتو نه وړاندے وی او د سړو سره مشابه وی، او مریم کښ هم د سړو په شان صفات وو۔ چه د بیت المقدس خدمت به ئے کولو۔ ددے وجه نه قرآن کریم کښ ددے په باره کښ (وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِيْنَ) لفظ استعمال شویدے۔ چه دے کښ د سړو په شان صفات د عبادت وو۔ (التنویر)

(الْبَيِّنَات) : جمع د بَيِّنَةٌ ده په قرآن کریم کښے (۵٦) کرته راغلے دے په اصل کښ : (ما يَتَبَيَّنُ به الحَقُّ) (هر هغه شے چه په هغے سره حق واضح کیږی)

بیا ددے اطلاق کیږی : (۱) په دلائل وحییه او عقلیه (۲) او په معجزاتو۔ او دلته ترے معجزات مراد دی په حقانیت د عیسیٰ علیه السلام چه هغه معجزات په سورة آل عمران (۴۹) او المائده (۱۱۰) کښ ذکر دی چه بعض معنوی دی او بعض ظاهری دی۔ لکه انجیل کتاب، مړی ژوندی کول، او د خټے نه مارغه جوړول، بیا په هغے کښ پوکی کولو سره مارغه جوړیدل د الله تعالیٰ په حکم سره، او د هغه په لاس بیماریانے جوړیدل، او ډیر د غیبو خبرے بیانول لکه خلقو چه په کورونو کښ څه ذخیره کړی وی د هغے خبر به ئے ورکولو۔

او البینات ذکر کولو کښ اشاره ده چه دے یهودو ظالمانو ته د عیسیٰ علیه السلام نبوت ښه ښکاره شوے وو او معجزات ئے لیدلی وو، بیا ئے هم هغه نۀ منلو۔ نو پدے کښ زیاته بدی او قباحت د دوی دے۔

أَيَّدْنَاهُ : د تَأْيِيْدُ نه دے په معنیٰ د مضبوط والی او قادره کولو او قدرت ورکولو سره دے۔

بِرُوْحِ الْقُدُسِ: ددے ډیر مصداقات بیان شویدی :

(۱) یو دا چه دا نوم د جبریل علیه السلام دے لکه په سورة النحل (۱۰۲) کښ دا معنیٰ ده، او حسان بن ثابت رضی الله عنه د جبریل علیه السلام متعلق فرمائی :

وَجِبْرِيلُ رَسُولُ اللّٰهِ فِينَا	وَرُوحُ الْقُدُسِ لَيْسَ بِهٖ خَفَاءُ

(او په مونږه کښې جبريل د الله تعالىٰ استازے دے او پاك روح دے چه هيڅ پټوالے پرے نشته)
او حديث کښې دي چه نبي ﷺ به حسان رضي الله عنه ته داسے دعا کوله : (اَللّٰهُمَّ اَيِّدْهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ) (اے الله دا په روح القدس (جبريل) سره مضبوط کړه) [بخاری : ٤٥٣، مسلم : ٦٥٣٩]

او هغه ته روح پدے وجه وائي چه هغه وحی راوړی او وحی سبب د ژوند د زړونو دے۔

(۲) دویم دا چه روح القدس نه مراد انجیل دے او دے ته ئے روح پدے وجه وئیلے دے چه دا د الله تعالىٰ کتاب دے او هغه سبب د ژوند د زړونو وی۔ د الله تعالىٰ کتاب چه د انسان سره موجود وی نو د هغه پدے سره ډیره تسلی کیږی، مصیبت چه راځی قرآن زر راواخله نو دے سره به تسلی اُوشی۔

(۳) امام مجاهدؒ فرمائی : القدس او قدوس نوم د الله تعالىٰ دے۔ نو نسبت د روح الله تعالىٰ ته د تشریف د وجه نه دے۔ یعنی د الله تعالىٰ روح۔ او د الله تعالىٰ د طرفه روح (وحی) راوړنکے۔ یعنی روح جبریل علیه السلام دے او القدس الله تعالىٰ دے۔ لکه آیت کښې دی : (قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ) (النحل : ۱۰۲)

(٤) بعض وائی : روح القدس د الله تعالىٰ اسم اعظم دے چه پدے سره به عیسیٰ علیه السلام مړی راژوندی کول۔ (قاله سعید بن جبیر وعبید بن عمیر) (القرطبی)

(٥) یا روح القدس پخپله عیسیٰ علیه السلام دے خو دهٔ له الله تعالىٰ پاك روح ورکړے وو، ځکه چه د سړی او د ښځے د ګندګو نه صفاء وو، روحانیت ئے لرلو، نرم اخلاقو والا وو۔ (البغوی)

(٦) روح عیسیٰ علیه السلام دے او القدس الله تعالىٰ دے یعنی روح الله او عیسیٰ علیه السلام ته روح الله ځکه وائی چه دا د الله تعالىٰ په امر پیدا وو۔ اضافت تشریفی دے۔

اول قول ډیر ظاهر دے۔ او بیا پنځم قول۔

فائده : تائید (او ملاتړ) د جبریل علیه السلام د ټولو انبیاء علیهم السلام سره وو لیکن د عیسیٰ علیه السلام سره ئے خصوصی تائید وو او هغه دا چه (۱) جبریل علیه السلام دهٔ مور ته چه مریم ده دهٔ بشارت ورکړے وو۔ (۲) د جبرئیل علیه السلام په پوکی سره عیسی علیه السلام د مور بی بی په ګیډه شوے وو۔ (۳) جبریل علیه السلام به په ټولو حالاتو کښې د هغه تربیت کولو۔

(٤) جبریل علیه السلام به ورسره ګرځیدو چه کوم خوا به عیسی علیه السلام تلو۔ وجه دا ده چه یهودیان د هغه سخت مخالف وو، د هغه د مرګ پلان ئے جوړولو۔ او پدے مقام کښ د عیسیٰ علیه السلام تذکر هم ددے دپاره کوی چه اے یهودیانو ! تاسو خو عیسی علیه السلام قتل کولو لیکن هغه درنه ما خلاص کړے وو د جبریل په واسطه۔ ځکه چه د عیسی علیه السلام دشمنان د یهودیانو نه ډیر وو عیسی علیه السلام به بیانونه کول او یهودو باندے به ئے ردونه کول، د هغه په بیانونو کښ ډیر ردونه موجود دی۔ چه اے مُلیانو ! څنګه نرمے نرمے خبرے کوئ او زړونه مو د شرمخانو دی او څنګه حرامے خورئ، دنیا مو ولے غوره کړے ده ! او دا دا کارونه کوئ ! نو هغوی له به ډیر قهر ورتلو چه دا سړے څه راغلے او ځان مونږ ته بزرګ بزرګ کوی دا وژل پکار دی۔ بیا ئے ظالم بادشاه ته پرے شیطانی هم اُوکړه او د هغه د قتل اراده ئے هم اُوکړه چه د هغے واقعات روستو قرآن کریم کښ راځی۔

(٥) او آخر دا چه د جبریل علیه السلام په ذریعه آسمان ته هم اُوخیژولے شو۔

دے ځائے پورے مقدمه وه اُوس زجر ورکوی۔

أَفَكُلَّمَا : کښ دا همزه په (اِسْتَكْبَرْتُمْ) داخله ده (اَءِ اسْتَكْبَرْتُمْ كُلَّمَا جَاءَكُمْ رَسُوْلٌ بِمَا لَاتَهْوٰى أَنْفُسُكُمْ) آیا تاسو به ځان لوئی ګنړلو کله چه رسول درته داسے خبرے راوړی چه ستاسو د خواهش خلاف وی)

بِمَا : نه مراد وحی او دین او مسائل د دین دی۔

لَا تَهْوٰى أَنْفُسُكُمْ : او د دین مسائل اکثر د خواهش خلاف راځی پدے کښ امتحان غرض وی۔ نسبت د هوىٰ (خواهش) ئے نفس ته اُوکړو ځکه چه ناکاره خواهش د نفس نه پیدا کیږی۔

اِسْتَكْبَرْتُمْ : یعنی تاسو ځان لوئی ګنړلے دے، او حق له مو دیکه ورکړیده او ددے رسول د اجابت نه مو انکار کړیدے۔ اِسْتِكْبَار : (بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاس) (حق له دیکه ورکول او خلق سپك ګنړلو ته وئیلے شی) او دا مرض د شیطان او یهودیانو دے۔

﴿ فَفَرِيْقًا كَذَّبْتُمْ ﴾ یعنی فَفَرِيْقًا مِنَ الرُّسُلِ) یوه ډله د رسولانو۔

تقتلون : دا حکایت دے د حال ماضیه نه لیکن دوی به وخت په وخت وژل او په آینده کښ ئے اراده د وژلو هم وه۔ نو ځکه ئے تعبیر په مضارع سره اُوکړو، او دوی زمونږ د رسول الله ﷺ د قتل ارادے هم کړیدی، لکه مخکښے بیان شو۔یعنی دوی کښ دا

مرض پیدا شو چه د خواهش خلاف مسئله به ورته اُوشوه نو وئیل به ئے دا مونږ نهٔ منو او دا سړے وژل غوارې نو دا یهود څنګه د الله تعالیٰ دوستان کیدے شی چه پیغمبران ئے وژلی دی ؟!۔

فائده : تکذیب ئے مقدم کړو په قتل ځکه چه د استکبار د وجه نه اول تکذیب پیدا شی بیا خبره قتل ته اُورسی، دویم دا چه تکذیب مشترك وو په مابین د مقتول او غیر مقتول دواړه قسمه انبیاؤ علیهم السلام کښ، یعنی تکذیب عام دے او قتل خاص دے۔ او فریقاً فریقاً دوه ځله راوړو مطلب دا دے چه په کومو پیغمبرانو به ئے د قتل وسع اُورسیدلو نو هغه به ئے قتل کړل او په کومو چه به ئے وسع نهٔ کیدو نو د هغوی به ئے صرف تکذیب کولو۔

فائده : دا آیت ښکاره دلیل دے چه قتل د رسولانو شویدے۔

وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ بَلْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ
او وئیل به دویٔ زړونه زمونږ ډك دی د علم نه، (نهٔ) بلکه لعنت کړے دے الله په دوی
بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيْلًا مَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٨٨﴾
باندے په سبب د کفر د دویٔ، پس ډیر لږ کسان د دویٔ ایمان راوړی۔

تفسیر : په دے آیت کښ د دوی کښ بل مرض دا ذکر دے چه ځان غټ علماء ګنړی او د انبیاء (علیهم السلام) علم ته ځان محتاج نهٔ ګنړی ځکه تکذیب د پیغمبرانو کوی نو دا د مخکښی تکذیب طریقه بیانوی۔ چه دوی ته به چه کله اُوئیل شو چه راشئ د محمد رسول الله ﷺ خبرے واورئ نو دوی به وئیل مونږ سره د تورات علم دے، تورات کښ د الله تعالیٰ علم پروت دے۔ او هغه مونږ حاصل کړیدے۔ زمونږ چا ته ضرورت نشته۔

شان نزول : مفسرینو لیکلی دی چه نبی ﷺ کله د مدینے یهودیانو ته د اسلام دعوت ورکړو نو هغوی د نبی کریم ﷺ د نا امیده کولو دپاره چه دوباره دوی ته دعوت ورنکړی، او د سپکاوی په نیت– دغه خبره اُوکړه۔ (ابن عاشور) (و تیسیر الرحمن)

غُلُفٌ : (۱) جمع د غلاف ده لکه حُجُبٌ جمع د حِجَاب ده او غلاف په معنی د لوښی سره راځی معنیٰ ئے ده (اَوْعِيَةٌ لِكُلِّ عِلْمٍ) زمونږ زړونه د علم لوښی دی (مفردات راغبؒ) (والقرطبی) یعنی د علم نه ډك دی، هر قسم علمونه پکښ پراته دی، زمونږ دے نبی ته حاجت نشته، دا هسے خبرے دی، دا معنیٰ ضحاکؒ او عطیهؒ د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیده. اُوس هم ډیر منطقیان او فلسفیان وائی مونږه په حقائقو پو هیږو، په (قَالَ قَالَ) او (حَدَّثَنَا) باندے څه کار نۀ کیږی، دا آسان کار دے نو قرآن او سنت ورته سپك ښکاری او خپلے لانجے ورته ښے ښکاری، ډیرو ضدیانو مُلیانو کښ هم دا مرض دے چه کله ورته څوك یوه حقه مسئله اُوکړی نو هغه وائی چه دا مسئلے مونږ ته مخکښ نه معلومے دی، مونږ په کتابونو کښ وئیلی دی، او حال دا چه هسے فخر کوی هیڅ هم نۀ ورځی. نو الله تعالیٰ د دوی بدی بیانوی. نه! بلکه انصاف دا دے چه د حق خبرو پسے به بنده گرځی اګرکه هر څومره غټ عالِم وی، د انسان علم نۀ پوره کیږی، چه څوك داسے اُووائی بس زۀ په علم پوره شوم او نور اخوا نۀ زده کوم، بلکه انسان همیشه دپاره علم زده کولو ته محتاج دے، نبی ﷺ ته هم الله تعالیٰ د علم د زیادت طلب کولو امر کړیدے (وَقُلْ رَبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا) (طه:۱۱٤).

ددے معنیٰ تائید په سورة غافر (۸۳) کښے شته. (فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِنَ الْعِلْمِ) (یعنی د رسولانو د بیناتو (واضحه خبرو) په مقابله کښ دوی خپل علم مخے ته کړو، او په رسول باندے د ایمان راوړو نه محروم شو) نو کله کله علم د انسان مانع د حق اُوګرځی. ددے نه یره پکار ده. انابت ډیر ضروری دے.

(۲) – دویمه معنیٰ : غُلُف جمع د أَغْلَف ده په معنیٰ د بند سره لکه حُمُرٌ چه جمع د اَحْمَر ده. لکه دا معنیٰ په حٰم السجدة (۵) آیت کښ راغلے ده : ﴿وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْ أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُوْنَا اِلَيْهِ﴾ (یعنی زمونږ زړونه په پردو کښ دی ستا د دعوت نه) نو معنیٰ دا ده : (قُلُوْبُنَا فِيْ غِطَاءٍ مِنْ قَوْلِكَ وَلَا نَفْقَهُ حَدِيْثَكَ فَلَوْ كُنْتَ نَبِيًّا لَفَهِمْنَا قَوْلَكَ) (بحر العلوم للسمرقندی :۱/ ۸۰) (زمونږ زړونه ستا د خبرو نه په پرده کښ بند دی، ستا په خبره مونږ نۀ پو هیږو. که ته نبی وے مونږ به ضرور ستا په خبره پو هیدلے) یعنی په مونږ محنت مۀ کوه. (جاهل عنادی د پیغمبر په واضحه خبره هم نۀ پو هیږی!.)

او مقصد د دوی دا وو چه ستا خبرے غلطے دی، دا ته څه وائے، مونږ خو پدے نۀ

پـو هيـړو، کـه دا د عـقـل خبـرے وے او پـدے کښې څه معقوليت وُئے نو مونږ خو معقولے خبـرے قبلـوو، ضرور به مونږ قبول کړی وے۔ اوله معنیٰ ظاهره ده۔ نو الله تعالیٰ پرے رد کوی :

﴿ بَلْ ﴾ (بـلـکه) : دا د اضراب دپاره دے، ددے معنیٰ دا ده چه د علم نه ډك نهٔ دی، هسے وائـی بلکه الله تعالیٰ د دوی دکفر په وجه د دوی په زړونو لعنت کړیدے او په هغے ئے مهر وهلے دے۔او په ملعون زړه کښې علم نهٔ وی۔ او بناء په دويم تفسير معنیٰ داسے ده : زړونه ئے بـنـد نهٔ دی، دروغ وائی، بلکه زړه کښې ئے کفر پروت دے نو د هغے په وجه الله تعالیٰ په دوی لعنت کړیدے نو د حق او د نبی خوا ته نهٔ راځی، د هغه خبرے پرے اثر نهٔ کوی۔

﴿ لَعَنَهُمُ اللهُ بِكُفْرِهِمْ ﴾ يـعـنـی دوی کافر دی، الله تعالیٰ پرے لعنت کړیدے ځکه دوی حق تـه غـوږ نـهٔ اړدی نـو پـه مـلـعون ځائے کښې به څنګه حق الله تعالیٰ کيدی۔ د دوی زړونه خـراب شـويـدی، او ګـنـده لوښی کښې صفا شے راتلل مشکل دی، مګر هله چه دا لوښے اُووينځلے شی۔ نو چه د دوی د زړونو کفر او تکبر اُوځی او حق ته مائل شی نو الله تعالیٰ به پکښې حق واچوی۔

فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ : کلمه د ما د تاکيد د قلت دپاره ده۔ (۱) – (اَیْ قَلِيْلٌ مِنْهُمْ يُؤْمِنُوْنَ) لږ خلق ايمان راوړی۔ نبی ﷺ د دوی حسد داسے ذکر کړیدے :

(لَوْ آمَنَ بِیْ عَشَرَةٌ مِنَ الْيَهُوْدِ لآمَنَ بِیَ الْيَهُوْدُ) (بخاری رقم ۱٤۳٤) (۳۷۲٥)

(کـه پـه مـا بـانـدے لـس يهوديان ايمان راوړی نو ټول يهوديان به ايمان راوړی) ليکن په ټول دورِ نبوت کـښې لـسـو کسانو هم ايمان نهٔ وو راوړے۔ دومره غټ ضديان دی، اسلام سره ئے سمه کلکه دشمنی ده۔

۲ –(قَلِيْلٌ اِيْمَانُهُمْ لِاَنَّهُمْ يُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَيَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ)

(يعنی لږے خبرے منی۔ بعض خبرے منی او بعضے نهٔ منی)۔ يعنی زړه کښې ئے ايمان نشته بلکه په زړه کښې ئے کفر دے د کفر د وجه نه حق نه اَوری، عنادګر دی۔

وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ
او هر كله چه راغے دوی ته كتاب (قرآن) د طرف د الله نه، چه تصديق كونكے دے
لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ
د هغه كتابونو چه د دوی سره دی او وو دوی مخكښ ددے (نبی یا قرآن) نه
يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
چه طلب د فتح به ئے كولو (د الله نه) په مقابله د هغه كسانو كښے چه كفرئے كړے۔
فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ
نو هركله چه راغلو دوی ته هغهٔ شے چه دوی پيژندلو كفرئے اُوكړو په هغے سره
فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾
پس لعنت د الله دے په (داسے) كافرانو ۔

تفسير : ددے آيت نه (۹۱) پورے شپږم خطاب دے بنی اسرائيلو ته او په دے كښے [إِنْكَارُهُمْ مِنْ هٰذَا النَّبِيِّ مَعَ اسْتِفْتَاحِهِمْ بِهٖ] بيانوی (يعنی دوی ددے نبی (محمد رسول الله ﷺ) نه هم انكار كړيدے سره ددے نه چه اول كښ به ئے پرے طلب د مدد كولو)۔ نو دوی په تولو زمانو كښے د رسولانو مقابله كړيده، مشران او كشران ئے پدے مقابله كښے برابر دی نو گويا كښے د تولو يهودو دا طبيعت او فطرت ثانی جوړ شويدے چه د انبياء عليهم السلام نه به انكار كوی۔

او حاصل ئے دا دے چه د مخكنی كتابونو او صحيفو نه دوی ته ددے نبی علامات او پيشنگويانے معلومے وے۔نو دوی به وئيل چه د يو نبی زمانه رانزدے شوے ده كه هغه راغلو نو مونږ به پرے ايمان راوړو۔ اجمالاً ئے منلو ليكن كله چه راغلو تفصيلاً نو اُوس

ئے نۀ منی، (او دا زمونږ ددے اُمت د مقلدینو طریقه هم ده، قرآن او حدیث اجمالًا منی، دا وائی چه قرآن منم او ټول احادیث منم، بخاری منم، لیکن ددے بخاری نه یو حدیث د کتاب الصلاة یا کتاب الزکوة نه ورته شروع کړه چه دا حدیث د بخاری یا مسلم شریف دے نو بیا منلو ته تیار نۀ دی، بیا وائی دا زمونږ مذهب کښې نشته.
بعض خلق داسے وائی چه د الله تعالیٰ او د رسول په طریقو کښې د دواړو جهانو کامیابی ده لیکن کله چه ورته د الله د رسول ﷺ یوه طریقه بیان کړے چه د هغۀ د مذهب خلاف وی یا ئے په پارټئ کښې څوك نۀ کوی نو بیا وائی دا نوے طریقے دی، دا مشرانو نۀ دی وئیلی. نو بیائے منلو ته تیار نۀ وی. دا د یهودو صفت دے او بعینهٖ په دے امت کښې هم راغلے. داسے مرض به انسان ځان کښې نۀ پیدا کوی، گنے تاوان کښې به واقع شی او د ځان خیر خواه به نۀ وی، د چا به څه اُوکړی، ځان به تباه کړی !).
مُصَدِّق : پدے لفظ سره د دوی په توبیخ او زورنه کښې زیاتوالے پیدا کول دی چه که دوی د دعوت محمدی نه اعراض کړے وے پدے وجه چه هغې باندے څه دلیل نۀ وے نو بیا به د دوی د اعراض دپاره څه نا څه عذر وے، لیکن اُوس عذر نشته ځکه چه دوی د هغه کتاب نه اعراض کړیدے او کفرئے پرے کړیدے چه هغه د دوی سره د موجود کتاب تصدیق کوی.
﴿ وَكَانُوا ﴾ پدے سره د دوی په توبیخ کښې دویم تاکید دے چه گوره دوی خو اول کښې غوختلو او چه راغلو نو بیا ئے ترے انکار اُوکړو د حسد او ضد په وجه نو دوی په اعراض کښې معذور نۀ دی.
مِنْ قَبْلُ : (اَیُ مِنُ قَبْلِ مَجِیُءِ هٰذَا الرَّسُوْلِ) (یعنی مخکښې د راتلو ددے رسول (محمد ﷺ) نه (۲) یا ضمیر قرآن ته راجع دے. (مِنُ قَبْلِ مَجِیُءِ هٰذَا الْکِتَابِ)(مخکښې د راتلو ددے کتاب نه چه قرآن دے) د کتاب راتلل بغیر د رسول نه نۀ وی. نو که دلته هر یو ته ضمیر راجع شی صحیح دے.
ترکیب : وَلَمَّا جَآئَهُمُ شرط دے او جزاء ئے پټه ده (کَذَّبُوْا بِهٖ) (یعنی تکذیب ئے پرے اُوکړو) یا (اِسُتَهَانُوُا بِمَجِیُئِهٖ) (البحر المحیط) (د هغه د راتلو سپکاوے ئے اُوکړو) هغه ئے معمولی اُوگنړلو. او (وَکَانُوُا) جمله حالیه ده دپاره د زیات توبیخ د دوی. معنیٰ دا ده : (هرکله چه دوی ته کتاب راغلو نو دوی د هغه راتلل معمولی اُوگنړل او حال دا چه

مخکښ ددے کتاب یا ددے رسول (ﷺ) نه دوی به طلب کولو مدد د الله تعالیٰ نه ددهٔ په راتلو).

﴿يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ یعنی د دوی به د کافرانو مشرکانو سره جګړے راتللے نو الله تعالیٰ نه به ئے دعا غوختله چه اے الله! تهٔ هغه پیغمبر راولیږه چه کوم په آخره زمانه کښې راتلونکے دے چه مونږ ورسره ملګری شو، او دا کافران مشرکان قتل کړو ځکه چه هغه هم اهل کتاب دے، زمونږ ملګرے دے او مونږ هم اهل کتاب یو، دوی به دا ګمان کولو چه مونږ به د هغهٔ ملګری یو، د الله تعالیٰ نه ئے دا نهٔ غوختله چه اے الله! مونږ د هغه اول تابعدار کړه، هسے نهٔ چه امتحان راشی او بیا اُوتختو. او د الله تعالیٰ نه به ئے د کافرانو په مقابله کښې طلب د فتح کولو (کله چه به جنګ ورته سخت شو) چه اے الله! دا کافران ذلیل کړه او محمد رسول الله ﷺ راولیږه. لیکن هرکله چه الله تعالیٰ راولیږلو او دوی ښه اُوپیژندلو نو سره د پوهے نه ئے د حسد او ضد په وجه په هغه کفر اُوکړو چه دا ولے په عربو کښې راغلو. او زمونږ د نسل نه رانغلو.

يَسْتَفْتِحُونَ : بیا په دے مقام کښې څو توجیهات دی. (۱) اول دا چه يَسْتَفْتِحُونَ په معنیٰ د يَفْتَحُونَ دے او سین او تاء پکښې د تاکید دپاره زیاتی شویدی لکه په اِسْتَعْصَمَ او اِسْتَصْرَخَ او اِسْتَعْجَبَ کښې چه زیات شویدی. او فتح علم او خبر ورکولو ته وئیلے شی لکه عرب وائی : (فَتَحَ عَلَى الْقَارِئ) اَیْ عَلَّمَهُ الآيَةَ الَّتِي يَنْسَاهَا) (هیر شوے آیت ئے ورته یاد کړو) نو معنیٰ دا ده (كَانُوا يُخْبِرُونَ الْمُشْرِكِينَ بِاَنَّ رَسُولاً سَيُبْعَثُ فَيُؤَيِّدُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَيُعَاقِبُ الْمُشْرِكِيْنَ) (ابن عاشور) (دوی به مخکښ ددے رسول د راتلو نه مشرکانو عربو امیانو ته خبر ورکولو ددے نبی په باره کښې چه د یو نبی زمانه رانزدے شوے ده چه هغه به راوځی، زمونږ د خبرے تصدیق به کوی، نو مونږ به د هغه په ملګرتیا کښې تاسو داسے وژنو لکه د عاد او ارم په شان. (خازن، مدارك، معالم التنزيل)

او ددے تائید دا دے چه قتاده انصاری د خپلو اشیاخو نه نقل کوی چه دا آیت زمونږ- د انصارو او یهودو په باره کښې نازل شویدے. - کوم چه د انصارو ګاونډیان وو. دے فرمائی : مونږ انصار په جاهلیت زمانه کښې په یهودو باندے څه موده غلبه حاصله کړے وه او مونږ اهل شرك وو، او دوی اهل کتاب وو، نو دوی به مونږ ته وئیل : (اِنَّ نَبِيًّا (مِنَ الأَنْبِيَاءِ) يُبْعَثُ الآنَ نَتَّبِعُهُ، قَدْ أَظَلَّ زَمَانُهُ نَقْتُلُكُمْ مَعَهُ قَتْلَ عَادٍ وَاِرَمَ) (د یو نبی د رالیږلو زمانه

رانزدے شویده، هغه چه راشي نو مونږ به د هغه په ملګرتیا کښې تاسو داسے وژنو لکه د عاد او ارم په شان) لیکن هرکله چه الله تعالیٰ خپل رسول د قریشو نه راولیږلو نو مونږ ئے تابعداري اُوکړه او دوی پرے کفر اُوکړو۔ نو الله تعالیٰ د دوی په باره کښې فرمائی : (فَلَمَّا جَاءَهُم مَا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ) (ابن کثیر)

(۲) دویم : اِسْتِفْتَاح په معنیٰ د طلب د فتح او نصرت دے۔ (يَسْتَنْصِرُوْنَ بِمَجِيئِهِ عَلَى أَعْدَائِهِمْ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ إِذَا قَاتَلُوْهُمْ) یعنی دوی به د الله تعالیٰ نه مدد طلب کولو په راتلو ددے نبی په مقابله د مشرکانو کښې چه کله به ئے د هغوی سره جګړه راغله نو داسے دعاء به ئے کوله : (اَللّٰهُمَّ انْصُرْنَا عَلَيْهِمْ بِالنَّبِيِّ الْمَبْعُوْثِ فِيْ آخِرِ الزَّمَانِ، الَّذِيْ نَجِدُ صِفَتَهُ فِي التَّوْرَاةِ فَكَانُوا يُنْصَرُوْنَ) (معالم التنزیل) (اے الله ! مونږ سره ددے مشرکانو په مقابله کښې د آخری نبی په رالیږلو مدد اُوکړه، د کوم صفات چه مونږ په تورات کښې مونده کوو، نو دوی سره به مدد کیدے شو)۔ او په یو روایت کښې داسے الفاظ دی (اَللّٰهُمَّ ابْعَثْ هٰذَا النَّبِيَّ الَّذِيْ نَجِدُهُ مَكْتُوْبًا عِنْدَنَا حَتّٰى نُعَذِّبَ الْمُشْرِكِيْنَ وَنَقْتُلَهُمْ) (ابن کثیر عن ابی العالیة)

(اے الله ! دغه نبی راولیږه کوم چه مونږ خپل کتاب کښې لیکلے شوے مونده کوو دے دپاره چه مشرکانو لره عذاب ورکړو او هغوی قتل کړو)۔

او ددے معنیٰ تائید په حدیث کښې دے : ابن عباس ﷛ فرمائی : یهودو به د اَوس او خزرج په مقابله کښې په رسول الله ﷺ باندے مدد طلب کولو د هغه د بعثت نه مخکښې، نو کله چه هغه لره الله تعالیٰ د عربو نه راولیږلو نو دوی په هغه باندے کفر اُوکړو او انکارئے اُوکړو د هغه خبرو نه چه دوی به د رسول الله ﷺ په باره کښې (عربو ته) وئیلے۔ نو دوئ ته معاذ بن جبل ﷛ او بشر بن براء بن معرور اخو بنی سلمه رضی الله عنهم اُووئیل :

(يَا مَعْشَرَ يَهُوْدَ ! اِتَّقُوا اللّٰهَ، وَأَسْلِمُوْا، فَقَدْ كُنْتُمْ تَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَيْنَا بِمُحَمَّدٍ ﷺ وَنَحْنُ أَهْلُ شِرْكٍ وَتُخْبِرُوْنَنَا بِأَنَّهُ مَبْعُوْثٌ وَتَصِفُوْنَهُ لَنَا بِصِفَتِهِ)

(اے د یهودو ډلے ! د الله نه یره اُوکړئ او راشئ اسلام راوړئ ځکه چه تاسو به ز مونږ په مقابله کښې په محمد ﷺ باندے په حالت د شرك ز مونږ کښې مدد طلب کولو او مونږ ته به مو دا خبر راکولو چه نبی راتلونکے دے او ددهٔ صفات به مو راته بیانول)

نو سلام بن مِشْكم د بنی النضیر نه اُووئیل :

(مَا جَاءَ نَا بِشَيْءٍ نَعرِفُهُ، وَمَا هُوَ بِالَّذِي كُنَّا نَذْكُرُ لَكُمْ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ فِي ذٰلِكَ مِنْ قَوْلِهِمْ وَلَمَّا جَاءَ هُمْ كِتَابٌ الخ) (ابن كثير)

(مونږ ته دۀ داسے څه نۀ دی راوړی چه مونږه ئے پیژنو او دا هغه رسول نۀ دے کوم چه مونږ تاسو ته ذکر کولو۔ نو پدے باره کښې الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو ولما جاء هم کتاب الخ)۔ چه د دوئ خیانت ئے ذکر کړو۔

(۳) دے کښې مفسرینو دریمه معنیٰ داسے کړیده: (يَسْتَخْبِرُوْنَ عَنْهُ ﷺ هَلْ وُلِدَ مَوْلُوْدٌ صِفَتُهٗ كَذَا وَكَذَا) نقله الراغب وغيره (روح المعانی)

(یعنی دوی به د امیانو کافرانو نه خبر طلب کولو په باره د رسول الله ﷺ کښې چه آیا داسے ماشوم پیدا شویدے چه داسے داسے صفت ئے وی)۔ نو عَلیٰ په معنیٰ د مِنْ دے۔

د یهودو ضد او تعصب

فَلَمَّا جَاءَ هُمْ مَا عَرَفُوْا : دے کښې د دوی قباحت رابښکاره کوی چه پس د پیژندلو نه ئے ددے رسول نه انکار اُوکړو، گویا کښې په پخوانو کتابونو کښې د رسول الله قلمی صورت پروت وو چه چا به لیدلو نو انکار به ئے نۀ کولو مگر د ضد د وجه نه۔ لکه اهل سیر واقعه لیکلے ده چه صفیه رضی الله عنها فرمائی : زه خپل پلار حُيَيُّ بن اَخْطَب او ترۀ (ابویاسر بن اَخْطَب) ته په ټولو اولادو کښې ډیره گرانه اُوم، کله چه به سفر نه راغلل نو زۀ به ورتللم ما سره به ئے ډیره خوش طبعي کوله، کله چه رسول الله ﷺ د مکے نه هجرت اُوکړو او قباء ته راغلو او بنی عمرو بن عوف کښې اُوسیدلو نو زما پلار او تره سحر وختی په تیاره کښې د هغه خوا ته ورغلل او بیرته ماښام کښې پټ راغلل۔ او پداسے حال کښې (فَاتِرَيْنِ، كَسْلَانَيْنِ، سَاقِطَيْنِ) چه (سست، ستومانه پریوتی) وو او ستومانه را روان وو۔ نو زه د خپل عادت مطابق مخے له ورغلم نو زۀ ئے اخوا کړم او هیڅ التفات ئے راته اُونکړو نو زما ترۀ زما پلار ته اُووئیل : (اَهُوَ هُوَ ؟) (آیا دا همغه پیغمبر دے چه مونږ سره ئے وعده شویده) هغه اُووئیل : (نَعَمْ وَاللّٰهِ) (قسم په الله همغه نبی دے) زما تره اُووئیل : (أَتَعْرِفُهٗ بِعَيْنِهٖ وَصِفَتِهٖ ؟) (آیا ته ئے شخص او صفاتو سره پیژنے؟) هغه اُووئیل : آؤ، قسم په الله۔ زما تره ورته اُووئیل :(فَمَا ذَا فِيْ نَفْسِكَ مِنْهُ ؟) (نو ستا په زړه کښې ددۀ په باره کښې څه خیال دے) ایمان به راوړے او که نۀ؟۔ نو حُيَيُّ بد بخت اُووئیل : (عَدَاوَتُهٗ وَاللّٰهِ مَا بَقِيْتُ) (دلائل النبوة للبيهقي: ٣٥٤) وسيرة ابن هشام)

(زما په زړهٔ کښې ددهٔ سره دشمنی ده قسم په الله خو پورې چه زه ژوندې یم)

دا هغه حسد وو چه سره د پیژندلو نه ئې انکار کولو او بیا په همدې حالت کښې په محاصره د بنی قریظه کښې مردار شو. عبد الله بن سلام ﷺ به فرمایل : زهٔ په خپل بچی کښې شك کولې شم خو پدې نبی کښې ئې نشم کولې.

کَفَرُوْا بِه: (۱) د هغه نه ئې انکار اُوکړو او د هغه نعت او صفت ئې بدل کړو پدې یره چه د دوی نه به د دنیا منافع او فائدې زائل شی. (۲) یا پدې وجه چه د دوی دا گمان وو چه دا آخری نبی به په بنی اسرائیلو کښې راځی ځکه چه په دوی کښې ډیر رسولان راغلی وو نو دوی به عوامو ته د هغه د دین ترغیب ورکولو خو هرکله چه په عربو کښې په اولادو د اسماعیل ؑ کښې راغلو نو دوی باندې دا گرانه شوه نو په حسد او عناد او ضد کښې راغلل نو تکذیب ئې شروع کړو. (لیکن دا وجه ضعیفه ده ځکه دوی ته یقینی معلومه وه چه دا به د عربو نه وی) (۳) یا د دوی دا گمان وو چه دا به خاص عربو ته رالیږلې شوې وی، نو ځکه ئې ترې انکار اُوکړو. (تفسیر النیسابوری ۱/۲۶۶) واللباب (۱/۴۵۲)

مَا عَرَفُوْا : **فائده** : ددې آیت نه معلومه شوه چه حق پیژندل او په هغې باندې یقین کول چه آؤ دا دین حق دې، دا صرف ایمان نهٔ دې بلکه ایمان دیته وائی چه د حق پیژندلو سره سره به د هغې منل کوی او د هغې تابعداری به کوی. نو ځکه ئې دوی ته کافران اُووئیل، په نفس معرفة او پوهه باندې ایمان نهٔ حاصلیږی ورنه بیا خو د شیطان د ټولو نه زیات حق پیژندونکې دې، مگر د حق پیژندلو سره سره د هغې نه انکار کول په کفر کښې نور هم زیات سختوالې راولی. پدې وجه د دوی د کفر وجه په روستو آیت کښې عناد خودلې شویدې.

فَلَعْنَةُ اللهِ : دا د الله تعالیٰ د طرف نه ښیرې دی او د الله تعالیٰ ښیرې قبولې وی.

د لعنة معنیٰ ده (اَلْاِبْعَادُ عَنِ الْخَیْرَاتِ الْحَقِیْقِیَّةِ الْبَاقِیَةِ) (النیسابوری)

(یعنی د همیشه حقیقی ښیگړو او رحمتونو نه وړاندې کیدو ته وئیلې شی).

بعض علماء فرمائی : لعنت په حق د کفارو کښې : (اَلطَّرْدُ وَالْاِبْعَادُ عَنِ الرَّحْمَةِ وَالْکَرَامَةِ وَالْجَنَّةِ عَلَی الْاِطْلَاقِ) (مطلقاً د رحمة، عزت، او جنت نه شړل او وړاندې کولو ته وئیلې شی) او په حق د گناهگارو مؤمنانو کښې :

(اَلْاِبْعَادُ عَنِ الْکَرَامَةِ الَّتِیْ وُعِدَ بِهَا مَنْ لَایَکُوْنُ فِیْ ذٰلِكَ الذَّنْبِ)

(د هغه عزت او کرامت نه وړاندې کول کوم باندې چه وعده شویده هغه چا دپاره چه په دغه گناه کښې نۀ وی) لکه حدیث کښې دی :

(مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ مَلْعُونٌ) (وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ ٤٢٠٦: مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ)

نو دلته معنیٰ دا ده چه دا د درجې د ابرارو نه شړلے شویدے، نۀ د رحمة د غفار نه.

فائدة عجيبة : په شریعت کښې د لعنت تقاضا کونکی څیزونه درے دی (۱) کفر، (۲) بدعة (۳) فسق. او بیا په هر یو کښې درے مرتبې دی. (۱) اول لعنت په عام وصف باندې لکه (لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكَافِرِيْنَ وَالْمُبْتَدِعِيْنَ وَالْفَاسِقِيْنَ)

(۲) لعنت په وصف خاص سره د مخکنې نه لکه (لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْيَهُوْدِ وَالنَّصَارىٰ) یا (عَلَى الْقَدَرِيَّةِ وَالْخَوَارِجِ، وَالرَّوَافِضِ اَوْ عَلَى الزُّنَاةِ وَالظَّلَمَةِ وَآكِلِ الرِّبَا) دا ټول جائز دی.

(۳) دریم لعنت په شخص معین باندې لکه یو شخص وائی : زید لعنه الله. یا اُووائی چه دا فلانے فاسق یا بدعتی یا منافق دے. نو پدے کښې تفصیل دے. (۱) که د یو تن شرعاً کفر ثابت وی نو په هغه لعنت وئیل جائز دی پدے شرط چه بل مسلمان ته په کښې ضرر نۀ وی لکه (لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلٰى فِرْعَوْنَ وَاَبِىْ جَهْلٍ) ځکه دا ثابته ده چه دا خلق په کفر کښې وفات شویدی. (۲) او که شرعاً د هغه کفر نۀ وی ثابت لکه لعنت په زید او عمرو وغیره نو پدے کښې ډیر خطر دے ځکه چه د هغه د خاتمے حال نۀ دے معلوم، ډیر کرته داسے کیدے شی چه کافر مسلمان شی یا توبه اُوباسی او الله تعالیٰ ته مقرب جوړ شی او بیا پرے مرګ راشی نو هغه باندې د ملعون کیدو حکم څنګه جائز کیدے شی. لکه مثلاً وحشی بن حرب ﷛ ته اُوګوره چه د رسول الله ﷺ تره حمزه ﷛ ئے شهید کړے وو لیکن بیا ئے اسلام قبول کړو او الله تعالیٰ ورته د جنت زیرے ورکړو.

او هر چه نبی اکرم ﷺ دے نو هغه ته په وحی سره معلومه شوے وه چه دا فلانے فلانے به کفر کوی، په دے وجه هغه ابو جهل، عتبه بن ربیعه وغیره په لعنت سره خاص کړیدی. اودکوم کسانو په باره کښې چه نبی اکرم ﷺ ته معلومات نۀ وو نو په هغوی باندې د لعنت وئیلو نه الله تعالیٰ په ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ﴾ (العمران: ۱۲۸) آیت کښې منع اُوفرمائیله، دارنګه هر هغه شخص چه د هغه په کفر باندې مړکیدل مونږ ته معلوم شی نو د هغه ذم او په هغه لعنت وئیل جائز دی. خو شرط دا دے چه بل مسلمان ته د هغه په لعنت وئیلو کښې ضرر نۀ وی لکه د یو مسلمان پلار کافر وی، نو په دغه

شخص باندے لعنت وئیلو سره دهغه مسلمان خوئے ته ضرر رسیږی نو دا کارهم جائز نهٔ دے، لکه د سعید بن العاص په باره کښے ابو بکر صدیق ﷛ اووئیل :
هٰذَا قَبْرُ رَجُلٍ كَانَ عَاتِيًا عَلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ) ۔ (دا د هغه سړی قبر دے چه د الله او د رسول نه سرکشه وو) نو دهغه خوئے عمرو بن سعید غصه شو،
ابو بکر ﷛ ته ئے اُووئیل :
(هٰذَا قَبْرُ رَجُلٍ كَانَ أَطْعَمَ لِلطَّعَامِ وَأَضْرَبَ لِلْهَامِ مِنْ أَبِي قُحَافَةَ)۔
(دا د هغه سړی قبر دے چه د ابو قحافه نه خلقو ته ډیر طعام ورکونکے (سخی) وو او ډیرے کوپړئ وهونکے وو) نو ابو بکر صدیق ﷛ نبی اکرم ﷺ ته ددے گیله اُوکړه۔ نبی اکرم ﷺ عمرو بن سعید ﷛ تـه اُوفرمائیل : د ابو بکر نه قلارشه ! او بیا ئے ابو بکر ﷛ تـه اُوفرمایل : (يَا أَبَا بَكْرٍ ! إِذَا ذَكَرْتُمُ الْكُفَّارَ فَعَمِّمُوْا، فَإِنَّكُمْ إِذَا خَصَّصْتُمْ غَضِبَ الْأَبْنَاءُ لِلْآبَاءِ) [مراسیل ابی داود– تخریج احادیث الاحیاء رقم : ۳]۔
(کله چه تاسو کافر ذکر کوئ نو عموم طریقے سره ئے ذکر کوئ ځکه که تاسو تخصیص اُوکړئ نو ځامن به د پلارانو دپاره غصه کیږی) نو خلق ددے کار نه بند شو۔
دارنگه بل شرط دا دے چه هغه (شخص معین) باندے په لعنت او بد رد وئیلو کښے به دینی فائده وی مثلًا دا چه هغه مبتدع کافر وی، چه دهغه د شر نه خلق ځان اُوساتی لکه هغه د شر کتابونه لیکلی وی، نو ته دهغه بدی بیان کړے ددے دپاره چه خلق دهغه دشر نه محفوظ شی .او په عامو گناهگارانو باندے لعنت وئیل هم صحیح نهٔ دی لکه صحیح بخاری کښے دی چه یو شخص د عبد اللّٰه په نوم چه لقب ئے حمار وو نبی اکرم ﷺ به ئے کله نا کله خندولو هغه شراب وڅکل او هغه ته سزا ورکړے شوه، نو یوه ورځ راوستے شو او امر اُوکړے شو چه جلد (دُرے) ورته ورکړئ نو په ناستو خلقو کښے یو سړی اُووئیل : (اَللّٰهُمَّ الْعَنْهُ ! مَا أَكْثَرَ مَا يُؤْتىٰ بِهٖ)۔ (دا گس دِے اللّٰه تباه کړی هر وخت راوستلے شی د سزا دپاره)۔ نبی اکرم ﷺ اُوفرمایل :
(لَا تَلْعَنُوْهُ، فَوَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ إِلَّا أَنَّهٗ يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ)۔
(په ده باندے لعنت مه وایئ ځکه ما ته دا معلوم دے چه د الله او رسول سره محبت تی)۔ بل روایت کښے دی (لَا تَكُوْنُوْا عَوْنَ الشَّيْطَانِ عَلىٰ أَخِيْكُمْ) (د شیطان سره د خپل مسلمان په مقابله کښ مدد مه کوئ) [بخاری : ٦٧٨١]

نو په معین فاسق باندے لعنت وئیل جائز نشو، اوکه فاسق مرشوے وی، نو په هغه لعنت وئیل خو ډیر سخت دی، مگر کله چه د هغه د شرنه د حفاظت په نیت په هغه لعنت اُووئیلے شی نو دا جواز لری۔ و کذا فی تحفة الاحوذی (۱۳۸/۳) نقلاً عن الطیبی، واحیاء العلوم (۱۵۷۳/۳) وفتح المجید ص (۱۲۵).

حاصل : دا چه په اشخاصو باندے په لعنت وئیلو کښے خطره ده، ځان ترینه ساتل ضروری دی، خصوصاً چه کله د هغه فسق اوبدعت اوکفر معلوم نهٔ وی۔

بله **فائده** : لعنت کله دے ته وائی (لعنة الله علی فلان) دویمه معنیٰ ښیرے او بد دعائی کول دی لکه فلانے دِے الله تعالیٰ هلاك کړی، جهنمی دِے شی وغیره وغیره۔

فائده بدیعة : په شریعت کښے لعنت په کومو کسانو اوڅیزونو باندے وئیلے شویدے، یعنی

اسباب اللعنة څه دی ؟ یا ملعونین څوك دی ؟

نو دا ډیره لویه موضوع ده، مونږ د هغے نه بطور اختصار څه ذکر کوو

○ د ابن مسعود ﷺ په حدیث کښے دی : [قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : آكِلُ الرِّبَا وَمُوْكِلُهُ، وَكَاتِبُهُ، وَشَاهِدَاهُ اِذَا عَلِمُوْا ذٰلِكَ، وَالْوَاشِمَةُ، وَالْمَوْشُوْمَةُ لِلْحُسْنِ وَلَاوِى الصَّدَقَةِ، وَالْمُرْتَدُّ أَعْرَابِيًّا بَعْدَ الْهِجْرَةِ : مَلْعُوْنُوْنَ عَلٰى لِسَانِ مُحَمَّدٍ ﷺ يَوْمَ الْقِيَامَةِ] [صحيح او حسن: اخرجه النسائی رقم : ۵۱۰۲، الحاکم فی المستدرك وكذا فی صحیح الجامع الصغیر رقم (۶۴/۵)]۔

یعنی : (۱) سود خوړونکے لعنتی دے، د اللّٰه لوی دشمن دے، مونځ اوروژه او نور عبادات ئے نهٔ قبلیږی، اودِ هغه کس نه د سود خور گناه زیاته ده چه پنځه دیرش کرته دخپلے مور سره زنا اُوکړی کما فی الحدیث۔

(۲) د سود مال په بل چا باندے خوړونکے ملعون دے۔(۳) سودی کاروبار لیکونکے (منشی) (سودی بینك منیجر)۔(۴) سودی کاروبار باندے گواهی کونکے۔

(۵) خالونه لگونکے، ښځه وی که سړے۔(۶) هغه کس چه په هغه خال لگولے شی۔

(۷) زکوٰة او فرض عُشر منع کونکے۔ (۸) هغه کس چه هجرت اُوکړی د کافرانو نه او بیا لاړ شی اوبانده اوکلی کښے اُوسیږی، او واپس جهاد ته نهٔ ځی، او نهٔ د خپل ملك دآزادولو کوشش کوی، داسلام د قائمولو په نیت۔

○ بل حدیث دابن عباس ﷺ کښے راځی :

قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَتَانِیْ جِبْرَئِیْلُ فَقَالَ : یَا مُحَمَّدُ، اِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ لَعَنَ الْخَمْرَ وَعَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَشَارِبَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُوْلَةَ اِلَیْهِ وَبَائِعَهَا، وَمُبْتَاعَهَا، وَسَاقِیَهَا، وَمُسْقِیَهَا)

اخرجه احمد (۳۱٦/۱) والبیهقی فی شعب الایمان (۱۵۰/۲ رقم : ۵۱۹٦).

(۹) شرابو باندے لعنت راغلے دے، هر قسم شرابو له گوتے وروړل جائز نهٔ دی. (۱۰) انگور نچوړونکے په نیت دشرابو. (۱۱) هغه ځوك چه د انگور د نچوړولو غوښتنه کوی دپاره د شراب جوړولو. (۱۲) شراب څکونکے. (۱۳) شراب بارونکے.
(۱٤) چاکره چه دا اوړلے شی. (۱۵) شراب خرڅونکے، دارنگه هر نشائی ځیز خرڅونکے.
(۱٦) شراب اخستونکے. (۱۷) په بل باندے شراب څکوونکے.
(۱۸) بل چاته د شرابو ځائے وربښودونکے. (۱۹) تصویر جوړونکے، (مشکوٰة (۲٤۱/۱).
(۲۰) دمصیبت په وخت خپل مخ وهونکے. (۲۱) گریبان شلونکے.
(۲۲) د هلاکت اوتباهئ خبرے کونکے. (۲۳) رشوت ورکونکے.
(۲٤) رشوت اخستونکے، کما فی حدیث احمد وصحیح الجامع الصغیر (۹۰۷).
(۲۵) الواصله : د بل په سرکښے بازاری ویښته لگونکے ښځه. (۲٦) اَلْمُسْتَوْصِلَه : هغه ښځه چه د بل چانه غواړی چه زما سر کښے بازاری ویښته اُولگوه. (۲۷) نَامِصَه : هغه ښځه چه د مخ وروځو ویښته اُوباسی.
(۲۸) اَلْمُتَنَمِّصَه : هغه ښځه چه بل چاته حکم کوی چه زما دمخ نه ویښته اُوباسه.
(۲۹) اَلْمُتَفَلِّجَاتِ : هغه زنانه چه خپل غاښونه تراشی دپاره ددے چه کولاؤ شی، او ډولی شی. (۳۰) هغه سړے چه د زنانو لباس اچوی.
(۳۱) هغه زنانه چه د سړو لباس اچوی. (۳۲) هغه زنانه چه ځان نه سړے جوړوی.
(۳۳) لَعَنَ اللّٰهُ السَّارِقَ یَسْرِقُ الْبَیْضَةَ). (البخاری : ٦۷۸۳ ومسلم: ٤۵۰۳).
غل سړے یا غله ښځه که لږ ځیز غلا کوی که ډیر سبب د لعنت دے.
(۳٤) لَعَنَ اللّٰهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهٗ (ابو داود : ۲۰۷۸، ابن ماجه: ۱۹۳٤، جامع الصغیر ۹۰۷/۲) محلل : هغه سړے چه په درے طلاقو سره طلاقه شوے ښځه بیرته داول خاوند دپاره د یو شپے د نکاح په وجه حلالوی. (۳۵) مُحَلل لَه : هغه خاوند چه ښځه

په درېے طلاقو سره طلاقه کړي او بيا خفه وي نو بل سړي ته ښځه ديوے شپے دپاره په نکاح کړي۔(۳٦) اَلْمُخْتَفِیْ : هغه سړے چه دمړو نه کفنونه پټوي۔
(۳۷)- مُخْتَفِيَه : مړو نه کفن پټونکے ښځه۔ (۳۸) لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ (البخاری : ٤٣٥، ٤٣٦، و ١٣٩٠، مسلم : ١٢١٤، وتحذير الساجد ص:١٧)۔
قبرخوا کښے مسجدونه جوړونکے او قبر دمسجد په حصه کښے داخلونکے۔
(۳۹) حيله کول په حکمونو د الله تعالىٰ کښے لکه بعضے خلق د زکوٰة د اسقاط دپاره حيله جوړوي۔ (٤٠) حرام خور۔
(٤١) هغه زنانه چه مقبرے ته ډيره ځي۔ زنانو دپاره مقبرے ته تلل جواز لري په شروطو باندے، يو دا چه ډيره به نه ځي، شرك به نکوي، خاص بابا له به نۀ ځي، ډول سنګار به نۀ ښکاره کوي، جزع فزع به نکوي، په دے باره کښے پنځه احاديث صحيحه دي کما فی احکام الجنائز للشيخ الالبانیؒ۔(٤٢) مخ باندے داغ لګونکے۔رواه مسلم۔
(٤٣) صحابه کرامو باندے لعنت ويونکے۔ کما فی صحيح الجامع الصغير: (٢/٩٠٩) والطبرانی۔ (٤٤) لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ لَعَنَ وَالِدَيْهِ)۔(مور پلار ته کنځل کونکے، بدرد ويونکے)۔(٤٥) لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللّٰهِ) ۔ الله نه سيوا د بل دپاره ذبح کونکے۔ [مسلم : ٥٢٣٩]
(٤٦) لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ آوٰى مُحْدِثًا)۔ مجرم او بدعتی ته پناهی ورکول۔
(٤٧) لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ غَيَّرَ مَنَارَ الْأَرْضِ۔ يعنی پردئ زمکے وهل اوخپل حق کښے داخلول۔رواه مسلم :٥٢٣٩، وصحيح الجامع ٩٠٩)۔
(٥٠) حيوان مُثله کول، غوږونه خپے ورله پريکړي، شکل ورله خراب کړي (بخاری)۔
عَنْ مُعَاذٍ مَرْفُوْعًا : اِتَّقُوا الْمَلَاعِنَ الثَّلٰثَةَ : اَلْبَرَازَ فِي الْمَوَارِدِ، وَقَارِعَةَ الطَّرِيْقِ، وَالظِّلَّ. رواه ابو داود، رقم : ٢٦، ابن ماجه : ٣٢٨، صحيح الجامع (١/٨٢).
(٥١) يعنی په ګودرونو يا په عامو لارو کښے يا په هغه سورو کښے چه خلق ورته کينی متيازے کول سبب دلعنت دے۔(٥٢) په ولاړو اُوبو کښے متيازے کول۔ کما فی صحيح الجامع (٢/١٠٢٤) ۔ (٥٣) ښځے سره په دبر کښے جماع کول .(مَلْعُوْنٌ مَنْ أَتَى امْرَأَةً فِيْ دُبُرِهَا (رواه احمد : ١٠٢٠٩، و ٩٧٣١ ابوداود : ٢١٦٢) وفی المشکاة (٢/٢٧٦) صحيح الجامع (٢/١٠٢٤٢) ابن القيمؒ ددے عمل (٢١) نقصانات ذکر کړيدي۔

(٥٤) کتمان الحق (حق پټول) کما فی البقرة : ٥٥) ﴿ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَكۡتُمُوۡنَ مَآ اَنۡزَلۡنَا مِنَ الۡبَيِّنٰتِ وَالۡهُدٰى مِنۡۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنّٰهُ لِلنَّاسِ فِى الۡكِتٰبِ اُولٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ اللّٰهُ وَيَلۡعَنُهُمُ اللّٰعِنُوۡنَ ﴾۔
ددے ټولو کارونو نه هر مسلمان له ځان ساتل ډیر ضروری دی چه د الله تعالیٰ د رحمة نه وړاندے نشی۔ وبالله التوفیق۔
عَلَى الۡكٰفِرِيۡنَ : دلته عَلَيۡهِمۡ پکار وو، لیکن د ضمیر په ځائے ئے اسم ظاهر راوړو ؟ حکمة دا دے چه دا معلومه شی چه دوی باندے دا لعنت د کفر د وجه نه راغلے دے۔

مسئله - توسل بالذات بدعت دے :

د یستفتحون نه بعض بدعتیانو غلطه فائده اخستے ده، چه توسل بالذوات الفاضله ثابتولو کوشش ئے کړیدے او دا ئے وئیلی دی چه الله تعالیٰ ته انبیاء علیهم السلام او نیکان او بزرګان خلق په دعاګانو کښے پیش کول جائز دی چه اے الله ! ما له دا دعا قبوله کړه په وسیله د فلانی شخص، وائی پدے آیت کښې راغلے ده ځکه چه په بعض روایاتو کښې داسے دی چه دویٔ باندے به چه کله د عرب مشرکانو سره جنګ سخت شو نو تورات به ئے بهر راُویستلو او لاس به ئے په هغه ځائے باندے کیخودلو چه کوم ځائے به د نبی ﷺ نوم وو او دوی به وئیل : (اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسۡأَلُكَ بِحَقِّ نَبِيِّكَ الَّذِىۡ وَعَدۡتَّنَا اَنۡ تَبۡعَثَهٗ فِىۡ آخِرِ الزَّمَانِ الخ) روح المعانی و القرطبی)
او مخکښې روایت مونږ ذکر کړو : هغے کښې (بِالنَّبِيِّ) لفظ دے نو وائی چه د دے دواړو الفاظو نه توسل په ذات د نبی ﷺ باندے ثابت شو؟۔

جواب : په نیکانو خلقو باندے د توسل دوه صورتونه دی :
(۱) یو دا چه یو نیك انسان یو مجلس ته راوستے شی چه کیدے شی الله تعالیٰ ددهٔ د برکت او تقویٰ په وجه په نورو رحم اُوکړی نو دا خیر دے۔ ځکه د متقیانو مجلس کښې خیر وی، او د نیك مجالسو برکت وی۔
(۲) دویم په دعاء کښې نیکان پیش کول چه اے الله ! زه تا نه دعا غواړم په وسیله د فلانی۔ نو دا قسم دعاء نهٔ په قرآن کښې شته او نهٔ په احادیثو کښې او نهٔ اقوال د صحابه کرامو کښې بلکه دا د مبتدعینو خود ساخته بدعت دے۔ د هیڅ یو نبی په دعاء کښې به تاسو دا چرته قرآن کریم کښې نهٔ وی لیدلی۔ او کوم احادیثو کښې چه داسے دعاء راغلے

وی هغه ضعیف دی یا غیر صریح دی۔ او صحیح روایت پکښې د سیدنا عمر فاروق ﷺ دے چه هغه به سیدنا عباس ﷺ راوستو او استسقاء کښې به ئې پرے دعاء کوله او داسے به وئے وئیل :

[اَللّٰهُمَّ اِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِيْنَا وَاِنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا]

[بخاری : ۱۰۱۰]۔

(اے الله مونږ به تا ته ستا د نبی دعا وسیله کوله تا به باران کولو نو اُوس د هغه ترۀ تاته وسیله کوو نو په مونږ باران اُوکړه) لیکن هغے کښې توسل په ذات باندے نشته، بلکه د هغه په دعاء باندے وسیله ده یعنی اے الله ! مخکښې به مونږ د نبی ﷺ دعاء تا ته وسیله کوله او تا به باران کولو او اُوس د نبی ﷺ د ترۀ دعاء ده، نو دا توسل دے په دعاء د ژوندی سړی او دا خو بالکل جائز دے۔ بلکه دا رد دے په توسل بالذات باندے ځکه که وسیله په یو ذات باندے جائز وے نو بیا ئے د نبی ﷺ ذات ولے نۀ وسیله کولو چه هغه د عباس ﷺ نه ډیر غوره دے، نو د عباس رضی الله عنه د راوستو مقصد بیا څه وو۔

دارنګه کله استدلال کوی په حدیث د ضریر البصر باندے چه نبی ﷺ ته ئې وئیلی وو : ما له دعا اُوغواړه نو نبی ﷺ اُویه راطلب کړے او اودس نه بعد ئې دعا اُوکړه نو دے روند اُووئیل : (اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ ﷺ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ اَللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ) [الترمذی : ۳۵۷۸، ابن ماجه : ۱۳۸۵]

نو دا حدیث صحیح دے لیکن پدے کښې وسیله ده په دعاء د ژوندی انسان چه زۀ تا ته اُووایم چه ما له دعا اُوغواړه او بیا الله تعالیٰ ته اُووایم چه اے الله ! دا فلانے چه ما له کومه دعا غواړی ته ئې زما په باره کښې قبوله کړے۔ نو دا بالکل جائز عمل دے او پدے کښې توسل بالذات نشته۔ بلکه مسلمان دپاره دعا غوختل دی۔

او هرچه ددے آیت نه دلیل نیول دی نو د هغے نه جواب دا دے چه دلته مفسرینو کښې (بِحَقِّ النَّبِيِّ) لفظ هیچا نۀ دے وئیلے سوا د سُدّی نه او سدی کذاب او ضعیف راوی دے۔

عام مفسرین داسے الفاظ وائی : لکه د ابن عباس ﷺ نه ابن کثیرؒ روایت نقل کړیدے (يَسْتَفْتِحُوْنَ بِخُرُوْجِ النَّبِيِّ) او (بِمَجِيْءِ النَّبِيِّ) (یعنی د نبی ﷺ په راوتلو او راتلو باندے به ئې د الله تعالیٰ نه مدد طلب کولو) لکه د هغه روایاتو تفصیلی بیان مخکښې اُوشو۔ نو دا توسل دے په بعثت او راتللو او د هغه په تابعداری کولو۔

(۲) دویم جواب دا دے چه دا عمل د یهودیانو دے او الله تعالیٰ خودا په طریقه د مدح سره نهٔ دے ذکر کړے بلکه صرف خبر ورکول دی چه دوی به داسے کول۔
(۳) دارنګه دا تفسیر متعین هم نهٔ دے بلکه مفسرینو د استفتاح نورے معانی هم ذکر کړیدی کما مرّ۔
(٤) دارنګه که بالفرض دا توسل بالذات شی نو دا دعا قبوله شوے هم نهٔ ده۔
او فقهاء احنافو هم ددے دعاء تردید کړیدے او دیته ئے مکروه وئیلی دی۔
هدایه کتاب الکراهیة (٤٧٤/٤) کښ دی :
(یُکْرَهُ أَنْ یَّقُوْلَ الرَّجُلُ أَسْئَلُكَ بِحَقِّ فُلَانٍ لِأَنَّهٗ لَاحَقَّ لِلْمَخْلُوْقِ عَلَی الْخَالِقِ)
(دا مکروه ده چه سړے اُووائی : اے الله زهٔ تا نه د فلانی په حق سره سوال کوم ځکه چه د مخلوق هیڅ حق په خالق نشته)۔ نور تفصیل د توسل په سورة المائده کښ راځی ان شاء الله تعالیٰ او الدین الخالص او حقیقة التوسل لابن تیمیهؒ او البانیؒ اُوګوره۔

بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ اَنْ یَّکْفُرُوْا بِمَآ
بد دے هغه شے چه دوئ خرڅ کړل په هغے سره ځانونه خپل چه کفر کوی دوی په هغه کتاب
اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْیًا اَنْ یُّنَزِّلَ اللّٰهُ
چه نازل کړیدے الله تعالیٰ د وجه د کینی (او د حسد) نه (پدے خبره) چه نازلوی الله تعالیٰ
مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰی مَنْ یَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ فَبَآءُوْ
د مهربانئ خپلے نه په هغه چا چه غواړی ئے د بندګانو خپلو نه، پس اخته شول دوئ
بِغَضَبٍ عَلٰی غَضَبٍ وَلِلْکٰفِرِیْنَ عَذَابٌ مُّهِیْنٌ ﴿۹۰﴾
په غضب دپاسه د بل غضب نه او خاص کافرانو لره عذاب ذلیله کونکے دے۔

تفسیر : په دے آیت کښے زجر او تخویف اُخروی دے دوئ ته په ضد او حسد د دوئ او

دا تتمه ده د مخکنو خطاباتو۔

ربط : دا د مخکښې دپاره په طریقه د علت دې، او هغه داسې چه دوی دا کفر پس د معرفت نه ولې کوی ؟ نو ددې وجه دا ده چه دوی یو دکان جوړ کړیدې او په دې کښې ئې حسد او عناد او بغاوت ایخوستې دې او ځان ئې پرې خرخ کړیدې نو چه چرته حق راتلو او الله تعالىٰ په چا باندې انعام کولو او پوهه د دین ئې ورکوله او نبی ئې جوړولو نو دوی به حسد اوضد لاس کښې راخلې او د هغې مقابله به پرې کوی۔ چه ولې الله تعالىٰ په مونږ تول فضل نهٔ کوی او بل له ئې ورکوی نو دا د الله تعالىٰ سره ضد کوی۔

بِئْسَمَا اشْتَرَوْا : اشتراء په معنىٰ د بیع (خرخولو) سره دې۔ د خرخولو معنىٰ دا ده چه کوم ځائې کښې کفروی بس هغه قبلوی او اخلی ئې لکه یو سړې په یو شی باندې ځان ورخرخ کړی بس د هغې نه تاویږی راتاویږی، هغه ورته مرغوب او محبوب وی نو دوی ته هم دا کفر بما انزل الله محبوب ګرځیدلې دې، نو چه چرته کفر وی نو د دوی به ورسره کاروی۔

مَا : موصوله ده، مبهم دې او (اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَا اَنْزَلَ اللهُ) د هغې مخصوص بالذم دې۔ او بیان د ما دې۔ یعنی بد دې هغه شې چه دوی پرې ځان خرخ کړیدې او هغه شې دا دې چه الله تعالىٰ د بره نه کوم کتاب رالیږلې دې بس دوی په دې ځان خرخ کړیدې چه دا به نهٔ منو او کوم ځائې کښې چه حق وی د هغې منلو ته تیار نهٔ یو۔ یعنی کفر بما انزل الله باندې ئې ځانونه خرخ کړیدی۔

دا ولې ؟ ځکه ضد او حسد کوی۔ حسد ولې کوی ؟ ځکه چه پدې قهر ورغلې دې چه الله ولې دا خپل فضل چه قرآن دې او وحی ده په بعض بندګانو کوی او په ما باندې ئې نهٔ کوی نو دوی د هغه سره کینه او بُغض ساتی، او د هغه حق نهٔ منی، او دا ډیر لوئې حسد دې۔ یهود په کینه کښې راغلل چه دا وحی ولې په دې عربو کښې راغله او زمونږ نه نقل شوه۔ دغه شان خبره حیی بن اخطب (د یهودیانو مشر) هم کړې وه چه ښه راته پته ده چه دا حق رسول دې۔ خو نهٔ ئې منم۔ او ډیر اهل باطل هم دغه شان دی چه وائی ښه راته معلومه ده چه فلانی عالم سره حق دې خو مونږه ئې اُوس نشو منلې او آخرت کښې به ورسره بیا راکاږو۔ والله المستعان۔

بَغْيًا : بغی اصل کښې طلب ته وئیلې شی او بیا په معنىٰ د ظلم استعمالیږی ځکه په

ظلم کښې طلب د زیاتی وی۔ دلته ترې علو طلبی، او حسد او ضد مراد دے او دا علت دے د کفر دپاره یعنی دا کفر په ما انزل الله ولے کوی؟ ځکه چه ضد او حسد کوی ددے سره چه الله تعالیٰ خپل فضل ولے په بعض بندګانو کوی یعنی دے رسول ته ئے ولے نبوت ورکړو او دا په مونږ کښې ولے رانغلو۔ او دا بغی او حسد ددے امت خلقو ته خاصکر علماؤ ته رانقل شویدے۔ (لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ)

فائده : حسد ته ئے ظلم اُووئیلو ځکه چه ظلم هغه معاملے ته وئیلے شی چه په ناحقه وی او حسد تمنی کول دی د زوال د نعمت د محسود نه او پدے کښې د حاسد حق نشته ځکه چه د هغه نعمت په زائله کیدو کښې دهٔ ته څه فائده نهٔ حاصلیږی او نهٔ د هغے په بقاء کښې څه ضرر۔ دے باره کښې متنبی څهٔ ښه خبره کړیده :

لِمَنْ بَاتَ فِيْ نَعْمَائِهٖ يَتَقَلَّبُ	وَأَظْلَمُ خَلْقِ اللّٰهِ مَنْ بَاتَ حَاسِدًا ❁

(د الله تعالیٰ په مخلوق کښې غټ ظالم هغه څوك دے چه د هغه چا سره حسد کوی چه د هغهٔ په نعمتونو کښې اَوړی راوړی) نو یهود د (ما انزل الله) سره حسد کوی۔ او پدے حسد کوی چه زمونږ نه نبوت ولے عربو ته نقل شو۔

نو په دے کار باندے په دوی څه اُوشو ؟ الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ فَبَاءُوْا ﴾: په معنی د (رَجَعُوْا) دے (یعنی واپس شو) او پدے کښې تشبیه تمثیلی ده، د دوی حال ئے مشابه کړیدے د هغه تاجر سره چه خپله مبیعه (سودا) ئے د تجارت دپاره بهر اُوخکلے وی نو خساره ورته اُورسیږی او خپل کور ته تاوانی راواپس شی۔

بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ : یعنی الله تعالیٰ پرے بار بار غضبونه اُوکړل۔ ظاهر دا ده چه ددے نه مراد سخت غضب دے لکه د نور علی نور (النور : ۳۵) په شان۔ او ددے نور مصداقات دا دی :

د غضب علی غضب مصداق

بیا ددے دواړو غضبونو مصداق څه دے ؟

(۱) نو اول غضب په سبب د حسد دوی دے۔ او دویم غضب په سبب د کفر د دوی دے۔

(۲) اول غضب پدے وجه وو چه کفرئے په عیسی علیه السلام اُوکړو او دویم غضب پدے چه کفرئے په محمد ﷺ اُوکړو۔ (عکرمة)

(۳) اول غضب په دے وجه چه عبادت د سخی ئے کړے وو او دویم غضب پدے وجه چه د خالی په ورځ ئے د ماهیانو ښکار حلال ګنړلے وو۔ (بحر العلوم) (القرطبی)۔

(٤) – د ابن عباس ﷺ نه نقل دی چه اول غضب په سبب د تبدیل او تضیع (ضائع کولو) د تورات دے او دویم غضب په سبب د کفر دے په محمد ﷺ باندے۔ (البغوی)

(٥) – قتادة وائی : اول غضب په کفر کولو په عیسیٰ او انجیل دے او دویم غضب په سبب د کفر په محمد ﷺ او قرآن دے۔ (بغوی)

(٦) – بعض وائی : په دوه معصیتونو دوه غضبونه نهٔ دی مراد، بلکه تاکید او په دوی باندے شدتِ حال راتلل غرض دے۔ ځکه چه دوی همیشه د رسولانو تکذیب کړیدے نو همیشه پرے غضب راغلے دے۔ وهو الظاهر۔

﴿ وَلِلْكَافِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴾ دوی ځان عزت مند ګنړی او نبوت ځان پورے خاص کوی خو الله تعالیٰ به ئے ذلیله کړی په دے عذاب باندے۔ مهین : معنی ده : ذلیله کونکے، سپکونکے عذاب۔ او دا د کافرانو عذاب وی۔ او پدے یهودو کښ چونکه استکبارو ځکه ئے دغه جرائم کول نو ځکه ورته سپك کونکے عذاب ورکوی۔

فائده : عذاب مهین د کفارو او عذاب تادیبی د مؤمنانو وی۔

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ
او کله چه اووئیلے شی دوی ته ایمان راوړئ په هغه کتاب چه نازل کړیدے الله،
قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا
وائی دوی : ایمان لرو مونږ په هغه کتاب چه نازل شوے دے په مونږ باندے
وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ وَهُوَ الْحَقُّ
او دوئ کفر کوی په هغه څه چه ماسویٰ دی ددهٔ نه او حال دا چه هغه حق دے،
مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ
تصدیق کونکے دے د هغه کتابونو چه د دوی سره دی، تهٔ ورته اُووایه : نو تاسو ولے وژل

اَنۡبِيَآءَ اللّٰهِ مِنۡ قَبۡلُ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۹۱﴾

انبياء د الله تعالىٰ مخکښې ددے نه که چرته تاسو ايمان لرونکی يئ۔ (په خپل تورات)

تفسير : په دے آيت کښې دويم زجر دے په طريقه د مناظره سره او د دوی حسد پکښې ذکر دے، يعنی کله چه د مدينے يهوديانو ته اُوويلے شی چه الله تعالىٰ په محمد ﷺ باندے کوم کتاب نازل کړيدے، پدے باندے ايمان راوړئ نو دوی وائی چه مونږ خو صرف په تورات ايمان راوړو يعنی د قرآن کريم نه انکار کوی، کوم چه د تورات تصديق کوی۔او حق کتاب دے۔

دے نه بعد الله تعالی د هغوی په قول او عمل کښې تضاد او تباين بيان کړو چه که تاسو او ستاسو آباء واجداد په خپله دعوىٰ کښې رشتينی يئ چه تاسو په تورات ايمان راوړيدے نو بيا تاسو انبياء عليهم السلام ولے قتل کول کوم انبياء چه د تورات د احکامو د نافذ کولو دپاره راليږلے شوی وو؟ او د تورات تصديق ئے کولو؟

حقيقت دا دے چه تاسو د خپل نفس غلامان يئ او صرف خواهش پرست يئ۔ او په تورات باندے د ايمان دعوىٰ مو غلطه ده۔

مناسبة :(۱) دا بيان د حسد اليهود دے،

(۲) مخکښې قانون چه بِئۡسَمَا اشۡتَرَوۡا دے او دلته بيان المثال دے يعنی د دغه قانون يوه جزئيه ده۔

﴿ قَالُوۡا نُؤۡمِنُ بِمَا اُنۡزِلَ عَلَيۡنَا﴾ صرف مونږ خپل کتاب منو نور کتابونه نشو منلے، او دا صفت بعينهٖ ددے امت په مقلدينو کښې پروت دے چه دوی ته کله اُوويلے شی چه راځئ امام شافعیؒ، مالكؒ، احمدؒ، ابوحنيفۃؒ ددے ټولو احاديث به منو، دا ټول زمونږ د دين حديث دی که بخاری کښې دی او که مسلم کښې او که نورو کتابونو کښې، دا ټول منل پکار دی، کوم چه صحيح ثابت وی نو هغوی وائی مونږ به د خپل مذهب والا احاديث منو او چه کوم د امام شافعیؒ، مالكؒ، او احمدؒ احاديث دی د هغے به تاويل کوو يا به ئے منسوخ کوو يا به ئے په هغه زمانه پورے خاص کوو۔ ۔

نو په څلورو مذاهبو کښې صرف هغه احاديث منی چه صرف امام صاحب راوړی وی، هغه نورو روايتونو منلو ته تيار نهٔ دی، او دے خبره باندے هر سړی له يواځے سوچ پکار

دے چه آیا دوی ګنے دا کار نهٔ کوی؟۔ احادیث الخصوم راوړی او بیا د هغے نه جوابونه کوی۔

نُؤْمِنُ بِمَا : دا قول دوی په طریقه د عذر او ځان قلارولو سره وئیلو ځکه چه هرکله دوی ته د ایمان په ما انزل الله دعوت ورکړے شو نو دوی ته پته اُولګیده که مونږ خالصه امتناع اُوکړو (ځان منع کړو) نو دا خو په مونږ باندے یو پیغور او قباحت دے نو دوی د خپل ځان د عذر او د خپل ځان د رضا کولو دپاره داسے اُووئیل: (نُؤْمِنُ بِمَا اُنْزِلَ عَلَيْنَا) یعنی په ما انزل الله باندے مونږ هم ایمان راوړیدے او هغه مونږ ته حاصل شویدے کله چه مونږ په خپلو کتابونو ایمان راوړو، لهذا په ما انزل باندے ایمان مونږ ندے پریخے۔ ددے وجه نه ئے حکایت په لفظ د مضارع سره اُوکړو اشاره ده چه دوی وائی مونږ په ایمان بِمَا اُنْزِلَ عَلَيْنَا باندے همیشه یو، او پدے کښ تعریض دے چه دوی نور کتابونو منلو ته تیار نهٔ دی۔ بس دغه زمونږ د نجات دپاره کافی دے۔

وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَاءَهٗ : وَرَاءَ د اضدادو نه دے کله په معنیٰ د روستو سره وی او کله په معنیٰ د مخکښ سره وی لکه سورة الکهف (۷۹) او سورة الدهر (۲۷) کښ دا معانی ذکر دی۔ او فراء بغوی ددے تفسیر په سِویٰ سره ذکر کړیدے۔ او دا په سورة المؤمنون (۷) او سورة المعارج (۳۱) کښ استعمال دے۔

فائده : حافظ ابن القیمؒ په بدائع التفسیر کښ لیکلی دی چه دا آیت دلیل دے چه څوك په یو حق باندے ایمان راوړی او په بل حق باندے د تعصب د وجے ایمان نهٔ لری نو دا کافر دے۔ او معلومه شوه چه په دے زمانه کښ ډیر خلق داسے دی چه دعویٰ د ایمان کوی او حال دا چه د ایمان نه بری دی۔ ولا حول ولا قوة الا بالله۔

وَهُوَ الْحَقُّ : دا دفع د وهم ده چه دوی په ماوراء (ما سِوا) کتابونو باندے پدے وجه کفر کوی چه هغه به باطل وی ؟ نو جواب اُوشو چه هغه هم حق دی، خو دوی ئے نهٔ منی۔

﴿ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَهُمْ ﴾ بیا ورسره تصدیق هم د دوی د کتابونو کوی لکه قرآن کریم تصدیق د تورات او انجیل کوی، نو هرکله چه دوی د قرآن تکذیب اُوکړو نو داسے شوه لکه چه د خپل کتاب تکذیب ئے اُوکړو۔

قُلْ : پدے کښ اُوس الزامی رد کوی په هغوی باندے او د هغوی نه په طریقه د مناظره تپوس کوی : هغه داسے چه ښه زهٔ تا نه تپوس کوم چه ته وائی زه خپل کتاب منم، د

خپل مذهب تابعداریم نو په خپل مذهب کښې ډېر راګیروم آیا تورات کښې دا شته چه پیغمبران قتل کړئ، تاسو پیغمبران ولې وژنئ؟ دارنګه مقلدینو ته وایو چه تاسو د امام ابوحنیفهؒ مذهب هم نهٔ منئ ځکه چه آیا هغه دا نهٔ دی وئیلی :

[اِذَا صَحَّ الْحَدِيْثُ فَهُوَ مَذْهَبِىْ]

[رد المحتار ۱/ ۶۳) رسم المفتی (۲/ ٤) فتاوی دیوبند) (۱/ ٦٥) ایقاظ همم اولی الابصارص (٦٢)]

(کله چه حدیث صحیح ثابت شی نو دا به زما مذهب وی) نو په هر صحیح حدیث باندې عمل کوه، دا د امام ابوحنیفهؒ مذهب دې نو بل پکښې څه راوباسې؟۔ نو دا خلق د خپل خواهش تابع دی۔

فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ : دا جزاء ده او روستو ان کنتم ئې شرط دې۔

﴿ اِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ ﴾ (اَیْ اِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ بِكِتَابِكُمْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ)

(که تاسو ایمان لرئ په خپل کتاب نو بیا تاسو رسولان ولې وژلی دی)، که تاسو دا دعوه کوئ چه مونږ خپل کتاب منو نو دا انبیاء مو بیا ولې وژل؟ دروغ وایئ، نهٔ خپل کتاب منئ او نهٔ د بل کتاب منئ او دا د عنادګرو کار دې چه نهٔ پوره خپله منی او نهٔ د بل، خپل مذهب ئې هم صحیح نهٔ وی رانیولې، بلکه هغې کښې د خپل خواهش خبرو باندې عمل کوی۔

بیا خطاب اګرکه د مدینې حاضرین یهودیانو سره وو لیکن مراد د دوی نه د دوی اسلاف او مشران دی، یعنی ستاسو مشرانو ولې انبیاء علیهم السلام وژلی دی؟ - لیکن هرکله چه دوی د خپلو اسلافو پدې کار راضی وو نو د هغوی په شان شو۔ او دوی ته نسبت ددې قتلولو اُوشو، ځکه دوی هم د مشرانو په طریقه روان وو په تکذیب د رسولانو او په دشمنئ د هغوی کښې۔ دارنګه دې حاضرینو هم د رسول الله ﷺ د قتل ارادې کړې وې۔ پدې وجه ئې (تَقْتُلُوْنَ) صیغه د مضارع راوړه۔

نو د آیت نه معلومه شوه چه یهود نهٔ په تورات ایمان لری او نهٔ په قرآن کریم باندې او د دوی په خپل کتاب باندې دعویٰ د ایمان بالکل بې بنیاده ده۔

د یهودو د ایمان د دعوے نور تردید

وَلَقَدْ جَآءَ كُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ
او یقیناً راغلے وو تاسو ته موسیٰ (علیه السلام) په ښکاره دلیلونو (او احکامو) بیا
اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهٖ
اُونیولو تاسو سخے (په معبود جوړلو سره) پس (د تگ) د موسیٰ (علیه السلام) نه (کوهِ طور
وَاَنْتُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۹۲﴾
ته) او تاسو ظلم کونکی وئ (په شرك کولو سره)۔

تفسیر : دے آیت کښې اُووم خطاب دے او د هغے تتمه ئے ذکر کړیده په مباهله سره په آیت (۹٦) کښې ۔ او په دے آیت کښې مخکښې مضامین بیرته واپس کوی د نورو مقاصدو دپاره، مخکښې دا مضمون الله تعالیٰ بیان کړے وو د نعمت دپاره چه گوره تاسو سخے په خدائیتوب نیولے وو، الله تعالیٰ درله توبه قبوله کړه نو شکر اُوباسئ، او دلته ئے د خباثت دپاره ذکر کوی چه گوره تاسو د سخی عبادت کړے، تاسو څنگه د الله تعالیٰ دوستان کیدے شئ، تاسو هغه خلق یئ چه الله تعالیٰ درته وئیلی وو، تورات باندے عمل اُوکړئ او تاسو وئیلي وو : نهٔ ئے منو۔ د (لَانُسَلِّمُ) په غُنډئ ولاړ یئ او وایئ چه مونږ ښه خلق یو، عجیبه ده !!۔ او پدے کښې ترقی ده په نسبت د ماقبل۔

یعنی د هغوی د ایمان د دعوے نور تردید کوی پدے طریقه چه دوی ته د ابتدائی تاریخ واقعه د عبادت د سخی یادوی او د هغوی قباحت ذکر کوی چه تاسو خو د خپل ایمان او دینداری دعوے کوئ چه نهٔ د قرآن کریم منلو ته تیاریئ او نهٔ د نبی آخر الزمان منلو ته، حالانکه ستاسو موجوده وخت پریدئ، ابتدائی تاریخ ته نظر واچوئ چه تاسو د موسی علیه السلام په موجودگئ کښې د هغه واضحه معجزات لیدلی وو او بیا هم تاسو د عظیم ذات عبادت پریخودے وو او د یو مخلوق سخی عبادت مو شروع کړے وو۔ دا ستاسو عقلونه دی۔ ؟!۔

نو اُوس دوی الله تعالیٰ راګیر کړیدی او الله رب العالمین چه د چا په مقابله کښ راشی نو هیڅوك ئے ترے نشی خلاصولے، دوی داسے عظیم سیلاب راختستی دی چه هغه د قرآن سیلاب دے ۔ ددے وجه نه په یهودو باندے سورة البقره ډیره بده لګی۔ که په دے سورت انسان سم پو هه شی نو دے کښ د یهودیانو تول مرضونه ئے راښکاره کړیدی خو چه انسان دا آیتونه بار بار په تدبر سره لولی نو بیا په مقصد باندے ښه پو هیږی۔

ربط او مناسبة :

مخکښ آیت کښ الله تعالیٰ د یهودو په کذب بیانی باندے دلیل قائم کړو چه دروغ وائی او پدے آیت کښ دا بیانیږی چه الله تعالیٰ د هغوی نه په توحید باندے د مضبوط اُوسیدو او د شرك نه په جدا کیدو باندے وعده اخستے وه لیکن کله چه موسیٰ علیه السلام د خپل رب سره د مناجات (سرګوشئ) دپاره د طور غر ته لاړو نو دوی د سخی عبادت شروع کړو او توحید او هغه لوظ ئے هیر کړو۔

(بِالْبَيِّنَاتِ) ددے نه مراد (۱) هغه نهه معجزات وو کوم چه په سورة الاسراء (۱۰۱) کښ ذکر دی (وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ) او د هغے تفصیل په سورة الاعراف (۱۳۳) کښ ذکر دے (فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ الخ) او دا هغه نخے او دلائل وو چه موسی علیه السلام دوی ته د خپل نبی او رسول کیدو د ثبوت په طور پیش کړے وو لکه طوفان، ملخان، سپږے، چندخان، وینه، امسا، یَد بیضاء (سپین لاس) په سمندر کښ لاره، د کانړی نه د چینو روانیدل او من او سلویٰ وغیره۔ دا ښه ښکاره دلائل ئے ورته پیش کړی وو۔

(۲) یا ددے نه مراد تورات دے۔ ظاهر دا ده چه دغه دلائل عقلیه او معجزات او بیانات د موسیٰ علیه السلام مراد دی۔ او تورات خو روستو نازل شوے وو د سخی د عبادت نه، لیکن کوم کسان چه بعد النزول مشرکان وو نو بیا تورات هم بینات کښ داخل دے۔

﴿ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِهِ ﴾ یعنی ګوره چه سړی ته ښکاره دلائل هم بیان شی او بیا ئے هم نهٔ منی او د سخی عبادت کوی او پس د دلیل نه شرك کوی نو دا څومره لوئی جاهل دے؟۔ [اِتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ اَیْ اِلٰهًا] (سخے مو په اُلوهیت اُونیولو)

﴿ وَأَنْتُمْ ظَالِمُونَ ﴾۔ ظلم وضع د شی ده په غیر موضع خپل کښ او معنیٰ ئے ده حق تلفی نو شرك هم د الله تعالیٰ حق مخلوق ته ورکول دی۔او د الله تعالیٰ حق تلف کول

دی۔

تفسیر معالم التنزیل معنیٰ کوی :

[وَاَنۡتُمۡ ضَارُّوۡنَ لِاَنۡفُسِكُمۡ بِالۡمَعۡصِيَةِ وَاضِعُوۡنَ الۡعِبَادَةَ فِيۡ غَيۡرِ مَوۡضِعِهَا]

(یعنی تاسو ځانونو ته په ګناه باندے ضرر ورکړو، ایخودونکے وئ عبادت لره په غیر د خپل ځائے کښې) او بیا هم وایئ چه مونږ د الله تعالیٰ دوستان یو او مونږ پسے راځئ او هدایت لاره ز مونږ سره ده۔

فائده : د یهودو په داسے قسم فخر باندے بعض مخکنو انبیاء علیهم السلام هم دوی ته توبیخ او زورنه ورکړے وه او د سخی عبادت ته تعریض کولو سره ئے داسے فرمایلی وو : «اے اسرائیل (بنی اسرائیل) تهٔ خو هغه ئے چه تا په اوله شپه کښې بے وفائی کړیده»۔ او همدا مطلب بعینهٖ ددے (ثُمَّ اتَّخَذۡتُمُ الۡعِجۡلَ) هم دے اګرکه د قرآن کریم تعبیر کښې ډیر کمال دے۔

وَاِذۡ اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَكُمۡ وَرَفَعۡنَا فَوۡقَكُمُ
او کله چه واخسته مونږ مضبوط وعده ستاسو نه، او اُوچت کړو مونږ دپاسه ستاسو
الطُّوۡرَ خُذُوۡا مَآ اٰتَيۡنٰكُمۡ بِقُوَّةٍ
طور غرلره (اُووئیل مونږ) اُونیسئ هغه کتاب چه درکړیدے مونږ تاسو ته په طاقت
وَّاسۡمَعُوۡا قَالُوۡا سَمِعۡنَا وَعَصَيۡنَا
او واورئ (په قبلولو سره) دوئ اُووئیل: مونږه واوریدو او مونږه ئے نافرمانی کوو،
وَاُشۡرِبُوۡا فِيۡ قُلُوۡبِهِمُ الۡعِجۡلَ بِكُفۡرِهِمۡ قُلۡ
او څکولے شوے دے په زړونو د دوی کښې محبت د سخی په سبب د کفر د دوی، تهٔ اُووایه

بِئْسَمَا يَأْمُرُكُم بِهِ إِيمَانُكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۹۳﴾

بد دے هغه شے چه حکم درکوی تاسو ته په هغے سره ایمان ستاسو که یئ تاسو ایمان لرونکی۔

تفسیر : په دے آیت کښې د دوی بل عیب بیانوی په اعراض کولو سره د الله تعالیٰ د کتاب نه۔

عنوان الآية دے : (إِعْرَاضُهُمْ عَنْ كِتَابِ اللّٰهِ وَعَنِ الْعَمَلِ بِهٖ)

(دوی د الله تعالیٰ د کتاب نه هم اعراض کړیدے او په هغے باندے ئے عمل پریخودلے دے)

یعنی دا دومره عناد ګر او نفس پرست خلق دے چه الله تعالیٰ د دوی په زړونو کښې د هیبت پیدا کولو دپاره د طور غر د دوی په سرونو باندے راپورته کړو او دوی ته ئے اُوئیل چه تورات په مضبوطئ سره واخلئ او پدے کښې موجود اوامر او نواهی په غور سره واورئ او په هغے باندے عمل اُوکړئ نو هغوی اُوئیل چه مونږ ستاسو خبره واوریده لیکن زړه کښې ئے دا وه چه ستا د حکم منلو ته تیار نۀ یو۔ لکه ددے تفصیل په (۶۴،۶۳) آیت کښې تیر شو۔

فائده : داسے آیت مخکښې هم تیر شو لیکن هلته ددے مقصد دپاره وو چه د دوی نقض عهد ئے بیانولو او دلته ئے ددے دپاره بیانوی چه دا دومره ناکاره خلق دی چه دوی نقض عهد اُوکړو، (د الله تعالیٰ لوظونه ئے مات کړل) توحید ئے هم پریخودو او په شرك کښې مبتلا شو او د الله تعالیٰ د کتاب نه ئے هم ورسره اعراض اُوکړو۔

(۲) امام بیضاویؒ لیکی : دا قصه ئے دوباره مکرر کړه :

(لِلتَّنْبِيهِ عَلَى أَنَّ طَرِيقَتَهُمْ مَعَ مُحَمَّدٍ ﷺ طَرِيقَةُ أَسْلَافِهِمْ مَعَ مُوسٰى) (التنوير)

(پدے کښې تنبیه ده پدے خبره چه ددے موجوده یهودو طریقه د محمد ﷺ سره داسے ده لکه څنګه چه د دوی د مشرانو طریقه وه د موسی علیه السلام سره، چه د هغه نه او د هغه د کتاب نه ئے اعراض کړے وو)۔

او پدے کښې یو قسم الزامی رد دے پدے یهودو چه تاسو د خپل اسلافو په نقش قدم روان یئ څکه فرع د خپل اصل تابع وی او ولد سر ابیه وی۔ او دیته خطابی احتجاج وائی۔

او دارنګه پدے کښې تسلي شوه رسول الله ﷺ ته چه مهٔ خفه کیږه که دوی ستا تکذیب اُوکړي نو د دوی مشرانو د موسی علیه السلام تکذیب کړے وو سره د واضح دلائلو نه۔

﴿ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّوْرَ ﴾ دوی ته ئے اُووئیل چه په تورات باندے عمل اُوکړئ نو دوی اُووئیل : دا ډیر ګران احکام دی، دے ته مونږ تیار نهٔ یو نو الله تعالیٰ جبریل علیه السلام ته حکم اُوکړو چه دا غر پرے را اُوچت کړه چه دوی ئے مني او که نهٔ ؟۔

﴿ وَاسْمَعُوْا ﴾ یعني قبول ئے کړئ۔ **فائده** : واسمعوا ذکر کول روستو د (خُذُوْا) نه څه فائده ورکوی ؟ حال دا چه د دواړو معنے یو شان دی؟۔ نو وجه دا ده (۱) چه (وَاسْمَعُوْا) تاکید دے د خُذُوْا مَا آتَیْنَاکُمْ دپاره یعني نفس اخستل کافي نهٔ دی ترڅو پورے چه د هغے طاعت نهٔ وی شوے او په هغے کښې تدبر نهٔ وی شوے۔ نو دلته د سماع نه سماع د طاعة او وتدبر او سماع د قبولیة مراد ده۔ او پدے تاکید راوړو کښې اشاره ده دے ته چه دے خلقو باندے ګمان وو د اِهمال او اِخلال چه دوی به دا کتاب مهمل پریدی او پدے امر کښې به خلل پیدا کړي نو خبره ئے پرے مؤکد او مضبوطه کړه چه ضرور به دا قبلوئ۔

(۲) یا دا چه خُذُوْا مَا آتَیْنَاکُمْ نه مراد اهتمام کول دی د تورات او ابتدائی اهتمام د کلام دا وی چه هغے ته غوږ کیخودے شي۔ بناء پدے توجیه واسمعوا تاکید نهٔ دے بلکه مستقل فائدے والا کلام دے۔

فائده : د نبوت د دلائلو او د علمي معجزاتو نه دا ده چه قرآن کریم اشارات کوی هغه عباراتو ته چه په هغے باندے موسی علیه السلام بني اسرائیلو ته خطاب کړے وو او په تورات کښې لیکلے شویدی نو امر په سماع (اَوریدو) باندے د موسی علیه السلام په خطاباتو کښې بار بار راغلے دے «واوره اے اسرائیل» نو پدے وجه دلته (وَاسْمَعُوْا) لفظ راوړے شو چه مراد ترے نه امتثال او عمل کول دی په دغه امر باندے۔ او دا دے یهودو ته واضح وو د خپلو کتابونو نه، نو دوی پرے پوهیدل چه نفس سماع (آوریدل) نهٔ ده مراد بلکه صحیح قبلول مراد دی۔

﴿ قَالُوْا سَمِعْنَا وَعَصَیْنَا ﴾ دوی اُووئیل : بس قبول دے، بالکل لبیك۔

وَعَصَیْنَا : **سوال** : سَمِعْنَا وَعَصَیْنَا دواړه خو اجتماع د ضدینو ده ځکه چه د سمعنا معنیٰ دا ده چه مونږ خبره منو او د عصینا معنیٰ دا ده چه مونږ به مخالفت کوو او نهٔ ئے منو۔ نو هرکله چه دوی عَصَینا اُووئیله نو الله تعالیٰ پرے دغه غر ولے نهٔ راغورزولو ؟

ددے **جواب** (١) : د یهودو دوه ډلے وے، مشران او بل روستنی. نو مشرانو ئے سَمِعۡنَا اُووئیل نو په هغے سره طور د هغوی د سرونو نه لرے شو او کشرانو د طور د لرے کیدو نه روستو اُووئیل عَصَیۡنَا، مونږ منلو ته تیار نهٔ یو. دا گران احکام دی. دا وجه ده چه دلته ئے (قَالُوۡا) سره تعبیر کړیدے نهٔ په (قُلۡتُمۡ) سره.

٢- دویم جواب : په هغه زمانه کښ حاضرین دوه ډلے شول یو ے ډلے سمعنا اُووئیل او بلے ډلے عصینا لیکن په قبولیت د بعضو سره عذاب لرے شو د ټولو نه.

(٣) دریم **جواب** : په ژبه سره ټولو سَمِعۡنَا اُووئیل او عَصَیۡنَا ئے په زبانِ حال سره اُووئیل. یعنی دوی اگرکه په هغه زمانه کښ سَمِعۡنَا اُووئیل، لیکن د هغوی عمل دا شو چه څه ئے اَوریدلی وو نو د هغے نافرمانی ئے اُوکړه، نو د دغه صورتِ حال نه کوم چه د دوی د عمل نه ظاهر شوے وو الله تعالیٰ تعبیر په عَصَیۡنَا سره اُوکړو.

(٤) **جواب** : راجح جواب دا دے چه دا دواړه د بیلے بیلے زمانے الفاظ دی خو الله تعالیٰ د خلاصے په طور دواړه په یو ځائے جمع کړیدی. یعنی دوی خو په دغه زمانه کښ د یرے د وجه نه سَمِعۡنَا اُووئیل. لیکن روستو زمانه کښ ئے بیا دغه سَمِعۡنَا باندے عمل اُونکړو بلکه عَصَیۡنَا لفظ ئے اُووئیلو چه مونږ دے احکامو منلو ته تیار نهٔ یو. وجه د ترجیح دا ده چه د (٦٤) آیت نه معلومیږی چه دوی اول قبولیت کړے وو او (ثُمَّ تَوَلَّیۡتُمۡ) سره دا ذکر ده چه دوی روستو زمانه کښ تولی کړے وه. یعنی د یرے په وخت کښ ئے د قبولیت آوازونه شروع کړل او کله چه امن وامان راغلو او غر لرے شو نو دوی بیا نخرے شروع کړے او په موسیٰ ﷺ ئے قَنج کولو چه دا خو گران احکام دی. او دا د ناپوهه انسان کار وی چه کله پرے یره او تکلیف راشی نو بیا خبره منی او عاجزی او زاری کوی او چه کله د صحت حالت وی نو بیا ئے په الله تعالیٰ باندے هیڅ پرواه نهٔ وی، د هغه د حکمونو لحاظ نهٔ ساتی. نو په وخت د یره کښ د الله تعالیٰ حکمونه منل او کله چه راحت راشی نو بیا پریخودل، دا د یهودو طریقه ده، مؤمن سړے به راحت او مصیبت دواړو کښ د الله تعالیٰ تابعدار وی. اُوس ددے وجه بیانوی :

﴿ وَاُشۡرِبُوۡا فِیۡ قُلُوۡبِهِمُ الۡعِجۡلَ ﴾ یعنی د دوی په زړه کښ کفر پیدا شوے وو، زړونه ئے خراب شوی وو، ددے په وجه محبت د سخی پکښ ورننوتے وو. ځکه کله چه زړونه خراب شی نو بیا ئے د گنده څیزونو سره محبت پیدا شی نو په هغوی باندے د الله رب

العالمين حکمونو اثر نۀ کولو، کله چه د غیر الله محبت د چا زړه ته یو ځل ننوځی بس بیا پرې د حق خبرے اثر نکوی۔ هر قسم گنده کارونه به د هغه نه صادریږی، کفر، شرك عصیان د الله تعالیٰ او مخالفت د رسولانو۔ او پدے کښې انتهائی درجه مبالغه ده چه د دوی د کفر او عناد د وجه نه الله تعالیٰ د دوی په زړونو کښې محبت د سخی گوزار کړو۔او په کفرئے نور هم کلك کړل۔

(اُشرِبَ) دیته وائی چه سرے اُوبه او پئ گډوډ کړی چه بیا ئے جدائی نشی کیدے چه پئ کوم دی او اُوبه کوم دی ؟ ۔یعنی محبت د سخی ئے د زړونو مساماتو ته سم ننوتے دے، چه د هغے په محبت رنگ شویدی۔او بل رنگ نۀ قبلوی۔

فائده : د فصحاءِ عرب په نیز د اِشراب دوه معانی دی (١) اوله معنیٰ څکول، سیراب کول او مړول په اُوبو سره، دا بیا دوه قسمه دے ١- یو دا چه زمکه اُوبه کړے شی او مړه کړے شی چه د هغے نه بوټی پیدا شی نو دغه شان په مینه د سخی سره د دوی زړونه پوره اُوبه شوی او ماړه شویدی نو د هغے نه ډیر خباثات او قباحتونه پیدا شویدی۔

٢- دویم د نشائی څیزونو څکول دی لکه چه نشه کونکی شراب په چا باندے اُوڅکولے شی نو هوش او حواس ئے خراب شی او داسے بے عقله شی چه د حرام، حلال او د مور او خور تمییز نشی کولے نو دغه شان محبت د سخی د دوی په زړونو کښې دغسے ورننوتلے دے چه عقل او معرفت د حق د دوی نه بهر شویدے چه دوی د شرك او توحید فرق نشی کولے۔ (٢) دویم معنیٰ د اشراب : د یو رنگ سره بل رنگ پوره گډوډول لکه عرب وائی : (ثَوْبٌ مُشْرَبٌ بِحُمْرَةٍ) (جامه کښې سورنگ پوره گډوډ کړے شویدے) چه د جامے په ټولو مساماتو کښې دننه ننوتلے دے نو دغه شان محبت د سخی د دوی زړونو له داسے رنگ ورکړیدے چه بل رنگ نۀ قبلوی۔ (تفسير فتح العزيز واحسن الكلام)

اُشْرِبُوْا : ددے دپاره فاعل حقیقی الله تعالیٰ دے په نیز د اهل السنة والجماعة لیکن اسباب ئے ډیر دی لکه سامری، شیاطین الجن او شیاطین الانس۔ ددے و جه نه صیغه د مجهول مناسب وه۔

الْعِجْلَ : دا مفعول به دے د (اُشْرِبُوْا) دپاره لیکن څکول د سخی خو ممکن نۀ دی نو دلته مضاف حذف دے (اَیْ مَحَبَّةَ الْعِجْلِ) (گډوډ شویدے د دوی په زړونو کښې محبت د سخی)۔

تنبیه : بعض خلقو پدے مقام کښ د (اُشۡرِبُوۡا فِیۡ قُلُوۡبِهِمُ الۡعِجۡلَ) داسے معنیٰ کړیده چه کله موسیٰ علیه السلام د طور نه راغلو نو سخے ئے مات رامات کړو او د هغے ذرات ئے دریاب ته وارتـول نـو دوی ته اُووئیلے شو چه ددے نه اُوبه اُوڅکئ دے دپاره چه معلومه شی چه چا د سخـی عبادت کـړیدے او چا ندے کړے۔ نو د چا په زړه کښ چه د سخی محبت پروت وو او عبادت ئے کړے وو نو په هغوی باندے اثر اُوشو او په شونډو کښ آثار راښکاره شو۔ او چا چه د سخی عبادت نهٔ وو کړے نو په هغوی اثر اُونهٔ شو۔ دا تفسیر کول خطاء دی،

وجـه دا ده چـه د سـخی عابدان بیل معلوم خلق وو۔ موسیٰ علیه السلام په هغوی رد کړے وو لکه سورة الاعراف (۱۵۰) کښ راځی۔ نو د هغوی معلومولو ته حاجت نهٔ وو۔

دارنـګـه هـغـوی خـو تـوبه هم ویستلے وه او بعض پکښ ے تویے پاتے شول۔ بلکه دلته اشراب خلط او ګډون ته وئیلے شی۔

بلـه وجـه دا ده چـه دا د عـربـی مـحـاورے خـلاف ده، بیا بـه ئے دا لفظ نهٔ وئیلے چه (فی قلوبهم)۔

قُلۡ بِئۡسَمَا: د دوی د قـول په باطل والی باندے دا بل رد دے چه دوی وائی مونږ په خپل تـورات ایـمـان راوړو نـو آیا پـه تـورات کـښ عبادت د سـخی چرته شته ؟ نو که تاسو په تـورات ایـمـان لـرئ نـو ولے داسے بـد کـارونـه کوئ نو معلومه شوه چه تاسو کښ ایمان نشتـه۔ دا بـه څهٔ ایـمـان وی چـه انسان تـه پـه بـدو باندے حکم کوی۔ او دا څنګه ایمان بـالتورات دے چـه د الله تعالیٰ عبادت نهٔ بلکه د سخی عبادت او د الله تعالیٰ مینه نهٔ بلکه پـه هـغـه کفر کول او د الله تعالیٰ د امر تابعداری نهٔ بلکه د هغه عصیان کول او حال دا چه دعوه د منلو د تورات ده، عجبه خبره ده !!، یو انسان ځان ته مسلمان او مؤمن وائی او بیا کـارونـه د کـفـر کـوی، د کـفـارو مـلـګرتیا کوی، د لاډمیکالے نظام نافذ کوی۔ نو دا به څه ایمان وی ؟!۔

نـهٔ بـلـکه ایمان خو انسان نیك اعمالو ته راکاږی۔خو د دوی ایمان نشته بلکه مشرکان دی۔ نـو دے شرك نـورو بـدو اعـمـالـو تـه راخـکـل، انکار ته ئے راخکل۔ددے نبی صفاتو پټولـو او د حـق نه د خلقو اړولو ته ئے راخکل لکه د بعض خلقو په زړونو کښ د یو امام او یـو عالم محبت سم ورددننه شوے وی چه د الله تعالیٰ او د رسول خبرو ته بیا تیار نهٔ وی، د هـغـے مـاتـولـو تـه شپاړس کرت تیار دے لیکن د امام خبرے ماتولو ته تیار نهٔ دے، داهم

مـن وجـه د یهـودو سره مشابهت دے۔ د عالِم سره به مینه لرے خو د علم په درجه کښ، پیغمبر او اِلٰه به ترے نهٔ جوړوے۔

اِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ : (وَالْاِیْمَانُ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ) یـعـنـی که تاسو ځان ته مؤمنان وایئ نو ایـمـان خـو پـه بدو باندے حکم نهٔ کوی او تاسو ته ئے په بدئ حکم کړیدے نو دا دلیل دے چه تاسو کښ ایمان نشته بلکه هسے د دروغو دعوه د ایمان ده۔

قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ خَالِصَةً
ورته اُووایه که چرته وی ستاسو دپاره کور روستنے په نزد د الله باندے یواځے
مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٩٤﴾
سوئ د نورو خلقو نه نو آرزو وکړئ تاسو د مرګ که یئ تاسو رشتینی۔

تفسیر : پدے آیت کښ د مخکنو خطاباتو تتمه بیانوی په اعلان د مباهلے سره او په دے کښ د دوی د غلطے عقیدے تردید ذکر دے، هغه دا چه دوی به وئیل، حق دین صرف زمونږ دے او زمونږ د دین نه ما سیوا ټول دینونه باطل دی، او جنت مونږ پورے خاص دے، نو الله تعالیٰ دوی باندے رد اُوکړو۔ چه ددے ډیرو بدو صفاتو سره سره تاسو بیا هم په پټو سترګو دعوے د جنت کوئ نو ورته اُووایه : راځئ چه مباهله اُوکړو۔

بیـا پـه آیت کښ دوه تفسیرونه دی ۱ – الدار الآخرة نه مراد جنت دے او د خالصة معنیٰ ده : (سَالِمَةً) چـه د شـرکـت د بـل چـا نـه پاك وی یـا په معنیٰ د خاصةً سره دے یعنی چه صرف تاسو پورے خاص وی۔ او تمنی آرزو ته وئیلے شی۔

او ان کـنـتـم صـادقـیـن یعنی فی قولکم) که پدے خپل قول کښ رشتینی یئ چه مونږ جـنـتـیـان یو۔ نو معنیٰ به دا شی : چه الله تعالیٰ دوی ته اُووئیـل که تاسو ځان ته رشتینی وایـئ او جنت صرف ستاسو دپاره وی نو د الله تعالیٰ نه د مرګ سوال اُوکړئ دے دپاره چه تاسو په جلتئ سره د دنیا د پریشانو نه نجات موندلو سره د جنت راحتونو ته اُورسیږئ، دارنـګـه د مرګ سوال اُوکړئ ځکه چه کوم شے د انسان محبوب وی نو د هغے ذریعه هم ورتـه مـحبوبـه وی اګـر کـه فـی نـفـسـه ترخه او بد ګنړلے شی او د جنت ته د رسیدو ذریعه

مرګ دے نو د مرګ سوال تاسو له پکار دے۔ په دنیا کښې څه کوئ۔
(او دا زمونږ ددے امت د سلفو طریقه هم وه چه هغوی به مرګ هم محبوب ګڼړلو
څکه دا وسیله ده د رسیدلو محبوب حقیقی ته چه الله تعالیٰ دے۔
لکه ابودرداء ﷺ فرمائی : خلق مرګ بد ګڼړی زۀ ئے ښه ګڼړم، بلال ﷺ به په مرض الوفات کښې وئیل : (غَدًا نَلْقَى الْأَحِبَّةَ مُحَمَّدًا وَصُحْبَه) (صبا به د خپلو دوستانو سره ملاویږو چه محمد ﷺ او د هغه ملګری دی) دغه شان حذیفه ﷺ نه هم نقل دی۔
او عُمیر بن الحمام ﷺ فرمائیلی دی :

جَـرْيًـــا اِلَـــى اللّٰهِ بِـغَيْــرِ زَادِ	❁	اِلَّا التُّــقَـــىٰ وَعَـمَـــلَ الْـمَـعَـــادِ

الله تعالیٰ ته زما روانیدل دی بغیر د زیاتے توښے نه صرف تقویٰ او د آخرت عمل دے۔
او جعفر بن ابی طالب ﷺ په غزوۀ موته کښې اُوفرمایل :

يَـــا حَبَّـــذَا الْـــجَـــنَّةُ وَاقْتِـــرَابُهَـــا	❁	طَيِّبَةٌ وَبَـــارِدٌ شَــــرَابُهَـــا

ډیر ښه مزیدار دے جنت او د هغے نزدے والے او یخی دی د هغے اُوبۀ۔

او عبد الله بن رواحه ﷺ چه کله غزوۀ موته ته روانیدو نو داسے ئے وئیلی وو :

لٰكِنَّنِىْ أَسْأَلُ الرَّحْمٰنَ مَغْفِرَةً	❁	وَضَـــرْبَةً ذَاتَ فَـــرْغٍ تَـقْـذِفُ الزَّبَدَا
اَوْ طَعْـنَةً مِنْ يَدَىْ حَـرَّانَ مُـجْهِزَةً	❁	بِـحَـــرْبَةٍ تَـنْـفُـذُ الْاَحْشَـاءَ وَالْـكَبِدَا
حَتّٰـى يَقُوْلُوْا اِذَا مَـرُّوْا عَلٰى جَدَثِىْ	❁	اَرْشَدَكَ الـلّٰـهُ مِـنْ غَـازٍ وَقَدْ رَشَدَا

(لیکن زۀ د رحمان ذات نه بخښنه غواړم او داسے ګوزار چه د وینے زګونه اُوغورزوی۔ یا د نیزے ګوزار چه د مضبوط سړی د لاس نه وی او مرګ راوستونکے وی او په داسے نیزه سره وی چه کولمے او لړمون ته ورسیږی۔ تردے چه خلك کله چه زما په قبر راتیریږی نو وائی چه الله تعالیٰ اے غازی تا خپل مقصد ته ورسوی او تۀ کامیاب شوے)۔
تمنی د مرګ جائز نۀ ده لیکن دا یهودیانو ته تهکماً او استهزاءً وئیلے شی او پدے سره د

یهودیانو دعوه رد کول دی چه ځئ تاسو له تمنی جائز ده که ځان ته جنتیان وایئ نو مرگ اُوغواړئ چه زر ورشئ۔ او صحابه کرامو چه مرگ غوختلے دے نو د هغے مطلب دا نهٔ دے چه اے الله ! په مونږ باندے مرگ راوله بلکه دا ئے د زړه خواهش وو چه مرگ راشی نو د خپلو ملگرو سره به ملاؤ شو۔ یا ئے شهادت غوختلے دے۔

او حدیث کښ منع د مرگ غوختلو د وجه د تکلیف او د دنیوی ضرر نه ده۔

[لَا يَتَمَنَّيَنَّ اَحَدَكُمُ الْمَوْتَ مِنْ ضُرٍّ اَصَابَهٗ]

[بخاری : ٥٦٧١، مسلم : ٦٩٩٠، احمد : ١٣٠٤٣]

او که د دین د حفاظت د وجه نه وی یا شهادت وی نو مرگ طلب کول جائز دی۔

بناء پدے باندے دا آیت به رد وی د هغه دعوے د یهودیانو چه د دوی نه الله تعالیٰ په بل ځائے کښ ذکر کړیده چه جنت مونږ پورے خاص دے او دیته قرطبیؒ او بیضاویؒ میلان کړیدے۔ نو پدے کښ به د مخکښنو آیتونو سره پوره مناسبت نهٔ وی بلکه صرف مناسبت به پدے کښ وی چه پدے کښ هم رد دے په بله باطله عقیده د دوی باندے۔ چه اعمال ئے بد دی او دعوے د جنت کوی۔

او ابن عاشورؒ وئیلی دی چه دا اصل کښ رد دے په ماقبل دعویٰ د دوی باندے چه دوی وئیلی وو (نُؤْمِنُ بِمَا اُنْزِلَ عَلَيْنَا) او دا ئے د محمد ﷺ د دعوت د نهٔ قبلولو په عذر کښ وئیلی وو چه مونږ په خپل تورات باندے کلك یو او د هغے نه بل طرف ته نهٔ اَوړو او دوی پدے کار سره د الله تعالیٰ د محبت مستحق شویدی او آخرت به هم د دوی په برخه کښ وی نو هرکله چه الله تعالیٰ د دوی دعویٰ د ایمان په (مَا انزل علیهم) باندے باطله کړه چه تاسو خو په دے دعوه کښ دروغجن یئ ځکه دلائل دا دی چه ستاسو نیکونو د انبیاؤ سره څومره قبیح کارونه کړیدی او د اوامرو د تورات نه ئے خروج کړیدے په شرك کولو د الله تعالیٰ سره په عبادت د سخی، نو ددے پسے ئے د هغوی د عقیدے باطلوالے ذکر کړو چه دا هغه خلق دی چه دوی وائی چه څو پورے مونږ په تورات تمسك کوو نو د الله تعالیٰ رحمت او جنت به دوی پورے خاص وی او څوك چه د تورات خلاف کوی نو هغه دپاره به د آخرت نه هیڅ برخه نهٔ وی نو الله تعالیٰ د دوی د عقیدے مطابق ورته د آخرت خبره ذکر کوی چه هرکله چه تاسو په آخرت ایمان لرئ او دا وایئ چه دا زمونږ پورے خاص دے نو ځئ مرگ اُوغواړئ ځکه چه د چا په آخرت کښ غټه

برخه وی نو هغه له خو مرګ غوختل پکار دی چه حیاتِ دائمه او همیشه نعمتونو ته اُورسیږی لیکن هرکله چه دوی مرګ نهٔ غواړی، معلومیږی چه د دوی ایمان په آخرت نشته او هرکله ئې چه ایمان په آخرت نشته نو معلومه شوه چه ایمان ئې په تورات نشته۔ نو په دعوه د ایمان بما انزل علینا کښې دروغجن شو۔ بناء پدې باندې دا به مربوط وی د ماقبل آیتونو سره۔

لیکن پدې تفسیر باندې یو اعتراض دا دې چه یهودو هم دا وئیلی شو چه اې نبی ! تاسو او ستا ملګری هم د جنت دعویٰ کوی نو تاسو ولې مرګ نهٔ غواړئ ؟ نو معلومه شوه چه دا ملازمه نشته، چه څوك د جنت دعوه کوی هغه به د مرګ سوال کوی۔

۲ - دارنګه جنتی کیدل دې لره مستلزم نهٔ دی چه انسان به مرګ غواړی بلکه ډیر انبیاء علیهم السلام او نیکان خلق جنتیان دی او د مرګ سوال ئې نهٔ دې کړې۔

۳- بلکه د مرګ د سوال نه نبی ﷺ منع کړې ده۔ هرکله چه دا تفسیر مَوردِ د اعتراض دې نو دا راجح نهٔ دې۔

(۲) - نو دې کښې **غوره تفسیر** هغه دې چه ابن کثیرؒ او ابن قیمؒ غوره کړیدې او دا د ابن عباس ﷺ تفسیر دې چه دلته مقصد دعوت او اعلان د مباهلې دې یعنی اې یهودو ! که تاسو دا وایئ چه جنت مونږ پورې خاص دې او زمونږ حق دې نو د حق د ثابتولو دپاره اول دلیلونه پیش کول پکار دی لیکن تر اُوسه پورې معلومه شوه چه ستاسو هیڅ دلیل د حقانیت نشته او بیا هم په تعصب او ضد باندې کلك ولاړ یئ نو راځئ چه مرګ اُوغواړو او د مرګ د آرزو معنیٰ دا ده چه ﴿ادْعُوا الْمَوْتَ عَلَى أَكْذَبِ الْفَرِيقَيْنِ﴾

(دعا د مرګ اُوکړئ په دروغجن د دواړو ډلو باندې) یعنی اې الله ! که مونږ دروغجن یو نو مونږ مړه کړه او که دوی دروغجن وی نو دوی هلاك کړه۔ چه دا دنیا ترې بې غمه شی۔ دیته مباهله وائی۔ تاسو ځان ته په حق وایئ او ځان ته د الله دوستان وایئ نو راځئ چه ښیرې اُوکړو چه څوك په ناحقه وی هغه دې الله تعالیٰ تباه کړی چه پته مو اُولګی۔ لیکن دوی ته ځان معلوم دې چه مونږ په ناحقه یو۔ کله چه دوی ته رسول الله ﷺ دغه شان اُووئیل : نو دوی انکار اُوکړو ځکه دوی ته خپل جرمونه او ګناهونه معلوم دی او د هغې خبر قرآن ورکړیدې۔

فائده : مباهله وئیلې شی الله تعالیٰ ته عاجزی کول په دعاء او ښیرو کښې، چه اې الله !

څوك په ناحقه وي او په خلقو باندې تلبيس راولي او حق نۀ مني نو تۀ ئې تباه كړې.
مباهله په قرآن كريم كښې په درې آيتونو كښې ذكر ده. سورة الجمعه او سورة آلعمران (٦١) (ثُمَّ نَبْتَهِلْ) كښې او دې آيت كښې. مباهله به په ديني كار كښې كولې شي.دنياوي معامله كښې جائز نۀ ده.

دارنګه د مخالف حجتونه او اشتباهات به اول رد كړې شي خو چه هغه بيا هم په ضد كلك ولاړ وي نو د مباهلې دعوت به وركړې شي. دې كښې بعض علماء وائي دا د رسول الله ﷺ پورې خاص وه ليكن صحيح دا ده چه په هر دور كښې مباهله كول جائز وي. او علماء كرامو په خپلو ادوارو كښې د مخالفينو سره كړيده.

شيخ الاسلام ابن قيمؒ په "قصيده نونيه" كښې فرمائي : ما هم خلقو ته د دلائل پيش كولو نه بعد او د هغوي د شبهات ختمولو نه بعد د مباهلې دعوت وركړيدې ليكن هيڅوك نۀ دې تيار شوې. ثناء الله امرتسري –رحمه الله– د نصاراؤ سره مباهله كړيده. دارنګه د مرزا غلام احمد قادياني سره هم. او دغه شان نورو علماؤ هم كړيده.

الدَّارُ الآخِرَةُ : اطلاق په جنت كيږي، ورنه روستونې كور خو د هر چا دپاره شته.
(فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ) زړه كښې تمنا نۀ ده مراد، بلكه الفاظ وئيل مراد دي يعني د مرګ دعاء كول.او دلته ئې د مباهلې نه تعبير په تمني سره اُوكړو ځكه چه په مباهله كښې هر فريق دا ارمان لري چه ددۀ مخالف هلاك شي. او مباهله په مرګ اُوشوه ځكه چه دوي ته ژوند ډير عزيز دې. او دغه شان مباهله په سورة آل عمران (٦١) او سورة الجمعه (٦) كښې ذكر ده.

وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ اَبَدًا بِمَا
او هيچرې دوئ آرزو د مرګ نكوي هميشه دپاره په سبب د هغې عملونو
قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٩٥﴾
چه مخكښې ليږلي دي لاسونو د دوئ او الله تعالىٰ پوهه دې په ظالمانو باندې.

تفسير : په دې آيت كښې دا واضحه كوي چه دوئ د مرګ طلب هيڅكله نۀ كوي،

هر سړی ته خپل ځان معلوم دے چه زه څو مره اُوبو کښې یم، دوی ته هم خپل عملونه معلوم دی چه مونږ غټ مفسدان یو، که مړه شو نو سمدواره جهنم ته روان یو، خو هسے دعوئ ئے کړے ده۔ نو پدے کښې نبی ﷺ او ایمان والو ته یو پیشینگوئی او خبردارے ورکول دی دے دپاره چه د دوی یقین زیات شی او یهودیانو دپاره یو تحدی شی ځکه چه دوی به دا کلام اَوری او غواړی به چه خلاف اُوکړی لیکن نهٔ ئے شی کولے۔ نو دوی ته به پته اُولګی چه د آخرت کور د دوی پورے خاص نهٔ دے۔ (ابن عاشورؒ)

امام بخاریؒ وغیره د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه که یهودیانو د مباهلے ددے دعوت نه روستو د مرګ تمنا کړے وے نو ټول په ټوله به مړهٔ شوی وے او په جهنم کښې به ئے خپل ځائے په خپلو سترګو لیدلے وے۔

بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ : ددے نه مراد نفسونه دی لیکن خلق غالباً کارونه په لاسونو کوی نو ځکه ئے لاسونو ته نسبت اُوکړو۔

او د (مَا قَدَّمَتْ) نه مراد هغه تحریف وو چه په لاسونو سره به ئے لیکل، دارنګه نور قسماقسم مرضونه او ګناهونه مراد دی چه هغه دوی ته معلوم دی۔

فائده : (لَنْ) ئے اُووئیلو چه دوی به هیڅرے تر قیامته پورے دا کار اُونکړی، او دا پیشین ګوئی بالکل رشتینے شویده۔ دا دلیل دے د الله تعالیٰ د علم۔ یهود او نصاریٰ مباهله د هیڅا سره نکوی۔ نو پدے کښې د الله تعالیٰ د کتاب او د نبی ﷺ حقانیت او صدق معلوم شو۔

یهودو د خپل عادت مطابق په ډیر جرأت سره په جواب کښې داسے وئیلے شو چه مونږ خو د مرګ ډیر آرزو کونکی یو، لیکن انسان نه د خپل زړه حال پټ نهٔ وی پدے وجه دا حقیقت دوی دپاره ډیر تریخ او خپله دوی ته په خپلو نظرونو کښې ډیر رسوا کونکے ښکاریدو چه څنګه داسے اُووائی چه مونږ د مرګ آرزو لرو، ګویا کښې د مرګ لفظ د دوی په خوله اخستل او سمدست د دوی مړهٔ کیدل دی نو دوی ته ژوند دومره محبوب دے چه د مرګ نوم هم په خوله نهٔ اخلی۔

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ : یعنی الله تعالیٰ ته د دوی ظلم او ګناهونه معلوم دی نو پدے وجه دوی تمنی د مرګ نشی کولے او خپل نبی ته ئے خبر ورکړو چه دوی کښې ظلم دے ځکه دوی مرګ نشی غوختلے۔

فائده : د (عَلِيْمٌ بِهِمْ) په ځائے ظالمين اسم ظاهر راوړو، دے دپاره چه د دوی صفت اُوکړی په ظلم سره چه دوی کښې ظلم هم راغلے دے۔
او دا جمله خبريه ده په تهديد او توبيخ کښې استعمال ده ځکه چه قدير ذات چه کله د ظالم په ظلم خبر شي نو د هغه د سزاء نه نۀ روستو کيږي۔ (التنوير)

وَلَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ وَمِنَ
او خامخا ته به اُومومے دوی لره ډير حرصناك د خلقو نه په ژوند (دنيوی) او د
الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ
هغه کسانو نه چه شرك ئے کړے، خوښوی هر يو د دوی نه کاش چه عمر ورکړے شي
اَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهٖ مِنَ الْعَذَابِ اَنْ يُّعَمَّرَ
زر کاله او نۀ دے دغه عمر خلاصونکے دوی لره د عذاب نه که عمر ورکړے شي۔
وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾
او الله تعالیٰ ليدونکے دے د هغه عملونو چه دوی ئے کوی۔

تفسير : **ربط** : اُوس الله تعالیٰ فرمائی : دعا د مرګ په ځائے پريده، دوی خو دنيا او په دنيا کښې د اُوږد عمر ليواله دی، ددے خواهش لری ځکه چه د مرګ نه روستو دوی ته د بد انجام پته وه، نو هغوی خو دا غوختل چه څومره کيدے شي د هغوی نه مرګ روستو شي، اګرکه پدے ژوند کښې به بد حالي او رذالت هم راځي – دے دپاره چه د عذاب نه بچ پاتے شي، هغوی خو د مشرکانو نه هم د ژوند ډير طلبګار دی چه د هغوی سره لا څه آسمانی کتاب نۀ وو، او کومو چه د مرګ نه روستو په دوباره ژوند باندے يقين نۀ لرلو، پدے وجه ئے په دنيا کښې د اُوږد عمر خواهش لرلو۔ مطلب دا چه يو طرف ته خو دوی د الله تعالیٰ سره د محبت او محبوبيت دعوے کوی او بل طرف ته د دنيا د ژوند د

محبت حال ئې دا دے چه د ټولے دنيا والونه زيات د ژوند حريصان دی۔
(أَحْرَصَ النَّاسِ) صيغه د اسم تفضيل ئې ذکر کړه ډیر والی ته اشاره ده۔ يعنی د دوی د دنيا ډيره سخته خوښه ده، ددے وجه نه چه دوی کښې يو کس مری نو ډير سخت خفه کيږی او په جنګونو کښې پرے رعبونه هم راځی، هسے وائی چه دا کمانډوز دی، غرئے ترے جوړ کړيدے، حال دا چه په جنګ کښې ملاؤ شی نو بيا ترے په خختګ کښې متيازے روانے وی، لاندے ئې د متيازو دپاره ځان ته بل ځانګے اچولے وی، دا دومره بزدله خلق دی۔
مسلمان خو په آخرت باندے يقين راوړے وی، وائی که مړ شوم، شهيد به شم او که ژوندے پاتے شوم نو غازی به يم او آخرت خو حق دے او الله رب العزت به مونږ له جنت راکوی او هغوی له اُور دے۔
﴿ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ﴾ پدے کښې **دوه تفسيره** دی : (۱) - دا يا د ماقبل سره لګی او عطف دے په الناس باندے نو د (أَحْرَصَ) د لاندے دے (أَیْ لَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ مِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا) (يعنی دوی د مشرکانو نه هم زيات حرصناك دی)۔ ځکه چه مشرکان خو د آخرت ژوند او بعث بعد الموت نهٔ منی نو هغوی ته هم دنيا خوښه ده خو دومره نهٔ او دے يهودو ته ډيره خوښه ده، وجه دا ده چه دوی خو آخرت منی خو د هغے دپاره ئې په ايمان او اعمالو تيارے نهٔ دے کړے، خپل ځان ورته معلوم دے نو دوی ته د دنيا نعمتونه اصلی نعمتونه او د دنيا ژوند اصلی ژوند ښکاره کيږی، ځکه مرګ پسے سمدست جهنم ته تلل دی۔نو د دوی د آخرت نه خوف زيات دے ځکه دنيا ورته ډيره ښه ښکاره شويده۔
قرآن کريم په ډيرو مقاماتو کښې د يهودو موازنه د عرب مشرکينو سره کړيده او دا ئې ښودلے ده چه دوی د عقيدے او د عمل په اعتبار سره د مشرکينو نه هم بے کاره خلق دے، حال دا چه مشرکينو سره څه کتاب او شريعت نهٔ وو، او يهودو د شريعت او د کتاب اُوچت آوازونه او نعرے وهلے او ددے باوجود دوی د اخلاقی پسماندګئ په اعتبار سره مشرکان روستو پريخی وو، او حال دا چه دوی به مشرکان نهايتِ سپك ګنړل۔
(۲) دويم دا چه دا خبر دے د مبتدا محذوف دپاره (وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا قَوْمٌ أَحْرَصُ النَّاسِ) (يعنی بعض د مشرکانو نه داسے قوم دے چه ډير حرصناك دی)۔
(۳) يا عطف دے په هم ضمير (أَیْ وَلَتَجِدَنَّ مِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَحْرَصَ النَّاسِ) (ته به

مونده كړې د مشركانو هم ډير حرصناك د خلقو نه)۔
(٤) يا په (على حيوة) باندې كلام تمام شو۔ او (مِنَ الَّذِيْنَ أَشْرَكُوْا) خبر مقدم دے او (يَوَدُّ اَحَدُهُمْ) نه مخكښ مبتداء مقدره ده (اَیْ مِنَ الَّذِيْنَ أَشْرَكُوْا قَوْمٌ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ)
نو د دوی سره ئے په حرص كښ عام مشركان هم ملګرى كړل۔ نو اول يهود او بيا دا مشركان په دنيا باندې ډير حرص لرى۔ او ددې نه مراد يا عرب مشركان دى يا مجوس دى۔ يا هر هغه كافر دے چه د بعث بعد الموت عقيده نۀ لرى۔
عَلٰى حَيٰوةٍ : ئے نكره راوړه مقصد پكښ تنويع ده يعنى هرڅنګه ژوند چه وى اګر كه د ډير مشقت ژوند وى خو چه ژوند وى او مرګ نۀ وى۔
دومره حرص ئے دے : ﴿يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ سَنَةٍ﴾ چه دا بيان دے د هغوى د احرص كيدو۔ چه زر كاله عمر غواړى ددې وجه نه د دوى په دعاګانو كښ راځى : (عِشْ اَلْفَ نَيْرُوْزٍ) (زر نيروزه (اخترونه) ډې په تا راشى) دا به مجوسو هم وئيل او يهودو هم۔
دارنګه فارسئ كښ ورته هزار سال دعا كوى۔ او دا دعا بوډئ ګانو ښځو كښ هم مشهوره ده اُوس هغوى خپلو بچو ته وائى چه (زركلنے شے) دا ددې مجوسو او يهودو نه نقل كړے شوے دعاء ده۔ ددې وجه نه علماء وائى دا دعا مكروه ده چه (الله تعالىٰ دې عمر ډير كړه) ځكه دا مشابهت دے د يهود او مجوسو سره۔ داسې به وائى : چه (اَطَالَ اللّٰهُ بَقَاءَكَ عَلٰى طَاعَتِهٖ) (الله دې تا لـه د خپل اطاعت دپاره اُوږد ژوند دركړى)۔يا (أَطَالَ اللّٰهُ بَقَاءَكَ لِبَقَاءِ دِيْنِهٖ) (الله دې اُوږد ژوند د خپل د بقاء دپاره دركړى) لكه دا خبره ابن قيمؒ په زاد المعاد وغيره كښ ذكر كړيده۔ليكن امام بخارىؒ وئيلى دى او دارنګه الادب المفرد او الصحيحه رقم (٢٥٤١/٦/٩٤) او الدين الخالص جلد (٨) كښ دى چه ددې وئيل مطلقاً جائز دى۔ رسول الله ﷺ انس بن مالك ؓ ته داسې دعاء كړې وه :
[اَللّٰهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهٗ وَوَلَدَهٗ وَأَطِلْ عُمْرَهٗ وَاغْفِرْ لَهٗ] [احمد : ١٣٦١٩، صحيح]
(اے الله ! تۀ ورله مال او اولاد زيات كړه او عمر ئے اُوږد كړه او بخنه ورته وكړه)
(لَوْ يُعَمَّرُ) (لَوْ) تمنائيه مصدريه دے چه جزاء نۀ غواړى۔ بعض وائى دا په تاويل د مصدر سره مفعول دے د (يَوَدُّ) دپاره۔ (اَیْ يَوَدُّ اَحَدُهُمُ التَّعْمِيْرَ) (خوښوى يو تن د دوى نه عمر وركول دۀ ته د زرو كالو)
امام مجاهدؒ فرمائى : (حَبَّبَتْ اِلَيْهِمُ الْخَطِيْئَةُ طُوْلَ الْعُمُرِ) (ابن كثير)

(دوی ته گناهونو اوږد عمر محبوب جوړ کړیدے)

﴿ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَنْ يُعَمَّرَ ﴾ ـ (١) هُوَ ضمير راجع دے اَحَدُهُم ته (٢) يا ضمير مبهم دے او تفسير ئے روستو ان يعمر دے۔ او ان يعمر په تأويل د مصدر سره فاعل دے د مزحزح دپاره۔ (اَیْ مَا هُوَ بِمُنْجِيهِ مِنَ الْعَذَابِ تَعْمِيْرُهٗ)

(يعنى نهٔ دے خلاصونکے دهٔ لره د عذاب نه عمر ورکول دهٔ ته زر کاله) لکه څنگه چه ابليس ته عمر ورکړے شويدے خو دے عمر ورته څه فائده ورنکړه د الله تعالىٰ د عذاب نه ئے خلاص نکړو۔ او پدے کښ عجيبه نکته ده او هغه دا چه د يو سړی ډِے زر کاله عمر وی او په بادشاهت کښ ډِے تير کړی خو چه بيا جهنم ته ځی نو دهٔ له دے عمر څه فائده ورکړه لکه دا مطلب په سورة الشعراء (٢٠٥) آيت کښ راغلے دے۔

﴿ أَفَرَأَيْتَ إِنْ مَتَّعْنَاهُمْ سِنِيْنَ ثُمَّ جَاءَ هُمْ مَا كَانُوْا يُوْعَدُوْنَ مَا أَغْنٰى عَنْهُمْ مَا كَانُوْا يُمَتَّعُوْنَ ﴾۔

(خبر راکړه که دے مجرمانو له زه ډير کلونه عمر ورکړم ليکن بيا دوی ته هغه عذابونه راشی د کومو چه دوی سره وعده شوے ده (د شرك او كفر په وجه) نو دوی له به دا عمر او دا ژوند څه فائده ورکړی څه عذاب به ترے واړوی ؟) نهٔ ئے شی اړولے نو بيا پدے ډير عمر څه، بلکه ډير عمر خو خلق دے دپاره غواړی چه د الله تعالىٰ د عذابونو نه خلاص شی او اُوچتو مرتبو ته اُورسيږی او د الله تعالىٰ په قرب او طاعت کښ ئے تير کړی۔ او مالك حقيقی رضا کړی۔ دارنگه که د يو انسان لږ عمر وی خو چه مالك حقيقی ترے رضا وی نو دا کامياب دے۔ نو اصل شے خپل خالق او مالك رضا کول دی۔ نو پدے کښ يهودو ته يو قسم دعوت دے چه راشئ ايمان راوړئ او خپل رب راضی کړئ او مخالفتونه پريدئ۔

﴿ وَاللهُ بَصِيْرٌ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴾ الله تعالىٰ ته دا ټول معلوم دی او بيا به د هغے مطابق سزا ورکوی۔ بصير دلته په معنىٰ د عليم سره دے لکه پدے قول د شاعر کښ راغلی دی :

فَـاِنْ تَسْـأَلُوْنِیْ بِـالنِّسَـاءِ فَـاِنَّنِیْ	O	بَـصِيْـرٌ بِـأَدْوَاءِ الـنِّسَـاءِ طَبِيْـبُ

(کـه تاسو ما نه د زنانو په باره کښے پوښتنه کوئ نو (وکئ) ځکه چه زهٔ د زنانو په بيماريانو خبردار او د هغے علاج کونکے يم)۔

او دا جمله خبر دے خو استعمال دے په تهديد او توبيخ کښ ځکه چه يو قدير ذات د

بنده په جرم او عمل باندے پوهه شي او هغه ته خبر هم ورکړی چه ما ته ستا دا عمل معلوم دے نو دا دلیل وی چه عقاب او عذاب په دهٔ خامخا نازلیدونکے دے۔

فوائد الآيات :

ددے مجموعه مخکنو آیتونو نه مونږ ته راتلونکی بعض تعلیمات او فائدے حاصلیږی :

۱- **اوله فائده** : پدے کښې یو اهم حقیقت خو دا واضح شویدے چه الله تعالیٰ چه کوم شریعت بندګانو ته ورکړی نو د هغې حق د هغې په هر جزء باندے عمل کولو سره اداء کیږی، که یو شخص د هغې په هغه اجزاؤ باندے عمل کوی چه ددهٔ د خواهش موافق وی، او کوم چه ددهٔ د خواهش خلاف وی نو هغه ګوزاروی، نو دا شے د قرآن کریم په اصطلاح کښې ایمان ببعض الکتاب او کفر ببعض الکتاب دے او داسے ایمان د الله تعالیٰ په نیز نهٔ یواځې ذا چه معتبر نهٔ دے بلکه دداسے خلقو سزا قرآن کریم دا بیان کړیده چه "د دوی دپاره د دنیا په ژوند کښې رسوائی او شرمندګی ده او په آخرت کښې به سخت ترین عذاب ته راخکلے شی"۔

(۲) دویم حقیقت دا واضح شویدے چه د قومی تفاخر، د ډله بازئ عصبیت او د جماعتی برتری ګمان د حق د قبلولو په لاره کښې د تولو نه غټ رکاوټ دے، کومه ډله چه پدے بیمارئ کښې مبتلا شی نو هغه دپاره د هغه حق نه سوا چه دائے حق ګنړی بل حق قبلول ناممکن شی، دا شے د هغه استکبار جرړه ده کوم چه په قرآن کریم کښې د ابلیس خصوصیت ښودلے شویدے۔ او د همدے نه هغه حسد پیدا کیږی چه کوم حق چه ددهٔ د خواهش خلاف وی نو د هغې نه نفرت کوی۔

۳- دریم حقیقت دا واضح شو چه لکه څنګه د ژوند د تریخوالی او تکلیفونو نه تنګ راتلو سره د مرګ آرزو کول یا خود کشی کول د ایمان او تعلق بالله منافی دی نو دغه شان د ژوند او اُوږدوالی د عمر حریص کیدل او د مرګ نه تیختنه کول هم د ایمان او د محبتِ الٰهی منافی دی، کوم خلق چه په الله تعالیٰ او په آخرت باندے ایمان لری، او د الله تعالیٰ سره محبت لری، هغوی د مرګ نه تیختنه نهٔ کوی بلکه هغوی د الله تعالیٰ په لاره کښې د مرګ تمنا کوی،

دارنګه ضمناً دا حقیقت هم واضح شو چه کوم شے چه انسان لره د مرګ نه یروی، هغه

په حقیقت کښې ګناه او د الله تعالیٰ نه د بغاوت زندګی ده، که یو انسان خپل ژوند د ګناهونو او د نافرمانیانو نه د پاك ساتلو کوشش اُوکړی نو مرګ د هغهٔ دپاره یو محبوب شے جوړیږی۔ (تدبر قرآن)۔ بله فائده دا ده چه د یهودو علماؤ کښے کبر موجود وو۔

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَإِنَّهٗ
اُووایه څوك چه وی دشمن د جبریل (علیه السلام) (هغه تباه دے) پس یقیناً هغه
نَزَّلَهٗ عَلٰى قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللّٰهِ مُصَدِّقًا
نازل کړیدے دا قرآن په زړهٔ ستا باندے په حکم د الله، تصدیق کونکے دے
لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَّ بُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۹۷﴾
د هغه کتابونو چه مخکښے ددے نه دی او هدایت دے او زیرے دے دپاره د مؤمنانو۔

تفسیر: دے نه روستو د یهودو پرله پسے نور قبائح هم شروع دی،

(۱) اوله طریقه مضمون : زمونږ د مشائخو طریقه دا ده چه وائی چه ددے ځائے نه روستو زمونږ د رسول الله ﷺ په باره کښې د بنی اسرائیلو د پنځه شبهو جوابونه بیانیږی او بیا هغوی ته پنځه زجرونه دی، د دوی په خباثتونو بیا د دوه شبهاتو جوابونه دی بیا پنځه امور دی چه تعلق لری د رسالت د رسول الله ﷺ سره۔ نو اوله شبهه په باره د جبریل علیه السلام کښې وه چه وحی دا راوړی او دا خو زمونږ دشمن دے نو مونږ ئے څکه نهٔ منو۔

۲- دویمه شبهه په باره د سلیمان علیه السلام کښې وه چه دے خو ساحر وو او ته ورته نبی وائے۔

۳- دریمه شبهه په باره د هاروت او ماروت کښې چه دا ملائك وو او خلقو ته به ئے سحر خودلو نو معلومه شوه چه سحر جائز دے او ته هغے ته کفر وائے۔

٤- څلورمه شبهه په باره د (رَاعِنَا) لفظ کښے چه تر اُوسه پورے صحابه کرامؓ استعمالولو نو جائز وو نو مونږ ترے ولے منع کوے۔

۵- پنځمه شبهه کله یو حکم کوے او صبا له د هغے نه خلاف بل حکم کوے نو ته په

خپله خبره کښې شکې ئې. او د الله تعالیٰ په کلام کښې خو شك نهٔ وی نو ته نبی نهٔ ئې.
بیا پنځه زجرونه دی په پنځه کارونو او اقوالو د هغوی باندے، اول زجر په اعتراضونو کولو په رسول الله ﷺ باندے. ۲- دویم : خلق د دین نه اړول په سبب د حسد سره.
۳- دریم : ځان دپاره د جنت دعویٰ کول.
٤- څلورم : د یوبل د کتاب (حق) نه انکار کول.
٥- پنځم : د الله تعالیٰ د مساجدو نه اهل توحید منع کول.بیا شپږمه شبهه ده په باره د نسبت د اولادو کښې الله تعالیٰ ته بیا اُومه شبهه : ځان دپاره د وحی او د نبوت خواهش کول. بیا د رسالت سره متعلق پنځه امور راوړی :
۱- د رسول الله ﷺ صدق او هغه ته تسلی ورکول. ۲- د یهود او نصاراؤ سره د مسلمانانو اتحاد ممکن نهٔ دے.۳- دلیل نقلی د اهل کتابو مؤمنانو نه.
٤- څلورم : ترغیب. ٥- تخویف اخروی. لکه چه تفصیل ئے راروان دے.
(۲) **طریقه مضمون** : بل طرف ته دا آیتونه داسے هم لګی چه پدے کښې الله تعالیٰ د یهود او نصاراؤ مسلسل بدیانے او اعتراضونه بیانوی تر (۱۲۳) پورے، او غرض پدے کښې دا دے چه دے یهودو کښې دا مرضونه او قباحتونه دی پدے وجه د دوی نه خلافت ارضی او دینی واخستے شو او امت محمدیه ته ورکړے شو نو دوی په حسد کښې راغلل.
نو پدے آیتونو کښې د یهودو د قرآن او ددے رسول سره د دشمنئ نور تفصیل دا بیانوی چه یهود پدے دشمنئ کښې د الله تعالیٰ، د هغه د ملائکو، د هغه د انبیاء علیهم السلام او جبرئیل او میکائیل علیهما السلام تولو دشمن جوړ شو، او پدے طریقه ئے الله تعالیٰ خپل دشمن جوړ کړو چه ولے ئے دا وحی زمونږ نه نقل کړه.
بیا فرمائی چه د قرآن سره د دشمنئ وجه دا نهٔ ده چه د حق دلائل په دوی باندے واضح شوی نهٔ دی بلکه دلائل خو پوره واضح شویدی لیکن دا نافرمان او لوظ ماتونکی خلق دی، د ابتداء نه د دوی دا عادت راروان دے چه کله هم دوی د الله تعالیٰ سره کوم لوظ او عهد کړیدے نو هغه د دوی نه یو جماعت په خپله موقعه کښې مات کړیدے، نو ددے آخری رسول په باره کښې هم دوی دغه طریقه اختیار کړه، دا خو د تورات د پیشنګوئیانو مطابق راغلے دے لیکن یهودو په تورات باندے د ایمان مدعی کیدو سره په ضد کښې

راغـلـل او د الله تـعـالیٰ کتـاب ئـے شاتـه ګوزار کړو ګویا کښې دوی هیڅ نۀ پو هیږی. بیا فـرمائی : د دوی اصلی دلچسپی د الله تعالیٰ د کتاب سره نۀ ده بلکه د شیطانی عملیات کـوډو، مـنـتـرو او جـادو سـره ده کوم چه دوی ته فلسطینیانو او ګلُدانیینو وغیره خودلی وو، نو دوئ په کوډو، منترو، تعویذونو او سحر او جادو سره د الله تعالیٰ د کتاب نه بیخی بے پرواه او جدا شول.

ربط او تړون : مخکښے د دوی دعوی ذکر شوه چه (نُؤْمِنُ بِمَا اُنْزِلَ عَلَيْنَا) مونږ په خپل کتـاب تـورات ایـمـان راوړیـدے او بـس هـمـدا زمونږ کافی دے نو الله تعالیٰ ورله په دغه دعـوی بـانـدے ردونـه ذکـر کړل په قل قل سره لکه (قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْبِيَاءَ اللهِ) دارنګه (قُلْ بِئْسَمَا يَأْمُرُكُمْ بِهٖۤ اِيْمَانُكُمْ) او دوی وئیل چه ددے په وجه مونږ جنتیان یو نو د هغے تردید ئے اُوکړو په (قُلْ اِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ) سـره نـو بیا د دوی حسد او ضد دومره زیات شو چه وحـی راوړونـکی ملائك (جبریل) علیه السلام بـانـدے ئے اعـتـراض شروع کړو نو پدے آیت کښې د دوی د دغه حسد او دروغو خبرے تردید کیږی.

دارنـګـه مـخـکښې د دوی عـداوت د قرآن سره ذکر شو دلته عداوت مع جبریل بیانوی دارنـګـه مـخـکښې بهانه ده په ترك د اتباع الرسول کښې (وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا غُلْفٌ) دلته د اتباع الرسول د پریخودلو بهانه ذکر کوی په عداوت د جبریل علیه السلام سره.

نـو ددے آیت نه د یهودو اوله بدی دا بیانوی چه دوی به د جبریل علیه السلام او د نورو ملائکو سره دشمـنـی کـولـه دا بـه ئـے وئیل چه دا وحی مونږ ځکه نۀ منو چه دا جبرئیل (علیه السلام) راوړیده. نو عنوان د آیت دے : (عَدَاوَةُ الْيَهُوْدِ لِجِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ)

(د یهودو ددے قرآن او رسول سره ئے دومره دشمنی ده چه ددے په وجه ئے د جبرئیل علیه السلام سره دشمنی شروع کړه).

شان نزول : لـکـه ددے آیتـونـوشان نـزول هم دا دے : ابن جریر الطبریؒ او ابن کثیرؒ وئـیـلـی دی چـه د مفسرینو پدے باره کښې اجماع ده چه دا آیتونه د یهودو په جواب کښې نـازل شـویدی چه هغوی وئیلی وو جبریل (علیه السلام) زمـونږ دشمن دے او میکائـیل (علیه السلام) زمونږ دوست دے، که دا وحی میکائـیل راوړے نو مونږ به ایمان راوړے وے.

لیـکـن ددے په سبب د تعیین کښې اختلاف دے. (۱) – بعض وائی : ددے سبب د نبی صلی الله علیه وسلم د نبوت پـه بـاره کـښې د یهـودیانو او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ترمینځ مناظره وه چه د هغے

خلاصه دا ده چه : څه یهود د نبی ﷺ خوا ته راغلل او وے وئیل چه مونږ ستا نه یو څو سوالونه کوو چه د هغے چواب د نبی نه سوا بل څوك نشی ورکولے،

نبی ﷺ اُوفرمایل : صحیح ده، لیکن تاسو به دا لوظ ما سره کوئ که زۀ تاسو ته ستاسو د سوالاتو صحیح صحیح جوابات درکړم نو تاسو به زما تابعداری کوئ (اسلام به قبلوئ) هغوی اُووئیل : آؤ۔ نو رسول الله ﷺ اُوفرمایل : تپوس اُوکړئ څه چه غواړئ ؟ هغوی اُووئیل : مونږ تا نه د ځلورو څیزونو باره کښ تپوس کوو :

[أَخْبِرْنَا اَیَّ الطَّعَامِ حَرَّمَ إِسْرَائِيْلُ عَلٰى نَفْسِهِ مِنْ قَبْلِ أَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرَاةُ ؟ وَأَخْبِرْنَا كَيْفَ مَاءُ الْمَرْأَةِ وَمَاءُ الرَّجُلِ ؟ وَكَيْفَ يَكُوْنُ الذَّكَرُ مِنْهُ وَالْأُنْثٰى ؟ وَأَخْبِرْنَا بِهٰذَا النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ فِي النَّوْمِ وَوَلِيِّهِ مِنَ الْمَلَائِكَةِ ؟]

(مونږ ته خبر راکړه چه کوم طعام دے چه یعقوب علیه السلام په خپل ځان باندے د تورات د نازلیدو نه مخکښ حرام کړے وو؟ او خبر راکړه چه د زنانه او د سړی اُوبه (منی) څنګه وی؟ او ددے نه نارینه او زنانه څنګه پیدا کیږی ؟ او خبر راکړه چه ددے نبی امی په خوب کښ څه حالت وی ؟ او ددۀ د ملائکو نه دوست څوك دے ؟)

نو رسول الله ﷺ اُوفرمایل : تاسو نه د الله تعالیٰ لوظ اخلم چه که زۀ خبر درکړم نو زما تابعداری به کوئ نو هغوی ورته عهدونه او لوظونه ورکړل څومره چه الله تعالیٰ غوختل۔ نو رسول الله ﷺ اُوفرمایل : زۀ تاسو ته قسم په هغه الله درکوم چه تورات ئے په موسیٰ (علیه السلام) نازل کړیدے، آیا تاسو ته معلومه ده چه اسرائیل (یعقوب علیه السلام) سخت مریض شوے وو (د عرق النساء په وجه) او مرض ئے اُوږد شوے وو، نو الله دپاره ئے دا نذر اُوکړو که چرے الله تعالیٰ دۀ لره ددے بیمارئ نه روغ کړو نو حراموی به محبوب طعام او شراب په خپل ځان او هغه ته محبوب طعام د اُوښانو غوښه وه او محبوب شراب د اُوښانو پئ وو ؟ نو دوی اُووئیل : (اَللّٰهُمَّ ، نَعَمْ) (آؤ همداسے ده) بیا رسول الله ﷺ اُوفرمایل : اے الله ته په دوی ګواه شه۔ بیا ئے اُوفرمایل : قسم درکوم په هغه الله چه حقدار د بندګئ د هغه نه سوا هیڅوك نشته، هغه ذات دے چه تورات ئے په موسی نازل کړیدے، آیا تاسو ته معلومه ده چه [إِنَّ مَاءَ الرَّجُلِ أَبْيَضُ غَلِيْظٌ، وَإِنَّ مَاءَ الْمَرْأَةِ أَصْفَرُ رَقِيْقٌ، فَأَيُّهُمَا عَلَا كَانَ لَهُ الْوَلَدُ وَالشَّبَهُ بِإِذْنِ اللّٰهِ وَإِذَا عَلَا مَاءُ الرَّجُلِ مَاءَ الْمَرْأَةِ كَانَ الْوَلَدُ ذَكَرًا بِإِذْنِ اللّٰهِ، وَإِذَا عَلَا مَاءُ الْمَرْأَةِ مَاءَ الرَّجُلِ كَانَ الْوَلَدُ أُنْثٰى بِإِذْنِ اللّٰهِ ؟)

(اُویـه (مَنِـی) د سړی سپینه، ټینګه وی، او منی د زنانه زیړه، نریٔ وی، نو کوم چه بره شی نو بچے او مشابهت هغه ته کیږی د الله تعالیٰ په حکم سره، او کله چه د سړی اُویه د ښځے په اُوبـو پـورتـه شـی نو بچی نارینه وی د الله تعالیٰ په اذن او کله چه د زنانه اُویه د سړی په اُوبـو پـورتـه شـی نو بچے زنانه وی د الله تعالیٰ په اذن) نو دوی اُووئیل : (اَللّٰهُمَّ، نَعَمْ) (آؤ، هـمداسے ده) نبی ﷺ اُوفـرمـایـل : اے الله تـه پرے ګواه شه، بیا ئے اُوفرمایل : او تاسو ته قسم درکوم په هغه الله چه تورات ئے په موسی نازل کړیدے آیا تاسو ته معلومه ده چـه دا نبی امـی ددهٔ سـتـرګـے اُودے کیـږی او زړه ئے نهٔ اُوده کیږی ؟) دوی اُووئیل : آؤ، همداسے ده۔ وے فرمایل : اے الله ته ګواه شه۔ نو دوی اُووئیل :

(أَنْتَ الآنَ فَحَدِّثْنَا مَنْ وَلِيُّكَ مِنَ الْمَلَائِكَةِ ؟ فَعِنْدَهَا نُجَامِعُكَ أَوْ نُفَارِقُكَ)

(ښه، اُوس دا راته اُووایه چه ستا په ملائکو کښې کوم یو دوست دے (وحی څوك راوړی؟) چه یا به تاسره متفق شو یا به درنه جدا شو؟۔

نو نبی ﷺ اُوفرمایل : (فَإِنَّ وَلِيِّيَ جِبْرِيْلُ، وَلَمْ يَبْعَثِ اللّٰهُ نَبِيًّا قَطُّ إِلَّا وَهُوَ وَلِيُّهُ)

(زما دوست جبـریـل دے او الله تـعـالیٰ هیڅرے هیڅ نبی نهٔ دے رالیږلے مګر جبریل ئے دوست دے) نو دے ضدیانو اُووئیل : اُوس به مونږ تا نه جدا کیږو، ځکه که ستا دوست د جبـریـل (عـلیـه السـلام) نـه سـوا د نورو ملائکو نه وے نو مونږ به ستا تابعداری او ستا تـصدیق کړے وے، نو نبی ﷺ اُوفرمایل : (فَمَا يَمْنَعُكُمْ مِنْ أَنْ تُصَدِّقُوْهُ ؟) (تـاسو ته څه عذر دے چه جبریل علیه السلام نهٔ منئ) (ستاسو وعدے څه شوے؟) نو دوی اُووئیل :

(إِنَّهُ عَدُوُّنَا مِنَ الْمَلَائِكَةِ) (دا پـه مـلائـکـو کـښـے زمونږ دشمن دے) نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو: (قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيْلَ - إِلَى قَوْلِهِ - لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ) نو پدے وخت کښې دوی اختـه شو په غضب دپاسه د غضب۔ (رواه الامام احمد رقم : ۲۵۱٤، باسناد حسن - شعیب، وفی سنده شهر بن حوشب وهو حَسَنُ الْحَدِيْثِ وَوَرَدَ بِأَلْفَاظٍ أُخْرَىٰ أَيْضًا، مسند ابی داود الطیالسی رقم : ۲۸۵٤، دلائل النبوة للبیهقی : ٦/٢٦٦)

دا د یهـودو لـوظـونـه دی او دغـه ئے بهـانـے دی !، د هر باطل پرست دغه مناظره وی چه وعدے به اُوکړی خو چه کله ښه پړ شی او دلیل ئے پاتے نشی نو بیا یوه بهانه اُوګوری چه تـه خو فلانے ئے او که ته چرته فلانے وے نو مونږ به تسلیم شوی وے۔ د نبی ﷺ د حسد د وجـه نـه ئے ځـانـونـه د خیر نه محروم کړل او د الله تعالیٰ او د هغه د ملائکو دشمنی ئے

اعلان کړه۔ ولا حول ولا قوة الا بالله۔

۲- بعض علماء وائی : ددے سبب د نزول د عمر بن خطاب ﷺ او د یهودو ترمینځ مناظره وه د نبی کریم ﷺ په باره کښې۔

حافظ ابن کثیرؒ هغه په تفصیل سره ذکر کړیده او وئیلی ئے دی چه ددے روایت سند د عمرؓ او د شعبیؒ ترمینځ منقطع دے۔ او هغه دا ده چه شعبیؒ فرمائی :

عمر فاروق ﷺ خپلو ملګروته یوه ورځ اُوفرمایل : زهٔ به یهودوته د هغوی مِدراس (مدرسے) ته حاضریدم (ځکه ددهٔ د کور په لاره کښې یهود راتلل) نو ما به د تورات نه تعجب کولو چه څنګه د قرآن او قرآن د تورات تصدیق کوی ؟ نو پدے مابین کښې یوه ورځ زه د هغوی خواته ورغلم، دوی اُووئیل : [يَا ابْنَ الْخَطَّابِ ! مَا مِنْ أَصْحَابِكَ أَحَدٌ أَحَبُّ إِلَيْنَا مِنْكَ] (اے ابن الخطاب ! ستا په دوستانو کښې تهٔ مونږ ته ډیر محبوب ئے) دا وائی : ما ورته اُووئیل : دا څنګه ؟ نو هغوی اُووئیل : وجه دا ده چه ته زمونږ خواته راځے۔ نو عمرؓ ورته اُوفرمایل : زهٔ پدے وجه ستاسو خواته راځم چه د تورات نه تعجب کوم چه څنګه د قرآن کریم او قرآن کریم څنګه د تورات تصدیق کوی۔

نو پدے مابین کښې رسول الله ﷺ تیریدو نو دوی اُووئیل : اے ابن الخطاب ! دغه ستاسو ملګرے دے ورشه وریسے روان شه، دے فرمائی : ما دوی ته پدغه وخت کښې اُووئیل : زهٔ تاسو ته په هغه الله قسم درکوم چه حقدار د بندګئ سوا د هغه نه نشته او هغه چه ستاسو نه ئے د خپل حق رعایت طلب کړیدے او خپل کتاب ئے تاسو سره ایخودے دے۔ آیا تاسو ته دا معلومه ده چه دا د الله تعالیٰ رسول دے ؟ نو دوی غلی شو، عالم او مشر ورته اُووئیل : تاسو ته ئے سخت قسم درکړو نو جواب ورکړئ، هغوی ورته اُووئیل : ته زمونږ عالِم او مشر ئے، ته جواب ورکړه، نو هغه اُووئیل: هرکله چه تا مونږ ته دغه سخت قسم راکړو نو یقیناً مونږ ته معلومه ده چه دا د الله تعالیٰ رسول دے۔

سیدنا عمر فاروق ﷺ فرمائی : ما اُووئیل : خوار شئ نو بیا څنګه (په دهٔ باندے) هلاك شوئ ؟ دوی اُووئیل: مونږ نهٔ یو هلاك۔

عمرؓ اُوفرمایل : دا څنګه کیدے شی او حال دا چه تاسو ته معلومه ده چه دا د الله تعالیٰ رسول دے او بیا ئے اتباع او تصدیق نهٔ کوئ ؟ نو دوی اُووئیل : زمونږ په ملائکو کښې یو دشمن دے او یو دوست دے، او ددهٔ د نبوت پورے زمونږ دشمن ملائك پیوسته شویدے ،

ما اُووئیل : ستاسو دشمن او دوست څوك دے ؟ هغوی اُووئیل : دشمن مو جبریل علیه السلام دے او دوست مو میکائیل علیه السلام دے۔ عمر رضی الله عنه اُوفرمایل : جبریل علیه السلام مو څنګه دشمن او میکائیل علیه السلام مو څنګه دوست شویدے؟۔ دوی اُووئیل : جبریل علیه السلام د تیز خوئی، د سختئ او د تنګسیا راوستلو او جنګونو او عذابونو راوستلو ملائك دے او میکائیل علیه السلام د شفقت او رحمت او تخفیف راوستو ملائك دے۔

عمر رضی الله عنه اُوفرمایل : [وَمَا مَنْزِلَتُهُمَا مِنْ رَبِّهِمَا ؟] ددے دواړو مرتبه د الله تعالیٰ په نیز څنګه ده ؟ وے وئیل : یو ئے بنی طرف ته دے او بل ئے ګس طرفته، عمرؓ فرمائی : ما اُووئیل : قسم په الله چه حقدار د بندګئ سوا د هغه نه نشته هغه ذات چه د دے دواړو ترمینځ دے، هغه دشمن دے د هغه چا چه د دوی دواړو سره دشمنی کوی او دوست دے د هغه چا چه دواړو سره دوستی کوی۔ او جبریل علیه السلام له مناسب نهٔ دی چه د میکائیل علیه السلام د دشمن سره دوستی اُوکړی او نهٔ میکائیل علیه السلام له مناسب دی چه د جبریل علیه السلام د دشمن سره دوستی اُوکړی۔ عمر رضی الله عنه فرمائی : زهٔ پاڅیدم او د نبی صلی الله علیه وسلم پسے روان شوم او هغه د خوخه د بنی فلان نه بهر شوے وو، نو ما ته ئے اُوفرمایل :

[یَا ابْنَ الْخَطَّابِ ! اَلَا اُقْرِؤُكَ آیَاتٍ نَزَلْنَ قَبْلُ ؟] اے ابن خطاب ! آیا ته څه آیتونه نهٔ لولم چه اُوس مخکښ ساعت کښ نازل شو۔ نو ما ته ئے دغه آیتونه اُولوستل۔ ما اُووئیل : یارسول الله ! زهٔ راتلم چه خبر درکړم خو لطیف خبیر ذات ما نه مخکښ خبر درکړو۔

[ابن جریر : ۳۸۲/۲]

یهود او باطل پرست په سند اعتراض کوی

نو د دوی د شبهے حاصل دا دے چه دوی په سند اعتراض اُوکړو او دا د دوی ورانے وو، د قرآن کریم کذب او بطلان ئے ثابتولو، نو بیا ددے نبی د نبوت دعویٰ به هم ثابته نهٔ شی۔ او دا دیهود او شیعه ګانو طریقه ده چه د سرې په سند اعتراض کوی په صحابه کرامؓ باندے هم اعتراض کوی چه صحابه کرامؓ بدنام شی نو ټول دین بد نام شو چه جبریل علیه السلام بدنام شو نو ټول دین ختم شو۔

نو معلومیږی چه یهود، د قرآن کریم او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ضد کښ جبریل علیه السلام هم خپل مخالف ګنړی۔ او دا ممکن ده چه د یهودو علماؤ او لیډرانو ته دا خطره لاحقه

شوی وی چه هسے نه د قرآن کریم دعوت زمونږ په عوامو تاثیر اُونکړی نو هغوی خپلو کشرانو کښې دا ډکوسله مشهوره کړه چه محمد (ﷺ) ته خو جبریل علیه السلام راځی او دا زمونږ دیرینه دشمن دے، په مونږ باندے فلانی فلانی آفتونه ددهٔ په لاسونو راغلی دی، پدے وجه مونږ په یو داسے شخص ایمان نشو راوړے چه د هغه زمونږ د مخالف ملائك سره تعلق دے۔ اګرکه د دوی مشرانو ته دا معلومه وه چه ټولو انبیاء علیهم السلام ته وحی جبریل راوړے ده، لکه ورقه بن نوفل وئیلی وو :

دا (جبریل علیه السلام) هغه ناموس (استازے) دے چه وحی ئے په موسیٰ علیه السلام نازل کړے وه۔

او ددے تائید ددے نه هم کیږی چه په حدیث د اسلام د عبد الله بن سلام رضی الله عنه کښې راغلی دی چه کله هغه د نبی ﷺ نه د جبریل علیه السلام نوم واوریدو نو وے وئیل :

(ذَاكَ عَدُوُّ الْيَهُوْدِ مِنَ الْمَلَائِكَةِ) (په ملائکو کښې دا د یهودیانو دشمن دے) یعنی دوی کښې دا خبره مشهوره وه چه جبریل علیه السلام زمونږ دشمن دے۔

او علامه محمد الطاهر بن عاشورؒ لیکی چه د یهودیانو دشمنی د جبریل علیه السلام سره د نزول د قرآن د وخت نه شروع شوے ده۔

او بعض وائی : چه پدے وجه چه دهٔ په پخوانو اقوام مکذبو باندے عذابونه او وعیدونه نازل کړیدی۔ او دا قرطبیؒ د یو حدیث نه نقل کړیدی چه ترمذیؒ راوړیدے۔
[التنویر ۱/۶۰۳]

نو الله رب العزت دا آیتونه راولیږل او یهود ئے پکښې سخت راګیر کړل چه که تاسو په غصه کښې د جبریل علیه السلام مخالف شوی یئ چه هغه دا وحی محمد ﷺ باندے ولے نازله کړه او ستاسو په یو تن ئے ولے نازله نکړه نو دا سوچ اُوکړئ چه ستاسو دا خبره کوم حده پورے صحیح ده !، ددے معنیٰ خو دا شوه چه تاسو به الله تعالیٰ هم خپل مخالف ګنړئ ځکه چه جبریل علیه السلام خو ستاسو د عقیدے مطابق هم د الله تعالیٰ یو ملائك دے، او د الله تعالیٰ قاصد دے، هغه هیڅ کار د الله تعالیٰ د حکم نه بغیر نشی کولے، هغه که چا له وحی راوړی یا په چا عذابونه رالیږی نو د الله په حکم سره نو ضرور دا کار به هم هغوی د الله تعالیٰ په حکم سره کړے وی، نو بیا خو تاسو یواځے د جبریل نه بلکه د الله تعالیٰ هم مخالف شوئ او الله تعالیٰ هم ستاسو مخالف شو۔

او داسے کتاب ئے نازل کړیدے چه هغه د مخکنو کتابونو تصدیق کوی نو کومه خبره

ئے غلطه راوړے ده ؟، لهذا ستاسو دا خيال بكواس دے او په كبر او عناد باندے بِنا دے۔ او د خپل كفر دپاره غلطه بهانه ده۔ نو دا د يهودو حماقت او بے وقوفي وه چه دومره ضد او حسد كښ راغلل چه جبريل عليه السلام ئے هم خپل دشمن اُوګنړلو لكه د روافضو او شيعه ګانو د يوے فرقے هم دا عقيده ده چه قرآن كريم په اصل كښ په علي رضي الله عنه نازليدو ليكن جبريل په غلطئ سره محمد (صلى الله عليه وسلم) ته راوړو، نو دوى پدے ګناه باندے (نعوذ بالله) په جبريل امين عليه السلام باندے لعنت هم كوى۔

نو دا آيتونه دليل دے چه ملائكو سره دشمنى كفر دے۔

تشريح الكلمات

﴿ قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ ﴾ ددے جزاء محذوفه ده (فَقَدْ هَلَكَ) (نو دا تباه شو) يا [فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْإِسْلَامِ] (د اسلام نه اُووتو) يا [فَلْيَخْلَعْ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهٖ] (د اسلام پړے دِے د خپل څټ نه اُوباسى)۔ بيا دِے ځان ته مسلمان نۀ وائى، ځكه دا د الله تعالىٰ د رسول نه منكر دے۔ يا (فَإِنَّهُ عَدُوُّ اللّٰهِ) (د جبريل عليه السلام دشمنى كونكے او مخالف په حقيقت كښ د الله تعالىٰ مخالف دے ځكه چه جبريل عليه السلام خو د الله تعالىٰ په اذن سره دغه مَا اَنْزَلَ الله او قرآن كريم ستا په زړۀ نازل كړيدے۔يا (فَلَايُعَادِهٖ وَلْيُعَادِ اللّٰهَ) (هغه دِے د جبريل عليه السلام سره دشمنى نۀ كوى بلكه الله تعالىٰ سره دِے اُوكړى) ځكه چه دا خو الله تعالىٰ راليږلے دے۔

ابن عاشورؒ وائى : دا تقدير ډير احسن دے ځكه چه روستو د باذن الله سره ښۀ لګى۔ (التنوير)

نو بناء په اول قول به حاصل د جواب دا وى چه هغه د راتلونكو آيتونو نه معلوميږى چه جبريل عليه السلام دا وحى په اذن د الله تعالىٰ سره راوړيده او په وحى (قرآن) كښ ئے تصديق او موافقت دے د مخكنو كتابونو سره او په دے كښ هدايت او بشارت دے او دشمنى د جبريل عليه السلام سبب دے د دشمنئ د الله تعالىٰ او د ټولو رسولانو او ملائكو سره، او سبب دے د كفر، او دا وحى آيات بينات دى او په دے باندے كفر كول كامل فسق دے، او دا اعتراض كونكى لوظونه ماتونكى دى، اوبے ايمانه دى او ددے رسول په راتللو سره دوى خپل كتاب شاته غورزولے دے او د اميانو په شان شويدى او د سحر او منترو تابعدارى ئے شروع كړيده۔

او دلته ئے (فانه نزله) جمله قائمقام د جوابِ شرط كړه، دے دپاره چه دا ښكاره كړى چه

د جبریل علیه السلام سره د دشمنئ هیڅ وجه نشته ځکه دا خو یوه واسطه ده په نازلولو د قرآن کښ رسول الله ﷺ ته نو د دوی دشمنی اصل کښ د الله تعالیٰ سره ده۔

فائده : من کان عدوا الخ دا عام شرط دے او مراد پدے سره خاص یهودیان دی، عام لفظ ئے ځکه راوړو چه دوی ته پته اُولګی چه الله تعالیٰ په دوی باندے هیڅ باك نکوی او نۀ د دوی نه علاوه په بل چا باندے چه هغه د جبریل علیه السلام دشمنی کوی۔ یعنی جبریل علیه السلام الله تعالیٰ ته دومره قریب دے چه ددۀ دشمنی هرڅوك کوی که دا یهود دی او که نور خلق دی نو هغوی باندے الله تعالیٰ هیڅ باك نکوی بلکه الله تعالیٰ به هم د هغوی سره دشمنی کوی۔

عَدُوّ : مُبغض (بغض کونکی) ته وئیلے شی۔ د عَدَا یَعْدُو نه دے په اصل کښ توپ وهلو ته وئیلے شی، ځکه چه بغض کونکے هم په مبغوض باندے ورتوپ کوی دے دپاره چه انتقام ترے واخلی۔ (التنویر)

لِجِبْرِیْلَ : عبرانی نوم دے د هغه ملائك چه الله تعالیٰ ئے په وحی رالیږی خپلو رسولانو ته۔ د دوه کلمو نه مرکب دے جبر او ایل۔

جمهور علماء وائی : دا د عبرانئ نه نقل شویدے په معنیٰ د عبد (بنده) سره او ایل الله ته وئیلے شی۔ (یعنی عبد الله) د الله تعالیٰ بنده۔

(۲) (وَالتَّحْقِیْقُ اَنَّهَا فِی الْعِبْرَانِیَّةِ بِمَعْنَی الْقُوَّةِ) (تحقیق دا دے چه دا په عبرانئ ژبه کښ په معنیٰ د قوت سره دے او ایل معنیٰ الله۔ یعنی قوة الله۔

او جمهور علماء فرمائی : ایل په عبرانی کښ د الله تعالیٰ نوم دے۔ لکه امام بخاریؒ د عکرمهؒ نه نقل کړیدی : چه جبر، میکا، اسراف، په معنیٰ د عبد سره او ایل په معنیٰ د الله تعالیٰ سره دے۔

لیکن ابوعلی الفارسیؒ د جمهورو خلاف کړیدے او وئیلی ئے دی چه جبر معنیٰ الله او ایل معنیٰ عبد او په عجمی ژبه کښ مضاف الیه مخکښ راوړلے کیږی په مضاف باندے لیکن دا قول د عبرانئ د ماهرین لغت په نزد خطاء دے۔ (التنویر)

تفسیر قرطبیؒ لیکلی دی : چه جبر په معنیٰ د عَبْد (بنده) سره دے او میکا په معنیٰ د عُبَیْد (الله) سره دے۔

فائده : الله تعالیٰ ته بل نوم کیخودل څرنګ دی لکه خدا یا کاډ وغیره نو ددے تشریح

بـه سورة اعراف کښې راشي ان شاء الله تعالیٰ او زمونږ رساله «د لفظ خدا شرعي حیثیت» اُوګوره. دارنګه الدین الخالص (۲/۷).

نَزَّلَهُ : (ه) ضمیر راجع دے قرآن او وحي ته کوم چه مخکښې په وَاِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ کښې ذکر شویدے.

عَلٰى قَلْبِكَ : کښې اشاره ده چه محل د وحي زړه او عقل دے او کوم علم چه په زړه کښې وي هغه پوخ وي، او اشاره ده چه قرآن کریم د زړه کتاب دے او پدے باندے زړه خوزول او زړه ته کوزول پکار دي، هسے په خوله باندے وئیل دومره ډیر اثر نۀ لري.

او اشاره ده چه د ټولو انبیاؤ علیهم السلام د وحي محل زړۀ وي او د هغوي سترګے اُودے کیږي لیکن زړۀ ئے نۀ اُوده کیږي او ددے وجه نه د هغوي خوب لیدل هم وحي وي.

بِاِذْنِ اللّٰهِ : **فائده** : اذن د الله تعالیٰ په دوه قسمه دے (۱) اذن شرعي (۲) اذن کوني تقدیري. اذن شرعي دیته وائي چه الله تعالیٰ امر اُوکړي چه داسے اُوکړئ او زما اجازه ده. او دا متعلق کیږي د هغه کارونو پورے چه شریعت پرے وارد وي او الله تعالیٰ پرے رضا وي. او عبادت وي. لکه (قُلْ ءَاللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُونَ) (یونس : ۵۹) یا (اَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّيْنِ مَا لَمْ يَاْذَنْ بِهِ اللّٰهُ) (الشوریٰ : ۲۱) او اذن کوني دیته وائي چه الله تعالیٰ د یو شي اجازه ورکړي تقدیراً او کوناً چه دا به داسے کیږي، که شرعاً اجازه ورکوي او که نۀ ؟. نو اذن کوني متعلق کیږي د خلق او تکوین (پیدا کولو د یو شي پورے) نو په کوم شي چه الله تعالیٰ اذن کړے وي نو د هغے واقع کیدل به ضروري وي او خامخا به کیږي. تخلف پکښې راتلل ناممکن دي. لکه په (مَنْ ذَا الَّذِيْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ) (البقره : ۲۵۵) یا (وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ) (البقره : ۱۰۲) کښې همدا مراد دے.

فرق د دواړو دا شو چه (۱) ماذون به شرعاً (کوم شي کښې چه شرعاً اجازت راغلے وي) هغه به کله واقع کیږي او کله نه، او مأذون به قدراً به خامخا واقع کیږي.

(۲) دارنګه بل طرف نه واخله چه مأذون به شرعاً به الله تعالیٰ ته ضرور محبوب وي او مأذون به قدراً به کله محبوب وي او کله به غیر محبوب وي. (تفسیر العثیمین)

او پدے مقام کښې دواړه قسمه د اذن مراد کیدے شي. چه الله تعالیٰ جبریل علیه السلام ته

اجازه هم ورکړې وه چه دا وحی یوسه او بیا پرې رضا هم وو۔ او توفیق ئې هم ورکړو چه پیغمبر ته ئې راورسولو۔

﴿ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ﴾ مصدقاً حال دې د ضمير د (نَزَّلَهُ) نه او مطلب دا دې چه دغه قرآن چه سبب د عداوت د يهوديانو دې دا خو جبريل الطَّيْلاً په داسې حال کښې نازل کړيدې چه تصديق کونکې دې د مخکنو کتابونو چه تورات او انجيل دی او دا خوسبب د دشمنئ د جبريل نۀ جوړيږی۔ ځکه که قرآن کريم تصديق د مخکنو کتابونو نۀ کولې نو د دوی اعتراض صحيح وو چه دا جبريل راوړيدې او هغه زمونږ دشمن ځکه دې چه زمونږ د کتابونو ترديد ئې پکښې کړيدې نو هرکله چه دا کتاب (قرآن) د مخکنو کتابونو ترديد نکوی بلکه صفت ئې کوی لکه سورة المائده (٤٨) کښې راغلی دی چه تورات او انجيل هدايت او نور وو۔ نو بيا څنګه دا خلق د جبريل الطَّيْلاً سره دشمنی کوی؟ هغه خو څه بد کتاب نۀ دې نازل کړې چه دوی پرې اعتراض اُوکړی۔

او پدې کښې اشاره ده چه ددې کتاب نه انکار کول دا انکار دې د خپلو کتابونو نه۔ ځکه انکار د مصدِّق (تصديق کونکی) نه دا انکار وی د مُصدَّق (تصديق کړې شوی) نه۔ نو د دوی دا دعویٰ باطله شوه چه وائی مونږ په خپل کتاب ايمان لرو ځکه چه که دوی په خپل کتاب ايمان لرلې نو دا قرآن به ئې اوله درجه کښې منلې، ځکه چه په مخکنو کتابونو کښې ددې قرآن د راتلو تذکره شويده نو ددې نازليدل تصديق د هغه خبر دې چه د دوی په کتاب کښې وو۔ دارنګه ددې کتاب مضمون د مخکنو کتابونو سره موافق دې۔

فائده : مُصَدقاً وئيلو سره دفع د يو وهم اُوشوه هغه دا چه کله خو راويان د يو سند معتمد وی ليکن په متن (اصل) د حديث کښې نقصان وی، ددې وجه نه محدثينو وئيلی دی چه صحت د سند مستلزم نۀ دې صحت د متن لره، نو کيدې شی چه جبريل الطَّيْلاً به صحيح وی ليکن قرآن کښې به څه نقصانات وی (العياذ بالله) ؟

نو د هغې جواب اُوشو چه قرآن کريم کښې هيڅ عيب نشته۔ بلکه ددې درې صفات دی۔ اول مُصدّق او دويم هُدی او دريم بُشریٰ۔ يعنی دا داسې ښه کتاب دې چه تصديق د مخکنو کتابونو کوی، او هدايت پکښې پروت دې، بې دليله او د ګمراهئ خبرې پکښې نشته، ددې کمال ته اُوګوره او زيرې دې په نتيجه کښې د ايمان والو دپاره۔

بُشْرىٰ مصدر په معنىٰ د اسم فاعل دے يعنى مُبَشِّراً يعنى خوشحالى وركونكے دے يعنى مؤمن په هر وخت كښ ددے په آوريدو سره په زړه كښ خوشحالى او اطمينان محسوس كوى او ظاهرى مخ كښ ئے هم آثار د خوشحالئ ښكاره كيږى، او په مؤمن باندے هيڅ قسم بوج كيږى نۀ۔ او دارنګه ايمان والو ته وخت په وخت زيرے وركوى۔ چه تۀ په هدايت ئے، ته كمال والا ئے او الله تعالىٰ تا نه راضى دے۔او دا زيرے وركوى چه دوى ته به الله تعالىٰ د دنيا او د آخرت خير وركوى۔ نو داسے كتاب چرته خطاء او غلط كيدے شى۔ نو كه دا چرته غلط شخص راوړے وے نو دومره كمال به پكښ وو څه ؟۔

وَهُدًى وَبُشْرىٰ لِلْمُؤْمِنِيْنَ) لِلْمُؤْمِنِيْنَ د دواړو سره متعلق دے يعنى قرآن كريم عامو خلقو ته هم هدايت او بشارت وركوى ليكن فائده ترے مؤمنان اخلى ځكه ئے دا ذكر كړل۔ او بشارت معنىٰ دا هم ده چه مؤمن سړے د قرآن په نازليدو باندے ډير خوشحاله وى چه ښۀ دے چه الله تعالىٰ يو داسے كتاب راوليږلو چه په هغے كښ د دين او د دنيا كاميابى ده او د مالك حقيقى سره د مؤمن تعلق پرے قائميږى او دا واقعى خبره ده كه دا كتاب نۀ وے نو امت به په كومو كندو د ګمراهئ او خرافاتو كښ مبتلا وے، لږ سوچ ددے په نازليدو اُوكړه تا باندے به حقيقت راكولاؤ شى۔

يا د هُدىٰ معنىٰ دا ده چه هدايت دے د ټولو خلقو دپاره نو دا ثمره او فائده د قرآن شوه۔ او بشرىٰ عاقبت او نتيجه د قرآن ده چه ايمان والا پرے كله ايمان راوړى نو هغوى ته زيرے وركوى۔

فائده : (۱) دلته مؤمنين لفظ راوړو، سورة النحل كښ (وَبُشْرىٰ لِلْمُسْلِمِيْنَ) وئيلے دے، يا خو تفنن دے۔ (۲) دلته موضوع د ايمان ده، هلته د شرك پريخودلو او تسليميدو ده۔

فائده : پدے آيت كښ د قرآن كريم پنځه صفات حاصل شو (۱) دا منزل من عند الله دے د الله په اذن۔ (۲) مُنَزَّلٌ عَلىٰ قَلْبِ الرَّسُوْلِ (د پيغمبر په زړه نازل) دے (۳) مصدق د مخكنو كتابونو دے۔ (٤) هَادىً دے په كمال هدايت سره۔

(٥) زيرے وركونكے دے ايمان والو ته۔ نو پدے كښ كرم الاصل او كرم المقر او كرم الفئة ذكر شو يعنى اصل ئے د الله تعالىٰ نه دے او هغه هم كريم دے او مقر (ځائے د اُوسيدو) ئے د نبى ﷺ زړه دے او هغه هم كريم دے۔ او ډله ئے هم معلومه شوه چه د

مخکنو کتابونو په شان دے او د هغوی مصدق دے او هغه خو کریم کتابونه وو نو دا هم کریم دے۔

دارنګه دا قرآن خیر ورکونکے دے خپلو غوره اتباعو ته په جلتئ سره په دنیا کښ او دوی سره د غوره عاقبت او انجام وعده کوی۔ او دا خصلتونه د یو کریم انسان وی چه اصل، کور او قوم ئے معلوم وی او بیا په فائدو ورکولو کښے سخی وی او وعده هم کوی۔ (التنویر)

اُوس خبره عامه کوی:

مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ
څوك چه وی دشمن د الله تعالىٰ او د ملائکو د هغهٔ او د رسولانو د هغهٔ (هر يو چه وی)
وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۹۸﴾
او د جبریل او میکائیل (علیهما السلام)، پس یقیناً الله تعالىٰ دشمن د کافرانو دے۔

تفسیر: په دے آیت کښے بل رد دے په هغوی باندے چه د جبریل علیه السلام سره دشمنی کول دا د الله تعالىٰ او د ټولو ملائکو او رسولانو سره دشمنی ده ځکه د جبریل علیه السلام سره د هغوی دشمنی د هغه حق په وجه ده چه هغه د الله تعالىٰ د طرف نه په ټولو رسولانو نازل کړیدے۔ او د جبریل علیه السلام سره دشمنی دا بعینهٖ د میکائیل علیه السلام سره هم دشمنی ده ځکه چه ملائك د یو بل نه جدا جدا نهٔ دی۔

امام بخاریؒ د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړیدے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل: الله تعالىٰ فرمائی: [مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ] [بخاری: ٦٥٠٢]

(څوك چه زما د کوم دوست سره دشمنی کوی، زهٔ هغهٔ ته د جنګ خبر ورکوم) او د چا دشمن چه الله تعالىٰ شی نو د هغه دنیا او آخرت برباد شو، پدے وجه الله تعالىٰ د جبرئیل علیه السلام د دشمنانو په خلاف پدے آیت کښ د خپل غضب اظهار کړیدے۔ او دده سره دشمنئ ته ئے کفر وئیلے دے۔

مِيْكَال: پدے کښ لغات دی: (۱) میکائیل: دا د جمهورو قراءت دے۔

(۲) ميكائِل۔ بغير د ياء نه او دا د نافع قراء ت دے۔
(۳) او ميكال بغير د همزه او ياء نه او دا قراء ت د حجازين او حفص دے۔
وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكَالَ : د جبرئيل او ميكائيل (عليهما السلام) تخصيص ئے اُوكړو سره ددے نه چه دا په ملائكو كښې داخل دى : (۱) وجه دا ده چه بحث د دوى په باره كښې شروع وو۔ او ميكائيل ئے ورسره يو ځائے كړو پدے كښې اشاره چه د جبريل عليه السلام مخالف لكه څنګه چه د الله تعالىٰ او د هغه د ټولو انبياء او رسولانو مخالف دے نو دغه شان د ميكائيل هم مخالف دے ځكه چه د تمام ملائكو او تمامو رسولانو ملت يو دے، د دوى ترمينځ څه رقابت نشته۔ چه د يو سره د چا دشمنى وى نو بل سره دِے ئے دوستانه وى۔
(۲) پدے كښې اشاره ده شرافت او فضيلت د دواړو ته په نورو ملائكو باندے۔
(۳) جبريل روح الله او امين د الله تعالىٰ دے په وحى باندے۔ او ميكائيل امين دے په خزانو د فتح او د رحمت۔ (بدائع التفسير لابن القيمؒ)
جبرئيل عليه السلام د وحى ملائك دے او ميكائيل عليه السلام په اَرزَاقو(رزقونو) او بارانونو باندے مقرر دے۔ نو ددے (مَنْ كَانَ) جزاء پټه ده : (فَهُوَ كَافِرٌ) دا كافر دے۔
﴿ فَإِنَّ اللهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِيْنَ ﴾ او د الله دشمنئ ته بيا د چا د پلار هم نشى ټينګيدے۔
فائده : د الله تعالىٰ سره د عداوت صورتونه دا دى (۱) (اَلْاِشْرَاكُ بِهٖ) (د هغه سره شريكان جوړول۔ (۲) (سُوْءُ الْاَدَب)(د الله تعالىٰ او د هغه د كتابونو بے ادبى او انكار كول) (وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ اِذْ قَالُوْا مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِنْ شَيْءٍ) (الانعام : ۹۱)
(۳) د الله تعالىٰ د اَولياؤ سره عداوت كول۔ لكه حديث تير شو (مَنْ عَادٰى لِىْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ) (بخارى: ٦٥٠٢) ۔
(٤) مخالفت د الله تعالىٰ د احكامو نه، لكه سود او رشوتونه خوړول۔ سود خورو ته الله تعالىٰ فرمايلى دى : (فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ) (البقره :۲۷۹)
د ملائكو د عداوت صورتونه : (۱) د هغوى نه انكار كول۔
(۲) د هغوى سره كينه ساتل۔ (۳) هغوى ته كنځل او بد رد او بد نسبتونه كول۔ هغوى ته بنات الله (د الله تعالىٰ لونړه) وئيل۔ (٤) د ملائكو عبادتونه كول او هغوى كښے د اُلوهيت صفات ګڼړل۔
د رسولانو د عداوت صورتونه : (۱) د هغوى تكذيب كول (۲) په هغوى كفر كول۔

(۳) د هغوی د طریقو نه انکار کول۔ (٤) د هغوی د قتل ارادے کول۔ لکه یهودیانو چه څنګه کړے وے۔ (٥) د هغوی د راوړی کتابونو او شریعت نه انکار کول۔
(٦) رسولان خپل دشمنان ګنړل، او د هغوی پرے مسخرے او استهزاء کول۔
(۷) او رسولان د خپلو مرتبو نه پورته کول، د الله تعالیٰ مرتبے ته رَسَول، او هغوی ته د اُلوهیت صفات ورکول۔

په مخکنو دوه آیتونو کښې بعض فوائد

(۱) قرآن کریم بشریٰ (زیرے) دے ایمان والو دپاره او ددے علامه دا ده چه ته به ترے فائده اخلے نو کله چه تا خپل ځان اُولیدو چه فائده د قرآن نه اخلے، د هغے په لوستلو او زده کولو حرص کوے نو دا دلیل دے ستا د ایمان نو بس زیرے به درته رسیږی۔ او کله چه یو انسان قرآن بد اُوګنړی یا پرے عمل بد اُوګنړی یا د هغے په عملی کولو کښې دروند والے محسوس کړی نو دا ډِیے پوهه شی چه ددهٔ نه ایمان ختم شویدے۔
(۲) څوک چه د الله تعالیٰ سره دشمنی لری نو دا کافر دے۔ (فَإِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ)۔
(۳) آیت نه خو معلومه شوه چه د ملائکو، او رسولانو سره دشمنی کول د الله تعالیٰ سره دشمنی ده۔ ځکه چه دا د الله تعالیٰ اَستازی دی۔ خو څوک چه د ایمان والو سره دشمنی لری نو آیا دا به د الله تعالیٰ دشمن وی او که نهٔ ؟ نو ددے نه آیت ساکت دے۔ خو د دین د اصولو نه داسے معلومیږی چه که پدے وجه ورسره دشمنی کوی چه دوی د رسولانو شریعت راتینګ کړیدے نو ظاهره دا ده چه الله تعالیٰ د دوی هم دشمن دے۔ ځکه دا اصل کښې د رسولانو او د شریعت سره دشمنی ده۔ او حدیث نه معلومیږی چه دا هم د الله تعالیٰ دشمنان دی۔ (مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ) لکه مخکښے په صورتونو د عداوت د الله تعالیٰ کښې بیان شو۔
(٤) د الله تعالیٰ دپاره صفت د عداوت شته او دا د الله تعالیٰ صفت فعلی دے چه الله تعالیٰ دوستی او دشمنی کوی۔ او په خپل حقیقت باندے حمل دے۔
(٥) د اهل حقو نه دفاع پکار ده۔
(٦) پدے کښې تعریض دے چه یهود د الله تعالیٰ دشمنان دی۔
اُوس ترغیب قرآن ته ورکوی او د هغه چا بدی بیانوی چه د الله دا آیتونه نهٔ منی :

وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ اٰيٰتٍ ۢ بَيِّنٰتٍ ۚ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ
او یقیناً نازل کړیدی مونږ تا ته آیتونه ښکاره (مضمون والا) او انکار نۀ کوی ددے نه
اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ ﴿۹۹﴾
مګر هغه کسان چه ډیر فاسقان (نافرمان) دی۔

تفسیر : په دے آیت کښ دغه یهودو ته زورنه او توبیخ دے چه د جبریل ؑ په واسطه خو واضح آیتونه نازل شویدی نو چه دا خلق ښکاره آیتونو ته فکر نۀ کوی او صرف په عذر د دشمنئ باندے د جبرئیل ؑ سره د قرآن نه انکار کوی نو دا ډیر سرکشه خلق دے۔

(أ) دایو مناسبة هم شو۔ (ب) بل دا چه د یهودو خبائث شروع دی نو دلته بل خباثت ذکر کیږی۔

شان نزول : حافظ ابن کثیرؒ او ابن جریرؒ د محمد بن اسحاقؒ نه روایت راوړیدے چه ابن عباس ؓ فرمایلی دی : ابن صوریا فطیونی رسول الله ﷺ ته اُووئیل :

[يَا مُحَمَّدُ ! مَا جِئْتَنَا بِشَيْءٍ نَعْرِفُهُ وَمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ مِنْ آيَةٍ بَيِّنَةٍ فَنَتَّبِعُكَ، فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالىٰ فِيْ ذٰلِكَ مِنْ قَوْلِهٖ وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا الخ] (اے محمد (ﷺ) تا مونږ ته داسے څه رانۀ وړل چه مونږ ئے اُوپیژنو او الله تعالیٰ په تا باندے څه واضحه نښه نۀ ده نازله کړے چه مونږ ستا تابعداری اُوکړو نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو۔) چه واضحه آیتونه نازل شویدی لیکن چا کښ چه کفروی نو هغوی واضح دلیل ته واضح نۀ وائی۔ او مطالبه د واضح کوی۔

(۱) د آیات بینات) نه مراد د قرآن کریم هغه آیتونه دی چه په هغے کښ الله تعالیٰ د یهودو پټ علوم او اسرار، د بنی اسرائیلو د پلارانو نیکونو خبرونه او د تورات او د هغوی د نورو آسمانی کتابونو هغه خبرے بیان کړیدی چه د هغوی د علماؤ نه علاوه بل هیچا ته نۀ وے معلومے او هغه قدیم او جدید یهودیانو بدل کړی وے، نو ددے آیتونو د اَوریدو نه بعد خو پکار دا وو چه هغوی په رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړے وے کوم چه د هیڅ انسان نه د زدۀ کړے نه بغیر د هغه خبرو اطلاع ورکړه لیکن هغوی ددے

نعمت نه د سرکشئ او د دشمنئ او د بد نصیبئ د وجه نه محروم پاتے شو۔

د قرآن کریم آیتونو ته آیات بینات ولے وائی؟ وجه دا ده چه دا (وَاضِحَاتُ الْمَعَانِي، ظَاهِرَةُ الدَّلَالَاتِ وَظَاهِرَةُ الْإِعْجَازِ) (معانی او مقاصد ئے هم واضح وی او دلالتونه ئے هم واضح وی او اعجاز ئے هم واضح وی)۔

(۲) دارنګه آیات بینات نه مراد د نبی ﷺ د نبوت او رسالت هغه واضح او قطعی دلیلونه دی چه په نبی ﷺ باندے نازل شویدی، برابره ده که هغه د قرآن کریم د مدلل بیاناتو په صورت کښے وی او که د هغه کارنامو، علامات، او شواهد او معجزاتو په شکل کښ وی کوم چه د هغه نه ښکاره شویدی۔

نو فرمائی : چه دا څیزونه دومره واضحه دی چه که چا کښ معمولی شان عقل وی نو هغه ددے نه انکار نشی کولے، مګر صرف هغه خلق انکار کوی چه نافرمان او سرکشان وی۔ نو معنیٰ به دا وی (وَلَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ عَلٰى صِدْقِ نُبُوَّتِكَ) (مونږ ډیر واضح دلائل او معجزات ستا د نبوت په رشتینوالی نازل کړیدی)

﴿ وَمَا يَكْفُرُ بِهَا إِلَّا الْفَاسِقُوْنَ ﴾ دا یهود او نصاریٰ او مشرکان ډیر سرکشه شوی دی څکه ئے نهٔ منی ګنے دا واضح آیتونه دی۔ د فسق تشریح مخکښ ذکر شویده۔ دلته د فاسق نه مراد الفاسق فی الکفر دے (اَيِ الْمُتَمَرِّدُ فِي الْكُفْرِ) (یعنی په کفر کښ سرکشه) او عام ګناهګار نهٔ دے مراد څکه ګناهګار خو د الله تعالیٰ قرآن منی۔ دلته ئے مصداق یهود دی۔

فسق نافرمانئ ته وئیلے شی او دا وړے ګناه ته هم وئیلے شی او غټے ته هم او کفر ته هم، په قرآن کریم کښ د غټو نافرمانیانو دپاره هم استعمال شویدے۔

ددے وجه نه حسن بصریؒ نه نقل دی چه فسق چه کله مستعمل شی په هره نوعه د ګناهونو کښ نو د هغے نوعے لوئی قسم پکښ مراد وی یعنی کله چه د مسلمانانو په معاصیو کښ فسق ذکر شی نو مراد ددے نه کبیره ګناهونه وی او چه په کفر کښ ذکر شی نو مراد ددے نه آخری درجه د کفر وی چه تجاوز ئے کړے وی په حالت د کفر کښ د حد نه یعنی ضدی او عنادی او سرکشی کونکے په کفر کښ او داسے شخص د الله تعالیٰ د طاعت نه پوره وتلے وی۔ اعلیٰ درجه فاسق وی۔ (تفسیر النیسابوری)

او دلته همدا معنیٰ مراد ده۔ یعنی دوی په کفر کښ د حد نه وتلی دی نو څکه دا

واضحه معجزات او دلائل هم ورته هیڅ نهٔ ښکاري۔
بیا دلته دا **سوال** نهٔ پیدا کیږی چه فاسق خو کبیره ګناه والا ته هم وائی۔ نو ډیر فاسقان شته او په آیتونو باندے کفر نکوی۔ ؟
(۱) **جواب** دا دے چه دلته فسق په اعلیٰ درجه کښ استعمال دے۔ یعنی اعلیٰ درجه فاسق کفر کوی چه هغه کافر دے۔ او دلیل پدے باندے دا دے چه اول کښیے ئے (وَمَا يَكْفُرُ بِهَا) اُووئیلو نو دے نه معلومه شوه چه د فسق نه مراد دلته اعلیٰ درجه فسق دے چه هغه مرادف د کفر دے۔ (۲) دویم د سیاق نه معلومیږی چه آیتونه د یهودو په باره کښیے دی او هغوی په قرآن کریم باندے کفر کولو۔

فوائد الآية :

(۱) – اَنْزَلْنَا کښ انزال وئیلے شی د بره نه یو شے راخکته کول نو دا کلام (قرآن) د الله تعالیٰ کلام دے او الله تعالیٰ بره دے۔ پدے کښ معتزله او باطل پرست داسے معنیٰ کوی چه انزال خو صفت د جسم دے نو دا د الله تعالیٰ د کلام دپاره نهٔ استعمالیږی لیکن هرکله چه جبریل ﷺ د بره نه خکته راکوز شو او خلقو ته ئے ددے خبر ورکړو نو دیته ئے انزال اُووئیلو۔ (تفسیر رازی) مطلب ئے دا دے چه الله تعالیٰ بره نهٔ دے، بلکه د جبریل راکوزیدو د وجه نه ئے د انزال لفظ استعمال کړیدے حال دا چه دا خبره خطاء ده بلکه الله تعالیٰ د عرش دپاسه دے او خپل کلام ئے د جبریل ﷺ په واسطه زمکے ته راکوز کړیدے حقیقةً۔
(۲) قرآن کریم وحی ده د الله تعالیٰ د طرف نه ۔ (۳) پدے کښ عظمت د قرآن معلوم شو چه الله تعالیٰ ددے د انزال نسبت خپل ځان ته اُوکړو۔ او دیته ئے آیت اُووئیلو۔
(٤) د الله تعالیٰ علو ترے معلومه شوه۔
(٥) د قرآن کریم صفت دا دے چه دا آیات بینات (واضحه آیتونه) دی۔ نو ددے منافات نشته ددے آیت سره (مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ) (آل عمران : ۳) ځکه ددے تشابه نه مراد دا دے چه په بعض خلقو متشابه دی، نهٔ په ټولو۔ دارنګه دغه متشابهات به محکمات ته واپس کړے شی نو دا هم واضح شو۔ لکه همدغه آیت کښ ذکر دی۔
(٦) په قرآن کریم باندے کفر نهٔ کوی مګر فاسق۔ (۷) چا چه په قرآن کفر اُوکړو نو دا به

غټ فاسق وی۔
(۸) د فاسق اطلاق په کافر باندے هم کیږی لهذا فسق دوه قسمه شو (۱) فسق اکبر (یعنی کفر چه مخرج عن الملة وی)۔ (۲) فسق اصغر یعنی عام گناهونه چه دا مُخْرِج عن الملة والایمان نهٔ دے لیکن د عدالت سره منافی دے۔

اَوَ كُلَّمَا عٰهَدُوْا عَهْدًا نَّبَذَهٗ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ ؕ
آیا او هرکله چه دوی لوظ اُوکړی یو لوظ نو ماتوی هغه یوه ډله د دوئ نه،
بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰۰﴾
بلکه اکثر د دوی نه ایمان نهٔ راوړی۔

تفسیر : اُوس د دوی بل مرض د لوظ ماتول ذکر کوی او پدے باندے زجر ورکوی۔ او پدے کښې اظهار د تعجب دے د دوی په خبیث عادت باندے چه کله هم دوی د الله تعالیٰ سره کوم عهد او لوظ کړیدے نو هغه ئے مات کړیدے او یو قسم تسلی ده رسول الله ﷺ ته چه که دوی د قرآن کریم د آیتونو نه انکار کوی نو دا د څه تعجب خبره نهٔ ده ځکه دا خو د دوی او د دوی د مشرانو زوړ عادت پاتے شویدے چه همیشه د الله تعالیٰ د نخو نه انکار کولو سره راروان دی۔ نو وائی چه دا هغه جماعت دے چه گډوډ خواهشات لری او په یوه رأیه او په یو لوظ مضبوط نهٔ دی۔ خپل مینځ کښې بعضْ د بعضو د عهد او د لوظ پابند او محافظین نهٔ دی که دوی یو مضبوط لوظ اُوکړی نو په دوی کښې یوه ډله پیدا شی هغه ئے مات کړی او د هغه نورو مخالفت اُوکړی۔
عَاهَدُوْا عَهْدًا : ددے نه کوم عهود او لوظونه مراد دی ؟ (۱) عَهْدُ اللّٰهِ تَحْتَ الْجَبَلِ۔ (د الله تعالیٰ سره ئے د طور د پورته کولو په وخت لوظ اُوکړو چه سمعنا (مونږ به د تورات پابندی کوو) لیکن بیا ئے اُونکړه۔ (عَصَيْنَا) دغه شان پدے سورت کښې نور ذکر شوی لوظونه او اوامر۔ (۲) (عَهْدُهُمْ مَعَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ بَعْدُ) (ددے نه روستو دوی د انبیاؤ سره لوظونه کړی وو) هغه ئے هم مات کړل۔ (۳) (عَهْدُهُمْ أَخِيرًا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ) (په آخره کښې ئے د نبی ﷺ سره لوظونه کړی وو کله چه هغه مدینے ته راغلو نو ټولو یهودو (بنو

قينقاع، قريظه او بني النضير) سره ئے لوظونه اُوکړل چه يو بل سره به قتال نۀ کوو۔ او د مشرکانو ملګرتيا به نۀ کوو ليکن دوی هغه ټول مات کړل۔ (في ظلال القرآن ١ /٦٦)
(٤) الله تعالىٰ د دوی نه لوظ اخستے وو چه ايمان به په آخري رسول راوړئ نو دوی ترے انکار شروع کړو۔ (٥) هر قسم لوظ اګرکه خپل مينځ کښې وی د هغے هم پابند نۀ دی۔ نو بس لوظ ماتول د دوی فطرت ثاني جوړ شويدے۔
(٦) دارنګه دوی خپل مينځ کښې دا عهد کړے وو چه که محمد (ﷺ) مبعوث شو نو مونږ به د مشرکين عرب په مقابله کښې د هغه ملګری کيږو ليکن کله چه راغلو نو بيا ئے ترے انکار اُوکړو
نَبَذَهُ : (نَبْذ) (طَرْحُ الشَّيْءِ عَلٰى سَبِيْلِ النَّفْرَةِ) (په اصل کښې غورزول د يو شي دی په طريقه د نفرت سره) کله په معنیٰ د مطلق پريخودلو سره راځي۔
علامه ابن عاشورؒ فرمائي : نبذ وئيلے شي يو شے د لاس نه ګوزارولو ته او دا دلته استعاره شويدے د پاره د نقض العهد يعنی عهد ماتول او وفاء نۀ کول ئے مشابه کړيدی د غورزولو د هغه شي سره چه هغه په لاس کښې نيولے شوے وو۔
فَرِيْقٌ مِنْهُمْ : دا اشاره ده چه ټولو عهدونه نۀ دی مات کړی بلکه بعضو پکښې په عهد باندے وفاء کړيده لکه عبد الله بن سلام ؓ وغيره۔
﴿بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَايُؤْمِنُوْنَ﴾ دلته الله تعالىٰ ترقي کوی په نبذ کښې او هغه داسے چه اول ئے نسبت د ذم او د لوظ ماتولو فريق ته اُوکړو دے د پاره چه بعض ايمان والا ترے اُوباسی او هغوی ته دا ذم شامل نۀ شي۔ نو بيا دا وهم راتلو چه دغه لوظ ماتونکی به کم کسان وی نو په بل اکثرهم سره ئے دا وهم دفع کړو چه دا ډير کسان دی۔ لهذا اکثرهم او دغه فريق دواړه يو شے دے۔ يعني دغه لوظ ماتونکے فريق ډير کسان دی او ايمان هم نۀ راوړی، لهذا دا (بل) به د اضراب دپاره وی د يو وصف نه بل وصف ته يعنی د وصف د نقض العهد نه انتقال دے عدم ايمان د دوی ته۔ ځکه حقيقي مؤمن ضرور د لوظ پابند وی۔
(٢) دويم دا چه (نَبَذَهٗ فَرِيْقٌ) او (بَلْ أَكْثَرُهُمْ) کښے دوه قسمه خلق او دوه قسمه لوظ ماتولو ته اشاره ده نو يوه ډله لوظ ماتوی ظاهراً او اکثر پکښې هغه خلق دی چه باطناً لوظ ماتوی اګرکه ظاهراً هسے په لوظ پابند وی خو حقيقت کښې هغوی هم لوظ

ماتوی۔

(۳) یا پدے کښې دوه قسمه خلقو ته اشاره ده اول هغه دی چه عهد ئې منلے دے خو روستو ئې مات کړیدے۔ دا یو فریق دے۔ او بل قسم هغه دی چه د سره نه عهد هم نهٔ منی او دا اکثر خلق دی چه انکار کوی د عهد نه په ضد او عناد او په تحریف سره په عهودو د تورات کښې۔

(٤) یا اشاره ده چه څه کسان لوظونه د خلقو ماتوی او اکثر د الله تعالیٰ ماتوی، لایؤمنون دی۔

فائده : اهل کتابو کښې څلور قسمه ډلے وے (۱) بعض هغه خلق وو چه په تورات ئې ایمان راوړے وو او د هغے حقوق ئې پوره اداء کول لکه مؤمنان اهل کتاب۔ او دا کم خلق وو چه (بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ) پرے دلیل دے۔ (۲) دویم هغه خلق وو چه ښکاره طریقے سره ئې د الله تعالیٰ لوظونه مات کړی وو، او سرکشان وو۔دا ذکر دی په (نبذ فریق) سره۔

(۳) یوه هغه فرقه وه چه دا لوظونه ئې خو ښکاره نهٔ وو مات کړی لیکن دوی دا لوظونه د جهالت د وجه نه پریخی وو، دا پکښې اکثر خلق وو۔

(٤) څلورم هغه فرقه وه چه ظاهره کښې ئې خو پرے تمسك کړے وو لیکن په پټه ئې ګوزار کړی وو، ښه پو هیدل لیکن د عناد او د حسد وجه نه ئې مات کړل او دا متجاهلین دی (چه ځانونه ئې قصداً جاهلان کړیدی) (تفسیر ابی السعود، والبیضاوی وروح المعانی)۔

فائده ۲ : دا آیت دلیل دے چه کفارو نه هم مطالبه د اعمالو کولے شی دلته ترے الله تعالیٰ د لوظ د پابندئ مطالبه کوی او په عدم وفاء باندے ورته زورنه ورکوی۔

فوائد الآیة :

۱- د یهود او نصاراؤ په لوظ باندے دوهوکه کیدل نهٔ دی پکار ځکه دوی چه هرکله لوظ اُوکړی نو ماتوی ئې، د یهود او نصاراؤ اُوس وخت کښې هم دا طریقه ده چه د مسلمانانو سره لوظ اُوکړی چه دومره پیسے به درکړو او ستاسو حفاظت به کوو او ستاسو ملك به برابر کړو خو هیڅ کله ئې نهٔ پوره کوی، مسلمان به د دوی په وعدو او لوظونو نهٔ دوکه کیږی اکثرے ایمانه دی لږ کسان پکښې چرته ایمان راوړی۔

(۲) د یو امت یو فریق لوظ مات کړی نو دا د ټول امت دپاره لوظ ماتول معتبریږی ترڅو چه هغوی ترے براءت نهٔ وی کړے، که هغوی براءت اُوکړی نو بیا هغوی ته د دغه

لوظ ماتولو عار او شرم نهٔ لګیږی لیکن که غلی پاتے شی نو بیا د یو فریق لوظ ماتول د ټول امت لوظ ماتول دی ځکه دلته الله تعالیٰ د یو فریق په لوظ ماتولو سره ټولو ته توبیخ ورکړو۔

(۳) پدے امت کښې که چا لوظ مات کړو نو دهٔ کښې به دوه محظوره (ممنوع کارونه) راجمع شی ۱- یو منافقت۔ ۲- او بل مشابهت د یهودو سره۔

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ عِنْدِ اللهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا
او هرکله چه راغلو دوی ته رسول د طرف د الله نه، تصدیق کونکے د هغه کتابونو
مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيْقٌ مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا
چه د دوی سره دی نو ګوزار کړو یو ډلے د هغه کسانو نه چه ورکړے شوے وو
الْكِتٰبَ ۙ كِتٰبَ اللهِ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ كَاَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۱﴾
کتاب (تورات)، کتاب د الله لره، روستو د شاګانو نه ګویا که دوی نهٔ پوهیږی۔

تفسير: دے آیتونو کښې الله رب العزت زجر ورکوی چه د جبرئیل علیه السلام دشمنئ دوی غټ کفر ته اُورسول چه په آخری رسول باندے ئے کفر اُوکړو او د الله تعالیٰ کتاب ئے شاته ګوزار کړو۔ یعنی د دوی دا مرضونه بیانوی چه اُوګوره دا داسے خلق دی چه د الله تعالیٰ کتاب دوی شاته غورځولے دے لکه د اَمیانو په شان، سره ددے نه چه دوی پوهیږی او د سره نه ئے راخلی هم نهٔ، او د الله رسول ورته ښه معلوم دے په کتاب کښې خو کتاب ئے خپل شاته ګوزار کړیدے او د دوه قسمه جادو پسے روان شویدی۔

د سلیمان علیه السلام د زمانے جادوئے هم راواخستو او په هغے به ئے جادوګری کوله او د هاروت او ماروت جادوئے هم راواخستو او په دے باندے به ئے پیسے ګټلے۔ د یهودو سره څه وو؟ کوډے منترے، جادو، دمونه دا د دوی دین وو۔ د رسول الله ﷺ په وخت کښې دوی سره څه د هدایت خبرے نهٔ وے چه خلق ورشی او دوی نه هدایت واخلی، ددے وجه نه عرب ترے متأثره هم نهٔ وو۔ چه اُووائی چه دا یهود ډیر ښه خلق دی او بزرګان دی

څوك ترې خاص متاثر نۀ وو. څکه خپل عملونه ئې برباد وو، اخلاق ئې خراب وو، شومان وو، او د عقیدې کوم دعوت ئې هم نۀ وو، ګنې که دوی چرته دعوت کولې، عام عرب به ئې خپل دین یهودیت کښې داخل کړی وې. خو د هغوی سره به دغه زمانه کښې څه وو؟ صرف جادو وو او خلقو له به ئې په سود پیسې ورکولې او دوه قومونه به ئې جنګول او د هغوی نه به زمکې نیولې.

دا د دوئ کارونه وو لکه په (الرحیق المختوم) کښې علامه مبارکفوری رحمه الله د دوی په تاریخ کښې دا مرضونه لیکلی دی. نو الله تعالیٰ فرمائی: چه دوی کښې دا مرضونه پیدا شو چه د الله کتاب ئې شاته ګوزار کړو او د جادو پسې روان شو. دا آیتونه بعینهٖ لګی زمونږ ددې زمانې د هغه چا سره چه قرآن او حدیث پریږدی او منطق او فلسفې او نورو علومو پسې روان شی، په سلم العلوم کښې څلور کاله تیروی او په قاضی او حمد الله کښې درې درې کاله تیروی او حدیث په پنځه شپږ میاشتو کښې په یو ګر او منډه کښې تیر کړی، او بیا ئې نۀ راخلی، نۀ ئې مطالعه کوی، نۀ ئې چرته درس کوی. د الله تعالیٰ د دین غم ورسره نۀ وی او نۀ د خپل عمل غم ورسره وی چه نیك عمل کول پکار دی، بلکه نیك عمل خو په قرآن او حدیث باندې کیږی چه دا ورته یاد نۀ وی نو په څه به عمل اُوکړی !.

د قرآن او حدیث نه علاوه په نورو کتابونو خو زړۀ سختیږی.

دارنګه ډیر خلق د الله تعالیٰ د کتاب نه په دنیاوی علومو، سائنس، انجنیری او ډاکټری سره غافل شو. ولا حول ولا قوة الا بالله العظیم.

ربط : ۱- مخکښې آیت کښې د یهودو د لوظ ماتول ذکر شو چه دوی لوظ ماتونکی خلق دی نو پدې آیت کښې د هغې واقعاتی شهادت پیش کوی چه ګوره کله چه دوی ته د الله تعالیٰ د طرف نه رسول راغلو چه د دوی د پیشینګویانو بالکل مطابق وو کومې چه د دوی سره د مخکښې نه موجودې وې نو دوی هغه اُونۀ منلو او د الله تعالیٰ کتاب ئې شاته ګوزار کړو.

۲- دویم : مخکښې د عهودِ الٰهیه ؤ د ماتولو او ګوزارولو تذکره اُوشوه نو پدې آیت کښې ګوزارول د هغه کتاب ذکر کوی چه په هغې کښې دغه عهود ذکر وو.

(رَسُولٌ) نکره کښې مقصد تعظیم دې یعنی دا عظیم رسول دې او دا تفخیم ذاتی دې

یعنی ډیر د کمال نه ډك رسول دے، او ددے نه مراد محمد رسول الله ﷺ دے۔
(مِنْ عِنْدِ اللهِ) پدے کښې بل تعظیم دے چه دا رسول د عظیم ذات دطرفه راغلے دے، د مخلوق رسول نۀ دے۔ مصدق کښې تفخیم علمي دے چه داسے عظیم رسول دے چه د مخکنو کتابونو تصدیق هم کوی، د هغے علم ئے هم راګیر کړیدے۔ نو دوی سره په هغه باندے د ایمان نۀ راوړلو هیڅ عذر نشته۔
فَرِيْقٌ : کښې اشاره ده چه ټول اهل کتابو د الله تعالیٰ کتاب نۀ دے غورزولے بلکه څه کسانو پکښې ایمان هم راوړیدے لکه عبد الله بن سلام او نجاشي وغیره۔
اُوتُو الْكِتَابَ : **فائده** : د قرآن په اصطلاح کښې اُوتو الکتاب هغه کتابیانو ته وئیلے شي چه په کتاب ئے صحیح عمل نۀ وی کړے یعنی دوی له کتاب ورکړے شویدے خو دوی د هغے حق نۀ دے ادا کړے۔ نو دا په مقام د قباحت کښې استعمالیږی۔ او (آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ) په مقام د مدح کښې ذکر کیږی چه مونږ ورته کتاب ورکړیدے او دوی قبول کړیدے او عمل ئے پرے کړیدے۔ او اُوتوا نَصِيْبًا مِنَ الْكِتَابِ) هغه نیمګړی مُلیانو دپاره استعمالیږی چه صحیح طریقے سره ئے کتاب الله نۀ وی رانیولے۔(۱) دلته د اُوتُوا الْكِتَابَ نه د اهل کتابو علماء او مدرسین مراد دی (۲) یا هغه ټول خلق چه دعوی لری چه مونږ په کتاب الله باندے روان یو برابره ده که علم ورسره وی او که نۀ وی۔
﴿ كِتَابَ اللهِ ﴾ کتاب الله نه مراد (۱) یا قرآن کریم دے، یعنی دوی ته قرآن کریم راغلو نو دوی هغه کتاب ته هیڅ توجه ورنکړه ګویا کښې دوی ته هیڅ علم نشته چه یو کتاب راتلونکے دے، حال دا چه دوی ته ددے د مخکښې نه علم وو نو دوی ډیر اهل وو چه دا کتاب ئے قبول کړے وے۔ ځکه چه دوی خو د آسمانی کتاب د وارث او امین کیدو مدعیان وو، لیکن په حسد او ضد کښې راغلل او سره د علم نه د الله تعالیٰ د کتاب نه منکر شو۔
(۲) دویم دا چه د کتاب الله نه مراد تورات او انجیل دی۔ مطلب به دا وی چه دے اهل کتابو د اهل کتاب کیدو سره د الله تعالیٰ کتاب (تورات) لره د نبی آخر الزمان په معامله کښې داسے ګوزار کړو ګویا کښې دوی ته پرے د سره علم نشته۔
او دا غوره تفسیر دے۔ د دوه وجو نه (۱) اوله وجه دا ده چه لفظ د نَبَذَ په هغه مقام کښې ذکر کیږی چه یو شے مخکښې نه ورسره وی او بیا ئے اُوغورځوی۔ او دوی سره مخکښې

نه قرآن نۀ وو۔ اګرکه ددې نه ابن عاشور رحمه الله دا جواب کړیدې چه دا بناء دې په تمثیل، نۀ په معنیٰ خپله۔ یعنی دې معرضینو د الله تعالیٰ کتاب ته هیڅ اهتمام او اهمیت ورنکړو، داسې شو لکه چه د یو سړی په لاس کښې یو شے وی خو اهمیت ئې ورسره نۀ وی نو هغه ګوزار کړی۔ (التنویر ۱/۶۰۸)

(۲) دویمه وجه دا ده چه فریق لفظ ذکر کول دلیل دې چه دلته د کتاب الله نه تورات مراد دې ځکه که قرآن مراد شی نو بیا د فریق ذکر کولو هیڅ معنیٰ نۀ جوړیږی ځکه چه عامو اهل کتابو قرآن پریخودې وو۔ یواځې یو فریق نۀ وو پریخودې۔ (اللباب)

نو دلته **سوال** دا دې چه هغوی خو تورات نۀ وو غورځولې بلکه د هغې درس او تدریس به ئې کولو؟ **جواب** : ۱- هرکله چه قرآن او تورات دواړه په ایمانیاتو کښې د یو بل موافق وو، نو په قرآن ایمان نۀ راوړل او ددې نه انکار کول داسې دی لکه د تورات نه انکار کول ځکه دواړه د الله تعالیٰ کتابونه دی۔ ۲- دارنګه دوی ته وئیلې شوی وو چه په آخری رسول او کتاب باندې به ایمان لرئ او دوی ایمان رانۀ وړو نو ګویا کښې خپل کتاب ئې ګوزار کړو، عمل ئې پرې اُونکړو۔ لکه سفیان بن عیینهؒ نه نقل دی چه :

[وَإِنْ أَدْرَجُوهُ فِي الْحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ وَحَلَّوْهُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَمْ يُحِلُّوا حَلَالَهُ وَلَمْ يُحَرِّمُوا حَرَامَهُ فَذٰلِكَ النَّبْذُ] [قرطبی والنیسابوری] (یعنی اګرکه دوی په قسماقسم وریښمو او نرمو کپړو کښې تاؤ کړې وو او په سرو او سپینو زروئې خائسته کړې وو لیکن د هغې حلال حلال نۀ ګنړی او حرام ئې حرام نۀ ګنړی نو دا نبذ (پریخودل) شول۔

○ امام شعبیؒ فرمائی : [هُوَ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ يَقْرَؤُونَهُ وَلٰكِنْ نَبَذُوا الْعَمَلَ بِهِ]

(دوی به تورات په لاسونو کښې راخستلو او لوستلو به ئې لیکن عمل ئې پرې نۀ کولو نو دا ګوزارل شو)۔ (قرطبیؒ، الکشف والبیان للثعلبی)

او دا دلیل دې چه څوك قرآن کریم نۀ راخلی او د هغې درس او تدریس او تعلیم نۀ ورکوی او په هغې باندې عمل نۀ کوی نو اګرکه ډیرو مزین او منقشو توتو کښې ئې تاؤ کړی او ډیر احترام ئې اُوکړی خو دا د کتاب غورزول دی، اصل مقصد د کتاب الله عمل کول او د هغې تعلیمات خپلول دی۔

﴿وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ﴾ دا کنایه ده د اعراض کولو نه او تشبیه ده د هغه چا سره چه یو شے شا طرف ته ګوزار کړی نو هغې ته کتلې نۀ شی مګر هله چه سټ ئې کوږ شی او پډې کښې

اشاره ده چه د الله د كتاب نه اعراض كول سبب د تنزل او شا ته راتلو دے۔
وراء لفظ هم شا ته وائي او ظهر هم شاته وائي نو وراء ئے مضاف كړو ظهر ته (لِتَاكِيْدِ بُعْدِ الْمَتْرُوْكِ بِحَيْثُ لَايَلْقَاهُ بَعْدَ ذٰلِكَ) دپاره د تاكيد يعني ډير لرې ئے گوزار كړو گويا كښې دوباره ورته نۀ واپس كيږي۔ (التنوير)
﴿ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ ددے مفعول پټ دے (۱) (كَأَنَّهُمْ لَايَعْلَمُوْنَ بِأَنَّهٗ كِتَابُ اللّٰهِ)
(۲) او لَا يَعْلَمُوْنَ بِاَنَّ هٰذَا النَّبِيَّ حَقٌّ صَادِقٌ) يعني نۀ پوهيږي پدے چه دا د الله تعالىٰ كتاب دے) او پدے باندے عمل كول فرض دي۔ يا دا نبي رشتينے دے۔ اول قول غوره دے۔ او پدے كښې اشاره ده چه دوي ښه پوهيدل ليكن حسد راخستي وو۔
فائده: دے عالمانو ته ئے جاهلان اُووئيل ځكه چه دوي د الله تعالىٰ كتاب شاته گوزار كړو او عمل ئے پرے پريخودو نو دوي نازل شو په منزله د جاهلانو گويا كښې دوي نۀ پوهيږي په دے كتاب او جاهلان دي، ځكه كه دوي پوهيدلے نو په تقاضا د خپل علم به روان وے او په خپل كتاب به ئے عمل كولے۔
دارنگه دوي دا كتاب غورځولے وو مكابرةً او عناداً او عنادي اگركه پوهه وي خو د جاهلانو پشان نازلولے شي۔
نو تورات كښې چه د الله تعالىٰ كوم حكمونه وو او كومے عقيدے وے او د الله تعالىٰ د تعلق كومے خبرے وے، د آخرت خبرے وے، د رسول الله ﷺ په باره كښې وے، دوي به د هغے غم نۀ كولو بلكه صرف د پيسو او مال غم به ئے كولو۔
او دا قانون دے چه د الله تعالىٰ كتاب ډِے پريخودو نو ضرور به بل څيز ته متوجه كيږے، اخبارونو ته به لاس اچوے يا به منطقونو او فلسفو كښې اَخته كيږے ځكه چه انسان حساس دے ضرور به يو شي كښې مشغول كيږي، دا كه د الله تعالىٰ بندگي كوي نو د غير الله د عبادت نه به خلاص وي، كه هغه ئے پريخوده نو د بل په عبادت به اَوړي، كه د رسول الله ﷺ تابعداري ئے كوله نو ښه ده، گنے د بل چا په اطاعت باندے به اخته كيږي، كه د آخرت تياري ډِے كوله، ښه ده، گنے د نفس او د خواهش په بندگئ به اَوړے۔ د شيطان غلام كيږے به، كه د الله تعالىٰ كتاب ډِے وئيلو، نو ښه ده، گنے په داسے غلطو كتابونو او غلطو كسبونوبه ډِے الله تعالىٰ واړوي چه گمراه به ډِے كړي نو دوي هم په غلطو كتابونو واوړيدل۔ چه هغه څه وو؟ هغه سحر او جادو وو۔

وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى

او روان شو دوی د هغه څه پسې چه لوستل به شیطانانو (جنی او انسی) په

مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ

زمانه د بادشاهئ د سلیمان (علیه السلام) کښې او کفر نۀ وو کړے سلیمان (علیه السلام) لیکن

الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ ۚ وَمَآ اُنْزِلَ

شیطانانو کفر کولو چه خودو به ئے خلقو ته جادو او هغه څه (پسې) چه نازل کړے شوے وو

عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ ۚ وَمَا يُعَلِّمٰنِ

په دوه ملائکو باندې په بابل خار کښې چه هاروت او ماروت وو او تعلیم به نۀ ورکولو هغوی

مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ۚ

هیچا ته تردې چه وبه ئے وئیل : یقیناً مونږه (ستاسو دپاره) امتحان یو، نو کفر مۀ کوه

فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُوْنَ

(په کولو د جادو) نو دوی به زده کولو د دغه دوو ملائکو نه هغه څه چه جدائی به ئے

بِهٖ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ ۚ وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ

راوسته په هغې سره په مینځ د سړی او ښځه د هغۀ کښې او نۀ وو دوی ضرر ورکونکی

بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا

په دې سره هیچا ته مګر په حکم د الله تعالیٰ او زده کولو به دوئ هغه شے

يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ۚ وَلَقَدْ عَلِمُوا

چه ضرر به ئے ورکولو دوی ته او فائده به ئے نه ورکوله دوی ته او یقیناً دوئ پو هیدل

لَمَنِ اشْتَرٰهُ مَالَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ۚ

خامخا چه چا واخستو جادو لره (نو) نهٔ به وی دهٔ لره په آخرت کښې هیڅ برخه

وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖ اَنْفُسَهُمْ ۚ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

او خامخا ډیر بد دے هغه شے چه دوی خرڅ کړیدی په هغے سره ځانونه خپل، آرمان که دوئ پو هیدلے۔

تفسیر : په دے آیت کښې بل عیب او مرض د یهودو ذکر کوی او په هغے باندے رټنه ورکوی، هغه دا چه دوی جادو پسے روان شو او د الله تعالیٰ کتاب ئے پریخودو۔ او دا جواب د اعتراض او شبهے دے چه دوی وئیلی وو سلیمان عليه السلام خو جادوګر وو او بادشاهی ئے د جادو په زور سره چلوله او تهٔ د هغه صفت کوے او د انبیاؤ په ډله کښې ئے شمارے نو ددے نه خو یو دا معلومه شوه چه ته په خپله حق نبی نهٔ ئے ځکه چه جادوګر ته نبی وائے۔

(او د یهودو سلیمان او داود علیهما السلام خوښ نهٔ وو، ځکه ئے هغوی ته د جادو نسبت کولو وجه دا وه چه یهودو کښې دا مشهوره وه چه یو نسب کښې به بادشاهی چلیږی او بل کښې به نبوت، د یهودا په اولادو کښې به بادشاهت وی او د (لاوی) په اولادو کښې به نبوت وی او داود او سلیمان علیهما السلام له الله تعالیٰ دواړه جمع کړل نو دوی له پدے غصه ورغله، نو د دوی مخالفتونه ئے شروع کړل ددے وجه نه د هغه دَور نه دوی دا خبره مشهوره کړیده چه سیاست او دین به دواړه نهٔ جمع کیږی،

او (العیاذ بالله) داود عليه السلام غصب کړیدے چه دواړه ئے ځانله جمع کړیدی۔ دا وجه ده چه دوی په داود عليه السلام باندے بدنامے او تهمتونه هم لګولی دی، کله وائی چه فلانی ځائے کښې ئے ښځه اُولیدله او هغه ئے خوښه شوه او خاوند ئے وَرله جهاد ته اُولیږلو چه ما ته ئے

بنځه پاتے شي۔ دا د دروغو قصے ئے وریسے جوړے کړیدی او بعض بے تحقیقه مفسرین دغه د دروغو قصے په خپلو تفاسیرو کښے رانقل کوی او رد پرے نۀ کوی۔ د یهودو دسیسونه ځان خبرول پکار دی) لکه تفسیر القاسمیؒ سورة البقره واقعه د طالوت کښ اُوګوره (۱/ ۵۹٤)

(۲) دویم طریقه دا چه: تۀ سحر ته کفر وائے او حال دا چه دا خو د سلیمان (علیه السلام) عمل وو، او سلیمان ته تۀ نبی هم وائے، او جادو ته کفر وائے نو ستا خبرو کښ تعارض دے۔ نو پدے وجه مونږ ستا نبوت نۀ منو۔

او دا شبهه پدے وجه راپیدا شوے وه چه د سلیمان علیه السلام په دور حکومت کښ د جادوګرئ سلسله ډیره عامه شوے وه، انسی او جنی شیطانانو د هغے عملیات شروع کړل نو سلیمان علیه السلام چه کله د دوی نه خبر شو نو شیطانان ئے قیدیان کړل او د هغوی د سحر کتابونه ئے تول د خپل کرسي یا تخت نه لاندے دفن کړل نو د سحر چرچه ختمه شوه لیکن هرکله چه سلیمان علیه السلام وفات شو نو شیطانان او جادوګرو هغه کتابونه راویستل او نۀ صرف دا چه خلقو ته ئے اُوخودل بلکه خلقو کښ ئے دا مشهوره کړه چه د سلیمان علیه السلام د قوت او اقتدار راز همدا (جادو) وو او خلقو ته ئے هغه کتابونه ورښکاره کړل۔

(او بعض روایاتو نه معلومیږی چه دوی بعض مهرونه د سلیمان علیه السلام د مهر په شان جوړ کړل او هغه ئے پرے اُووهل چه دا د سلیمان علیه السلام او د هغه د ملګری آصف بن برخیا مهر دے، دے دپاره چه د خلقو یقین پرے پیدا کړی او سلیمان علیه السلام پدے طریقه بدنام کړی او د روحانی علومو او د وحی مقابله پرے اُوکړی۔

نو پدے بناء باندے ظالمانو خلقو سلیمان علیه السلام ته د کفر نسبتونه اُوکړل چه د هغے مدافعت او تردید الله تعالیٰ اُوکړو (ابن کثیرؒ وغیره)

نو **حاصل** د جواب دا شو چه تاسو په سلیمان علیه السلام باندے دروغ جوړ کړیدی، هغه بالکل جادو نۀ دے کړے ځکه جادو خو کفر دے، او ددے کفر ارتکاب سلیمان علیه السلام چرته کوی؟ بلکه هغه خو په شیطانانو او جادوګرو باندے پابندی لګولے وه خو جادوګر او شیطانانو اُلټه سلیمان علیه السلام په خپل بد عمل باندے بدنام کړو (او د اهل حقو سره همیشه داسے کار کیږی، باطل پرست د خپل غلط عمل نسبت حق پرست ته کوی،

غلطے مسئلے په هغوی باندے ورتپی۔ او اُوس هم گمراهان او مشرکانو د نقشِ سلیمانی په نوم باندے کتاب لیکلے دے، مطلب ئے دا دے چه دا د سلیمان علیه السلام تعویذگری او جادوگری ده۔ ولا حول ولا قوة الا بالله والله المستعان۔

نو پدے آیت کښ اشاره ده چه یهودیانو خپله دهغه شیطانانو نه جادو زدهٔ کړه کوم چه دوی سلیمان علیه السلام ته په دروغه منسوب کړے وو، او دغه شان د بابل د ملائکو نه ئے هم جادو زدهٔ کړه کوم چه د امتحان دپاره نازل شوی وو او خلقو ته به ئے وئیل چه جادو مهٔ زدهٔ کوئ، ځکه دا کفر دے۔ نو پدے طریقه یهودیانو د انبیاء او رسولانو علیهم السلام علوم او انوارات پریخودل او په دواړو لارو سره ئے جادو زدهٔ کړو، د شیطانانو نه هم او د بابل د دواړو ملائکو نه هم۔یعنی سحر قدیم او سحر جدید دواړه ئے حاصل کړل۔

جادو دوی ولے زده کولو ؟ نو روستو راځی چه د ښځے او خاوند ترمینځ به ئے پرے جدائی راوستله، یوه ښځه به ئے خوښه شوه نو د جادو په زور به ئے د خاوند نه جدا کړه۔ او دغه شان هغه به بیا ددهٔ نه جدا کوله۔ او خپلو دشمنانو ته به ئے پرے ضررونه ورکول۔ او د دنیا مال او متاع به ئے پرے حاصلولو۔کفر کوی او دنیا خوښوی۔ نو روستو ورته الله تعالیٰ ترغیب ورکوی چه ایمان تقویٰ اختیار کړئ او دا فسادونه پریدئ۔

د جادو تاریخ

د جادو او دغه شان سفلی او شیطانی علومو چرچه چونکه په هر دور کښ راغلے ده لیکن د سلیمان علیه السلام په زمانه کښ چه کومه چرچه او رواج وو نو دا په نورو دورونو کښ دومره نهٔ وو، او اصل غرض ددے په پیدا کولو کښ د مفسدینو مقابله کول وو د روحانی علومو د انبیاء علیهم السلام سره۔ په روستو زمانو کښ چه کله یهودیان په دینی او اخلاقی انحطاط او پسماندگئ کښ مبتلا شو او د کتاب او شریعت ذوق او مزه په هغوی کښ مړه شوه نو دوی له هم ددغه مزخرفاتو زده کړے مزه ورکړه، ځکه چه پدے سره د خلقو نه مالونه او عزتونه په آسانئ سره لوټ کولے شی، نو دوی د هغه شیطانی علومو په جوش وخروش سره زده کړه شروع کړه، او دے ته د تقدس رنګ ورکولو دپاره به ئے ددے نسبت سلیمان علیه السلام ته کولو او خلقو ته به ئے دا وئیل چه دا د سلیمان علیه السلام علوم دی، هغه پدے سره ډیرے کارنامے کړیدی او بادشاهی ئے چلوله۔ لکه نن دور کښ هم کوم خلق چه د سفلی علومو ذوق لری نو دوی د خپلو خرافاتو په تائید کښ د

سلیمان علیہ السلام نوموته پیش کوی کله وائی دا نقش سلیمانی دے۔

او کله وائی زمونږ علوم، منطق او فلسفه او حکمة او موسیقی او علم النجوم سلیمانی علوم دی۔ او دا تاریخ ورکوی چه دا علوم ارسطو، هغه د افلاطون، هغه د فیثاغورث او هغه د سلیمان علیہ السلام نه حاصل کړیدی۔ حال دا چه دا یوه خطرناکه دوکه ده، شیطان همیشه دپاره په غلط کار کښې انسان اخته کړی او بیا هغه ته تسلی ورکوی او په معمولی او غلط نسبتونو سره ئے قلاروی، دے دپاره چه د هغه د جال نه بهر نشی۔

نو پدے طریقه سره د یهودو نه د سحر او ساحرئ علوم زمونږ دے امت ته هم رانقل شو، چه نجومیانو او شعبده بازو ددے نه عظیم کاروباری کارخانے جوړے کړے، هرځائے اشتهارات دی، خاندانی جادو شکن، په یو منټ کښې حاجت پوره۔ (او فلان ماهر عملیات) (او عامل نجومی کاظمی) وغیره۔ دوی په خلقو جادو اُوکړی او بیا د شیطانانو په ذریعه هغه راوباسی او پیسے حاصلوی۔

ربط او مناسبة : (تَرَكُوْا كِتَابَ اللّٰهِ وَاَقْبَلُوْا عَلَى السِّحْرِ الْقَدِيْمِ وَالْجَدِيْدِ)

(د الله تعالیٰ کتاب ئے پریخودو او د قدیم او جدید سحر پسے روان شو)

(مُلْكِ سُلَيْمَانَ) نه مراد د هغه د بادشاهئ زمانه ده۔ نو دلته د عربی قاعدے مطابق مضاف محذوف دے۔ (اَیْ عَلٰى عَهْدِ مُلْكِ سُلَيْمَانَ)۔

الله تعالیٰ په مینځ کښې جواب هم کوی : ﴿ وما كفر سليمان ﴾ خلقو هغه ته نسبت کړے وو چه سلیمان علیہ السلام به جادو کوله، حال دا چه جادو شیطانانو کړے وو نو په دے ځائے کښې الله تعالیٰ په یوه خبره کښې دوه خبرے اُوکړے۔ (دا د الله تعالیٰ د کتاب کمال دے) یو دا چه د یهودو بدی ئے بیان کړه چه دا ظالمان په جادو پسے روان شو۔ او ورسره دا خبره ئے هم اُوکړه چه سلیمان علیہ السلام ته غلط نسبتونه مۀ کوئ، یهود ئے ورته کوی۔ هغه بنه سړے وو هغه په باره کښې به دا نۀ وائے۔ نو بنه دا جادو چا کړے وو ؟: نو فرمائی چه دا شیطانانو کړے وو چه جادو له ئے ترتیب او تدوین ورکړے وو او دا به ئے استعمالولو۔

او اصل سبب ئے دا وو چه شیطانان بۀ آسمان ته ختل او د ملائکو نه به ئے یوه کلمه واوریدله نو هغې سره به ئے اَوویا یا سل دروغه اُووئیل او کاهنانو ته به ئے هغه بیان کړل نو پدے طریقه ډیر دروغ په کتابونو کښې اُولیکلے شو۔ او دا خبره په بنی اسرائیلو کښې مشهوره شوه چه جنات او شیطانان په غیبو پو هیږی نو سلیمان علیہ السلام چه الله تعالیٰ نبی

کړونو دغه کتابونه ئے تهول راجمع کړل او د خپلے کرسی لاندے ئے کیخودل لکه چه مخکښ بیان شو او دا روایت د ابن عباس ﷺ نه حافظ ابن کثیرؒ او ابن جریرؒ نقل کړیدے۔

فائده۱ : وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ : کښ مدافعة الصالحین دے، سلیمان ﷺ د الله نبی وو او یهودو متهم کړے وو په سحر نو الله تعالیٰ ئے صفائی بیان کړه او د هغه د طرف نه ئے مدافعت اُوکړو نو دے نه دا معلومه شوه چه د نیکانو خلقو مدافعت الله تعالیٰ ته محبوب عمل دے نو هر صاحب سنت عالم چه خلقو بدنام کړے وی نو د هغه صفائی پکار ده لکه بعض خلقو امام بخاریؒ، امام ابن تیمیهؒ بدنام کړیدی نو د دوی صفائی په علماؤ لازم ده، کوثری گمراه امام ابن القیمؒ ته (۲۱) کنځلے کړیدی، دروغ ئے پرے وئیلی دی۔ او ابن تیمیهؒ ته ئے گمراه او امام الفتنه وئیلے دے۔ بعض ناپوهه ورته د مجسمه نسبت کوی۔ نو ددے مدافعت به کوے، دا هم یو قسم د دین حفاظت دے۔

ددے وجه نه ملاعلی القاریؒ په "مرقاة" کښ د ابن تیمیهؒ او ابن القیمؒ باره کښ لیکی :
(وَمَنْ طَالَعَ مَنَازِلَ السَّائِرِيْنَ ......تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُمَا كَانَا مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ بَلْ وَمِنْ أَوْلِيَاءِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ...... وَأَنَّهُ بَرِيْءٌ مِمَّا رَمَاهُ أَعْدَاؤُهُ الْجَهْمِيَّةُ مِنَ التَّشْبِيْهِ وَالتَّمْثِيْلِ عَلٰى عَادَاتِهِمْ فِيْ رَمْيِ أَهْلِ الْحَدِيْثِ وَالسُّنَّةِ بِذٰلِكَ كَرَمْيِ الرَّافِضَةِ لَهُمْ بِأَنَّهُمْ نَوَاصِبُ]۔

(چا چه "منازل السائرین" کتاب مطالعه کړو، هغهٔ ته به ښکاره معلومه شی چه دا دواړه د اهل سنت والجماعت نه وو، بلکه ددے امت د اولیاؤ نه وو، او حافظ ابن تیمیهؒ د هغه تشبیه او تمثیل نه بری دے چه د هغهٔ دشمنانو جهمیه ؤ پرے کوم تهمت لګولے دے، لکه چه د هغوی عادت دا دے چه په اهل حدیث والسنة باندے دغه شان تهمتونه لګوی (چه دا مجسمه دی) لکه څنګه چه روافض دوئ ته نواصب وائی)۔

[مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح : ۲۷۷۸/۷ تحت حديث رقم : ٤٣٤٠ كتاب اللباس]

البته د غلطو مُلیانو مدافعت کول گناه ده (وَلَاتَكُنْ لِلْخَائِنِيْنَ خَصِيْمًا) لکه بعض خلق د محیی الدین ابن عربی صوفی حلولی صفات بیانوی او دیته شیخ اکبر وائی، دا غلطه خبره ده څکه ابن عربی د کفر عقیده لرله۔ حسین بن منصور الحلاج او نور د وحدة الوجود والا او گمراهانو باره کښ خلق مدافعت کوی، دا ناروا دی۔ لکه د دیوبند

بعض مشران عقیده د وحدة الوجود لری نو د هغوی نه مدافعت کول صحیح نهٔ دی۔
الشَّيَاطِيْنَ : (۱) ددے نه انسی شیطانان هم مراد دی چه په پخوا زمانه کښې ئے د سحر نه فائدے اخستے، او یهودو له ئے هم خوند ورکړو نو دوی هم د هغوی تابع شو۔ (۲) او جنی شیطانان هم مراد کیدے شی۔ کله شیطان دا کار کوی چه انسان ته یوه گمراهی اُوښائی او د هغے په ذریعه خلق گمراه کوی، خپله شیطان دومره کار نشی کولے، لیکن د انسانانو په ذریعه ډیر کار کولے شی۔
عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : [إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَتَمَثَّلُ فِي صُورَةِ الرَّجُلِ فَيَأْتِي الْقَوْمَ فَيُحَدِّثُهُمْ بِالْحَدِيثِ مِنَ الْكَذِبِ فَيَتَفَرَّقُوْنَ فَيَقُوْلُ الرَّجُلُ مِنْهُمْ]
((شیطان کله د یو انسان په شکل خپل ځان جوړ کړی او یو قوم ته لاړ شی او هغوی ته د دروغو تقریر اُوکړی نو خلق جدا شی بیا یو تن پکښې وائی : [سَمِعْتُ رَجُلًا أَعْرِفُ وَجْهَهُ وَلَا أَدْرِى مَا اسْمُهُ يُحَدِّثُ] (مقدمة صحیح مسلم رقم : ۱۷) القرطبی (۱۰/۴۲۲)
(ما د یو سړی نه واوریدل چه د هغه مخ پیژنم لیکن نوم ئے راته نهٔ دے معلوم چه داسے داسے مسئلے ئے کولے)) هغه شیطان وی، ډیرے مسئلے ښے بیان کړی یوه خبره نیمه پکښې دروغ او غلطه بیان کړی، ځکه هغه ته پته وی چه ښے خبرے خو خلق هسے هم اَوری خو د هغے په ذریعه پرے دغه غلطه خبره هم اُومنی۔ ددے وجه نه د هر مُلا خبرے له اعتبار هم نشته ترڅو چه ورسره دلیل نهٔ وی۔
فائده : شیطانی دعوت دا دے چه ډیرے پکښې صحیح خبرے وی او لږے غلطے وی۔ نو د تبلیغیانو او دیوبندیانو دعوت هم صحیح نهٔ دے ځکه چه دوی ټول حق سو چه نهٔ بیانوی۔ دارنګه د خوراج او مرجئه او ټول اهل بدعتو دغه حال دے۔
فائده ۲ : د کلام د اسلوب نه دوه خبرے ذهن ته راځی یو ددے جمله معترضے بلاغت چه ددے د وئیلو نه داسے محسوسیږی چه متکلم ته ددے علومو سفلیه نسبت سلیمان طرف ته کول دومره ناخوښ دی چه ددے په تردید کښې دومره توقف هم نهٔ کوی چه کلام پوره کړی بلکه سلسله د کلام اُودرولو سره ئے فوراً ددے تردید ضروری اُوګنړلو۔
دویم دا چه تردید ئے داسے اسلوب سره شروع کړو چه د هغے نه خپله دا خبره راوځی چه د سحر کفر کیدل یو داسے واضح حقیقت دے چه ددے د ثابتولو ضرورت نشته۔
﴿يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ﴾ یعنی شیطانانو به خلقو ته جادو خودله او سلیمان علیه السلام هیڅ

ته جادو نۀ ده خودلے۔ بلکه د جادو خلاف ئے کړیدے۔
دا یهودو غلط مشهور کړے وو، او دا ئے په دے وجه غلط مشهور کړے وو چه ده سیاست هم واخستو او شریعت ئے هم واخستو او د دوی په نیز سیاست او شریعت دواړه نۀ جمع کیږی نو دا ئے مشهوره کړه چه دۀ دا کار د جادو په وجه اُوکړل۔

د سحر (جادو) بحث

دلته یو څو بحثونه دی (۱) معنیٰ لغوی او اصطلاحی د سحر، (۲) اقسام د سحر (۳) اثر السحر (٤) حکم تعلیم السحر (٥) حکم الساحر (٦) علاج السحر۔
لغةً : سحر د فتح یفتح نه دے په لغت کښ (كُلُّ مَا لَطُفَ مَأْخَذُهٗ وَخَفِيَ سَبَبُهٗ) (النیسابوری) (هر هغه شے چه د هغے د راخستو ځائے باریك وی او سبب ئے پټ وی)۔
امام قرطبیؒ د سحر اته معانی ذکر کړیدی (۱) اول په معنیٰ د خداع او دوهوکے سره (سَحَرْتَ الصَّبِيَّ اِذَا خَدَعْتَهٗ)۔ (۲) په معنیٰ د خفاء (پټوالی) سره۔ او جادو هم ساحر په پټه کوی۔ (۳) صَرف۔ (اړول) لکه عرب وائی : (مَا سَحَرَكَ عَنْ كَذَا، اَیْ مَا صَرَفَكَ عَنْهُ)
(د فلانی کار نه څه شی واړولے؟) او سحر هم د خپل جهت نه اړولے شوے وی)
(٤) اَلْاِسْتِمَالَه : (یو شے ځان ته مائله کول) او دا یو تفسیر دے په (بَلْ نَحْنُ قَوْمٌ مَّسْحُوْرُوْنَ) (الحجر/ ١٥) کښ۔
(٥) سحر او سحریه ۔ پرپوس (سُش) (یو اندام د انسان) دے چه په هغے سره انسان خوراك او څکاك ته محتاج وی۔ (٦) هر هغه کلام او طریقه چه د هغے اخستل باریك وی۔ (جوهری) (۷) څیزونه په خیالانو کښ بدلول۔
(۸) ساحر په معنیٰ د عالم سره۔ (وَقَالُوْا یَا اَیُّهَا السَّاحِرُ ادْعُ لَنَا)
سحر په عرف او اصطلاح کښے : (هُوَ اَنْ یَّفْعَلَ السَّاحِرُ اَشْیَاءَ وَمَعَانِيَ فَیُخَیَّلُ لِلْمَسْحُوْرِ اَنَّهَا بِخِلَافِ مَا هِيَ بِهٖ) (قرطبی) (دیته وائی چه ساحر څه کارونه اُوکړی چه په هغے سره جادو کړی شوی انسان ته داسے ښکاره کیږی چه دا څیزونه په خپل حقیقت نۀ دی) لکه یو سړی ته د وړاندے نه د پیرانو تنور ښکاره شی دا پرے خیال اُوکړی چه دا اُوبۀ دی او هغه اُوبه نۀ وی۔ په ګاډی او کشتئ کښ یو تن تیز مزل کوی نو هغه ته دا خیال راځی چه ما سره غرونه او ونے روانی دی۔

(۲) (تَمْوِيهُ الْحِيَلِ بِإِخْفَائِهَا تَحْتَ حَرَكَاتٍ وَأَحْوَالٍ يَظُنُّ الرَّائِيُ أَنَّهَا هِيَ الْمُؤَثِّرَةُ مَعَ أَنَّ الْمُؤَثِّرَ خَفِيٌّ) (التنویر)

(سحر: په پټه سره د دروغو حیلې ښائسته ښکاره کول پداسې حرکاتو او احوالو سره چه د لیدونکی دا ګمان راشي چه دا مؤثر دي او حال دا چه مؤثر ئې پټ وي)۔

(۳) (مَا عَلِمَ ظَاهِرُهُ وَخَفِيَ سَبَبُهُ وَهُوَ التَّمْوِيهُ وَالتَّلْبِيسُ وَتَخْيِيلُ غَيْرِ الْوَاقِعِ وَاقِعًا وَتَرْوِيجُ الْمَحَالِ) (هغه شے چه ظاهر ئې معلوم وي او سبب ئې پټ وي چه دیته دهوکه، تلبیس او په خیال کښې غیر واقع شے واقع ښکاره کول وائي او ناممکن شے خلقو کښې رائج کول) (ابن عاشورؒ)

(٤) (اَلسِّحْرُ: اِسْمٌ لِلْأَقْوَالِ وَالْأَفْعَالِ تَصْدُرُ عَنْ نُفُوسٍ شَرِيرَةٍ (بِوَاسِطَةِ الْجِنِّ غَالِبًا) أَوْ بِمُبَاشَرَةِ أَعْمَالٍ مَخْصُوصَةٍ لَاتَتَعَذَّرُ مُعَارَضَتُهُ وَيَجْرِي فِيهِ التَّعَلُّمُ وَالتَّعْلِيمُ)

دا نوم دے د هغه اقوال او کارونو چه د شریر نفسونو نه صادریږي (په واسطه د پیریانو سره غالباً) یا په کولو د څه خاص کارونو سره چه د هغې مقابله ممکن وي۔ او امر خارق للعادة وي۔ (یعنی د عادت نه ناشنا وي) او تعلیم او تعلم پکښې جاري کیدے شي نو پدے سره ئې فرق راغلو د کرامة او معجزے نه۔

(٥) (وَفِي الشَّرْعِ : مُخْتَصٌّ بِكُلِّ أَمْرٍ يَخْفَى سَبَبُهُ وَيُتَخَيَّلُ مِنْ غَيْرِ حَقِيقَةٍ وَيَجْرِي مَجْرَى التَّمْوِيهِ وَالْخِدَاعِ) (النيسابوري) (سحر په شریعت کښې : خاص دے د هر هغه کار پورے چه سبب ئې پټ وي، او د انسان په خیال کښې راځي او هیڅ حقیقت ئې نۀ وي او دا د تلبیس او دهوکے په شان دے)۔

(٦) څه الفاظ او مقدمات دي چه د هغې په وجه تغییر راوستلے شي په یو شخص یا په یو شي کښې د الله تعالیٰ په اذن سره۔ لکه بیماریدل، زړه او دماغ بندیدل او د ښځے نه بندیدل۔ اګرکه دا شے حرام دے خو اثر کوي۔او همدا خبره ظاهره ده څکه پدے نورو تعریفونو کښې انکار دے د اثر د سحر نه اګرکه بعض انواعو باندے صادقیږي۔

ابن عاشورؒ لیکلي دي : چه سحر د پخوانو علومو نه دے چه په مصر او مشرقي بلادو کښې په ښارونو دکلدان، او اهل بابل کښې په یوه زمانه کښې ښکاره شوے وو، د عیسیٰ علیه السلام نه مخکښې په قرن اربعین کښې، نو دا دلیل دے چه دغه دوه امتونو ته دا د خپلو مشرانو نه پاتے شوے وو څکه په مصر کښې د فراعنه ؤ د پنځم او شپږم خاندان په زمانه

کښې ددې سحر څه آثار ښکاره شوي وو.
او د عربو د سحر متعلق يو آزاد خيال وو او هغه دا چه د هغوی دا عقيده وه چه سحر په اشخاصو او زړونو اثر کوی، انسان اُلټه کوی او زړونه اړوی او مسحور د ساحر تابع کيږی پدې وجه هغوی به وئيل : غول (بلا) د جناتو ساحره ده، ځکه چه دا ليدونکی ته په مختلف شکلونو ښکاره کيږی، او قريشو چه کله د رسول الله ﷺ معجزات اُوليدل نو وے وئيل : دا خو جادوګر دے. (وَإِنْ يَّرَوْا آيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ (القمر : ۲) او حديث (إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا) او عربو به د سحر سره تعلق نهٔ لرلو ځکه چه سحر د هغه طبيعی امورو د خصوصياتو نه دے چه د لاسونو د صفائی سره تعلق لری او د عربو تعلق د لاسی امورو سره نهٔ وو، بلکه د هغوی فکری مهارت وو. او د عربو به دا خيال وو چه د ټولو نه په سحر باندے ډير علماء يهوديان او صابئه دی يعنی بابل والا.
او ددے آيت د سياق نه هم داسے معلوميږی چه د عربو په نيز يهوديان ډير مشهور وو په جادو سره، ددے وجه نه په مسلمانانو کښې دا خبره مشهوره شوے وه چه د مدينے يهوديانو په مسلمانانو جادو کړيدے نو د دوی به هيڅ اَولاد نهٔ پيدا کيږی نو کله چه عبد الله بن زبير د هجرت په ړومبنی کال پيدا شو نو مسلمانانو پرے ډيره خوشحالی اُوکړه، چه دا خرافه ختمه شوه. دا وجه ده د عربو مسلمانانو ترمينځ د سحر تذکره ډيره نهٔ وه مګر هله چه مدينے ته ئے هجرت اُوکړو ځکه مدينه کښې يهوديان اُوسيدل او د هغوی دا عقيده وه چه دوی په خلقو باندے جادو کوی. (التنوير وغيره)

د سحر اقسام

د سحر ديارلس قسمه دی چه ابن کثيرؒ او امام رازیؒ په تفصيل سره ذکر کړيدی او اکثر اقسام ئے کفر دے ځکه په هغے کښې استمداد (مدد طلب کول) وی د غير الله نه، او پدے کښې د قرآن بے ادبی وی، په هغے باندے دپاسه ګرځيدل وی او کله په جنابت کښې مونځونه کول وی، روژے پريخودل او په وينه او بولو باندے قرآن کريم ليکل (العياذ بالله) او د شرير نفسونو سره محبت ساتل وی، چه بنده کله دغه کارونه اُوکړی نو دے کافر شی چه ددے په وجه شيطانان ورسره مددونه شروع کړی، غرضونه ئے پوره کوی لکه کله ئے په اُوبو کښې ډوبوی، او کله ئے په هوا باندے يو ځائے ته بوځی، کله ورته پردی مالونه راوړی لکه ډير شيطانان د خائنانو مالونه غلا کوی او يا د هغه چا چه د الله تعالیٰ

نوم ئے پرے نۀ وی اخستے، کله ورله دشمنان وژنی، کله ورله څوك راتختوی، کله ورته پردی حالونه بیانوی ځکه چه دے شخص خپل کفر وسیله او رشوت جوړ کړے وی د دوستانے د شیطان دپاره نو هغه هم ورسره مددونه شروع کړی۔

یعنی د ایمان او اسلام نه به ورته تیریږی نو هله به جادو زده کوی، ددے وجه نه اسلام منع کړیده د نُشره نه (یعنی حَلُّ السِّحْرِ بِالسِّحْرِ نه) چه جادو په جادو باندے ماتوی دا کار حرام دے، وجه دا ده چه خپل صحت به ښه کوی او ایمان به دلاسه ورکوی۔ د جادو هر کتاب چه گورے نو یا به پکښې د شیطانانو (سید الجان) نه پکښې مددونه غواړی، یا فلان یا فلان آوازونه به وی۔ یا به داسے الفاظ وی چه په معنیٰ به ئے نۀ پو هیږی۔

اقسام : د سحر مشهور پنځه اقسام دی (۱) طلسم ۔ (بعض وائی دا مقلوب دے د مسلط نه) دیته وائی چه سماوی آثار راجمع کړی د زمکے د اجزاؤ سره، دے دپاره چه ددے نه څه عجیبه امر ښکاره شی۔ (۲) نیرنج۔ بعض وائی دا معرب دے د (نیرنك) نه تمویه او تخییل ته وئیلے شی او دا پدے طریقه وی چه د زمکے بعض دوایانے د بعضو سره یو ځائے کړی او د هغے په ذریعه ناشنا کارنامے کوی خلق دهوکه کوی لکه بعض منتریان ځان پورے یو قسم دوائی اُومږی او بیا په اُور کښې لاس ننباسی یا اُور په لاس کښې راخلی او نۀ سوزیږی۔

(۳) الرقیة : په اُویو باندے دمونه اچوی او پوکی کوی او بیا هغه څکی او په انسان باندے ئے راړوی۔ (٤) خلقطیرات : دا هغه کرخے دی چه په هغے کښې ئے حروف لیکلی وی یعنی حلقے او دائرے جوړوی او دا عقیده ساتی چه ددے ډیر خاص تاثیر دے۔ لکه دا په تعویذ گرو کښې ډیر مشهور دے۔ (٥) شعبذه (دیته شعوذه هم وئیلے شی) مُعرب دے د شعباذه نه چه دا یو سړے وو، دۀ ته دا علم منسوب دے او دا هغه خیالات دی چه بناء دی د لاسونو په صفائی او نظر بندئ باندے چه څیزونه ورته اُلټه ښکاره کیږی۔

علامه ابن عثیمینؒ فرمائی : «سحر هغه غوټو او دمونو ته وئیلے شی چه ساحر په هغے کښې پوکی اُوکړی نو په مسحور باندے د هغے د وجه نه په بدن او عقل اثر اُوشی۔ او دا په یو څو قسمه دے، بعض هغه جادو دے چه انسان قتلوی، بعض صرف مرض راولی، بعض هغه دے چه عقل زائله کوی، او انسان نشه کوی۔ او بعض هغه دے چه د انسان حواسو کښې تغیر راولی نو بیا چه کوم شے نۀ وی هغه اَوری۔ یا په ساکن باندے د

متحرك گمان كوي او متحرك باندے د ساكن، او بعض هغه دے چه د چا د مينے د راجلب كولو دپاره وي او بعض هغه دے چه بغضاء او دشمني پيدا كوي))۔
(تفسير العثيمين)

آيا د سحر تاثير او حقيقت شته ؟ :

(۱) معتزله منكرين دي د حقيقت د سحر نه او دا وائي چه دا صرف تخيل او وهمي خيز دے حقيقي وجود نۀ لري۔ او خودل د هغه شي دي چه د هغے حقيقت نۀ وي په پته او چل سره۔ **دليل** : د موسىٰ عليه السلام په واقعه كښې راغلي دي : (يُخَيَّلُ اِلَيۡهِ مِنۡ سِحۡرِهِمۡ اَنَّهَا تَسۡعٰى) (د موسى عليه السلام په خيال كښې راتلل چه دا امسا گانے او پړي منډے وهي) او په حقيقت كښې ئے منډے نۀ وهلے۔ معلومه شوه چه دا وهمي او بے حقيقته شے دے۔
(۲) دارنگه نبي صلى الله عليه وسلم باندے چه لبيد بن اعصم يهودي سحر كړے وو نو په هغے كښې هم دا راغي چه نبي صلى الله عليه وسلم ته به تخيل كيدو۔ (بخاري)
جواب : هرچه واقعه د موسى عليه السلام كښې ورته (يخيل) لفظ استعمال شويدے نو (۱) ددے يو جواب دا دے چه دا خيالي تاثير د انبياء عليهم السلام پورے خاص دے، ځكه په هغوي باندے د سحر په وجه تاثير عقلي نۀ كيږي۔ (۲) جواب : جائز ده چه دغه خلقو داسے سحر كړے وي چه ددۀ په خيال كښې دغه اثر اچول وي او عقل ختمول نۀ وي۔ يعني دا يو قسم سحر به ئے كړے وي۔ چه هغه سحر تخييلي دے۔
(۳) جواب : كه اُومنو چه دغه صورت كښې ئے اثر د تخييل كړے وو نو ددے نه دا نۀ لازميږي چه ددے گنے بالكل حقيقت نشته۔ (انظر تفسير الوسيط لسيد طنطاوي والقرطبي)
(٤) كه لږ سوچ اُوكړو نو په دغه آيت كښې د معتزلو هيڅ قسم دليل نشته ځكه چه آيت او حديث كښې خو دا نۀ دي راغلي دي چه سحر يو خيالي شے دے او حقيقت نۀ لري بلكه د همدغه آيت او حديث نه ثابته ده چه سحر حقيقي شے دے ځكه ئے د موسى عليه السلام او د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم په خيال باندے اثر كړے وو۔ كه دا په زړه د ساحر كښې محض خيال وے او حقيقة ئے نۀ لرلے نو اثر ئے څنگه كولے شو ؟۔ فتدبر۔
بعض جاهلان وائي : سحر خو حرام كار دے او كفر دے نو څنگه اثر كوي ؟ جواب دا دے چه ولے حرام او كفر گنے اثر نۀ كوي؟، د كفر اثر دا دے چه انسان جهنم ته رسوي او د الله

تعالیٰ نه ئې وړاندې کوي، او شراب حرام دي خو چه نوش ډې کړل نو دماغ به درله بند کړي. او دا خبره د تشریح محتاج نهٔ ده.

(۲) جمهور اهل السنة والجماعة وائي : سحر ثابت دے عقلًا او واقع دے سمعاً.

دلائل : عقلي دليل دا دے چه سحر في نفسه ممکن دے. وجه دا ده چه د الله تعالىٰ قدرت عام او شامل دے هر څه ته نو الله تعالىٰ قادر او خالق دے چه لکه څنګه چه په نیکو طریقو او کلماتو کښې اثر اچوي او د هغې يو حقيقت وي نو دغه شان په بدو طریقو او کلماتو کښې هم اثر اچونکے الله تعالىٰ دے او کاسب ئې ساحر دے. لکه څنګه چه په ګندګو او بول وبراز کښې د بدبوئي اثر دے نو دغه شان په غلطو کلماتو کښې هم معنوي اثر شته او دا د الله تعالىٰ په اذن سره کيږي.

۲- دليل : دا آيتونه دي : (وَمَا هُمْ بِضَارِّيْنَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللّٰهِ) دا دليل دے چه سحر ثابت دے حقيقةً او تاثير لري او صرف تلبيس او تخيل نهٔ دے، او دا هم ثابته شوه چه خالق د سحر الله تعالىٰ دے.

۳- دليل : الله تعالىٰ خپل نبي ته حکم کړيدے چه په الله تعالىٰ پورے پناهي طلب کړي د شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَد نه او نفاثات نه مراد په قول د حسنؒ، عکرمهؒ، مجاهدؒ، قتادهؒ، او ضحاکؒ سَوَاحِر (ساحران) دي. نو دا آيت دليل دے چه د سحر اثر شته، ولے که نهٔ وے نو الله تعالىٰ به خپل نبي ته حکم نهٔ کولے چه د شرور د ساحرانو نه پناهي طلب کړي.

٤- دليل : دغه حديث د بخاري چه په نبي ﷺ باندے سحر شوے وو، زنانو ته به نزدے شوے وو او ددهٔ به دا ګمان وو چه زهٔ نهٔ يم نزدے شوے. نو دا صريح دليل دے چه د سحر حقيقت شته ا ود نبي ﷺ په بدن ئې يو قسم مرض او ثقل راوستے وو. نو که دا هسے خيالي شوے وے نو بيا ئې ولے دغه شان تاثير کولو. (ابن قيم)

امام قرطبيؒ فرمائي : پدے باره کښې ګڼر دلائل راغلي دي چه سحر دپاره حقيقة شته او دا يقيني شے دے او الله تعالىٰ او د هغه رسول ددے په وجود او وقوع باندے خبر ورکړيدے. او پدے باندے د فقهاؤ اجماع ده او د معتزلو خلاف له هيڅ اعتبار نشته، سحر د پخوانه مشهور دے او خلقو پکښې خبرے کړيدي او د هيڅ صحابي او تابعي نه ددے انکار نهٔ دے نقل.

○ استاذ فؤاد عبد الباقي د علامه مازري رحمه الله نه نقل کوي چه : مذهب د اهل

السنة والجماعة دا دے چه سحر ثابت دے او ددے دپاره د نورو ثابتو څيزونو په شان حقيقت شته، او ددے نسبت خيالات باطله ؤ ته كول غلط دى. ځكه چه سحر الله تعالىٰ په خپل كتاب كښ ذكر كړيدے او دائے ذكر كړيدى چه دا هغه شے دے چه ددے تعليم او تعلم كيږى، او پدے كښ ئے اشاره كړيده چه بنده ددے په زده كړه كافر كيږى، او دا د ښځے او د سړى ترمينځ جدائى راولى، او دا تهول نۀ دى ممكن په هغه څه كښے چه د هغے حقيقت نۀ وى او دا حديث صريح دے د سحر په اثبات كښ. چه دا څه څيزونه وو چه دفن كړے شوى وو او بيا راويستلے شو. او ددے حديث نه چه څوك انكار كوى پدے وجه چه پدے سره شك اوبے عزتى په منصب د نبوت كښ راځى نو دا خبره غلطه ده وجه دا ده چه قطعى دلائل ددے حديث په صدق او صحت باندے دلالت كوى او پدے چه په نبى ﷺ باندے د سحر اثر نۀ وو په تبليغ كښ.

او قاضى عياضؒ وئيلى دى چه په رواياتو كښ صفا راغلى دى چه سحر د نبى ﷺ په ظاهرى اندامونو او بدن باندے اثر كړے وو، نۀ په قول، زړه او اعتقاد باندے.

بيا فرمائى : سحر په يو څو قسمه دے : ١- يو قسم هغه دے چه د هغے په مزاوله (كولو) باندے قلب الحقائق مرتب كيږى لكه د انسان نه حيوان جوړ كړى يا د حيوان نه انسان. ددے نه معتزله انكار كوى چه بيا التباس د معجزے سره راځى او اهل السنة ديته هم جائز وائى اگركه فعلًا واقع نۀ دے. او د معجزے او سحر فرق دے چه په سحر كښ دعوه د نبوت او معارضه نۀ وى. او معجزه كښ خو ښكاره كيږى په لاس د مدعى د نبوت په طريقه د تحدى او معارضے سره. دارنگه سحر كښ تعليم او تعلم جارى كيږى او د شرير انسان په لاس ښكاره كيږى په خلاف د معجزے نه.

او ددے قسم سحر په واقع كيدو باندے دليل نشته چه يو ساحر داسے كار اُوكړى چه د هغه د گوتو نه اُوبه روانے شى او خلق پرے ماړه شى، يا په امسا باندے درياب اُووهى او لښكر په هغے كښ تير شى، يا د امسا نه مار جوړ كړى. يعنى د ساحر په لاس باندے داسے خوارق العادات كارونه نشى جارى كيدے كوم چه د انبياء عليهم السلام په لاسونو جارى كيږى دپاره د اعجاز.

(٢) دويم قسم هغه دے چه بعض د نفوس خبيثه خاوندان د څه كارونو مزاوله (تجربه) اُوكړى چه د هغے په وجه باندے يو ضرر مرتب شى بغير د مسه كولو او د خواته ورتللو د

هغه انسان نه چا ته چه ضرر رسیدلے دے۔ یعنی د وړاندے ځائے نه اثر اُوکړی۔ دا قسم هم د اهل السنة په نیز جائز او د معتزلو په نیز منع دے۔ددے مثال دا دے چه په سحر سره ښځه او خاند جدا کول او پدے کښ د اهل السنة قول حق دے ځکه چه قرآن کریم د ساحرانو د طرفنه حکایت کړیدے چه دوی به د ښځے او سړی ترمینځ جدائی راوستله او حدیث کښ دی چه نبی ﷺ کله د کوهی نه هغه ګمنزه او ویښته راویستل نو داسے شو : (کَاَنَّمَا نَشَطَ مِنْ عِقَالٍ) (ګویا کښ د پړی نه راکولاؤ شو)۔

(۳) دریم قسم هغه دے چه داسے اسباب اختیارول چه په هغے باندے صرف ظاهری آثار مرتب شی، نۀ حقیقی۔ او دا قسم د معتزله او اهل السنة ترمینځ اتفاقاً واقع دے۔ لکه قرآن کریم د ساحرانو د فرعون نه ددے حکایت کړیدے :

[فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوْا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوْهُمْ) او دا قول : [فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعٰى] (الوسيط لسيد طنطاوى ١٧٤/١) وتفسير حقى)

د سحر تعلم اوتعليم

اسلام د سحر د زدۀ کولو نه سخته منع کړیده ځکه چه پدے علم کښ ضرر دے او ددے په زده کولو ئے ډیر عذابونه وئیلی دی۔ حدیث کښ دی : [حَدُّ السَّاحِرِ ضَرْبَةٌ بِالسَّيْفِ] (الترمذی عَنْ جُنْدُبٍ وَصُحِّحَ مَوْقُوْفاً) (د جادوګر حد دا دے چه په توره به وهلے شی) ددے وجه نه بعض علماؤ وئیلی دی چه سحر زدۀ کول مطلقاً کفر دے ځکه الله تعالیٰ سحر ته کفر وئیلے دے۔ او بعض علماؤ وئیلی دی چه د سحر زدۀ کول حرام او ګناه کبیره ده او که چرته په هغے عمل کوی نو بیا به کفر او شرك وی۔

امام رازیؒ په خپل تفسیر کښ وئیلی دی چه د محققینو په اتفاق سره تعلیم او تعلم د سحر قبیح نۀ دے ځکه علم لذاتہٖ شریف شے دے، او د (هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ) عموم پرے دلیل دے، دارنګه که سحر اُونۀ پیژندلے شی نو فرق د معجزے او سحر نۀ راځی او دا فرق پیژندل خو واجب دی نو تعلیم د سحر هم واجب دے او کوم شے چه واجب وی نو هغه قبیح او محظور نۀ وی۔ امام ابن کثیر رحمه الله په هغه باندے سخت رد کړیدے چه دا خبره سو چه غلطه ده۔ دا خبره چه علم د سحر قبیح نۀ دے، که د قباحت نه عقلی قباحت اخلے نو معتزله خو ددے په قباحت عقلی قائل دی او که دا مطلب وی چه دا شرعاً قبیح نۀ دے نو دا خبره هم خطاء ده، وجه دا ده چه پدے آیت کښ

قباحت د تعلم السحر ذکر دے دارنګه صحیح حدیث کښې دی : [مَنْ أَتٰى عَرَّافًا (أَوْ كَاهِنًا)، فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ) (مسلم : ۲۲۳۰) (څوك چه جوګی (فالګر) ته راغلو نو دهٔ کفر اُوکړو په هغه کتاب چه پر محمد ﷺ نازل شوے وو)

دارنګه په "سنن" کښې دی :

(مَنْ عَقَدَ عُقْدَةً وَنَفَثَ فِيهَا فَقَدْ سَحَرَ) [نسائی: ۴۰۷۹، ضعیف].

(چا چه یو غوټه ورکړو او بیا ئے په هغے کښې پوکے اُوکړو نو دهٔ جادو اُوکړو).

دارنګه دا دعویٰ کول چه محققینو ددے په عدم قباحت اتفاق کړیدے دا هم غلطه ده، کوم عالم دا خبره کړیده؟، د هغوی نه نص پیش کول پکار دی.

دارنګه علم السحر د (قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ) آیت په عموم کښې داخلول صحیح نهٔ دی ځکه چه د هغے نه مرادِ خو شرعی علم دے. دارنګه دا خبره چه فرق د معجزے او د سحر په تعلم د سحر راځی، دا خبره غلطه ده، ځکه چه د نبی ﷺ غټه معجزه قرآن کریم دے او دا په سحر سره معلومولو ته هیڅ محتاج نهٔ دے.

دارنګه زمونږ د امت صحابه کرام او تابعین وغیره ته د نبی ﷺ معجزات معلوم وو او حال دا چه په سحر نهٔ پوهیدل او نهٔ ئے تعلیم او تعلم کولو نو آیا هغوی نه هم دا واجب علم پاتے شویدے.(ابن کثیر) (دا د فلاسفو خرافات دی).

علامه ابن عاشور – رحمه الله – فرمائی : سحر د خباثت د نفس او د فساد د دین او د شر عمل او د خلقو د یره ولو سره پیوسته دے، ددے وجه نه ادیان حقه ؤ خلق د سحر نه یره ولی دی او پدے باندے مشغوله کیدل ئے د الله تعالیٰ د طاعت نه وتل ګنړلی، ځکه چه دا بناء دے په عقیده د تاثیر د آلهه ؤ او جناتو کوم چه منسوب دی آلهه ؤ ته په عقائدو د پخوانو کښې. او موسیٰ علیه السلام هم خپل قوم د سحر او ساحرانو نه یرولے دے لکه په سفر استثناء باب (۱۸) آیات ۹ نه تر ۱۲) پورے : کښې راغلی دی چه موسی علیه السلام خپل قوم ته اُووئیل:

«کله چه ته هغه زمکے ته داخل شے چه ستا رب اله ئے تا ته درکوی نو د دغه ځائے د خلقو په شان پلیت علم زدهٔ نکړے».

د ساحر حکم

ددے وجه نه د اکثرو علماؤ رایه دا ده چه د ساحر حکم دا دے چه دا به وژلے شی ځکه چه

دا مفسد او زندیق دے، او د بعضو علماؤ دا فتوی ده چه ساحر کله په مسحور کښې یو جنایت راپیدا کړی نو د هغه نه به قصاص اخستے شی که قتل ئے اُوکړو، نو دا به پرے قصاصاً وژلے شی او که د قتل نه علاوه نور جنایت ئے اُوکړو نو د هغے مناسبت دیت به ترے اخستے شی۔ امام مالك وائی : ساحر به وژلے شی او د توبے مطالبه به ترے نشی کولے که چرته مسلمان وی۔ او که ذمی وی نو قتل ئے نشته بلکه ادب به ورکړے شی، البته که د سحر په وجه ئے مسلمان ته ضرر ورکړے وو نو بیا به وژلے شی ځکه چه دا ناقض العهد اُوګرځیدو۔ علامه باجیؒ په منتقی (۱۱۷/۷) کښې فرمائی : د امام مالك رأی دا ده چه سحر کفر او شرك دے او دلیل دے په شرك باندے، که دا په پټه سره کوی نو دا زندیق دے ځکه اسلام ئے ښکاره کړیدے او باطن کښې ئے کفر دے۔الخ)

او امام ابوحنیفهؒ فرمائی : ساحر سړے به وژلے شی او د توبے مطالبه به ترے نۀ کیږی او هرچه ښځه ده نو هغه به جیل ته واچولے شی تردے چه جادو پریدی۔ نو دۀ ساحر ته د مرتد حکم ورکړیدے۔[حاشیة رد المحتار علی الدر المختار ٤/٢٤٠]

او بعض علماء وائی چه سحر مطلقاً کفر نۀ دے بلکه ددے حقیقت تالاش کول پکار دی که چرے د ایمان منافی کارونه پکښې وی نو بیا به دا کفر وی او که کفر پکښې نۀ وی او اهلاك النفس پکښې وی نو ددے حکم به د قطاع الطریق وی او پدے کښې مذکر او مؤنث برابر دی او توبه ئے هم قبلیږی کله چه توبه اُوباسی۔

په تورات کښې هم د جادوګر سزا قتل خودلے شویده۔ لکه په سفر اللاویین آیات (۲۰-۲۷) کښې دی : «کله چه په یو سړی یا ښځه کښې جان (پیرے) یا رمال وی نو دا به وژلے شی» (التنویر)

د سحر علاج

هرکله چه سحر یو مرض دے او د هر مرض دپاره الله تعالیٰ ضرور علاج رالیږلے دے، ددے وجه نه په غلطو طریقو سره د سحر علاج کولو مطلب دا وی چه صحت غوختل او ایمان د لاسه ورکول۔ لهذا مسلمان له مناسب دی چه په چا سحر اُوشی نو هغه به اول صبر کوی او بیا که علاج کوی نو صحیح سلیم العقیده انسان نه به قرآنی او حدیثی علاج کوی، جادوګرو له تلل د ایمان نه خلاصیدل دی۔ او زمونږ ډیر مسلمانان سړی او زنانه پدے مرض کښې مبتلا دی چه کله بیماران شی نو بیا ترے ایمان او دین هیر شی،

صرف د صحت غم راخستی وی۔ نو د شرعی علاج په باره کښې علماؤ ډیر کتابونه لیکلی دی لکه یو د هغې نه (۱) وقاية الانسان (۲) الصارم البتار د عبد السلام بالی۔ او داسې نور مهم کتابونه۔ ددې په علاج کښې سورة البقره لوستل او آخری معوذتین سورتونه لوستل ډیر کار آمد دی۔ نبی ﷺ باندې جادو شوې وو نو الله تعالیٰ ورته دغه آیتونه بطور علاج راولیږل۔ خو پدې باندې یقین ضروری دې۔ زمونږ د شیخ (ابو محمد) هم د سحر د علاج متعلق یوه رساله شته «د سحر او جادو او بد نظر علاج» د هغې نه فائده واخلئ۔

﴿وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ﴾ پدې کښې جواب د دریمې شبهې د یهودیانو دې چه سحر خو آسمانی علم دې ځکه چه دا په دوه ملائکو هاروت او ماروت نازل شویدې او تهٔ سحر ته کفر وائې نو معلومه شوه چه ته نبی نهٔ ئې ؟

نو جواب اُوشو چه هاروت او ماروت باندې کوم سحر نازل شوې وو نو هغه د خلقو د ابتلاء او امتحان دپاره نازل وو او دې دپاره چه خلق د معجزې او د سحر تمییز زدهٔ کړی، او هغوی به خلق ددې نه منع کول چه په سحر عمل اُوکړی لیکن خلقو ترې غلطه فائده واخسته او هغه سحر په یهودیانو کښې مشهور شو۔

په آیت کښې احتمالات

پدې آیت کښې مفسرین ډیر احتمالات ذکر کوی چه د هغې په وجه د آیت نه یوه مُعَمَّه جوړه شویده، هغه ذکر کیږی بیا صحیح تفسیر۔

(۱) واو عطف دې په تَتْلُوا او د وَاتَّبَعُوا د لاندې دې او دا ظاهر احتمال دې۔ (۲) یا په مَا كَفَرَ عطف دې او په مَا كَفَرَ کښې ما نافیه ده نو دا هم نافیه ده۔ (۳) یا عطف دې په السِّحْرَ باندې د يُعَلِّمُونَ د لاندې دې یعنی خلقو ته به ئې جادو هم خودلو او مَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ هم یعنی قدیم او جدید جادو به ئې خودلو۔ او لفظ د ما کښې دوه احتماله دی (۱) ما نافیه ده (۲) موصوله ده۔ أُنزِلَ کښې دوه احتماله دی چه د نازلولو معنیٰ ئې ده او که د تعلیم معنیٰ ئې ده۔ او الْمَلَكَيْنِ کښې دوه قراءتې دی۔ ۱- په کسره (زیر) د لام دې ۲- او که په فتحه (زبر) د لام۔ نو په کسره سره دوه بادشاهان مراد دی او که فتحه شی نو ملائك مراد دی بیا درې احتماله دی : (۱) یا جبریل اومیکائیل علیهما السلام مراد دی (۲) یا هاروت ماروت (۳) یا رَجُلَيْنِ مُتَظَاهِرَيْنِ بِالصَّلَاحِ ۔ دوه سړی وو چه ځانونه ئې نیك عمله

ښکاره کړی وو لکه ګویا کښې چه ملائك دی، خلقو به د ملائکو په شان ګڼړل۔
بِبَابِلَ : (١)- دا متعلق دے د انزل پورے (٢) یا د یعلمون الناس پورے۔ هاروت ماروت (١) یا بدل دے د الشیاطین نه او بدل د تثنیه د جمع نه جائز دے۔ (قرطبی) (٢) یا بدل دے د ملکین نه او دا دواړه نومونه دی د ملائکو۔ ٢- یا د دوه سړو ٣- یا د دوه بادشاهانو۔
اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ : (١) یوه معنیٰ امتحان۔ (٢) دویم : مونږ تجربه کاریو په سحر کښې۔ نو پدے کښې ترغیب دے خلقو ته۔ فَلَا تَكْفُرْ (١) کفر مهٔ کوه جادو مهٔ زده کوه (٢) (فَلَا تَكْفُرُ عَنُ عِلُمِنَا) (زمونږ د علم نه انکار مهٔ کوه) او راشه زمونږ نه علم زده کړه۔ دا په هغه صورت کښې چه کله د هغه دوه کسانو خبره شی۔
فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا (١) (فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنُ ضِدِّهِمَا عَنُ غَيُرِهِمَا) (د دوی د ضد نه به ئے د بل چا نه جادو زدهٔ کولو) (٢) ظاهر معنیٰ دا ده چه د دغه ملکین نه به ئے زده کولو۔ دا احتمالات چه یو بل سره ملاؤ شی نو دوه دیرشو (٣٢) ته رسیږی۔ لیکن پدے سره اصل مقصد د آیت خرابیږی۔ او دا مونږ د تبصرے دپاره ذکر کړل ورنه پدے کښې بعض احتمالات یقیناً غلط دی۔

صحیح تفسیر

لهذا ظاهری او ښهٔ تفسیر دا دے چه دا جادو نازل شوے وو په دوه ملائکو چه هاروت او ماروت د هغوی نومونه وو او الله تعالیٰ د امتحان دپاره رالیږلی وو او په عراق بابل ښار کښې ئے رالیږلی وو چه تاسو لاړ شئ او خلقو ته جادو بیانوئ او دا ورته وایئ که جادو مو اُوکړو نو کافر کیږئ او که اُومو نکړو او ځان مو ترے ساتلو، نو د کفر نه به خلاصیږئ او الله تعالیٰ به اجر درکوی لیکن که یو سړے درنه خامخا زده کوی نو بیا ئے ورزده کوئ۔ لکه یو سړی سره د جادو کتاب وی، وے ګوری خو که عمل پرے اُوکړی نو کافر کیږی او که هسے ئے اُوګوری او عمل پرے نهٔ کوی نو بیا ګناهګار نهٔ دے، دارنګه یو استاذ اُووائی : چه چا دوه روپئ د یو روپئ په عوض کښې واخستے نو دهٔ سود اُوکړو لیکن کله چه یو آوریدونکے داسے واوری نو په هغے باندے عمل شروع کړی نو پدے کښې د استاذ ګناه نشته بلکه د آوریدونکی ګناه ده۔
نو تا باندے الله تعالیٰ اُوس امتحان کوی چه ته ئے کوے او که نهٔ ؟ ځکه دے کتاب کښې ډیرے مزیدارے خبرے وی لکه که دا سے دِے اُوکړل نو فلانی ځائے کښې به سړے درباندے

عاشق شی که داسے ډیے اُوکړل نو ښځه به درباندیے عاشقه شی که دا ډیے اُوکړو، دومره پیسے به درله راشی، که دا ډیے اُوکړو نو دومره پیریان به ډیے تابع شی، نو ستا به هم ورته زړه اُوشی چه دا کار خو کول پکار دی نو دا امتحان دیے په تا باندیے چه ته ځان کافر کویے، دنیا غوره کویے او که دین غوره کویے ؟ (لکه نن صبا هم ډیرو خلقو د پیسو دپاره دا چلونه زده کړل او په دیوالونو لیکی فلانی جادوشکن له راشئ په ینځه منټه کښ به ډیے حاجت پوره شی دوی ته ورتلل حرام او کفر دیے).

نو پدیے کښ دوه ملائك راغلل په شکل د انسانانو او خلقو ته به ئے جادو بیانولو او دا به ئے هم ورته وئیل چه دا جادو دیے، غلط شے دیے، خو ګوره چه کافر پریے نۀ شے، عمل پریے اُونکړیے، دوی به وئیل چه خیر دیے که مونږ پریے کافر شو خو ضرورئے زده کوو، نو دوی به پریے کافر شو او هغه به ئے زده کړو او خپل مقصد به ئے پریے حاصلولو، چه د ښځے او د سړیے په مینځ کښ به ئے جدائی راوستله چه هغه به خبر شو نو هغه به راغلو هغه به هم زده کړو نو هغه به بیا دهٔ نه ښځه جدا کوله نو په عالَم کښ یو غټ فساد جوړ شو. نو اُوس دلته یو سوال دیے او یوه قصه ده.

سوال دا دیے چه الله تعالیٰ خو د آسمان نه غلطے خبریے نۀ نازلوی (اِنَّ اللّٰهَ لَایَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ) (الله تعالیٰ خو په بے حیائی امر نۀ کوی) او جادو خو کفر دیے نو څنګه ئے ملائك پریے رالیږل، دا خو په زوره خلق ګمراه کول ښکاره کیږی ؟

۲- دویم دا چه د الله تعالیٰ قانون دا دیے چه د تعلیم دپاره انسانان رالیږی نو دلته ئے ملائك څنګه رالیږلی دی ؟ دا دوه اشکالات د مفسرینو په ذهن کښ دی نو ځکه دلته بعضِ ما نافیه اخلی لکه روستو معنیٰ راځی.

جواب : جواب دا دیے چه الله رب العزت په بندګانو همیشه ابتلاء (امتحان) کوی څنګه چه اُوغواړی. او الله رب العزت امتحان اخستونکے ذات دیے، بے امتحانه انسان نۀ پریدی، کله مالی امتحان وی کله بدنی امتحانات وی، لکه په ایوب ﷺ او کله دینی، دیے حیائی امتحانات وی لکه یوسف ﷺ باندیے ئے راوستو. کله د کفر او اسلام امتحان وی، کفر به رافراخه کړی او په هغے کښ به ډیر مال ملاویږی.

او ددیے امتحان بل غټ مثال د دجال دیے لکه دجال چه اُوس آخره زمانه کښ رالیږی نو هغه به خلقو ته وائی چه زهٔ رب یم، جنت او جهنم به هم ورسره وی او بارانونه به هم

کولے شی او خلق به وږنی او ژوندی کوی به ئے، د چا مالونه به فراخه کوی او که څوك پرے ایمان نۀ راوړی نو په قحط کښ به ئے مبتلا کوی، پتې او زمکے به ورله شاړے کړی او خوراکونه به پرے بند کړی، دا د الله تعالیٰ ابتلاء او امتحان دے، دے دپاره چه د کمزوری او قوی ایمان والا پته اُولګی، ځکه دا جنت خو څه سرائے نۀ دے چه هر څوك به ورځی، جنت ته الله رب العزت هغه بندګان بوځی چه هغه کښ اهلیت وی، امتحاناتو کښ تکړه وی (الله دِے په مونږ باندے امتحانات نۀ راولی خبرے به کوو خو که چرته په مونږ امتحان راغلو نو بیا به دومره تکړه نۀ یو)

بیا الله تعالیٰ داسے رحیم او حکیم او علیم ذات دے چه په هر بنده باندے د هغه د طاقت مناسب امتحان راولی، داسے ابتلاء نۀ وی چه غر ورته په شا کیدی، چه څومره سخت ایمان والا وی نو امتحان ئے هم سخت وی او چه ایمان ئے کمزورے وی نو امتحان ئے هم کمزورے وی۔ او په بنی اسرائیلو کښ ډیر عجائبات ښکاره شوی وو نو یو دِے پکښ دا عجیبه کارنامه هم وی چه ملائك دِے د هغوی د تعلیم السحر دپاره راکوز شوی وی، لکه سامری سخے جوړ کړو، په هغے کښ به آواز راتلو، دریاب ئے په خپلو سترګو کولاؤ اُولیدو، الله تعالیٰ پرے غر راوچت کړے وو۔ ملخان، چندخان ئے په قبطیانو مسلط اُولیدل۔ او په یو جام کښ به وینه او اُوبه وے، بنی اسرائیلی دپاره اُوبه او قبطی دپاره وینه به جوړیده۔ دغه شان نور۔

نو بناء پدے تفسیر : (وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ) د (وَاتَّبَعُوا) لاندے دے۔ په مَا تَتْلُوا الشَّيَاطِيْنُ عطف دے او معنیٰ دا ده : دا یهود روان شو د هغه جادو پسے چه لوستو به شیطانانو انسی یا جنی په زمانه د سلیمان ﷺ کښ چه دا جدید جادو وو، شیطانانو ایجاد کړے وو او په هغه جادو پسے هم روان شو چه په دوه ملائکو هاروت او ماروت باندے په بابل کښ نازل شوے وو د امتحان دپاره۔ چه هغه ډیر غلیظ جادو وو، او دا قدیم (زوړ) جادو وو۔

مطلب دا چه یهودیانو زوړ او نوے جادو زدۀ کړو او په هغے باندے ئے عمل شروع کړو۔ او د الله کتاب ئے پریخودو۔ د قرآن په مقابله کښ ډیر څیزونه دی هغه زمانه کښ جادو وو او پدے زمانه کښ جادو هم دے، منطق او فلسفه هم ده، اخبارونه او مجلے هم دی۔ او بے حیاء تصویرونه او موبائیلونه هم دی چه دا د انسان زندګی ختموی او خرابوی ئے۔ نو

د کتاب او سنت په مقابله کښې ډیر دعوتونه کیږي. شپاړس سوه اخبارونه شائع کیږي هر کس دوه درې ګوري نو څوك د الله تعالیٰ د کتاب تلاوت ته اُوزګار نشته ! او خرافاتو ته د هر چا توجه ده، که واړهٔ دی که زاړه دی، او که ښځې دی او که سړي. إِلَّا مَنْ رَحِمَ رَبُّكَ فَإِلَى اللّٰهِ الْمُشْتَكىٰ مِنْ سُوْءِ صَنِيْعِ هٰؤُلَاءِ، هَدَانَا اللّٰهُ وَإِيَّاهُمْ.

د هاروت وماروت قصه

دلته بعض مفسرین ددې ملائکو متعلق یوه قصه لیکلې ده چه بې حقیقته ده.

هاروت وماروت دوه ملائك وو او ډیر نیکان وو، ملائکو به د بندګانو ګناهونه لیدل چه هره ورځ به بره آسمان ته راختل نو دوی اُووئیل : چه اې الله ! دا ستا څنګه بندګان دی چه دومره ګناهونه کوی ؟ نو الله تعالیٰ اُوفرمایل : که تاسو له مې خواهشات درکړل تاسو به هم دغه شان کوئ، نو دوی اُووئیل: چه نهٔ مونږ به چرې هم داسې اُونکړو ؟ نو الله ورته اُوفرمایل : چه تاسو کښې دوه نیکان غوره کړئ نو دوی پکښې هاروت او ماروت غوره کړل ځکه چه دا په نیك عملئ زیات مشهور وو،

دوی ئې زمکې ته الله تعالیٰ راکوز کړل او خواهشات ئې پکښې واچول او جادو ئې ورله ورکړو. نو دوی به خلقو ته جادو زده کولو. نو پدې کښې یوه زنانه د زهره په نوم ورله راغله (ښائسته وه) نو د دوی ورته توجه پیدا شوه نو هغې ورله ځان نهٔ ورکولو تردې چه هغې ورته اُووئیل شراب به څکئ نو دوی شراب اُوڅکل او بیا ئې قتل اُوکړو بیا په زنا کښې واقع شو، او د دوی سره اسم اعظم وو، هغه ئې زهرې له ورکړو نو هغه پرې آسمان ته اُوختله (او زهره ستورې ترې جوړ شو) او دوی په زمکه کښې وو، نو الله تعالیٰ ورته اُوفرمایل : چه د آخرت عذاب مو خوښ دې او که د دنیا ؟ نو دوی د دنیا عذاب غوره کړو نو په بابل کښې په یو کوهی کښې د ژبو نه زوړند کړې شو.

دا قصه یهودیانو جوړه کړیده او سوچه دروغ دی، د ډیرو وجو نه (۱) یو پدې کښې د بندګانو د ګناهونو دپاره عذر خودلې شویدې چه بندګان خواهشات لری، خیر دې که ګناهونه کوی. (۲) دویم دا چه د آیت خلاف دې (لَا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَا أَمَرَهُمْ) (ملائك د الله تعالیٰ د هیڅ امر خلاف نکوی) هغوی کښې تکبر نشته، عاجز مخلوق دې.

(۳) دا خبره هم خطاء ده چه هاروت او ماروت پکښې په نیك عملئ زیات مشهور وو بلکه د نصوص شرعیه ؤ نه معلومه ده چه په ټولو ملائکو کښې غوره ملائك جبریل

او میکائیل وغیره دی۔ (٤) بلـه دا چه زهرے سره زنا اُوشوه نو زنا کاره، قاتله، شراب څکونکی ښځه بره اُوخیژی او ستورے ترے جوړ شی۔
(٥) بلـه دا چه دا ستورے خو د پخوانه دے۔ کوم وخت نه چه الله تعالیٰ آسمانونه پیدا کړیدی۔ (٦) هرکله چه اسم اعظم دوی ته یاد وو نو دوی پرے ولے نهٔ ختل چه زهره له ئے تشکیل کولو۔ (٧) بل د ژبے نه زوړندول هم ناممکن معلومیږی، نو دا تهولے د عقل او د دین متصادم خبرے دی۔
حافظ ابن کثیرؒ فرمائی : د هاروت وماروت باره کښ چه کومے قصے بنی اسرائیلو مشهورے کړیدی نو د هغے په باره کښ هیڅ صحیح مرفوع متصل سند والا حدیث نشته (ابن کثیر والشفاء د قاضی عیاض)
لهذا په هغے کښ د ملائکو گستاخی ده د هغے بیانولو او ذکر کولو ته هیڅ ضرورت نشته۔ او په هغے سره د قرآن کریم تفسیر کول تحریف دے۔
۲- پدے کښ دویم تفسیر دا هم بعضو کړیدے چه د شیاطین نه مراد انسی شیطانان دی او د مَاتَتۡلُوۡا (هغه څه چه هغوی به بیانول) ددے نه مراد قصے او خرافات دی (او سلیمان کفر نهٔ وو کړے) ددے نه مراد دا دے چه هغه د بتانو عبادت نهٔ وو کړے۔ او لٰکِنَّ الشَّیَاطِیۡنَ کَفَرُوۡا) کښ د کفر نه مراد د نازل شوی آیتونو نه انکار یا د غیر الله عبادت، یا د جادو خودلو او ازدهٔ کولو سره کفر کول دی۔او د (هاروت وماروت) نه مراد دوه سړی دی چه خلقو به ورته ډیر د حسن ظن په وجه ملائك وئیل حال دا چه هغه نیکان خلق نهٔ وو بلکه د خلقو د دوهوکه کولو دپاره به ئے ښکاره کول چه هغه ښه خلق دے او د جادو زده کولو نه به ئے منع کول۔
ددے قول خلاصه دا ده چه یهودو د قرآن تکذیب اُوکړو او ددے په بدله کښ د هغه قصو او خرافاتو تصدیق ئے اُوکړو کوم چه انسی شیطانانو د سلیمان علیه السلام او د هغه د بادشاهئ په باره کښ مشهور کړی وو چه سلیمان د بتانو عبادت کړیدے او کفر ئے کړیدے حال دا چه سلیمان علیه السلام کفر نهٔ دے کړے بلکه جنی شیطانانو کفر کړے وو، خلقو ته ئے جادو خودلو او وئیل به ئے چه دا هاروت او ماروت دوه سړو باندے نازل شویدے چه هغے ته به خلقو (د هغوی د ظاهری نیکئ په وجه) ملائك وئیل، حال دا چه په دے دواړو باندے د الله تعالیٰ د طرف نه هیڅ نهٔ وو نازل بلکه هغه دواړه داسے سړی وو چه د

نیك کیدو دروغـو دعـوئ ئے کـولـه او خلقو ته به ئے دا یقین ورکولو چه دوی خو خلقو دپاره صرف خیر غواړی او هغوی د کفر نه یروی۔ (تیسیر الرحمن)

لیکن د قرآن کریم سیاق ددے تائید نکوی پدے وجه ابن جریرؒ وغیره ددے تردید کړیدے (ابـن کثیـرؒ) بـلـکه دا دواړه ملائك وو او الله تعالیٰ ددے دپاره نازل کړی وو چه خلقو ته دا اُوښائی چه د انبیاء علیهم السلام په لاسونـو بـانـدے ظاهر شده معجزے د جادو نه مـخـتـلف دی او جادو هغـه دے چه د کـوم عـلـم مـونـږ تـه د الله تعالیٰ د طرف نه راکړے شـویـدے (په هغـه دور کښں د جادو د عام کیدو په وجه خلقو نعوذ بالله انبیاء جادوگر او شعبده باز گڼړل) نو ددے مغالطے نه د خلقو د بچ کولو دپاره او د امتحان دپاره الله تعالیٰ ملائك نازل کړل۔ (والله اعلم) (تفسیر احسن البیان) وَهُوَ الظَّاهِرُ الَّذِیْ لَا مَحِیْدَ عَنْهُ۔

فائده : په مـلائـکـو بـانـدے کـوم شے نازل شوے وو، او هغوی به خلقو ته د کوم شی تـعـلـیـم ورکـولـو۔ نـو پدے کښں مشهور قول دا دے چه ددے نه مراد جادو وو، چه دوی به خلقو ته بطور امتحان جادو خودلو۔

(۲) دویـمـه رأیه دا ده چه ددے نه مراد د څیزونو او د کلماتو د روحانی خواص او تاثیراتو هغـه علم دے چه د هغے رواج د یهودو په صوفیاؤ او پیرانو کښں وو او کوم چه به هغوی د تـعـویـذونـو او دمـونـو او مـخـتـلـف قسم عـملیاتو په شکل د مختلف غرضونو دپاره استعمالولو۔ مثلًا د بعض امراض یا تکالیفو د ازالے دپاره یا د بد نظر او جادو وغیره د بد اثراتـو د لـرے کـولـو دپاره یـا د شعبده بازو (جادوگرو) د فتنے د مقابلے دپاره یا د محبت او نـفـرت د اثراتـو اچـولـو دپاره۔ نو دا علم پدے اعتبار سره د جادو او د نجوم وغیره علم نه بـالـکـل مـخـتـلـف وو، نهٔ پـدے کښں د شـرك کوم ملاوټ وو او نهٔ پدے کښں د شیطان او جـنـاتـو کـوم دخل وو ، لیکن د خپلو اثرات او نتائجو په پیدا کولو کښں دا د جادو په شان تیز اثر والا وو، او ممکن ده چه دا علم بنی اسرائیلو ته د بابل په زمانه کښں د دوه ملائکو پـه ذریـعـه پـدے وجه ورکړے شوے وی چه ددے په ذریعه د بابل د سحر او ساحرئ مقابله اُوکړے شی او د خپـل قـوم د کم عـلـمـو او ساده لوحو خلقو زړونه د جادوگرو د رعب نه مـحـفـوظ شی، او ددے وجـه دا ده چه په بابل کښں د سحر او ساحرئ او نجوم ډیر زور وو لـکه دا د تورات د الفاظو نه معلومیږی۔ دویمه وجه دا ده چه د الله تعالیٰ دا طریقه ده چه پـه یـو ځائے کښں د غلط علم رعب او زور وی، چه د هغے نه مفسدان خلق فائده اخلی نو

هلته الله تعالیٰ د هغے د مقابلے دپاره ایمان والو ته داسے علم ورکوی چه جائز او فائده مند وی۔

او دوی وائی دا د جادو علم نهٔ وو۔ وجه دا ده چه ملائك د شرك او كفر او د هغے د گندگیانو نه پاك دی او سحر خو یو غلط علم دے، د ملائکو په مزاج کښې د شرکیاتو او گندگیانو نه نفرت وی، نو د ملائکو لمن ددے نه پاکه ده، دویمه وجه دا ده چه ملائکو ددے علم دپاره کوم الفاظ استعمال کړیدی د هغے نه هم معلومیږی چه د هغوی علم د شیاطینو د سحر نه مختلف خصوصیات لرل، د شیاطینو علم خو کفر وو او ملائکو د خپل علم دپاره فتنه لفظ استعمال کړیدے، د فتنے معنیٰ د ازمیښت او امتحان ده۔

او په قرآن کریم کښې عموماً فتنه د هغه څیزونو دپاره استعمال ده چه اول کښې خو د انسان د نفع او فائدے دپاره پیدا وی لیکن انسان هغه غلط استعمال کړی یا د حد نه زیات د هغے په محبت کښې گرفتار شی نو هغه دپاره فتنه اُوګرځی، چه د هغے په سبب د فائدے په ځائے نقصان او ضرر شی۔ لکه مال او اولاد ته فتنه ته وئیلے شویده، نو هر چا ته دا معلومه ده چه دا څیزونه بذات خود شر نهٔ دے بلکه د الله تعالیٰ نعمتونه دی، که انسان ددے صحیح مقام اُوپیژنی نو دا ددهٔ دپاره په دنیا ا وآخرت کښې نفع رسونکی جوړیدے شی لیکن کله چه انسان ددے په بے ځایه محبت کښې گرفتار شی او د الله تعالیٰ او د آخرت نه پرے غافل شی نو دا د هغه دپاره وبال او عذاب جوړیږی۔ دغسے نور وجوه هم ذکر کوی۔

لهذا ددے ملائکو علم یو جائز او مفید علم وو لیکن یهود راولګیدل، د خپل زړه د فساد د وجه نه به ئے دا په غلط نیت یادول او په غلطو مقاصدو کښې به ئے استعمالولو، د یو بل دشمنی ئے پرے شروع کړه یو بل نه به ئے ښځے جدا کولے۔ نو نتیجه دا شوه چه دا علم د هغوی په نیز د سحر او ساحریٔ یوه ضمیمه جوړه شوه او خوند ئے ورله ورکړو تردے چه د الله تعالیٰ کتاب سره ئے هیڅ تعلق پاتے نشو او که پاتے شوے وو نو هم صرف د دمونو، عملیاتو او تعویذونو حد پورے چه فلانے آیت وئیلو سره دا فائده کیږی او فلانی آیت لیکلو سره دا اثر پیدا کیږی۔ نو خلاصه دا شوه چه دا جادو نهٔ وو بلکه جائز دمونه وو لیکن یهودو ترے مقصد جوړ کړو او د الله تعالیٰ کتاب ئے پرے پریخودو لیکن اُوس یو سړے د قرآن نه دمونه اچوی، د الله تعالیٰ نومونه د دنیو منافعو دپاره

استعمالوی او مقصد – چه عمل وو- هغه پاتے شی نو دا د مذمت خبره ده۔

وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ : پدے کښې یو قسم بریت دے د ملائکو، یعنی که ملائکو به چا ته دا علم خودلو نو دا تنبیه به ئے ورکوله چه گوره زمونږ دا علم یوه فتنه ده نو ته دا د غلط مقصد دپاره استعمال نکړے چه کافر نشے بلکه دا به صرف د صحیح مقاصدو دپاره استعمالوے۔ او که جادو وی نو بیا مه زده کوه۔

(**إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ**) فتنه لفظ جامع دے معنیٰ د گډوډ والی او اضطراب (پریشانی) د احوالو د یو تن لره او په نفس او مال باندے د زړه یریدو اوگډوډ کیدو ته شامل دے کله په کښې د مضاف الیه په نسبت تخصیص کیږی۔ لکه فتنة المال، فتنة الدین۔ او هرکله چه پدے حالت کښې د خلقو ثابت قدمی مختلف کیږی د وجه د اختلاف د عقلونو او صبر نو ددے د لوازمو نه امتحان او اختبار دے، نو بیا د امتحان په معنیٰ استعمالیږی۔

إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ معنیٰ دا ده چه (إِنَّمَا نَحْنُ فِي فِتْنَةٍ یا لِلْفِتْنَةِ) (مونږ په امتحان کښې یو ستاسو دپاره) (یا مونږ د امتحان دپاره نازل شوی یو ستاسو دپاره) یا (إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ لَكُمْ) (مونږ ستاسو دپاره امتحان یو) چه آیا تاسو دا جادو زده کوئ او که نه۔

فائده : ددے نه بعض علماؤ استدلال کړیدے چه د جادو زده کول کفر دے او ددے تائید د حدیث نه هم کیږی چه نبی کریم ﷺ فرمائی : [مَنْ أَتٰى كَاهِنًا أَوْ سَاحِرًا وَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُوْلُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ ﷺ] څوک چه کوم کاهن یا جادوگر ته راغلو او د هغه تصدیق ئے اُوکړو نو هغه په محمد ﷺ باندے د نازل شوی دین کفر اُوکړو

[ابوداود : ۳۹۰۶، الترمذی : ۱۳۵، ابن ماجه : ٦۳۹، احمد : ۱۰۱۷۰، بسند صحیح والحاکم]

دارنګه (وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا وَاتَّقَوْا) نه هم ددے په کفر کیدو باندے استدلال کیدے شی او دا رایه د امام احمد بن حنبل او نورو سلف صالحینو ده۔ او بعض علماء وائی چه جادوگر کافر نهٔ دے لیکن د تعزیر په طریقه به د هغه سزا څټ وهل وی۔ حدیث د بخاری او مسند احمد وغیره کښې دی بجاله بن عبده وائی عمر ﷺ مونږ ته خط اُولیکلو [اُقْتُلُوا كُلَّ سَاحِرٍ وَسَاحِرَةٍ...... فَقَتَلْنَا فِي يَوْمٍ ثَلَاثَ سَوَاحِرَ] چه هر ساحر او ساحره قتل کړئ نو مونږ په یوه ورځ کښې درے جادوگرے ښځے قتل کړے۔

[احمد : ۱۶۵۷، وابوداود : ۳۰۴۵ صحیح علی شرط البخاری]

د حفصے رضی الله عنها وینځے جادو کړے وه نو رسول الله ﷺ د هغے د قتل حکم اُوکړو نو هغه قتل کړے شوه۔ ترمذی کښې حدیث د جندب الازدی دے چه رسول الله ﷺ اُوفرمایل : [حَدُّ السَّاحِرِ ضَرْبَةٌ بِالسَّيْفِ] د جادوګر سزا په توره سره قتل کول دی۔

[الترمذی : ۱٤٦۰ الدارقطنی : ۳۲۰٤ اسماعیل بن مسلم ضعیف والصحیح انه صحیح مَوْقُوْفًا (قاله الترمذی) وَعَمِلَ بِهٖ جُنْدُبٌ الْأَزْدِیُّ ﷺ فَقَتَلَ سَاحِرًا بِسَيْفِهٖ]

خو دا به اسلامی حکومت وژنی، عوامو ته دا کار نهٔ دے حواله شوے۔

﴿فَلَا تَكْفُرْ﴾ (اَیْ بِتَعَلُّمِ السِّحْرِ) (کفر مهٔ کوه په زدهٔ کولو ددے جادو) یعنی چه جادو دِے زده کړه او عمل دِے پرے اُوکړو نو کافر کیږے لهذا عمل پرے مهٔ کوه او یهودو وئیل چه مونږ دِے کافر شو، ایمان دِے لاړ شی خیر دے خو مونږه دا کاریو ځل کوو۔

ددے وجه نه قانون دا دے او رسول الله ﷺ منع هم کړے ده چه څوك دربانده جادو اُوکړی نو د هغے د ماتولو دپاره به جادوګر ته نهٔ ځی چه دا ماله مات کړه ځکه ددے معنیٰ دا جوړی چه خپل صحت غواړے او ایمان ورکوے او د ایمان نه تا ته صحت لوئی شے ښکاری، نهٔ بلکه صبر به کوے۔

که صحت دِے لاړو او ختم هم شو، خیر دے خو خپل ایمان به نهٔ خرابوے۔ او شرعی دمونه په ځان باندے استعمالوه د بل چا نه د دم مطالبه هم د توکل نه بَری کیدل دی او د بے حسابه بے کتابه جنت ته د داخلیدونکو ډلے نه وتل دی لکه چه دا په حدیث د بخاری کښې راغلی دی۔

﴿بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ﴾ یعنی داسے جادو به ئے کولو چه د ښځے او د سړے دشمنی به راغله او دا یو داسے فساد دے چه ډیر فسادونو ته شاملیږی او په حدیث کښې دی : ابلیس د ښځے او خاوند په جدائی باندے ډیر خوشحالیږی او د هغه شیطان سره ډیر محبت کوی چه دا تفریق راولی۔ او جادو کښې دا اثر الله تعالیٰ اچولے دے که څوك اووائی چه جادو خو مؤثر شو نو جواب : ﴿وَمَا هُمْ بِضَارِّيْنَ بِهٖ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ﴾ یعنی دوی چه دا ضرر ورکولو په جادو سره نو دا د الله تعالیٰ د ارادے مطابق وو او رب العزت په هغے کښې اثر اَچولے دے لکه په ټوپك، زهرو، روټئ، دوائیانو، په خبره او په ګندګیانو کښې ئے اچولے دے۔ دا دلیل دے چه سحر اثر لری د الله تعالیٰ په اذن او قدرت سره۔

﴿ وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ﴾ (۱) او هغه ضرورنه دا وو چه د سحر کولو په وجه به د ایمان نه خلاص شو (۲) دویم دا چه د یو انسان نه به ئې ښځه جدا کړه نو د هغه کور به ئې هم وران کړو۔ (۳) حسدونه او دشمنیانې به ددې نه پیدا کیدلې۔

دد ینه دا فائده معلومه شوه چه هر هغه شې چه ضرر لري او فائده نۀ لري نو هغه ناروا وی لکه غلط علوم شو، حکمة یونان او فلسفه شوه۔

وَلَقَدْ عَلِمُوْا : یعني دوی ته د جادو اخستلو قباحت د تورات نه معلوم وو۔ او د دوی دا مشغولیت په دغه ضرري علمونو باندې د وجه د ناپو هئ نه نۀ وو بلکه ښه عالمان وو چه ددې سره ثواب د آخرت بربادیږی او دا باطل علمونه دی۔

مِنْ خَلَاق : خلاق د خیر برخې ته وئیلې شي۔ (التنویر)

﴿ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖ أَنْفُسَهُمْ ﴾ هغه دا دې چه د الله او د رسول مخالفت به کوی او ضرري څیزونه به اخلی په دې ئې ځان خرخ کړې دې۔ ﴿ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴾ اول کښې وائی ډیر ښه پو هیدل روستو وائی آرمان که پو هیدلې نو کلام کښې تضاد معلومیږی نو جواب دا دې چه سړې پو هیږی او عمل نۀ کوی نو دا جاهل دې۔ او علم ئې نشته ځکه چه د علم په تقاضائې عمل اُونکړو۔

وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا
او که کچرته دوئ ایمان راوړې وې او پریدلی وې (د الله نه) (یا ځان ئې د شرك او جادو نه
لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ ۚ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۳﴾
ساتلې وې) خامخا بدله د الله تعالیٰ د طرف نه غوره وه (دوی له) آرمان که دوی پو هیدلې۔

تفسیر : په دې آیت کښې دوئ ته د صحیح ایمان او د توبې دعوت دې۔ یعني صحیح ایمان راوړئ دا قرآن او دا رسول اُومنئ او بیا ورسره تقویٰ اختیار کړئ د هر قسم شرك، کفر جادو او غلطو علمونو نه ځان بچ کړئ۔

او دا د هغه شیاطین او خلقو سره هم لګی چه د سلیمان علیه السلام په زمانه کښې وو او د

هغه یهودو سره هم لګی چه د الله تعالیٰ کتاب ئے شاته ګوزار کړے وو او سحر پسے روان شوی وو۔
آمَنُوْا : یعنی شرکونه او جادو ګیری ئے نهٔ وے کړے او صحیح ایمان ئے راوړے وے۔
لَمَثُوْبَةٌ : په معنیٰ د ثواب سره۔ دے دا ئے نکره راوړه اشاره ده چه معمولی ثواب د الله تعالیٰ هم ډیر شے دے۔ د ټولے دنیا نه غوره دے۔
مِنْ عِنْدِ اللهِ خَيْرٌ : سړے چه ایمان راوړی او جادو پریدی نو الله تعالیٰ ډیرے بدلے ورکوی په جادو ئے څه کول په قرآن کښ الله تعالیٰ ډیر خیرونه اچولی دی، هغه به ئے درله درکړی وے۔ او په انجیل کښ الله تعالیٰ ډیر خیرونه اچولی وو هغه به ئے درله درکړی وے لیکن چه سړے جائز څیزونو ته نهٔ ورنزدے کیږی او حرامو ته نزدے کیږی نو دنیا ئے هم خرابه شی او آخرت ئے هم خراب شی۔ وبالله التوفیق۔
لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ : یعنی د ایمان اود تقویٰ د خیر نه خبر نهٔ وو او د جادو معمولی دنیاوی فائدے ته ئے کتل چه هغه هم په حقیقت کښ ضرر وو څکه فرمائی (وَلَا يَنْفَعُهُمْ)۔ نو څکه په داسے هلاکتونو کښ مبتلا شول۔
حکمة : مخکښ ئے علم ثابت کړو (وَلَقَدْ عَلِمُوْا) او دلته ئے وائی لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ (ارمان که پوهیدلے) یعنی جاهلان دی۔ (۱) ددے یوه فائده مخکښ ذکر شوه چه څوك په تقاضا د علم عمل نهٔ کوی نو نازلولے شی په منزله د جاهل۔
(أَیْ لَوْ كَانُوْا يَعْرِفُوْنَ لِلْعِلْمِ حَقَّهٗ) (بحرالعلوم) (آرمان که د علم حق ئے پیژندلے)
(۲) دویم دا چه لقد علموا کښ اثبات د جدا علم دے او دلته منفی علم جدا دے۔ ابن عرفهؒ فرمائی : بعض علماء فرمائی : په اول د آیت کښ ئے مطلق علم په ادنیٰ شی باندے ثابت کړو هغه دا چه د جادو اخستل سبب د تاوان دے په آخرت کښ۔ او په آخر د آیت کښ ئے علم حقیقی نفی کړو۔
(أَیْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ عِلْمًا حَقِيْقِيًّا لَمَا بَاعُوْا أَنْفُسَهُمْ بِذٰلِكَ) (تفسیر ابن عرفة ۱/ ۱۴۱)
۳- قطربؒ او اخفشؒ وائی : (لَقَدْ عَلِمُوْا) نه شیاطین مراد دی او (لَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖ أَنْفُسَهُمْ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ) کښ انسانان (یهودیان) مراد دی۔ (القرطبی و البغوی)

فوائد الآیات

۱- د کتاب او سنت نه اعراض کول انسان ته د باطل دروازے کولاووی، قوانین

وضعیه او دینی بدعات او عقلی ضلالات راپیدا کوی، وجه داده چه کتاب او سنت شر او فساد او ظلم بند کړیدے۔ نو یهودو د الله کتاب پریخودو نو په ظلمونو او شرونو کښ اخته شو۔

۲- د سحر تعلیم او تعلم او ددے د استعمالولو حرمت او د ساحر کفر معلوم شو۔

۳- الله تعالیٰ خالق د خیر او شر (ضرر) دے، نفع او ضرر صرف او صرف د هغه په اذن دی نو په نفع حاصلولو کښ او د ضرر په دفع کولو کښ الله تعالیٰ ته رجوع پکار ده په دعا او التجاء کولو سره۔

٤- الله تعالیٰ د یهودو نه پدے دوه آیتونو کښ علم نفی کړو ددے نه دا فائده معلومه شوه چه مبهم او اجمالی علم په شان د هغه ظن دے چه یقین ورسره نهٔ وی، چه د انسان په بدن کښ هیڅ تغییر نهٔ راولی، نهٔ ئے په خیر آماده کوی او نهٔ ئے د شر نه منع کوی په خلاف د علم د پختګئ نه چه د راسخ فی العلم انسان سره رشتینے رغبت او عظیم رهبت (یره) وی چه دا ئے ایمان او تقویٰ او د شرك او ګناهونو نه بچاؤ ته راکاږی۔ (ایسر التفاسیر ۱/۴۳)

٥- سحر شیطانی علم دے او یهودیانو دا د شیاطینو نه اخستے وو لکه (وَاتَّبَعُوا مَا تَتْلُو الشَّيَاطِينُ) پرے دلیل دے او بله دا چه لبید بن اعصم یهودی په نبی ﷺ باندے سحر کړے وو۔

٦- سلیمان علیه السلام د جادو خلاف وو۔ (وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ) ځکه دا کفر دے او هغه ددے د باقی پریخودلو نه بری وو۔

۷- کله کله الله تعالیٰ انسانانو ته اسباب د ګناهونو او شرونو آسانوی پدے کښ امتحان او ابتلاء وی په خلقو، چه څوك دا اختیاروی او څوك ترے ځان ساتی (وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ) نه معلومیږی۔ او یهودو ته ئے د خالی په ورځ مهیان ښکاره او ډیر راوستل۔

۸- په انسان باندے لازم دی چه د خلقو خیر خواهی به کوی اګرکه خلق ددهٔ نه اعراض کوی لکه ملائکو به وئیل : (إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ)۔ نو کله چه د یو بنده سره غلط شے وی او هغه خرڅوی نو واجب ده چه د هغے بیان به خلقو ته کوی۔

۹- د جادو غټ اثر دا دے چه د ښځے او خاوند جدائی راولی۔ چه پدے عمل باندے

شیطان ډیر خوشحالیږی ځکه چه کله ددواړو جګړه راشی نو بس ټوله عائلی زندګی تباه ده او دا مجمع د ټولو فسادونو ده۔

۱۰- دنیاوی اسباب که هرڅومره هم لوئی شی، ددے تاثیر نشته مګر د الله تعالیٰ په اذن دے۔ (وَمَاهُمْ بِضَارِّيْنَ بِهٖ مِنْ أَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ)

۱۱- د الله تعالیٰ قدرت د اسبابو دپاسه دے، که هرڅومره اسباب موجود شی خو چه الله تعالیٰ د هغے اذن نهٔ وی کړے نو هغه اثر نشی کولے۔ او ددے مطلب دا نهٔ دے چه اسباب اختیارول صحیح نهٔ دی بلکه په اسبابو کښ تاثیر الله تعالیٰ پیدا کوی۔

۱۲- هر شے د الله تعالیٰ په اذن او حکم او مشئیت سره دے نو بس همیشه دپاره الله تعالیٰ ته لُجُوْء (زاری) او عاجزی پکار ده۔ چه د ضررونو نه دِے اُوساتی او فوائد درکړی۔

۱۳- د سحر زده کول خالص ضرر دے او هیڅ فائده پکښ نشته۔ (وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَايَنْفَعُهُمْ) نو نفع ئے تربے نفی کړه۔

۱۴- د ساحر کفر مُخرج عَنِ الْمِلَّةِ دے۔ ځکه (وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَالَهٗ فِی الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ) ۔او په آخرت کښ حصه او برخه د کافر نهٔ وی۔ او د مؤمن سړی چه هر څومره عذاب وی خو ضرور به ئے په آخرت کښے برخه وی۔ دا وجه ده ددهٔ حد قتل دے او طلب د توبے به تربے هم نهٔ کیږی۔

۱۵- جزاء مِنْ جِنْسِ الْعَمَلِ وی، هرکله چه کافر الله تعالیٰ لره په دنیا کښ برخه (د عبادت) ورنکړه نو الله تعالیٰ دا په آخرت کښ د برخے نه محروموی۔

۱۶- د یهودو سخته بدی معلومه شوه چه دوی د سحر دومره لیواله دی چه سم ځانونه ئے پرے خرڅ کړیدی۔ (تفسیر ابن عثیمین)

۱۷- د اهل کتابو دا خوئی دے چه کله یوه مسئله راشی نو دوی پکښ د الله تعالیٰ کتاب پریدی او دلیل نیسی په باطل کتابونو باندے۔

۱۸- د جادو د اثبات او بنه والی دپاره ئے د الله تعالیٰ په یو رسول (سلیمان علیه السلام) باندے دلیل نیولے وو۔

۱۹- کله باطل مسائل انبیاء علیهم السلام ته په دروغو طریقو سره نسبت کیږی۔

۲۰- کله بعض رشتینی خلقو ته بعض باطل کتابونه منسوب کیږی۔

۲۱- د جادو په ذریعه شیطانانو د سلیمان علیه السلام په زمانه کښ په خلقو حق ګډوډ کړے

وو۔

۲۲ – انسان که په علم کښې هر څومره مرتبې ته اُورسیږی بیا هم د الله تعالیٰ دمکر نه په امن کښې نهٔ دے۔

۲۳ – الا باذن الله کښې توکل طرف ته متوجه کول دی چه هرکله سحر اثر کوی نو هر سړے به خفه شی نو الله تعالیٰ فرمائی : چه په الله تعالیٰ باندے توکل کوه۔

۲۴ – یهودو دا عظیم جرمونه ولے کول ؟ سره ددے نه چه دوی ته د الله تعالیٰ حکم دیتی راغلے وو لیکن د دوی د جاهلی عادت خلاف وو۔ نو رواج انسان په دین باندے د عمل کولو نه منع کوی۔

وَبِهٰذَا الْقَدْرِ نَكْتَفِيْ، وَ لِلّٰهِ الْحَمْدُ فِي الْأُوْلٰى وَالآخِرَة

تَمَّ الْمُجَلَّدُ الْاَوَّلُ من تفسير "حِكْمَةِ الْقُرْآن"

ويتلوه المجلد الثاني من آية (١٠٤) ان شاء اللّٰه

واللّٰهَ أَسْأَلُ أَنْ يَّنْفَعَنَا بِهٖ وَكُلَّ مَنْ يَّقْرَأُهٗ وَيَدْرُسُهٗ وَيَنْظُرُ فِيْهِ وَيَسْمَعُهٗ وَأَنْ يَّجْعَلَهٗ مَقْبُوْلًا لَدَيْهِ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ مُجِيْبُ الدَّاعِيْنَ، وَسُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوْبُ اِلَيْكَ وَصَلَّى اللّٰهُ وَسَلَّمَ عَلٰى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ وَآلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ

وكتبه ابوزهير سيف اللّٰه البشاورى وَرَاجَعَهُ الشيخ ابومحمد امين اللّٰه البشاورى "حفظه اللّٰه"

المرقوم : ١٤٣٠/ هجرية شهر ذى القعدة الحرام الموافق : ٢٠٠٩/١١/٢٥)

والطبعة الثانية : ١٤٣٢/شهر رمضان المبارك ٢٥/، الموافق : ٢٠١١/٨/٢٦)

الطبعة الجديدة : رجب ١٥/١٤٤٠هـ/ الموافق : ٢٠١٩/٣/٢٠.

د تفسیر حکمة القرآن اول جلد پوره شو

فهرست د تفسير "حكمة القرآن" جلد اول